تفسیر یسیر

مشہور بہ

فوق الیسیر

تصنیف

مولوی مراد علی صاحب

مع بیان السطور و حواشی مفیدہ

مولوی عبدالحق صاحب دار بنگی

المکتبۃ الحقانیۃ

محلہ جنگی پشاور پاکستان

فون ۲۲۰۴۹۳

حنفی

شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551

+923247442395

مالکی

حنبلی

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

تفسیر بیسیر

مشہور بہ

فوق البیسیر

جلد الثانی

تصنیف

مولوی مراد علی صاحب

مع

بین السطور و حواشی مفیدہ

مولوی عبدالحق صاحب دار بنگی

ناشر

مکتبہ حقانیہ مجلہ جنگی پشاور

فون: ۲۳۰۴۹۳

سُوْرَةُ الْكَهْفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَاحْدَى عَشْرَةَ اٰيَةً

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ ثنا چه ده هغه خدائ له ده اَنْزَلَ چه رالیږلے دے ده عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ په بنده خپل چه محمدؐ دے کتاب چه قرآن دے چه رهنما دے دخلقو رضامندئ دحق ته اوبلونکے دے سعادت دداریښونه اوساتونکے دے له جملہ مهلکا تو وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ① اوحال داچه نهٔ دے ایښے دهٔ په هغه کښ هیڅ قدر کوږوالے یعنے نه خلل د لفظ اونه نقصان د معنیٰ اونه عدول له حقه باطل ته قَيِّمًا په دے حال چه سم اومعتدل اوبرابر دے داقران اوخالی دے له افراطه اوله تفریطه لِّيُنْذِرَ دپاره دے چه اویروی دارسول ؐ یا قرآن بَاْسًا شَدِيْدًا له سخته عذابه چه په دنیا کښ یخ کئ ده اوپه آخرت کښ دوزخ دے چه راځئ به داعذاب دوئ ته ۔ مِّنْ لَّدُنْهُ له طرفه دخدائ تعالیٰ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ اوزیږے ورکړی هغے مؤمنانو ته يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ چه عملونه کوی دوئ دنیکو اَنَّ لَهُمْ دے چه شته دوئ ته اَجْرًا حَسَنًا ② اَجْر غوره چه جنت دے مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ③ چه دیره به وی دوئ په هغه جنت کښ همیشه بے انقطاعه اوبے انتقاله بل ځائے ته وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ او اویروی دے هغه کسان چه له دیره جهله اوحماقته قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ④ وائی دوئ چه نیولے دے خدائ تعالیٰ فرزند اوهغه یهود او نصاریٰ اوبنی مدلج دی مَا لَهُمْ بِهٖ نشته دوئ له په دے ولد یا په نیولو دے ولد مِنْ عِلْمٍ هیڅ قدر پوهه بلکه هسے له خپل وهمه ئے وائی ۔ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ اونه پلرونو دوئ له کهٔ دوئ تقلید کوی د پلرونو خپلو كَبُرَتْ كَلِمَةً لوئی دی د اویل له جهته دکفر تاد

له نوره ویلو اقوالو دکفارو داچه وایی دوئ اتخذ الله ولدًا اودا کفتار له ډیره جُرأته
تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ط چه را اوځی له خولو ددوئ نه اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ⑤ نه ډوائی
دوئ مکر دروغ امّا داسے غټ دروغ چه اسمانونه اوزمکے اوغرونه ټول پرے چاؤدلو
ته نزدے شی له ډیره هیبته اودهشته لکه په سورهٔ مریم کښ بیان دے ۔

روایت دے چه په دے خبره رسول علیه الصلوٰة والسلام ډیر دلکیر شهٔ
ځکه چه ددهٔ داسے طمع وه چه دوئ کوندې ایمان راوړی اوهغه طمع په دے قطع
شوه نو د پاره دتسلئ ددهٔ نازل شهٔ فَلَعَلَّكَ پس ښائی چه تهٔ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ قتل
کوئکے ئے دځان خپل عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ په پلونو ددے کفارو پس له تیخته ددوی له
ایمانه اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا کهٔ ایمان رانه وړی دوئ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ په دے خبره یعنی
په قرآن نوتهٔ ددوئ دکفر د پاره ځان مهٔ هلاکوه اَسَفًا ⑥ له ډیره غمه یا غضبه
اِنَّا جَعَلْنَا مَا بیشکه چه کړځولی دی مونږه عَلَى الْاَرْضِ هرهغه څهٔ چه په دے زمکه
دی له حیوانانو نو له نباتاتو اوله معادنو اوداسے له نورو اشیاؤ زِيْنَةً لَّهَا بنایست
د پاره ددے زمکے اوداهل ددے لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ د پاره ددے چه وازمایو مونږه
دوئ چه کوم یو له دوئ نه اَحْسَنُ عَمَلًا ⑦ ډیرغوره دے له جهته دعمل وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ
او بیشکه چه مونږه هرائینه کړځونکی یو مَا عَلَيْهَا هرهغه څهٔ چه په دے زمکه کښ
دی ورلهٔ اوناخیژ یعنی داغونه اواشجار اونباتات اوحیوانات اونورځهٔ اشیاء چه
دی هغه ټول لرے کوئکے یو اوکړزونکی یو ددے زمکے صَعِيْدًا جُرُزًا ⑧ یو دالهٔ
میدان وچ کلک چه نهٔ پکښ چرته لوړه یا ژوړه وی اونه شنه اوزرغونه وی یعنی
پس له داسے آبادئ ددے به داسے خراب شی نو په داسے بے بقا خیز چه عاقبت
ئے داسے خراب وی هیڅ قدر میل پکار نهٔ دے **روایت دے** چه هرکله د
فیانوس بادشاه روم مسخر کړو اوبنار دافسوس له راغے نوهغه خلق ئے په
عبادت دخپلو بتانو ماموره کړهٔ اوهرچاچه داعبادت کولو هغه به خلاص وو

او چا چه نهٔ کا و دهغه به ئے قتلوړ نو یو شپیر تنه حُلمی خانزدګان دهغهٔ ښار له را نغله او کناره خپل خدائی به ئے یادوو ناګاه په دے حال دقیانوس خبر شه نو راحاضر ئے کړه او په زجر ئے ورلره ورکړه. امّا دوئی له توحید څخه وانهٔ وخته نو هر څه ئے ترے واخستهٔ او دے ورځے ئے مهلت ورکړو نو دوئی تیخته غوره کړه او لږه توخه ئے واخسته او بیا راوانهٔ او په لاره کښ یو شپون پرے پیښ شه نو هغه هم ورسره ملګرے شهٔ او دے شپانهٔ یو سپے وو. هغه هم ورپسے روان شهٔ دوئی او شارهٔ خو منع نهٔ شهٔ او خبرے ئے اوکړے چه مامهٔ شړئ زهٔ به ستاسے څوکئ کوم هلته نزدے یو غر وو نو دے شپانه اووېل چه ما په دے غره کښ یو غار لیدے دے راځئ چه پکښ پټ شو. نو غار له راغله لکه چه وائی. اَمْ حَسِبْتَ ایا ګمان کوے ته اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ دَ دے خبرے چه بیشکه اصحاب کهف چه دی چه درے سوه ۳۰۰ اونهه کاله په یو خوب اوده پراته وو. وَالرَّقِيْمِ اواصحاب رقیم چه دی. کَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا دی دوئی له نښو د قدرت څخه یو نښه عَجَبًا ⑨ عجیبه او په واقعه کښ داسے نهٔ ده بلکه نورے نښے د قدرت له دے نه پرے لویئ دی لکه پیدا کول د غرونو او د زمکے او د آسمانونو او د کرسئ او د عرش او د اګهف یولوئے غار دے په غرهٔ کښ چه د افسوس ښار په څنګ کښ دے او د ارقیم نوم دے د قریئے د دوئی یا د سپی د دوئی یا د هغه غرهٔ یا د هغه کتنے چه دا غار په هغه کښ دے یا د هغه تختے چه د دوئی نومونه پرے لیکلے دی او د غار په خوله کښ اویزانده ده یا اصحاب رقیم هغه درے تنه دی چه د باران نه او تختیدهٔ او په یو غار کښ ننوائته او د غار په خوله کښ یوه لوبه تیږه را لوبیده چه د تلو لاره بنده شوه بلکه رنړاهم نهٔ ښکاریده نو دوئی اووېل سره چه اوس خُمره نیږه کار په نیک عمل شه نو هر څوک خپله نیکی خدائے ته وسیله کوی ګوندِ خلاص شی نو یو اووېل چه ما یو ورځے د یر مزدوران نیولی وو او بیا غرمه یو بل حُلمے هم اونیوهٔ هغه تر بیګاه د دوئی قدر کار اوکړو. نو

لله د الکهف چه یهود و قریشو ته د پلی ووپوښتنه کړه د ے قصے نه رسول علیه الصلوة والسلام خبر کړئ نو دا به د یره عجیبه وی. ځکه چه د دوئی قصه د یره عجیبه ده ۱۲

ما هم ورلره هم دوئ سره سم پوره اُجرت ورکړو۔ نو یو له دے پخوانیو پرغضب شهٔ د دے ځلمی له جهته اوخپل اُجرت ئے پریخسودهٔ اوتش لاړهٔ نو ما ددهٔ په هغه مبلغ یو خُسے وپیروده اوله هغے بیا د پرمال پیدا شهٔ بیا د پرکاله پس هغه سړے بیا راغے چه بډیره ئے سپینه شوے وه ۔ اوراته ئے وویل چه ځما تا سره حق پاتے دے اوس ئے غواړم نو هغه ټول مال م ورلره ورکړو اے ربه! کهٔ داکار ما ستا د پاره کړے وی نو مونږ لره لار راکړه نو دومره چاؤ د پکښ اوشهٔ چه رنړا ترے بنکاره شوه بیا بل ووېل چه تحط وو او یوه بنځه راته راغله د پاره د سوال نو ما ورته اووېل چه کهٔ نفس د راته راکړو نو زهٔ به درکړم اما ۔ ے داکار قبول نهٔ کړو اولاړه اوهمداسے درے کرته راغله اولاړه د بیا چه عیال ئے په هلاکید وشهٔ ۔ نو راغله اوخپل نفس ئے راباندے وسپارهٔ اوچه زهٔ د ورته نزدے شوم، نو اولړزیده ما ورته وویل چه ولے لړزیږے ۔ دے وویل د خدائ نه ویږیږم نو زړ ترے پاتے دیم او ویل م ۔ چه حیف دے مالره چه تهٔ په داسے سختئ کښ هم ترے ویږیږے او زهٔ سره له دومره فراخئ ترے نهٔ ویږیږم ۔ نو د یرخهٔ م ورته ورکړهٔ اے ربه! کهٔ داکار م ستا د رضا د پاره کړے وی نو مونږ لره لار راکړه نو دومره سوړے پکښ اوشو چه په خپلو کښ ئے سره اولیدل بیا د ریم وویل چه ځما مور و پلار وو د پرنړهٔ او رمه م هم د رلوده اوعادت م تل دا سے وو چه هرکله رمه به م پنده کړه او میږے به م اولوشلے نو هغه شودهٔ به م اول دوئ له راوړهٔ اوچه دوئ به اوخښل نو بیا به رے له لاړم نا کاه یوه ورځے باران حصار کړم او ورلره را نغلم خوچه شپه شوه ۔ بیا چه سوده م راوړهٔ نو دوئ دواړه اودهٔ شوی وو نو ویخ م نه کړهٔ او غوا لوشی په لاس ورنه کښینا ستم خوچه صبا شهٔ او پخپله ویخ شوه نو شودهٔ م ورلره ورکړهٔ او وے خښل۔ اے ربه! کهٔ داکار ما ستا د پاره کړے وی نو مونږ له لار راکړه نو تیږه بیرته شوه او دوئ راوانه کډه اذکره البیضاوی اِذْ اَوَی الْفِتْیَةُ یادکړه چه سنګ نزدے کړو هغه ځلمیو۔ اِلَی الْکَهْفِ هغه غار ته

جیر م نوم ئے وو۔ فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا پس وویل دوئی چه اے ربه! خُمونږه! راکړه مونږ له مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ستا له خپل جانبه دا سے مهربانی چه موجب دی د مغفرت اود روزئ اودامن له دښمنه۔ وَّهَيِّئْ لَنَا اوتیار کړه مونږ له۔ مِنْ اَمْرِنَا له دے کاره خُمونږه چه مفارقت دے له کفارو څخه رَشَدًا (۱۰) راستی او رهنمائی چه موجب د رضا ستا شی۔ فَضَرَبْنَا پس کیخوده مونږه پرده عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ په غوږونو دوئی چه هیڅ آواز وانه ورئ او اودهٔ وی فِي الْكَهْفِ په هغه غارکښ سِنِيْنَ عَدَدًا (۱۱) څوکلونه په شمار ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ بیا بیدارکړه مونږ له هغه خوبه دوئی لِنَعْلَمَ د پاره دے چه معلوم کړو مونږه په علم حالی چه مطابق دے له علم ازلی سره اَيُّ الْحِزْبَيْنِ چه کوم یوله دے دواړو طائفو چه یهود او نصاریٰ یاموٴمنان اوکافران یا پروسبنی او رویستنی دی اَحْصٰى د پرښهٔ ساتونکی دی د شمار لِمَا لَبِثُوْٓا د مقدار د هغه مودے چه تیره کړے ده دوئی په دے غارکښ په خوب سره اَمَدًا (۱۲) له جهته د دراز ئ یعنی چه دا موده د خوب د دوئی څومره قدر اوږده وه نَحْنُ نَقُصُّ مونږه قصه کوو عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بالحق ط تا ته د حال اوسرګذشتئ د دوئی په رښتیا سره۔ اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ بیشکه چه دوئی ځلمی دی چه له د یره صدقه اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ ایمان ئے راوړے دے په رب خپل وَزِدْنٰهُمْ هُدًى (۱۳) او زیات کړی دی مونږه دوئی له جهته د هدایت وَّرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ او ترلے دے مونږه په زړونو د دوئی قوت او صبر له وطنه او له ماله او له عیاله او جرأت په اظهار د حق کښ او په مخامخ بیرته کړ حُولو د جواب کښ د قیانوس غوندے ظالم ته اِذْ قَامُوْا په هغه وخت چه اودریدل دوئی د دقیانوس په مخکښ او دهٔ ماموره کړه په بُت پرستئ فَقَالُوْا رَبُّنَا پس وویل دوئی رب خُمونږه چه دے۔ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هم هغه دے چه رب دے د آسمانونو او د زمکے لَنْ نَّدْعُوَا له سره به اونه بولو او عبادت به اونهٔ کړو مونږه مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا غیر له خدائ بل هیڅ معبود اوکهٔ بالفرض و التقدیر بل څوك په خدائ اوبالـه مونږه لَقَدْ قُلْنَا نو قسم دے چه په تحقیق ویلی به وی

موندره اِذًا شَطَطًا ⑭ په دغه وخت کښ خطا او دروغ هٰٓؤُلَآءِ دا افسوسیان قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا چه قوم یعنی خپل دے ځمونږه ، ټولی دوئ ۔ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ط غیرله خدایونه باطل خدایان لَوْ لَا یَاْتُوْنَ عَلَیْهِمْ ولے نه راوړی په دے باطلوخدایانو او پاستحقاق دعبادت ددوئ باندے بِسُلْطٰنٍ بَیِّنٍ ط کوم بنکاره حجت اودلیل غیرله جبره ددقیانوس فَمَنْ اَظْلَمُ پس څوك دے ډیرظالم مِمَّنِ افْتَرٰی له هغه چاچه له خپله ځانه اوترې عَلَی اللّٰهِ په خدائ تعالیٰ کَذِبًا ⑮ ط دروغ چه هغه نسبت دشریکانو دے دهٔ ته اوبیا دقیانوس چه دوئ له درے ورځے مهلت ورکړهٔ او دوئ پخوا له تمامه دے درے ورځو اوتخنیدل نو بلمیخا چه مشر دوئ وو په مینځ دلارکښ وویل دے نوره ته چه وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ اوهرکله چه په څنګ شوئ تاسوله دے مشرکانو وَمَا یَعْبُدُوْنَ اوله هغه بتانوچه عبادت ئے کوی دوئ اِلَّا اللّٰهَ بے له خدایه اودا ځکه چه دوئ به دخدائ عبادت هم کولو اویا داجمله معترضه ده اومقوله دپروردګارده او مَا په پکښ نافیه دے یعنی عبادت نه کوی داځلمی دهیچا مګر دخدائ تعالیٰ فَاْوٗٓا اِلَی الْكَهْفِ پس څنګه نزدے کړئ تاسے غارته او په هغهٔ کښ ډیره شئ یَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ چه اوغوړی تاسے لره رب ستاسے بساط دړق اوفراخ ئے کاندی دربانده مِنْ رَّحْمَتِهٖ له رحمته خپله په دواړو جهانوکښ وَیُهَیِّئْ لَكُمْ او تیار کړی تاسے لره مِنْ اَمْرِكُمْ له دے کار ستاسے چه ترك دماسوی الله دے مِرْفَقًا ⑯ بودا سے څیز چه تاسے پرے نفع اخلئ هم په دین اوهم په دنیا کښ ۔ **روایت دے** چه هرکله دوئ په غارکښ ننوتهٔ نوفی الحال خوب پرے غلبه راوړه او اودهٔ شول بیا درے ورځے پس دقیانوس دوئ اولټول اوپیدا نهٔ شول نو ددوئ پلرونه ئے اوینول نوهغو ورته اووېل چه ځمونږه مالونه ئے هم ډیرله ځان سره اوړی دی اوپه دے غرهٔ کښ چرته پټ شوی دی نو دقیانوس سره دخپل لښکرو رسے لاړه اودوئ ئے له ورایه په غارکښ اولیدل اودا ئے گمان ئے اوشهٔ چه دوئ بیداردی نوامرئ اوکړو چه د غار خوله سنګ چینه

کړئی چه هم دننه پکښی سړۍ شی نو سنګ چینه ئے کړه اماد دۀ له مقربانو دوه تنه پۀ کښی مسلمان وو نو هغو یوه تیږه صافه کړه او د دوئی نومونه ئے سره لیکل احوالونه د دوئی پرتے وښکاره و دغار خولے سره ئے او د رڼا پۀ دے اُمید چه گوندې که څوک دلته پښی شی اود دے تختے ته اوګوری او د دوئی او باسی وَتَرَى الشَّمْسَ او وینے پۀ تنه نمر اِذَا طَلَعَتْ پۀ هغه وخت چه اوګوری تَّزَاوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ چه میلان کوی له غاره د دوئی ذَاتَ الْيَمِيْنِ ای یمین الاتی یعنی پۀ جانب د بنی طرف د راتلونکی دے غار له اماد اسے تر تیریږی چه شعاع ئے پۀ دوئی نه لګیږی وَاِذَا غَرَبَتْ او پۀ هغه وخت چه لویږی تَّقْرِضُهُمْ اے تترکهم یعنی پریږدی دوئی او تړے تیریږی ذَاتَ الشِّمَالِ پۀ جانب دچپ طرف دغ کونکی غارته وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ او حال داسے چه دوئی پرانه دی پۀ ارتګا هی دغار کښ یعنی پۀ مینځ کښ ئے پۀ دے شان چه له چاپیره پرے بنۀ پرانستے هوا لګیږی اوله عفونت پۀ امان دی حاصل داچه نمر پۀ غار کښ ور نوځی هم صبا او هم بیګاه اما کله له دوئی پۀ بنی طرف تیر شی اوکله پۀ چپ طرف نو بد بوئی له غار لرے کړی او پۀ دوی او نه لګیږی چه بدن تے ضرر اونه رسیږی او جاے ئے اونۀ رڼا ږیږی او داغار دغرۀ پۀ شمالی اړخ کښ دے او ور ئے قطب شمالی ته دے پۀ دے شان چه بنات النعش چه عام خلق ئے کښ بولی دغار د خولے پۀ سر تیریږی او نمر چه له مشرقه را بنکاره شی نو اول دننه پۀ غار کښ ونګیږی له زمکے هسک پۀ طرف نیرت[1] او بیا ورو ورو راکوزیږی اما شرقی او شمال راځی مائل طرف د ایسان[2] ته او د دوئی پۀ خواکښ راتیرشی نو بیرون را اوځی او بیا چه لوړ مازیګر شی نو اول دغار پۀ خوله کښ را لویږی کونړ پۀ زمکه پۀ طرف د ایسان بیا ورو ورو هسکیږی او د ننه پۀ غار کښ ور نوځی اما غربی او جنوبی څۀ مائل طرف د نیرت ته او بیا د دوئی پۀ دے بله خوا تیرشی نو ورک شی اما دا پۀ هغه ایام وکښ وی چه نمر پۀ سرطان[3] کښ داخل شی چه مینځ دے دا وړی کذا ذکره البیضاوی ذٰلِكَ داتمام

---

[1] علمه مشرق گوته د بنی طرف ۱۲ [2] مغربی گوته د بنی طرف ۱۲ [3] نوم د یو برج دے پۀ آسمان کښ ۱۲

حال د دوئی یا د ا راتله د دوئی غار ته پدے شان یا د ا په څنګ کیدل د نمر له دوئی څخه له
د واړو جانبو یا د اقصه کول ستا د ما جرا د دوئی چه د د یوغټ دلیل دے ۔ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ له
دلائلو د قدرت د خدائ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ هر څوک چه سمه لار وررته الله وښائ فَهُوَ
الْمُهْتَدِ ۚ پس هغه لاره بیاموند ونکے دے یعنی سم دے په لار د حق وَمَنْ يُّضْلِلْ او
هر څوک چه گمراه کړو د ۂ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ پس له سره به نه موے ته ۂ هغۂ له وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾
هیڅوک دوست لاره ښودونکے وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا اوګمان به کوے ته په دوئی د و یخوب
چه ستر ګے غړوی وَّهُمْ رُقُوْدٌ ۚ اوحال دا چه دوئی او د ۂ دی وَنُقَلِّبُهُمْ او اړوو
مونږه دوئی یعنی ملایکے ئے په امر خُو نږه سره اړوی ذَاتَ الْيَمِيْنِ په بنی اړخ
وَذَاتَ الشِّمَالِ ۚ او په چپ اړخ د پاره د دے چه یو اړخ ئے سخا نه شی په طول د زمانے
سره وَكَلْبُهُمْ او سپے د دوئی په محکښ ورته پروت وو بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ چه غږ ونکے
په زمکه د واړو لیچو خپلو بِالْوَصِيْدِ ؕ په خولے د غار کښ یائے په محکښ لَوِ اطَّلَعْتَ
عَلَيْهِمْ که ورشے ته ۂ دوئی له او نظر واچوے په دوئی لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ نو هر ائینه ځ به اوګرځوے له
دوئی نه فِرَارًا په طریقه د تیښتے سره وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ او هر ائینه ډ ك به کړے شے ته
له دوئی نه رُعْبًا ﴿۱۸﴾ له ویرے یعنی د دوئی د لید لو طاقت دهیچا نشته ۔

روایت دے چه د قیانوس پس د بندولود دروازے د غار بیا زرمرشۂ
او یو څو بادشاهان نور هم وروسپے تیر شو بیا په اخر کښ یو مسلمان نیک صالح
بادشاه تندرس نوم خدائے پیدا کړو او اکثر خلو د هغه زمانے له حشره منکر
وو ۔ کۂ دے بادشاه هر څو نصیحت ورته کولو هیڅ فائده ئے ورته نۂ کوله نو رب ته ئے
سوال او کۂ چه کۂ دوئی ته یو د لیل د حشر او ښو دے شی نو دا سوال باعث شو په ویخولو د
اصحاب کهف لکه چه وائی وَكَذٰلِكَ او همدا سے لکه چه او د ۂ کړے وو مونږه دا اصحاب
کهف بَعَثْنٰهُمْ ویخ کړۂ مونږه دوئی صحیح سلامت چه نه په طول د زمانے سره څۂ تغیر
ئے په په بدن کښ راغلے وو له هغه ورځے چه دوئی او ده شوی وو او ونۂ ئے په جامو

کښی بلکه لکه چه اوده شوی ووهم هغسے پاخیدل لِيَتَسَآءَلُوا بَيْنَهُمْ ؕ دپاره دے چه
پوښتنه اوکړی دوئ په خپل مینځ کښ سره یعنی یوله بله قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ نو ووایل یو ویونکی
له دوئ مکسلمینا چه مشر وو له عمره په دوئ کښ كَمْ لَبِثْتُمْ ؕ چه څومره موده
تیره کړے ده تاسے په دے غار کښ قَالُوْا نو ووایل ورته دے نورو لَبِثْنَا يَوْمًا چه تیره
کړے ده مونږه یوه ورځ سلامته په خوب کښ پخپل گمان سره اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ یا
یوه پارچه دورځے اودا څکه چه دوئ په اشرق ننوتی ووغارته اوبیا چه ویښ شول
نو څابنت وو نو څکه ئے اوویل چه کهٔ داځابنت دیلے ورځے وی نو سلامته ورځ
تیره ده اوکهٔ هم هغه ورځ وی نو یوه پارچه دورځے تیره ده اودا هنول ئے له گمانه ویل
څکه چه اودهٔ ته د خوب موده معلومه نهٔ وی بیا چه خپلو نوکانو او ویښتو ته ئے
اوکنل چه دیر لوئے شوے وو نو حیران شول اوبیا ئے شک پیدا شه نو قَالُوْا ووایل
بعضو تر ئے رَبُّكُمْ اَعْلَمُ چه رب ستاسو ښهٔ دانادے بِمَا لَبِثْتُمْ ؕ په هغے موده چه تیره کړیده تاسے
فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ پس اولیږئ یوله تاسے چه یملیخادے بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ په روپئ ستاسے سره
چه داده اِلَى الْمَدِيْنَةِ دے ښار ته چه افسوس یا طرطوس دے فَلْيَنْظُرْ پس میاید چه
وِ ګوری دا لیږلے شوے اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا چه کوم یو نابینائی دے ښار د پیرپاک
او پاکیزه دے له جهته د طعامه یعنی د چا طعام حلال او پاکیزه دے فَلْيَاْتِكُمْ پس
میاید چه راوړی تاسے له بِرِزْقٍ مِّنْهُ روزی د هغه پاك طعام وَلْيَتَلَطَّفْ او
میاید چه نرمی او مدارا وکوی دا لیږلے شوے په خرید او فروخت کښ وَلَا
يُشْعِرَنَّ اونهٔ دِ اګاه کوی دے خامخا بِكُمْ اَحَدًا ﴿۱۹﴾ په تاسے هیڅوك د دے ښار
له خلقو اِنَّهُمْ بیشکه دوئ چه دی اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ کهٔ مطلع یاقادر شی په تاسے
يَرْجُمُوْكُمْ نو سنګسار به کړی تاسے اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ یا بیرته به اوګرځوی اوداخل به کړی
تاسے فِيْ مِلَّتِهِمْ په دین خپل کښ وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اوله سره به خلاص نه شئ بیا
اِذًا اَبَدًا ﴿۲۰﴾ په دغه وخت هیڅوړے یعنی چه یوکرت ئے په خپل دین کښ داخل کړئ

نو بیا به ترے خلاص نۀ شی **روایت دے** چه هرکله یملیخا بنار له راغے اود بنار دروازے او کوڅے او بازار وینه او محلے ئے ټولے په بل بل شان اولیدے نو پیر حیران شۀ بیا چه دقیانوسی روپئ ئے خبازله ورکړه نو هغه له ډیره تعجبه بل ته اوښوده اوهغۀ بیا بل ته چه په یو دم کښی تمام بنار خبر شو بیا چه حاکم خبر شۀ نو یملیخا ئے حاضر کړو او نوره خزانه ئے ترے طلب کړه نو دۀ ورته اووېل چه ماخودا یوه روپئ دخپل پلار له کوره پرون اخستے وه اونن مې بازار له راوړے ده او نور هیڅ خبر نه یم بیا دوئ ورته اووېل چه دپلار نوم دے څۀ دے؟ چه نوم ئے ووایه نو دا نوم هیڅ ته معلوم نۀ وو نو دوئ وویل دا ټول دروغ وائی بیا دۀ له ډیره هیبته وویل چه ماد قیانوس ته حاضر کړی چه هغه ځماد ټوله احواله خبر دے نو دوی وویل چه دا مونږه پوره مسخرے کوی د قیانوس خوکوم درے سوه کاله به کیږی قابو چه مرد ے یملیخا اووېل چه تاسو ماپوره مسخرے کوی ځکه چه مونږه یوه ډله سړی له هغه پرون تخنید لی وو اونن زۀ طعام پسے راغلے یم بیائے بادشاه له ورواستۀ اوهغۀ ته ئے هم دا ټول احوال تیر کړو نو بادشاه دخپلو ټولو مقربانو غاړته روان شه او یملیخا غاړته ورغله او دوئ ئے په دے احوال پوه خبر کړۀ بیا چه بادشاه دغار خولے له راغے او دوئ احوال ئے سره د ټولو نومونو په تخته لیکلے اولیده نو ډیر حیران شو نو ورنزدې اوسلام ئے ورته اوکړو او ویرته ترے را اُوْدَت اودوئ بیا پریوات او ارواح ئے قبض شو نو دپاره د بیان دے حال نازل شۀ وَكَذٰلِكَ اوهمدا سے لکه چه ویخ کړے وو مونږه دوئ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ مطلع کړے وو مونږه تندروس بادشاه اوقوم ددۀ په دے اصحاب کهف لِيَعْلَمُوْٓا دپاره دے چه پوهه شی دا قوم چه له حشره منکر وو۔ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ په دے چه بیشکه وعده دخدائ رښتیا ده ځکه چه داخوب او بیداری ددوئ هسے ده لکه مړ کیدل او بیا ژوندی کیدل وَاَنَّ السَّاعَةَ او بل چه پوهه شی دوئ چه بیشکه قیامت چه دے لَا رَيْبَ فِيْهَا ڇ نشته هیڅ شك په راتلو ده کښی او مونږ مطلع کړۀ

دا خلق په دے اصحاب کهفو اِذْ یَتَنَازَعُوْنَ څکه چه جګړه به کوله سره دوئ بَیْنَهُمْ اَمْرَهُمْ
په خپلو کښ سره په کار دین خپل کښ یعنی په بعث کښ په دے شان چه بعضو به
حشر واګے دا واحو وایۀ او بعضو به د اجساد و هم و رسره وایه بیا په لیدلو د دوئ سره
د اخبره ظاهره شوه چه بعث به د دواړو وی او چا د اسے ویلے دی چه یملیخا نوم غلام
ته او بادشاه او قوم پسے ګے لاړه د نو تو بښی بنده شوه فَقَالُوا ابْنُوْا پس اوویل ډخلقو
یو بل ته چه سازکړئ تاسو عَلَیْهِمْ بُنْیَانًا په دوئ یعنی د غار په سر یوه بنا لکه منارو یو
دیوال هسک چه له ورایه ځائ د دوئ معلوم د اسے وی او هر څوک ګے وینی چه ادب او
تعظیم ګے کوی **رو ایت دے** چه هرکله رسول علیه الصلوة والسلام ارزد او کړه
د لید لو د دوئ نو جبرائیل علیه السلام ورته وویل چه ته ګے په خپله نه شے لیدے خو یو څو
اصحاب د اولیاء چه ستا په دین ګے کاندی نو خپل څادر مبارک ګے و عمر او و او ابوبکر صدیق رضی
او فاروق رضی او ابوذر رضی الله عنهم پرے کیناستل او سلیمانی باد بوتلۀ او هغوی ورته
خدائ ژوندی کړه او د رسول علیه السلام سلام ګے ورته اوکړاوه او کلمه ګے د ده په نامه
وویله او بیا ګے وویل چه ځمونږه سلام هم ورته اووایئ او بیا پرے یواته او وفات شول
رَبُّهُمْ اَعْلَمُ بِهِمْ ط رب د دوئ ښه دانا دے په احوالو د دوئ قَالَ الَّذِیْنَ اووایل هغه
کسانو غَلَبُوْا عَلٰۤی اَمْرِهِمْ چه غالب شوی وو په دین د دوئ یعنی هغه مسلمانان چه قایل
وو په حشر د اجسادو لَنَتَّخِذَنَّ عَلَیْهِمْ چه هرائینه سازبه کړو مونږه خامخا په
دوئ یعنی په خولے د غار باندے مَّسْجِدًا ﴿۲۱﴾ جماعت چه مسلمانان پکښ مونځ کوی
سَیَقُوْلُوْنَ زر دے چه به اووائی یهود یا فرقۀ یعقوبیه له نصرای د نجران ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ
کَلْبُهُمْ ج چه دوئ درے تنه دی څلورم د دوئ سپے د دوئ دے وَیَقُوْلُوْنَ او وائی فرقه
سطوریه له نصارای ته خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ کَلْبُهُمْ چه دوئ پنځه تنه دی شپږم د دوئ سپے
د دوئ دے او دا فرقے وائی دا اقوال رَجْمًۢا بِالْغَیْبِ ج په هسے ګزار لو د خبرو په

له هغه بادچه تخت د سلیمان علیه السلام به ږکے تلو ۱۲ ګه یعنی په پورته کیدو او په ښکته کیدو د جمعے له قبر و نو نه

غیب سره یعنی خوښے څهٔ وائی له خپل ځانه وَيَقُوْلُوْنَ اووائی مؤمنان له اخباره د رسول علیه الصلوٰة والسلام نه سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ط چه دوئی اوه تنه دی اواتم دوئی سپے د دوئی دے قُلْ رَّبِّيْٓ اووایه اے رسوله چه رب ځما اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ ښه دانا دے په شمار د دوی مَا يَعْلَمُهُمْ نهٔ پوهیږی په شمار د دوی اِلَّا قَلِيْلٌ ۭ مګر لږ له خلقو چه هغه رسول صلے الله علیه وسلم اواصحاب دده دی یا بعضے له اهل کتابو دی اونومونه ئے دادی یملیخا مَكْسَلْمِيْنَا مرنوش دبرنوش شاد نوش اودشپانه نوم ئے مرطونس اود سپی نوم قطمیر دے اودبادشاه نوم ئے دقیانوس اود بنار نوم ئے یاطرطوس وو فَلَا تُمَارِ فِيْهِمْ پس جګړه مهٔ کوه اے رسوله په باب داصحاب کهفو کښ له اهل کتابو سره اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا مګر بنکاره جګړه اوهغه داده چه هم هغه قدر ورته اووایه چه په قرآن کښ راغلی دی بے ددوئی له تجهیله اوبے رده په دوئی وَلَا تَسْتَفْتِ اوفتوی مهٔ غواړه یعنی پوښتنه مهٔ کوه فِيْهِمْ په باب ددوئی کښ یعنی له قصے ددوئی مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿۲۲﴾ له دے اهل کتابو هیڅانه ځکه چه خدائ تعالیٰ پخپله درته بنودلے ده په وحی سره **روایت دے** چه هرکله قریشو په تعلیم دیهودو سره د رسول علیه الصلوٰة والسلام نه ددریو څیزونو سوال اوکړو له روح اوله اصحاب کهف اوله ذوالقرنین اوده ورته اووایل چه صبا له راځی چه جواب ئے درکړم اوانشاء الله تعالیٰ ئے ورسره اونهٔ ویل نو پنځلس ورځے یا څه کم وزیات وحی رانغله اودے په دے کار ډیر دلګیر شه اوقریشو طعنے برپا کړے نو نازل شهٔ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ اومهٔ وایه هیڅ چا په حق دکوم څیز کښ چه تا اراده کړے وی دکولو دهغهٔ اِنِّيْ فَاعِلٌ چه بے دهٔ زهٔ کوونکے یم ذٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾ داکار صباله اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ مګر متصل ورسره اوایه که ارادہ شوے وی دخدائ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اویادکړه رب خپل یعنی مشیت د دهٔ داسے چه ان شاء الله ووایه اِذَا نَسِيْتَ په هغه وخت چه فی الحال دِ هیر شو یعنے که هغه کار سره متصل استثناء دِ هیره شوه نو بیا هرکله چه دِ یاده شوه هم هغه

وخت ئے وایہ اگر کہ پس لہ کالہ وی حُکہ چہ دا استثناء محض دپارہ دتبرک دہ نو اتصال پکښ لازم نۂ دے بلکہ اتصال پہ ھغہ حُلئے کښ لازم دے چہ دپارہ والغاء دحکم وی لکہ طَلَقتكِ ان شاء اللہ چہ څوک اوائی خپلے نیمگے تہ وَقُلْ اَو اووایہ عَسٰٓى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ بنائی داچہ اوبنائی ماتہ اوبرابر کا مارب حُما لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا ھغہ څیز تہ چہ دیر نزدے وی لہ دے قصے داصحاب کھفو یالہ دے ھیرشوی څخہ رَشَدًا ﴿۲۴﴾ لہ جھتہ د رھنمایئ وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ اومودہ تیرہ کرپے وہ دے زلمیو پہ غار خپل کښ یعنی ھغہ مودہ چہ دوئ پہ خوب اودہ وو ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ درے سوہ کالہ قمری وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿۲۵﴾ اوزیات کړی وو پرے دوئ نھۂ کالہ نورھم چہ دا مجموعہ درے سوہ کالہ شمسی کیږی **روایت دے** چہ پس لہ نزول دے ایتہ اھل کتابو اوویل چہ موښہ پہ درے سوہ کالہ پوھیږو اوپہ زیاتی نۂ پوھیږو نو نازل شۂ قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ اووایہ ورتہ چہ خدائ سبہ دا نادے بِمَا لَبِثُوْا چہ پہ مقدار دھغہ مودے چہ تیرہ کړے ئے دہ پہ خوب لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ خاص ھم دۂ لہ دی پتے خبرے داسمانونو وَالْاَرْضِ اوددزمکے یعنی ټول دسکنا نو دوئ اَبْصِرْ بِهٖ څۂ بنۂ لیدونکے دے خدائ دھر موجود وَاَسْمِعْ اوڅۂ بنۂ اوریدونکے دے دھر مسموع مَا لَهُمْ نشتہ دے اھل دآسمانونو اودزمکے لہ مِّنْ دُوْنِهٖ غیر لہ دۂ مِنْ وَّلِيٍّ دوست ھیڅوک چہ متولی شی دکار وی اودوئ وَلَا يُشْرِكُ اونۂ شریکوی دے فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ پہ فرمان اوپہ قضا خپلے کښ ھیڅوک لہ موجود اتو وَاتْلُ مَا اُوْحِيَ اِلَيْكَ اولولہ ھغہ چہ رالیږلے شوے دے تاتہ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ ؕ لہ کتاب دربہ خپل چہ قرآن دے اوطلب دتبدیل دوئ تہ غوبہ مۂ باسہ یعنی ھغہ چہ دوئ درتہ وائی لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ ف نشتہ بدلونکے اوتغیروونکے الفاظو اوخبرو دۂ لہ ھیڅوک یعنی پدے تبدیل ھیڅاله قدرت نشتہ وَلَنْ تَجِدَ اولہ سرہ بہ نہ موے تۂ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۷﴾

لہ یعنی طلاقہ کړے ما کہ رضا شوی وی دخدای ۱۲ ف یعنی را وړہ بل قرآن یا ھم دے بدل کړہ ۱۲

غیر له دهٔ هیڅ ځائے دپناهۍ کهٔ قصد اوکړے د دے کار **روایت دے** چه هرکله مشرانو دکفارو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اووېل چه داخوران بربند اوبڼۍ تږۍ چه مونږه پرے شرمیږو لکه بلال رضی الله عنه اوصهیب رضی الله عنه اوخباب رضی الله عنه اوعمار رضی الله عنه اوسلمان رضی الله عنه اوداسے نور دفقراؤ د مسلمینو شو دوئ له ځانه اوشړه چه مونږ درسره کښینو نونازل شهٔ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ اوکلک کړه او وتړه ځان خپل په دېر صبر سره مَعَ الَّذِيْنَ له هغه کسانو سره يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ چه بولئ دوئ او عبادت کوئ درب خپل بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ هم صبا او هم بیګاه یعنی په هر وخت یا مراد ترے مونځ دے دفجر او دعصر يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ چه عوارې دوئ رضا ددهٔ یا پخپله هم دے وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ اونهٔ دِ تیریږۍ وړاندے دواړه ستړکے ستا عَنْهُمْ ج له دوئ یعنی نظر او التفات خپل مدام هم په دوئ لره او وړاندے ترے مهٔ تیروه تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ج چه عوارے ته ته بنائست د دے وارپه ژوندون وَلَا تُطِعْ مَنْ او فرمان مهٔ وړه دهغه چا اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ چه غافل کړے دے مونږه زړهٔ ددهٔ عَنْ ذِكْرِنَا له یاد کیرئ خپلے لکه امیه ابن خلف یاعُیینه شو سره له خپلو تابعانو چه منع کوی دوئ تا له مجلس دفقراؤ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ اوپیروی کوی دوئ دارنګه د نفس خپل وَكَانَ اَمْرُهٗ اووی کار ددهٔ هميشه فُرُطًا ﴿۲۸﴾ تجاوز له حقه او غورځول دحق شانه وَقُلِ الْحَقُّ او وایه دوئ ته چه دا اسلام یاقرآن چه دے حق دے او دښتیا دے چه راغلے دے مِنْ رَّبِّكُمْ ف له جانبه درب ستاسے فَمَنْ شَآءَ پس هر څوك چه اراده لری ایمان په خدائ فَلْيُؤْمِنْ پس میباید چه ایمان دِ راوړی وَّمَنْ شَآءَ اوهرڅوك چه اراده لری دکفر فَلْيَكْفُرْ ز پس میباید چه کافر دِ شی او امام زاهدی ویلی دی چه مراد له دے امر تو عید او تهدید دے نه اباحت او اجازت ځکه چه ویلی شوی دی اِنَّآ اَعْتَدْنَا بیشکه مونږه چه یو تیار کړیدے مونږه لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ز ظالمانو له دا سے اوس اَحَاطَ بِهِمْ چه چاپیره شوے دے له دوئ سُرَادِقُهَا پردے دهغے اوس چه هغه چاردیواری ده داور یا دوګی کرد چاپیره له کفارو پڅوا

له دحول د دوزخ وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا او کهٔ فریاد اوکهٔ دوئ دتلندے دلاسه يُغَاثُوْا بِمَآءٍ نو فریاد به ئے واخستے شی په ورکولو دداسے او بوسره كَالْمُهْلِ چه په شان دویشید لی خیری وی دتیلو یا دوبلی کړپو مسووی چه هرکله خولے ته را نزدے کړے شی يَشْوِى الْوُجُوْهَ ط نو ورښته به کړی مخونه له غلیے له حرلړتہ بِئْسَ الشَّرَابُ ط بد څیز دے د څښلو دا مُهل یا داویشید لے اوبهٔ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿۲۹﴾ او بد ځے دا اور څائے دتکیے یعنی داوسیدلے اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے په خدائے اوپه رسول اوپه قرآن وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکارونه کوی دنیکو اِنَّا لَا نُضِيْعُ بیشکه چه مونږه نهٔ ضایع کوو اَجْرَ مَنْ اجر د هغه چا اَحْسَنَ عملًا ﴿۳۰﴾ چه ډیر ښهٔ وی له جهته دعمله اُولٰٓئِكَ دا ټولے دموُ منانو چه دے لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ مقرر دی دوئ لره باغونه دا قامت چه دوئ به همیشه وی په هغوکښی تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ چه بهیږی به لاندے د مینو د دوئ ځلور وارِه قسمه ولے يُحَلَّوْنَ فِيْهَا په لاس کولے به شی دوئ ته په هغه باغونوکښی مِنْ اَسَاوِرَ وحی سازکړے شوی؟ مِنْ ذَهَبٍ له سرو زرو وَّيَلْبَسُوْنَ او اغوندی به دوئ ثِيَابًا خُضْرًا جامے د زړ غونے حُکه چه په رنګونو کښی دا ډیر غوره رنګ دے مِّنْ سُنْدُسٍ له مهین دیباجه وَّاِسْتَبْرَقٍ او له پیره دیباجه مُّتَّكِـِٔيْنَ فِيْهَا چه تکیه وهلی به ناست وی په هغه باغونوکښی عَلَى الْاَرَآئِكِ ط په تختونو بے عمه نِعْمَ الثَّوَابُ ط بنه جزا ده داجنت اودا نعمتونه وَحَسُنَتْ او بنهٔ دی دا تختونه یا دا جنت مُرْتَفَقًا ﴿۳۱﴾ ع تکیه گاه یا منزل او آرام گاه **روایت دے** چه له بنی اسرائیلو دوه تنه ورونړه وو یوقطروس نوے چه کافر وو او بل یهودا نوے چه مؤمن وو او دوئ ته له خپله پلاره اته زره دیناره پاتے شوے وو د کافر خپله حصه ځلور ځایه کړه په زرے مکه وپیرودله او په زر دربار واچوو او په زرے بښهٔ اوکړه او په زرے مریونه او نور مال ومتاع وپیرودهٔ -او دے مؤمن ځلور وارِه زره دخدائ په رضا ورکړے اوبیائے وویل چه اے ربه! زهٔ خو په زرو زمکه په جنت

کښی او په زړو مانړۍ اوپه زړو غلمان له تانه غواړم نو پرو ړکا ردکا فرانو اومؤمنانو
مثال ترلے دے په دغه دواړو رونړو پورے لکه چه وائی وَاضْرِبْ لَهُمْ اووتړه دوئی له
مَّثَلًا یومثال په کفارو اومؤمنانو پورے رَّجُلَيْنِ حال ددوو سړیو جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا چه
ورکړی وو مونږه یولە دے دواړو چه قطروس کافرو جَنَّتَيْنِ مِنْ اَعْنَابٍ دوه باغونه
له تاکونو دانګورو وَحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ اومخوف کړی وو مونږه هغه دواړه باغونه پەخرما
کانو سره یعنی کردچاپیره له دواړو څیرمه دیوالونو نه خرماکانے پیدا کړے وے مونږه
وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا اوپیدا کړے وو مونږه په مابین ددے دواړو باغونو کښی زَرْعًا ﴿۳۲﴾
کښت زار دپاڑه دکردغلے چه حظوظ اولذوذ دواړه سره ولاړوی كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ هریولە دے
دواړو باغونوچه وو اٰتَتْ اُكُلَهَا ورکولە به ئے میوه خپله پوره وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ شَيْـًٔا
اوهیڅ قدر ظلم یعنی نقصان به ئے نۀ کولو له محصوله خپله هیڅ څیز یعنی عادت دباغونو
داوی چه یوکال میوه ډیره کوی اویوکال لږه اوهغه به همیشه ډیره کوله وَفَجَّرْنَا
خِلٰلَهُمَا اوبهولے وه مونږه په منځ ددے دواړو باغونو کښی نَهَرًا ﴿۳۳﴾ والە چه اسباب
دمعیشت پکښی ټول پوره شی وَكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ج او وُه دے کافرله نورهر قسم له میوے
غیرله انګورو اوله خرماکانو یا نورهرقسم مال له سرو زرو اوله سپینو زرو اوله نورو
اشیاؤ **روایت دے** چه هرکله یهوذا ډیرمحتاج شۀ نوله ورورهٔ ئے چه طلب
اوکړو اوهغه ورته وویل چه ځما اوستا مبلغ خوبرابروو نوتاوله خوشے عیش کړو بیا
ئے له لاسه اوبیوه اوپه خپلوباغونوکښی ئے اوکړځولو دپاره دفخرلکه چه وائی فَقَالَ
لِصَاحِبِهٖ پس وویل قطروس ملګری خپل ته یعنی ورورته چه یهوذا اوُ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ
اوحال داچه دۀ جګړه ورسره کوله یعنی دهرے خبرے جواب به ئے ورکړولو اِلزامًا نو
قطروس اووایل چه اَنَا اَكْثَرُ زۀ ډیرزر یات یم مِنْكَ مَالًا له تاڅخه له جهته د مالـه
وَاَعَزُّ نَفَرًا ﴿۳۴﴾ اوډیرعزتناك یم له جهته دملاتړه یادځامنو اودخادمانو چه ډیرډی
وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ اوننوتو دا قطروس په باغ خپل کښی وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ج اوحال داچه

دے ظالم وو په خان خپل په سبب د فخر او د عُجب او د په محبت د دنیا مړه قَالَ مَآ اَظُنُّ وویل ده چه گمان نهٔ کوم زهٔ اَنْ تَبِيْدَ د دے چه هلاك او خراب به شی هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿۳۵﴾ دا باغ خُما هیڅوړے وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً لا او بل گمان نهٔ کوم زهٔ په قیامت راتلونکی وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ او هر اَیښنه چه بوتلے شم زهٔ په زعم ستا اِلٰى رَبِّيْ رب خپل ته لګه چه واے تهٔ لَاَجِدَنَّ نو قسم دے چه بیا به مومم زهٔ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿۳۶﴾ غوره له دے باغ خپله له جهته د عاقبته قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ یا ویل دے قطروس ته ملګری خپل یعنی د رور دے چه یهودا وو وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ او حال دا چه دهٔ جګړه وِس سره کوله اَكَفَرْتَ بِالَّذِيْ ایا کافر شوے په انکار له بعثه په هغه خدائ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ چه پیدا کړے ګے هغهٔ تهٔ په اول کښی له خاورے یعنی نیکهٔ ستاچه آدم علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام دے چه علت د دے وجود ستا ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیا ئے پیدا کړے نهٔ له نطفے چه مادهٔ قریبه ستاده ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿۳۷﴾ بیا ئے پیدا کړے تهٔ او سازئے کړے سړے ثابت روغ په اندامونو تا بیا کفر اختیار کړو لٰكِنَّا اے لکِن اَنَا یعنی لیکن هر چه زهٔ یم خو داسے وایم چه هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ حال دا دے چه خدائ خُمارب دے وَلَآ اُشْرِكُ اوشریک نهٔ پیدا کوم زهٔ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿۳۸﴾ په رب خپل پورے هیڅوك وَلَوْلَآ او نهٔ وے اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ په هغه وخت چه ننوتے ته باغ خپل ته قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ لا اوډ ه نه ویل چه هر هغه چه اراده شوے وی د خدائ هم هغه به اوشی یعنی داسے وے ونهٔ ویل چه کهٔ رب دا باغ پاتے کوئی نو پاتے به شی اوکه خرابوی ئے نو خراب به شی او بل داسے وے ونهٔ ویل چه لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ج نشته قوت هیڅ اله په هیڅ شیز مګر په توفیق د خدائ سره اِنْ تَرَنِ که وینے ته ما اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ چه زهٔ د په رکم یم له تا مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۳۹﴾ له جهته د مال او د فرزند ده فَعَسٰى رَبِّيْٓ پس امید لرم له رب خپله اَنْ يُّؤْتِيَنِ د دے چه راکړی دے ما له ورغه باغ په آخرت کښ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ د په رغوره له دے باغ ستاچه په دنیا کښ دے وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا او ولیږی په دے باغ ستا

حُسۡبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ تنده له طرفه د اسمانه فَتُصۡبِحَ صَعِيۡدًا زَلَقًا ﴿۴۰﴾ پس شی دا باغ ستا د الۍ میدان خویه بے زرغونے اَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرًا یا شی اوبه ددے نو تونکے بنکته په زمکه کښ فَلَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ پس له سره به بیا ونهٔ توانیږے تهٔ لَهٗ طَلَبًا ﴿۴۱﴾ دے اوبو له طلب **روایت دے** چه دهغه مؤمن کفته خدائے رښتیني کړه او په هغه باغ ئے افت راغے لکه چه وائی وَ اُحِيۡطَ بِثَمَرِهٖ او احاطه اوکړے شوه په میوے دهغه باغ یعنی محیط شهٔ افت دخدائی په هغهٔ چه میوے اوونے اوعمارتونه ئے ټول خراب شواوبیا داحال چه قطروس اولیدهٔ فَاَصۡبَحَ پس صباح کړودهٔ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ چه چورکول به ئے دواړه ورغوی خپل له ډیرے پښیمانئ اوله ارمانه به ئے ورغوی سره مخل او افسوس به ئے کولو عَلٰى مَاۤ اَنۡفَقَ فِيۡهَا په هغه مبلغ چه صرف کړے وودهٔ په آبادئ ددے باغ کښ وَهِىَ خَاوِيَةٌ اوحال داچه هغه عمارتونه ددے باغ یعنی دیوالونه ئے لویدلی پراته وو عَلٰى عُرُوۡشِهَا په بامونو خپلو یعنی اول ئے بامونه اولیدل اوبیا دیوالونه پرے دپاسه راولویدل نوورغوی به ئے سره مخل وَيَقُوۡلُ يٰلَيۡتَنِىۡ اووایی به ئے چه اے کاشکے افسوس دے مالره لَمۡ اُشۡرِكۡ چه نه وے نیولے ماشریك بِرَبِّىۡۤ اَحَدًا ﴿۴۲﴾ په رب خپل پورے هیڅوك چه داباغ م په سبب دغه شرك خراب شه وَلَمۡ تَكُنۡ لَّهٗ اونهٔ وو دهٔ له فِئَةٌ يَّنۡصُرُوۡنَهٗ کوم ټولے دمدد کار اونوچه مدد وکړی ورسره په دفع ددے افت کښ له باغه مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیرله خدائ وَمَا كَانَ مُنۡتَصِرًا ﴿۴۳﴾ اونهٔ دے پخپله وو مدد کونکے له خپل ځان سره چه له خدائ انتقام واخلی ددے باغ هُنَالِكَ الۡوَلَايَةُ په دے وخت یاری اومدد کاری چه ده په وخت د زوال د نعمت یا په ورځ د قیامت یا په ورځ د جزا لِلّٰهِ الۡحَقِّ ؕ هغه خدائ له ده چه حق یعنی درست کار اوراست کفتار دے هُوَ خَيۡرٌ ثَوَابًا دے ډیرغوره دے له جهته د ثواب وَّخَيۡرٌ عُقۡبًا ﴿۴۴﴾ ع او ډیرغوره دے له جهته د عاقبته وَاضۡرِبۡ لَهُمۡ اووښه دے خلقو تهٔ مَّثَلَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا مثال ددے وارهٔ ژوندون چه دے په تازه والی فی

الحال اوپه سُرعت د زوال کښ كَمَآءٍ په مثال دهغه اوبودے یعنی دهغګیاه دے چه زړ غونه شوے وی په هغه اوبو سره اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ چه راکوزے کړیدی موبږه له طرفه د آسمانه فَاخْتَلَطَ بِهٖ پس انبوه اویوله بله سره خلط شی په دے اوبو نَبَاتُ الْاَرْضِ زړ غونه د زمکے او قوی اوکمال ته ورسیږی او زمکه پرے ډکه اوښائسته شی فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا پس شی صباله دا نبات وُچ کلک مات مات تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ط چه الوتونکی ئے بادونه اوکړد ئے کړځوی په طرف وَكَانَ اللّٰهُ اودے خدائ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ مُّقْتَدِرًا (۴۵) په هرشیز توانا قادر **حاصل** داچه لکه زمکه چه په اول کښ وچه کلکه پرته وی بیاچه باران پرے اوشی نو تامه شنه زړ غونه شی او بیا دوه وړ ئے پس هغه ګیاه ئے داسے وچه کلکه شی چه بادونه ئے په هرطرف الوزوی اوهم داسے حال د بنی آدم هم دے چه په اول کښ دے ځوان قوی روغ مور پیښ وی اوله ډیره کمزوره زمکے ته نهٔ ګوری بیا دوه ورځے پس زور پے قوت ریځور کے تړے بریښ پروت وی بیا ناګاه باد داجل پرے راوالوزی اوله بیخه ئے ونړوی بیائے په زمکه وغټوی۔

نظم

اے غافلهٔ هم نادانه تهٔ خبر نهٔ ئے له ځانه۔ دا دنیا ده له ارمانه اخر تلهٔ دی له جهانه
د قیامت سختی دی ډیرے خوشیطانه کړے لږ تاهیرے۔ ځکه خپے ډکړے چاپیرے په غفلت لږ دے دنیا نه
بیا په هیڅ به نهٔ خلاصیږے اوس وخت دے کد پوهیږے۔ دا دنیاچه پرے نازیږے پاتے شونکے ده له تانه

روایت دے چه هرکله مشرانو د قریشو به ډیر فخر کولو په مالونو او په ځامنو خپلو په رسول صلے الله علیه وسلم او ویل به ئے چه دے نه مال لری اونه ځامن نو نازل شهٔ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ مال د دنیا اوځامن چه دی چه د خدائ له جهته خالی وی۔ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا د دنیا ژوند ښایست دے د دے واړه ژوندون او تو ښه نهٔ دی د قبر او د قیامت وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ اوهغه نیک عملونه چه دی چه تر اَبده میوه خوږ ځوی سړی تر یاد اپنځه واړه مونځونه یا کلمه طیبه یا تسبیح او تحمید او تکبیر چه

دی عِنْدَ رَبِّكَ د پیر غوره دی په نزد د رب ستا ثَوَابًا له جهته د جزا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ﴿۴۶﴾ او د پیر غوره دی له جهته د امید وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ او یاده کړه هغه ورځ چه روان به کړو مونږ ه غرونه یعنی د بیخه به ئے تار تار په تار کړو لکه گرد وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً او ویني به ته زمکه بنکاره یعنی خالی میدان چه د اغرونه او ودانئ او وني به ټولے ترے لرے کړو او لوړے او ژورے به هم هوارے کړو او مړی به هم له قبرونو راولاړ کړو وَحَشَرْنٰهُمْ او راجمع به کړو په موقف د حساب کښ فَلَمْ نُغَادِرْ پس پرے به نږدو مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿۴۷﴾ له دوئ هیڅوك یعنی اولین او اخرین به ټول راحاضر کړو وَعُرِضُوْا او بیا به د ټول عرض کړے شی عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا په رب ستا د لے د لے صف ترلی چه یوله بله به نه پناه کیږی لکه بادشاه ته چه لښکریان تیروی او بیا به حق سبحانهٗ وتعالیٰ ورته ووائی چه لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا هرا ئینه په تحقیق راغلئ تاسے مونږ له بربنډ لغر یوازے بے مال بے اولاده بے دولته بے حشمته كَمَا خَلَقْنٰكُمْ لکه چه لغر پیدا کړی وی مونږه اَوَّلَ مَرَّةٍ د اول کرت له خپله مور بَلْ زَعَمْتُمْ بلکه گمان به کولو تاسے اے منکرانو له بعثه اَلَّنْ نَّجْعَلَ ددے چه د سره به مقرر نه کړو مونږه لَكُمْ مَّوْعِدًا ﴿۴۸﴾ تاسے له یو وعده گاه د پاره د حساب او د جزا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ او کیښے خودے شی د فترد اعمالو په میزان کښ یا په لاسونو د اهل حشر فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ پس وینے به ته گنهگاران مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ ویریدونکی له هغه گناهونو خپلو چه په دے د فتر کښ لیکلی دی یعنی هرکله چه گناهونه خپل په فتر خپل کښ وویني نو خوف به پرے غالب شی وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا او وائی به له د ې بېره تعجبه چه اے افسوس دے مونږ لره مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ څهٔ حال دے ددے د فتر حُمونږه لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً چه نهٔ پریږدی هیڅ گناه نه وړه وَّلَا كَبِيْرَةً او نه لویه اِلَّآ اَحْصٰىهَا مگر په شمار کړی او ساتلی ئے دی ټول وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا او بیا به موهی دوئ هرهغه چه کړی ئے وو که نیک دی اوکهٔ بد حَاضِرًا په مخکښ حاضر پراته وَلَا يَظْلِمُ

رَبُّكَ اَحَدًا ﴿۴۹﴾ او ظلم نۀ کوی رب ستا په هیڅا نه په کمولو دنیکئ او نه په زیاتولو د
بدئ وَاِذْ قُلْنَا او یاد که هغه چه وویل موبنزه لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا ملائکو ته چه سجده
اوکړئ لِاٰدَمَ ادم علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام ته فَسَجَدُوْٓا پس سجده اوکړه نولو
اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط مګر یوا بلیس او نۀ کړه كَانَ مِنَ الْجِنِّ وو دے په اصل کښ له پیریانو
فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ط پس اووتو دے له فرمانه درب خپل په ترڅ د سجدے سره
اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ ایا پس نیسئ تاسے دے وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ او اولاد ددۀ دوستان مِنْ
دُوْنِيْ بغیر له ما وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ط اوحال داچه دوئ تاسے له دشمنان دی یعنی ابلیس
او اولاد ددۀ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾ بد دے ظالمانو له بدل له خدائ چه دخدائ
فرمان نۀ منی او ددۀ منی مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ نۀ دی حاضر کړی ما دوئ یعنی د شیطان
او اولاد ددۀ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ نه په وخت د پیدا کولو د اسمانونو اونه د زمکے
کښ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ص اونۀ په وخت د پیدا کولو د ځانونو ددوئ کښ د پاره د مصلحت
یا د مدد کارئ وَمَا كُنْتُ اونۀ یم زۀ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ نیونکے د گمراهانو چه ابلیس او اولاد
ئے دے عَضُدًا ﴿۵۱﴾ منه او بازو یعنی یاران او مدد کاران وَيَوْمَ يَقُوْلُ او یاده کړه هغه
ورځ چه به او وائی خدائ مشرکانو ته نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چه نعرے کړئ
هغه شریکا نو څما ته زَعَمْتُمْ چه گمان به کولو او ویل به تاسو چه د شریکان ګ
ځما فَدَعَوْهُمْ پس نعرے به وکړی دوئ دغه بتانو خپلوته د پاره د اعانت فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا
لَهُمْ پس هیڅ جواب به ورنۀ کړی د ابتان دوئ لره اونه به مدد کاری ورسره وکړی
وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ اوپیدا به کړو موبنزه په مابین د دوئ او دخدایانو ئے مَّوْبِقًا ﴿۵۲﴾ ځائ
د هلاك وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ او وینی د مشرکان اور له ورایه دا چه خلویښت کاله لاد
به ترمینځه وی فَظَنُّوْٓا پس یقین به راشی د دوئ اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا په دے چه بیشکه
دوئ لویدونکی دی په دے اور کښ وَلَمْ يَجِدُوْا اوونه ومومی دوئ عَنْهَا

لہ یعنی زۀ پیدا کولو کښ بے پروایم له مدد کارانو ۱۲

مَصْرِفًا ﴿۵۳﴾ له دے اوږه ځائے د په څنګ کیدو وَلَقَدْ صَرَّفْنَا اوهر اوینه په تحقیق بیان کړی دی مونږه فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په دے قرآن کښ لِلنَّاسِ مِنْ کُلِّ مَثَلٍ خلقو ته له هرقسم مثاله چه د دوئ احتیاج ورنه پیښیږی هم د قصو د تیرو امتونو د پاره د عبرت اوهم له دلائلو د قدرت د پاره د بصیرت وَکَانَ الْاِنْسَانُ او دے انسان اَکْثَرَ شَیْءٍ جَدَلًا ﴿۵۴﴾ ډیر له هرڅیزه له جهته د جګړے او د باطل خصومت مراد ترے نضر[1] کافر دے وَمَا مَنَعَ النَّاسَ او نهٔ دی منع کړی دا اهل د مکے اَنْ یُّؤْمِنُوْٓا له دے چه ایمان راوړی اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰی په هغه وخت چه راغے دوئ له موجب د رهنمایئ چه رسول صلی الله علیه وسلم یا قرآن دے وَیَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ او بل له دے چه بخښنه وغواړی له رب خپل پس له راوړلو له ایمان یعنی له دے ئے نه دی منع کړی اِلَّآ اَنْ تَاْتِیَهُمْ مګر دے منع کړی دی چه راشی دوئ له سُنَّةُ الْاَوَّلِیْنَ هغه ترلے لاره د خدائ په هلاکولو د پخوانو اُمموکښی اَوْ یَاْتِیَهُمُ الْعَذَابُ یا راشی دوئ له عذاب بیخکښ قُبُلًا ﴿۵۵﴾ مخامخ یا په انواعو وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِیْنَ اونهٔ لیږو مونږه استاذی اِلَّا مُبَشِّرِیْنَ مګر زیری ورکونکی په مؤمنانو د رضوان د جنت او د دیدار وَمُنْذِرِیْنَ ج او ویرونکی د کافرانو له غضبه له دوزخه له احتجابه وَیُجَادِلُ الَّذِیْنَ اوجګړه کوی هغه کسان کَفَرُوْا چه کافر شوی دی بِالْبَاطِلِ په دروغو چه کله وایئ تاسے هم بشر ئے خو مونږه په شان اوکله وایئ چه ملائیګ ولے نهٔ راځی مونږ ته اوکله وایئ چه خدائ ولے خان نهٔ بنائی مونږ ته لِیُدْحِضُوْا د پاره د دے چه باطل اومحوه کړی دوئ بِهِ الْحَقَّ په دے جګړے سره حق یعنی قرآن یا دین د اسلام وَاتَّخَذُوْٓا اٰیٰتِیْ اوینولی دی دوئ ایتونه خما د کتاب او دلائل د قدرت خما وَمَآ اُنْذِرُوْا او بل هغه څیرچه ویرولے شوی دی پرے دوئ چه قیامت اوعذاب او دوزخ دے هُزُوًا ﴿۵۶﴾ ځائے د مسخرو وَمَنْ اَظْلَمُ او څوك دے د ډیر ظالم مِمَّنْ ذُکِّرَ له هغه چا چه پند ورکړے شوے وی

[1] نضر څوئ د حارث دے چه قرآن کښ نوم ئے بګړه کولے ۱۲

لره بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ په ایتونو د رب خپل چه قرآن دے فَاَعْرَضَ عَنْهَا پس اوګرځوی مخ له هغه ایتونو او قبول ئے نه کړی وَنَسِيَ مَا اوهیرئ کړو هغه کار له قَدَّمَتْ يَدٰهُ ط چه لیږلی دی پخوا دواړو لاسونو ددهٔ چه کفر او معاصی دی او دهغوعاقبت ته نهٔ ګوری ځکه چه اِنَّا جَعَلْنَا بیشکه چه اینبی دی مونږه عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً په زړونو ددوئ پردے اَنْ يَّفْقَهُوْهُ د پاره دے چه مباد پرے پوهه شی وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا او په غوږونو ددوئ کښ مونږ اینبے دے کوږوالے چه کلام د حق وانهٔ وری په سمع د قبول سره وَاِنْ تَدْعُهُمْ اوکهٔ وبولے نهٔ دوئ اِلَى الْهُدٰى موجبا تو دهدایت ته چه ایمان او قرآن دے فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا پس له سره به لاربیانهٔ مومی دوئ اِذًا اَبَدًا ﴿۵۷﴾ په دغه وخت چه بولے ئے ته هیڅرے ځکه چه په ازل کښ ایمان دوئ له نهٔ دے مقرر شوے وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ اورب ستا د پیر بخښونکے دے ذُو الرَّحْمَةِ ط چه خښتن د پیر رحمت دے لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ کهٔ نیولے وے ده دا کفار بِمَا كَسَبُوْا په سبب د هغه شرك او کفر هونو او تکذیب د رسول علیه الصلوة والسلام او د قرآن چه کړے دے دوئ لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ط نو هرائینه جلت به ئے راایزله وو دوئ له عذاب په دنیا کښ بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ بلکه مقرر دے دوئ له د پاره د عذاب یوه وعده ګاه چه ورځ د قیامت ده او اوبیاچه هغه وعده ګاه راشی لَّنْ يَّجِدُوْا نو له سره به نهٔ مومی دوئ مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿۵۸﴾ غیر له دهٔ پناهی اوځائے د تیښتے وَتِلْكَ الْقُرٰٓى او دا بنارونه چه دی یعنی اهل د دے بنارونو چه مونږه ئے تاته قصے کړے دی لکه قوم د نوح علیه الصلوة والسلام او عاد او ثمود او مؤتفکات او دا سے نور د پیر شو اَهْلَكْنٰهُمْ هلاك کړی دی دوئ مونږه لَمَّا ظَلَمُوْا هرکله چه ظلم اختیار کړو دوئ په کفر او په معاصیو او په مجادله او په تکذیب د رسول علیه الصلوة والسلام وَجَعَلْنَا اومقرر کړے وو مونږه لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿۵۹﴾ د پاره د هلاك ددوئ یووخت معلوم **روایت دے** چه پس له غرق د فرعون یوه ورځ موسیٰ علیه الصلوة والسلام خلقونه خطبه اولوستله د پیره بلیغه

وکـه له پنده نو له دے خلقو چا وویل چه اے پیغمبره له تا به په جهان کښ بل څوك زیات وی په علم کښ نو ده وویل چه رانه نۀ ښکاریږی چه به وی او یا د اخبرهٔ په زړه کښ او کړځیده نو وحی ورته وشوه چه هُوښیار یو بنده دے چه هغه زیات دے له تا نو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام اوویل چه هغه به چرته وی چه زهٔ ترے څهٔ زده کړم نو پیغام اوشو ورته چه مجمع البحرین کښ دے هلته چه سیند د فارس یوځائے شوے دے له سینده دروم سره نو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام اراده دوړتلو او کړه لکه چه وائی وَاِذْ قَالَ او یاد کړه اے رسوله هغه چه وویل مُوْسٰی لِفَتٰىهُ موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام خادم اوشاګرد خپل ته چه یوشع بن نون بن افرا بن یوسف دے لَآ اَبْرَحُ چه هیڅه به ګرزم او روان به یم زهٔ حَتّٰٓی اَبْلُغَ تر هغه پورے چه ورسیږم مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ ځائے د جمع کیدلو د دواړو سیندونو چه د فارس او د روم دے اَوْ اَمْضِیَ حُقُبًا ﴿۶۰﴾ یا به روان یم اوکړځم به ډیره موده نو یوشع یوځو وډئ او یو مهے ورپیت کړے له ځان سره واخسته او د موسیٰ علیه السلام سره روان شهٔ او ورته او ویلے شو چه په هر ځائے کښ چه دا مهے درڅخه ورك شو هم هغه ځائ دے دهغه بنده فَلَمَّا بَلَغَا پس هرکله چه اوږسیدل دوئ دواړه مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا هغه مینځ ټاپود جمع کیدو د دواړو سیندونو ته نو هلته ئے هیڅوك بیانهٔ مونده اوهلته یوه چشمه وه د آب حیات او دډیر چشمے په خواکښ یوه لویه تیږه هم وه نو دوئ دوئ دواړه هغه تیږے ته تکیه کینا ستل او موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام اوده شو او یوشع علیه السلام په هغه چشمه اودس کولو نو دهغه او بو څاڅکی په ماهی ولویدل نو بیرته ژوندے شهٔ او تږے لاړه نو سیندکښ ولویدهٔ بیا چه موسیٰ علیه السلام وینی شه نزدهٔ د اخبره هیره شوه چه د احال ئے ورته ویلے وے لکه چه وائی نَسِيَا حُوْتَهُمَا نو هیر شود دواړو ماهی د دوئ فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ پس ونیوله ماهی لاړه خپل فِی الْبَحْرِ په سیند کښ سَرَبًا ﴿۶۱﴾ ای سَرَبَ سَرَبًا یعنی تلګ

ے کولو په ټک کولو سره دا سے چه سیند کښی وی ره ته کوخه سازه شوه لکه تهه خانه او دوئی بیا له دغه ځایه وړاندے روان ځول فَلَمَّا جَاوَزَا پس هرکله چه تیر شود وئی له مجمع البحرین قَالَ لِفَتٰىهُ نو وویل موسیٰ علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام خادم خپل ته چه یوشع۴ وو چه خانبت مشهٔ اوس اٰتِنَا غَدَآءَنَا راوړه مونږ له خانبتی طعام خُمونږه چه وے خورو او یو قدر دمه هم اوکړو ځکه چه لَقَدْ لَقِيْنَا هٰذَا ئینه په تحقیق پیښه شوه مونږ ته مِنْ سَفَرِنَا له سفره خُمونږه هٰذَا نَصَبًا ﴿۶۲﴾ چه داده ډیره سختی او ستومانی بیا چه یوشع۴ دسترخوان پیرته کړو او ماهی پکښی نهٔ وو نو تیر حال ئے یادشهٔ اوقَالَ اَرَءَيْتَ وویل یوشع۴ چه ایا کورے ته اِذْ اَوَيْنَآ چه هغه وخت چه ارخ ولګاوو مونږ اِلَى الصَّخْرَةِ هغه لوئے تیږے ته چه دچشمے په څنګ کښی وه فَاِنِّيْ پس بیشکه زهٔ چه یم نَسِيْتُ الْحُوْتَ ځ هیر رم شه ماهی یعنی حال دماهی چه تاته رم وے وَمَآ اَنْسٰنِيْهُ او نهٔ وو هیر کړی له ما بیا نول دده حال تاته اِلَّا الشَّيْطٰنُ مګر شیطان چه مشغول ئے کړم اَنْ اَذْكُرَهٗ چه ئے چه یاد کړم تاته واچه ماهی بیرته ژوندے شهٔ اوله ماولویده وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ او ئے نیوه لاره خپله فِي الْبَحْرِ ق عَجَبًا ﴿۶۳﴾ په سیند کښی عجیبه دا سے چه دے په او بو کښی روان وو او کوخه به سازیده قَالَ ذٰلِكَ نو وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام داحال دماهی چه دے مَا كُنَّا نَبْغِ ق هغه دے چه غوښتهٔ به رم داحال ځکه چه وعده کاه هم داوه فَارْتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا پس بیرته راواوګرځیدل دوئی دواړه هم په هغه قدمونو چه راغلی وو قَصَصًا ﴿۶۴﴾ ای یقصان قَصصًا یعنی هم په هغه پلونو چه پرے راغلی وو بیرته پرے روان شهٔ خوچه بیا مجمع البحرین له راغلهٔ فَوَجَدَا عَبْدًا پس بیامونده دوئی دواړو یو بنده عالی شان مِّنْ عِبَادِنَآ له هغه بندګانو خُمونږه چه محض په خپل فضل سره اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً ورکړے وو مونږه دهٔ له رحمت مِّنْ عِنْدِنَا له جانبه خُدایه چه هغه وحی یاعلم یاطول دحیات دے وَعَلَّمْنٰهُ او بنوولے وو مونږه دهٔ ته مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿۶۵﴾ له جانبه خپله یودآ قسم علم چه خاص دے په مونږه پورے اوغیر له بنو دے

ځمونږه ئے هیڅوك نه شی زده کولے چه هغه علم غیب دے روایت دے چه هر کله موسیٰ علیه الصلوة والسلام بیرته مجمع البحرین له راغے نو حضرت خضرؑ ئے اولیده چه تکیه وهلے ناست وو اوجامه ئے په مخ اچولے وه بیا موسیٰ علیه الصلوة والسلام سلام پرے واچولو نو دهٔ مخ برښکاره کړو او سلام ئے واخسته او ورته ئے وویل چه څوك ئے هغه وویل چه موسیٰ یم دبنی اسرائیلو مامور شوے یم په صحبت ستا او په زده کولو له تا لکه چه وائی قَالَ لَهٗ مُوْسٰی نو وویل دهٔ ته موسیٰ علیه الصلوة والسلام هَلْ اَتَّبِعُكَ چه ایا پیروی کوم زهٔ ستا یعنی پوښتنه کوم له تا دده چه کهٔ ستا خوښه وی نو زهٔ به ستا پیروی اوکړم عَلٰٓی اَنْ تُعَلِّمَنِ بناپه دے یعنی په شرط دده چه زده کړے ته ما ته مِمَّا عُلِّمْتَ بعض له هغه علمه چه ښودلے شوے دے تا ته رُشْدًا (۶۶) په طریقه د رهنمایئ یعنی داسے علم چه ما په لاره د خیر برابر کړی قَالَ اِنَّكَ نو وویل خضرؑ چه بے شکه ته لَنْ تَسْتَطِيْعَ له سره به ونهٔ کړے شے طاقت مَعِیَ صَبْرًا (۶۷) له ما سره د صبر وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰی مَا اوځرنګه به صبر اوکړے ته په هغه کار لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا (۶۸) چه نه وی کړے احاطه تا په هغه کار له جهته د پوهے یعنی زهٔ به یو کار کوم بنا بر مصلحت چه په ظاهر کښ به هغه تا ته بد ښکاریږی نو اعتراض به را باندے کوے قَالَ سَتَجِدُنِیْٓ نو ورته وویل موسیٰ علیه الصلوة والسلام زر دے چه بیا به موے ما اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا که ارادهٔ وی د خدائ صبر کوونکے په هر هغه کار چه له تا ئے ویم وَّلَآ اَعْصِیْ لَكَ اَمْرًا (۶۹) اوبے فرمانی به نهٔ کوم له تا دهیڅ کار قَالَ نو وویل خضرؑ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِیْ پس که متابعت کړے تهٔ ځما اونهٔ اودریږے فَلَا تَسْئَلْنِیْ پس مهٔ پوښته ما عَنْ شَیْءٍ له هیڅ څیزه اګر کهٔ تا ته بد ښکاریږی هم حَتّٰٓی اُحْدِثَ لَكَ ترهغه پورے چه پخپله آغاز کړم زهٔ تا ته مِنْهُ ذِكْرًا (۷۰) ع له هغه خبر فَانْطَلَقَا وځنه پس روان شوه دواړه چه حضرعلیه السلام اوموسیٰ علیه السلام وودسیند په غاړه اوبوشځ وړ پسے روان وو

له چه راغله بیړۍ او ما نږکا نو سورول یا چه حضرؑ ئے اوپیژند لو نو ډیر په تعظیم ئے سوارهٔ کړه ۱۲

حَتّٰٓى اِذَا رَكِبَا ترهغه پورے چه سواره سواره شو دواړه فِى السَّفِيْنَةِ په بیړۍ کښ او د سیند هغه غاړے ته نزدے شو خَرَقَهَا ط نو سوړۍ کړهٔ خضرؑ هغه بیړۍ دا سے چه تخته ئے ترے و ویستے قَالَ نو وویل ورته موسیٰ علیه السلام او حال داچه جاړے به ئے په هغه سوړی کښ منډے اَخَرَقْتَهَا ایا سوړۍ دِ کړه دا بیړۍ لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ج د پاره دے چه شرق کړے تهٔ اهل دِ دے بیړۍ حُکه چه داخرق موجب دغرق دے او حال بیادا ووچه اوبهٔ له دے سوړی پورته نهٔ راځے او بیړۍ ته ئے هیڅ ضرر نهٔ رسولو لَقَدْ جِئْتَ هرا ئینه په تحقیق راِدِ وړه یعنی اوِ کړه شَيْـًٔا اِمْرًا ﴿۷۱﴾ یوکار ډیر عظیم شنیع مخالف له طبع قَالَ اَلَمْ اَقُلْ نو وویل حضرؑ ایا ما نه ویلی وو اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ چه بے شکه ته به له سره اونه کړے شے مَعِىَ صَبْرًا ﴿۷۲﴾ له ما سره صبر نا کاه هغه عهد ئے یاد شهٔ نو قَالَ وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه هغه حُما هیره شوے وے نو لَا تُؤَاخِذْنِىْ مهٔ ما بِمَا نَسِيْتُ په هغه کار چه هیر شوے وی له ما وَلَا تُرْهِقْنِىْ او مهٔ رسوه ماته مِنْ اَمْرِىْ عُسْرًا ﴿۷۳﴾ له دے کار هٔ حُما چه متابعت یا نسیان دے سختی فَانْطَلَقَا وتهٔ پس بیا روان شول دواړه چه له بیړۍ وِ وتهٔ او تلل حَتّٰٓى اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا ترهغه پورے چه پیښ شول دواړه په یوهلک فَقَتَلَهٗ ه پس مړکړو خضرؑ هغه هلک په ذبح یا په بل څهٔ قَالَ اَقَتَلْتَ نو وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه ایا مړ دے کړو نَفْسًا تا زَكِيَّةً ۢ سړے پاك بِغَيْرِ نَفْسٍ ط پرته له قصاص چه پورے وِی پرے لَقَدْ جِئْتَ هرا ئینه په تحقیق چه راِدِ وړهٔ یعنی شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿۷۴﴾ ډیر بد کار قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ نو وویل خضرؑ ایا نهٔ وو ویلی مالا یخواله دے تاته چه اِنَّكَ بیشکه تهٔ چه ئے لَنْ تَسْتَطِيْعَ له سره به طاقت اونهٔ کړے شی مَعِىَ صَبْرًا ﴿۷۵﴾ له ما سره دصبر قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ نو وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه کهٔ پوښتنه اوکړه ما له تا نه عَنْ شَىْءٍ له کومه شیۍ چه له تا صادر شوے وو لکه دا تیرا فعال ستا چه وو بَعْدَهَا پس له دے کرت فَلَا تُصٰحِبْنِىْ ۚ پس مهٔ ملګرے کوه ما دوباره له ځان سره قَدْ بَلَغْتَ په تحقیق اوِ سیدے تهٔ مِنْ لَّدُنِّىْ عُذْرًا ﴿۷۶﴾

حُما له طرفه حد دعذر ته یعنی چه درے کرته م مخالفت اوکړو له تانو پس له هغے ته
معذوره شوے فَانْطَلَقَا وتله پس بیاروان شول دواړه حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ ترهغه پورے چه راغله دواړه
اَهْلَ قَرْيَةٍ اِسْتَطْعَمَآ اَهل دیو بنارته چه انطاکیه یا ایله یاکوم بل بنار وو نوطعام اُغوښتهٔ
دوئ اَهْلَهَا له اهل دهغے قرئے فَاَبَوْا پس اِبا راوړه هغه خلقوا وقبول ئے نهٔ کړو اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا
دا چه میلمانه کړی دوئ اوطعام ورکړه ورکړی نوهم هغسے وړی تړی ترے روان شول حُکه
چه هغه خلق ډیر بخیلان وو لکه مقوله ده شَرُّ الْقُرٰى الَّتِىْ تَجْهَلُ بِالْقِرٰى یعنی بد ترین کلیو
هغه دے چه بخل کوی په میلمستیا دمیلمه کښ فَوَجَدَا فِيْهَا پس بیا مونده دوئ په نواجبو
ددے قریے کښ جِدَارًا یو زور دیوال راکوز شوے يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ چه نزدے وو دے تهٔ
چه راپریوځی په زمکه فَاَقَامَهٗ ط پس ودراوکړ حضرت هغه دیوال په پښتئ ورکولو یا په
بیا نوی کولو یا هسے لاس پورے وهلوسره قَالَ نو وویل ورته موسیٰ علیه الصلوٰة و
السلام چه دوئ مونږله نوریځ هم رانهٔ کړه اوتهٔ ورلره دیوال سازوے نو لَوْ شِئْتَ کهٔ
اراده وکړے ستا لَتَّخَذْتَ نو هرڅینه اخستے به دِ وه عَلَيْهِ اَجْرًا (۷۷) په اباد ولودے دیوال مزدوری
له دوئ قَالَ هٰذَا نو وویل خضر حضرت دا دریم اعتراض ستاچه دے فِرَاقُ بَيْنِىْ وَ بَيْنِكَ ج
موجب دبیلتون دے په ما بین حُما او ستا کښ او هرکله چه وخت دبیلتون راغله او
ازمینبت منتهی شهٔ نودا تیرے شیبے به دِ اوباسم سَاُنَبِّئُكَ زرے چه اوس به اکاه کړم
تا بِتَاْوِيْلِ مَا په غرض دهغه کار لَمْ تَسْتَطِعْ چه اوږ نهٔ کړے شه طاقت عَّلَيْهِ صَبْرًا (۷۸)
په هغه دصبر اَمَّا السَّفِيْنَةُ هرچه هغه بیړئ وه چه ما ته کړے وه ما فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ پس
وه دلسو مسکینانو چه ټول سره رونړه وو او پنځه ترے شل وو چه په ځائے پراته وو او
پنځه ترے روغ ووچه دیاره دحاصلولو دقوت خپل يَعْمَلُوْنَ فِى الْبَحْرِ کسب دملاحئ به ئے کولو
سیند کښ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا پس اراده اوکړه ما په امر دخدائ ددے چه عیبجنه کړم
زهٔ دا بیړئ وَكَانَ وَرَآءَهُمْ اوحال دا چه وو په مخکښ یاشاته دده دوئ مَّلِكٌ یوبادشاه
چه نوم ئے جلندر بن کړکره وو او دده دوئ لاره بړے راغلے وه او نیادا بادشاه چه وو يَّاْخُذُ

آخته دهٔ کُلَّ سَفِینَةٍ هره روغه بیړۍ غَصْبًا (۷۹) په غصب محکم علیحنه کړه **رباعی**

له شبهه د اهل الله شه یوخواته - چه حکمت ئے معلوم نۀ وی بل هیڅ ناته
کهٔ بیړۍ دِ کړه په سیند کښ خضر ماته - زیان به ئے یو وی اوزیان نفع به ئے وی تاته

وَ اَمَّا الْغُلٰمُ اوهر چه هغه هلک وو حسین نامے چه وژلے وو فَکَانَ اَبَوٰهُ پس دوهم راد پلار د دهٔ دواړه مُؤْمِنَیْنِ مؤمنان فَخَشِیْنَآ پس اویریدو مونږه اَنْ یُّرْهِقَهُمَا له دے چه اوبه رسوی د اهلک دوئ دواړو ته طُغْیَانًا وَّکُفْرًا (۸۰) سرکشی اوکفر فَاَرَدْنَآ پس اراده اوکړه مونږه اَنْ یُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا د دے چه بدل ورکړی دوئ له رب د دوئ په عوض د هلک کښ بل فرزند خَیْرًا مِّنْهُ زَکٰوةً د پرغوره له هغه مقبول له جهته د پاکوالی وَّاَقْرَبَ رُحْمًا (۸۱) او د پر نزدے له جهته د مهربانئ او دنیکی له والد ینو سره چه هغه بیا یو جینئ وو چه د هغے له پُشته بیا اوٹیا پیغمبران علیٰ نبینا و علیهم الصلوٰة والسلام پیدا شو۔ **رباعی**

مهربانه ئے قادره کردکاره - ډیره لویه دِ عطاده بے شماره
چه یوخوئ واخله کافر له موټر پلاره - نو درے نیم شے بنیان ورکړے له دواړه

وَ اَمَّا الْجِدَارُ اوهر چه هغه دیوال وو چه ماورته پُشتی اینے وه فَکَانَ لِغُلٰمَیْنِ پس وو دوو تنو هلکانو یَتِیْمَیْنِ فِی الْمَدِیْنَةِ چه یتیمان وو د دواړه په هغه بنار کښ چه انطاکیه یا ایلیا وو اونومونه ئے اوصریم وو وَکَانَ تَحْتَهٗ اوو ه لاندے د دے دیوال کَنْزٌ لَّهُمَا خزانه د دوئ دواړه چه دسرو یا سپینو زرو وه اوکهٔ دا دیوال لویدلے وے نو د اخزانه به برسیره شوے وه اوچا به وړے وه او یا د اخزانه یوه تخته وه چه پرے لیکلی وو۔

عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالْقَدَرِ کَیْفَ یَحْزَنُ - عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالرِّزْقِ کَیْفَ یَتْعَبُ
عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالْمَوْتِ کَیْفَ یَفْرَحُ - عَجِبْتُ لِمَنْ یُّؤْمِنُ بِالْحِسَابِ کَیْفَ یَغْفُلُ
عَجِبْتُ لِمَنْ یَّعْرِفُ الدُّنْیَا وَتَقَلُّبَهَا بِاَهْلِهَا - کَیْفَ یَطْمَئِنُّ اِلَیْهَا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

وَکَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا او وو هغوی پلار د دوئ یو نیک سړے چه نوم ئے کاشح او اویا اوم یکدوئ

له تعجب دے د هغه چا چه باور کوی په تقدیر او غم کوی۔ تعجب دے له هغه چا چه باور کوی په روزئ او د رسیدئ او غم کوی۔ تعجب دے له هغه چا چه باور لری په مړ کیدو خو ځکه خو شمالی کوی تعجب ئے (باقی لږ صفحه ۳۱ کښ)

دد وئی فَاَرَادَ رَبُّكَ پس اراده اوکړه رب ستا اَنْ يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا دده چه ورسیږی دوئی د واړه حد دبلوغ اود کمال د عقل خپل ته وَيَسْتَخْرِجَا اوبیا راوباسی دوئی كَنْزَهُمَا خپله خزانه خپل اوداپتول کارونه چه کړی دی ما رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ج محض له جهته د مهربانئ وو د جانبه درب ستا لکه چه بیان دهر یو بیرته تیر شوے دے وَمَا فَعَلْتُهٗ اونهٔ دے کړے ما دا بیوکار هم له دے تیرو کارونو چه تا اولیدل عَنْ اَمْرِیْ ط له خپله خپله بلکه پتول رم په فرمان درب کړی دی ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا دا بیرته پتول حقیقت دهغه کار دے لَمْ تَسْطِعْ چه طاقت نهٔ ستوکولے تا عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۸۲﴾ په هغه د صبر **رباعی**

اے رازقه دهرچا ارحم له پتولو رحیمانو - مهربانه په هرچاے خصوصًا په یتیمانو
چه د دوه پیسو سخی وی خرڅوے ولـه پـه لکهو - اوچه پته ئے برسیره شی ساتے له غلیمانو

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ اوپوښتنه کوی دامشرکان له تا پـه یـهودو دنه عَنْ ذِى الْقَرْنَيْنِ ط له قصے دذی القرنین چه اسکندر رومی وو اودے مؤمن صالح وو اوپه نبوت کښ اختلاف دے اوذوالقرنین حُکه بالهٔ شی چه د مشرق اومغرب بادشاه وو یاد وه قرنه پا ئیدلے وو یا تاج ئے د وه پړے لرلے یاپه سرئے دوه کونځئ د وښتو پریښے وے یاکریم الطرفین وو یاعلم ظاهری اوباطنی ئے د واړه لرل قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اووایه اے رسوله دوئی ته چه زما دے چه به ولولم په تا سے یعنی تاسے تـه مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿۸۳﴾ ط له ده یعنی د دهٔ قصه اوبیان اِنَّا بیشکه مونږه چه یو مَكَّنَّا لَهٗ مرتبه اوقوت او سلطنت ورکړے وو مونږه دهٔ لره فِى الْاَرْضِ په زمکه کښ وَاٰتَيْنٰهُ اوورکړے وو مونږه ده لره مِنْ كُلِّ شَىْءٍ لهر هغه څیزه چه چه مخلوق ورته محتاج کیږی یاهغه چه د بادشاهانو پکار یږی سَبَبًا ﴿۸۴﴾ یوه لاره رسولے هغه څیزته فَاَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۵﴾ پس پیروی ئے اوکړه د هغے لارے چه مغرب ته تلے وو حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ ترهغه پورے چه ورسیده دے مَغْرِبَ الشَّمْسِ د ځائے د پریوتو

(بقیه حاشیه صفحه ۳۱) له هغه چاچه باور لری په حساب اوغافل کښینی تعجب دے له هغه چاچه پټرۍ دنیا اوګرځیدل د دے په اهل خپل امپه ارام کښینی له دے سره نشته بل خدائ مګر یو الله دے محمد صلے الله علیه وسلم استاذے دحدای دے - خطاط محمد صادق (ظهیر) چیرهارے (کوال -

د نمرته وَجَدَهَا تَغْرُبُ نو بیا ئے مونده دا نمرچه لویدی فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ په هغه چشمه کښ چه ډکه وه له لارے وَ وَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ؕ او بیا ئے موند ے چشمے سره یو قوم د کفار وچاغ شین ستر کی سړۓ ویختۓ چه اغوستن ئے پوستکی او حوراګ ئے د بحری حیوانا تو غوښے وے قُلْنَا نو وویل مونږه يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اے ذوالقرنینه! اودا ندا یه وحی او یا په الهام وه اِمَّا اَنْ تُعَذِّبَ یا دا سے کار ئے چه عذاب ورکړے ته ئے قوم له کهٔ ایمان رانهٔ وړی دوئ وَ اِمَّا اَنْ تَتَّخِذَ او یا دا سے کار ئے چه او نیسے ته فِيْهِمْ حُسْنًا ﴿۸۶﴾ په باب د دوئ کښ لاره دنیکۍ او د احسان که ایمان راوړی قَالَ نو وویل ذوالقرنین اَمَّا مَنْ ظَلَمَ هر چه هغه څوک دے چه ظلم یعنی اصرار کوی په کفر خپل فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ پس زر دے چه عذاب به ورکړو مونږه ده له په دنیا کښ په قتل سره ثُمَّ يُرَدُّ بیا به بوتلے شی په آخرت کښ اِلٰى رَبِّهٖ رب خپل ته د پاره د جز فَيُعَذِّبُهٗ پس عذاب به ورکړی خدائ هغه له عَذَابًا نُّكْرًا ﴿۸۷﴾ عذاب نا اشنا سخت چه هیڅانهٔ وی لیدلے وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ اوهر چه هغه څوک دے چه ایمان راوړی وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل کوی د نیکو فَلَهٗ جَزَآءَ نِ الْحُسْنٰى ج پس مقرره ده هغه له منبه جزا یه د اړ وچها نو نو کښ چه دلته امن دے له قتل او هلته رضوان او جنت او دیدار دے وَسَنَقُوْلُ لَهٗ او بیا زړے چه به اووایو مونږه دهٔ ته مِنْ اَمْرِنَا له فرمان حُکمونږه یعنی له هغه تکالیفو چه ئے پرے ماموره کړے وو مونږه يُسْرًا ﴿۸۸﴾ اسان کار چه دهٔ طاقت پرے رسیږی له زکواة له خراجه له نورو تکالیفو ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۹﴾ بیا ئے پیروی اوکړه دهغے لارے چه مشرق ته تلے وه حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ ترهغه پورے چه ورسیدهٔ دے مَطْلِعَ الشَّمْسِ خائے د ختلو د نمرته یعنی منتهٰی د اباد ئ ته په طرف د مشرق کښ وَجَدَهَا تَطْلُعُ نو بیا ئے مونده دا نمرچه راخیژی هر صبا عَلٰى قَوْمٍ په یو قوم چه حبش دے لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ چه نهٔ وو پیدا کړے مونږه دوئ له مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿۹۰﴾ را ښیرته له نمره پرده یعنی د دوئ او د نمر په مینځ کښ پنا هی نهٔ وه له پوشاک خُکه چه بربند وو او نه

له دیوالہ اوله بامه ځکه چه ودانی پکښی نۀ شوه کیدے چه زمکه ئے ډیره نرمه وه نو دکو تو په ځائے به ئے تهه خانے سازے کړے وے او په هغه کښی به ئے خپل کذران کاوو كَذٰلِكَ ط همداسے ووحال د ذوالقرنین لکه چه مونږ بیان کړو وَقَدْ اَحَطْنَا او په تحقیق احاطه کړے وه مونږه یعنی چا پیره شوے و وعلم ځمونږه بِمَا لَدَيْهِ په هغه لښکر واو اسبابونو او الاتو دجنګ چه ده ځخه وو خُبْرًا ﴿۹۱﴾ له جهته داګاهُ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۹۲﴾ بیا پیروی اوکړه ده دهغے لارے چه شمال ته تللے وه حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ ترهغه پورے چه ورسیدۀ بَيْنَ السَّدَّيْنِ مینځ دهغو دواړو غرونو ته چه د ارمینئ او ازربائیجان دے وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا نو بیائے موندۀ په هغه خواله دے دواړو غرونو قَوْمًا یو ډیر عجیبه قوم بدرنګه بد شکله چه له ډیرے ناپوهئ لَّا يَكَادُوْنَ نۀ وو نږدے دے خبرے ته يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿۹۳﴾ چه پوهه شی دوئ دچا په خبره چه یاجوج ماجوج بالہ شی اوژبه ئے له هرچا مخالفه وه نو په ډیر مشقت سره په اشارو تونو به ئے سره پوهول قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ بیا وویل هغه ځیرمه خلقو دے سدین ته چه اے ذوالقرنین اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ بیشکه دا قومونه یاجوج اوماجوج چه دے چه اولاد د یافس بن نوح ؑ دے او په قد بعضے یوه لیشت او بعضے شپږ شپے گزه دی اوهر کله چه دوئ له دے سدین بیرون راوزی له ډیرے لوبے نو دوئ مُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ فساد کونکی دی په زمکه ځمونږه کښی دا سے چه مدام ادمیان راځخه وژنی او کښتونه خرابوی اوشنهٔ واښهٔ ټول راځخه اوخوری اوچه ډیر اوبدی شی نو بنی ادم هم رانه خوری او مونږ ترے نه ډیر په عذاب یو فَهَلْ نَجْعَلُ پس ایا مقرر کړو مونږه لَكَ خَرْجًا تاله خراج ځخهٔ قدرے لږ خپل مال کهٔ ستا رضاوی عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ په شرط دے چه سازکړے تهٔ بَيْنَنَا په مابین ځمونږه کښی وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿۹۴﴾ او په مابین د دوئ کښی یو دیوال د پاره د حصار ولو د دوئ چه بیرون نه شی راوتلے چه مونږ ترے په ارام اوسو قَالَ مَا مَكَّنِّىْ ذوویل سلطان اسکندر هغه ځیرنچه مالره دست رس راکړیدے فِيْهِ رَبِّىْ په هغه ځیز کښی رب ځما خَيْرٌ هغه

دیر غوره دے له هغه ماله چه تاسے یے ماله راکوئ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ پس مدد کاری اوکړئ تاسے تول له ماسره په قوت یعنی په هغه خیزونوکښ چه حُهٔ پرے یه دے کار قوی کیږم لکه اُسپینه اوسکارهٔ اولرګی اوښئ اوس اولقمی او اُستکاران شو اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ چه ساز کړم په مابین ستاسے وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿۹۵﴾ اوپه مابین ددوئ کښ یوه پرده سخته کلکه اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ نو راوړی ماله پائ داوسپنے نوزمکه یے ولګوده ترهغه پورے چه اوبهٔ رابنکاره شوے بیا هغه خندق یے په تیږو سره پوخ راپورته کړو دزمکے ترسره پورے بیاله هغه په پورته به یے پائ داوسپنے ایخودے اومینځ ترمینځهٔ لرګی اوسکارهٔ په کښ ایخودهٔ خوچه دادیوال دهغود وارو غرونوله سرونوسره برابر شهٔ او دادیوال څلور زره قدمه یاسل فرسخه اوګلی وُو اوبنځهٔ شپیته ګزه پلنداوُو اوسل بنځوس ګزه له زمکے هسک وُو حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى ترهغه پورے چه برابر اوهوارشهٔ دادیوال بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ په مابین دڅوکو دهغه دوارو غرونوکښ نوبیا یے سکارهٔ پرے انبارکړهٔ اوګرد چاپیره یے بښئ وَرته کیښودے قَالَ انْفُخُوْا نو اویل سلطان چه پُوکړئ دابښئ چه داپائ سرے شی نوپُو یے کړے حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ترهغه پورے چه وے ګرځوله دا اوسپنه اوربنی تکسره داوربه شان قَالَ اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ نوبیا اویل سلطان چه راوړئ ماله چه توئ کړم عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿۹۶﴾ په دے دیوال داوسپنے مس وېلی کړی نوداسس په چاودونو دے پالیونوکښ ننوائ اونه تول سره یوچک شهٔ فَمَا اسْطَاعُوْهُ پاته دے آیت کښ تنازُع ده دفعلینو چه اٰتونی او اُفرغ دے په یومفعول کښ چه قِطْرًا دے چه هر فعل واپی داځما مفعول دے اوباقی احوال یے په نحوکښ مفصل بیان دی فَمَا اسْطَاعُوْٓا پس نهٔ طاقت لری دا یاجوج ماجوج اَنْ يَّظْهَرُوْهُ دے چه پاس راسوره شی په سردے دیوال په سبب د دیر جګوالی اود دیر خویه والی دهغهٔ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ اونهٔ طاقت لری دوئ دے دیوال نَقْبًا ﴿۹۷﴾ دسُوری کړلو له جهته د دیر سختوالی اوکلکوالی دهغهٔ بیا هرکله چه دادیوال بے تمام کړو قَالَ هٰذَا اویل سلطان چه داتامُول دے دیوال چه دی رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ج

مهربانی ده له جانبه درب حُما په دے خلقو چه ویړیدل له شره دیاجوج اوماجوج
فَاِذَا جَآءَ پس بیا په هرهغه وخت چه راغله وَعْدُ رَبِّیْ وعده درب حُما دراتلو دوئ
جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ج نوکاندی به دا دیوال هوار اوبرابر له زمکے سره وَكَانَ وَعْدُ رَبِّیْ اوده دا
وعده درب حُما چه دوئ به راوزی حَقًّا ﴿۹۸﴾ ربښتینے بے شبهے حُکه چه داخروج ددوئ هم
یوه نخبنه دقیامت **روایت دے** چه دوئ به په داسے ازدحام راوزی چه له ډیر
والی به یو په بل سره سوریږی اوسیندونه به تول وچ کړی اوچاریان بلکه وئے به هم
تولے وخوری اوهغه بنی آدم چه لاس ئے پرے ورسیدهٔ اومکے اومدینے اوبیت المقدس
ته به نهٔ شی ننوتے اونور تمام ملک به له ډیره ازدحامه ولتوی لکه چه وائی وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ
اوپرے به بردو مونږه بعضے له دے یاجوج ماجوج یَوْمَئِذٍ په دغه ورځ به راوئ دوئ له
ډیره ازدحامه یَّمُوْجُ فِیْ بَعْضٍ موج به وهی اوننوئ به په بعضو نور وکښی اویامراد
جن اوانس دی چه په ورځ دقیامت به له ډیر حیرته اواضطرابه سره کډ وډشی او
په یوبل به سره ننوئ وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ اوپوکے به وکړے شی په شپیلئ کښی فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ﴿۹۹﴾
پس راجمع به کړو مونږه دا تول خلق په جمع کولو سره په میدان دمحشر کښی دپاره دحساب اود
جزا وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ اوراښکاره به کړو مونږه دوزخ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ په دغه ورځ دپاره
دکافرانو عَرْضًا ﴿۱۰۰﴾ په ښکاره کولو سره له وړاندے دپاره دهیبت الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ
هغه کافران چه وی دزړه سترګے ددوئ له ډیره غفلته فِیْ غِطَآءٍ په پرده کښی عَنْ
ذِكْرِیْ له یاده حُما یعنی له لیدلو دهغه ایتونو چه زهٔ پرے یادیږم له قرآن حُما وَكَانُوْا
اووو دوئ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿۱۰۱﴾ چه طاقت ئے نهٔ لرلو اوریدو دپند اودکلام حُما
له غلبه دکونږوالی نه اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا آیا پس گمان کوی هغه کسان چه کافران
دی اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِیْ دے چه به ونیسی دوئ بندگان حُما لکه عیسی اوعزیر اوملائک
علیهم الصلوٰة والسلام شومِنْ دُوْنِیْٓ اَوْلِيَآءَ ط پرته له ما دوستان یعنی معبودان چه
بیا دوئ ته نفع اورسوی نو آگمان ئے خطادے اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ بیشکه مونږه

چه یُو تیار کړے دے موبنږه دوزخ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ﴿۱۰۲﴾ د پاره د کافرانو منزلگاه یا میلمستیا
او په دے کښ په دوئ پورے مسخرے دی او بل تنبیه ده چه په دے چه دا دوزخ خو هسے
میلمستیا قدرے ده او عذاب خولا وړاندے دے قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ او وایه دوئ نو چه
ایا خبر کړو موبنږه تاسے بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ﴿۱۰۳﴾ په ډیر وزیان کارانو له جهته د عملونو
الَّذِيْنَ دوئ هغه کسان دی ضَلَّ سَعْيُهُمْ چه ضایع او باطله دی دامنړے د دوئ په
نیکو اعمالو پسے فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دے واړه ژوندون کښ لکه عالمان او عابدان د یهودو د
او د نصارٰی ؤ او یا روافض او یا خوارج یا ریا کاران یا اهل بدعت دی اما مشهوره داده
چه مراد ترے کفار دی یعنی دوئ چه داخیر حیرات کوی هیڅ ترے نه قبلیږی وَهُمْ
يَحْسَبُوْنَ اوحال دا چه دوئ گمان کوی دے چه اَنَّهُمْ بیشکه دوئ چه دی
يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿۱۰۴﴾ بنهٔ لائق کارکوی او په واقعه کښ داسے نهٔ ده اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
دا چه بیړته یاد شوهغه کسان دی كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ چه کافر شوی دی په ایتو نو د
رب خپل پورے چه قرآن یا نور دلائل د توحید دی وَلِقَآئِهٖ او په ملاقات دده پورے
یعنی بعث او حشر پورے فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ پس خراب او عبس شول عملونه د دوئ چه
به ئے نهٔ گنړل فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ پس وبه نهٔ درووموبنږه د پاره د دوئ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
وَزْنًا ﴿۱۰۵﴾ په ورځ د قیامت تله چه د دوئ عملونه پرے وتلے شی حُکمه چه هیڅ ارزښت[1]
به د خدائ ځنه نهٔ لری ذٰلِكَ داکار چه هغه دا دے جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ جزاد دوئ
دوزخ دے دا کار بِمَا كَفَرُوْا په سبب د دے چه کافر شوی دی دوئ وَاتَّخَذُوْٓا ایتِیْ
اوښولی دی دوئ ایتونه د قرآن حُمَا وَرُسُلِيْ هُزُوًا ﴿۱۰۶﴾ او استاذی ځما مسخره اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی د نیکو
كَانَتْ لَهُمْ مقرر دی دوئ لره جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿۱۰۷﴾ باغونه د فردوس د ډیره کاه
یا پیشکشی او میلمستیا خٰلِدِيْنَ فِيْهَا چه همیشه به وی دوئ په دے باغونو کښی لا

[1] یعنی په هیڅ به نه ارزیږی او قیمت به نهٔ لری بلکه حبطه او نابوده به وی ۱۲

يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ چه نهٔ به غواړی دوئ له هغه باغونو بدل یا ځ کرځول بل طرف ته ځکه چه هرځهٔ چه خواهش وی د دوئ هغه به ټول په هغهٔ کښ تیار وی قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ او وایه شی که دا لوئ دریاب مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ سیاهی دپاره د بنکلو معلوماتو د رب ځما یا د معانیو د قران لَنَفِدَ الْبَحْرُ نو هرا ئینه تمام به شی دا دریاب یعنی او بهٔ ئے قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ دا قبل په معنیٰ د غیرد ے یعنی غیر له دے چه تمام شی كَلِمٰتُ رَبِّيْ معلومات د رب ځما وَلَوْ جِئْنَا او اګر که راوړو مونږ بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ بل په شان د دے دریاب له جهته د مدد کارئ **روایت دے** چه هرکله دا تیرایت نازل شهٔ نو یهود و ووییل چه تاسو په خپل کتاب کښ لوئ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا او محمد علیه السلام زعم لری چه مالره حکمت راکړے شوے دے او بیا د اهم پخپل کتاب کښ لولی چه وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا پس دا دواړه خبرے به څرنګه جمع شی نو نازل شهٔ قُلْ اِنَّمَآ اووایه اے رسوله چه بیشکه هم داخبره ده اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ چه زهٔ هم یو سړے یم په شان ستاسے او دعوئ د احاطے نه کوم په کلما تو د رب مګر داسے چه په واسطه د جبرائیل علیه السلام يُوْحٰٓى اِلَيَّ وحی کاوه شی ماته د دے خبرے چه اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ بے شکه هم داخبره ده چه معبود ستاسے چه د ے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج معبود د ے یواځے بے شریکه فَمَنْ كَانَ پس هرڅوك چه وی د ے يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ چه اُمید لری د پیښید لو په رب خپل باند ے په قیامت یا په جنت - فَلْيَعْمَلْ پس میبایدچه کوی د ے مدام عَمَلًا صَالِحًا عمل نیک چه هغه متابعت د ے د رسول علیه الصلوة والسلام په ظاهر کښ په ترك د دنیا سره او په اختیار ولو د فقر او په دوام د عبودیت سره او په باطن کښ په قطع له خلقو سره او په اتصال له حق سره وَلَا يُشْرِكْ اونه د ے شریکوی بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ په عبادت د رب خپل کښ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾ ع بل هیڅوك -

---

له چا لره چه د ر کړے شه علم پس په تحقیق ور کړے شه ده لره خیر خیر ډیر ۱۲ لهٔ او نه د ے د رکړے شوے تاسے لره علم مګر لږ ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ۱۲

سورت مریم مکیه ۹۸ رکوعها

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كٓهٰيٰعٓصٓ (۱) دے مقطعات تو کښی هم متقدمینو سکوت محض او تفویض کړیدی خالق ته او متاخرینو رنګا رنګ تاویلونه پکښ کړی دی نو چا اوویلی دی چه دا نوم دے دخدائ ﷻ ځکه حضرت علی رضی الله عنه به ویل چه یا کٓهٰيٰعٓصٓ یا حٰمٓعٓسٓقٓ اوچا ویلی دی چه کاف له کافی دے او هٰ له هادی او یٰ له یَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ او دا ځکه چه دا سے اسم دخدائ نشته چه په سرکښی ی لری او عٰین له علیم او صٰاد له صادق یعنی خدای وائی چه زهٔ خدائ کافی هادی علیم صادق یم چه عزت او قدرت م د تمام مخلوق د پاسه دے او اګاهی کوم په دے چه دا سورت چه دے ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ یا دول دی په طریقه د مهربانئ سره د رب ستا عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا (۲) د بنده خپل چه زکریاء دے او دا زکریا بدل له عبده نه دے او دے اولاد سلیمان بن داود علی نبینا وعلیهما الصلوٰة والسلام وو او یاد کړه اے رسوله ﷺ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ چه غږ یعنی سوال وکړهٔ ده رب خپل ته نِدَآءً خَفِيًّا (۳) غږ یعنی سوال روپټ دشپے ځکه چه دا نږدے دے قبول ته او هغه سوال ګے دا سے وو قَالَ چه اوویل دهٔ رَبِّ اِنِّيْ اے ربه ځما بیشکه زه چه یم وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ سُست او ضعیف شوے دے هډ له ما مخه چه هغه ډیر سخت دی په اندامونو ځما کښی او ستن ده د ورستے کوټے د بدن ځما او هرکله چه دے ضعیف شو نو باقی بدن خو په طریق اولی سره ضعیف شوے دے وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ او برق وهی سر ځما د الف لام عوض دے د مضاف الیه نه اے رَاْسِيْ شَيْبًا له جهته د سپینوالی دویښتو وَلَمْ اَكُنْ او حال دا چه هیڅرے نه یم پاتے شوے زه بِدُعَآئِكَ رَبِّ په بلنې ستا سره اے ربه ځما شَقِيًّا (۴) محرومه بے برخې پخوا له دے نو پس له دے م هم مه محرومه کوه۔ وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ او بیشکه زهٔ چه یم ویریږم له دے خپلوانو نکه تر بوران ځما۔

له یعنی سپارل الله ته دے مقطعات تو یعنی ویل چه اے خدایه ته پوهیږے په معنیٰ او مراد دے مقطعاتو او موږ نه ایما راد ویے دے په مراد ستا ۱۲

شو مِنْ وَّرَآءِیْ پس له مرکه خپله چه غوره دین به اونهٔ کا ندی دوئ ځما په شان پس له ما ځکه چه دبنی اسراءِ یلو عادت دے د بدلولو دین نو ماله یو خلیفه پکار دے له خپله پُښته وَكَانَتِ امْرَاَتِیْ اوحال داچه ده بنځه ځما ایشاع نامے چه دبی بی مریم تروره ده عَاقِرًا شنډه او په عمر د ۹۸ نوی کلونو ده فَهَبْ لِیْ پس راکه ماله مِنْ لَّدُنْكَ خاص له جانبه خپله وَلِیًّا ۵ یَّرِثُنِیْ یو داسے فرزند چه میراث یوسی له ما نخه د امرود دین وَیَرِثُ اوبل میراث یوسی دعلم اود حکمت مِنْ اٰلِ یَعْقُوْبَ ۪ وَاجْعَلْهُ رَبِّ اوکړه دے اے ربه ځما رَضِیًّا ۶ راضی کړے شوے له تا نخه اودا فعیل دے په معنیٰ دمفعول بیا په سجده پریوت او زاری ئے کولو له ترهغه چه دا دُعائے قبوله شوه اودا سے خطاب ورته اوشو چه یٰزَكَرِیَّآ اِنَّا اے زکریا بیشکه چه مونږه نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ۨ زیږے کو و په تا په فرزند سره اسْمُهٗ یَحْیٰی ۙ چه نوم به ئے یحییٰ عَلٰی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام وی لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ نهٔ دے کړے مونږ ۵ دهٔ لره مِنْ قَبْلُ سَمِیًّا ۷ پخواله ده همنامے اودا شرافت دے ددهٔ چه نوم ئے پخپله کیږودهٔ بیا هرکله چه زیږے اوشو قَالَ رَبِّ نو وویل دهٔ اے ربه ځما اَنّٰى یَكُوْنُ څرنګه به پیدا شی لِیْ غُلٰمٌ ماله فرزند وَّكَانَتِ امْرَاَتِیْ عَاقِرًا اوحال داچه ده بنځه ځما شنډه وَّقَدْ بَلَغْتُ اوداچه په تحقیق رسیدلے یم زهٔ مِنَ الْكِبَرِ عِتِیًّا ۸ له ډیر والی دعمره حد د کمال ضعف او خرابئ د بدن ته ځکه چه اوس سل کاله م عمر دے قَالَ نو وویل ورته خدائے یا مَلَک په امر ددهٔ سره كَذٰلِكَ ۚ چه کار همدا سے دے لکه چه تا وویل لیکن قَالَ رَبُّكَ ویلی دی رب ستاچه هُوَ عَلَیَّ هَیِّنٌ دا کار ماته اسان دے یعنی پیدا کول دقوت د جماع په تا کښ اوقوق دعلوق په بنځه ستا کښ وَقَدْ خَلَقْتُكَ اودے ته نهٔ کورے چه په تحقیق پیدا کړے ئے ما ته مِنْ قَبْلُ پخواله یحییٰ علیه السلام نخه وَلَمْ تَكُ شَیْـًٔا ۹ اوحال داچه نهٔ

له له خپل اصل اونسب ۱۲ سه یعنی قوت دحمل اخستو ۱۲

وے تہ ډیخ ځیز یعنی صرف معدوم وے بیا په سبب د دیرې حوشحالئ پدے ذبری سره بل سوال ئے اوکړ د نبنے پخوا له وقوعه لکه چه وائی قَالَ رَبِّ اجْعَلْ وویل زکریا علیه السلام چه رب ځما مقرره کړه اٰیَةً ط ما لره یوه نښه چه معلومه شی پرے ماته نزدے والے اولرے والے د دے وقوع قَالَ اٰیَتُكَ نو وویل ورته رب نښه ستا چه ده اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ داده چه خبرے به نهٔ شے کولے ته له خلقو سره ثَلٰثَ لَیَالٍ درے شپے او ورځے پے درپے سَوِیًّا ⑩ په دے حال کښ چه روغ او جوړ به اوسے ته ل طرفه د ژبے خپلے بیا ناخابه ژبه ئے دا سے غټه شوه چه خوله ئے پرے ډکه شوه او هیڅ قدرت حرکت ئے ژبے نه شوکولے په خوله کښ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ پس بیرون راووت په قوم خپل مِنَ الْمِحْرَابِ له عبادت خانے خپلے په هغه ورځ چه د شپے ئے بنځه حامنه شوه فَاَوْحٰۤى اِلَیْهِمْ پس اشاره ئے اوکړه دوئ ته ځکه چه له خبره عاجزه وو اَنْ سَبِّحُوْا دے چه مونځ کوئ یا تسبیح وایئ د خدائ بُكْرَةً وَّعَشِیًّا ⑪ په اول او آخر ورځ کښ بیا چې یحیٰی علیه الصلوٰة والسلام پیدا شو نو خطاب ورته اوشو لکه چه وائی یٰیَحْیٰى اے یحیٰی خُذِ الْكِتٰبَ واخله دا کتاب چه تورات دے بِقُوَّةٍ ط په ښهٔ کوشش یا په قوت د زړه سره وَاٰتَیْنٰهُ الْحُكْمَ او ورکړے وه مونږه دهٔ لره پیغمبری صَبِیًّا ⑫ په دے حال کښ چه دے لا هلك وو درے کلنے وَّحَنَانًا اوبل داچه دلسوزی او مهربانی په خلقو ورکړے وه مونږه مِّنْ لَّدُنَّا خاص له خپل جانبه وَزَكٰوةً ط او ورکړے وه ورلره مونږه پاکی له ګناهونو یا خیرات کول په دُرستو خلقو وَكَانَ تَقِیًّا ⑬ او وو دے پرهیزګاره چه نه ترے ګناه شوے وه اونه ئے قصد ډکنا کړے وو اصلاً وَبَرًّۢا بِوَالِدَیْهِ او بل دا چه وفادار خدمتګار فرمانبردار وو د مور و پلار خپل وَلَمْ یَكُنْ او نهٔ وو دے جَبَّارًا عَصِیًّا ⑭ متکبر عاصی له رب خپله یا عاق بے فرمان له مور او پلاره خپل وَسَلٰمٌ عَلَیْهِ او سلام دے په دهٔ یا سلامتی ده له هر افته یَوْمَ وُلِدَ په هغه ورځ چه پیدا شوے دے دے وَیَوْمَ

علیه یعنی پخوا له پیدا کیدو دے فرښتو نښه ۱۲

یَمُوْتُ او په هغه روځ چه مری به دے وَیَوْمَ یُبْعَثُ حَیًّا ﴿۱۵﴾ او په هغه روځ چه بیا به راپاخولے کیږی ژوندے او چا ویلی دی چه مراد له اوله مَسّ د شیطان دے اوله دوزخ عذاب دقبر دے اوله دَرَیمهٔ هُوْل دقیامت او عذاب ددوزخ دے وَاذْکُرْ فِی الْکِتٰبِ مَرْیَمَ او یاده کړه اے رسوله په قرآن کښ قصه دحمل او دوضع دبی بی مریم اِذِ انْتَبَذَتْ چه په خنګ شوه اولاړه مِنْ اَهْلِهَا له عیال خپله چه تروړے وه او دهغے خیلخانه نه وه مَکَانًا شَرْقِیًّا ﴿۱۶﴾ هغه ځائ ته چه مشرق طرف ته وو دے له کوره فَاتَّخَذَتْ پس وینوه یعنی ودرولے دے مِنْ دُوْنِهِمْ رابیرته له دوئ یعنی د دوئ طرف ته حِجَابًا تنګ پرده د پاره دغسل له حیضه بیا چه غسل ئے وکړ او جامے ئے واغوستلے فَاَرْسَلْنَآ اِلَیْهَا پس راولیږلهٔ مونږه دے ته رُوْحَنَا روح ځمونږه چه جبریل علیه السلام دے او دا اضافت ئے ځان خپل ته دپاره دتشریف او د تخصیص دے فَتَمَثَّلَ لَهَا پس شکل خپل ئے سازکړ دے ته بَشَرًا سَوِیًّا ﴿۱۷﴾ دسړی ځوان خوبصورت او حکمت په دے کښ دا ووچه دے شوق راپورته شی او نطفه ئے رحم ته راتوئ شی قَالَتْ نو وویل دے اِنِّیْٓ اَعُوْذُ چه بیشکه زه پناه نیسم بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ په خدائ پورے له تاځخه اِنْ کُنْتَ تَقِیًّا ﴿۱۸﴾ که چرے ئے ته پرهیزګار خدا ترس بیا هرکله چه جبریل علیه السلام اضطراب ددے اولیدهٔ قَالَ نو وویل دهٔ اِنَّمَآ اَنَا بیشکه هم داخبره ده چه زهٔ رَسُوْلُ رَبِّكِ ﷺ رالیږلے شوے رب ستایم لِاَهَبَ لَكِ دپاره ددے چه درکړم تالره په امر ددهٔ سره غُلٰمًا زَکِیًّا ﴿۱۹﴾ فرزند پاک له نسبته دزنا اوله گناه قَالَتْ نو وویل دے له دیره تعجبه اَنّٰى یَکُوْنُ چه څرنګه به پیدا شی لِیْ غُلٰمٌ مالره فرزند وَلَمْ یَمْسَسْنِیْ بَشَرٌ اوحال دا چه نه دے لګیدلے په ما لاس دهیڅ آدمی په نکاح سره وَّلَمْ اَکُ بَغِیًّا ﴿۲۰﴾ اونه زه زنا کاره یم او اسبابونه دولادت خوهم دادوه دی قَالَ کَذٰلِكِ ج نو وویل ورته جبریل علیه السلام چه کار هم داسے دے لکه

له نوحاصل دمعنیٰ ئے داشوچه سلامت اوپه امان وه دے له مسه کولو شیطانانو په وخت دزیږیدو کښ اوهمدارنګه په امان به وی له عذابه د قبره اوبیا هم دارنګه په امان به وی له عذابه اوله هیبته د دوزخ اود قیامت ۱۲
کتبه : صادق زهیر چپرهاړے د آکمال ۱۳۷۴/۸/۱۰ ش

چه تهٔ وائے لیکن قَالَ رَبُّكِ ویلی دی رب ستا هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ع چه دا کار په ما آسان دے یعنی پیدا کول دولد بے واسطے دپلاره دپاره دخوکار نوی دپاره دئے چه مشاهدهٔ اوکړے تهٔ دقدرت ځمونږه وَلِنَجْعَلَهٗ اوبل دپاره دئے چه وکړو ځو مونږه دے اٰيَةً لِّلنَّاسِ یوه غټه نښه دقدرت خپل خلقوله چه ټول یوه شی په دے چه دے قادر مطلق دئے او دا اسبابونه هسے بهانه ده وَرَحْمَةً مِّنَّا اوبل چه سبب درحمت اودمهربانئ ځمونږه له جانبه هغه چا له چه ایمان پرے راوړی وَكَانَ اودے دا پیدا کول ددهٔ بے واسطے دپلاره اَمْرًا مَّقْضِيًّا (۲۱) یوکار مقرر کړے شوے په ازل کښ بیا جبریل علیه السلام پوکے وکهٔ په کړیوان یا په خوله دئے کښ نو دا باد دے پوکی اودئے نطفه دواړه رحم له ورغلهٔ فَحَمَلَتْهُ پس حامله شوه دا په فرزند سره فِي الحال اودئے بیا انتهٔ یا اهوهٔ یا شپږ میاشتے یا یو ساعت دمور په نس کښ وئو بیا چه په وخت دوضع حمل نزدے شو نو له خلقو لرے لاړه لکه چه وائی فَانْتَبَذَتْ بِهٖ پس خنګ شوه له خلقوله دئے فرزند سره چه ئے په نس کښ دئے مَكَانًا قَصِيًّا (۲۲) هغه ځائ ته چه لرے وو له بناره فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ پس راوسته دادرد لنګون ڈَّطرِيقَةٌ دا اضطراب سره اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ بناخ دهغه خرمانه چه بوائے ووچه ولاړه وه اوموده دڅه ده اوخرما له دپاره دده راغله چه تکیه ورته وکا چه لنګتوں پڑے اسان شی بیا له دیره جاهلانه اوله دیرے حیا قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ وویل دے چه اے کاشکے افسوس دے مالره مِتُّ قَبْلَ هٰذَا چه مړه وے زهٔ پخوا له دے حاله وَكُنْتُ اوو ے زهٔ اوس یوڅیز نسیا هیر شوے مَّنْسِيًّا (۲۳) یعنی له خاطره وتلے چه اوس به ځهٔ جواب ورکوم زهٔ دے خلقوله کهٔ سوال م وُ پښتی فَنَادٰىهَا پس غږ وکړو دے ولد دے ته مِنْ تَحْتِهَآ له لاندے طرف دئے ځهٔ یعنی دئے له نسیا مراد جبریل علیه السلام دے اَلَّا تَحْزَنِيْ دا سے چه مه خفه کیږه ځکه چه قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ په تحقیق پیدا کړے دئے رب ستا تَحْتَكِ سَرِيًّا (۲۴) لاندئے ستا لخته دا وبوچه ترے اوبهٔ

له یعنی چه وصیفه قدرت ځمونږه دے

څنګه یا سردار، چه دا ولد دے وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ او اوخوزوه یعنی اوخنده خپل ځان ته بِجِذْعِ النَّخْلَةِ بناخ دے وُچ خرما او دا ټ زانډه ده تُسٰقِطْ عَلَيْكِ چه راتوئ کانډۍ په تا رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾ خرما لوندے تازه اوبیا دا سے خطاب ورته اوشوچه فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ پس خوره دا خرما اوڅښنه دا اوبه وَقَرِّيْ عَيْنًا ﴿۲۶﴾ او یخے لره سترګے چلے پرته ونه ګوره خوشحاله اوسه او له هیچا ترهه مه کوه فَاِمَّا تَرِيْنَّ پس که ولیدۀ تا اودا اِمَّا په اصل کښ اِنْ مَا دے چه نون شرطیه مدغم شوے دے په ما زائده کښ اودا تَرَيْنَّ په اصل کښ تَرْءَيِنْ دے صیغه د مؤنثِ مخاطبے له باب د فَتَحَ چه عین اولام تر حذف شو اوفتحه د عین رَ له لاړه نون د تاکید پرے داخل شو نو نون اعرابی ترے حذف شو او یٓ د ضمیر مکسوره شوه له جهته د التقاء د ساکنینو مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا لا له ادمیانو کوم شخص چه تاپښتی له حال دے فرښتو چه دا له کومه دے نو فَقُوْلِيْٓ پس وواید ورته په جواب کښ اِنِّيْ نَذَرْتُ چه بیشکه ما نذر منلے دے لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا خدائ له روژه او د دوئ روژه به اِمساك وو هم له طعامه اوهم له کلامه فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ پس له سره به خبرے ونۀ کړم نۀ ورسرۀ اِنْسِيًّا ﴿۲۶﴾ له هیڅ ادمی سره اوداقد رخیره کول ورله روا کړے شوے وو له ضرورته چه دفع د مجادلے پرے وکا له ځانه اوحواله په ولد وکه اویاد اخبار ئے هم په اشارت سره وو فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا پس راغله داله فرښتو سره قوم خپل ته تَحْمِلُهٗ ط چه راخیستے ئے وو یعنی په غیږ کښ نیولے وو بیا چه قوم دا اولید وچه پیغله ده او په غیږ کښ ئے ځوئ دے قَالُوْا يٰمَرْيَمُ نو وویل ورته دوئ اے مریم لَقَدْ جِئْتِ هرائینه په تحقیق راوړے دِ دے شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿۲۷﴾ یو څیز عجیبه اوډیر بد۔

يٰٓاُخْتَ هٰرُوْنَ اے خوږے د هارون اودا هارون کوم صالح سړے وو تیرشوے په دوئ کښ چه ضرب المثل وو په نیکئ کښ یا ے د ورسرۀ نوم وو یا هٰرُوْن د موسی علیه الصلوٰة والسلام په عفت کښ۔ ما كَانَ اَبُوْكِ وو اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ پلار

له په دے قول کښ بِجِذْعِ النَّخْلَة ۱۲ له یعنی بندید ل اومنع کید ل هم له طعامه اوهم له خبرو کولو نه یعنی دفع د ځپرے د خلقو له دے سره ۱۲ ۳ یعنی په پاکی کښ درنا ندد هارون علیه السلام په شان ئے۔

ستا د بدئ وَمَا كَانَتْ او نه وو اُمِّكِ بَغِيًّا (۲۸) مور ستا زنا کاره نودا رڼ پته تاکښ له کومه راغله دے فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ پس اشاره وکړه دے عیسیٰ علیه السلام ته چه یعنی دے وغږوی قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ نو وویل دوئ چه څرنګه خبرے وکړو موښزه مَنْ كَانَ له هغه چا سره چه وی دے فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا (۲۹) په زانکو کښ هلک شیرخوار او په دے وخت کښ دهٔ تے رودهٔ بیا چه دا خبرے ئے له دوئ واوریدے تو تے پریښوده او دوئ ته ئے په فصیحه ژبه قَالَ ووبل چه اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ڤ بیشکه چه زهٔ بنده یم د خدائ یعنی نه خدائ یم او نه ئے څوئے یم اٰتٰنِيَ الْكِتٰبَ اوس ئے راکړے دے مالته کتاب چه انجیل دے یعنی انجیل ئے مانه لولے دے دمور په نس کښ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا (۳۰) او اوس ئے کړے یم زه پیغمبر او دا خبرے م په دے عمر کښ معجزه ده وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اوکړے ئے یم زهٔ برکتناك د پرته نفع رسونکے خلقو ته اَيْنَ مَا كُنْتُ ص هرچرته چه اوسم وَاَوْصٰنِيْ او اوس ئے وصیت کړے دے ماته بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ په کولو د مانځه او په ورکولو د زکوٰة مَا دُمْتُ حَيًّا (۳۱) ترڅو چه ژوند ے اوسم وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ ز او نیکوکار وفادار خدمتګار مهربان په مور خپلے باندے وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ او نه ئے کړے یم زهٔ جَبَّارًا شَقِيًّا (۳۲) گردن کش متکبر بدبخت او دا اُوهٔ الفاظ دهٔ ویلی دی چه په اول سره نفی د ربوبیت ده او په نورو شپږو واړو سره نفی د ولد زنا ده وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ او سلام دے د خدائ په ما يَوْمَ وُلِدْتُّ په هغه ورځ چه پیدا شوے یم زهٔ وَيَوْمَ اَمُوْتُ او په هغه ورځ چه مرم به وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا (۳۳) او په هغه ورځ چه بیا به پاځوے شم په قیامت ژوندے ذٰلِكَ داچه بیرته احوال او اقوال ئے بیان شو عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ عیسیٰ علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام دے څوئے د بی بی مریم چه نه خدائ او نه څوئے دے د خدائ لکه چه نصاریٰ ئے وائی او دا مخکښ

لہ یعنی له دے هلک ورکوتی سره چه څوئے ځما دے خبرے وکړئ ۱۲ ۲ یعنی چه انی عبدالله ۳

لفظ د قول منصوب دے په فعل مقدر سره چه قلت دے یعنی ما ووایه دا تیرحال
قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِیْ کفتار د حق دے هغه کفتار فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ﴿۳۴﴾ چه په هغه کښ شک
راوړی نصاری مَا کَانَ لِلّٰهِ نه دی باندې خدائ لره اَنْ یَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ چه ونیسی
دے څوئ سُبْحٰنَهٗ ؕ پاك دے دے له نیولو دولده او دے کښ تکذیب دے د نصارئ
اِذَا قَضٰۤی اَمْرًا په هغه وخت چه حکم وکړی دے دکوم کار یعنی اراده وکړی د
احداث د هغهٔ فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده یَقُوْلُ لَهٗ چه ووائی هغه څیز
تہ کُنْ فَیَکُوْنُ ﴿۳۵﴾ چه شه پس شی بے مهلته وَاِنَّ اللّٰهَ اوبیشکه خدائ چه دے
رَبِّیْ وَرَبُّکُمْ رب څما اورب ستاسو دے ۔ فَاعْبُدُوْهُ ؕ پس عبادت کوئ هم د
دهٔ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۳۶﴾ دا لاره ده سمه چه برابره وړ غلے ده جنت لـه
فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ پس اختلاف وکړو ټولیو د نصارئ وٗ مِنْۢ بَیْنِهِمْ ۚ په
خپل میڼځ کښ په باب د عیسئ علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام کښ او
درے طایفے شوے نو نسطوریٗو وویل چه دے څوئ دے دخدائ اویعقوبیٗو وویل چه
دے پخپله خدائ دے چه څهٔ موده زمکے له راغلے وو بیا بیرته اسمان ته وخوت اوملکانیو
وویل چه دے دریم خدائ دے او دوه نور دی چه پرور دکار او بی بی مریم دی
فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ کَفَرُوْا پس افسوس دے هغه کسانو لره چه کافر شوی دی مِنْ مَّشْهَدِ
یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿۳۷﴾ له حاضریدو دهغه ورځے ډیر لوئے چه ورځ د قیامت ده یعنی له
هوله اوله حسابه اوله جزا دهغے ورځے اَسْمِعْ بِهِمْ څهٔ ډیر بنهٔ اوریدونکی به وی
دوئ وَاَبْصِرْ ۙ اوڅهٔ ډیر لیدونکی به وی اوداد واړه صیغے د تعجب دی یَوْمَ یَاْتُوْنَنَا په
هغه ورځ چه به راشی دوئ مونږ له چه ورځ د قیامت ده لٰکِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْیَوْمَ
لیکن ظالمان یعنی کافران چه دے نن ورځ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۳۸﴾ په کمراهئ سکاره
کښ دی وَاَنْذِرْهُمْ اووېروه اے رسوله تهٔ یعنی کفار مکه یَوْمَ الْحَسْرَةِ له ورځے د
افسوس اوارمان چه هر څوك به پکښ ارمان کوی بدله بدئ او نیك لـه

قلته[1] دنیکیٔ اِذْ قُضِیَ الْاَمْرُ پہ هغه وخت چه کوتاه کړے شی حساب او دا حکم وشی چه فریق فِی الْجَنَّةِ وفریق فِی السَّعِیْرِ وَهُمْ فِیْ غَفْلَةٍ او دوئ لاهم هسے په غفلت کښ وُ وَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۹﴾ او دوئ ایمان نهٔ راوړی په دغه وخت اِنَّا بیشکه مونږه چه یو نَحْنُ نَرِثُ الْاَرْضَ هم دامونږه به وارثان شود زمکے وَمَنْ عَلَیْهَا او د هرهغه چا چه په دے زمکه دی یعنی دوئ به ټول مړه شی او زمکه به مونږ ته پاتے شی لکه مورث چه مړه شی مال ئے ټول وارث ته پاتے شی وَاِلَیْنَا یُرْجَعُوْنَ ﴿۴۰﴾ او خاص هم دامونږ له به راوستے شی دوئ دپاره دجزا وَاذْکُرْ او یاد کړه اے رسوله قوم خپل ته فِی الْکِتٰبِ اِبْرٰهِیْمَ ؕ په قرآن کښ قصه دابراهیم علیه الصلوة والسلام اِنَّهٗ کَانَ بیشکه چه وو دے صِدِّیْقًا نَّبِیًّا ﴿۴۱﴾ ډیر ښه ښځینے پیغمبر اِذْ قَالَ لِاَبِیْهِ یاد کړه هغه چے وویل دهٔ پلار خپل ته چه اُزرین ناخوا وو چه بُت تراش اوبت پرست وو - یٰۤاَبَتِ اے پلاره حُما اوپاپه اصل کښ یَاأَبِی دے بیاۤ ئے حذف شوه اوعوض ترے تٔ راغله حُکه یٰۤاَبَتِ نهٔ شی ویلے لِمَ تَعْبُدُ ولے عبادت کوے مَا لَا یَسْمَعُ دهغه څیز چه نهٔ اوری بلنه ستاچه ئے تهٔ وبولے وَلَا یُبْصِرُ اونهٔ وینے حال ستاچه عبادت ئے کوے اوسجدے ورته کوے وَلَا یُغْنِیْ اونهٔ دفع کولے شی عَنْكَ شَیْـًٔا ﴿۴۲﴾ له تاکوم ضرر اونه رسولے شی درته کومه نفع یٰۤاَبَتِ اے پلاره حُما اِنِّیْ قَدْ جَآءَنِیْ بیشکه زهٔ چه یم په تحقیق راغلے دے ماته مِنَ الْعِلْمِ له علمه یعنی له پوهے اوله خبردارئ مَا لَمْ یَاْتِكَ هغه چه نهٔ دے راغلے تاته فَاتَّبِعْنِیْۤ اَهْدِكَ پس راځه په ما پسے چه وښایم درته صِرَاطًا سَوِیًّا ﴿۴۳﴾ لاره سمه رسونکه مطلب ته یٰۤاَبَتِ اے پلاره حُما لَا تَعْبُدِ الشَّیْطٰنَ ؕ عبادت مهٔ کوه د شیطان او حکم ئے مهٔ قبلوه حُکه چه اِنَّ الشَّیْطٰنَ بیشکه شیطان چه دے کَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِیًّا ﴿۴۴﴾ دے له خدائ سرکش بے فرمان یٰۤاَبَتِ اے پلاره حُما

[1] یعنی له کموالی له نیکیٔ خپلے یعنی والئ به چه ولے ۴ وبره نیکی نهٔ کولے ۱۲ [2] یعنی دا سے حکم حکم به خدائ وکړی چه یوه ۱۲ دومونانو ۱۲ به جنت کښ وی او بله ۱۲ دکافرانو په اور کښ دوزخ کښ وی ۱۲

اِنِّیۡۤ اَخَافُ بیشکه زهٔ ویریږم اَنۡ یَّمَسَّكَ له دے چه وبه رسیږی تا تہ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ عذاب له جانبه دخدائ فَتَكُوۡنَ پس شے به لِلشَّيۡطٰنِ وَلِيًّا (۴۵) شیطان له دوست او ملګرے په دونرخ کښ قَالَ نو وویل دهٔ ته په جواب کښ ازر اَرَاغِبٌ اَنۡتَ ایا ډډه کونکے ئے تہ عَنۡ اٰلِهَتِیۡ له خدایانو څخا یَاۤ اِبۡرٰهِیۡمُ ج اے ابراهیم لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ هر ائینه کهٔ چرے وانهٔ وختے له دے کاره لَاَرۡجُمَنَّكَ نو هر ائینه سنګسار به دِکړم مضرور بالضرور وَاهۡجُرۡنِیۡ مَلِيًّا (۴۶) اولرے شه له ما ډیره موده چه ضرور م درته و نه رسیږی قَالَ بیا وویل ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام دده په جواب کښ سَلٰمٌ عَلَيۡكَ ج سلام دے له جانبه خُما په تا **فائده** په بدل دسیئ کښ ئے حسنه ورته راوړه څکه درجم په مقابله کښ ئے سلام وویلو سَاَسۡتَغۡفِرُ زهٔ به بخښنه وغواړم لَكَ رَبِّیۡ ط ستاد پاره له رب خپله چه توفیق د توبے او د ایمان درلره درکړ اِنَّهٗ کَانَ بے شکه دے دخدائ بِیۡ حَفِيًّا (۴۷) په ما ډیر مهربان وَاَعۡتَزِلُكُمۡ او کناره به شم له تاسے تولوا ے بت پرستانو وَمَا تَدۡعُوۡنَ او له هغه بُتانو چه تاسو ئے بولئ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر له خدای وَاَدۡعُوۡا رَبِّیۡ ج او بولم به زهٔ یوازے رب خپل عَسٰۤی اُمید لرم اَلَّاۤ اَكُوۡنَ دے چه نهٔ شم زهٔ بِدُعَآءِ رَبِّیۡ په بللو د رب خپل سره شَقِيًّا (۴۸) بد بخته به بهر لکه تاسے چه په بللو دخدایانو خپلو به برخے ئے فَلَمَّا اعۡتَزَلَهُمۡ پس هر کله چه په څنګ شو له دوئ په هجرت سره شام ته وَمَا يَعۡبُدُوۡنَ او له هغه بتانو هم چه دوئ به ئے عبادت کولو مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر له خدائ وَهَبۡنَا لَهٗۤ نو ورکهٔ مونږه دهٔ له اِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ ط اِسحٰق نوے خوئ او یعقوب نوے نوسے وَكُلًّا او هر یوله دوئ دوارو جَعَلۡنَا نَبِيًّا (۴۹) کړ خُولے وو مونږه پیغمبر وَوَهَبۡنَا لَهُمۡ او بل ورکړے وو مونږه دوئ لره مِّنۡ رَّحۡمَتِنَا رحمت خپل یعنی ډیر مال او اولاد او دامنی زائده دے وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ او کړ خُولے وه مونږه دوئ له لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيًّا (۵۰) ژبه د صدق ډیره بلنده چه تول خلق پرے

له یعنی په بدل د بدئ د تره خپل اذر کښ چه ډیر رتبل او قهرځ ورته کړے وو ۱۲

ثناوائی ترقیامته پورے وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰٓى ز او یاده کړه په قرآن کښ قصه د موسیٰ علیه السلام اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا بیشکه چه وو دے پاك کړے شوے له هر نالایق وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ او وو دے لیږلے شوے له خدائ خبرور کونکے د خلقو په نیکئ او په بدئ وَنَادَيْنٰهُ اوغږ وکړو مونږ دهٗ ته مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ له ښی طرف د کوهِ طورٌ یعنی چه ښی لاس د دهٗ ته وو په وخت د راتلو د دهٗ د مَدْيَنَ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ اونږدے کړے وو مونږه دے د رکاه ته په دے حال چه راز کونکے وو له مونږه سره وَوَهَبْنَا لَهٗ او ورکړے وو مونږه دهٗ لره مِنْ رَّحْمَتِنَآ له مهربانئ خپلے اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ ورور د دهٗ چه نوم ئے هٰرون علیه الصلوٰة والسلام وو په دے حال کښ چه پیغمبر وو هغه هم او وزیرهم وو وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ز او یاده کړه په قرآن کښ قصه د اسمٰعیل علیه السلام اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه وو دے صَادِقَ الْوَعْدِ رښتینے په وعده خپل کښ لکه چه ویلے شوی دی چه له چا سره ئے وعده کړے وه په چول کښ چه زهٔ به د لته د رته ناست یم ترهغه پورے چه ته راشے درځے او په روایت کښ یوکال و رته ناست وو په هم هغه ځائ کښ او پوستکی د و نوبه ئے خواړهٔ څوچه هغه ورلره راغے وَكَانَ او وو دے رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ لیږلے شوے پیغمبر وَكَانَ او وو دے يَاْمُرُ اَهْلَهٗ چه امر به ئے کولو په عیال خپل یا مراد ترے قوم دے بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ص په کولو د مانځه او په ورکولو د زکاة وَكَانَ او وو دے عِنْدَ رَبِّهٖ په نزد د رب خپل مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ راضی کړے شوے وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِدْرِيْسَ ز او یاده کړه په قرآن کښ قصه د ادریس علیه السلام چه نوم ئے اخنوخ دے اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه وو دے صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾ ډیر رښتینے پیغمبر وَّرَفَعْنٰهُ او پورته کړے و مونږه دے ځوند مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾ ځائے ډیر هسک ته چه خلورم یا شپږم یا اووم اسمان ته یا جنت دے پس له مرکید لو او بیا ژوندی کولو نو بیا ئے بیرته راتلو نشته اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

له یعنی دهٔ له مزل ئیل علیه السلام راغلے وو نو درے ورځے ورځه د واوخهٔ څیزئے نه خوړلو نو زه ترے نه پوښتنه او کړه چه ته څولائے نو دهٔ او ویل چه زه ملک الموت یم او اذن م د رب خپل (باقی په ص ۴۹ کښ)

د ابیرته یاد شوی هغه کسان دی اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ چه مهربانی کړے ده خدائ په دوئ په اقسامو هم دینی هم دُنیا وی هم صوری هم معنوی مِّنَ النَّبِيّٖنَ چه هغه کسان عبارت له پیغمبرانو علیهم الصلوة والسلام دے مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ت چه اول دوئ له اولاده د اٰدم علیه الصلوة والسلام څخه دی وَمِمَّنْ حَمَلْنَا او بیا له اولاده د هغو چا دی چه سوارۀ کړی وو مونږه په بیړۍ کښی مَعَ نُوْحٍ له نوح علیه السلام سره چه هغه ځامن دۀ دی ځکه چه د بل چا اولاد نۀ دے پاتے شوے وَمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ اوله اولاده د ابراهیم علیه الصلوة والسلام چے اسمٰعیل او اسحٰق او یعقوب علیهم الصلوة والسلام دی وَاِسْرَآءِيْلَ ز اوله اولاده د یعقوب چه موسیٰ او هارون او زکریا او یحییٰ او عیسیٰ علیهم الصلوة والسلام دی وَمِمَّنْ هَدَيْنَا اوله هغه پوڵی دی چه سمه لاره وښودله وه مونږه وَاجْتَبَيْنَا او غوره کړی وو دوئ مونږه وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ په هغه وخت چه ولوستے شی په دوئ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ ایتونه د خدائ خَرُّوْا سُجَّدًا نو پریوځی خدائ ته په ډے حال کښی چه سجده کونکی وی وَّبُكِيًّا ۵۸ السجدة او ژړا کونکی وی له خوفه. او بُكِيٌّ په اصل کښی بُكُوْيٌ ډے جمع دباکیٌ اسم فاعل لکه سجود چه جمع دساجدٌ ده وآو او یٌ جمع شو اول ترڅے ساکن وو نو دا وآو یٌ شوه او په یٌ کښی مدغم شوه او ماقبل ئے مکسور شو د پاره د متابعت نو بُكِيٌّ شو. فَخَلَفَ پس بیدا راپیدا شو مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له دوئ خَلْفٌ بد اولاد او خَلَف په فتحه د لام سره په نیکو کښی مستعمل ئے شی او په سکون سره په بدو کښی لکه وائی عرب خَلَفُ صدقٍ او خَلْفُ سوءٍ داسے اولاد چه له ډیره جهله او غفلته اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ خراب ئے کړو موږ ئے په ترك سره وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ او پیروی ئے برپائ کړه د ارزو کا نو د نفس خپل په اقسامو دکناهونو سره لکه زنا او شرابخوری او داسے

(بقیه حاشیه صفحه ۴۸) نه غوښتے ډے په زیارت ستا کښی پس اورسۀ ده تہ وویل چه ځما تاته یو حاجت دے چه قبض کړے روح ځما پس الله تعالیٰ وحی وکړه ده تہ چه قبض کړه روح د ده نو پس دیو ساعت تیریدو نه ډیس ښرته وښکوره روح د ده تہ نو بیا عزرائیل ۴ سره پورته وخوت ۱۲

نو ښو فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ پس زر دے چه پیښ به شی د دوئ په کمراهئ خپلے جزا به وګورې او څوک وائی چه غَيّ نوم دیوے کندے دے په دوزخ کښ اما غواړی له عذابه د هغے نه په هغ کښ وغورځولے شی اِلَّا مَنْ مګر هغه څوک تَابَ وَاٰمَنَ چه راوګرځیده له بدو او ایمان ځے راوړو به صدق سره وَعَمِلَ صَالِحًا اوعمل ځے کولو د نیکو فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان چه دی يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ داخل به شی په جنت کښ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْئًا ﴿۶۰﴾ او ظلم به ونه کړے شی پرے د هیڅ شیئ نه له کمولو د نیکئ او نه له زیاتولو د بدئ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ جنتونه یعنی باغونه د اقامت او دا جَنّٰتٌ بدل اشتمال دے له تیر جَنَّةَ هغه باغونه وَعَدَ الرَّحْمٰنُ چه وعده کړے ده خدائ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ له بندګانو خپلو سره پرے شا یعنی د دخول په هغهٔ کښ اوسره له دے چه دوئ نهٔ دے لیدلے اِنَّهٗ بے شکه دے چه دے یا دا ضمیر شان دے كَانَ وَعْدُهٗ دے هغه موعود ددهٔ چه جنت دے ځکه چه دا مصدر دے مبنی د یاره د مفعول مَاْتِيًّا ﴿۶۱﴾ را تلونکے که په معنیٰ د اسم فاعل شی یا راتلهٔ ورته شوی کهٔ په معنیٰ د اسم مفعول شی کذا فی تفسیر الجلالین لَا يَسْمَعُوْنَ نهٔ به اوری دوئ فِيْهَا لَغْوًا په هغه جنت کښ پُوچه خبره اِلَّا سَلٰمًا ؕ مګر اوری به سلام له خدائ او یاله ملایکو او یاپو بله وَلَهُمْ اووی به دوئ لره رِزْقُهُمْ فِيْهَا روزی د دوئ په دے جنت کښ بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿۶۲﴾ صبا او بیګاه تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ دا بیرته تیر هغه جنت دے نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا چه ورکوو به موندرد لکه میراث له بندګانو خپلو مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿۶۳﴾ هر هغه چا له چه وی دے پرهیزګار ه

روایت دے چه مشرکانو له احبارو د یهودو پوښتنه اوکړه د کوے دا سے خبرے چه دے پرے عاجز او جهل شی او معلوم شی مونږه نه چه رښتیا پیغمبر دے اوکه دروغ وائی نو اخبارو ورته وویل چه وے پوښتئ له حالد اصحابِ کهف او ذوالقرنین او روح که دې نو لو جواب ئے درکړو هم پیغمبر نه دے اوکهٔ د

پتولوئ درنهٔ کړو هم پیغمبر نهٔ دے بیا چه حضرت ئے و پوښتیدودهٔ اوفرمایل صباله راشئ نوجواب به درکړم اوان شاء الله ئے ورسره ونه ویل نو پخلس یا خلو بیښت ورځے وحی اومشرکا نو به ویل چه وَدَّعَ رَبُّ مُحَمَّدٍ مُحَمَّدًا اوقالله چه جبریل علیه الصلوة والسلام راغے نودهٔ ورته وویل چه ورهوره داولے دومره موده نهٔ راتلے نوهغه ورله جواب ورکهٔ لکه چه وائی وَمَا نَتَنَزَّلُ اونهٔ راکوزیږو مونږه ملائکے اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ج مګر په امر درب ستاسره اوددهٔ امرنهٔ ووشوے حُکه نهٔ راتلم لَهٗ مَا خاص هم دهٔ له دے هرهغه څیز بَيْنَ اَيْدِيْنَا چه په مخ حُمونږ کښ دی له را تلونکیو کارونو وَمَا خَلْفَنَا اوهرهغه چه دوروستو حُمونږه دی له تیروکارونو وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ج اوهرهغه چه په دے صیغ کښ دی وَمَا كَانَ اونهٔ دے رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿۶۴﴾ رب ستاهیروینکے چه تئے هیرشوے وے بلکه حکمت په هم دے کښ وو رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دے رب دے یعنی تربیت کونکے دے داسمانونو او دزمکے وَمَا بَيْنَهُمَا اود هرهغه څیز چه په مینځ ددوئ کښ دی او تربیت اوهیر خو سره منافی دی فَاعْبُدْهُ پس عبادت کوه ددهٔ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ط اوصبر وکړه په عبادت ددهٔ باندے هَلْ تَعْلَمُ ایا پوهیږے تهٔ یعنی چرته رتهٔ معلوم دے لَهٗ سَمِيًّا ﴿۶۵﴾ ددهٔ له همنامے چه هغه هم الله یللے شی وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ او وائی هغه انسان چه منکر دے له بعثه چه هغه اُبَيُّ بن خلف یا ولید بن مغیره دے ءَاِذَا مَا مِتُّ ایا پس هغه وخت چه مړشم زهٔ لَسَوْفَ اُخْرَجُ نوخامخا به وی داچه راوبه ایستے شم له قبره حَيًّا ﴿۶۶﴾ ژوندے اودا استفهام انکاری دے یعنی راوبه نه ایستے شم اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ ایا نهٔ یادوی دا انسان اَنَّا خَلَقْنٰهُ دا چه بیشکه مونږه چه یو پیدا کړے دے مونږه دے مِنْ قَبْلُ پخوا له دے وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿۶۷﴾ اونهٔ وودے هیڅ څیز یعنی معدوم محض وو چه نهٔ ئے ماده اونه ئے صورت وو اواوس ماده خو به ئے وی اګرکهٔ تاریه تار شوے وی فَوَرَبِّكَ پس قسم دے په رب ستا لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ چه هرائینه

راجمع به کړو مونږه دوئ سره له شیطانانو نوئے په قیامت یعنی هرکافر به له خپله لغزید ونکی شیطان سره په یوزنځیرکښی بندکړو ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ بیا هرالښینه حاضر به ئے کړو خامخا حَوْلَ جَهَنَّمَ چاپیره له دوزخ جِثِيًّا ﴿۶۸﴾ په ګونډو پراته له ډیره هیبته ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ بیا هرالښینه اول به راباسیل کړو خامخا مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ له هرے فرقے دوئ اَيُّهُمْ اَشَدُّ هرهغه دوئ چه ډیر سخت وی عَلَى الرَّحْمٰنِ په خدائ باندے عِتِيًّا ﴿۶۹﴾ له جهته دسرکشئ او زړهٔ وړتوبه ثُمَّ لَنَحْنُ بیا هرالښینه چه مونږه اَعْلَمُ بِالَّذِيْنَ ښهٔ پوهه یو په هغه کسانو هُمْ اَوْلٰى بِهَا چه دوئ ډیر لائق دی له دے دوزخ سره صِلِيًّا ﴿۷۰﴾ له جهته ددخول اودسولو وَاِنْ مِّنْكُمْ اونشته له تاسے اِلَّا وَارِدُهَا مګر چه ورتلونکے دے دوزخ له مؤمن دپاره د تیریدلو په پُل صراط اوکافرد پاره دلویدلو لپکښ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ دے داورودپه دوزخ کښی په رب ستا حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿۷۱﴾ قطعی جزمی حکم پرے کړے شوے ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بیا به خلاص کړوترے مونږه هغه کسان چه ځان ئے ساتلے وو له شرکه وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ اوپرے به ږدوظالمان یعنی کافران فِيْهَا چاپیره جِثِيًّا ﴿۷۲﴾ په هغه دوزخ کښی ولاړپه ګونډو وَاِذَا تُتْلٰى اوهرکله چه ولوستے شی عَلَيْهِمْ په دے کافرانو اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ ایښونه ځمونږه په دے حال چه واضح دی قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا نووائی هغه کسان چه کافردی له مشرکانو دقریشو لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا هغه فقیرانو ته چه ایمان ئے راوړے دے اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ چه کوم یو له دے دواړو طائفو چه مونږه یو اوکهٔ تاسے خَيْرٌ مَّقَامًا ډیرغوره دے له جهته د مسکنه یعنی چه د چا مینه غوره ده وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿۷۳﴾ اودډیرښهٔ دے له جهته د مجلس نو دوئ په جواب کښی په خپله خدائ وائی چه وَكَمْ اَهْلَكْنَا اودډیرهلاک کړیدی مونږه قَبْلَهُمْ پخوا له دے مشرکانو دعربو مِّنْ قَرْنٍ څوخو قرنونه یعنی اهل دهرے زمانے هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا چه دوئ به ډیر ښایسته وو له دے کفارو له جهته د

ت جِثِيًّا په نه ګڼلونو پراته پرمخے ۱۲ مولانا جلال الدین صاحب نواکلی

مال متاع وَرِءْيًا ﴿۷۴﴾ او له جهته دشکله اودې وله قُلْ ووایه دوئ ته مَنْ كَانَ هرڅوك چه وی فِي الضَّلٰلَةِ په گمراهئ یعنی کفر کښ فَلْيَمْدُدْ پس میبایه چه رادکاږی لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ دهٔ له خدائ عمر ددهٔ په را ښکلو سره یعنی ډیر اوږد عمر به ورلره ورکړی دیاره د استدراج اوداخبار دے په صورت د انشا کښ حَتّٰٓى اِذَا رَاَوْا ترهغه پورے چه وویني دوئ مَا يُوْعَدُوْنَ هغه څیز چه وعده کولے شی دهغه له دوئ سره یا چه ویر ولے کیږی ترے دوئ اِمَّا الْعَذَابَ چه هغه یا عذاب دے په دنیا کښ په قتل او په بند سره وَاِمَّا السَّاعَةَ ؕ اویا قیامت دے چه په دوزخ کښ به وغوڅولے شی ۔ فَسَيَعْلَمُوْنَ پس زر دے چه معلوم به کړی دوئ هغه وخت مَنْ هُوَ چه څوك دهٔ هغه شَرٌّ مَّكَانًا چه ډیر بد دے له جهته د ځایه وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ﴿۷۵﴾ او ډیر ضعیف دهٔ له جهته د لښکره چه لښکر ددوئ شیطانان اوځائے ئے دوزخ دے او لښکر د مؤمنانو ملائك اوځائے ئے جنت دهٔ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ اوزیاتوی خدائ په دنیا کښ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هغه کسان چه سمه لاره ئے مونډلے ده په ایمان سره هُدًى ؕ سمه لاره مونډل په نا زلید و د قرآن سره وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ اوهغه باقی عملونه چه نیک دی لکه پنځه مونځونه شول یا داځلور کلمے شوے چه سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ؕ دی یا مطلق نیک عملونه شول خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ډیر غوره دی په نزد د رب ستا ثَوَابًا له جهته د ثوابه وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿۷۶﴾ او ډیر غوره دے له جهته د بیرته راتلو دے نفع کونکی خپل ته **روایت دے** چه دخباب بن ارت رضی الله عنه په عاص بن وایل باندے قرض و وچه طلب ئے ترے وکړو نو عاص وویل د ربه ئے نکړم څوچه کافر شوے نهٔ ئے ۔ خباب رضی الله عنه وویل چه کافر به نهٔ شم نه اوس اونه پس له مرګه اونه پس له بیا ژوندونه بیا عاص وویل که چرے په رښتیا سره بیا ژوندے شم نو زهٔ ډیر مال او ځامن لرم هلته بیا راشه نو قرض به دِ درکړم نو نازل شهٔ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ ایا پاس وینے تهٔ هغه څوك كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا چه کفر ئے اختیار کړے دے په ایتو نو ځمونږه پورے

وَقَالَ او وائی دے لَاُوْتَيَنَّ هرا ئینه را به کړے شی ماله په قیامت خامخا کهٔ چرے په
ربنتیا وه مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۷۷﴾ هم مال اوهم ولد اَطَّلَعَ الْغَيْبَ ایا خبر شوے دے دا کافر په غیب
له لوح محفوظ اوهمزه دوصل ترے محذوف دے اَمِ اتَّخَذَ اوکهٔ اخیستے ده دهٔ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ
عَهْدًا ﴿۷۸﴾ په نزد خدائ وعده په دے چه دا مال اولاد به بیا دهٔ له ورکړے شی كَلَّا
نهٔ ده داسے لکه چه دے وائی سَنَكْتُبُ زه دے چه وبه لیکو مونږه مَا يَقُوْلُ هرهغه
چه وائی دے وَنَمُدُّ لَهٗ اوږبه غزوو دهٔ لره مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿۷۹﴾ له عذاب
څخه په عزولو سره یعنی وبه کړو له دیو عذاب دپاسه بل عذاب وَنَرِثُهٗ
مَا يَقُوْلُ او میراث به پاتے کړو خپل څان ته هغه مال او ولد چه وائی دے
چه دا څما دے په مرګ دهٔ سره وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿۸۰﴾ اوراته شی دے مونږه
لره یواځے بے ماله بے ولده وَاتَّخَذُوْا اونیولی دی دغه کفار وده مِنْ دُوْنِ
اللّٰهِ غیرله خدائ اٰلِهَةً خدایان یعنی بتان چه عبادت ئے کوی لِّيَكُوْنُوْا دپاره دے چه
شی دامعبودان لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾ دوئ له سبب دعزت كَلَّا نه ده داسے لکه چه دوئ
گنړی بلکه سَيَكْفُرُوْنَ زه دے چه منکر به شی دا الهه د دوئ بِعِبَادَتِهِمْ په بندګئ
دوئ وَيَكُوْنُوْنَ اوشی به دا معبودان عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾ په دوئ دښمنان اَلَمْ تَرَ آنَّا
ایا نهٔ وینے ته چه بیشکه مونږه اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ لیږلی دی مونږه شیطانان یعنی
مسلط کړی مو دی عَلَى الْكٰفِرِيْنَ په کافرانو باندے تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿۸۳﴾ چه شرقوی
دوئ په شرقولوسره یعنی په ګناهونو ئے باعث کوی فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ د پس جلتی مهٔ
کوه په دوئ یعنی عذاب ونه لره جلت مهٔ غواړه اِنَّمَا نَعُدُّ بیشکه هم دا خبره ده چه
شمیرو مونږه شپے اوورځے یا انفاس لَهُمْ عَدًّا ﴿۸۴﴾ دوئ له په شمیر لوسره تر وخته
دعذاب ددوئ پورے يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ او یاده کړه هغه ورځ چه راجمع به کړو مونږه
پرهیزګاران اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿۸۵﴾ خدائ ته سوارهٔ په اوښانو وَنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ
او وبه شرو کافران اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾ دوزخ نه تښنے اخستی لَا يَمْلِكُوْنَ

الشَّفَاعَةَ اختیار به نهٔ لری د ابندگان کهٔ نیکان دی اوکه بدان دی د خیرخواهئ د هیچا د پاره اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ مگر هغه څوك چه اخستے وی ده عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾ په نزد د خدائ عهد د پاره د شفاعت وَقَالُوا او وائی د ایهود او نصاری اویل هر هغه څوك چه ملائك لونږه د خدائ بولی اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾ چه نیولے دے خدائ څوئ یعنی عُزیر۴ او عیسیٰ او ملائك علیهم الصلوٰة والسلام نو ته ورته اووایه اے رسوله چه لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا هر اٹینه په تحقیق راوړے دے تاسے یو څیز اِدًّا ﴿۸۹﴾ ډیر نا کاره چه هغه نسبت دے د ولد تَكَادُ السَّمٰوٰتُ نزدے د اسمانونه يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ چه وچوی له دهشته د دے نسبته وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ او پارچے پارچے شی زمکه وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ او راولوېږی غرونه په زمکه پوتے پوتے اَنْ دَعَوْا له دے جهته چه بولی دوئ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿۹۱﴾ خدائ له فرزند نو خدائ وائی وَمَا يَنْۢبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ اونه ښائی خدائ له اَنْ يَّتَّخِذَ اَوْلَدًا ﴿۹۲﴾ چه ونیسی دے فرزند اِنْ كُلُّ مَنْ نهٔ دے هر هغه څوك فِي السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونو کښ دی وَالْاَرْضِ او په زمکه کښ دی اِلَّآ اٰتِي الرَّحْمٰنِ مگر راتلونکی دی د اپتول خدائ له په قیامت عَبْدًا ﴿۹۳﴾ په دے حال چه بنده به وی هر یو نه فرزند کهٔ عزیر کهٔ عیسیٰ علے نبینا وعلیهما السلام دی اوکه نور څوك دی لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ هر اٹینه په تحقیق احاطه کړے ده علم د دهٔ په دوئ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾ او شمیرلی دی د اپتول په شمیر لو سره وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ او واړه دوئ راتلونکی دی د دهٔ له يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾ په ورځ د قیامت یوا څے اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بے شکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه ئے کړے دی نیکو سَيَجْعَلُ زړه دے چه وبه ګرځوی لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ دوئ له خدائ دوستی او محبت په زړونو د خلقو کښ فَاِنَّمَا پس بیشکه هم د اخبره ده يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ چه اسان کړے دے مونږ د اقرآن په ژبه ستا لِتُبَشِّرَ د پاره د دے چه زیږے ورکړے ته بِهِ الْمُتَّقِيْنَ په دهٔ سره

په پرهیزکارانو وَتُنْذِرَ بِهٖ اوچه وویروے تهٔ په دهٔ سره قَوْمًا لُّدًّا ۱ (۹۷) هغه قوم چه جګړه کونکے وودے وَكَمْ اَهْلَكْنَا او ډیر هلاک کړی دی مونږه قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ پخوا له دوئ له ډیرو قرنونو نوله جهنته دتکذیبه د رسولانو هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ ایا وینے تهٔ په دے جهان کښی اوموے نهٔ له دوئ څخه مِنْ اَحَدٍ هیڅوك او تَسْمَعُ یا اورے تهٔ لَهُمْ رِكْزًا ۹۸ (ع) هغوئ له څهٔ قدر کشار ۔

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۱۳۵ رُكُوْعُهَا ۸

طٰهٰ ۱ (ع) په دے کښی اختلاف له نورو مقطعاتو ډیر دے نوچا ویلی دی چه دا نوم دے د قرآن یا نوم دے د سورۃ یا نوم دے د رسول علیه الصلوٰة والسلام لکه مزمل یا داوده حرفونه دی له سرونو نه اسماؤ د خدائ چه طَ له طاهره او هٰ له هادی دے یعنی زهٔ پاك یم سمه لار ښودونکے خلقو ته اوداسے نور ډیر احتمالات دی اوچا ویلی دی چه طٰهٰ په اصل کښی طاهادے چه طا صیغه دامرده له باب د وَطَاَ یَطَاُ قیاس په وَضَعَ یَضَعُ اوهاضمیر دے زیکے ته بیا ضمیر ترے حذف شوے دے اوداخطاب دے رسول صلے الله علیه وسلم ته له دے جهته چه دے به تمامه شپه په بوه خپه خدائ ته ولاړ وو ترهغه چه قدمونه ئے وپرسیدل نوخطاب وښته وشو چه طاها یعنے پا ئمال کړه اے رسوله تهٔ دازمکه په ایخود و قدمونو سره په دے زیکه باندے مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ په تا قرآن لِتَشْقٰٓى ۲ (ع) د پاره دے چه له اوریدلو په مشقت کښی پروځے نهٔ اود اسے محنت په ځان واخلے چه خپے د وپرسیږی له ډیره قیامته اِلَّا تَذْكِرَةً لیکن د پاره د پند لیږلے دے مونږه دا قرآن لِّمَنْ يَّخْشٰى ۳ د پاره د هغه چاچه ویریږی له خدائ اوداستثناء منقطع ده اولیږلے شوے دے دا قرآن تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ په لیږلو سره له هغه چاچه پیدا کړے ئے ده زمکه وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ۴ اوهغه اسمانونه چه ډیر هسک دی الرَّحْمٰنُ پروړدګار چه دے عَلَى الْعَرْشِ

اسْتَوٰی ۵ په عرش مستولی اوغالب دے اوذکر د عرش له جهته د عظمته دے اګر کهٔ دے په تمامو موجوداتو متصرف اوغالب دے اوعلی کرم الله وجهه ویلی دی چه الاستواء غیر مجهول والتکییف غیر معقول والایمان به واجب والسؤال عنه بدعة لانه تعالیٰ کان ولا مکان لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ خاص دهٔ له دی هرهغه چه په اسمانونو کښ دی وَمَا فِی الْاَرْضِ اوهرهغه چه په زمکه کښ دی وَمَا بَیْنَهُمَا اوهرهغه چه په مینځ د دوئ کښ دی وَمَا تَحْتَ الثَّرٰی ۶ اوهرهغه چه لاندی دی د زمکے یعنی د اتهول مملوك دی د دهٔ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ اوکهٔ په زوره کوے ته خبره فَاِنَّهٗ پس بیشکه دے چه دے یَعْلَمُ السِّرَّ پوهیږی په پټه خبره وَاَخْفَی ۷ او په ډیره پټه هم یعنی دهٔ ته دے وایاره برابردی نو حاجت نشته په زوره ذکر کولو ته الله خدائی چه دے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل معبود برحق مګر یواځے هم دے دے لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی ۸ هم دهٔ له دی بنایسته نومونه **روایت دے** چه هرکله موسیٰ علیه الصلوٰة والسّلام له شعیب علیه الصلوٰة والسلام سره لس کاله پوره کړهٔ په شپنهٔ کښ بیا رخصت ځے ترے وغوښته دتګ مصرته دپاره د دیدن د مور او د ور وڅیل نوهغه رخصت ورکړو او روان شو له نیمځے خپلے سره چه صفورا نومړوه لور د شعیب علیه السلام بیا په لاره کښ یوځائے د ژمی شپه وه ډیره توره تاریکه او واورے هم وریدے ۔ چه ناګاه لاره ترے ورکه شوه او مال ځے هم تاریټار شو اوځوئ ځے هم په دغه شپه پیدا شو نو اورځے پکار شوچه پندځے وواهه اور ترے نه وُوَت ناګاهٔ ځے له وړایه اور ولیده لکه چه وائی وَهَلْ اَتٰىكَ اوپه تحقیق راغلے ده تاله د ا هَلْ تحقیقیه دے حَدِیْثُ مُوْسٰی ۹ قصه د موسیٰ بن عمران دپاره ددے چه دهغه سختی واورے نوتهٔ هم صبرا و تحمل وکړے په سختیو

---

۵ یعنی کرّاالله وجهه ویلی دی چه استواء په عرش مجید باندے نه ده مجهوله یعنی معلومه ده اوکیفیت ځے غیر معقول دے یعنی په عقل کښ نه شی راتلے اوایمان یې مطلق استوی باندے واجب دے اوپوښتنه کول لکیفیته د استواء نه بدعت اوناجائز دے ځکه چه الله پاك قدیم دے او مکان لانه وو۔ فافهم والله اعلم ۱۲

د نبوت او په شد ابد و دکفار و لکه هغهٔ چه کړے وه چه تهٔ هم درجات عالیه بیا موے
د هغه په شان اِذْ رَاٰ نَارًا یاد کړه هغه چه ولیدهٔ دهٔ اور له نبی طرف دکوهِ طور ه
فَقَالَ پس وویل دهٔ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا عیال خپل ته چه مدار وکړئ تاسے په دے
ځائے اِنِّیْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ے شکه چه ما ولیدهٔ اور لَعَلِّیْٓ اٰتِیْكُمْ اینکه بنائی چه راوړم زهٔ
تاسے لره مِنْهَا بِقَبَسٍ له هغه اوره لګوے لمبه اَوْ اَجِدُ یا بیا مومم زه عَلَى النَّارِ هُدًى ⑩
په اور باندے الګاه کونکے دامصدر دے مبنی د پاره د فاعل اے هَادِيًا فَلَمَّآ اَتٰىهَا پس
هرکله چه راغے دے اور له اوسپین اور ے اولیدهٔ په شته و نکښ اوهلته نزد ے ورته
هیڅوك نهٔ وو بیا چه ودوراندے شهٔ د پاره داخستلو نُوْدِيَ غږ ورته وکړے شهٔ
دا سے چه يٰمُوْسٰٓى ⑪ اے موسیٰ اِنِّیْٓ اَنَا رَبُّكَ بے شکه چه یم زهٔ رب ستا او دا
تکرار د ضمیر د پاره د تاکید دے فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ پس وباسه له خپو دواړو پیزارو
خپل چه خاوره دے پاکے کندے دِ په خپو ونګیږی او برکتنا کے شی یا داچه دا
لاره دادب ده چه بادشاهانو له څوك ورځی نوپیزار له خپو لرے کاندی اِنَّكَ
بیشکه چه تهٔ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ ے په هغه ناوځکښ چه مبارك یاپاك کړے شوے دے
طُوًى ⑫ چه نوم ے طوٰی دے اوطوی بدل له وادی دے وَاَنَا اخْتَرْتُكَ اوزهٔ
چه یم غوره کړے ے مانهٔ د پاره د نبوت فَاسْتَمِعْ پس غوږ کیده تهٔ لِمَا يُوْحٰى ⑬
هغه خبرے ته چه ویلے کیږی تانه اوهغه خبره دا ده چه اِنَّنِيْٓ بیشکه زهٔ چه یم
اَنَا اللّٰهُ هم دازهٔ یم خدائے لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا نشته لایق دعبادت هم زهٔ یم
فَاعْبُدْنِيْ ۪ پس عبادت کوه حُما وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ اودروه مونځ یعنی ادا کوه له
اوّلو حقو توسره لِذِكْرِيْ ⑭ د پاره د یادولو حُما چه ما پکښ یاد کړے اِنَّ السَّاعَةَ
بیشکه قیامت چه دے اٰتِيَةٌ راتلونکے دے خامخا اَكَادُ اُخْفِيْهَا اراده لرم
چه پټ کړم دا یعنی وخت د ظهور ے د پاره د ابتلاء لِتُجْزٰى د پاره د دے چه ورکړ
چه جزا ورکړے شی كُلُّ نَفْسٍ هرشخص لره بِمَا تَسْعٰى ⑮ په هغه عملونوچه

کوی ئے دے خیرد ے اوکۂ شر فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا پس نۂ دِ اړوی تاخا مخالہ دے اقامت دمانځه یاله ایمانه په قیامت مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا هغه څوك چه باور نۂ لری په راتلو دے قیامت یا په فرضیت ددے مانځه وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ او پیروی کوی دارزو دنفس خپل دهغه چامتابعت مۂ کوه اوکۂ متابعت دِ اوکۂ فَتَرْدٰى ⑯ پس هلاك به شے خطاب موسی علیه الصلوة والسلام ته دے او مراد ترے امت دے وَمَا تِلْكَ اوڅۂ څیزدے دا بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ⑰ په بنی لاس ستا کښ اے موسیٰ قَالَ هِيَ عَصَايَ ج نو وویل موسیٰ علیه الصلوة والسلام چه دا هسما ده حُما اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا چه تکیه کوم په دے چه سترے شم وَاَهُشُّ بِهَا او سندام په دے سره پانړے عَلٰى غَنَمِيْ په کړو خپلو چه وُبرے شی وَلِيَ فِيْهَا اودے مالړه په دے هسما کښ مَاٰرِبُ اُخْرٰى ⑱ مطلبونه نوردِ پرغیرله دے تیروچه هغه داووچه دده سره به ئے خبرے کولے چه یواځے به وو اوله لیوانو له افاتو به ئے سانه اوله دشمن دده سره به ئے جنګ اومقدمه کوله اوچه کوهی له به راغے نو تنه به ئے رسئ او دواړه بنکړے به ئے بوقه شوه اودشپے به ئے دواړه بنکړے دوه مشالونه شواوچه میوے ته به ئے اشتها وشوه نولکۂ به ئے کړه په زمکه او ونه به شو نو هره میوه چه دۂ به غوښته هم هغه به ترے راتوئی شوه او په کرمئ کښ به ئے سورے پرے کولو اوچه تږے به شو نو په زمکه به ئے ووهله او اوبۂ به پرے راووتے اوچه به دے اودۂ شو نو رَمَه به ئے ورلره ساتله اودا ادم علیه السلام راوړے وه له جنته چه لس گزه اوګډه وه اوسرئ دوه شاخه وواودا بیا په میراث سره شعیب علیه السلام له راغله اوهغۂ بیا موسیٰ علیه السلام لره ورکړه قَالَ بیا وویل ورته رب اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ⑲ چه وے غورځوه اے موسیٰ چه یوه بله عجیبه هم درته وښایم فَاَلْقٰىهَا پس وے غورځوله دا هسما فَاِذَا هِيَ پس ناڅاپه داچه وه حَيَّةٌ تَسْعٰى ⑳ مار ووچه منډے ئے وهلے اودے په اول کښ وړوکے ماس شوځکه چه جان بللے شوے دے اوبیا ورو

وړو ولویدهٔ نو بنا مار شوچه څلویښت یا اویا کلنه ئے خوله وه ځکه ثعبان بللے
شی قَالَ خُذْهَا بیاوویل رب چه ونیسه دا یعنی لاس وړ واچوه وَلَا تَخَفْ وقفه او
مهٔ ویریږه سَنُعِيْدُهَا زړ دے چه وبه کړځوو موږه دا سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ﴿۲۱﴾ په هم هغه
پخوانی شکل ئے یعنی بیرته به ئے هم هغسے همسا کړو لکه چه پخوا وه نو دهٔ لاس
وړ واچولو اوله دواړو ژامو نه ئے ونیوه نو بیرته همسا شوه بیا بل خطاب ورته وشو
داسے وَاضْمُمْ يَدَكَ ئے او سوست کړه لاس خپل اِلٰى جَنَاحِكَ تخرڼ خپل پورے یعنی په
تخرڼ کښ ننه باسه تَخْرُجْ بَيْضَآءَ چه راوزی تک سپین مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ بے عیبه
د برلږ والی اٰيَةً اُخْرٰى ﴿۲۲﴾ په حال دکیدو دے ید بیضا بله نښه یعنی معجزه په
نبوت ستا اوداکار وکړو موږه لِنُرِيَكَ دپاره دے چه وښایو موږه ئے تانه مِنْ اٰيٰتِنَا
الْكُبْرٰى ﴿۲۳﴾ بعضے له هغه نښو څخه موږه چه پیرے لوئے دی اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ لاړ شه فرعون ته
له دے دواړو معجزو سره او توحید ته ئے وبولہ ځکه چه اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۲۴﴾ بیشکه دے یاغی
شوے دے بیا هر کله چه په دهٔ دا درونډ بار واچوله شهٔ نو دپاره دحصول د توفیق او
استقامت اودا متثال دده امر رب ته ئے د پرسوالونه وکړهٔ لکه چه وائی قَالَ وویل
موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام رَبِّ اشْرَحْ اے ربه ځما پرانزه او ارته کړه لِيْ صَدْرِيْ ﴿۲۵﴾
مالہ سینه ځما چه پرده مشقت کښ تنګی رانهٔ وړی وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ﴿۲۶﴾ او اسان
کړے ماته دا مهم ځما **روایت دے** چه په هغه وخت چه موسیٰ علیه الصلوٰة
والسلام لاکهکے وو یوه ورځ د فرعون په غیږ کښ وو اودهٔ ږیره جړاوه وه په
ملغلرو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه دا ملغلرے ولیدے نو لاس ئے
وړ واچولو ږیره ته اوځهٔ قدر وینټ ئے ترے راوایستل نو فرعون پرغضب شو او
اراده د قتل ئے وکړه او بی بی اسیه عذر خواهی وکړه چه ناداندے که څوک سکارهٔ ورته
کیږدی نو هغه به هم لاس واچوی نو دوه تغاری ئے ورته کیخودهٔ یو د سکر و بل د ملغلرو
نو جبریل علیه السلام ددهٔ لاس سکرو ته وراندے کړو او سکور ئے خولے ته واچولو او

ژبه ئے پرے وسوه حُکه ئے ویلی دی وَاحْلُلْ عُقْدَةً اوپرانزے غونبه مِنْ لِّسَانِیْ (۲۷)
له ژبے حُماخه یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ (۲۸) چه فهم کاندی دافرعونیان کفتارحُما په وخت دپیغام
رسولوکښ وَاجْعَلْ لِّیْ اوپیدا کړے مالره وَزِیْرًا مِّنْ اَهْلِیْ (۲۹) باربردار له خپله عیال حُما
هٰرُوْنَ اَخِیْ (۳۰) هٰرون چه رورحُمادے اودا دواړه عطف بیان دے دوزیر اشْدُدْ بِهٖٓ
اَزْرِیْ (۳۱) محکمه کړے په دهٔ سره شا حُما وَاَشْرِكْهُ فِیْٓ اَمْرِیْ (۳۲) اوشریک کړے
دے له ماسره په دے کار حُما کښ یعنی په نبوت کښ كَیْ نُسَبِّحَكَ دپاره دے چه
تسبیح وایو یا مونځ کوو دواړه تالره كَثِیْرًا (۳۳) دیر وَّنَذْكُرَكَ اویادوو دواړه تا په
حمداو په ثنا سره كَثِیْرًا (۳۴) دیر اِنَّكَ كُنْتَ بیشکه چه ئے تهٔ بِنَا بَصِیْرًا (۳۵) په
احوالوحُمونږ خبردارلیدو نکے قَالَ نو وویل ورته ربّ العزت قَدْ اُوْتِیْتَ په تحقیق
درکړے شوتالره سُؤْلَكَ یٰمُوْسٰی (۳۶) سوال ستا اے موسیٰ یعنی داچه تاراغلے خهٔ
اوغوښتل ټول م درلره درکړهٔ وَلَقَدْ مَنَنَّا اوهرائینه په تحقیق منت باركړے ووموږه
عَلَیْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓی (۳۷) په تایو بل کرت هم پخواله دے اِذْ اَوْحَیْنَآ هغه چه وحی کړے وه
مونږه اِلٰٓی اُمِّكَ مورستاته په الهام یا په خوب یاپه واسطه دملك سره امّا نه په وجه
دنبوت بلکه دبی بی مریمے پهشان په هغه وخت چه فرعون بهلکان وژل ستالهجهته
مَا یُوْحٰٓی (۳۸) هغه چه وحی ئے کولے شی اوبے وحی نه معلومیږی نو مونږه ورته
پیغام وکهٔ اَنِ اقْذِفِیْهِ داسے چه واچوه دے فِی التَّابُوْتِ په صندوق کښ فَاقْذِفِیْهِ
پس بیا واچوه داصندوق فِی الْیَمِّ په هغه سیند کښ چه نوم ئے نیل دے فَلْیُلْقِهِ
الْیَمُّ پس میبایدچه بیادِ وغورځوی دغه صندوق داسیند اودا خیاردے
په صورت دامر یعنی چه وے غورځوی بِالسَّاحِلِ غاړے خپلے تهٔ یَاْخُذْهُ چه
ئے ونیسی هغه څوك عَدُوٌّ لِّیْ چه هغه دښمن دے حُما وَعَدُوٌّ لَّهٗ اودښمن دے ددهٔ هم
چه هغه فرعون دے اودا تکرارد عدو د پاره د مبالغے دے **روایت دے**
چه بیا دے په امرالهی سره په صندوق کښ مالوچ وغورول اودئے پکښ واچولو

او صندوق ئے سر پوښ کۀ نو په سیند کښ ئے لاهو کۀ بیا له دغه سیندہ یوه لویه والہ جداشوے وہ او د فرعون په باغ کښ ونوتله وہ او دے یه دے باغ کښ له بی بی آسیے سره په تخت ناست وو ناګاه له پاسه په دے والہ کښ یو صندوق راغے نو راوے کښی بیا چه سرئے تړے پورته کړو نو هلک پکښ پروت وو د پیر بنائسته او فرعون له یی لیدو سره پرے د پیر مَین شو چه وائی وَ اَلْقَیْتُ عَلَیْكَ او اچولے م وو یه تا مَحَبَّةً مِّنِّیْ ۚ مینه خما له طرفه یعنی د خلقو په زړونو کښ م ستا محبت واچولو وَلِتُصْنَعَ او د ا محبت م واچولو د پاره د دے چه لویولے شے ته یعنی تربیت ستا کولے شی عَلٰی عَیْنِیْ ﴿۳۹﴾ په نظر خما یعنی خما تر ارادے او حفظ لاندے **روایت دے** چه بیا دے فرعون او بی بی آسیے دواړو په فرزندئ وساتۀ بیا نو دایه ئے ور له پیدا کوله نو هره بنځه به ئے چه ور له ده راوسته دۀ به ئے له سره تے نۀ اخستۀ بیا خو ردہ مریم نام چه مور له صندوق سره پټه لیږلے وه د پاره د جاسوسئ د صندوق د هغۀ هم هلته حاضره شوه چه د احال ئے و لیدۀ نو دے ور ته یوه خبره اوکړه لکه چه وائی یا د کړه هغه چه اِذْ تَمْشِیْۤ اُخْتُكَ چه روانه شوه خور ستا او مجلس د فرعون ته حاضره شوه او هلک ئے ولیده چه د هیڅا تے نه اخلی فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ پس وویل دے چه ایا آګاه کړم زۀ تاسے عَلٰی مَنْ یَّكْفُلُهٗ ؕ پرهغه چا چه واخلی دا بار د تربیت دده نو بی بی آسیے ور ته وویل کۀ دا سے څوک د پیدا کړو نو د پیر احسان به د رسره وکړم بیا لاړه او خپله مور ئے ور سره راوسته او د هغے تے واخستۀ لکه چه وائی فَرَجَعْنٰكَ پس بیرته راوستے مونږه تۀ اِلٰۤی اُمِّكَ مور خپلے له د پاره د وفا په هغه وعده چه اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَیْكِ وه کَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا د پاره د دے چه یخے شی ستر کے د دے په ملاقات ستا سره وَلَا تَحْزَنَ ۚ او خفه نۀ شے په فراق د دۀ وَقَتَلْتَ نَفْسًا او وښلو هغه چه مړ کړو تا بو سړے یعنی هغه قبطی چه له اسرائیلی سره په جنګ وو او تا نے فریاد وکړو او بیا فرعون اراده اوکړه د قتل ستا فَنَجَّیْنٰكَ پس خلاص کړے مونږه ته مِنَ الْغَمِّ له غمه

۱؎ یعنی الله پاک ور ته وویل، دوچه په تحقیق مونږه بیرته ردکونکی او راګرځونکی د دے خوئے بیا هم تا ته یو ۱۲ منه

د تصاص او د عقاب وَ فَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۚ او بیا و از میلے مونږه تهٔ په دے سفر د مدین کښ په آزمیلو سره په انواع د مشقتونو لکه خوف او جدا ایی او سفر او لوږه او شپنی او د نور د پرشو فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ پس و وسیدے تهٔ څوکاله چه هغه څوکاله وو او په روایت د وهب اتهٔ ویشت کاله وو له شعیب علیه الصلوة والسلام سره او اتلس څان له په هغه ځای کښ فِيْۤ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ په خلقو د مدین کښ چه ښار وو د شعیب علیه الصلوة والسلام اتهٔ منزله لرے د مصر څخه ثُمَّ جِئْتَ بیا راغلے اوس دے وادی مقدس له عَلٰى قَدَرٍ په هغه مقدار یعنی عمر چه بلوغ د رسالت پرے حاصلیږی چه هغه څلویښت کاله دی يٰمُوْسٰى (۴۱) اے موسیٰ وَاصْطَنَعْتُكَ اوجوړ کړے ئے یعنی غوره کړے ئے ماتهٔ لِنَفْسِيْ (۴۱) د پاره د ځان خپل یعنی د عبادت او د وحی او د رسالت خپل اِذْهَبْ اَنْتَ وَ اَخُوْكَ تهٔ او ورور ستا له معجزو څما سره وَلَا تَنِيَا او سستی او تقصیر مهٔ کوئ فِيْ ذِكْرِيْ (۴۲) په یاد کیږئ څما یا په رسولو د پیغام څما کښ اِذْهَبَاۤ اِلٰى فِرْعَوْنَ لاړ شئ دواړه فرعون لره اِنَّهٗ طَغٰى (۴۳) بیشکه چه دے یاغی شوے دے له ماتخه فَقُوْلَا لَهٗ پس وایئ ورته قَوْلًا لَّيِّنًا خبره نرمه یعنی پاسته الفاظ ورته وایئ او په نامه ئے بولئ بلکه ابوالعباس یا ابوالولید یا ابومره خطاب ورته کوئ یا داچه داآخرت معاشونه ورته بیان کړئ لَعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ بنائی چه دے پند واخلی په نرمه خبره او غاړه کیږدئ حق ته اَوْ يَخْشٰى (۴۴) یا وویریږئ له عذابه قَالَا رَبَّنَاۤ نو وویل دوئ دواړو چه اے ربه څونږه اِنَّنَا نَخَافُ بے شکه چه مونږه ویریږو اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَاۤ له دے چه جلتی به وکه په مونږه د عذاب او معجزه بنکاره کولو ته به صبر و نهٔ کړو اَوْ اَنْ يَّطْغٰى (۴۵) یا ویریږو له دے چه لا زیات سرکش به شی او ستا په حق کښ نالایق الفاظ به ووایی قَالَ لَا تَخَافَاۤ نو ویل ورته رب العزت چه مهٔ ویریږئ څکه چه اِنَّنِيْ مَعَكُمَاۤ بیشکه زهٔ له تاسے سره یم په ساتنه او په مدد کارئ سره اَسْمَعُ وَ اَرٰى (۴۶) چه هم اورم اوهم وینم یعنی اورم سوال ستاسے اوهم وینم حمله د دوئ په تاسے نو منع کوم به ئے له تاسے نو هیڅ خنډکان مهٔ کوئ فَاْتِيٰهُ

پس ورشئ دواړه فرعون لره فَقُوْلَآ اِنَّا پس ووایئ ورته چه بیشکه موبنږه رَسُوْلَا رَبِّكَ رالیږلے شوی درب ستایو تاته فَاَرْسِلْ مَعَنَا پس ولیږه له موبنږه سره بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ؕ دا اولاد د یعقوب علیه الصلوة والسلام یائے له مرډئ تو به اذا دکړه چه ځئ له موبنږه سره شام ته وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ اوعذاب دوئ لره په امر سره په سختو کارونو اوپه قتل د اولاد د دوئ قَدْ جِئْنٰكَ په تحقیق راغلی یُو موبنږ تاله بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ؕ په غټه نښه یعنی معجزه سره له جانبه دپروردګار ستا بیافرعون ورته وویل چه هغه نښه دِ ښکاره که نولاس ئے په تخرلُ کښ ننه ایسته اوچه بیائے راوُویست نوداسے شعاع ئے لرله چه له نوره دپاسه وه وَالسَّلٰمُ اوسلام دے د ملا ئکو یا د خزانچیانو د جنت یاسلام دے وی د له عذاب عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ﴿۴۷﴾ په هرهغه چاچه پیروی کوی د سمے لارے اِنَّا بیشکه موبنږه چه یُوْحِيَ اِلَيْنَآ په تحقیق پیغام کړے شوے دے موبنږه ته اَنَّ الْعَذَابَ داسے چه بیشکه عذاب دخدائ عَلٰى مَنْ په هرهغه چا دے كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿۴۸﴾ چه نهٔ منی دابیغام ځموبنږه اوشا کړه ورته بیا په امر الهی سره راغلد واړه فرعون لره اوورته ئے ووایل چه موبنږه تاله رالیږلے یوربِ ځموبنږه قَالَ نووویل فرعون فَمَنْ رَّبُّكُمَا پس څوك دے رب ستاسے يٰمُوْسٰى ﴿۴۹﴾ اے موسیٰ قال نووویل موسیٰ علیه الصلوة والسلام رَبُّنَا الَّذِيْٓ رب ځموبنږه هغه څوك دے اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ چه ورکړے دے دهٔ هرشے له مخلوقاتو خَلْقَهٗ صورت او شکل ددهٔ په هغه شان سره چه دے ئے په حکمت بالغه لایق کنړی یا طریقه دمعاش اوکذران دده ثُمَّ هَدٰى ﴿۵۰﴾ بیا لاره ئے وښوده ورته د کذران په دنیا کښ اودسعادت ابدی په اخرت کښ قَالَ بیا وویل فرعون چه فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿۵۱﴾ پس څهٔ دے حال د پخوا نیو لکه قوم د نوح اوهود اوصالح اولوط اود نورو پیغمبرانو علیهم السلام یعنی له نیکبختئ د نیکبخته اوله بدئ د بدبخته قَالَ عِلْمُهَا نووویل موسیٰ علیه السلام چه علم په حال اوپه مال دهغه قرونو عِنْدَ رَبِّيْ په نزد درب ځمادے فِيْ كِتٰبٍ ۚ په لوح محفوظ کښ لیکلے لَا يَضِلُّ

رَبِّیْ نهٔ تیر ووئی رب حُما یعنی نهٔ وُرکوی هیڅ خیز وَلَا یَنْسَی (۵۲) اونهٔ ئے هیروی اَلَّذِیْ جَعَلَ هغه پروردګار چه ګرځولے ده لَکُمُ الْاَرْضَ تاسے لره زمکه مَهْدًا بچاؤنړه چه ګرځئ اوکښینئ اوځملئ او مینے اچوئ پرے وَّسَلَکَ لَکُمْ اواسانے کړے ئے دی تاسے لره فِیْهَا سُبُلًا په دے کښ لارے دپاره درسید و مطالبو خپلو ته وَاَنْزَلَ اوراکوزے کړے دی ده مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ط له طرفه دآسمانه اوبهٔ فَاَخْرَجْنَا بِهٖٓ پس را ایستلی دی مونږه په دے اوبو سره اَزْوَاجًا قسمونړ رنګارنګ مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰی (۵۳) له زرغونیدونکو خیزونو نوڅه چه مختلف دی یو له بله سره هم په خوند اوهم په رنګ اوهم په منافعو کښ چه بعضے په آدمیانو پورے خاص دی اوبعضے په بهایمو پورے ځکه وائی چه کُلُوْا خورئ تاسے هغه خیزونه چه ستاسے دخوراک دی لکه دانے اومیوے ښوے وَارْعَوْا اَنْعَامَکُمْ ط اوخروئ چارپایان خپل په هغه نباتاتو کښ چه ستاسے دخوراک نهٔ دی اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه په دے بیرته یاد شو یو کښ لَاٰیٰتٍ هرائینه نښے دی رنګارنګ په قدرت ربانی باندے لِّاُولِی النُّهٰی (۵۴) دپاره دخښتنانو دخالص عقل مِنْهَا خَلَقْنٰکُمْ له هم دے زمکے پیدا کړی یئ مونږه تاسے یعنی نیکه ستاسے چه آدم علیه الصلوٰة والسلام دے یا مراد هغه تومنه د پوټی خاورهٔ ده چه له نطفے دهرآدمی سره ئے مَلَکُ ګډوی وَفِیْهَا نُعِیْدُکُمْ اوپه همدے زمکه کښ به بیا ننه باسو مونږه تاسے پس له مرګه وَمِنْهَا نُخْرِجُکُمْ اوله هم دے زمکے به بیارا او باسوتاسے تَارَةً اُخْرٰی (۵۵) بل کرت دپاره دحساب اودجزا وَلَقَدْ اَرَیْنٰهُ اوهرائینه په تحقیق وښودل مونږه فرعون ته اٰیٰتِنَا کُلَّهَا ټولے نښے یعنی معجزے چه دا نهٔ دئ عصا یدبیضا

له یعنی همسا دده چه په وخت دحاجت کښ به په معجزو دغورځولو سره مارجوړ شوترڼه - یدبیضا یعنی لاس مبارک دهٔ چه په وخت دحاجت کښ به په مجرد ننه ایستو سره تنورئ خپل تک سپین کړه بئ به شو - جمر یعنی هغه کانړے چه له دهٔ جلے تختے وے په وخت دغسل کښ اوبیائے په امردخدائ دځان سره ساتلے وو نو په وخت دحاجت کښ به له هغه نه په ځل دوهلو سره دوولس چینے روانے شوے او دپاره دهر قوم بیله بیله والا ځکه چه بنی اسرائیل هم دولس قومونه وو - فلق البحر یعنی بل خیرے کیدل د دریاب په وخت دملاقات د فرعونیانو نو دوئ سره سمدستی او بل ملخ په فرعونیانو نوچه ایمان نے نه راوړو او نورے سپرے په فرعونیانو نو اونو چینو خان اوهمدارنګه وینے او ایستل د دغه په فرعونیانو نو ګله چه مشهور دی ۱۲

مجّر، فلق البحر، جراد، ضفادع، دم، نتق الجبل فَكَذَّبَ وَاَبٰى (۵۶) پس دد روغونځ وکړو موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام ته او وے نهٔ مانه نصیحت ددهٔ له پیره عناده قَالَ اَجِئْتَنَا بیا وویل فرعون چه ایا راغلے ئے ته اے موسیٰ مونږ ته لِتُخْرِجَنَا دپاره ددے چه وباسے ته مونږه مِنْ اَرْضِنَا له دے زمکے خُمونږه چه مصر دے بِسِحْرِكَ یٰمُوْسٰى (۵۷) په جادو خپل سره اے موسیٰ فَلَنَاْتِيَنَّكَ پس هرالبته را به وړو مونږه خامخا تاته بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ جادو په شان ددے جادو ستا چه له جادو سره جادوجنګیږي بَیْنَنَا وَبَیْنَكَ خُمونږه او ستا په مینځ کښ مَوْعِدًا یو وعده کاه لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ چه مخالفت به نه کوو له هغه وعدے نه مونږه وَلَاۤ اَنْتَ اونه ته مَكَانًا سُوًى (۵۸) په هغه ځای کښ چه هوار وی چه هرڅوك ئے وګوري دا هله که مکاناً منصوب شی په نزع د خافض سره او یا بدل دے د تیر موعداً اخځه قَالَ مَوْعِدُكُمْ نو وویل موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام چه وعده کاه ستاسو چه دے یَوْمُ الزِّیْنَةِ ورځ د ځان ښائسته کولو د قبطیانو نه چه هغه اختر د دوئ دے یا ورځ د نوروز یا دعاشورے ده او دلته سوال د مکان وو اوجواب په زمان وشو ځکه چه له دے زمانه مکان هم معلوم شهٔ وَاَنْ یُّحْشَرَ النَّاسُ اوهغه ورځ چه جمع کولے به شی انسانان په یوځائے کښ ضُحًى (۵۹) په وخت د څاښت کښ دپاره ددے چه دهرملك خلق به حاضر وی هلته نو حق او باطل به ښهٔ ظاهر او مشهور اوخور شی په تمام عالم کښ فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ پس ځ وګرځولو فرعون له هغه مجلسه او ولاړ خلوت له د پاره د مصلحت د خپلوا کا برو سره بیا نو سړی ئے په ساحرانو پسے خواږهٔ کړهٔ فَجَمَعَ كَیْدَهٗ پس راټول ئے کړو مکر او فریب خپل یعنی ساحران چه درے سوه یا خلور سوه یا اویا زره وو ثُمَّ اَتٰى (۶۰) بیا راغے خپلے وعده کاه له سره له هغه ساحرانو قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى نو وویل دے ساحرانو ته موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام وَیْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا

---

۵۶ یعنی فرعون موسیٰ علیه السلام ته وویل وو چه مقرر اوهغه معلوم کړه مونږ ته یوځائے د پاره د مقابلے او جادو کولو له تاسره او موسیٰ ؑ وویل ته دیلے روچه وعده کاه ستاسے ورځ د اختره پس جواب د موسیٰ ؑ سوال د فرعون سره فی الواقع موافق شو ځکه چه په ورځ د اختر کښ ځائے د تماشے معلوم او معروف وی. فافهم والله اعلم ۱۲

افسوس دے تاسے لره مهٔ ترئ له ځانه عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا په خدائ دروغ یعنی مهٔ
بولئ دا معجزے دوه په سحر سره فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ؟ پس هلاك به کړی تاسے په
عذاب سره وَقَدْ خَابَ او په تحقیق خراب او نا امیده شو مَنِ افْتَرٰى (۶۱) هرهغه څوك
چه دروغ ئے اوتړل په خدائ فَتَنَازَعُوْٓا پس جګړه اوکړه دے ساحرانو په طریقه د
مصلحت سره کناره له خلقو اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ په دے مهم خپل کښ په خپل مینځ سره
اودا منصوب دے په نزع د خافض سره وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى (۶۲) اوپټ ئے کړو دا راز
او مصلحت خپل له مجلسیانو د فرعون اوهغه نزاع او مصلحت ئے دا ووچه بعضو
ویل څوښه په شان ساحردے او بعضو ویل چه دا کلام ئے د ساحرانونهٔ دے
بیا په دے ئے اتفاق وکهٔ چه کهٔ دے غالب شو نو پیغمبر دے تابع به ئے شو او فرعون
له سره د مانړئ دوئ ولیدل چه جګړه دی سره. نو راوے ویل چه تاسے څهٔ
جګړه کوئ له نو دوئ له ویرے ورته ژبه وا نه وئ له. نو قَالُوْٓا وویل دے ساحرانو
اِنْ هٰذٰنِ بے شکه دا دوه رونړه چه دی لَسٰحِرٰنِ هرائینه جادوګران دی او دا
اِن مخفف دے له مثقل څخه دالام فارق په مابین دنافیه او مخففه پرے داخل
شوے دے یا دا اِن په معنیٰ د ما او لام په معنیٰ د اِلَّا دے یعنی ما هٰذٰنِ اِلَّا سٰحِرٰنِ
يُرِيْدٰنِ چه اراده لری دد ے اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ ددے چه اوباسی دوئ تاسے مِّنْ اَرْضِكُمْ
له دے زمکے ستاسے چه مصدر دے بِسِحْرِهِمَا په جادو خپل سره وَيَذْهَبَا اوبوځی دوئ
یعنی محو که بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى (۶۳) دا مذهب او دین ستاسے چه د پیرغوره دے او خپل
دین جاری که اودا تٓ دپاره د تعدیة ده بیا بعضو ویل بعضو ته یا فرعون وویل چه
فَاجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ پس راجمع کړئ او راواخلئ اسباب د مکر او جادو خپل ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا
بیا راشی میدان د معارضے له ترلی صفونه چه په زړونو د خلقو کښ هیبت او دهشت
ولویږی او دوئ اویا زده وو او هریوه څخه یوه همسا او یو پرے وو وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ
او په تحقیق بریالی شو نن ورځ مَنِ اسْتَعْلٰى (۶۴) هرهغه څوك چه غالب شو

قَالُوْا یٰمُوْسٰۤی بیا و ویل دوئ اے موسی اِمَّاۤ اَنْ تُلْقِیَ یا دا سے کار دے چه اول وغورځئ تهٔ هماسا خپل وَاِمَّاۤ اَنْ نَّكُوْنَ اویاچه اوسو مونږه اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰی (۶۵) لمړے دهغه چا چه غورځوی خپل قَالَ نو وویل موسی علیه الصلوة والسلام بَلْ اَلْقُوْا ع بلکه وغورځوئ اول تاسے دپاره ددے چه سحر لاندے شی اوله پاسه پرے معجزه راشی چه تاسپه تارئے که او بطلان ئے خلقو ته بنهٔ ظاهر شی نو دوئ دا پرې اوهماسا کانے په پارے سره لړلی وغورځول فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِیُّهُمْ پس ناچاپه هغه پرې ددوئ اوهماسا کانے د دوئ چه وے یُخَیَّلُ اِلَیْهِ په خیال کښ راوستے کیده موسی علیه السلام تهٔ مِنْ سِحْرِهِمْ له جهته دجادو اَنَّهَا تَسْعٰی (۶۶) داسے چه بیشکه دا پرې اوهماسا کانے منډے وهی اوپکښ وجه دحرکت داوه چه په دے پاره نور ولګیده نوجنبش ئے وکهٔ له تاوه دنوره او دا پرې اود ا هماسائے سره وخوزول فَاَوْجَسَ فِیْ نَفْسِهٖ پس بیامونده ئ یاپت کهٔ په زړهٔ خپل کښ خِیْفَةً مُّوْسٰی (۶۷) ویره موسی علیه الصلوة والسلام چه دا خلق به د معجزے او سحر فرق ونهٔ کړ نو ایمان به په مارانهٔ وړی قُلْنَا لَا تَخَفْ نو وویل ورته مونږه چه مهٔ یرېږه ځکه چه اِنَّكَ بیشکه چه ته ئے اَنْتَ الْاَعْلٰی (۶۸) هم ته ئے د یرغالب ښکاره اوپه دے کښ پټه مبالغے دی حرف د تحقیق او تکرار د ضمیر او تعریف دخبر او لفظ دعلو او صیغه د تفضیل وَاَلْقِ مَا اوغورځوه تهٔ هغه څیز فِیْ یَمِیْنِكَ چه په ښی لاس کښ د دے یعنی هماسا تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا هاچه له حلق نیرکه دے هغه څیز ونه چه سازکړی دی دوئ ځکه چه اِنَّمَا صَنَعُوْا بیشکه هم داخبره ده چه سازکړی دی دوئ کَیْدُ سٰحِرٍ مکرد جادوګر لَا یُفْلِحُ السّٰحِرُ او خلاص اوبرے نهٔ موهی جادوګر حَیْثُ اَتٰی (۶۹) هرچرته چه راشی او راحاضر شی بیا چه دوئ دا عظیمه معجزه ولیده چه یو لکهٔ او پنځوس زره ماران په یوکرت وخوړهٔ اونس ئے هیڅ قدر لوئ نهٔ شو او بیا چه لاس ئے ور واچولو نو بیرته هم هغه هماسا شوه

عه یعنی باطل والے اوعیب والے ئے خلقو ته ظاهر شی ۱۲

نو دوئ پوهه شو چه دا یقینی پیغمبر دے نو مضطر کړے شو سجدے ته لکه چه وائی
فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ پس اوغورځولے شو ساحران سنکور سُجَّدًا په دے حال چه سجده کونکی وو
خدائ ته یعنی حق موج وواهه او په دوئ جذبه راغله نو بے اختیاره په سجده ولویدل
قَالُوْٓا اٰمَنَّا وویل نو لوچه ایمان راوړے دے مونږه بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ⑦۰ په خدائ
دهرون او دموسی علیهما الصلوة والسلام او هرون اول ذکر شوله جهته دمشروالی یاله
رعایته داخردا ایتو نو قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ نو وویل فرعون چه ایمان راوړهٔ تاسے په موسیٰ
علیه السلام قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ط چه اذن درکړم زهٔ تاسے له دایمان راوړلو
اِنَّهٗ بیشکه چه دے لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ هرهغه مشر ستاسے له دے عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ چه
بنودلے دے دهٔ تاسے جادو یعنی تاسو په واقعه کښ ماته په یوانفاق یئ فَلَاُقَطِّعَنَّ
پس هرائینه پرے به کړم زهٔ خامخا اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ لاسونه ستاسے اوخپے ستاسے
مِّنْ خِلَافٍ له مخالف جانبه یعنی ښے لاس به پرے کړم له چپے خپے سره اوچپ لاس له
نبئ خپے سره چه څلور واړه اندامونه له کاره بیخی ووزی وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اوهرائینه بیا
زوړ ند به کړم خامخا تاسے فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ په بناخونو د خرما وُ کښ ځکه چه هغه د یر
هسک دی نو هرڅوك به ے ګوری اوعبرت به پرے اخلی وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اوهرائینه
معلوم به کړئ تاسے خامخا دا چه کوم یو له مونږه دواړو چه زهٔ یم اوخدائ دے د
موسیٰ علیه السلام اَشَدُّ عَذَابًا د یر سخت دے له جهته دعذابه وَّاَبْقٰى ⑦۱ او
د یر باقی ښے اوبرد دے عذاب دهغهٔ قَالُوْا وویل ساحرانو لَنْ نُّؤْثِرَكَ چه هیڅرے به
عوزه نهٔ کړو مونږه تا عَلٰى مَا جَآءَنَا په هغه څیز چه راغلے دے مونږ له مِنَ الْبَيِّنٰتِ
له بشکاره معجزو چه دلالت کوی په صدق دموسیٰ علیه السلام وَالَّذِيْ فَطَرَنَا قسم
دے په هغه خدائ چه پیدا کړی ئے یو مونږه فَاقْضِ مَآ پس وکړه هرهغه کار اَنْتَ
قَاضٍ چه تهٔ کونکے ئے دهغه کار او هیڅ صرپه مهٔ کوه مونږه به دِ عوزه نهٔ کړو اِنَّمَا
تَقْضِيْ بیشکه هم داخبره ده چه خپل حکم به وکړے تهٔ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ⑦۲ په دے لږ

ژوندون کښی او په آخرت کښی به بیا هیڅ اختیار نهٔ لرے اِنَّا بیشکه مونږه چه یو اُمَنَّا
بِرَبِّنَا ایمان راوړے دے مونږه په رب خپل لِيَغْفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا د پاره دے چه وبخښے مونږه
ته گناهونه خمونږه له کفره اوله معاصیو وَمَآ اَكْرَهْتَنَا او وبخښی خصوصًا هغه گناه چه
زور کړیدے تا په مونږه عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ په هغه کار چه عبارت دے له سحره څخه چه په
زورِ راوستو مقابلے د موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام ته وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى (۷۳) اوخدائ ﷻ غوره
دے په رسولو د عذاب کښی مطیع خپل ته اِنَّهٗ بیشکه شان دادے چه مَنْ يَّاْتِ هرهغه څوك
چه رَبَّهٗ مُجْرِمًا رب خپل له کافر یعنی کافر مړشی په حال د کفر کښی فَاِنَّ لَهٗ
جَهَنَّمَ ط پس بیشکه مقرر دے دهٔ لره دوزخ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا چه نه به مړی په دے دوزخ
کښی وَلَا يَحْيٰى (۷۴) اونه به ژوندے کیږی په دا سے ژوندون چه څهٔ نفع وروړ سوی
وَمَنْ يَّاْتِهٖ او هرهغه څوك چه راشی دهٔ لره مُؤْمِنًا په دے حال کښی چه مؤمن وی
یعنی په ایمان مړشی قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ چه په تحقیق کړی وی دهٔ کارونه نیک فَاُولٰٓئِكَ
پس دغه کسان چه دی لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى (۷۵) مقرر دی دوئ لره مرتبے ډیرے لوئ
چه هغه مرتبے جَنّٰتُ عَدْنٍ جنتونه داقامت دی اودا بدل دے له درجات نه تَجْرِيْ
چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د بنگلو یا دونو د هغو څلور واړه قسمه ولے خٰلِدِيْنَ
فِيْهَا ط چه همیشه به وی دوئ په دے باغونو کښی وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى (۷۶) اوداچه دده
جزا ده د هرهغه چا چه ځان ﷺ پاك کړے وی له گناهونو **روایت دے** چه هرکله
فرعون په دے معجزه هیڅ عبرت وانهٔ خست اوپه بنی اسرائیلو ﷺ عذاب لازیات
کړو نو رب العزب اراده وکړه د غرق د فرعون نو پیغام ﷺ وکړو موسی علیه الصلوٰة
والسلام ته لکه چه وائ وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اوهراٰینه په تحقیق پیغام اوکړو مونږه
اِلٰى مُوْسٰٓى ؑ موسیٰ علیه السلام ته اَنْ اَسْرِ داسے چه وباسه د شپے له مصره اوروان

علہ په نسخه منقول عنه کښی ذَابْقٰی ۲ ترجمه نشته نو مونږه ﷺ د تفسیر جلالین نه لیکو۔ وَاَبْقٰی
اوزیات باقی دے له جهته د عذاب ورکولونه خپلونا فرمانولره ۳ از تفسیر جلالین

که بِعِبَادِیْ بندګان ځما یعنی بنی اسراءیل فَاضْرِبْ لَهُمْ پس سازه کړه دوئ لره په وهلو دهسا سره طَرِیْقًا فِی الْبَحْرِ لاره په سیند کښ یعنی کوشه یَبَسًا لا وچه کلکه د پاره دتیریدو دبنی اسراءیلو لَّا تَخٰفُ دَرَكًا په دے حال کښ چه نه ویریږے تهٔ له در رسیدلو د فرعون وَلَا تَخْشٰى ﴿۷۷﴾ او بل نه ویریږئ له غرق په سیند کښ بیا موسی علیه الصلوة والسلام په امر الهی سره په اول دشپے کښ روان شو په طرف د سیند دا و یا زره شپږ سوه بنی اسراءیلو سره او فرعون په دے خبر شو نو شپږ لکه لښکر سره ور پسے راغے لکه چه وائی فَاَتْبَعَهُمْ پس راغے په بنی اسراءیلو پسے فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فرعون او لښکر دده او چه دے سیند ته راورسیده دوئ بیاله سیندنه تیر شوی وو او په هغه غاړه ولاړ وو او هغه دولس وچے کوڅے د سیند چه بنی اسراءیل پکښ پورے وتلی وو هغه هم هغسے وچے پرتے وے نو فرعون له پوره لښکر سره پکښ راننوت او بیاله پاسه او بېړے راښکته شوے فَغَشِيَهُمْ پس لاندے ئے کړهٔ دوئ مِّنَ الْيَمِّ له سیند څخه مَا غَشِيَهُمْ ﴿۷۸﴾ هغه څیز چه لاندے ئے کړهٔ دوئ. نو پوه په یو کرت غرق شو او دا ابهام د پاره د تعظیم دے وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ او کمراه کړهٔ فرعون قَوْمَهٗ قوم خپل وَمَا هَدٰى ﴿۷۹﴾ او ور نه ئے وښوده لاره سمه ځکه چه د خدائ له عبادت به ئے منع کول او خپل عبادت به ئے پرے کولو يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اے اولاده د یعقوب علیه الصلوة والسلام قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ په تحقیق خلاص کړئ مونږه تاسے مِّنْ عَدُوِّكُمْ له دښمن ستاسے چه فرعون وو وَوٰعَدْنٰكُمْ او وعده کړه مونږه له تاسے سره یعنی له پیغمبر ستاسے سره د پاره د ورکولو د تورات جَانِبَ الطُّوْرِ الْاَيْمَنَ بنی طرف د کوه طور وَنَزَّلْنَا او راولیږهٔ مونږه دیتُه په ایام کښ عَلَيْكُمُ الْمَنَّ په تاسے ترنجبین وَالسَّلْوٰى ﴿۸۰﴾ او وریټ کړی مرزان او درته وویل مونږه كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ خورئ له پاکیزه څیزونو مَا رَزَقْنٰكُمْ دهغه چه روزی کړی دی مونږه ستاسے وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ او تجاوز مهٔ کوی په هغه مرزوق کښ له حده چه شکر پرےنږدئ باسئ یا په معاصیو کښ ئے صرف کوئ یا مستحقانو له ئے نهٔ ور کوئ یا بعضے په بعضو ظلم پکښ

کوئ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ پس راکوز به شی په تاسے قهر حُما وَمَنْ يَّحْلِلْ اوهر څوك چه راکوز شی عَلَيْهِ غَضَبِيْ په هغه باندے قهر حُما فَقَدْ هَوٰى (۸۱) پس په تحقیق هلاك شو یا ولویدهٔ داسے چه بیا نهٔ شی پاخیدلے وَاِنِّيْ اوبیشکه زهٔ چه یم لَغَفَّارٌ څهرا ئینه دیر بخښونکے یم لِّمَنْ تَابَ هغه چا نه چه توبه ئے وویسته وَاٰمَنَ اوایمان ئے راوړو په وحدانیت حُما وَعَمِلَ صَالِحًا اوعمل ئے وکړو د نیکو ثُمَّ اهْتَدٰى (۸۲) بیا په سمے لارے روان وو په استقامت سره **روایت دے** چه بنی اسرائیلو پس له هلاکه د فرعون له موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام یوکتاب وغوښت چه احکام د دین پکښ بیان وی اوده رب تہ سوال نو امر وررته وشو چه بیا کوه طور له راشه له یوخوا شرافو د بنی اسراءیلو سره چه کتاب درکړم جامع د احکامو. نو دهٔ هٰرون علیه الصلوة والسلام په قوم کښ خلیفه کړو اوده له اوثیا کسو سره لاړو چه وررنږدے شو نو د ډیره شوقه د ملاقات ربانی له دغه نور و ملګرو ډے لومړے وررغے نو خطاب وررته وشو لکه چه وائی وَمَآ اَعْجَلَكَ اوکوم څیز راجلت کړے ته چه لُمړے راغلے عَنْ قَوْمِكَ له قوم خپله يٰمُوْسٰى (۸۳) اے موسیٰ قَالَ نو وویل دهٔ چه هُمْ اُولَآءِ دوئ دغه دی راروان دی عَلٰٓى اَثَرِيْ راپسے چه اوس به راوررسیږی وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ اوجلتی م اوکړه تانته په راتلو کښ رَبِّ لِتَرْضٰى (۸۴) اے ربه حُما دپاره د ډے چه راضی شے تهٔ قَالَ بیا وویل خدائ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا پس بیشکه مونږه چه یو په تحقیق یوازمیښت راوستے دے مونږه قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ په قوم ستا پس له تا چه مالړه راغے **روایت دے** چه فرعون چه هلکان وژل یوهلک سامری نومے مورپټ له ویرے د قتل د رودنیل په غاړه وغورځولو او جبریل علیه السلام په امر الهی سره پرورش د ده کولو نو د ے ویښږند لو بیا په ورځ د غرق د فرعون د ے سامری د جبریل علیه السلام د آس د سم د لاندے خاوره اخستے او سلته وه بیا چه کله موسیٰ علیه السلام کوه طور له لاړهٔ نو د هٰرون علیه السلام ته ووایل چه هغه کانړه چه مونږ له قبطیانو اخستے وه د تیخته په شپه په هغے کښ اوس بنی اسرائیلو

په نارواخرید او فروخت شروع کړے دے کهٔ اجازه وی چه هغه وسیزواوهٔ اجازه وکړه نو په یوخندق کښی ئے واچوله اوله پاسه ئے اور پرے بل کهٔ او ترے لاندے سامری پټ قالب د غښی ساز کړو چه دازر ویلی شواو قالب ته ولویدهٔ نو د غښی شکل سازشو او په خوله کښی ئے دهغه خاورهٔ واچوله نو ژوند ے شهٔ او آوازے کولو نودهٔ بنی اسراءیلو ته وویل چه خدائ دموسیٰ علیه الصلوة والسلام دغه دے اوله دوئ خلور برخے خلق پرسجده ورته پریوانهٔ لکه چه وائی وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِیُّ ﴿۸۵﴾ اوگمراه کړهٔ دوئ سامری فَرَجَعَ مُوْسٰۤی پس بیرته لارهٔ موسیٰ علیه الصلوة والسلام پس له هغه چه خلویښت ورځے ئے هلته پوره کړے او تختے د تورات ورکړے شوے اِلٰی قَوْمِهٖ قوم خپل ته غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ د ډك له قهره غمژن قَالَ یٰقَوْمِ نو وویل دهٔ چه اے قومه خما اَلَمْ یَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ ایا وعده نهٔ وه کړے له تاسره رب ستاسے وَعْدًا حَسَنًا ۚ وعده بنائسته رښتینے د کتاب درکولو چه هغه زر سورته وو اوهر سورت ئے زر ایتونه ووچه اَفَطَالَ ایا پس اوږده شوه عَلَیْكُمُ الْعَهْدُ په تاسے زمانه د بیلتون خما اَمْ اَرَدْتُّمْ اوکهٔ اراده کړے ده تاسو اَنْ یَّحِلَّ عَلَیْكُمْ د دے چه راکوز شی په تاسے غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ قهر له جانبه د خدائ ستاسے دعبادته د غښی فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِیْ ﴿۸۶﴾ پس خلاف کړه تاسے هغه وعده خما چه تاسے کړے وه له ما سره د استقامت په ایمان او د قیام په امر خما قَالُوْا نو وویل دوئ مَاۤ اَخْلَفْنَا چه نهٔ ده خلاف کړے مونږه مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وعده ستا په اختیار خپل سره وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَاۤ اولیکن مونږه چه یو په زور بار کړے شو په مونږه باندے اَوْزَارًا پیتی مِّنْ زِیْنَةِ الْقَوْمِ له کا نړے د ټولی د قبطیانو او یا مراد له اوزارو پیتی دی د ګناهونو ځکه چه دا کا نړے دوئ امانت اخستے وی له قبطیانو فَقَذَفْنٰهَا پس وغورځول مونږه هغه پیتی د کا نړو په اورکښی په حکم د هارون علیه السلام فَكَذٰلِكَ پس هم داسے لکه مونږه وغورځول اَلْقَی السَّامِرِیُّ ﴿۸۷﴾ وغورځولے سامری

هم هغه کا نړے چه دۀ څخه وے یا هغه خاوره د سُم د فرس حیواۀ فَاَخۡرَجَ لَهُمۡ
پس راوے وېسته دوئ لره له هغه خندق عِجۡلًا جَسَدًا یو خسے له جهتـه د بدنه
چه غږېږے او وینے ئے لرلے لَّهٗ خُوَارٌ چه وو دۀ لره آواز د خُسی فَقَالُوۡا پس وېل
دوئ یعنی سامری او تابعانو هٰذَاۤ اِلٰهُكُمۡ چه دا خسے خدائے دے ستاسے وَاِلٰهُ موسیٰ او
خدائی دے د موسیٰ علیه الصلوة والسلام فَنَسِیَ ﴿۸۸﴾ پس هیر کړے دے خدائی دلته
اود ے کوہ طور له ور پسے تلے دے او یاد اګفت د خدائے دے چه هیرکۀ سامری استقامت
په ایمان یا هیرئ کړو داچه څُنګه د خدائیئ لائق نۀ دے په دلیل د دے قول چه اَفَلَا
یَرَوۡنَ ای نۀ وینی هغه عباد د خسی چه دی اَلَّا یَرۡجِعُ اِلَیۡهِمۡ قَوۡلًا ۙ هیڅ خبرته نه راکړی
دوئ لکه بزوانۀ چې عزر ور نه کړی وَّلَا یَمۡلِكُ لَهُمۡ او نۀ اختیار لری دوئ له ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا ﴿۸۹﴾
د ضرر دفع کولو او نه د نفع رسولو۔ او دا تیرا اَنۡ مخفف دے له مثقله چه اسم ئے محذوف دے
اے اَنَّهٗ۔ وَلَقَدۡ قَالَ او هرا ئینه په تحقیق وېلی وو لَهُمۡ هٰرُوۡنُ د ے عابد او د خسی
ته هٰرون علیه الصلوة والسلام مِنۡ قَبۡلُ پخوا له راتلو د موسیٰ علیه الصلوة والسلام
له کوہ طوره یٰقَوۡمِ اِنَّمَا اے قومه حُما بیشکه همدا خبره فُتِنۡتُمۡ بِهٖ ۚ چه ازمیښت
راوستے شوے دے په تاسے په دے خسی یعنی په عبادت د دۀ سره خکه چه ئے ستاسے
خدائی نۀ دے وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحۡمٰنُ او بے شکه رب ستاسے رحمٰن دے فَاتَّبِعُوۡنِیۡ
پس پیروی کوئ حُما وَاَطِیۡعُوۡۤا اَمۡرِیۡ ﴿۹۰﴾ او فرمانبرداری کوئ د امر حُما په عبادت د
هغهٔ کښ قَالُوۡا نو وویل دوئ ورته لَنۡ نَّبۡرَحَ چه هیڅکله به اوسو مونږه عَلَیۡهِ
عٰكِفِیۡنَ په دۀ یعنی په عبادت د دۀ کلک ولاړ حَتّٰی یَرۡجِعَ تر هغه لورے چه بیرته
راوګرځی له کوہ طوره اِلَیۡنَا موسیٰ ﴿۹۱﴾ مونږ ته موسیٰ علیه السلام بیا چه موسیٰ
علیه السلام له کوه طوره راغے نو قَالَ یٰهٰرُوۡنُ وے ویل اے هٰرون مَا
مَنَعَكَ کوم څیز منع کړے وے تا اِذۡ رَاَیۡتَهُمۡ ضَلُّوۡۤا ﴿۹۲﴾ چه دِ ولیدل دوئ چه
وَلغزیدل اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ له دے چه پیروی وکړئ حُما په غضب کښ چه حُما په شان

په غضب شے دپاره د خدائ یا چه ما پسے راشے کوه طور له او دالا زائده ده لکه اَلَّا تَسْجُدَ کښ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ (۹۳) ایا پس بے فرمانی دِ اوکړه د امرځما قَالَ نو وویل ورته هٰرون علیه السلام يَبْنَؤُمَّ اے حُو یه دمورځما او اکرکه د ے سکه رورئے وو اما مورئے یاده کړه دپاره د شفقت لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ مهٔ نیسه بږیره ځما وَلَا بِرَاْسِيْ اونهٔ سرځما او دائے ځکه وویل چه په چپ لاس ئے له وینتو د بږیرے اوپه بنی لاس ئے دوینتو د سره نیولے وو او رابنکویے له پږیره غضبه بیا عذر د عدم متابعت ورنه د کړو لکه چه وائی اِنِّيْ خَشِيْتُ بے شکه زهٔ ویریدم کهٔ قتال د رسره وکړم یا ترے لاړشم اَنْ تَقُوْلَ له دے چه وبه وا یے راته فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ چه بیلتون دِ واچولو په ما بین د بنی اسراءِ یلو کښ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ (۹۴) او وِ د نهٔ کا تهٔ هغه ویلو ځما ته چه درته مِ ویلی ووچه اُخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ بیا نو د دهٔ عذر ئے قبول کړو او سامری ته ئے مخ کهٔ قَالَ نو وے ویل فَمَا خَطْبُكَ پس داځهٔ د یر لوئی یو بد کار دوستا چه وُدِكَهٔ يٰسَامِرِيُّ (۹۵) اے سامری قَالَ بَصُرْتُ نو وویل دهٔ چه وُلیدهٔ ما بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ هغه شیز چه نهٔ وُلیدے د وئی یعنی جبریل علیه السلام فَقَبَضْتُ قَبْضَةً پس واخستهٔ ما یو موټے خاوره مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ له سمه د اس د جبریل علیه الصلوة والسلام په وړځ د غرق د فرعون نو فَنَبَذْتُهَا پس وُم غورزولهٔ اوس په خولے د دے خُسی کښ نو ژوندے شو او نغرے ئے وهلے وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ او همدا سے لکه چه مِ کړهٔ بنائسته کهٔ دا کار لِيْ نَفْسِيْ (۹۶) ما ته نفس ځما قَالَ بیا موسیٰ علیه الصلوة والسلام وویل فَاذْهَبْ پس ځه له مونږ لرے شه فَاِنَّ لَكَ پس بیشکه مقرر شو تا لره فِي الْحَيٰوةِ په ژوندون کښ اَنْ تَقُوْلَ داچه وایے به تهٔ هغه چا ته چه درنزدے کیږی لَا مِسَاسَ مهٔ لګیږه په ما یعنی له ما څخه لرے شه چه نهٔ به هم ځما په شان پمن شے وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا او بیشکه مقرر شو تا لره یو وعده کاه چه دونږ دے لَّنْ تُخْلَفَهٗ ج چه له سره به چپ

نهٔ کړے شے تهٔ له وعدے څخه بلکه ورسره وستے شے ورله وَانْظُرْ او وګوره اِلٰى اِلٰهِكَ الَّذِیْ هغه خدائ خپل ته ظَلْتَ چه همیشه به وے تهٔ عَلَیْهِ عَاكِفًا پهٔ هغهٔ مقیم اوښکوږ د پاره دعبادت لَنُحَرِّقَنَّهٗ چه اول هرائینه وبه ئے سیزو مونږه خاځا پهٔ اوکښ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ بیا هرائینه وبه شیندو او باد به ئے کړو مونږه خاځا فِی الْیَمِّ نَسْفًا ﴿۹۷﴾ په سیند کښ په شیند لوسره چه اثر ئے هم پاتے نهٔ شی اِنَّمَاۤ اِلٰهُكُمُ بیشکه هم داخبره ده چه معبود برحق ستاسے چه دے اَللّٰهُ الَّذِیْ هغه خدائ دے لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط چه نشته معبود په واقعه کښ مکرهم دے وَسِعَ كُلَّ شَیْءٍ چه محیط دے علم ددهٔ په هرځیز عِلْمًا ﴿۹۸﴾ له جهته دعلمه اود اتمیز دے یعنی محیط دے علم ددهٔ په هرځیز كَذٰلِكَ اوهمدا سے لکه چه داقصه وکړه مونږه تاته اے رسوله نَقُصُّ عَلَیْكَ قصے کوو مونږه په تابعی تاته مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا له اخبارو اواحوالو دهرهغه چا قَدْ سَبَقَ ج چه پخوا تیر شوی دی له پخوانیو اُمتونو وَقَدْ اٰتَیْنٰكَ او په تحقیق درکړے دے مونږه تالره مِنْ لَّدُنَّا خاص له خپله جانبه ذِكْرًا ﴿۹۹﴾ پند چه قرآن دے او داسے پند دے مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ هرڅوك چه څنګ وکهٔ له دهٔ یعنی ایمان پرے رانهٔ وړی فَاِنَّهٗ یَحْمِلُ پس بیشکه بار به که دے په ځان پخپل یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت وِزْرًا ﴿۱۰۰﴾ یو لوئ بار ګناهونو خٰلِدِیْنَ فِیْهِ ط چه همیشه به وی دوئ په عذاب دے وِزر کښ وَسَآءَ لَهُمْ اوبد دے هغه بار دوئ لره یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ حِمْلًا ﴿۱۰۱﴾ له جهته د بارلو لوچه هغه پیټه دے ددوئ چه کفر او تکذیب دوئ دے بار ددوئ اوداسا فعل ذم دے او فاعل ئے ضمیر دے پکښ مبهم او حِمْلًا تمییز دے او مفسر دے دهغه مبهم اولام دلهم د بیان دے لکه هَیْتَ لَكَ او مخصوص بالذم ئے محذوف دے او تیر وِزْرًا دال دے پرے نو تقدیر د کلام داسے شو چه سَاءَ الْحِمْلُ حِمْلًا یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وِزْرُهُمْ كَذَا فِی المدارك یَوْمَ یُنْفَخُ په هغه ورځ چه پوکے وکړے شی فِی الصُّوْرِ په شپیلئ کښ

دویم پوکے وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ اوراجمع به کړو مومنږه کافران يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿۱۰۲﴾ پټه دغه ورځ شین سترګی یا رانده توږی يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ چه ورو ورو اوپټے خبرے به کوی پخپل مینځ کښی سره اووائی به اِنْ لَّبِثْتُمْ چه نهٔ دے کړے مدار تاسے په دنیا کښی اِلَّا عَشْرًا ﴿۱۰۳﴾ مګر لس ورځے نَحْنُ اَعْلَمُ مونږه ښهٔ پوهیږو بِمَا يَقُوْلُوْنَ په هغه اقوالو چه وائی ئے دوئ اِذْ يَقُوْلُ هغه چه وائی اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً ډیر کامل ددوئ په عقل کښی اِنْ لَّبِثْتُمْ چه نهٔ دے کړے مدار تاسے په دنیا کښی اِلَّا يَوْمًا ﴿۱۰۴﴾ مګر یوه ورځ یعنی طول دورځے دقیامت چه وګوری نو دا تمام عمر به ورته یوه ورځ بنکاره شی **روایت دے** چه مشرکانو د قریشو یا یو سړی د ثقیفو پوښتنه وکړه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه چه په ورځ دقیامت به ددے غرونو څهٔ حال وی نو نازل شو وَيَسْئَلُوْنَكَ او پوښتنه کوی له تا عَنِ الْجِبَالِ له حاله ددے غرونو فَقُلْ يَنْسِفُهَا پس ووایه ورته چه تاږه تاږه به ئے کړه رَبِّيْ نَسْفًا ﴿۱۰۵﴾ رب ځما په تاږه تاږه کولو سره اوبیا میده به ئے کړه لکه شکه اوبیا به بړو بړے راوالوځوی نو محو به ئے کړه چه ګرد به ئے هم پاتے نهٔ شی فَيَذَرُوْهَا پس پرے به یږدی دا زمکه قَاعًا صَفْصَفًا ﴿۱۰۶﴾ یوه ډاګ هموار لګ تړی فِيْهَا چه نهٔ به ئے وینے تهٔ په دے زمکه کښی عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿۱۰۷﴾ جوړوالے او نه لوړوالے هیڅ قدر يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ پیروی به کوی دا مخلوق دبلونکی چه اسرافیل علیه السلام دے چه په صخرے د بیت المقدس به اودریږی او اواز به اوکړی چه اَيَّتُهَا الْعِظَامُ الْبَالِيَةُ وَالْجُلُوْدُ الْمُتَمَزِّقَةُ وَاللُّحُوْمُ الْمُتَمَزِّقَةُ هُلُمِّيْ اِلٰى عَرْضِ الرَّحْمٰنِ نو راځئ به وهمے ولهٔ تهٔ دا مخلوق له مشرق نه ترمغربه لَا عِوَجَ لَهٗ ج یعنی نهٔ به وی هیڅ قدر کوږ والے او میل لهٔ دهٔ چه څوک ترے سر وغړوی نهٔ مؤمن او نه کافر بلکه ټول به ورته منقاد وی وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ او چپ به شی اواز ونه د مخلوق لِلرَّحْمٰنِ له هیبته د پروردګار فَلَا تَسْمَعُ پس نهٔ به اورے

لـه ۱۲ ئی دا چه آواز به اوکړے شی په امر د خدائ سره چه اے هډو کو ورسته او زړو اواے پوستکیو زړه ذره شوبو اواے خوښو جدا جدا شوبو راځئ ټول په یوکوت در باړ د خدائ ته چه اسم پاک ئے رحمان ﷻ یعنی رحمت کونکے په هر چا ۱۲ ئے یعنی وګوری او انکار وکړی ۱۲ ئے یعنی غاړه ایخودونکی امر د ئے تهٔ او تابعان د حکم د ده ۱۲

نهٔ اِلَّا هَمْسًا (۱۰۸) مکر دیرہ چه شوندے قدمے پرے ریبږی یا مراد کشار د قدمونو دے په وخت د ټنګ محشر ته يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ لَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ هیڅ فائده نهٔ رسوی شفاعت دچا چا ته اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ مګر دهغه چا شفاعت چه اذن وکه ورته خدائ وَرَضِيَ لَهٗ او خوښ که دے دپاره د دے شفاعت کړے شوی قَوْلًا (۱۰۹) گفتار د شافع يَعْلَمُ مَا بَيْنَ هیڅ په هرهغه بين اَيْدِيْهِمْ چه مخکښ دے د دوئ له اُمور د دا خرت وَمَا خَلْفَهُمْ او په هرهغه چه پس شا د دوئ له امور د دنيا وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِهٖ او احاطه نهٔ شی کولے دوئ په ذات د دهٔ عِلْمًا (۱۱۰) له جهته د پوهے وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ اوخوار اوذ ليل شو مخونه يعنی څښتنان د مخونو لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ هغه خدائ ته چه هميشه ژوندے ولا زوال نه پے ته تدبير د عالم وَقَدْ خَابَ اوپه تحقيق خراب اونا اُميده شو له رحمت د خدای مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا (۱۱۱) هرهغه څوک چه بار د راغے حشر کاه له په کفر اوشرک وَمَنْ يَّعْمَلْ اوهر څوک چه کوی مِنَ الصّٰلِحٰتِ نيک کارونه د امِنْ زائد د دے وَهُوَ مُؤْمِنٌ اوحال دا چه دے مؤمن وی حُکمه چه طاعت بے ايمانه قبول نهٔ دے فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا پس نه به وېرېږی په هغه ورځ له ظلمه يعنی له زيا تولود بدیو وَّلَا هَضْمًا (۱۱۲) اونه له شکست يعنی له کموالو د نيکيو وَكَذٰلِكَ او همدا سے لکه چه قصے کوو مونږه تاته د تيرو امو اَنْزَلْنٰهُ رالېږلے دے مونږه دا کتاب قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لوستے شوے په عربی ژبه وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ او بيا بيا راوړے دے مونږه په ده کښ مِنَ الْوَعِيْدِ له اياتو د وعيد يعنی د ويرولو لکه طوفان اور جفه (۱) اوصيحه اوخسف اومسخ او غرق اوباد اود نورشو لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ نبائی چه دوئ ځان وساتی له شرکه اَوْ يُحْدِثُ يا پيدا کړه د وعيد يا قرآن لَهُمْ ذِكْرًا (۱۱۳) دوئ له نوے پند يعنی په هغه عذابونو عبرت واخلی دوئ فَتَعٰلَى اللّٰهُ پس بلند شان دے خدائ له دے اقوالو د مشرکانو الْمَلِكُ الْحَقُّ چه بادشاه دے ثابت په ذات اوپه صفاتو خپلو کښ **روايت دے** چه جبريل عليه السلام

---

(۱) يعنی خبرے د شفاعت کو نکی ۱۲ (۲) رجفه يعنی زلزله په کا فرانو بخوا نو په سبب د تکذيب رسول خپل ته صيحه آواز سخت اوهيبتناك د جبريل عليه السلام خسف د وبيدل په زمکه کښ مسخ بدلول د صورت په بد شکل سره غرق د وبيدل په دريا ب کښ ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه

به ایتونه د قرآن راوړل او په رسول علیه الصلوٰة والسلام به ئے لوستل نو دهٗ به هم د ویرکه هیریدلو یادتیرتلوسم له جبریل علیه السلام سره لوستل په جلتئ نونازل شو وَلَا تَعْجَلْ اوجلتی مهٔ کوه بِالْقُرْاٰنِ په لوستو د قران مِنْ قَبْلِ اَنْ یُّقْضٰۤی بخواله هغه یُقْضٰۤی اِلَیْكَ چه ترسره کاوه شی تاته وَحْیُهٗ ذ وحی ددهٗ یعنی ترڅوچه جبریل علیه الصلوٰة والسلام ترے فارغ شوے نهٔ دے تهٔ مهٔ لوله بلکه غوږ ورته ایخے لره چه ستاهیر نه ئے مونږه نهٔ پریږدو وَقُلْ رَّبِّ اووایه ورته اے ربه خُمازِدْنِیْ عِلْمًا (۱۱۴) زیات کړه ماله جهته دپوهے یعنی پوهه مِ زیاته کړه وَلَقَدْ عَهِدْنَاۤ اوهرڅائینه په تحقیق پیغام کړے وو مونږه اِلٰۤی اٰدَمَ ادم علیه السلام ته مِنْ قَبْلُ بخواله دے چه دے ونے ته مهٔ نزدے کیږه فَنَسِیَ پس هیرے کړو دا امر وَلَمْ نَجِدْ اوبیا نه مونده مونږه لَهٗ عَزْمًا (۱۱۵) دهٔ لره استقامت اوصبر له منهٰی عنه وَاِذْ قُلْنَا اویادکړه هغه چه وویل مونږه لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا ملایکو ته چه سجده اوکړئ لِاٰدَمَ ادم علیه السلام ته فَسَجَدُوْۤا پس سجده وکړه اِلَّاۤ اِبْلِیْسَ مگر یو ابلیس چه ابوالجن دے اودے بخواله دئے له ملایکو سره به ووچه عبادت به ئے کولو خدائ اَبٰی (۱۱۶) منع ئے راوړه له سجدے فَقُلْنَا پس وویل مونږه یٰۤاٰدَمُ اے ادمه اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دے عَدُوٌّ لَّكَ دښمن دے تالره وَلِزَوْجِكَ اوجفت ستاله چه بی بی حوا دهٗ فَلَا یُخْرِجَنَّكُمَا پس خبردار چه ونهٔ باسی دے خامخا تاسے دواړه مِنَ الْجَنَّةِ له جنت څخه فَتَشْقٰی (۱۱۷) پس په مشقت کښ به پریږئ دقلبه کولود کرلود ریبلود غوبلولود باد ولود اړولود پخولو لوبیا چه زمکه له راغے نو یو سور غوایه له جنته راوستے شو قلبه به ئے پرے کوله اوخولے به ئے له وچولی څخه پاکولے اِنَّ لَكَ بیشکه مقرر دے تالره په دے جنت کښ اَلَّا تَجُوْعَ فِیْهَا داچه نهٔ به وږے کیږے ته په دے کښ وَلَا تَعْرٰی (۱۱۸) او نهٔ به برښنږے وَاَنَّكَ اوبیشکه ته چه ئے لَا تَظْمَؤُا فِیْهَا نهٔ به تږے کیږے په دے کښ وَلَا تَضْحٰی (۱۱۹) اونه به ډکرمی د نورخفه کوی څکه چه هلته نمر نشته **فائدہ** حاصل د مجموعے ددے کلام له یٰۤاٰدَمُ څخه تر لَا

له یعنی له هغه ونے نه چه دوئی منع کړے شوی وو له خوراکه دهغے ۱۲

تضعلی پورے دادے چه وکوره اے آدم خبردار اوسه چه شیطان دِ په مکراوفریب سره له انواعو درا څخه انواعُ دمخت اومشقت ته ونهٔ غورځوی ځکه چه دلته اصناف دمعیشت او دراحت تول بے سعی بے کلفته تیارامادہ پراته دی لکه چه متن کښ بیان شو اوهلته یوه ذره هم بے مشقته بے کلفته نهٔ میسر یږی نوخامخا له موجباتو دخروج څان خپل ساتے فَوَسْوَسَ پس وسوسه واچولہ اِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ دهٔ ته شیطان پس له دخولۓ په حیله سره په جنت کښ په دے شان قَالَ چه ووپل شیطان يٰٓاٰدَمُ اے آدم هَلْ اَدُلُّكَ ایا خبردارکړم تاعَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ په وني دخلود باندے یعنی په داسے وچه هرڅاچه دهغے میوه وخوړه نوهمیشه به جنت کښ وی اوهیڅوړے به ترنهٔ ووځۓ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى (۱۲۰) اوپه داسے بادشاهئ چه له سره زوال نه لری بیائے نورائے وست سجړے منهٔ له چه داده فَاَكَلَا مِنْهَا پس وخوړه دواړو له میوے دے وني فَبَدَتْ لَهُمَا پس بنکاره شودواړو ته سَوْاٰتُهُمَا عورات علیظه دوئ یعنی په مجرد څکلودهغه میوے سره جامے دجنت ترے والوتے اوبرښنډ شو وَطَفِقَا او ولګیدل دواړه يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا چه تپل بهٔ ۓ په دواړو عورتونو خپلو مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ نه پانړو دونو دجنت چه اینځرو وَعَصٰٓى اٰدَمُ اوے فرمانی وکړه اٰدم علیه السلام رَبَّهٗ خپل رب فَغَوٰى (۱۲۱) له رب خپل پس چپ شوله مطلوب خپل چه خلود وو یاله مامور به یاله سمے لارے بیاپوهه شو په عصیان خپل نوبیه توبهٔ ے مداومت وکړو اونبی اٰخرالزمان ۓ رب ته شفیع کړو نو مغفرت ورته وشو ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ بیاغوره کهٔ دے رب خپل فَتَابَ عَلَيْهِ پس قبوله ۓ کړه توبه دهٔ وَهَدٰى (۱۲۲) اولارۓ وښه ورته وخوده دوام په توبے قَالَ اهْبِطَا ووپل خدائ دوئ ته چه څئ کوزشئ زمکے ته مِنْهَا جَمِيْعًا ټول دغه جنت ټول سره گډ یعنی تهٔ اوابلیس یا تاسے دواړه سره له هغه اولاد خپل چه ستاسے په پښت کښ دی بَعْضُكُمْ چه بعضے ستاسے یعنے اولاد ستاسے لِبَعْضٍ عَدُوٌّ له بعض نورو سره

له یعنی په اتسامو دخوشحالئ سره ۱۲ ۲ له له اسبابود وتو له جنت آباده نه ۱۲ ۳ یعنی هغه وني لږه چه دوئ ترخداۓ پاڼ حکیم منع کړی وو ۱۲ ۴ یعنی همیش والے په جنت کښ ۱۲ ۵ یعنی له هغه خیزه چه امر کړے شوے دو ورته په هغه سره ۱۲

به دشمن وی لکه چه هغه عداوت په مخلوق کښ واقع دے فَاِمَّا یَاْتِیَنَّكُمْ پس کهٔ چرے راغے تاسے لره خا مخا په هغه وخت چه زمکه کښ وئ اودا اِمَّا په اصل کښ اِنْ مَا دے بیا اِنْ شرطیه مدغم شوے دے په مازائده کښ مِنِّیْ هُدًی هٔ له ما راهمائی چه کتاب او شریعت دے یارسول فَمَنِ اتَّبَعَ پس هرچا چه پیروی وکړه هُدَایَ دا راهمائی خُما فَلَا یَضِلُّ پس نهٔ به بے لارے کیږی په دنیا کښ وَلَا یَشْقٰی ﴿۱۲۳﴾ او نه به بدبخت کیږی په آخرت کښ وَمَنْ اَعْرَضَ او هرڅوك چه څنګ وکهٔ عَنْ ذِكْرِیْ له کتاب یله له هدایته خُما چه موجب دے د یادکیږی خُما فَاِنَّ لَهٗ پس بیشکه مقرر دے دهٔ لره مَعِیْشَةً ضَنْكًا معاش ننګ سخت په دنیا کښ وَنَحْشُرُهٗ اورا ولاړ به ځکړو یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په صرځ د قیامت اَعْمٰی ﴿۱۲۴﴾ روند د سر په سترګو یا د زړه په سترګو قَالَ رَبِّ نو وبه وائی دے چه اے ربه خُما لِمَ حَشَرْتَنِیْ اَعْمٰی ولے دِ یا څولم زهٔ روند اوصیغه د ماضی ئے راوړه د پاره د تحقیق دوقوع وَقَدْ كُنْتُ بَصِیْرًا ﴿۱۲۵﴾ اوحال داچه په تحقیق وُم زه بینا په دنیا کښ قَالَ كَذٰلِكَ نو وبه وائی ورته خدائی چه همداسے وه لکه چه ته وائے خو اَتَتْكَ اٰیٰتُنَا راغلی ووتاته اٰیا تونه د کتاب یا علامے د وحدانیت خُمونږه فَنَسِیْتَهَا پس په هیرکښ واچول تا چه نهٔ دے عمل پرے وکهٔ او نهٔ دے عبرت پرے واخستهٔ هیڅ قدر وَكَذٰلِكَ الْیَوْمَ او په مثل د هیر ولو ستا نو رځ تُنْسٰی ﴿۱۲۶﴾ هیر به کړے شے تهٔ هم یعنے پرے به خودے شے په او رکښ وَكَذٰلِكَ او په مثل د جزا ورکولو خُمونږه هغه چا لره چه څنګ کوی له ذکره خُمونږ نَجْزِیْ جزا ورکوو مونږه مَنْ اَسْرَفَ هغه چا لره چه د حده تیریږی یعنی کافر شو وَلَمْ یُؤْمِنْ او ایمان ئے رانهٔ وړو بِاٰیٰتِ رَبِّهٖ په ایتو د رب خپل وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ او هر اُئینه عذاب د اخرت چه دے اَشَدُّ وَاَبْقٰی ﴿۱۲۷﴾ دیر سخت دے او پر او ږد دے له عذابه د دنیا او هم له عذابه له قبره اَفَلَمْ یَهْدِ لَهُمْ ایا سمه لار ونهٔ خوده دے مشرکانو د قریشو ته د خبرے چه كَمْ اَهْلَكْنَا دیر هلاك کړی دی مونږه قَبْلَهُمْ مِنَ الْقُرُوْنِ پخوا له دوئ له تیرو قرونو نو لکه عاد ثمود مُتفکات او داسے نور دیر یَمْشُوْنَ چه تیریږی د اقریش همیشه فِیْ مَسٰكِنِهِمْ په مینو د هغه هلاك

شو یو کښی او ویلے ئی ثارد هلاک دهغوی اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے هلاک دهغوی کښ لَاٰیٰتٍ نښانے لَّاُولِی النُّهٰی (۱۲۸) هغه اُولی النهی دی چه عبرت اخستلو پاره دخپلو عقلونو دخالص عقلونو وَلَوْلَا كَلِمَةٌ او که چیرے نۀ وے هغه کلمه سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ چه پخوا و یلے شوے وه له طرفه دپروردګار ستا چه عذاب دده اُمت په دُنیا موقوف دے لَكَانَ لِزَامًا نو هرا ئینه ووبه دا عذاب همیشه لازم له دوئی سره وَاَجَلٌ مُّسَمًّى (۱۲۹) او وخت نۀ وے مقرر په نامه کړے شوے او دا عطف دے په لفظ كَلِمَةٌ یعنی که هغه کلمه او وخت مقرر دپاره دعذاب نۀ وے نو اوس به عذاب وررلے راغلے وو فَاصْبِرْ عَلٰى مَا پس صبر کوه اے رسوله په هغه خبرو یَقُوْلُوْنَ چه والئی ګے دوئی اود احکم بیا منسوخ شوے دے په آیت د سیف سره وَسَبِّحْ او تسبیح وایه بِحَمْدِ رَبِّكَ سره د ثنا درب خپل یعنی مونځ ګذاره ده له قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ پخوا له ختلو دنړۍ یعنی دصبا مونځ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا او پخوا له پریوتلو دنړۍ یعنی دماسپښین او دمازدیګر وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ او په بعضے اوقاتو کښ له ساعتونو د شپے فَسَبِّحْ پس مونځ ګذاره یعنی ماښام او نماز خفتن بیا دصبا اودمازدیګر دواړه مونځونه ئے دپاره دډیر اهتمام مکرر کړه په دے عبارت سره وَاَطْرَافَ النَّهَارِ او په دواړو څنګلو نو دورځے کښ اود لته مراد له جَمْعٌ دوه دی لَعَلَّكَ تَرْضٰى (۱۳۰) بنائی چه راضی شے تۀ په هغه اجر چه درکړے کیږی په دے کار وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اومهٔ اوږده دے کوی دواړه سترګے خپلے اِلٰى مَا هغه شیز ته مَتَّعْنَا بِهٖۤ چه معاش ورکړے دے مونږه په هغه شیز اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ اصنافونه له دوئی لکه مجوسی او وثنی او کتابی اودا نور شوچه ورکړے دے مونږه دوئی لره زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ځیرنت او ښائست دده دا ورځۀ ژوندون لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ترڅو دپاره دده چه وآزمایو مونږه دوئی په دے زیب کښی یا په فتنه کښ واچوو دوئی وَرِزْقُ رَبِّكَ او روزی درب ستا چه ده تا لرمۀ درکړے ده له نبوت او له علمه خَيْرٌ وَّاَبْقٰى (۱۳۱) هغه ډیره غوره او ډیره اوږده ده له هغے روزئ چه دوئی له ورکړے شوے ده وَاْمُرْ اَهْلَكَ او امر کوه په اهل بیت یا په اُمت خپل بِالصَّلٰوةِ په کولو د مانځه پنځه

۱۲ یعنی و یلے شوے په ازل کښ ۱۲ ۵ یعنی ذکر کړے شوی دی اطراف چه جمع ده اومراد ترے دوه دی ۱۲

وارہ وختہ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا اوتہٗ پہ خپلہ هم پرے کلک ولاړ اوسہ او در وزئ غم لہ سرہ مہ کوہ ځکہ چہ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا نہٗ غواړو مونږہ لہ تا روزی نہٗ ستا او نہ داهل بیت ستا بلکہ نَحْنُ نَرْزُقُكَ مونږہ روزی درکوو تالرہ او عیال لرہ دِهم نو تہ زړہٗ خپل لہ روزئ فارغ لرو او متوجہ اوسہ هیشہ کار د آخرت تہ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى (۱۳۲) او بہ خاتمہ چہ دہ اهل پرهیزگار لرہ دہ او **روایت دے** چہ عیال درسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم باندے بہ کلہ لوږے غلبہ کړہ نو ما مورہ بہ ئے کړہ پہ نزول پہ مواظبت د صلوٰۃ او د اتبرائیت بہ ئے ولوست وَقَالُوْا او وائی دا کفار لَوْلَا يَاْتِيْنَا چہ ولے نہٗ راوړی محمد صلے اللہ علیہ وسلم مونږ تہ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ط پہ کومہ دا سے معجزہ چہ دلالت کوی پہ نبوت د دہ لہ طرفہ درب خپل اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا ایا نہٗ دے دلیل او برهان پہ هغہ عقائدو او پہ احکامو کلیو فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى (۱۳۳) چہ پخوانیو صحیفوکښ راغلی وو لکہ تورات او انجیل او نور کتب سماویہ شو یعنی دا قرآن لابس نہٗ دے د دوئ لہ جهتہ د معجزے پرے سبب چہ دے مشتمل دے پہ خلص د عقایدو او د احکامو کلیو د پخوانیو کتابونو ټولو وَلَوْ اَنَّآ اوکہٗ چرے بیشکہ مونږہ چہ یو اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ هلاک کړے وے مونږہ دوئ پہ عذاب سرہ مِّنْ قَبْلِهٖ پخوا لہ رسول صلے اللہ علیہ وسلم نہ یا لہ قرآن یالہ بیّنے چہ پہ معنیٰ د برهان د ہ لَقَالُوْا رَبَّنَا نو هر اثینہ ویل بہ د وئ چہ اے ربہ ځمونږہ لَوْ لَآ اَرْسَلْتَ راوړو نہ لیږلہٗ اِلَيْنَا رَسُوْلًا مونږ تہ کوم استاذے چہ مونږہ ئے بللی وی ستا طاعت تہ فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ چہ پیروی کړے وے مونږہ د ایتونو ستا مِنْ قَبْلِ اَنْ پخوا لہ هغہ نَّذِلَّ چہ خراب ذلیل کیږو مونږہ پہ دنیا کښ پہ قتل او پہ سبی سره وَنَخْزٰى (۱۳۴) او رسوا او شرمنده کیږو پہ آخرت کښ پہ دخول د دوزخ سره قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ وویلہ تہ چہ هر یو لہ مونږہ او لہ تا سے منتظر دے د بل حال تہ فَتَرَبَّصُوْا پس منتظر اوسئ فَسَتَعْلَمُوْنَ پس زر دے چہ معلوم بہ کړئ تاسے یعنی پہ قیامت مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ چہ کوم یو دے لہ مونږہ او لہ تاسے څښتن[1] دسے لار

[1] یعنی امر بہ ورتہ وکړو رسول اللہ علیہ وسلم پہ هیش والی دمانحہٗ ۱۲

ع ۱۷

وَمَنْ اَهْتَدٰی ﴿۳۵﴾ او کوم یو دے چه په سمه لاره روان دے مونږه کهٔ تاسے ـ

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاءِ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۱۱۲ رُكُوْعَاتُهَا

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ نزدے شوخلقو ته وخت د حساب د دوئ یعنی مشرکانو ته وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ اوحال دا چه دوئ په غفلت کښ ډوب پراته دی له دغه حساب مُّعْرِضُوْنَ ﴿۱﴾ څنګ کونکی دی له ځان تیار ولو په ایمان سره مَا يَاْتِيْهِمْ نه راځی دوئ لره مِّنْ ذِكْرٍ هیڅ پند او نصیحت مِّنْ رَّبِّهِمْ محمد ﷺ له ربه خپله نوے راپیدے شوے اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ مګر واوری دوئ هغه پند له پیغمبره خپله يَلْعَبُوْنَ ﴿۲﴾ وحال دا چه دوئ لوبے او مسخرے کوی وس پورے لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ط په دے حال کښ چه غافل وی زړونه د دوئ له تامله او تفکره په معاینو دهغه کښ اومشغول وی په زینت د دنیا وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ﷺ اوپټوی دا کافران راز خپل الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ﷺ هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے اودا الذین بدل دے له واو د اَسَرُّوا هَلْ هٰذَآ ایا دے دا یعنی محمد (علیه الصلوة والسلام) یعنی نهٔ دے اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ مګر یو اډمی دے په شان ستا سے چه خوړئ اوڅښئ اوخوب کوئ لکه تاسے نو ستاسے اوده ډیڅ فرق نشته نو بنائی چه رسول د ملک وی اوده ځکه خوغیرله سحره نور هیڅ نشته اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ ایا پس راځئ تاسو هغه جادو له چه ده ځکه دے وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۳﴾ اوحال دا چه تاسو کورئ چه دا جادو دے قٰلَ رَبِّيْ نو ووایل پیغمبر صلے الله علیه وسلم رب ځما چه دے يَعْلَمُ الْقَوْلَ پوهیږی په گفتار هریو ویونکی فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ځه په آسمان کښ وی اوکه په زمکه کښ پټ وی اوکه بنکاره وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۴﴾ اوکه اوریدونکے دانا دے په اسرار دوئ بَلْ قَالُوْا بلکه وائی دوئ یعنی څنګ کوی له هغه پخوانی خبرے او نورے رنګارنګ خبرے وائی نوکله وائی چه اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ګډ وډی د خوبونو یعنی څوهیڅ ئے لیدلی دی په خوب کښ اوکمان ئے دوحی پرے کړے دے بیا وائی چه دا سے هم نه ده بَلِ افْتَرٰىهُ بلکه دا ځه ده چه دا ئے دروغ ترلی دی ده ځانه په خدائی بیا وائی چه دا سے هم ده

بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ﷺ بلکه داسے دہ چه دے شاعر دے چه شعر وائی له خانه اوبیا نسبت ئے کوی خدائی ته اوکه له دے درے وار وخبر ویوه هم نهٔ وی اودے په ربنتیا نبی وی فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ پس پس میبایدچه راڈ وړی دے مونږه لره یوه غټه معجزه كَمَا أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ ⑤ لکه چه رایږے شوی وو پخوانی پیغمبران علیهم الصلوة والسلام له معجز و سره لکه اوښه اوهسا اوید یضا اوږغول د پرندو اوبرګو اوژوندی کول د مړیو. بیا رب العزت وائی په جواب د دوئ کښ چه مَا آمَنَتْ ایمان نهٔ وو راوړے په هغه بنکاره غټو معجزو چه هم دوئ به غوښتے وے قَبْلَهُمْ پخواله دے مشرکا نو د قریشو مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ځ له اهل د هیڅ بناره چه هلاك کړی دی مونږه اهل دهغهٔ یعنی پخوانیو امم و به معجزه وغوښته اوبیا پس له ظهوره به ئے ایمان رانهٔ وړ هٔ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ⑥ ایا پس دوئ به ایمان راوړی که هم هغسے معجزه وسر ته بنکاره کړو وَمَا اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اونهٔ وولیږلے مونږه پخوا له ته تا اے رسوله! اِلَّا رِجَالًا مګر سړی یعنی بنی اډم نه ملائك نُوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ چه وحی به وکړه مونږه دوئ ته د پاره د جنسیت چه له جهته د اُلفته فائده ترے واخلی فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ پس وپوښتئ تاسے اهل کتاب یعنی عالمان د یهودانیو کتابونو چه تورات اوانجیل دے چه رسولان به پخوا بنی اډم وو اوکه ملائك اِنْ كُنْتُمْ كهٔ چرے یئ تاسے لَا تَعْلَمُوْنَ ⑦ چه نهٔ پوهیږئ په دے کار پخپله اوکهٔ تاسے داسے وایئ چه کهٔ دے پیغمبر وے نوخوب اوخورالئ به ئے نهٔ کولو نوپخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام خو خورالئ کولولکه چه وائی وَمَا جَعَلْنٰهُمْ اونهٔ ووکړی مونږه دا پیغمبران جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ داسے جُثے چه نه به ئے خوړو طعام هیڅ ځے وَمَا كَانُوْا اونهٔ وو دوئ خٰلِدِيْنَ ⑧ همیشه ژوندی په زمکه کښ چه نهٔ به مړه کیدل ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ بیا ربتینے ښکړه مونږه له دوئ سره هغه وعده خپله چه غلبه د موحدانو او مغلوبوالے د مشرکانو وو فَاَنْجَيْنٰهُمْ پس وبه ساتل مونږه دا پیغمبران له هغه عذابه چه په قوم به ئے راغے وَمَنْ نَّشَآءُ اوبل هر هغه څوك هم چه اراده به وه څومونږه دهغه دساتلو یعنی مؤمنان او بل هر هغه څوك چه ساتلوکښ ئے حکمت وو وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِيْنَ ⑨ اوهلاك به کړه مونږه له حده تیرید ونکی په کفر او

معاصیو سره لَقَدْ اَنْزَلْنَا هر اړینه په تحقیق رالیږلے دے موږه اِلَيْكُمْ كِتٰبًا ناسے نه اے
ټولیه د قریشو لوکتاب چه قرآن دے فِيْهِ ذِكْرُكُمْ ط چه په هغه کښ نیک نامی او یادکاری یا
پند او وعظ ستاسے دے یا ژبه ستاسے ده اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰﴾ ایا پس عقل نه کوئ تاسے وَكَمْ
قَصَمْنَا او ډیر ټوټے ټوټے کړی دی موږه په هلاك سره مِنْ قَرْيَةٍ له بنار او ښویعنی له اهل
ے كَانَتْ ظَالِمَةً چه وو دا اهل د دے قریے ظالم یعنے کافر وَّاَنْشَاْنَا بَعْدَهَا اوپیدا کړه موږه
پس له هلاکولو دهغهٔ قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿۱۱﴾ بل قوم په ځائے د دوئ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا پس هر کله چه بیا موږه
دوئ یعنی وړوبه رسیدهٔ بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ عذاب ځموږه ناګاه دوئ به وو مِّنْهَا یَرْكُضُوْنَ ﴿۱۲﴾
له هغه عذاب څخیدل به په جلتئ او منډے به ئے وهلے تر لکه چارپایان نو ملائکو به وړته
ووېل په طریقه د مسخرو سره لَا تَرْكُضُوْا مه ځئ وَارْجِعُوْٓا اِلٰى مَآ اوبیرته وګرځئ هغه څیز
ته اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ چه بنهٔ معاش درکړے شوے وو تاسے ته په هغه کښ چه عَبید او اموال او
نقود او اجناس ستاسے وَمَسٰكِنِكُمْ او مینوخپلو لره لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۳﴾ بنائی چه پوښتیدے
به شئ تاسے چه هغه اموال او مساکن ستاسے څهٔ شوه چه حال درته معلوم وی قَالُوْا
يٰوَيْلَنَآ وبه وائی دوئ چه اے افسوس دے موږلره اِنَّا بیشکه موږه چه يَوْكُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴﴾
وو موږه ظالمان فَمَا زَالَتْ پس همیشه به وی تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ دا بلنه د دوئ یعنی دا
لفظ دیٰوَيْلَنَا به ئے هم وخت په خولے کښ وو حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ تر هغه پورے چه وګرځول
موږه دوئ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿۱۵﴾ ریبلی یخ پراتهٔ یعنی په توره به دے د ریبلے شولے که
کښت چه په لوړ سره ریبلے کیږی وَمَا خَلَقْنَا او نهٔ دے پیدا کړے موږه السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ
دا آسمان او زمکه وَمَا بَيْنَهُمَا او هر هغه چه په مینځ د دوئ کښ دی لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ په دے حال
کښ چه لوبے کونکی وو موږه لَوْ اَرَدْنَآ که ارادهٔ وی ځموږه اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا د دے چه
ونیسو موږه یوه لوبه یعنی داسے څیز چه لوبے به کاوهٔ شی او طبع وړته میلان کوی لکه ښځهٔ
او فرزند شو لَاتَّخَذْنٰهُ نو هر اړینه نیولے به وو موږه هغه څیز مِنْ لَّدُنَّآ تاتے له جانبه خپله
یعنی له هغه څیز نو چه له موږه سره لایق وو لکه حورے یا ولدان یا ملائك نه مریم او عیسے

علیه الصلوٰة والسلام لکه چه وائی دوئ اِنۡ کُنَّا فٰعِلِیۡنَ ﴿۱۷﴾ کهٔ چرے وے موبنزه کونکی دڈکار یا دا اِنۡ نافیه دے یعنی لیکن نهٔ وو موبنزه کونکی دڈے کار بیائے اعراض وکهٔ له لهوه اوله نیځے او له فرزنده چه موبنز نه لوبے کوو او نه بنځه اوفرزندبیدا کوو لَوۡ اَرَدۡنَاۤ اَنۡ نَّتَّخِذَ لَهۡوًا لَّاتَّخَذۡنٰهُ مِنۡ لَّدُنَّاۤ اِنۡ کُنَّا فٰعِلِیۡنَ بَلۡ نَقۡذِفُ بِالۡحَقِّ عَلَی الۡبَاطِلِ بلکه ویشتل کوو په حق سره چه ایمان یا اسلام یا قرآن یا مطلق خیر دے عَلَی الۡبَاطِلِ په باطل چه کفر یا شرك یا شیطان یا مطلق شر دے فَیَدۡمَغُهٗ پس محوه کا داحق دعه باطل فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ پس ناڅاپه چه دا باطل بیا هلاك اوورك وی (وله موبنزه سره دالایق دی وَلَکُمُ الۡوَیۡلُ اوتاسے له افسوس دے اے کفارو مِمَّا تَصِفُوۡنَ ﴿۱۸﴾ له هغه خیزه چه ثابتوئ لے تاسے خدائ له له نیځے اوله فرزنده وَلَهٗ مَنۡ اوخاص هم دهٔ له دی په طریقه دمملوکیت سره هرهغه څوك فِی السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونوکښی دی له علویاتو وَالۡاَرۡضِ اوپه زمکه کښی دی له سفلیاتو وَمَنۡ عِنۡدَهٗ اوهغه څوك چه دهٔ څخه دی له جهته دمکان چه ملایك دی لَا یَسۡتَکۡبِرُوۡنَ کبر اوسرکشی نه کوی عَنۡ عِبَادَتِهٖ له بندگئ دهٔ وَلَا یَسۡتَحۡسِرُوۡنَ ﴿۱۹﴾ اونهٔ ستومانه کیږی له عبادته ددهٔ یوطرفة العین یُسَبِّحُوۡنَ الَّیۡلَ چه تسبیح وائی هم دشپے وَالنَّهَارَ اوهم دورځے لَا یَفۡتُرُوۡنَ ﴿۲۰﴾ چه نه تړے سستی کیږی اونه ضعف کیږی **حاصل** داچه هغه ملایك چه هم مقرب دی خُما درکاه ته اوپه سجود (سجده کونکی ۱۲) دی شپه اوورځ ماته پس هغوئ سره له دومره مرتبے کبر اوستومانی نهٔ کوی خُمالهٔ عباد ته اوشپه اوورځ تسبیح خُما وائی اویوان سستی پکښی نهٔ کوی نوتاسے وله سرکشی کوئ له دهٔ اَمِ اتَّخَذُوۡۤا بلکه نیولے یعنی سازکړے دے دوئ اٰلِهَةً مِّنَ الۡاَرۡضِ خدایان له زمکے یعنی له هغه څیزونوچه لجنه دزمکے دی لکه سره زر اوسپین زر اوتیږه اولرګی هُمۡ یُنۡشِرُوۡنَ ﴿۲۱﴾ چه دا الهه څوندی کوی مړی په دے کښی راښکل اوشرمول دی د مشرکانوچه تاسودابتان خدایان یوئ اولایق دخدایئ خوهغه څوك وی چه مړی ژوندی کولے شی اوتاسے بنه پوهیږئ چه دوئ په هیڅ قادر نهٔ دی اوسره له دے تاسے لاس تړے نهٔ اخلئ لَوۡ کَانَ فِیۡهِمَاۤ که چرے وے په دے زمکه اواسمان کښی اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ خدایان غیرله الله جل شانهٗ لَفَسَدَتَا نو هرائینه خراب

شوی به وو دواړه په سبب د اختلاف د دوئ عادة فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ پس پاکی ده هغه خدای لره
رَبِّ الْعَرْشِ چه څښتن د عرش دے عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ له هغه نا لایقو څیزونو چه د دوئ منسوب کوی
د برته لکه بنځه او فرزند لَا يُسْـَٔلُ نه پوښتیدے کیږی دے عَمَّا يَفْعَلُ له هغه کاره چه کوی ئے دے
حُکمه چه حکمت هم په هغه کښ یا له جهته د عظمته د دهٗ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴿۲۳﴾ او د دوئ پوښتیدے
کیږی له اقوالو او له افعالو او له احوالو څخه چه د دوئ مملوکان دی او مملوك هیڅوے پخپل
سر هیڅ کار نه شی کولے اَمِ اتَّخَذُوْا بلکه نیولی یعنی پیدا کړی دی د دوئ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً د غیر له
د نور خدایانو قُلْ هَاتُوْا او وایه اے رسوله د دوئ ته چه راوړئ برهانکم څرګند دلیل خپل عقلی یا
نقلی او داوړو ته هیڅ نه شته حُکه چه عقلی خو بخوا بیان شو په لَوْ كَانَ کښ او نقلی دا دے چه هیڅ
پیغمبر غیر له توحید او تنزیه په بل خهٔ نه دے ما مور شوے لکه چه وائی هٰذَا ذِكْرُ مَنْ دے
پند دهغه چا مَّعِيَ چه له ما سره دی یعنی امت حُما یعنی قرآن دے وَ ذِكْرُ مَنْ او د غه دے
پند دهغه چا قَبْلِيْ ط چه پخوا له ما تیر شوی دی یعنی د امتونو د تیرو پیغمبرانو چه تورات او انجیل
د نوراښی او د غه پتول ولیتوئ چه هر یو وارد دے په توحید دخدائ او په نفی د شریکانو کښ، بیا
هرکله چه دوئ د اخبره ونهٔ منله نو څنګ لے ترے وکهٔ او دا سے وویل چه بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات
د دوئ چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ الْحَقَّ نه پوهیږی په حق چه توحید دے یا قرآن دے فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾
پس دوئ څنګ کونکی دی له توحیده یا له متابعت د رسول علیه الصلوٰة والسلام وَمَآ اَرْسَلْنَا
او نهٔ وو لیږلے موښه مِنْ قَبْلِكَ پخوا مِنْ رَّسُوْلٍ هیڅ استاذے اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ مګر چه پیغام
به وکهٔ موښه هغهٔ ته اَنَّهٗ چه بیشکه شان دادے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا نشته معبود برحق
هیڅوك مګر زهٔ یم پوازے فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ پس عبادت کوئ هم حُما و قَالُوْا اووائی خزاعه چه
یو قوم دے له عربو اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا نیولے یعنی پیدا کړے دے خدائ فرزند چه دوئ وائی
دا ملائك لونه دی د خدائ سُبْحٰنَهٗ ط پاك دے دے له دغه او دا ملائك فرزندان نهٔ دی
بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ بلکه دوئ بندګان دی نوازلی په عزت لَا يَسْبِقُوْنَهٗ چه نهٔ مړے کیږی

له یعنی عادت هر وخت زمان هم دا دے چه دوه بادشاهان په یو مکان کښ نه جمع کیږی ۱۲

په خدائی بِالْقَوْلِ په خبرے کولو سره یعنی بے اذنه ددۀ هیڅ ئے نۀ غږ پیږی نو طمع د شفاعت ترے پکار نۀ ده بے اذنه وَهُمْ بِاَمْرِهٖ او دوئی خاص په امر ددۀ سره يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ عمل کوی او بے امرۀ هیڅ نۀ شی کولے يَعْلَمُ مَا پوهیږی او معلوم دے ددۀ ته هرهغه بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ چه مخکښ دی ددوئی وَمَا خَلْفَهُمْ او هرهغه چه شا ته دی ددوئی له عملونو ئے وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ او سوال نۀ کوی دوئ خدائ ته دهیچا پاره اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى مګر هغه چا د پاره چه راضی وی ترے خدائ وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ او دوئی له ویرے ددۀ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ لرزان او ترسان وی وَمَنْ يَّقُلْ او هرهغه څوك چه ئے وویل مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ له دوئی چه بے شکه زۀ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ خدائ یم غیر له هغۀ فَذٰلِكَ پس دا قایل چه نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ جزا به ورکوو مونږه ددۀ له دوزخ كَذٰلِكَ هم دا سے لکه چه نَجْزِي د دعویٰ کونکی د خدائ ته جزا ورکوو نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾ ع جزا به ورکوو ظالمانو لره په عبادت د غیر اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ ایا نۀ وینی هغه کسان كَفَرُوْٓا چه کافر دی اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ دا چه بیشکه دا اسمانونه اوزمکه چه دی كَانَتَا رَتْقًا وو دواړه سره ضم پیوسته فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ پس بیل کړۀ مونږه سره دواړه نو یا اول یوخیز وو مجتمع بیا مونږه بیل کړۀ په رنګارنګ اشکالو او خواصو سره او یا داچه اول اسمانونه اول یو اسمان وو بیا مونږه بیل کۀ او ترے اُوۀ مړکړۀ سره ممتاز په حرکا تو مختلفو اوهم دا سے زمکه هم اوه طبقے کړه مونږه په اختلاف د کیفیاتو او داحوالو سره او یا دواړه اول سره پیوسته وو بے فرجے بیا بیل بیل کړۀ سره مونږه اوهوا مو په مینځ کښ پیدا کړه او یا اوچ کلک وو دواړه چه نۀ له هغۀ باران وریږیدۀ اونه له دے ځکه زرغونیدے بیا وچیدل مونږه دواړه چه له هغه باران وُوریده او دے گیاه زرغونه شوه او رتق ضم دے اوفتق فصل دے او دلته دواړه په معنیٰ د مفعول دی یعنی مرتوق او مفتوق وَجَعَلْنَا اوګرځولے دے مونږه مِنَ الْمَآءِ له او بو څخه كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ هر څیز چه ژوندے دے اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۰﴾ ایا پس ایمان نۀ راوړی سره له ظهوره د دے قدرت وَجَعَلْنَا اوټک وهلی دی مونږه فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ په زمکه کښ میخونه یعنی غرونه اَنْ تَمِيْدَ بِهِمْ د پاره د دے چه نۀ خوزوی دا ځمکه او دا په اصل کښ لټ تمید بهم چه لام او لا ترے حذف شوی دی وَجَعَلْنَا فِيْهَا او سازے کړے دی مونږه په دے زمکه یا غرونو کښ فِجَاجًا سُبُلًا لارے لارے

او سبلا بدل دے له فجاج العلهم یهتدون (۳۱) سم بے کلفته ورسیږی مقصود خپل ته وجعلنا السماء اوحر رکړیدے مونږه اسمان سقفا محفوظا ساتلے شوے له لویدو لو وهم عن ایتها اود انکفار له هغه دلایلو چه اسمان کښ دی په وجود دصانع لکه نمر اوسپوږمۍ اوستورۍ او دآباقی عجائبو اوغرائبو شو معرضون (۳۲) څنګ کوونکی دی وهو الذی اودے هغه قادر مطلق دے چه په حکمت بالغه سره خلق اللیل پیدا کړے ے ده شپه چه په آرام شی پکښ دوئ اوستومانی دتیرے ورځے وکاږی والنهار اوورځ هم چه کسب اومعاش پکښ وکه دوئ والشمس اونمر هم چه رنړا کوی دورځے والقمر ط اوسپوږمۍ هم چه رنړا کوی دشپے کل فی فلک داتول په اسمان کښ یسبحون (۳۳) لامبو مۍ یعنی دانمر اوسپوږمۍ دآسمان کښ جلتی روان دی په اسمان کښ لکه لامبوزن په سینه کښ

روایت دے چه کفار وهرکله وویل چه نتربص به ریب المنون یعنی انتظار به کوو مونږه ده ته دمرګ یعنی هرکله چه دے هم وفات شۀ نو اینے اوخوشحالی به پرے کوو چه داخر ګله رسول ووجه دے هم وفات شو نو نازل شۀ وما جعلنا لاونه دے مقرر کړے مونږه لبشر هیڅ بشر لره من قبلک الخلد ط ایخوا له تا همیشه والے په دنیا کښ افائن مت ایا پس کهٔ چرے وفات شوے تهٔ فهم الخالدون (۳۴) پس دوئ ګوندې همیشه پکښ پاتے کیدونکی دی یعنی نهٔ دی نو په مړلو ثمانت پکار نه دے لکه چه شاعر ویلے دی۔

شعر

فقل للشامتین بنا افیقوا ∴ سیلقی الشامتون کما لقینا

کل نفس هر نفس چه دے ژوندے په دنیا کښ ذائقة الموت ط څکونکے دے مرلو یعنی مرے به خامخا ونبلوکم بالشر اوازمیو مونږه تاسے کله په سختئ لکه فقراوغم اورنځ والخیر فتنة ط اوکله په راحت لکه غنا اوخوشحالی اومحتبه ازمیلو سره اوادا مصدر مفعول مطلق دنبلوئ من غیر لفظه والینا ترجعون (۳۵) اوبیا به مونږ ته راوستے کیږئ تاسے پوتل دپاره دحساب اودجزا

روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په توله دکفار وتیرشو نو ابوجهل ورپورے وخندل اومجلسیانو ته ے وویل چه ګوری دا پیغمبر دے دبنی عبد مناف نو نازل شو واذا رآک اوپه هغه وخت چه وویني تا الذین کفروا هغه کسان چه کافردی ان یتخذونک نونهٔ نیسی دوئ تا

اِلَّا هُزُوًا ما مکر جائی دمسخرے او وائی دوی اَهٰذَا الَّذِیْ ایا دا هغه څوك دے یَذْكُرُ الِهَتَكُمْ چه یادوی خدایان ستاسے په بدئی اوپه غیب په قرینه دحال سره وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ اوحال داچه یادوئی په یادکیږی دخدائی په وحدانیت سره هُمْ كٰفِرُوْنَ (۳۶) دوئی منکران دی **روایت دے** چه هرکله نضربن حارث به دیره تلوار کوله په راتلو دعذاب کښی نو نازل شه خُلِقَ الْاِنْسَانُ پیدا کړے شویدے ادمی مِنْ عَجَلٍ له جلتئ دامبالغه ده یعنی دا ډیر تلوارکښتے دے چه ته به وائے عین جلتی دے لکه چه عرب وائی کریم ته خُلِقَ مِنَ الْكَرَمِ سَاُرِیْكُمْ ایاتِیْ زه دے چه وبه ښایم تاسو ته نښے دعقوبت خپل په دنیا کښی چه واقعه دبدر وه اوپه اخرت کښی په عذاب ددوزخ سره فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ (۳۷) پس تلوار مهٔ کوئ په ما په غوښتلو دعذاب وَیَقُوْلُوْنَ اووائی داکافران مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ چه کله بدا وعده یعنی عذاب قیامت اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ (۳۸) كهٔ چرے یئ رښتینی په دے کښی چه عذاب به درته راشی لَوْ یَعْلَمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا كهٔ چیرے پوهیدے هغه كسان چه كافردی حین لَا یَكُفُّوْنَ هغوی نه چه نهٔ به شی لرے کولے عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ له مخونو خپلو اوس ددوزخ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ اونه له شاكانونو خپلو څكه چه اوس به احاطه پرے كړے وی وَلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ (۳۹) اونه به دوئی سره مدد کولے شی اوجواب دلومحذوف دے اوتقدیر ئے داسے دے چه كه چرے پوهیدے دوئی په دے تیرو درے واړو كارونو نو دا عذاب به ځے نه غوښتے بَلْ تَاْتِیْهِمْ بلكه رابه شی دا قیامت دوئی تهٔ بَغْتَةً ناڅاپه په بے مقدے فَتَبْهَتُهُمْ پس حیران به كړی دا قیامت دوئی فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ رَدَّهَا پس طاقت به نهٔ لری دوئی دلرے کولو دهٔ قیامت له خپل خانه وَلَا هُمْ یُنْظَرُوْنَ (۴۰) اونه به دوئی له مهلت ورکولے شی دپاڅه د توبے او دعذر وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ اوهرا ئینه په تحقیق مسخرے كړے شویدی بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ په ډیرو رسولانو پورے پخوا له تانو تهٔ هم پرے خفگان مهٔ كوه فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ پس راكړو شو په هغه كسانو سَخِرُوْا مِنْهُمْ چه مسخرے كولے دوئی په هغه رسولانو پورے مَّا كَانُوْا بِهٖ جزا دهغه خیزونوچه وُدوئی په هغه پورے یَسْتَهْزِءُوْنَ (۴۱) مسخرے كولے قُلْ ووایه اے دسولهٔ دے مستهزئینو تهٔ مَنْ یَّكْلَؤُكُمْ كهٔ څوك دے چه ساتی تاسے بِالَّیْلِ وَالنَّهَارِ دشپے اودورځے مِنَ الرَّحْمٰنِ له پروردكاره یعنی له عذابه دده كهٔ چرے راولیږی یعنی ساتونكے بل هیڅوك نشته بلكه محض رحمت عامه دده ځما

کړی یکے بَلْ هُمْ بلکه دوئ چه دی عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ له یاده درب خپل یا له قرآنه مُعْرِضُوْنَ ﴿۳۲﴾
څنګ کونکی دی چه هیڅ فکر پکښ نۀ کوی اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ آیا دوئ له خدایان دی اوپه ګام کښ دا ستفهام
انکاری ده یعنی نشته دا اٰلهه تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ساتی چه ساتی دوئ غیر له موجبه له عذابه که راشی
بیا پخپله ځوی چه لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ طاقت نۀ لری د اخدایان د دوئ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ د مدد ګاری له
خپلو ځانونو نو سره کۀ څوک بد و رسره کوی لکه ماتول یا اوړول یا ګنده کول یا دا ډوړخۀ وَلَا هُمْ مِّنَّا او
نۀ دوئ له موښره تخه يُصْحَبُوْنَ ﴿۴۳﴾ ساتلے کیږی یا ملګر توب ورسره کاوۀ شی یعنی هر هغه چه
خپل ځان ته نفع او ضرر نۀ شی رسولے هغه بل ته څۀ ورسوی بیا وائی چه بَلْ مَتَّعْنَا بلکه برخودی
او معاش ورکړے دے موښره هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ هم دے کفار او د هم پلرونو د دوئ له په
انواعو د نعمتونو حَتّٰى طَالَ تر هغه پورے چه اوږد شو عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ د په دوئ ژوندون اوغره شوۀ
دے چه موښره به همیشه همدا سے اوسو اَفَلَا يَرَوْنَ آیا پس نه وینی دوئ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ دے کار ته
چه بیشکه راځو موښره یعنی حکم مو نه زمکے د دوئ ته نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا له چه راکموو ورځ په ورځ
له هر طرفه د دے فتح او په نصرت د دین د اسلام سره چه همیشه مؤمنان بناروته ترے نسی او خپل
دین په کښ جاری کوی اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ آیا پس دوئ غالب دی او که رسول علیه السلام او
اصحاب کرام د هغه په مدد ګاری سره قُلْ اِنَّمَآ ووایه دوئ ته چه بیشکه هم د اخبره ده اُنْذِرُكُمْ
بِالْوَحْيِ ډیے چه ویروم زۀ تاسے په وحی یعنی په قرآن له عذاب نه له خپل ځان وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ
الدُّعَآءَ او نۀ اوری کانړۀ بلل یعنی اوهیچا اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿۴۵﴾ په هغه وخت چه وویرولے شی
دوئ نو دوئ هم د کانړۀ په شان خبره د حق نۀ اوری وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ او که ورسیږی دوئ
ته لږ څۀ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ له عذابه د رب ستا هغه چه تۀ دوئ پرے ویروے لَيَقُوْلُنَّ نو
هر اٸینه وائی دوئ خامخا يٰوَيْلَنَآ اے افسوس دے موښره له اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۴۶﴾ بیشکه موښره چه یوو د
موښره ظالمان وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ او کیښه ږدو موښره تله د عدل لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ د پاره د اهل د
ورځے د قیامت فَلَا تُظْلَمُ پس ظلم به نۀ کړے شی نَفْسٌ شَيْـًٔا په هیڅ نفس د هیڅ خیر وَاِنْ
كَانَ او که چرے وو د اخیر مِثْقَالَ حَبَّةٍ په قدر د یو دانے مِّنْ خَرْدَلٍ له اوړی څخه اَتَيْنَا بِهَا موږ د هم راحاضر

به ئے کړو موښه میزان ته وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿۴۷﴾ اوبس یو موښه حساب کونکی یاساتونکی وَلَقَدْ
اٰتَيْنَا اوهر اٰئینه په تحقیق ورکړے وو موښه مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ موسیٰ اوهارون علیهما
السلام له کتاب چه ډیر فرق کونکے وو په مابین دحق او دباطل او دحلال اوحرام کښ وَضِيَآءً
وَّذِكْرًا اورنړا اوپند لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۸﴾ الَّذِيْنَ دپاره دهغه پرهیزګارانو يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ چه
ویریږی دوئ له ربه خپله پسے شاچه لیدلے ئے نه دے وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ اودوئ له قیامته
مُشْفِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ ویریدونکی وی هروخت وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اوداقران چه دے پوښتنه ډیر
برکتناك اونفع مند اَنْزَلْنٰهُ ط چه رالیږلے دے موښه دا پیغمبر صلے الله علیه وسلم اَفَاَنْتُمْ لَهٗ ایا
پس تاسے له دهٔ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع انکارکونکی یئ دا استفهام د توبیخ دے یعنی منکر یږئ وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ او
هر اٰئینه په تحقیق ورکړے وو موښه اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ ابراهیم علیه السلام له سمه لاره موندل وجوه
دصلاحیت تر مِنْ قَبْلُ لا پخوا له بلوغ یا له رسول علیه الصلوٰة والسلام یا له موسیٰ او هٰرُوْن علیهما
الصلوٰة والسلام وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ اوو موښه په لایق توب دهٔ دغه مرتبے له دا نایان آګاه اِذْ
قَالَ یاد کړه هغه چه وویل دهٔ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ پلار خپل تر چه اذر دے اوقوم خپل تر چه اهل دبابل
دے مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ چه څهٔ دی دغه شکونه یعنی دا بتان چه څهٔ په شکل دلیوانو اوځهٔ دچارپایانو
اوځهٔ دمارغانو اوځهٔ دا دمیانودی اوټول دوهٔ اویا وو او یو په دے ټولو کښ مشر وو چه هغه دسرو
زرو وو اود سترګو په ځائے دوه جواهر اینی وو الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا هغه بتان چه تاسے دپاره
دعبادت دهغوئ عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ مقیمان جائ بندیئ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا نو وویل دوئ چه موندلی دی
موښه پلرونه خپل لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ دوئ له عبادت کونکی نو موښه هم دهغو عبادت اختیارکړے دے
قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ نو وویل ورته دهٔ چه هر اٰئینه په تحقیق یئ تاسے اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ هم تاسے او
هم پلرونه ستاسے فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾ په بنکاره کمراهئ کښ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ نو وویل ورته
دوئ چه ایا راوړے ده تا دا خبره په ربنتیا سره اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾ اوکه ئے ته له لوبو کونکیو
څخه یعنی ربنتیا وایے اوکه هسے خوشے لوبے کوے قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ نو وویل دهٔ چه بلکه رب ستاسے
چه دهٔ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا کونکے دا اسمانونو اودزمکے دے الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ز هغه خدائ

چه پیدا کړی ئے دی دا آسمانونه او زمکه یا دا تماثیل وَاَنَا عَلٰی ذٰلِکُمْ اوزهٔ په دے تیرو ویلو
تاسے ته له توحید مِنَ الشّٰهِدِیْنَ (۵۶) له شاهدانو یم وَتَاللّٰهِ اوسوګند دے په خدائی چه لَاَکِیْدَنَّ
اَصْنَامَکُمْ هر اُمینیو فریب به وکړم خامخا په دغه بتانو ستاسے په کوشش سره یعنی مات به ئے
کړم بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا پس له هغه چه شاکړئ تاسے دغه بتانو نه مُدْبِرِیْنَ (۵۷) په دے حال کښ چه ځ
ګرځونکی اوسئ له دوئ اولاړ شئ تماشے له یو ورځ دا خبره ما داخبره ئے وړه وکړه پته له قوم خو
یوسړی واورېده فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا پس کړه ئے دا بتان ټوټے ټوټے په تېر سره اِلَّا کَبِیْرًا لَّهُمْ مګر یو غټ
دے بتانو یا دوئ چه هغه ئے مات نه کهٔ اوتېرئے دهغه په غاړه واچولو د پاره دے چه لَعَلَّهُمْ اِلَیْهِ
ښائی چه دوئ دے غټ بت ته یَرْجِعُوْنَ (۵۸) راشی اوپوښتنه ترے ونه کړه چه دا کار چا کړے دے بیا چه
بیرته راغله او دا بتان ئے مات پراته اولیدل قَالُوْا مَنْ فَعَلَ نو وویل دوئ چه چا کړے ئے هٰذَا
بِاٰلِهَتِنَآ دا کار په خدایانو ځمونږه اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِیْنَ (۵۹) بیشکه چه دے هر اُینه له ظالمانو دے
په دے کار کښ قَالُوْا سَمِعْنَا نو وویل دوئ یعنی بعضو چه ترے اوریدلی وو موږ نه فَتًی یَّذْکُرُهُمْ له
یوزلمی چه یاد ول ئے دا بتان یُقَالُ لَهٗ اِبْرٰهِیْمُ (۶۰) چه وایه شی ورته ابراهیم (علیه الصلوٰة والسلام)
قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ نو وویل نمرود او مَلَؤُهٗ ئے چه پس راولئ دے عَلٰۤی اَعْیُنِ النَّاسِ په سترګو دے
خلقو یعنی په حضور د دوئ چه ټول ئے ووینی او د دوئ په مخکښ اقرار وکه لَعَلَّهُمْ یَشْهَدُوْنَ (۶۱)
ښائی چه بیا شاهدی ولولی دوئ چه دا کار هم دهٔ کړے دے بیا چه راغے قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ نو وویل
ورته دوئ چه ایا تا کړے دے هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا دا کار په خدایانو ځمونږه یا ندے یٰۤاِبْرٰهِیْمُ (۶۲)
اے ابراهیم قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ نو وویل ده چه بلکه کړے دے دا کار کَبِیْرُهُمْ هٰذَا مشر او غټ دے دا بتانو
چه دغه دے ولاړ دے له دے قهره چه زهٔ ولاړیم او د دوئ عبادت کیږی ځما په مخکښ فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ
کَانُوْا یَنْطِقُوْنَ (۶۳) پس وپوښتئ تاسے هم دوئ که ځواب درکوی دوئ چه غږ یږی نو فَرَجَعُوْٓا اِلٰۤی
اَنْفُسِهِمْ پس رجوع وکړه دوئ بیرته خپل ځان ته په فکر کولو سره فَقَالُوْٓا اِنَّکُمْ پس وے ویل
ځانونو خپلو ته بیشکه تاسے چه یئ اے ځمونږه نفسونو اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ (۶۴) هم تاسے یئ ظالمان
چه عبادت کوئ د دا سے چا چه خپل حال درته هم نه شی ویلے ثُمَّ نُکِسُوْا بیا سکور کړے شو دوئ

عَلٰی رُءُوْسِهِمْ ۚ پہ سرونو خپلو باندے یعنی سرونہ ئے بنکتہ واچول لہ دیر حجالتہ یا معنی داچہ بیا
بیرتہ وکړ ئیدل پخوانی کفر تہ پس لہ اقرارہ پہ ظلم خپل او مجادلہ ئے بنا کړہ نو وئے ویل چہ لَقَدْ عَلِمْتَ
هٰٓؤُلَآءِ پہ تحقیق پوهہ ئے تہ ٔ پہ خپل پہ دے چہ مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۵﴾ نہ دی دا بتان قابل دے
چہ وغږیږی لہ مونږہ ئے څہ لہ پوښتنہ کوے قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ نو وویل ابراهیم علیہ الصلوة و
السلام چہ ایا پس عبادت کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر لہ خدائ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا دهغہ څیز
چہ نفع نہ ٔ رسوی تاسے تہ دهغ کار وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿۶۶﴾ او نہ ضرر رسولے شی درتہ هیڅ قدر
اُفٍّ لَّكُمْ افسوس او هلاك دے تاسے لرہ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ او هغہ هم چہ عبادت ئے وکہ تاسے
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ غیر لہ خدائ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ ایا پس تاسو د ومرہ عقل هم نہ ٔ لرى بیا هر کلہ چہ
نمرود یان لہ مجادلے عاجز شو نو دسیزلو د ابراهیم علیہ السلام مصلحت ئے وکہ ٔ لکہ چہ وائ
قَالُوْا حَرِّقُوْهُ بیا وویل دے نمرود یانو یو بل تہ چہ او سیزئ دے پہ او ړکبن چہ د اور پرسخت
عذاب دے وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ او مدد وکړئ لہ خدایانو خپلو سره پہ اخستلو د انتقام لہ دہ
اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ کہ ٔ چرے یئ تاسے کونکی دے مدد **روایت دے** چہ هر کلہ نمرود
مصلحت د سیزلو او کړو نو امر ئے وکہ ٔ پہ رعیت او یو میاشت ئے خس پرے ټول کړہ ٔ او یوہ لویہ
چار دیواری ئے سازہ کړہ او خس ئے پکښ واچول او لہ پاسہ ئے د یرتیل پرے واړول بیا ئے اور
وټہ کہ ٔ او ابراهیم علی الصلوة والسلام ئے بر بنډ کړے طوق پہ غاړہ لاس او څنګے ترلے پہ منجنیق
واچولو او اور ټہ ئے گذار کہ او پہ هوا کښ جبریل ؑ ورلږہ راغے او ورتہ ئے وویل هَلْ لَّكَ حَاجَةٌ
یعنی څہ حاجت لرے نودہ ٔ اما ویل اَمَّا اِلَيْكَ فَلَا یعنی هر چہ تا تہ دے خونشتہ بیا ئے ورتہ وویل فَسْـَٔلِ
رَبَّكَ بارے نو سوال وکړہ لہ رب خپل دہ ٔ ویل حَسْبِیْ مِنْ سُؤَالِیْ عِلْمُهٗ بِحَالِیْ یعنی بس دے لہ سوالہ
ځما علم دہ ٔ پہ دے حال ځما او پہ درستہ لارہ کښی بہ ئے ویل چہ حَسْبِیَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ
نو پہ برکت دے دعا سره او پرے خدائ کلزار کہ ٔ لکہ چہ وائ قُلْنَا يٰنَارُ نو وویل مونږہ ٔ اے اور ا
كُوْنِیْ بَرْدًا اوسہ یخ بیا دے خوف پیدا شو چہ له دیرے یخئ بہ ئے هلاك کہ څکہ ئے ورتہ وویل
وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾ او څښتن دسلامتئ پہ ابراهیم علیہ الصلوة والسلام نو پہ برد اسره ئے

کړی وی کړه شوه او نړۍ باقی وه او په سلمًا سره ئے بیا یخنی مهلکه نه شوه وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا او اراده وکړه نمرود دیانو په ابراهیم علیه السلام پورے د مکر فریب چه سیزل وو فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿۷۰﴾ پس کړه مونږه دوئ د پیرنړیانکاران ځکه چه هغه فعل د دوئ چه سیزل وو هم هغه معجزه شوه د اسے چه برهان قاطع شه په حقیقت د ابراهیم علیه السلام او په بطلان د دوئ **نظم:**

څوك چه خاص د خدائ بنده شی حال ئے ګورشی ۔ همیشه وی تیره توره په یا سبل اور وی
هغه کله د بنده په اور کښی سوے نه ۔ بلکه اور له هغه تخته تل په شور وی
له عالمه شی جدا عزلت ئے کار شی ۔ تل مدام به داخلاص په نیلی سور وی
دا دوزخ چه خدائ ﷻ کړے ئے له قهره ۔ هم به جُزْيًا مؤمن وائی چه پرے زور وی
اے حالقه دا مراد له تا نه عوارض ۔ دا سے حب چه نور له هر څهٔ ئے زړهٔ تور وی

او خدائ ماشی راولیږل چه نمرود او په قوم ئے چه د دوئ غوښے ئے او خوږے او وینے ئے تږے وڅښلے او یو ماشے د نمرود مغزونه وخوت او هلته نیم بکته وُچ شو او خلور سوه کاله ئے په مغزو کښی و ولکه شیخ عطار قدس سره په منطق الطیر کښی ویلی دی **بیت** نیم پشه بر سر دشمن گماشت ۔ در سر او چار صد لشکر بداشت وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا او خلاص کړه مونږه هم دے او هم ورارده د ۀ چه لوط بن هاران د ۀ له عراق چه هاجرۀ د نمرود د ۀ او بوتلۀ مونږه د وارده اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ هغه زمکے ته بٰرَكْنَا فِيْهَا چه برکت اچولے وو مونږه په هغه زمکه کښی لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾ پاره د خلقو چه زمکه د شام ده او یوله برکتونو ئے د اړے چه پیغمبران علیهم السلام پکښی پیدا کړی اوهم د اسے انهار او اشجار او ارزانی او ښۀ عیش د ے پکښی بیا د ے هلته په فلسطین کښی پیره شو او لوط علیه السلام په مؤتکفت او د د ے په صیغ کښی یوه ورځ لاړ د ه وَوَهَبْنَا لَهٗٓ او ورکړے وو مونږه ده لره خُوئ چه ئے غوښتے وو له مونږه اِسْحٰقَ ط چه نوم ئے اسحاق علیه السلام وو وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ط او بل یعقوب علیه السلام نوے تیرے له غوښتلو چه خُوئ وو د اسحٰق علیه السلام وَكُلًّا جَعَلْنَا او دا ټول کړ خُولی وو مونږه یعنی هم دے او هم ئے خُوئ او هم ئے نوسے صٰلِحِيْنَ ﴿۷۲﴾ نیکان وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً او کړ خُولی وو مونږه ټول پیشوایان يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا چه سمه لاره ئے بنودله خلقو ته په فرمان

ځمونږه سره وَاَوْحَيْنَآ اَلَيْهِمْ اوپیغام کړے وو مونږه دوئ ته فِعْلَ الْخَيْرٰتِ دکولو دنیکو وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ اود ودرولو دمانځه وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ج اود ورکولو دزکوٰة وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ اووو غه ټول خاص مونږ له عبادت کونکی نه بتا نوله نوتا سے هم اے تولیه دعی بو اولاد ئے دابراهیم علیه السلام نومتابعت هم دهغهٔ وکړئ په دے کښ هم وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ اولوط علیه الصلوة والسلام له ورکړے وو مونږه اونصب دلوطًا پر فعل مقدر سره دے چه تفسیر ئے په دے مخکښ اٰتَيْنٰهُ کړیدے حُكْمًا وَّعِلْمًا هم نبوت یا قطع دخصومت اوعلم وَّنَجَّيْنٰهُ اوخلاص که مونږه دے مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ له هغه کلی څخه كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ط چه وه دا قریه دا سے چه کول به ئے خبیث کارونه لکه لواطت اولوبے په مرغانو اود اسے نور شوا تَّهُمْ كَانُوْا ے شکه دوئ وو قَوْمَ سَوْءٍ نو ئے دبدو یعنی بدکاران فٰسِقِيْنَ ﴿۷۴﴾ فاسقان وَاَدْخَلْنٰهُ اوداخل کړے وو مونږه دے فِيْ رَحْمَتِنَا ط پرمحبت خپل کښ یعنی په اهل درحمت خپل یا په جنت کښ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ بیشکه چه دے له تولی دصالحانو وو نُوْحًا اِذْ نَادٰى اویاد کړه نوح علیه الصلوة والسلام چه سوال ئے وکهٔ رب ته د هلاك دقوم خپل چه ئے وویل رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دِيَّارًا اوداسوال ئے کړے وو مِنْ قَبْلُ پخوا له ابراهیم اولوط علیهما السلام څخه فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ پس قبول کهٔ مونږه دهٔ لره سوال ددهٔ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ پس وساتهٔ مونږه هم دے اوهم عیال ددهٔ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾ له ډیره لویه غمه چه طوفان یا ازار دقوم وو وَنَصَرْنٰهُ اومدد کاری وکړه مونږه له دے سره او خلاص کهٔ مونږه دے مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ له هغه قومه څخه كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ط چه نسبت ددروغو به ئے کولو آیاتو نو مونږه ته اِنَّهُمْ كَانُوْا بیشکه چه وو دوئ قَوْمَ سَوْءٍ ټولے دبدئ چه هم ئے تکذیب کولو اوهم ئے ایذا رسوله فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۷۷﴾ پس غرق کړه مونږه دوئ یعنی نارینه ښځے مشران کشران وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اویاد کړه داود اوسلیمان علیهما السلام چه پلار اوځوی دی سره یعنی قصه ددوئ **روایت دے** چه یوه ورځ دوه سړی راغلهٔ داود علیه الصلوة والسلام له دپاره دشریعت یودهقان یو باغوان چه نوم ئے ایلیا وو اوبل شپون چه

عه معنی داچه اے ربه ځما باقی مهٔ پریږده په یخ دزمکے باندے له کافرانو یو اهل خانه یعنی ټول کافران په یوکرت هلاك کړه په عذاب خپل سره ۱۲ کتبه: محمد صادق (زهیر) چیرهارے (آکوال)

نوم ئے یُونُسَ او وا ایلیا د عوئی اوکړه چه د یوحنا مړه د شپے خُما په کښت یا په باغ کښ را ننوتلے وه او د رست فصل ئے خو پرلے دے بیا چه یوحنا او پونښتیدهٔ هغه وویل هم د اسے ده نو داود علیه الصلوة و السلام دا سے حکم وکړهٔ چه دا رمه د ایلیا له ورکړه په عوض د هغه خو پرلی کښت کښ بیا چه سلیمان علیه الصلوة والسلام په دے حکم خبر شو او دے په دے وخت یؤلس یا دیارلس کلنے وو نو پلار ته ئے وویل چه دا سے حکم به ښهٔ وی چه رمه دا ایلیا نخه وی امانت او په شود په ورد په اولاد دے نفع اخلی او کښت یا باغ د یوحنا نخه وی چه تربیت ئے کوی ترهغه چه پخوانی حال ته درسیږی بیا د هر یو خپل امانت بیرته واخلی نو داود علیه السلام هم دا سے حکم وکړهٔ لکه چه والیٔ اِذْ یَحْکُمٰنِ هغه چه حکم وکړهٔ د دا رو فِی الْحَرْثِ په کښت یا په انګور وکښ اِذْ نَفَشَتْ فِیْهِ چه وخړیدلے شپے په هغه کښت یا باغ کښ بے شپونه غَنَمُ الْقَوْمِ ج کلے دهغه قوم وَ کُنَّا لِحُکْمِهِمْ او د مونږه په حکم د دوئ شٰهِدِیْنَ ﴿۷۸﴾ خبر دار حاضر فَفَهَّمْنٰهَا سُلَیْمٰنَ ج پس پوهه کړه مونږه سلیمان علیه الصلوة والسلام حُکه چه په دے کښ یو هم یعنی نهٔ محرومه کړی له دے چه شرعی حکم دا سے دو لکه چه داود علیه الصلوة والسلام کړے وو او دا په دے حادثه کښ د سلیمان علیه السلام په خولے منسوخ شو او د احکم د دوئ په شریعت کښ وو او په نزد د امام اعظم حکم دا دے چه کرکهٔ خواړه ورپره نهٔ وی نو ضمان نشته لقوله ۴۳ وَ کُلًّا اٰتَیْنَا او هر یو ته له دوئ د واړو ورکړے وو مونږه حُکْمًا وَّ عِلْمًا زنبوت او علم وَّ سَخَّرْنَا او مسخر کړی وو مونږه مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ له داود علیه السلام سره غرونه یُسَبِّحْنَ چه تسبیح به ئے ویلو ورسره وَ الطَّیْرَ او مرغان مسخر کړے وو مونږه په تسبیح ویلو وَ کُنَّا فٰعِلِیْنَ ﴿۷۹﴾ او یو مونږه کونکی د دا سے کار دونو د اسے ته تعجب مهٔ کوئ وَ عَلَّمْنٰهُ او زده کړے وو مونږه ده ته صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّکُمْ سازول د یو قسم اغوستن چه زغره ده تاسے له ډاڅنے اړ د مو لِتُحْصِنَکُمْ د پاره د دے چه وساتی تاسے د ازمړه وړن بَاْسِکُمْ له جنګه اوله قتل ستاسے فَهَلْ اَنْتُمْ شٰکِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ پس ایا یئ تاسے شکر کونکی په دے نعمت یعنی شکر پرے د یباسئ وَ لِسُلَیْمٰنَ الرِّیْحَ او مسخر کړے وو مونږه سلیمان علیه السلام ته باد عَاصِفَةً سخت او تند چه تحت د دهٔ به په میخ د یو فرش کښ کیښودے شو او کرسئ د دښمنو ترے چاپیره او نږدے له کرسیو چاپیره او دا فرش خُضْرًا سبزت فرسخه وو لکه چه

شیخ عطار ؒ په منطق الطیر کښ ویلی دی ۔ گرچه شاد روان چهل فرسنگ دی ۔ چه بنام نیم دانگ سنگ دی

اودغه ټول به ئے ورپل اود ورځے به ئے دیوے میاشتے مزل کولو اوبل ځای کښ دی رُخَآءً نرم به وو دا باد نو توفیق ئے دا ے چه کله به دده سخت پکار وو نو سخت به شو او چه نرم به ئے پکار وو نو نرم به شو تَجْرِیْ بِاَمْرِهٖ چه روانیده به په فرمان دده سره او رسولو به ئے دے اِلَی الْاَرْضِ الَّتِیْ هغه زمکه ته بَرَکْنَا فِیْهَا چه برکت اچولے دے مونږه په هغه زمکه کښ چه هغه شام دے وَکُنَّا بِکُلِّ شَیْءٍ اویومونږه په هر څیز عٰلِمِیْنَ (۸۱) دانا ؒ کاه وَمِنَ الشَّیٰطِیْنِ او بعض له دیوانو هم مسخر کړی وو مونږه دده ته یعنی مَنْ یَّغُوْصُوْنَ له هغه دیوان چه غوته کیږی دوئ دهٔ لره په سیند کښ د پاره درا ایستلو د جواهرو وَیَعْمَلُوْنَ عَمَلًا اوکوی دوئ دهٔ لره نور عمل دُوْنَ ذٰلِکَ چ غیر له غوتے دسیند لکه ساز ول دمحاریبو او تماثیلو او دقدورو او دقصورو اودجفانو لکه سورهٔ سبا کښ ذکر دی وَکُنَّا لَهُمْ او وو مونږه دئے دیوانو لره حٰفِظِیْنَ (۸۲) ساتونکی له بے فرمانئ د سلیمان علیه الصلوٰة والسلام نه **روایت دے** چه ایوب علیه الصلوٰة والسلام چه له اولاده دعیص بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام نه وو اودے ډیر لوئے مالدار ووچه درے زرهٔ ے اوښان اواوه زرهٔ ے گډے او دا سے ئے کښت وو اودے په اصل کښ درووم وو بیا چه پیغمبر شو نو شام ته ولیږلے شو ناګاه ارادهٔ درب وشوه نو ابلیس له پرے کینه راغله اورب ته ئے سوال اوکه چه دے ایوب بنده خپل له دروغ صورت او ډیر اولاد او ډیر مال ورکړے دے نو ولے به ستا عبادت نهٔ کوی ؟ زهٔ به ئے نقش هلته ومنم چه دا ټول ترے واخلم اودے هم هغسے لاپه اطاعت کښ مشغول وی نورب ورته اجازه وکړه چه حُهٔ په هرڅهٔ ئے مسلط اوسه چه تاته ئے هم اخلاص معلوم شی بیا نو خپل لښکر ئے ولیږه اواوښان ئے ټول په صاعقه هلاک کړهٔ اوګډے ئے په سیلاب یوړے اوځامن اولونږه ئے تر دیوال لاندے کړه اوکښت ئے په باد والوځولو اوپه صورت مبارک ئے پوکے وکه نو ټول ویرسیدهٔ اونکئ شوے بیا خسا شو او چیغے ئے واچول اوهیڅوک ورله نږدے نه ورته مګر بنځه ئے رحیمه بنت افرایم بن یوسف علیه الصلوٰة والسلام یاما خیر بنت منیشا بن یوسف وه او درے یا اوهٔ یا اتهٔ یا اتلس کاله ئے په دے حال تیر کړهٔ اوچه بنځه به ورته وویل چه رب ته سوال وکړه نو ویل به ئے

چه څومره موده دوخ وُم دے ویل ایتا کاله نو به ئے ویل چه شر میږ م چه هغه قد رکلو نه خو چه دغ کښې تیرشی نو هغه به سوال وکړم بیا ناکاه چیږه رحمت راغله پرے او باقی احوال ئے مخینه پرقرآن کښې بیان دے لکه چه وائی وَاَیُّوْبَ او یاده کړه قصه د ایوب علیه السلام اِذْ نَادٰی رَبَّهٗ چه وبالږهٔ رب خپل یعنی دآئے وویل اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ چه بیشکه رسیدلے دے ماته رنځ او سختی وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ (۸۳) اوته ډیر مهربانه دتو لو مهربانانو ئے فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ پس قبول کړ مونږه ده لره له سوال دهٔ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ پس لرے کړهٔ مونږه مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ هر هغه چه په دهٔ پورے وو له رنځ او له سختی یعنی روغ کړهٔ مونږه وَاٰتَیْنٰهُ اَهْلَهٗ او ورکړو مونږه دهٔ لره هغه عیال دهٔ یعنی هم هغه ځامن او لونږه ورته مونږه بیرته ژوندی کړه وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ او په مثل یعنی په شمار د دوئ له دوئ سره نور هم په دے شان چه بچے ئے بیرته خوانه شوه نو اوه ځامن او لونږه ئے نور هم راوړل او ابن عباس رضی الله عنه ویلی دی چه اولاد خوئے دوچند شو اوهغه زنده سر ئے هم دوچند وله راغله او سره ورسېږ راغله او د سرونو رملږ پرے ډیر وو رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا دپاره د رحمت او انعام رسولو دهٔ ته له جناب خمونږه داسے وشو وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِیْنَ (۸۴) اوپل د پاره پند اخستلو نورو عبادت کونکو چه دوئ هم دده په شان صبر وکړو چه بیاجزا بیا موږ هم دهٔ پشان وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِدْرِیْسَ وَذَا الْكِفْلِ او یاد که اسمعیل او ادریس او ذوالکفل یعنی څښتنان د برخے چه الیاس یا زکریا یا یوشع بن نون دے (علیهم الصلوة والسلام) او ذوالکفل ځکه وئ چه خدائ ځنے ئے برخه یعنی مرتبه ډیره لویه وه كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِیْنَ (۸۵) دا ټول د صبر کونکو وو په سختیو د تکلیف وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِیْ رَحْمَتِنَا او راننه اینستلی وو مونږه دوئ په رحمت خپل کښې چه نبوت یا نعمت اخروی دے اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِیْنَ (۸۶) بیشکه چه دوئ له صالحانو وو وَذَا النُّوْنِ او یاد که څښتن دماهی چه یونس علیه الصلوة والسلام دے اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا هغه له قومه خپله په غصه دوئ ته چه څو ځله دعوت ئے ولے قبول نه کړو یا خپل ځان ته چه ولے بے صبرے امره راووتو فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَیْهِ چه له سره به جاری نه کړو مونږه قدر او قضا خپله په دهٔ او د څکه چه دا نقدر (قدر) دے نه له قدر ته لکه چه ابن عباس رضی الله عنه ویلی وو معاویه رضی الله عنه کذا فی المدارک فَنَادٰی فِی الظُّلُمٰتِ اَنْ پس نعرے به ئے وهلے په درے تیارو کښې چه تیاره د شپے او تیاره د سیند او تیاره د دس دماهی وه یعنی

داسے یے ویل چہ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ نشته معبود برحق هیڅوک مکرهم ته ئے یواځے سُبْحٰنَكَ صلے اِنِّیْ پاک ئے ته له هرعیبه بیشکه چه زهٔ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ (۸۷) یم له ظالمانو چه وتلے یم له قومه بے ادنه ستا اوپه حدیث کښ راغلی دی چه هرغمجن دا دُعا ووائی نو سوال به ئے قبول شی ځکه چه متصل وس پسے راغلی دی چه فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ پس قبول کړه مونږه دهٔ لره دادعادهٔ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ او خلاص کهٔ مونږه دهٔ لره دغه غمه دماهی اود سینډ چه امر مړ وکړ وماهی ته چه بیرون دسیند په غاړه یه وُچه ئے امانت واچوه اوباقی قصه ئے یه سورة یونس کښ ذکر ده وَكَذٰلِكَ نُنْجِی الْمُؤْمِنِیْنَ (۸۸) اوهم دا سے لکه چه دهٔ خلاص کهٔ مونږه له دے غمه یه برکت دهٔ دُعا سره هم دغسے به خلاص وباقی مؤمنان هم په دهٔ دُعا سره وَزَكَرِيَّآ اویاد کړه زکریا علیه السلام یعنی قصه ئے اِذْ نَادٰی رَبَّهٗ هغه چه وبالله دهٔ رب خپل یعنی دا سے ئے ویل رَبِّ لَا تَذَرْنِیْ فَرْدًا اے ربه مه پریږده ما یواځے بے فرزنده چه ځما وارث شی وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ (۸۹) اوته ئے چه ئے بهتر ډهلو وارثانو ئے فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ پس قبول کړو مونږه دهٔ لره سوال ددهٔ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى اوورکړو مونږه دهٔ لره فرزند یحیٰی نامه وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ اولائقه کړه مونږه دهٔ لره ښځه ددهٔ پاره دولادت پس له شنډوالی یا خوشخویه کړه مونږه پس له دې چه بدخویه وه اِنَّهُمْ كَانُوْا بیشکه دا ډیرته یادشوی پیغمبران چه دی وو دوی يُسٰرِعُوْنَ فِی الْخَيْرٰتِ چه جلتی به ئے کوله په طلب دنیکو کښ وَيَدْعُوْنَنَا اوبلله به ئے مونږه رَغَبًا وَّرَهَبًا لرجهته دمینے په ثواب اودویرے له عذابه وَكَانُوْا لَنَا اووو دوئ مونږه لره خٰشِعِيْنَ (۹۰) تواضع کونکی ویریدونکی وَالَّتِیْٓ اَحْصَنَتْ اویاد کهٔ هغه ښځه چه ساتله وُوُد ے فَرْجَهَا فرج خپل هم لرحلالو په نکاح سره اوهم له حرامو په سفاح سره فَنَفَخْنَا فِيْهَا پس پُوکړه مونږه په ئے کښ یعنی جبریل علیه الصلوة والسلام دئے په گریوان کښ مِنْ رُّوْحِنَا له روح خُمونږه یعنی له هغه روح چه خاص خُمونږه په امر سره دے یا له جهته دروحه خُمونږه چه جبریل علیه السلام دے وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ اوکړه مونږه دا بی بی مریم اوځوئ دده چه عیسی علیه السلام دے اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ (۹۱) یوه لویه نښه دقدرت خُمونږه تمام عالم له تر قیامته چه هغه پیدا کول دفرزند دی بے پلاره اِنَّ هٰذِهٖٓ بیشکه دا ملت دتوحید اود اسلام چه ئے تاسے لره استقامت پرئے واجب دے

اُمَّتُكُمْ د املت دے ستاسے دتولوا ے مخاطبینو او دا اُمَّةً یه معنیٰ دملت دے اُمَّةً وَّاحِدَةً رسے یه دے حال
چه هم دایو ملت دے یه تولو اُدیانو نوکښ تر اٰدم علیه السلام پورے یعنی توحید وَاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ (۹۲)
او زهٔ رب یم ستاسے پس عبادت کوئ خُما خاص خُما نهٔ د بل چا وَتَقَطَّعُوْٓا اوپے کړ دے
تیرے اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ط کار د دین خپل پخپل مینځ کښ یعنی ټوټے ټوټے یه دے شان چه فرقے
فرقے شو سره څوك یهود او څوك نصارٰی او هر یو تکفیر د بل کوی كُلٌّ اِلَيْنَا رٰجِعُوْنَ (۹۳) ع بیا دا ۸
تول مونږ له راتلونکی دی فَمَنْ يَّعْمَلْ پس هر څوك چه عمل وكهٔ مِنَ الصّٰلِحٰتِ له نیکو
كارونو وَهُوَ مُؤْمِنٌ اوحال داچه دے مومن وی حُكه چه دكافر عمل بے بیخه دے چه ایمان ے
نشته نو یه عقبیٰ كښ هیڅ فائده نهٔ لری فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ ج پس نشته بے قدری یعنی هیڅ بے
قدری نهٔ شی كولے د سعی د دهٔ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ (۹۴) او بیشكه مونږه سعی د ده لره نیكو نكی یو یعنی امر
كوو مونږه په كرام الكاتبین چه لیكی دوئ عملونه ے او بیا به ے په قیامت وكړو د دوئ له **ایات**
بَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ الصّٰلِحٰتِ فَاِنَّهٗ لَا يُضِيْعُ اللّٰهُ فِي الدَّارَيْنِ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ
وَاسْمَعُوْا يَا اَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا مِنْ رَبِّكُمْ فَاعْبُدُوْا حَتّٰى اَتْلُكُمْ فِي الْعِبَادَاتِ الْيَقِيْنِ
او بیرته راتلو حكم به نه وی دنیا ته د پاره د تدارك د اعمالو لكه چه وائی وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اوحرام یعنی منع
دے یه اهل دهر هغه كلی باندے اَهْلَكْنٰهَآ چه هلاك كړی دی مونږه دوئ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ (۹۵) داكار
چه دوئ به بیرته وكړی حتیٰ دنیا ته د پاره د تدارك او د اهلكه لا نائده شی اوكه اصلی شی نو معنیٰ داچه
حرام دی داچه دوئ بیرته ورنهٔ شی خدائ لره په بعث سره د پاره د جزا د اعمالو اما اول قول مشهور تر
دے نو معنیٰ دا دے شوه چه حرام دے بیرته تك ے بلكه مدام به په عذاب وی په قبر و نوكښ حَتّٰٓى اِذَا
فُتِحَتْ تر هغه پورے چه پرانستے یعنی لرے كړے شی يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ دیوال دیاجوج او دماجوج چه
دوه قبیلے دی له بنی اٰدم واو نهه برخے دوئ دی اولسمه برخه نور ټول بنی اٰدم دی وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ
اردوئ به له هرے لورے يَّنْسِلُوْنَ (۹۶) راوځی به په جلتی او منډے به وهی چه تملم جهان به
ونیسی اودسیند ونو او بهٔ به ټولے اوڅښی اووچ له لاؤنده به ټول وخوری وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ او
نزدے شوه هغه وعدهٔ چه رښتیا ده چه قیامت دے اویا هر كله چه واقع شوه فَاِذَا هِيَ پس ناڅاپه قصه یه

دا سے وی چه شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا واړے او نیغے خلے به ولاړے وی له دهشت د قیامت ستړکے دهغه کسانو چه کافران دی او وائی به دوئ يٰوَيْلَنَا اے افسوس دے مونږ له قَدْ كُنَّا په تحقیق وو مونږه فِيْ غَفْلَةٍ په ناپوهئ به نا خبرئ کښ مِّنْ هٰذَا له دے ورځے اوله دے حاله په دنیا کښ بیا له دے خبرے به اعراض وکه اوو به وائی چه بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ (۹۷) بلکه وو مونږه ظالمان پخپل ځان چه تکذیب موکولو د پیغمبرانو علیهم السلام دا یا تو نو اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ بیشکه تاسے چه یئ اے مشرکانو اوهغه هم چه عبادت ئے کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ حَصَبُ جَهَنَّمَ ط خس دے د دوزخ اَنْتُمْ لَهَا وَارِدُوْنَ (۹۸) تاسے سره د معبودانو خپلو دے دوزخ له ورتلونکی یئ دپاره د لویدلو لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ كه چرے وے دا بتان ستاسے اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا طپه رښتیا خدایان نو نه به واهل دا خل شوی په دے دوزخ کښ وَكُلٌّ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ (۹۹) دا ټول یعنی بُتان اوبت پرستان پاته دے دوزخ کښ به همیشه پراته وی اوهیڅ شان به ئے د خلاصی نه وی لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وی به دوئ لره په دوزخ کښ زوریکی اوفریاد وَّهُمْ فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ (۱۰۰) اودوئ په دے دوزخ کښ هیڅ به نه اوری په سبب د شور او زوکے د دوزخ **روایت دے** چه هرکله چه دا ایت دا اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ تر خٰلِدُوْنَ پورے نازل شو او رسول علیه السلام مشرانو د قریشو ته ولوست نو دوئ په دے پیر خفه شو او ابن زبعری ورته وویل چه یهود د عزیر علیه السلام عبادت کوی او نصاریٰ د مسیح او بنو ملیځ ملائکو نو له دے دا سے معلومیږی چه دا درے واړه به هم له بتانو سره په دوزخ کښ وی او دا دے ته فکر نه کولو چه مَآ خود غیر ذوی العقول دے نو دوئ پکښ داخل نه دی اما هر کل چه دوئ له اهل عنادو او په دے قدرے ئے اکتفاء نه کوله نو نازل شو اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان سَبَقَتْ لَهُمْ چه لمړے شوے دے دوئ له مِنَّا الْحُسْنٰٓى له مونږه د پیر ښه خصلت چه توفیق د عبادت یا زیږے د ثواب یا هسے نیکبختی ده چه عزیر او مسیح او ملائک علیهم السلام دی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ (۱۰۱) له دے دوزخ لرے کړے شوی به وی لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا نه به اوری دوئ اواز لمبے د دے دوزخ هم پاتے لا پخپله دوزخ یعنی دا سے به ترے لرے کړے شوی

وی چه آواز به ئے هم نه وررسیږی وَهُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ اودوئ به په هرهغه نعمتونو کښ وی چه ارزوئے کوی اَنْفُسُهُمْ زړونه ئے دوئ خٰلِدُوْنَ (۱۰۲) همیشه به وی لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ نه به خفه کوی دوئ هغه ویره ډیره لویه چه دونرخیان دونرخ ته وبلے شی یاچه دروازے ددونرخ پورے شی یاچه مرلۍ ذبح کړے شی اوغږ وشی چه يٰٓاَهْلَ النَّارِ لَكُمْ خُلُوْدٌ وَّلَا مَوْتَ وَيٰٓاَهْلَ الْجَنَّةِ لَكُمْ خُلُوْدٌ وَّلَا مَوْتَ وَتَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طاو مخے له به ئے راځی ملائک په هغه وخت چه له قبرونو راوځی او وتۍ وائی هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ چه داهغه ورځ ده ستاسے كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ (۱۰۳) چه وئ تاسے چه وعده درسره کړے شوے وه په دنیا کښ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ یاد کړه هغه ورځ چه راتاوؤ به کړو لکه نیچه مونږه دا آسمان كَطَيِّ السِّجِلِّ لكه راتاویدل د صحیفے لِلْكُتُبِ دپاڑه د حفظ دهغه مکتوبانو چه په دیکښ دی اود اهل دکه مصدر مضاف وی مفعول ته یالکه تاوؤل د ملک یاد کاتب درسول دملکونو کۀ مضاف وی فاعل ته او سِجِلّ یاصحیفه ده یانوم د هغه ملک چه په وخت دمرلۍ کښ اعمالنامے دبنی آدم وقبضوی یانوم دے دکاتب درسول كَمَا بَدَاْنَآ لکه چه آغاز کړے وو مونږه اَوَّلَ خَلْقٍ اول پیدا کولو دئ عالم له عدم محض چه ډیر سخت وو نُعِيْدُهٗ طاعاده به ئے وکړو بیا اودامری به پوله ژوندی کړو **فایده** دے کَمَا کښ اشاره ده دخبرے ته چه په اول پیدا کولوخو تاسے قایل یئ اوهغه خولابے مادے بے صورته وو اواعاده خو نسبت هغه ته ډیره اسانه ده نو تاسے ولے ترے منکر یږی وَعْدًا عَلَيْنَا داوعده کړے ده مونږه وعده لازمه پخپل ځان اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ (۱۰۴) نو بیشکه مونږه کونکی یو دهغه کار چه وعده م کړے ده وَلَقَدْ كَتَبْنَا اوهرالبته په تحقیق لیکلی وو مونږه فِي الزَّبُوْرِ په زبور کښ چه کتاب د داود علیه السلام یامراد هر منزل دے له کتب سماویه مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ پس له ثبت په لوح محفوظ کښ چه اول هلته لیکلے وه داخبره اَنَّ الْاَرْضَ چه بیشکه زمکه جنت یادشام چه ده يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ (۱۰۵) میراث به واخلی دازمکه هغه بندګان ځما چه نیکان دی یعنی امت محمدی ۴ یا عام مؤمنان اِنَّ فِيْ هٰذَا بیشکه په

---

۱ معنیٰ داچه اے اهل نارو یعنی دونرخیانو تاسے لره همیشه والے دے په دونرخ کښ اومرلۍ درلره نشته اوے جنتیانو تاسے لره همیشه والے دے په جنت کښ اومرلۍ درلره نشته ۱۲

دے تیرو اخبارو او مواعیظو او مواعیدو کښی لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِیْنَ ﴿۱۰۶﴾ هر اُینه کفایت یا سبب دے د وصول مطلب ته دپاره دهغه قوم چه مدام په عبادت کښی مشغول دی یعنی اُمت د محمد صلے الله علیه وسلم وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ او نهٔ ے لیږلے مونږه تهٔ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۰۷﴾ مګر رحمت دپاره د تمام عالم ادمیادی کهٔ پیریا مؤمنانو له خوظاهردے او کافرانو له دپاره د دے چه بخ کندنهٔ شود نورو اُمتو په شان سړه له عذابتلو دعذاب قُلْ اِنَّمَا وایه اے رسوله کافرانو تهٔ چه بیشکه هم داخبره ده یُوْحٰۤى اِلَیَّ چه پیغام کولے شی ماته اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمْ دا سے چه بیشکه معبود ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ خدائے دے یواځے چه په خدائی کښی بل شریک نهٔ لری فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ پس ایا یئ تاسے غاړه ایخودد نکی دے خبرے ته فَاِنْ تَوَلَّوْا پس کهٔ شاکړه دوئ اوداتوحید ئے قبول نهٔ کهٔ فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ پس ووایه دوئ ته چه اګاه م کړئ په دے عَلٰى سَوَآءٍ ؕ په دے حال چه برابر یو سره زهٔ اوتاسے په دے پوهه کښی یاغږم دریاندے وکهٔ دجنګ چه وس ته نیالړشئ وَاِنْ اَدْرِیْۤ او نهٔ پوهیږم زهٔ په دے چه اَقَرِیْبٌ اَمْ بَعِیْدٌ ایا نزدے دے اوکهٔ لرے دے مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ هغه عذاب یاقیامت چه وعده ئے کولے شی له تاسے سره اِنَّهٗ یَعْلَمُ الْجَهْرَ بیشکه چه دے پوهیږی په بنکاره مِنَ الْقَوْلِ له گفتاره بلکه له کرداره هم وَیَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ اوهمدا سے پوهیږی په هرهغه حسد اوحقد چه پټوئ ئے تاسے وَاِنْ اَدْرِیْ او نهٔ پوهیږم زهٔ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ چه بنائی دا تاخیر دعذاب آزمیښت وی تاسے له یعنی استدراج وی وَمَتَاعٌ اِلٰى حِیْنٍ ﴿۱۱۱﴾ او برخورداری اومعاش وی تر یو وخته مقدره پورے قٰلَ بیا وویل رسول علیه السلام رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ اے ربه حُما حکم وکړه حُما او د اهل مکّهٔ په مینځ کښی په حق سره وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ اورب حُمونږه چه دے دیر مهربان دے په مطیعانو مدد کاری غوښتے شوے ده له ده څخه عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ په هرهغه څیز چه صفت ئے کوئ تاسے اووایئ چه هغه عذاب ستاسے ولے نهٔ راځی۔

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِیَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیَاتُهَا ۷۸ رُكُوْعُهَا ۱۰

یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے خلقو دا خطاب عام دے چه ولو مکلّفانو نه ورته وائی چه اتَّقُوْا رَبَّكُمْ خان

وساقئ او ودیرہ ی دعذاب درب خپل نه اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ بے شکه هغه زلزله چه نښه دقیامت اوبخواده له ختلود نمره له طرفه دمغرب به شَيْءٌ عَظِيمٌ ① یو خیزدے دیرلوئ هولناك یَوْمَ تَرَوْنَهَا په هغه ورځ چه وویني تاسے دا زلزله یا قیامت تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ چه غافل به شي هرڅه ور کونکه له هیبت دے ورځے عَمَّآ اَرْضَعَتْ له هغه فرزنده چه ے به ے ور کولو هغه له وَتَضَعُ اوکیبه ږدی یعنی وبه غورځوی كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا میرمن دحمل بچے خپل یعنی له ډیره هیبته به حامله ښځے لږے بچی وغورځوی وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى اوویني به ته خلق بیخوده له غلبے دهشته وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى اوحال داچه نۀ به وی دوئ په واقعه کښ بیخوده وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيدٌ ② او لیکن عذاب د خدائ سخت دے وَمِنَ النَّاسِ اوبعض له خلقو مَنْ يُّجَادِلُ هغه څوك دے چه جګړه کوی فِي اللّٰهِ په خدائ یعنی په کتاب دده لکه نضر بن حارث چه وائی ملائك لونږه دی دخدای اوقرآن قصے دی دپخوانیو اوبعث نشته بِغَيْرِ عِلْمٍ بے پوهے اوبے دلیله وَيَتَّبِعُ اوپیروی کوی دَ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيدٍ ③ دهر شیطان سرکش کمراه كُتِبَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ چه لیکلے شوے دے په هغه په ازل کښ داچه بیشکه شان دائ مَنْ تَوَلَّاهُ چه هرڅوك دوستی اومتابعت وکړی ددۀ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهْدِيْهِ پس بیشکه دا شیطان چه دے کمراه کوی داتابع خپل اوبیایی ځ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ④ عذاب ددوزخ ته يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو یعنی کفار و منکرانو له بعث اِنْ كُنْتُمْ كه څوك یئ فِيْ رَيْبٍ په شك کښ مِنَ الْبَعْثِ له بیا ژوندونه نو نظر وکړئ اول حال خپل ته چه فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ پس بیشکه پیدا کړی یئ مونږه تاسے یعنی نیکه ستاسے چه اډم علیه السلام دے مِنْ تُرَابٍ له خاورو ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیا که مونږه اولاد ددۀ له اوبو منئ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ بیا له پارچے دکلکو وینو ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ بیا له غوښو مُّخَلَّقَةٍ بعضے پیدا کړے شوے پوره چه هیڅ عیب او نقصان پکښ نۀ وی وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ اوبعضے پیدا کړے شوے ناسازه نا تمام چه څنګ اجزاء ترے نقصانی وی **فائده** دا مضغے خدائ متفاوتے پیدا کړے نو بعضے ترے کامل الخلقت دی خالی له هره عیبه اوبعضے ددوئ په عکس دی بیا دے تفاوت لږ جهته دا مخلوق هم متفاوت شوی په حسن په قبح په طول په قصر په شکل په رنګ په خوئ په خصلت کښ کذا فی المدارك اودا نقل چه دے له بوحال نه بل حال ته لِنُبَيِّنَ لَكُمْ دپاره ددے چه بیان

اوښکاره کړو مونږه تاسے ته قدرت خپل چه استدلال وکړئ له ابتداء په اعاده او په بعث قایل شئ
وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ او اقرار ورکوو په ارحاموکښ مَا نَشَآءُ هغه مضغ له چه اراده وشی مونږه دے
چه داوږ په رحم کښ کمال ته ورسیږی اوخام ترونهٔ لویږی اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ترهغه وخته پورے چه پرنۍ
کړے شویدے د پاره دولادت ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا بیا راوباسو مونږه تاسے هلکان دمیندولو نسو نو
یعنی دا ضعیف چه په خپل خیر وشرهیڅ قدرت قادرنهٔ اوسئ ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا بیا ترتربیت کوو ستاسے
پاره دے چه ورسیږئ تاسے اَشُدَّكُمْ هغه کمال او قوت خپل ته چه له دیرشو کلونو دے ترڅلویښتو پورے
وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى اوبعضے له تاسے هغه څوک دی چه مړ کړے شی یعنی په وخت د بلوغ یا لږ ترے پخوا
یا لږ ترے پس وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اوبعضے له تاسے هغه څوک دی چه ردکولے شی یعنی ژوندے پریښودے
شی چه ورسیږی اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ ډیرښکته او ضعیفے د عمر ته د عمر ته لِكَيْلَا يَعْلَمَ د پاره دے چه نهٔ پوهیږی
مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ پس له پوهے یعنی پس له هغه چه په هرڅیز پوهه وی اوبیا په سبب د پیر ته پریوتلو
د هوښ قوۍ بدنیو هغه حد له ورسی چه نهٔ پوهیږی شَيْـًٔا په هیڅ څیز اوس بل دلیل تیروی
په بعث نو وائی وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً اوبل دا چه وینے به ته زمکه مړه چه فَاِذَآ اَنْزَلْنَا پس په هغه وخت
چه راکوزے کړو مونږه عَلَيْهَا الْمَآءَ په دے اوبه له طرفه دآسمانه اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ نو وخوځیږی اوراپوته شی په ګیاه باندے وَاَنْۢبَتَتْ اوزرغون کړی مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيْجٍ ۝۵ له هرقسمه د نباتاتو بهیج
تازه ترچه لیدونکی ته خوشحالیږی ذٰلِكَ داچه ذکر شو بیرته له پیدا کولو د بنی آدمو او د ژوندئ کولو
د زمکے بِاَنَّ اللّٰهَ په سبب د دے چه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْحَقُّ دے ثابت دے او موجود دے
وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى اوبل له دے جهته چه بیشکه دے ژوندی کوی به مړی لکه چه ژوندئ کړے
ئے دے نطفه او زمکه وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶ اوبل له دے جهته چه یقینی معلوم شی چه بیشکه
دے په هرڅیز قادر دے وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اوبل له دے جهته چه یقینی معلوم شی چه بیشکه قیامت
راتلونکے دے لَّا رَيْبَ فِيْهَا نشته هیڅ شک په هغه کښ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ اوبل له دے جهته
چه یقینی معلوم شی چه بیشکه خدائ به بیا ژوندی راپاڅوی مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝۷ هرهغه
څوک چه په قبرونو کښی پراته دی د پاره د حساب اود جزا او په دے وار په دلیل داوعظ ده

چه کَمَا بَدَاْنَا اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ وَمِنَ النَّاسِ او بعض لخلقو مَنْ يُّجَادِلُ هغه څوك دی چه
څګره کوی فِی اللّٰهِ په خدائ کښ یعنی په قدرت یا په کلام دهٔ کښ لکه ابوجهل او تابعان دهٔ
بِغَيْرِ عِلْمٍ بے له پوهے چه ورکړے شوے وی دهٔ لره وَّلَا هُدًى اونهٔ کومه رهنمائی چه دهٔ ته شوے
وی له موښره وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۸﴾ او نه کوم کتاب واضح چه په هغه کښ ئے کوم دلیل لیدلے وی په حق
والی خپل یعنی له دے څیز وښوهم نشته وبلکه محض عناد او جهل څګره کوی ثَانِیَ عِطْفِهٖ
په دے حال چه تاوونکی وی ذکر دن خپل له لوړه کبره یا له خیاله او څګره کوی لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ ډیاره ډے چه گمراه که او وار وی خلق له لارے د خدائ لَهٗ فِی الدُّنْيَا خِزْیٌ مقرر ده
دهٔ لره په دنیا کښ رسوائی او شرمندگی لکه چه په بدر وغیره واقع شوه وَنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ او
وبه څکوو موښره په دهٔ په ورځ د قیامت عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۹﴾ عذاب د سیزونکی او لړونکی او لوړونکی
دهٔ ته چه ذٰلِكَ داعذاب او شرمول چه دی بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ په سبب د هغه عملونو ده چه ښوا
لیږلی دی د وار ولا سونو ستا وَاَنَّ اللّٰهَ او بل په سبب د دے چه بیشکه خدائ لَيْسَ بِظَلَّامٍ
لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۰﴾ نه دے ظلم کونکے هیڅ قدر په بندګانو خپلو **روایت دے** چه بعض اعراب مدینے
له راغلهٔ او ایمان ئے راوړه بیا نو ګوڅ ئے به دوئ روغ وو او ونځے به ئے ځوئ راوړه او اسپے به
ئے ښه بیاړه راوړه او نور مال به ئے هم ورځ په ورځ زیاتیدهٔ نو ویل به ئے چه اسلام راپورے
ښهٔ شو او زهٔ به ئے په اسلام خولهٔ ولګوله او که به کار دکے په عکس د دهٔ وو نو ویل به ئے چه
اسلام راپورے ښهٔ نهٔ شو او بیرته به مرتد شو نو نازل شو وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلقو مَنْ يَّعْبُدُ
اللّٰهَ هغه څوك دی چه عبادت کوی د خدائ عَلٰى حَرْفٍ ع په څنډه د دین نه په زړه د دین کښ
لکه څوك چه په کنارهٔ د دښکر کښ ولاړ وی نو که برے د وینی هم هلته کلک شی او که لرے د وینی نو
وُخْتی فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ﴿ښ پس که چرے ورسیږی ده ته کوم خیر لکه صحت او سلامتی شوه په نفس
یا په مال کښ اطْمَاَنَّ بِهٖ نو په اړام شی په سبب د دے خیر او ثابت شی په دین کښ وَاِنْ اَصَابَتْهُ
فِتْنَةُ ﴿ۨ او که ورسیږی ورته کوم ازمیښت لکه مرض یا فقر یا دکے انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ﴿ۚ نو بیرته
کړځی په مخ خپل یو مخ بیرته کفر ته وګرځوی او دین ته شا کړی خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ؕ نوزیانکاره

شو هم په دنیا کښ چه مراد ته ونهٔ رسیدهٔ او هم په اخرت کښ چه عمل ئے باطل شو او خائی ئے درنځ شو ذٰلِكَ دا زیان دد وار وجها نو چه دے هُوَ الْخُسْرٰنُ الْمُبِيْنُ ⑪ هم دا زیان دے بنکاره يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بولی یعنی عبادت کوی غیر له خدائ مَا لَا يَضُرُّهٗ هغه بُت چه هیڅ ضرر نه شی رسولے دهٔ ته کهٔ عبادت ئے و نهٔ کهٔ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ او هغه چه هیڅ نفع نهٔ شی ور رسولے کهٔ عبادت ئے وکړاو هر کله چه کار دا سے شو نو ذٰلِكَ دا عبادت ددهٔ چه دے هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ⑫ هم دا گمراهی ده پیره لوے له مطلبه يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗ بولی دے هغه خوك چه ضرر ډهغهٔ چه قتل د دنیا او عذاب د آخرت دے او د الام زائد دے اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ډیر نزدے دے چه نفع دهغه چه امید دے دشفاعت لَبِئْسَ الْمَوْلٰى هر الئینه بد مددکار دے وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ⑬ او هر الئینه بد ملګرے دے ددهٔ دا بُت اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ننه به باسی هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دنیکو جَنّٰتٍ تَجْرِيْ هغه باغونو کښ چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ط لاندے دبنکلو یادونو هغو خلور واړه قسمه ولے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ⑭ کوی هر هغه چه ارادهٔ ئے وشی له اکرامه د مطیع اوله اهانته د عاصی **روایت دے** چه هرکله یوے طائیفے د عطفان توقف کاوو په قبول د اسلام کښ اووبل به ئے چه دا کار د محمد (صلی الله علیه وسلم) نهٔ دے ترسره کیدلو او هغه دوستی او محبت څومونږه چه د یهود و سره دے هغه به راسره قطع شی او ددهٔ به هیڅ مدد راونهٔ رسیږی نو نازل شهٔ مَنْ كَانَ يَظُنُّ هر خوك چه دا سے وی چه گمان کوی اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ دے چه له ده سره به مدد ونه کا له دے رسول علیه الصلوٰة و السلام سره خدائ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ هم په دنیا کښ په غالب کولو په دشمنانو او هم په آخرت کښ په قرب او په شفاعت فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ پس میاید چه ودِ غزوی یو پړے اِلَى السَّمَآءِ اسمان ته یا بام دکوټے خپلے ته او په لَهٗ ورپورے دِ و تړی او خان دِ اویزان کړه ثُمَّ لْيَقْطَعْ بیا میاید چه دِ پریکړه دا پړے چه راپریوزی په زمکه او مړشی یا معنیٰ دا چه پړے دِ و تړی په اسمان پورے او د اسمان دِ قطع کړه چه ور سیږی اسمان ته او نصرت قطع کاندے حُماله رسوله فَلْيَنْظُرْ پس میاید چه وګوری چه سره له دوُ مره مشتعتو نو هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ چه ایا بیائی د افریب او حیله ددهٔ په حصار ولو د

نصرت کښی له رسول صلے الله علیه وسلم څخه مَا يَغِيظُ (۱۵) هغه څیز چه په غضب کړے ئے دے
وَكَذٰلِكَ او په مثل دراليږلو حُمونږه دا تیرا یتونه اَنْزَلْنٰهُ راليږلے دے مونږه داقرآن اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ایتونه
ښکاره هم په احکاموهم په اخبارو کښی چه شبه معلوم شئ تاسے وَّاَنَّ اللّٰهَ اوبل دپاره دے چه بیشکه
خدائ يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ (۱۶) سمه لاره ښائی په دے قرآن سره هرهغه چاته چه اراده ئے وشی دهدایت
دهغهٗ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَالَّذِيْنَ هَادُوْا اوهغه
کسان چه یهودیان دی وَالصّٰبِـُٔوْنَ او ستوریو ته سجده کونکی چه دی وَالنَّصٰرٰى اونصرانیان
چه دی وَالْمَجُوْسَ او مجوس چه دی وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اوهغه کسان چه شریکان نیسی له
خدای سره یعنی بُت پرستان اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ بیلتون به وکړه په مابین دوکه شپږو
وارو طائفو کښی يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ په ورځ د قیامت په دے شان چه مؤمنان به په جنت کښی داخل کړی
اوداانور پنځه واړه په دوزخ کښی چه محق اومبطل سره ممتاز شی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عَلٰى كُلِّ
شَيْءٍ شَهِيْدٌ (۱۷) په هرشئ شاهد اواګاه دے اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ ایا نه ویښے یعنی نۀ پوهیږے ته
چه بیشکه خدائ چه دے يَسْجُدُ لَهٗ سجده کوی دهٗ ته مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ هرهغه څوک چه په اسمانونو
کښی دی اما ملایک سجده د طوع اوباقی اشیاء سجده د تسخیر کوی وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اوهرهغه څوک
چه په زمکه کښی دی مؤمنان سجده د طاعت اوبل سجده د تذلل اود خضوع وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ اوښ
اوسپوږمئ هم په پریوتلو سره پس له ختلو وَالنُّجُوْمُ اوستوری هم داسے وَالْجِبَالُ اوغرونه هم په
بهیدلو دچینو اوپه پرورش دکانونو وَالشَّجَرُ اوونے هم له جهته دسوریو وَالدَّوَآبُّ اوچارپایان هم
په تیت ټک سره وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ ؕ اوزیات له اد میانو هم چه مؤمنان دی په سجده دطاعت او د
عبادت وَكَثِيْرٌ اوډیر دی له اد میانو په سبب دکفر اوابا له سَجَدَ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ لایق شوے
دے په دوئ یعنی دوئ لره عذاب وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ اوهرڅوک چه خوارکړے خدائ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ
پس نشته هغه لره عزت ورکونکے هیڅوک په سعادت یا په هدایت یا په توفیق اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
چه خدائ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ؕ (۱۸) سجده کوی هرهغه کارچه اراده ئے وشی دچا اهانت وکه اودچا اکرام
وکړی **روایت دے** چه هرکله یهود او مومنانو سره جګړه اوکړه دا سے چه یهودو وویل مونږه

له تاسے بندۂ لائق یود نزدے والی خدائ ته حُکه چه پیغمبر حُمونږه پخوا دے له پیغمبر ستاسے او کتاب حُمونږه پخوا دے له کتاب ستاسے او مومنانو وویل چه مونږه له تاسے بندۂ لائق یو حُکه چه مونږه ایمان راوړے دے هم په خپل پیغمبر او هم ستاسے په پیغمبر او هم د دواړو په کتابونو چه خدائ رالیږلی دی او تاسے ته د پیرښۂ معلوم دے حُمونږه پیغمبر او کتاب له تورات او له ډیره حسده ایمان پرے نۀ راوړئ نو نازل شو هٰذٰنِ خَصْمٰنِ دا دواړه طائفے چه مؤمنان او کافر دی جګړه کونکی دی سره دواړه هر یو له بله سره اِخْتَصَمُوْا فِیْ رَبِّهِمْ ز چه جګړه ے برپا ے کړے ده په خپل رب کښ یعنی په دین یا په ذات او صفاتو د ده کښ او څوک وائی چه مراد له دے خصمینو هم هغه تیر شوی شپږ دی چه مؤمنان یو خصم او دا نور پنځه واړه بل خصم دے بیا دهر یو خصم جزائے بیان کړه د کفار و په دے قول چه فَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا پس هر چه هغه کسان دی چه کافر شوی دی لکه دا تیرے پنځه طائفے قُطِّعَتْ لَهُمْ وخکځخته شوے دوئ له ثِیَابٌ مِّنْ نَّارٍ جامے له اوره په اندازه د قدر د دوئ چه له سره تر قدمه په کښ جلیل کیږی او سوزی په یُصَبُّ بیا توئ به کړے شی مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِیْمُ ﴿۱۹﴾ پاس د سر د پاسه د دوئ او به خُتکیدے یُصْهَرُ بِهٖ چه ویلے به کړے شی په دے او سره مَا فِیْ بُطُوْنِهِمْ هر هغه چه په درونو د دوئ کښ دی یعنی کلیے او زیږۀ او اثینه او پیوس او پخوتورکی او باقی وازده وَالْجُلُوْدُ ﴿۲۰﴾ او پوستکی هم یعنی دا او به به درونه او بیرونه کښ په یو شان تاثیر کوی له غلیے د حرارته وَلَهُمْ مَّقَامِعُ او وی به د دریاب دیارۀ گرزونه مِنْ حَدِیْدٍ ﴿۲۱﴾ له اوسپنے څخه چه دوئ به پرے په سر سره وهلے کیږی كُلَّمَا اَرَادُوْٓا هر کله چه اراده وکړی دوئ اَنْ یَّخْرُجُوْا د دے چه ووزی دوئ مِنْهَا له دے اوره مِنْ غَمٍّ له جهته د هغه خفګان چه په دوئ به وی په سبب د دے عذاب اُعِیْدُوْا فِیْهَا ګرځولے به شی بیرته به او غورځولے شی په دے او کښ پرے ګذارونو ذُوْقُوْا ونوسره او یا کال مزل بنکته وَذُوْقُوْا او وبه ویلے شی وسرته چه وخکئ عَذَابَ الْحَرِیْقِ ﴿۲۲﴾ عذاب د دے سیزونکی اور او د مؤمنانو په دے قول سره چه اِنَّ اللّٰهَ بے شکه چه خدای یُدْخِلُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ننه به باسی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے د په خدائ او په رسول وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دنیکو جَنّٰتٍ تَجْرِیْ به هغه باغونو کښ چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د بنکلو یا د ونو د هغو څلور قسمه یُحَلَّوْنَ فِیْهَا چه وابه غوستو لے شی دوئ ته په دغه مِنْ اَسَاوِرَ وخی چه وی

مِنْ ذَهَبٍ له سره زر وَّلُؤْلُؤًا او ملغلمے یعنے جړاؤ کړے په وخیو او داعطف دے په محل د اَسَاوِرَ وَلِبَاسُهُمْ او اغوستن ددوئ چه دے فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾ په دے جنتو نو کښی دریشمو به وی وَهُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ اولاړه به وخودے شی دے مؤمنانو ته په طرف دښه پاك مِنَ الْقَوْلِ ج له کلمتاوه څخه چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے وَهُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿۲۴﴾ او برابر به کړے شی دوئ لارے د خدائ ستایلے شوے ته چه هغه دین دے داسلام اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چه کافر شوی دی وَيَصُدُّوْنَ او اړوی خلق عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ یعنے له دین داسلام وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ اوله هغه مسجد حرام یعنی منع کوی خلق له دخوله په هغه مسجد حرام کښی جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ چه گرځولے دے مونږه دا مسجد حرام د پاره د ټولو خلقو سَوَآءَ ن برابر چه تخصیص نشته په دے کښ په کوے طائفے پورے بلکه په یو شان دی پکښی دواړه طائفے الْعَاكِفُ فِيْهِ وَالْبَادِ ط چه یو مقیم دے په دیکښی اوبل افاقی دے چه له اطرافو نه راغلے وی او داسواء مفعول ثانی دے د جعلناه بیا دے شبه فعل دے او العاکف ئے فاعل دے اوبل داچه خبر دے اِنَّ محذوف دے او دلالت کوی پرے جزا دهغه شرط چه محکښی ذکر دے وَمَنْ يُّرِدْ اوهر څوك چه اراده وکړه فِيْهِ بِاِلْحَادٍ په دے حرم کښی د الحاد یعنے د چپیدلو له لارے د حق بِظُلْمٍ نَّذِقْهُ په طریقه د ظلم سره نو به ځکوو مونږه دهغه تهِ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۵﴾ له عذاب د دردناك څخه وَاِذْ بَوَّاْنَا اویاد کړه هغه چه ښکاره کړه مونږه لِاِبْرٰهِيْمَ ابراهیم علیه الصلوة والسلام ته مَكَانَ الْبَيْتِ ځائ د هغه بیت چه پخوا ملایکو سازکړے وو له سرو یاقوتو څخه پخپل خلافت کښ بیا په طوفان کښ اسمان ته یوړے شو بیا ابراهیم علیه الصلوة والسلام ته ځائ د هم هغه بیت رب معلوم کړه دا سے چه باد راغے او پخوا نیو دیوالونو خایونه ئے جاروکړل نو هلته دهٔ کوته بناکړه او بیا چه ساره کړه نو مونږ ورته پیغام وکړه اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْـًٔا دا سے چه شریك مهٔ نیسه له ما سره هیڅ څخه وَطَهِّرْ بَيْتِيَ او پاك کړه دا بیت ځما له بتانو او له نورو ناپاکیو لِلطَّآئِفِيْنَ د پاره د طواف کونکو وَالْقَآئِمِيْنَ او د پاره د اوسیدونکو په مکه کښی وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۲۶﴾ او د پاره د رکوع کونکو سجده یعنے د پاره د مصلیانو وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ اوغږ وکړه په خلقو کښی بِالْحَجِّ په حج سره اوچ لوئ قصد تدوائی غټ مطلوب ته نو به غړه دا بوقبیس وخوت اوغږ ے ئے کړے چه يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ رَبَّكُمُ بَنٰى بَيْتًا وَّوَجَبَ عَلَيْكُمْ

الْحَجِّ فَاجِيبُوا رَبَّكُمْ اوخلور وار وجانبو تہ ئے مخ وکړئ ولو شرق تہ غرب تہ یمین زہ شمال تہ نو هر چاچہ نصیب وو یہ حج کولو کښی هغهٔ داغږ واورید ۂ اوجواب ئے ورکہ داچہ لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ اګر کړہ یہ ارحامو یا یہ اصلابو کښی وو هم اوجواب دامرد ادے يَأْتُوكَ رِجَالًا لاچہ راشی دوئ تاتہ بعض پیاده کان یعنی پلی اودا اول یاد شو چہ فضیلت پہ دے کښی دپردے وَعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ اوبعض سوارۂ پہ هر خوا راوښ باندے هسے اوښان يَأْتِينَ چہ راځی دوئ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ (۲۷) له هر لرے لارے لِيَشْهَدُوا دپارہ دے چہ راشی اوحاضر شی مَنَافِعَ لَهُمْ هغه نفعونہ چہ مقرر دی دوئ له خاص پہ غیر عبادت سره دد نیا اوهم ددین وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ او بل دپارہ دے چہ یاد کړئ دوئ نوم دخدائ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومٰتٍ پہ هغه ورځو کښی چہ معلومے دی چہ پہ نزد دامام اعظم رح لس ذی الحجے دی چہ آخر ئے یوم النحر دے او پہ نزد د صاحبینو دریم ورځ دی دنحر یعنی چہ یاد کہ دوئ نوم دخدای عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ پہ ذبح د هرهغه خیز چہ روزی ورکړے ده خدائ دوئ تہ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ له بے زبان چارپایانو لکہ اوښانو اوغوایانو او وری اوکډو شوے چہ پہ ورځ داختر اودوه ورځو ورسے حلال دے فَكُلُوا مِنْهَا پس خورئ پخپلو هم له غوښو دهغو څخہ پہ طریقہ داباحت سره وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ (۲۸) اوهم وخورئ پہ نادار تنګدست باندے **اعلم** ان الحج فی اللغة مطلق القصد وفی الشرع قصد البیت الحرام قال الله تعالٰی وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا فاردت ان ابین جمیع احکامه وهی عشرة شرائط وجوبه وفرائضه وواجباته وسننه وآدابه واشهره ومواقیته ومنهیاته وکیفیة ادائه وَأَمَّا شرائط وجوبه فسبعة الاسلام والحریة والبلوغ والصحة والبصر والزاد مع الراحلة وامن الطریق وَأَمَّا فرائضه فثلثة الاحرام والوقوف بعرفات وطواف ۱ لزیارة وَأَمَّا واجباته فخمسة السعی بین الصفا والمروة والوقوف بمزدلفة ورمی الجمار والحلق اوالقصر وطواف الصدر للآفاقی وَأَمَّا ماسوای تلک الثمانیة فسنن وَآدابٌ وَأَمَّا اشهره فثلثة شوال وذو القعدة وعشر ذی الحجة ولذا کره الاحرام قبلها وَأَمَّا مواقیته فثلثة اقسام لاهل مکة ومن دویرة اهله ولاهل الحرم المحل مطلقا ولاهل الآفاق خمسة اماکن فلململم لذی الحلیفة وللعراق ذات عرق وللشامی جحفة وللنجدی قرن

له معنے داچہ اے خلقو بیشکہ رب ستا سوجوړ کړو کور او واجب ئے کړو پہ تاسے قصد د تللو هغے تہ نو قبول کړی بللہ رب خپل ۱۲

وللیمنی یلملم وحرم التاخیر عنها للافاق المرید دخول مکة **و** اما کیفیة الاحرام فان یتوضأ والغسل افضل ویلبس ازارا ورداءً جدیدین او غسیلین غیر مخیطین ویتطیب ثم یصلی رکعتین ثم قال المفرد اَللّٰھُمَّ انی اریدالحج فیسره لی وتقبله منی ثم لبی بسنیة الحج ای قال لبیک اللهم لبیک لاشریک لک ان الحمد والنعمة لک والملک لک لاشریک لک فاذا قال ذلک صار محرمًا **و** اما منهیاته بعد الاحرام فعشرون الرفث والفسوق والجدال وقرب النساء وقتل صید البر والاشارة الیه والدلالة علیه والتطیب وقلم الظفر وستر الوجه والراس وغسل الراس واللحیة وقصها وحلقه وشعر سائر البدن ولبس المخیط والعمامة والخفین والمصبوغ بطیب غیر الحذر وجاز الاغتسال ودخول الحمام والاستظلال بالبیت او المحمل وشد الهمیان فی الخصر ویکثر التلبیة الاسیما فی خمسة اوقات بعد الصلوٰة وعند الرفع والهبوط وملاقات الرکبان وفی وقت السحر هذا قبل دخول مکة واما اذا دخلها فلیبدأ بالمسجد اذا رای البیت کبر وهلل ودعا ثم استقبل الحجر الاسود واستلمه ان قدر والامسه بعصاه وقبل العصا وکبر وهلل ورفع یدیه وحمد الله وصلی علی النبی علیه السلام وطاف طواف القدوم بادیا عن یمین البیت ممایلی الباب سبعة اشواط رملا فی الثلاثة الاُول مضطبعا وکلما مر بالحجر فعل ما ذکر وختم الرکن باستلام الحجر خرج فصعد الصفا واستقبل البیت وکبر وهلل وصلی علی النبی علیه السلام ورفع یدیه ودعا بما شاء ثم مشی نحو المروة ساعیًا بین المیلین الاخضرین وفعل علیها ما فعل علی الصفا وطاف بینهما سبعة اشواط وبدأ بالصفا وختم بالمروة ثم سکن بمکة محرما وطاف بالبیت ما شاء نفلا **و** اما کیفیة اداء الحج فان یخطب الامام سابع ذی الحجه ویعلم الناس فیها المناسک ثم خرج الی منی ومکث بها الی فجر یوم عرفة ثم ذهب الی عرفات بعد صلوة الفجر من یوم عرفة فاذا زالت الشمس خطب الامام خطبتین کالجمعة ویعلم الناس فیها المناسک ثم صلی بعد الزوال الظهر والعصر باذان واقامتین بشرط الاحرام والامام **ثم** ذهب الی الموقف ووقف بقرب الجبل حاملا مکبرا مهللا ملبیا مصلیا داعیا **ثم** اذا غربت الشمس اتی مزدلفة ونزل عند جبل قزح وصلی العشاءین باذان واقامة ثم صلی الفجر بغلس ووقف مکبرا مهللا مصلیا داعیا **ثم** اتی منی بعد ما اسفر فرمی جمرة العقبة من بطن الوادی بسبع حصاة وکبر بکل حصاة وقطع التلبیة باولها ثم ذبح

وحلق او قصر وحل له غیر النساء **ثم** اتی مکة یوم النحر او یومین بعده والاول افضل وطاف للزیارة سبعة اشواط بلا رمل وسعی ان رمل وسعی قبل والا فعلیها وحل له النساء **ثم** اتی منی فی ثانی النحر ورمی الجمار الثلث بادیا بما یلی المسجد ثم بما یلیها ثم بجمرة العقبه سبعًا سبعًا وکبر بکل حصاة ووقف عند کل رمی بعدہ رمی ثم غدا کذالك ثم بعده کذالك ان مکث ولو رمی فی الیوم الرابع قبل الزوال صح **ثم** ذهب الی مکة ونزل بالمحصب ثم طاف للصدر سبعة اشواط بلا رمل وسعی وهو واجب الاعلی اهل مکة **ثم** شرب ماء زمزم وقبل العتبة ووضع وجهه وصدره علی الملتزم وتشبث بالاستار ساعة ودعا مجتهدًا وبکی او تباکی ورجع قهقری حتی یخرج من المسجد تمت الرسالة ثُمَّ لْيَقْضُوْا بیا میبایدچه ترسره دِ کړی تَفَثَهُمْ حاجتونه خپل چه اداده دمناسکو دج یا لرے کول د خیری دی له ځانه او لرے کول د ویښتو او د نوکونو او داسے نور وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ او بل میبایدچه وفادِ وکه دوئی په نذرونو خپلو یعنی اداد ِکه هغه منلی خپل له هدیو او له قربانیو وَلْيَطَّوَّفُوْا اوبل میبایدچه طواف دِ وکه طواف دزیارت چه رکن دے دج بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ (۲۹) په هغه بیت چه کریم یا عتیق دے ذٰلِكَ کار هم داسے دے چه ذکر شو او داخبر دے دمبتدا محذوف وَمَنْ يُّعَظِّمْ اوهرڅوك چه لوئے وشمیری او تعظیم وکه حُرُمٰتِ اللّٰهِ هغه احکام دخدائ چه هتک دحرمت ئے روانهٔ دے یا عام په تولوتکالیفو کښ یا خاص په مناسکو دج کښ اوڅوك وائی چه حُرُمٰت دخدائ دا پنځه دی بیت حرام مسجد حرام بلد حرام شعر حرام اشهر حرام فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ پس دا تعظیم پریغوره دے دهٔ لره په آخرت کښ عِنْدَ رَبِّهٖ په نزد درب دهٔ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اوحلال کړے شویدی تاسے لره چارپایان یعنی خوراك ئے اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ مګر هغه چارپایان چه لوستے کیږی په تاسے تحریم دهغوی په آیت دحرمت علیکم المیتة کښ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ پس ځان وساتئ له پلیتئ مِنَ الْاَوْثَانِ له هغه پلیتئ چه بتان دی یعنی دامن بیا ینه دے وَاجْتَنِبُوْا اوبل ځان وساتئ قَوْلَ الزُّوْرِ (۳۰) له خبرے دِدروغ چه شریك پیدا کول دی له خدائ سره یا شاهدی دِه په ناحقه یا مطلق ګفتار دے مخالف معتقد حُنَفَآءَ لِلّٰهِ په دِ ځال چه کردن نها ده اوسئ په اخلاص سره خدائ ته یوالے غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ طچه شریکونکی نه اوسئ له دهٔ سره بل هیڅوك نه په الوهیت اونه په عبادت کښ او داحال دے لکه

حنفاء له واو د اِجْتَنِبُوا وَمِنَ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ اوهر څوك چه شریك ونیسی په خدائ پورے فَكَاَنَّمَا خَرَّ پس داسے شوچه گویا که راپریوت دے مِنَ السَّمَآءِ له اسمانه زمکے ته فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ پس تختوی ئے ده مرغان یو له بله او یوتئ بوتئ کوی ئے اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ یا لکه چه راو غورځوی دے باد له کومه هلکځایه فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ (۳۱) په هغه ژور ځائے کښ چه ډیر لرے وی له دستکیر فریاد رس حاصل داچه له مشرك سره دوه تشبیه بنائی څکه چه دیا لویدلے دے له اسمان دهدایت زمکے د ضلالت ته او بیا هلته مشتیاتوند نفس پارچے پارچے کړے دے اویادے باد دوسوسو شیطانی رالوزولے دے لږوئے دایمان ژورے دکفرته اوپه دے دواړو کښ بیا فریاد رس ئے هم له سره نشته نوعاقبت ئے خراب دے ذٰلِكَ ټ کارهم داسے دے لکه چه ذکر شو او داخبر دے د مبتداء محذوفے او هر څوك چه تعظیم وکړ شَعَآئِرَ اللّٰهِ دښو د خدائ چه فرائض دج دی یا هدایا دی څکه چه داهم ښیے دی دج او تعظیم ئے دادے چه چاغے بے عیبه قیمتی وی فَاِنَّهَا پس دا تعظیم چه دے د دیو مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ (۳۲) له تقوی اوپرهیزګارئ دزړونو دے لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ دی تاسولره په دے انعاموکښ د یو ځے نفع په اقساموله شود ۀ اوماسته او شلو نیے او قُوت او پوخه اومتراوکوچ او غوړی او وړئ او وجفتے اوسوریدل او بارول اوغوښے اوپوستکی اوقلبه اوګانړئ اوارهټ کړځول اود اسے نور د یر شول اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى تر وخته په نامه کړے شوی پورے چه وخت د ذبح دے ثُمَّ مَحِلُّهَآ بیا وخت د دیوچه دے منتهی دے اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ (۳۳) هغه بیت ته چه بلند شان دے او دلته مراد ذبح ده په حرم کښ چه دے هم حکماً بیت دے څکه چه حریم دے د ده وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اوهر ځائے طائفے د هغه مؤمنانو له چه پخوا وو له تاسے جَعَلْنَا مَنْسَكًا مقرر کړی یعنے فرمایلی وو مونږ د قربانی او تویول دوینو لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ د پاره د دے چه یاد کړی دوئ نوم د خدائ خاص نوم دبل چا اَعلٰى مَا رَزَقَهُمْ په وخت د ذبح د هغه څیز چه روزی ورکړے ده خدائ مِنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ له بے زبانه د چارپایا نو چه د پاره د قربانئ حلال لولے شی فَاِلٰهُكُمْ پس معبود ستاسے د ټولو چه دے یعنے ستاسے اود پخوا نیو امتونو اِلٰهٌ وَّاحِدٌ هم هغه یو خدائ دے فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا پس خاص هم دهٔ ته غاړه کیږدئ اوبل هیڅوك مهٔ شریکوئ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ (۳۴) اوزیږے اوکړه اے رسوله! په هغه مخلصانو تواضع کونکیو او ویریدونکیو باندے چه

خلور صفات لری چه دا مخکښ ذکر دی اَلَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ یعنی هغه کسان چه هرکله یاد کړے شی خدائ د دوئ په مخکښ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ یو داچه ویریږی زړونه د دوئ له جهته د جلال د دهٔ وَالصّٰبِرِيْنَ دویم داچه صبر کونکی دی عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ په هغه سختیو او غونډو چه رسیږی دوئ ته وَالْمُقِيْمِى الصَّلٰوةِ اودریم داچه ودرونکی وی دمانځه یعنی ادا کونکی وی سره له تولو حقوقو ئے په خپلو اوقاتو کښ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ اوخلورم داچه بعض له هغه مال چه ورکړے دے موږ په دوئ ته يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ ورکوی په لار د خدائ کښ وَالْبُدْنَ اوهغه اوښان اوغوایان چه د هدیے دی جَعَلْنٰهَا لَكُمْ گرځولی دی موږ په دا ټول تاسے لره مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ له نښو د دین د خدائ چه د دوئ ذبح نښه ده د دین لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ګټه چه ده تاسے لره په دیو کښ د پره نفع د دنیا او پراجر په آخرت کښ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ پس یاد کړئ نوم د خدائ عَلَيْهَا په دے اوښانو په وخت د ذبح کښ صَوَآفَّ ج په حال چه په دریو خپو ولاړ وی اوبه وخپه د مخے ترے تړلی وی فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا پس په هغه وخت چه پریوتهٔ اړخونه د دیو په زمکه د روح تر لاړ شو فَكُلُوْا مِنْهَا پس خورئ پخپله هم له غونبو د دیو کهٔ خواهش لرئ وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ اوخورئ په نادار قناعت کونکو نهٔ غونبتونکی باندے هم وَالْمُعْتَرَّ ط اوبه غونبتونکی بنکاره یا په کنایه كَذٰلِكَ همدا سے یعنی په ولاړه ذبح کولو هم سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ مسخر کړی دی موږ په دا تاسے تهٔ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۳۶﴾ بنائی چه شکر وباسئ تاسے په دے نعمت كُلَّا لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ له سره به وهٔ رسیږی خدائ ته لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا نهٔ غونبے د دوئ او نهٔ وینے د دوئ وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ اولیکن رسیږی دهٔ ته التَّقْوٰى مِنْكُمْ ط پرهیزګاری له تاسے كَذٰلِكَ همدا سے لکه چه ذکر شو سَخَّرَهَا لَكُمْ مسخر کړی دا انعام تاسے ته دا سے چه هم ئے دنیئ او هم ئے حلال کړئ سره له دومره عمتوالی لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ د پاره د دے چه تکبیر ووائ د خدائ په وخت د ذبح یا لویئ ووائ د خدائ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ط په دے چه لاره ئے بنودلے ده تاسے ته د نښو د دین او دمناسکو د حج خپل وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۷﴾ اوزیږے وکړه په نیکو کارانو د جنت اِنَّ اللّٰهَ بیشکه الله تعالی به دے مشرکینو د ضرر رسولو طاقت يُدٰفِعُ زر تر زره دفع کړی عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا له مومنانو نو څنګه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَا يُحِبُّ نه خوښوی كُلَّ خَوَّانٍ هر خیانتکر نا شکره كَفُوْرٍ ﴿۳۸﴾ نهٔ خوښوی هر خیانتکر نا شکره **روایت دے** چه

هرڅوک مشرکانو پرظلم اوجبر او تعدای بنا کړه په مومنانو تردے حده چه یو به وهلے شوے راغے رسول صلے الله علیه وسلم لره اوبل تړلے اوبل زخمی او پیره ژړا به ئے ورته وکړه دووئ له لاسه اودهٔ به وتړه ویل چه صبر کوئ چه زهٔ دا په قتال ماموره شوے نهٔ یم او یوځو دپاسه آیتونه راغلی دی په منع د قتال کښ بیا چه هجرت ئے وکهٔ نو آیات راغے داذن دقتال اوډا اول دهغه آیتونو دے چه پهاذن دقتال کښ راغلے دے لکه چه وائی اُذِنَ لِلَّذِيْنَ رخصت ورکړے شو دقتال هغه کسانو یُقٰتَلُوْنَ چه قتال کولے شی له دووئ سره له طرفه دمشرکانو اوډا اذن چه ورته شوے دے بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا په دے سبب چه په دووئ ظلم کړے شوے دے نو پس له دے قتال داوس کوی دووئ وَاِنَّ اللّٰهَ اوبیشکه چه خدائ عَلٰى نَصْرِهِمْ په مدد کارئ د دووئ لَقَدِيْرُ ۙ﴿۳۹﴾ هرڅائینه چه قادر دے الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا دووئ هغه کسان دی چه ایستلی شوی دی مِنْ دِيَارِهِمْ له کورونو ځایلو چه په مکه کښ وو بِغَيْرِ حَقٍّ په ناحق بے موجب د اخراج اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا مګر دا چه وویل دووئ رَبُّنَا اللّٰهُ چه رب ځمونږه الله دے خاص یواځے نهٔ لات اونهٔ منات اوسره له دے چه داقول خوموجب د تمکین وونه نه داخراج وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ اوکه چرے نهٔ وے دفع کول دخدائے دے خلقو بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ بعضے دووئ په بعضونو یعنی که مسلط کړے او غالب کړے ئے نهٔ وے مؤمنان په کافرانو لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ نو هرڅائینه نړولے اوروانے کړے شوے به دے صومعے دراهبانو یعنی عبادت خانے دووئ قَرِيْعٌ اوکنیسے دنصارای وو وَّصَلَوٰتٌ اوکنیسے دیهودو اوډاره هم ځایونه دمانځنه دی دووئ وَّمَسٰجِدُ اوجماتونه دمسلمانانو يُذْكَرُ فِيْهَا چه یادوهٔ شی په دے مساجدو کښ یا په دے نو لومذکورو کښ اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا نوم دخدائ پرې لَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ اوهرڅائینه مدد کوی خدائ خامخا مَنْ يَّنْصُرُهٗ له هغه چا سره چه مدد کوی له ده سره یعنے له دین ددهٔ سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۴۰﴾ هرڅائینه توانا دے په نصرت دمؤمنانو غالب دے په هرچا اَلَّذِيْنَ دووئ هغه کسان دی اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ کهٔ چرے پیره کړو موږ دووئ فِى الْاَرْضِ په زمکه کښ او اختیارد زمکے دووئ لره ورکړو اَقَامُوا الصَّلٰوةَ نوادا کوی دووئ مونځونه خپل سره له لو لخلقو وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ اوورکوی به دووئ زکوات وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ اوامر به کوی دووئ په خلقو دنیکو کارونو وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ او منع کوی به دووئ خلق له بد و کارونو وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ

الْأُمُوْرُ ﴿۴۱﴾ اوخاص خدائ له دے نهایت یعنی سرانجام د ټولو کارونو دینی دی او که د دنیوی دی
وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ اوکه تکذیب کوی دامشرکان د قریشو ستا اے رسوله نوخاطر دملال کوه مه څکه چه
دا تکذیب پخوانے راروان دے چه فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ په تحقیق تکذیب کړے دے پخواله دے قومه
ستا قَوْمُ نُوْحٍ قوم د نوح علیه السلام د دۀ وَعَادٌ اوعاد یانو د هود علیه السلام وَثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ او
ثمود یانو د صالح علیه السلام وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ اوقوم د ابراهیم علیه السلام د دۀ وَقَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ او
قوم د لوط علیه السلام د دۀ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ج اوښار د مدین د شعیب علیه السلام وَكُذِّبَ
موسیٰ او تکذیب وکړے شو موسیٰ علیه السلام یعنی تکذیب ئے وکړو نږو وخلقو چه
فرعون او قبطیان دی نه بنی اسراءیل څکه قَوْمِ مُوْسٰى ئے و نهٔ ویل د نورو په شان
فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ پس مهلت ورکړو په تاخیر د عقوبت سره ما د غه تیر وکافرانو له تر یووخته
چه بیا هیڅ عذر ئے پاتے نهٔ شی ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ج بیا ناګاه وینول ما دوئ په طوفان په بادصرصر
په آواز د ملک په لښکرو ماشو په قدرت دکانړو دوږ ئے لکه سائبان چه موجب د هلاک شو په عرب په
خسف فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾ څرنګه وو خونبول ځما دکارد انکار دوئ او تغیرو رکول ځما معاش د دوئ له
چه نعمت ئے په زحمت بدل شو اوژوندون ئے په هلاک او آبادی ئے په خرابئ فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ
پس د پردی له کلیو او له ښارونو اَهْلَكْنٰهَا چه هلاک کړی دی مونږه یعنی اوسیدونکی د دوئ وَهِيَ
ظَالِمَةٌ اوحال دا چه ظالم وو د دوئ یعنی اهل ئے فَهِيَ خَاوِيَةٌ پس دغه کلی او ښارونه لویدلی پرایته
وو عَلٰى عُرُوْشِهَا په بامونو خپلو یعنی اول به ئے بامونه و لویدل او بیا په بامونو د پاسه ئے د یوالونه
پریوالته وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ اود پرکوهی دی چه حیران بے منفعته پرایته دی چه عامران ئے هلاک شوی دی
وَّقَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿۴۵﴾ او د پرے بنګلے دی چه چونه کچ یا لوړے چه خالی پرته دی له جهته د هلاکه د اوسیدونکو
اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا ایا پس تک نهٔ کوی دا کفار د مکی فِى الْاَرْضِ په زمکه د شام او د یمن کښی فَتَكُوْنَ
لَهُمْ پس وی به د دوئ لره قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ زړونه چه فکر کوی دوئ په هغوسره چه غاد پخوانو
مکذبانو څه وو اَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا یا غوږونه چه خبرے اوریدے دوئ په هغوسره چه په اخرکښی
په کوم عذاب هلاک شوچه دوئ پرے عبرت واخلی فَاِنَّهَا پس قصه اوحال د دے لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ چه

نهٔ دی پندے سترگے دسرو نوډ دوئ ځکه چه هرڅیز پرے وینی ولکِن تَعمَی القُلُوبُ الَّتِی لیکن زړونه دی زړونه دوئ یعنی سترگے دزړونه هغه زړونه فِی الصُّدُورِ ﴿۴۶﴾ چه دننه په سینو کښی دی ځکه عبرت پرے نهٔ اخلی وَیَستَعجِلُونَکَ اوجلتی کوی دا کفار وهکے په تا بالعذاب په راوستو دعذاب کښ لکه نضربن حارث اومنکری دده وَلَن یُّخلِفَ اللّٰهُ وَعدَهٗ ؕ اوله سره به خلاف نهٔ که خدائ وعده خپله دنزول دعذاب یعنی جلتی دِ نهٔ کوی په عذاب پخپله ورلره راځی خامخا له جهتنه دوعدے وَاِنَّ یَومًا اوبیشکه یوه ورځ چه ده عِندَ رَبِّکَ په نزد رب ستا دا سے اوږده ده کَاَلفِ سَنَةٍ لکه زر کاله شو مِمَّا تَعُدُّونَ ﴿۴۷﴾ له هغه کلونو چه شمیرئ ئے تاسو وَکَاَیِّن مِّن قَریَةٍ اوډیر دی له کلیو اوله بنارونو یعنی له اوسیدونکیو ئے چه محض په رحمت خپل سره اَملَیتُ لَهَا مهلت ورکړے دے ما هغوله اوجلتی نهٔ ده کړے په عقوبت دده وئ کښی وَهِیَ ظَالِمَةٌ اوحال داچه ظالمان وو دوئ د پاره ده ډکے چه بنائ چه توبه وباسی دوئ ثُمَّ اَخَذتُهَا بیا ناخاپه ونیول ما دوئ په دنیا کښی په سخت عذاب سره چه توبه ئے دنهٔ ویسته وَاِلَیَّ المَصِیرُ ﴿۴۸﴾ اوبیا خاص ماته دی راتلے دے هم په اخرت کښی نوهلته به هم جزا درکړو قُل دوایه اے رسوله یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے اومیانو مکے اِنَّمَاۤ اَنَا بیشکه هم دا خبره ده چه زهٔ لَکُم نَذِیرٌ مُّبِینٌ ﴿۴۹﴾ تاسے له ویرو ونکے یم بنکاره فَالَّذِینَ اٰمَنُوا پس هغه کسان چه ایمان دُ راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو لَهُم مَّغفِرَةٌ مقرره دے دوئ لره بخښش دګناهونو وَرِزقٌ کَرِیمٌ ﴿۵۰﴾ اوغوره روزی چه جنت دے وَالَّذِینَ سَعَوا اوهغه کسان چه کوشش کوی یا مسابقه کوی دوئ فِۤی اٰیٰتِنَا په ایتو نو څوونږه کښی یعنی په قرآن کښی په نیت درد اوه ابطال مُعٰجِزِینَ یه دے حال چه نمړے کیدونکے دے په مونږه په عاجز کولو کښی په زعم خپل یعنی چه دوګ بښتی له مونږه اوعذاب به ورنه رسولے شو مونږه اُولٰٓئِکَ دا کسان چه دی اَصحٰبُ الجَحِیمِ ﴿۵۱﴾ ملګری د دوزخ دی چه همیشه به پکښی پراته وی **روایت دے** چه هرکله سوره والنجم راښے او رسول صلی الله علیه وسلم په مسجد حرام کښی په ډله د قریشو باندے ولوست په ډیر مدار سوره چه سامعان ئے په ښهٔ شان سره واوری نو شاید چه ایمان راوړی بیا چه دے ایت له راښے اَفَرَءَیتُمُ اللّٰتَ وَالعُزّٰی وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الاُخرٰی اوپس له دے ایت ئے یو قدر سکوت وکهٔ لکه چه بیرته ئے عادت وو

نو په دغه وخت کښ شیطان وویل چه تِلْكَ الْغَرَانِيْقُ الْعُلٰى وَاِنْ شَفَاعَتَهُنَّ لَتُرْتَجٰى یعنی دا درې واړه بتان چه دی پرېږدئ نو دی دقوم یا مرغان دی پلنډ پرواز او بیشکه شفاعت د دوی چه هر اتیه امید ترې کاوئ شی امانه دا آوازئ وویله چه مشرکانو د آکمان وکړئ چه دا الفاظ رسول علیه السلام وویل نو پرې خوشحاله شو او په آخر د سورۃ کښ سجده ده چه رسول علیه السلام وکړه نو له پرېږدې خوشحالئ مشرکانو هم وکړه بیا د جبرائیل علیه السلام په دې حال خبر کړئ او پرېږدئ مالئ شئ نو د پاره د تسلی د دئ نازل شئ وَمَآ اَرْسَلْنَا اونهٔ وولیږلے مونږه مِنْ قَبْلِكَ مخکښ له تا مِنْ رَّسُوْلٍ هیڅ رسول وَّلَا نَبِيٍّ اونه هیڅ نبی **فائده** رسول هغه دے چه لیږلے وی خدائ په نوی شریعت سره چه بولی خلق دغه شریعت ته او نبی هغه دے چه راولیږلے شوے وی د پاره د اثبات او د تقریر د شرع سابقه لکه انبیاء د بنی اسراءیلو حکه حدیث دے چه عُلَمَآءُ اُمَّتِيْ كَاَنْبِيَآءِ بَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰى مګر په هغه وخت چه لوستل کوی دے او تَمَنّٰى په معنی د قرء دے اَلْقَى الشَّيْطٰنُ نو غورځوی شیطان فِيْ اُمْنِيَّتِهٖ په لوستلو د هغه کښ لمځانه خپله هغه کلام چه له خدایه نهٔ وی او په دے کښ حکمت دے فَيَنْسَخُ اللّٰهُ پس بیا منسوخ کاندے خدائ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ هغه کلام چه غورځولے وی شیطان یعنی باطل او لرے ئ که او پیغمبر خبر که په دے چه دا شیطان وو ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ بیا ثابت او محکم کړه خدائ اٰیتونه او د ے ساته له زیادته له شیطانه وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خدائ دانا دے په احوالو د هر چا حَكِيْمٌ ﴿۵۲﴾ حکم کونکے دے په مقتضی د حکمت بالغه سره او د القاء وکړه شیطان په وخت د تلاوت کښ په اراده د خدائ سره لِّيَجْعَلَ د پاره د دے چه وګرځوی خدائ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ هغه کلام باطل چه غورځوی ئ شیطان فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ ازمینت د پاره د هغه کسانو فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه په زړونو د دوی کښ مرض د شک او نفاق وَالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ او بل د پاره د هغه کسانو چه تاریک او سخت د ی زړونه د دوئ چه مشرکان مکذبان د ی د دوئ شک او تیاره لا پسے زیاته شی وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ او بے شکه ظالمان یعنی د تیرے ترقے چه د ی لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ هر اتیه په دا سے مخالفت کښ د ی له رسول علیه السلام او له مؤمنانو سره چه د پرلرے د ی له حقه وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ او بل القاء د پاره د دے چه پوهه شی په یقین سره هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے شوے د ی له علم د توحید او د قرآن اَنَّهُ الْحَقُّ چه بیشکه

د قرآن حق دے مِنْ رَّبِّكَ چه راغلے دے لہ رب ستا فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ پس ایمان راوړی دوئی پہ دے
قرآن فَتُخْبِتَ لَهٗ پس مطمئن اونرم شی دے قرآن تہ قُلُوْبُهُمْ زړونہ دوئی او احکام ئے قبول کاندی
وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکہ خدائی چہ دے لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا هر اُئینہ لارښودونکے دے د مؤمنانو تر الی
صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۴﴾ سمے لارے تہ چہ دین د اسلام دے وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوهیشہ بہ وی هغہ
کسان چہ کافر دی فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ پہ شک کښ لہ دے قرآن یا لہ صراط مستقیم حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ تر
هغہ وخته چہ راشی دوئی لہ قیامت بَغْتَةً ناڅاپہ اَوْ يَاْتِيَهُمْ یا راشی دوئی لہ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾
عذاب د ورځے سختے یا شنډے چہ ورځ د بدردہ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ بادشاهی پہ دغہ ورځ د قیامت
خاص بہ خدائی لرہ وی يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ط حکم بہ وکہ پہ مابین دے د مؤمنانو او کافرانو کښ پہ ورځ د
قیامت فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس هرچہ هغہ کسان دی چہ ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعمل
کوی دنیکو فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ پہ باغونو د نعمتونو کښ بہ وی هیشہ بے محنتہ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
اوهرچہ هغہ کسان دی چہ کافر شوی دی وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا اوتکذیب کوی د ایتونو زمونږ
فَاُولٰٓئِكَ پس دغہ کسان چہ دی لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ مقرر دے دوئی لہ هغہ عذاب چہ
خوار وونکے اورسوا کونکے دے وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا اوهرچہ هغہ کسان چہ خپل وطن ئے پریښے دے
یعنی لہ مکے څخہ تللی دی مدینے تہ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ پہ لارہ د خدائ کښ یعنی پہ لارہ د جهاد او طاعت او
درضا د هٗ ثُمَّ قُتِلُوْٓا بیا قتل کړے د کفارو لہ لاسہ پہ جهاد کښ اَوْ مَاتُوْا یا هسے مړہ شو پہ خپل
مړلو بے لہ قتل لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ نو هر اُئینہ روزی بہ ورکړی دوئی لہ خدائ رِزْقًا حَسَنًا ط روزی چہ ښہ
نعمتونہ دی د جنت او شهید او هسے مړہ سړہ برابر کړے شولہ جهتہ د برابرو الی دنیت د دوارو وَاِنَّ
اللّٰهَ او بیشکہ خدای چہ دے لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾ هر اُئینہ دغہ ذات دے د پرغورہ د لہ پولو روزی رسانو
څخہ چہ دے بے حسابہ ورکوی لَيُدْخِلَنَّهُمْ هر اُئینہ داخل بہ کړی خامخا دوئی مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ط
پہ دے ډول داخل یا ځائ د دخول چہ خوښ بہ کړی دوئی هغہ ځائ چہ جنت دے وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکہ خدای
چہ دے لَعَلِيْمٌ هر اُئینہ بنهٔ دانادے پہ احوالو د شهیدانو او د هسے مړو پہ انتظار د شهادت حَلِيْمٌ
صابر دے چہ جلتی نهٔ کوی پہ عقوبت د نافرمانو د دوئی کښ **روایت دے** چہ هرکلہ مقرر کانو پہ

او اخر و دمحرم کښ جنګ راوړ په مسلمانانو او دوئ ویل صبر وکړئ چه محرم تیریږی او کفار ضعیف ریږی نو مسلمانانو ورسره جنګ اوکړو او فتح ئے اوکړه نو په شان د دوئ کښ نازل شو ذٰلِكَ ج خبره هم داسے ده لکه چه مونږه وویل وَمَنْ عَاقَبَ او هر هغه څوک له مؤمنانو چه جزائے ورکړه او جزاء ته ئے هم عقوبت ووایه دیاره دمشاکلت بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ په شان دهغه څیز چه کړے شوے و د پرده په هغه څیز سره چه قتال دے مشرکانو او زیادت ئے و نه کړ یعنی که قتال وکړی مؤمن له مشرکانو سره لکه چه دوئ ورسره کړے و د په شهر حرام کښ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ بیا د و باره ظلم وکړے شو په ده دوئ لجانبه په اخراج سره له په خیل ځائ لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ط هر ائینه مدد کاری به وکړی خامخا د سره خدائ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾ هر ائینه عفو کونکے دے مؤمنانو ته د قتال په شهر حرام کښ ذٰلِكَ دا مدد کاری چه ده بِاَنَّ اللّٰهَ په دے ده چه بیشکه خدائ يُوْلِجُ الَّيْلَ ننه باسی شپه فِي النَّهَارِ په ورځ کښ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ او ننه باسی ورځ فِي الَّيْلِ په شپه یعنی هغه قادر دے په نصرت د مظلوم وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدائ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ﴿۶۱﴾ اوریدونکے دے د عاد مؤمنانو بیناد ے په احوال د منتقم ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ بیا د امد کاری چه ده په دے ده چه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْحَقُّ هم دے ثابت او واجب دے له ذاته او اَنَّ مَا يَدْعُوْنَ او بیشکه هر هغه چه بولی ئے دوئ مِنْ دُوْنِهٖ غیر له ده لکه بتان ئے هُوَ الْبَاطِلُ هم دے باطل دے وَاَنَّ اللّٰهَ او خدائ چه دے هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۶۲﴾ هم دے پلند شان لوئے دے پاک دے له شریکه اَلَمْ تَرَ ایا نه وینے ته اَنَّ اللّٰهَ چه خدائ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ر اښکته کړی دی له طرفه د اسمانه او به فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً پس شوه زمکه په دے او بو سره سرښه پس له هغه چه پرته وه تور وُچه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿۶۳﴾ دیر مهربان دے په بندګانو خپلو ښه خبردار دے په حال د رزق او د مرزوق لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ خاص هم ده له دی هر هغه چه په اسمانو نو کښ دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او هر هغه چه په زمکه کښ دی په طریقه د مخلوقیت او د مملوکیت سره وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدائ چه دے لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۶۴﴾ ع هر ائینه هم دے بے پرواه لایق د ثنا اَلَمْ تَرَ ایا نه وینے ته اَنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے سَخَّرَ لَكُمْ مسخر کړی ئے دی ستاسے د پاره مَا فِي الْاَرْضِ هغه چه په زمکه کښ دی له چارپایانو د پاره د سورلی په وجه کښ وَالْفُلْكُ بیړۍ او مسخر

کړے ئے دہ بیړئ او جهاز په دے حال کښ چه کړځی فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ؕ په سیند کښ په فرمان د ده ؕ سره وَیُمْسِكُ السَّمَآءَ او ساتی دے اسمان اَنْ تَقَعَ له دے چه راولویږی عَلَی الْاَرْضِ په زمکه باندے اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ مګر په اذن یعنی په اراده د دے ؕ سره اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ بیشکه چه خدائ په خلقو لَرَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۶۵﴾ هر اړینه مهربان رحم کونکے دے په سلب د مضرانو او په جلب د منافعو دوئ ته وَهُوَ الَّذِیْۤ اَحْیَاكُمْ دے هغه قادر مطلق دے چه ژوندی ئے کړئ تاسے پس له هغه چه مړه نطفه وئ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ بیا به مړه کړی تاسے دے چه اجل راغے ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ ؕ بیا به ژوندی کړی تاسے په آخرت کښ اِنَّ الْاِنْسَانَ بیشکه انسان چه دے لَكَفُوْرٌ ﴿۶۶﴾ هر اړینه ناشکره دے چه سره له ظهوره د دومره نعمتونو قدرانی نه کوی لِكُلِّ اُمَّةٍ هر ټولی لره له اهل ادیانو څخه جَعَلْنَا مَنْسَكًا مقرر کړے دے مونږ هغه یودین او شریعت هم ناسِكُوْهُ چه دوئ عمل کونکی دی په هغهٔ فَلَا یُنَازِعُنَّكَ پس چکړه دنهٔ کوی د اختنتان د ادیانو خاتاسره فِی الْاَمْرِ په کار د دین کښ یاد ذبح کښ چه مشرکان وائی مسلمانانو ته چه تاسے خپله وژلی خوئ اود خدائ وژلی نه خورئ وَادْعُ اِلٰی رَبِّكَ ؕ او بولہ خلق توحید او عبادت د رب خپل تر اِنَّكَ بیشکه ته چے لَعَلٰی هُدًی مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۶۷﴾ هر اړینه په هغه سمے لارے ئے چه برابره تلے ده حق ته وَاِنْ جَدَلُوْكَ او که ډیرے چکړه کوئی له تاسے سره پس له ظهوره د حق او له لزوم د حجت فَقُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ پس و وایه مړ ته چه خدائ بنهٔ پوهیږی بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۸﴾ په هغه چکړه او عناد چه کوئ ئے تاسے نو دے عمل جزا به درکه الله تعالیٰ یَحْكُمُ بَیْنَكُمْ خدائ به حکم وکړی ستاسے په مینځ کښ اے مومنانو او کافرانو په ثواب او په عقاب سره یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت فِیْمَا كُنْتُمْ په هغه څیزچه وئ تاسے فِیْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۶۹﴾ چه په هغه کښ اختلاف به موکولو اَلَمْ تَعْلَمْ ایا نهٔ پوهیږے ته اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ چه بیشکه خدائ پوهیږی مَا فِی السَّمَآءِ په هغه عجایبو چه په اسمان کښ دی وَالْاَرْضِ ؕ او په هغه عجایبو چه په زمکه کښ دی ؕ اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه چه دے د تولو قول او فعل فِیْ كِتٰبٍ ؕ په اعمال نامه کښ محفوظ دے د اعمالو عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرٌ ﴿۷۰﴾ په خدائ آسان دے وَیَعْبُدُوْنَ او عبادت کوی د اکفارو مکے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ مَا لَمْ یُنَزِّلْ دهغه څیزچه نهٔ دے رالیږلے ده بِهٖ په سُلْطٰنًا

یعنی په لرے کولو د ضرری څیزونو او په رانکلو او په نزدے کولو د نفع مند څیزونو ۱۲

په عبادت دهغه هیڅ حجت او دلیل وَمَا لَيْسَ لَهُمْ او دهغه څیز چه نشته دوئ لره په هغه عِلْمٌ ئې په عبادت دهغه هیڅ پوهه یعنی محض له جهل اوله تقلید عبادت دبتانو کوی بے دلیله وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ اونه شته ظالمانو لره مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۷۱﴾ هیڅ مدد کار چه له عذابه ئے خلاص کړه اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ او په هغه وخت چه ولوستے شی په دوئ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ ایتونه د قرآن څوښوونه په دے حال چه واضح بنکاره بے تناقض بے خلله دی تَعْرِفُ معلوموے او وینے به ته فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ط په مخونو دهغه کسانو کښی چه کافردی انکار له په ډیره غضبه او تکبره يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ نزدے وی دے کارته چه غوټه وکه دوئ له غلبے دقهره بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ په هغه کسانو چه لولی عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ط په دوئ ایتونه څوښوونه قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ ووایه وړته چه ایا پس خبر کړم تاسے بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ط په بدترین له دے غضب اوغوسے سره په دوئ یا له دے کراهت دلوستو اَلنَّارُ ط هغه اور دے دوزخ دے چه سخت اوبد دے قهره اوغوسے سره څخه وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ط چه وعده کړے ده دے اور خدائ له هغه کسانو سره چه کافردی وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۷۲﴾ اوبد ځائے دے دا دوزخ له جهته دبازگشت يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے دمیانو دمکے ضُرِبَ مَثَلٌ بیان کولے شی یوه قصه اوحال عجیبه غریب تاسے ته فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ط پس غوږ کیږدئ لَهٗ لوستو ورته اوهغه مثال دادے اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ بیشکه هغه بتان چه بولئ ئے تاسے په خدایانو اوعبادت ئے کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا له سره به پیدا نه کړے شی یو مچ هم وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ط او اګر که راټول شی دا معبودان ستاسے واړه اتفاق وکړه سره په پیدا کولو دد غه مچ **روایت دے** چه عادت دے بت پرستانو داو وچه دا ټټان خیل به ئے په شاتو او په خوشبو یو سره ولړل اوبیا دبت خانے دروازے به ئے کلکے پورے کړے وے مچانو له غمه اوپه دریچو دبت خانے به راننوتله دا مچان اوهغه به ئے ترے وخوړه لکه چه وائی وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ اوکه چرے وتحتوی له دوئ مچ شَيْئًا کوم څیز له هغه شاتو یا خوشبوئ کانو چه دوئ پرلړلی وو لَا يَسْتَنْقِذُوْهُ نو خلاص به نه کړے شی دا بتان هغه څیز مِنْهُ ط له دغه مچ څخه اوهرکله چه حال دا دے ضَعُفَ الطَّالِبُ نو ډیر عاجز او ناتوان دے دا طالب چه عابد یا بت دے وَالْمَطْلُوْبُ ﴿۷۳﴾ او

عه په طالب او مطلوب دواړو کښی بت ذکر کړے دے دا خیال چه د طالب په تفسیر کښی (چه عابد یا بت وے) په ځای (چه عابد دبت دے) وے نو ښه به وو ۱۲

د امطلوب هم چه بُت یا مچ دے **فائده** د ا اشارت دے برابرئ ته په مابین دُبت او مچ کښ په عاجزئ کښ بلکه که نظر د تحقیق وکړے شی نو بت له مچ هم زیر عاجز دے ځکه چه بت جماد دے او هغه حیوان دے او حیوان هرکله په جماد غالب وی مَا قَدَرُوا اللّٰهَ نه دے پیژندلے دے مشرکانو د مکے خدائ حَقَّ قَدْرِهٖ ط په حق د پیژندو لو سره چه بُت عوندے ضعیف څیزے له ده سره شریک مقرر کړے دے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَقَوِیٌّ عَزِیْزٌ ﴿۷۴﴾ هر اړینه هم توانا او هم غالب دے نو څرنګه برابر وی د دغئ عاجز او مغلوب له توانا غالب سره اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ خدائ غوره کوی مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا له ملائکو څخه استازی چه واسطه کیږی په مابین د ده او د انبیاؤ په وحی سره لکه جبریل او میکائیل او اسرافیل علیه السلام او د اسے نور شو وَّمِنَ النَّاسِ ط اوله بنی آدمو څخه هم لکه ابراهیم او موسیٰ او عیسیٰ او محمد علیهم السلام او د اسے نور شو او د ا رد دے په هغه چا چه وائی رسول له بشره نه وی بلکه له ملائکو وی نو ځکه راغے چه رسول کله ملک او کله بشر وی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ سَمِیْعٌۢ بَصِیْرٌ ﴿۷۵﴾ او ویدونکے دے د اقوالو د رسُلو لیدونکے دے د احوالو د اُمو یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ پوهیږی دے په هر هغه عمل د دین او د دنیا چه کړی د دوئ وَمَا خَلْفَهُمْ ط او په هغه چه کوی به ئے د دوئ پس له دے وَاِلَی اللّٰهِ او حاص خدائ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۷۶﴾ بیرته کړ خولے شی ټول کارونه یَآاَیُّهَا الَّذِیْنَ اے هغه کسانو اٰمَنُوا ارْکَعُوْا په ایمان راوړے ئے ناسو رکوع کوی پس له دے په مانځه کښ وَاسْجُدُوْا او سجده هم پکښ کوئ او د امر کوله دے چه په اول د اسلام کښ مونځ په تش قیام او قعود سره وو او سجده پکښ نه وه بیا د دوارو په دے آیت سره فرض شو وَاعْبُدُوْا رَبَّکُمْ او عبادت کوئ د رب خپل نه د بتانو وَافْعَلُوا الْخَیْرَ او کوئ کارونه نیک لکه صله رحمی او بنه خویونه شو لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۷۷﴾ بنائی چه تاسے خلاص او برے بیا موښ وُجَاهِدُوْا فِی اللّٰهِ او جهاد کوی اصغر چه له کفارو سره دے یا اکبر چه له نفس سره دے د پاره د خدائ حَقَّ جِهَادِهٖ په حق د جهاد د ده یعنی په هغه جهاد سره چه د ده سره لائق دے چه په خلوص د نیت او په محبت د زړه وی لکه پخپله ده ویلی دی چه یُجَاهِدُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَلَا یَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ هُوَ اجْتَبٰىکُمْ دے هغه مهربان دے چه غوره کړی یئ دئ تاسے د پاره د نصرت د دین خپل وَمَا جَعَلَ عَلَیْکُمْ او نه دے ایښے

عه حق جهاد کونکی هغه کسان دی چه جهاد کوی په لاره د خدائ کښ اونه ویریږی له ملامتیا د ملامت کونکی نه ۱۲

ده په تاسے فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ط په دین کښ هیڅ قدر مشقت بلکه رخصت ئے درکړیدے په وار وړ مکلفانو کښ او اسانه لارے درته بنود لے ده په وخت دعذر کښ لکه تیمم په اوداسه کښ او اشاره او قصر په ماڼځه کښ او افطار په سفر او مرض سره په روژه کښ او سقوط په عدم زاد او د راحلے سره په حج کښ اوهم داسے نور هم مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ط پیروی وکړئ تاسے د دین د پلار خپل چه ابراهیم علیه السلام دے اودئے پلار و بالهٗ د درست اُمت له دئے جهته چه دے پلار دئے د رسول علیه السلام او هر رسول پلار وی دامت خپل هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۙ خدائ یا ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام نوم ایښے دے په تاسو مسلمانانو مِنْ قَبْلُ پخوا له دئے کتاب چه قرآن دئے وَفِيْ هٰذَا او په دے قرآن کښ هم او داغوره نوم ایښے دے په تاسو مسلمانانو لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ د پاره دئے چه شی رسول علیه السلام شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ شاهد په تاسے په پوره ځ د قیامت په دے چه دهٗ په یقین رسولے دے پیغام د رب ستاسے تاسے ته او شاهدی دهٗ قبوله ده خپل ځان د پاره هم له جهته د اعتماد ه په عصمت د دهٗ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ او اوسئ تاسے شاهدان عَلَى النَّاسِ ج ﷺ په نور وخلقو چه دوئ ته رسولانو پیغام رسولے وو او هر کله چه تاسے گران شوئ خدائ ته فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ پس برپائ کړئ مونځ خپل وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ او ورکوئ زکوٰة خپل وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ط او منګلے ټینګه کړئ په فضل د خدائ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ج دے یار او مددګار ستاسے دے فَنِعْمَ الْمَوْلٰى پس ښه ئ یار د دے دے وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۷۸﴾ ع او ښه ئ مددګار دے دے ۔

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّة — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۱۱۸ — رُكُوْعُهَا ۶

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۱﴾ په تحقیق چه برپالی او بهره مند شو مؤمنان الَّذِيْنَ هغه مؤمنان هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ چه دوئ په مانځه خپل كبن خٰشِعُوْنَ ۙ﴿۲﴾ متواضعان وید ونکی وی یعنی لرزان ترسان وی له هیبته د جلال وَالَّذِيْنَ هُمْ اوهغه چه دوئ عَنِ اللَّغْوِ له بدکاره اولهٔ بدګفتار مُعْرِضُوْنَ ۙ﴿۳﴾ څنګ کونکی وی اوهم داسے له عبث هم وَالَّذِيْنَ هُمْ اوهغه چه دوئ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۙ﴿۴﴾ د زکوٰة اداکونکی وی یعنی جامع دی په مابین د عبادا تو قولیو او فعلیو وَالَّذِيْنَ هُمْ اوهغه چه دوئ لِفُرُوْجِهِمْ د خپلو شرمګاهونو حٰفِظُوْنَ ۙ﴿۵﴾ د فجو نوخپلوسا تونکی وی له حرامو الَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ

مکر په بنځو خپلو اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ یا په هغه ویځو چه مالکان شوی وی بنی لاسونه دوئ فَاِنَّهُمْ
پس دوئ چه دی په نهٔ سانلو دفرجو نولهٔ دی دوا پر وطائو غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۶ نهٔ دی ملامت کړے شوی
فَمَنِ ابْتَغٰى پس هرڅوك چه وغواړی دفع دشهوت وَرَآءَ ذٰلِكَ غیر له دی دوه ځایونو فَاُولٰٓئِكَ پس دا
کسان چه دی هُمُ الْعٰدُوْنَ ۷ هم دوئ ظالمان یا تیریدونکی دی له حلا لوحرامونه وَالَّذِيْنَ
هُمْ اوهغه چه دوئ لِاَمٰنٰتِهِمْ اما نتو نوخپلو له کهٔ دخدائ وی لکه مونځ روژه ج زکوٰة او نور تول
اوامر او کهٔ دبندهٔ وی لکه چه څوك په چا کوم مال یا خبره وسپاری وَعَهْدِهِمْ او دعهد خیل چه خدائ
یا له بنده سره ئے کړے وی رٰعُوْنَ ۸ رعایت کونکی وی چه خیانت پکښ نهٔ کوی وَالَّذِيْنَ هُمْ اوهغه
چه دوئ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ په مونځونو خپلو مُحَافِظُوْنَ ۹ ځهم داری کوی هروخت په اوقاتو پر ټولو
په آداب و په نورو تولو حقوقو ئے اُولٰٓئِكَ دا مؤمنان چه جامع دی دده شپږو واړو اوصافو هُمُ
الْوٰرِثُوْنَ ۱۰ هم دوئ وارثان یعنی لایق دی الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ چه میراث وړی هغه
جنت چه فردوس اعلی یا لهٔ شی اوسرهٔ دی تولو جنتو نو اوه میراث معنی دا چه هر مؤمن او کافر له هم
جنت کښی اوهم په دوزخ کښی ځائے مقرر دے نو دا مؤمنان به ددوئ برخه په جنت کښی واخلی او کافران
به ددوئ برخه په دوزخ کښی واخلی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۱۱ دوئ به په جنت فردوس کښی هیشه وی
دا بیان وود معاد. نو دے سره مناسب دے بیان د مبدء ځکه ورپسے وائی وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ او هر
اُمینه په تحقیق پیدا کهٔ مونږه انسان یعنی آدم علیه السلام مِنْ سُلٰلَةٍ له خلاصے صافے له خیرے راښکته
شوے مِّنْ طِيْنٍ ۱۲ له خټو ثُمَّ جَعَلْنٰهُ بیا وکړو مونږه هغه انسان چه نسل دے دآدم
علیه السلام یعنی مادهٔ دخلقت دده نُطْفَةً لږے اوبهٔ دمنی ترڅلو بیتو رحمونو هغے سپین
ساتلے شوے فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۱۳ په یو قرار کاه محکم کښی چه رحم دے ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ بیا وکړو مونږه دا نطفه عَلَقَةً پارچه دوینو کلکه سیخنا نکه ترڅلو بیتو پورے تکه سره فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ پس
بیا وکړو مونږه دا پارچه دوینو مُضْغَةً ډوډه بوټی دغو بنوبه هر وکی چه یو کرت پسخوړے کښی
واچولے شی بیا ترڅلو بیتو پورے فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ پس بیا وکړو مونږه دا بوټی دغو بنو عِظٰمًا
هر وکی پس له تمام دے ترڅلو بیتو فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ پس بیا واغوستو مونږه دے هر وکو لَحْمًا

غوښه یعنی مونږه غوښه زر غونه کړه په دے هډوکو اما پس پیدا کولو د ګوښتو او پلو او تار ونو او د نورو محتاج الیه د بدن په دیو ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ بیا سازکهٔ مونږه د امذکور یا انسان خَلْقًا اٰخَرَ طریو قسم ساز لو سره چه مخالف وی له پخوانی سازولو څخه ځکه چه اول جماد وو او اوس ئے حیوان کهٔ او پرون د کوښ کښ وو او اوس ئے بصیر سمیع ناطق کهٔ ځکه امام اعظمؒ وائی چه کهٔ څوک همګی له چا څخه غصب واخلی او بیا دهٔ څخه چرګوړے شی نو دا غاصب ضامن دهګی دے نهٔ د چرګوړی ځکه چه دا اوس بل څیز شو فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ پس د پربلند شان دے خدائ په علم او په قدرت او په حکمت خپل کښ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ﴿۱۴﴾ چه هر یو نهٔ صورت بندی کوی دے له نورو پلو مصورانو څخه فَایدهٔ تعجب دے په دے چه رب العزت پیدا کړه دا تمام موجودات یعنی زمکے، اسمانونه، عرش، کرسی، لوح، قلم، جن، ملائک، نور سپوږمۍ، ستوری، جبال، اشجار، انهار دا سے نور پر ډیر اشیاء او په یوئے هم دا سے څنا په ذات خپل ونهٔ ویل لکه په پیدا کولو انسان نو له دے نه معلومه شوه د اخبره چه انسان ورته پر معجز او مکرم دے ځکه ئے ویلی دی چه وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ ثُمَّ اِنَّكُمْ بیا بیشکه تاسے چه یئ بَعْدَ ذٰلِكَ پس له دے څو ونډی کولو تاسے په دغه طریقه چه مونږه بیان کړه لَمَيِّتُوْنَ ﴿۱۵﴾ هر اړینه مړه کید ونکی یئ خامخا ثُمَّ اِنَّكُمْ بیا بیشکه تاسے چه یئ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿۱۶﴾ په ورځ د قیامت به پیرته راپاڅولے شئ د پاره د حساب او د جزا وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ اوهر اړینه په تحقیق پیدا کړی دی مونږه پاس په سرتاسے سَبْعَ طَرَآئِقَ ځلے اوهٔ لارے د اجمع د طریقهٔ ده یعنی اوه اسمانونه سره لاندے باندے چه لارے دی د کوزید او د خوند ملائکو وَمَا كُنَّا اونهٔ یو مونږه عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷﴾ له دے مخلوق چه اسمانونه دی یا له هر مخلوق بے خبره وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ اوراښکته کړی دی مونږه له طرفه د اسمانه مَآءً بِقَدَرٍ اوبه په هغه اندازه چه صلاح د بندګانو په کښ وینو فَاَسْكَنّٰهُ فِي الْاَرْضِ ځلے پس ودروله مونږه دا اوبه په زمکه کښ یا ئے په سر باندے لکه په جوړونو کښ او یا ئے په کیږده کښ چه بیا چینے شی او ترے لاښهیږی اوله ابن عباس رضی الله عنه منقول دی چه پنځه نهره جبریل علیه السلام له جینے د جنت زمکه ته راکوزے کړی دی سیحون د هند جیحون د بلخ فرات او د جله د عراق نیل د مصر وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍ بِهٖ او بیشکه چه مونږه په بیولو اوبه ور وکولو د دے او بو په خسا کولو یا په زمکه کښ بنکته کولو یا د اسمان ته

پہ خیز ولو لَقٰدِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ ھر اُئینہ قادر یُو لکہ چہ قادر یو پہ انزال ئے فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ پس پیدا کړہ مونږہ
تاسے لہ پہ جَنّٰتٍ پہ دے او بو سرہ باغونہ رنګارنګ مِّنْ نَّخِيْلٍ لہ خرما کانو وَّاَعْنَابٍ او لہ انګورو اودا
دواړہ ځکہ خاص یاد شو چہ مدینہ کښ خرما او طائف کښ انګور دیر دی لَكُمْ فِيْهَا چہ دی تاسے لرہ پہ
دے باغونو کښ فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ میوے دی دیرے غیر لہ خرما کانو او انګورو وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۱۹﴾ اولہ
دغہ باغونو خورئ تاسے یعنی لہ میوو ئے او هم دا لہ نورو کښ تو ئے وَشَجَرَةً تَخْرُجُ او بل پیدا کړہ مونږہ
هغہ ونہ چہ زمغونیږی مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ لہ کوہ طور چہ غر د موسیٰ علیہ السلام دے د مصر او د
ایلیا پہ میخ کښ او دا ونہ خُوند دے تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ چہ زمغونیږی لہ غوړو سرہ یعنی لہ زیتو ئے
دا سے غوړ وی چہ تیل ترے ووځی د پارہ د چراغ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿۲۰﴾ او انګولے دے د پارہ د طعام
خوړونکو یعنی لہ دا ئے دا سے غوړ ووځی چہ ډوډئ وړ سرہ خوړئ وَاِنَّ لَكُمْ او بیشکہ چہ تاسے لرہ
فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ط پہ چارپایانو کښ خامخا دیر لوئ عبرت دے نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا چہ څکو مونږہ پہ
تاسے بعض لہ هغہ څیز ونو فِىْ بُطُوْنِهَا چہ پہ درو نو ددوئ کښ دی یعنی شوند ہ وَلَكُمْ فِيْهَا او دتاسے پہ
دے انعامو کښ مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ سود ونہ دیر یکہ سورلی او بار ول او زیږ ول او وړئ او وُجِّفْتُمْ او دا سے اوښ دیر
وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۱﴾ او بعض اجزاء لہ دیو خورئ تاسے لکہ لکہ غوښے او وازدے مازغهٗ اکارع وَعَلَيْهَا او پہ
دیو یعنی پہ وجہ کښ وَعَلَى الْفُلْكِ او پہ بیړیو پہ جهازونو پہ دریاب کښ تُحْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ بار او وہئ
یعنی تاسے لہ یو ځائے بل ځائے تہ وړی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او هر اُئینہ پہ تحقیق لیږلے وو مونږہ نُوْحًا
اِلٰى قَوْمِهٖ نوح علیہ السلام قوم خپل تہ فَقَالَ يٰقَوْمِ پس وویل دہ چہ اے قومہ ځما اُعْبُدُوا
اللّٰهَ عبادت کوئ یواځے د خدائ ځکہ چہ مَا لَكُمْ نشتہ تاسے لرہ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط بل هیڅ معبود
چہ لایق وی د عبادت غیر لہ دہٗ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۲۳﴾ ایا پس نہ ویریږئ لہ عذاب ہ دہ ځکہ چہ بل چا عبادت
کوئ یعنی مہ کوئ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ پس وویل هغہ مشرانو كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ چہ کافر وو لہ قومہ
دہ هغہ عوامو عاجزانو تہ چہ تابع وو د دوئ مَا هٰذَآ چہ نہ دے دا نوح علیہ السلام اِلَّا بَشَرٌ
مِّثْلُكُمْ مګر یو اوسی دے ستاسے پہ شان پہ خوب پہ خوراڼ پہ نور هرڅہ کښ يُرِيْدُ اَنْ اراده لری
دڅخپرے يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ط چہ مشری پیدا کہ دے پہ تاسے او تاسے خپل تابعان کہ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

اوکهٔ ارادہ وے دخدائی درسول لیږ لوبنی اُدموته لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ج ھے نوهرا ئینه رالیږلے بهٔ ے وومدلئ مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا انهٔ دی اوریدلی مونږه داچه رسول بنی اُدم وی اوداله دیره عناده بهٔ ے ویل حُکه چه ادریس علیه السلام خوله دوئ لږ پخوا تیرشوے وو فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾ په هغه پلرونو حُمونږه کښ چه پخوانی وو اِنْ هُوَ نهٔ دے دانوح علیه السلام اِلَّا رَجُلٌ مکر یودا سے سړے دے بِهٖ جِنَّةٌ چه په دهٔ کښ اثر دلیونتوب دے حُکه دا سے وائی فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ پس انتظار اوصبر وکړئ دهٔ تر حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۲۵﴾ تریو وخته پورے چه حال ئے معلوم شی کهٔ روغ خو دیره بنه اوکهٔ نهٔ شو نو مړه بهٔ ے کړئ قَالَ نووبل نوح علیه السلام پس له هغه چه طمع ئے قطع شوه له ایمانه ددوئ رَبِّ انْصُرْنِيْ اے ربه حُما مدد وکړه له ماسره په انتقام اخستو کښ له دوئ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۲۶﴾ په سبب د دے چه تکذیب ئے وکه حُما یعنی هلاک ئے کړهٔ نو قبول کهٔ خدائ دا سوال ددهٔ لکه چه وائی فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ پس وحی وکړه هونږه دوئ ته اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ دا سے چه اوس سازه کړه یوه بیړئ بِاَعْيُنِنَا د وَوَحْيِنَا په نگهبانئ حُمونږه اوپه امر حُمونږه سره چه خوك درنځ خرابه نهٔ که اوسازمئ راولے فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا پس هرکله چه راغے فرمان حُمونږه په سوریدلو په بیړئ کښ یاراغے عذاب حُمونږه وَفَارَ التَّنُّوْرُ اوراوختکیدهٔ په اوبوهغه تنور چه تاکره دُ د تیرئ چه له اُدم علیه السلام درته میراث راغلے دے اوداپه کوفه کښ یاپه شام کښ یاپه هند کښ وو فَاسْلُكْ فِيْهَا پس سوارهٔ کړه په دے بیړئ کښ مِنْ كُلٍّ له هرے نوعے دحیوانا توجه توالد اوتناسل پکښ جاری کیږی زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ جوړ وئ یعنی دوه دوه یونر اویوه ماده چه تخم ئے یخ ورئ نهٔ شی اوداا ثنین تاکید دے د زوجین وَاَهْلَكَ اوعیال خپل هم اِلَّا مَنْ مکر هغه څوك سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ چه اومړے شوے وو پرے گفت ازلی حُما یعنی په ازل کښ ئے هلاك بنکلے شوے وو مِنْهُمْ له هغه له دوئ دوه تنه وو یوئ حُوئ کنعان نوم اوبل ئے بنځه ایله نوم حُکه چه دواړه کافر وو. وَلَا تُخَاطِبْنِيْ اوکوړه چه خطاب ونهٔ کړے له ماسره یعنی شفاعت ونه کړے مانه فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا په حق دهغه کسانو کښ چه ظلم ئے کړیدے په اختیار دکفر سره حُکه چه اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۷﴾ بیشکه چه دوئ غرق کړے شوی مقرر دی حُما په درياب کښ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ پس هرکله چه وخته ته اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ تهٔ اوهرهغه څوك چه له تاسره دی له مؤمنانو عَلَى الْفُلْكِ په بیړئ اوپه قرار کښیناستے فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

پس وویا یه چه ثنا ده خدائ لره الَّذِیْ نَجَّیْتَنَا هغه خدائ چه خلاص ئے کړو موښره مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ (۲۸) له هغه قوم چه ظالمان یعنی مشرکان دی وَقُلْ او بل وویا یه هغه وخت چه وخته بیړئ ته یا چه ترے کوښ شوے رَّبِّ اَنْزِلْنِیْ اے ربه ځما کوښ کړه ما په بیړئ یا په مکه مُنْزَلًا مُّبٰرَکًا په داسے کوځیدلو یا په داسے ځائ دکوځیدلو چه د پیر برکت پکښ اچولے شوے وی وَّاَنْتَ خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ (۲۹) او حال دا چه ته ډیر ښه ورئے ئے له هغو چه کوز وکی دی ښه منازلو مبارکو کښ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے قصه د نوح علیه السلام کښ او په هلاک د قوم د دے کښ په دے شان لَاٰیٰتٍ هرا ښینه پندونه او عبرتونه دی پند اخستو نکوله وَّاِنْ کُنَّا لَمُبْتَلِیْنَ (۳۰) او بیشکه چه وو موښره هرا ښه مبتلا کونکی وقوم د دے په عظیم بلاء او په سخت عذاب یا عبرت ورکونکی وو ښه خلقو ته ترقیامته چه وګورے چه خوارئ پرے عبرت اخلی او وا اِنْ مخففه دے له مثقیله او لام ئے ښه ده ثُمَّ اَنْشَاْنَا بیا پیدا کړه موښره مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له قوم د نوح علیه السلام قَرْنًا اٰخَرِیْنَ (۳۱) بل قرن یعنی قوم چه علاد وو فَاَرْسَلْنَا فِیْهِمْ پس ولیږده موښره په دوئ کښ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ استاذے هم له دوئ څخه چه هود علیه السلام وو او د وویل ورته موښره په لسان د هغه رسول اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ داچه عبادت کوئ خاص د خدائ ځکه چه مَا لَکُمْ نشته تاسے ته مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ط بل هیڅوک معبود چه لایق وی د عبادت غیر له دے اَفَلَا تَتَّقُوْنَ (۳۲) ایا پس ځان نه ساتئ تاسے له عذاب وَقَالَ الْمَلَاُ او وویل مشرانو مِنْ قَوْمِهِ له قومه د دے الَّذِیْنَ کَفَرُوْا هغه مشران چه کافرو د وَکَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ او دروغ ئے شیرئ لیدل د اخرت یعنی له حشره منکر وو وَاَتْرَفْنٰهُمْ او نعمتونه ورکړی وو موښره دوئ لره فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا لاندے په دے دارهٔ ژوندون کښ په ډیر ولوړد اولاد او د مالو نو ریکار کړه نو وویل دوئ چه مَا هٰذَاۤ نه دے د اچه وائی زهٔ رسول یم اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ مګر یو اړدمی دے په شان ستاسے په هرڅهٔ کښ ځکه چه یَاْکُلُ مِمَّا تَاْکُلُوْنَ مِنْهُ خوړئ له هغه څیز و نوچه خوړئ تاسے وَیَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ (۳۳) او څښی له هغه او بوچه څښئ تاسے تر یعنی دهم ستاسے په شان خوړی او څښی نو دے په څهٔ رسول شو وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ او قسم دے ګه فرمان مانهٔ تاسے بَشَرًا مِّثْلَکُمْ د هغه سړی چه په شان ستاسے دے اِنَّکُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ (۳۴) نو بیشله چه تاسے په دغه وخت هرا ښینه زیانکاران به اوسئ اَیَعِدُکُمْ اَنَّکُمْ ایا وعده کوی دے له تاسے سره دے چه بیشکه تاسے چه یئ اِذَا مِتُّمْ وکُنْتُمْ په هغه وخت چه مړه

شوئی اوبیاوئی تاسے تُرابًا وَّعِظَامًا خاورے اوهدوکی وراستہ بے غوښتوبے پلو اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿۳۵﴾
نوبیشکه تاسے به بیرته راوویستے شی له قبرونو خپلو ژوندی هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ ډیره لرے ده ډیره لرے
ده اوداسم فعل دے په معنیٰ دماضی په معنیٰ دبَعُدَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۶﴾ هغه چه وعده کولے شی لرتاسے سره
دهغه خیزچه بیاژوندون دے اِنْ هِيَ اِلَّا نافیه دے داژوندون مگر حَيَاتُنَا الدُّنْيَا هم دغه ژوندون
دے کمکے هم دے دنیا نَمُوْتُ وَنَحْيَا چه مرو به اوژوندی کیږو به یعنی بعضے به مری اوبعض به ژوندی
کیږی وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۳۷﴾ اونه یو موښره راپاخولے شوی ژوندی پس له مرګه اِنْ هُوَ اِلَّا نافیه ده
داهودعلیه السلام مگر رَجُلٌ افْتَرٰى یوسړے دے چه له ځانه ئے ساز کړی دی عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پرخدائ
دروغ داچه بیاژوندون دے پس له مرګه وَمَا نَحْنُ اونه یو موښره لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۸﴾ پده ئ ایمان راوړونکی
اونه یو په ده ئ خبره باور کونکی قَالَ نوووایل هود علیه السلام رَبِّ انْصُرْنِيْ اے ربه حُما مدد وکړه لهما مره
بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۳۹﴾ په سبب دے چه دروغژن ئے وبللم زئ او خُما رسالت ځے ونه مانئ قَالَ نوووایل
ورته رب عَمَّا قَلِيْلٍ له لږے مودے پس اوداما زائده ده لَّيُصْبِحُنَّ نادمِيْنَ ﴿۴۰﴾ هرانسینه شی به دوی
پښیمانه پاته دے کفراوتکذیب خپل فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ پس ونیول دوئ چغے دهلاك چه جبریل علیه السلام
دوه پرلوئ هیبت ناك آواز پرے وویسته چه زړه نه دتلو پرے دچا ودیده بِالْحَقِّ په حق سره فَجَعَلْنٰهُمْ
غُثَآءً ځ پس کړه موښره دوئ لکه خشاك اوبورا وړی یعنی په مثل دهغه په وچوالی کښی فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۱﴾ پس لرے والے دے قوم دظالمانولره له رحمته تَنْبِيْه بعضے مفسران دا وائی چه
چه داقصه دثمود وده نهٔ دعاد ځکمچه صیحه په دوئ وه اوپه عاد خوبادوا وچاچه دعاد ویلے ده هغه
دادلیل وائی چه په سوره اعراف په هود په شعراء کښی په قصه دنوح علیه السلام پسے هم داذکر کړه نو
په دے هرېځکن عذاب نه صیحه وایه شی ځکه دلته هم صیحه ذکر شوے ده واللّٰه اعلم بالصواب ثُمَّ اَنْشَاْنَا
بیاپیدا کړه موښره مِنْ بَعْدِهِمْ پس له دے ذکر شویو قُرُوْنًا اخرینَ ﴿۴۲﴾ نورخلق لکه قوم دلوط اوقوم شعیب
علیهما السلام اوداسے نور مَا تَسْبِقُ نه شی نمړے کیدے مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا هیڅ ټولے له اجل خپل چه ورته
مقرر دے وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۴۳﴾ اونه روسته پاتے کیدے شی ترے اودامن زائده دے دپاره داستغراق
ثُمَّ اَرْسَلْنَا بیا ولیږل موښره رُسُلَنَا تَتْرَا رسولان خپل په دے حال چه سره متواتر وو یعنے

یو په بل پسے پیوسته دو او دا تَ په اصل کښ واو دے یعنی وَتْرًا لکه تَ د تراث اوالف د تانیث دے ماخوذ دے له وتر چه مقابل دجفت دے یعنی یو یو کَلَّمَا جَآءَ هر کله چه به راغے اُمَّةً رَّسُوْلُهَا کوم پوللی ته رسول دے كَذَّبُوْهُ نو در وغژن بهٔ ے وبالهٔ او منکر به شو له توحید له نبوت له بعثت له حشره فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ پس پله پسے به کړهٔ مونږه هم بعضے د دوئ بَعْضًا په بعضو نورو پسے یه هلاکو لو کښ وَجَعَلْنٰهُمْ احادیثَ او وکړ حُول مونږه دوئ قصے د تعجب په عالم کښ تر قیامته او احادیث جمع دی د اُحدوثةٌ چه قصے د تعجب ته وائی فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۴﴾ پس لرے والے دے هغه قوم لره چه ایمان نه راوړی د رحمت د خدائ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بیا ولیږهٔ مونږه موسیٰ علیه السلام وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ او ورور ده چه هٰرون علیه السلام دے بِاٰيٰتِنَا سره د نهو معجزو خپلو چه بیرته بیان شوی دی چه عصا او ید بیضا او دے نورے شوے وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۵﴾ او په دلیل واضح سره چه الزام کوی د خصم چه هغه اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فرعون او قوم د دهٔ ته فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا پس کبر او سرکشی ئے اوکړه له ایمانه اوله متابعته اوحال دا چه وو دوئ قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿۴۶﴾ قوم متکبر سرکش فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ پس وویل دوئ چه آیا ایمان راوړو مونږه لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا په دو سړیو چه په شان مونږه دی په هرڅهٔ کښ وَقَوْمُهُمَا او بل دا چه قوم دے دوارو چه بنی اسراءیل دی لَنَا عٰبِدُوْنَ ﴿۴۷﴾ مونږ له خادمان مطیعان ذلیلان دی لکه مریونه فَكَذَّبُوْهُمَا پس در وغژن ئے وبلل دوئ دواړه فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿۴۸﴾ پس شو دوئ له هلاکیږے شو یو په غرق سره په بحر کښ په سبب د تکذیب سره وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او هرا ئینه په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْكِتٰبَ موسیٰ علیه السلام لره کتاب چه تورات وو پس له هلاکِ د فرعون او قوم د دهٔ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ بنائی چه د ابنی اسراءیل سره لاره بیا مومی احکامو د شریعت ته له جهنمه د ے کتاب وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ اوکړه مونږه قصه د حُوئ د بی بی مریم چه عیسے علیه السلام دے وَاُمَّهٗٓ اٰيَةً اوقصه د مور د ده چه پخپله بی بی مریم ده یوه غټه نښه د قدرت خپل چه هغه په زاکلو کښ خبرے کولے او هغے بے خبنته حُوئ راوړهٔ وَّاٰوَيْنٰهُمَآ اوجائے ورکړے وو مونږه دے دواړو لره او راوستے وو مونږه اِلٰى رَبْوَةٍ یوے هیکے زمکے ته چه بیت المقدس یا دمشق یا فلسطین یا مصر وو او ربوه لوړ جائے ته وائی ذَاتِ قَرَارٍ چه خاوند د

قرارده یعنی هواره میوه دار ه ده چه اوسیدونکی ورباندے پے ارام وی وَّمَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾ اوخاونده دجاری یا دبنکاره اوبوده **نقل دے** چه دا موراوخوئی دولس کاله په دے ربوه کښی وواوحوارك د عیسٰی علیه السلام له مبلغ دهغه تاروبنو ووچه مور به ئے وریښل اوخرخول به ئے يٰٓاَيُّهَا الرُّسُلُ اے پیغمبرانو داخطاب عام دے چه هریوته په خپله زمانه کښی شوے دے اویاپواځے رسول علیه السلام ته دے او یاپواځے عیسٰی علیه السلام ته دے اولفظ دجمع له جهته د تعظیم دے كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ خورئی له دے پاکیزه طعامونو او له حلالو وَاعْمَلُوْا صَالِحًا اوعملونه کوئی د نیکو چه خدای تخه هم دا پکار یږی اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۵۱﴾ بیشکه زهٔ په هغه کارونو چه کوئی ئے تاسے پوهیږم وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اوبیشکه دادین سماوی چه دے اے رسولانو اُمَّتُكُمْ دین ستاسے دے د تولو اُمَّةً وَّاحِدَةً په دے حال چه یودین دے متفق په عقایدو او په اصولو د شرائعو کښی یادا تولے ستاسے چه دے اے امته د محمد صلے الله علیه وسلم یو تولے دے متحد او متفق په ایمان او توحید باندے وَاَنَا رَبُّكُمْ اوزه رب ستاسے یم فَاتَّقُوْنِ ﴿۵۲﴾ پس وویریږئی له ما او بے فرمانی مهٔ کوئی فَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ پس پرے کړے اهل کتابو دین خپل بَيْنَهُمْ زُبُرًا په خپل منځ کښی سره پارچے پارچے یعنی له دے یو دینه ئے ادیانِ مختلفه سازکړهٔ اوتولی تولی شوی له بله مخالف كُلُّ حِزْبٍۢ چه هریو تولے د دوئی بِمَا لَدَيْهِمْ په هغه خود ساخته دین چه دوئی تخه دے فَرِحُوْنَ ﴿۵۳﴾ خوشحاله دی اوداسے وائی چه حق هم دادے فَذَرْهُمْ فِيْ غَمْرَتِهِمْ پس پریږده دوئی اے رسولَ د اکفارو مکے په كمراهئ كښی حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۵۴﴾ تریوه وخته پورے چه وخت دقتل یا د موت د دوئی دے اَيَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا آیا گمان کوی دوئی دے چه بیشکه هرهغه خيز نُمِدُّهُمْ بِهٖ چه ورکوموږه دوئی له ده او مدد ورسره کوو په هغه خيز مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۵۵﴾ له ماله اوله خامنو په دنیا کښی نُسَارِعُ لَهُمْ جلتی کوو موږه دوئی له ده فِي الْخَيْرٰتِ ؕ په خیراو په اکرام کښی یعنی دوئی ته پرے خیر رسوواوعزت کوو دوئی بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ اوداسے نه ده بلکه نهٔ پوهیږی دوئی چه دا استدراج دے دا تیر بیان داعداؤ وواو اوس بیان داولیاؤ کوی لکه چه وائی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ چه دوئی له خوفه دعذاب د رب خپل مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾ ویریدونکی وی هیشه وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ چه دوئی په آیتونو د رب خپل چه قران دے يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾ ایمان راوړی وَالَّذِيْنَ

او هغه کسان هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم چه دوئ په رب خپل پورے مُشْفِقُونَ (۵۹) نه شریکوی بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ (۵۹) او هغه کسان هُم بِرَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ (۵۸) چه دوئ ورکوی هر هغه چه ورکوی یعنی زکوٰة او صدقات بلکه هم خیرات وخیرات وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ او حال دا چه زړه ونه دوئ په ویره وی چه مبادا دغه عمل حُمُوزنه چې مردود نه شی او په هیڅ ډول هم إِنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ بیشکه دوئ رب خپل رَاجِعُونَ (۶۰) بیا ورتلونکی دی أُولَٰئِكَ دا کسان چه دی يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وِ په ویره جلتی اورغبت کوی په طاعاتو کښې پس یو تړیلې ورلومړے کیږی وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ (۶۱) او دوئ دغه خیرات ته لومړے کیدونکی دی وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا او تکلیف نه کو و مونږه په هیڅ شخص باندے إِلَّا وُسْعَهَا مګر په قدر د طاقت ددهٔ وَلَدَيْنَا كِتَابٌ او مونږ نخه یو کتاب دے یعنی لوح محفوظ يَنطِقُ بِالْحَقِّ چه غځیږی په رښتیا یا مراد اعمال نامے دی چه دهرچا اعمال پکښې لیکلی پراته دی وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ (۶۲) او په دوئ به هیڅ قدر ظلم ونه کړے شی نه په کمولو د ثواب او نه په زیاتولو د عذاب بَلْ قُلُوبُهُمْ بلکه زړونه د دوئ چه دی يعنی دکافرانو فِي غَمْرَةٍ په غفلت کښې وو ب دی مِّنْ هَٰذَا د دے لوح یا اعمال نامے یا قرآن وَلَهُمْ أَعْمَالٌ او دی دوئ لره عملونه ناپاکۍ او کارونه بے پاکۍ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ غیر له دے شرک د دوئ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ (۶۳) چه دوئ دهغه عملونو کونکی دی او دوئ به هم دا سے په دے خپل معصیت او غفلت کښې وی حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا ترهغه پورے چه ناګاه ونیسو ونږه مُتْرَفِيهِم يا لُعَذَابٍ هغه غنیان او مشران د دوئ په عذاب دوزخ دنیا چه هغه یو قحط وو اوه کال په خیر و درسول علیه السلام سره چه دوئ ته ځکړے وے یا قتل و و په وریځ د بدر إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ (۶۴) ناګاه دوئ په فریاد شی او استغاثه کوی دوئ او مونږه وو ایو ورته چه لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ تقمه کوئ فریاد من وریځ لُكُم إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ (۶۵) بیشکه تاسے سره له مونږه مدد نه شی کولے اوله عذابه نه شئ خلاصیدے او دا ځکه چه قَدْ كَانَتْ آيَاتِي په تحقیق وو ایتونه زما تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ یعنی قرآن چه هر وخت تُتلی عَلَيْكُمْ لوستے کیدل به تاسے فَكُنتُمْ پس وئ به تاسے عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ په پوندو خپلو تَنكِصُونَ (۶۶) منډے به مو هلے پیرته پس شاله دے خوف چه څه وانه ورو مُسْتَكْبِرِينَ په دے حال کښې چه کبراو لوئی کونکی وئ بِهِ سَامِرًا په مسخره به موکولے لیاتر کولو به مو د قرآن یا پیغمبر یا خانه کعبه چه طواف به مونږ کولو او قصے به موچا پیرته ترے کولے تَهْجُرُونَ (۶۷) چه مسخره به موکولے لیاتر کولو به مو د قرآن یا پیغمبر یا خانه کعبه چه طواف به مونږ کولو او قصے به موچا پیرته ترے کولے أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أیا پس تفکر نه کوی دوئ په دے گفتار کښې چه قرآن چه له اعجازه د الفاظو اوله وضوح د معانیو نه

معلوم شی چه دا اکلام دحق دے اَمْ جَآءَهُمْ اوکهٔ راغلے دے دوئی ته له کتاب د رسول مَّا لَمْ يَأْتِ هغه چه نهٔ وو راغلے اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۶۸﴾ هغه پلرونو نیکانیو د دوئی ته اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ او که نهٔ پیژندلے دوئی رسول خپل چه محمد صلے الله علیه وسلم دے ښه مدآ کاملو صفاتو چه علم او حلم او کرم او صدق او امانت او وفا او نیکخوئی او احسان او مروت او کمال دعقل او صحت د نسب او حسن داخلاق تو داټول پکښ جمع دی او دوئی دے صفاتو ته له سره نظر نهٔ کوی فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۶۹﴾ پس دوئی له ده نا اشنا بیگانه دی اونه کوے پیژنی حُکه ترڅنګ کوی اَمْ يَقُوْلُوْنَ او که وائی دوئی دآ بِهٖ جِنَّةٌ ط په ده لیونتوب پورے شوے دے حکه دآ پرته وائی او په واقعه کښ دا یوهم پکښ نشته اما دوئی له ډیره بغض او حسده وائی بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ بلکه دا سے دهغه راغلے دے دوئی له په حق سره چه قرآن او دین داسلام او توحید او احکام د شریعت دی وَاَكْثَرُهُمْ او زیات د دوئی چه دی لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۰﴾ په دے حق نا خوښه دی حُکه چه مخالف دے له هواء نفسانی او له مقتضاء شیطانی د دوئی او اکثر ځُکه وویل چه بعض محض له جهته د شرم او ننګه او ملامت قوم ایمان نهٔ راوړی لکه ابوطالب وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ او که پیروی کړے وے حق یعنی قرآن یا خدائ د ارزو کا نو د دوئی په دے شان چه خدایان په ډیرو په واقعه کښ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ نو هر اړخیزه خراب شوی به وو دا آسمانونه او زمکه حُکه چه تعدد د حاکما نو موجب د فساد دے عَادَةً وَمَنْ فِيْهِنَّ ط او هر هغه څوك چه په دے دواړو کښ دی هغه به هم خراب شوی وو کهٔ ملائک دی او که جن دی او که نور خلق دی بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ بلکه راوړے دے په دوئی ډیره ښه موعظه او پند د دوئی یعنی هغه قرآن چه پرې دوئی خیر د ارین ته فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ پس دوئی چه دی له پنده خپل مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۱﴾ ځ گرځونکی دی اَمْ تَسْئَلُهُمْ خَرْجًا او که غواړے ته له دوئی څخه اُجرت په دے پیغام رسولو حُکه په ته تهمت لګوی فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ق پس هغه اُجرت د رب ستا چه رزق وسیع دے په دنیا کښ او مغفرت دے په عقبیٰ کښ هغه ډیر غوره دے له اُجرته د دوئی وَّهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۷۲﴾ او ډیر غوره د ټولو روزونکی رسانوونکی وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ او بیشکه ته هر اړخیزه بولے د دوئی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۷۳﴾ لارے سے ته چه دین داسلام دے وَاِنَّ الَّذِيْنَ او بیشکه هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه ایمان نهٔ راوړی په قیامت عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿۷۴﴾ له سمے لارے اړخیزه چپیدونکی دی او تلونکی دی لارے د کجراهئ ته **روایت دے** چه ابوسفیان

رسول صلے اللہ علیہ و سلم تہ و ویل چہ قسم دے کوم یہ خدای او یہ رحم چہ تہ خدائی رالیږلے ؤ رحمت
دپارہ دخلقو دؤ وویل ھو۔ بیا اوسفیان و ویل ترو لے و قتل کړہ پلرونہ یہ تو ؤ او حامن یہ لوړہ نو
نازل شو وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ مہربانی کړے وے مونږہ یہ دوئ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ اولرے کړے وے مونږہ ھغہ چہ پہ
دوئ پوے وہ مِّنْ ضُرٍّ لہ رحمتہ او سختئ چہ ھغہ قحط وو یہ دوئ یہ مکہ کښ لَلَجُّوْا فِيْ طُغْيَانِهِمْ نو ھر اُسنہ
لابہ تبخ شوی وو یہ گمراھئ خپلے کښ يَعْمَهُوْنَ چہ سرگردان متردد بہ وو وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ اوھر اُسنہ
یہ تحقیق ونیول مونږہ دوئ بالعذاب پہ عذاب دقتل یاد لوړے دقحط دپارہ دَدے چہ نزم شی فَمَا اسْتَكَانُوْا
لِرَبِّهِمْ پس گردن ے سبکتہ نہ کہ ؤ رب خپل تہ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۷۶﴾ اونہ تضرع او زاری ئے وکړہ بلکہ ھم
ھغسے پہ خپلے سرکشئ اوبے فرمانئ کلک وو حَتّٰٓى اِذَا فَتَحْنَا ترھغہ پورے چہ پرانستل مونږ عَلَيْهِمْ بَابًا
یہ دوئ دروازہ ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اخاوندہ دسخت عذاب چہ لوړہ وہ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۷﴾ نا کاۂ دوئ
پہ عذاب کښ نا اُمیدہ وولہ ھرہ خیرہ وَهُوَ الَّذِيْٓ اودے ھغہ قادر مطلق دے اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ چہ
پیدا کړے دے دۂ تاسے لہ قوت سامعہ چہ پہ ھغہ اوریدل کوئ وَالْاَبْصَارَ والا فِـْٔدَةَ ؕ اوسترگے او
زړہ نہ چہ اُ تارد قدرت وگورئ اوفکر ترے تیر کړئ صانع تہ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ لږ شکر وکاږئ تاسے
اودا مَا زائدہ دے دپارہ دتاکید وَهُوَ الَّذِيْ اودے ھغہ قادر یمچون دے چہ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ پیدا کړئ
دۂ تاسے او بیائے وشندئ پہ زمکہ کښ یہ تو الد او تناسل سرہ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۹﴾ اوھم دۂ تہ بیا
بہ جمع کولے شی یہ قیامت پس لہ تارپہ تارکیدلو دا جزاؤ وَهُوَ الَّذِيْ اودے ھغہ فاعل مختار دے چہ
يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ژوندی کول کوی اووژل کوی یہ قدرت کامل سرہ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّيْلِ اوھم دہ لرہ دے
مخالفولے د شپے وَالنَّهَارِ اود ورځے چہ کلہ یو زیاتوی اوبل کموی اوکلہ پرعکس دد ے اَفَلَا
تَعْقِلُوْنَ ﴿۸۰﴾ ایا پس عقل نہ کوئ تاسے چہ ستاسے بیاژوندی کیدل خولہ دے سخت نہ دی بَلْ
قَالُوْا بلکہ وائی دا کفار د مکے مِثْلَ مَا پہ شان دھغہ کفتار قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۸۱﴾ چہ ویلے ووھغہ تول
پخوانیو کفارو قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وائی دوئ ایا پہ ھغہ وخت چہ مرہ شو مونږہ وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا اوشو ھغہ ځای
اوھډوکی وِلسۂ ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۸۲﴾ ایا مونږہ بہ ھر اُسنہ بیاژوندی را پاځولے کیږو استفہام
انکاری دے یعنی نہ بہ شو ژوندی کولے لَقَدْ وُعِدْنَا ھر اُسنہ وعدہ کړے شوے وہ لہ مونږہ سرہ نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا

هٰذَا مونږه او پلرونه ځمونږه هم دغسې ژوندون پس له مرګه مِنْ قَبْلُ پخوا له راتلو محمد صلی الله علیه وسلم ځکه اِنْ هٰذَآ نه دی دا خبره اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸۳﴾ مګر دروغژنې قصې دی د پخوانیو خلقو بیا رسول علیه الصلوة والسلام ځکه مامورکړ په ودرولو حجت په مشرکانو لکه چه وائی قُلْ دوایه اے رسوله دے منکرانو ته چه تاسے وایئ لِمَنِ الْاَرْضُ چه چا له ده دا زمکه یعنی چا پیدا کړې ده وَمَنْ فِيْهَآ او هرهغه څوک چه په دے کښ دی له مخلوقاتو تاسو دغسې جواب راکړئ مالره اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۴﴾ چه پوهیږئ په دغسې جواب سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ نوزړ کړے چه درته به ووائی دوئ چه خدائ لره دی دا ټول اوهرکله چه دوئ دا سے وویل نو قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۵﴾ دوایه ورته چه ایا پس تاسے پند نه اخلئ په دے اوډاترے نه معلوموئ چه هغه څوک چه دومره مخلوق له محض نیستی نه هستئ ته اړینې شی نوهغه به له اعادے څنګه عاجز وی قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ بیا ووایه ورته چه څوک دے پروردګار د اووا سمانونو وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۸۶﴾ اوپروردګار دهغه عرش چه ډیر لوئ دے سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ نوزړ کړے چه به ووائی درته دوئ چه خدائ له دی دا ټول او دواړو رب هم دے قُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۸۷﴾ نو ووایه ورته چه ایا پس ځان نه ساتئ تاسے له شرکه چه مخلوق خپل له دا سے خالق سره شریکوئ قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ بیا ووایه ورته چه څوک دے چه په لاس د دهٗ کښ ده مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ باد شاهي او اختیار دهرشئ یعنی دهرخیر او شر یا دهر نفع او ضرر یا دخزانو وَّهُوَ يُجِيْرُ او دے فریاد رسی کوی او هرچا څوک چه اراده ئ وشی له عذابه خپله وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ او فریاد رسی نه کاوه شی په دهٗ دبل چا د اسے چه کوم شخص بل څوک د دهٗ له عذابه خلاص کړے جواب هم راکړئ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾ که چرے یئ تاسے چه پوهیږئ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ نوزړ دے چه به ووائی چه د اصفات ټول خدای له دی قُلْ نو ووایه ورته چه فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾ پس له کومه مکر اوفریب کوئ شی درباندے اوچیرته ئ له حق سره له ظهوره د دا سے دلائیلو او هرکله چه دوئ به ویل چه د اقران په دروغ دے چه نفی کوی د ولد او ځمونږه د خدایانو بلکه خدائ ولد لری او د ځمونږ خدایان هم حق دی نو آیت راغے چه دا سے نه ده بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ بلکه راوړے دے مونږه دوئ له حق یعنی ریښتیا چه قرآن دے وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾ او بیشکه دوئ هراړخیزه دروغژن دی چه ترے انکار کوی مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ نه دے نیولے خدائ مِنْ وَّلَدٍ

فرزند ھیڅوک ھمکه چه ولد خولد جنسه اوله نوع دوالدوی اود ے پالۀ دے هم له جنسه هم له نوعے وَمَا كَانَ مَعَهٗ اونشته وس سره مِنْ اِلٰهٍ بل خدائی په الوهیت کښ اوکه وے وس سره بل خدائی اِذًا نو په دغه وخت کښ دوه کلونه به شوی ۰ ویو داچه لَذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍ هرائینه بیولے به وو هر یو خدائی بِمَا خَلَقَ هغه مخلوق چه ده پیدا کړیه وو او ممتازه معلومه به وو بادشاهی اوقلمرو د هر یو له بادشاهۍ او قلمرو د بل څخه یعنی د هر یو بادشاهی اوقلم رو به سره بیل بیل وو بَلْ داچه وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ اوهرائینه دیاسه کیدل اوغلبه به خو ښتله بعض له دوئی عَلٰى بَعْضٍ به بعضو نورو اومقدے اوجنګونه به ۓ همیشه د کیدل لکه چه کوی دا بادشاهان د دے دنیا اوهرکله چه دا یوهم نشته په عالم کښ نو معلوم شوچه تعدد باطل دے اود ے واحد لاشریک دے سُبْحٰنَ اللّٰهِ پاکی ده خدائ لره عَمَّا يَصِفُوْنَ (۹۱) له هغه ولده او شریکه چه والی ۓ دوئی دا سے خدائ عٰلِمُ الْغَيْبِ چه خبر دار دے په هر پټ وَالشَّهَادَةِ اوپه هر ښکاره فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (۹۲) ع پس د پورلوۓ او پورته دے له هر هغه څیز چه شریکوی ۓ دوئی وړه

روایت دے له حسن رح چه رب العزت خپل رسول خبر کړۀ په دے چه ستا په امت کښ به هم وی اما وخت ۓ ور ته معین نۀ کړو او امر ۓ ورته وکه په کولو دے دعا لکه چه وائی قُلْ رَّبِّ وعاید ے رسول چه اے ربه خُمَا اِمَّا تُرِيَنِّيْ که چرے ښودے مانه خانمانا مَا يُوْعَدُوْنَ (۹۳) هغه عذاب چه وعده کړے شوے ده دهغه له دوئی سره او دا اِمَّا په اصل کښ اِن شرطیه دے چه په ما زائده کښ مدغم شوید رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ اے ربه پس مۀ ګرځوه مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ (۹۴) په ډله د ظالمانو کښ وَاِنَّا عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ اوبیشکه موږ په دے کار چه وښایو تاته مَا نَعِدُهُمْ هغه عذاب چه موږه وعده کوله دوئی سره لَقٰدِرُوْنَ (۹۵) هرائینه قادر یو اما تا خبرۓ کوو د پاره دے چه ګوندی دوئی یاد دوئی له پښته څوک ایمان راوړی اِدْفَعْ بِالَّتِيْ دفع کړه اے رسوله په هغه خصلت سره هِيَ اَحْسَنُ چه هغه ډیر ښه دے السَّيِّئَةَ د بدی اود امفعول واړ دے یعنی بدی ۓ عفو ګه اوپه مقابله کښ احسان وس سره وکړه اود اپخواه له امره په قتال نَحْنُ اَعْلَمُ موږه ښه پوهیږو بِمَا يَصِفُوْنَ (۹۶) په هغه خبرو چه وائی ۓ دوئی چه مال کله ولد اوکله شریک پیدا کوی اوتا کله ساحر اوکله کاهن اوکله شاعر بولی نوجزا به وس لوو ته مۀ خفه کیږه وَقُلْ رَّبِّ اوواید ے اے ربه خُمَا اَعُوْذُ بِكَ پتیږم په تا پورے مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ (۹۷)

له وسوسو د شیطانانو چه خلق را کاږی معصیت او ضلالت ته وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اوپتیږم په تا پورے اے ما ربه اَنْ يَّحْضُرُوْنِ (۹۸) له دے چه حاضرشی دوئ ما ته په وخت د صلوة یا د تلاوت یا د نزع یا د مطلق د پاره د خیر او لود عمل حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ د اطلق دے په بیرته يَصِفُوْنَ پورے یعنی دا کفار همیشه ما او تا په بدۍ یاد وی ترهغه پورے چه راشی اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ یوته له دوئ مرګ او وینی خائ خپل هم په دوزخ هم په جنت کښی او اثار د عذاب هم وګوری قَالَ نو وائی هغه وخت چه رَبِّ ارْجِعُوْنِ (۹۹) اے ربه ما بیرته وګرځوه مادنیا ته او صیغه رجع یا د پاره د تعظیم د مخاطب ده یا خطاب دے ملک الموت او اعوانو ته لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا شائی چه وکړم زه نیک عمل فِيْمَا تَرَكْتُ په هغه څیز کښی چه ترک کړے دے ما په دنیا کښی چه ایمان دے حاصل د اچه بیارم یوکرت ژوند دے که چه اول ایمان راوړم او بیا په دے ایمان کښی عمل صالح وکړم كَلَّا نه دا سے لکه چه دے وائی یعنی بیرته رجوع نشته اِنَّهَا كَلِمَةٌ بیشکه دا لفظ د رَبِّ ارْجِعُوْنِ یوکفتار دے بے فائدے هُوَ قَآئِلُهَا چه دے وینکے دے لفظ دهٗ لره هیڅ فائده پکښی نشته وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ برزخ اوپه مخکښی د دوئ پرده ده چه قبر دے مانع له رجوع دنیا ته اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ (۱۰۰) تر هغے ورځے پورے چه بیا ژوندی را پاخولے شی دوئ له قبرونو فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ پس په هغه وخت چه پوکے وکړے شو په شپیلئ کښی دویمه نفخه یا دریمه او قیامت قائم شو او مخلوق بیا ژوندے شو فَلَآ اَنْسَابَ پس نه به وی له سره نسبونه بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ په مابین د دوئ کښی په دغه ورځ یعنی علاقے نهٔ نسبی لکه پلار ولی، مور ولی، خوئ ولی، رور ولی، خور ولی لکه چه راغلی دی يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِ او نهٔ حسبی لکه خسرولی خوابنے ولی او بنی خیښ ولی او د اپسه سبب د پیرد هشت او حیرت بلکه لاخپل خان به ترے هم ورک وی یا معنی دا چه د نسب او سبب په نسب فخر کوی چه زهٔ د فلانی شاه د فلانی خان د فلانی صاحب پلار یا خوئ یا ورور یم او هلته به دے نسبت او د سبب له هیڅ فائده نه وی وَلَا يَتَسَآءَلُوْنَ (۱۰۱) او نه به پوښتنه کوی دوئ یو له بله دے نسبت او په سبب د پیر مشغولوالی د دوئ پخپل غم او د اپخوا له حسابه خُکه چه هلته حلاصے په نسبت او په نسب نهٔ دے بلکه په عمل دے که چه وائی فَمَنْ ثَقُلَتْ پس هرهغه څوك چه درانهٔ وخانهٔ مَوَازِيْنُهٗ

عه یا ده کړه اے محمد کفار وته هغه وړځ چه تخنې به خوان له ورځه او له مورځ خپله اوله پلاره خپله اوله مګرۍ خپله اوله خوئ خپله ۱۲

میزانونه یعنی تلے ددهٔ په حسناتو د اهله کهٔ جمع وی د موزون فَاُولٰٓئِكَ پس دغه کسان چه وی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ هم دوئ خلاص او بریالی دی اګرکهٔ کم نسبت او کم نسب وی هم وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ او هرهغه څوك چه سپك وخانهٔ میزانونه یا موزونات ددهٔ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ پس داهغه کسان دی خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه زیان ئے کړے دے د خپل ځان چه تمام عمرئے په مخالفت د رب او په متابعت د نفس او د شیطان کښ ضایع کړیدے نو اوس دوئ چه دی فِيْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ په دوزخ کښ به همیشه پاتے وی اګرکهٔ عالی نسبت او عالی نسب وی هم تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ سیزی به مخونه د دوئ او د دوزخ وُهُمْ فِيْهَا او دوئ په دے اوسکښ كٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ غونځ وچولی بد رنګ مخی به وی یو له بده ډیره خفګانه او بل پوسکی دغ به ئے داوسره غونځ کړے وی او دواړه شوندې به ئے څلویښت ګزه پاس سره تښتیدلی وی او د ته به وویلے شی چه اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ ایا نه وو ایتونه حُمونږه تُتْلٰى عَلَيْكُمْ چه لوستے کیدل به په تا ئے په دنیا کښ فَكُنْتُمْ پس وئ تاسے بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ چه په هغوئ پورے تکذیب به موکولو چه لائق شوی دے د عذاب قَالُوْا رَبَّنَا نو وبه وائی دوئ اے ربه حُمونږه غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا غالب شوے وو په موږ باندے شقاوت او بدبختی حُمونږه وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ﴿۱۰۶﴾ او وو مونږه یو ټولے د ګمراهانو چه لاره د حق شیطان راتخه ورکه کړے وه رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا اے ربه حُمونږه یوکرت وباسه مونږه له دے دوزخ فَاِنْ عُدْنَا پس که چرے بیا راوګرځیدو مونږه تکذیب او کفر ته فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ نو پس بیشکه مونږه به ظالمان اوسو چه پس له مشاهدے به بیا هم کفر اختیار کړو او دا اخر کلام ئے د دوزخیانو چه پس له دے کلامه بیا هسے چغے اوسوړے به ئے وی اوغږ یدل به نهٔ وی ځکه چه امر د سکوت به ورته وشی لکه چه وائی قَالَ نو وبه وائی ورب العزت په لسٹا د مالک پس له هغه چه دوه مثل د دنیا تیرشی اخْسَـُٔوْا فِيْهَا چپ شئ اوکښئ خواږ خسته په دے د دوزخ کښ وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ او مهٔ غږیږی له ما سره پس له دے په باب د رد کولو د عذاب کښ یا مطلق غږ مهٔ کوئ نو په دے به ئے طمع یعنی قطع شی اِنَّهٗ كَانَ بیشکه شان د دے چه وو فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ یو ټولے د بندګانو څاچه مهاجرین وو لکه بلال او عمار او صهیب او سلمان رضی الله عنهم او د اسے نور فقراء د دوئ يَّقُوْلُوْنَ چه ویل به دوئ په دنیا په طریقه د تضرع چه رَبَّنَآ اٰمَنَّا اے ربه حُمونږه ایمان راوړے د محمد صلی الله علیه وسلم مونږه په تا او په رسول علیه الصلوٰة والسلام فَاغْفِرْ لَنَا وَ

ارْحَمْنَا پس وبخښه مونږه ته کړنا هونه او مهربانی را باندے وکړه وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ (۱۰۹) اوته ډیر ج مرے
غوره ډیر لوی مهربانۍ کونکوئے فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا پس نیولی ووتاسے دا عاجزان مسخره بازی چه
پوچمنډے به مو ورپورے کوله حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ ترهغه حده پورے چه هیر کړه دوئی له تاسے یادول
خُدائ ﷻ پیر اشتغال ستاسے په مسخرو ددوئی یادګیری خُدائ له تاسے یعنی هیره کړه وَكُنْتُمْ او وئی به تاسے مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ (۱۱۰)
چه په دوئی پورے خندل به مو هروخت له دیره کبره اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بیشکه زهٔ چه یم جزا دا عمالو د دوئی ورکړه
ورلره نن ورځ بِمَا صَبَرُوْٓا په سبب ددے چه صبر کړے وو دوئی په مسخرواو په آزار ستاسے اَنَّهُمْ هُمُ
الْفَآئِزُوْنَ (۱۱۱) بیشکه دوئی چه دی هم دوئی بریالی او مطلب ته رسیدلی دی په سبب د هغه صبر سره
قَالَ بیا وبه وائی په خپله خدائ یا مالک په امر د زهٔ سره کفارو ته چه كَمْ لَبِثْتُمْ څومره ژوند کړیدے
تاسے فِي الْاَرْضِ په زمکه کښ عَدَدَ سِنِيْنَ (۱۱۲) په شمار د کلونو یعنی څوکاله په دنیا کښ ژوندی وئی؟
قَالُوْا لَبِثْنَا نو وبه وائی دوئی چه درنګ تیر کړے وو مونږه هلته يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ یو سلامته ورځ
او یا یوه توته دورځے فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ (۱۱۳) پس وپوښته ته پخپله حسابګری یا کرام الکاتبین چه حساب
د عمر حُمونږه دوئی څخه بنګلے پروت دے اود اکمالے د لبثت به په نسبت سره خلود ته وی قَالَ اِنْ لَّبِثْتُمْ
بیا وبه وائی خدائ چه واقعی ده چه نهٔ دے کړے مدار تاسے په دنیا کښ اِلَّا قَلِيْلًا مګر کمه موده نسبت
موده د آخرت ته لَوْ اَنَّكُمْ کهٔ چرے بیشکه تاسے كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۱۱۴) یئ چه پوهیږئ په دے چه دنیا
نسبت آخرت ته ډیره کمه ده اَفَحَسِبْتُمْ آیا پس گمان کوئ تاسے اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا دا دے چه بیشکه
پیدا کړی یئ مونږه تاسے عبث یعنی په لوبو بے فائدے به حکمته وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا او بل دا گمان کوئ چه
بیشکه تاسے مونږه ته لَا تُرْجَعُوْنَ (۱۱۵) نهٔ به بیولی کیږئ بیرته دیاره د جزاد اعمالو فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ
الْحَقُّ ج پس بلند شان دے دخدائ چه بادشاه دے لائق د بادشاهئ مطلقًا لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته هیڅوك
لائق د عبادت په ربنتیا مګر هم هغه یواځے رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ (۱۱۶) چه دے رب دے، هغه عرش
چه کریم دے حُکه چه رحمت ټول هم له دهٔ څخه نازیږی وَمَنْ يَّدْعُ اوهرڅوك چه بولی مَعَ اللّٰهِ له
خدائ سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدائ یعنی د هغه عبادت هم ورسره کوئ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ د نشته هیڅ
دلیل دهٔ لره په عبادت د غیر فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ پس بیشکه هم د اخیره ده چه حساب د دهٔ عِنْدَ رَبِّهٖ ط

په نزد درب دده دے نو په قدر دا استحقاق به جزا ورله ورکړی په قیامت ﴿اِنَّهٗ﴾ بیشکه شان دادے چه ﴿لَا یُفْلِحُ الْکٰفِرُوْنَ﴾ (۱۱۷) برے نه مومی اونه خلاصیږی له عذابه هیڅوے کافران نکته شروع ئے کړه وه په سورت په اثبات د فلاح مؤمنانو لره اوختم ئے کهٔ په نفی د فلاح کافرانو لره بیا رسول علیه السلام ئے مامور کهٔ په استغفار چه ﴿وَ قُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ﴾ او وایه اے ربه مغفرت اورحم وکه ﴿وَاَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ﴾ (۱۱۸) اوته غوره ئے له ټولو رحم کونکو څخه ع

سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِیَّةٌ

اٰیَاتُهَا ۶۴ رُکُوْعُهَا ۹

﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ﴾

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا دا یو سورت دے چه رالیږلے دے مونږه له عالم قُدُسه تاسے ته وَفَرَضْنٰهَا اوفرض کړیدے مونږه دا سورت په تاسے یعنی هغه احکام چه په دهٔ کښ ذکر دی وَاَنْزَلْنَا فِیْهَا اورالیږلی دی مونږه په دے سورت کښ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ ایتونه واضح له حدودو اوله نورو احکامو لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ (۱) ښائی چه تاسے پند واخلئ اوله محارمو خان وساتئ اویوله احکامو مودے چه ﴿اَلزَّانِیَةُ وَالزَّانِیْ﴾ زنا کاره ښځه په ده او زنا کار سړے چه دے او دا دواړه مبتدا دی او خبرئ ﴿فَاجْلِدُوْا﴾ دے او دا الف لام په معنی د الذی دے چه متضمن دے معنی د شرط لره ځکه ف جزائیه داخله شوے ده په خبر باندے نو تقدیر ئے دا دے چه ﴿اَلَّتِیْ زَنَتْ وَالَّذِیْ زَنٰی فَاجْلِدُوْهُمَا﴾ پس ووهئ اے حاکمانو ﴿كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا﴾ هر یولہ دے دواړو ﴿مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ سل درے اودا حکم خاص د پیغلے اود لونډے په شرط دے چه اصیلان وی ځکه چه د ده شو یو حکم رجم دے اود مریو نو حکم یوځوس درے دی اوحکم د تعزیر مذکور په نزد د امام اعظم هم په دے آیت منسوخ شوے دے لکه حکم د حبس اود اذی چه په سره سورهٔ نساء کښ ووهنه هم په دے منسوخ دے ﴿وَلَا تَاْخُذْكُمْ﴾ اونهٔ دی نیسی تاسے ﴿بِهِمَا رَاْفَةٌ﴾ په دغه دواړو زنا کارانو زړه سوے او مهربانی ﴿فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ﴾ په حکم اویه طاعت د خدای کښ ﴿اِنْ كُنْتُمْ﴾ که چرے یئ تاسے ﴿تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ چه ایمان مو راوړے ده وی په خدائ ﴿وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ اویه ورځ د قیامت اویه دے کښ د پیرلوئ تاکید دے چه باعث دے په کولو د دے کار په اکمل وجه سره خاطر ﴿وَلْیَشْهَدْ عَذَابَهُمَا﴾ اومیاید چه حاضر د شی عذاب کولو دے د دواړو ﴿طَآىِٕفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِیْنَ﴾ (۲) یوه لویه فرقه له مؤمنانو چه مشهور شی د اعذاب او

باقی مخلوق پرے عبرت ولخلی **روایت دے** چه یوه ښځه مالداره زناکاره وه مدینه کښ چه په اُمّ مهزول بللے شوه ناکاه یو مؤمن اراده وکړه د نکاح کولو دپاره دغه مال نو نازل شو اَلزَّانِیْ زناکار سړے چه دے یعنی هغه خبیث چه له شانه ئے زناده حقیقی زناکار لَا یَنْكِحُ نۀ نکاح کوی یعنی رغبت نۀ کوی په نکاح کولو پاکے ښځے کښ اِلَّا زَانِیَةً مګر زناکاره ښځه اَوْ مُشْرِكَةً یا مشرکه ښځه یعنے مګر رغبت کوی هغے خبیثے ته چه دغه په شان وی وَالزَّانِیَةُ اوهغه زناکاره ښځه چه ده لَا یَنْكِحُهَآ په نکاح نۀ اخلی دازانیه ښځه اِلَّا زَانٍ مګر زنا کار سړے یعنی مګر رغبت کوی ورته هغه خبیث فاسق چه دے په شان وی اَوْ مُشْرِكٌ ۚ یا مشرك سړے وَ حُرِّمَ ذٰلِكَ اوحرامه کړے شوی ده دازنا یا دا نکاح دزنا کارو ښځو د پاره د حاصلولو دمبلغ عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۳﴾ په مؤمنانو باندے **فائده** معلومه دِ وی داخبره چه دا تیر آیت محض دپاره درغبت ورکولو دے په نکاح د زنا کار وکښ ځکه چه زنا په قبح کښ نزدے ده شرك تر لکه چه عفاف اوتحصن نزدے دے ایمان ته اوبل دانفی په دے کښ په معنیٰ د نهی ده لکمچه چاویلی دی اوکۀ په معنیٰ د نهی وی نو منسوخ شوے دے په آیت دوَ اَنْكِحُوا الْاَیَامٰی سره وَالَّذِیْنَ اوهرچه هغه کسان دی یَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ چه ولی هغه ښځے چه له زنا پاکے وی په نسبت د زنا سره دے چه ورته وائی چه ته زانیه ئے یا اے زانیے او په احصان د قذف کښ ښځه څیز ونه شرط دی حریت، عقل، بلوغ اسلام پاکی زنا او محصن هم په حد قذف کښ دے له محصنه ثُمَّ لَمْ یَاْتُوْا بیا رانۀ وُلی اوتیرینه کۀ د حاکمانو په محکمه کښ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ څلور تنه شاهدان چه شاهدی ولولی په زنا فَاجْلِدُوْهُمْ پس ووهئ تاسے اے حاکمانو د اقاذفان که اصیلان وی ثَمٰنِیْنَ جَلْدَةً اتیا درے وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ اودوباره مۀ قبلوئ دوئ له یعنی دوئ شَهَادَةً اَبَدًا ج شاهدی هیڅرے یعنی اَن تر وخته دمرګه وَ اُولٰٓئِكَ اودا قاذفان چه دی هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۴﴾ دوئ فاسقان دی اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا مګر هغه کسان چه توبه وباسی مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ پس له دغه قذف له دے ګناه وَ اَصْلَحُوْا ج اوصاف که نیت خپل په ترك د قذف د مسلمان سره نوهر چا چه داسے اوکړه فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۵﴾ بخښونکے مهربان دے دانوم دفاسق به ترے پورته کۀ اګر کۀ هم هغے مردود الشهادة وی **روایت دے** چه پس له نزول دغه تیر آیت عاصم بن عدی وویل چه اے رسول ﷺ کۀ څوك بیګانه سړے له خپلے ښځے سره وویني نو کۀ دے

خلور شاهدان لپوی ترهغه به ډیخپل مطلب وکه اولاد به شی او که بے شاهدانو دا حال وائی نو هم اتیا درے وهلے کیږی اوهم ذاتی اومرد و الشهادة تکیږی نو دڅهٔ علاج دے رسول علیه السلام ورته وویل چه خدای هم دا حکم کړے دے بیا چه له مجلسه راپاڅیدم مخے له ئے زوم راغے چه عویمر بن عمرو وچه شریک بن سمحائے دخپلے نیځے په سینه پروت ولیدهٔ چه خولهٔ بنت عاصم وه نو ډیره واویلائے وکړه چه داخو پخپل کالهٔ کښ پرے مبتلا شوم او بیرته رسول علیه السلام له راغے او حال ئے بیان کهٔ ورته اوده خولهٔ راوتله چه پوښتنه ترے وکړه نو دا منکره شوه اچاویلی دی چه دا ایت په باب دهلال بن اُمیه کښ دے په هر تقدیر خو دا ایت دلعان نازل شو وَالَّذِيْنَ اوهرچه هغه کسان دی يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ چه وُلی په نسبت د زنا نیځے خپلے وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اوحال دا چه نهٔ وی لَّهُمْ شُهَدَاءُ دوئی له شاهدان په دے کار اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ مګر خپل ځانونه ددوئی اودا انفسهم بدل دے له شهداء فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ پس واجب دی په دے کښ شاهدی لودل دیوله دوی اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍ م بِاللّٰهِ ۙ څلور ځلے شاهدئ په نامه دخدائ په دے خبره اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۶ چه بیشکه دا خبتن هر اُیشه له رښتیا ویونکو دے په دے نسبت دزنا کښ نیځے خپلے ته نکته دا څلور شاهدئ حُکه مقرر شوے چه اصل خو څلور شاهدان وو او هر کله چه پیدا نهٔ شو نو دا هره یوه شاهدی په ځائ دیوے سړی اودریۀ او طریقه دادائے دا سے ده چه زوج ووائی اَشْهَدُ شاهدی لولم زهٔ دخدائ دیارلسو زهٔ رښتنے یم په دے نسبت دزنا کښ دے نیځے خپلے ته وَالْخَامِسَةُ اوپنځمه شاهدی چه ده - اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ دا سے ده چه لعنت دخدائ دِ وی په دے زوج باندے اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۷ که چرے وی دے له دروغ ویونکو څخه اودا پنځمه شاهدی په ځائے دتزکیے شوه اما هرکرت دِ اشاره کوی دے نیځے تپس دالعان شو د زوج او په دے سره ساقط شو له دهٔ حد دقذف وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اودفع کوی له دے نیځے عذاب اَنْ تَشْهَدَ دا کارچه شاهدی ولولی دا پنځمه اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍ م بِاللّٰهِ ۙ څلور شاهدئ په نامه دخدائ په دے خبره اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۸ بیشکه چه خبتن ځاهر اُیشه له دروغ ویونکو دے په دے نسبت دزنا کښ ماته وَالْخَامِسَةَ اوولولی پنځمه شاهدی اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ دا سے چه بیشکه غضب دخدائ دِ وی پرے دے باندے اِنْ كَانَ که چرے وی دا زوج دده مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۹ له رښتیا ویونکو څخه بیا رسول صلے الله علیه وسلم پس له مانځهٔ دمازدیګر دواړه زوجین راوستل دواړو همدا سے

شاهدئ ولودے وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اوکہ نہٗ وے فضل دخدائی پہ تاسے وَرَحْمَتُهٗ اومهربانی
ددہٗ پہٗ ستردئ فاحشے سرہ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ اوبل دانہٗ وے چہ بیشکہ خدائی پیر توبہ قبلونکہ دے
حَكِيْمٌ ع ۱۰ پر حکمت دے چہ هیڅ کارئ لہ حکمت خالی نہٗ دے اوجواب دولا محذوف دے هغہ دادے هر اړخیزہ
شرمیدلی بہ وئی یا هر اړخیزہ عذاب بہ درلرہ جلت راغلے وو روایت دئ چہ پنځم کال پس لهجرت پہ غزا د
مریسیع یا دبنی مصطلق کښی رسول صلی اللہ علیہ وسلم بی بی عائشہ رضی اللہ عنہا لہ خان سره بوے وہ پس لہ نزول
د حجاب بیا چہ بیرتہ راوګرځیدہ اومدینے تہ رانزدے شونو بی بی وائی چہ یوہ شپہ دکوچ غږ وشہ اوزہ حاجت
تلا رم چہ راغلم سار وان اوښ تہ شاکړے کینا ست اوځما پہ غاړہ کښی حمیل وو د جزع یعنی چہ پہ سینہ م
لاس وواهه حمیل رانہ لوېدلے وو نو بیرتہ لاړم اوهغه دا سے گمان وکړہ چہ دا لجاوه کښی نتوتہ نو اوښ ئے پاځولو
اولاړ پہ لښکر پسے اوما چہ حمیل بیا موندہٗ اوراغلم خلق ټول تللی وو او میدان خالی وو نو هم هلتہ بیرتہ تم
چہ اوس بہ ځوک راپسے راشی اوخوب یو رم ناګاه صفوان معطل چہ رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم
مقرر کړے وو لښکر شاتہ د پاڑہ دځوکئ اوله ورایہ د پروت بنی آدم سیاهی ولیدہ بیائے وپیژندلم اما د مړی
کما ٹے وکہ نو پہ زوره ئے وویل اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ عَرَّسَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چہ زهٗ پیدے
اواز ومخہ شوم اوقسم دے چہ غیر لہ دٗ استرجاع نہٗ مانہ کوم لفظ لہ دهٗ اوږدے دے اونہ دهٗ لہ ما نوخبل
اوښ ئے چوکہٗ اوزہ پرے سوره شوم اودهٗ مهار ونیوہ اوغږے لہ لښکر تہ راغلو اوخبر کړے تهمت پہ خلقو کښی
برپائی شوے اما زهٗ پرے هیڅ خبره نهٗ وم بیا چہ کور تہ راغلم نو یوہ میاشت ناجوړہ شوم اورسول علیہ السلام
بہ م پوښتنے لرہ راغے اوویل بہ ئے اوس څنګہ ئے اونہ مهربانی او اختلاط بہ ئے نہٗ کولو د پخوا پشان
نو ما اذن وغوښت اوپلار کره لاړم اویا هلتہ لہ دے حال خبره شوم نو مرض م دوچند شو اودتښے ورئے
بہ م ژړل اودهٗ بهم لہ هرچا څما د پاکئ پوښتنہ کولہ بیا چہ مودہ پس هلتہ پلار کره راله راغے اوزهٗ ئے
پہ بیره ژړا اوپہ بد حال ولیدم نو راتہ ئے وویل اے عائشے! اکہ دا گناه کړے وی نو خدائ تہ توبہ وباسہ
اوبخښنہ ترے وغواړہ نو ما مو راواولاړ رتہ وویل چہ څما لہ طرفہ تاسو جواب ورکړئ دوئ وویل مونږہ
لہ جوابہ عاجز یولہ دئ وچہ نو ما پخپلہ وس رتہ وویل چہ زهٗ هر څوک خپلہ پاکی وایم هیڅوک اعتبار
پرے نہ کوی خو زمونږ هم د یعقوب علیہ السلام پہ شان وایم چہ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ الایة ناګاه هم

هلته اثر دوحی پرے بنکاره شهٔ بیاچه اثر دوحی ترے پورته شونو راته ئ وویل اَبْشِرِیْ یاعَائِشَةُ فَقَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَرَآءَتَكِ اونازل شو اِنَّ الَّذِیْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ بیشکه هغه کسان چه راوړی ئ دی عَصْبَةٌ دروغ په شان دبی بی عائشې رضی کښ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ط یو ټولے دے له تاسے مسلمانانو چه هغه پنځه کسه وو عبدالله بن اُبَیّ چه سردمنافقانو وو او زید بن رفاعه او حسان بن ثابت او مسطح بن اثاثه او حمیه بنت جحش لَا تَحْسَبُوْهُ ګمان مه کوئ په دے دروغو شَرًّا لَّكُمْ ط شر او بدی تاسے لره او داخطاب رسول الله صلے الله علیه وسلم ته او بی بی عائشې رضی او صفوان رضی بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ط بلکه داد روغ غوره دی تاسے لره حُکمه چه په دے سره څو څو کارونه وشو یو تاسے لره پراجر عظیم راغے بل په پاکئ ستاسے کښ ایتو نه راغلهٔ بل عزت اولوئ ستاسے هرچاته بنکاره شوه بل په دروغ ویونکو ستاسے سخت وعید راغے لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مقرر دے هر سړی لره له دغه بهتان ویونکو مَّا اكْتَسَبَ جزا دهغه څیز چه کړلے دے دهٔ مِنَ الْاِثْمِ ج له ګناه په قدر دخوښ دهٔ چه چا خندلی دی اوچا الفاظ فاحشه ویلی دی اوچا سکوت کړے دے اما بل ئ منع کړے نهٔ دے له دے وَالَّذِیْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ اوهغه څوك چه ئ واخسته پیره لویه او شنیعه دهغه خبرے مِنْهُمْ له دغه ټولی مراد عبدالله بن اُبَیّ دے چه صفوان له کجاوے سره راغے په هغه ډله چه عبدالله کښ ناست وُو نو پوښتنه ئ وکړه چه دے کجاوه کښ څوك ده دوئ ویل عائشهٔ ده نو دهٔ وویل والله چه نهٔ دا ترخلاصه پاتے شوے ده او نهٔ دے ترے خلاص پاتے شوے دے نو بیا مجلس کښ بر پا ئ شو لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱﴾ مقرر دے دهٔ له ده عذاب لوئ په اخرت کښ چه دوزخ دے یا په دنیا کښ چه اتیا دُرے هم وُوهلے شو او ټلی ترټلی هم شود هرچا له حسان وو چه نابینا شو یا مسطح وو چه شل شو **روایت دے** چه عمر رضی وویل رسول الله صلے الله علیه وسلم ته چه خدائ مچ نهٔ دے پرے څه چه ستا په بدن کینی حُکه چه په نجاست به ککړ وی نو څرنګه به ئ نهٔ ساتلے نهٔ له هغه چا چه په داسے فاحشے ککړ وی او عثمان رضی وویل چه ستا سو ګے خدائ نهٔ دے پیدا کړے چه څوك به قدم پرے کیږدی نو څرنګه به ئ نهٔ ساتلے نه دګے په حرم ستا څوك ککړ لاس کیږدی او علی رضی وویل چه جبریل علیه السلام تهٔ ماموره کړے چه څلویٔ وباسه چه پلیته ده نو څرنګه به ئے نه ماموره کولے په ویستلو له کوره دهغه چا چه ککړ وی په

عه خوشحاله شه اے عائشے پس په تحقیق راولیږلو خدائ پاکوالے ستا ۱۲

په دا ئے پلیتئ باندے او ابو ایوب انصاری رضؓ ته خپلے بنځے وویل چه کهٔ د صفوان په ځای ته وے نو دا ئے کار به د له لاسه شوے وو له حرمه د رسول الله علیه وسلم سره دهٔ وویل حاش لله دا ئے کار نه بیائے وتړه وویل چه کهٔ زهٔ دې بی عائشے رضؓ په ځای وے نو ما خو به خیانت د رسول علیه السلام نهٔ وو کړے او سره له دے چه صفوان له تاعوره دے او بی بی عائشه رضؓ له ماعوره ده نو هغو به دا کار څرنګه کولو بلکه دا محض دروغ دی دمنافقانو دخولے نو په تصدیق ددے کښ نازل شو لَوْلَآ وے نه اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ په هغه وخت چه واوریده تاسے دا خبره ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ گمان کولو مؤمنانو سړیو وَالْمُؤْمِنٰتُ او مؤمنانو ښځو بِاَنْفُسِهِمْ په خپلو نفسونو خپلو بعض په بعض خَيْرًا د خیر او په مقتضی د ظن الْمُؤْمِنِيْنَ خیرائے وے لَمحمل نهٔ کولو چه عائشه او صفوان ے دواړه پاک بللی وے وَقَالُوْا هٰذَآ او ویلی وے تولو دا چه دغه کفتار اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۲﴾ دروغ دی بنکاره لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ ولے راوړهٔ وسته او تیرنهٔ کړه دوئ په دے خبره بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ څلور شاهدان چه شاهدئ ولوی په دغه قذف ددوئ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا پس هر کله چه راوړهٔ وسته او تیرنهٔ کړه دوئ بِالشُّهَدَآءِ داخلور شاهدان فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ پس دا کسان چه دی دخدائ دوړاندے هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۳﴾ هم دوئ دروغژن دی وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ اوکه نه وے فضل دخدائ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ په تاسے اورحمت دهٔ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ په دنیا کښ په توفیق د توبے سره او په اخرت کښ په عفوه سره او په مغفرت سره لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ نو هرائینه رسیدلے به وو تاسے په هغه دروغو کښ اَفَضْتُمْ فِيْهِ چه غوڅے وهلے تاسے په هغه دروغو کښ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۴﴾ سمے عذاب لوئے هم دلته په دنیا کښ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ په هغه وخت چه رانیولے تاسے دا خبره دافك یو له بله بِاَلْسِنَتِكُمْ په ژبو خپلو یعنی هریو به د بل له خولے اورین لے او په بیخ به ئے هیڅ خبر نه وو او دلته یوه تت محذوفه ده چه په اصل کښ تَتَلَقَّوْنَهٗ وو وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ او وبه وائئ تاسے په خولو خپلو سره مَّا لَيْسَ لَكُمْ هغه دروغ چه نشته تاسره بِهٖ عِلْمٌ په هغه هیڅ پوهه وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا او کنړئ تاسے دا خبره اسانه چه هیڅ گناه پکښ نشته وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ او حال دا چه دا خبره په نزد دخدائ عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ دیره لویه ده په باب د گناه کښ وَلَوْلَآ او ولے نه اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ په هغه وخت چه واوریده تاسے دا خبره قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ ویل تاسے چه نهٔ دی باندے موږه لره اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا سمے دا کار چه خوله وخوزوو په دے خبره باندے سُبْحٰنَكَ پاکی ده

تالره اے ربه او تعجب دے له داسے غټه دروغ چه هرم درسول صلے الله علیه وسلم نه نسبت دغور کړلے
شی هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ۱۶ دا دروغ دی پرلوئی جوړکړی دمنافقانو یَعِظُكُمُ اللّٰهُ پند درکوی تاسے ته
خدائ یعنی منع کوی تاسے اَنْ تَعُوْدُوْا له دے چه بیا عود ونه کړئ لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا کلو دا سے رنګ کار
ته هیڅرے ترڅوچه ژوندی وئ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۱۷ که چرے یئ تاسے مؤمنان خکه چه ایمان مانع دے
له نسبته دا قاخشوهر مسلمان ته خصوصًا امهات المؤمنین ته وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ اوبیانوی خدائ لَكُمُ الْاٰيٰتِ
تاسے ته ایتونه پند اوښیحت په طریقه دادب زده کړئ اوله بے ادبئ خان وساتئ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او
خدائ دانا دے په اعمالو ستاسے حَكِيْمٌ ۱۸ پرحکمته دے پامرا ونهی کولو کښ اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه
هغه کسان يُحِبُّوْنَ چه مینه کوی دوئ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ په دے چه خوره شی فاحشه اوبدنامی فِي
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په باب دهغه کسانو کښ چه ایمان ئے راوړے دے په دے شان چه مخلوق پکښ مجلسونو
کوی لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ مقرر دے دوئ لره عذاب دردناك فِي الدُّنْيَا هم په دنیا کښ په حد قذف او په
بدنامئ سره وَالْاٰخِرَةِ ۭ او په آخرت کښ په اوره دوزخ سره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخدائ پوهیږی په ضرر د
هغه فاحشئ چه خوره کړے ده تاسے وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۱۹ اوتاسے نه پوهیږئ په هغه وَلَوْلَا فَضْلُ
اللّٰهِ اوکه نه وے فضل د خدائ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ په تاسے او مهربانی ددهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ اوداسه وے چه
بیشکه خدائ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۲۰ مهربان رحیم دے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَتَّبِعُوْا مه کوئ
پیروی خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ دکامونو د شیطان یعنی په دهٗ پسے مه ځئ په لارد معصیت کښ وَمَنْ يَّتَّبِعْ
اوهرچاچه پیروی وکړه خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ دکامونو د شیطان اودهٗ په فرمان پسے لاړه فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ پس
بیشکه چه دے خوامرکوی تابع خپل تر بِالْفَحْشَاۗءِ په هغه کارچه پرقبیح وی هم په عقل هم په عرف
وَالْمُنْكَرِ ۭ اوپه هغه کارچه شرع ئے نه خوښوی اوطبائع ترے نفرت کوی وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ اوکه نه
وے فضل د خدائ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ په تاسے په توفیق دتوبے اورحمت په پاکولو ستاسے مَا زَكٰى مِنْكُمْ نه
نه به وو پاك شوے له معصیت دافک ستاسے مِنْ اَحَدٍ اَبَدًا هیڅوك هیڅرے وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ ولیکن
خدای چه دے پاکوی په قبول دتوبے سره مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ هرهغه څوك چه اراده ئے وشی وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ او
خدائ اوریدونکے دے دا قوالو د خلقو عَلِيْمٌ ۲۱ دانا دے په نیتونو دوئ اوپه اخلاصو دوئ روایت

دے چه صدیق اکبر سوګند کړے و وچه تروریزی خپل ته چه مسطح نوم و وچه یولسه هغو پنځو تنو و و چه افك ئې برپا ئے کړے و وچه نه به پس له دے څخه و کرم ورلره اونه به دوباره احسان ورسره و کړم مطلقًا ونازل شو وَلَا يَأْتَلِ اوسوګند ونه کوی أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ څښتنان دفضل په دین کښ چه تاسے وَالسَّعَةِ اوښتنان دارتکاهُ اود فراخئ په مال کښ أَنْ يُؤْتُوا په دے چه ورښه نه کړی نفقه اودلته لاپکښ مقدد أُولِي الْقُرْبٰى خښتنانو نو خپلوان له وَالْمَسٰكِيْنَ اومحتاجانو نو خلجزانو نو دارانو له وَالْمُهٰجِرِيْنَ اوهجرت کونکو لره فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﷺ په لاره د خدائ کښ اومسطح په دے هم خپلوانو نه دے چه تروریزے دے اوهم مسکین اوهم مهاجر دے نو دده خطاته دے ئې کوری وَلْيَعْفُوْا اومبايد چه عفوه وکړی وَلْيَصْفَحُوْا اومبايد چه مخ ډ وکړی اواعماض ډ وکړی اوانتقام ډ ترې نه اخلی حُکه چه تاسے هم بيا الجبل خدای سره معامله لرئ نو أَلَا تُحِبُّوْنَ ايا دوست نه لرئ تاسے أَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ط چه خښنه وکړی خدائ تاسے ته دګناهونو ستاسے وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾ اوخدائ بخښونکے مهربان دے إِنَّ الَّذِيْنَ بيشکه هغه کسان يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ چه ولی دوی په نسبت دزنا ښځے پاکے عفيفے الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ بے خبره له دے فاحشے پاکے ايمان راوړونکے په خدائ اورسول خبر د لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ مس لعنت وويلے شو په دوی هم په دنيا کښ په بدنامی اوپه رسوائی سره اوهم په آخرت کښ په سخت عذاب سره لکه چه وائی وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾ اومقرر دے دوی لره عذاب لوئ يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ په هغه ورځ چه شاهدی به ولری په دوی اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ ژبے د دوی او لاسونه د دوی اوښے د دوی بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ په هغه افعالو اواقوالو چه کول به دوی په دے دنيا کښ يَوْمَئِذٍ په هغه ورځ يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ پوره به ورکړه دوی له خدائ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ هغه جزا د دوی چه لائق ده له دے عمله د دوی وَيَعْلَمُوْنَ اوپوهه به شی دوی بيا هغه وخت أَنَّ اللّٰهَ په دے چه بيشکه خدائ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿۲۵﴾ دے ثابت قادر دے په ثواب اوپه عقاب يا عادل دے چه انتقام د مظلوم اخلی له ظالم الْخَبِيْثٰتُ ناپاکے ښځے اوناپاکے خبرے چه دی لِلْخَبِيْثِيْنَ دپاره د ناپاکو دی له خلقو وَالْخَبِيْثُوْنَ اوناپاك خلق چه دی لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ دپاره د ناپاکو ښځو اوناپاکو خبرو دی وَالطَّيِّبٰتُ اوپاکے ښځے اوپاکے خبرے چه دی لِلطَّيِّبِيْنَ دپاره د پاکو دی لخلقو وَالطَّيِّبُوْنَ اوپاك خلق چه دی لِلطَّيِّبٰتِ ۚ دپاره د پاکو ښځو اوپاکو خبرو دی يعنی د پاك سره هركله پاك لائق دے

اوله پلیت سره پلیت اوهرکله چه داسے شوه اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ دا اهل بیت یا رسول علیه السلام اوبی بی عائشه رضی الله عنها اوصفوان رضی الله عنه چه دی پاك اوبیزاره دی مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ط له هغه نالایقو خبرو چه وائی ـ دادروغژن په حق دروغ کښ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرر دی دوئی لره بخښش له خدائ وَرِزْقٌ كَرِيْمٌ (۲۶) اوروزی دیره هیښه په جنت کښ **فایده** خلورته خدای په خلورو خیزونو پاك کړی دی یو یوسف علیه السلام په شاهدئ دطفل بل موسیٰ علیه السلام په تخټولو دتیرے جاے دده بل مریم رضی الله عنها په عزیدلو دده بل بی بی عائشه رضی الله عنها په نزول دآیت په حق دپاکئ دے کښ نوردے اودهغوخو مره فرق دے چه مرا ترقیامته په منبرونواو محرابونوکښ لوستے شی دپاره داظهاردلویئ درسول علیه السلام **روایت دے** چه یوے ځے رسول علیه السلام ته وویل چه مونږه په خپل کالکښ سے بیږدے نا ستے اوسو او یوچه په دے حال چاونډ لیدلے ناګاه خوله راننوځی بے اذن بے اکاهئ اومونږه به په هغه حال وویني نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا مهٔ ننوځئ هغه کوټو ته غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ چه غیر وی له کوټو ستاسے یعنی بیکانه کړه دننه مهٔ ځئ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا ترهغه چه اول اذن وغواړئ د دخول وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا اوبیا سلام واچوئ په اهل دے کوټو اودلته اذن په سلام هله مقدم دے کهٔ ځوئ بنکاره نه وواوکهٔ بنکاره وونو اول سلام دے اوبیا سے وائی ءَ اَدْخُلُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ دا اخبار اوذن غوښتل دیرغوره دے تاسے لره اوداحکم دے پاره دے چه لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ (۲۷) ښائی تاسے پند واخلئ په دے فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا پس که چرے بیا مهٔ موئ تاسے فِيْهَآ اَحَدًا په دے کورونو کښ هیڅوك فَلَا تَدْخُلُوْهَا پس مهٔ ننوځئ په هغوکښ حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ترهغه چه اذن وکړے شی تاته اوکهٔ ځوك داذن هم پکښ نهٔ وی نوبیخی مهٔ ننوځئ وَاِنْ قِيْلَ اوکهٔ چرے ووایے شی لَكُمُ ارْجِعُوْا تاسے ته پس له اذن غوښتلوچه بیرته وګرځئ فَارْجِعُوْا پس وګرځئ بیرته او الحاح د دخول مهٔ کوئ چه دا منع به له کومه عذره وی هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ چه دابیرته ګرځیدل ډیر پاك اوغوره دی تاسے لره وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ (۲۸) اوخدائ په هغه کارونوچه کوئ ئے تاسے دانا دے جزا به پرے درکړی **روایت دے** چه پس له نزول دده آیت صدیق اکبر له رسول صلے الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چه د اسود اکر شام ته اوعراق ته ځی او په لاره کښ مسافرخانے وی اوده کانونه وی اوده وی خپل مالونه پکښ کیږدی او پخپل

عه ایا دننه کالره ته ورننوځم حُسالہ طرفہ وسلام وں پہ تاسے باندے ۱۲

حاجت پسے لارشی بیاچه راشی نو د اذن غوښتلو څخه نه وی هلته دیکښی څه حکم دے ؟ نو نازل شو لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ نشته په تاسے هیڅ گناه اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا پیه دیکښی چه ننوځئ تاسے بے اذنه غوښتلو هغو کو ټو ته غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ چه نه وی دچا او سید نے یعنی دچا کور یکښی نه وی فِيْهَا مَتَاعٌ تَكُمْ ط چه په هغو کښی مال متاع وی ستاسے یا له کرئ او یعنی ځان پناه کوئ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخدائ پوهیږی مَا تُبْدُوْنَ په هغه چه بنکاره اذن غواړئ له کاله د څښتنه وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾ او په هغه چه پټوئ تاسے یعنی نیت لرئ د ډیر ننوتلو چا کره د پاره فساد قُلْ وایه اے رسوله! لِّلْمُؤْمِنِيْنَ مؤمنانو ته يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ چه پټے د کله سترګے خپلے او نامحرم ته د نهٔ کورۍ چه موجب د فتنے نه شی وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ط او د وُ د ساتی فرجونه خپل له حرامو ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ دا پټول د ستر گو او ساتل د فرج د پاره پاکیزه او سود مند دی دوئ لره په دنیا او په آخرت کښ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا يَصْنَعُوْنَ بیشکه خدای خبردار دے ﴿۳۰﴾ په هغه نظر چه کوی ئے دوئ پسحلال او په حرام او هدا سے په استعمال د جوارحو یه طاعاتو او په معاصیو کښی فائدہ هرکله چه بیکا نه بنځه د ده دهغے د ځ اعضاؤ ته نظر د واړ ے نه ته او لاسونو ته او قدمونو ته د واړه تر بنده پورے او هرچه محرمه ده د هغے څلورو ته رواړی سر ته سینے ته متو ته پنډی یو ته وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ او هدا سے وایه مؤمنو بنځو ته هم چه يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ پټے د کله سترګے خپلے او نهٔ د کورۍ نامحرم سړیو ته چه مفضی نه شی فتنے ته وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ او د وُ د ساتی فرجونه خپل له زنا نه وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ او نهٔ د بنکاره کوی بناسته خپل لکه کانړه او جامه او رنګ او د آ سے نورے اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا مګر هغه چه بنکاره وی له د غه زینت په وخت د کار کولو کښی لکه ګوتے او نکریږۍ او رانجهٔ او پیشکی د جامو او څوکوالی چه مراد ترے څایونه د زینت دی نو مخ او لاسونه وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ او وهلی باید چه واړ چوی پر ولی خپل عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ص په گریوانونو خپلو باندے چه سینو ئ بنکاره نه شی وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ او نهٔ د بنکاره کوی زینت خپل هیڅ ته اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ مګر مړونو خپلو ته چه د زینت هم دوئ د پاره دے اَوْ اٰبَآئِهِنَّ یا پلرونو خپلو ته او نیکه هم پکښی داخل دے اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ یا پلرونو د مړونو خپلو ته یعنی خسرانو ته چه دوئ هم حکم د پلار لرۍ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ یا ځامنو د مړونو خپلو ته او نوسی هم پکښی داخل دی کهٔ د ډیر بنکته وی هم اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ یا ځامنو د مړونو خپلو ته یعنی بنزبو ته چه

دوئ هم حکم دخپلوڅا منولری اَوْ اِخْوَانِهِنَّ یا رونړ وخپلوته اَوْ بَنِیْٓ اِخْوَانِهِنَّ یا ځا منود رونړ وخپلوته
اَوْ بَنِیْٓ اَخَوٰتِهِنَّ یا ځا منود خویندو وخپلوته او دا اوهٔ طائفے هغه وی چه نکاح ئے ورسره روا نهٔ دے او په رضاع
کښی هم دغه اوه طائفو حکم همدا سے دے چه بنکاره کول د زینت روا دی او نکاح ئے روا نهٔ ده اَوْ نِسَآئِهِنَّ
یا بنځو خپلوته چه اصیلے او مسلمے وی اوکه وینزے وی حُکه چه په ویښ وکښی د یو حرج دے او هر چه کافرے
نه هر صنفه چه وی حکم د نامحرم سړی لری او په دیکښی اختلاف دے د علماؤ اَوْ مَا مَلَكَتْ یا هغه چا ته چه
مالک شوے وی دهغهٔ اَیْمَانُهُنَّ بنی لاسونه د دوئ یعنی وینز وخپلوته ته نه مریونه چه مریونه حکم
بیکانه لری اَوِ التّٰبِعِیْنَ یا هغوتابعانو ته غَیْرِ اُولِی الْاِرْبَةِ چه پرته وی له څښتنا نو د حاجت بنځو ته مِنَ
الرِّجَالِ له سړیو یعنی له هغوکسانو چه محض د پاره د طعام راغلے وی او په هیڅ کار نهٔ لری او دا بنځه طائفے دے
دوه ترے چه زارهٔ او لیونی دی هغه یعنی له شهوته خلاص دی په سبب د زوړ والی او د لیونتوب سره نو دا
دواړه په دے حکم کښی داخل دی او هغه درے نور چه خصیان او مجبوبان دی او خنثیٰ کان دوئ اگرکہ
قادر نهٔ دی په جماع اما په ارمان کښی ئے پراته دی نو دوئ ته اظهار د اَوِ الطِّفْلِ الَّذِیْنَ یا
هغه هلکانو ته. او دا لفظ د طفل جنس دے نو اطلاق ئے پر جمع هم کیږی لَمْ یَظْهَرُوْا چه نهٔ وی مطلع شوی
دوئ عَلٰی عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ص په عوراتو د بنځو یا په سبب د عدم شهوت یا د عدم قدرت په مباشرت وَلَا
یَضْرِبْنَ او نهٔ د وهی دا بنځے بِاَرْجُلِهِنَّ هغه خپلے چه پکښی خلخالونه وی په وخت د تګ کښی
په زمکه په زوره لِیُعْلَمَ مَا یُخْفِیْنَ د پاره د دے چه معلوم شی هغه څیز چه پټوی دوئ مِنْ زِیْنَتِهِنَّ ط
له کانړے خپلے چه خلخال دی یعنی د خلخال خپل اواز د خلقو ته نهٔ اوروی چه موجب د میلان د
طبایعو کبیږی وَتُوْبُوْٓا اِلَی اللّٰهِ جَمِیْعًا او توبه وباسئ خدائ ته اورجوع وکړئ دهٔ ته ټول اَیُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ اے
مومنانو لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (۳۱) بنائی چه تاسے خلاص یا مومئ له عذابه **نظم**

چه په مونږه امر وشو د توبے له ذوالجلاله — نو توبه په مونږ هم تولو شوه واجبه څمالا له
خو توبه لری درے شرطه یو په تیرو پښمانی ده — او په مال کښی د بخښش یا رکط وی بے ملالا له
بل فی الحال ترک کول دی د بدکارۍ پراخته وی — دریم عزم دے د ترک ئے ان ترموته ارتحالا له

وَاَنْكِحُوا الْاَیَامٰی اوپه نکاح کوئ اے دیانو څښتنانو هر هغه کسان چه جنت نهٔ لری مِنْكُمْ له تاسے نه

نارینه وی اوکهٔ ښځه او ایامی جمع ده دَ اَیِّمٌ او ایم هغه چا ته وائی چه جفت نهٔ لری نارینه وی اوکه ښځه یکره وی اوکه کنډه او بل د اچه دغه ایامیٰ په اصل کښ ایایم وو بیا قلب مکانی وشو په مابین دی اودمیم نو اَیَامیٰ شو بیا دَ اَیَامیٰ شو نو ایامیٰ شو وَالصّٰلِحِیْنَ اوبل په نکاح کوئ نیکان مِنْ عِبَادِکُمْ له مریونو خپلو وَاِمَائِکُمْ او له ویښو خپلو **حاصل** د اچه اصیلان او اصیلې او مریونه او ویښځې چه جفت نهٔ لری نو په نکاح کوئ ئے چه مؤمنان د پرشی او دا امر د لزوم نهٔ دے حُکه چه نکاح لازم نهٔ دے اِنْ یَّکُوْنُوْا فُقَرَآءَ اګر چرے وو دا مذکور ناداران بے ماله یُغْنِهِمُ اللّٰهُ نو بے پروا به کړی دوئ خدائ مِنْ فَضْلِهٖ له فضل خپله یا په صبر او په قناعت سره او یا په کفایت سره او یا په جمع د رزقینو سره د زوج او د رزق لاد زوے ده لکه چه حدیث کښے چه اِلْتَمِسُوا الرِّزْقَ فِی النِّکَاحِ یعنی لټوئ روزی په نکاح وَاللّٰهُ وَاسِعٌ او خدائ ښښتن دارت رزق دے عَلِیْمٌ (۳۲) دانا دے په مستحقانو د فراخئ وَلْیَسْتَعْفِفِ الَّذِیْنَ او میبایدچه عفت د وکه او ځان د وساتی لحرامو هغه کسان لَا یَجِدُوْنَ نِکَاحًا چه نهٔ مومی دوئ نکاح یعنی اسباب ئے له مهره او له نفقے حَتّٰی تر هغے پورے یُغْنِیَهُمُ اللّٰهُ چه غنی کړی دوئ لره اللّٰه تعالیٰ بیا نکاح اوکړی مِنْ فَضْلِهٖ له فضله او له کرمه خپله او بیا مومی دومره مبلغ چه د دوئ کفاف پرے کیږی **روایت دے** چه صبیح نومے مریے د وعبد العزیٰ چه له دهٔ څخه ئے مکاتب والے طلب کهٔ او دهٔ اباء وکړ نو نازل شو وَالَّذِیْنَ یَبْتَغُوْنَ الْکِتٰبَ او هغه کسان چه غواړی دوئ مکاتبولے مِمَّا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ په هغه ویښو مریونو چه مالک شوی دی د هغوینی لاسونه ستاسے فَکَاتِبُوْهُمْ پس مکاتب ئے کړی او دا امر د استحباب دے اوصورت ئے دادے چه څښتن د دوائ خپل مریُ ته چه ته هم مکاتب کړے مثلاً په سل روپئ نو هر کله چه د اصل روپئ د مانه وسوے نو ته آزاد اوسه اِنْ عَلِمْتُمْ فِیْهِمْ کهٔ چرے پوهه وئ تاسے یعنی معلوم شود رته فِیْهِمْ خَیْرًا په دوئ کښ خیر یعنے قدرت پرکتلو او وسیاه په سپاره لود مبلغ بے سواله چه هغه مکروه دے وَاٰتُوْهُمْ او ورکړئ دے مکاتبانو اے مسلمانانو هر څوک مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِیْٓ بعض له هغه مال د خدائ اٰتٰىکُمْ چه درکړیدے دهٔ تاسے لره **روایت دے** چه ابن اُبَیّ منافق شپږ ویښزے ساتلے وے چه زنا به ئے پرکوله په زوره د پاره د حصول مبلغ ـ معاذه ـ مسیکه ـ میمه ـ قتیله ، عمره ـ اروی بیا له هغو دوه تنو چه معاذه او مسیکه وے رسول صلے اللّٰه علیه وسلم ته ئے فریاد وکه نو نازل شو وَلَا تُکْرِهُوْا فَتَیٰتِکُمْ او جبر مهٔ کوی په ویښزو خپلو

عَلَى الْبِغَآءِ په زنا اوپه بدکارئ کولو اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا کهٔ چرے اراده لری دوئ د پرهیز کارئ اود اقید اتفاق دے لِّتَبْتَغُوْا دپاره دے چه حاصل کړئ تاسے په دے د زنا کارئ سره عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مبلغ اومتاع د دے وارڅه ډونډون چه هغه اُجرت دے د زنا او اولاد دے وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ اوهرهغه څوك چه جبرئ وکړه پهٔ دوئ د زنا فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ پس له جبره د څښتنانو په دوئ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۳﴾ بخښونکے مهربان دے په دے ویښو وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اوهر اُتینه په تحقیق راليږلی دی مونږه تاسے ته اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ایتونه بنکاره کونکی د حلالو د حرامو د حدودو د احکامو وَّمَثَلًا اوبل رالیږلے دے مونږه يو مَثَل یعنی قصه عجیبه چه د بی بی عائشے ؓ ده په شان د هغه قصو چه نقل شوی دی مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا له هغه کسانو چه تیر شوی دی دوئ مِنْ قَبْلِكُمْ پخوا له تاسے کله قصه د یوسف علیه السلام او د بی بی مریم په تهمت اوپه پاکئ کښ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۴﴾ اوبل رالیږلی دی مونږه دا ایاتونه بند د پاره د پرهیزکارانو او په دوئ پورے ځکه خاص شوچه نفع پرے اخلی هم دوئ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط خدائ د نور دے د اسمانونو او د زمکے او نور هغه کیفیت دے چه په باصره اول د ده ادراك کوی او بیا د دغه په واسطه سره ادراك د باقی مبصراتو کښ لکه په محسوساتو کښ شوچه له نوره اوله سپوږمئ راخور دے په هغه کشف اجرا موچه د رسره مخامخ وی نو اطلاق د نور په دے معنیٰ سره روا نه دے په خدائ ځکه چه دے ذات دے او کیفیت عرض دے مګر په یو له څلورو وجهو چه یا مضاف پکښ مقدر شی چه دے څښتن د نور د دوئ دے او یا مجازی شی چه مصدر مبنی شی د پاره د فاعل یعنی منور دے د دیوچه منور په خپله معنیٰ شی او یا دے په معنیٰ د معتبر شی یعنی د وا نونکے د دیو په ملائکو او په انبیاؤ سره او یا په معنیٰ د مدبر شی لکه چه رئیس د قوم ته نور القوم وایلے شی یعنی مدبر دے د دیو په حکمت بالغه سره مَثَلُ نُوْرِهٖ شان د نور د دهٔ چه دے اوله اضافت د نوره ضمیر د دهٔ ته معلومیږی چه هغه تیرهم مجاز وو كَمِشْكٰوةٍ دا سے دے لکه طاقچے فِيْهَا مِصْبَاحٌ ط چه په هغه کښ بَل چراغ پروت وی اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ما د بل چراغ بیا په بنیښه کښ پروت وی اَلزُّجَاجَةُ د بنیښه چه ده په سبب د هغه رنړا د هغه څراغ له ډیرے صفائ او لطافت كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ گویا کہ د بنیښه یو ستوری دے رُوْنٍ څلیدو ملکه له زهره یا مشتری یا بل یو شو يُّوْقَدُ چه بَل کاوه شی د چراغ په سر کښ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ له تیلو د ونے برکتناکے چه خُوْن دے لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّ لَا

غَرْبِيَّةٍ ۙ چه نه شرقی طرف دزمکے تہ دہ دا ونه او نه غربی طرف تہ دہ دزمکے بلکه په شام کښ دہ چه مینځ دے دوار ویا معنا داچه نه همیشه په نورد مچه میوه ئے تاؤسیزی او نه همیشه په سیوری دہ چه میوه ئے خامه پاتے شی يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ نزدے وی نیل دے ونے چه رنړا وکه له خپله خانه له دیرے صفایئ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ او اگر که نه وی ورسیدلے اور یعنی دے ته قابل وی چمے او ورنړا وکه په سبب دیرے صفایئ پس دا رنړا چه ذکر دہ په دے تیر مثال کښ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ دا دابو نور دے دپاسه دبل نور ځکه چه هر کله داخلو رخیژو نه سره جمع شوچه رنړائے دچراغ او صفائی دتیلو اولطافت دښیښے اوراښدول دطاقچے دی نو دا رنړائے خلور چنده شوه والله اعلم يَهْدِي اللّٰهُ لاره بنائی خدائ لِنُوْرِهٖ دے نور پاك له معرفت خپل تہ مَنْ يَّشَآءُ ؕ هر هغه چا تہ چه اراده ئے وشی له بند گانو خپلو په الهام یا په استدلال سره وَيَضْرِبُ اللّٰهُ او تری خدائ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ مثالونه خلقو تہ یعنی مقولات ورتہ بیانوی په صورت دمحسوساتو کښ چه فهم ته ئے قریب شی او مطلب ترے واخلی وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ او خدائ په هرڅیز دتایقود مقولاتو او محسوساتو اوله حقایقو دخفیا تو اوجلیاتو عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾ آگاه دانادے فَائِدَه علماؤ په باب دے تمثیل کښ وجوه بیان کړی دی دلته به یو ترے راوړم دپاره دتبرك هغه دادے چه فخرالدین رازی په اسرار التنزیل کښ ویلی دی چه سینه دمؤمن مشکوٰة دے اوزړه پکښ زجاجه ده اوایمان په دے زړه کښ بل چراغ دے او کلمه داخلاص شجره دزیتون ده له دیرے صفایئ او تصدیق په زړه دمومن کښ بے له ویلو په خولے داسے رنړا خوره که چه تول عالم پرے منور شی اوبیا چه له دے تصدیق سره اقرار لسانی هم ضم شی اوداباقی امور هم تول ورسره یوځائ شی نوداد نور علی نور شی تسبیح وائی خدائ لره فِيْ بُيُوْتٍ په هغه کوتوکښ اَذِنَ اللّٰهُ چه اجازه کړے ده خدائ او امر کړے دے اَنْ تُرْفَعَ دے چه پورته کړے شی یعنی آباد کړے شی یا بلند قدری او تعظیم وکړے شی ددغه بیوتو وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ او یاد کړے شی په دیوکښ نوم ددہ مراد ترے مساجد دی چه ارفع او اشرف دمساکنو دتمام روئ زمین دی چه بنائے محض دپاره دعبادت ده يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا چه تسبیح وائی یا مونځ کوی دهٔ لره په دے بیوتو کښ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۳۶﴾ صبا او بیگاه مراد په غُدُو سره دصبا مونځ دے مونځ دے یوائے او په اصال سره باقی خلور واړه مونځونه دی رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ هغه سړی چه نه حصاروی اونهٔ اړوی دوئی اودا رجال فاعل دے يُسَبِّحُ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ سوداګری یعنی

پیرودل اونه خرڅول عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ له یادکبرئ دخدائ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ اوله برپای لرلودمانځه وَاِيْتَاۗءِ الزَّكٰوةِ اوله ورکولو دزکاة **حاصل** ئ داچه ظاهر دده دوئ مدام له خلقو سره داسے بند دے چه هیڅ وخت په تجارت اوپه بیع اوپه شراء مشغول وی اوباطن ئ علی الدوام له حق سره داسے پیوند ئ چه هیڅ وخت ئ له هغه طرفه غفلت مطلقاً نه راځئ۔ **رباعی**

په باطن اوسه اشنا اوپه ظاهر کښ بیگانه شه — په بشکاره اوسه خالی اوپکښ د ډک اوپاند شه
دا عجب دوش دے روره که ګوهیږے تل پرده مه — په ظاهر دانه دمبوئ په باطن کښ دُرپاند شه

يَخَافُوْنَ يَوْمًا وير یږدی دوئ سره له دغه ذکره اوطاعته له هغه ورځ تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ چه ګډوډ وی پکښ زړونه دهرچا یعنی له ډیره دهشته به تغیر اوخوری اومضطرب اوبے حاله اوله ځایه به بے ځایه شی وَالْاَبْصَارُ (۳۷) اوستركے هم هدا سے پټے به وخیڑی اوتکے شنے به شی له غلبے دهغه اودا ډیر تسبیح وائی دوئ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ دپاره دے چه جزا به ورکړی دوئ لره خدائ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا ډیره غوره جزا دهغه عملونو چه کړی دی دوئ چه هغه جزا جنت دے وَيَزِيْدَهُمْ اوزیاتوالے هم ورکړی د جزا دعملونو دوئ په ورکولو کښ مِنْ فَضْلِهٖ له فضل خپل یعنی زیاتے له عمله به نورهم برخه ورکاندی وَاللّٰهُ يَرْزُقُ اوخدائ روزی ورکوی په دُنیا کښ مَنْ يَّشَاۗءُ هرهغه چاله چه اراده ئ وشی بِغَيْرِ حِسَابٍ (۳۸) بے حسابه یعنی پریمانه **روایت دے** چه عتبه بن ربیعه پاجاهلیت کښ پریبادت او طلب ددین کولو بیاچه اسلام راغے نوکافرشونو نازل شو وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اوهغه کسان چه کافردی اَعْمَالُهُمْ هغه عملونه ددوئ چه په ظاهر کښ نیک بشکاریږی لکه صله رحمی پاال یا دمرئ ازاد ول یاوړی مرول یا داسے نور خیر خیرات کول شونو اعملونه كَسَرَابٍۢ بِقِيْعَةٍ په شان دهغه سراب دی چه په هوار میدان کښ بشکاریږی په سخته ګرمئ کښ په وخت داستواء اوداسے برېښنا کوی چه يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَاۗءً ط ګمان وکړی پرے تږے داوبو اوړ، تردغه که حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءَهٗ نرهغه چه راغے هغه ځائ له چه دوبو ګمان ئ پرے شوے وو لَمْ يَجِدْهُ شَيْـــًٔا نوبیا ئ نه مونده هغه مظنون خپل هیڅ څیز وَّوَجَدَ اللّٰهَ او بیائ مونده خدائ حساب کو ځکه خپل یاعذاب دده عِنْدَهٗ په نزد دعمل خپل فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ پس ورکه دهغه ډیره جزا دعمل ددهٔ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ (۳۹) اوخدائ جلت حساب دے اَوْ كَظُلُمٰتٍ یادا

عملونه دوئ په شان دهغه تاریکیو دے فِی بَحْرٍ لُّجِّیٍّ چه په هغه ژور سیند کښ وی چه اوبه ئے بے حده ډیرے وی او د لُجّی منسوب دے لج ته چه ډیر واوبو سیند ته وایهٔ شی یَّغْشٰهُ مَوْجٌ چه لاندے که د بحر یا واقع په دیکښ موج یعنی د اموج د اسے خیزونه وکړی او چپے وو هی چه په سیند د پاسه راسوریشی لـ ډیره جوشه مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ چه د پاسه دهغه تیر موج بیا بل موج راسوریشی مِنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ط چه د پاسه دهغه دویم موج بیاورینځ پیدا شی په آسمان کښی چه دستورو رنړاهم پرے پته شی نو د اچه دی ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا تاریکئ دی څلور قسمه چه بعض د دوئ فَوْقَ بَعْضٍ ط د پاسه د بعضو نورودی په شان چه لاندے ظلمت د بحر بیا دهغهٔ د پاسه د اول موج بیا دهغهٔ د پاسه د دویم موج بیا دهغه د پاسه دورے اودا تاریکئ بیا د اسے غالبے شی چه اِذَآ اَخْرَجَ یَدَهٗ په هغه وخت چه راوباسی د واقع په سیند کښ لاس خپل چه اقرب د اعضاؤ دے ستر کو نه لَمْ یَکَدْ یَرٰىهَا ط نهٔ وی نزدے دغه واقع چه ویښی د الاس اودا مبالغه ده یعنی لیدلو ته نزدے هم نهٔ وی اوخهٔ خاصه ئے چمے ویښی **حاصل** د اچه دوئ لـه خدائ رنړانهٔ ده مقرر کړے په ازل کښ وَمَنْ لَّمْ یَجْعَلِ اللّٰهُ اوهرهغه څوك چه نهٔ وی مقرر کړے د خدائ لَهٗ نُوْرًا ده لره رنړا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴﴾ پس نشته ده لره هیڅ قدر رنړا چه لاره پرے بیاموی حق ته لکه چه راغلی دی په حدیث کښ چه خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فِیْ ظُلْمَةٍ ثُمَّ رَشَّ عَلَیْهِمْ مِّنْ نُّوْرِهٖ فَمَنْ اَصَابَهٗ مِنْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اهْتَدٰی وَمَنْ اَخْطَاَهٗ ضَلَّ **تنبیه** رب العزت په اعمالو د کفارو پورے دوه مثالونه وترل په درے اعتباره سره یا په اعتبار د تخییر چه اے مخاطبه کهٔ دے عملونه ئے کورے چه هیڅ فائده او نفع نهٔ لری نو لکه سراب دی او که دے ته ئے کورے چه نور د حق در سره مل نهٔ دے چه ایمان دے نو لکه ظلمات. او یا په اعتبار د تقسیم دمکانینو چه نظر عقبی ته دا لکه سراب دی او نظر دنیا لکه ظلمات دی کذا ذکرهٗ فی البیضاوی اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ آیا نهٔ وینے ته به شکه خدای چه دے یُسَبِّحُ لَهٗ تسبیح وائی دهٔ لره مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هرهغه څوك چه په اسمانو نو کښ او په زمکه کښ دی وَالطَّیْرُ صٰٓفّٰتٍ ط اومرغان هم په دے حال چه خواره کونکی دی دو نړ خپلو په هوا کښ

لـه معنی دا چه پیدا کړے دے خدائ مخلوق په دوه ډوله ازل کښ په تیاره کښ پس تو ئے کړهٔ په دوئ د دوه ډوله خپل پس هغه څوك چه ورسیده دهٔ ته د دغه نور نه نو لاره دیکښ ئے بیاموندہ په دے دنیا کښ او هغه څوك چه خطا شو د دغه نور نه نو کمراه شو ۱۲ اللهم اغفرلنا آمین

یعنی تسبیح والی دهٔ لره کُلٌّ قَدْ عَلِمَ دا قول مذکور چه دی بیرته یا یوا ځی مرغان په تعقیب پوهه دی خدائ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيحَهٗ ؕ په دُعا دهٔ او په تسبیح دهٔ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا اوخدائ بنهٔ پوهه دی يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ په هرهغه طاعت اوعبادت چه کوی ئ دوئ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ اوخاص خدائ لره ده بادشاهی د اسمانونو اوځمکی وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۴۲﴾ اوخاص خدائ لره بیاورتلهٔ هم دی اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ أیا نهٔ وینے تهٔ بے شکه خدائ چه دے يُزْجِيْ سَحَابًا شړی اوراکاری وریځ ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ارادهٔ ئ وشی ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا بیاپیوند کوی په مابین دقطعو دده کښی چه ټول سره ضم کړه ثُمَّ فَتَرَى الْوَدْقَ بیاوګورځوی دوریځ لاندے بانده سره قت په قت يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ چه راووزی له چاودونو اوتونو ددے وریځے وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ اوبل راښکته کوی لـ طرفه اسمان یعنی له وریځے مِنْ جِبَالٍ غړونه. مِنْ زائده دے یعنے دا سے کلکے قطعے دوریځے چه په شان د غړونو دی په پیرو والی اوبه غټ والی کښ فِيْهَا مِنْۢ بَرَدٍ چه وی په غړونو کښ ژالی فَيُصِيْبُ بِهٖ پس رسوی ئے دا ژالی په حکمت بالغه خپل سره مَنْ يَّشَآءُ ؕ هرهغه چاته چه ارادهٔ ئ وشی یعنے کښت یا باغ ته ئے وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ اوچپوی ئے له هرهغه چاچه ارادهٔ ئ وشی يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ نزدے وی چه بریښنا د برق دهغهٔ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ یائے ستړکے یعنے وُرکوی نظر د کتونکو له غلبے د نور يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ چه ګرځوی خدائ شپه اوورځ په بیولو اوپه راوستلو یا په کموالو اوزیاتوالو یا په ګرمئ اویخئ یا په ظلمت اوپه نور یا په نورُ احوالو سره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دے تیرو بیتلو کښ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۴۴﴾ هرائینه د پرلوئ عبرت اوپند د ډیرو خلقو چه د زړه سترګے لری وَاللّٰهُ خَلَقَ اوخدائ پیدا کړی دی كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ هرحیوان چه ګرځی په زمکه له اوبو چه جزء دے د مادے دهٔ یا مراد نطفه ده فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ پس بعضے له دے حیوانا تو هغه دی چه تنګ کوی عَلٰى بَطْنِهٖ ۚ په نس خپل لکه مار او مچے اونور هوام شو وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ اوبعض له دوئ هغه چه تنګ کوی عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ په دوه خپو لکه انسان اومرغان وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ اوبعض له دوئ هغه دی چه تنګ کوی عَلٰٓى اَرْبَعٍ ؕ په څلور وخپو لکه چارپایان اوهغه ئ مقدم راوړه چه قدرت یکښ بنهٔ ظاهر دے بیا په تنزل تلے دے يَخْلُقُ اللّٰهُ پیدا کوی خدائ مَا يَشَآءُ ؕ هرهغه چه ارادهٔ ئ وشی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ

عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۴۵﴾ په هر خیز قادر دے لَقَدْ اَنْزَلْنَآ هر اشنه په تحقیق را لیږلی دی مونږه اٰیٰتٍ مُّبَیِّنٰتٍ ؕ
ایتونه بیانونکی د حقایقو په انواع د دلیلونو وَاللّٰهُ یَهْدِیْ او خدائ لاره بنیی مَنْ یَّشَآءُ هر هغه چا ته چه
اراده ئے وشی په سبب د تفکر په دے ایتونو کښ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۴۶﴾ سمے لارے ته چه لاره د جنت ده

روایت دے چه جګړه شوه د بشر منافق له یهودی سره یهودی وویل چه د اجګړه ستا په محمد
(صلے الله علیه وسلم) کوتاه کوو نو نازل شو وَیَقُوْلُوْنَ او وائی دا منافقان اٰمَنَّا بِاللّٰهِ چه ایمان راوړے
دے مونږه په خدائ وَبِالرَّسُوْلِ او په استاذی د ده هم وَاَطَعْنَا او فرمان هم منلے دے مونږه د
دواړو ثُمَّ یَتَوَلّٰی بیا شا که حکم د دوئ ته فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ یو ټولے له دوئ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ پس له اقرار
په ایمان او په اطاعت وَمَآ اُولٰٓئِكَ اونه دے دا ټولے بِالْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۴۷﴾ مؤمنان په صدق د زړه سره
وَاِذَا دُعُوْٓا او په هغه وخت چه وبللے شی دوئ اِلَی اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ کتاب د خدائ ته او حکم د رسول ده
تا لِیَحْكُمَ بَیْنَهُمْ د پاره د دے چه حکم وکه په مابین د دوئ کښ په ریښتیا سره اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ ناګاه یو
ټولے له دوئ چه پښ د دے مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۸﴾ د ده کونکی دی له حکم الٰهی څخه وَاِنْ یَّكُنْ او که چرے وی
لَّهُمُ الْحَقُّ دوئ لره حق یعنی حکم د دوئ په مقتضی کیږی یو یَاْتُوْٓا اِلَیْهِ راځی دوی رسول علیه السلام ته
مُذْعِنِیْنَ ﴿۴۹﴾ جلت فرمان منونکی بیا وائی دا سے ولے کوی اَفِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ایا په زړونو د دوئ کښ
رنځ دے د کفر او د مَیل ظلم ته اَمِ ارْتَابُوْٓا کهٔ شکمن دی په نبوت د ده کښ اَمْ یَخَافُوْنَ او که ویریږی
دوئ اَنْ یَّحِیْفَ اللّٰهُ له دے چه ظلم به وکړی خدائ عَلَیْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ؕ په دوئ او رسول د ده هم او په
واقعه کښ نه رسول محل د تهمت دے اونه خدائ او رسول په چا ظلم کوی بَلْ اُولٰٓئِكَ بلکه دوئ چه
دی هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع هم دوئ ظالمان دی چه یرے حق لاندے کوی او څنګ کوی له حکم الٰهی څخه
اِنَّمَا كَانَ بے شکه هم د اخبره ده چه دے قَوْلَ الْمُؤْمِنِیْنَ کفتار د مؤمنانو اِذَا دُعُوْٓا په هغه وخت چه
وبللے شی دوئ اِلَی اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ خدائ ته او رسول د ده تا لِیَحْكُمَ بَیْنَهُمْ د پاره د دے چه حکم وکه په
مابین د دوئ کښ په وخت د چګړے اَنْ یَّقُوْلُوْا د اچه وائی دوئ یعنی مؤمنانو سره د الاقه د ده چه د اسے
وائی چه سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ واوریده مونږه قول ستا او قبول کهٔ مونږه فرمان ستا وَاُولٰٓئِكَ او دا ډیونکی
چه دی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵۱﴾ هم دوئ خلاصے موندونکی دی له درکا نو او بری موندونکی دی په

درجاتو وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ اوهرڅوك چه فرمان ومنی دخدائی په فرائظو کښ وَرَسُوْلَهٗ او درسول ددهٔ په سنتو کښ وَيَخْشَ اللّٰهَ او ویریږی له خدائی په تیروکلنا هونو خپلو وَيَتَّقْهِ اوځان ساتی له غضبه ددهٔ اوګنهٔ نه کوی او دا په اصل يَتَّقْيِهِ دے یٓ حذف شوه په جازم د شرط سره او قاف ساکن شو دپاره د تخفیف لکه کتف کښ چه اسکان دتّ روادے نو يَتَّقْهِ شو فَاُولٰٓئِكَ پس دا فرمان منونکی ویریدونکی چه دی هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۵۲﴾ هم دوئی برياليان اومونډ ونکی دی جنت وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ اوسوګند کوی دامنافقان په خدائی جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ هغه ډیر سخت د سوګند ونو خپلو په دے خبره چه لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ هرائینه کهٔ امر وکړے تهٔ دوئی ته دجهاد لَيَخْرُجُنَّ ط نو هرائینه وو به زی دوئی دغه جهاد ته بے مهلته قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا وونّ ورته چه قسم مهٔ خورئ په دروغ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ط فرمانبرداری په ښه وجه چه ده مطلوب ده له تا یعنی په صدق دنیت سره اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ م بیشکه خدائی خبردار دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۳﴾ په هغه کارچه کوئ ئے تاسے چه نفاق دے قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ ووایه چه فرمان ومنئ دخدائی په خلوص دنیت سره وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ج او فرمان ومنئ درسول علیه الصلوٰة والسلام هم په هرخهٔ کښ فَاِنْ تَوَلَّوْا پس کهٔ شا کړه تاسے اوځ وګرځئ له فرمان برداری دده ٔ اے خلقو فَاِنَّمَا عَلَيْهِ پس بیشکه هم داخبره ده چه دے په رسول حُمِّلَ مَا حُمِّلَ هر هغه بارچه دے پرے مکلف کړے شوے دے چه رسول دپیغام دی وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ط اودے په تاسے هم هغه بارچه تاسے پرے مکلف کړے شوی یئ چه هغه انقیاد اوامتثال دے وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ اوکهٔ فرمان ومنئ دده په امراوپه نهی کښ تَهْتَدُوْا ط نوسمه لاربه بیاموئ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اونه دی په رسول حُمِّلَ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾ مګر پیغام رسول دی منکاره اوهغه خو ددهٔ ادا کړے دے او تاسے کار پاتے دے **روایت دے** چه هرکله رسول علیه السلام اومهاجران مدینے لږه راغله نو دقریشو له ویرے به ئے وسله هیڅ وخت له لاسه نهٔ شوه غورځولے اودشپے اود ورځے به بے ارامه وو نو کوم سړی وویل چه ارمان دے کله به داسے وخت هم راشی چه په هغه کښ به زهٔ به مونږه خدائی یاد کړو نو نازل شو وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ وعده کړے ده خدائی له هغه کسانو سره اٰمَنُوْا مِنْكُمْ چه ایمان ئے راوړے دے له تاسے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ قسم دے چه هرائینه خلیفګان به کړے خامخا ځای په ځای دکفارو فِي الْاَرْضِ په زمکه درسته هم په عرب

هم په عجم کښ کَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ لکه چه خلیفه کان کړی و وهغه کسان مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا وله دی یعنی بنی اسراءیل چه د زمکے د مصر او د شام ئے مالکان کړه چه خپل تصرف به ئے پکښ کولو او دا وعدہ یا زمخدائے ترسره کړه دا سے چه جزیرے د عربو او ملک د کسرای او بلاد د روم یَوَلِّ د دوئ تر تصرف لاندے شوَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ او هرائینه قوی او ثابت به کړی دے خامخا دوئ دِيْنَهُمُ الَّذِي په دین خپل کښ هغه دین ارْتَضٰى لَهُمْ چه کړیدے مونږه کړیدے خدائ دوئ لره هغه دین چه دین د اسلام دے یعنے غالب به ئے کا په تولو ادیانو وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ او هرائینه بدل به ورکا خامخا دوئ لره مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ پس له ویرے دوئ له دشمنانو اَمْنًا امن او بے غمی له دوئ يَعْبُدُوْنَنِيْ عبادت به کوی دوئ خُما په فارغ زړه لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْئًا شریک به نه پیدا کوی دوئ له ما سره هیڅ څیز یعنی خُما له عبادته او توحید به ئے هیڅوک پچولے نه شی وَمَنْ كَفَرَ او هرچا کفران او بے شکری وکړه دے نعمت بَعْدَ ذٰلِكَ پس له سره کید و دے وعدے د خلافت فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه دی چه کفران ئے کړیدے دوئ د نعمت هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۵۵﴾ هم دوئ فاسقان دی **فائدہ** امام ثعلبیؒ ویلی دی چه اول کفران دے نعمت قاتلو نو عثمان کړیدے حکه چه ترے پخوا تول دا سے وو لکه رونړه او بیا نو نقتے پکښ برپائ شوے وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او دا کوی مونځ خپل سره له تولو حقوقو ئے وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ او ورکوئ زکوٰة خپل وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ او فرمان ومنئ د رسول ﷺ خُما په هر امر او نهی کښ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ بنائی چه رحم وکړے شی په تا سے او دا اقیموا الصلوٰة عطف دے بیرته په اطیعوا الله باندے لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا گمان مه کوه اے رسوله په هغه کسانو چه کافر دی مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ع عاجز کونکی د خدائ په زمکه کښ په حصار ولو د عذاب د دئ سره وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ او ځائ د هغوئ دوزخ دے بیرته ورتلو د دوئ او ورځے د دوزخ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۵۷﴾ او بد ځائ دے د بازګشت دا دوزخ **روایت دے** رسول علیه السلام یوه ورځ داسټواء په وخت مُدْلِج نام یو هلک په عمر پسے ولیږه چه ئے مالره راوله بیا چه مدلج ورلږه راغے او کالړته ورنغوت نو ئے اوده وو او جامه ترے لویدلے وه نو ده وویل چه ارمان دے کړ خدائ دا څومره پلورونا و څامن او خادمان منع کړے چه په دا سے او قاتو کښ په مونږه نه راننوتلے مګر په اذن سره دا یے وویل او بیا ورته دوان شو چه رسول علیه السلام له راغے دا آیت ترے پخوا نازل وو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مومنانو! لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مِيبایدچه اذن وغواړی له تا سے هغه کسان مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ چه مالکان شویدی

دھغو نبی لاسونه ستاسے مریونه وی اوکه ویزے وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا اوهغه کسان هم چه نهٔ دی رسیدلی دوئ الْحُلُمَ مِنْكُمْ حد دبلوغ ته له تاسے اصیلان ثَلٰثَ مَرّٰتٍ دریے کرته یعنے دریے وخته مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ یو بخوالے مانځهٔ وجوه وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ اوبل هغه وخت چه وباسئ او ږدئ تاسے جامے خپلے مِّنَ الظَّهِيْرَةِ په وخت دستواه کښی وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ځنډ او پس له مانځه دنماز خفتن حُکه چه دا مذکور چه دی ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ دریے عورات دی تاسے لره یعنے دا دریے هغه وختونه دی چه په دیو ستاسے په ځان پټولو کښ خلل واقع کیږی او عورت خلل ته وائی حُکه چه اعورویلے شی هغه چا ته چه خلل ئے وی په ستر کو کښ کذا فی المدارك لَيْسَ عَلَيْكُمْ نشته په تاسے وَلَا عَلَيْهِمْ اونه په دے مریو تواد هکله نو جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ ځهخ وبال غیر له دے دریے اوقاتو کښ راڼه نوئ بے اذنه حُکه چه دوئ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ دیر کرخیدونکی دی په تاسے هر وخت دپاره دخدمت بَعْضُكُمْ بعض ستاسے چه دی طواف کونکی دی عَلٰى بَعْضٍ په بعض نور یعنی دوئ په تاسے اوتاسے په دوئ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ همدا سے بیانوی خدائ لَكُمُ الْاٰيٰتِ تاسے ته آیتونه دا حکامو وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخدائ دانا دے په مصالحو سے حَكِيْمٌ ﴿۵۸﴾ پُرحکمت دے په هرکار کښ **تنبیه** په مَریونو کښ تغیر په تیر حکم کښ رانغے حُکه چه موجب د تغیر ئے نهٔ وو او په اطفالو کښ موجب د تغیر وو چه بلوغ دے حُکه وائی وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ او په هغه وخت چه ورسیدل هکله مِنْكُمُ الْحُلُمَ له تاسے اصیلانو نه له مریونو حد دبلوغ ته او اراده د دخول ئے وکړه فَلْيَسْتَاْذِنُوْا پس هم دا چمیا دوئ دِ هم اذن په هر وخت کښ غواړی كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ لکه چه غوښتهٔ به اذن هغو بالغانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه یخوا وو له دوئ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ همدا سے بیانوی خدائ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ تاسے ته آیتونه خپل وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخدائ دانا دے په احوالو سے حَكِيْمٌ ﴿۵۹﴾ حکم کونکے دے په مصالحو خلقو وَالْقَوَاعِدُ اوهغه زړے چه نا سته وی یعنے لویدلے او تیرے شوے وی له حد د حیضه او ولادته مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِيْ له هغو بنځو نه لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا چه امید نه لری دوئ د نکاح پے سبب د هغے زور والی فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ پس نشته په دوئ جُنَاحٌ هیڅ وبال اوګناه اَنْ يَّضَعْنَ په دے کښ چه کیږدی دوئ یعنے کړه ځانونه خپل ثِيَابَهُنَّ ظاهرے جلے خپلے لکه لفافه او ملحفه او جلباب شونه ازار او خمار کذا فی المدارك الاحدی غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ په دے حال کښ چه بنکاره کونکے نه وی دوئ د بناسته خپل یعنے

چه سراو غوږونه اوګډون او ویښته او امثال دډیوږیه نه ښکاریږی وَاِنْ يَّسْتَغْفِرْنَ اوداچه هرهر ګله دوئی له ځان نه ښکاره کولو خَيْرٌ لَّهُمْ ط ډیر غوره دے دوئی لره اولرے ګله تهمته وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ اوخدائی اوریدونکے دے ګلهتاردوئی عَلِيْمٌ (۶) دانا دے په کردارونو دډیو **روایت دے** چه هرکله به مسلمانان غزا ته تلل نو دخپلو کورونو ټولیګانے به ئے وسپارلے په پرند واو په ګوډاو په مریضانو اوپه خپلوانو اواولادونو به ئے ورته وکه چه خوږی خو ښزه له کورونو اما دوئی به سره له اذنه هم خوراک ترے نه کولو چه مبادا په زړه ئے کښ به دوئی چرے پرے راضی نه وی نو نازل شو لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ نشت په راندهیڅ مشقت اوګناه وَلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ اونه په ګډ هیڅ محنت اوبال وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ اونه په رنځور هیڅ سختی اوملامته وَّلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اونه په ځانونوستاسے هیڅ کلفت اومضرت اَنْ تَاْكُلُوْا په دے کښ چه خوږی تاسے اوداتیراهل دابتلا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ له هغه کورونوستاسے چه اهل اوعیال ستاسے پکښ اوسی اوکورونه اولادهم په دے کښ داخل دی له درے جهته یو داچه ولد بعض دے دسړی، نو حکم ئے حکم دخپل ځان دے دویم داچه حدیث دے چه اَنْتَ وَمَالُكَ لِاَبِيْكَ دریم داچه بل حدیث دے چه اِنَّ اَطْيَبَ مَا يَاْكُلُ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهٖ وَاِنَّ وَلَدَهٗ مِنْ كَسْبِهٖ اوهم داسے کورونه دازواجو هم پکښ داخل دی ځکه چه زوجین داسے دی سره لکه یو نفس نو کورئے هم داسے ښولکه کورد زوج کذافی المدارک اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ یاله کورونو دپلرونو خپلو اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ یاله کورونو دمیندو خپلو اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ یاله کورونو دورونو خپلو اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ یاله کورونو دخویندو خپلو اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ یاله کورونو دترونو خپلو اَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ یاله کورونو دعمو خپلو چه دپلا رخویندے دی اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ یاله کورونو دماما کانو خپلو اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ یاله کورونو دترورانو خپلو چه دموږ خویندے دی اوداځکه چه اذن له دے تیرولو ثابت دے دلالةً نو صریح اذن ته حاجت نه ښته اَوْ مَا مَلَكْتُمْ یاله هغه کورونو چه واکدار ان شوی اوسئ تاسے مَفَاتِحَهٗٓ دکلیکانو دهغو یعنی مال مبلغ رخت چه په تاسے چا سپارلے وی په طریقه دوکالت یادحفظ اویامرادترے کورونه دمریونو دی اَوْ صَدِيْقِكُمْ یاله کوره دیار اودوست خپله **فائده** داخوراک له کورونو داولاد په

عدته اوستاسال پلار ئے ۱۲ منه په تحقیق سره ډیر ښه خیز دے چه خوری ئے سړے له کسبه خپله اوبه تحقیق سره ښه ډوډۍ چه دے له کسبه وډۍ ښه دے یعنی هر شے چه حلال وی ګټلی اویلار ئے وخوری نو روا دے ۱۳

قدرد حاجت ضروری دے اما که پلار فقیر وو نو یے عوضه او که فقیر نهٔ وو نو په قیمت سره او د مریونو خپلو مطلق روا دے که اذن وی دهغو او که نهٔ وی او هرچه دا نور دی ټول په هغوکښ رضا شرط ده یا صریح په قرینه سره اما صاحب د مدارك ویلی دی چه دا پخوازمانه کښ وه اوس شیخ یه خلقو د برغالب شوے دے نو یے صریح اذن د نه خوری **روایت دے** چه بنی لیث بن عمرو به یے میلمه طعام نه خوړو او چه څوك به پیښ نه شو نو تر بیګا به ډهر کړځیدل او که به یے له دوړه ضرور ته څهٔ قدرے څهٔ وخوړل یا ټوله وو له انصار و چه به یے میلمه به یے طعام نه خوړو یا به طایف وه چه سره یوځائے به یے نه خوړله دیرے کوکے به یے یو له بله کیدے نو نازل شو لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ نشته په تاسے هیڅ وبال اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا په دے چه اوخورئ طعام ټول سره یوځائے اَوْ اَشْتَاتًا یا وخورئ بیل بیل یعنی په دوارو کښ هیڅ بائ او وبال نشته فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا پس په هغه وخت چه نوزئ دے کورونو ته چه بیرته مذکور دی یا خپلو کورونو ته یا مساجدو ته فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ پس سلام اچوئ په خپلو نوخپلو یعنی که خپل کور یا د مؤمن کور وو نو په هغه ساکنانو ئے سلام اچوئ او له سلام دد وئ ئے تعبیر وکړ په علی انفسکم سره په حکم دالْمُؤْمِنُوْنَ كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ او که خالی کور یا مسجد وو نو وائی به چه اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ دا سلام اچول چه ثابت دی له جانبه د خدائ او مشروع دے په امر د هٔ سره او دا تَحِيَّةً مفعول مطلق دے د تیر په فَسَلِّمُوْا لیکن نه له لفظه ئے لکه قعدتُ جلوسًا او دا سے تَحِيَّةً مُّبٰرَكَةً طَيِّبَةً چه برکتناك او پاك وی چه دا وریدو نکی زړه پرے خوشحاله ړی كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ همد اسے بیانوی خدائ لَكُمُ الْاٰيٰتِ تاسے ته ایات او ټوند د حکمت خپل لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ ع بنائی چه تاسے عقل او فکر وکړئ چه خیر خپل معلوم کړئ له سره اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ بیشکه هم دا خبره ده چه مؤمنان چه دی الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هغه دی چه ایمان ئے راوړے دے بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ په خدائ او په رسول د هٔ ئے په اخلاص د زړه سره وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ او په هغه وخت چه وی دوئ له دغه رسول سره مل کړی عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ په کوم کار چه کونکی د خلقو یعنی د اسے کار چه بے لوئے پرے نهٔ شی تر سره کیدے لکه جمعه او عیدین او جهاد او مشورة او دا سے

عه یعنی مؤمنان سره په خپلو کښ په شان د یونس دی ۱۲ عه یعنی سلام د وی په موښره او په بند یکا نو د خدائ چه نیکو کاران دی ۳

تور شو لَمْ يَذْهَبُوا نو نهٔ مې په خپل غرض پسے هیڅکله حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ترهغه پورے چه اذن وغواړی له دهٔ اودے اذن ورته وکه اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَسْتَاْذِنُوْنَكَ چه اذن غواړی له تا اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ داتولے هغه کسان دی يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ چه ایمان راوړی او باور کوی په خدائ او په رسول د دهٔ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ پس هرکله چه اذن وغواړی دوئ له تا له ضرورهٔ بَعْضِ شَاْنِهِمْ دپاره د برابرولو دکار نو خپلو فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ پس اذن وکه هر هغه چا ته چه اراده وشی ستا له دوئ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ او بخښنه وغواړه د دوئ دپاره له خدایه خُکه چه اګر که تک د دوئ په عذر سره دے اما هر کله چه کار د دین نیمګړے پریږدی او دنیا پوره کوی نو داهم یوه نوع د قصور ده اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ بیشکه چه خدائ بخښونکے د تقصیر اتو د بندګانو ته رَّحِيْمٌ ﴿۶۲﴾ مهربان دے په دوئ چه سختی ته ئے نهٔ نسی لَا تَجْعَلُوْا مهٔ ګرځوئ اے مؤمنانو دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بلنه د رسول علیه السلام بَيْنَكُمْ په خپل منځ کښ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا په مثل د بلنے د بعض ستاسے بعضو نورو ته یعنی کهٔ تاسے کله رسول علیه السلام وبلئ نو اجابت کښ ئے سستی مهٔ کوئ یا که رسول علیه السلام کله تاسے بالهٔ نو په سپوره نامه ئے مهٔ بولئ بلکه په تعظیم ئے بولئ لکه په یارسول الله یانبی الله **حاصل** داچه سره د دا سے معاملهٔ کوئ لکه په خپل کښ یو بل سره **روایت دے** چه هر کله رسول علیه السلام به خطبه ویله نو منافقان به پرے تنګدل شول او یو بل به ئے سره پناه کهٔ او له مسجده به را اُوتهٔ نو نازل شو قَدْ يَعْلَمُ الَّذِيْنَ په تحقیق پیژنی خدائ هغه کسان چه له دیره کراهته يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ کښ یږی او دوو وروبتو بیرون وځی له تاسے لِوَاذًا ډاج په دے حال کښ چه یو له بله سره خان پناه کوی فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ پس میباید چه دِ وویږی هغه کسان يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ چه مخالفت کوی دوئ له فرمان د دهٔ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ له دے چه وبه رسیږی دوئ ته کومه سختی په دنیا کښ لکه قتل یا زلزله یا تسلط د سلطان جابر یا قسوهٔ قلبی یا داسے نور اَوْ يُصِيْبَهُمْ یا وبه رسیږی دوئ ته عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ عذاب دردناک په آخرت کښ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ واورئ چه بیشکه دی خدائ لره په طریقه د ملکیت مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هرهغه چه په اسمانونو او په زمکه کښ دی قَدْ يَعْلَمُ په تحقیق سره پوهیږی دے مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ هر هغه څیز چه تاسے په هغه یئ له اخلاص طاعت موافقت او له نفاق معصیت مخالفت وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ

اِلَیْہِ او پہ هغه ورځے چه ورشی دوئ ده لره فَیُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا پس اګاه به کړی دوئ پهٔ هغه کارچه کوی ئے دوئ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ (۶۴) اوخدائ په هرځیز اګاه دے ۞

سُوْرَةُ الفرقان مکیة

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اٰیاتها ۷۷ رکوعها ۶

تَبٰرَكَ الَّذِیْ برکتناك اومبارك دے هغه قادر مطلق نَزَّلَ الْفُرْقَانَ چه رالیږلے دے دا قران چه بیلوئ دے دحق او دباطل اودحلا لو اودحرامو عَلٰی عَبْدِهٖ پر بنده خپل چه محمد صلے الله علیه وسلم دے لِیَكُوْنَ لِلْعٰلَمِیْنَ دپاره دده چه شی دے خلقو له ګڼه جن اوکه انس دی نَذِیْرًا (۱) ویرونکے له عذابه د خدائ اَلَّذِیْ لَهٗ هغه خدائ چه خاص هم دهٔ لره ده مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بادشاهی د اسمانونو اودزمکے وَلَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا اونهٔ ده ینولے دهٔ وزندهیخوك لکه چه یهود او نصاریٰ وائی وَّلَمْ یَكُنْ لَّهٗ اونشته دهٔ له شَرِیْكٌ فِی الْمُلْكِ کوم شریک په بادشاهئ کښ لکه چه مشرکان وائی وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍ اوپیدا کړیدے دهٔ هرځیز فَقَدَّرَهٗ تَقْدِیْرًا (۲) پس په اندازه کړے دے ده هرځیز په اندازه کولو سره یعنے جنس، نوع، قد رنګ، خوئ، عمر، اجل، عمل، رزق، حیلوة، موت، مکان دا ټول ئے په یو مقدار وله بنکلی دی په لوح محفوظ کښ وَاتَّخَذُوْا اونیولی دی دغه مشرکانو مِنْ دُوْنِهٖ غیر له خدائ اٰلِهَةً لَّا یَخْلُقُوْنَ شَیْئًا دا سے خدایان چه نه شی پیدا کولے هیڅ څیز له جهته دعدم قدرته وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ اوحال دا چه دوئ پیدا کولے شی حُکه چه پل ساز وی وَلَا یَمْلِكُوْنَ اوسره له مخلوقیت بیا اختیار هم نهٔ لری دا اٰلهه لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا دځان خپل دده دفع دکوم ضرر وَّلَا نَفْعًا اونهٔ درسولو دکوے نفعے یعنی دوئ خو دضرر اونفعے هیڅ نهٔ لری اوخدائ خوهم ضار اوهم نافع دے وَّلَا یَمْلِكُوْنَ مَوْتًا اونه اختیار لری دوئ د وژلو دچا وَّلَا حَیٰوةً اونه د ژوندی کولو دچا وَّلَا نُشُوْرًا (۳) اونهٔ د ژوندی کولو بیا پس له مرګه اوضیروند ده قالو ئے ورته راجع کړی دی نظر د عابدانو وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اووائی هغه کسان چه کافر دی اِنْ هٰذَآ نه دے دا قران چه محمد صلے الله علیه وسلم راوړیدے مونږه له اِلَّآ اِفْكٌ ۨ افترا ده مګر دروغ دی چه له خپل ځانه ئے ساز کړی دی وَاَعَانَهٗ عَلَیْهِ اومدد کړے دے له ده سره په دے دروغ ساز ولو کښ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ نور خلق یعنے یهود دیا جبر او ابسر او عداس او فکیهه رومی چه دوئ قصے د پخوانیو امتونو څخه

ژبه ورته کوی اودے ترے نقل کوی په عربی سره او بیا موږ ته ئے وائی نو رب العزت وائی چه فَقَدْ جَآءُو
پس په تحقیق راتله کړی دی دوئ ظُلْمًا وَّ زُوْرًا ۴ په ظلم چه معجز کلام ئے په افک بللے دے او په دروغ
چه نسبت د افتراء ئے کړے دے قرآن پاک ته وَقَالُوْٓا او وائی د اکفار چه د امونږه ته دے لولی اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ
د اقصے دی د پخوانیو سو اکْتَتَبَهَا چه اښکی په کاتبانو دے د اقصے ځکه چه پخپله ئے نه شکل نه دی زده -
فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ پس د اقصے لوستے شی په ده د پاره د حفظ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۵ صبا او بیګاه او دے وائی چه دا
وی ده قُلْ ووایه دوئ ته اے رسوله اَنْزَلَهُ الَّذِيْ چه رالیږلے دے د قرآن هغه چا چه يَعْلَمُ السِّرَّ اګاه دے په هر
پټ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ چه په اسمانونو او په زمکه کښ دے اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه خدائ دے غَفُوْرًا
رَّحِيْمًا ۶ بخښونکے د ګناهونو د بندګانو نو مهربانه په دوئ وَقَالُوْا او وائی دوئ مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ څه دی
دے رسول لره یعنی داځۀ دیر بد کار دے چه دے ئے کوی سره له دعوے د رسالته يَاْكُلُ الطَّعَامَ چه خوړی
دے طعام د نورو خلقو په شان وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ؕ او ګرځی په بازارونو کښ د پاره د طلب د معاش لکه
د انورو خلق چه ګرځی نو دده او د نورو خلقو څۀ فرق شو سره نو اول خو بائډه د او وچه د مَلَكٌ دے چه
خوراك او ګرځیدل ئے نه کولے او هر کله چه د اسے نۀ دی نو لَوْلَآ اُنْزِلَ ولے راونۀ لیږلے شو اِلَيْهِ مَلَكٌ
دۀ ته ملک ښکاره فَيَكُوْنَ مَعَهٗ پس چه وے د املك له ده سره نَذِيْرًا ۷ ویرونکے له عذابه چه معلوم
شوے وے صدق د دۀ په تصدیق د هغه ملک سره اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ یا د اچه غورځولے شوے وے دۀ ته
كَنْزٌ خزانه له اسمانه چه معاش ئے پرے کولے او یا زارته ئے حاجت نۀ وے اَوْ تَكُوْنُ یا خو دے لَهٗ جَنَّةٌ
د ده یو باغ يَّاْكُلُ مِنْهَا چه خوراك ئے کولے د میوے او د نوره محصوله د هغه وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ او وائی دا
ظالمان مؤمنانو ته اِنْ تَتَّبِعُوْنَ چه پیروی نه کوئ تاسے اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۸ مګر د داسے سړی چه
جادو کړے شوے دے یعنی پرے شوے دے اُنْظُرْ وګوره اے رسوله چه دے معاند او كَيْفَ ضَرَبُوْا څنګله
ترلی دی دوئ لَكَ الْاَمْثَالَ تا پورے مثالونه چه کله دے مسحور او کله د مفتری او کله د افاك بولی فَضَلُّوْا
پس ګمراه شو دوئ یعنی ورکه ئے کړه هغه لاره چه نبی او غیر پرے معلومیږی فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۹ پس
طاقت نه لری دوئ د لارے موند لو ۓ معرفت یا ستا فدج تَبٰرَكَ الَّذِيْ برکتناك او مبارك دے هغه

عه یعنی چه پیغمبر او غیر پیغمبر پرے معلومیږی ۱۲ عمه یعنی پیژند لو دخدائ ته او صفت د پیغمبر ته ۱۲

خوك اِنْ شَآءَ چه كه اراده ئ وشی جَعَلَ لَكَ نو ساز به كړی ئ تاله په دنیا كښی خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ د یرغوره له
ئ ځنراځ اوله ئ باغ چه دوئ وائی جَنّٰتٍ تجړی باغونه چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندنے دونو د
هغو لے وَيَجْعَلْ لَّكَ اوساز كه تاله په دے باغونو كښ قُصُوْرًا (۱۰) بیګلے او مانړۍ په اقسامو اقسامو یعنے
هسكے او منقشے بیا رسول خدائ ته وائی چه تهٔ لاد دوئ له ئ تیرو اقوالو تعجب كوے له هغو زیاته واوره
چه بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ نه بلكه نسبت د دروغو كوی دوئ قیامت ته چه قیامت له سره نشته وَاَعْتَدْنَا
لِمَنْ اوتیار كړیدے موبږه د پاره دهغه چا كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ چه نسبت د دروغو كوی قیامت ته سَعِيْرًا (۱۱) بل
اوردوزخ اِذَا رَاَتْهُمْ په هغه وخت چه وویني دا اوردوزخ دوئ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ له هغه ځایه چه
لرے به وی له دوئ د سلو كالو یا دیڅه سوه كالو لاتردے سَمِعُوْا لَهَا نو اوری به دوئ دغه اور لَه تَغَيُّظًا
اواز د جوش له په ډیره قهره وَّزَفِيْرًا (۱۲) اواواز د غربه لو له په ډیره غضبه او د اهله كه ضمیر رَاَتْهُمْ سعیرته
وی او یا د اكلام دآ ئ دے چه ع اِذَا رَاَتْهُمْ رَبَاْنِيْتُهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا عَلَى الْكُفَّارِ وَاِذَا اُلْقُوْا مِنْهَا او په هغه وخت
چه وغورځول شی دوئ له دے دوزخ مَكَانًا ضَيِّقًا په تنګ ځائ كښ د پاره دے چه عذاب پرے د وچند
شی مُّقَرَّنِيْنَ په دے حال چه تړلی وی د واړه لاسونه د دوئ په گردن پورے په اتشین زنځیر سره دَعَوْا
هُنَالِكَ نو بولی به دغه وخت كښ ثُبُوْرًا (۱۳) هلاك خپل یعنے وائی به چه وَاثُبُوراه معنی د اچه اے هلاكه
ځمارا ځه چه دا د وخت دے او ورته به وویلے شی چه لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ مه بولی تاسے نن ورځ ثُبُوْرًا
وَّاحِدًا یو ثبور وَّادْعُوْا او بولئ ثُبُوْرًا كَثِيْرًا (۱۴) د پر ثبور ځكه چه عذاب ستاسے په د پر قسم دے
او هر قسم له هغو ځان له ثبور دے قُلْ وویایه دوئ ته اَذٰلِكَ خَيْرٌ ایا دا خزانه او باغ یا دا عذاب او اور غوره
دے اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ اوكه هغه جنت دهمیشه او سید لو وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ط چه وعده كړے شوے وه د
اوسید لو په هغه كښ له پرهیزګارانو سره كَانَتْ لَهُمْ چه دے دغه جنت دوئ لره جَزَآءً وَّمَصِيْرًا (۱۵) جزا
د عمل د دوئ اوځائ د ورته كاه د دوئ چه هلته به اوسی په اخرت كښے لَهُمْ فِيْهَا اوی به دوئ له په ئ
جنت كښے مَا يَشَآءُوْنَ هرهغه نعمت چه دوئ ئ غواړی فریمانه خٰلِدِيْنَ ط به ډیر كال كښے چه
هیڅه به وی دوئ په دے جنت كښے كَانَ عَلٰى رَبِّكَ دے د داخول اوخلود د ئ جنت په رب

عه یعنی چه وویني دوئ زبانیه ملائكه د دوزخ نو په قهر به شی وریته اوچیغه به وباسی پرے بانده ۱۲ منه یعنی
ځائ د ویرے د دوئ ۱۲

ستا وَعْدًا مَّسْئُوْلًا ﴿۱۶﴾ هغه موعود چه غوښتے شوے یا لایق دے دغو بنسټلو یا غوښتے دے مؤمنانو چه رَبَّنَا اٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰی رُسُلِكَ اوملایکو چه رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ ۔ وَیَوْمَ یَحْشُرُهُمْ اویاده که هغه ورځ چه راټولوندی اوبیا راجمع به کړی خدائ دامشرکان وَمَا یَعْبُدُوْنَ اوهغه هم چه عبادت ئے کولو دوئ که بتان که ملائک که مسیح که عزیر علیه السلام دی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ فَیَقُوْلُ پس وبه وائ دوئ ته ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ چه ایا تاسے گمراه کړی وو عِبَادِیْ هٰٓؤُلَآءِ بندگان ځما چه دغه دی یعنے مشرکان اَمْ هُمْ اوکه دوئ پخپله ضَلُّوا السَّبِیْلَ ﴿۱۷﴾ وړکه کړے وه لاره دحق بے سعی ستاسے قَالُوْا سُبْحٰنَكَ نو وبه وائ دا قول او بتان چه پاک دے تاله ته له شریکه مَا كَانَ یَنْۢبَغِیْ لَنَآ نه بنائ اونه دی بانډه پخپله مونږه لره اَنْ نَّتَّخِذَ د اچه ونیسو مونږه مِنْ دُوْنِكَ غیر له تا نور خُذُوْا مِنْ اَوْلِیَآءَ دوستان نوځه خاصه چه بل څوك به په دے کار باعث کوو دوئ مونږه نه دی گمراه کړی وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ ولیکن ښه معاش تاورکړے وو دوئ ته وَاٰبَآءَهُمْ اوپلرونو دوئ ته په اوږد عمر اوپه صحت دبدن اوپه اموال اوپه اولاد اوپه نورو انواعو دنعمتونو حَتّٰی نَسُوا الذِّكْرَ ځ ترهغه پورے چه هیر کړه دوئ ایمان په قرآن وَكَانُوْا قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۸﴾ اوو دوئ په ازل کښ یو ټولے هلاکیدونکے اوداجمع ده دبائبل بیائے خطاب وکه کفار و ته دے فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ پس په تحقیق دروغژن کړی یئ معبودانو نخپلو تاسے بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ په هغه خبره کښ چه ویله به تاسے چه دا شریکان دی دخدائ اودوئ له مے خبرے تو به کار شو فَمَا تَسْتَطِیْعُوْنَ پس طاقت نه لرئ تاسے اے مشرکانو صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ دډفع کولو دعذاب له خپله ځانه او نه مدد کاری د یولا بله سره په دفع کولو کښ وَمَنْ یَّظْلِمْ مِّنْكُمْ اوهر څوك چه ظلم وکه له تاسے اے مکلفانو یعنی شرك اختیار کړه نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِیْرًا ﴿۱۹﴾ نو وبه ځکو مونږه په دهٔ عذاب لوئ چه خلود دے په اوږکښ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اونه دے لیږلے مونږه پخوا له تا لے رسوله! مِنَ الْمُرْسَلِیْنَ هیڅوك له رسولانو اِلَّآ اِنَّهُمْ مګر بے شکه دوئ چه وو لَیَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ هر اٰئینه خوړ به ئے طعام وَیَمْشُوْنَ فِی الْاَسْوَاقِ ؕ اوګرځیدل به په بازارونو کښ دپاره د مطالبو خپلو وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ اوګرځولی دی مونږه بعضے ستاسے لکه ناداره اومریضان اوړانده اوګډا اوآزمائش

عه معنیٰ دا چه اے ربه ځمونږه راکړے مونږ ته هغه څیز چه وعده کړے ده تا له مونږه سره په ژبه د رسولانو خپلو چه جنت دے ۱۲ عمه یعنی اے ربه ځمونږه داخل کړه مؤمنان په جنت عدن کښ هغه چه وعده کړے ده تا لـــه دوی سره ۱۲

اهل دابتلاء لِبَعْضٍ فِتْنَةً ط دپاره دبعض نور ولکه غنیان اوصحیحان اوبینایان اور وغ اودا سے نوراهل
تعم ازمیښت اَتَصْبِرُوْنَ ج ایا صبر کوئ تاسے اے اهل دابتلاء په دے محنت چه په تاسے دے اوکه
جزع فزع کوئ وَكَانَ رَبُّكَ او دے رب ستا بَصِيْرًا ﴿۲۰﴾ بینا پوهه هرڅه وَقَالَ الَّذِيْنَ اووائ هغه
کسان لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا چه امید نه لری دوئ دملاقات ځمونږه یعنی چه قیامت نه منی یا نه ویریږی
ځمونږه له عذابه لَوْلَآ اُنْزِلَ ولے نه راليږلے کیږی عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ په مونږ باندے ملائک چه خبرکه مونږه
په صدق دمحمد صلے الله علیه وسلم او یا چه دوئ پخپله پیغمبران وی اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ط یا ولے نه وینو مونږه
رب خپل چه په خپله خبرے راسره وکه اومونږ په متابعت دمحمد صلی الله علیه وسلم ماموره که اودا
قائلان اهل مکه دی لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا هراليُنه په تحقیق کبر کړے دے دوئ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په نفسونو خپلو
کښ په ویلو دے الفاظو سره وَ عَتَوْ اوتیر شوی دی له خپله حده عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾ په ډیر لوئ تیریدلو
سره چه پس له لیدلو دا سے معجزاتو هم دوئ لاهم هغسے راتلهٔ دملائکو اولیدل درب خواړې يَوْمَ
يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ یاده که هغه ورځ چه وبینی دوئ ملائک دموت یادعذاب لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ نوهغه
به وی هیڅ زیږه په دغه ورځ یعنی کومه خبره دخوشحالی لِّلْمُجْرِمِيْنَ مجرمانو یعنی کافرانو له وَيَقُوْلُوْنَ او
وائ به دا کافران په دغه وخت کښ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾ دا الفاظ اوداچه رهنه مصدرځ چه فعل
متروك الذکر دے اوچه منع شوه دے اومعنی ئ تاکید دے دا سے شوه چه پناه نسبی په خدائ
پورے له ملاقاته دملائکو په منع مانع سره یا معنی داچه و به وائ ملائک چه کذا ذکره البیضاوی وَقَدِمْنَآ
اِلٰى مَا عَمِلُوْا اوراوبه شومونږه یعنی اراده به وکړو هغه ته چه کړے وه دے کفارو په دنیا کښ مِنْ عَمَلٍ له هغه
عمله چه په ظاهر کښ به نیک بنکاریدهٔ لکه صلهٔ رحمی اومرډل دوږی اوعزت دمیلمه اودلاسا نیه دیتیم اد
فریاد رسی دمظلوم اودا سے نور شو فَجَعَلْنٰهُ پس وګرځولو مونږه داعمل ددوئ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾ پشاندان کړد
تاریه تارشوے یعنی باطل بے نفعه ځکه چه شرط په قبول دعمل کښ ایمان دے اوهغه دوئ نه وو راوړے
اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ مګرۍ دجنت یعنی جنتیان چه دی يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ د قیامت خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا ډیر
غوره دی له جهته داقرارګاه یعنی مساکن ددوئ به دمساکنو له کفارو په دنیا کښ ډیر غوره وی وَّاَحْسَنُ
مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾ اوډیره به بنه وی له جهته دقیلولے یعنی استراحته ځکه چه په جنت کښ خوب نه شته

روایت دے چه له ئے اوه واړه اسمانونو د پاسه سپینه ورېځ ده چه پیړه والے دهغے دے ته لوا اسمانونو قدر دے او دروند والے ئے له دے واړه وزیات دے اوهغه اوس پاس ولاړه ده بیا چه ورځ شوه د قیامت نوهغه به په امر د خدائ له پاسه راخطا شی او په هرا اسمان چه لویږی ۱۲ نه به توتے توتے کله چه وائی وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ اویاد کړه هغه ورځ چه پارچے به شی د اسمانونه بِالْغَمَامِ په هغه ورېځے سره وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ او راکوزبه کړے شی ملائك زمکے ته تَنْزِيْلًا (۲۵) په راکولو سره اوچا ویلی دی چه ب په معنی د مع د عَنْ دے الْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ِۨ بادشاهی چه ده په دغه ورځ الْحَقُّ هسے بادشاهی چه حقه اوثابته ده لِلرَّحْمٰنِ ؕ هغه خاص خدائ لره ده اوبل هیڅوك ورسره شریك نه دے په دے کښ وَكَانَ يَوْمًا اووی به دا قیامت یوه داسے ورځ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ چه په کافرانو عَسِيْرًا (۲۶) دیره سخته په سبب د سختوالی د عذاب نهٔ په مؤمنانو لکه چه په حدیث کښ راغلی دی چه يهون يوم القيمة علی المؤمنین حتی یکون علیهم اخف من صلوة مکتوبة صلوها فی الدنیا کذا فی المدارك **روایت دے** چه عقبه بن ابی معیط علمه مهمانی کړے وه او رسول علیه السلام ئے هم بللے وه نو دهٔ ورته وویل چه طعام به دِ ونهٔ خورم څوچه کلمه دِ ونهٔ ده ویلے نو کلمه ئے وویله بیا اُبَیُّ بن خلف چه خاص یار وو دهٔ په دے خبر شو نو ورته ئے وویل چه مخ به درنهٔ کړم څوچه مرتد شوے نهٔ ئے پس بیرته مرتد شو نو نازل شو وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ اویاد کړه هغه ورځ چه له پریے پښیمانی غاښونه به کیمنډی اوخوله به لکوی ظالم یعنی عقبه عَلٰى يَدَيْهِ په دواړو لاسونو خپلو يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ وائی به په قیامت چه کاشکے نیولے وے مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا (۲۷) له رسول علیه السلام سره لاره د نجات يٰوَيْلَتٰى اے افسوس دے مالره لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ کاشکے نهٔ وے نیولے مَا فُلَانًا خَلِيْلًا (۲۸) فلانے یعنی اُبَیُّ خاص یار خپل لَقَدْ اَضَلَّنِيْ هرا ئینه په تحقیق وُ لغزولمدهٔ زهٔ عَنِ الذِّكْرِ له یاد کیرئ د خدائ یعنی له کلمے د شهادت بَعْدَ اِذْ جَآءَنِيْ ؕ پس له هغه چه راغلے وه مالره یعنی چه اقرار مے کړے وو په وحدانیت اوپه رسالت وَكَانَ الشَّيْطٰنُ او د ے شیطان یعنی ابلیس یا اُبَیُّ خُما

عه یعنی په دے قول کښ چه بالغمام دے نو تقدیر ئے دا دے شوم الغمام او عن الغمام ۱۲ عه یعنی اسانه به وی ورځ د قیامت مومنانو نه ترهغه پورے چه وی به په مومنانو اسانه ویره او یو موئ فرض نه چه دوئ ئے گذاری په دنیا کښ ۱۲ عه یعنی وے خو یو لم دلاړے سے نه ۱۲ سه یعنے په یو والی د خدائ او په پیغمبرئ د رسول علیه السلام ۱۲

بارِ لِلْاِنْسَانِ خُذُوْلًا ﴿۲۹﴾ مطلق ادمی لره یاله لغزونکے وَقَالَ الرَّسُوْلُ او وویل رسول یعنی محمد علیه السلام
په دنیا کښی یا وبه وائی په اخرت کښی یٰرَبِّ اے ربه ځما اِنَّ قَوْمِی اتَّخَذُوْا بیشکه دا قوم ځما چه قریش
دی ټیولے دے دوئی یعنی ساز کړے ئے دے هٰذَا الْقُرْاٰنَ دا قران مَهْجُوْرًا ﴿۳۰﴾ مسخره یا متروك چه
ایمان پرے نه راوړی وَكَذٰلِكَ او همدا سے لکه چه دا کفار دښمنان کړی دی مونږه ستا جَعَلْنَا لِكُلِّ
نَبِیٍّ کړ ځولی وو مونږه هر پیغمبر لره یخوا له تا عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِیْنَ ؕ یو غټ دښمن له کفارو لکه نمرود
او فرعون او دا سے نور هم اوس دوئی به صبر ورنه کولو نو ته هم صبر کوه دوئی ته وَكَفٰى بِرَبِّكَ اوس
ډیر ښه ستا هَادِیًا وَّنَصِیْرًا ﴿۳۱﴾ سمه لار ښودونکے او مدد کونکے له تاسره وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا اووائی هغه
کسان چه کافر دی لَوْلَا نُزِّلَ ولے راونه ښوړلے شو عَلَیْهِ الْقُرْاٰنُ په ده باندے قران جُمْلَةً وَّاحِدَةً ځ ټول
په یوکرت لکه تورات او انجیل او زبور. نو زب العزت وائی چه رالیږلے دے مونږه كَذٰلِكَ ځ هدا سے
تاریه تار دپاره د ځوخو فائدو وچه بِهٖ فُؤَادَكَ دپاره دد ے چه قوی کړو مونږه
په دے تفریق سره زړهٔ ستا پسه حفظ او په فهم دده وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِیْلًا ﴿۳۲﴾ او ووایست مونږه دا قران په
تا باندے آیت آیت په مهلت سره پدوایستلو سره په مدار مدار سره چه ټول اویا دول ئے اسان شی وَلَا یَاْتُوْنَكَ
بِمَثَلٍ او نه راوړی دوئی تا ته کوم مثل ٱ بطال دین او نبوت ستا اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ مګر چه راوړے
مونږه هم هغه مثل ریښتیا وافی چه دافع وی دمثل دهغو وَاَحْسَنَ تَفْسِیْرًا ﴿۳۳﴾ او ډیر ښه وی له
جهته د بیانه او دوئی چه دی اَلَّذِیْنَ یُحْشَرُوْنَ هغه دی چه راجمع کولے به شی په قیامت عَلٰى وُجُوْهِهِمْ
په مخونو خپلو یعنی پر مخ پراته ٱ به روان وی اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ دوزخ ته په محشر اُولٰٓئِكَ داکسان چه
دی شَرٌّ مَّكَانًا ډیر بد به وی له جهته د مکانه داوسیدلو له هغه منازلو دمؤمنانو چه پدے دنیا کښی
وو وَاَضَلُّ سَبِیْلًا ﴿۳۴﴾ او ډیر لغزیدلی به وی د بهته د لارے حُکه چه ددوئی لاره دوزخ ته تللے ده
وَلَقَدْ اٰتَیْنَا اوهرا ئینه په تحقیق ورکړے وهٔ مونږه مُوْسَى الْكِتٰبَ موسی علیه السلام لره کتاب چه
تورات وو پس له غرق د فرعون وَجَعَلْنَا مَعَهٗۤ او کړو ځولے مونږه له دهٔ سره اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِیْرًا ﴿۳۵﴾
ورور ددهٔ چه هٰرُون علیه السلام وو بار بردار او مدد کار په دعوت کښی فَقُلْنَا اذْهَبَآ پس ووویل مونږه

لہ یعنی په لږ لږ نا زولو د قرآن سره ۱۲ سکه یعنی په خزا یولو د دین او په خزا یولو د پیغمبرئ ستا سکه یعنی ورکو نکے وی ۱۲

چه لاړ شئ د واړه اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ هغه قوم ته كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه دروغژن ئے بللی دی اٰیتونه ځمونږه نو دواړه ورلره لاړۀ اودعوت ئے ورته وکړۀ اوهغو قبول نه کړۀ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ﴿۳۶﴾ پس هلاك کړۀ مونږه دوئی په هلاك کولو سره دلمسے چه ټول غرق کړه مونږه په سیند دقلزم کښی وَقَوْمَ نُوْحٍ اوبل هلاك کړۀ مونږه قوم د نوح علیه السلام لَمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ هرکله چه دروغژن وبلل مونږه رسولان ځمونږه یعنی نوح علیه السلام اوچه څۀ ترے پخوا اوۀ لکه شیث او ادریس علیهما السلام یا تکذیب د یوتکذیب د ټولو دے اَغْرَقْنٰهُمْ غرق کړه مونږه دوئی ټول په طوفان سره وَجَعَلْنٰهُمْ اوکړۀ مونږه دوئی یعنی دا هلاك ئے لِلنَّاسِ اٰيَةً ۚ عبرتناکښی خلقونته ترقیامته یو نښه چه عبرت پرے اخلی وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ او تیار کړیدے مونږه ظالمانو لره عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۷﴾ عذاب دردناك وَّعَادًا وَّثَمُوْدَا اوبل هلاك کړه مونږه عاد او ثمود چه تکذیب ئے وکړۀ د هود او د صالح علیهما السلام وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ اوبل ملکری د رسّ هلاك کړۀ مونږه اورس یا کوهے دے په تهامه یا په اذربایجان یا په انطاکیه کښی یا قریه ده په یمن کښی یا اُخدود دی اوپیغمبر ئے یا شعیب یا حنظله بن صفوان علیهما السلام دے یا بل کوم دے حاصل د اچه هرڅوك چه تکذیب ئے وکه د څیل پیغمبر نو هلاك کړے شو وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ او نور خلق د قرنونو هلاك کړه مونږه په مابین د دے تیرو مذکورینو کښی كَثِيْرًا ﴿۳۸﴾ ډیر غیر چه له خدائی بل هیڅوك نه معلوم نه دی وَكُلًّا او ویرولی وو مونږه هر یو له دوئی اوله امثالو د دوئی ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ د اسے چه بیان کړے وو مونږه دوئی ته متلونه یعنی عجیبه قصے د پخوانیو اموا و پیغمبران هم ورلره لیږلی وو مونږه دپاره د قطع د حجت وَكُلًّا تَبَّرْنَا اوټول هلاك کړه مونږه تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾ په هلاکولو سره وَلَقَدْ اَتَوْا اوهر اُمّیه په تحقیق راځی اوتیریږی د اقریش هیشه چه شام له ځی په سود اګرۍ عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ په هغه ښهر باندے اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ۭ چه ورولے شوے وو په هغه ښار باران د بدئی اوداښار سدوم نوم وو چه د موٗ تفکاتو په ښار ونو کښی ډیر لوئی وو او په اهل ئے تیرے وو ریدلے له اسمانداد ټول هلاك شو اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا ايا پس نه دی د اکفارد مکے يَرَوْنَهَا چه وینی دوئی د اقریه په وخت د تیریدلو شام ته چه عبرت پرے واخلی اود اسے نه دی چه ئے نه وینی بَلْ كَانُوْا بلکه دی دوئی چه ډیر وو كفره اوحمقه لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾ چه امید نه لری د بیا ژوندون یعنی قیامت نه منی وَاِذَا رَاَوْكَ او

په هغه وخت چه وینی دوئ تا اے رسولہ اِنْ یَّتَّخِذُوْنَكَ نونہٗ نیسی دوئ تا اِلَّا هُزُوًا ۱؎ مګر ځای د پرځمنډو او د مسخرو لو وائی پ طریقه د استهزاء سره چه اَهٰذَا الَّذِیْ ایاد اچه دے هغه څوك دے بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا (۴۱) چه رالیږلے دے خدائ رسول موښ نه تر اِنْ کاد بیشکله نزدے دے چه په یرد عوت او کوشش سره لَیُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا هر اٰئینه وار وی موښ نه له خدایانو خپلو لَوْلَاۤ اَنْ که چرے نه وے دا کار چه صَبَرْنَا عَلَیْهَا ځ صبر کړے دے موښ نه په د اٰلهتو خپلو یعنے په عبادت د دوئ نو رب العزت وائی چه وَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ او زر دے چه معلوم به کړی دوئ حِیْنَ یَرَوْنَ الْعَذَابَ په هغه وخت چه وینی دوئ عذاب په قیامت ښکاره مَنْ اَضَلُّ سَبِیْلًا (۴۲) چه څوك دے پ ګمراه له جهته د لارے دوئ اوکه مؤمنان اَرَءَیْتَ ایا وینے تہٗ مَنِ اتَّخَذَ هٰهنه څوك چه نیولے دے دهٗ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ځ خدائ خپل هوئ د نفس خپل اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ ایا پاس ئے تہٗ عَلَیْهِ وَكِیْلًا (۴۳) پ دغه چا چه هوا د نفس ئے په خدائ نیولے دہ ګمهان چه منع کوی دے له دے کاره او دا تویه بیا منسوخ ده په ایت د سیف سره اَمْ تَحْسَبُ بلکه ګمان کوے تہٗ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ دا سے چه بیشکه زیات د دوئ یَسْمَعُوْنَ اَوْ یَعْقِلُوْنَ ۲ اوری یا عقل کوی اِنْ هُمْ نه دی دوئ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ مګر په شان د چارپایانو دی ۱۲ بَلْ هُمْ بلکه لا دوئ چه دی اَضَلُّ سَبِیْلًا (۴۴) پ ډیر ګمراه او خطا دی له لارے د سوا به له چارپایانو هم ځکه چه هغه ایل دی خپل څښتن ته او طلبګار د خپل منفعت دی او دوئ سرکش دی له خپل ربه او طلبګار نه دی د خپلے نفعے چه فرمان منل دی د خپل مولیٰ او طلب د ثواب دے اوځان ساتل دی له عقابه اوله غضبه د دهٗ اَلَمْ تَرَ ایا نه وینے تہٗ اِلٰى رَبِّكَ رب خپل ته چه محض په صنعت بالغه او قدرت کامله خپل سره كَیْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۳ څرنګه را ښکلے دے دهٗ سورے او خو ګړے ئے دے په درست روئ زمین او داله طلوع د فجر نه تر طلوع د شمس دے له افقه پس دا سورے د پرلوئ نعمت دے چه د اوخت تیاره نهٗ وی چه موجب د انقباض د نور او د نفرت طبعی او نور هم نهٗ وی چه موجب د ګرمیدلو د هوا او تفریق د دوئ د سترګو نو دا پر معتدل وخت دے ځکه چه نعمتونو د جنت کښ یاد ښوئ چه فِیْ ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ وَلَوْ شَآءَ اوکه اراده وئ د خدائ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا او هر ا ئینه کړے وے

۱؎ یعنی دوئ پ وعظ سره فائده نهٗ اخلی ګه چارپایان ۱۲ ۲؎ یعنی دوئ وعظ تر هیڅ فکر نهٗ کوی په مثل د چارپایانو ۱۲ ۳؎ یعنی د اسورے د وخت د خوښ او صبا نه تر وخته د ختو د نمره د کنارے د اسمان پورے ۱۲ ۴؎ یعنی په د ے کښ دا سے تیاره نهٗ وی چه طبیعت دسری تر ے خفه کیږی ۱۲

به ئے وو د اسورے ولاړ په ځائ همیشه ثابت په یوحال چه له سره نۀ لرے کیدلے په طلوع د نور سره یا د ا نور به همیشه په یوحال ولاړ وو نو سورے به هم خو د ولاړ وو او د اتیر حال د هغه سورۍ وجه پخوا وی ظهوره د شمسه له اُفق او هرچه پس له طلوع د ے هغه حال ئے د ا د ے لکه چه وائی ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ بیا وکړ خو لو مونږه د انور پس راښکاره شوله اُفق عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿۴۵﴾ په دے سورۍ یعنے دښه رهنمائی حُکه چه سورے نوره نه معلومیږی ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا بیا راتول کۀ مونږه دے خپل حُان ته یعنے هر هغه طرف نه چه اراده وه حُمونږه قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿۴۶﴾ راتولول اسان یا پت چه په تک ئے څوك نۀ پوهیږی یا لږ لږ تدریجًا یعنے نور کم کم راپورته کیږی نو دا سورے رو رو راتلونږی خو چه ورك شی وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه حکیم مطلق دے چه په قدرت کامل سره جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا کړ حُولے ده د ۀ تاسے لره شپه پوښ ساتر ستاسے په تاریکئ خپله سره لکه پوشاك وَالنَّوْمَ سُبَاتًا او کړ حُولے دے د ۀ خوب راحت او آرام د ابد انوستاسے په قطع د عمل سره وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿۴۷﴾ او کړ حُولے ده د ۀ وخ حُد اوند ه د تاریه تاریکید لو د پاره د طلب د رزق او د معاش وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه قادر بیچون د ے چه اَرْسَلَ الرِّيٰحَ رالیږلی دی د ۀ باد ونه بُشْرًۢا زیرے کونکی او د اجمع د ے د بشوریه معنے د مُبشر بَيْنَ يَدَیْ رَحْمَتِهٖ ۚ په مابین د دوا پو لا سونو د رحمت د د ۀ کښ او د الفظ په عربو کښ کنایه د ے له محکښ والی څخه یعنے په محکښ د رحمت د د ۀ چه باراں د ے او یخوالے نزوله ئے او د احُکه چه باد وږ ځ راغونډ ۀ کړ او له وږ ځے باران وو ریږی وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ او رالیږلے د ے مونږه له طرفه د اسمانه مَآءً طَهُوْرًا ﴿۴۸﴾ او به هم پاکے هم پاکونکے لِنُحْیِیَ بِهٖ یو د پاره د د ے چه ژوندی کړو مونږه په د ے او یوسره بَلْدَةً مَّيْتًا هغه بنار چه مړوی یعنے زمکه بے زړغو ځچه کلکه پرته وی او بیا په د ے باران سره ژوندئ یعنے شنه زړغونه ئے کړو په فضل او په گیاه سره وَّنُسْقِيَهٗ او بل د اچه وځکو و مونږه د ا او بهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا له هغه چه پیدا کړیدی مونږه چارپایان وَّاَنَاسِیَّ كَثِيْرًا ﴿۴۹﴾ او سړی ډیر او د اجمع د ی د اِنْسِیٌّ او کثیرے حُکه وویل چه بعض خلق د سیند ونو او د چینو او بهٗ څښی نو د اسمان او بو ته ئے حاجت نشته وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ او هر اُړخ چه لولی او مقرر کړیدی مونږه د ا او بهٗ یا باران یا منشا د باران بَيْنَهُمْ په مابین د د ے خلقو په قرآن کښ لِيَذَّكَّرُوْا ۫ د پاره د ۀ چه یاد کړی د وئی د انعمت او شکر پرے وباسی فَاَبٰۤى اَكْثَرُ النَّاسِ پس منع راوړه او قبول نۀ کړه زیاتو خلقو اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۵۰﴾ مگر نا شکری او بے قدری د ے نعمت یا انکار له د ے نعمت چه خدائ نۀ کوی د اباران بلکه غُرب

اوطلوع دمنازلو دقمرے کوی وَلَوْ شِئْنَا اوکہ ارادہ وے ھُونږہ لَبَعَثْنَا فِیْ کُلِّ قَرْیَةٍ نوھرا ښبہ پیدا کړے
بہ دوږو ږہ پہ ھرہ قریہ کښ نَّذِیْرًا (۵۱) پیغمبر بیل بیل دیروتہ کہ عذاب ھُونږہ اوتالڑ دا مشقت داندار د
قریو د درست روئ زمین مونږہ لرے کړے وو امّا ھرکلہ چہ تہ سید المرسلین وے نوځکہ ارادہ وکړہ مونږہ چہ
فضایل د ټولو مرسلینو ټالہ درکړو نو لیږلے مونږہ تہ تمام عالم تہ جنّ انس عرب عجم تہ لہ مشرقہ ترغربہ او
لہ شمالہ ترجنوبہ چہ لوئ شی نوم ستا او ډیرشی اجرستا او یواځے اندول شی د ټولو پیغمبرانو ھرکلہ چہ
ماتہ ږہ پہ ټولو انبیاؤ خوږہ کړے فَلَا تُطِعِ الْکٰفِرِیْنَ پس فرمان بردارى مہ کوہ تہ ھم دکافرانو پہ ګټ چہ څپل
دین تہ بولی وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ اومجاھدہ اومجادلہ کوہ لہ دوئ سرہ پہ خدائ سرہ یعنی پہ توفیق او پہ مدد
دہ ګ یا پہ اسلام یا پہ قرآن یا پہ تورات یا پہ ترک د طاعت د دوئ جِهَادًا کَبِیْرًا (۵۲) جهاد ډیر لوئ لکہ چہ تہ ډیر
لوئ ے وَهُوَ الَّذِیْ اودے ھغہ پروږ کاردے چہ پہ قدرت کا ملہ مَرَجَ الْبَحْرَیْنِ خوشی کړی ږ دی سرہ دوہ
سیندونہ چہ یو دروم اوبل د فارس دے یعنی ږ دی دواړہ سرہ څنګ پرېخی ږ دی دواړہ سرہ څنګ چہ اوبہ ږ سرہ نکیږی
هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ دا اوبہ ږ دے سیند ښے خوږے دی وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ اوبل اوبہ ږ د ډیر بل تروبے تریخ دی
وَجَعَلَ اوادروړے ے دہ بَیْنَهُمَا بَرْزَخًا پہ مابین د دغہ دواړو کښ پرده وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا (۵۳) اوحجاب
پناہ لہ سترکو نو پہ ظاھرکښ دواړہ سرہ کډ دی اوپہ واقعہ کښ سرہ بیل بیل دی وَهُوَ الَّذِیْ اودے ھغہ
حکیم مطلق دے خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ چہ پیدا کړی دی دہ ګ لہ اوبو چہ خپلہ دآدم علیہ السلام پرے اخلے شوید ہ
یا چہ جزء دے د انسان یعنے لہ خلورو عناصرو د دہ ګ یالہ نطفے د منی بَشَرًا انسان فَجَعَلَهٗ پس بیا ګرځولے
دے د دغہ انسان دوہ قسمہ نَسَبًا یو خپلوان نسب چہ ھغہ خاص نارینہ دے او نسبت د نسب ھم
د دوئ کړ کولے شی لکہ فلان بن او فلانۍ بنت فلان وَّصِهْرًا اوبل خپلوان د صھر چہ ھغہ خاص شخے
دی او نسبت د مصاھرت ھم دوئ تہ کولے شی لکہ پہ رشیدی کښ دی چہ صھر لور تہ او زوم تہ او وئ تہ
او د شخے خپلن تہ ویلے شی وَكَانَ رَبُّكَ قَدِیْرًا (۵۴) او ږ رب ستا قادر پہ ھرڅہ ګ چہ ھم لہ ھغہ نطفے کلہ
نارینہ پیدا کړی او کلہ ښځہ او کلہ جوړہ یعنی دواړہ ھم نر او ھم ښځہ وَیَعْبُدُوْنَ اوعبادت کوی د مشرکان
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د اللہ خدائ مَا لَا یَنْفَعُهُمْ دھغہ څیز چہ نہ ګ شی رسولے ھیڅ قدر نفع دوئ تہ کہ عبادت ے ګ کوی وَ
لَا یَضُرُّهُمْ اونہ ګ ھیڅ قدر ضرر رسولے شی دوئ تہ کہ عبادت ے نہ ګ کوی چہ ھغہ بتان دی وَكَانَ الْكَافِرُ

اود ے جنس کافر عَلٰی رَبِّہٖ پہ بے فرمانی درب خپل ظَهِيْرًا (۵۵) مدد کار او معاون د شیطان پہ عداوت او پہ شرک کښ یا مراد لہ دے کافر ابوجہل دے وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ او نہ ئے لیږلے مونږہ تہٗ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّ نَذِيْرًا (۵۶) مگر زیرے ور کونکے پہ مؤمنانو د ثواب او ویرو ونکے د کافرانو لہ عذاب قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ وایہ دوئ تہ چہ نۀ غواړم زہ لہ تاسے علیہ مِنْ اَجْرٍ پہ دے پیغام رسولو هیڅ قدر اجرت اِلَّا مَنْ شَآءَ مگر غواړم ایمان راوړل د هغہ چاچہ ارادہ لری دے اَنْ يَّتَّخِذَ دے چہ ونیسی دے اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا (۵۷) رب خپل تہ لارہ د رضا[عہ] او قرب وَتَوَكَّلْ او توکل وکړہ پہ دفع د شر دوئ کښ او پہ بے پرواهئ د اُجرت د دوئ کښ عَلَى الْحَیِّ الَّذِیْ پہ هغہ ژوندی باندے لَا يَمُوْتُ چہ له سره نۀ مری او چہ خوک مرلۀ لری پہ هغہ توکل ضائع شی پہ موت د هغہ سره وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ او تسبیح وایہ سره له ثنا د هغہ وَكَفٰى بِهٖ او بس دے دے بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًا ۚ پہ ټولو گناهونو د بندگانو خپلو کہ پټ دی او کہ ښکاره خَبِيْرًا ۚ (۵۸) خبردار او آگاه الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ هغہ خدائ چہ پیدا کړی ئے دی د آسمانونہ او زمکہ وَمَا بَيْنَهُمَا او هر هغہ چہ پہ مابین دے دواړو کښ دی کۀ عناصر کۀ حیوانات کۀ د انورو اشیاء دی فِیْ سِتَّةِ اَيَّامٍ پہ مقدار د شپږو ورځو اوشپو د دنیا کښ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ بیا مستولی شو امر او حکم د دۀ پہ عرش باندے الرَّحْمٰنُ دے چہ ئے دیر مهربان دے فَسْـَٔلْ بِهٖ پس وپوښتہ له ذات اوله صفاتہ د دۀ خَبِيْرًا (۵۹) کوم خبردار چہ لایق وی د دے سوال وَاِذَا قِيْلَ او پہ هغہ وخت چہ وویلے شی لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ دوئ تہ چہ سجده وکړئ د خدائ مهربان تہ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ؟ نو وائی دوئ پہ جواب کښ چہ څۀ څیز دے رحمان مونږہ تہ خو له سره معلوم نۀ دے اَنَسْجُدُ ؟ ایا سجده به کوو مونږہ لِمَا تَاْمُرُنَا هغہ څیز تہ چہ امر کوے تہ پہ مونږہ د سجدے هغۀ وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا (۶۰) او زیات کہ دا یادول د رحمان یا امر د سجدے دوئ تہ تښته او نفرت

له لارے د حق تَبٰرَكَ الَّذِیْ برکتناك دے هغہ خوک جَعَلَ فِی السَّمَآءِ چہ پیدا کړی دی دۀ پہ آسمان کښ بُرُوْجًا دولس برجونہ چہ حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدی، دلو، حوت دی دا ټول منازل د سبع سیاره نو حمل، عقرب د مریخ دے او ثور، میزان د زهره دے او جوزا سنبله د عطارد دے او سرطان د قمر دے او قوس، حوت د مشتری دے او جدی، دلو د زحل او بیادغه

عہ یعنی لارہ د رضا د خدائ او نزدے والے د خدائ تہ ۱۲

د ولس په ځلور وطبا یعو برخه دی نوحمل، اسد، قوس نارۍ دی او ثور، سنبله، جدی ارضی دی اوجوزا، میزان، دلو هوائی دی اوسرطان عقرب، حوت مائی دی کذا فی المدارک وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا اوهم دلسے پیدا کړے دے دۀ په دے اسمان کښی چراغ چه نور دے (۶۱) اوسپوږمۍ هم روښانه کونکے د عالم وَهُوَ الَّذِي اودے هغه بادشاه دے جَعَلَ اللَّيْلَ چه گرځولے ده دۀ شپه وَالنَّهَارَ خِلْفَةً اوورځ سره مخالف په صفاتو اوپه احوالوکښی یاخلیفه دیوبل په تعاقب کښی یاپه اوراد و دهریو کښی یعنی چه څوک له اوراد وکوم یو ترے قضاشی نوپه وخت کښی ئے ادا کړه اوپه عکس دے هم لِمَنْ أَرَادَ د پاره دهغه چاچه اراده لری دے أَنْ يَذَّكَّرَ دے چه یاد کړه نعمتونه د خدائ اوفکر پکښی وکړه نوقدرت د صانع ترے معلوم که أَوْ أَرَادَ شُكُورًا (۶۲) یا اراده لری د شکر د نعمتونو د منعم وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ او بندگان د خدائ چه دی اوداهغه بندگان دی اوخبرئے محکښی اولئ‌ك یجزون الغرفة دے اوپه دے صفتونو کښی اوّل صفات دی د مبتداء اوداهغه بندگان الَّذِينَ يَمْشُونَ هغه کسان دی چه ګڼ کوی دوئ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا پهزمکه باندے په تواضع اوپه وقار سره وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ اوپه هغه وخت چه خطاب وکړه دوئ سره نادانان په طریقه دے ادبئ سره یعنی خبره نالایقه قَالُوا سَلَامًا (۶۳) نووائی دوئ دغه جاهلانو ته خبره سالمه خالی له ګناه یاله ایذاء یاله مجادلے یعنی بیسته نرمه دائے دورځے حال دے له خلقو سره او دشپے حال ئے له حق سره دادے لکه چه وائی وَالَّذِينَ اوهغه کسان دی چه يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ شپه صبا کوی دوئ رب خپل ته سُجَّدًا وَقِيَامًا (۶۴) په دے حال کښی چه کله سجده کونکی اوکله اودریدونکی وی په مانځه وَالَّذِينَ اوهغه کسان دی چه سره له دغه طاعته اوخضوع اوجد وجهده يَقُولُونَ وائی دوئ له غلبے دخوفه رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا اے ربه ګمونږه چپ کړه له مونږه ځمه په خپل فضل عَذَابَ جَهَنَّمَ عذاب د دوزخ إِنَّ عَذَابَهَا بیشکه عذاب دهغے دوزخ چه دے كَانَ غَرَامًا (۶۵) دے هلاك لازم یعنی همیشه إِنَّهَا سَاءَتْ بیشکه داد وزخ بد دے مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا (۶۶) له جهته د اړامکاه اوله جهته د ځائے داستوګنے وَالَّذِينَ اوهغه کسان دی إِذَا أَنْفَقُوا په هغه وخت چه ورکړه کوی دوئ چاته دکوم ځیز لَمْ يُسْرِفُوا نونه اسراف کوی چه معا صیو او محرماتو کښی ئے وَلَمْ يَقْتُرُوا اونه تنګی اوبخل کوی چه حق د خدائ لره مستحقانو ستون که یامراد نفقه د خپل عیال

عه چه ګناهونو اوحراموکښی ئے ورکړه لکه په شرابو یا و مانوته ۱۲

ده یا ورکړه دی خپلوانو ته یا مراد خپل خورك او جامه ده چه میانه ئے کوی وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ اووی دغه اتفاق دد وئی په مابین دد ے اسراف او تقتیر کښی قَوَامًا (۶۷) میانه معتدل **روایت دے** چه بعض مشرکانو پوښتنه وکړه له رسول علیه السلام چه مونږ شرك او زنا اوخونونه اونورې ږنا راکړې دی نو که ستا خدائ دا ټول راته بخښی نو معجزه به ایمان راوړو نو نازل شو وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان دی لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ چه نه بولی له خدائ سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدائ وَلَا يَقْتُلُوْنَ اونه ژغ دوئی النَّفْسَ الَّتِيْ هغه نفس حَرَّمَ اللّٰهُ چه حرام کړے دے خدائ قتل دهغه یعنی نفس د مؤمن او د معاهد[عه] اِلَّا بِالْحَقِّ مګر په حق سره یعنی په موجبا تو د قتل لکه قصاص اورجم او شرك اوردة او سعی په زمکه کښی په فساد سره وَلَا يَزْنُوْنَ اونه زنا کوی دوئی اودا درے ځکه خاص یاد شو چه امهات الذنوب دی وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ اوهر څوك چه وکړی یو له دے درې مذکورو یا دوه یا درے وارِه يَلْقَ اَثَامًا (۶۸) نو وبه وبنی جزا د عصیان خپل يُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ چه وډوند به کړے شی دے کونکو د غه کار ونو لره عذاب يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ د قیامت وَيَخْلُدْ فِيْهٖ اوهمیشه به وی دے په دغه عذاب کښی مُهَانًا (۶۹) په دے حال کښی چه خوار او بے اعتباره به وی اِلَّا مَنْ تَابَ مګر هغه څوك چه توبه وباسی له شرك وَاٰمَنَ اوایمان راوړی په خدائ او په رسول علیه السلام وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا اوو کړی دے کار نیک پس له توبے نو فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان چه دغه دد ے وارِه کار ونه وکه يُبَدِّلُ اللّٰهُ بدل به کړی خدای په قیامت سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ دا بدئ د دوئی په نیکیو پدے شان چه دا بدئ د دوئی به کړی یعنی دے توبے سره اودهغو په ځای به نیکی وښکی چه ایمان اوطاعت دے اوداسے نه چه هغه بدی به بعینها نیکی شی وَكَانَ اللّٰهُ اود ے خدائ غَفُوْرًا بخښونکے چه سیئات محوکړی رَّحِيْمًا (۷۰) مهربانه چه په بدل د هغو کښی حسنات بنکی وَمَنْ تَابَ اوهر څوك چه توبه وباسی له گناهونو غیر له مذکورو وَعَمِلَ صَالِحًا اوعمل وکړی نیک پس له دے د پاره د تدارك د مافات فَاِنَّهٗ يَتُوْبُ پس بیشکه چه دے توبه وباسی او رجوع کوی اِلَى اللّٰهِ بیرته خدائ ته مَتَابًا (۷۱) په ښه رجوع سره وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ نه چه شاهدی نه لوی د دروغو او د باطلو یا نه حاضیږی مجالسو د باطل ته وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ او په هغه وخت چه تیریږی دوئی په یو فحش اونا کاره کار یا خبرے

عه یعنی حربی چه په امان سره دار اسلام ته راغلے وی ۱۲

مَرُّوْا کِرَامًا ﴿۷۲﴾ نو تیریږی ترے څنګ کونکی او ځان ساتونکی له ککړو والی په هغهٔ وَالَّذِیْنَ او هغه کسان دی اِذَا ذُکِّرُوْا په هغه وخت چه پند ورکړے شی دے ته ٔ بِاٰیٰتِ رَبِّهِمْ په ایتونو د رب خپل یعنی په قرآن سره لَمْ یَخِرُّوْا عَلَیْهَا نو نهٔ نسکوریږی په هغه ایتونو صُمًّا وَّعُمْیَانًا ﴿۷۳﴾ کانړۍ او اړنده ٔ چه نهٔ ئے اوری او نه ئے وینی بلکه نسکوریږی په سجده او په ژړا او اوریدونکی او لیدونکی وی په بیدارو غوږ ونو او په غږیدلو ستر کو وَالَّذِیْنَ او هغه کسان دی یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا چه وائی دوئی اے ربه خُدایږه هَبْ لَنَا راکه مونږه لره محض پخپل فضل سره مِنْ اَزْوَاجِنَا له نجونو خُدایږه قُرَّةَ اَعْیُنٍ هغه خوښۍ چه یخوالے د ستر کو خُدایږه پرے راځی حُکه چه ستا مطیع وی مراد ترے میال صالح دے وَّاجْعَلْنَا او کړه مونږه په مهربانۍ خپلے سره لِلْمُتَّقِیْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾ پرهیزګارانو لره امام او پیشوا یعنی دومره پرهیزګاری راله راکړه چه پرے لایق شو دامامت د متقیانو اُولٰٓئِكَ داکسان دی یُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ جزا به ورکولے شی دوئی نه په هغو مانړیو د جنت بِمَا صَبَرُوْا په سبب د دے چه صبر کړے وو دوئی په دنیا کښ په سختو او په ایذاء دکفارو وَیُلَقَّوْنَ فِیْهَا او اچولے کیږی به په دوئی په دغه جنت کښ تَحِیَّةً وَّسَلٰمًا ﴿۷۵﴾ دُعا او سلام خٰلِدِیْنَ فِیْهَا همیشه به وی دوئی په دے جنت کښ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿۷۶﴾ ښه ٔ دے دا جنت له جهته د قرار کاهۍ او د استوګنے قُلْ مَا یَعْبَؤُا وویا اے رسوله دے منکیانو ته چه هیڅ باك نه کوی بِکُمْ رَبِّیْ په تاسے رب خُدا لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ که نهٔ وے بلل د خدائ تاسے لره یا بلل ستاسے خدائ لره فَقَدْ کَذَّبْتُمْ پس یقیناً تاسو دروغ ګڼلے دے فَسَوْفَ یَكُوْنُ پس زر دے چه وی به دا عذاب لِزَامًا ﴿۷۷﴾ لازم له تاسے سره ۞ ۞ ۞

سُوْرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۲۲۷ رُكُوْعُهَا ۱۱

طٰسٓمٓ ﴿۱﴾ دا مقطعات هم په تاویل د متاخرینو یا نوم دے د خدای یا د قرآن یا د رے او ار حروف دی له سرونو اسماؤ نکه طٰ له طاهره سٓ له سمیع مٓ له مجیده یا طٰ اشارت دے طلب د مبتدیانو ته اوس مروی د متوسطانو ته اومٓ مشاهدهٔ د منتهیانو ته نو خدائ قسم کړے دے په دے اوجواب د قسم دا دے چه تِلْكَ داسورتونه چه دے اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِیْنِ ﴿۲﴾ ایاتونه دی دهغه کتاب چه بنکاره کونکے دے د حق له باطله

او بیانونکے دے داحکامو دحلالو او دحراموچه قران دے **روایت دے** چه هرکله رسول علیه السلام
دیرحریص وو په ایمان دقوم خپل اودوئ په دے کتاب ایمان رانهٔ وړو نو دهٔ خاطر شریف پهٔ دے دپر
ملال شو نو دپاره د تسلی دهٔ نازل شوچه لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ هلاکوئکے اوقتلوئکے ئے دځان
خپل اَلَّا يَكُوْنُوْا په دے چه نهٔ کیږی دوئ مُؤْمِنِيْنَ ۳ ایمان راوړونکے په دے قرآن تهٔ خفګان مهٔ کوه
په دے اِنْ نَّشَاْ کهٔ اراده وشی څومونږه دایمان راوړلود دوئ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ نو به راولیږوموږه په دوئ
مِّنَ السَّمَآءِ ایهٔ له اسمانه یوه لویه نښه راوړونکی د دوئ ایمان ته فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ پس شی به کږه دونه د دوئ
لَهَا خٰضِعِيْنَ ۴ هغه نښے ته غاړه ایخودونکی وَمَا يَاْتِيْهِمْ اونه راځی دوئ لره مِّنْ ذِكْرٍ هیڅ پند اووعظ مِّنَ
الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ له خدائ نوے اِلَّا كَانُوْا مکروی دوئ عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ۵ له هغهٔ ع کرځولونکی او لا
کلکیدونکی په هغه پخوانی کفر فَقَدْ كَذَّبُوْا پس په تحقیق تکذیب وکه دوئ د هغه ذکر یاد محمد صلی الله علیه وسلم
فَسَيَاْتِيْهِمْ پس زرسی چه رابه شی دوئ لره اَنْۢبٰٓؤُا خبرونه او احوال د هغه څیز چه وو دوئ په
يَسْتَهْزِءُوْنَ ۶ چه په هغے پورے مسخرے به ئے کولے چه هغه رسول یاقران دے یعنی داحال به ورته زرمعلوم شی چه
هغه حق وو اوکهٔ باطل وو اَوَلَمْ يَرَوْا ایا ننهٔ گوری دوئ اِلَى الْاَرْضِ دځمکے نه چه پحکمت بالغه سره كَمْ
اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا چه څو زمونږ نه کږی دی مونږه په دیکښ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ کریم ۷ له هر قسمهٔ گیاه چه ښه او
نافع وی اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً بیشکه په دے زمونږ نوارکښ هر اُئینه دیره لویه نښه ده په کمال دقدرت دهٔ
وَمَا كَانَ اونه وو وی په علم وخدائ کښ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۸ زیات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او بے
شکه رب ستاچه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هر اُئینه دے غالب دے او قادر دے په انتقام اخستلو له کفارو الرَّحِيْمُ ۹
مهربان دے په مؤمنانو وَاِذْ نَادٰى او یاد کړه هغه چه وبالهٔ رَبُّكَ مُوْسٰٓى رب ستا موسی علیه السلام
په هغه شپه چه اورے لیدلے وو په وه نه کښ نوے ئے ورته ئے ووبل اَنِ ائْتِ دا سے چه ورشه اَلْقَوْمَ
الظّٰلِمِيْنَ ۱۰ هغه قوم لره چه ظالمان دی قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ یعنی قوم د فرعون چه ظلم ئے کړیدی په کفرا و
په مریوونو کولو نو بنی اسراءیلو او په ذبح د اولاد د دوئ اَلَا يَتَّقُوْنَ ۱۱ ایا ننهٔ ویریږی اوځان نه ساتی
له عذابه قَالَ رَبِّ ووبل دهٔ چه اے ربه خُمَا اِنِّيْٓ اَخَافُ بیشکه زه ویریږم اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ۱۲ له دے
چه دروغژن به کړدوئ ماله او با وړ به رابا ندے ونهٔ کړی په دے رسالت کښ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ

عه یعنی په دے تلواو په پیغمبرئ خُما به باور وکړی ۱۲

او بل تنگی به را وړی سینه له تکذیب ددوئ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ او بل وبه نهٔ چلیږی ژبه حُما په وخت د رسولو د دے پیغام کښ حُکه چه تخلی په سبب دغوښتے فَأَرْسِلْ پس ولیږه جبریل (علیه السلام) إِلَىٰ هٰرُوْنَ (۳) هٰرون علیه السلام ته او پیغمبرئ کهٔ چه مدد کار شی حُما په دے مهم کښ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ او بل ده دوئ لره په ما باندے دعویٰ دیو گناه چه قتل دے د قبطی فَأَخَافُ أَنْ يَّقْتُلُوْنِ (۱۴) پس ویریږم زهٔ له دے چه مړ به کړی ما دوئ په عوض د قبطی کښ پخواله ادا د رسالته قَالَ كَلَّا نو وویل وتړه خدائ چه نهٔ ده دا سے یعنی واوړه له دے گمانه چه ددوئ لاس به په تا او رسیږی فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَا پس لاړ شئ دواړه یعنی ته او وړ رستاسے دِ سره له نبوت یعنی معجزو حُمونږه چه عصا او ید بیضا او دا نوچه دا ئ په قدرت حُمونږه اوگڼت دے د نبوت ستا إِنَّا مَعَكُمْ بیشکه چه مونږ یو له تاسے سره په نصرت او په عون سره مُّسْتَمِعُوْنَ (۱۵) اوس ید وئکی دهرهغه سوال اوجواب چه ستاسے او د فرعون یانو په مینځ کښ به سره کیږی فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ پس ورشئ دواړه فرعون له فَقُوْلَا إِنَّا پس ووایئ چه بیشکه مونږه رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۶) هر یو رالیږلی یُو د رب د ټولو عالمیانو تاته اودرته وایو اَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا دا سے چه ولیږه له موسره بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ (۱۷) د اولاد نه د یعقوب علیه السلام چه دِ مریو نه گړی دی اوس ئے پرده چه مونږ سره شامل له لاړشی چه مسکن دے د اباؤ دوئ **روایت دے** چه هرکله په امر الهی سره موسیٰ علیه السلام راغے سره له ورځره خپله دروازے د فرعون لره او دننه تو اذن ئے وغوښته نو تر یوکاله پورے اذن ورته نهٔ کیده بیا د رواجی ورته وویل چه دلته یو سړے دے واقی چه زه خدای رالیږلے یم نو فرعون وویل راځه چه یو ساعت خندا او مسخرے ورسره وکړو بیا چه راغے ورله نو ئے پیژانده چه داخو موسیٰ دے قَالَ نو ورته ئے وویل چه أَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا أیا نهٔ ووکړه مونږه تربیت ستا په مونږ کښ وَلِيْدًا په دے کال کښ چه هلک وے کوچے شیرخور وَلَبِثْتَ فِيْنَا اودرنگ یعنی اوسیدنه وکړے وه په مونږ کښ مِنْ عُمُرِكَ له عمره خپله سِنِيْنَ (۱۸) څوکاله چه دیرش وو فَعَلْتَ اوبل کړے دو تا فَعْلَتَكَ الَّتِيْ هنه کار دِ فَعَلْتَ کړے دو تا هغه کار یعنی حُما خبار قبطی ډوتړله وو وَأَنْتَ اوحال دا چه ته اوس مِنَ الْكٰفِرِيْنَ (۱۹) له پټو نکیو یا له منکرانو ئے د نعمت حُما اود هغه قتل قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا نو ووایل موسیٰ علیه السلام چه کړے وو

عه یعنی په سبب د دے لکنت سره چه په ژبه حُما کښ دے ۱۲

ما دا کار په هغه وخت چه هیڅ لاخبر نهٔ وو وَ اَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ او زهٔ یو له ناپوهو وُم له علمه له رسالته
فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ پس بیا وتختیدم زهٔ له تاسے نخه لَمَّا خِفْتُكُمْ هغه وخت چه وویریدم له تاسے چه قصاص به
رم کړئ او لاړم مدین ته فَوَهَبَ لِيْ پس راکړ ما ته رَبِّيْ حُكْمًا رب حُما علم او فهم په هغه وخت چه له مین
راوګرځیدم پیرته وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۱﴾ او وګرځولم ده زهٔ له تولی درسولانو وَتِلْكَ نِعْمَةٌ او دا تربیت چه
تا کولو حُما دا یو نعمت دے تَمُنُّهَا عَلَيَّ چه اوس احسان باروے تهٔ په هغه نعمت په ما باندے هغه په
واقعه کښ ستا له سفتته نهٔ وو بلکه اَنْ عَبَّدْتَّ له دے جهته وو چه مریونه کړی وو تا بنی اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۲﴾
فرعون دا یعقوب علیه السلام او ذبح کول به ډیر حُما من دده وئ نو دا موجب شو دا لیدو لوحُما تاته او تربیت
ستا حاصل دا چه ظلم ستا موجب شوے دے د تربیت حُما نهٔ شفقت ستا نو دا موجب دا حسان باروُلو
نهٔ ۔ قَالَ فِرْعَوْنُ بیا وویل فرعون له دے جهته چه له موسی علیه الصلوٰة والسلام څخه ئے اوریدلی ووچه
اتا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ نوحُکه ئے ترے پوښتنه وکړه چه وَ مَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾ او څه خیزدے رب د
عالمیانو؟ قَالَ نو ویل ورته موسی علیه السلام چه دے رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا کونکے دے د
اسمانونو او زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا ط او دهر هغه چه په مینځ ددے دواړو کښ دی اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾
که څه چرے یئ تاسے یقین کونکی په دے چه هم دٔ خالق دے نو هم په دهٔ یواځے اِلٰهاً راوړئ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ نو
ویل فرعون هغه چا ته چه چاپیرته ئے ناست وو له اشرافو قوم ددهٔ پنځه سوه کسه اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾ آیا
نهٔ اورئ تاسے جواب دٔ سړی چه زهٔ ترے فرسان د حقیقت کوم اودٔ جواب په افعالو راکوی قَالَ رَبُّكُمْ
بیا ویل ورته موسی علیه السلام چه رب حُما پید اکونکے دٔ ستاسے وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۶﴾ او
پید اکونکے دے د پخوانیو پلرونو ستاسے نو فرعون په دے خبره په غضب شو حُکه قَالَ ویل دهٔ خپل قوم
ته اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ بیشکه دا رسول ستاسے چه دے اورسول ئے د پوچمنډ ورته ووبل هغه رسول
اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ چه راپیرلے شوے دٔ تاسے ته لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾ هر اٰئینه په تحقیق لیونے دے چه غیر له مابل خدائ
بولی قَالَ بیا ویل موسی علیه السلام رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ چه پید اکونکے د مشرق او د مغرب
دے وَمَا بَيْنَهُمَا او دهر هغه چه په مینځ ددے دواړو کښ دی اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ که چرے یئ
تاسے چه څهٔ قدرٔ عمل کولے شئ نو ایمان پرٔ راوړئ قَالَ بیا ویل فرعون موسی علیه السلام ته لَئِنِ

اتخذت هرائینه که ٔ چرے ونیوهٔ تا الٰهًا غیری خدائ غیرله ما بل څوك لاجعلنك نو هرائینه کړم به زهٔ څا
تامن المسجونین (۲۹) یوله بندی خانه کښ اچولی شو براوبندی خانه دده له مرګه وپریښو توره وځکه
چه ژوړ کوهی کښ به ٔ سړے پواځے واچولو چه نه به ٔ څهٔ لیدل اونه به ٔ اوریدل اونه بے مرګه
بیرون به چا ایستهٔ قال نو وویل ورته موسیٰ علیه السلام اولو جئتك ایا داسے کوے ته ٔ له ماسره اوګر
که راوړم زهٔ تاله بشیء مبین (۳۰) کوم څیز یعنی معجزه بنکاره قال ویل فرعون فات به بنه
راوړه ته هغه دلیل ان کنت من الصدقین (۳۱) کهٔ چرے ٔ ته له رښتیا نو څخه فالقی عصاه نو وغورځوله
موسیٰ ٔ اسا خپله فاذا هی نو ناڅاپه هغه اسا ثعبان مبین (۳۲) اژدها شوه بنکاره ونزع یدهٔ اوراوے
ویست لاس خپل له کریوانه فاذا هی پس ناڅاپه داچه وهٔ بیضاء للنظرین (۳۳) تک سپین وکوتکیونه اوداسے احمدله برق او
برښنا ئے کوله چه له وپره شعاع به خلقو ورته کتلے نهٔ شوا وله مشرقه ترمغربه به ٔ ځ ړنړا دتمام روئ ځمین لاندے
که اوله نهر ړنړا به ور کله شو قال للملا نو وویل فرعون هغه اشرافو دقوم حوله ٔ چه چاپیره له دهٔ ناست وو
ان هذا چه بیشکه داسړے چه دے لساحر علیم (۳۴) هرائینه جادوګر دے وپریوهندے په باب د سحر کښ
یرید ان یخرجکم ارادهٔ لری دده چه وباسی دے تاسے من ارضکم له زمکے ستاسے چه مصرونه بسحره
په جادو خپل سره فماذا تامرون (۳۵) پس څرنګه امر کوئ تاسے ماته په یا بنده ٔ کښ نکته معجزے
دموسیٰ علیه السلام دے داسے وارخطا کهٔ چه خدائ خپله تر هیره شوه اوله خپو بندګانو نه په مصلحت
غونښتو شوا وړ نه محتاج شو قالوا ارجه نو وویل ورته دغه اشرافو چه مهلت ورکه دهٔ له یا مخوس
ٔ کهٔ واخاه او وړے هم او په قتل ٔ جلتی مهٔ کوه چه مبادا فتنه ولاړه نهٔ شی وابعث فی
المدائن او ولاړ کړه او ولیږه په دے بنارونو دے قلمرو خپل کښی حشرین (۳۶) راتولونکی یاتوك لکل
سحار چه راولی دوئ تاله هرهغه څوك چه ډیر لوئ جادوګر وی علیم (۳۷) چه پوهنده وی په باب
دسحر کښی بیا فرعون نوکران خپل ولیږل په ساحرانو پسے هرطرف ته فجمع السحرة پس راټول کړے
شو ساحران لمیقات یوم معلوم (۳۸) په وعده کاه دهغے ورځے معلومے چه ثابته وو یوم الزینة لکه
چه طهٰ کښی تیرے وقیل للناس او وویلے شو خلقو د مصر ته یعنی فرعون وویل چه هل انتم
مجتمعون (۳۹) ایا تاسے یوځائ کیدونکی یئ یعنی ټول راجمع شئ لعلنا نتبع السحرة نبائی چه مونږه

پیروی وکړو د ساحرانو ټولو په اتفاق سره اِنْ کَانُوْا که چرې وو دوئ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ (۴۰) هم دوئ غالبان په موسیٰ علیه السلام باندے او دائے هو اګر یرکهٔ نو میباید چه مونږه هم هلته حاضر او سو ټول چه له دوئ سره مکری شو او موسیٰ علیه السلام یعنی له دے وطنه د مصر و باسو یا مراد پیروی ده د ساحرانو په دین د دوئ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ پس هر کله چه راغله ساحران فرعون له او دهٔ دیر عزت او دلنوازی د دوئ وکړه نو دوئ زهٔ ور ښو قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ وویل دوئ فرعون ته اَئِنَّ لَنَا ایا وی به مونږه له لَاَجْرًا اِنْ کُنَّا نَحْنُ اجر ګډ چرې شو مونږه نَحْنُ الْغٰلِبِیْنَ (۴۱) هم د مونږه غلبه کونکی په جادو ستاپه حمایت نو قَالَ نَعَمْ نو وویل فرعون چه هو وی به تاسے له ره اجرت وَاِنَّکُمْ اِذًا اولاپرے د پاسه دا به هم وی چه بیشکه اوئی به تاسے په دغه وخت چه غالب شوئ لَّمِنَ الْمُقَرَّبِیْنَ (۴۲) هر ائینه له ټولی د نزدے کړے شو یو ماته یعنی اول به را نه نوځئ تاسے حُمَا مجلس ته اوله هر چار دستی به وځئ بیا نو ساحران راغله میدان د محاصے ته او صفونه ئے وټړل او موسیٰ علیه السلام ته ئے وویل چه اول ته غورځوے جادو خپل او که مونږه وغورځوو قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓی نو وویل دوئ ته موسیٰ علیه السلام اَلْقُوْا مَآ چه وغورځوئ تاسے هر هغه شَیْءٍ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ (۴۳) چه تاسے غورځونکی یئ د هغه فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ پس وغورځول دوئ پری خپل وَعِصِیَّهُمْ اوهمسا کانے خپلے چه هر یو اویا زره یا دوه اویا زره وو وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ او وویل دوئ په هغه وخت چه د اپرې اوهمسا کانے سره وخوزیدے له سحره چه قسم دے په لویئ او په قوت او په غلبے د فرعون اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ (۴۴) چه بیشکه مونږه غلبه کونکی یو په موسیٰ او په هرون علیهما السلام باندے فَاَلْقٰی مُوْسٰی عَصَاهُ پس بیا وغورځوله موسیٰ علیه السلام همسا خپله په امر د خدائ او فی الحال بنا مار شوه فَاِذَا هِیَ پس ناګاه دا چه وه تَلْقَفُ مَا یَاْفِکُوْنَ (۴۵) یوه لقمه ئے کړه اوله حلقے ئے تیره کړه هغه پری اوهمسا کانے واړه په یو کرت چه دوئ په دروغو په صورت د مارانو کړی وو په نظر د خلقو کښی په سحر سره فَاُلْقِیَ السَّحَرَةُ پس پریځے وغورځولی شو ساحران سٰجِدِیْنَ (۴۶) په دے حال کښی چه سجده کونکی وو د خدائ ته ځکه چه پوهه شو په یقین چه دا کار د سحر نهٔ دے قَالُوْٓا اٰمَنَّا ویل تولوچه ایمان راوړیدے مونږه بِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ (۴۷) په رب د تمامو عالمیانو بیا د پاره د وهم بنه ئے واضح کهٔ چه رَبِّ مُوْسٰی وَهٰرُوْنَ (۴۸) یعنی په رب د موسیٰ او د هرون علیهما السلام نهٔ په فرعون بیا چه فرعون خبر شو د دوئ له ایمانه نو راحاضر ئے کړه او قَالَ

اٰمَنْتُمْ لَهٗ وویل فرعون چه ایمان راوړهٔ تاسے په موسیٰ علیه السلام قَبْلَ اَنْ یخواله هغه اٰذَنَ لَكُمْ ع چه اذن وکړم زه تاسے ته د ایمان راوړلو په دهٔ اِنَّهٗ لَكَبِیْرُكُمُ الَّذِیْ بیشکه چه دے هراٰینه مشر ستاسے دے هغه عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ چه بنودلے ئے دے تاسے ته سِحر او ټولو سره اتفاق کړے دے هلاك خمائلہ خرابئ دے ملک ته فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ؕ پس هراٰینه زړے چه معلوم به کړئ تاسے حال خپل لَاُقَطِّعَنَّ اَیْدِیَكُمْ هراٰینه پرے به کړم خامخا لاسونه ستاسے وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ اوخپے ستاسره مخالفے یعنی یے لاس اوچپه خپه لاس اوښئ خپه یا معنیٰ دا چه له جهته دمخالفته وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِیْنَ ۴۹ هر اٰینه زړوند به کړم خامخا تاسے پوټل چه مړه شئ اونور خلق دریاند ے عبرت واخلی قَالُوْا لَا ضَیْرَ نوویل دوئ چه نشته هیڅ ضرر مونږه نه په دے کښ اوستاله دعه دبکو اوله مرګه نهٔ ویریږو دُخکه چه اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا بیشکه مونږه رب خپل ته مُنْقَلِبُوْنَ ۵۰ بیرته ورتلونکی یُو اویل دا چه اِنَّا نَطْمَعُ بیشکه مونږه امید لرو اَنْ یَّغْفِرَ دے چه بخښنه وکه لَنَا رَبُّنَا مونږه ته رب خُمونږه اوعفوه کړه خَطٰیٰنَاۤ گناهونه خُمونږه اَنْ كُنَّاۤ له دے جهته چه یُو مونږه اَوَّلُ الْمُؤْمِنِیْنَ ۵۱ اول دمؤمنانو له تابعانو ستا یا په زمانه خپل کښ وَاَوْحَیْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى وکړه مونږه موسیٰ علیه السلام ته پس دایمان دساحرانو څخه کاله چه دوئ به ځُبلل خدائ ته اودوئ ورځ په ورځ لاپسے گمراه کیدل اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْۤ دا سے چه بوځه د ښے بندگان خُما یعنی بنی اسراءیل بحرلره اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ۵۲ بیشکه چه تاسے متبوع یئ یعنی فرعون او قوم ئے درپسے راتلونکے دے نو تاسے به سلامت تیر کړم له بحره اودوئ به پکښ غرق کړم فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ پس ولیږل اوخواړهٔ کړهٔ فِی الْمَدَآىِٕنِ حٰشِرِیْنَ ۵۳ په بنارونو خپلو کښ چه زړ بنارونه اودوس قریے ئے دیوکښ ئے راولیږل جمع کونکی د لښکرو ئے ویل چه اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ بیشکه دابنی اسراءیل لَشِرْذِمَةٌ قَلِیْلُوْنَ ۵۴ هر اٰینه یوه ډلګئ ده ډیره لږه اودوئ شپږ سوه دپاسه اویا زره وو یا اویا زره دپاسه اوهٔ لکهه وو اودفرعون پیش خانه اوهٔ لکهه خلق وو اوټول لښکرئے اوهٔ ډزه کړته زړ وو کذا فی المدارك وَاِنَّهُمْ لَنَا وبیشکه چه دوئ مونږه لره لَغَآىِٕظُوْنَ ۵۵ هراٰینه قهر راوستونکی دی وَاِنَّا اوبیشکه چه مونږه لَجَمِیْعٌ حٰذِرُوْنَ ۵۶ هراٰینه ټول وخ بیدار یا وسله دار یُو **روایت دے** چه بنی اسراءیلو کانړے اخیستے له قبطیانو په بهانه داختر چه زندے وو نو فرعون پرمبلغ ئے ټول کهٔ او په امر الهی سره د شپے وتانهٔ له مصره اوفرعون یا

صبا نماز دیگر ترے خبر شو نو لبنکرے راجمع کہ اود شپے ور پسے راو وانۂ لکھ چہ وائی فَاَخْرَجْنٰهُمْ پس راوو ستل
مونبرد افرعونیان مِّنْ جَنّٰتٍ لہ باغونو وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۷﴾ وَّكُنُوْزٍ اولہ ولوچہ بھید لے پہ کورونو کښ اولہ
ښکارہ مالونو اولہ سرو زرد اولہ سپینو زرو اودائے پہ کنوز وبلل ځکہ چہ دخدائ پہ لارہ کښ ئے ترنۂ ورکول
وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۵۸﴾ اولہ بنو منا زلود اوسید وكَذٰلِكَ ھمدا سے وکرہ مونبرہ لہ دوئ سرہ وَاَوْرَثْنٰهَا اومیراث
پاتے کۂ مونبرہ داخلاور وارہ قسمہ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾ فرزندانود یعقوب علیہ السلام نہ پس لہ
عرقد فرعون اود قوم ئے **روایت دے** چہ فرعون ورپسے روان شو سرہ لہ پنجگانہ لښکرہ دا سے
چہ شپیر لکھہ ئے مقدمہ وۂ اوشپیر لکھہ ئے ساقہ اوشپیر لکھہ ئے میمنہ او شپیر لکھہ ئے میسرہ او باقی
ئے قلب چہ پہ میئخ کښ لہ دہ سرہ اشراف وو لکہ چہ وائی فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ﴿۶۰﴾ پس درورسیدل
بنی اسراءِ یلو تہ پہ وخت د نمر ختلو کښ فَلَمَّا تَرَاۗءَ الْجَمْعٰنِ پس هرکلہ چہ سرہ ولیدل دغہ دوار ولښکرو
قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى نو وویل منکر یود موسیٰ علیہ السلام اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿۶۱﴾ چہ بیشکہ مونبرہ موندے
شوی اولاندے کړے شوی یو یعنی بیرتہ لښکر د فرعون راپسے راورسیدۂ او مخکښ سیندے نوکیو تو پہ
بدحائی کښ قَالَ كَلَّا نو وویل ورتہ موسیٰ علیہ السلام چہ نۂ دہ دا سے یعنی تا سے نہ شی لاندے کولے
دوئ ځکہ چہ اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ بیشکہ لہ ماسرہ رب ځمادے پہ یارئ اومدد کارئ سرہ سَيَهْدِيْنِ ﴿۶۲﴾
زمونږ چہ لارہ دخلاصی بہ وښائی ماتہ فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى پس وحی وکړہ مونبرہ موسیٰ علیہ السلام
تہ اَنِ اضْرِبْ داسے چہ ووهہ تۂ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ پہ هماځپلہ داسیند دتلزم یادنیل نوپہ هما ئے
وواهۂ فَانْفَلَقَ پس وپاډو سیند اودولس کوټے پکښ سازے شو فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ پس شوہ هرکوڅہ
هسکہ داسے كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿۶۳﴾ لکہ لوئ غرپہ هسکوالی کښ اوزمکہ ئے فِي الْحَالِ باد وچہ کړہ اوهر سط
پہ یوہ یوہ کوڅہ ورنښوت وَاَزْلَفْنَا اوبیارانزدے کړہ مونبرہ ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۴﴾ دځحائ تہ دغہ نورچہ فرعونیان
دی یعنی دسیند پہ غاړہ پاتہ مودا جمع کړہ اوبنی اسراءِ یل تریے بیرون ووائۂ او دوئ ورننوائۂ اوسیند
پرے راښکتہ شولکہ چہ وائی وَاَنْجَيْنَا مُوْسٰى اوخلاص کۂ مونبرہ موسیٰ علیہ السلام لہ غرق وَمَنْ
مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿۶۵﴾ اوهغہ څولۂ چہ دۂ سرہ وو وارہ ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۶﴾ بیاغرق کړۂ مونبرہ هغہ
نور یعنی فرعونیان اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً بیشکہ پہ دغرق د فرعون اود قوم ددۂ کښ هرلیدونکی دپرہ

لویہ نبنہ دہ پہ کمال دقدرت ځموبنزہ وَمَا كَانَ اَوْ نهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۶۷) زیات دوئ مؤمنان
وَاِنَّ رَبَّكَ اوبیشکہ رب ستاچہ دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرالینہ غالب دے چہ انتقام اخلی لہ کفارو الرَّحِيْمُ (۶۸)
مہربان دے پہ مؤمنانو وَاتْلُ عَلَيْهِمْ اولولہ اے رسولہ پہ کفارو دمکے نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ (۶۹) خبرا وقصہ د
ابراهیم علیہ السلام اِذْ قَالَ یادہ کړہ هغہ چہ وویل دہ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ پلارخپل تہ چہ ازدواوقوم خپل
تہ مَا تَعْبُدُوْنَ (۷۰) څۂ څیز عبادت کوئ تاسے قَالُوْا نَعْبُدُ اَصْنَامًا نو وویل دوئ چہ عبادت کوو مونږ
دبتانو فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ (۷۱) پس همیشہ اوسو مونږہ دوئ لہ مجاوران اوملازمان دعبادت دوئ
قَالَ نو وویل ورتہ ابراهیم علیہ السلام هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ چہ اوری دوئ بلنہ ستاسے اِذْ تَدْعُوْنَ (۷۲) پہ
هغہ وخت چہ بولئ تاسے دوئ اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ یانورہ څۂ نفع رسوی دوئ تاسے تہ چہ عبادت ئے وکړئ اَوْ
يَضُرُّوْنَ (۷۳) یاځۂ ضرر رتہ رسوی کہ عبادت ئے ونہ کړئ اوهرکلہ چہ دوئ څخہ دے جواب نہ وو
نو دتقلید لارہ ئے وراندے کړہ لکہ چہ وائی قَالُوْا نو وویل دوئ چہ پہ دے درے واړو کښی یوهم پکښی
نشتہ اومونږہ ئے عبادت دهغہ پارہ نهٔ کوو بَلْ وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا بلکہ موندلی دی مونږہ پلرونہ خپل كَذٰلِكَ
يَفْعَلُوْنَ (۷۴) چہ همدا سے بہ ئے کول یعنی دبتانو عبادت بہ ئے کولو قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ بیاوویل دۂ چہ ایا پس وئ
تاسے یعنی پوهہ شی پہ دے چہ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ (۷۵) هرهغہ څیز چہ یئ تاسے چہ عبادت دهغہ کوئ
اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ (۷۶) ربط تاسے اوپلرونہ ستاسے چہ دیرپخوا تیرو دی فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّیْ پس بیشکہ
چہ دغہ معبودان ستاسے دښمنان دی لمانونهٔ خوئے عبادت نهٔ کوم اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ (۷۷) لیکن عبادت
کوم دهغہ چاچہ رب دے دتمام عالمیانو الَّذِيْ خَلَقَنِيْ هغہ رب چہ اول ئے پیدا کړم یعنی لہ عدم ئے
وجود تہ راوویستم فَهُوَ يَهْدِيْنِ (۷۸) پس بیاهم سمہ لارہ راتہ بنائی داقوالو دافعالو دا حوالو یاد دعوت
دخلق حق تہ وَالَّذِيْ اوهغہ رب هُوَ يُطْعِمُنِيْ چہ هم دے طعام راکوی مالرہ او خوروی ئے پہ ما د
پارہ دقوت د بدن وَيَسْقِيْنِ (۷۹) اوراکوی مالرہ اوبہ ٔ چہ تندوم پرے ورکہ شی وَاِذَا مَرِضْتُ اوهرکلہ چہ
رنځورشم زہ فَهُوَ يَشْفِيْنِ (۸۰) پس هم دے شفا راکوی مالرہ وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ اوهغہ رب چہ وژنی بما
پہ دنیاکښی ثُمَّ يُحْيِيْنِ (۸۱) بیا بہ ژوندی کړی مایہ آخرت کښی دپارہ دحساب اوجزا وَالَّذِيْ اَطْمَعُ اوهغہ
رب چہ امید لرم زۂ لہ دۂ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ دد چہ وبخښی دے ماتہ خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ (۸۲)

عہ یعنی اول چہ نۂ وم هیڅ شے او اوس ئے وجود راوبخے دے ۱۲

کناهو نوحُما په ورځ دجزا بیا التفات ئے وکړهٔ خطاب ته په طریقه. د سوال نو وائی رَبِّهٖ هَبْ لِیْ اے ربه حُما راکه په فضل خپل مالره حُکْمًا کمال په علم او په عمل یا حکمت یا نبوت یا حکم په حق سره په مابین دخلقو کښ وَّاَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ (۸۳) اوپیوست کړه ما په صالحانو ستا پورے وَاجْعَلْ لِّیْ او وکړحُوه مالره لِسَانَ صِدْقٍ ژبه دصدق اواوازه دنیکنامئ فِی الْاٰخِرِیْنَ (۸۴) په روستیو کښ یعنی په هغوکښ چه پس له دے به پیدا کیږی اوراځی به ترقیامته پورے وَاجْعَلْنِیْ اوکړه ما مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِیْمِ (۸۵) له وارثانو دهغه جنت چه ډیر دے له نعمتونو وَاغْفِرْ لِاَبِیْ اوبخښنه وکړه پلار حُما ته یعنی توفیق دایمان ورکړه ور لره چه لایق دبخښنے شی اِنَّهٗ کَانَ بیشکه چه دے دے مِنَ الضَّآلِّیْنَ (۸۶) له گمراهانو وَلَا تُخْزِنِیْ اومهٔ شرموه اومهٔ رسواکوه مَا یَوْمَ یُبْعَثُوْنَ (۸۷) په هغه ورځ چه راپاځولے شی ادمیان له قبرونو یَوْمَ لَا یَنْفَعُ په هغه ورځ چه نفع نه رسوی هیڅوک مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ (۸۸) نه مال او نهٔ حُامن اِلَّا مَنْ لیکن هغه چاته نفع رسوی اَتَی اللّٰهَ چه راغلے وی دے خدائ لره بِقَلْبٍ سَلِیْمٍ (۸۹) په زړه سلامت پاك سره له شرکه له نفاقه اوزړهٔ دکافرانو او منافق مریض دے لکه چه بخیله وائی فِی قلوبهم مرض. اما نفع هغه مال رسوی چه دخدائ په لاره کښ صرف شوے وی او هغه حُامن چه صالحان وی وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ اوپه هغه ورځ چه رانزدے به کړے شی جنت لِلْمُتَّقِیْنَ (۹۰) پرهیزکارانو نه چه له موقف به ځے وویني اوخوشحاله به شی وَبُرِّزَتِ الْجَحِیْمُ اوښکاره به کړے شی دوزخ لِلْغٰوِیْنَ (۹۱) دپاره دگمراهانو یعنی کافرانو چه له ورایسے ووینی اوغم اوخفګان لاپرے زیات شی وَقِیْلَ لَهُمْ اوویلے شی دوئ ته یعنی ملائك ورته وائی چه اَیْنَمَا کُنْتُمْ چرته دی هغه بتان چه وئ تاسے تَعْبُدُوْنَ (۹۲) چه عبادت به موکولود هغوپه دنیا کښ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ هَلْ یَنْصُرُوْنَکُمْ ایا خهٔ مدد کوی دوئ اوس له تاسے سره په دفع دعذاب کښ اَوْ یَنْتَصِرُوْنَ (۹۳) یاخهٔ مدد کوی له خپل ځان سره چه له اوره ځان وبا سی فَکُبْکِبُوْا فِیْهَا پس وبه غورځولے شی دابتان نسکور په دے دوزخ کښ هُمْ وَالْغَاوٗنَ (۹۴) هم دوئ اوهم دگمراهان یعنی عابدان ئے وَجُنُوْدُ اِبْلِیْسَ اولښکر دابلیس به هم نسکور وغورځولے شی په دوزخ کښ اَجْمَعُوْنَ (۹۵) تول ګابان ددهٔ کهٔ معبودان دی لکه بتان اونمراوسپوږمئ اوستوری اوکهٔ عابدان دی لکه عاصیان دجنو اوانسو یا مراد له جنوده ددهٔ خپل شیاطین دی قَالُوْا اوهُم وائی به دابتان کفارو

ته اوحال دا چه دوئ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ (۹۶) په دے دوزخ کښ سره جګړه به کوی نو وائی به دا عابدان چه
تَاللّٰهِ قسم دے په خدائ چه اِنْ كُنَّا بیشکه وو مونږه په دنیا کښ لَفِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ (۹۷) هرائینه په
ګمراهئ بنکاره کښ اِذْ نُسَوِّيكُمْ ځکه چه برابرولئ مونږه تاسے په استحقاق د عبادت کښ بِرَبِّ الْعٰلَمِينَ (۹۸)
له پروردګار د عالمیانو سره وَمَا اَضَلَّنَآ او نه ووګمراه کړی مونږه اِلَّا الْمُجْرِمُونَ (۹۹) مګر بدکارانو د مشرانو
حمونږ یا ابلیس او بنکرده فَمَا لَنَا پس نشته مونږه لره له سره مِنْ شَافِعِينَ (۱۰۰) له شفاعت کړو هیڅوک لکه مؤمنان
له چه دی له ملایکو له انبیاء علیهم السلام له مومنانو وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ (۱۰۱) او نه کوم یار مهربانه چه حُمُّورُ
په ډکه مصیبت غمژن شی فَلَوْ اَنَّ لَنَا کرکه چرته وے مونږه لره یوکرت بیرته ورتله دنیا ته
فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۰۲) پس شو به مونږ هله مؤمنان نو یعنی نو ایمان به رم راوړے وو چه قبول شوے وے
اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً بیشکه چه په دے قصه د ابراهیم علیه السلام کښ هرائینه ډیره لویه نښه ده په
کمال د قدرت حُما وما کان اونهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِينَ (۱۰۳) زیات د دوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او
بیشکه رب ستا چه دے لَهُوَ الْعَزِيزُ هرائینه ډیر غالب دے په اعداؤ الرَّحِيمُ (۱۰۴) مهربان دے په مؤمنانو
كَذَّبَتْ نسبت د دروغو کړو قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ (۱۰۵) قوم د نوح علیه السلام رسولانو ته یا تیروته
پس له اخباره د دهٔ یا تولو ته چه بعثت د رُسُلو یعنی منکر شو یا تکذیب د یوکس تکذیب د تولو د ے اِذْ
قَالَ لَهُمْ یاد کړه هغه چه وویل دوئ ته اَخُوهُمْ نُوحٌ ورور د دوئ چه نوح علیه السلام دے اَلَا
تَتَّقُونَ (۱۰۶) ایا نهٔ ویریږئ له خدائ چه عبادت د خدائ کوئ اِنِّي لَكُمْ بیشکه چه زه تاسے له ره
رَسُولٌ اَمِينٌ (۱۰۷) رالیږلے شوے یم امانتکړ چه مشهور یم په تاسے کښ په اما نت سره فَاتَّقُوا
اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ او بت پرستی مهٔ کوئ وَاَطِيعُونِ (۱۰۸) او فرمان و منی خُما په قبلولو د
ایما کښ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ او نهٔ غواړم زه له تاسے عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ په رسولو د دے پیغام څهٔ اُجرت اِنْ اَجْرِيَ
نهٔ دے اجرت د رسالت خُما اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِينَ (۱۰۹) مګر په رب د عالمیانو فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس بیا وویریږئ
له خدائ وَاَطِيعُونِ (۱۱۰) او فرمان و منی خُما او د تکرار ئ د پاره تاکید وکهٔ چه دوئ د ډیر سخت دل وو
قَالُوٓا نو وویل دوئ په جواب کښ چه اَنُؤْمِنُ آیا ایمان راوړو مونږه په تا لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُونَ (۱۱۱) او

عه یعنی چه په دے ټم کښ سره شریک شی ۱۲ عمه یعنی په دښمنا نو خپلو ۱۲

حال دا چه پیروی کړے دے ستا کم پا یه خلقو رڼ الوکم نسبو خوارو قَالَ وَمَا عِلْمِیْ نو وویل دۀ اونتښیوهه
حُما بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۱۲) په هغه کارچه دی دوئی چه کوی ئے یعنی زۀ خوئے ظاهر کورم چه مؤمنان دی نو
چه پا اخلاص وکۀ په نفاق دی اِنْ حِسَابُهُمْ نۀ دے حساب د دوئی اِلَّا عَلٰى رَبِّیْ مګر په رب حُما دے نوجزا به
ورکه لَوْ تَشْعُرُوْنَ (۱۱۳) که پوهیدے تاسے په دے نو دبتانو عبادت به مونۀ کولو بیا قوم ورته وویل. چې
دا ارذال له خُانه وشړه چه مونږه ایمان راوړو نږدۀ ورته وویل چه وَمَا اَنَا اونه ګیم زۀ بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۱۴)
شړونکے د مؤمنانو اِنْ اَنَا نۀ یم زه اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ (۱۱۵) مګر ویرؤنکے ښکاره یعنی زۀ رالیږلے شوے یم
د پاره د بللو ایمان ته کۀ غنی وی کۀ فقیر قَالُوْا نو وویل دۀ ته قوم لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ چه هرا ئینه که وانۀ وخته
له دے ویلو يٰنُوْحُ اے نوحه لَتَكُوْنَنَّ نو هرا ئینه شے به تۀ خامخا مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ (۱۱۶) له سنګسار کړیو شویو
بیا چه په دے ویلو یعنی نا امیده شو قَالَ رَبِّ وویل دۀ چه اے دیه حُما اِنَّ قَوْمِیْ كَذَّبُوْنِ (۱۱۷) بے شکه چه
قوم حُما د ما دعوتن وبللم زه فَافْتَحْ پس حکم وکه د فیصل بَيْنِیْ وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا په ما بین حُما او دوئی کښ
په حکم کولو سره وَنَجِّنِیْ وَمَنْ مَّعِیَ او وساته ما اوهر هغه څوك چه ما سره دی مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۱۸) له
مؤمنانو نه قصد یاله شامت د دوئی فَاَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ پس وساتۀ مونږه دے او هر هغه څوك چه له دۀ سره
وو فِی الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ (۱۱۹) په هغه بیړئ کښ چه دکه وه له خلقو یعنی له بنی آدمو له حیوانا تو له مرغانو
له نورو هغه څیزونو چه محتاج اِلیه وو ثُمَّ اَغْرَقْنَا بیا غرق کړه مونږه بَعْدُ الْبٰقِيْنَ (۱۲۰) پس له ساتلو
دۀ هغه باقی هر څوك چه پاتے وو له قومه دده اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً بیشکه چه په دے صبر دده او پیرق
د قوم دده کښ په ډیر شان هرا ئینه وِیره لویه نښه ده په کمال د قدرت حُما وَمَا كَانَ اونه وو اَكْثَرُهُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ (۱۲۱) زیات د دوئی مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او بیشکه رب ستا چه ئے هُوَ الْعَزِيْزُ هرا ئینه ګډ یر
غالب دے په اعدا وُ الرَّحِيْمُ (۱۲۲) مهربان دے په مؤمنانو كَذَّبَتْ نسبت د دروغو وکه عَادُ الْمُرْسَلِيْنَ (۱۲۳)
عادیانو رسولانو نه اِذْ قَالَ لَهُمْ یاد که هغه چه وویل دوئی ته اَخُوْهُمْ هُوْدٌ ورور د دوئی چه هود علیه السلام
وو اَلَا تَتَّقُوْنَ (۱۲۴) ایا نه ویریږئ له خدائ چه عبادت د غیر کوئ اِنِّیْ لَكُمْ بیشکه چه زۀ تاسے له رَسُوْلٌ
اَمِيْنٌ (۱۲۵) رسول یم امانتګر چه ادا د پیغام فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ویریږی له خدائ او مخالفت مه کوئ
له امره دده وَاَطِيْعُوْنِ (۱۲۶) او فرمان ومنئ حُما په ایمان راوړو کښ وَمَا اَسْـَٔلُكُمْ اونه غواړم زۀ

له تاسے عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ په رسۇ لودے پیغام خهٔ اُجرت اِنْ اَجْرِيَ نهٔ دے اجرت د رسالت حُما اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ مگر په رب دعالمیانو اَتَبْنُوْنَ ۔ آیا سازوئ تاسے بِكُلِّ رِيْعٍ په هر هسک حُائ په لوړه لاره کښ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ یوه نښه هسکه لکه برج دحمام یا بګله چه پکښ کینوئ او عبث کوئ او مسخره کوئ په تیرید ولکو پورے بے حُایه وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ او سازوئ تاسے حوضونه داوبو یا قلا کانے یا بګی چونه کچ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ بلنائیږی چه تاسے یعنی امید لرئ دے چه همیشه به اوسئ تاسے په دے دنیا کښ وَاِذَا بَطَشْتُمْ او په هغه وخت چه حمله کوئ په چا یا انتقام اخلئ له چا بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ نو حمله کوئ یا انتقام اخلئ په دے چه سرکشانه او نامهربانه اوسئ فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووپیږئ له خدائ اوا سرکشی مهٔ کوئ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۳۱﴾ اوفرمان ومنئ حُما چه ستاسے نفع په دے کښ دے وَاتَّقُوا الَّذِيْ اوووپیږی له هغه خدایه اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ چه مدد کاری ئے کړیدهٔ له تاسے په هغه څیزچه پوهیږئ پرے تاسے له رنګارنګ نعمتونو اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ مدد کاری او احسان ئے کړے دے تاسره په درکولو د چارپایانو له کښه پیلان، اوښان، غوایان، اسونه، خرهٔ، قچر، میږے، وزے وَّبَنِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ او په حُامنو چه مدد کاران اوپشتی ستاسے دی په هر وخت کښ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۳۴﴾ او په باغونو چه میوے ترے خورئ او په چینوچه هم ترے اوبهٔ څښئ اوهم ترے کښتونه اوباغونه اوبهٔ کوئ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه چه زهٔ ووپیږم په تاسے کهٔ په دے کفر خپل ثابت اوسئ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۳۵﴾ له عذابه د ورځ لوئ چه د راځ د قیامت ده قَالُوْا اونو ویل ورته عادیانو سَوَآءٌ عَلَيْنَا برابره خبره ده په مونږه اَوَعَظْتَ چه ایا پند راکړے تهٔ مونږه اَمْ لَمْ تَكُنْ اوکهٔ نهٔ اوسے ته مِنَ الْوٰعِظِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ له پند راتلونکو یعنی مونږه به په هیڅ شان دا خپل طریقه پرے نږدوړان اِنْ هٰذَآ نهٔ دے دا مرالهٔ او څوند حُمونږه یا داوعظ اونصیحت ستا اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳۷﴾ مګر عادت د پخوانیو چه هماسے پیدا کیږی اومړی اونه بیا څوندون شته اونه قیامت داویل ستا افترا اودروغ دی پخوانیو وَمَا نَحْنُ اونهٔ یو مونږه بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۱۳۸﴾ عذاب کړے شوی یه دغه کردار ونو خپلو فَكَذَّبُوْهُ پس دروغژن وبالهٔ دګی هود علیه السلام فَاَهْلَكْنٰهُمْ ؕ پس هلاک کړه مونږه دوئ لټول په باد صرصر سره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ بیشکه چه په دے هلاک دعادیانو کښ هرالتینه د پره لویه نښه ده په کمال

عه یعنی په اداکولو دامورو شرعیو سره تاسے ته چه له جانبه خدائ راغلے دے ماته عه یعنی په منلو د فرمان حُما کښ ستاسے خیر دے ۱۲

اللهم اغفرلی ۲

دقدرت خُما وَمَا كَانَ اونهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۳۹) زیات ددوئ مُومنان وَاِنَّ رَبَّكَ اوبیشکه رب ستا چه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرابیله دیرغالب دے الرَّحِيْمُ (۱۴۰) مهربان دے پـه مُومنانوچه ساتے له عذابه كَذَّبَتْ نسبت ددروغو وكهٔ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ (۱۴۱) ثمود رسولانوته اِذْ قَالَ لهُمْ یاد كه هغه چـه وویل دوئ ته اَخُوْهُمْ صَالِحٌ وړدردوئ چه صالح علیه السلام وو اَلَا تَتَّقُوْنَ (۱۴۲) ایا نه ویریږئ له خدائ چه عبادت د غیر كوئ اِنِّيْ لَكُمْ بیشكه زهٔ تاسے لره رَسُوْلٌ امِيْنٌ (۱۴۳) رالیږلے شوے یم امانتگر پـه ادا د رسالت فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ اوقبول كړئ اوامرانواهیو ددهٔ وَاَطِيْعُوْنِ (۱۴۴) اوفرمان ومنئ خُما پـه قبلولو دتوحید كښ وَمَا اَسْئَلُكُمْ اونهٔ غواړم زهٔ له تاسے عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ پـه دے نصیحت خپل څهٔ اُجرت اِنْ اَجْرِيَ نهٔ دے اجرت د نصیحت خُما اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۴۵) مگر پـه رب دعالمیانو اَتُتْرَكُوْنَ ایاپریږے بـه خوندے شئ تاسے یعنی پرے بـه نه خودی شئ فِيْ مَا هٰهُنَآ پـه هغه خیز كښ چه یئ تاسے پـه دے دنیا كښ له خوخو مساكنو او منازلو او باغونو او له نورو انواعو دنعمتونو اٰمِنِيْنَ (۱۴۶) پـه امان له آفاتو اوله سختیو اوغمونو اودردونو فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ (۱۴۷) پـه باغونو او پـه چینوكښ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ اوپـه كښتونو اوپـه خرماكانو چه طَلْعُهَا هَضِيْمٌ (۱۴۸) شكوفه دهغو نرمه اوپسته وی وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ اوكنئ اوساز وئ تاسے له غرونو څخه یعنی پـه غرونو كښ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ (۱۴۹) كوټے پـه دے حال چه ماهر یئ تاسے پـه توكلو دنیز فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدایه اوه اَطِيْعُوْنِ (۱۵۰) اومه منئ فرمان داسراف دكونكیو یعنی دكافرانو الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ هغه كسان چه فساد كوی دوئ پـه زمكه دجوړكښ پـه ظلم اوپـه كفرسره وَلَا يُصْلِحُوْنَ (۱۵۲) اواصلاح اوسازواری نهٔ كوی پـه عدل اوپـه ایمان سره قَالُوْٓا اونوویل ثمودیانوچه اِنَّمَآ اَنْتَ بیشكه همدا خبره ده چه ته مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ (۱۵۳) له جادوكړے شوے یعنی دا سے سحر دربانده شوے دے چه عقل دِ یعنی مغلوب شوے دے وَمَآ اَنْتَ نهٔ ئے تهٔ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا مگر آدمی پشان خُمونږه نوخهٔ سبب دے چه تهٔ پیغمبر شوے اوموبزه نهٔ شواوكه پـه دے دعویٰ كلك ولاړئ نو فَاْتِ بِاٰيَةٍ راوړپـه یوه نښه پـه رسالت خپل له خوا اِنْ كُنْتَ كهٔ چرے ئ تهٔ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ (۱۵۴)

---

۱۹۵ یعنی پـه یووالی دخدای كښ ۱۲ ۱۹۵ همه یعنی امید دارد ووالی پـه ژوندكښ مهٔ كوئ ۱۲ ۱۹۵ سه یعنی مخالفت له عادت نه یعنی دا سے خیز ظاهر كه چه پـه عادت كښ نه ظاهر یږئ ۱۲

له ربنتینو په دے دعوی کښی نوصالح علیه السلام ورته وویل چه تاسو څرنګه خارق غواړئ؟ دوئی
وویل چه له دغه معین تیرسے دیوه اوښه راوباسئ چه سپینه گزمے سینه وی اوهغه د فی الحال لنګه شی
اوخپل ځان قدرے بچے د راوړی بیا صالح علیه السلام دُعاوکړه نو همدا سے اوښه پیدا شوه اولنګه
شوه بیانو قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ وویل صالح صالح علیه السلام دا اوښه ده چه تاسے پخپله غوښتے ده
نو اوس لَهَا شِرْبٌ دے له برخه ده داوبو وَلَكُمْ اوتاسے لهم شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ (۱۵۵) برخه د
اوبدو وړځے معلومے یعنے یوه ورځ د اوبه دا څښی اویوه ورځ ئے تاسے پکاروی اوچه دده ورځ
وی نو تاسو له اوبو سره هیڅ غرض مه لرئ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ اولاس مه وړئ دے له په نیت د
بدئ نه په نیت دهلو او دوژلو اوکه داسے وکړئ تاسے فَيَاْخُذَكُمْ پس وبه نیسی تاسے عَذَابُ يَوْمٍ
عَظِيْمٍ (۱۵۶) عذاب دلوئ ورځے یعنی دهغه ورځے چه عذاب ئے د ډیرلوئ دے فَعَقَرُوْهَا پس حلال ئے کړه
اوښه یعنے بعضو په رضاد نورو لو سره اوعاقرئے قدار نوم وو فَاَصْبَحُوْا نادِمِيْنَ (۱۵۷) پس بیاشو دوئی
پښیمانه په دے حلالولو په وخت د نزول دعذاب فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ پس ونیول اولاندے کړه دوئی عذاب موعود
چه هغه چیغه وه دجبریل علیه السلام نو ټول هلاک شوا اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً بیشکه چه په دے هلاک
د ثمودیانو کښی هرا ئینه مړیه لویه نښه وه په کمال د قدرت خُدا وَمَا كَانَ اونه وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۱۵۸)
زیات دوئی مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ اوبیشکه رب چه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرا ئینه مړیه غالب دے چه هیڅوے نه
مغلوب کیږی الرَّحِيْمُ (۱۵۹) مهربان دے چه بے گناه څوک نه نیسی کَذَّبَتْ نسبت د دروغو وکه قَوْمُ لُوْطِ
الْمُرْسَلِيْنَ (۱۶۰) قوم د لوط علیه السلام رسولانو تهٖ اِذْ قَالَ لَهُمْ یاد کړه هغه چه وویل دوئی ته اَخُوْهُمْ
لُوْطٌ ورور دوئی چه لوط علیه الصلوة والسلام دے اَلَا تَتَّقُوْنَ (۱۶۱) ایا نه ویریږئ له خدائ چه
عبادت دغیر کوئ اِنِّيْ لَكُمْ بیشکه چه زه تاسے لره رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ (۱۶۲) دایمرے لے شوے یم امانتګر په ۱ د ا د
پیغام اوخیرخواه یم ستاسے فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ اوناروا مه کوئ وَاَطِيْعُوْنِ (۱۶۳) او
فرمان منئ خُما په ترک د ناروا وکښی وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ اونه غواړم زه تاسے عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ه په دے پند
اونصیحت خپل څه اُجرت اِنْ اَجْرِيَ نه دے اُجرت خُما مد ے پند اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۶۴) مګر په رب د
عالمیانو اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ ایا راځئ تاسے نارینه وو لره مِنَ الْعٰلَمِيْنَ (۱۶۵) له خلقو یعنے لواط کوئ وَتَذَرُوْنَ

او پریږدئ تاسے مِنْ اَزْوَاجِكُمْ ط له ښځو ستاسے یعنی ښځے پریږدئ اونارینه ګُوسره جماع کوئ بَلْ اَنْتُمْ بلکه تاسو چه یئ قَوْمٌ عٰدُوْنَ (۱۶۶) یوقوم یئ له حده تیریدونکی چه سره له وجوده د ښځو نارینه ګُوسے کَرئ قَالُوْا نو وویل ورته دوئ چه لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ هرائینه که وانهٔ وختے له دے ویلو يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ اے لوط۴ نوهرائینه شے به ته خامخا مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ (۱۶۷) له بیرون ایستلیو شویله دغه بناره قَالَ نو وویل لوط علیه السلام دوئ ته اِنِّيْ لِعَمَلِكُمْ چه بیشکه زهٔ دے عمل ستاسے سره مِنَ الْقَالِيْنَ (۱۶۸) له بغض لرونکو یم بیا له دوئ ئے ع وکړو خو لو خدائ ته اوسوال ئے وکړو چه رَبِّ نَجِّنِيْ اے ربهٔ ګم وساته ما وَاَهْلِيْ مِمَّا اوعیال ځما له شامته دهغه کارونهٔ یَعْمَلُوْنَ (۱۶۹) چه کوی ئے دوئ فَنَجَّيْنٰهُ پس وساتهٔ مونږه دے وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ (۱۷۰) او عیال ددهٔ هم اِلَّا عَجُوْزًا مګر یوه زړه ښځه ددهٔ چه هغه پاتے شوه فِي الْغٰبِرِيْنَ (۱۷۱) په بیرته پاتے کیدونکو کښ یعنی له قومه سره ځُکه چه دے ویل زهٔ له قوم سره راضی یم هرچه سره دوئ سره کیږی هغه دِ ما سره هم وشی ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ (۱۷۲) بیا هلاک کړه مونږه هغه نور یعنے قوم وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ او وراوهٔ مونږه په دوئ مَّطَرًا اړ باران دقرتکانو ډیا ډګوکړو له اوره سره فَسَآءَ پس بد وو مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ (۱۷۳) باران دهغه ویرولو شویو چه ایمان ئے رانهٔ وړو اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً بیشکه چه په دے عذاب دموتفکاتو کښ هرائینه ډیره لویه ښنه ده په کمال دقدرت خُدا وَمَا كَانَ اونهٔ وو اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۱۷۴) زیات ددوئ مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ اوبیشکه رب ستاچه دے لَهُوَ الْعَزِيْزُ هرائینه دے ډیرغالب دے چه هیڅ کله نهٔ عاجزکیږی الرَّحِيْمُ (۱۷۵) ع مهربان دے چه پخواله اکاهئ هیچاله عذاب نه ورکوی كَذَّبَ نسبت ددروغو وكَهٔ اَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ (۱۷۶) ع ۱۰ منکرود ایکے رسولانو ته او ایکه نوم دے دیو ځُنګل نږدے مدین ته چه ونے او میوے پکښ ډیرے وے نو دهغه ځُنګل اوسید ونکیو له خدائ شعیب علی نبینا وعلیه السلام ولیږه اوښلور بناره په هغه کښ وو اماده دے خپل قوم نهٔ ووځُکه نسبت دوروږے ورته ونهٔ کهٔ او وے ویل چه اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ یاد که هغه چه وویل دوئ ته شعیب علیه السلام چه اے خلقو اَلَا تَتَّقُوْنَ (۱۷۷) ع اَيا نهٔ ویریږئ تاسے له خدائ چه عبادت دغیر کوئ اِنِّيْ لَكُمْ بیشکه چه زهٔ تاسے لره رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ (۱۷۸) رسول یم اما منګر په تبلیغ درسالت فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویریږئ له خدائ اوکفر او تکذیب مهٔ کوئ وَاَطِيْعُوْنِ (۱۷۹) ع اوفرمان ومنئ ځُما په تَرك دمناهیو کښ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ او نهٔ غواړم زهٔ له تاسے عَلَيْهِ

۴ یعنی په ندکولو دهغه کارونو کښ چه شریعت منع ترے کړے ده ۱۲

مِنْ اَجْرٍ ۚ په دے تبلیغ ځۀ اُجرت اِنْ اَجْرِیَ نۀ دے اُجرت حُما اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۸۰﴾ مګر په رب د عالمیانو اَوْفُوا الْکَیْلَ پوره کوئ پیمانه په هغه وخت چه چا تر غله پیمانه کوئ وَلَا تَنْقُصُوْا اومۀ کیږئ مِنَ الْمُخْسِرِیْنَ ﴿۱۸۱﴾ له کم پیمانه کونکیو ځنه وَزِنُوْا اوبل دا چه تول کوئ بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِیْمِ ﴿۱۸۲﴾ په تلے برابرے یعنی په ډنډئ مۀ وهئ په وخت د تول کښی وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اومۀ کوئ خلقو ته اَشْیَآءَهُمْ خیزونه د دوئ یعنی په کم تول سره د دوئ حقوق مۀ ستنوئ وَلَا تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ اومۀ یرفساد مۀ کوئ په زمکه کښی په ۵ قتل او په غارت او په قطع د طریق سره اوداکار ونه به دوئ کول ځکه ترے منع شو مُفْسِدِیْنَ ﴿۱۸۳﴾ په دے حال چه فساد کونکی اوسئ وَاتَّقُوا الَّذِیْ اوڅان وساتئ له عذاب د هغه خدائ خَلَقَکُمْ چه پیدا کړی یئ تاسے وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۸۴﴾ اوهغه پخوانے تیر مخلوق ان ترادم علیه الصلوة والسلام پورے قَالُوْٓا نو وویل ورته دوئ چه اِنَّمَآ اَنْتَ بیشکه ته مسحور یې خبره ده چه تۀ مِنَ الْمُسَحَّرِیْنَ ﴿۱۸۵﴾ له جادو کړیو شویو ئے یعنی چا درباندے جادو کړے دے اوعقل درڅخه یعنی تلے دے وَمَآ اَنْتَ اونۀ ئے تۀ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا مګر یو سړے ئے په شان حُمونږه په هرڅۀ کښ نو ستا پیغمبری نۀ منو وَاِنْ نَّظُنُّكَ اوبیشکه چه مونږه ګمان کوو په تا لَمِنَ الْکٰذِبِیْنَ ﴿۱۸۶﴾ هر اینۍ له دروغژنو یې نو په دغه دعوئ کښی فَاَسْقِطْ عَلَیْنَا پس راوغورځوه په مونږه باندے کِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ توته توته له اسمانه اِنْ کُنْتَ کَهٗ چرے ئے تۀ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۱۸۷﴾ له رښتینو یې دے کښی چه عذاب به په مونږه راشی قَالَ رَبِّیْٓ اَعْلَمُ نو وویل شعیب علیه السلام چه رب حُما ښۀ پوهه دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ په هغه کار نو چه کوئ ئے تاسے **روایت دے** چه هرکله انکار او سرکشی د اصحاب ایکه له حده تیره شوه نو اوۀ څپے او وریځ پرے خدائ د اسے سخته کړی راوسته چه د کوهیو او چینو او بۀ ئے په جوش راغلے او دوئ هم ډیر بے طاقته شو نا کاه توره وریځ راپیدا شوه اوبخ باد هم راوالوت نو دوئ ډیر خوشحاله شو او ټول سوری لاندے راجمع شو نو ناڅاپه اور تږے راوورید ۀ او دوئ ټول پرے وسوله چه وائ ۔ فَکَذَّبُوْهُ پس نکذیب وکړۀ دوئ د شعیب علیه السلام فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ یَوْمِ الظُّلَّةِ ؕ پس ونیول یعنی لاندے کړه دوئ عذاب د وریځے د سایه وان د وریځے یاد عزۀ اِنَّهٗ کَانَ بیشکه چه د اعذاب د دوئ د

---

۵ یعنے په وژلو او په غوبت او په شو کولو د لارے سره ۱۲

عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (۱۸۹) عذاب د لوئی ورځې اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۖ بیشکه چه په دے عذاب د اصحاب الایکهٔ کښ هرائینه ډیره لویه نښه ده په کمال د قدرت خُدا وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (۱۹۰) زیات د دوئی مؤمنان وَاِنَّ رَبَّكَ او بیشکه رب ستا چه دے هُوَ الْعَزِيْزُ هرائینه ډیر غالب کونکے دے د انبیاؤ علیم الصلوٰة والسلام په اعداؤ الرَّحِيْمُ (۱۹۱) مهربان دے په انبیاؤ او په تابعانو د دوئی وَاِنَّهٗ او بیشکه دا قرآن چه دے لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۹۲) هرائینه رالیږلے دے رب د عالمیانو په دے شان چه نَزَلَ بِهِ راکوز شوے دے په دغه قرآن سره الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ (۱۹۳) روح امانتکر چه جبریل علیه السلام دے عَلٰى قَلْبِكَ په زړه ستا لِتَكُوْنَ دپاره د دے چه اوسے مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ (۱۹۴) له ویرونکیو د خلقو له عذاب بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ (۱۹۵) په ژبه د عربی بنکاره سره او پخوا له رسول علیه السلام په عربی ژبه سره خلورو پیغمبرانو ویرول کړی دی چه هود او صالح او اسمٰعیل او شعیب علیهم الصلوٰة والسلام دی وَاِنَّهٗ او بیشکه دا قرآن چه دے لَفِيْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ (۱۹۶) هرائینه په کتابونو پخوانیو کښ پروت دے احوال د دهٔ یا معانی د دهٔ **روایت دے** چه مشرکان د عرب وبه د احبارو د بنی اسرائیلو له پخوا و رتلهٔ پر باب د حواد ثو خپلو کښ اوښیا د دوئی په کفته بهٔ عمل کولو او د غه د دوئی قول به ٔ حجت کولو هم نو ځکه رب العزت وائی چه اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ ایا نهٔ ده دے مشرکانو د قریشو له نښه په صحت د قرآن یا په نبوت د محمد صلے الله علیه وسلم اَنْ يَّعْلَمَهٗ داچه پوهیږی په دے قرآن سره له صفت د دهٔ یا په دے پیغمبر سره له نعمت د دهٔ عُلَمٰٓؤُا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ (۱۹۷) عالمان د بنی اسراءیلو چه پوهند ه د خلقو دی وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ اوکه رالیږلے وے مونږ دا قرآن عَلٰى بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ (۱۹۸) په بعض له عجمیانو یعنی په کوم عجمی باندے په عربی ژبه سره فَقَرَاَهٗ عَلَيْهِمْ پس لوستے وے دے عجمی دا قرآن په دوئی په عربی سره مَّا كَانُوْا بِهٖ نو نه به وو دوئی په دے قرآن مُؤْمِنِيْنَ (۱۹۹) ایمان راوړونکی له دے جهته چه ویل به ٔ عرب له عار د ے چه د عجم متابعت کوی اوکهٔ په عربی ژبه نهٔ وے د قرآن۔ نزویل به ٔ چه مونږه د ٔ په معنیٰ نهٔ پوهیږو كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ همدا سے ننه ایستلے دے داعناد او انکار فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ (۲۰۰) په زړونو د مشرکانو د مکے کښ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ چه ایمان نهٔ راوړی دوئی په دے قرآن حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ (۲۰۱) ترهغه پورے چه وویني عذاب د ردناك په دنیا کښ د باقی امو په شان او یا په قیامت فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً پس راشی د هغه عذاب دوئی لدیونافاً

وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (۲۰۴) اوحال داچه دوئی پوهه نه وی په وخت دراتلوئ فَيَقُولُوا پس بیا نو وائی دوئی له
ډیره افسوسه چه هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُونَ (۲۰۵) آیا بو مونږه مهلت راکړے شوی یعنی آیا مونږه له به څوا مهلت
راکړی چه بیرته ورشو او تصدیق وکړو أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ (۲۰۶) آیا پس په راتلود عذاب څمونږه جلتی
کوی دوئی چه وائی أَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً اوفتا تنا بما تعدنا اوسره له دے راتلود عذاب هم مهلت غواړی
أَفَرَءَيْتَ آیا پس وینے ته إِنْ مَتَّعْنَاهُمْ کړے ژوندون اومعاش ورکړو مونږه دوئی لره سِنِينَ (۲۰۵) څو
کاله چه بنهٔ معاش پکښ وکړی اود زړه ارمانونه پکښ وباسی ثُمَّ جَاءَهُمْ بیا راشی دوئی له مَا كَانُوا
يُوعَدُونَ (۲۰۷) هغه عذاب چه وو دوئی چه وعده کړے شوے وه دهغه له دوئی سره مَا أَغْنَىٰ عَنْهُمْ دفع
به نهٔ کاندی عذاب له دوئی مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ (۲۰۸) هغه چه وو دوئی چه هغه معاش ئے کولو یعنی
اوږد د تمتع ددنیا دافع کیدلے نهٔ شی د عذاب وَمَا أَهْلَكْنَا اونهٔ دی هلاک کړی مونږه مِن قَرْيَةٍ هیڅ
بنار إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ (۲۰۹) مګر چه وو به هغه بنار له ویرونکی ذِكْرَىٰ تښ د پاره د پند ورکولو یعنی اول به
مو پیغمبران ورولیږل چه دوئی به ئے توحید ته دبلل او له عذابه به ئے ویرول بیا چه دوئی به سرکشی
وکړه نو هلاک به مو کړه وَمَا كُنَّا ظَالِمِينَ (۲۰۹) اونه بو مونږه ظالمان چه پخوا له ویرولو او اګاهئ به موهلاکول
روایت دے چه مشرکانو به ویل دا چه شیطانان محمد صلے الله علیه وسلم ته د قرآن بنائی اود ے ئے بیا
مونږ ته وائی نو نازل شو وَمَا تَنَزَّلَتْ اونهٔ راکو زیږی بِهِ الشَّيَاطِينُ (۲۱۰) په دے قرآن سره شیطانان یعنی
شیطانان ورته تعلیم د قرآن نهٔ کوی وَمَا يَنبَغِي لَهُمْ اونهٔ بنائی دوئی لره دا وول وَمَا يَسْتَطِيعُونَ (۲۱۱) اونهٔ
طاقت اونهٔ قدرت لری د راوړلو ځکه چه ملایک او لیږے داوړئے مانع دی له تللو اسمان ته إِنَّهُمْ عَنِ
السَّمْعِ بیشکه چه دوئی له اوریدلو د ملایکو کَلَمَعْزُولُونَ (۲۱۲) خو اسمنه منع کړے شوی دی په لمبو سره
فَلَا تَدْعُ پس مهٔ بولـه تهٔ مَعَ اللَّهِ له خدائ سره إِلَٰهًا آخَرَ بل خدای لکه چه دوئی درته وائی اوکه داسے د
وکړه فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ (۲۱۳) پس شے به ته له عذاب اوکړے شویو وَأَنذِرْ او ویروه اے رسوله عَشِيرَتَكَ
الْأَقْرَبِينَ (۲۱۴) هغه خپلوان چه نږدے دی درته له عذابه بیا پس له نزول د دے ایت رسول علیه
السلام کوه صفا ته اوخوت اوغږ ئے وکړه چه اے بنی عبد المطلب! اے بنی ها شمو! اے بنی عبد مناف!

عه یعنی چه وَرَهْطَكَ په سوره بانده کانړے یا راوړه مونږه ډره هغه څیز چه وعده کړے ده تاله مونږه سره ۱۲ منه یعنی څو صفاته ۱۲

اے عباس حُما تره اے صفیے حُما تر درے تَوَل له عذابه حُان خلاص کړئ چه زهٔ له تاسے هیڅ نشم دفع کولے وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ اوښکته کهٔ ومن رخیل دا کنایه ده له مهربانئ یعنی تواضع اومهربانی کوه لِمَنِ اتَّبَعَكَ هرهغه چا لره چه پیروی ئے کړیده ستا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ (۲۱۵) له مؤمنانو څخه فَاِنْ عَصَوْكَ پس که بے فرمانی وکړه دے خپلوانو لره نا اوستا متابعت ئے ونه کهٔ فَقُلْ اِنِّيْ پس وایه وړته چه بیشکه زهٔ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ (۲۱۶) بیزاره یم له هغه کاره چه کوئ ئے تاسے وَتَوَكَّلْ او توکل وکړه پسه هتوله مهمتا توخپلو کښ عَلَى الْعَزِيْزِ پسه هغه خدای چه غالب اوقادر دے پسه قهر اعداؤ الرَّحِيْمِ (۲۱۷) هم مهربان او توانا دے پسه نصرت دا ولیاؤ الَّذِيْ يَرٰىكَ هغه خدائ چه وینی تاحِيْنَ تَقُوْمُ (۲۱۸) هغه وخت چه پاخیرے د شپے یولڅے د پاره د تهجد کذارلو وَتَقَلُّبَكَ او اوختل ستا هم وینی فِي السّٰجِدِيْنَ (۲۱۹) پسه له د ساجدانو کښ یعنی پسه صف د مصلیانو کښ چه امامت کوے د دوئ او قیام رکوع سجود قومه جلسه قعدهٔ کوے ترانّهٔ بیشکه دے چه دے هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (۲۲۰) همدے اوریدونکے دانا دے هَلْ اُنَبِّئُكُمْ ایا خبر کړم زهٔ تاسے اے مشرکانو عَلٰى مَنْ پسه هغه چا باندے له خلقو تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ (۲۲۱) راکوزیږی شیطانان بیا پخپل وائی چه تَنَزَّلُ راکوزیږی دوئ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ (۲۲۲) پسه هرد روغژن کذاب مرتکب د کناهونو يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ چه یږدی داشیطانان غوږ ملاکوی اسمان ته یا دغه کذابان شیاطینو ته وَاَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ (۲۲۳) اوزیات دوئ دروغژن دی نو لږ څهٔ هغو اوری اونور له حُانه ورسره پیږیوندکه او بیا خپلو دوستانو ته ئے وائی

روایت دے چه څوشاعرانو د کفارو پهٔ ذم د رسول علیه الصلوة والسلام اودین د اسلام څه اشعار ویلی وو الهغه بیا مشرکانو نزے یاد کړے وو اوهرچرته بهٔ ئے په مجلسونو کښ ویل نو نازل شو وَالشُّعَرَآءُ او شاعران چه دی يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ (۲۲۴) پیروی کوی دوئ لیونی کم عقل یا مشرکان یا شیندونکی داشعارو دوئ اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ ایا نه وینے تهٔ چه بیشکه دوئ فِيْ كُلِّ وَادٍ په هره کنده له انواع دکلا يَهِيْمُوْنَ (۲۲۵) ځی روان وی سرګردان په هرفن د دروغو کښ لکه افراط یا تفریط شو په مدح یا په ذم دچا کښ یا مبالغه پهٔ هجو یا په عطا اومنع دچا کښ یادا سے نور شو وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ اوبل داچه وائی دوئ په څهٔ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ (۲۲۶)

---

۱۹ یعنی په سخت کار ونو خپلو کښ ۱۲ ۲۰ یعنی په بدئ د رسول علیه السلام او په بدئ د دین د اسلام کښ ۱۲ ۲۱ یعنی دیونکی اوخوردکی ۱۲ ۲۲ یعنی له قسم نو دخبرونو نه ۱۲ ۲۳ یعنی دیا توالے په بدئ دچا کښ اوکمولے په صفت دچا کښ ۱۲

هغه کار چه کوی به ئے نه۔ نکه دروغ او وعده مخلافی او خپل حسن ایت او لوئی او دا ئے نورهم **روایت دے** چه پس له نزول د دغه ایت حسان بن رواحه او نور شاعران د اصحابو رسول علیه السلام ته وویل چه خدائ خو مطلق شاعران یاد کړی دی او موږ نورهم شاعران یو نو ویریږو چه مبادا په دے صفت مړه نه شو موږه نو د ورته وویل چه مؤمن کله په توره جهاد کوی او کله په ژبه او دغه اشعار چه تاسے ئے وایئ د دوئ په هجو اد په ذم کښ هغه په دوئ ډیر سخت ګڼیږی له تورے اوله نیزے او دا ایت نازل شو **اِلَّا الَّذِیْنَ** اٰمَنُوْا شاعران اول مذموم دی مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے **وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ** او عملونه کوی دوئ د نیکو یعنی چه مدح کوی د پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام د مؤمنانو او ذم کوی د کفارو **وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا** او یاد وی دوئ خدائ ډیر په اشعارو خپلو کښ په توحید او په تمجید او په حرص د طاعت او په منع له معصیت له غفلته **وَانْتَصَرُوْا** او انتقام اخلی دوئ په هجو د کفارو سره **مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا** د پس له هغه چه ظلم کړے شو ېدے په دوئ یعنی چه اول کفارو هجو د رسول علیه السلام یاد مؤمنانو کړی دی او دوئ په هغه بدل کښ هجو د دوئ وکه نو دا معاف دے بلکه جهاد دے **وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا** او زر دے چه معلومه به کړی هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے په کفر سره **اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ** ﴿۲۲۷﴾ چه کوم ځائ لره به لاړ شی دوئ۔ ع ۱۵

سُوْرَةُ النَّمْلِ ۲۷ مَكِّيَّة ۲۸ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۵ — اٰيَاتُهَا ۹۳ رُكُوْعُهَا

طٰسٓمٓ ته په دے کښ هم هر څه نکه تاویلات کړی دی متاخرینو په مثل د پخوانیو مقطعاتو چه یو ترے دا دے چه طٰ له طلبه او سٓ له سلامته دے یعنی قسم کوم په طلب د سالکانو او په سلامت د زړه نود دوئ له غیر چه **تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ** د اسورت ایتونه د قرآن دی **وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ** ﴿۱﴾ او د هغه کتاب چه بنکاره کونکے دے د احکامو د حلالو او د حرامو او قرآن ئے د ویل ورته حکمه چه لوسته شی او کتاب حکمه چه بنکل شی **هُدًى وَّبُشْرٰى** د لارښود ولے دے سم او زیږے کونکے دے **لِلْمُؤْمِنِيْنَ** ﴿۲﴾ **الَّذِيْنَ** په هغه مؤمنانو **يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ** چه برپائ کوی موږ خپل یعنی ادا کوی ئے سره له نورو حقوقو د ده **وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ** او ورکوی د دوئ زکوٰة د اموالو خپلو مستحقانو له **وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ** او د دوئ په درج د قیامت **هُمْ يُوْقِنُوْنَ** ﴿۳﴾ هم دوئ

یقین لری چه راتلونکی دے بے شبهه إِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان چه دی لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه
ایمان نه راوړی دوئ په ورځ د قیامت زَيَّنَّا لَهُمْ بنایسته کړی دی مونږه دوئ اَعْمَالَهُمْ عملونه د دوئ
چه بد دی فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ④ پس دوئ سرګردان دی په خپلے ګمراهئ کښ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا هغه کسان
دی لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ چه مقرر دے دوئ لره بد ترعذاب په دنیا کښ چه قتل او بندونه په ورځ د بدر
وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ او دوئ چه دی په قیامت کښ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ⑤ هم دوئ زیانکاران دی چه له
ثوابه محروم اولایق د عقوبت شو وَاِنَّكَ او بیشکه چه تهٔ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ هر اثینه بنودلے کیږی او
تلقین کولے شی د رته د اقران مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ له طرفه د هغه خدائ چه پُرحکمته دے عَلِيْمٍ ⑥ دانا
په هر څهٔ اِذْ قَالَ یاد کړه هغه چه وویل مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ موسی علیه السلام میال خپل ته په هغه لاره کښ
چه له مَدْيَنَ مصر ته روان و وَاٰنَسَ تهٔ لیدلے نَارًا بیشکه چه ما ولیدهٔ اوله لرے خایه سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بَخَبَرٍ
زه درځم چه به راوړم تاسے له هغه حال د لارے او د اخلم چه هغه شپه کښ لاره ترے ورکه شوے وه اَوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ یا
به راوړم تاسے له هغه شپاږه قَبَسٍ لمبه لګولے د سړد پلټے یا د لرګی لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ⑦ بنائ چه تاسے
تاوده شئ په هغه او فَلَمَّا جَآءَهَا پس هرکله چه راغے موسی علیه السلام هغه او لره چه له ورایه ئے
لیدله وو په شپه کښ نُوْدِيَ اَنْۢ بُوْرِكَ نوغږ وکړے شوچه برکتناك کړے شوے دے مَنْ فِي النَّارِ
هغه څوك چه په اور کښ دی چه دا بقعه یا ملائك دی وَمَنْ حَوْلَهَا او هغه څوك چه چاپیرد ی له دغه
اور څه چه موسی علیه السلام دی وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ او وویایه اے موسی چه پاکی ده خدائ لره له شریکه
رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ⑧ چه رب دے د عالمیانو له شریك يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اے موسی شان داد ے چه اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ ⑨ زهٔ یم خدائ غالب پُرحکمته وَاَلْقِ عَصَاكَ او وغورځوه دا هسے اړه په زمکه نوده وغورځوله
او فی الحال یو لوی مار شوه او بیا له خایه وخوځیده له په اختیا ردتک فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ پس هرکله چه ولید له
ده دا هسے چه حرکت کوی په اضطراب سره او منډے وهی هر طرف ته كَاَنَّهَا جَآنٌّ چه گویا که دا هسے
یو مار دے وړوکے جلت او بل ایت کښ دی چه اذا هی ثعبان یعنی ناګاه دے لوئ بنامار وو نوچاویلی
دی چه په وخت د غورځولو کښ به جان وو او بیا روستو به ثعبان شو او چاویلی دی چه دلته جان وو او
بیا فرعون څخه ثعبان شو حاصل دا چه هرکله موسی علیه الصلوة والسلام دا مار ولید وَلّٰى مُدْبِرًا نو مخ ئے

ترے وگرخولو پہ دے حال چہ پہ تیختہ دولہ وبیرے دھنۂ وَّلَمْ يُعَقِّبْ ط او راونۂ گرخیدۂ بیرتہ او بیا غږ
وبرتہ وشوچہ يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ قف اے موسیٰ مۂ ویرپرہ لہ بل هٰيِهَا غير لہ ما اِنِّيْ لَا يَخَافُ بیشکہ زہ چہ پیغمبر نۂ
ویرپرے لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۱۰ ما مخہ لپرلے شوی مُحَمَّدٍ اِلَّا مَنْ ظَلَمَ لیکن ویرپرے هغه خوک غیر لہ انبیاؤ
کُلہ چہ دوئ ظلم نۂ کوی چہ ظلمے کړے وی پہ خان خپل یا لہ رسولانو چہ دا سے ذلت ترے صادر شوے
وی چہ دے پرے ماذون شوے نۂ وی لہ هغه قسمه چہ صدورئ کیږی لہ انبیاؤ لکہ لہٰذا اولہ یونس
اولہ داؤد او لہ سلیمان علیهم الصلوة والسلام ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا ۢ بیا پہ بدل کښ راوړی
دے نیکی یعنی توبہ بَعْدَ سُوْٓءٍ پس لہ بدئ چہ گناہ دہ فَاِنِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۱۱ پس بیشکہ چہ زہ
بخښونکے یم دتوبہ کونکیو مهربان یم پہ دوئ وَاَدْخِلْ يَدَكَ اوننه باسه لاس خپل فِيْ جَيْبِكَ پہ
گریوان دقمیص خپل کښ اوبیا ببرته ئے راوباسه تَخْرُجْ بَيْضَآءَ چہ راووځی نک سپین څلیدونکے
نورانی مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ قف بے علت دبرګوالی پس دا دواړه معجزے چہ حساب دی فِيْ تِسْعِ اٰيٰتٍ پہ هغه نهو
معجزو کښ چہ درکړے شوی دی تالرہ نولارشه او دا یوسه اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ط فرعون او قوم ددۂ تہ اِنَّهُمْ
كَانُوْا بیشکہ دوئ چہ دی دی دوئ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۱۲ دلہ فاسقانو فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ پس هرکله چہ راغلۂ
فرعون اوقوم ددۂ تہ یعنے وښودلے شو ورتہ اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً معجزے حُمونږه بنکاره پہ دا ك قَالُوْا هٰذَا
نو ویل فرعونیانو چہ دا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۱۳ جادو دے بنکاره وَجَحَدُوْا بِهَا او منکر شو دوئ پہ دے
معجزو وَاسْتَيْقَنَتْهَآ او حال داچہ پہ یقین معلوم وے دا معجزے چہ پہ حق دی اَنْفُسُهُمْ خانونو
ددوئ تہ اما انکارئ کولو ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ۃ له جهته دظلمه او سرکشئ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ پس وګوره
چہ څرنګه وہ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ۱۴ ع اخره خاتمه دمفسدانو چہ پہ دنیا کښ ټول غرق شو پہ دریاب
کښ او پہ اخرت کښ بہ پہ دوزخ کښ سوزی وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ او هرڅینه پہ تحقیق درکړے وہ مونږه
داؤد علیه السلام لره وَسُلَيْمٰنَ او سلیمان علیه السلام لره چہ خوئ وو ددۂ عِلْمًا ج پوهه پہ احکامو د
شریعت او پہ خبرو دمرغانو او اسے نورهم وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ او دویل دوئ دواړو وچه ثناوه هغه
خدائ لره چہ فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۱۵ لہ هغو بندګانو

عہ اوهغه ذلت چه له دوئ صادر شوے دے هربو پخپل خپله قصه کښ ذکر دے ۱۲

خپلو چه مؤمنان دی وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ او میراث واخست سلیمان علیه السلام دَاوٗدَ له داود علیه السلام څخه نبوت یا علم یا بادشاهی چه دے دپلار په ځای ودریدهٔ غیرله نورو خامنوے چه نوس وو وَقَالَ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اووویل سلیمان علیه السلام چه اے خلقو عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ بنودلی شوی دی مونږه ته خبرے د مرغانو لکه چه **روایت دے** چه یوه ورځ بلبلے نعرے وهلے او رقص ئے کولو نو دهٔ وویل چه دا بلبله وائی چه من مانیمه خُرما خورلے ده خاورے دی دنیا۔ اوبیا کوترے غږ وکهٔ نو دهٔ ووېل چه دا وائی کاشکے چه دا خلق نه وے پیدا شوے او دا سے نورے پرځکایات کتابونو راوړی دی وَاُوْتِيْنَا او راکړے شوېدے مونږه ته مِنْ كُلِّ شَيْءٍ له هغه څیز چه ورکاوهٔ شی انبیاؤ او ملوکو ته اِنَّ هٰذَا بیشکه دا چه دے لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾ هرا ئینه فضل دے ښکاره **روایت دے** چه میدان د جمع کیدلو لښکر د سلیمان علیه السلام سل فرسخ اوږد اوهم دا سے پلن وو او په دیو کښی بیا پنځو ویشت فرسخه دانس او دا سے دجن او دا سے دوحوشو او دا سے د طیورو او زمرئ ئے د بنبینو کوتے وے چه په درے سوه کښی به ئے منکوے او په اوهٔ سوه کښی به ئے سزیتے وے۔ او جن یو بساط ولهٔ اودلے وو له ریښمو او سرو زرو چه یو فرسخ اوږد اوهمدا سے پلن وو نو دا بساط به واچولے شو او د هغهٔ په مینځ کښی به تخت د دهٔ کیخودئ شو چه له سرو زرو اوله سپینو زرو جوړ وو نو دے پرے کینا ست اوله دے تخته چاپیره به شپږ لکهه کرسئ کانے کیخودے شوے څهٔ له سرو د پاره دانبیاؤ اوڅهٔ له سپینو د پاره د علماؤ اوله دوئ چاپیره به عام خلق د انسُ اوله هغوچاپیره جنو اود دیوانو وو اومرغانو به پاس صفونه وترل اوزمرئ به ئے سره او دل د پاره د سوئ کولو بیا نو امر به ئے وکهٔ باد ته چه دا بساط به ئے له هرځهٔ سره پورته کهٔ او بیا به ئے روان کهٔ او دیو ئے میاشتے مسافت به ئے ترصبا قطع کولو او دیوے به ئے بیکا لکه چه وائی وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ او جمع کړے شود پاره د سلیمان علیه السلام جُنُوْدُهٗ لښکرے د دهٔ مِنَ الْجِنِّ له پیریانو وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ او له انسانو او له مرغانو فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ پس دوئ به راحصارولے شو یعنی اول ئے د پاره د دے چه اخرئ هم ورسره یو ځای شی یوه ورځ داجنود له شامه راروان شوېمن ته حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا ترهغه پورے چه راغله دوئ عَلٰى وَادِ النَّمْلِ د په کنده د میږو یو چه په شام کښی یا په طایف کښی وو قَالَتْ نَمْلَةٌ نو وویل یوے کُنډے میږئ چه مشره وه د میږو یو دهغه وادی او نورو ئے طاغیه یا منذره وو او په قد ردچرلے یا ډکے یا دلیو به غټه

وہ یہ ھغہ وخت چہ لښکرئے ولید لہ وریا یہ نو یہ ھسک ځائ وختہ او یہ زورہ ئے نعرے کړے چہ یَاَیُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا اے میږیو نوئ ؤ ټول مَسٰكِنَكُمْ ۚ سوړ ځیلو تہ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ چہ مات او چیتنہ ئ کہ ځامخا تا سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ لا سلیمان علیہ السلام اولښکرے ددہ ؤ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۸﴾ اوحال داچہ دوئ بہ پوھہ نہ ؤی ستاسے یہ پاسُا لولو نو اواز دے میږیئ باد لہ دریے کړو وہ مسافتہ د سلیمان علیہ السلام یہ غوږ ولګولو فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا پس تبسم ئ وکہ یہ دے حال چہ خندا کو نکے وو دے مِّنْ قَوْلِهَا لہ کمتارہ لہ تعجبہ د زیرکئ یا د نصیحت د دے میږیئ نو رو میږیو تہ **روایت دے** چہ سلیمان علیہ السلام دا بیا را وبللہ او ورتہ ئے وویل چہ حُما د اخر ښکہ چینتول ویل حُما لښکر خو ظلم نہ کوی او بل دا چہ یہ ھوا دے نو دے ورتہ وویل چہ حُما غرض پاسُا لی د زیرنو وہ چہ یہ لید لو د دغہ جاہ او جلال او د دغہ د بے یہ مشغول شئ او لہ یاد د خدائ بہ غافل شی بیائے پوښتنہ ترے وکړہ چہ ستاځومرہ لښکر دے دے وویل حُما ځلور زرہ سرکرد کان دی او لہ ھر یو سرکردہ سرہ ځلور زرہ نقیبان دی او لہ ھر یو نقیب سرہ ځلو بښتہ میږی دی بیائے ورتہ وویل چہ دا لښکر د بیرون ولے نہ راوکا وے نو دے ویل چہ مونږ لہ خوئ د زمکے څ راکښے ووخو مونږہ قبول نہ کہ ؤ او زمکے لاندے پټ شو چہ غیر لہ خدائ بل ھیڅوک را باندے خبر نہ ؤی بیا نو جناب د رب تعالےٰ څ کہ ؤ پارہ د اداد شکر وَقَالَ او دے ئے وویل چہ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اے ربہ حُما الھام وکړہ ماتہ یعنی پہ زړہ کښ ږ دا چوہ اَنْ اَشْكُرَ دا چہ شکر کوم نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ دھغہ نعمت ستا چہ محض پہ مھربانئ خپلے سرہ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ انعام کړے دے تا پہ ما وَعَلٰى وَالِدَيَّ او پہ مور او پلار حُما وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا او بل دا چہ عمل کوم د نیکو ھغے عمل ترضہ ئ چہ خو نبوے تہ ھغہ عمل وَاَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ او داخل کړہ مَا پہ مھربانئ خپلے سرہ فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾ پہ تولو ھغہ بندگانو خپلو کښ چہ نیکان دی **روایت دے** چہ پہ ھمد غہ سفر کښ یوہ ورځ سلیمان علیہ السلام پہ یو د اسے د الګ کښ وار ول چہ او بہ ؤ پکښ نہ وے بیا چہ وخت د ماښکہ راغے او د اد اسہ او بہ ؤ پیدا نہ ؤ شو نو ھُدھُد عہ ئے طلب کہ ځکہ چہ او بہ تر زمکے لاندے د ؤ تہ بہ بنکاریدے نو پہ ھر ځائ کښ چہ بہ نزدے وے ھغہ ځائے بہ دہ وخود ؤ او د یرانو بہ زړ وکنو د ؤ او بہ ئے بہ راوویستے نو ځکہ ھُدھُد لتاو ولکہ چہ وائی وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ او تول

عہ ھُدھُد یعنی ملا چرکٹ ۱۲

وکړه سلیمان علیه السلام د مرغانو دپاره دهد اودکړ پکښ بیاننوښته فَقَالَ مَالِيَ پس وویل دهٔ چه څهٔ چل دے په ما لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ځکه نهٔ ویښم زه هُدهُد یه طایفه د مرغانو کښ ایا پکښ نشته اوکهٔ زهٔ ئے نهٔ ویښم اَمْ كَانَ بلکه دے دا هُدهُد مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ﴿۲۰﴾ له پناه شویو له طایفے د مرغالو لَاُعَذِّبَنَّهٗ هر اُئینه عذاب به ورکړم زهٔ خامخا دهٔ له دپاره د تادیب چه بے اذنه حُما تللے دے عَذَابًا شَدِيْدًا عذاب سخت لکه ایستل د بنرکو او نورو ته اچول یا خوړل میږ پوتنه چه خوری ئے یا اچول یه قفس کښ له مخالف جنس څپل سره اَوْ لَاَاْذْبَحَنَّهٗ یا هر اُئینه ذبح به کړم زه خامخا دے اَوْ لَيَاْتِيَنِّيْ یا به هر اُئینه راوړی دے خامخا ما له سُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۱﴾ دلیل ښکاره په عذر څیل باندے فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ پس درنګ وکهٔ هُدهُد نه لږے یعنی زرا ځے او سلیمان علیه السلام عتاب ورته وکهٔ نوده وویل چه کار پسے تللے وم سلیمان علیه السلام ترے پوښتنه وکړه چه څهٔ کار وو؟ فَقَالَ اَحَطْتُّ پس وویل ده چه احاطه وکړه ما یعنے په سراو په یخ خبر شوم بِمَا لَمْ تُحِطْ به په هغه څیز چه احاطه نهٔ ده کړے تا په هغه باندے وَجِئْتُكَ او راغلے یم تاله مِنْ سَبَاٍ له بنا دسبا اَنْۢبَاٍ یقینی ﴿۲۲﴾ په دا سے خبر چه یقین دے نو سلیمان علیه السلام پوښتنه ترے وکړه چه د هغه ملک بادشاه څوك وو او دین دهغوځهٔ وو نو هُدهُد وویل اِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً بیشکه چه ما بیاموندله یوه ښځه تَمْلِكُهُمْ چه بادشاهی ئے کوله د دغه اهل دسبا چه نوم ئے بلقیس دے بنت سراحیل بن مالک بن ریان او پلار ئے بادشاه وو دیمن اوبے دے لوړه ئے نور اولاد نهٔ ووځکه بادشاهی بیادے شوه پس له پلاره وَاُوْتِيَتْ او ورکړے شوے دے دغه ښځے لره اسباب مِنْ كُلِّ شَيْءٍ له هر هغه څیزه چه بادشاهان ورته محتاج کیږی وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾ اودے دے یو تخت دیر لوئے چه اتیا گزه اوږد او اتیا پلن او اتیا هسک اوله سروزر واوله سپینو زرو ساز ووجړاؤ په ملغلرو او په سرو یاقوتو آوِيْشو زبرجدو او په زمرډ او خلور واړه څنے ئے هم درسو یاقوتو او دشو زبرجد واد و زمرډو ئے او اوهٔ ئے کوچے وے یوه له بلے دنده او هرے کوټے له دروازه وه دنده په بله کوټه کښ او دغه اوه واړه دروازے بے ئے پورے کړے ئے او د اپه اومه کوټه کښ پرته وه مګر چه کوم حاجت به وو نو به را وته له ضروره او د او ئے ټول مجوسیان وو چه نمر ته بهٔ سجدے کولے لکه چه وائی وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا بیاموندله ما دا ښځه او قوم دے يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ چه سجدے کوی دوئ نمر ته مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ او

بناسته کړی دی دوئ ته شیطان اَعْمَالَهُمْ مملوند دوئ چه عبادت ئ دنمر اوکه نور قبیح عملوند دی فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ پس حصار کړی ئ دی دوئ له سمے لارے فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ (۲۴) پس دوئ نشی برابرکیدے په سمے لارے اَلَّا يَسْجُدُوْا دا کار چه سجدهٔ نه کا دوئ لِلّٰهِ الَّذِيْ هغه خدائ ته يُخْرِجُ الْخَبْءَ چه راوباسی او بنکاره کوی دے هغه پټ څیز نونه اوداحبٔ مصدر دئ په معنیٰ دمخبوء فِي السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونو کښ دی لکه نمر اوسپوږمئ اوستوری چه هیڅ ئ له مشرقه راوباسی اوبنکاره کوی ئ وَالْاَرْضِ اوچه په زمکه کښ دی لکه دانوں انواع د نباتا تو وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ اوهغه خدائ چه پوهیږی په هرهغه چه پټوئ ئ تاسے په زړونو خپلو کښ وَمَا تُعْلِنُوْنَ (۲۵) اوپه هرهغه چه بنکاره کوئ ئ تاسے په ژبو خپلو اَللّٰهُ خدائ چه دے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته لائق دعبادت هیڅوک مګر پروازے هم دئ دے رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ (۲۶) چه پیدا کونکے دئ دهغه عرش چه ډیر لوئے دئ بیاچه هُدهُد داخبره خپل تمامه کړه قَالَ سَنَنْظُرُ نو وویل سلیمان علیه السلام زمے دے چه وبه کورٔ مونږه اوفکر به وکړو چه اَصَدَقْتَ ایا رښتیا ویلے دے تا داخبره اَمْ كُنْتَ اوکه ئے تئ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ (۲۷) له دروغ ویونکو بیاچه سلیمان علیه السلام یو کاغذ ونښکهٔ اوهُدهُد له ئے ورکه او ورته ئے وویل چه اِذْهَبْ بِكِتٰبِيْ هٰذَا یوسه دا کاغذ محُما اوپه هغه کښ دا بنکلی ووچه من عبد الله سلیمان بن داود الی بلقیس ملکة سبا بسم الله الرحمن الرحیم السلام علی من اتبع الهدٰی اما بعد فلا تعلوا علی واتونی مسلمین ط فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ پس وګورځوه دوئ ته یعنے بلقیس اوقوم دده ته ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ بیا لږ وجار باسه له دوئ اوپټ شه ترے فَانْظُرْ پس ګوره له ورایه چه مَاذَا يَرْجِعُوْنَ (۲۸) څهٔ وائی دوئ یو بل ته سره په جواب ددغه کاغذ کښ بیادا کاغذ هُدهُد په مخ کړه واخستهٔ اودئ له راغے په هغه ووخت چه داد ننه په اومه کوته کښ پرته وه اودروازے تولے پورے وے اما په دے وار وکوته کښ روزانو نه وو یو بل سره نوے دے دغه روزانو نورو زنانو اوکاغذ ئے ددے په سینه وغوړ کړو لو نوے اپه هیبت را پاڅیده اوکاغذ ئے ولیږهٔ بیادروازه راغله چه تولے نورے وے نو حیرانه شوه اواشراف خپل ئے

عه معنیٰ داچه دا کاغذ له طرف دبنده دخدائ نهٔ دے چه نوم ئے سلیمان دے اوځوئ دے داود علیهما الصلوة والسلام طرف دبلقیس ته په باد شاهی دسبا وطن کوی بسم الله الرحمن الرحیم ۵ سلام ځاد وی په هغه چا چه پیروی د لارے سمے کوی

اوپس له دے نو ئی مهٔ کوئ په ما اوراشی ما ته مسلمانان ۱۲ کتبه: صادق زمیر، چیرمارے ډاکوان ۱۲ ۳۷۲/۸/۲۰

راحاضر کړه او قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا وویل بلقیس چه اے اشرافو اِنِّيْٓ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۹﴾ بیشکه زهٔ چه یم راغورځولے شوے دے ماته یو کاغذ عجیبه ښه چه راوړونکے ئے هُم معلوم نهٔ دے او مهر هم پرے لګیدلے دے اوخواهش دملک هم پکښ نشته بلکه محض خدائ نه بلل دی نودوئ پوښتنه تریے وکړه چه له مهره خو به معلومه شوے وی چه له چا راغلے دے؟ نودے وویل اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ بیشکه چه دا کاغذ له سلیمان علیه السلام راغلے دے وَاِنَّهٗ اوبیشکه چه مضمون کاغذ کښ دا ښکلی دی بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۳۰﴾ یعنی لږ یرم دا کاغذ چه مصدر دے په نامه دهغے خدائ چه روزی رسان مهربان دے تا ګرم او وویم درته اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ دا سے چه لوئی اوکبر مه کوئ په ما باندے وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ او راځئ ټول مالره ګردن نهاده فرمان ځما سنوکی بیا هر کلمه چه دوئ خیران شوله ډیره تعجبیه چه دا سے کلام قلیل اللفظ کثیر المعنیٰ له به څرنګه جواب ښائی اوسکوت ئے وکهٔ نوبیا ورته خطاب وکهٔ اوقَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا بیا وویل دے چه اے اشرافو اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ ځ فتوی اومصلحت راکړئ مالره په دے کار ځما کښ مَا كُنْتُ نهٔ یم زهٔ قَاطِعَةً اَمْرًا فیصل کونکے دکوم کار حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿۳۲﴾ ترهغه پورے چه حاضر شئ تاسے ماته یعنی بے حضوره او بے مصلحته ستاسے زهٔ هیڅ کار نهٔ کوم قَالُوْا نَحْنُ نوویل دے اشرافو چه مونږه اُولُوْا قُوَّةٍ هم څښتنان دقوت یُو وَاُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ اوهم څښتنان دسخت جنګ یو یعنی هرچه مونږه یو خوهم ډیر قوت اوهم شجاعت اوډیر اسباب اوډیر لښکر لرو وَّالْاَمْرُ اِلَيْكِ اوهرچه کار اوحکم دے هغه مفوض دګ تا ته او په لاس ستا کښ دګ فَانْظُرِيْ پس وګوره تهٔ اوفکر خپل وکه مَاذَا تَاْمُرِيْنَ ﴿۳۳﴾ چه څهٔ امر اوحکم کوے په مونږه دجنګ اوکه دصلح هر یوچه والے مونږ هغے منو قَالَتْ نو وویل دګ چه جنګ کښ خیر نشته ځکه چه اِنَّ الْمُلُوْكَ بیشکه بادشاهان چه دی اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً په هغه وخت چه داخل شی دوئ په کوم کلی اویا بنار په غلبه اوپه قهر سره اَفْسَدُوْهَا نوخراب به کاندی هغه قریه وَجَعَلُوْٓا او ګرځوی دوئ اَعِزَّةَ اَهْلِهَآ اَشِحَّةً اعزیزان دهغه قریے اَذِلَّةً ج خوار زار سپك بندیان بیارب العزت تصدیق دګ اوکهٔ چه وَكَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۴﴾ اوهمدا سے کوی داملوك لکه بلقیس چه وویلی دی یادا مقولهٔ بلقیس ده چه تاکید دګ دهغه پخوانی قول وَاِنِّيْ مُرْسِلَةٌ اوبیشکه زهٔ لیږونکے یم داستاذی اِلَيْهِمْ هغوی ته بِهَدِيَّةٍ دوئ ته سلیمان علیه السلام ته اوقوم ددهٔ ته له پیښکشئ سره فَنٰظِرَةٌ ۢ پس بیا کتونکے او انتظار کونکے

یم چه بِمَ یَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۵﴾ په څرنګه حال بېرته راځي دا لیږلے شوی ځما یعنې که هدیه ئے قبوله کړه نو یا د شاه دے په دولت به ئے ډالا سه کړم او که قبول ئے نه کړه نو پیغمبرئے شاخ جنګی ورسره پکار نه ده

روایت دے چه بلقیس یوله اکابرو دقوم چه نوم ئے منذر بن عمرو وو سلیمان علیه السلام لره ولیږه سره له ډیرو خلقو اوله دوئ سره ئے ولیږل پنځه سوه مریونه په لباس د پنځو اوپنځه سوه ویزړے په لباس د سپرو اوزرخښتے د سرو زرو اویو تاج جړاوکړے په مرغلرو اوپه یا قوتو اویو ډیلے چه پکښ یوه مرغلره وه ناسو راخ اوبوه خرمهره وه چه سورے ئے کوږ وو اوخوشبو د مشک او عنبر اونور ډیر قیمتي بهاګانې شیان ونه وو اوبوکاغذ چه داقبول پکښ اچولی وو او منذر ته ئے وویل چه اول ورځله نو ورته وګوره که په غضب ئے درته وکتل نو بادشاه دے اوکه په پرانستې وچولی ئے وکتل نو پیغمبر دے بیا دا کاغذ وله ورکه او ورته ووایه چه دا زرتنه دی ډیو کښ نرا ونیسے سره بیل که او دا مرغلره سورئ کړه او دے خرمهره کښ تار واچوه بیا چه دا ایلچیان روان شو نو هُدهُد ترے نمړے په جلتئ دا خبر سلیمان علیه السلام له راوړو اودۀ ډیوانو ته حکم وکړۀ چه اوه ذرسخه دا ایلچیا نو په لاره کښ خښتے د سرو زرو اود سپینو موتو پروئ اوترے چا پیره سره او د سپینو قلا وکړئ اوبیا په ورځے د دا تلود ایلچیا تو په اقسامو مرکبونه هم برئ اوهم بحرئ چا پیره له دغه میدان ئے قطار و درول اودے په تخت کیناست اوچا پیرئے ترے کرسئ کا نے کښوړے اودیوان او ادمیان او وحوش او طیور په فراسخو ترچا پیر صفونه ترلی په ادب ودریدل بیا چه ایلچیان د خښتو حد له راغلۀ اوچا پایان د مرکبو بوئ په خښتو ترلی ولاړ ولیدل چه خرشنه اوبول ئے پرے کول نو په دغو خپلو هدیو ډیر شرمنده شول بیا چه منذر مجلس ته راحاضر شول نو ډیر د مدارے ورسره وکړۀ بیا چه کاغذ ئے ورله ورکړۀ اوهغۀ اولوست نو دَ ډیلے ئے ترے مطلب کړۀ او مرغلره ئے ترے راوویسته او وَیښئ ته ئے کښوده چه ئے سورئ کړه اوخرمهره ئے یوسپین چینجی ته کښوده نو تار ئے په خوله کښ ونیوۀ او په سوري کښ تیر شو بیا او ئے راوغوښتلے اوهغه وښوا د مریونو ته ځوبل چه مخونه و وینځئ چه دلارے ګرد درخشه لارشی نو مریونو به اوبۀ راخیستے په لاس کښ اودواړه به ئے مخ ته واچولے اووښو به په یو لاس کښ اوبیاله هغه به ئے په بل لاس واچولے نو پس له هغه به ئے مخ ته واچولے نو په دغه حکمت ئے نرا و ښځے سره بیل کړه او هدیے ئے ځولے بېرته ورکړے لکه چه وائی فَلَمَّا جَآءَ پس هرکله چه راغے استاذے د بلقیس سره له

هدۍ اوتابعانو خپلو سُلَيْمٰنَ سلیمان علیه السلام لره اوهدیه ۍ ورته کیخوده قَالَ نو وویل ورته دهٔ ۔
اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ زایا مدد کاری کوئ تاسے له ماسره په دۍ مال فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ پس هغه څیزچه راکړیدۍ
مالره خدائ چه نبوت اوعلم اویادشاهی ده خَيْرٌ مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ ۚ ډیرغوره دے له هغه څیزچه درکړے ۍ
دۍ تاسے لره چه مال متاع دنیادی بَلْ اَنْتُمْ بلکه تاسے بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ﴿۳۶﴾ په دے هدۍ خپلے څوشحالیږئ
چه فخرکوئ په مال اومتاع د دنیا اے استاذی دبلقیس اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ بیرته ورشه دوئ لره یعنی بلقیس او
قوم ته ۍ اوورته ووایه چه رادِ شی ټول کردن نهاده اوکهٔ رانغلهٔ دوئ فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ پس هراٸینه رابه ولو
مونږ ځانونه دوئ لره بِجُنُوْدٍ دداسے لښکرے چه له جهته د دیرو والی اوقوته لَّا قِبَلَ نهٔ وی هیڅ طاقت د مقاومت
لَهُمْ بِهَا دوئ لره له هغه لښکرو سره وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ اوهر اٸینه وببا سو اوبه شرمونږ هغه څانونه دوئ
مِّنْهَآ اَذِلَّةً له دۍ ښاره د سپاڅخه په دے حال چه بے عزته اوبے حرمته به وی وَهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ اوحال دا
چه دوئ به خوار اوخسته وی بیا نومنذر له هدۍ سره بیرته راځے اود احال ۍ بلقیس ته ووایهٔ نوۍ اراده
وکړه د رانلو اوتخت خپل ۍ کیخوده د ننه له هغه اوو کوتوچه د ننه وے دا کوتے له هغه قصره چه داخل
وه هغه له اوو قصرو څخه اودروازے ۍ ورپسے قلف کړے اوکلیکانے ۍ له ځان سره واخستے اوتوکیدارانو
ۍ پرے د رول اود اروانه شوه له دولسو زرو سردارانو سره چه له هر یو سره په زرګونو خلق وو بیاچه یو
فرسخ راوزدۍ شوه اودۍ په دۍ خبر شو قَالَ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اوویل ده اے ټولیه د مشرانو اَيُّكُمْ يَاْتِيْنِيْ ډکوم یوله
تاسے به راوړی مالره بِعَرْشِهَا تخت دده قَبْلَ اَنْ يَّاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿۳۸﴾ چه راځی دوی ماله
کردن نهاده چه وګوری معجزه یا پس له اسلام به ۍ اختل د مال منع وی یا چه څهٔ تغیر پکښ وکړو
چه عقل ۍ معلوم کړو اود اڅکه چه چنو ورته ویلی وو چه په عقل کښ ۍ نقصان دے اود واړه پندۍ
ۍ بیرے دی په ویخته او څنیے ۍ د څرهٔ په شان دی چه ګوتے نه لری قَالَ عِفْرِيْتٌ نووویل یوخبیث سرکش
سخت قوی مِّنَ الْجِنِّ له قومه دپریانو نوچه نوم ۍ زکوان وو اَنَا اٰتِيْكَ زه به رٔهٔ به راوړم تالره د اتخت
قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ پخوا له هغه چه پاڅیږے ته مِنْ مَّقَامِكَ ۚ له دغه ځایه خپله یعنی له دے مجلس د حکومت او
عادت د دهٔ دلے ووچه ترغرے پورهٔ به ناست وو وَاِنِّيْ عَلَيْهِ اوبیشکه چه زه په راوړلو دے تخت لَقَوِيٌّ
اَمِيْنٌ ﴿۳۹﴾ هراٸینه قوی امانتګر یعنی هم ۍ په بنه وجه راوړے شم اوهم خیانت به نهٔ کوم اوپه تا

به ئے سلامت وسپارم بیا سلیمان علیه السلام وویل چه له ئے جلد را وړ ونکے عوارم قَالَ الَّذِیْ نو وویل هغه سړی عِنْدَهٗ عِلْمٌ چه ده څخه پوهه وه مِنَ الْكِتٰبِ له کتاب منزل یعنی اسم اعظم ئے ترے یاد کړے وو چه هغه اصف بن برخیا وو وزیر دده اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ زهٔ به راوړم تا لره دا څخه قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ بخوالہ هغه چه بیا راګرځی اِلَیْكَ طَرْفُكَ د تا نه سترګه ستا یعنی چه تهٔ نظر خپل کوم خیز ته واړوے او بیا ترے نظر بیرته راتولوے مابه بیا حاظر کړے وی درته نو سلیمان علیه السلام اجازه ورته وکړه او دے په سجده پریوت او اسم اعظم ئے ولوست او سوال ئے وکهٔ خدائے ته نو تخت سلیمان علیه السلام څخه حاضر شو په دے شان چه هلته په زمکه کښی ډوب شو او دلته ددهٔ په مجلس بنکاره شو په قدرت د خدائ په یو طرفة العین کښی فَلَمَّا رَاٰهُ پس هرکله چه ولیدهٔ دهٔ دا تخت مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قرار پروت ده څخه قَالَ هٰذَا نو وویل دهٔ دا کرامت چه دے مِنْ فَضْلِ رَبِّیْ د ټ له فضل د رب ځما دے لِیَبْلُوَنِیْٓ دپاره دده چه وازمایی مابه مثل دده کرامات چه ءَاَشْكُرُ ایا شکر کوم زه د نعمتو نو دهٔ اَمْ اَكْفُرُ اوکهٔ بے شکرۍ اوکفران کوم زهٔ وَمَنْ شَكَرَ اوهرڅوك چه شکر کوی په نعمتو نو د خدائ فَاِنَّمَا یَشْكُرُ پس بیشکه همدا خبره ده چه شکر کوی دے لِنَفْسِهٖ ج دپاره د ځان خپل ځکه چه شکر موجب دے د دوام او زیادت د دے نعمت وَمَنْ كَفَرَ اوهرڅوك چه بے قدری اوکفران کوی فَاِنَّ رَبِّیْ پس بیشکه چه رب ځما غَنِیٌّ بے پروا دے له شکر کذاریٔ اوله کفرانه د خلقو کَرِیْمٌ ۝۴۰ ښښتن دے د سخاوت په مستحقانو د انعام قَالَ نَكِّرُوْا بیا وویل سلیمان علیه السلام چه نا اشنا کړئ یعنی په بل شان کړئ لَهَا عَرْشَهَا د ے لره تخت د ے چه تغیر د شکل او د ډول د ده سره د اسے چه وے وینے نو نا اشنا پرے ولګیږی نَنْظُرْ اَتَهْتَدِیْٓ چه وګورو مونږه پس له پوښتید لو د دے چه ایا لار مومی ۲ معرفت د تخت خپل اَمْ تَكُوْنُ اوکه کیږی مِنَ الَّذِیْنَ له هغه کسانو لَا یَهْتَدُوْنَ ۝۴۱ چه لار نهٔ مومی معرفت د اشیاؤ نه فَلَمَّا جَآءَتْ پس هرکله راغله بلقیس سلیمان علیه السلام لره او خپل تخت ئے ولید چه وړ څخه پروت وو قِیْلَ نو وویلے شو د ده چه اَهٰكَذَا اعَرْشُكِ د ا ایا همدا سے دے تخت ستا قَالَتْ نو وویل دے كَاَنَّهٗ هُوَ ج چه هغه کو یا هم هغه دے او دے نه خو په واقعه کښی ښه معلومه شوه چه دا هم هغه ځما تخت دے اما له کمال عقل تشبیه ورکه لکه چه دوئ تشبیه ورکړے وه د پاره د موافقت د جواب له سوال سره او کهٔ دوئ تشبیه نهٔ وه

ور کړے او دا سے ئې ویلے وے چه د استاتخت دے نو دے به ویلی ووچه هُوهم هغه دے بیا دے وویل وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ او راکړے شوے وو موږ لره علم په کمال دقدرت الٰهی او په نبوت د سلیمان علیه السلام مِنْ قَبْلِهَا پخوا له دے معجزے وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿۴۲﴾ اوو موږ نوره کردن نهاده حکم ددهٔ ته وَصَدَّهَا او حصاره کړے وه له عبادته د خدائ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ هغه څیز چه وه د اچه عبادت ئې کاوهٔ دهغهٔ څیز چه هغه نمر وو مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ اِنَّهَا كَانَتْ بیشکه چه داوه مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۴۳﴾ له هغه قومه چه کافران وو **روایت دے** چه سلیمان علیه السلام امر وکړهٔ چه ما لره یوه بلکله سازه کړئ اوچاپیره تړے دا سے بنیښه کاری وکړی چه لاندے تړے اوبهٔ وی او په هغه او بو کښ بیاغټ غټ ماهیان واچوئ چه پښدی اوچنے د بلقیس وګورو لکه چه وائی قِيْلَ لَهَا وویلے شو بلقیس ته اُدْخُلِي الصَّرْحَ ج چه ورځه دننه دے بیلګے ته فَلَمَّا رَاَتْهُ پس هرکله چه ولیدے دے دا بنیښه چاپیره له بیلګے اود اماهیان تړے لاندے حَسِبَتْهُ لُجَّةً نوګمان ئے وکړو پرے د او بونا پایا وه وَكَشَفَتْ اوپورته ئے کړه جامه خپله عَنْ سَاقَيْهَا له دواړو پښو یعنی اوښے لیدل قدمونه اوپښدی ددے چه پیر بناڅسته وو قَالَ اِنَّهٗ نووویل سلیمان چه بیشکه د اچه ته ګومان د او بو پرے کوے صَرْحٌ مُمَرَّدٌ دا بیلګه ده اوچاپیر ترمیدان دے هوار صاف ځلیدو نکے ساز شوے مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ له بنیښو قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ نووویل دے چه اے ربه بیشکه زه چه یم ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظلم کړے دے ما پخپل ځان په عبادت د نمرسره یا په بدګمانئ سره په سلیمان علیه الصلوة والسلام دغږ قولو څما په دے کړو اب کښ وَاَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ او ایمان راوړے دے اوکردن ا ینبے دے ما سره له سلیمان علیه السلام لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۴﴾ خدائ ته چه رب دے د تمام عالمیانو وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اوهر اُمینه په تحقیق لیږلے وو موږ نوره اِلٰى ثَمُوْدَ قبیلے د ثمود ته اَخَاهُمْ صَالِحًا وروړ د وی چه صالح علیه الصلوة والسلام وو چه وویل یه دوئ ته اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ د اچه عبادت کوئ د خدائ یوالے فَاِذَا هُمْ پس ناڅاپه دوئ چه وو فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ دوه فرقے وو مؤمنان او کافران چه سره په جنګ اوپه خصومت شویو له بله سره او باقی حال ئے په سورهٔ اعراف کښ تیر دے بیا دوئ ورته وویل چه اے صالح راوړه هغه عذاب چه موږنوره د پرے ویرولو قَالَ يٰقَوْمِ نووویل وهٔ چه اے قومه لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ ولے جلتی کوئ بِالسَّيِّئَةِ په بدئ یعنی په نزول د عذاب قَبْلَ الْحَسَنَةِ ج پخوا له نیکئ

یعنے له توبے او دا حُکه چه دوئ به ویل چه مونږه ولید نو توبه به مو باسونو دهٔ وتړو ویل لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ ولے بخښته نه غواړئ له خدائ په ایمان او په توبے سره لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ بائ چه په تاسے رحم وکړے شی او عذاب درلږه رانه شی قَالُوا اطَّيَّرْنَا بیا ویل ورته دوئ چه بد فالی نیولے ده مونږه په تا او په هغه مَّعَكَ ط او په هغه چا چه لهتاسره دی له مؤمنانو حُکه چه هرکل تاسو دعوت ښائ کهٔ او بل دین دښکاره کهٔ نو دیه موږ سختی او محنت رانغے او سره تار په تار شو قَالَ طٰٓئِرُكُمْ نو ویل ده چه فال ستاسے دخیر دے او کهٔ د شر عِنْدَ اللّٰهِ هغه خدائ ځخه دے یعنی سختی او محنت ستاسے دخدائ په حکم دے نه ځما په دعوت بَلْ اَنْتُمْ بلکه تاسے چه یئ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿۴۷﴾ بود اسے قوم یئ چه ازما یلے کیږئ کله په دولت کله په محنت کله په سختئ کله په آسانئ وَكَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ او وو په دے ښار د شهر کښ چه هجر دے تِسْعَةُ رَهْطٍ نهه سړی له اشراف و قوم څخه مُّفْسِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ ے قدار بن سالف وو او سعی په حلا لولو د اوښے کښ هم دوئ کړے وه يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ چه فساد به کولو په زمکه دهجر کښ په کفر او په معاصیو سره وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿۴۸﴾ او صلاحیت به ئے نه کولو په طاعت قَالُوْا وویل دوئ یوه ورځ یوبل ته تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ او حال داچه سوګند ئے سره وکهٔ په خدائ په دے کار لَنُبَيِّتَنَّهٗ هرائینه شبخون به کړو مونږ خا ما په صالح علیه السلام وَاَهْلَهٗ او په عیال د دهٔ او په هغه چا چه ایمان ئے پرے راوړے یعنی دشپے به ئے مرکړو ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ بیا هرائینه وبه وایو مونږه خالحا لِوَلِيِّهٖ هغه ولی د دهٔ نه چه طلبګار ئے دخون وی کهٔ پوښتنه رانخه وکړی چه صالح علیه السلام چا وژلے دے؟ نو ورته به وایو چه مَا شَهِدْنَا نه ووحاضر مونږه مَهْلِكَ اَهْلِهٖ په ځائ د هلاکٔ د عیال د دهٔ کښ نو مونږه هیڅ خبر نهٔ یو چه دٔ چا وژلے دے وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ او بیشکه چه مونږه به هرائینه په دغه کښ رښتیني او سوځکه چه مونږه خوبه مباشران یو او حاضر خو غیرٔ له مباشره وَمَكَرُوْا مَكْرًا او فریب وکړو دوئ په فریب کولو سره د اسے چه صالح علیه السلام او عیال به ئے مرکړو او ولی ته به ئے وایو چه مونږه ترے خبر نهٔ یو وَمَكَرْنَا مَكْرًا اوجزا فریب ورکړه مونږه هم دوئ لره په جزا ورکولو سره د آسے چه عتوبت پرے جلت مونږه راوست وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۰﴾ او حال داچه دوئ په دے آګاه نهٔ وو

روایت دے چه صالح علیه السلام به په یو غار کښ د شپے مونځ کولو نو دوی سره ووبل چه دهٔ مونږه ته د هلاکٔ درے ورځے وعده اینځے ده نو راځئ چه مونږه دے ترے مخو اهلاک کړو نو د شپے

لارِه اوغار کښ پټ شو چه دے راشی او مړے کړو نوله پاسه یوه لویه تیږه پرې خدای راخطا کړه اوتول هلاک شو فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ پس وګوره چه څرنګه وَعَاقِبَةَ مَكْرِهِمْ د اخر کار د فریب ددوئ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ چه بیشکه مونږه هلاک کړه دغه نهه واړه په غار کښ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ (۵۱) او باقی قوم ددوئ هم په اوازد جبرئیل علیه السلام سره فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ پس دا دی کورونه ددوئ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوْا په دے حال چه خراب او خالی پراته دی په سبب د ډیر ظلم یعنی شرک کولو ددوئ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے عذاب د ثمود وکښ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ (۵۲) هر اُسنه د پاره د عبرت هغه قوم لره چه پوهیږی په خیر او شر خپل اوپند پرے اخلی وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او وساتل مونږه له دے عذابه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ (۵۳) او وو ددوئ چه پرهیز به ئے کولو له کفره اوله معاصیو وَلُوْطًا او یاد کړه قصه د لوط بن هاران علیه السلام اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ هغه چه وویل دهٔ قوم خپل ته اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ آیا راځئ یعنی کوئ تاسے بد کار چه لواطت دے وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ (۵۴) او حال داچه تاسے پوهیږئ په دے چه دا بد کار دے یا وینئ سره یو بل یعنی بنکاره په مجلس کښ کوئ اَئِنَّكُمْ آیا تاسے چه یئ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ هر اُسنه راځئ سړیو لره شَهْوَةً له جهته د شهوت مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ طغیر له ښځو چه پیدا د پاره د دفع د شهوت دی بَلْ اَنْتُمْ بلکه تاسے قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ (۵۵) یو قوم ئے ناپوهه په عاقبت د کار خپل نه پوهیږئ فَمَا كَانَ پس نهٔ وو جَوَابَ قَوْمِهٖٓ جواب د قوم دهٔ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مګر دا به وو چه به ویل ددوئ یو بل ته اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ چه وباسئ او وشړئ خپلخانه د لوط علیه السلام مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ج له د ے بناره خپله چه سدوم دے اِنَّهُمْ اُنَاسٌ بیشکه چه ددوئ داسے سړی دی يَّتَطَهَّرُوْنَ (۵۶) چه ځان پاک ساتی له لواطت څخه فَاَنْجَيْنٰهُ پس وساتل هغه وَاَهْلَهٗٓ او د هغه کورنی اِلَّا امْرَاَتَهٗ مګر ښځه دهٔ چه قَدَّرْنٰهَا مقرر کړے وه مونږه دا په تقدیر ازلی خپل مِنَ الْغٰبِرِيْنَ (۵۷) له باقی پاتے کید ونکیو په عذاب کښ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ او وورا وړهٔ مونږه په دوئ مَّطَرًا ج باران د تیږو فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ (۵۸) ع پس بد وو باران د ویرو لے شویو په عذاب سره قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وواید اے رسوله چه ثناه خدائ لره په هلاک د تیرو کفارو وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ او سلام د وی په بندګانو ددهٔ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى هغه بندګان چه غوره کړی دی خدائ دوئ په درست مخلوق او په خپل عصمت ئے ساتلی دی له آٰللّٰهُ خَيْرٌ آیا خدائ غوره دے اَمَّا يُشْرِكُوْنَ (۵۹)

اوکۂ ھغه بتان غوره دی چه دا کفارو ته خدائ سره شریکان یولی أَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ اوکۂ ھغه څوک غوره دے چه پیدا کړی دی دۂ اسمانونه اوزمکه وَأَنْزَلَ لَكُمْ اوراښکته کړی دی ده ستاسے دپاره مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ج له طرفه د اسمانه اوبۂ فَأَنْۢبَتْنَا بِهٖ پس زرغونه کړه مونږه په دغه اوبو سره حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ج باغونه څښتنان د تازګی او د ښائست مَا كَانَ لَكُمْ نه دے کیدو یکے له تاسے أَنْ تُنْۢبِتُوْا دا اکا چے زرغونے کړئ تاسے شَجَرَهَا ونے دهغه باغونو ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنی نشته بَلْ هُمْ بلکه دا مشرکان چه دی قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ۝٦٠ یو داسے ټولے دے چه څنګ کوی له توحید أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ اوکۂ ھغه څوک غوره دی چه کړځولے ده دۂ زمکه قَرَارًا قرارګاه او ارامګاه دا د میانو او د چارډیا یانو وَجَعَلَ خِلٰلَهَآ اوکړځولی دی ده په منځ د دغه زمکه کښ أَنْهٰرًا سیندونه رودونه ولے دا دو وَّجَعَلَ لَهَا اوکړځولی دی دۂ دغه زمکے لره رَوَاسِيَ میخونه چه غرونه دی لوئ هسك و پاره د دے چه زمکه پرے کلکه شی اونۂ خوځیږی او کانونه او اوبه ترے راووځی تاسے لره وَجَعَلَ اوکړځولے ده دۂ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ په مابین د دو سیندونو نو کښ چه یو ترے خوږ دے او بل تر یو څاڅ اړ پرده چه یو له بله سره خلط نشی ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنی نشته بَلْ أَكْثَرُهُمْ بلکه زیات دډ مشرکان نو لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦١ نۂ پوهیږی په لارے د توحید څکه ایمان نۂ راوړی أَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اوکۂ څوک غوره دے چه سوال قبلوی د عاجز إِذَا دَعَاهُ په هغه وخت چه وبولی دۂ هغه وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ اولرے کوی دے هغه سختی چه دا مضطرے خفه کړے وی وَيَجْعَلُكُمْ اوکړځوی دے تاسے خُلَفَآءَ الْأَرْضِ ط خلیفګان په زمکه کښ په ځائ د تیرو خلقو ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنی نۂ شته قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۝٦٢ لږ یئ هغه چه پند اخلئ یا چه خدائ یادوئ یا له سره ئے نۂ یادوئ او عبادت دبتانو کوئ أَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ اوکۂ هغه څوک غوره دے چه لاره بنائ تاسے ته په ستو ډیو سره چه کوم مطلب پسے چې ځئ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ په تاریکیو د بیابان او د سیند کښ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ اوهغه څوک چه رالیږی بادونه بُشْرًۢا زیری کونکی بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ط محکښ د رحمت خپل یعنی پخواله بارانه ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنی نشته تَعٰلَى اللّٰهُ لوئ دے خدائ او بلند شان دے عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝٦٣ له هغچه شریک پیدا کوی ور سره دا مشرکان أَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ اوکۂ هغه څوک غوره دے چه اغاز کوی اول د پیدا کولو او

مخلوق له نظفے په ارحاموکښ ثُمَّ يُعِيدُهُ اوبیابه ئے ژوندی کوی پس له مرګه په قیامت وَمَنْ يَرْزُقُكُمْ
اوهغه څوك چه روزی درکوی تاسے لره مِنَ السَّمَاءِ له اسمانه په باران وَالْأَرْضِ او له زمکے پسے نبات او
سره ءَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ایا شته بل معبود له خدائ سره یعنے نشته بل هیڅوك دا صحیحه دغه کار ونه کوے شی غیر له
خدائ او سره له دغه دلیلونو چه دوئ شریکان ورسره پیدا کوی نو قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ووایه ورته اے
رسوله چه راوړی حجت او دلیل خپل په دے چه غیر له دهٔ بل څوك هم قادر دے په دے کارونو کولو ان كُنتُمْ
صَادِقِينَ (۶۴) كهٔ چرے یئ تاسے رشتینی په دے دعوی کښ او دا استفهام په دے ییرته پوهه اَمَّنْ کښ
تقدیر دے یعنی هغے خوره دے روایت دے چه سوال وكهٔ مشرکا نو له وخته د ظهور د قیامت
له رسول الله صلے الله علیه وسلم نو نازل شو قُلْ لَّا يَعْلَمُ ووایه دوئ ته چه نهٔ پوهیږی مَن فِي السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ هغه څوك چه په اسمانونو کښ دی او په زمکه کښ دی كهٔ ملائك دی او كهٔ ادمیان دی الْغَيْبَ پرهر
هغه شے چه پټ او پناه وی ترے إِلَّا اللَّهُ لیکن خدائ پرے پوهیږی وَمَا يَشْعُرُونَ اونهٔ پوهیږی والكفار
أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (۶۵) چه كله به بیا ژوندی کړے شی دوئ بَلِ ادَّارَكَ عِلْمُهُمْ ایا رسیدلے ده پوهه د دوئ
او دا حكه چه دا بَلْ په معنیٰ دهٔ دے یعنی استفهام دے انكاری فِي الْآخِرَةِ قف په باب د قیامت کښ چه
به راشی حكه چه پوښتنه کوی چه كله به وی یعنی پوهه ئے نهٔ ده رسیدلے بَلْ هُمْ بلكه دوئ چه دی
فِي شَكٍّ مِّنْهَا قف په گمان کښ دی له قیامته یعنی له راتلوئے بَلْ هُم بلكه دوئ مِّنْهَا عَمُونَ (۶۶) له دغه
قیامت پاندے دی د زړهٔ په ستر گو چه فكر نهٔ شی کولے په دلیلونو د وقوع د قیامت کښ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا
او وائی هغه كسان چه كافر دی او د زړه ستر گے ئے ړندے دی إِذَا كُنَّا تُرَابًا ایا په هغه وخت چه شو
مونږه خاورے وَآبَاؤُنَا او پلرونه مونږه هم چه خاورے شوی دی أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ (۶۷) ایا بیشكه
مونږه به هرائینه را ایستے شوی به او سوله قبرونو او بیا به ژوندی کړے شو لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا هرائینه
په تحقیق وعده کړے شوے ده له مونږه سره د دے قیامت نَحْنُ وَآبَاؤُنَا هم له مونږه سره اولے پلرونو
مونږ نه سره مِن قَبْلُ له پخوا له وعدے د محمد صلے الله علیه وسلم یعنی پخوا نو رو انبیاؤ به هم دا وعدے د قیامت
كولے او ترا وسه پورے هیڅ ترے معلوم نهٔ شول إِنْ هَٰذَا نهٔ دی دا خبرے او دا وعدهٔ إِلَّا أَسَاطِيرُ
الْأَوَّلِينَ (۶۸) مكر قصے دی بے فائدے د پخوا نیو خلقو قُلْ سِيرُوا ووایه ورته اے رسوله چه ځئ وګرځئ

فِی الْاَرْضِ پہ زمکہ دتکذیب کونکو کبن لکہ ھجر او احقاف او مؤتفکات او دا سے نور دیر شول فَانْظُرُوْا کَیْفَ
کَانَ پس وګورئ چہ څرنګہ وو عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِیْنَ (۶۹) آخر کار د مجرمانو یعنی د کافرانو وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ او
مہ کوہ خفګان آے رسولہ! پہ دوئ وَلَا تَكُنْ اومہ اوسہ فِیْ ضَیْقٍ پہ تنګدلئ کبن مِّمَّا یَمْكُرُوْنَ (۷۰) لہ ھغہ چہ
مکر کوی دوئ ستاپہ باب کبن حُکہ چہ پہ عصمت خُما کبن ئے وَیَقُوْلُوْنَ او وائی دا کافران مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ چہ
کلہ بہ وی داوعدہ د نزول د عذاب اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ (۷۱) کہ ئے چرے یوئ تاسے رښتینی یئ د ے کبن چہ اوعذاب
راتلو لکے ئے پہ مکد بانو قُلْ عَسٰۤی اَنْ یَّكُوْنَ وو ایہ ورتہ چہ نزدے دہ داخبرہ چہ وی بہ حکم د خدائ رَدِفَ
لَكُمْ پیوستہ پہ تاسے پسے او دالام زائدہ د ے بَعْضُ الَّذِیْ بعض لہ ھغہ عذاب تَسْتَعْجِلُوْنَ (۷۲) چہ پہ
جلتئ ئے عوارئ تاسے اوھغہ عذاب وو دوبئ دبدر یا قحط وو اوھُ کالہ وَاِنَّ رَبَّكَ اوبیشکہ رب ستا
چہ د ے لَذُوْ فَضْلٍ ھرائینہ خښتن د فضل او مہربانئ د ے عَلَی النَّاسِ پہ خلقو باندے چہ پرکناھونو
ئے جلت نہ کا نیسی وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات د دوئ چہ دی لَا یَشْكُرُوْنَ (۷۳) شکر نہ کوی پہ د نعمت
وَاِنَّ رَبَّكَ اوبیشکہ رب ستا چہ د ے لَیَعْلَمُ ما ھرائینہ پوھیږی پہ ھرھغہ څیز تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ چہ پټوی
ئے زړونہ د ے کفار وله بغضہ او له حسدہ او له حقدہ پہ تا باند ے وَمَا یُعْلِنُوْنَ (۷۴) او پہ ھرھغہ چہ
بنکارہ کوی ئے دوئ لہ تکذیبہ او له عداوتہ ستا وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ او نشتہ هیڅ پټ او پنا لہ حوادثو فِی
السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ چہ پہ اسمان کبن او پہ زمکہ کبن وی اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مُّبِیْنٍ (۷۵) مګر چہ ھغہ ټول لکھلے
پروت د ے پہ بنکارہ کتاب کبن چہ لوح محفوظ د ے اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ بیشکہ داقران چہ د ے یَقُصُّ قصہ
کوی یعنی لولی عَلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ پہ بنی اسراءیلو اَكْثَرَ الَّذِیْ زیات د ھغہ څیز هُمْ فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ (۷۶)
چہ دوئ پہ ھغہ څیز کبن سرہ اختلاف کوی وَاِنَّهٗ لَهُدًی اوبیشکہ داقران ھرائینہ راھنمائے د د
ګمراھانو وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ (۷۷) اورحمت د پارہ د مؤمنانو چہ له عذابہ ئے خلاص وی اِنَّ رَبَّكَ بیشکہ رب ستا
چہ د ے یَقْضِیْ بَیْنَهُمْ فیصلہ بہ وکہ پہ مابین د دے بنی اسرائیلو کبن پہ ورځ د قیامت بِحُكْمِهٖ ع پہ حکم
خپل سرہ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْعَلِیْمُ (۷۸) اود ے غالب دانا د ے نو نہ د دہ حکم څوک ردولے شی او نہ د ے پہ
خطا حکم کوی فَتَوَكَّلْ عَلَی اللّٰهِ پس توکل وکړہ خاص پہ خدائ اوله عداوتہ د معاندانو مۀ ویرږہ اِنَّكَ
عَلَی الْحَقِّ الْمُبِیْنِ (۷۹) بیشکہ چہ تہ پہ بنکارہ حق ولاړ ئے اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰی بیشکہ چہ تہ نشے اورولے

خبره مړیوته وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اوهم داسے نه شے اورولے کړوته اواذدنګروا اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۸۰﴾
په هغه وخت چه پیرته وګرځی دوئ په ډے حال چه شا کونکی وی وَمَآ اَنْتَ اونهٔ ئے تهٔ بِهٰدِى الْعُمْىِ لاره ورکوونکے
پرند وته عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ طه له کمراهئ خپلے **حاصل** داچه دغه کفارهم دمړیو په شان دی چه په پند نفع
نهٔ شی اخستے اوهم دکنړو په شان دی چه دنګروپه اواز له خپلے لارے پیرته نه شی راګرځیدے نو نهٔ دوئ نه
لارے ته راوستلے شے اونه ورته څهٔ اورولے شے اِنْ تُسْمِعُ نهٔ اورے ته پند اونصیحت خپل اِلَّا مَنْ مکر
هغه چا ته يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا چه ایمان راوړی په ایتونو ځمونږه فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾ پس دغه کسان کړدن نماړه
دی فرمان ته اوځلصان هم دی په توحید سره وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ او په هغه وخت چه نږدے شو
وقوع دقیامت اودعذاب عَلَيْهِمْ په دے ډاډمنانو یعنی هرکله چه قیامت بنهٔ رانږدے شواوامرمعروف
اونهی منکر یعنی موقوف شواودوازے دتوبے پورے شوے اوښے دقیامت مخ په ظهورشوے چه یوه تږ
داده چه وائی اَخْرَجْنَا لَهُمْ نو به راوباسودوئ له دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ یوڅوندے خوزیدونکے له زمکے څخه
خرام یاله صفامروه یاله بله ځایه اوپه حدیث کښ دی چه طول به ئے شپیته کزه وی اوخلورخپے اودوه وزر
اوبنړګی اوزیږ ویخته لکه دمرغانو پچیواوسرد غوایهٔ اوسترګے دخنزیراوغوږونه دفیل اوښکر ډکوڑی او
ګردن دشترمخ اوسینه دمزبی اورنګ دپرانګ اوتښی دپیشو اولکوئ دپسه اودخپوتلی داوښ به لږی
اوهسادموسیٰ علیه السلام اومهدد سلیمان علیه السلام به ورڅخه وی لودا هسا به په وچولی د
هرمومن ودهی نوځ به ئے تک سپین شی اودامهر به په وچولی دهرکافر وودهی نوځ به ئے تک تور
شی اوپس له هغه به بیا په نامه هیڅوك نهٔ شی پلے بلکه مؤمن ته به ځنتی اوکافرته به دوزخی وائی
خلق اوداسے به جدت وی چه طالب ئے نه شی نیولے او هارب تړے خلاصیدلے نهٔ شی اودابه
اوله نښه ده په زمکه کښ دقیامت لکه چه اول نښه په اسمان کښ طلوع ده شمس له مغربه
تُكَلِّمُهُمْ چه خبرے به کوی دابه له دوئ سره په ژبه عربی اوداسے به ورته وائی چه اَنَّ النَّاسَ بیشکه
داخلق كَانُوْا دی دَابَّتَنَا چه ایتونو ځمونږه په ایتونو مشتمل په وعد په وعید په بعث په ثواب په
عقاب لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۸۲﴾ یقین نهٔ کوی یعنی ایمان پرے نه راوړی وَيَوْمَ نَحْشُرُ اویاده کړه هغه ورځ چه
راولاړ به کړو مونږه له قبرونو مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ له هر ډیر فَوْجًا مِّمَّنْ یو توله دمشرانو اوداشرافو له

هغه طا یعنې يُكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا چه تکذیب کوی په ایتو نو حُمونږه پورے فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ پس دوئ به راحصار کے شی چه هغه خوارازړ ال هم ورپسے راو رسیږی او ټول سره جمع شی حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوْ ترهغه پورے چه راشی دوئ ټول حشرگاه له قَالَ نو وبه وائی ورته خدائ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ ایا تکذیب کړے و و تاسے دهغه ایاتونو حُماچه خپلو رسولانو نولږهم لیږلی وو وَلَمْ تُحِيْطُوْا اوحال داچه احاطه نهٔ وه کړے تاسے پرِهَا عِلْمًا په هغه ایتو نو ټولو جهته د علمه یعنې دا تکذیب کړے دا حاطه د علم ستاسے وو په كُنْتُمْ د دغه ایتو نو اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾ اوکه کوم کار وو هغه چه وئ تاسے چه کولو به تاسے هغه کار نو دوئ به دے سوال هیڅ جواب نهٔ لری نو سکوت به وکړی لکه چه وائی وَوَقَعَ الْقَوْلُ او واقع به شی گفت یعنې رابه شی عذاب موعود عَلَيْهِمْ بِمَا ظَلَمُوْا په دوئ په سبب د گڅه ظلم کړے ود دوئ چه تکذیب ئے کړے وود ایتو نو فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿۸۵﴾ پس دوئ به هیڅ نه عذر یږی په عذر خواهئ له جهته د عذاب غیر متناهی اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا ایا نه وینی دا منکران د حشر چه بیشکه مونږ چه يوجَعَلْنَا الَّيْلَ گرځولے ده مونږه شپه توره تاریکه لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ د پاره د ډ چه ارام وکړه دوئ په هغه کښ په خوب او په قرار سره وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا او گرځولے ده ډ ورځ په ډ حال چه لیدونکے ده یعنې لیدونکے دی اهل د ده ورځے لارے دکسب او د معاش خپل او د اُمُبْصِرًا په اصل کښ لِيُبْصِرُوْا فِيْهِ وو موافق له ماقبل سره اماله ډیرے مبالغے نسبت ئے نهارته وکه اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په ډ تعاقب ظلمت او نور کښ په دے شان سره لَاٰيٰتٍ لَّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۸۶﴾ هرالله ینه ډیرے نښے دی په وقوع د قیامت د پاره دهغه قوم چه ایمان راوړی وَيَوْمَ يُنْفَخُ او یاد کړه ورځ چه پوکے وکړے شی فِي الصُّوْرِ په شپیلئ کښ فَفَزِعَ مَنْ پس وویریږی له ډیره هیبته هرهغه څوك فِي السَّمٰوٰتِ چه په اسمانونو کښ دی وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اوچه په زمکه کښ دی اوصیغه د ماضی دپاره د تحقیق د وقوع ده اِلَّا مَنْ مگر هرهغه څوك شَآءَ اللّٰهُ ط چه اراده وشی د خدائ دگڅه هغه ډ نهٔ ویریږی چه څلور ملائك مقرب دی چه جبریل میکائیل اسرافیل عزرائیل علیهم الصلوٰة والسلام دی یا حمله د عرش او خزنه د جنت او حورے دی یا شهیدان دی یا موسیٰ علیه السلام دے یا ادریس علیه السلام دے وَكُلٌّ اَتَوْهُ او د ټول د میان چه دی رابه شی دوئ موقف له یا خدائ له دَاخِرِيْنَ ﴿۸۷﴾ خوار ذلیل وَتَرَى الْجِبَالَ او وینے به تهٔ غږونه تَحْسَبُهَا جَامِدَةً گمان به کوے ته په هغود ے چه ځائ ولاړدی وَهِيَ تَمُرُّ او حال دا

چه دوئ به تیریږی اوتک به کوئ مَرَّ السَّحَابِ پ شان دتلۍ دوریځ پ یه جلتئ پ هغه څخه چه بادئ زغلوی اوتک ئ نه معلومیږی صُنْعَ اللّٰهِ وکړهٔ خدائ دا کار په کولو سره اودا حکه چه دا په اصل کښ صَنَعَ اللّٰهُ ذٰلِكَ صنعاً وو بیا فعل ترې حذف شوفاعل ته نوصُنع الله شوالَّذِیْ اَتْقَنَ هغه خدائ چه محکم کړیدی دهٔ کُلَّ شَیْءٍ ط هرشیز په هغه شان چه بنائ اِنَّهٗ خَبِیْرٌ ۢ بیشکه چه ئ خبردار دی بِمَا تَفْعَلُوْنَ (۸۸) پ هغه افعالو چه کوئ ئ تاسے کهٔ ظاهر اوکهٔ باطن نوجزا به ئ درکه لکه چه وائ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ هرڅوك چه راتله وکه په نیکئ سره چه قول لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے په نزد جمهورو فَلَهٗ خَیْرٌ مِّنْهَا ج پس مقرره ده ده له جزا غوره له هغه اوغوره حکمه دے چه خسیس ئ په شریف بدل شوا وفانی ئ په باقی اوبوئ په اوه سوه وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ اودوئ به له ویرې د سختئ چه ویره داورده یَوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ (۸۹) په ورځ د قیامت په امان وی وَمَنْ جَآءَ بِالسَّیِّئَةِ اوهرڅوك چه راتله وکهٔ په بدئ سره چه شرك دے ـ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ پس سکوربه واچولے شی مخونه ددوئ یعنی پخپله دوی فِی النَّارِ پ اوردد وخ کښ اوښ حکه یاد شوچه دٔ اشرف داعضاؤ دے اوو به ویلے شی ورته چه هَلْ تُجْزَوْنَ ا ایاجزا درکولے کیږی تاسے ته یعنی نه درکولے کیږی اِلَّا مَا كُنْتُمْ مگر هغه چه وئ تاسے په دنیا کښ تَعْمَلُوْنَ (۹۰) چه کول به مو اِنَّمَآ اُمِرْتُ بیشکه همدا اخبره ده چه ماموریشوے یم زهٔ اَنْ اَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ دپروردګار دده ښار چه مکه ده الَّذِیْ حَرَّمَهَا هغه خدائ چه ګرځولے دے ده دا ښار حرام په امن چه وابنهٔ اواغزی او ښکاره ئ قول په امان دی اوظلم اوخونریزی پکښ څوك نه شی کولے وَلَهٗ كُلُّ شَیْءٍ او خاص هم دهٔ لرودی په طریقه د مخلوقیت اود مملوکیت هرځیز سره له دغه ښاره حکه چه دے مالك ئ د دنیا اود اخرت وَاُمِرْتُ اَنْ او ماموریشوے یم زهٔ په دے چه اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ (۹۱) چه اوسم زهٔ کلك ولاړ و په ملت د اسلام وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ج اوبل ماموریم په دے چه اولم اوتلاوت کوم د قرآن فَمَنِ اهْتَدٰی پس هرڅوك چه لاره ئ بیاموندله لجهته د متابعت دما توحید د خدائ اونفی د شرکاؤ ته فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ پس بیشکه هم داخبره ده چه لاره موی دٔ لِنَفْسِهٖ ج د پاره د ځان خپل چه نفع ئ هم دهٔ ته راجمع ده وَمَنْ ضَلَّ اوهرڅوك چه کمراه شوله جهته د مخالفته دما فَقُلْ اِنَّمَآ پس ووایم ورته چه بیشکه هم داخبره ده چه اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِیْنَ (۹۲) زه له ویرونکویم

او په ما بغیر له پیغام رسولو بل هیڅ نشته او وبال دضلال دبل چا مانه نهٔ رسیږی وَ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ او ووایه په شاه خدائ لره په نعمت دنبوت سَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ زما دے چه به و بنائ تاسے ته ښځے د قدرت خپل لکه شق دقمر او خروج د دابة الارض او داسے نورهم یا ښځے د ځمکے په دنیا کښ لکه واقعه د بدر او په اخرت کښ عذاب ابدی فَتَعْرِفُوْنَهَا پس وبه پیژنئ تاسے هغه ښځے اما دامعرفت به تاسے ته هیڅ فائده ونهٔ رسوی وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ اونهٔ دے رب ستاغافل ہے خبره عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۶۳) له هغه عمل چه کوئ ئے تاسے اے مشرکانو۔

سُوْرَةُ الْقَصَص مکیة ۴۹ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۸۸ رکوعها ۹

طٰسٓمٓ (۱) دے بیان پخوا تیرشوے دے په سورهٔ شعراء کښ تِلْكَ د اسوره دا ایتونه چه دی اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ (۲) ایتونه دی دهغه کتاب چه بنکاره دے خیر او برکت ئے یا چه بیانونکے دے د حلالو حرامو او د وعد و عید او د اخلاص توحید نَتْلُوْا عَلَيْكَ لولو مونږه په تا باندے مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى بعض له خبر و او د قصے د موسیٰ علیه السلام وَ فِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ او د فرعون په ربنتیا سره لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ (۳) د پاره د هغه قوم چه باور او تصدیق ئے کوی اِنَّ فِرْعَوْنَ بیشکه فرعون چه د ے عَلَا فِي الْاَرْضِ لوی او څنی اوظلم او بغی ئے اختیار کړے وه په زمکه د مصر کښ وَجَعَلَ اَهْلَهَا او گرځولے وو د هٔ اهل د ے مصر هم قبطیان هم سبطیان شِيَعًا ټولی ټولی او هر یو ټولے به ئے خدمت لره مقرر کړے و او هیچا گرځول کښ ئے نهٔ شوه کولے یا بعض ئے معزز کړے و و لکه قبطیان او بعض ذلیل کړی و و لکه سبطیان لکه چه وائی يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ چه ضعیف او مقهوره کړے ئے وه یوه طائفه له دوئ چه بنی اسراءیل دو دو په دے شان چه يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ ذبح کول به ئے ځامن د دوئ چه کاهنا نو ورته ویلی و و چه بنی اسراءیلو کښ به یو هلک پیدا شی چه دهغه په سبب به ستا بادشاهی خرابه شی او نوی زمره هلکان ئے وژلی و د پاره د دفع د دے خرابئ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ او ژوندئ به ئے پریښودے نجنے یعنی جینکئ د دوئ د پاره د پاره د خدمت اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه د ے و و مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ (۴) له فساد کونکو چه قتل په ناحق او ازاد خلق او اولاد د پیغمبرانو ئے مریونه کول وَ نُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ او اراده وکړه مونږه د دے چه مهربانی وکړو او احسان یاد کړو عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا په هغه کسانو چه عاجزان او بیچاره کړے شوی و و فِي الْاَرْضِ

په زمکه د مصر کښ چه هغه بنی اسراءیل وو چه له ظلم او سختی د فرعون ځخلاص کړو وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً او چه وګرځوو موږه دوئ امامان یعنی پیشوایان چه اقتداء ورپسے کولے شی په هرنیک کار کښی یا بلونکی د خلقو خیرته یا والیان او بادشاهان وَنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ۝۵ او وګرځوودوئ وارثان دمال متاع د نقدۍ جنسی دمینود باغونو د فرعونیانو پس له غرقولو دوی وَنُمَكِّنَ لَهُمْ او چه ځائ دا وسیدلو او تسلط ورکړو دوئ لره فِي الْأَرْضِ په زمکه د مصر او د شام کښ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ او چه ښایو موږه فرعون او هامان ته چه وزیر ئے وَجُنُوْدَهُمَا او لښکر ونو د دغه دواړو ته مِنْهُمْ له بنی اسراءیلو مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ۝۶ هغه چه وو دوئ چه ویریدل به ترے یعنی هغه مولود چه کاهنانو وزیږ ویلی وو چه خرابیدل د بادشاهئ ستابه د دغه مولود له لاسه وی **روایت ۷** چه فرعون پس له اخباره د کاهنانو څخه کیدلو ان کینول په امید د نجوم دبنی اسراءیلو چه هلک به پیدا شونو هم هغه به ئے حلال کړو او د موسی علیه السلام دائی وویل مورته ئے چه له ما مه ویریږه زه به ستاحال نه وایم او څوکید ارته به وایم چه مړه لور وه موږه ښځه کړه او څورلږ وائی چه سړی رانشواته او د ے خورځیلے په بل تنور کښی وغورځولو بیا چه سړی لاړه نو مورئے د رغلہ تنار لره چه ګوری او سر کلونه شوی دی او د ے پرے لوبے کوی نو په دغه شان ئے د ے میاشتے پټ ساتلے وو چه ناګاه الهام الهی ورته وشو لکه چه وائی وَأَوْحَيْنَآ او وحی وکړه موږه په الهام سره یا په خوب لید و سره إِلَىٰٓ أُمِّ مُوْسٰٓى مورد موسیٰ علیه السلام ته أَنْ أَرْضِعِيْهِ ج دا سے چه ته ورکوه ده لره او تربیت ئے کوه تر هغه چه پټ د ے ساتلے شو فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ پس هرکله چه ویریږے په دغه دا سے چه پوهه شوے ته په دے چه اوس خلق پرے خبر شول او مړ به ئے کړ فَأَلْقِيْهِ فِي الْيَمِّ پس وئے غورځوه په سیند کښ یعنی رودنیل کښ اما اول ئے په صندوق کښ واچوه بیا د صندوق په اوبو کښ وغورځوه وَلَا تَخَافِيْ او مهٔ ویریږه له غرق او له هلاکه ئے وَلَا تَحْزَنِيْ ج او مهٔ خفه کیږه له جهته د فراق ئے ځکه چه إِنَّا رَآدُّوْهُ بیشکه موږه د راوستونکی یو د دهٔ إِلَيْكِ تا ته جلت په ښه وجه سره وَجَاعِلُوْهُ او بیا کړونکی یو د دهٔ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝۷ له پیغمبرانو سره کړو

نکته په دے ایت کښ خدائ تعالیٰ خبره ذکر کړی دی دوه امره چه أَرْضِعِيْهِ او أَلْقِيْهِ دے او دوه نهی چه لاتخافی ولاتحزنی دے او دوه اخبار مچه رآدوه اوجاعلوه دے او دوه زیږ چه دبیرته راوستلو او بل د

رسالت دے چه هر کله مورد موسیٰ علیه السلام خبره شوه چه فرعون په هلاکانو د دینی اسرائیلو پسے بیا پیرلیتون شروع کړیدی نو د ے یو نجار چه نوم ئے خربیل ښ صبورا او د فرعون د ترهٔ خوی و و راوست او صندوق ئے پرے سازکړو نا گاه خربیل په دے واقعه خبر شو نو خپل کیدا راوله ورغے چه په دے مولود ئے اگاه کړی هلته ژبه ئے گونگه شوه بیا چه کوبته راغے نو ژبه ئے خلاصه شوه بیا ئے فرعون لره اراده دتگ وکړه نو ستړگے ئے ړندے شوے نو پوهه شو چه هغه مولود چه ځهنا نو فرعون ته دیلے دهغهم دا دگے نو ایمان ئے پرے راوړو او هغه مؤمن دال د فرعون هم دے وو بیا موسی علیه السلام مور په صندوق جامه کړی کښی واچولو او صندوق ئے په رود نیل کښی پټ الاهوکه او فرعون یوه لور وه چه مرض د برص ورپورے وو او کاهنانو ورته ویلی وو چه په فلانی ورځ به په دے رود کښی یو هلک راشی کهٔ دهغه لاړے پرے پورے شوے نو د ابه روغه شی نو په دغه ورځ د ریسته خپلخانه د فرعون د نیل په غاړه منتظره ناسته وه چه ناڅاپه صندوق راغے او دوئی راوښوه لکه چه وائی فَالْتَقَطَهٗۤ پس بیاموندله او وښوهٔ موسیٰ علیه السلام له تابوت سره اٰلَ فِرْعَوْنَ تابعانو د فرعون لِيَكُوْنَ لَهُمْ د پاره د ځے چه شی د ځے دغه فرعونیانو لره عَدُوًّا او حَزَنًا د دښمن نارینو ئو لره چه سبب د غړق د دوئی به شی او غم بخوڼلره چه وینزے به ئے شی او د لام د عاقبت د ے یعنی عاقبت د ځے نیولو به داسے کار و نه شی اِنَّ فِرْعَوْنَ بیشکه چه د ے وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا او هامان او لښکر ے د دغه دواړو چه د ی كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ﴿۸﴾ و و د اتول خطا کاران **روایت دے** چه هر کله دوئی تابوت برسیره کهٔ او نظر د حاضرانو په موسیٰ علیه السلام ولګیده نو د هرچا په زړه کښی محبوب واقع شو او د فرعون په زړه کښی خرشنه پیدا شوه نو داسے ئے وویل چه دا هلک څرنګه له قتل خلاص شوے ځے مبادا چه دا هم هغه هلک وی نو خپل ننځے وښتے وویل چه ما له منجمانو اوریدلی دی چه هغه مولود تو تیره شوه نو مهٔ د وژنه او ما لره ئے راکړه چه اوس د لور علاج پرے وکړم او گوندی اینده له هم خبر ترے بیا مو موچه د دهٔ لاړے ئے د لور په برص پوړ کړے نو فی الحال روغه شوه لکه چه وائی وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ او وویل ځے د فرعون چه اسیه بنت مزاحم وه له قوم د بنی اسرائیلو او چا ویلی دی چه عمه وه د موسیٰ علیه السلام قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ چه دا هلک ځوانے د ستړگے د ے ما لره

وَلَكَ ط او تالره هم چه دده ٔ له جهته حُمونږ فرزند شفا بیا مونده لَا تَقْتُلُوْهُ ق نو مهٔ وژنئ دے ۔ عَسٰۤى اَنْ يَّنْفَعَنَاۤ بنائی چه څهٔ نفع درسوی مونږه دواړو ته ځکه چه په وچولی کښ ئے خیر ځلیږی اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا یا به ونیسو دے په فرزندئ نودے ئے په بی بی اسیه وسپارهٔ اودے به ئے تربیت کولو وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝۹ اوحال دا چه فرعون اوقوم ئے په دے نهٔ پوهیدل چه حُمونږ هلاك له ده له لاسه دے وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى او شهٔ زړهٔ د موسی علیه السلام فارغًا خالی له صبره اوله عقله چه ئے واوُریده چه صندوق د فرعون په لاس کښ کیوت یا له ډیرے خوشحالئ چه خبر شوه چه فرعون پرے مهربانی وکړه په خُوئ وینږ اِنْ كَادَتْ بیشکه چه نزدے شوه دا دے حال ته چه له ډیره اضطرابه لَتُبْدِيْ بِهٖ بنکاره که چه دے حُماد ے لَوْلَاۤ اَنْ رَّبَطْنَا کهٔ چرے نهٔ وے دا چه پتئ دصبر او دثبات تړلے وه مونږه عَلٰى قَلْبِهَا په زړه دے باندے دا کار مونږه اوکهٔ لِتَكُوْنَ دپاره دے چه شی دا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۰ له باور کونکیو په وعده حُمونږه وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ اوو ویل دے خور د موسی علیه السلام یعنی خپلے لور ته چه کلثوم نوے وه قُصِّيْهِ زنه ځه ورپسے او ورته کوره چه صندوق ئے کوم طرف تلے فَبَصُرَتْ بِهٖ پس کتل به ئے ده ته عَنْ جُنُبٍ له لرے ځایه پت له دوئ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝۱۱ اوحال دا چه دوئ نه پوهیدل په دے چه دا ئے خورده او دده ٔ جاسوسی کوی وَحَرَّمْنَا اوحرام کړی وو مونږه عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ په ده ٔ شوده ٔ د دائی کانو تولو مِنْ قَبْلُ پخوا له دا تلود کلثوم یا دمورئے روایت دے چه په دے مینځ کښ اته ٔ شپے او اته ٔ ورځے تیرے شوے او فرعون به ورلره دائی کانے راوستلے اما ده ٔ دهیچا تے نه خولهٔ کوله اوفرعون اوښځه ئے اوقوم ئے ټول به ورته حیران اوخفه ناست وو او موسی علیه السلام به خپله ٔ کوته رودله او په نهمه ورځ چه خورئے بیا خبر اخستو له راغله او دوئ ئے ټول مضطرب ولیدل په دائی پسے نو دا ورلره راغله لکه چه دائی فَقَالَتْ پس وویل دے خورئے چه هَلْ اَدُلُّكُمْ ایا خبر کړم تاسے عَلٰۤى اَهْلِ بَيْتٍ په اهل دیو داسے کاله باندے يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ چه واخلی دوئ دا هلک او وے ساتی تاسے لره وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ۝۱۲ اودا اهل بیت به ده ٔ لره خیرخواهان وی یعنی په اړضاع او په نورتربیت کښ ښے هیڅ تقصیر نهٔ کوی روایت دے چه هرکله کلثوم دغه لفظ وایه نوهامان وویل چه دا ښځه ونیسی چه دده ٔ غه هلک له حاله خبره نوده ٔ وویل چه څما مراد مُلك ووچه دوئ د ملک

خیرخواه دی بیا ئے دے تہ وویل چه ورشه هغه بنځه راوله چه مورئے راغلاه اوهلک ئے ددے په غیږکښ
واچولو اود مور بوی پرے ولګیده نوزر ئے تے په خوله کړو اوفرعون ورته وویل چه ته څولک ئے چه
هلک ستا تے واخست دے خو دهیچا تے نه اخلی دے ورته وویل چه حُماله ددۀ پرخوا به دی هر وا
هلک پرته میل کوی نو فرعون موسیٰ علیه السلام پرے وسپارهٔ او اُجرت ئے وغیره مقرر کهٔ اوورته ئے
وویل چه په هغه کښ یوکرت ے ماله راوله نوزه کورته راوړلکه چه والئ فَرَدَدْنٰهُ پس بیرته راوستو
دۀ اِلٰی اُمِّهٖ مور خپله لره کَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا دپاره ددے چه یخ او روښانه شی سترګے ددۀ به فرزند وَلَا تَحْزَنَ
بل چه غمژن نهٔ شی په فراق ددۀ وَلِتَعْلَمَ اوبل دپاره ددے چه یوهه شی دا په عدم مشاهده سره اَنَّ
وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ په دے چه وعده دخدائ ربنتیني ده وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات د قبطیانو لَا یَعْلَمُوْنَ
نهٔ پوهیږی په دے وعده او نه په دے چه دائے موراوداے خورده وَلَمَّا بَلَغَ او هرکله چه ورسیدهٔ موسیٰ
علیه السلام اَشُدَّهٗ نهایت دقوم او تمام دعقل خپل ته او داجمع ده د شدة لکه انعم چه جمع
ده د نعمت وَاسْتَوٰۤی اوبرابر او محکم شو په کمال دعقل کښی یعنی چه څلویښت کاله ئے پوره شو
اٰتَیْنٰهُ حُكْمًا نو ورکهٔ مونږه دهٔ لره نبوت وَّعِلْمًا اوپوهه په احکامودین وَكَذٰلِكَ اوهمدا سے لکه چه
وکړهٔ مونږه له موسیٰ علیه السلام اوله مور سره ئے نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۴﴾ جزا ورکوو مونږه نیکو
کارانولره فائده رب العزت دا تیراَیت دا لکه جمله معترضه په ضمن ئے دقصه کښی راوړه وپه دیوهٔ
کولو دبیان دصدق دوواړو وعدو چه یوه درد وه دموسیٰ علیه السلام بیرته مورته اوبله درسالت
ددهٔ وه وَدَخَلَ الْمَدِیْنَةَ اوراننوت موسیٰ علیه السلام یوه ورځ بنارد مصر ته په هغه موده چه
دویښو کالو په یو روایت وو عَلٰی حِیْنِ غَفْلَةٍ په وخت دغفلت مِّنْ اَهْلِهَا چه پیدا وو اهله
ددے مدینے یعنی په وخت دقیلولے ددوئ فَوَجَدَ فِیْهَا پس بیاموندل دهٔ په دے مدینه کښ
رَجُلَیْنِ یَقْتَتِلٰنِ ﴿ۚ۱۵﴾ دوه سړی چه په جګړه وه سره په خپلو کښی هٰذَا مِنْ شِیْعَتِهٖ چه دا یو تنه له
تابعانو دموسیٰ علیه السلام یعنی اسراءیلی وو چه نوم ئے سامری یا ملیخا وو وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ
اودا بل تړله دشمنانو دده وو یعنی قبطی وو چه نوم ئے فاتون یا فیلقون وو چه خبّاز وو د فرعون اوپه
اسراءیلی ئے خس ورړل په جبراً شیز خانے دفرعون ته نو دوئ په جګړه وو چه موسیٰ علیه السلام

پرے راغے فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِیْ پس فریاد وکړو موسی علیه السلام هغه سړی ته مِنْ شِیْعَتِهٖ چه له تابعانو ددهٔ وو عَلَى الَّذِیْ په هغه سړی چه مِنْ عَدُوِّهٖ له دشمنانو ددهٔ وو نو موسی علیه السلام ورته وویل چه دے پریږده اوهغه قبطی دهٔ ته وویل چه داعوارے چه اوس دغه خس په تا بارکړم - فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى پس په سوك وواهلهٔ دے موسی علیه السلام اودے ډیر قوتناك وو فَقَضٰى عَلَيْهِ ؕ پس مړے کړ اما ددهٔ قصد دقتل نهٔ وو حُكه قَالَ هٰذَا اوویل موسی علیه السلام چه دا کار مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ؕ له عمله د شیطان دے چه حُما غضب لګے راپورته کهٔ اِنَّهٗ عَدُوٌّ بیشکه چه دے دشمن دے دبنی ادم مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ؕ (۱۵) لغزونکے دے بنکاره قَالَ رَبِّ اِنِّیْ بیا وویل موسی علیه السلام له جهته د پښیمانۍ چه اے ربه حُما بیشکه زهٔ چه یم ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظلم مې کړے دے پخپل حُان په قتل د قبطی سره فَاغْفِرْلِیْ پس وبخښه ماته داګناه حُما فَغَفَرَ لَهٗ ؕ پس وباخهٔ خدائی دهٔ ته داتقصیر پرے دهٔ استغفار سره اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ بے شکه دے چه دے هم دے بخښونکے ګناه دے بندګانو ته الرَّحِيْمُ ؕ (۱۶) مهربان دے په دوئ قَالَ رَبِّ بیا ووید هٔ اے ربه حُما بِمَا اَنْعَمْتَ عَلَيَّ قسم دے په دغه انعام ستا په ما مغفرت اوجواب د قسم محذوف دے هغه دا دے چه پس له دے به توبه وباسم له دے کاره فَلَنْ اَكُوْنَ پس هیڅرے به نه شم زه دُوباره ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ؕ (۱۷) مدد کار او یار کنهګارانو فَاَصْبَحَ فِی الْمَدِيْنَةِ پس صبا ګهٔ موسی علیه السلام په دغه ښار کښ خَآئِفًا یَّتَرَقَّبُ په دے حال کښ چه ویریدونکے وو په خپل حُان چه انتظار به ےُ کولو اوحُان به ےُ ساتهٔ له دے چه مبادا څوك راپرے قصاص نهٔ کړی فَاِذَا الَّذِی اسْتَنْصَرَهٗ پس ناڅاپه هغه سړے چه وو چه مدد غوښتے ووهغهٔ له موسی علیه السلام څخه بِالْاَمْسِ یَسْتَصْرِخُهٗ ؕ په پرون هغه اوس نارے وهی او مدد غواړی له موسی علیه السلام څخه په بل قبطی باندے قَالَ لَهٗ مُوْسٰۤى نو وویل هغه اسراءیلی ته موسی علیه السلام اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُّبِيْنٌ ؕ (۱۸) بیشکه ته چه ےُ هرائینه ګمراه ے بنکاره چه پرون دسړے راباندے مرکهٔ اواوس بیا نارے راته وهے فَلَمَّاۤ اَنْ اَرَادَ پس هرکله چه اراده وکړه موسی علیه السلام اودا اَنْ زائده دے اَنْ یَّبْطِشَ دده چه ونیسی دے بِالَّذِیْ هُوَ هغه قبطی چه وو عَدُوٌّ لَّهُمَا د دواړو دښمن ددغه دواړو یعنی د سبطی اود موسی علیه السلام حُکه چه په دین کښ

ترے بیل وو یا چه قبطیان دشمنان وو د سبطیانو قَالَ نو وویل هغه سبطی په دے گمان چه هرکله دهٔ راته غَوِیٌّ مُّبِیْنٌ ویلے دے نو اوس م وژنی څکه ئے ورته وویل چه یٰمُوْسٰۤی اَتُرِیْدُ اے موسیٰ ایا خواهش لرے ته اَنْ تَقْتُلَنِیْ د ځچه مرکړے تهٔ ماهم دا ے کَمَا قَتَلْتَ لکه چه وژلے دے تا نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ګے یوسړے یعنی قبطی پرون یا امقوله د قبطی ده څکه چه اګر که قاتل د هغه پخوانی قبطی معلوم نهٔ وو اما هرکله چه موسیٰ علیه السلام دا سبطی په غوی مبین وبالهٔ نو د هٔ ګمان وکهٔ چه هغه پرونے قبطی هم همدهٔ وژلے دے د دغه سبطی دپاره اِنْ تُرِیْدُ ارادهٔ نهٔ لرے تهٔ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ مکړ دے چه اوسے تهٔ جَبَّارًا فِی الْاَرْضِ سرکښه په زمکه کښ وَمَا تُرِیْدُ اَنْ تَكُوْنَ او ارادهٔ نهٔ لرے تهٔ چه شے تهٔ مِنَ الْمُصْلِحِیْنَ ﴿۱۹﴾ له صلاحیت کونکو په مابین دا د میانو کښ **روایت دے** چه هرکله د سبطی یا د قبطی له خولے داخبره ناش شوه چه فاتون خبر د موسیٰ علیه السلام وژلے دے او فرعون هم په دے خبر شو نو خپل مشیران ئے راحاضر کړه او مصلحت ئے د قتل د موسیٰ علیه السلام وکړ ناګاه خربیل نجار مؤمن د ال فرعون په دے مصلحت خبر شو نو په منډه راغے موسیٰ علیه السلام لره دپاره دا ګاهځ لکه چه وائی وَجَآءَ رَجُلٌ او راغے یوسړے یعنی خربیل مِنْ اَقْصَا الْمَدِیْنَةِ له لرې طرفه د هغه بناره چه هلته د دربار وو د فرعون یَسْعٰی زچه راوند ے ئے وهلے او په لنډه لارے راغے موسیٰ علیه السلام لره قَالَ یٰمُوْسٰۤی نو وویل ورته ده چه اے موسیٰ اِنَّ الْمَلَاَ بیشکه اشراف د قوم چه دی یَاْتَمِرُوْنَ بِكَ مصلحت کوی او ته بهیر ترې ستا لِیَقْتُلُوْكَ دپاره د د ے چه مرکه دوئ تا په عوض د هغے قبطی کښ فَاخْرُجْ اِنِّیْ لَكَ پس ووځه له د غه بناره بیشکه چه زهٔ تا لره مِنَ النّٰصِحِیْنَ ﴿۲۰﴾ له نصیحت کونکو یم او خیرخواه د یم فَخَرَجَ مِنْهَا پس ووت د ے هغه د م له بناره خَآئِفًا په د ے حال چه ویریدونکے وو یَّتَرَقَّبُ ځچه کتل بهئ هر طرفته چه مبادا چه څوک را پسے راوتونهٔ ویږی قَالَ رَبِّ نَجِّنِیْ نو وویل دهٔ چه اے ربه ځما وساته ما او خلاص م کړه مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۱﴾ له دغه قومه چه ظالمان دی یعنی فرعون او تابعان ئے **روایت دے** چه په لاره کښ جبریل علیه السلام ورلره راغے په صورت د بنی آدم او ورته ئے وویل چه د مدین بنار لره لاړشه او په هغه طرف ئے براږلهٔ لکه چه وائی وَلَمَّا تَوَجَّهَ او هرکل چه ع کهٔ دهٔ تِلْقَآءَ مَدْیَنَ طرف د مدین

بنار ته چه له مصره اته ورځې مزل لرے وو قَالَ نو وویل دهٔ په وخت دتوجه کښ چه عَسٰى رَبِّيْٓ امید لرم له رب خپل اَنْ يَّهْدِيَنِيْ ددے چه برابر کړهٔ مَا سَوَآءَ السَّبِيْلِ (۲۲) په سمے لارے نو ملک ورسره شوبه صورت دا دمی اومدین ته ځے ورسولو وَلَمَّا وَرَدَ اوهرکله چه ورسیدهٔ موسیٰ علیه السلام مَآءَ مَدْيَنَ اوبو دمدین ته چه هغه کوهے وو دبنار په خَتَّكښ وَجَدَ عَلَيْهِ نو بیائے موندل په هغه اوبو اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ یوه لویه ډله دا دمیانو چه راجمع شوی وو يَسْقُوْنَ ۾ چه اوبهٔ ئے ورکولے چارپایانو خپلولره وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ اوبیائے موندے رابیرته له دوئ امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ دوه ښځے چه رامنځ کولے به ځکپے خپلے له اوبو چه خلیځ نهٔ شی دخلقو له کډ وسره قَالَ مَا خَطْبُكُمَا نو وویل ورته موسیٰ علیه السلام چه داخرڅکه حال دے ستاسے چه رمه خپله نهٔ اوبهٔ کوئ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ نو وویل دغه دواړو چه اوبه نهٔ ورکوو مونږه میږ وخپلولره حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ سکته ترهغه پورے چه بیرته وګرځی داشپا نډرے خپلے له اوبو څخه وَاَبُوْنَا اوپلار رحمونږه چه دے شیخ کَبِيْرٌ (۲۳) زوړ په دیرے موده دے نو دومره قوت نهٔ لری چه راشی او رمه رالره اوبه کړی ځکه مونږه ځے لیږلے فَسَقٰى لَهُمَا پس اوبدکړه دهٔ هغه رمه دواړو لره په بل کوهی چه دا سے لویه تیږه دوئ په سرے اړولے وه چه لسو سړیو به راپورته کولے نهٔ شوه اوداسے بوقه ئے لرله چه لسو سړیو به را ایستله او داتیږه ئے یواځے ترے لرے کړه اوهغه بوقه ئے هم یوازے راویستله سره له دے چه انهٔ ورځے ځے طعام نهٔ ډوکلے ثُمَّ تَوَلّٰٓى بیائے شاکړه اولاړ اِلَى الظِّلِّ سوړۍ له دیوه اوښے چه اغزی لری فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ پس وویل دهٔ چه اے ربه ځما بیشکه زهٔ چه یم لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ هرهغه ځیز ته چه ولیږے ته ما ته مِنْ خَيْرٍ له خیره یعنی لږ اوکه ډیروی - فَقِيْرٌ (۲۴) محتاج یم بیا دوئ دواړه کورته راغلے خوله نوزه کله پخوا نو پلار ترے پرسان وکړو دسبب د دغه جلتې او دوئ داحال ورته ووایهٔ نو یومے ولیږله ورپسے چه مالره ئے راوله فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا پس راغله موسیٰ علیه السلام لره یوه له دغو دواړو تَمْشِيْ چه ټنګ ئے کولو عَلَى اسْتِحْيَآءٍ زپه طریقه دحیا چه لسو نړے ئے په ځ اچولے وو له شرمه قَالَتْ اِنَّ اَبِيْ نو وویل دے موسیٰ علیه السلام ته چه بیشکه پلار ځما يَدْعُوْكَ بولی تا لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا دپاره ددے چه عوض درکړی تالره اجرت د هغه سَقَيْتَ لَنَا چه اوبه کړے ده تا مونږه له رمه ځمونږه بیا دا په مخکښ شوه اودے ورپسے روان

شو خوچه دغه لاره کښ پاچامه دده به بادخوزوله اوپنډئ به ئے ښکاره کیدله نو موسیٰ علیه السلام ورته وویل چه ته حُما دوروستو راځه اوکه لاړم خطاکول نوغوږ رابانده ئے کوه فَلَمَّا جَآءَهٗ پس هرکله چه راغے موسیٰ شعیب علیه السلام لره وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ لا اوبیان ئے کړه شعیب علیه السلام ته قصه اوخپل حال له فرعون سره قَالَ لَا تَخَفْ وتنه نو وویل ورته دهٔ چه مهٔ ویرېږه نَجَوْتَ چه خلاص شوے مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ له ټولی دظالمانو چه فرعون اوقوم ئے دے ځکه چه دلته د هغه تصرف نشته قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا بیا دویو ے له دغه دواړو چه مشره وه صفورا ئے نوم وو يٰٓاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ډ چه اے پلاره حُما مزدورکه دے دپاره دمېږ وښځو لو اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ بیشکه چه غوره دهغه چاچه مزدورکوے ئے تهٔ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿۲۶﴾ هغه څوك ډېچه هم قوتناك هم امانتګر وی نوپه کنایة ئے ادا کړه داخبره چه دے هم قوی اوهم امین دے نوپلار ورته وویل چه تاقوت اوامانت ئے له څهٔ معلوم کړے دے نوصفورا ورته قصه دتېږے اودبوتے اومر اتلو شاته ورته کړه نوخوشحاله شواو قَالَ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ ووېل دهٔ موسیٰ علیه السلام ته چه بیشکه زهٔ اراده لرم اَنْ اُنْكِحَكَ دڅه چه پهٔ نکاح درکړم زهٔ تاته اِحْدَى ابْنَتَيَّ یو له دواړو لونړ وخپلو هَتَيْنِ چه دا حاضرے دی عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِيْ پهٔ دڅه مزدور اوسے ته حُما دپاره درمه بیولو ثَمٰنِيَ حِجَجٍ اُته کاله فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا پس کهٔ پوره کهٔ تالس کاله یعنی دوه کاله دنورهم راسره تیرکړه چه لس شی فَمِنْ عِنْدِكَ ج پس هغه به ستاله طرفه احسان وی له ماسره هیڅ زیاتی وَمَآ اُرِيْدُ او زه اراده نهٔ لرم اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ط دده چه مشقت واچوم په تاچه خامخا لس کاله راسره پوره کړه سَتَجِدُنِيْٓ زما دے چه بیا به موے تهٔ مَآ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ کهٔ اراده وی دخدائ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ له نیکانو وفاکونکیو په عدو قَالَ ذٰلِكَ بیا ووېل موسیٰ علیه السلام چه هم داعهد مقرر شو بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ط په ما بین حُما او ستاکښ چه اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ هریو له دے دواړو نیټو چه اتهٔ کاله او لس کاله دی قضيت پوره کړهٔ مافَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ط پس بیادِ نه وی تعدی په ما باندے په زیات سره وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ او خدائ په دے چه وایو مونږه وَكِيْلٌ ﴿۲۸﴾ نگهبان اوشاهد دے فَلَمَّا قَضٰى پس هرکله چه پوره کړه مُوْسَى الْاَجَلَ موسیٰ علیه السلام هغه نیټه خپله چه لس کاله وو اوپه یو روایت کښ لس کاله

ئے نورهم ورسره تیرکړه پس له نکاح دصغورا اوبنا یه دغه روایت دے له مصرد سلو کالورا وتلے وو
وَسَارَ بِاَهْلِهٖ اوروان شودے سره له عیاله خپله مصرنه یه یخ تاریکه شپه کښ اولاره ترے ورکه شوه اورمه
ترے تارپه تارشوه اوپه تیخے ئے درد د لنګتابهٔ راغے اودے محتاج شواورته اوپه لوړه وخوت نو ناګاه اٰنَسَ
ولیده دهٔ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا ۚ له طرفه دکوه طورا اورقَالَ لِاَهْلِهِ امګکُثُوْٓا نو ووې ده عیال خپل تاسے
مدار وکړئ تاسے هم په دغه ځائ کښ چه اِنِّیْٓ اٰنَسْتُ نَارًا بیشکه ولیدما اورلَعَلِّیْٓ اٰتِیْکُمْ شنائ چه
راورم زهٔ تاسے لره مِّنْهَا له دے اوره جَذْوَةٍ اودا اوپه حذف دمضاف سره دے ای من مُوقِدِها یعنی له بلوڼکی
دے اورتخه بِخَبَرٍ خبر دلارے چه ورکه شوے ده راتخه په توره شپه کښ اودا حُکه چه تنوین عوض دے
له مضافٌ الیه تخه چه الطریق دے اے بخبر الطریق اَوْ جَذْوَةٍ مِنَ النَّارِ یلچه راورم به بسرے یا لمبه
له هغه اوره لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ شنائ چه تاسے پرے تاودهٔ شئ فَلَمَّآ اَتٰىهَا پس هر کله چه راغے
موسیٰ علیه السلام دغه اورلره نُوْدِیَ نوغږ وکړے شومِنْ شَاطِیِٔ الْوَادِ الْاَیْمَنِ له غاړے له هغه
کنده چه بنی طرف ته وه نسبت موسیٰ علیه السلام ته فِی الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ په هغه قطعه دزمکے
کښ چه برکتناکه وه حُکه چه کلام یکښ اوریدلے شوے وو مِنَ الشَّجَرَةِ له هغے ونے چه په دغه غاړه
ولاړه وه اَنْ یّٰمُوْسٰٓى اِنِّیْٓ دا سے غږ وشوچه اے موسیٰ بیشکه زهٔ چه یم اَنَا اللّٰهُ هم دا زهٔ یم خدائ
رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۰﴾ ربّ دعالمیانو ناګاه چه ونے ته ئے وکتل سپینه لمبه یکښ ولیده بے لوګی
وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ اوبل دا سے غږ ورته وشوچه وغورزوه دا هسا یه زمکه
وغورځوله اومارشو فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ پس هرکله چه وے لیده دا هسا چه مارشوے ده اومنډے
وهی كَاَنَّهَا جَآنٌّ چه کوویا که دانړے مارد ے چه خلق ورته تیرمارو ائی وَّلّٰى مُدْبِرًا نوشائے کړه
ترے په دے حال چه تخنید ونکے وولهٔ ویرے وَلَمْ یُعَقِّبْ ؕ اوونهٔ کړځیده ورته بیرته نوبیا غږوشو
چه یٰمُوْسٰٓى اَقْبِلْ اے موسیٰ مخ که اوبیرته راوګرځه وَلَا تَخَفْ تن اومهٔ ویریږه له دے مار اِنَّكَ مِنَ
الْاٰمِنِیْنَ ﴿۳۱﴾ بیشکه چه ته له امان موندونکوئے له هرافته اُسْلُكْ یَدَكَ ننه باسه لاس خپل
فِیْ جَیْبِكَ پ ګریوان دقمیص خپل کښ اوبیائے رابیرون که تَخْرُجْ بَیْضَآءَ چه راوزی تک سپین
اودا سے شعاع لری لکه شعاع دنمر مِنْ غَیْرِ سُوْٓءٍ نے عیب د برګوالی بلکه یوساعت به سپین وی

بیا به هم هغسے غم رنگه وَاضْمُمْ اِلَيْكَ اوپیوست اورانزدے که خان ته یعنے سینے خپلے ته جَنَاحَكَ سانگ دِ یعنی لاس دِ مِنَ الرَّهْبِ له جهتہ دویرے دمار یالہ برص یعنی که له برص دِ ویره وشی لیارے تحرکے لاندے کرچه بیرته غم رنگه شی فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ پس دغه دواړه چه عصا اوید بیضا دے حجت اومعجزے دی مِنْ رَّبِّكَ له طرفه دربستانیے درسالت ستانوزهٔ له دے دواړو سره اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فرعون اوله ددهٔ تهٔ اِنَّهُمْ كَانُوْا بیشکه چه دوئ دی قَوْمًا فَاسِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ له د فاسقانو قَالَ رَبِّ نو وویل موسیٰ علیه السلام چه اے ربه خُمَا اِنِّيْ قَتَلْتُ بیشکه زهٔ چه یم وژلے دے ما مِنْهُمْ نَفْسًا له دغه قبطیانو یوسړے فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿۳۳﴾ پس ویریږم له دے چه مرپه کړی دوئ ما په قصاص سره وَاَخِيْ هٰرُوْنُ او وروړ خُما چه دے هٰرون علیه السلام هُوَ اَفْصَحُ دے ویر فصیح دے مِنِّيْ لِسَانًا له ماله جهتہ دژبے فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ پس ولیږه هغه ماسره رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْ زیار اومدد کار چه تصدیق خُما په وخت دحجت بازئ کښ اودفع دشبهے کوی له مایا دا چه مراد خُما په ښه وجه بیانوی اِنِّيْٓ اَخَافُ بیشکه چه زهٔ ویریږم اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿۳۴﴾ له دے چه دروغژن به کے دوئ ما قَالَ سَنَشُدُّ نو وویل ورته خدائ ذر دے چه محکم به کړو مونږه عَضُدَكَ لاس دِ بِاَخِيْكَ مټ اوبازو ستا په روړ دِ وَنَجْعَلُ لَكُمَا اودربه کړو مونږه تا کره سُلْطٰنًا غلبه اوتسلط په دشمنانو فَلَا يَصِلُوْنَ پس وبه نهٔ رسیږی دوی اِلَيْكُمَا تاتے دواړو ته په سبب دمعجزو اودحجتونو خُمونږه یعنی په تا ئے هیڅ لاس نه شی رسیدے اَنْتُمَا تاسے دواړه وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا اوهرهغه څوك چه پیروی ئے وکړه ستاسے الْغٰلِبُوْنَ ﴿۳۵﴾ غالبان به اوسئ هیڅ فَلَمَّا جَآءَهُمْ پس هرکله چه راغے دوئ لره مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا موسیٰ علیه السلام له معجزو خُمونږه سره بَيِّنٰتٍ چه بنکاره ظاهرے وے قَالُوْا مَا هٰذَآ نو وویل فرعونیانوچه نه دے دا اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى مګرجادو دے په دروغ تړلے شوے په خدائ اومعجزه نهٔ ده وَمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا اونهٔ ده اوریدلے مونږه دا دعویٰ دنبوت یادا سحر فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۶﴾ په زمانه دهغه پلرونو خُمونږه کښ چه پخوا تیرو دی وَقَالَ مُوْسٰى اوویل موسیٰ علیه السلام رَبِّيْٓ اَعْلَمُ چه ربه خُما بنهٔ دانادے بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى په هغه چا چه راغلے وی دے په هدایت سره له اَنبیاؤ مِنْ عِنْدِهٖ له طرفه دربه یعنی بنه پوهه دے په دے چه زهٔ په حق یم اوتاسے په باطل یئ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ اوبل دانادے په هغه چا چه وی به دهٔ لره عَاقِبَةُ الدَّارِ

شبه خاتمه په دنیا کښی په سلامتئ دایمان سره یا په آخرت کښی په خلاصی له دوزخ اوپه دخول د جنت سره اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ (۳۷) بیشکه شان دادے چه برے به نه موی ظالمان یعنی په هدایت سره په دنیا کښی اوپه خاتمه سره په عقبیٰ کښی وَقَالَ فِرْعَوْنُ او وویل فرعون یٰۤاَیُّهَا الْمَلَاُ اے مقربانو مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرِیْ ځ کوم خدائ غیر له ما چه تعظیم اوعبادت ئ وکړئ تاسے اوموسیٰ علیه السلام وائ چه خدائ پیدا کوونکے دے دآسمان نوشاید چه هغه به په آسمان کښی وی فَاَوْقِدْ لِیْ یَا هَامٰنُ دپاره یٰهَامٰنُ اے هامانه عَلَی الطِّیْنِ په خښتے چه پخه شی اودیوالوند دبنا ترے محکم راشی نوهامان خښتے سازے کړے اوبیا په اوکښی ئ پخے کړے او اول خښتے هم دهٔ بنا کړه بیدی پخوانهٔ وے فَاجْعَلْ لِّیْ صَرْحًا پس سازه کړه ماله رمانړئ لَّعَلِّیْۤ اَطَّلِعُ بنائ ماله رچه وخیژم اِلٰۤی اِلٰهِ مُوْسٰی ولا خدائ دموسیٰ علیه السلام ته اوے کورم چه شته اوکهٔ نشته وَاِنِّیْ لَاَظُنُّهٗ اوبیشکه هرالبته گمان کوم زهٔ په دهٔ مِنَ الْكٰذِبِیْنَ (۳۸) دیوله دروغژنو **روایت دے** چه هرکله فرعون طریقه د خښتو سازولو هامان ته وخوده اما په داسے عجیبه عبارت چه مشتمل دے په دبرتکبر اوتعظیم ددهٔ اوپه دبرذلت اواهانت دمخاطب باندے حُکه چه ئ وباله په یاسره یعنی یٰهَامٰنُ چه وضع دے د پاره دبعید سره دهغه له حضوره اوبیا په اسم محضه سره اوبیا په وسط دکلام کښی اوداهر یومشیر دئ ذلت اواهانت دمنادیٰ اوبیا مامورے ئ کهٔ په جوړولو دیوے دیرے لوئ هسکے مانړئ دپاره دخښتو آسمان ته نوهامان پنځوس زره اوستا کاران راوستل اودآسے پخه اوهسکه مانړئ ئ سازه کړه چه پخوا په جهان کښی داسے هیڅوا نهٔ وه سازه کړے اوچا ویلی دی چه آهوٗ کړوه پورته وه بیا چه پوره شوه اودے پرے وخوت په دئ زعم چه اوس آسمان ته به نژدے شوے اوسم بیا چه پورته ئ وکتل آسمان هم هغسے لرے وو لکه له زمکے نو شرمنده ترے راکوز شو اوبیا دامانړی په امر الٰهی سره جبریل علیه السلام په خپل پر ووهل نو دریے ځایه شوه بوځائ دفرعون په لښکر ولویده چه یولک قبطیان ترے لاندے مړهٔ شول اویوځائ په سیندکښی اویوځائ هسے په وچه ولویده اوله هغه استاکارانو او مزدورانو هیڅوک ترے خلاص نهٔ شول اودفرعون لاعذر اوتکبر زیات شولکه چه وائ وَاسْتَكْبَرَ اوتکبر اوسرکشی ئ وکړه هُوَ وَجُنُوْدُهٗ هم پخپله دهٔ اوهم لښکر دهٔ فِی الْاَرْضِ په زمکه دمصرکښی بِغَیْرِ الْحَقِّ په ناحق

بے ! ستحقاق وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اوگمان وکړهٔ دوئ ردکے چه بیشکه دوئ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ (۳۹) مونږ ته به رانه وستے
شی په قیامت دپاره د حساب فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ کړ پس راونیوهٔ مونږه هم دے اوهم لښکرے ددهٔ فَنَبَذْنٰهُمْ
پس وغورځول مونږه دغه تول فِي الْيَمِّ ج په سیند کښ چه تول په یوکرت غرق شو فَانْظُرْ پس وګوره
تهٔ كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ (۴۰) اخره خاتمه د ظالمانو وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً اوګرځولی وو مونږ
دوئ په دنیا کښ پیشوایان په کمراهئ کښ يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ج چه بولی دوئ اورته تابعان خپل
یعنی په دا سے عملونوئ ماموره کوی چه مفضی وی دوزخ ته لکه کفر او معصیت وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ اوبیا په ورځ
دقیامت لَا يُنْصَرُوْنَ (۴۱) مدد به ونه کړے شی له دوئ سره یعنی دا سے به هیڅوك نه وی چه عذاب
له دوئ دفع کړی وَاَتْبَعْنٰهُمْ اوتابع کړ مونږه ددوئ یعنی لازم کړهٔ مونږه ددوئ سره فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا پدے
جهان کښ لَعْنَةً ج لړے والے له رحمت یا لیرل دخلقو ورپسے لعنت چه تر قیامته ملائکو اوبنی ادم
پرے لعنت وائی وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ اوپه ورځ د قیامت هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ (۴۲) دوئ له قبیح کړی شویو به وی
یعنی تور رنځی یا رنبلی به وی وَلَقَدْ اٰتَيْنَا اوهرڅه ینه په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْكِتٰبَ موسیٰ
علیه السلام لره کتاب چه تورات وو مِنْۢ بَعْدِ مَآ پس له هغه اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى چه هلاك کړی
وو مونږه خلق د پخوانیو قرونو لکه قوم د قرونو لکه قوم د نوح او د صالح او د لوط علیهم السلام په حال د
کیدو دا ایتونو اوتا احکامو د غه کتاب بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ بصیرتونه دپاره د خلقو اوتا اجمع د بصیرۃ ځه نورد
زړهٔ ته وائی یعنی انوار د پاره د زړونو دوئ وَهُدًى اولاره ښودونکی احکامو د شرع نه وَّرَحْمَةً اونه مهربانی دپاره د
عاملانو اوتا بعا لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (۴۳) بنائی چه دوئ پند واخلی پرے وَمَا كُنْتَ اونه وے حاضر اے
رسوله بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ په طرف د هغه غرۂ یا د هغه وادئ یا د هغه مکان چه غربی وو له موسیٰ علیه السلام
څخه په وخت د مناجات کښ اِذْ قَضَيْنَآ په هغه ځائ کښ چه وکړهٔ مونږه اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ موسیٰ
علیه السلام ته وحی د رسالت فرعون ته او قوم د ده ته وَمَا كُنْتَ اونه وے تهٔ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ (۴۴) له
حاضرانو په وخت د وحی کښ د ده ته چه دا احوال د ده مشاهدی وائی وَلٰكِنَّآ اوليکن مونږه وحی وکړه
تا ته د غه قصے د پاره د دے چه اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا پیدا کړهٔ مونږه پس له موسیٰ علیه السلام د پیر
قرونو رکَ یعنی اهل د قرونو چه د پیر اوږد عمرونه ئے لرل فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ج

پس اوبد دهٔ شول په دوئ داعمرونه نوعلوم پکښ ورک شواو احکام شرعیه متغیر شواو اخبار په بل ډ چپه شو نو راولیږ له مونږه تهٔ دیاره د تجدید دکوم تولوچه هریوچا ته معلوم شی چه دا کار دوحی کوم وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا اونهٔ وے ته مقیم فِيْ اَهْلِ مَدْيَنَ په مابین داهل مدین ښاروکښ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ چه لوستل به دِ په دوئ یعنی چه زده کول به دِ له دوئ اٰيٰتِنَا دهغه ایتونه څومونږه چه په هغوکښ وه قصه د شعیب اودموسیٰ علیهما السلام یعنی په مدین کښ خونهٔ وے چه داقصه دِ هلته زده کړے ده وَلٰكِنَّا اولیکن مونږه چه یو كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾ یُو مونږه لیږونکی د دغه قصوتا ته وَمَا كُنْتَ اونهٔ وے ته حاضر بِجَانِبِ الطُّوْرِ په څنګ دکوه طور اِذْ نَادَيْنَا په هغه ځائ کښ چه غږ وکهٔ موسیٰ علیه السلام ته چه خذ الکتاب بقوة واخله کتاب په قوت سره وَلٰكِنْ رَّحْمَةً اولیکن لیږلے مونږه تهٔ جهته د هغه رحمت چه په تا واقع دے مِّنْ رَّبِّكَ له طرفه درب ستا اوخبرکړے مونږه په قصو لِتُنْذِرَ قَوْمًا دپاره دے چه ووږدے تهٔ هغه قوم مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ چه نهٔ دے راغلے دوئ لره هیڅ ویرونکے له عذاب مِّنْ قَبْلِكَ پخواله تا یعنی له مکے خلقو تهٔ اکړکهٔ نور وخلقو له راغلی وولکه بنی اسراء یلو لره لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۶﴾ ښائی چه دوئ پند واخلی ستا په انذار وَلَوْلَآ اَنْ اوکهٔ چرے نهٔ وے لحاظ دے خبرے تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌ چه به ورسیږی دغه مکیا نو ته غم یعنی عذاب بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ په سبب دهغه شرک اومعاصیو چه پخپلو لاسونو دوئ یعنی چه کړی دی دوئ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا پس وبه وائی دوئ په وخت دنزول د عذاب کښ چه اے ربه څومونږه لَوْلَآ اَرْسَلْتَ ولے نهٔ راليږهٔ تا اِلَيْنَا رَسُوْلًا مونږه لره کوم رسول چه ستاپیغام ځ مونږه لره راوړے وے فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ پس پیروی کړے وے مونږه دایتونو ستا سره له تصدیقد رسول وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ اوځ مونږه اوس له مؤمنانو **فائدہ** دااول لولا امتناعیه دے چه شرط اوجزا غواړی اودا ایت ځ تراخره شرط دے اوجزائے محذوفه ده چه لَمَآ اَرْسَلْنٰكَ يا لَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْعَذَابَ دکے او دغه دویم لولا تحضیضیه دے چه له درست مدخول خپل سره واقع شوے دے په سیاق د اول لولا کښ نوحاصل دایت دا سے شو چه چرځ نهٔ وے داقول دوئ پوخت دنزول د عذاب کښ له جهته دکفرو اود معاصیو دوئ چه اے ربه ولے دِ نهٔ راليږهٔ مونږه له کوم رسول چه ستا ایتونه ځ مونږه لره راوړی وے او مونږه پرے عمل کړے وے او اوس مؤمنان وے نو مونږه به ته نهٔ وے لیږلے

یا عذاب به مو راپیږلے وو روایت دے چه هرکله قریشو یهود و پوښتیدل له نبوت د رسول علیه السلام او دوئ وویل چه پیغمبر دے نعت ئے په تورات کښ راغلے دے نو مشرکانو وویل چه موږ داخره هم نهٔ منوځکه چه کهٔ پیغمبر وے نو د موسیٰ علیه السلام په شان معجزے به ئے لرلے لکه چه و ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ پس هر کله چه راغے دے کفارو ته حق یا قرآن یا رسول مِنْ عِنْدِنَا له جانبه ځموږ نه قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِیَ نو وویل دغه کفارو چه ولے نهٔ دی ورکړے شوی معجزے محمد صلی الله علیه وسلم ته مِثْلَ مَآ په شان د هغه معجز و اُوْتِیَ مُوْسٰی ط چه ورکړے شوے وے موسیٰ علیه السلام له ره یعنی ده لره عصا او ید بیضا او کتاب تورل په یوکرت او دا سے نورے هم ورنهٔ کړے شوے د هغه پښتون نور ب العزت وائی چه اَوَلَمْ یَکْفُرُوْا ایا نهٔ وو کافر شوی دوئ یعنی هغه جنس د دوئ په کفر او په عناد را ئے او په مذهب کښ چه کفارو د زمانے د موسیٰ علیه السلام وو بِمَآ اُوْتِیَ مُوْسٰی په هغه معجز و چه ورکړے شوے وے موسیٰ علیه السلام ته مِنْ قَبْلُ ط مخواله قرآنه قَالُوْا سِحْرٰنِ چه وویل قبطیانو چه څښتنان د جادو دی د دواړه چه موسیٰ او هارون علیهما السلام دی تَظٰهَرَا تَنْ چه یشتی یا معاون شوی دی سره د یوبل په خوار قوکښی یا مشرکان د مکے وائی چه تورات او قرآن د واړه جادو دے یو د بل معاونان وَقَالُوْٓا اِنَّا او وائی دا قبطیان یا مشرکان چه بیشکه مونږ بِکُلٍّ کٰفِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ په ټولو پیغمبرانو یا کتابونو کافران یو یعنی یوهم نه منو قُلْ فَاْتُوْا بِکِتٰبٍ ووایه ورته چه پس راوړئ تاسے یو د ا سے کتاب مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ له جانبه د خدائ هُوَ اَهْدٰی مِنْهُمَآ چه هغه ښهٔ لاره خود وکے وی له دغه دواړو کتابونو اَتَّبِعْهُ چه پیروی وکړم زهٔ د هغه کتاب اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۴۹﴾ که چرے یئ تاسے رشتینی په دعوئ کښی چه تورات او قرآن سحر دے فَاِنْ لَّمْ یَسْتَجِیْبُوْا لَکَ پس کهٔ چرے ونهٔ منله دوئ د اخبرهٔ ستا او دا سے کتاب ښے رانهٔ وړو فَاعْلَمْ اَنَّمَا پس پوهه شه تهٔ چه بیشکه هم د اخبره ده یَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ط چه پیروی کوی دوئ د ارزوکانو خپلو بے دلیله بے حجته وَمَنْ اَضَلُّ او څوك دے په گمراه مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ له هغه چا چه پیروی کوی د ارزو خپلے بِغَیْرِ هُدًی په له بنوولو د لارے مِّنَ اللّٰهِ ط له طرفه د خدائ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۵۰﴾ نهٔ بنائ سمه لاره هغه ټولی د ظالمانو ته چه بخ وتلی وی په هوا د نفس کښ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا او هر اُیسنه په تختنیو پیوسته کړی

دی سره مونږ لَهُمُ الْقَوْلَ دوئی لره هر هغه خبره چه د دوئی پکښی منفعت وی یعنی لږ لږ کړی مونږ دوئی لره دا قرآن چه قول سره وعدا و وعید او عبرت او قصے او نصائح او دلائل او امثال دی پیوسته پیوسته بل پسے یا د اګے چه یوآیت په بل پسے او یو سورت په بل پسے په تدریج سره راغلے دے د پاره د دے چه لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (۵۱) شائی چه دوئی پند پرے واخلی او بنهٔ فکر پکښی وکړی چه د اسے پیچ در پیچ کلام او معجز شان د بنده نهٔ دے اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ هغه کسان چه ورکړے دے مونږه دوئی لره کتاب یعنی تورات کد آیات پکښی مذکور دی لکه ابن سلام او ملګری د دهٔ شوبا انجیل لکه هعه دوه دیرش سړی چه جعفر طیار سره له حبشو راغلی وو مکے له اوتهٔ تنه له شامه راخلوبنت نهاری وو چه اسلام ئے راوړے وو مِنْ قَبْلِهٖ پخوا له قرآن هُمْ بِهٖ دوئی په دے قرآن يُؤْمِنُوْنَ (۵۲) ایمان راوړی وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ او په هغه وخت چه ولوستے شی دا قرآن به قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ نو وائی دوئی چه ایمان راوړے دے مونږه په دهٔ قرآن او یقین دے مونږه په دے چه اِنَّهُ الْحَقُّ بیشکه دے چه حق دے چه راغلے دے مِنْ رَّبِّنَآ له طرفه د ربه مونږه اِنَّا كُنَّا بیشکه چه مونږه وو مِنْ قَبْلِهٖ لا پخوا له نزول د دهٔ مُسْلِمِيْنَ (۵۳) کړدن نهاده د دهٔ حکه چه د دهٔ قول حال له پخوا نیو کتابونو مونږ نه معلوم وو اُولٰٓئِكَ دغه کسان چه دی ایمان ئے راوړے دے په قرآن کهٔ یهود که نصاری دی يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ ورکړے کیږی شی دوئی لره اجر د دوئی مَّرَّتَيْنِ دوه کرته یو کرت په ایمان د خپل کتاب او بل کرت په ایمان د قرآن بِمَا صَبَرُوْا په سبب د دے چه صبر کړے وو دوئی په دوارو ایمانونو باندے ایمان د قرآن پخوا له نزول **روایت دے** چه دے څلویښتو نصرانیانو نه ابو جهل او ملګری وو به ئے زورنے کولے او دوئی به ورته ویل چه تاسے لره د هم خدائ توفیق دا ایمان درکړی یا مسلمانانو به طعن ویلو به ابن سلام او په ملګروئے او دوئی به زمونږ خبره ورته کوله نو دوئی په مدح کښی نازل شو وَيَدْرَءُوْنَ او دفع کوی دوئی بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ په نیکی خبرے سړی بده خبره یا په طاعت سره معصیت یا په حلم سره ضرر وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او بعض له هغه مال چه ورکړے دے مونږه دوئی لره يُنْفِقُوْنَ (۵۴) ورکوی دوئی په لاره د خدائ کښی وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ او په هغه وخت چه واوری دوئی کومه بیهوده خبره لکه زور ول د مشرکانو او طعن د منافقانو اَعْرَضُوْا عَنْهُ نو خنګ وکړی دوئی له هغه لغو او په سکوت کښی ئے تیر کړی وَقَالُوْا او وائی دوئی هغه څښتانو دلغوته لَنَآ اَعْمَالُنَا دی مونږه لره عملونه زمونږه له حمله او له صبره وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ او دی تاسے

له عملونه ستاسے له حماقت اوله لغو یا مونږه له ره خپل دین دے سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ د سلام دے یعنی امان ستاسے له مونږه تاسے لره له دے چه ستاسے دلغو مقابله وکړو مونږه په لغو سره لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿۵۵﴾ نه غواړو مونږه جاهلان یعنی صحبت او اختلاط دوئی چه موجب دخسارت دے په دنیا او په عقبے کښ **روایت** دے چه ابوطالب په وخت دمرګ کښ وویل چه اے بنی هاشمو رشتینے وبولئ محمد صلے الله علیه وسلم چه خلاص شی له عذابه نو رسول الله علیه وسلم ورته وویل چه اے چاچره نو روخلقو ته نصیحت کوے او خپل ځان دهیر دے نو هغه وویل چه وراره څرنګه راته وائے ده وویل یوکلمت وایم چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چه ځما عذر خواهی ته جوړشی نو ابوطالب وویل چه لکه چرے زه نه ویریدے له سرزنشه اوله ملامتئ دوړواودزړه وښځود قریشو نو به م ویلی وو اوله دے سره موافق پخوا په ایام د صحت څو ابیات ئے هم ویلی دی چه دا دی ـ ؎

تَاللّٰهِ لَنْ يَّصِلُوْا اِلَيْكَ بِجَمْعِهِمْ	حَتّٰى اُوَسَّدَ فِي التُّرَابِ دَفِيْنًا
فَاصْدَعْ بِاَمْرِكَ مَا عَلَيْكَ غَضَاضَةٌ	اَبْشِرْ بِذَاكَ وَقَرِّ مِنْهُ عُيُوْنًا
وَدَعَوْتَنِيْ وَزَعَمْتَ اَنَّكَ نَاصِحِيْ	وَلَقَدْ صَدَقْتَ وَكُنْتَ ثُمَّ اَمِيْنًا
وَعَرَضْتَ دِيْنًا لَا مُحَالَةَ اَنَّهٗ	مِنْ خَيْرِ اَدْيَانِ الْبَرِيَّةِ دِيْنًا
لَوْلَا الْمَلَامَةُ اَوْ حِذَارِيْ سَبَّةٍ	لَوَجَدْتَنِيْ سَمْحًا بِذَاكَ مُبِيْنًا

اوهرکلمه چه دهٔ پرحرص کولوپه ایمان د ابوطالب نو نازل شو اِنَّكَ بیشکه ته چه ئے لَا تَهْدِيْ هدایت نه شے کولے یعنی ته قادر نه ئے په دے چه دایمان په لاره ئے برابر کړے مَنْ اَحْبَبْتَ هرهغه څوك چه ته محبت لرے د هدایت د هغه سره وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اولیکن خدائ چه دے يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ هر سړے لاره بنائی هرهغه چاته چه اراده ئے وشی وَهُوَ اَعْلَمُ اودهغه ذات دے بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ په سمه لاره موندونکیو یعنی په هغوچه حکم ازلی شوے دے په هدایت د هغو **روایت** دے چه حارث بن عثمان رسول الله صلے الله علیه وسلم ته ووبل چه مونږه پوهیږو چه ته رشتینے ئے او مونږه ته هغه لاره نه ښکاره چه ځمونږه د دوارو جهانو نو پکښ خیر دے اما که ستا متابعت وکړو نو له دے ویریږو چه داچاپیریدلی به مونږه له دغه ځائ په جلتی او باسی او ورڅ به څو نو په رد دے قول کښ نازل شو وَقَالُوْٓا او وائی دا

کفارانو تَتَّبِعِ الْهُدٰى کہ چرے متابعت وکړو مونږه دلارے دحق مَعَكَ له تاسره اوایمان په تا راوړو نُتَخَطَّفْ نو وایه لوزمے شواوپه جلتئ به وویستلے شو مِنْ اَرْضِنَا مالهٔ زمکے خپلے یعنے له دغه خپله وطنه نورب العزت فرمائی په جواب ددوئ کښ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ ایا نهٔ دے ورکړے حُرَمًا امِنًا دا سے حرم په امامے له قتل اوله عارته چه نورتمام عرب پرے مبتلا دی اوبل داچه يُجْبٰٓى اِلَيْهِ راچولے شی له هره طرف دے حرم ته ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ میوے دهرڅیز سره له کیدلو دے حرم وادی بے کښت رِزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا روزی لږجانبه خُمونږه بے منت نوهرکله چه دوئ سره له دغه بت پرستئ مونږه دا سے په امان ساتو نوپس له ایمان راوړلو به څونکه نه ساتو یعنی لابنهٔ به ےساتو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات ددوئ چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ (۵۷) نه پوهیږی په دے وَكَمْ اَهْلَكْنَا اوډیر هلاك کړی دی مونږه مِنْ قَرْيَةٍۭ له اهل دښاره چه په سبب د بے فکرئ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا چه کافرشوی دی په عیش خپل کښ یعنی دا وفور نعمتونو موجب دبغی د وتړ شو لکه اهل دمکے نومونږه هلاك کړه دوئ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ پس دا دی ځایونه مهغوئ چه خراب او الی پرتے دی لَمْ تُسْكَنْ چه اُسیدنه پکښ نهٔ ده ګرے شوے یعنی پکښ نهٔ دی اوسیدلی مِّنْۢ بَعْدِهِمْ پس له هلاکه ددوئ اِلَّا قَلِيْلًا مګر لږ یوساعت دکوم مسافرانو راروی وَكُنَّا او وو مونږه نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ (۵۸) هم دا سونږه وارثان یعنے پوټل هلاك شواومساکن ئے مونږه ته پاتے شو لکه مورث چه مړشی اوهرڅهٔ ئے وارثانو ته پاتے شی وَمَا كَانَ رَبُّكَ اونهٔ دے رب ستاله جهته دعادته مُهْلِكَ الْقُرٰى هلاکونکی دے بنارونو هروخت بلکه عادت ئے دادے چه نهٔ ئے هلاکوی حَتّٰى يَبْعَثَ تر هغه پورے چه ولیږی دے فِيْٓ اُمِّهَا په مور یعنی په اصل اوپه عنت دهغه بنارونو کښ رَسُوْلًا یَّتْلُوْا یو رسول چه لولی دے عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا چه دوئ اٰیتونه خُمونږه دپاره دقطع کولو دعذر وَمَا كُنَّا اونهٔ یو مونږه مُهْلِكِي الْقُرٰٓى هلاکونکی یعنی خرابوئ کی دغه بنارونو په عذاب سره اِلَّا وَاَهْلُهَا مګر په هغه وخت چه اهل دغه بنارونو ظٰلِمُوْنَ (۵۹) ظالمان وی په تکذیب درسُلو اوپه انکارله حق وَمَآ اُوْتِيْتُمْ اوهرهغه چه درکړے شوی دی تاسے تهٔ مِّنْ شَيْءٍ له کوم څیزه چه اسباب وی ددنیا فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا پس هغه معاش دے دهغه واړه ژوندون وَزِيْنَتُهَا اوبنایست دے دغه دنیا فانی بے بقاوَمَا عِنْدَ اللّٰهِ اوهرهغه چه خدائ ځمه دی چه غفران اورضوان اوجنت اودیدار دے خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ط هغه هم غوره اوهم باقی دے ځکه چه نهٔ

پکښ محنت او مشقت شته اونهٔ فنا لری اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ ایا پس تاسے عقل نهٔ کوئ چه اسان په
سخت او باقی په فانی بدلوئ اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ ایا پس هغه خوك چه وعده وکړه مونږه له دهٔ سره وَعْدًا
حَسَنًا وعده ښه چه هغه وعده ده جنت اوددیدار فَهُوَ لَاقِيْهِ پس دے مونږسره یکے دے دهغه وعدے
بے شبهے كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ دے دے دے لکه هغه خوك چه معاش ورکړے وی مونږه دهٔ له مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
معاش دَدے وارِه ژوندون لکه نعمت دزحمت سره او دولت له محنت سره او مال له زوال سره او جاه وجلال
له انتقال سره ثُمَّ هُوَ پس له هغه بیا دے يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ دقیامت مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾ له حاضر
کړے شویو به وی اُورته اوله دغودواړو یا رسول الله صلے الله علیه وسلم اوابوجهل دے یا علی رضے
عمار رضے او ابوجهل دے یا مطلق مؤمن اوکافر دے وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اویاده کړه هغه ورځ چه غږ به وکړے خدا
دغه کفارو ته فَيَقُوْلُ پس وبه وائی وسته چه اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چرته دی اوس هغهٔ شوهنه شریکان
تُمَا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾ چه وئ تاسے په دنیا کښ چه گمان به موکولو پرے د شریکانو تُمَا قَالَ الَّذِيْنَ
نو وبه وائی هغه کسان حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ چه ثابت او واجب شوے دے په دوئ گفت په دخول د
نار چه هغه شیطانان یا مشران دی دکفارو چه وائی به رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اے ربه خُمونږه داضعیفان
او تابعان هغه کسان دی اَغْوَيْنَا چه لغزولی وو مونږه دوئ په دنیا کښ۔ داهٰؤُلَاءِ مبتدا دی او الذین
اغوینا ئے خبر ئے او باید پکښ محذوف دے چه هُمْ دے او داهم کښ ځان له کلام دے یعنی داچه اَغْوَيْنٰهُمْ
لَغْزولی وو مونږه دوئ داسے كَمَا غَوَيْنَا لکه چه گمراه شوی وو مونږه په خپله او یا دا موصول
صفت دے دمبتدا او اغوینهم ئے خبر دے **حاصل** مراد دهغه شیاطینو یا کفارو دا دی چه
مونږه خو پخپل اختیار لغزیدلی وو نو هم داسے دوئ هم په خپل اختیار لغزیدلی وو ځکه چه کهٔ مونږه
دوئ کفر ته بللی وو خو په مقابله ددے کښ خدائ هم ایمان ته بللی وو چه رسولان اوکتابونه ئے
ولږه راالیږلی وو سره له دلائلو دعقل اوهر کله چه داسے وو تَبَرَّاْنَآ اَلَيْكَ بیزاره یو مونږه تاته هم له
دوئ اوهم له هغه کفره ددوئ چه پخپل اختیار ئے غوره کړے وو مَا كَانُوْٓا نهٔ وو دوئ اِيَّانَا
يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ داسے چه خُمونږه عبادت ئے کولو بلکه عبادت د هوا دنفس خپل ئے کولو وَقِيْلَ اُدْعُوْا
وبه ویلے شی دے کفارو ته چه وبولئ تاسے شُرَكَآءَكُمْ هغه شریکان خپل یعنی هغه بتان چه تاسے

په خدایئ کښ ماسره شریکان کړی وو چه اوس دا عذاب درڅخه دفع کړی فَدَعَوْهُمْ پس وبه بولی دا کفار هغه بتان په طمع د مدد کاری فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ پس هر هسیڅ جواب به ورنهٔ کړی دا بتان دوئ له په سبب عجز له جواب او له نصرت وَرَأَوُا الْعَذَابَ ج او وبه وینی دوئ عذاب. هم تابعان اوهم متبوعان لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ ﴿٦٣﴾ وے په دنیا کښ چه سمه لاره ئے نیولے وے نو دا عذاب به ئے اوس نه وو لیدے وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ او یاده کړه هغه ورځ چه غږ به وکړی خدائ مکذبانو ته فَيَقُولُ پس وبه وائ ورته مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ هغه چرنگه جواب وو چه وکړے وو تاسے رسولانو له په هغه وخت چه تاسے ئے حق ته بللی وئ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنْبَاءُ پس پټ به شی په دوئ جواب د پیغمبرانو له ډیره هیبته یا جواب خپل چه پرے خلاصیدی یا حجت يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ د فرسان فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿٦٦﴾ پس دوئ به نهٔ پوښتی سره پخپلو کښ یو له بله هم څکه چه پتول به لاجواب وی فَأَمَّا مَنْ پس هر چه هغه څوک تَابَ وَآمَنَ چه توبه وباسی له شرکه او ایمان راوړی په خدائ او په رسول وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل کوی د نیکو فَعَسَىٰ أَنْ يَكُونَ پس ښائی چه وی به د مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾ لرغلاصیدونکو په وخت د سوال کښ له جوابه **روایت دے** چه هرکله مشرانو د قریشو وویل چه خدائ ولے محمد صلی الله علیه وسلم لره د نبوت ورکړو لو د اخو د یو لوئ منصب وو نو میبا ید چه کوم غټ سړی لره له مکے یا له طائف ورکړے شوے وے لکه ولید بن مغیره د مکے یا ابو مسعود د طائف. لکه آیت دے چه لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ۝ نو په جواب د دوئ کښ نازل شو وَرَبُّكَ يَخْلُقُ او رب ستا پیدا کوی مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ هر هغه څوک چه اراده ئے وشی د پیدا کو دهغه به موجبه بے مانع او غوره کوی دے د پاره د رسالت هر هغه څوک چه اراده ئے وشی مَا كَانَ او نهٔ دے لَهُمُ الْخِيَرَةُ دوئ لره اختیار ددے رد او قبول بلکه خدائ لره دے سُبْحَانَ اللَّهِ پاکی ده خدائ لره له دے چه د بل چا اختیار له دهٔ د پاسه ښی وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ او بلند شان دے له هغه شرکه چه د غه بت پرستان ئے ثابتوی وَرَبُّكَ يَعْلَمُ او رب ستا پوهیږی مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ هغه عداوت سنتا او کینه د مؤمنانو چه پټوی ئے سینے د دوئ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ او هغه طعن او تکذیب د قرآن چه څکاره ئے وائ دوئ وَهُوَ

عه معنی دا چه نه نازلیدهٔ دا قرآن په یو لوئ سړی باندے له دو د قریو څخه ۱۲

اللّٰہُ او دے هغه خدائ دے چه مختص او مستحق دے دالوهیت لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ نشته بل لائق دالوهیت او معبودیت مګرخاص هم دے دے لَهُ الْحَمْدُ خاص هم دهٗ لره ثناده فِی الْاُوْلٰی وَالْاٰخِرَةِ زهم په دنیا او هم په اخرت کښ حُکْمُ چه څښتن دنعمتو نو دواړو وجها نوهم دے دے وَلَهُ الْحُکْمُ اوخاص هم دهٗ لره دٗ حکم اوقضا په مابین دبندګانو نوخپلو کښ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ (۷۰) اوخاص هم دهٗ ته به بیا بیوسئ په قُلْ اَرَءَیْتُمْ دوایه اے رسوله دغه مکیانو ته چه اَبا وینی تاسے یعنی څرنګه درته ښکاره پیری چه اِنْ جَعَلَ اللّٰہُ کهٗ چیرے وګرځوی خدائ عَلَیْکُمُ الَّیْلَ سَرْمَدًا په تاسے داشپه اوږده همیشه اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ اینتر ورځے دقیامت پورے په دے شان چه نمر همیشه زهګه لاندے حصارکه اوراختلوته ئے نه پریږدی مَنْ اِلٰهٌ نوڅوك دے هغه خدائ غَیْرُ اللّٰہِ بے له اللّٰه جل شانه یَاْتِیْکُمْ بِضِیَآءٍ چه راوړی تاسے له رنړاچه پکښ خپل کمزوان وکړے شئ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ (۷۱) ایا پس نهٗ اوږئ تاسے داخبره دزړهٗ په غوږ وچه موجب داوختو ستاسے شی له شرکه قُلْ اَرَءَیْتُمْ بیاوایه ورته چه ایا وینی تاسے اِنْ جَعَلَ اللّٰہُ چه کهٗ چیرے وګرځوی خدائ عَلَیْکُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا په تاسے داوږئ اوږده همیشه اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ اینتر ورځے د قیامته پورے داسے چه نمر پاس په مینځ دآسمان کښ حصارکه اولویدلوته ئے نهٗ پریږدی مَنْ اِلٰهٌ نوڅوك دے هغه خدائ غَیْرُ اللّٰہِ بے له اللّٰه عزاسمه یَاْتِیْکُمْ بِلَیْلٍ چه راوړی تاسے له شپه تَسْکُنُوْنَ فِیْهِ چه ارام وکړئ تاسے په هغهٗ کښ اوپه خوب سره راحت درلره حاصل شی اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ (۷۲) ایا پس نهٗ وینئ تاسے دا اثار دقدرت چه موجب شی داوختو ستاسے له شرکه وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ اوخاص له رحمته خپل پیدا کړے ده دهٗ لَکُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ تاسے لره هم شپه اوهم ورځ لِتَسْکُنُوْا فِیْهِ دپاره د دے چه ارام وکړئ تاسے په دے شپه کښ وَلِتَبْتَغُوْا اوچه ولټوئ په ورځے کښ مِنْ فَضْلِهٖ له فضل یعنی له روزئ ددهٗ وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ (۷۳) اوښائ چه شکر وکړئ تاسے په دے نعمت دشپے او ورځے وَیَوْمَ یُنَادِیْهِمْ اویاده کړه هغه ورځ چه غږ بهوکړی خدائ دغه بت پرستانو ته فَیَقُوْلُ پس وبه وائی ورته چه اَیْنَ شُرَکَآءِیَ الَّذِیْنَ چرته دی اوڅه شول اوس هغه شریکان تُمْ کُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ (۷۴) چه وئ تاسے په دنیا کښ چه ګمان به موکولو پرے څاد شریکانو په دروغو وَنَزَعْنَا اوبیرون به راوباسو مِنْ کُلِّ اُمَّةٍ له هر ټولی شَهِیْدًا یو شاهد په افعال واقوالو دوئ یعنی پیغمبر د هغه وخت چه

شاهدی به ووائی په کفر او په تکذیب دوئ فَقُلْنَا هَاتُوا پس وبه وایو موندره دوئ ته چه راوړئ اوس بُرْهَانَكُمْ هغه حجت او دلیل خپل چه لرئ ے په دے شرك او تکذیب فَعَلِمُوا پس پوهه شی دوئ هغه وخت په یقین اَنَّ الْحَقَّ لِلّٰهِ چه بیشکه اُلوهیت او توحید خاص خدائ لره دے اوبل هیڅوك اوسره شریك نه دی په دغه کښ وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورك به شی له دوئ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ (۷۵) هغه اثبات د شرکاؤ او امید د شفاعت له بتانو چه وو دوئ چه په دروغو به ئے ثابتول اِنَّ قَارُونَ بیشکه قارون چه ووکان مِنْ قَوْمِ مُوسٰى وو له قومه د موسیٰ علیه السلام څخه یعنی له بنی اسراءیلو وو چه د موسیٰ علیه السلام د تره خوئ وو دا سے چه قارون بن یصهر بن قاهث بن لاوئ بن یعقوب علیه السلام وو او دے په سبب د ډیر ښائست منور بالهٔ شه او په اول کښ مسلمان او ښهٔ قاری وو د تورات - او یوله هغو اویا کسو وو چه موسیٰ علیه السلام رازله بیولی وو اماد سامری په شان منافق شو او دے چه عاجز او نادار وو نو ډیر متواضع وو بیا چه دولتمند شو نو ډیره لوئی او کبر ئے پیدا کړو لکه چه وائی فَبَغٰى عَلَيْهِمْ پس جبر او تعدیٰ اولوئی ئے بنا کړه په دے بنی اسراءیلو په سبب د کبر او د ډیر والی د مال ځکه چه دولت ئے ډیر شوے حسابه لکه چه وائی وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ او موږ کړے وو موندره دهٔ له خزانو مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ دومره قدر چه بیشکه کلیګانے د هغه چه وی او دا مَا په معنیٰ د الَّذِیْ دے او دغه اِنَّ سره له اسم اوله خبره خپل ئے صله ده لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ هر ائینه درنه او ستومانه کوله به ئے یوه لویه ډله د سړیو چه چا خلوښت ویلی دی اوچا اَوْلِی الْقُوَّةِ ته اول څښتنان د قوت یعنی پهلوانان اوصاحب د مدارك ویلی دی چه شپیته څرپه پرے باریدل اودغه ټوله د پوستکو وے او له کوتے به زیاتے نهٔ وے او هرے خزانے له به یوه کلی وه اوچا ویلی دی چه مراد له مفاتیح لونبی د ساتلو د مال دی اوهغه ځلور کروړه اوخلویښت زره خیګان وو د اِذْ تَوْلِ د لَهٗ سره او سپینو زرو وو اِذْ قَالَ یاد کړه هغه چه وویل لَهٗ قَوْمُهٗ دهٔ ته قوم خپل یعنی مسلمانانو ئے لَا تَفْرَحْ چه مهٔ خوشحالیږه په ډیر والی د مال یعنی کبر او فخر پرے مهٔ کوه ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ (۷۶) نه خوښوی خوشحالیدونکی یعنی کبر او فخر کونکی په مال وَابْتَغِ او غواړه فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ په هغه دولت کښی چه درکړے دے تاله خدائ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ هغه جهان یعنی د اموال د صرف که په لاره د خدای کښی او وسیله ئے که حصول د اخرت

ته وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ اومه هیروه برخه خپله مِنَ الدُّنْيَا له مال د دنیا یعنی مه هیروه داچه برخه د پوخت کوچ کښی له دغه ماله چه د جمع کولو یکن به وی فقط یا معنی داچه په دنیا کښی هم په خان کلوه هغه قدر مبلغ چه کفاف د پرے کیږی وَأَحْسِنْ او احسان کوه له بندګانو خدائ سره په ورکړو مال كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ لکه چه احسان کړے دے خدائ إِلَيْكَ له تاسره چه داسے د پر دولت ئے د درده درکړے دے وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ اومهٔ غواړه فساد فِي الْأَرْضِ پـه زمکه کښی چه لویئ او په ظلم او په بغی سره إِنَّ اللَّهَ بیشکه چه خدائ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿۷۷﴾ نهٔ خوښوی فساد کونکی قَالَ نو ووبل قارون دوئ ته په جواب کښی إِنَّمَا أُوتِيتُهُ بیشکه هم ما خبره ده چه راکړے شوے دے مالره وغه مال عَلَىٰ عِلْمٍ عِنْدِي ﴿۷۸﴾ پـه هغه علم چه ما سره دے یعنی علم د تورات یا د کیمیا یا د سود اګرئ یا د دهقانئ یا د کوم بل کسب دے **فائده** سهل ویلی دی چه نیلبخت هغه سړے دے چه اقوال او افعال او احوال خپل ئے قول منسوب کول خدائ ته او په هریوه کښی ئے خان ممنون بالهٔ او بد بخت هغه دے چه دغه قول ئے خان ته منسوب کول او فخر به ئے پرے کولو او له خدائ یعنی عاقل وو لکه قارون- نو عاقبت ئے هلاک دے دهغه پـه شان أَوَلَمْ يَعْلَمْ ایا معلوم شوی نهٔ ووده ته د تورات او له کتابونو د اخبره چه أَنَّ اللَّهَ بیشکه خدائ قَدْ أَهْلَكَ پـه تحقیق هلاک کړی دی دهٔ مِنْ قَبْلِهِ یخواله دغه قارون مِنَ الْقُرُونِ له اهل د زمانو مَنْ هُوَ أَشَدُّ هر هغه څوك چه د پر سخت وو مِنْهُ قُوَّةً له دے قارون له جهته د قوت وَأَكْثَرُ جَمْعًا او د پر وو له جهته د مال یا له جهته د ملاتړه وَلَا يُسْأَلُ اونه به شی پوښتیدے عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴿۷۸﴾ له ګناهونو خپلو مجرمان یعنی مشرکان حُکه چه پوښتنے ته به حاجت نهٔ وی یا له دغه جهته چه دے پخپله پرے مطلع دے بے اخباره د دوی او چه معلوم به وی دوئ پـه ښنه چه محونه به ئے تورو سی او یا چه دوزخ لره به ځی بے سواله فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ پس راوووت دے پیرون پـه قوم خپل فِي زِينَتِهِ د پـه بناست او بد به خپله کښی لاسے چه څلور یا نوی زره سواره وو وو سره بعض پـه اسونو او بعض پـه سپینو قچرو چه زینونه ئے د سره زر وو او د دوئ جامے د ټولو سره دریابی یا د زیرے ارغوانی وے **حاصل** داچه هرکله دے پـه دغه د بد به کښی قوم ولیدو نو قَالَ الَّذِينَ وویل هغه کسانو يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا چه غوښته ئے د اکیکے ژوند او میل د زرهٔ ئے هم دهٔ ته وو او چا ویلی دی چه کفارو وو يَا لَيْتَ لَنَا اے کاشکے چه وے مونږه لره هم له دولت لوله مال مِثْلَ مَا پـه

شان د هغه مبلغ اُوتِیَ قَارُوْنُ ۙ چه ورکړے شوے دے قارون له اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِیْمٍ ﴿۷۹﴾ بیشکه چه دے هرائینه خښتن دے د لوئی برخے له دنیا نخه وَقَالَ الَّذِیْنَ او ووایل هغه کسانو اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے شوے وو د وئی لره علم په حال د اخرت یا په برکت د توکل او د قناعت دغه ارمان کونکو ته وَیْلَكُمْ چه افسوس دے تاسے لره ثَوَابُ اللّٰهِ ثواب د الله خَیْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ ډیر غوره دے هر هغه چا لره چه ایمان ئے راوړے دے په خدائ او په رسول وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل ئے کړے وی د نیکو وَلَا یُلَقّٰىهَآ او نه ښودنه نه شی کولے دغه خبرے چه عالمانو کړیده اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ مگر صبر کونکو ته یه طاعاتو د نفس **روایت دے** چه قارون ملعون به هیڅوخت ایذا رسوله موسی علیه السلام ته او ده به ډیر مدار وس سره کولو له جهته د صله رحمئ ترهغه پورے چه حکم د زکوٰة راغے نو صلح ئے وکړه له قارون سره په دے چه له زر و دینارو یو دینار او له زرو درهمو یو درهم زکوٰة وباسه بیا د هغه چه حساب ټول وکړئ نو نفس ئے قبول نه کړ په سبب د ډیر والی او بنی اسراءیلو ته ئے وویل چه موسیٰ علیه السلام له تاسے اوس دا مالونه اخلی نو د وئی ورته وویل چه هُمونږه اختیار ستاسے د هرڅه چه وائے راته دے وویل مصلحت دادے چه دے په خلقو کښ رسوا کړو نو یوے ښځے فاجرے له ئے دنیا و کړه په دے چه ته وُوایه چه موسیٰ علیه السلام په ما لاس لګولے دے بیا په ورځ د اختر موسیٰ علیه السلام په خطبه کښ وویل چه کهٔ څوك غلا وکړی اولاس ئے پرے کړئ او کهٔ زنا وکړی نو لونډ په دُرو ووهئ او د وادهٔ خاوند سنګسار کوئ. نو قارون وویل کهٔ ته ئے هم نو موسیٰ علیه السلام وویل کهٔ زهٔ اوسم نو هم. نو دهٔ ووایل چه بنی اسراءیل وائی چه تا په فلانی ښځے لاس لګولے دے نو هغه ئے حاضره کړه او ورته ئے وویل چه ستا د قسم وی په هغه خدائ چه سینډے چولے دے او تورات ئے رالیږلے دے چه رښتیا و وایه نو هغے وویل چه قارون ماته مبلغ راکړے دے چه ته د خلقو په مخ کښ دا پسے ووایه نو موسیٰ علیه السلام په سجده پریوت او خدائ ته ئے سوال وکړ چه کهٔ زهٔ واقعی رسول یم نو ځما انتقام ترے واخله نو وحی ورته وشوه چه زمکه م ستا مطیعه کړه هرڅهٔ چه وائے هغی به ئے نو دهٔ عزر وکړ چه هرڅوك چه د قارون ملګرتیا نه کوی ترے لرے شئ چه غضب د خدائ راغے نو دوه سړی ورته پاتے شول او نور ټول ترے لاړل نو ده ووایل چه اے زمکه! قارون نیسه نو ترنګلنو نو پورے لاړه بیائے ووویل

چه ئے نیسه نو تر نامه ډوب شو بیا ئے وویل چه ئے نیسه نو تر اوږیره ډوب شو بیا ئے وویل چه ئے نیسه نو ټول ډوب شو بیا خلقو وویل چه قارون ئے دے دیاره ډوب کړ چه مال دهٔ ته میراث پاتے شی نو بیا ئے خدائ ته سوال وکړو نو مینه ئے هم ورسیږه له ټول ماله ورپسے ډوبه شوه لکه چه وائ فَخَسَفْنَا بِهٖ پس وچول مونږه په قارون وَبِدَارِهِ الْاَرْضَ قف اوپه مینه دهٔ هم زمکه داسے چه ټول پکښ ښکته لاړهٔ اوهره وړځ په قدر وخیل قد ښکته کیږی فَمَا كَانَ لَهٗ پس نهٔ ووهٔ لږه پوے وخت دډوبید لوکښ مِنْ فِئَةٍ کومه ډله دوستانو يَّنْصُرُوْنَهٗ چه مدد کاری ئے کړے وے له ده سره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قف غیر له خدائ وَمَا كَانَ اونهٔ وو دے مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿۸۱﴾ له حصار ونکو دعذاب له خپل ځانه یعنی نهٔ بل چا دا عذاب تر دفع کړے شو اونهٔ دهٔ پخپله وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ اوصبا کهٔ هغه کسانو تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ چه ارمان ئے کولو د عزت اوجاه او مرتبے ددهٔ په دنیا کښ بِالْاَمْسِ په پرون یعنے پخوا له نزول دعذاب نه دغه تیره وړځ يَقُوْلُوْنَ چه وویل به ئے سره یوبل ته وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ داوئ اسم فعل دے په معنیٰ دا اَعْجَبُ اودا کاف په معنیٰ لام دے نو معنیٰ ئے داسے شوه چه تعجب کوم زهٔ دیاره ددے چه بیشکه خدائ اوپه دے کښ مذاهب هم دی يَبْسُطُ الرِّزْقَ ارتوی رزق لِمَنْ يَّشَآءُ هرهغه چاله چه اراده هٔ وشی دار تو لو مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو نخپلو په فضل خپل نهٔ په استحقاق ددهٔ وَيَقْدِرُ اوتنګوی دے دغه روزی په هرچا چه اراده ئے وشی دتنګولو په مقتضیٰ خپلے نهٔ په کومه ګناه لَوْلَاۤ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا که چرے نهٔ وے داخبره چه منت بارکړید ے خدائ اوراکړنے ئے نهٔ دے هغه خپلے چه ارمان ئے نهٔ کولو مونږه له دنیا نو کهٔ نهٔ وے دا مهربانی ددهٔ لَخَسَفَ بِنَا ؕ نو هرالبته ډوب کړی به ئے و و مونږه هم په زمکه کښ د قارون په شان وَيْكَاَنَّهٗ ارمان دے نهٔ پوهیږے په دے چه شان دادے لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع چه خلاص نهٔ موی کافران له عذاب لکه قارون تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ داحویلئ چه وروستئ ده له حویلیو د دنیا چه جنت دے نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ مقرر ئ کوو مونږه دیاره دهغه کسانو لَا يُرِيْدُوْنَ چه اراده نهٔ لری یعنی نهٔ کوی دوئ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ لوئے اوتکبر په زمکه کښ وَلَا فَسَادًا اونه فساد کوی اونهٔ ظلم کوی په خلقو لکه قارون وَالْعَاقِبَةُ اوښائسته چه ده لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾ پرهیزګارانو لره ده مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ هرهغه چاچه وکړه کومه نیکی له هرقسمه چه وی یعنی قولی یا فعلی یا مالی فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ پس مقرر ده هغه لره جزا غوره له هغه نیکئ ددهٔ لکه چه

بیان شوی دی په سورۀ نمل کښ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ اوهرچاچه وکړه کومه بدی لکه شرک یا تکذیب یا داسے کوم بل فَلَا يُجْزَى الَّذِيْنَ پس نه شی ورکولے جزا هغه کسانوله سَيِّاٰتِ چه کړی دی دوئ بدئ اِلَّا مَا مګرهم هغه قدر كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۹۰) چه وو دوئ په دنیا کښ چه کولے به ئے هغه بدئ **روایت دے** چه رسول الله صلے الله علیه وسلم په جُحْفه کښ ووچه میقات د کوشامیانو چه مکے ته ئے ډیر اشتیاق پیدا شوځکه چه مولد وو ددهٗ اود اباؤ ئے اوعادت ئے ورسره اخستے وو نونازل شوإِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ بیشکه هغه خدائ چه لازم کړے دے دهٗ په تا تلاوت او عمل او تبلیغ د قرآن لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ هرالتیه بیرته بیولے دے ستا هغه عادت ګاه ته چه مکه ده اودغه وعده بیا ترسره شوه په وخ دفتح چه بیرته ئے ورلره راوست او دا معاد ماخوذ له عادت نه دے نهٗ له عود قُلْ رَّبِّيْٓ ووایه اے رسوله مشرکانوته چه ربځما اَعْلَمُ مَنْ بنهٗ پوه دے په هرهغه چا جَآءَ بِالْهُدٰى چه راوړی دے سمه لاره یا توحید یا قرآن اوهغه زهٗ یم وَمَنْ هُوَ اوپه هرهغه چا چه دے فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ (۸۵) په ښکاره ګمراهئ کښ وی لکه مشرکان ځما وَمَا كُنْتَ اونهٗ وے تهٗ تَرْجُوْٓا اَنْ چه امید دِ لرلو دے چه يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ الْكِتٰبُ راوبه لیږلے شی تاته یعنی قرآن اَلَّا رَحْمَةً لیکن راولیږلے شو مِّنْ رَّبِّكَ له جانبه د رب ستا فَلَا تَكُوْنَنَّ پس مهٗ کیږه ته ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ (۸۶) پشتبی اویارمددګار د کافرانو په دین ددوئ فَلَا يَصُدُّنَّكَ اوخبردارچه وانهٗ وړی دوئ ځما تا په مکراوپه فریب عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ له عمل په آیتونو د خدائ بَعْدَ اِذْ پس له هغه اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ چه رالیږلے شوے دے تا ته وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ وبولهٗ خلق توحید او عبادت د رب خپل ته وَلَا تَكُوْنَنَّ اومهٗ کیږه تهٗ ځما مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (۸۷) له مشرکانو وَلَا تَدْعُ اومهٗ بوله تهٗ مَعَ اللّٰهِ له خدائ سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل معبود ځکه چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نه شته هیڅ الٰه لائق د بللو مګرهم دے دے یوائے ځکه چه كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ هرشیز فانی کیدونکے دے اِلَّا وَجْهَهٗ مګرذات پاک د دهٗ لَهُ الْحُكْمُ هم دهٗ لره دے حکم یعنی قضا نافذه وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (۸۸) او هم دهٗ لره به بیرته بوتلے شئ ۔

سُوْرَةُ العنکبوت (۲۹) مکیہ (۶۸) — اٰیاتہا ۶۹ — رکوعہا ۷

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ ① دے دے بیان بیرتہ دوہ ځائ تیرشوے دے اَحَسِبَ النَّاسُ ایا ګمان کوی داخلق اَنْ يُّتْرَكُوْٓا دے چه به پریخودے شی دوئ اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا په هم دے قدرچه وائی دوئ چه ایمان راوړیدے موږه یعنی په مجرد هم دے قول به دوی خلاص نه شی وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ② اوحال داچه دوئ به وانه ازمیلے شی اودا ایت چا ویلی دی په حق دبعض اصحابو کښ دے چه فریادئ اوکه له ضرره دمشرکانو او چا ویلی دی چه په حق دعمار بن یاسرؓ کښ دے وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ اوهرا ئینه په تحقیق ازمیلی وو مونږه هغه کسان مِنْ قَبْلِهِمْ چه تیرشوی دی له دغه مؤمنانو یعنی دا ازمیښت یوسنت جاریه دے ځکه چه پخوانی امم به هم پرے مبتلا کولے شو فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ پس هرا ئینه معلوم به کړی یعنی نکاره یا ښکاره به کړی خاخاځدائ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا هغه کسان چه رښتینی دی په دعوئ دایمان کښ وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ③ اوبیا هرا ئینه بیل یا ښکاره به کړی خلقو ته خاخاځ دروغژن په دغه دعوای کښ چه مخلص اوبے اخلاصه سره ممتازشی اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ بلکه ګمان کوی هغه کسان يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ چه عمرکوی دوئ دبدیو لکه شرک اومعاصی شو اَنْ يَّسْبِقُوْنَا دا دے چه پرومبی به شی دوئ په مونږه یعنی مونږه به عاجز کړه له جزا ورکولو دوئ دغو بدیو سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ④ بد دے هغه حکم چه کوی دے دوئ. مَنْ كَانَ يَرْجُوْا هرهغه څوك چه دے امیدلری هغه لِقَآءَ اللّٰهِ دملاقات دخدائ په جنت کښ یامراد له لِقَآءَ وصول دے دثواب دده ګڼه په آخرت کښ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ پس نیټه دخدائ چه ده دپاره دلقاء په آخرت کښ لَاٰتٍ هرا ئینه راتلونکے ده نو میباید چه هرڅوك دپه خپلو اعمالو فهم دا روئ ځکه چه وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ⑤ اودے اوریدونکے دے داقوالو دبندګانو دانادے په احوالو دوئ وَمَنْ جَاهَدَ اوهرڅوك چه جهاد کوی له کفار و یا دهوا دنفس خپل سره فَاِنَّمَا پس بیشکه هم داخپره ده چه يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ طرجهاد کوی ګټ دپاره دځان خپل ځکه چه خیرئ هم دهٔ له ورځ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ⑥ هرا ئینه بے پروا دے له طاعاتو اوله مجاهدو نو دعالمیانو اودا امراد نهی

عه یعنی اخلاص کونکے په دعوئ دا سلام کښ اودروغژن په دے کښ ۱۲ سمه مقبل لروونکی وی یعنی خپل عمل ته ډ ډکوی چه به تیه دنه شی ۱۲

محض له مهربانۍ دی په بنده کانو خپلو وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دنیکو لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ هرا ئینه وبه رجوع مونږه خامخا له دوئ سَيِّاٰتِهِمْ گناهونه ددوئ کَه شرک دے اوکه نور معاصی دی په ایمان او په توبے سره وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اوهرا ئینه جزا به ورکړو مونږه خامخا دوئ لـ اَحْسَنَ الَّذِيْ بنه جزا د هغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۷ چه و ددوئ چه کولو به ئے په اسلام کښ روایت دے چه هرکله سعد بن ابی وقاص ایمان راوړو نو مورئ چه حمنه بنت ابی سفیان وه قسم وکه چه له نمره به سوری ته نه ځم له سره او نه به څه وخورم او نه به څښم ترڅو چه دے بیره مرند شوے نه دے او په هم دے کښ دریے ورځے تیرے شوے بیا سعدؓ داحال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویلو نو نازل شو وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ او امر کړے دے مونږه په ادمی بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا د له مور وپلار خپل سره ډیر نیکۍ ورے او د وفادارئ هرکله په هرڅهٔ کښ غیر له یوکاره چه هغه دادے وَاِنْ جَاهَدٰكَ اوکه کوشش اوجنګ جدل وکړی دوئ دواړه له تاسره لِتُشْرِكَ بِيْ دیاړه ددے چه شریک ونیسے ته له ماسره په خدایئ کښ مَا لَيْسَ هغه څیز چه نشته لَكَ بِهٖ عِلْمٌ تاله په الوهیت د هغه علم او مراد له نفی د علم دلته نفی ده د معلوم یعنی د هغه څیز چه لائق نهٔ دے د الوهیت فَلَا تُطِعْهُمَا د پس مهٔ منه تهٔ فرمان د دوئ په دے باب کښ یوله دے جهت چه فرمان برداری د مخلوق په معصیت د خالق کښ روانهٔ ده اوبل له دے جهت چه اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ خاص ما ته دی بیا راتلهٔ ستاسے د ټولو یعنی د هرمؤمن، کافر، وفادار، بے وفا فَاُنَبِّئُكُمْ پس اګاه به کړم تاسے په درخت د جزا کښ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۸ په هغه عملونو چه وئ تاسے چه کول به مو وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے پس له کفره وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو پس له فساد لَنُدْخِلَنَّهُمْ هر ا ئینه داخل به کړو مونږه خامخا دوئ فِي الصّٰلِحِيْنَ ۹ په ټولی د صالحانو کښ چه انبیاء او صلحاء دی یعنی له دوئ سره به ئے پاڅو په ورځ د حشر راته به ئے باسو په ځائ د اوسید لو د دوئ کښ چه جنت دے دا ښه رحال د مؤمنانو د واو اوس د منافقانو حال وائ وَمِنَ النَّاسِ او بعضے له ادمیانو مَنْ يَّقُوْلُ هغه څوك دی چه وائ تش په خولے اٰمَنَّا بِاللّٰهِ چه ایمان راوړے دے مونږه په خدائ فَاِذَآ اُوْذِيَ پس هغه وخت چه سختی اوضرر ورسولے شی دهٔ ته فِي اللّٰهِ په لاره د خدائ کښ له طرفه د کفارو په سبب د ایمان سره جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ نو مقرر ئ که اوشماری دے فتنه د ادمیانو یعنی سختی اوعذاب د دوئ

کَعَذَابِ اللّٰہِ پہ مثل د عذاب د خدائ یعنی ایمان پریږدی له ویرے د خلقو لکه چه ښائ پریخوږد د کفر له ویرے د خدائ وَلَئِنْ جَآءَ او قسم دے کهٔ چیرته شی نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ مدد کاری د مؤمنانو له طرفه د رب یعنی فتح او غنیمت لَيَقُوْلُنَّ نو هر اٹینه وائ دوئ تاسے ته اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ چه بیشکه مونږه هم یو له تاسره په دین په ایمان کښ نو مونږه لره هم برخه راکړئ له غنیمت اَوَلَيْسَ اللّٰهُ ایا نهٔ دے خدائ یعنی دے بِاَعْلَمَ بِمَا پوهه له هر چا په هغه اخلاص او نفاق فِیْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ⑩ چه په د رونو او سینو د مخلوقو پټ پروت دے یعنی خدائ لسّان کنا مکم ته نهٔ کوری بلکه قلبی معامله ته نظر کوی وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ او هر اٹینه پوهه دے خامخا خدائ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په احوال د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے په اخلاص د زړهٔ سره وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ⑪ او بیا هر اٹینه پوهه دے خامخا یه احوال د منافقانو چه زړه ئے له ایمانه خالی دے پس موافق جزا به ورکړی هر یے فریقے له بیله بیله **روایت دے** چه هر کله کفارو د قریشو وویل مومنانو ته چه پس له مړکه بیا ژوندون نشته دا دوئ قول د دروغ وائ اوکه بنا د دوئ قول ژوندی شو مونږه او تاسے نو ستاسے د کفر ښا هونو باربه مونږه په خپل خان خپل واخلو او تاسو به ترے خلاص کړو نو نازل شو وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائ هغه کسان چه کافر دی لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا چه پیروئ وکړئ تاسے د لارے د هُمونږه یعنی هُمونږه دین ته راوګرځئ وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ او بیا پس له راګرځیدو تاسو میبایدچه واخلو مونږه په خپل خان د بار د کفر هونو ستاسے وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ او حال دا چه نهٔ دی دوئ په خپل خان اخستونکی مِنْ خَطٰيٰهُمْ له کفر هونو د دوئ مِّنْ شَيْءٍ هیڅ شے یعنی اوس وعده د تو لوکفر هونو کوی او بیا به په وخت د رسیدنے کښ یوه ذره هم ترے واخلی اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ⑫ بیشکه چه دوئ هر اٹینه د روغ ژن دی په دغه وعده کښ حکه چه اوس ئے لا اختل په زړهٔ کښ نشته او بل لا دا چه باور د دوئ بغیر له کفر هونو نه مؤمنانو هم نه پریږدی رونده وی وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ او هر اٹینه وابه خلی دوئ په قیامت بار د کفر هونو خپلو په سبب د کفر خپل وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ او د بار د نه هم غیر له کفر هونو د مؤمنانو پیوسته له بار د نو خپلو سره چه هغه، بار د نه د کفر هونو د هر هغه چاڅه چه کمراه کړی و د دوئ سره له دے چه له هغو به هیڅ بار کم نهٔ شی بلکه دا به د دوئ د خپل عمل جزا

ع یعنی رب العلمین ځیږ د چا ته نهٔ کوری چه څوک په ژبه دوائ چه وو مونږه تاسره بلکه د زړه معامله ته نظر کوی *

وی چه اضلال وو وَلَيَسْئَلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اوهر اُئیند، وبه پوښتنیدلے شی دوئ په ورځ د قیامت عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُوْنَ (۱۳) له هغه دروغ چه وو به دوئ په دنیا کښ چه له خانه به ئے سازول د پاره د ګمراه کولو نورو خلقو وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهر اُئیند په تحقیق راليږلی وو موږ نوح نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ نوح علیه السلام قوم خپل ته فَلَبِثَ فِيْهِمْ پس موده ئے تیره کړه په دوئ کښ اَلْفَ سَنَةٍ زر کاله د پاره د دعوت حق ته اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا مګر پنځوس کاله ترے کم اودا پس له مبعوث کیدلو او مشهور روایت دا دے چه درست عمر دده یونس او پنځوس کاله وو په دے کښ پنځوس کاله پخوا له بلوغ د نبوت وو او نهه نیم سوه کاله ئے دعوت کړے دے او شپیته کاله پس له طوفان پاتے دے **فائدہ** راوړل دی قصے د پاره د تسلئ د رسول صلے الله علیه وسلم دی چه وګورئ نوح علیه السلام دومره کاله به دعوت کاوو او جفا به ئے د قوم را ښکلله او دوئ ایمان پرے نه راوړو او سره له دے دده له دعوت لاس نه اخستهٔ ترهغه چه ټول هلاک شوی فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ پس ونیول دوئ عذاب د طوفان وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ (۱۴) اوحال د اچه دوئ ظالمان وو په سبب د کفر سره فَاَنْجَيْنٰهُ پس وساته موږ نوبنه دے له دغه عذاب وَاَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ او ملګری د بیړئ هم چه ټول سره اته وو یا څو تنه وو نیم نارینه او نیمے ښځے او بیا په دوئ کښ درے د ده ځامن وو سام، حام، یافث. او درے د دوئ ښځے وے وَجَعَلْنٰهَآ اوکړه موږ نوبنه د اسفینه یا قصه اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ (۱۵) یوه لویه نښه د قدرت د پاره د عالمیانو چه عبرت اوپند پرے اخلی وَاِبْرٰهِيْمَ او یاده کړه قصه د ابراهیم علیه السلام اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ هغه چه ووئیل دده قوم خپل ته اُعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ځ چه عبادت کوئ د خدائ او وویریږئ له عذاب د دده ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ داعبادت او ویره د یره غوره ده تاسے لره له کفره اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۱۶) که چرے یئ تاسے چه پوهیږئ په خیر او په شر خپل اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ بیشکه هدا خبره ده چه عبادت کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ اَوْثَانًا بتانو وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا او سازوئ تاسے دروغ له خانه چه په خدایانو ئے بولئ اویا له خدائ سره ئے شریکان کوئ اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان تَعْبُدُوْنَ چه عبادت ئے کوئ تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ لَا يَمْلِكُوْنَ قدرت او طاقت نه لری دوئ چه درکه دوئ لَكُمْ رِزْقًا له روزئ فَابْتَغُوْا پس ولټوئ تاسے عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ خدائ څخه روزی چه قادر دے په رسولو د روزئ وَاعْبُدُوْهُ او عبادت کوئ هم دده چه لائق دے د عبادت

وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ او شکر کوئی دهٔ لره۔ په شکر سره زیاتوالے راځی د نعمت اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ هم دهٔ ته به بیرته بیولے کیږئ په قیامت۔ دٔ پورے مقوله د ابراهیم علیه السلام وه اوس رب العزت وائی مکیانو ته وَاِنْ تُكَذِّبُوْا اوکه تکذیب وکړئ تاسے اے مکیانو د رسول حُمَا فَقَدْ كَذَّبَ پس په تحقیق تکذیب کړے وو د پیغمبرانو خپلو اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ د پرو قومونو چې اله تاسے لکه قوم د نوح علیه السلام او د هود او د صالح او د لوط او د شعیب علیهم السلام او د اسے نورو هم نو د دوئ هیڅ ضرر ونهٔ رسولو په دغه تکذیب سره پیغمبرانو ته بلکه په خپل ځان ئے د عذاب دروازه پرانسته نو هغه لا ځکه پس زه خو هم یو رسول یم وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ او نشته په رسول باندے اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾ مګر رسول دی د پیغام بنکاره اوچا ویلی دی چه دا مقوله هم د ابراهیم علیه السلام وه له هغه ټیره اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ ایا نه ګوری دا منکران له بعث څرنګه يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ اول پیدا کوی د اخلق بے مادے بے صورته بے نمونے اوله نیستئ محض ئے هستئ ته راوباسی نو هغه قادر مطلق چه دے ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ بیا به راوکړځوی او ژوندی به کړی د اخلق پس له مړکه او واورئ د اچه اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۱۹﴾ بیشکه دغه اعاده په خدائے اسانه ده حُکمچه هرکله په اول کښ دٔ بے مادے صورت غواړی نو خود نسبت اول ته د اسان شو قُلْ وواید دغه منکرانو ته چه لاړه د تفکر او د استدلال و نیسئ دا چه سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ وګرځئ په زمکه کښ فَانْظُرُوْا كَيْفَ پس وګورئ چه څرنګه بَدَاَ الْخَلْقَ پیدا کړیدے خدائ د اخلق بعض وګورئ د پیروالی ته ئے او بیا اختلاف د اشکالو افعالو احوالو اخلاقو ارزا قو اعمالو ته ئے ابیاله دے نقلیات استدلال وکړئ په دٔ چه هرکلهٔ دٔ اسے قادر مطلق دٔ نو اعاده به هم وکړے شی لکه چه وائی ثُمَّ اللّٰهُ بیا خدائ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ د وجود ته به راوباسی پیدا کول هم په مثل د اول پیدا کولو حُکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ په هرشیئ باند سے چه ابتداء وی اوکه اعاده وئ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾ قادر تو انا دے حُکه چه قُدْرَت صفت ذاتی دے د دهٔ نو نسبت ئے تولو ممکناتو ته یوشان دے يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ عذاب ورکوی هغه چا لره چه اراده ئے وشی دعذاب دهغهٔ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ او رحم کوی په هرهغه چا چې اراده ئے وشی د رحم دهغهٔ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ﴿۲۱﴾ او خاص هم دهٔ ته به بیرته بیولے شئ تاسے په ورځ د جزا وَمَا اَنْتُمْ او نه یئ تاسو اے خلقو بِمُعْجِزِيْنَ عاجزوکو لکی د خدائ له عذابه خپله فِى الْاَرْضِ نه په زمکه کښ

چه لانسے یکښ نتوځئ او نړے پټ شی وَلَا فِی السَّمَآءِ ز اونهٔ په اسمان کښ چه پاس لا رشئ او په تیخته
ترے خلاص شئ حُکه چه قدرت ددهٔ په هرځائ محیط دے وَمَا لَكُمْ اونشته تاسے لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له
خدائ مِّنْ وَّلِیٍّ هیڅ دوست چه وساتی تاسے له عذاب ددهٔ وَّلَا نَصِیْرٍ ﴿۲۲﴾ او نهٔ هیڅ مدد کار چه همت
درسره وکهٔ په دفع دعذاب کښ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا او هرچه هغه کسان دی چه کافر دی او باور نهٔ کوی بِاٰیٰتِ
اللّٰهِ په آیتونو دخدائ چه قرآن دے وَلِقَآئِهٖۤ او په ملاقات ددهٔ یعنی په بعث اُولٰٓئِكَ یَىِٕسُوْا دا کسان
ناامیده دی په دنیا کښ یا ناامیده به شی په قیامت او ذکر د لفظ د ماضی د پاره د تحقیق د وقوع دے
مِنْ رَّحْمَتِیْ له رحمتهٔ خُما یعنی له جنت وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ او دا دوئ چه دی مقرر دے دوئ لره عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۲۳﴾
عذاب د درد ناك فَمَا كَانَ پس نهٔ وو جَوَابَ قَوْمِهٖۤ جواب د قوم دابراهیم علیه السلام په هغه وخت کښ
چه دوئ ځ د بلل ایمان ته لکه چه په سرد تیرے رکوع کښ بیان شوے دے اِلَّاۤ اَنْ قَالُوا مګر دا وو چه
وویل دوئ یعنی بعض بعضو ته چه اقْتُلُوْهُ مرکړئ دے اَوْ حَرِّقُوْهُ یا وسیزئ دے په اور کښ نو
اتفاق ځ وکهٔ په سیزلو نو اور ته ځ وغورزاوو لکه چه ټوله قصه ځ په انبیاؤ کښ تیره شوید ده
فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ پس خلاص کهٔ او وساتهٔ دے خدائ مِنَ النَّارِ له اوره چه ورته ځ وویل بَرْدًا وَّسَلٰمًا
عَلٰۤى اِبْرٰهِیْمَ ۔ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دغه خلاصی ددهٔ کښ له اوره لَاٰیٰتٍ هرا ئینه ډیرے نښے دی کمال
قدرت لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی دوئ په وحدانیت او په قدرت د خدائ
وَقَالَ او وویل ابراهیم علیه السلام قوم خپل ته چه اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ تُم بیشکه هم اخیره ده چه نیولے
دی تاسے مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ له غیر له اَوْثَانًا لا د پاره د سره مَّوَدَّةَ بَیْنِكُمْ د پاره د دوستۍ
په مابین ستاسے کښ یعنی تاسے د بت پرستان سره جمع کیږئ په عبادت د بتانو او د اجتماع پرے
موجب د پیوند او محبت ستاسے کیږی یوله بله سره فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا په دغه واره ژوند ون کښ بیا
د اپیوند او دوستی به ترهغه پورے وی چه خُو د دنیا ده ثُمَّ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ بیا په ورځ د قیامت یَكْفُرُ بَعْضُكُمْ
شی بعض ستاسے چه متبوعان دی یعنی بتان بِبَعْضٍ له بعضے نورو چه تابعان دی یعنی عابدان دوئ
بَعْضُكُمْ اولعنت به وائی بعض ستاسے چه تابعان اوعابدان دی بَعْضًا نه په بعضو نورو چه متبوعان وو
وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ اوځائ د استوګنے ستاسے دوارو طائفو د تابعانو او د متبوعانو اور دے

قال
نهٔ به وی تاسے لره په هغه وسرځ کښ مَنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ هیڅوك له مدد کار انوچه خلاص که تاسے له دغه
اور روایت دے چه هر کله ابراهیم علیه السلام له اوره د نمرود سلامت راوو ت او هیڅ قدر اثر ئے
پرے ونهٔ کړ نو اول پرے خپل وراره یا خورئ ایمان راوړهٔ چه لوط بن هاران وو لکه چه وائی فَاٰمَنَ
لَهٗ لُوْطٌ مـ پس ایمان راوړه او تصدیق وکړهٔ د دهٔ لوط علیه السلام وَقَالَ او وویل ابراهیم علیه السلام
چه اِنِّیْ مُهَاجِرٌ بیشکه زهٔ هجرت کونکے یم له دغه قومه خپل اِلٰی رَبِّیْ ط رب خپل ته یعنی هغه طرف ته
چه امر ئے کړیدے ماته د هجرت اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِیْزُ بیشکه دے چه دے هم دے غالب دے نوله اعداوو سره م
وساتی الْحَكِيْمُ ﴿۲۶﴾ پُرحکمت دے نو امر به نهٔ کوی ماته مگر د هغه کار چه ځانکښ خیر وی روایت دے
چه ابراهیم علیه السلام هجرت وکړهٔ له سواد د کوفے سره له لوط علیه السلام اوله نیټے خپلے چه بی بی
ساره وه د ترهٔ لورئے حران ته بیا له حرانه شام ته. نو دے پخپله په فلسطین کښ دیره شو او
لوط علیه السلام په سدوم کښ چه د دواړه بنار د ونه دی ځکه ویلے شوی دی چه هر پیغمبر یو
هجرت کړے دے او ابراهیم علیه السلام دوه هجرتونه کړیدی وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ اوورکړے وو
مونږه دهٔ لره اسحٰق علیه السلام چه حوئی دے دهٔ وَيَعْقُوْبَ اوبل یعقوب علیه السلام چه
نومے دے دهٔ په اخر د عمر کښ او دے له اسمٰعیل علیه السلام خو ارلس کاله کشر وو وَجَعَلْنَا
او یخے وه مونږه فِیْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ په اولاد د دهٔ کښ نبوت هم په بنی اسمٰعیل کښ هم په
بنی اسراءیلو کښ وَالْكِتٰبَ اوجنس کتاب یعنی تورات او انجیل، زبور، فرقان وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ او
ورکړے وو مونږه دهٔ لره اجر د هجرت د دهٔ فِی الدُّنْيَا په دنیا کښ چه هغه ولدونه دی په اخر د عمر کښ له ثنا ئے
نیټے او پاك اولاد او دوام د نبوت دے په دوئی کښ او ثناء حسن او صلوٰة دے په دهٔ په ټولو دیانو کښ
ابن تر قیامته. او دا ئے نور هم ورکړه دی وَاِنَّهٗ فِی الْاٰخِرَةِ اوبیشکه چه دے په اخرت کښ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ
﴿۲۷﴾ هر اٰینه له ټولی د سالمانو دے وَلُوْطًا او یاد کړه لوط علیه السلام اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ چه وویل خپل ته قوم
اِنَّكُمْ بیشکه چه تاسے لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ زهر اٰینه راځئ یعنی کوئی تاسے هغه کار چه د پر قبیح دے چه په
سبب د قباحت ئے مَا سَبَقَكُمْ بِهَا نهٔ دے لومړے شوے په تاسے په دے قبیح کار مِنْ اَحَدٍ هیڅوك مِّنَ
الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾ له نیرو عالمیانو اِنَّكُمْ تاسے یوئے یعنی له تاسے پخوا دا کار هیڅا نهٔ وو کړے

اَئِنَّكُمْ ا یا بیشکه تاسے چه یئ دادرے قبیح کار ونه کوئ یو د اچه لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ هرا ئینه راځئ تاسے سړیو له دپاره د لواطت اودویم داچه وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ او قطع کوئ تاسے لاره یعنی هر څوک چه په لاره تیریږی مال ئے تاسے اخلئ اوسرئے پریکوئ چه په دئ سبب لاړچول شوه اودریم داچه وَتَاْتُوْنَ او راځئ یعنی کوئ تاسے فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ؕ په مجلس کاه خپل کښ هر قبیح کار چه عقل اوعرف ئے دواړه نا کاره بولی لکه زور ول اوپوچ ویل اوسنګریزے په کتو وشتل اوشپیلی وهل اوباد اچول او پاجامه درے کول په مجلس کښ اوشراب خوری اومسخرے په رهږو پوړ اود اسے نور ډیر قبائح کوئ له ویرے به باکئ فَمَا كَانَ پس نه ووجواب قَوْمِهٖٓ جواب د قوم ددهٗ اِلَّآ اَنْ قَالُوا مګر دا وچه ویل به دوئ ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ چه راوړه مونږه له عذاب دخدائ اِنْ كُنْتَ که چرے تهٗ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ (۲۹) له ریښتیا ویونکو چه دا کار ډ نه قبیح اوموجب د نزول دعذاب دی بیاچه له دوئ نا امیده شو نو قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ وویل دهٗ چه اے ربه خُما مدد وکړه له ماسره په رالیږلو دعذاب عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِيْنَ ع (۳۰) په دغه ټولی د فساد کونکیو په پیدا کولو د نا کاره خصلت په عالم کښ نو دا سوال ئے خدائ قبول کهٗ او ملائک ئے راولیږل دپاره د هلاک لکه چه وائی ۔ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ اوهر کله چه راغلل لیږلی خُمونږه یعنی ملائک اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى ۙ ابرهیم علیه السلام له په زیری دځوئ اود نوسی سره چه اسحٰق او یعقوب علیهما السلام دی اوبل په دے چه قَالُوْٓا اِنَّا وویل دوئ چه بیشکه مونږه مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ هلاکونکے د اهل دئ بنار یو. چه سدوم دے ځکه چه تکذیب کوی د دوارهٗ یا د خود پی ستا اِنَّ اَهْلَهَا بیشکه اهل دئ قریے چه دی كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ع (۳۱) دی دوئ ظالمان په سبب د کفر او د اقسامو د منکراتو قَالَ نو وویل دوئ ته ابراهیم علیه السلام چه اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا ؕ بیشکه په هغه بنار کښ لوط علیه السلام هم دے چه هغه خو ظالم نهٔ دے قَالُوْا نو وویل دغه ملائکو چه نَحْنُ اَعْلَمُ مونږه ښهٔ پوهه یو بِمَنْ فِيْهَا وتهٔ په هر هغه چا چه په دغه بنار کښ دی کهٔ مؤمن دے کهٔ کافر او مونږه له لوط علیه السلام څخه غاړلان نهٔ یو لَنُنَجِّيَنَّهٗ هر اینه وبه سا تو مونږه هم دے وَاَهْلَهٗٓ او هم عیال د دے له هلاک اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖ مګر ښځه ددهٗ چه كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ (۳۲) دهٗ له پیرته پاتے کیدونکیو په دغه عذاب یا په دغه بنار کښ

عه یعنی بیا بان شو او لاړے شاړے شوے ۱۲ عمه سبب د راتلو د عذاب

وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ اوهرکله چه راغله رُسُلُنَا لُوْطًا هغه ملائك رالیږلی هُمونږه لوط علیه السلام له
پس له ملاقات اوله زیږی د ابراهیم علیه السلام څخه سِیْٓءَ بِهِمْ نو غمژن اوخفه کړے شوے په
سبب د دوئ چه قوم به ئے راڅخه بوځی د پاره د فجور اومابه ځپل که وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا اوتنګ شوپه دے
رُسُلو سره زړهٔ اوطاقت دهٔ بیاچه ملائکو داخفګان ددهٔ ولیدهٔ نو ډاډ ورکړ ئے وَقَالُوْا لَا تَخَفْ
اوویل دوئ چه مهٔ ویږه هُمونږه له جهته حُکه چه د دوئ لاس په مونږه نه شی رسیدلے وَلَا تَحْزَنْ فف
اومهٔ خفه کیږه دهُان له جهته چه اِنَّا مُنَجُّوْكَ بیشکه ساتونکی یوستا وَاَهْلَكَ اوعیال ستا له عذاب اِلَّا
امْرَاَتَكَ مګر ښځه ئے کَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ (۳۲) چه ده هغه له بیرته پاتے کیدونکیو په دے عذاب یا بنار
کښ اِنَّا مُنْزِلُوْنَ بیشکه چه مونږه رالیږلی یو عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ په اهل د دے بنار باندے رِجْزًا
مِّنَ السَّمَآءِ عذاب له آسمانه چه سخت باران وو بِمَا كَانُوْا په سبب د دے چه وو دوئ يَفْسُقُوْنَ (۳۴) چه
فسق اوبدکاری به ئے کوله. بیا مۍ تفکات هلاك شو اوبنارئے خراب کندر پاتے شو د پاره د عبرت لکه چه
وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ اوهرا ئینه په تحقیق پریخوده مونږه له هغه قریے اٰيَةًۢ بَيِّنَةً یوه نښه بنکاره لِّقَوْمٍ
يَّعْقِلُوْنَ (۳۵) د پاره د هغه قوم چه عقل لری اوعبرت پرے اخلی اوهغه نښه یا خراب کندرئے یا تیږے سنګیزه
یا توږے اوبډی چه اوس هم شته وَاِلٰى مَدْيَنَ اوالیږلے وو مونږه اهل د مدین ته اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ورور
د دوئ چه شعیب علیه السلام وو فَقَالَ پس وویل ده يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے قومه ځما عبادت کوئ
یوازے د خدائ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ او امید وارئ د نجات او د ثواب د هغے وروستئ ورځے چه
ورځ د قیامت ده په ترك د بد و اوپه کولو د نیکو وَلَا تَعْثَوْا او فساد مهٔ کوئ. د انهی ده له باب د
عَثِيَ اے اَفْسَدَ قیاس په خَٰشِعِيْنَ فِي الْاَرْضِ په زمکه د مدین کښ په کمولو د کیل او د میزان سره
مُفْسِدِيْنَ (۳۶) په دے حال چه اراده کونکی د فساد اوسئ تاسے د حال دے مؤکده د عامل خیل فَكَذَّبُوْهُ
پس د روغژن و بالهٔ دوئ شعیب علیه السلام اوله خپل فساد نه منع نهٔ شو فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ
پس ونیول دوئ سخت زلزلے یا چغے د جبریل علیه السلام چه زړونه ئے پرے ولرزیدل او
وجاودل فَاَصْبَحُوْا پس صبا کهٔ دوئ فِيْ دَارِهِمْ په حویلو خپلو کښ جٰثِمِيْنَ (۳۷) په ګونډو سکور مړه
پراتے وَعَادًا او عاد وَّثَمُوْدَا او ثمود اوهلاك د دوئ وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ او په تحقیق سره بنکاره شوے

دے تاسے ته هلاک ددوئ مِنْ مَّسٰكِنِهِمْ تف له مینو ددوئ چه خرابے کنډے پرته دی په حجر او په یمن کښ هرکل چه تاسے سودا کړئ له ثمُ او پرے تیریږی همیشه نوحال ئے وینئ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ او بناڅسته کړی وو ددوئ ته شیطان اَعْمَالَهُمْ عملونه ددوی فَصَدَّهُمْ پس را! پرولی وودغه شیطان ددوئ عَنِ السَّبِيْلِ له لارے دحق چه پیروی دپیغمبرانوئے ونه کړه وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ (۳۸) اووو ددوئ بینایان عاقلان پوهنده خوځان خپل ئے پوندکونړ که څوچه هلاک شو وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ ټف اویاد که قارون اوفرعون او وزیرئے هامٰن وَلَقَدْ جَآءَهُمْ اوهرایئنه په تحقیق راغلے وو ددوئ لره مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ موسیٰ علیه السلام له بنکاره معجزو سره فَاسْتَكْبَرُوْا پس کبر اوسرکشی بنا کړه ددوی فِي الْاَرْضِ په زمکه دمصر کښی وَمَا كَانُوْا اونهُ وو ددوئ سٰبِقِيْنَ (۳۹) لومړے کیدونکی له حکمه اولهعذابه څوښتوړه بلکه ورورسیدهٔ فَكُلًّا اَخَذْنَا پس هریوله دغه مذکورینو دنیوهٔ موښتوړه بِذَنْۢبِهٖ ج په گناه خپل فَمِنْهُمْ مَّنْ پس بعضے له دوئ هغه څوک دی اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ چه راولحوځے وو موښتوړه پهٔ ده حَاصِبًا سخت باد چه سنگریزے پکښ لکه قوم دلوط علیه السلام وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعضے له دوئ هغه څوک دی۔ اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ج چه وښوه دوئ چغه او زړهٔ ئے له هیبته پرے وچاودهٔ لکه ثمود اومدین وَمِنْهُمْ مَّنْ اوبعضے له دوئ هغه څوک دی خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ج چه وچوله موښتوړه پرے زمکه اودوئ پکښ ډوب شو لکه قارون وَمِنْهُمْ مَّنْ اوبعض له دوئ هغه څوک دی اَغْرَقْنَا ج چه غرق کړهٔ موښتوړه په اوبو کښ لکه قوم دنوح علیه السلام اوفرعون وَمَا كَانَ اللّٰهُ اونهٔ ووخدای لِيَظْلِمَهُمْ داسے چه ظلم وکړه په دوئ اوبے گناه ئے په عذاب که وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اولیکن وو دوئ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ (۴۰) چه په خپلوځانو نوبه ئے ظلم کولو په کفر او په معصیت سره ترڅوچه لایق شو دعذاب نوپرے نازل شو مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مثل یعنی حال دهغه کسانوچه نیولے دے دوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ غیر له خدائ دوستان یعنی خدایان چه بتان دی او دوئ امید دنفع ترڅه لری نوحال ئے په ضعف اوپه عدم جلْب د نفع او سلب دضرر کښی داسے دے كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ج لکه حال دغنړے په ۵ کښی چه اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ؕ ونیسی یعنی سازکه دایو کور له تارونو څان له چه پکښی اوسی وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ اوبیشکه ډیرضعیف اوبے فائدے د ټولو کورونو چه دے بَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ هر

۵ یعنی په دا بیکلود نفع کښی او په درے کولود ضرر کښی ۱۲

اُئینه کور د غنمے دے حُکه چه هیڅ پرے نهٔ حصاربری نه باد نهٔ باران نهٔ گرمی نهٔ یخنی نو هسے حال دے
دبتانوچه نه ورته هیڅ قدرنفع رسولے شی اونه ترے هیڅ ضرر دفع کولے شی لَوْ كَانُوا يَعْلَمُوْنَ (۴۱) که ځیرے
وے دوئی دا هسے چه په دے پوهیدے نو دبتانو عبادت نه ےُ نه کولو اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ بیشکه چه خدائی پوهیږی
مَا يَدْعُوْنَ په هغه چه بولی یعنی عبادت ےُ کوی دوئی مِنْ دُوْنِهٖ غیر له خدائی مِنْ شَيْءٍ له هر څیز چه دوئ
یعنی که بت وی او که ستوری او که مَلَک او که اُدمی وَهُوَ الْعَزِيْزُ او دے غالب دے نوشریک نهٔ لری الْحَكِيْمُ (۴۲)
پرحکمت دے نوجلتی نه کوی په عذاب دمشرکانو نکښی وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ او دامثالونه چه ذکر دی په قرآن کښی
نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ترهر او دارو ےُ مونږه د پاره دا د میانوچه طلب ورته بنهٔ واضح شی په دغه مثلونو سره وَ
مَا يَعْقِلُهَآ اونهٔ شی راوستے په عقل کښ دامثالونه یعنی فائده ترے نهٔ شی اخستے اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ (۴۳) مگر
هغه پوهه چه یخ دخبرے راسپیږی خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی دی خدائی دا اسمانونه وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ
اوزمکه ځم په حق سره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے پیدا کولو یا مثل راوړلوکښی لَاٰيَةً لَّلْمُؤْمِنِيْنَ (۴۴)
ضرائینه نښه ده پاره د مؤمنانو اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ لوله هغه چه راولیږلے شوے دے تا ته
مِنَ الْكِتٰبِ له کتاب چه قرآن دے وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ط او برپائ ځره مونځ خپل اِنَّ الصَّلٰوةَ بیشکه مونځ چه دَ
تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ مساروی مصلی له هغه بدوچه عقل ترے نفرت کوی لکه زنا شوه وَالْمُنْكَرِ او له هغه
بدوچه شرع ترے مانع وی لکه قمار معاصی شوځکه چه حضرت حسن رضؓ ویلی دی چه هر مونځ چه مصلی
ےُ منع نهٔ کړه ئُ له بد وهنه مونځ ےُ مونځ نهٔ دے بلکه لاوبال دے په غاړه ےُ توځول واوُ چه مانع دے له منکراتو
په وخت دادا کښی. داخودظاهر دے اوځول واوُ چه مانع دے مطلقًا ځکه چه دوام په دهٔ موجب
دوام دذکر دے او دوام دذکر بیا موجب دخشیت دخدائی دے اوخشیت بیا په خاصیت سره موجب
منع دے له گناهونو وَلَذِكْرُ اللّٰهِ او هرائینه یادګیری دخدائی یعنی مونځ چه دے اَكْبَرُ ډیر لوی دے له نورو
طاعاتو ځکه چه معراج دے د مؤمنانو اوشامل دے د پیروا قامود طاعاتو قولیوا و فعلیولره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او
خدای پوهیږی مَا تَصْنَعُوْنَ (۴۵) په هرهغه طاعت چه کوئ ےُ تاسے که مونځ وی اوکه بل کوم طاعت
نوجزا به ےُ درکړی درلره په احسن وجه سره وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اوجګړه مه کوی اے مومنانو
له اهل کتابو یعنی یهودو او نصارا وُ سره اِلَّا بِالَّتِيْ مګر په هغه خصلت سره هِيَ اَحْسَنُ ښه چه هغه ډیره ښه

وی یعنی د سختئ په نرمئ او د غضب په صبر او د شغب په نصیحت سره اِلَّا الَّذِیْنَ مګر هغه کسان ظَلَمُوْا مِنْهُمْ چه ظلم وکه له دوئ لکه معاهد عهد مات کهٔ یاجزیه د هغه جزیه منع کړه او خوک وائی مراد له ظالم هغه خوک دئ چه ولدیا شریک وله ثابتوی یاوائی چه ید الله مغلولة اوکه یو له دغه کار وونئ وکه نو مجادله ورسره کوئ په سیف سره وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا او وایئ تا سے دوئ چه ایمان راوړے د ے مونږه بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ اِلَیْنَا په هغه کتاب چه رالیږلے شوے د ے مونږه ته چه قران د ے وَاُنْزِلَ اِلَیْکُمْ او چه رالیږلے شوے د ے تلسے ته چه تورات انجیل زبور د ے وَاِلٰهُنَا او خدائ څمونږه وَاِلٰهُکُمْ وَّاحِدٌ او خدائ ستاسو یو د ے وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ او مونږه ده ته کردن نهاد ه یو او موحداد، او تا سے شریکان ولړه پیدا کوئ وَکَذٰلِکَ او همدا سے لکه چه تیرو انبیاؤ ته مونږه کتابونه رالیږلی وو وَاَنْزَلْنَآ اِلَیْکَ الْکِتٰبَ رالیږلے د ے مونږه تا ته کتاب چه قرآن د ے چه موافق د ے د پخوا نیو کتابونو سره په اصولو د دین کښی فَالَّذِیْنَ پس هر چه هغه کسان دی اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ چه ورکړے د ے مونږه دوئ له کتاب لکه ابن سلام او ملګری د ده یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ج ایمان راوړی دوئ په د ے قرآن وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ او بعض له دغه مَنْ یُّؤْمِنُ هم مَکْوُ بِهٖ هغه خوک دی چه ایمان راوړی په د ے قرآن اویا مراد له دواړو اهل کتاب دی اما له فالذین هغه مراد دی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم له بعث پخوا و او نادیده ایمان ئ راوړے وو په رسول صلے الله علیه وسلم او په قران لکه قیس بن ساعده او بحیرا راهب او نسطورا او ورقه بن نوفل او امثال د دئ اوله مَن هؤلاء هغه مراد دی چه د ده په زمانه کښی وو وَمَا یَجْحَدُ او انکار نه کوی بِاٰیٰتِنَآ له د ے اٰیتونو مونږه اِلَّا الْکٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾ مګر کافران له یهود و لکه کعب بن اشرف او امثال ئے وَمَا کُنْتَ او نه وے ته اے رسوله تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ دا سے چه لوست به تا پخوا له د ے قرآنه مِنْ کِتٰبٍ کوم کتاب له پخوا نیو کتابونو وَّلَا تَخُطُّهٗ او نه به د ِ نوشته کو لو د غه کتاب بِیَمِیْنِکَ په ښی لاس خپل اوکه چرے د ے ته پخوا قاری کاتب اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾ نو په د غه وخت هرا ٹینه په شک کښی به لویدلی وو د ا باطل پلونکی د حق له یهود و اوله مشرکانو د مکے چه یهود و به ویل مونږه په تورات کښی د اسے لیدلی دی چه نبی اخر الزمان نه کاتب د ے نه قاری او د ے د واړه دی او مشرکانو به ویل چه د اله کتابونو د پخوا نیو خلقو په خپل لاس ابنکی او بیا هغه مونږ ته لولی او وائی چه د اله خدائ راغلے د ے بَلْ هُوَ بلکه دا قران چه د ے اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ اٰیتونه

دی بنکاره فِی صُدُورِ الَّذِیْنَ په سینو هغه کسانو کښی اُوتُوا الْعِلْمَ ط چه ورکړے شوے دے ورلره علم یعنی مؤمنان چه یا دوی ئے وَمَا یَجْحَدُ بِاٰیٰتِنَآ او انکار نهٔ کوی له اٰیتونو حُمونږه اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ (۴۹) مګر ظالمان لکه یهودو چه پس له یقین ترے منکر شوی دی وَقَالُوْا او وائی دا کفار هګ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ ولے نه شی رابرے په دهٔ اٰیٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ط اٰیتونه له طرفه د پروردګار دهٔ یعنی داسے معجزے لکه د پخوا نیو انبیاؤ وے لکه اُونه د صالح علیه السلام اوهمسا د موسیٰ علیه السلام اومائده د عیسیٰ علیه السلام قُلْ اِنَّمَا الْاٰیٰتُ وایه وړته چه بیشکه هسدا خبره ده چه معجزے چه دی عِنْدَ اللّٰهِ خاص خدائ څخه دی چه ورلے او حُما په اختیار کښ نهٔ دی وَاِنَّمَآ اَنَا او بیشکه هم داخبره ده چه زهٔ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ (۵۰) ویرونکے یم بنکاره له عذ ابه او په ما غیر له اند ازه او اظهار د هغه اٰیاتو چه راکړے شوی دی بل هیڅ نشته اَوَلَمْ یَکْفِهِمْ اَنَّآ نه دی کافی دوئ لره له جهته د معجزے د اچه بیشکه مونږه اَنْزَلْنَا عَلَیْكَ الْكِتٰبَ رابرے لے دے په تا کتاب یعنی قرآن چه همیشه یُتْلٰی عَلَیْهِمْ ط لوستے کیږی په دوئ او دوئ سره له داسے فصاحت او بلاغت خپل له معارضے دیوا دنی سورت هم عاجزدے نوله دے دا زیاته معجزه عوا ریٰ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے کتاب کښی چه باقی پاتے دے په هر زمان او مکان کښی تر قیامته لَرَحْمَةً وَّ ذِكْرٰى هرا ئینه مهربانی اوپند دے لِقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ (۵۱) ع دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی او باور پرے کوی قُلْ کَفٰى بِاللّٰهِ وایه ته چه بس دے خدائ بَیْنِیْ وَبَیْنَكُمْ په ما بین حُما او په ما بین ستاسے کښ شَهِیْدًا ج شاهد به صدق او په تبلیغ حُما او په تعنت او په تکذیب ستاسے یَعْلَمُ ما چه پوهیږی په هر هغه شے کښ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط چه په اسمانونو کښی او په زمکه کښی دی نو حُما او ستاسے حال له هغه هیڅ قدر پټ نهٔ دے وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے بِالْبَاطِلِ په ناحق یعنی په هغے معبودانو چه عبادی له خدائ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ او کافر شوی دی په خدائ اُولٰٓئِكَ دغه کسان چه دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ (۵۲) هم دوئ زیانکاران دی چه ایمان ئے په کفر بدل کړے دے وَیَسْتَعْجِلُوْنَكَ او جلتی کوی دا کفار په تا بِالْعَذَابِ ط په راتلو د عذاب یعنی وائی چه د عذاب ولے زر نهٔ راځی په دنیا کښی وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى او کهٔ نه وی هغه موده چه په نامه کړے شوے ده دپاره د عذاب لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ط نو هرا ئینه راځلے به وو د غه جلتی عوښتو نکیو له عذاب فی الحال له غوښتو سره وَلَیَاْتِیَنَّهُمْ او هرا ئینه راښه شی دا عذاب دوئ لره بَغْتَةً ناڅاپه یا په دنیا کښی لکه حادثه د بدر او

یا په اخرت کښ پس له مرګه وَهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ (۵۳) اوحال داچه دوئ به نهٔ پوهیږی په وحت دراتلوئ ـ
یَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ جلق کوی دوئ په تا په نزول دعذاب په دنیا کښ وَاِنَّ جَهَنَّمَ اوحال داچه بیشکه
دوخ لَمُحِیْطَةٌ ۢ بِالْكٰفِرِیْنَ (۵۴) هراٸینه احاطه کونکے دے له کافرانو یعنے په قیامت به ترے چاپیرشی یَوْمَ
یَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ یاد کړه هغه ورځ چه لاندے به کړه دوئ عذاب له هرطرفه یعنی مِنْ فَوْقِهِمْ له پاسه د
سرونو ددوئ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ اولاندے دخپو ددوئ وَیَقُوْلُ اوو به وائی ورته خدائ یاملک په امر
ددهٔ یاکوم بل دوزخی ذُوْقُوْا مَا چه وخکئ تاسے مزه یعنی جزا دهغه عمل كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ (۵۵) چه وئ تاسے
په دنیا کښ چه کولو به موځکه چه دنیا دارووُ دعمل اواخرت دارده دجنت **روایت دے** چه یوے
طائف د مؤمنانو له مکے هجرت نهٔ کولوچه یا ئے زاد یا استعداد نهٔ وو اویا محبت دوطن یا دخپلوانو حصارکړی
وواوعبادت به ئے پټ په ویره کولو نو نازل شو یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا چه هغه بندګانو نوځما اٰمَنُوْا چه ایمان مو
راوړیدے کهٔ چرے عبادت نهٔ شئ کولے په فراغ دزړهٔ سره له خوفه دمشرکانو په یوځائ کښ نو اِنَّ
اَرْضِیْ وَاسِعَةٌ بیشکه زما فراخه ده پس هجرت وکړی له هغه ځایه اود اَمن ځائ لره ورشئ فَاِیَّایَ
فَاعْبُدُوْنِ (۵۶) پس ځما عبادت کوئ هلته بے تشویشه اوکه اوس له دے وطنه اوله خپلوانو مفارقت
نهٔ شئ کولے نو اخر به ترے سفر وکړئ ځکه چه كُلُّ نَفْسٍ هر زنده سرچه دے ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ مقرر کړے
دے مرګ یعنی اخر به مری او دمرګه نهٔ خلاصیږی ثُمَّ اِلَیْنَا تُرْجَعُوْنَ (۵۷) بیا به مونږ ته پس له
مرګه راوستے کیږئ په بعث سره دیاره دجزا وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو لَنُبَوِّئَنَّهُمْ هراٸینه ډیره به کړو مونږه خامخا دوئ مِنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا له
جنت په هسکو مانړو کښ او داعرفًا منصوب دے په نزع دخافض سره داسے مانړئ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
چه بهیږی لاندے دهغو ولے خلورواړه قسمه خُلِدِیْنَ فِیْهَا هاغه په دے حال کښ چه همیشه به وی دوئ
په دغه مانړیو کښ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ (۵۸) ښهٔ دے اجر دد غو عمل کونکیو د نیکیو دجنت اَلَّذِیْنَ صَبَرُوْا
هغه عاملان چه صبر ئے کړے دے په ایزاد دمشرکانو او په هجرت له اوطانو وَعَلٰى رَبِّهِمْ او په رب خپل باندے
یَتَوَكَّلُوْنَ (۵۹) توکل کوی دوئ او تول کار په دهٔ سپاری **روایت دے** چه هرکله مؤمنان مامور
شو په هجرت او دوئ پخپلو کښ سره وویل چه څرنګه لاړشو مونږه دلے وطن لره چه هیڅ اسباب ګذران

خُمو نږ هلته نشته نو نازل شو ۞ وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ او پردی له خوزیدونکیو یعنی زنده سړی لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا چه نهٔ اخلی روزی خپله یعنی طاقت نهٔ لری دده چه ځان سره وکړی وی روزی. نیلیه سبب دضعف خپل سره داوازه اتسام د دوابوکه وحوش دی کهٔ طیوردی کهٔ سباع کهٔ هوام اوکهٔ نور حیوانات دی دبر یادبحر لکه اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا خداځای روزی اوکړی دغه دوابولره وَاِيَّاكُمْ ۚ اوتاسے له هم درکوی اے مهاجرانوکه نهٔ وی زاد اونفقه تاسے څخه. وَهُوَ السَّمِيْعُ اوده اوریدونکے ده دا قوالوستاسے الْعَلِيْمُ ﴿۶۰﴾ پوهه ده په نیتونو ستاسے اوحضرت حسن رض ویلی دی چه مراد له دغه حمل ذخیره ده یعنی نهٔ ذخیره کوی رزق خپل او پرۓ څکه ویلی دی چه بعض ۓ ذخیره کوی لکه دادرے نوع دحیواناتو چه اُدیمان اومږک اومیږی دی فقط وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ اوقسم دے کهٔ پوښتنه وکړے نهٔ له دوئ دا سے چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چاپیدا کړی دی دا آسمانونه اوزمکه وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اومسخر کړے دے نمراو سپوږمۍ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ نو هرالبته وبه وائی چه خدائ. نوهر کل چه دوئ پوهیږی په دے چه خالق ددے ټولوهم خدائ دے فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۱﴾ پس کوم طرف ته چپولے شی دوئ لره توحید پس له دغه اقراره اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ خدائ فراخ کوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ د پاره د هرهغه چاچه اراده ۓ وشی مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو وَيَقْدِرُ لَهٗ اوتنګوی په ده چه اراده ۓ وشی پس له فراخۍ یا له اوله اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۶۲﴾ په هرڅیزدانادے چه یوله هغه قبض اوبسط هم دے وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ اوبیا قسم دے کهٔ پوښتنه وکړے ته له دوئ دا سے مَّنْ نَّزَّلَ چاراښکته کړے دے مِنَ السَّمَآءِ له طرفه دآسمانه مَآءً اوبه فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ پس ژوندی کړے ۓ ده په دے اوبو سره زمکه یعنی تکه شنه ۓ کړه پکیا سره مِنْۢ بَعْدِ مَوْتِهَا پس له مړکه اوچوالے دده لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ هرالبته وبه وائی چه خدائ بیاهر کل چه دوئ دا اقرارهم اوکهٔ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ ووایه چه ثنا ده خدائ لره چه زهٔ ۓ له دے کهرا هغه سالتے یم اوچت څُمائے په تاسے ثابت کړو بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات دوئ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ عقل نهٔ لری څکه تناقض کوی دا سے چه اول خالق دکل مخلوقاتو هم دے بولی اوبیا بتان شریکوئ وربسره په خدائ کښ چه الهه ګانے بولی وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اونهٔ دے دا کمکے ژوندون اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ مګر عبث اولوبے دی یعنی اهل دے دنیا یوشور ۓ دی چه راپیدا شی اوعبث اوبے فائدے کارونه وکړی اوجلت سره

تار په تارشی په مرګ لکه هلکان چه یوساعت سره راټول شی اولوبے وکړی بیا تار په تارشی وَرَاَتِ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ اوبیشکه هغه ورسوستی حویلی چه ده لَهِیَ الْحَیَوَانُ مرهاغینه هغه ژوندون دے فائدہ اخرت ے په ژوندون وبالله لږ ډیرے مبالغے حُکه چه مرګ پکښ له سره نشته لَوْ کَانُوْا یَعْلَمُوْنَ (۶۴) که چرے وے دوئ چه په دے پوهیدلے نو دنیا به ے پرے نه غوره کوله فَاِذَا رَکِبُوْا پس په هغه وخت چه سواره شی داکفار فِی الْفُلْكِ په جهاز یا په بیړۍ کښ اوپه چپو دریاب باندے راشی دَعَوُا اللّٰهَ نو بولی دوئ هلته یوازے خدائ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ۚ په دے حال چه خالص کونکی وی دوئ خدائ لره دین خپل یعنی په ظاهرکښ دمخلصانو معامله شروی له دهٔ سره حُکه چه هلته غیرله ده بل هیڅوك نهٔ بولی دپاره دے چه پوهیږی چه له دغه سختئ مونږه بل هیڅوك نهٔ شی خلاصولے فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ پس هر کله چه خلاص که خدائ دوئ له هغه خوف او سلامت ے واوباسی اِلَى الْبَرِّ دوچے ته اِذَا هُمْ یُشْرِکُوْنَ (۶۵) ناکاه دوئ بیاشریکان نیسی له دهٔ سره لکه پخوا لِیَكْفُرُوْا بِمَاۤ اٰتَیْنٰهُمْ ۚ دپاره دے چه کافراومنکرشی دوئ په هغه نعمت چه ورکړے وو مونږه دوئ لره چه هغه نجات وو له غرق وَلِیَتَمَتَّعُوْا وتمه اوبل چه معاش وکه دوئ په دے چه راټول شی سره اومحبت پیدا که په عبادت دبتانو فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ (۶۶) پس زردے چه معلوم به کړی دوئ عاقبت دے خپل کردار په وخت دنزول دعذاب کښ اَوَلَمْ یَرَوْا ایا نهٔ وینی دا اهل دمکے اَنَّا جَعَلْنَا داچه ګرځولے دے مونږه دابنار دوئ حَرَمًا اٰمِنًا حرم یعنی ساتلے شوے او اهل دهٔ په امان شوے له قتله له غارته وَّیُتَخَطَّفُ النَّاسُ اوحال داچه تخولے کیږی نور خلق مِنْ حَوْلِهِمْ ؕ چاپیره له دوئ یعنی هغه خلق چه چاپیره ی له مکے ـ هم وژلے کیږی اوهم شوکولے کیږی اوهم په بند بیولے کیږی اودوئ په دے مینځ کښ له دغه ټولوبے غمه ناست دی اَفَبِالْبَاطِلِ یُؤْمِنُوْنَ ایا پس په باطل چه بتان دی ایمان راوړی دوئ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ اوپه نعمت دخدائ چه استوبزنه ده به حرم کښ اوامن دے له خوفه یا محمد صلے الله علیه وسلم یادین داسلام دے یَكْفُرُوْنَ (۶۷) کفران اوبے قدری کوی اوکفران ے دادے چه شریکان ورسره پیدا کوی وَمَنْ اَظْلَمُ اوڅوك دے د یرظالم مِمَّنِ افْتَرٰى له هغه چاچه له ځانه دروغ ترې دے عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پرخدائ دروغ چه شریک ورلره ثابتوی بے حجته ـ اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ یا تکذیب وکه دحق یعنی درسول الله صلے الله علیه وسلم یادقران لَمَّا جَآءَهٗ ؕ هغه وخت

چه راشی دغه حق دهٔ له اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ اٰيانهٔ شته په دوزخ کښ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾ ځای د استو برے کافرانو لره او هرچه هغه کسان دی جَاهَدُوْا چه کوشش کوی دوئ د شے او د ورځے فِيْنَا په مونږه کښ یعنی په رومبنانه کولو دین حُمونږه کښ لَنَهْدِيَنَّهُمْ هر اٸینه وبه ښاٸو مونږه دوئ ته سُبُلَنَا له لارے خپلے چه پرے مونږه لره راځئ وَاِنَّ اللّٰهَ او بیشکه چه خدائ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۶۹﴾ هر اٸینه له نیکوکارانو سره دے ۞

سُوْرَةُ الرُّوْمِ مكية (۳۰) ۸۴ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۶۰ رُكُوْعُهَا ۶

الٓمّٓ ﴿۱﴾ دد ے بیان پخوا تیر شوے دے غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴿۲﴾ غلبه ورکړے شوه په روم یعنے په اهل دروم چه اهل کتاب دی دا ے چه فارسیان پرے غالب شوا و دوئ بُت پرست وو نو کفار د مکے پرے ډیر خوشحاله شول او مؤمنان نوتے ځ وویل چه مونږه به هم به تا ے علیه وکړو لکه فارس په روم حکمه چه مؤمنان او فارسیان دواړه مشرکان یو اوتا ے او مؤمنان دواړه کتابیان بِيْٓ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ په هغه ډیرے نزدے ز مکے کښ عربو ته چه هغه اطراف دی د شام . او دا الف لام بدل دے له مضاف الیه وَهُمْ او دغه رومیان چه دی مِنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ پس له مغلوب کیدلو دوئ - او دا مصدر دے مفعول ته سَيَغْلِبُوْنَ ﴿۳﴾ زر دے چه بیا به غالب شی دوئ په فارسیانو فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۭ په یو څو کالونو کښ چه له دریو تر نهو یا تر لسو پورے دی **روایت دے** چه پس له نزول د دے اٰیت صدیق اکبر مشرکانو ته وویل چه تاسے مهٔ خوشحالیږئ روم به بیا غالب شی په فارسیانو په دغه څو کالونو کښ - اُبَیُّ بن خلف ورته وویل چه دروغ وایے راځه چه کرو سره کیږدو نو درے کاله ځ شرط کیدلو په لسو اوښانو چه څوک د ننه ووځی بیا چه رسول صلے الله علیه وسلم په دے خبر شو نو صدیق اکبرؓ ته ځ وویل چه موده او مال دواړه ورسره زیات کړه اوښان ځ سل کړه تر سلو کالونو پورے او اُبَیُّ بیا پخواله تمامه دوه مودے په جنګ د اُحد کښ له زخم د رسول صلے الله علیه وسلم مړشو نو بیا په وځ د حد یبیے روم غالب شو په فارس نو صدیقؓ سل اوښان له وارثانو د اُبَیٍّ واخستل او رسول الله صلے الله علیه وسلم ورته وویل چه خیرات ځ کړه او دا پخوا د وله تحریمه د قماره لِلّٰهِ الْاَمْرُ خاص خدائ لره دے فرمان او حکم مِنْ قَبْلُ پخواله غلبے د فارس په روم وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ

اوپس له غلبے د دوم په فارس یعنی په هروخت کښ قضاددۀ نافذه ده وَيَوْمَئِذٍ اوپه دغه ورځ چه روم غالب شوپه فارس يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ۴ خوشحاله بهشی مؤمنان بِنَصْرِ اللّٰهِ ط په مدد کارئ دخدای تعالی له اهل کتابو سره په بت پرستو يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ط مدد کوی دے له هرهغه چا سره چه اراده ئے وشی وَهُوَ الْعَزِيْزُ اودے غالب دے چه انتقام اخلی له سرکشے طائفے الرَّحِيْمُ ۵ مهربان دے چه مظلومه طائفه په ظالمے طائفے باندے غالبه کوی وَعْدَ اللّٰهِ ط وعده کړے ده خدای په وعده کولوسره داځکه چه په اصل کښ داکلام دا ښے دے چه وَعَدَ اللّٰهُ المؤمنين وعدًا بيا فعل اومفعول ئے دوارو ترے حذف کړه اومصدر ئے په ځای د فعل کیښود نو وَعْدَ اللّٰهِ شۀ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ نۀ خلاف کوی خدای وعده خپله وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلق چه دی یعنی کفار د مکے لَا يَعْلَمُوْنَ ۶ نۀ پوهیږی په دے چه ددۀ په وعده کښ خلاف نۀ وی يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا بلکه پوهیږی دوئی په بنکاره کار ونو مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ښے له دغه وارو ډوندون څخه لکه دولت اوعزت اوجاه اوجلال اومال اومتاع اوتجارت اوزراعت اوغرس اوبنا اوداسے نور دپرشو هُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ اوحال داچه دوئی له هغه اخره چه مقصود دے له ابادئ ددے دنیا هُمْ غٰفِلُوْنَ ۷ هم دوئی غافل دی اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا ایا فکر نۀ کوی دوئی فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په خپلو نفسونو خپلو کښ اوداځکه چه هر نفس عالم صغیر دے او مرآة دے د عالم کبیر. یعنی هرچه په عالم کبیر کښ دی. دهغه نمونه په هر نفس کښ شته نو دا تفکر به ئے مفضی شوے و وفکر د عالم کبیر ته یا ئے فکر تهکوی دوئی په اول خلقت خپل کښ چه یقین ئے په قدرت داعادے راشی اوبل په دیچه مَا خَلَقَ اللّٰهُ نه دی پیدا کړی خدای السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ دا اسمانونه اوزمکه وَمَا بَيْنَهُمَآ اوهرهغه چه په مابین د دغه دواړو کښ دی اِلَّا بِالْحَقِّ مګر په حق یعنی په حکمت اوپه ریښتیا نه په عبث اوپه لوبو بلکه دپاره د استدلال په قدرت د بعث وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ط اوپه هغه ټینه چه په نامه کړے شوے ده چه داهرڅۀ به هلته منتهی کیږی اوبیا بے ئے اعاده کولے شی دپاره د حساب اود جزا وَاِنَّ كَثِيْرًا اوبیشکه چه ډیر مِّنَ النَّاسِ له ادمیانوچه کفار دی بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ په ملاقات د رب خپل یعنی په روځ د قیامت چه وخت ئے دلقاء لَكٰفِرُوْنَ ۸ هرا ئینه منکر دی چه وائی قیامت له سره نشته اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا ایا گرځیدل نۀ کوی دوئی فِي الْاَرْضِ په زمکه کښ یعنی په مینو د عاد اود ثمود اوداسے نورو کفارو په وخت د سوداګرۍ کښ فَيَنْظُرُوْا کَيْفَ

كَانَ پس وګورئ د اچه څرنګه وو عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ اخره خاتمه دهغه کسانو چه تیر شوی دی مِنْ قَبْلُ پخوا له دوئ كَانُوْٓا اَشَدَّ چه وو هغه پخوانی اُمم ډیر سخت مِنْهُمْ قُوَّةً له دغه مکیانو له جهته دتوت لکه عاد اوثمود او امثال د دوئ وَّاَثَارُوا الْاَرْضَ او خیرولے به دوئ زمکه په قُلبه اوبیل او په تسکر ډیاره دکښت او درغ رسه او د کوهیو او د کاریزونو او د معادنو وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ او اباده کړے وه دوئ د زمکه ډیره زیاته مِمَّا عَمَرُوْهَا له هغه قدره چه اباده کړے ده د مکیانو خُکه چه دوئ په دا سے وادئ کښ پراته دی چه کښت پکښې نۀ کیږی اوچا پیر ترے غږونه دی نو د اباد ئ شان پکښې نشته وَجَآءَتْهُمْ او راغلی وو دوئ لره رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ پیغمبران د دوئ په بنکاره ښو یا معجزو او دوئ پرے ایمان نه راوړونو هلاك شو فَمَا كَانَ اللّٰهُ او نۀ و د خدائ د اسے لِيَظْلِمَهُمْ چه ظلم وکړه په دوئ یعنی چه هلاك ئے کا بے لیږلو د رسولانو او بے کفره او بے تکذیبه وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اولیکن وو دوئ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۹﴾ چه پخپل ځان ئے ظلم کولو په تکذیب د پیغمبرانو خپلو سره ثُمَّ كَانَ بیا ده عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا اُخره خاتمه دهغه کسانو چه بد ئے کړی دی په اختیار ولود کفر سره اوداعَاقِبَةُ خبر دے د كَانَ چه مقدم شوید ے په اسم خپل السُّوْٓاٰى د پیر بد چه دوزخ دے اود اُسْوَءُ ای په وزن دفُعلیٰ مونث د اَسْوَءُ دے چه اسم تفضیل دے او اسم دے كَان چه مؤخر دے له خبره خپله حاصل ئے دا چه عاقبت د مشرکانو دوزخ دے اَنْ كَذَّبُوْا په دے سبب چه تکذیب کړے دے دوئ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ د ایتو د خدائ یعنی د قرآن وَكَانُوْا بِهَا او وو دوئ په دنیا کښ چه په دغو ایتو نو پورے يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۰﴾ مسخرے او پوچمنڈے بے ئے کولے اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ خدائ پیدا کول کوی د ادمی له نطفے ثُمَّ يُعِيْدُهٗ بیا اعاده به کوی دده یعنے ژوندی به کړی پس له مرګه په قیامت ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾ بیا خاص هم دۀ ته بیولے کیږئ تاسے د پاره د حساب او د جزا - وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه برپائ شۀ قیامت يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۲﴾ نا امیده اوچپ به شی د امشرکان خُکه چه هیڅ حجت به نه لری وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ او نه به وی دوئ لره مِنْ شُرَكَآئِهِمْ شَفَعٰٓؤُا له هغه شریکانو د دوئ شفاعتکرونه بتان نه ملائک نه نمرنه سپوږمئ نه ستوری وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اوشی به دوئ له شریکانو خپلو پس له نا امیدئ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ بیزاره او منکر له عبادته د دوئ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه برپائ شی قیامت يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾ په دغه ورځ به تار په تار

شی سره داخلوی یعنی دوه طائفی به شی یو مؤمنان یو کافران لکه چه وائی فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا پس هر چه هغه کسان دی چه ایمان ئی راوړیدی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دنیکو فَهُمْ فِیْ رَوْضَةٍ پس دوی چه دی وی به په جنت کښی چه مشتمل دے په ازهارو په انهارو په خوش اوازو نوو اکارو یُحْبَرُوْنَ (۱۵) خوشحاله به کړے شی داسے چه له ډیرے خوشحالئ مخونه به ئی تجلی کوی وَاَمَّا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا اوهر چه هغه کسان دی چه کافر شوی دی وَكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا اوتکذیب کوی دایتونو څمونږه یعنی دقرآن وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ اوبه ملاقات داخرت یعنی په راتلود قیامت فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان چه دی فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ (۱۶) په عذاب کښی به حاضر کړے شوی وی همیشه چه هیڅ به ترے نه غائب کیږی **فائده** هر کله چه رب العزت وعداو وعید دواړه ذکر کړه نو ورپسے اراده ئے وکړه دده چه بیان کړی هغه څیز چه سره رسوی وعدے ته اوسا ئے له وعیده نو وے ویل فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ پس پاکی ده خدائ لره اوداسم صدر دے په معنیٰ دامر یعنی تسبیح او پاکی وایئی اے مؤمنانو خدائ لره یا مونږ ګذارئ ورله حِیْنَ تُمْسُوْنَ په هغه وخت چه داخلیږئ تاسے په شپه کښی نو دے کښی دوه موقعُونه راغلهٔ دمابنام او دماسختن وحِیْنَ تُصْبِحُوْنَ (۱۷) او په هغه وخت په ډه داخلیږئ تاسے په صباکښی نو دے کښی دصبا مونږ راغے وَلَهُ الْحَمْدُ اوخاص هم ده لره ثناده فِی السَّمٰوٰتِ په اسمانونو کښی وَالْاَرْضِ اوپه زمکه کښی **تنبیه** داجمله معترضه ده اومعنیٰ ئے داده چه لازم دی په تولو اهلِ تمیز و دملونیو چه دوئ دِ هر وخت ثناوائی خدائ لره خصوصًا پدغه تیرواوقاتو کښی وعَشِیًّا اوپه هغه وخت چه تاخلیږئ تاسے په اخر دورځے کښی نو دے کښی دمازدیګر مونږ راغے وَّحِیْنَ تُظْهِرُوْنَ (۱۸) اوپه هغه وخت چه داخلیږئ تاسے په ظهر کښی نو دے کښی دماسپښین مونږ راغے یُخْرِجُ الْحَیَّ راوباسی دے په قدرت کامله سره ژوندے مِنَ الْمَیِّتِ له مړی لکه مرغه له هګئ او انسان له نطفے او مؤمن له کافره او عالم له جاهله وَیُخْرِجُ الْمَیِّتَ اوراوباسی مړی مِنَ الْحَیِّ له ژوندی لکه عکس دتیرو وَیُحْیِ الْاَرْضَ اوژوندی کوی دے زمکه په سبزئ سره بَعْدَ مَوْتِهَا پس له مړوالی او وچوالی دده وَكَذٰلِكَ اوپه مثل ددغه زمکے چه اول مړه وه وبیا ئے ژوندئ کړه تُخْرَجُوْنَ (۱۹) راوباسلے شئ تاسے هم ژوندی له قبرونو یعنی لکه چه ډیکښی شک نشته هغه کښی هم نشته ځکه چه ډیقادر مطلق دے **روایت دے** له ابن عباس رضی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی چه

من قرء فسبحن الله حين تمسون الى الثلث واخر سورة الصّٰفّٰت دبركل صلوة كتب له من الحسنٰت عدد نجوم السماء وقطر الامطار وورق الاشجار وتراب الارض فاذا مات اُجزى له بكل حرف عشر حسنٰت فى قبره اوبل روايت دے له دهٔ چه من قال حين يصبح فسبحن الله حين تمسون وحين تصبحون الى قوله وكذلك تخرجون ادرك ما فاته من يومه ومن قالها حين يمسى ادرك ما فاتة فى ليلته كذا فى المدارك وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اويو له نبنود قدرته دهٔ اَنْ خَلَقَكُمْ دادے چه پيد اكړئ دهٔ تاسے يعنى اصل ستاسے چه آدم عليه السلام ووَمِنْ تُرَابٍ له خاورو چه راجمع كړے شوے وے له تمام روئ زمين اوبيا انبكلو شوى وئ خلويښت ورځے په لاس دقدرت او بيا قالب دادم عليه الصلوة والسلام ترے ساز كړے شويدے ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بيانا خاپه تاسے چه وئ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾ بشر وئ چه تاريه تاركيدئ په زمكه كښ ديارهٔ پيدا كيدلو اسبابود معيشت خپل وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اوبل د نبنود قدرت دهٔ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ دادى چه پيدا كړى دى دهٔ تاسے لره مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا له خانونستاسے نځے يعنى له پوښتئ ستاسے لكه حوايا له پښتہ ستاسے لكه دا نورے نځے ياله جنسه اوله شكله ستاسے لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا دپاره دے چه مايل شئ تاسے دوئ ته اوپه آرام شئ په سبب دجنسيت وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ اوپيدا كړے ده دهٔ په مابين ستاسے كښ سره مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً دوستى اومهربانى اوخوځ والى چه مودة كنايه دے له اجماع اورحمت له ولد يامودة له حرڅانئ سره او رحمت له زړے سره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بيشكه چه په پيدا كولو دازواجو كښ هم شكله اوهم جنسه له نارينهٔ په بشريت كښ لَاٰيٰتٍ هم اثبته ډيرے لوئ نښے دى دكمال قدرت لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾ دپاره دهغه قوم چه فكر كوى په دے كښ چه اِبادى ددنيا په توالد اوتناسل سره وَمِنْ اٰيٰتِهٖ اوبل له نبنود قدرت د دهٔ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پيدا كول دى داسمانونو اوزمكے مشتمل په انواعو دحكمت اودعبرت وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ اوبل مخالفت دے دژبوستاسے لكه عربى فارسى اوترك اوهندى اوسريانى اويونانى اوداسے نورے تى نهه سوه پورے وَاَلْوَانِكُمْ اوبل مخالفت دے درنګونوستاسے لكه سرخى اوسفيدى اوسيا هى اوزيدى اوسبزى اوداسے نورو بيرا اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بيشكه چه په دے اختلاف دژبواودرنګونو كښ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ هم اثبته لوئ نښے دى دقدرت اودحكمت دپاره دداسانو وَمِنْ اٰيٰتِهٖ اوبل له نبنود قدرت كامله دهٔ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ خوب دے ستاسے دشپے اودورځے دپاره دارام دقوا وُدنفس اودقوت

تواؤ د طبیعت وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ اوبل لټول ستاسے دی بعض له فضل دده یعنی د روزی او دنورُ اسبابو معیشت او یا په آیت کښ لف نشر دے مرتب دا سے چه اول فعل لګیږی له اول زمانے سره او دویم له دویمے زمانے سره۔ ای منامکم باللیل وابتغاؤکم من فضله بالنهار۔ بیا نها رمقدم کړے شۀ پخپل فعل دپاره دا ګاهُ په دے چه هر یولة دغه دواړو زمانو اُګرکه خاص دے پخپل ملګری پورے له فعلینو۔ اما په وخت د احتیاج کښ هر یولائق دهغه بل فعل هم دے کذا ذکره البیضاوی اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے خوب او معیشت کښ لَاٰیٰتٍ هر اُینه لوئ نښے د عبرت لِّقَوْمٍ یَّسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ دپاره دهغه قوم چه اوریدل کوی د زړه په غوږونو وَمِنْ اٰیٰتِهٖ اوبل له نښو د حکمته ددهٗ دا دے چه یُرِیْكُمُ الْبَرْقَ بنائی تاسے ته بریښنا خَوْفًا وَّ طَمَعًا دپاره د ویرے له صاعقے او د امید د باران وَیُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ او راښکته کوی دے له طرقه د اسمانه مَآءً فَیُحْیٖ اُوبهٗ پس ژوندئ کوی دے بِهِ الْاَرْضَ په دغه اوبو سره زمکه چه شۀ بَعْدَ مَوْتِهَا د وابنۀ تړے نه زړ غون شی پس له مرګه دده ے یعنی چه کلکه پرته وه لکه مړے اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے بریښنا او باران کښ لَاٰیٰتٍ هر اُینه لوئ نښے د قدرت الٰهی لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۴﴾ دپاره دهغه قوم چه عقل لری او فکر کوی په تعقلو نو موجود او کښ وَمِنْ اٰیٰتِهٖ اوله نښو د قدرته ددهٗ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ دا دے چه ودریږی اسمان پاس بے ستنو او نهٗ لویږی او زمکه په سر د اوبو او نهٗ وبیږی بِاَمْرِهٖ په فرمان او په ساتلو دده سره ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ بیا په هغه وخت چه وبولی دے تاسے یعنی اسرافیل علیه السلام په امر د دهٗ دَعْوَةً ﷺ په بللو سره په دے شان چه یٰۤاَیُّهَا الْمَوْتٰی اُخْرُجُوْا یعنے اے مړیو را ووزئ بیرون مِنَ الْاَرْضِ ﷺ له زمکے نخه اِذَاۤ اَنْتُمْ نو ناچاپه تاسے تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾ را وبه وزئ له قبرونو بیرون وَلَهٗ مَنْ اوخاص هم دهٗ لره دی هرهغه څوك فِی السَّمٰوٰتِ چه په اسمانو نو کښ دی وَالْاَرْضِ اوچه په زمکه کښ دی كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾ دا ټول دهٗ لره فرمان منونکی دی هر وخت یعنی په ژوند په مړۀ په بعث په نشو کښ او په هیڅ وخت له دهٗ تمرد نه شی کولے وَهُوَ الَّذِیْ اودے هغه قادر مطلق دے چه یَبْدَؤُا الْخَلْقَ اول کرت پیدا کوی خلق او بیائے وَثَانِیْ ثُمَّ یُعِیْدُهٗ بیا به راژوندی کړی داخلق پس له مرګه وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَیْهِ او دا اعاده خو دهٗ په اسانه ده په له اول پیدا کولو نخه سا سے په اعتقاد کښ اُګرکهٗ ده نه په واقعه کښ دواړه برابر دی او په اول پیدا کولو

تا سے خو قائل ہیٔ نو له اعادے ولے منکر یږی وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰی او خاص هم ده لږه دے صفت بلندشان لکه قدرت کامله او حکمت شامله او وحدت ذات او عظمت صفاتو او دا سے نور ډیر فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ج هم په اسمانونو کښی او هم په زمکه کښی پوره ته له عقل له ادراکه وَهُوَ الْعَزِیْزُ او ډاډه دے غالب دے چه هیڅ کار ئے له حکمته خالی نهٔ وی ضَرَبَ لَكُمْ تری خدائی تا سے لږه مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ط یو مثل له نفسونو ستاسے څخه دیاړه دے چه فهم ته اقرب شی حُکمه چه په محسوساتو کښی بل هیڅ څیز تاسے ته نږدے نهٔ دے هَلْ لَّكُمْ ایا شته دے تاسے لږه یعنی نشته مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَیْمَانُكُمْ له هغه مریو نوچه مالک شوی دی دهغو ښځو لاسونو ستاسے مِّنْ شُرَكَآءَ شریکان له تاسے سره فِیْ مَا رَزَقْنٰكُمْ په هغه مال متاع کښی چه درکړی دی مونږه تاسے لږه فَاَنْتُمْ فِیْهِ سَوَآءٌ پس تاسے او دامریونه ستاسے په تصرف دهغه مال کښی سره برابر اوسئ یعنی لکه چه تاسے پکښی تصرف کوئ بے اجازے د دوئ دا سے دوئ هم پکښی تصرف کولے شی بے اذنه ستاسے یودا او بل داچه تَخَافُوْنَهُمْ ویږیږئ تاسے له دغه مریونو خپلو په وخت دے تصرف کولو کښی دا سے كَخِیْفَتِكُمْ لکه ویږیدل چه وی دا صیلانو نوستاسے اَنْفُسَكُمْ ط له خپلانو نوخپلو یعنی له نورو اصیلانو شریکانو ستاسے څخه **حاصل** اے اصیلانو! ایا تاسے کله مریونه خپل له خان سره شریکان کړی دی په مال متاع خپل کښی دا سے چه تا او دوئ په تصرف د دغه مال کښی سره یوشان اوسئ اوهر یو له تاسے له ویرے د بله تصرف په دغه مال کښی پوازے نشئ کولے یعنی نهٔ دی شریکان کړی تاسے لکه **روایت دے** چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت مشرانو د قریشو ته ولوست نو دوئ وویل چه کلا واللّٰهِ لایکون ذلك ابدا یعنی نه قسم دے په خدائی چه وبنا شی هیڅ دا کار بیا نوده ورته وویل چه هر کله تاسے خپل مریونه نهٔ شریکوئ له خان سره نو مخلوق له خالق دده سره څرنګه شریکوئ په خدائی کښی كَذٰلِكَ په مثل دے تفصیل نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ په تفصیر سره بیانوو مونږه نښے اود لیلونه دوحدت خپل لِقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ (۲۸) د پاره دهغه قوم چه عقل لرئ او په فکر سره له دغه مثل توحید معلوموی اما مشرکان له دغه فکره هم وم دی لکه چه وائی بَلِ اتَّبَعَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْٓا بلکه پیروی کوی هغه کسان چه ظالمان دی په شرك اَهْوَآءَهُمْ د ارزوګانو د نفسونو خپلو

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۲ له پوهے او ۲ له کومه حجته فَمَنْ يَهْدِيْ پس هغه څوك ۲ چه سمه لار وښائی مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ط هغه چا چه ګمراه کړے وی ۲ خدائ وَمَا لَهُمْ او نشته دغه مشرکانو ګمراهانو لره مِنْ نّٰصِرِيْنَ (۲۹) هیڅوك له مدد کارانو چه دوئ خلاص که له عذابه ددوزخ بیا هرکله چه دوئ په دے مثل عبرت وانه خست نو خطاب ۲ وکړهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه هرکاه دوئ له شرکه لاس نه اخلی او توحید ته غاړه نه ږدی فَاَقِمْ وَجْهَكَ پس برابر کړه اے رسوله مخ خپل لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ط دین د خدائ نه په دے حال چه مایل اوسی له تولو دیانوهم ۲ دین ته اوبل دا چه ګلک وسه ته اوتابعان د فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ هغه فطرت یعنی پیدایښت د خدائ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا چه پیدا کړی دی دهٔ خلق په هغه فطرت باندے چه هغه دین د اسلام یا معرفت د صانع یا عهد الست یا ایمان فطری دے لَا تَبْدِيْلَ له سره بدلول نهٔ شته لِخَلْقِ اللّٰهِ ط دین د خدائ لره یعنی قدرت نشته یا باید نهٔ دی هیچا لره تغیر یا مهٔ کوی ۲ یکښ تغیر چه مراده له دغه نفی نهی شی ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۲ دا دے هغه دین سم چه هیڅ قدر کوږوالے یکښ نشته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اوليکن زیات د امیان چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ (۳۰) قلا نهٔ پوهیږی په توحید د خدائ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ په دے حال چه بیرته کرځید ونکی اوسئ تاسے یعنی تهٔ او امت د خدائ ته په تولو او امرو او نواهیو کښ د احال دے له غافل د اَقِيْمُوْا وَاتَّقُوْهُ او ویریږئ له دهٔ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او ودروئ مونځ خپل وَلَا تَكُوْنُوْا اومهٔ کیږئ تاسے مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (۳۱) له مشرکانو مِنَ الَّذِيْنَ یعنی له هغه کسانو نو دا بدل دے له مِن المشرکین څخه په اعاده د جار سره فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ چه تارپه تار کړے ۲ دے دین خپل وَكَانُوْا شِيَعًا اوشوی دی دوئ فرقے فرقے دا سے چه دین د اسلام ۲ پریښے دے اوخوښ عبادت کوی دبتانو خوښ دملائکو خوښ د سورو وګڼو ۲ هر حِزْبٍ هره فرقه چه ده له دوئ بِمَا لَدَيْهِمْ په هغه دین چه دوئ څخه دے فَرِحُوْنَ (۳۲) خوښحاله دی اودا سے ګمان کوی چه حق دین هم دا څو ونږده دے وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ اوپه هغه وخت چه ورسیږی دے خلقو یعنی کفارو د مکه ته ضُرٌّ کوم قسم ضرر لکه نادارۍ یا بیماری یا قحط یا کومه بله سختی دَعَوْا رَبَّهُمْ نو بولی دوئ رب خپل په ۲ یر تضرع سره مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ په دے حال چه رجوع کونکی وی دهٔ ته له نوره خدایا نو خپلو ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ بیا په هغه وخت چه وڅکوی دوئ مِّنْهُ رَحْمَةً له خپل

طرفه مهربانی یعنی فراخی یا صحت یا ارزانی یا کوم بل قسم راحت اوهغه سختی تر لاړه شی اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ناڅاپه یوه طائفه له دوئ بِرَبِّهِمْ پروردګار خپل يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ پخپل رب پورے نور شریکان پیدا کوی یعنی په ځای د شکر کښی داسے کفر کوی لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ دپاره دڅه چه ورته مُنی اوکفران وکړه دوئ په هغه نعمتونو چه ورکړیدی مونږه دوئ ته فَتَمَتَّعُوْا ؕ خو پس عیش وکړی اے کفار وخورړکے په نعمتونو دے فانی دنیا۔ اوداامرد تهدید دے فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ پس زر دڅه معلوم به کړئ تاسے عاقبت وکردار خپل چه عاقبت عذاب ابدی دے اوداکفار دآسے وله کوی۔ اَمْ اَنْزَلْنَا ایا لیږلے دے مونږه عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا په دوئ کوم کتاب یا حجت فَهُوَ يَتَكَلَّمُ پس هغه غیږیږی یعنی دلالت کوی بِمَا كَانُوْا بِهٖ هغه څیز چه دی دوئ په يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ چه په سبب دهغه شریک نیسی له خدائ سره وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ اوپه هغه وخت وڅکو مونږه دڅه مشرکانو ته رَحْمَةً کوم قسم مهربانی خپل لکه صحت اوفراخی اوامثال دد وئ فَرِحُوْا بِهَا ؕ نو خوشحاله شی دوئ په هغه رحمت وَاِنْ تُصِبْهُمْ اوکه ورسیږی دوئ ته سَيِّئَةٌ ۢ کوم قسم زحمت لکه تنګی درزق اومرض اوامثال دد وئ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ په سبب دهغه څیز چه پخوا لیږلے دے لاسونو دوئ یعنی په شناعت دهغه کارچه کړے دے دوئ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿۳۶﴾ ناګاه دوئ بیانا امیده شی اوفریاد کوی یعنی نه شکر کوی په نعمت کښی اونه صبر کوی په زحمت کښی اَوَلَمْ يَرَوْا ایا نه دینی دوئ اَنَّ اللّٰهَ واچه بیشکه خدائ يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ هر هغه چا ته چه اراده ئے وشی وَيَقْدِرُ ؕ اوتنګوی په هرهغه چاچه اراده ئے وشی اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په ردے بسط اوقبض کښی لَاٰيٰتٍ هرالښه لوئ نښے دی دعبرت لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾ د پاره دهغه قوم چه ایمان راوړی اوغاړه ږدی حکم الهی ته هم په بسط اوهم په قبض کښی فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى پس ورکړه اے مومنه خښتن د قرابت لره حَقَّهٗ حق ددهٗ له برأوله صله رحمئ ځخه اوپه نزد د امام اعظم رح دانفقه د محارمو واجب ده په هم دغه آیت سره وَالْمِسْكِيْنَ اوبل ورکړه نادار محتاج لره هم وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ او هم دا سے مسافر لره هم برخه د دوئ له هغې صدقے چه مقرر شوے ده دوی لره ذٰلِكَ خَيْرٌ دغه ورکول دے حقو توغوره دی له اسماکه لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ هغه کسانو لره چه غواړی دوئ وَجْهَ اللّٰهِ ر ذات

عه یعنی لفظ دقتمتعوا چه صیغه دامر ده ۱۲

یا قرب یا رضا یا ثواب د خدائ یه دے عمل سره وَ أُولٰٓئِكَ اوهغه تولے د مُنفقا نو چه دے هُمُ الْمُضْعِفُونَ (۳۸) هم دوئ بریالی اوخلاص دی وَمَآ اٰتَيْتُمْ اوهرهغه څیز چه تاسے ئ ورکوئ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ تخمے یاله هغے اوشه څیز مسلې شه یه اسم د ربوا سره چه هغه زیات دے یه معامله کښ حُکمه چه دے وسیله دے ربوات لِّيَرْبُوَا۟ دپاره د دے چه زیات شی اوکښته وکړی د اوکړه د مبلغ ستا سے فِىٓ أَمْوَالِ النَّاسِ په مالونو د خلقو کښ یعنی چه بیا زیات له هغه بیرته راشی لکه چه عادت د خلقو پرے جاری دے فَلَا يَرْبُوا۟ پس زیادت نکوی دا مبلغ عِندَ اللَّهِ په نزد د خدائ حُکه چه د اوکړه د خدائ یه جهت نه وه بلکه د پاره د ثګوه چه زیات بیرته راشی وَمَآ اٰتَيْتُم اوهرهغه څیز چه ورکوئ تاسے مِّن زَكٰوةٍ له زکوٰة مفروضه یا له صدقے اوپه هغه ورکولو سره تُّرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ اراده لرئ یعنی غواړئ تاسے په هغه سره ثواب او رضا د خدائ نه عوض او نه ریا اونه اوازه دو رکړو فَأُولٰٓئِكَ پس دغه کسان چه د ورکول کوی محض د پاره د خدائ نه د پاره د مکافات هُمُ الْمُضْعِفُونَ (۳۹) هم دوئ زیاتوونکی دی د حسنا تو خپلو او د ثواب یو په لس یو په سل یو په اوه سو یه قدر د نیت او د اخلاص خپل سره او په دے کښ التفات دے له خطاب غیبت ته د پاره د تعمیم اَللَّهُ الَّذِى خدائ هغه قادر دے خَلَقَكُمْ چه اول پیدا کړی دهٔ تاسے یعنی له نیستی محض ئے هستئ ته راوویستئ ثُمَّ رَزَقَكُمْ بیا روزی ئے درکړه رنګارنګ هم له حظوظو هم له لذوذو تر اخره د حیوٰة پورے ثُمَّ يُمِيتُكُمْ بیا به مړه کړه دے تاسے په وخت د انتهاد اجل ستاسے ثُمَّ يُحْيِيكُمْ بیا به ژوندی کاندے تاسے پس له مړګه په قیامت نو خدائ خو په دغه څلورو واړو کارونو قادر دئ چه درے ترے تاسے لیدلی دی اوځلورم هم ترے قیاس دے هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم ایا شته له دغه شریکانو ستاسے یعنی له دے بتانو چه تاسے ئ شریکان د خدائ بولئ مَّن يَفْعَلُ هغه څوک چه کولے شی دے مِن ذٰلِكُم له دغه څلورو واړو کارونو نو چه خلق او رزق او امامت او احیاء دی مِن شَىْءٍ کوم یو څیز چه په هغهٔ سره دئ لایق د عبادت شی یعنی نشته او هر کله چه دا یو کار هم ترے نهٔ شی کیدلے نو دوئ لائق د شریک نیولو نهٔ دی سُبْحٰنَهُۥ وَتَعٰلٰى پاک دے خدائ او بلند شان دے عَمَّا يُشْرِكُونَ (۴۰) له دے چه شریک پیدا کوی دوئ له دهٔ سره په خدایئ کښ ظَهَرَ الْفَسَادُ ظاهر شهٔ یعنی اثار د خرابئ فِى

عه یعنی حاضر مخاطب او غایب نه ۱۲

الْبَرِّ په وچه کښ په قحط او په خشک سالئ او په مُلخو او په ډیرو بادونو او په ډیرو بارانونو او په انواعو امراضو او په وبا او په ټاکوا په هامی او په توخئ او دا اسے نور هم وَالْبَحْرِ او په سیند کښ هم کله په کموالی د اوبو سره چه فصل له ډیرے تندے وسوزی او کله په ډیرو والی ئے چه موج ووهی او په اباد و راو خیژی نوکلی او بنارڼه نه ټول یوسی او کرلی فصلونه له زمکو سره لاهوکه او په غرقولو دبیرو او د جالو او په هلاکولو د چارپایانو او دغه ډول خرابی چه ده بِمَا كَسَبَتْ په شامت دهغه گناه او شرک ده چه کړی دی اَيْدِي النَّاسِ لاسونو دا د میانو او دا ثار د خرابئ ئے ظاهر کړهٗ لِيُذِيقَهُمْ دپاره دڈکه وخوکی دوئ تهٖ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا بعض جزا دهغه عملونو چه کړی دی دوئ او بعض ئے څکه وویل چه ټول به ئے بیا په اخرت کښ موهی او غرض له دے څکولو دا دے چه لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (۴۱) بنائی چه دوئ واوړی له دغه بد و په دے شان چه په تیرو پښیمان شی او نور پسے بس کا. یعنی د اشرک په توحید بدل کا او معصیت په طاعت قُلْ سِيرُوا وویایه دغه مشرکانو ته چه وګرځئ فِي الْأَرْضِ په زمکه کښ تیرو او معمو کښ فَانْظُرُوا کَيْفَ كَانَ پس وګورئ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الَّذِينَ اخره خاتمه د هغه کسانو مِنْ قبل ط چه پخوا دوئ وو لکه عاد او ثمود او مؤ تفکات اوداسے نور ډیر كَانَ أَكْثَرُهُمْ وو زیات د دوئ یعنی هغه چه هلاک شوی ترے مُشْرِكِينَ (۴۲) شریک پیدا کونکی فَأَقِمْ وَجْهَكَ پس برابراوسم که مخ خپل یعنی وجود خپل لِلدِّينِ الْقَيِّمِ دین سم معتدل ته چه دین د اسلام دے مِنْ قَبْلِ أَنْ پخوا له هغه يَأْتِيَ يَوْمٌ چه راځی هغه ورځ لَا مَرَدَّ لَهُ چه نشته له سره بیرته ګرځیدل هغه لره مِنَ اللَّهِ له جانبه د خدائ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ (۴۳) په هغه ورځ به سره تار په تار شی دوئ یعنی دوه فرقے به شی یوله بله جدا فریق فِي الْجَنَّةِ و فریق فِي السَّعِيرِ. لکه چه وائی مَنْ كَفَرَ هر څوک چه کافر شهٔ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ع پس هم په دهٔ ده جزا د کفر د دهٔ چه نار ابدی دے. وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا او هر څوک چه وکاندی نیک عمل دوی فَلِأَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ (۴۴) پس خاص دپاره د ځانونو خپلو فراشونه غوړوی او ځانونه تیاروی په جنت کښ او دا دوه فرقے کول د خلقو چه دی لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا دپاره د دے چه جزا ورکړی خدائ هغه

عه څوک نه په وطن کښ د غوا بیږو دا مرضونه دی ټوپک . اے توخئ هرکله چه دا مرضونه راشی نو په زړګو نو تباه شی ۱۲

کسانو زده چه ایمان ئے راوړی دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو مِنْ فَضْلِهٖ له فضله خپله څخه اودکفارو جزا ئے یاده نه کړه څکه چه مقصود بالذات مؤمنان وو بلکه دا قدرئے وویل چه اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ بیشکه چه ډیر نه خوښوی کافران څکه دوزخ ته ئے لیږی وَمِنْ اٰيٰتِهٖ او بعض له نښو د قدرت کامله ددهٗ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيٰحَ دا دے چه رالیږی دے دا درے قسمه باد ونه چه صبا او شمال او جنوب دے مُبَشِّرٰتٍ زیرے ورکونکی دباران او دا درے واړه څکه خاص شوچه دا بادونه رحمت دی او هر چه دَبُور دے هغه باد دعذاب دے څکه حدیث دے چه اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رِيَاحًا وَلَا تَجْعَلْهَا رِيْحًا اوږب العزت په دے بادونو پنځه فائدے او نعمتونه بیان کړی دی یو هغه تیر چه دا پاره دزیری رالیږلی شوی دی وَّلِيُذِيْقَكُمْ او بل پاره دے چه وڅکوی دے په تاسے په سبب د دے بادونو مِنْ رَّحْمَتِهٖ بعض له رحمته خپله او مراد له بعض هغه نعمتونه دی چه منشا ئے دغه بادونو دی لکه نزول دباران اوحصول دارزاقئ اوښائسته والے دشینوالی دزمکے اوصاف والے دهوا اوفرحت د زړهٔ په دفع دمکاروهو سره وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ اوبل پاره دے چه روان شی په دے بادونو سره جهازونه په دریاب کښ بِاَمْرِهٖ په فرمان ددهٗ اوپه تدبیر ددهٗ سره وَلِتَبْتَغُوْا اوبل پاره دے وچه ولټوئ تاسے چلولو ددے جهازونو سره په دریاب کښ دپاره دسود اګرئ مِنْ فَضْلِهٖ بعض له فضله ددهٗ چه هغه سود دے په دغه تجارت کښ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾ اوبل پاره دے چه شکر وباسئ تاسے په دغه نعمتونو اے مکیانو چه له شرکه واوړئ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهر اګینه په تحقیق لیږلی وو مونږه مِنْ قَبْلِكَ پخوا له تا اے رسوله رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ رسولان قوم خپل ته فَجَآءُوْهُمْ پس راپه غلهٔ دوئ قوم خپل لره بِالْبَيِّنٰتِ په بنکاره معجزو یا احکامو له حلالو او له حرامونه بعضو له قومه ددهٗ ایمان پرے راوړه اوبعضو کفر اختیار کهٔ فَانْتَقَمْنَا پس انتقام واخست مونږه مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا له هغه کسانو چه کافرشو او تکذیب ئے وکړهٔ درسولانو اوهلاک ئے کړهٔ مونږه دا کافران اومدد کاری وکړه مونږه دمؤمنانو دَ كَانَ حَقًّا عَلَيْنَا اووه لایقه اوحق په مونږه نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ مدد کاری دمؤمنانو څکه چه دوئ لائق دمدد کارئ دی اَللّٰهُ الَّذِيْ خدائ هغه قادرمطلق دے يُرْسِلُ الرِّيٰحَ چه رالیږی بادونه

عه یعنی اے خدایه وګرځوے دا بادونه دبوریه مثل دصبا اودشمال اوجنوب اومه ئے ګرځوه باد دبور ۱۲

فَتُثِيرُ سَحَابًا پس راپورته کوی دا بادونه ور یځ په هوا کښ فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ پس وغوړوی دٔ ۵ او ور یځ پاس په طرف دآسمان کښ او سره ـ ئے متصل که كَيْفَ يَشَاءُ هر رنګه چه اراده ـ ئے وشی وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا اوبیائے وګرځوی قطعے قطعے بیلے بیلے یعنی کلمه ـ ئے سره تولـه که اوکلـه ـ ئے پرتـه تـوتـه که فَتَرَى الْوَدْقَ پس وینے به ته باران يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ ج چه راوځی دا باران له مینځ ـ دده ور یځ فَإِذَا أَصَابَ بِهِ پس هغه وخت چه ورسوی خدای دا باران مَنْ يَشَاءُ هغه چاته چه اراده وشی دده مِنْ عِبَادِهِ له بندیګانو خپلو إِذَا هُمْ ناڅاپه چه دوئ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿۴۸﴾ زیږے کوی اوخوشحالیږی وَإِنْ كَانُوا اوبیشکه چه وو دوئ مِنْ قَبْلِ اَنْ پخوا له دے چه يُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ راښکته کاوه شی دا باران په دوئ مِنْ قَبْلِهِ پخوا له ظهوره ددے باران ـ دا تاکید دے لَمُبْلِسِينَ ﴿۴۹﴾ هرائینه نا امیدله نزول ـ ئے فَانْظُرْ پس وګوره إِلَى اَثَرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ نښو د مهربانئ دخدائ ته كَيْفَ يُحْيِ الْأَرْضَ چه څرنګه ژوندی کوی دٔ ۵ دغه زمکه پـه دے باران سره په اقسامو دنباتو او په انواعو داشجارو او په اصناف دثمارو بَعْدَ مَوْتِهَا ما پس له مړوالی اوله وچوالی ددے إِنَّ ذٰلِكَ بیشکه هغه قادر پیچون چه مړه زمکه ژوندئ کولے شی لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ج هرائینه ژوند ے کونکے دے ددغه مړو خکه چه داهم دهغه پشآن دی لاترے اسان دی وَهُوَ او بل داچه دے عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۵۰﴾ په هرشیز له مقدور او قادر دے او داهم یو له مقدورڼو دے وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيحًا اوقسم دے چه کهٔ ولیږو مونږه باد یعنی دبوس فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا پس وویني دوئ داکښت زیږ پس له شینوالی قریب وچیدلو ته لَظَلُّوا مِنْ بَعْدِهِ نو هر اینه وبه لګیږی دوئ پس له دغه اصفراره یالـه استبشاره يَكْفُرُونَ ﴿۵۱﴾ کفران به وکه اومنکران به شی په تیرو نعمتو نو هم. اوته هم له دوئ طمع مه کوه اے رسوله د فهم اودقبول دنصیحت خپل خکه چه فَإِنَّكَ پس بیشکه ته چه ـ ئے لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى نهٔ شے اورولے تهٔ قول خپل مړیونه اوکفار هم حکم دمړیولری خکه چه زړونه ـ ئے مړهٔ دی وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ اوبل داچه نهٔ شے اورولے تهٔ کړونته اواواز دبللو خپلو إِذَا وَلَّوْا په هغه وخت چه وګرځوی دوئ مُدْبِرِينَ ﴿۵۲﴾ په ـ ئے حال چه شاکونکی وی تاته وَمَا أَنْتَ اونهٔ ـ ئے تهٔ بِهٰدِ الْعُمْيِ سمه لارښونکے کور ـ ئے دلانونته چه دزړه ستر ګے ـ ئے رندے وی عَنْ ضَلَالَتِهِمْ ط راګرځونکی له ګمراهئ دوئ یعنی تهٔ په دے قادر نهٔ ـ ئے چه توفیق دایمان ورکړے

ع یعنی دریانه دٔ زړه خاوندانو ته ۱۲

دوئ لره اِنْ تُسْمِعُ نه اورو ے تهٔ وعظ او نصیحت خپل په اورولو د فهم او د قبول سره اِلَّا مَنْ مکر هغه چا ته یُؤْمِنُ بِاٰیٰتِنَا چه ایمان راوړی او باور کوی په ایتونو خمونږه یعنی په قرآن فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾ پس دوئ کوونکی نهاده دی تو لواو امرو او نواهیو ته اَللّٰهُ الَّذِیْ هغه قادر مطلق معبود برحق دے چه خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ پیدا کړی یوئ دهٔ تاسے له ضعفه یعنی له ضعیف شیز چه نطفه ده ثُمَّ جَعَلَ بیا درئے کهٔ تاسے لره مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ پس له بل ضعفه چه هغه ضعف د طفولیت دے قُوَّةً قوت یعنے توانائی دځوانۍ ثُمَّ جَعَلَ بیا ئے درکړه تاسے لره مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ پس له قوته د ځوانۍ ضُعْفًا وَّ شَیْبَةً ضعیفی او زوړوالے یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ج پیدا کوی دے هرهغه شیز چه اراده ئے وشی له ضعفه له قوته له ځوانۍ له زوړوالی وَهُوَ الْعَلِیْمُ اود ے پوهږی دے په احوال د بندګانو الْقَدِیْرُ ﴿۵۴﴾ قادر دے په چورلو لودصفا تو د دوئ وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اوپه هغه ورځ چه برپائی شه قیامت یُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ سوګند به خوری کافران په دے چه مَا لَبِثُوْا نهٔ دے کړے مدار دوئ په دنیا یا په قبرو کښ غَیْرَ سَاعَةٍ ط غیر له یوساعت او دا به وائی یالله جهته د دیر هوله د قیامت اود دیرو د ویرو د ډیرو د هغه په سختیو کښ اویا به ئے هیروی اویا به دروغ وائی چه كَذٰلِكَ په مثل د دغه چپولو له صدق چه اخرت کښ دے كَانُوْا یُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾ وو دوئ په دنیا کښ هم چپ کړے شوی له صدقه کذب ته حُکم ویل به ئے چه اَن عه هٰی الاحیاتنا الدنیا وماٰ نحن بمبعوثین ۔ وَقَالَ الَّذِیْنَ اووبه وائی دوئ هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے شوے وو دوئ له علم وَالْاِیْمَانَ او ایمان چه ملائک او انبیاء او مؤمنان دی چه تاسے دروغ وائئ بلکه لَقَدْ لَبِثْتُمْ هر اُلینه په تحقیق مدار کړے دے تاسے په دنیا کښ ډیره موده او بیا هغه مدار ستاسے معلوم او مسطور دے فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ په کتاب د خدائ کښ چه لوح محفوظ یا قرآن دے یا حکم د قضا الهی دے چه تاسے به په دنیا کښ او بیا په قبورو کښ اوسئ اِلٰی یَوْمِ الْبَعْثِ ز تر ورځے د بعث یعنی قیامت پورے فَهٰذَا یَوْمُ الْبَعْثِ پس دغه ده ورځ د بعث چه تاسے به ترے انکار کولو وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ او لیکن وئ تاسے په دنیا کښ داسے چه له ډیره جهل او غفلته لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ نهٔ پوهیږی په دے چه بعث حق دے او توبنه و لره پکاره فَیَوْمَئِذٍ پس په دغه ورځ کښ لَّا یَنْفَعُ الَّذِیْنَ نفع نه رسوی هغه کسانو ته ظَلَمُوْا

عه یعنی نشته قیامت مګر څو ند زمونږه په دنیا کښ او نږیو مونږ ه پورته کیدونکی له قبرونو نه

چه ظلم ئے کړے دے چې ځان په کفر سره مَعْذِرَتُهُمْ عذر خواهی د دوئ وَلَا هُمْ او نه به وی دوئ دا سے چه يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾ وبالهٔ شی راضی کولو دخدائ ته حُکه چه خدائ له دوئ هیڅوے نه راضی کیږی وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ اوهرا ئینه په تحقیق بیان کړی دی مونږه خلقوته فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په دے قرآن کښ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ طه هر قسم مَثَله چه پکار یږی د دوئ په اثبات د توحید او د بعث او د صدق د رسول صلے الله علیه وسلم کښ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ پا ایَةٍ او قسم دے چه که راوړے ته اے رسوله دوئ له د کوم ایت له ایتونو د قرآن یا کومه معجزه لکه عصا او ید بیضا د موسیٰ علیه السلام لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا نو هر اُئینه وبه وائی خامخا هغه کسان چه کافر شوی دی له دیره عناده اِنْ اَنْتُمْ چه نهٔ یئ تاسے یعنی رسول علیه السلام او مومنان اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿۵۸﴾ مگر دروغژن او باطل چلونکی كَذٰلِكَ همدا سے لکه چه مهر یخ دے خدائ په زړونو د دوئ يَطْبَعُ الله مهر کړی دی خدائ عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ په زړونو د هغه کسانو لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ چه نهٔ پوهیږی او نه طلب د پوهے کوی فاصبر پس کوه اے رسوله په ایذاؤ او په عداوت د دوئ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده د خدائ حقه ده په مدد کارئ ستا او په پورته کولو د دین د اسلام په ټولو ادیانو چه د اوعده به ترسره کیږی خامخا وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ او نهٔ دِ باعث کوی په خفت او په جلت عو بتلود عذاب خامخا تا یا په جزع فزع او په بے صبرئ دِ نهٔ راولی په نالا ئقو اقوالو هغه کسان لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۶۰﴾ چه یقین نهٔ راوړی او نه قایل کیږی په بعث په حشر په نشر

سُوْرَةُ لُقْمٰن مَكِّيَّةٌ (۳۱)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ ﴿۱﴾ دے د بیان تیر شوے دے تِلْكَ داچه لوستے کیږی په دے محکمې سورة کښ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ ایتونه د هغه کتاب چه پرحکمت دے یا حکم کونکے دے په حلالو او په حرامو چه قرآن د دے هُدًى قَرَحْمَةً چه د هدایت او د رحمت سبب دے لِّلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳﴾ الَّذِيْنَ دیاړه د هغه نیکو کارونو يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ چه همیشه بر پائ لری دوئ فرض مونځ خپل وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ او ورکوی دوئ واجب زکوٰة خپل وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ او دوئ په راتلونکی د قیامت هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾ هم دوئ یقین کوی اُولٰٓئِكَ داکسان چه موصوف دی په دے

صفا تو عَلٰی هُدًی په سمے لارے دی مِّنْ رَّبِّهِمْ له جانبه له ربه خپله وَاُولٰٓئِكَ اود اکسان چه دی هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ⑤ هم دوئ خلاص او بریالی دی **روایت دے** چه نضر بن حارث چه په سوداګرئ
تللے و فارس ته اوهلته ئے قصے درستم او اسفندیار او پیرودے بیا چه مکے له راغے نو د قریشو په پله
کښ به کیناست او داقصے به ئے ورته کوله او ویل به ئے چه محمد صلے الله علیه وسلم قصے د عاد او ثمود
او احوال د بادشاهئ د داود او سلیمان علیهما الصلوٰة والسلام درته کوی او زه قصے د بادشاهانو د عجمو درته
کوم نو نازل شهٔ وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلقو مَنْ يَّشْتَرِيْ هغه څوک دی چه پیرے لَهْوَ الْحَدِيْثِ عبثے
خبرے یعنی هسے خبرے چه اړونکی وی له حق د قصے درستم او اسفندیار لِيُضِلَّ د پاره دے چه
ولغزوی خلق عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ چه دین د اسلام یا استماع د قراءت د قرآن دے بِغَيْرِ
عِلْمٍ ۖ بے پوهے په عاقبت د کار د اړخیل او بے دلیله وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا اوچه اونیسی دے د الاره یا ایتونه
د قرآن مسخره بازی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه موصوف دی په دے صفاتو لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ⑥ مقرر دے
دوئ له ره عذاب سپکونکے وَاِذَا تُتْلٰى او په هغه وخت چه ولوستے شی عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا په دهٔ ایتونه څمونږه
یعنی قرآن وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا نو وګرځی تر ے په ډکه حال چه متکبر او کردن کش وی یعنی هیڅ التفات ورته
نهٔ کوی كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا دا سے چه ګویا که له سره نهٔ دی اوریدلی ده دا ایتونه كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ ګویا که په
دواړو غوږونو دهٔ وَقْرًا دا سے ثقل دے چه قدرت ئے په اوریدو نشته فَبَشِّرْهُ پس زیرے یعنی
اګاهی وکړه ته په دهٔ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ⑦ په عذاب د دردناک سره اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه
ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعمل نه کوی دوئ دنیکو لَهُمْ جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ⑧ مقرر دی
دوئ له ره جنتونه د ډك له نعمتونو د پاره د استوګنے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط په دے حال چه همیشه به وی
دوئ په دے باغونو او نعمتونو کښ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ط داوعده کړے ده په وعده کولو سره خدائ
په رښتیا چه هیڅ شک پکښ نشته وَهُوَ الْعَزِيْزُ اوده غالب دے نو هیڅوك ئے مانع کیدے نهٔ شی له
وفا الْحَكِيْمُ ⑨ پر حکمت د خَلَقَ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی دی دهٔ اسمانونه بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا بے ستنے چه
وینئ تاسے یخپله وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ او غوړونه ولی یعنی پیدا کړی دی دهٔ په نمکه کښ میخونه یعنی
غرونه هسک لوئ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ د پاره د دے چه نهٔ خوزوی دا زمکه تاسے او دلته لاپکښ مقدر دے

یعنی ان لاتمید بکم وَبَثَّ فِیْهَا اووشیندل دۀ پہ دے زمکہ کښی مِنْ کُلِّ دَآبَّةٍ ط لہ هر قسم دحیوند ونکی
زنده سره وَ اَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ اوراښکته کړی دی مونږه له طرفه دآسمانه مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِیْهَا اوبه راوړو نو
کړیدی مونږه په دے زمکه کښی مِنْ کُلِّ زَوْجٍ کَرِیْمٍ ﴿۱۰﴾ له هر قسم دګیاه ښۀ ډ لۀ منفعته هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ
دا ټول چه بیرته ذکر شو پیدا اُښت دے دخدائ کۀ آسمانونه کۀ زمکه کۀ عرش ونه کۀ حیوانات کۀ نباتات کۀ نور
اشیاء دی فَاَرُوْنِیْ مَاذَا پس وښایئ اے مشرکانو تاسے ما ته چه هغه کوم شیئ دے عالم کښی خَلَقَ الَّذِیْنَ
چه پیدا کړی دی هغه بتان چه مِنْ دُوْنِهٖ ط غیر دی له دۀ یعنی داسے خیز نشته نو دوئ لائق دخدایئ نۀ
دی بَلِ الظّٰلِمُوْنَ بلکه دا ظالمان چه دی یعنی مشرکان فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱۱﴾ په ښکاره ګمراهئ کښ دی ع
دا سے عاجز او مخلوق ئے له توانا خالق سره په خدائ کښ شریکوئ **روایت دے چه هر کله چه قصے**
د لقمان حکیم او وصیتونه دۀ پہ یهود وکښی ډیر مشهور وو او عرب په هره حادثه کښی دے یهود و له
به راتلۀ او پوښتنے به ئے ترے کولے او دوئ به حکمتونه د لقمان ورته بیانول ځکه رب العزت اراده
وکړه دبیان د احوالو دۀ نو نازل شۀ وَلَقَدْ اٰتَیْنَا او هرائینه په تحقیق ورکړے وو موږه لُقْمٰنَ الْحِکْمَةَ
لقمان له حکمت چه عبارت دے له استکماله دنفسی انسانی په اقتباس د علوم نظریه وُسره او له پیدا
کولو د ملکے تاسے په غوره افعالو په قدرت د طاقت خپل سره او دے خُوئ وود باعور بن تارخ بن ازار او
خورئے یا تررزے وود ایوب علیه السلام او دے یا نجار یاشپون وود بنی اسراء یلو او زکاله
ئے عمر وو او زمانے د داود علیه السلام تـه رارسید لے وو او له دۀ څخه ئے اخذ د علم هم د ډیرکړے
دو او په نبوت کښی ئے اختلاف دے امامپه حکمت کښی بے نظیره وو چا ویلی دی چه لس زره
کلمات د حکمت له دۀ څخه منقول دی چه هره کلمه ئے په لکهونو ارزیږی. القصه اوس رب
العزت وائی چه موږه لقمان ته ره حکمت ورکړے دے او ورته ویلی وو موږه اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ط دا سے چه شکر کوه
خدائ له په نعمت د حکمت وَمَنْ یَّشْكُرْ او هر څوک چه شکر کوی فَاِنَّمَا یَشْكُرُ پس بیشکه هم دا خبره ده
چه شکر کوی دۀ لِنَفْسِهٖ ج دپاره د ځان خپل ځکه چه نفع ئے هم دۀ ته راجع ده چه هغه د وام د نعمت او استحقاق
د زیادت دے وَمَنْ كَفَرَ او هر څوک چه بے قدری وکا د نعمت فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ غَنِیٌّ
حَمِیْدٌ ﴿۱۲﴾ بے پرواه دے له شکره د خلقو لائق دے د ثنا اکر کۀ څوک ثناء د ۀ نۀ وائ هم دَاِذْ قَالَ او یاد که

هغه چه وویل لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ لقمان خپل زوی ته چه نوم ئے انعم یا اشکریا ماثان یا ساران وو وَهُوَ يَعِظُهٗ اوحال داچه ده پند ورکولو خوی لره نو د اسے ورته وویل چه يٰبُنَيَّ اے بچو ریدحمزه او د نصیر دپاره دشفقت دے لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ مه شریکوه له خدائی سره په الوهیت او په عبادت کښ بل هیڅوک اِنَّ الشِّرْكَ بیشکه شرك چه دے لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۳﴾ هم ډیر لوئی ځکه چه برابرول د مخلوق دی له خالق سره وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ او وصیت کړے دے مونږه انسان ته او امر کړے دے مونږه په دوه چه بِوَالِدَيْهِ ج له مور او پلاره خپل سره د احسان او وفاداری کوی ځکه چه حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ کرځاوه به دے مور خپله په نس کښ لس میاشتے او وړځ په وړځ به ضعیفه کیده له او ستیده به وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ ضعف د پاسه دبل ضعف ځکه چه یو ضعف د حمل بل د درد د وضع بل د لنگلنه وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ او پریکول دده دے له تی څخه په پوره کیدلو دوه کاله کښ دی او د مرته ویلی دی مونږه اَنِ اشْكُرْ لِيْ دا دے چه شکر کوه ماله ځکه چه موجد حقیقی ستایم وَلِوَالِدَيْكَ ط او بیا شکر کوه مور او پلار خپل لره ځکه چه دوئ موجد مجازی ستا دی اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿۱۴﴾ خاص ماته بیا راتلنه ستا دی نو د شکر او د بے شکرئ به هله درکړم وَاِنْ جَاهَدٰكَ اوکه ډاکوشش وکه دامور او پلار په تا عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ په دے چه شریک و نیسے ته له ما سره مَا لَيْسَ لَكَ هغه څیز چه نه وی تاله بِهٖ عِلْمٌ لا په استحقاق د شرکت د هغه څیز پوهه فَلَا تُطِعْهُمَا پس مه کوئ د هغوی فرمانبرداری د دے دواړو په هغه کښ وَصَاحِبْهُمَا او ملګرتیا کوه د دے دواړو سره فِي الدُّنْيَا په دنیا کښ مَعْرُوْفًا ز ښه ملګرتیا یعنی هغه قسم مصاحبت چه په هغه کښ رضاوی د شرع او مقتضاوی د کرم وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ او پیروی کوه په دین کښ د لارے د هغه چا اَنَابَ اِلَيَّ ج چه بیرته راګرځیدلی دی ماته په توحید او په اخلاص په طاعت سره ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ بیا ماته راتلنه ستاسے د درے واړو دی فَاُنَبِّئُكُمْ پس اګاه به کړم تاسے بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ په هغه عملونو چه وئ تاسے چه کول به مو کړے خبر دے او که ډاوه شروے او دا دوه آیتونه په میخ د قصے د لقمان کښ په طریقه د جملے معترضے راغلی دی د پاره د تاکید د هغه نهی چه لقمان کړے وه خپل خوئ ته له شرکه. نو ګویا که رب العزت وویل چه مونږه هم وصیت کړے دے انسان ته په مثل د وصیت د لقمان او ذکر د والدینو د پاره د مبالغے دپه تعظیم د دوئ کښ سره له نهی د متابعت په شرك کښ اګر که په کوشش وکه هم او نزول دده دوه

ایلتونو په حق د سعد بن ابی وقاص او د مورد ده کښی دے لکه چه په سورۃ عنکبوت کښی تیر شوی دی اوس یا وصیت د لقمان بیانوی چه ده وویل خپل خوئ ته دا سے چه یٰبُنَیَّ اِنَّهَآ اے بچو پریځما بیشکه هر خصلت چه ډیر دا دمی کهٔ خیر وی کهٔ د شر اِنْ تَكُ کهٔ چرے وی دغه خصلت مثلاً په کمی والی کښی مِثْقَالَ حَبَّةٍ په قدر د دانے مِّنْ خَرْدَلٍ له اوری څخه پس وی داحبّه کهٔ خیر وی کهٔ د شر فِیْ صَخْرَةٍ په هنه شنه تیره کښی چه تراوهٔ وارِه زمکو څخه لاندے ده اَوْ فِی السَّمٰوٰتِ یا وی په اسمانونو کښی اَوْ فِی الْاَرْضِ یا وی په زمکه کښی چه هیڅوك پرے خبر نهٔ وی یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ نو هم رابه ئے وړی خدائ او حاضر به ئے کړی خُدائ د حساب اود جزا تهٔ ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ لَطِیْفٌ باریک بین دے چه علم ئے په هر څیز محیط دے خَبِیْرٌ ﴿۱۶﴾ خبردار دے په مکان د هر څیز یٰبُنَیَّ اے بچو پریه حُما اَقِمِ الصَّلٰوةَ برپائ کړه موښ خپل لره مونځ د پاڑه دے چه نفس د کمال ته ورسیږی وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ او امر کوه خلوته په نیکو وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ او منع کوی دوئ له بده کاره چه نور خلق د ربانده کمال ته ورسیږی وَاصْبِرْ عَلٰی مَآ او صبر کوه په هغه سختیۍ اَصَابَكَ ؕ چه ورسیږی تانته له جانبه د خدائ یا له خلقو خُصُوْمًا په دے امر او نهی کښی اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه دا چه درته وویلے شو مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾ له هغه واجباتو امورو دے چه قطع کړیده د خدائ په کولو د هغوی په تولو امو سابقو کښی وَلَا تُصَعِّرْ او مه چیوه تهٔ خَدَّكَ لِلنَّاسِ ع خپل لخلقو له ډیره کبره لکه چه عادت دے د متکبرانو بلکه ع کوه دوئ ته په تواضع سره وَلَا تَمْشِ او مهٔ کوه تهٔ فِی الْاَرْضِ مَرَحًا په زمکه کښی په ډیره نخوه او په خوشحالۍ سره لکه چا هلان د نیا پرست اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَا یُحِبُّ نهٔ خوښوی كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾ هر نخریلے فخر کونکے په خلقو په اسباب او په دولت وَاقْصِدْ فِیْ مَشْیِكَ او میانه رو اوسه په تک خپل کښی یعنی په رپ رجلت مهٔ ځه چه د اتخښه مسکوالی ده او په ډیر روهم مهٔ ځه چه نښه د کبر ده بلکه قدم په وقار سره په تواضع سره کړده وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ او ښکته او نرم کړه اواز خپل یعنی د راز زبان او سخت کومهٔ اوسه دا سے چه نارې سوړے وهی ځکه چه اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ بیشکه د ډیرنا کاره د ټولو اوازونو چه دے لَصَوْتُ الْحَمِیْرِ ع ﴿۱۹﴾ هر اُینه اواز د خره دے اَلَمْ تَرَوْا ایا نهٔ وینئ تاسے اے اُدمیانو اَنَّ اللّٰهَ چه بیشکه خدائ سَخَّرَ لَكُمْ ایل کړی دی ستاسے د نفع د پاره مَّا فِی السَّمٰوٰتِ هر هغه چه په اسمانونو کښی دی لکه نمر او سپوږمئ او ستوری چه دور ځے کسب او

معاش پرے کوئی او د شپے پرے لاړه برابروی وَمَا فِی الْاَرْضِ او هرهغه چه په زمکه کښ دی لکه غرونه او سیندونه او حیوانات او نباتات او معادن چه تاسے پرے نفع اخلئ وَاَسْبَغَ عَلَیْکُمْ او پوره کړی دی دغه په تاسے نِعَمَهٗ نعمتونه خپل ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً هم بنکاره اوهم پټ **فائدہ** بنکاره هغه دی چه په مشاهده معلومیږی لکه حسن صوری، صحت بدنی، ذکر لسانی، اقرار نطق، نهار، صلوٰة، سمع، بصر، لسان نور جوارح ظاهره او پټ هغه دی چه نهٔ معلومیږی مګر په دلیل لکه حسن خلق، صحت باطنی، فکر قلبی، تصدیق، عقل، لیل، صوم، بصیرة سمع قلبی. وَمِنَ النَّاسِ او بعضے له خلقو یعنی له مکیانو. مَنْ یُّجَادِلُ هغه څوك دے چه جګړه کوی دے فِی اللّٰهِ په حق د خدائ کښ یعنے نضر بن حارث چه قصے ئے په سورة الحج کښ تیره شوے ده بِغَیْرِ عِلْمٍ بے له دے سره پرهے څیلے چه وحدانیت پرے معلوم که وَّلَا هُدًی او بے له رهنمائ له رسول صلے اللّٰه علیه وسلم وَّلَا کِتٰبٍ مُّنِیْرٍ ﴿۲۰﴾ او بے له کتاب سوا څه چه له خدای ورلږه راغلے وی بلکه محض په تقلید د اباؤ سره لکه چه وائی وَاِذَا قِیْلَ اوپه هغه وخت چه وویلے شی لَهُمُ اتَّبِعُوْا دوئ ته چه پیروی وکړئ په صدق سره مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ دهغه قرآن چه رالیږلے دے خدائ اوابا ؤ پرے راوړی قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ نو وائی دوئ چه دهغه پیروی نهٔ کوو بلکه پیروی کوو وموندلے مَا وَجَدْنَا دهغے څیز چه موندلی وو موندلے عَلَیْهِ اٰبَآءَنَا په هغه پلرونو څپل اَوَلَوْ کَانَ الشَّیْطٰنُ ایا اګرکه وی شیطان یَدْعُوْهُمْ دا سے چه بولی دوئ د پلرونو خپلو پیروی کوی اَوَلَوْ کَانَ ﴿۲۱﴾ عذاب دد وزخ ته یعنی نهٔ دی کوی وَمَنْ یُّسْلِمْ وَجْهَهٗ اوهرڅوك چه وسپاری خان خپل اِلَی اللّٰهِ خدائ ته یعنی توکل وکړی په دهٔ او تفویض د ټولو امورو خپلو دهٔ ته وکا وَهُوَ مُحْسِنٌ اوحال بیا داچه دے نیکوکاره وی فَقَدِ اسْتَمْسَکَ پس په تحقیق منګلے ټینګے کړیدی دهٔ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰی ؕ په هغه پرې یعنی د ستاویز چه محکم دے او دشوکیدو وړه ئے نهٔ وی چه هغه اسلام یاقرآن یا کلمه د شهادت یا متابعت د اهل سنت او جماعت دے وَاِلَی اللّٰهِ اوخاص خدائ ته دے عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ اخر کار د ټولو امورو د خلقو نو جزا به ورکوی هر چا لره په مناسبت د عمل سره وَمَنْ کَفَرَ اوهرڅوك چه کافر شهٔ اوپه دے پرې ئے منګلے ټینګے نهٔ کړے فَلَا یَحْزُنْكَ کُفْرُهٗ ؕ پس نهٔ دِ خفه کوی تا کفر د دهٔ ځکه چه اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ خاص موندے ته دی بیا راتلهٔ د دوئ په قیامت فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا پس اګاه به کړو موندے ته دوئ

په هغه عملونو چه کړی دی دوئ دلته خو جزا به ورکړو وله دا دغه کفره اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بیشکه چه خدائ ښه خبردار دے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ (۲۳) په هرهغه څیز چه په سینو ستاسو کښ دی که خیر دے اوکه شر دے نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا معاش به ورکړو موږ نږه دوئ لږه لږه موده په نعمتونو او په خوشحالئ سره په دنیا کښ ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ بیا به ځ راولو په په ضرورس او په عاجزئ سره اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ (۲۴) سخت عذاب لږه چه عذاب د دوزخ دے وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او قسم دے کړئ وپوښتے ته دا کفار چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چا پیدا کړی دی دا آسمانونه اوزمکه لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ط نو هر اُسیه وبه وائ دوئ خامخا چه خدائ بیا هر کل چه دوئ اقرار وکا په دے نو قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ط ووایه چه ثناوه خدائ لږه په دے چه اعتراف وکه دوئ په هغه څیز چه موجب دے د بطلان د معتقد د دوئ بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات د دوئ چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ (۲۵) نه پوهیږی په دے چه موږ نږه دے پرېکړو لِلّٰهِ مَا خاص خدائ لږه دی په طریقه د مملوکیت سره هرهغه فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط چه په آسمانونو اوزمکه کښ دی نو په دے د واړو وکښ مستحق د عبادت غیر له دهٗ بل هیڅوک نشته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ (۲۶) هم دے بے پرواه دے له شا خوا نو لائق دے فِي ذاته دتا اګر کهٗ هیڅوک پرے ونهٗ وائ هم وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ اوکه چرته ځمکنۍ کارونې چه هرهغه چه په زمکه کښ دی مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ ونوګنځه هغه قول قلمونه شی وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ اوبحر محیط چه دے راکا بړی دے اوهمت وکا له دهٗ سره مِنْۢ بَعْدِهٖ پس له تماسید لو او بودے بحر محیط سَبْعَةُ اَبْحُرٍ اوهٗ د دریا به نور دهٗ په شان او دا قول بیا سیاهی شی او دا اقلامونه بیا تمام کړے شی په لیکلو کلما تو د پرورد ګار چه عبارت دے له معلوما تو دهٗ مَا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ط نو خلاص به نهٗ شی کلمات د خدائ بلکه کهٗ سَلْ یا زیات دومره نور هم او سره شی هم خلاص به ځ نه کاکځه چه د اسټاهی او کلمات غیر متناهی دی نو متناهی غیر متناهی تکله رسید لے شی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ عَزِيْزٌ غالب دے نو بل هیڅوک پرے نهٗ شی دپاسه کیدلے حَكِيْمٌ (۲۷) پرحکمت دے نو له علم او له حکمته ځ هیڅ څیز نهٗ شی و تلے مَا خَلْقُكُمْ نهٗ دی پیدا کول ستاسو اے مکیانو وَلَا بَعْثُكُمْ او نه بیاژوندی کول ستاسے پس له مرګه اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ط مګر د اسے دی لکه پیدا کول او بیاژوندی کول دیونن حکم چه نسبت قول دکُنْ ته یو اوسل او زمر برابر دی پس له تعلقه دارادے د دهٗ سره له قدرت ذاتی اِنَّ اللّٰهَ

بیشکه چه خدائ سَمِیْعٌ بَصِیْرٌ ﴿۲۸﴾ اوریدونکے دھرمسموع لیدونکے دھرمبصردے اوتُولَّجُ بلشاغل نه نهٔ دے نوحکم دخلقت هم هم دلاسے دے اَلَمْ تَرَ ایا نهٔ ویلے نه اَنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ یُوْلِجُ الَّیْلَ نښتیاسی دے شپه په قدرت کامله سره فِی النَّهَارِ په ورځ کښ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ اوننه باسی ورځ فِی الَّیْلِ په شپه کښ په دے شان چه هره ورځ په سیر طبعی دشمس سره شپه له یوطرفه لنډوی اوورځ اوږدوی اوله بل طرفه په عکس دے اوتل هم داسے کوی ترهغه پورے چه اوقات دشپے طول ورشی ورځے لږ اوږ ورځے طول ورشی شپے لږه وَسَخَّرَ الشَّمْسَ او مسخرکړے دے ده نمر دپاره دمنافع دخلقو وَالْقَمَرَ زا او سپوږمۍ هم چه دوړځے دهغه په رڼا نفع اخلی اودشپے دے په رڼا کُلٌّ یَّجْرِیْ هریوله دغه دواړه روان دی په خپل فلک کښ اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی تر هغه مودے پورے چه په نامه کړے شوے ده چه هغه ورځ ده د قیامت حُکمه چه بیابه ئے تک قطع شی وَاَنَّ اللّٰهَ او بے شکه چه خدائ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ ﴿۲۹﴾ په هغه کارونوچه کوئ تاسے اُگاه دے ذٰلِكَ داچه بیرته ذکردی له سعته دعلم اوله شوله د قدرته اوله عجایبو دصنع اوله اختصاصه د دوئ په خدائ پورے بِاَنَّ اللّٰهَ په دے دی چه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْحَقُّ هم دے ثابت دے په ذات خپل کښ او واجب دے په وجود خپل کښ وَاَنَّ مَا یَدْعُوْنَ او بیشکه هغه بتان چه بولی ئے دوئ یعنی عبادت ئے کوی مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ دغیر له خدایه هغه باطل ناحق دی وَاَنَّ اللّٰهَ اوبل داچه بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْعَلِیُّ الْكَبِیْرُ ﴿۳۰﴾ هم دے لوړ بلند شان عظیم القدرت دے چه په هر چا غالب دے اَلَمْ تَرَ ایا نهٔ ویلے نه اَنَّ الْفُلْكَ دے نه چه بیشکه دا بیړئ اوجهاز ونه تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ تک کوی په دریاب کښ پاس داو بو په سر بِنِعْمَتِ اللّٰهِ په نعمت د خدائ سره چه بادد ے یا په منت او احسان دده سره چه تاسے په سر داو بو بیاپی له غرق په امان لِیُرِیَكُمْ مِّنْ اٰیٰتِهٖ ط دپاره دخپ چه وښائی دے تاسے ته بعضے له نښو د قدرته خپلو اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه په دے بیړیو او په دریاب کښ لَاٰیٰتٍ هر اٰیته ډیرے ښے دی دعبرت لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾ دپاره هغه صابر په بلاوُ د خدائ شاکر په نعمتونو ددهٔ وَاِذَا غَشِیَهُمْ او په هغه وخت چه لاندے که دا کافران مَّوْجٌ کا لظُّلَلِ هغه موج دبحر چه په شان دلویو سائبانونو یا دغرونو لویا دوړ یَدْعُوا اللّٰهَ دعوه کوی

---

۲۸ یعنی هرهغه څیز چه اوریدے شی ۲۹ یعنی هرهغه څیز چه لیدے شی ۳۰ یعنی چه خدائ د هرعالم دے اوپه هرشی قادر دے اوعجیب څیزونه ئے پیدا کړی دے ۱۲

نو بولی دوئ خدائ په دغه وخت کښی مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ په دے حال چه خالص کونکی وی د دوئ خدائ لره دین یعنی داسوال اوبل هیڅوك ویسره نهٔ بولی ځکه چه هوا او تقلید ترے ضائع شوے وی له شل تد خوفه. فَلَمَّا نَجّٰهُمْ پس هرکله چه بیا خلاص کړی خدائ دوئ له موجبه اوراوے باسی اِلَى الْبَرِّ بهر وچے ته فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ پس بعض له دوئ چه مومنان دی باقی وی هم هغسے پخپل پخوانی ایمان وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ او انکار نهٔ کوی له نښو د قدرت څخه نږه اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ مگر هغه چه ډیر غدار وی كَفُوْرٍ ﴿۳۲﴾ ناشکره په نعمتو نو د خدائ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو یعنی مکیانو یا عام خطاب دے اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ووپریږئ د قول له عذابه درب خپل وَاخْشَوْا يَوْمًا او ووپریږئ د یاله هغه ورځے لَّا يَجْزِيْ وَالِدٌ چه نهٔ شی دفع کولے هیڅ والد عَنْ وَّلَدِهٖ ۙ له فرزنده خپل وَلَا مَوْلُوْدٌ او نه هیڅ فرزند وی د اسے هُوَ جَازٍ چه دے د فع کونکے شی عَنْ وَّالِدِهٖ له والده خپله شَيْـًٔا ۭ کوم څیز یعنی څهٔ قدرت له عذابه اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده د خدائ رښتیاده د بعث د حساب د جزا فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا نقسپس نهٔ دِ غړه کوی تاسے خامخا ژوند ون په دے فانی نعمتونو اولد تو نو خپلو وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ او بیا خبرد اروسی چه غړه نهٔ کړی خامخا تاسے بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۳۳﴾ په عفو او په کرم د خدائ هیڅ غړه کونکے نه شیطان او نهٔ دنیا او نهٔ طول امل اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ هم دهٔ څخه د خاص علم د قیامد قیامت وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ او هم دے د اښکته کوی باران په هغه خپل مقرر مکان او زمان کښی بے تقدیمه او تاخیره وَيَعْلَمُ مَا او هم دے پوهیږی په هرهغه څیز فِي الْاَرْحَامِ چه په ارحامو د میندو کښی وی یعنی هرهغه چه دمور په نس کښی وی دهٔ ته معلوم وی چه نر دے کهٔ ښځه تام دے کهٔ ناقص دے وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ او نهٔ پوهیږی هیڅ شخص کهٔ نیکو کار دے کهٔ بدکار دے په دے چه مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۭ کوم کار به کوی دے صباور ځے کښی له خیره اوله شره ځکه ۲ د برکرت دده په اراده کښی خیر وی اوشر ترے وشی او یا په عکس دے وشی وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌۢ ۲ او بل نهٔ پوهیږی هیڅ شخص په دے چه بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ۭ په کومه زمکه به مری دے ځکه چه ۲ د کرت به یو شخص تمام عمر په یوځای کښی ۲ د یره وی اوله سره ئے اراده کوم طرف ته نهٔ وی ناګاه تقدّ الٰهی به ئے داسے ملک ته پرتاوکهٔ چه په خاطر کښی به ئے هم کله نهٔ وی راغلے لکه روایت دے

چه یوه وخ ملک الموت سلیمان علیه السلام له راغے او یوسړے تړے کتل د دۀ له مجلسیانو نخه نو هغه وویل چه دا څوک دے سلیمان علیه السلام وویل چه دا ملک الموت دے بیا په دغه سړی لږ وخت راغله او وے ویل چه دا ماته چه کوری نو زۀ به ئے په کار او سم هله باد ته امر وکه چه ما هند له بوځی نو هند له ئے پور بیا ملک الموت سلیمان علیه السلام ته وویل چه زۀ دیر په تعجب کښی وم چه زۀ په دے ماموره یم چه دے سړی روح په هند کښی قبض که او دے دلته تاسو نخه پرشا کښی ناست دے او اجل ئے دیر نزدے دے نو دا به څرنګه شی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلِیْمٌ آګاه دے په هر غیبت کښی خَبِیْرٌ (۴) خبردار په تیرو او په راتلونکیو تو لو باندے۔

سُوْرَةُ السَّجْدَةِ مکیة (۳۰) رُکُوْعُهَا ۳ اٰیَاتُهَا ۳۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الٓمّٓ (۱) دے بیان پخوا تیر شوے دے تَنْزِیْلُ الْکِتٰبِ دے را لیږلے شوے د اکتاب یعنی قرآن او دا تنزیل خبر دے دمبتدا محذوف چه هُوَ دے۔ لَا رَیْبَ فِیْهِ نشته هیڅ شک په دۀ کښی یعنی په نزول په احکامو دۀ کښی او دا ئے خبر ثانی دے۔ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ (۲) راغلے دے له پروردګاره دعالمیانو او دا ئے خبر ثالث دے بیا دب العزت وائی چه مکیان نۀ منی دا خبره چه دا قرآن له خدای راغلے دے اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ بلکه دا سے وائی دوئ چه دا محمد صلے اللّٰه علیه وسلم له خپل ځانه ویلے دے او بیا په دروغونو ئے په خدائ تړلے دے او دوئ دا خبره دروغ وائی ځکه چه دا سے نۀ ده بَلْ هُوَ الْحَقُّ بلکه دا سے ده چه دے حق دے چه راغلے دے مِنْ رَّبِّكَ له جانبه درب ستا لِتُنْذِرَ قَوْمًا پاره دے چه ویرولے نۀ له عذابه دا سے قوم یعنی عرب مَّآ اَتٰىهُمْ چه نۀ دے راغلے دوئ لره مِّنْ نَّذِیْرٍ هیڅ ویرونکے له عذابه مِنْ قَبْلِكَ پخوا له تا این تر اسمٰعیل علیه السلام پورے چه دا زمانه د فترة وه یعنی د قطع د وحی وه او دا قریب خلور نهه کاله به وه پس له اسمٰعیل علیه السلام تر رسول علیه السلام پورے چه په دے مینځ کښی پیغمبرانو وو پیدا شوے په بنی اسمٰعیل کښی نو موږه داویږلے ته دوئ لره لَعَلَّهُمْ یَهْتَدُوْنَ (۳) ښائی چه دوئ سمه لار پیدا مومی ستا په دے ویرولو سره اَللّٰهُ الَّذِیْ خدائ هغه قادر مطلق دے چه خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړی دی ده اسمانونه اوزمکه وَمَا بَیْنَهُمَا اوهر هغه چه په مینځ د دے دواړو

کښی دی فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ په مقدار د شپږو ورځو د دنیا کښی چه اول ئے یکشنبه وه او اخرئے جمعه وه ثُمَّ اسْتَوٰی بیا مستولی او متوجه شئ حکم دهٔ عَلَی الْعَرْشِ په عرش چه اعظم د مخلوقاتو دے پس ایمان راوړئ تاسے په دهٔ او تابع اوسئ همیشه د حکم دهٔ حُکمه چه مَالَکُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ نشته تاسے لره غیر لهدهٔ په دنیا په عقبیٰ کښی مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ ما نه هیڅوك دوست او نه شفاعت کړے چه یاری او مدد کاری درسره وکړی اَفَلَا تَتَذَکَّرُوْنَ ﴿۴﴾ ایا نهٔ اخلئ پند تاسے په دئ وعظ او نصیحت. او دئ دا سے حکیم مطلق دئ چه یُدَبِّرُ الْاَمْرَ تدبیر کوی د کار د دنیا یعنی لیږی هغه ملک چه مسلط دے په دغه کار مِنَ السَّمَآءِ اِلَی الْاَرْضِ له اسمانه زمکے ته د پاره د کار سازئ ثُمَّ یَعْرُجُ اِلَیْهِ بیا خیژی دا امر اوتد بیر د دهٔ ته د پاره د دئ چه هلته ثابت اوموجود وی دده په علم کښی فِیْ یَوْمٍ په هغه ورځ کښی یعنی په هغه زمانه کښی کَانَ مِقْدَارُهٗٓ چه دے مقدار د هغه زمانے اَلْفَ سَنَةٍ یو زر کاله مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿۵﴾ له هغه چه شمارئ کوی تاسے له کلونو او له اَیامو د دنیا یعنی راکوزیږی او بیا خیژی په دومره زمانه کښی چه کهٔ حئ او بیا راځی نو په زر کاله کښی به لا رشی او بیا به راشی حُکم چه تر اسمانه تر زمکے پښه سوه کاله لار دده نو مقدار دکوزیدلو او بیا د ختلو خو د زر کاله شو ذٰلِكَ داخالق او مدبر چه دے په ټولو صفاتو د کمال موصوف دے خصوصًا په دغه لسو صفاتو چه مخکښ مذکور دی عٰلِمُ الْغَیْبِ چه اګاه دئ په هر پټ وَالشَّهَادَةِ او په هر ښکاره له خلقو الْعَزِیْزُ چه غالب دئ په حکم او په تدبیر خپل کښی الرَّحِیْمُ ﴿۶﴾ چه مهربان دے په مطیعانو خپلو په دے تدبیر کښی الَّذِیْٓ اَحْسَنَ هغه خدائ چه بنهٔ مزین کړے دے ده کُلَّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ هر څیز چه پیدا کړے دے دهٔ هغه یعنی هر موجود ئے په مقتضیٰ د حکمت بالغه خپل سره سم کړیدئ خصوصًا انسان لکه چه وائی وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ اوشروع کړے دے دهٔ اول پیدا اوبنت د انسان یعنی د ادم علیه السلام مِنْ طِیْنٍ ﴿۷﴾ له خټے څخه چه قصهٔ معلومه ده. ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ بیا پیدا ئے کهٔ نسل یعنی اولاد د دهٔ مِنْ سُلٰلَةٍ له نطفے څخه یعنی مِنْ مَّآءٍ مَّهِیْنٍ ﴿۸﴾ له هغه اوبو څخه چه ضعیفے او حقیرے دی چه منی ده او د ابدل دے له سلالة ثُمَّ سَوّٰىهُ بیا برابر او راسته ئے کړهٔ قالب د دهٔ یعنی د ادم علیه السلام په بنهٔ لائق شکل سره وَنَفَخَ فِیْهِ او پوئے کړهٔ په دئ قالب کښی یعنی پکښی داخل ئے کړهٔ مِنْ رُّوْحِهٖ له روحه خپله یعنی له هغه خپزه چه خاص دے په دهٔ او

په علم دده پورے اوه انسبت دروح خپل خان ته محض د پاره د اظهار د تشریف اود تکریم دے دده وَجَعَلَ اودرکړه دهٔ لَكُمُ السَّمْعَ تاسے لره غوږونه چه اوریدل پرے کوئ وَالْاَبْصَارَ اوسترګے چه لیدل پرے کوئ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ اوزړونه چه عقل او فکر پرے کوی اوداسی موجب دے دپرے شکر څخه چې څه صفات ئے په تاسے کښ ظاهر کړی دی اما قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝۹ لږ شکر کوئ تاسے په دے لو یو نعمتونو وَقَالُوْٓا او وائی دا منکران له بعث لکه ابی بن خلف شهٔ ءَاِذَا ضَلَلْنَا ایا په هغه وخت چه ورلړ شو موږ په فِی الْاَرْضِ په زمکه کښ یعنې چه خاورے شو اوله زمکے سره داسے خلط شو لکه اوبهٔ شو دو سره څومره اوداخاورو هیڅ تمیز نهٔ کیدهٔ ءَاِنَّا ایا بیشکه بیا مونږه لَفِیْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ هر اوینه په نوی پیدا ئښت کښ به اوسو یعنی بیا به هم داسے سزد وباره سازکړے شو لکه چه اوس یو دا دروغ دی اوداسے دهٔ دکه چه وائی دوئ بَلْ هُمْ بلکه داسے ده چه دوئ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ په ملاقات د رب خپل كٰفِرُوْنَ ۝۱۰ منکر دی په آخرت یعنی ایمان نهٔ دے راوړے قل وویا اے رسوله منکرانو د بعث ته چه زړے چه يَتَوَفّٰىكُمْ قبض به کا ارواح ستاسے مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِیْ هغه ملک چه وځ لوله مقرر دے یعنی عزرائیل علیه السلام وُكِّلَ بِكُمْ چه مسلط کړے شوے دے په تاسے د پاره قبض د ارواحو ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ بیا رب خپل ته پس له مرګه تُرْجَعُوْنَ ۝۱۱ بیرته به بیولے کیږئ تاسے پس له بیا ژوندون د پاره د حساب او د جزا وَلَوْ تَرٰٓى اوکه وویني ته اے بنده اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ هغه چه دا کافران نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ بنکته غورځولی وی د سرونو خپلو عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ په نزد د رب خپل په ورځ د قیامت له دیره حیا ځکه اوندامته اووائی به دوئ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا اے ربه څومره لیدهٔ مونږه هغه چه وعده کړے وه تا وَسَمِعْنَا او واورېده مونږه له تا نصدیق د رسولانو یا لیدهٔ مونږه هول د قیامت او واورېدهٔ مونږه اوازد صور فَارْجِعْنَا پس بیرته بوزه مونږه دنیا له نَعْمَلْ صَالِحًا چه وکړو مونږه هلته نیک عملونه اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ۝۱۲ بیشکه چه اوس مونږه بے ګمان یو یعنی اوس څومره یقین راغے په دے چه قیامت حق دے او جواب د لو محذوف دے چه دادے لَرَاَيْتَ اَمْرًا فَظِيْعًا نو وائی رب العزت چه وَلَوْ شِئْنَا اوکه اراده شوے وے څومره ءَاْتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ نو هر اوینه ورکړے به وو مونږه هر شخص له په دنیا کښ هُدٰىهَا

عه یعنی له دیره شرمه او پښیمانتیا ۱۲ سه فظیع په معنی وشنیع یعنی دیر قبیح معنی دادہ چه خامخا به وینے ته کار سخت دیر قبیح ۱۲

هغه چه لاره پریمونډلے وے دهٔ ایمان اوعمل صالح ته وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ اویکن مقرر شو یدے وآکفت
اوحکم مِنِّیْ له ماڅخه چه هغه دادے چه لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ هرائینه ډک به کړم زهٔ خامخا دوزخ مِنَ الْجِنَّةِ
وَالنَّاسِ له کفارو دپیرانو اوداد میانو اَجْمَعِیْنَ ﴿۱۳﴾ له ټولو دوئ اوبیا وائی به ورته پس له دخولهٔ خازنانو
ددوزخ فَذُوْقُوْا پس وڅکئ تاسے داعذاب بِمَا نَسِیْتُمْ په سبب دے چه هیرکړے ووتاسے یعنی
بے التفاتی موکړے وه لِقَآءَ یَوْمِكُمْ هٰذَا ج ملاقات دورځے خپلے چه داده یعنی باورنهٔ ووستاسے پرلته
دقیامت نوامس جزائے دادہ چه اِنَّا نَسِیْنٰكُمْ بیشکه موټرده به هم هیرکئین واچوو تاسے وَذُوْقُوْا اووڅکئ
ن تاسے عذاب الْخُلْدِ عذاب دهمیشه والی یعنی دائم بِمَا كُنْتُمْ پس دهغه کفر او تکذیب چه وئ تاسے
تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ چه کولو به مو په دنیا کښ اِنَّمَا یُؤْمِنُ بیشکه هم داخبره ده چه ایمان راوړی بِاٰیٰتِنَا
الَّذِیْنَ په آیتونو موږ ده یعنی په قرآن هغه کسان اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا په هغه وخت چه پند ورکړے
شی دوئ لره په دغه آیتونو خَرُّوْا سُجَّدًا نو پرمخے پریوځی دوئ په دے حال چه سجده کونکی دوئ خدائ
ته له ډیره تواضع اوله ویرے او له شکره په دے نعمت چه په دوئ ئے اسلام پیژندلو کړے دے وَسَبَّحُوْا
بِحَمْدِ رَبِّهِمْ او پاکی وائی دوئ سره له ثنا درب خپل یعنی له صفات ذمیمه ؤ پاك او په صفات حمیدهٔ
ئے موصوف بولی یا سُبْحٰنَ اللّٰهِ وبحمده وائی دوئ وَهُمْ لَا یَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ او دوئ کبر او سرکشی نهٔ
کوی له ایمانه له طاعته له سجدے او بل هغه کسان چه تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ راښیل شی اولړے شی ارخونه
ددوئ د څښے چه اوده وی یعنی راپاڅیږی عَنِ الْمَضَاجِعِ له ځایونو دخوبه اوله فراشونو دراحت
دپاره د تَهَجُّد یعنی چه ټول خلق اوده شی نو دوئ راپاڅیږی له خوابده خوبه نوتهجد وکړی او
یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بولی دوئ درب خپل پټه له خلقو خَوْفًا وَّطَمَعًا ز له ویرے د قهر اوله امید درحمت
یعنی په مابین دخوف اودرجا کښ وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ اوبعض له هغه مال چه ورلړے دے موږ ده دوئ
لره یُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ اورکوی دوئ په لاره دخدائ کښ یعنی د څښے هغه کوی اوبیا دورځے داکوی فَلَا تَعْلَمُ
نَفْسٌ پس معلوم نهٔ دے هیڅ شخص ته یعنی نه ملک مقرب ته اونه نبی مرسل ته مَّآ اُخْفِیَ لَهُمْ هغه
څیز چه پټ کړے شوے دے دوئ لره له کرامانو اوله مراتبو مِنْ قُرَّةِ اَعْیُنٍ ج له یوالی دستر ګو جَزَآءً بِمَا

ع یعنی رب العلمین لره دصفاتو قبیحونه پاك بولی ۱۲

د پاره دجزا ورکولو په هغه عمل کانُوا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾ چه و و دوئ چه کولو به ئے یعنی دوی به له خلقو پټ عمل کولو مالره نو ما هرجزا و سزا پټه ساتلے ده دوئ لره لکه حدیث دے چه یقول الله تعالیٰ اعددت لعبادی الصلحین مالاعین رات ولا اذن سمعت ولاخطر علی قلب بشر ما اطلعتم علیه اقرءوا ان شِئْتُم فلا تعلم نفس ما اخفی لهم الایة روایت دے چه ولید بن عقبه وویل علیٰ ؓ ته په طریقه دفخر چه حُما نیزه ستاله نیزے تیره ده اوحُما ژبه هم ستاله ژبے تیره ده اوعلی رضؓ ورته وویل چه چپ شه اے فاسقه حُما اوستاخه برابری ده سره نو دپاره دتصدیق نازل شه اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا اَیا پس هر هغه څوك چه وی دے ایمان راوړونکے په خدائ په رسول الله صلے الله علیه وسلم لکه علیؓ شه كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ داسے دے هغه څوك چه فاسق وی یعنی سرکش له خدائ له رسول صلے الله علیه وسلم لکه ولید لَا یَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ نه ؤ برابریږی سره دواړه طائفے چه مؤمنان اوفاسقان دی لدے جهته چه اَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هر چه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعمل ئے کړے دے دنیکو فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰی ز پس دوئ لره مقرر ؤ دے دپاره داستوبر نے جنت الماوٰی چه چه یوجنت دے له هغه اتو جنتو نو چه یمین دعرش دے نُزُلًۢا بِمَا په طریقه دمیلمستیا په سبب د هغه عملونو كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ چه و و دوئ چه کول به ئے په دنیا کښ وَاَمَّا الَّذِیْنَ فَسَقُوْا اوهر چه هغه کسان دی چه فاسقان شوی دی په تکذیب سره فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ پس ځای داستوبر نے دوئ اوردے ددوزخ په ځائ دجنت الماوٰی دمؤمنانو كُلَّمَاۤ اَرَادُوْۤا هرکله چه اراده وکه دوئ اَنْ یَّخْرُجُوْا مِنْهَاۤ دے چه راوځی له دغه اوره اُعِیْدُوْا فِیْهَا نو بیرته به وغورځولے شی دوئ په دغه اوکښ یعنی هر کله چه دوزخ په جوش راشی اوداکفاربه دلمبو په سر راپورته شی اودروازونه ئے رانزدے شی اوطبع ئے دتلو پیدا شی نو اراده به وکا دخروج. خازنان ددوزخ به ئے بیرته ددوزخ تلی تیرتاؤ کا وَقِیْلَ لَهُمْ اوویه ویلے شی دوئ ته له دیره اهانته ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ چه وخکئ تاسے داعذاب د اوَالَّذِیْ كُنْتُمْ هغه عذاب چه وئ تاسے پخوا په دنیا کښ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۰﴾ چه دهغه تکذیب

عه یعنی والی خدائ چه تیار کړی دی ما په قدرت خپل سره دپاره د بندیګانو خپلو چه نیکو کاران دی څیزونه چه نه رڅا سترګو لیدلی دی اونه دچا غوږونو اوریدلی دی اونه تیریشوی دی په زړه دهیڅ بشر او کهٔ تاسو خبر نهٔ یئ په هغه څیزونو نو ولولئ کړچرے تاسو خوښه وی ۔ فَلَا تَعْلَمُ الایة

به موکولو وَلَنُذِيقَنَّهُمْ اوهرائینه وبه څکوو مونږه په دوئ مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ بعضے له هغه نږدے عذاب
چه عذاب دد نیادے لکه قتل یا بند یا قحط یا امراض دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ رابیرته له هغه لویه عذابه
چه داخرت دے لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (۲۱) بنائی چه دوئ رجوع وکا له کفره اسلام ته وَمَنْ أَظْلَمُ اوڅوك
دے د یرظالم مِمَّن ذُكِّرَ له هغه چا چه پند ورکړے شی ورلره بِآيَاتِ رَبِّهِ په ایتونو درب خپل سره بیے
په قرآن ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا بیاغ وګرځوی ترے اوفکر پکښ ونه کا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ ښے شکه چه
مونږه له مشرکانو مُنتَقِمُونَ (۲۲) انتقام اخستونکی یو په هلاك اوبه عذاب سره وَلَقَدْ آتَيْنَا اوهرائینه
په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوسَى الْكِتَابَ موسیٰ علیه السلام لره کتاب چه توراة وو لکه تالره چه قرآن
دے **روایت دے** په وسیط کښ چه رب العزت وعده کړے وه پخواله رسول الله صلے الله
سره - چه تهٔ به پخواله وفات خپل موسیٰ علیه السلام وو یئ نو اوس تاکید دهغه وعدے کوی
ځکه وائی فَلَا تَكُن پس مهٔ کیږه تهٔ فِي مِرْيَةٍ په شك کښ مِّن لِّقَائِهِ له ملاقات دموسیٰ علیه
السلام څخه او دا ملاقات بیا روشوبه شپه د معراج په شپږم اسمان کښ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى اوکړے
وو مونږه موسیٰ علیه السلام یا کتاب دده رهنمائی لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ (۲۳) د پاره د بنی اسراءیلو وَ
جَعَلْنَا مِنْهُمْ اوکړل ترهغوی وو مونږه بعض له دوئ أَئِمَّةً يَهْدُونَ پیشوایان چه لاره بسے نودله
په احکامو د تورات خلقو ته په فرمان ځمونږه سره لَمَّا صَبَرُوا ځکه چه صبر وکړی دوئ په ایمان
یا په سخت دقوم یا په طاعت وَكَانُوا او وو دوئ داسے چه بِآيَاتِنَا یُوقِنُونَ (۲۴) په ایتونو ځمونږه چه
موسیٰ علیه السلام څخه وو یقین ئے راوړے وو إِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستاچه دے هُوَ يَفْصِلُ هم دے به
حکم کوی بَيْنَهُمْ یَوْمَ الْقِيَامَةِ په ما بین دهغے مخلوق کښ په ورځ د قیامت فِيمَا كَانُوا په هغه څیز
کښ چه وو دوئ په دے دنیا کښ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ (۲۵) چه په هغه کښ اختلاف به ئے کولو له امرد
دین څخه نو داحکم الٰهی به محق او مبطل سره بیل که اوهریوله به جزا ورکه مناسب له عمل دده
سره أَوَلَمْ يَهْدِ ایا لاره دعبرت نهٔ ده بنودلے دغه مکیانو ته دے کار چه كَمْ أَهْلَكْنَا څومره هلاك
کړیدی مونږه مِن قَبْلِهِم پخواله دوئ مِّنَ الْقُرُونِ له اهله د پیرو قرنونو لکه عاد اوثمود او داسے نور
د یر یَمْشُونَ چه هیڅه تیریږی د امکیان چه شام ته سود اګرئ له فِي مَسَاكِنِهِمْ ط په هغه ځایونو د

استوړ نود هغوکښ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے هلا کولود پخوانیو قرنونوکښ لَاٰیٰتٍ هرائینه لوئی نښے
دی دپاره دعبرت دمخکښ راتلونکیو خلقو اَفَلَا یَسْمَعُوْنَ (۳۶) ایاپس نه اوری دوئ د زړه په غوږونوچه
پند پرے واخلی اَوَلَمْ یَرَوْا ایا نه وینی دوئ اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ داچه بیشکه مونږه راکاږو اوبیایودا
اوبهٔ دسیلاب اودسیند اِلَی الْاَرْضِ الْجُرُزِ هغے زمکے ته چه وچه کلکه وی اوکیاه نهٔ لری په سبب دوچوالی
سره فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا پس راوباسو اوزرغونوٗ مونږه په دغه اوبو سره کښت یعنی غله او وني تَاْکُلُ مِنْهُ
چه خوری له دغه کښت څخه اَنْعَامُهُمْ چاړپایان دوئ کیاه اوپانړه دونوو اَنْفُسُهُمْ ط اوپخپل دوئ دانه
اومیوه اَفَلَا یُبْصِرُوْنَ (۳۷) ایاپس نهٔ وینی دوئ دا اثار دقدرت چه دا ترے معلوم کړه چه هرکله دے په
دغه قادر دے نو په ژوندی کولو دمړیو به هم قادر وی وَیَقُوْلُوْنَ اوواٸی دامکیان مؤمنانوته مَتٰی
هٰذَا الْفَتْحُ چه کله به وی دافتح یعنی دافیصله خُمونږه اوستاسے په مینځ کښ اِنْ کُنْتُمْ که چرے ئی تاسے
صٰدِقِیْنَ رښتیني په دے وعده دفیصلے کښ قُلْ یَوْمُ الْفَتْحِ وواٸه ورته اے رسوله چه په ورځ دفتح
کښ چه قیامت دے لَا یَنْفَعُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْٓا هیڅ نفع به ونهٔ رسوی هغه کسانوته چه کفرئ اختیار کړے
دے اِیْمَانُهُمْ ایمان راوړل دوئ وَلَا هُمْ یُنْظَرُوْنَ (۲۹) اونه به وی دوئ داسے چه انتظار ورته وکړے
شی اومهلت ورکړے شی په قیامت په تاخیر دعذاب سره فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنګ وکړه له دوئ په
طریقه داهانت اوښ ترے وګرځوه تر نزول دایت سیف وَانْتَظِرْ اومنتظر اوسه نصرت الٰهی
ته اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ع (۳۰) بیشکه دوئ هم منتظر دی دغه خبرے ته چه غلبه وکهٔ اما دانهٔ شی
کولے ځکه چه اَلْجَقُّ یَعْلُوْا وَلَا یُعْلٰی ::

سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ مَدَنِیَّةٌ (۹۰) (۳۳) اٰیَاتُهَا ۷۳ رُکُوْعُهَا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

روایت دے چه ابوسفیان اوعکرمه بن ابی جهل اوابوالاعور الاسلمی مدینے له راغله پس له جنګ
د اُحد دپاره دصلح او ابن ابئ کړه ئے وار ول - بله ورځ دوئ له دریومنافقانو سره چه ابن ابئ اوابن
قشیر او ابن قیس دے رسول الله صلی الله علیه وسلم لره راغله اوورته ئے وویل چه په دے صلح

عه یعنی حق لوئی اوپورته دے په هرڅیز او په ده باندے هیڅ لوړ لے اوپورته کیدے نه شی ۱۲

وکړ وچه ته خُو نږه په خدایا نو بدمهٔ وایه او دا سے وایه چه په قیامت دوئ لره شفاعت شته نو مونږ
به تا پریږدو چه دخپل خدائ عبادت کوے اودے منافقانو هم ورته وویل چه داشراهو دعی بو قول دے
ردوُل ئے په کارنهٔ دی نو نازل شهٔ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره اتَّقِ اللّٰهَ په ویره اوسه همیشه له خدائ او
مدام ثابت اوسه په تقوىٰ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ اومهٔ منه خبره دکافرانو چه ابوسفیان اومنګرى ئے دى
وَالْمُنٰفِقِيْنَ ط اونهٔ د منافقانو چه ابن اُبی اومنګرى ئے دى اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ كَانَ عَلِيْمًا دے دانا په
گفتار دوئ حَكِيْمًا (۱) حکم کونکے په مقتضى د حکمت وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ اوپیروى کوه د هغه حکم چه الیږلے
کیږى تا ته مِنْ رَّبِّكَ ط له جانبه د رب ستا لکه نهى شوه له فرمانبردارئ د دوئ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بیشکه چه
خدائ دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا (۲) په هغه کارچه کوئ ئے تاسے اګاه وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ط اوتوکل وکړه په
خدائ اوخپل کارونه په دهٔ وسپارهٔ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا (۳) اوپس دے خدائ وکیل یعنی کارسازے نکه باں

روایت دے روایت دے چه عربوبه درے کارونه لازم گنړل اول داچه هر پوهنده سړے دوه زړه
لرى ځکه دوئ به ابومعمر بن جمیل په پوهنو ذو القلبین بالهٔ اودهٔ به ویل ځما دوه زړه ندى
اوپه هر یو له محمد صلى عليه وسلم «زیات فهم کوم ـ دویم داچه هرچا چه به خپلے ښځے ته نسبت د
مظاهرے وکړهٔ نو هغه ئے مورشوه په هرشه کښ این ترځرمت د بیا نکاح. د ریم داچه هر بیګانه
چه چا په خُوئ وباله هغه به ئے خُوى شهٔ په هرشهٔ کښ این ترمیراث وړلو او ترحرمت د نکاح د
ښځے د هغه ځکه دوئ به ویل رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په باب د زید بن حارثه کښ چه عتیق
ددهٔ وو او په خُوئ ئے بیا نیولے وو او ددهٔ مطلقه ئے بیا په نکاح واخسته چه محمد صلى الله عليه وسلم
خپله نږدې په نکاح کړه نو په رد د دغه درے وار وکښ نازل شه مَا جَعَلَ اللّٰهُ نهٔ دے پیدا کړے خدائ
لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ هیڅ سړى لره دوه زړونه فِيْ جَوْفِهٖ ع په درونه ددهٔ کښ ځکه چه زړه معدن د
روح حیوانى دے اوهغه خو یوڅ نو تعداد په قلب کښ هم منع دے وَمَا جَعَلَ اونه ښدى کړے خدائ
اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ هغه ښځے ستاسے تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ چه ظهار کوئ تاسے له هغوئ څخه اُمَّهٰتِكُمْ ع میندے
ستاسے ـ او ظهار دا دے چه ځوك ووائ ښځے خپلے ته چه انتِ علىّ کظهر اُمّى. معنىٰ داچه ته په ما دا
حرامه شوے لکه شا د مور ځما چه رابانده حرامه ده یعنى په دغه ویلو سره خدائ نهٔ میندے کوى

ستاسے حُکمه چه زوجیت مقتضی دے دخادمیت او امومت دمخدومیت نو جمع ئے په یوه ښځه کښ محال ده وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اوبل نهٔ دی گرځولی خدائ اَدْعِيَآءَكُمْ په خامنو بللی ستاسے اَبْنَآءَكُمْ واقعی خامن ستاسے حُکمه چه په نبوت کښ شرط دے ولادت او په دعوت کښ عدم ولادت نو جمع ئے په یوشخص کښ سره محال ده ذٰلِكُمْ دا بیته مذکور چه دی قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ځویل ستاسے دی هسے عبث محض په خولو ستاسے چه هیڅ حقیقت ورلره نشته وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ اوخدائ چه دے وائ دے حق مطابق له واقع سره وَهُوَ يَهْدِى السَّبِيْلَ ④ اودے بنائ سمه لاره اُدْعُوْهُمْ وبولئ تاسے دا ادعیا یعنے نسبت ئے کوئ لِاٰبَآئِهِمْ پلرونو دوئ ته هُوَ اَقْسَطُ دا نسبت خپلو پلرونو ته برابر اوږد په عِنْدَ اللّٰهِ ج په نزد دخدائ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا پس کهٔ معلوم نهٔ وو تاسے ته اٰبَآءَهُمْ پلرونو دوئ فَاِخْوَانُكُمْ پس دوئ رونړه ستاسے دی فِى الدِّيْنِ په دین د اسلام کښ نو په ورُڼ بولئ یعنی ورتهٔ وائ یا اِخْوَانُكُمْ اودوستان ستاسے دی په دین کښ نو یا مولائ ورته وائ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اونشته په تاسے هیڅ وبال فِيْمَآ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ په هغه کښ چه خطا وزئ تاسے په هغه گمتار کښ متلاً ناکاه ستاسے له خولے ووځی چه زید بن محمد صلے الله علیه وسلم چه پخواله نهی وی اوکهٔ پس. په نسیان وی اوکهٔ په سبق د لسان وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ط ولیکن شته وبال په هغه کښ چه قصد وکړی زړونه ستاسے د دوئ نسبت او غیر له پلاره نسبت ئے وکړئ بل چاته عمدًا وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا اودے خدائ بخښونکے دصاحب دخطا رَّحِيْمًا ⑤ مهربان په ه. اجب دعمد کهٔ توبه وباسی زوایت دے هرکله چه رسول الله صلے الله علیه وسلم اراده وکړه د غزا جانب د تبوك ته او مؤمنان ئے ماموره کړه په تگ. نو بعضو وویل چه موبنده یم به خپل مور او پلار و پوښتو که اذن ئے راکړو نو به لاړ شو نو نازل شو النَّبِىُّ پیغمبر چه دے اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ د پرلانړ دے له مؤمنانو سره مِنْ اَنْفُسِهِمْ له نفسونو د دوئ څخه په امتثال د امر او تنفیذ د احکامو د هٔ کښ په دوئ حُکمه چه په امر د ده کښ سر تر سره صلاح او فلاح ده د دوئ او نفس خوا مار ه بالسوء دے نو امر د هٔ موجب دے د شقاوت نو حاصل دا چه کهٔ د هٔ یوشان امر وکهٔ په دوی او نفسونو ئے بل شان امر وکهٔ مخالف له هغهٔ نو د ادهغه نه مخکښ مردود دے وَاَزْوَاجُهٗٓ او ښځے د ده دی اُمَّهٰتُهُمْ مینډے دی د دوئ لیکن محض په تعظیم او په حرمت د نکاح کښ له دوئ سره او په نور هرشئ کښ په مثل د اجنبیانو

دی خُکه ویل به بی بی عائشے چه لسنا با مهلت النسآء **روایت دے** چه هر کله میراث په اول راسۀ کښ په درے خیز ونو جاری وو په هجرت په مواخات په موالات او په رحم سره. نو دپاره دنسخ دوے حکم نازل شۀ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ اوشبنتان دارحامو یعنی دخپلولی چه دی بَعْضُهُمْ بعض دد وئ اَولٰی بِبَعْضٍ لائق تر دی په بعض نورڼ په ورلود میراث کښ فِیْ کِتٰبِ اللّٰهِ په کتاب دخدائ کښ چه لوح محفوظ دے یا قرآن دے یعنی په هم دے ایت یا په ایت دمیراث مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ له مؤمنانو وَالْمُهٰجِرِیْنَ اوله مهاجرانو اوداد مِنْ بیا نیه دے یعنی بیان کوی داولی الارحام یاصله داولی اوپه تقدیر ذکر دمهاجرینو پس له مؤمنانو تخصیص دے پس له تعمیم اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا مگر یالیکن داچه کوئ تاسے په وخت دژوند خپل کښ اِلٰٓی اَوْلِیٰٓئِکُمْ له یارانو دوستانو خپلو سره مَّعْرُوْفًا احسان یاوصیت دثُلُث یاکم اوداد استثناء یامتصله ده یعنی اولوالارحام په هر وخت کښ لائق تردی نفع اوداحسان مکرنۀ دی په دغه وخت مخصوص اویامنقطع ده یعنی معروف کول ستاسے له دوستانو خپلو سره روا دی کَانَ ذٰلِكَ دے دانسخ دمیراث دایمان اوهجرت په میراث دذوی الارحام سره فِی الْکِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۶﴾ په لوح محفوظ یاپه قرآن کښ بنکلی وَاِذْ اَخَذْنَا اویادکه هغه چه واخست مونږ مِنَ النَّبِیّٖنَ له ټولو پیغمبرانو علیهم السلام مِیْثَاقَهُمْ عهد ددوئ په دے چه پخپله دهم عبادت کوی دخدائ اونور خلق دهم بولی ددۀ عبادت ته اوهریو دِ تصدیق دنور وهم کوی اوخپل امت ته نصیحت دِهم کوی اودامیثاق په ورڅ دالست وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ اوخصوصًا له اوله نوح علیه السلام شخه وَاِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی اوهمدا سے له ابراهیم اوله موسی علیهما السلام شخهم وَعِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ سۀ اوهمدا سے له عیسٰی علیه السلام شخه چه خُوئ دے دبی بی مریم اوتخصیص دذکر ددے پنځو دپاره دغه دے چه دوئ په ارباب دشرائعو کښ دپیرمشهوردی اواولوالعزم هم دی اوتقدیم دپیغمبر خُمونږه دپاره دتعظیم ددۀ دے وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ او واخست مونږه له دغه پیغمبرانو مِّیْثَاقًا غَلِیْظًا ﴿۷﴾ عهد محکم یعنی مؤکد په یمین سره لِّیَسْـَٔلَ الصّٰدِقِیْنَ دپاره دے چه وپوښتی خدائ رښتینے عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ له رښتیا ویلودوئ یعنی دا محکم عهد مونږ واخست دپاره دے چه وپوښتی رښتیا خدائ په ورڅ دقیامت پیغمبران له صدق له عهد خپل داسے چه وفائ یه عهد خپل په رسولو دپیغام قومونو

خپلوته کړے وو که نه یا ئے وپوښتی له منلود تومونو پیغام د پیغمبرانو خپلو د پاره د الزام د وئی چه دے تومونو پیغام ستاسے منے وو که نه. یا چه وپوښتی تومونه له صدقه خپل چه د وئی پیغام خپلو پیغمبرانو منلے وو کهٔ نه. یا چه وپوښتی مومنان چه صدق ئے کړے دے په عهد د الست کښ که نه وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ اوتیار کړے دے ده پاره د کافرانو عَذَابًا اَلِيْمًا ۝۸ ع عذاب دردناك **روایت دے** چه هرکله بنی نضیر و عهد مات کهٔ او رسول صلی الله علیه وسلم له مدینے وشړل نو لاړهٔ خیبر ته. نو حُیَیُّ بن اخطب له تولی دیهود و سره مکے له راغے او له ابوسفیان سره ئے عهد د جنګ و کهٔ له رسول الله صلے الله علیه وسلم سره او قریب د ولس زره لښکر له قریشو او له نورو عربو سره جمع شو په اراده د مدینے او د اصحابو مصلحت وغوښت نو سلمان فارسیؓ بنا په عادت د عجمو خندق وایهٔ او درے زره اصحاب وو نو چا پیر له مدینے زمکه پرے قسمت کړه او د وئی په کنډو د خندق لاس پورے کهٔ او ده به هم خاورے را ایستلے ناګاه خندق په مینځ کښ یوه برخه را نښکاره شوه نو دے و ر لړه را غے او پلک ئے پورته کړه او وئے ویل بسم الله او کذا ئے پرے وکړو نو د ریمه حصه ترے والوته او لویه لمبه ترے هسکه شوه چه پرے رنړا د هغے مانړئ د شام ئے پرے ولیدے نو الله اکبر ئے وویل چه کلیکانے د شام ماړه را کړے شوے بیا د ویم کذا ئے پرے وکړهٔ نو بیا د ویمه حصه ترے والوته او لمبه ترے پورته شوه چه مانړئ د یمن ئے پرے ولیدے نو بیا الله اکبر ئے وویل چه کلیکانے د یمن هم ماړه را کړے شوے بیا د ریم کذا ئے پرے وکړه نو ټوله والوته او لویه لمبه ئے وکړه چه مانړئ د کسرای ئے پرے ولیدے نو بیا الله اکبر ئے وویل چه کلیکانے د فارس ماړه را کړے شوے او منافقانو به سره یوبل ته ویل چه تاسے ګورئ د غه سړی ته چه اوس له ویرے د دشمن خندق له ځانه چاپیروی او دے ساده کانو سره وعده د فتح د شام او د یمن او د فارس کوی بیا چه خندق سازشهٔ او لښکرے راغلے او چاپیره له خندق ئے د اړول او قریب یو میاشت به ئے تیرزی او غشی سره کذا ړول او بیا له میاشتے پس په شپه د ژمی کښ د اسے یخ ناڅیل پرے راوالوت چه ستر کے ئے له خاورو د کے شوے او د رونه ئے مړهٔ شو او خیمے ئے وغورځولے او اسونه ئے کمند ونه وشوکول او چاپیر له لښکرو سورشهٔ د تکبیر اتو د ملا ټکو. نو ماتے پرے کړه شوه او بے جنګه و تښتیدل لکه چه وائی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اے هغه کسانو اٰمَنُوا اذْكُرُوْا چه ایمان ئے راوړے دے یاد کړئ نِعْمَةَ اللّٰهِ

عه سخت سیئ او زوراور باد ۱۲

عَلَيْكُمْ نعمت دخدائ په تا سے اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ هغه چه راغلے تا سے لره لښکرے دکفارو چه قریش اوعطفان اوکنانه اویهود وو اوچا پیره درڅخ یو میاشت پرانه وو فَاَرْسَلْنَا پس راولیږه مونږه عَلَيْهِمْ رِيْحًا په دوئ باد وناهیل وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا اوداسے لښکرے چه نهٔ لیدلے تا سے یعنے د ملایکو وَكَانَ اللّٰهُ اودے خدائ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۝ (۹) په هغه کارونو چه کوئ تا سے بینا اِذْ جَآءُوْكُمْ یادکړی هغه چه راغلهٔ دا کفار تا سے لره مِّنْ فَوْقِكُمْ بعض له پاس جانبه ستا سے چه طرف دمشرق دے له مدینے چه هغه عطفان اویهود وو. وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ اوبعض له کوزه طرفه ستا سے چه جانب دمغرب دے لهمدینے چه هغه قریش اوکنانه وو وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ اوهغه چه چپے اوخیرے شوے سترګے اوبوتے وخته له ویره خوفه وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ اوبل ورسیدل زړونه حناجر وته یعنی له خپل ځایه راپورته شو بیخونو مریوته اوحناجر جمع ده دجنجر اوهغه منتهی د حلقوم دے چه مدخل دے دطعام اود شراب اوداځکه چه هر کله ویره په سړی غالبه شی نو سړی ئے راو پرسیږی اودے هم راپورته شی اوزړهٔ هم له ځانه سره راپورته کاندی خنجرے ته وَتَظُنُّوْنَ اوګمان نونه کوا تا سے بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝ (۱۰) په خدائ رنګارنګ ګمانونه چه مخلصانو به د اسے ګمان کولو چه خدائ به له رسول صلے اللہ علیه وسلم اوله مؤمنانو سره مدد کاری وکه اوخپل دین به غالب کا اومنافقانو به دا ګمان کولو چه لښکر داسلام ډیرکم دے دد ے احزاب تاب به رانهٔ وړی اویځکن به شی اودا الف ظنونا زائده دے چه راوړے شوے دے پاره دروایت دفاصلے هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ په دغه وخت واز میلے شو مؤمنان نو بنکاره اوبیل شو مخلص له منافقه اوثابت له متزلزله وَزُلْزِلُوْا اوشور قولے شو دوئ په غلبه دخوف سره زِلْزَالًا شَدِيْدًا ۝ (۱۱) په شر قولو سختو سره وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ اویادکه چه وویل منافقانو لکه ابن ابیٔ او ابن قشیرشهٔ وَالَّذِيْنَ اوبل وویل هغه کسانو فِيْ قُلُوْبِهِمْ چه په زړهٔ دوئ کښ مَّرَضٌ رنځ وو دضعف داعتقاد مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ چه وعده نهٔ وه کړے له مونږه سره خدائ وَرَسُوْلُهٗ او رسول دده دفتح دشام اودیمن اود فارس اِلَّا غُرُوْرًا ۝ (۱۲) مګر باطل په فریب وَاِذْ قَالَتْ اویاد که هغه چه وویل طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ یوے طائفے له دغه منافقانو چه اوس بن قبطی اوتابعدار

عه یعنی له دے تولی ذکر شوی چه هغه عطفان اویهود اوقریش اوکنانه دی دی ۱۲ منه یعنی بیخ به مو وهئ،

ئے دی یٰٓاَهْلَ یَثْرِبَ اے اهل دیثرب اویثرب هغے زمکے ته واۍ چه مدینه پکښ ده لَا مُقَامَ لَكُمْ نشته دلته ځائ د اقامت اود توقف ستاسے فَارْجِعُوْا پس بیرته وګرځئ اولاړ شئ خپلو کورونو ته مدینے یا نشته په دین د اسلام کښ ځائ ستاسے نو وګرځئ بیرته کفار وته اوامان ترے وغواړی چه په اړام شئ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ او اذن د رجوع وغوښت یوے طائفے مِّنْهُمُ النَّبِيَّ له دوئ څخه له پیغمبره (صلی الله علیه وسلم) چه بنو حارثه او بنو سلمه دو يَقُوْلُوْنَ او وائی دوئ ورته اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ځ چه بیشکه کورونه ځونبره بیرته په مدینه کښ خالی پرانه دی نو ویریږ وچه دشمن پرے چپاؤ ونه کړی نو اذن راکه چه کورونو له لاړشو وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ج اوحال داچه نه دی کورونه ئے خالی بلکه ښهٔ محکم دی اِنْ يُّرِيْدُوْنَ ارااده نه لری دوئ پے دغه ټک سره اِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾ مګر د تیښتے له جنګه وَلَوْ دُخِلَتْ اوکه راننه ایستے شی داجنود کفار عَلَيْهِمْ په دوئ په مدینه کښ مِّنْ اَقْطَارِهَا له اطرافو مدینے یعنی چه ناګاه ترے چاپیره شی اوکلکے ونیسی ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ بیا طلب وکړے شی له دوئ د فتنے یعنے بیا طلب ترے وکا د اکفار د شرک او د مقاتلے له مسلمانانو سره لَاٰتَوْهَا نو هرائینه وربکا دوئ د افتنه دغه کفار ولړه یعنی قبول به کا د اطلب د دوئ او شرک او د قتال له مسلمانانو سره به اختیار کړه وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ او مدار به ونه کا دوئ په دے قبلولو د فتنے کښ اِلَّا يَسِيْرًا ﴿۱۴﴾ مګر لږ یعنی په جلتئ به مشرکان شی اوجنګ به بنا کړی له مسلمانانو سره یا مدار به ونه کړی دوئ په دغه مدینه کښ پس له مرتد کیدلو مګر لږ یعنے بیا به زر ترے و وایستے شی وَلَقَدْ كَانُوْا او هرائینه په تحقیق و د دوئ یعنی بنو حارثه او بنو سلمه عَاهَدُوا اللّٰهَ چه عهد ئے کړے و وله خدائ سره مِنْ قَبْلُ پخوا له دے په روح د اُحد چه په لاره کښ بے زړۍ شول او بیرته وګرځیدل اوبیا پښیمان شو نو عهد ئے وکړۀ له رسول صلے الله علیه وسلم سره داسے چه پس له دے به هیڅ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ط ونه ګرځوی دوئ شا خپلے دشمن ته یعنی تیښته به ترے هیڅ ونه کا وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ اودے عهد د خدائ تعالیٰ مَسْئُوْلًا ﴿۱۵﴾ پوښتیدلے شوے یعنی ترے پوښتیدلے به شی چه ماته کړے ئے وه نو ښولے به شی پرے او که وفائے پرے کړے وه نو جزا به ورکړے شی قُلْ ووایه دوئ ته اے رسوله لَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ چه له سره به نفع ونه رسوی تاسے ته تیښته اِنْ فَرَرْتُمْ که څرے و تښتئ تاسے مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ له مرګ یا له قتله چه خلاص شته هیڅ شخص لره له یو دے دوارو په وخت معین کښ حکم پته دے شوے ده

او قلم پرے چلیدے لے دے او کہ اوس وتحتیٔ او دا تیغتہ نفع درتہ وکری متلاً دا سے چہ فی الحال مرہ نہ شی ہم لہ اجل خو بہ تیر نہ شی لکہ چہ وائی وَاِذًا اوپہ دغہ وخت چہ وتختیدئی لَّا تُمَتَّعُوْنَ ژوندی بہ پاتے نہ کرے شی پہ دے دنیا کښی اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۶﴾ مگر لږہ مودہ قُلْ بیا ووایہ ورتہ مَنْ ذَا الَّذِیْ چہ څوك دے دھغہ کس يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ چہ وساتی تاسے لہ عذابہ دخدائی اِنْ اَرَادَ کہ چرے ارادہ وکہ خدائی بِكُمْ سُوْٓءًا لہ تاسے سوہ د بدئی یعنی دھلاړ یا دمات اَوْ اَرَادَ یا ارادہ وکړی دے بِكُمْ رَحْمَةً ط لہ تاسرہ د رحمت یعنی د نصرت او د غنیمت بلکہ دضرر منع کیدے شی اونہ دنفع وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ اونہ بہ موسی دوئی خپل ځان لږہ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر لہ خدائی وَلِيًّا نہ کوم دوست چہ نفع ورتہ ورسوی وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ او نہ کوم مددگار چہ ضرر تردفع کا روایت دے چہ یو سړے لہ دغہ لښکر بیرتہ مدینے لږہ لاړ او ھلتہ خپل وړوړے ولیدہ چہ بے غمہ ناست وو پہ انواع د نعمتونو کښی نوزدہ وسرتہ وویل چہ تہ دلتہ ناست ئے معاش کوے بے غمہ او رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ھلتہ دتورو او دنیزو پہ میخ کښی ولاړ دے او ھغہ وسرتہ پہ جواب کښی وویل چہ تہ ھم راځہ دلتہ ما څہ کینہ او گورہ چہ پہ مکر وډیوہ دا سے عظیمہ بلا راغلے دہ چہ بہ ترے نہ یوھم خلاص نہ شی نو نازل شو قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ پہ تحقیق بیرتہ خدائے الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ منع کونکی او حصارونکی دخلقو لہ نصرتہ درسول صلی اللہ علیہ وسلم څخہ لږہ تولی ستاسے وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ او پیژنی ھغہ وینکی وورونو خپلو تہ هَلُمَّ اِلَيْنَا چہ راځئ مونږہ لږہ یعنی منافقان وائی مؤمنانو تہ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ او پخپلہ ھم نہ راځی جنگ لږہ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾ مگر کم راتلۀ یا کم زمان یا کم جنگ ھم ھغہ پہ ریاسرہ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ج پہ دے حال چہ بخیلان وی دوئی پہ تاسے پہ معاونت او پہ نفقہ کښی یعنی ھیڅہ پہ دے ارمان کښی وی چہ معاونت ورسرہ ونہ کړی او چاڅہ ورتہ کړے چہ خوار وذلیل شوے فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ پس پہ ھغہ وخت چہ راشی ویرہ د دشمن رَاَيْتَهُمْ نو وینے بہ تہ دوئی چہ لہ ډیرہ ھیبتہ او وارخطایئ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ گوری بہ دوئی تا تہ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ چا پیرہ بہ چورلی سترگے دوئی یعنی کاتی ئے كَالَّذِیْ پہ مثل دھغہ يُغْشٰى عَلَيْهِ لږہ لږہ او بے خودی راوستے شوے وی پہ دہ مِنَ الْمَوْتِ ج لہ سکراتو د مرګہ یعنی دوی ھم دھغہ پہ شان ھیبت زدہ او وارخطا وی فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ پس بیا پہ ھغہ وخت چہ لاړہ شی داویرہ او راجمع کړے شی اموال

د غنیمت سَلَقُوْكُمْ نوا زار د رکوی دوئ تا سے تہ او سخت خبرے د رتہ کوی او سلق زبان درازئ تہ وائ او د رازدستئ تہ وائ پہ قہر سرہ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ پہ ژبو تیرو سرہ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ پہ دے حال چہ بخیلان وی پہ خیر یعنی پہ غنیمت چہ پہ لاس نکلو لئے غواړی اُولٰٓئِكَ دا کسان چہ موصوف دی پہ دے صفاتو لَمْ يُؤْمِنُوْا ایمان نۂ دے راوړے دوئ پہ اخلاص د زړہ سرہ فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ پس باطل کړیدی خدائ عملونہ د دوئ چہ پہ ریا سرہ ئے کړی دی خالی لہ صدقہ وَكَانَ ذٰلِكَ اودی دا باطل کول د عملونو عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۹﴾ پہ خدائ اسان يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ گمان کوی دا منافقان پہ دے لښکرو د کفارو دا سے چہ لَمْ يَذْهَبُوْا ځ نۂ دی تللی دوئ بیرتہ مکے لرہ پہ ماتے بلکہ هم هغسے لاچا پیرلہ مدینے پراتہ دی اود الہ پیرے وارخطایئ .نو دوئ پہ دغہ سبب پہ ماتے لاړہ د لښکر لہ مینځہ پہ مدینہ نتوانتہ او پہ خپلو کورونو کښی کیناستہ وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ اوکہ چرے بیا راشی دا لښکرے پہ جنګ دویم کرت يَوَدُّوْا نو دوست بہ گنړی دوئ اوارمان بہ کوی دوئ چہ لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ کاشکے وے موږ ځ صحرا نشین یعنی باندہ چیان فِي الْاَعْرَابِ پہ اعرابو کښی يَسْاَلُوْنَ چہ لہ وَيْ پہ پوښتے کولے دوئ لہ رهر وپانو څخہ عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ لہ اخبارو ستاسے وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ اوکہ چرے دا کرت هم وے دوئ پہ تاسے کښی اوکړی نو تہ نۂ وے تختیدلی اوجنګ بناشوے وے مَّا قٰتَلُوْٓا نو نۂ بہ وو کړے دوئ جنګ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲۰﴾ مګر لږ اوهغہ هم پہ ریا او لہ خوف دعار لَقَدْ كَانَ لَكُمْ هر ائینہ پہ تحقیق دے تاسے لرہ اے وارخطا وبریدونکو فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ پہ کار د رسول د خدائ کښی اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ خصلت نمبۂ مرغوب چہ لائقہ ورسرہ دادہ چہ اقتداء ورپسے وکړے شی پہ هرڅہ کښی پہ عباداتو پہ معاملاتو پہ ماکولاتو پہ مشروباتو پہ ملبوساتو پہ حرکاتو پہ سکناتو پہ الاتو د حرب پہ شجاعت پہ سخاوت پہ صبر د محنتونو پہ تحمل د سختیو کښی بلکہ پہ ټولو افعالو اقوالو احوالو د ہ کښی لِّمَنْ كَانَ هغہ چہ دے محبوب وو د رب نو هرڅہ ئے بنایستہ وو اوله جملہ نالایقو ئے دا سے ساتلے وو چہ پہ هیڅ باب کښی د طعن ځائ پکښی نہ وو او وائ لعلی خلق عظیم ہ ئے شاهد دے نو ځکہ اقتداء د ہ حسنہ پہ ده پسے لِّمَنْ كَانَ د پارہ د هغہ چا چہ وی دے دا سے چہ يَرْجُوا اللّٰهَ امید لری لہ خدائ د لقاء د رضا د ثواب د نجات وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ او د نعمتونو د ورستئ د ورځے چہ آخرت دے وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿۲۱﴾ او یاد وی خدائ

د یرهم په خوله اوهم په زړهٔ **روایت دے** چه رسول الله صلے الله علیه وسلم اصحاب خبر کړی وو له جمع اوله راتلود احزاب پخواله وقوعه او ورته ځے ویلی ووچه اول کښی به په تاسے سختی د یره راشی امابه آخر کښی به نصرت اوغلبه تاسے لره وی په دوئ۔ نوځکه والیٔ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ اوهرکله چه ولیدے مؤمنانو لښکرے دکفارو قَالُوْا هٰذَا مَا نو وویل دوئ چه دا هم هغه لښکرے دی وَعَدَنَا اللّٰهُ چه وعده کړے وه له موښره سره خدائ چه راته ځے ویلی ووچه اَمْ حَسِبْتُمْ ان تدخلوا الجنة ولما یاتکم مثل الذین خلوامن قبلهم الایة ۔ وَرَسُوْلُهٗ او رسول دده هم چه راته ځے ویلی ووچه سیشتد علیکم الامر باجتماع الاحزاب علیکم والعاقبه لکم علیهم۔ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ژاو رښتیا ویلی وو خدائ او رسول ددهٔ هم چه وعده کړے وه هغهٔ دابتلاء اودجمع داحزاب وَمَا زَادَهُمْ اوزیات نهٔ کوه دے لیدلود احزابو دغه مؤمنانو لره اِلَّا اِیْمَانًا مگر په ایمان کښی په سبب دصدق دوعدے وَّتَسْلِیْمًا ﴿۲۲﴾ او ګردن ایښودل امر د رسول صلے الله علیه وسلم ته **روایت دے** چه هرکله بعض اصحابو لکه حمزه او مصعب اوعثمان اوطلحه اوانس اودا سے نورو عهد کړے وو له خدائ سره اوندرے ایخے ووچه که چرے موښره له رسول صلے الله علیه وسلم سره ملګرې شو په جنګ کښی توکلک به ولاړاو سواو پرے آرام به ونهٔ کړو ترڅو چه شهید ان شوی نهٔ یو۔ نو دوئ په مدح کښی نازل شو مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ رِجَالٌ بعضے له مؤمنانو داسے سړی دی صَدَقُوْا مَا چه رښتیا کړے دے دوئ هغه کارغَاهَدُوا اللّٰهَ چه عهد کړے وو دوئ له خدائ سره عَلَیْهِ ج په هغه کارچه ثبات اواستقامت وو په قتال کښی فَمِنْهُمْ مَّنْ پس بعض له دوئ هغوی دی قَضٰی نَحْبَهٗ چه ترسره ئے کړهٔ نذر خپل یعنی په جنګ کښی کلک ولاړ وو ترڅوچه شهید شه پکښی لکه حمزهؓ او مصعبؓ اوانسؓ وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّنْتَظِرُ ۫ اوبعض له دوئ هغه څوک دی چه منتظر دی ترسره کولو ته ځے اولاځ کړے نهٔ دے په سبب دتاخیر د اجل لکه عثمانؓ اوطلحهؓ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِیْلًا ﴿۲۳﴾ اوتغیر ځے وس نهٔ کړهٔ عهد خپل لره په تغیر ورکولو سره په خلاف له حاله منافقانو لِیَجْزِیَ اللّٰهُ دپاره دے چه جزا ورکړی خدائ الصّٰدِقِیْنَ بِصِدْقِهِمْ رښتینولره یعنی په عهد وفا کونکولره په رښتیا ویلی یعنی په پوره کولو دعهد خپل سره وَیُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِیْنَ اوعذاب ورکړے منافقانولره اِنْ شَآءَ که اراده ځے

---

۱۲ معنی داچه سخت به شی په تاسویا نه دے اول کار د جنګ په سبب دجمع کیدو د لښکر د کفارو په تاسو او اخر برے تاسولره دے په هغوئ یا نه دے ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ۱۲ کتبه: محمد صادق زهیر چیرهارے

وشی چه په نفاق ئے مړه ؤ که اَوۡ یَتُوۡبَ عَلَیۡهِمۡ یا رجوع وکړے دوئ ته په توفیق ورکولو د توبے سره چه له نفاقه خپل تالبان شی یخواله موتر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ کَانَ غَفُوۡرًا دے بخښونکے دتوبه کونکیو رَّحِیۡمًا ﴿۲۴﴾ سره باندنه په دوئ **حکایت** دے چه په ایا مود مقدمے دخندق کښ یوتپه یو پهلوان د عرب چه عمرو بن ود و او له زړ و سر یو سره به یوائے جنګیدۀ له خلورو قوتنا کو سره یو سره له خندق ئے راوتل نکل اوغږ ئے وکړ ؤ مؤمنانو ته چه څوک جنګ له راشئ نو دوئ له آوازه معلوم کړۀ چه عمرو بن ود دے نو رسول صلے اللہ علیه وسلم غږ وکه چه مخے ته ئے څوک راپاخئ نو یو سړے راپاخیدۀ او رسول صلے اللہ علیه وویل څوک ئے؟ دۀ وویل علیؓ یم ۔ ورته ئے وویل ته ورځه په خپل ځائ بیرته کښه نو لاړه بیرته ۔ بیا دویم غږ ئے وکه چه څوک راپاخئ نو یو سړے راغے ۔ نو دۀ وویل څوک ئے؟ هغه وویل علیؓ یم ۔ نو بیا ئے بیرته کیناوه ۔ او بیا دریم غږ ئے وکۀ نو بیا یو سړے راغے ده وویل څوک ئے؟ هغه وویل علی یم ۔ نو رسول صلے اللہ علیه وسلم پوهه شو چه بل هیڅوک ئے مخے له نه شی ورتلے نو دیره دعائے ورته وکړه او خدائ ته ئے سوال او کړ چه داخپل تره ځوئ رم په تا امانت کړه سلامت ئے بیرته راله راوله نو لاړ بیا چه عمرو له ورغے نو ستونه ئے یوبل ته سره ورپرے وکړه داول کذار کولو ۔ خو اخر داچه علیؓ له مقرر شۀ بیا چه دۀ دذوالفقار کذار پرے وکړو په ملا ۔ نو دوه ځایه وچاودۀ او هغه نور بیرته وتختید ل نو رسول اللہ صلے اللہ علیه وسلم ووایل چه لَمبارزۀ عَلِیٍّ یوم الخندق افضل من اعمال امتی الی یوم القیمة بیا نو خورئے هم په ویر ددۀ کښ بیتونه ویلی دی چه دادی ۔ **رباعی**

لوان قاتل عمرٍ وغیر قاتله لکنت ابکی علیه اٰخر الابد
لکن قاتله من لا یعاب به من کان یدعی قدیما بیضة البلد

وَ رَدَّ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا اوبیرته وشړل خدائ له مدینے هغه کسان چه کافروو یعنے هغه لښکر ځما حزابو چه دولس زره کسان راغلی وو د پاره دجنګ هغه ئے بیرته وزغلول چه په ملاتے لاړل ټول بے جنګه پس له دے چه یوه میاشت پراته ؤ وَ بَعَّضَهُمۡ سره له قهره خپل هم هغسے ډک زړونه بیرته لاړل ځکه چه لَمۡ یَنَالُوۡا خَیۡرًا ؕ بیا نۀ موند دوئ خیر یعنی لاس برے په مؤمنانو وَ کَفَی اللّٰهُ اوبس شۀ

عه یعنی خامخا ثواب دجنګ علیؓ په ورځ دخندق ویر دے له ثوابه دعملونو دامت ځکه تر ورځ د قیامت پورے ۱۲

خدائی یعنی کفایت ئے وکړهٗ اَلْمُؤْمِنِیْنَ الْقِتَالَ مؤمنانو لره په حق د جنګ کښ په باد صبا او په ملائکو سره لکه چه قصه ئے بیرته اوس مفصل بیان شوے ده وَ کَانَ اللّٰهُ قَوِیًّا اوے خدائی څښتن د دیر قوت هر څهٗ چه خواهش ئے وشی هغه کولے شی عَزِیْزًا ع (۲۵) غالب په هر چا روایت دے چه هرکله لښکرے د احزابو له مدینے چاپیره شوے نو د بنی قریظه وَدَاے گمان وشئ چه اسلام اوس بیخکن شه نو عهد ئے مات کړهٗ او د قریشو ملکرتیا ئے وکړه پیا چه احزاب د ښپے په مات لاړهٗ و تختیدل او مؤمنان خپلو کورونو له راغله او وسله ئے کیښوده ناګاه جبریل علیه السلام راغے په حیرو م سور اوهم په دهٗ اوهم ئے په حیرو م ئے ګرد پروت وو نو رسول صلے الله علیه وسلم ورته وویل چه د ادخهٗ ګرد دے نو هغه وویل چه د اد قریشو د زغلو لو ځے پیا جبریل علیه السلام ورته وویل چه ته ئ زغره و باسے او ملائکو لا وسله نهٔ دی ایښے او ته خدائی ماموره کړے ئے په کنګ بنی قریظه وُ ته اوزهٔ خو د غه دے لاړم او تاسے را پسے راځئ خدائ و یلی دی چه بنی قریظه به تاسے و تکوم لکه ټکول دهګئ په تیره نو غږ ئے وکړهٗ په اصحابو چه مونځ د مازدیګر بل ځائ مهٔ کوئ غیر له بنی قریظه نو راغلهٗ او ترے چاپیره شو او پنځوسشت ورځے ئے حصار کړهٗ نو د یر تنګ شو بیا رسول صلے الله علیه وسلم ورته وویل چه راکوز شئ د سعد بن معاذ رض په حکم . نو راضی شو او راکوز شو نو سعد حکم وکهٗ په قتل د جنګیالو او په بندو ښځو او د هلکانو . نو رسول صلے الله علیه وسلم وویل - الله اکبر هغه حکم د وکړو چه او و اسمانونو د پاسه ښکے د خدائ نو د مدینے په بازارئے خندق وویست او د اتهٗ یا د نهه سوه مقاتلان نو کړ د نو نه ئے وویل او په هغه خندق کښ ئے وغورځول او اوه ښځے او هلکان ئے بندیان راوستل لکه چه وائی وَاَنْزَلَ الَّذِیْنَ او راکوز کړهٗ خدائ په قهر او غلبه خپلے سره هغه کسان ظَاهَرُوْهُمْ چه هم پشت شو د احزابو او مدد کاری ئے و د سره وکړه مِنْ اَهْلِ الْکِتٰبِ له اهل کتابو چه بنی قریظه وو مِنْ صَیَاصِیْهِمْ له قلعه ګانو خپلو وَقَذَفَ اوو غورځول خدائ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ په زړونو د وئ کښ و یره له رسول صلی الله علیه وسلم او له لښکرو فَرِیْقًا تَقْتُلُوْنَ چه یوه فرقه ترے و وژله تاسے چه نهه سوه مقاتلان وو . وَتَاْسِرُوْنَ فَرِیْقًا ع (۲۶) او بندی ګرله او مریونه ګرله تاسے بله فرقه چه اوه سوه ښځے او هلکان وو . وَاَوْرَثَکُمْ او میراث ئے درکړهٗ تاسے ته اَرْضَهُمْ زمکه د دوئ یعنے کښت زاری او باغونه وَدِیَارَهُمْ او قلعه ګانے

او مینې اوښکې ددوئ وَ اَمْوَالُهُمْ اومالونه ددوئ یعنی نقود او مواشی او نوکانوې اسبابونه دکورونو

روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه وسلم زمکے ددوئ یوازے مهاجرینو له ورکړے غیر له انصارو او ورته ئے وویل چه تاسے مینې لرئ او ددوئ نهٔ لرئ وَ اَرْضًا لَّمْ تَطَئُوْهَا اوبل میراث ئے درکړو هغه زمکه چه نهٔ وه پائمال کړے تاسے پخوا لکه خیبر یا فارس او روم یا تمام روئ زمین چه اهل اسلام ئے نیسی ترقیامته وَكَانَ اللّٰهُ اودے خدائ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرًا ﴿۲۷﴾ په هرشیز قادر نو په دے هم قادر دے

روایت دے چه په نهم کال له هجرت نهٔ حرمه درسول صلی الله علیه وسلم وو تولے ورته راجمع شوے اوخوراك اوجامے ئے له دهٔ وعوښتهٔ زیات له مقدوره ددهٔ نوطبیعت ئے پته دے پیرملال شهٔ او سوکند ئے وکړهٔ چه یوه میاشت به له دوئ سره اختلاط ونهٔ کړم اولاړ په مسجد کښ دیره شهٔ بیا چه نهه ویشت ورځے تیرے شوے نو نازل شهٔ یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وو ایه ښځو خپلو ته دا سے چه اِنْ كُنْتُنَّ كه چرے ئے تاسے تُرِدْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا چه غواړئ تاسے هم دغه ورکے ژوند ون یعنی معاش ددهٔ وَزِیْنَتَهَا او بناسته ددهٔ یعنی ډیرکا نه او قیمت بها جامے اونوره فراغی دمال فَتَعَالَیْنَ اُمَتِّعْكُنَّ پس راځئ تولے چه درکړم متعه دطلاق وَاُسَرِّحْكُنَّ اوبیا خوشے کړم تاسے یعنی طلاق درکړم سَرَاحًا جَمِیْلًا ﴿۲۸﴾ خوشے کول په ښهٔ وجه سره یعنی په رغبت نهٔ په کراهت وَاِنْ كُنْتُنَّ اوکه چرے ئے تاسے تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ چه اراده لرئ یعنی غواړئ تاسے خدائ اورسول ددهٔ یعنی رضا ددوئ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ اونعمتونه دهغه جهان فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ تیار کړے دے دپاره دنیکوکارو ښځو مِنْكُنَّ له تاسے اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۲۹﴾ اجر لوئ چه جنت دے بیا نو رسول صلے الله علیه وسلم کورته راغے اوله اول ئے عائشه وپوښتله او دا دواړه ایتونه ئے ورته ټیرکړهٔ اوچا ویلی دی چه دا سے ئے هم ورته وویل چه پخوا له پوښتنے له مور اوپلار دجواب راله مهٔ کوه نو دے وویل چه دے کښ دمور وپلار پوښتنے نه څهٔ حاجت دے ماخدائ اورسول صلی الله علیه وسلم اوهغه جهان اختیار کړے اوغوره کړے دے اودلته هیڅ نهٔ غواړم اوبیا نورو همدا سے وویل لکه چه دے ویلی وو یٰنِسَآءَ النَّبِیِّ اے ښځو دپیغمبر صلے الله علیه وسلم مَنْ یَّاْتِ مِنْكُنَّ هرڅوك چه راتلهٔ وکاله تاسے بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ په داسے بدکارچه بنکاره وی بدی

ئے يُضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ نو دوچند به کړے شی هغے له عذاب ضِعْفَيْنِ ط دوه حصے دهغه عذاب چه نورو ښځولره دوئ ځکه چه د نورو ښځو قبیح دے دوئ په حق کښ اَقبح دے نو زیادت دقبح موجب دے د زیادت د عذاب وَكَانَ ذٰلِكَ اودے دا تضعیف دعذاب په دوئ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾ په خدائ آسان

وَمَنْ يَّقْنُتْ صِنكُنَّ اوهرڅوك چه مَدَ اومت په طاعت له تاسے اوفرمانبرداری کوی لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ خدائ لره اورسول ددهٔ لره وَتَعْمَلْ صَالِحًا اوعمل کوی د نیکو نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ نو ورته کړو مونږه هغے لره اجر دهغے دوه کرته یعنے دیله نیځے په دوچند یوکرت په طاعت دخدائ او یوکرت په طلب درضا درسول صلی الله علیه وسلم په قیامت اوپه بنهٔ معامله سره وَاَعْتَدْنَا لَهَا اوتیار به کړو مونږه دے له رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ روزی د پیره بنه تیرے له اجره يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ اے نیځو د پیغمبر صلے الله علیه وسلم لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ نهٔ یئ تاسے لکه یوه بله نیځه مِّنَ النِّسَآءِ له نیځو دامت ځکه چه تاسے لره په سبب د مصاحبت درسول صلی الله علیه وسلم د پیرلوئ فضیلت دے په نورو نیځو اِنِ اتَّقَيْتُنَّ نو ځکه چرے پرهیزکاری کوله تاسے او ویریدئ له مخالفت دخدائ اودرسول صلے الله علیه وسلم فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ پس نرمی اوتواضع مهٔ کوئ له کوم بیګانه سړی سره نو په نرمه پسته ژبه وږ سره خطاب مهٔ کوئ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ پس که نرمه خبره تاسے وکړه نو په طمع کښ به پریوځی هغه څوك فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ چه په زړهٔ ددهٔ کښ رنځ دے د نفاق یاد فجور وَّقُلْنَ اووائی وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ خبره بنه لیکن زیګه چه موجبه د فتنے نهٔ شی وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ اوقرار اوارام ونیسئ په کورونو خپلو کښ - اودا په اصل کښ اِقْرَرْنَ دے وږ وهلی رَ حذف شوه دپاره د تخفیف اوفتحهٔ قٰ له لاړه او همزه ولویده نو قَرْنَ شهٔ وَلَا تَبَرَّجْنَ اومهٔ کوئ تګ په نخره یا مهٔ بڼکاره کوئ زینت خپل بیګانه سړیو ته تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى په مثل د نخرے یا داظهار د نیځو د جاهلیت قدیمه اوجاهلیت قدیمه په مابین دآدم اود نوح علیهما السلام دے یا زمانه د ولادت د ابراهیم علیه السلام ده یا زمانه د داود اوسلیمان علیهما السلام ده چه نیځے به ئے په دیر واعلی قیمت بهاجاموا و کانړو سره راوتے لاړے نو د پاره د ښکو نے بیګانه سړیو ته اوجاهلیت حدیثه د عیسیٰ اومحمد صلے الله علیهما السلام په مابین کښ دے اوچا ویلی دی چه جاهلیت اولی د کمزورے او اُخرای د

اسلام دے یعنی دفسق او فجور په اسلام کښی وَ اَقِمْنَ الصَّلٰوةَ اوبرپائ لری مونځ خپل چه بیخ د عباداتو بد نیودے وَ اٰتِیْنَ الزَّكٰوةَ او ورکوئ زکوٰة چه بیخ د عبادا تو مالیودے وَ اَطِعْنَ اللّٰهَ اوفرمان ومنئ د خدائ پیغمبر اطوکښی وَرَسُوْلَهٗ اود رسول دده که سنتوکښی اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ بیشکه هدا خبره ده چه اراده لری خدائ لِیُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ دده چه لرے کالہ تاسے کناه اَهْلَ الْبَیْتِ اے خیلخانے درسول صلے اللہ علیه وسلم وَیُطَهِّرَكُمْ او پاك کړے دے تاسے له پلیتئ دکناهونو تَطْهِیْرًا (۳۳) په پاکولو سره وَاذْكُرْنَ مَا اویادوئ اے بیبیانو درسول صلے اللہ علیه وسلم هغه یُتْلٰى فِیْ بُیُوْتِكُنَّ چه لوستے کیږی په کورونو ستاسے کښی مِنْ اٰیٰتِ اللّٰهِ له ایتونو دخدائ یعنی قرآن وَالْحِكْمَةِ او له حکمت یعنی له خبرو درسول صلی اللہ علیه وسلم چه سر ترسره حکمت دے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ كَانَ لَطِیْفًا دے مهربان په ستاسے خَبِیْرًا (۳۴) خبردار په افعالو افوالو ستاسے **روایت دے** چه هر کله دا ایتونه په حق دبیبیانو درسول صلی اللہ علیه وسلم کښی راغلهٔ نو نورو بنځو دمؤمنانو ویل چه څمونږه په باب کښ هیڅ شے رانغلهٔ په قرآن کښ نو نازل شهٔ اِنَّ الْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ بیشکه سړی کردن نهاده او بنځے کردن نهادے چه دی وَالْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ او باور کونکی سړی او بنځے چه دی وَالْقٰنِتِیْنَ وَالْقٰنِتٰتِ او فرمانبردار سړی او بنځے چه دی وَالصّٰدِقِیْنَ وَالصّٰدِقٰتِ او ریښتینی سړی او بنځے چه دی پهایمان په قول په فعل کښ وَالصّٰبِرِیْنَ وَالصّٰبِرٰتِ او صبر کونکی سړی او بنځے چه دی په طاعت یاله معصیت وَالْخٰشِعِیْنَ وَالْخٰشِعٰتِ او ویریدونکی او تواضع کونکی سړی او بنځے چه دی هم په زړهٔ هم په جوارحو وَالْمُتَصَدِّقِیْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ او صدقه کونکی یعنی زکوٰة او خیرات ورکونکی سړی او بنځے چه دی په لاره دخدائ کښ وَالصَّآئِمِیْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ اوروژه نیونکی سړی او بنځے چه دی وَالْحٰفِظِیْنَ فُرُوْجَهُمْ او ساتونکی سړی چه دی عورتونو خپلو لره وَالْحٰفِظٰتِ اوساتونکی بنځے چه دی وَالذّٰكِرِیْنَ اللّٰهَ كَثِیْرًا او یادونکی دخدائ سړی چه دی وَالذّٰكِرٰتِ او یادے یادونکی بنځے چه دی هم په زړهٔ اوهم په خوله اودا یادونه مذکورلس واړه اسما دی اِنَّ په طریقه دعطف سره او خبرئ داجمله ده چه اَعَدَّ اللّٰهُ تیارکړی دی خدائ لَهُمْ مَّغْفِرَةً دوئ لره بخښش دکناهونو وَّاَجْرًا عَظِیْمًا (۳۵) او اجر لوئ زیات له طاعت دوئ **روایت دے**

چه کله زینب بنت جحش چه لور وه دتورور درسول صلے الله علیه وسلم یعنی دامیچے بنت عبد المطلب هغه رسول صلے الله علیه وسلم وغوښته د زید بن حارثه دپاره چه آزاد کړده وو د رسول صلے الله علیه وسلم اوښا ئے په خوئ ښولے وو نو دے او ورور ئے چه عبد الله نوم وو دوارو دا سے گمان وکړو چه دے خپل خان له غواړی نو دواړه راضی شو بیا چه خبر شو چه د زید دپاره ئے غواړی نو زینب منع وکړه چه آزاد به ولے کومه او ورور ئے هم منع وکړه نو نازل شهٔ. وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اونهٔ دی رواهیڅ مؤمن لره یعنی عبد الله بن جحش لره وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اونه هیڅ مومنے ښځے لره یعنی زینب بنت جحش لره اِذَا قَضَى اللّٰهُ په هغه وخت چه حکم وکړ خدائ وَرَسُوْلُهٗٓ اَمْرًا اورسول دده په یوکار کښی یعنی په نکاح د زینب کښی له زید سره او دلته مطلب حکم د رسول صلی الله علیه وسلم دے. اوذکر د خدای دپاره د تعظیم دے اوبل پکښی اشارت دے دے ته چه حکم د رسول صلے الله علیه وسلم عین حکم د خدائ دے. اَنْ يَّكُوْنَ د اچه وی لَهُمُ الْخِيَرَةُ دوئ لره اختیار پس له حکم د رسول صلے الله علیه وسلم نه مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ له کاره خپله دهیڅ بلکه واجب ده په دوئ د اخبره چه اختیار خپل د تابع که د اختیار د خدائ اود رسول صلی الله علیه وسلم وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ اوهر څوك چه بے فرمانی وکړه له خدائ چه حکم ئے قبول نه کا وَرَسُوْلَهٗ اوله حکم د رسول د ده هم فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق گمراه شهٔ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿۳۶﴾ په گمراهئ ښکاره سره وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ اویاد کړه هغه چه ویل تا هغه چا ته اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ چه انعام کړے دے خدائ په هغه په پیژندگولو د اسلام سره وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اوانعام کړیدے تا هم پرے په آزادولو اوپه خوئ ښولو سره چه هغه زید بن حارثه دے. اَمْسِكْ عَلَيْكَ چه وساته خان له زَوْجَكَ ښځه خپله چه زینب بنت جحش ده **روایت دے** چه یوه ورځ رسول صلے الله علیه وسلم زینب ولیده پس له نکاح د زید. نو په زړهٔ ئے کښی مرغوبه راغله او وے ویل چه سُبْحٰنَ اللّٰهِ مقلب القلوب. او دا تسبیح زینب واوریدهٔ نو زید ته ئے حال وویاړهٔ او په زیرکئ سره په مطلب پوهه شوه او دده زړهٔ ترے خدائ تور کړو له جهته د رسول صلے الله علیه وسلم زید وته ویل چه زهٔ خودا خپله ښځه پریږدم نو رسول الله صلے الله علیه وسلم ورته ویل چه د اولے ؟ څهٔ د ترے لیدلی دی دهٔ وویل والله ما ترے نه دهٔ لیدلے مګر خیر. لیکن د اقریشه ده له بنی هاشمو

عه پاکی ده خدائ لره چه گرځوئکے د زړونو دے ۱۲

اوزهٔ آزاد کړه یم نو ډیره ډارپاند ے درنه ده نو ځکه ده ورته وویل چه وساته ښځه دِ اومهٔ ے طلاق وَاتَّقِ اللّٰهَ او ویریږه له خدائ او بے سببه طلاق مهٔ ورکوه وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ اوحال داچه پټوله تا پـه زړه خپل کښ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ هغه خبره چه خدائ ښکاره کونکے وو دهغے اوهغه داوه چه کهٔ زید طلاقه کړه نو زه بـه ے بـه نکاح ولخلم وَتَخْشَى النَّاسَ او ویریدے نهٔ له خلقو چه وائ به محمد صلے الله علیه وسلم خپله نږدے ربه نکاح کړه وَاللّٰهُ اَحَقُّ اوخدائ ډیر لائق دے اَنْ تَخْشٰىهُ ما دے چه ویریږے ته له دهٔ پـه هرهغه څیز کښ چه ویره باندے وی فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ پس هرکله چه ترسره کړو زید مِنْهَا وَطَرًا له هغے حاجت خپل یعنی چه نور مطلب ے ورپورے پاتے نهٔ شی اوطلاقه ے کړه اوعدت ے تیرشهٔ مـنو روایت دے چه رسول صلے الله علیه وسلم زید ته وویل چه له تا بل هیڅوک څان خپل تر نـزدے نهٔ وینم نوهم ته نهٔ دے ته لاړشه اوځما پیغام زینب لره یوسه نو زید راغے او زینب ورنـے ووبل چه زیږدم دربانـے چه رسول صلے الله علیه وسلم دِ خپل ځان له عواړی نو دا ډیره خښحاله شوه او پـه نکاح ے کړه لکه چه وائ زَوَّجْنٰكَهَا نو پـه نکاح کړه مونږه تا ته دا زینب لِكَيْ لَا يَكُوْنَ دپاره دے چه نهٔ وی تر قیامته عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ پـه مؤمنانو سختی اووبال فِيْ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ پـه نکاح کولو دښځو دامیاؤ خپلو اِذَا قَضَوْا پـه هغه وخت چه ترسره کـه دا دعیاء مِنْهُنَّ وَطَرًا له هغه ښځو خپل حاجت یعنی چـه طلاقه ے کړی وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ اودے هرمقرر دخدائ مَفْعُوْلًا (۳۷) کیدونکے چارلاچار مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ نشته پـه پیغمبر مِنْ حَرَجٍ هیڅ قدر سختی یا وبال فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ط پـه هغه کارکښ چه مقرر کړے وی خدائ دهٔ لره چه هغه نکاح دے د زینب اومعلوم شمارے دمنکوحا تو اواطریقه خاص پـه وارے پـه دهٔ پورے نهٔ دہ سُنَّةَ اللّٰهِ دا یوه پخوانۍ تړلے لاره دخدائ فِي الَّذِيْنَ پـه حق دهغه پیغمبرانو کښ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ط چه تیرشوی دی پخوا له محمد صلے الله علیه وسلم نه یعنی پـه هغوئ بـه ے هم هیڅ قدر سختی نهٔ ایخوده پـه هرهغه څیز کښ چه دوئ ته بـه ے مباح کړے وو لکه چه لکه چه داود علیه السلام سل اصیلے اودرے سوه سریتے وے وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ اودے مقرر دخدائ قَدَرًا مَّقْدُوْرًا (۳۸) یو حکم مقرر شوے پـه قطع اوپـه جزم سره الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ هغه پیغمبران چه رسوی دوئ اودا بدل دے دهغه تیرالدین مُحَمَّدٌ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ پیغامونه دخدائ خپلو امتیانو تهٔ وَيَخْشَوْنَهٗ

او وبریږئ له دهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا او نهٗ ویریږی دوئ له بل هیڅوا اِلَّا اللّٰهَ ط مګر یوا ځے له خدائ وَكَفٰى بِاللّٰهِ او پس دے خدائ حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ حساب کونکے له بندګانو سره او یا دے ساتونکے د اعمالو دوئ

روایت دے چه پس له نکاح د زینب رضی اللہ عنہا معاند انو طعنے برپا ئ کړے چه ګورئ د اسړے چه نور وته وائ چه نکاح د خپلے دخوئ سره حرامه ده او پخپله ئے دخوئ بنځه په نکاح کړه ځکه چه زید دهٗ په خوئ نیولے وو. نو نازل شه مَا كَانَ مُحَمَّدٌ نه دے محمد صلے اللہ علیه وسلم اَبَآ اَحَدٍ پلار حقیقی د هیڅوا مِّنْ رِّجَالِكُمْ له سړیو ستاسے نو د زید هم حقیقی پلار خو نه دے نو بائ نشته په نکاح د بنځے دهغه کښ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ او لیکن رالیږلے شوے دے د خدائ خلقو ته وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ط او مهر دے د پیغمبرانو یعنی لکه چه مهر وو هلے شی نو بیکل بس شی هدا سے چه دے پیدا شهٗ نو نبوت بس شهٗ یعنی پس له ده بیا پیغمبر نشته او هر چه عیسیٰ علیه السلام دے چه راکوزیږی نو هم دهٗ په دین به وی او هم دهٗ دین به چلوی ځکه چه دے به هم یو سړے وی دهٗ له امته وَكَانَ اللّٰهُ او دے خدائ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾ په هر څیز ډاګه چه یو ترے د اهم دے چه نشته پیغمبر پس له دهٗ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اے هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے اذْكُرُوا اللّٰهَ یاد وئ خدائ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ په ډیر د یاد د لو سره یعنی په اوقاتو کښ او په انواعو د یاد ګیرئ سره لکه تقدیس او تحمید او تهلیل او تمجید شهٗ وَسَبِّحُوْهُ او تسبیح وائ دهٗ یا مونځ ګذارئ ده لره بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۴۲﴾ په اول د ورځے او په آخر د ورځے کښ او تخصیص دے د وارد د پاره د دے دے چه مقوله ده چه الوجود بین العدمین عدم. نو هر کله چه کهٗ غفلت موجود شهٗ په ما بین د دو هٗ اوقاتو د یاد ګیرئ کښ نو هغه به هم په عدم د غفلت حساب شی هُوَ الَّذِيْ د هغه پروردګار دے يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ چه د رود لیږی په تا لے په وَمَلٰٓئِكَتُهٗ او ملائک دهٗ د رود لیږی په تا لے د استغفار سره د پاره د ګنا هو نو ستا سے او دا د واړه د رود په تا لے وائ لِيُخْرِجَكُمْ د پاره د دے چه و باسی خدائ تا لے مِّنَ الظُّلُمٰتِ له تاریکو د کفر او د معصیت اِلَى النُّوْرِ ط نور د ایمان او د طاعت ته وَكَانَ او دے خدائ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾ په مؤمنانو مهربانه چه پخپله هم رحمت پرے وروی او ملائک هم ماموره کوی په طلب د استغفار د پاره د دوئ تَحِيَّتُهُمْ ډیښکشی د

دوئی چه ده له طرفه د خدائ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ په هغه ورځ چه ملاقی شی دوئی له دهٔ سره یعنی په وخت د مرګ یا د خروج له قبره یا د دخول په جنت کښی سَلٰمٌ ۚ لفظ د سلام به وی چه اخبار کونکے دے په سلامتئ سره له هر مکروه اوله هر آفته وَاَعَدَّ لَهُمْ اوتیار کړیدے دهٔ دوئی لره اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾ اجر ډیر لوئی چه جنت دے او انواع د نعمتونو دی يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بیشکه مونږه لیږلے ئے تهٔ خلقو شَاهِدًا شاهد په هر هغه چا چه تهٔ ورته لیږلے شوے ئے وَّمُبَشِّرًا او زیږے ورکونکے د جنت په هر هغه چا چه تا رښتینے بولی وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ او ویرو ونکے له دوزخ هر هغه څوک چه دروغژن بولی تا وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ او بلونکے د خلقو خدائ ته یعنی د دهٔ عبادت ته او اقرار ته په توحید باِذْنِهٖ په امر د دهٔ سره وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿۴۶﴾ اوچراغ رښتیا کونکے چه تاریکی دکفر پرے ورکه شوے ده او کمراهانو پرلاره موندلے ده لکه چه تیارهٔ د شپے په چراغ ورکیږی اوهر څهٔ پرے لیدهٔ شی وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ اوزیږے وکړه په مومنانو بِاَنَّ لَهُمْ چه دوئی لره دے چه مِّنَ اللّٰهِ له طرفه د خدائ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴿۴۷﴾ فضل ډیر لوئی زیاتی له اجره د دوئی چه هغه دیدار دے وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ اوفرمان مهٔ منه د کافرانو وَالْمُنٰفِقِيْنَ اود منافقانو هم په هر هغه کار کښی چه مخالف دے له شریعته ستا وَدَعْ اَذٰىهُمْ اوپریږده ضرر رسول د دوئی ته یعنی په اراده د انتقام اخستو کښی مهٔ اوسه تر څو چه ماموره شوے نهٔ ئے وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ او توکل وکړه په خدائ په دفع د شر د دوئی کښ. نو دے به د بس شی وَكَفٰى بِاللّٰهِ اوبس دے خدائ وَكِيْلًا ﴿۴۸﴾ کارساز لے شوے او مهم سازد هر چا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ په هغه وخت چه په نکاح واخستے تاسے مؤمنے ښځے ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ بیا طلاق کړئ تاسو د دوئی مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ چه مس کړی دی تاسے د دوئی او امام اعظمؒ مراد له دے مس خلوت صحیحه هم دائ فَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ پس نشته تاسو لره په دغه مطلقاتو مِنْ عِدَّةٍ شمار د رحو چه انتظار به کوی د مطلقات د پوره کیدلو د هغو تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ نهٔ شمار کوئ به تاسو شمار د هغو رحو ځکه چه په دے صورت کښ له سره انتظار نشته ولے چه انتظار خو د پاره د معلومولو د خلو د رحم سره او دلته خو له سره مس نهٔ دے راغلے نو هغهٔ نه حاجت پاتے نهٔ شهٔ او په نسبت د عدت کښ رجالو ته اشارت دی بی دے چه د احق د دوئی دے فَمَتِّعُوْهُنَّ پس برخورد اړے کړئ تاسے دوئی

له په منځه سره ولے داهله که مهر مسمّیٰ ورکړه نهٔ وواو که چرے وو نو نصف دے مسمّیٰ اوسنه مندوبه ده په نزد د امام اعظمؒ او باقی بیان ئے په سورهٔ بقره کښ تیر شوید ے وَسَرِّحُوْهُنَّ اوایله کړئ یعنی پریږدی تاسے دوئی سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾ په بنهٔ پریخودلو سره څکه چه په تا سوخے عدت نشته نوله خپله کوره ئے وباسئ اوبند یوانلے ئے مه ساتئ محض د پاره د ضرر رسولو یَاۤ اَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره اِنَّاۤ اَحْلَلْنَا لَكَ بیشکه موږ حلال کړے دی مونږه تا لره څلور قسمه ښځے چه اول ترے اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْۤ هغه ښځے ستا دی اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ چه ورکړی دی تا مهرونه دهغو وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ اودویم ترے هغه ښځے دی چه مالک شوی دی د هغو ښی لاس ستا یعنی ویندے مِمَّاۤ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ له هغو ښځو چه راکړولی دی خدائ په تا یعنی چه ستا په برخه ئے کړی دی له غنیمته د مشرکانو چه صفیه رضی اللہ عنہا اوجویریهؓ دی چه تا بیا دواړه آزاد ے کړے او بیا دِ په نکاح کړے وَبَنٰتِ عَمِّكَ اود ریم ترے هغه ښځے دی چه وی دوئی لونړه د ترہ ستا وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ اوبل لونړه دخوښیدو د پلار ستا له اولاده د عبد المطلب وَبَنٰتِ خَالِكَ اوبل لونړه د ماما ستا وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ اوبل لونړه دخوښیدو د مور ستا له اولاده د عبد مناف بیا د اخلور واړه قسمه لونړه قید لری لکه چه وائی الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ د لیکن هغه لونړه له هغو څلورواړه اقسامو چه هجرت ئے کړے د ے له تا سره وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اوڅلورم ترهغه ښځه چه مومنه وی اوڅل ددے بیا دوه قیده لری یو ترے دا چه اِنْ وَّهَبَتْ كه هبه که د ا ښځه یعنی وبخښی نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ خان خپل پیغمبر صلے اللہ علیه وسلم ته بے مهره اوبل ترد ا چه اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ که اراده وکړه پیغمبر صلے اللہ علیه وسلم اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ددے چه په نکاح واخلی د ے دغه ښځه او د ا څکه چه اراده د ده په منزله د قبول دے د دغه هبے نو په ده سره تمامے رائی اود ا ښځے بیا څلوردی میمونه بنت حارث او زینب بنت حزیمه انصاریه، او ام شریک بن جابر او خوله بنت حکیم او نکاح په لفظ دهبے سره په نزد د امام اعظمؒ دهر چا منعقد کیږی اوهر چه مهر دے هغه خاص هم د دهٔ په حق کښ ساقط دے که چه وائی چه خالص کړے شوے د ے د احکم خَالِصَةً لَّكَ په خالص کولو یواځے تا لره یعنی د ا انعقاد د نکاح بے لزومه د مهر خاص تا له د ے مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ غیر له نورو مؤمنانو څکه چه له هغو مهر به په هیڅ شان نهٔ ساقط یږی نه په ترک او نه په نفی سره **تنبیه**

دا خلور قسمه ښځې چه پیرته ذکر شوے دی په خلورو اړکښې ورسره قید ذکر شوے دے اما په اولو دوو کښې قید د افضیلت دے په یقین سره نه شرط د احلال ځکه چه فی الحال ورکول د مهر یا په نامه کول ئے واجب نۀ دی بلکه اولی دی همدا سے مالک کیدل دویمزے پواړے په غنیمت سره لازم نۀ دی بلکه اولی دی ځکه چه نور وجوه د مملوکیت هم پیدا دی لکه شراء هبه او ارث او وصیت، شو اوپه دریم کښې دوه احتماله دی یو د اچه دغه هم قید شی د افضیلت ځکه چه د اخلورو اړه طائفې بے هجرته له رسول صلی الله علیه وسلم سره هم روادی او بل د اچه دغه شرط شی د احلال اما خاص هم د دۀ په حق کښې او په خلورم کښې دواړه قیدونه شرط د احلال په یقین سره ځکه چه حل بے له هبه دے او بے له ارادے د نکاح کولو دهغۀ له سره متصور نۀ دی قَدْ عَلِمْنَا په تحقیق معلوم دی مونږ ته مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ هغه شرائط د عقد چه فرض کړی دی مونږه په دوئ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ په باب د نکاح د ښځو د دوئ کښې یعنی شاهد ان او مهر او نفقه او وجوب د قسم او نکاح کول د خلورو او صیلو وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ او په باب د سا تلو د ښځو د دوئ کښې یعنې ارتکاهی په دے باب کښې- او له قَدْ علمنا نه تر ایمانهم پورے جمله معترضه ده چه په مینځ د احوالو د رسول صلے الله علیه وسلم کښې- او مونږه حلال کړے تاته ښځې په مجرد هبه سره بے مهره لِكَيْلَا يَكُوْنَ د پاره د دے چه نۀ وی عَلَيْكَ حَرَجٌ ط په تاهیڅ سختی وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا اودے خدائ بخښونکے د هر هغه کار چه ځان سا تل ترے سخت وی رَّحِيْمًا ﴿۵۰﴾ مهربانه دے په بندګانو خپلو په توسع سره په هغه څائ کښې چه ګمان د خرج وی تُرْجِيْ مَنْ پیرته کوے ته له خپله ځانه هر هغه ښځه تَشَآءُ مِنْهُنَّ چه اراده وشی ستاله دے ببیا نو خپلو څخه وَتُؤْوِيْٓ اِلَيْكَ اوځاے ورکوے او رانږدے کوے ځان ته مَنْ تَشَآءُ ط هر هغه ښځه چه اراده وشی ستا روایت دے چه پس له نزول د دے ایت دۀ پنځه ښځې له ځانه لرے کړے چه سودهؓ اوجویریهؓ اوصفیهؓ اومیمونهؓ اوام حبیبهؓ دی اوخلورے ځان ته نزدے کړے چه عائشهؓ اوحفصهؓ اوام سلمهؓ اوزینبؓ دی اما سره له رخصته هم دۀ به رعایت د قسم کاو وتر آخره عمره پورے غیر له سودے رضی الله عنها چه هغې خپل نوبت بی بی عائشې رضی الله عنها ورکړے وو او رسول صلے الله علیه وسلم تلۀ ویلی ووچه ما مله طلاقوه چه په قیامت ستاپه ښځو کښې حساب اوسم وَمَنِ ابْتَغَيْتَ اوهره یوه چه پیرته طلب کوے ته فرش

خپل تہ او صحبت ورسرہ کوے مِمَّنْ عَزَلْتَ له هغه چا چه لرے کړے وی تاله خانه خپله فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ط پس نشته هیڅ سختی او وبال په تا ذٰلِكَ دا ببرنۍ طلب دمنزوکو او خان ته نزدے کول دلرے کړو چه دی اَدْنٰٓى اَنْ دیر نزدے دی دے تہ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ چه روښانے او یخے شی سترګے دده وی وَلَا يَحْزَنَّ او بل چه غمژنے نهٔ شی دوئ وَيَرْضَيْنَ او بل دا چه راضی شی دوئ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ په هرهغه خیز چه ورکوے ته دوئ لَهُنَّ كُلُّهُنَّ ط ټولے له دوئ حُکه چه هر کله چه دوئ پوهے شوے په دے چه دا اَدْنٰى اَوْلَى اَوتَقْرِيْب اَوتَبْعِيْد په فرمان دخدائ سره دی نو زړه ونه بهے ٔ په ارام شی اوخفګان به ئے ورك شی اورضا به ئے حاصله شی اوسترګے به ئے رنړے او یخے شی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدائ پوهیږی مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ط په هر هغه خیز چه په زړونو ستاسے کښ دی کهٔ رغبت وی اوکهٔ کراهیت وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا اودے خدائ اګاه په احوالو دزړونو دبندګانو حَلِيْمًا (۵۱) تحمل کښتن د حلم چه جلتی نه کوی په عقوبت دهرهغو لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ نهٔ دی حلالے تاله مِنْۢ بَعْدُ پس له دغونهو چه اوس دے په نکاح کښ دی وَلَآ اَنْ اونه دا کار دهٔ له روادے چه تَبَدَّلَ بِهِنَّ بدل کړے ته په دوئ مِنْ اَزْوَاجٍ له نورو ښځوڅخه یعنی چه یوه له دغونهو طلاقه کړے او دهغے پر ځائے بله په نکاح کړے وَّلَوْ اَعْجَبَكَ او اګرکهٔ تعجب راولی تاله حُسْنُهُنَّ بنا ئسته دهغونورو هم دله بدلول روانه دی اوچا ویلی دی چه هغه د بنا ئستو میرمن اسماء بنت عمیس وه بنځه د جعفرؓ بن ابی طالب اوعائشه ؓ او ام سلمهٔ ؓ وائی چه نه دے وفات شوے رسول صلے اللہ علیه وسلم ترهغه پورے چه بیاورته روا کړے دے خدائ دا کار چه په نکاح کوی د له بنځو هرڅوك چه اراده ئے وښی نو معلوم شهٔ چه دا ایت منسوخ شوید ے یا په سنت سره اویا په ایت دا تَا احللنا لك سره او اګرکهٔ هغهٔ په قراءت کښ ترے مقدم دے اما په نزول کښ مؤخر دے اوروانهٔ دی تاله نورے بنځے پس له دے نهٔ وَلَآ اَنْ مَّا مکروادی دهٔ اِلَّا هٰذ بنځے مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ط چه مالك شوی دی دهغوښے لاس ستا یعنے وینزے وَكَانَ اللّٰهُ اوسے خدائ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيْبًا (۵۲) په هر خیز باندے نگهبان روایت دے چه یو ټولے وو دسرے یو

عه یعنی چه ویلی دی خدائ دا سے چه تُرْجِيْ مَنْ ۱۲ عه یعنی چه رب العلمین فرمایلی دی دا سے وَتُؤْوِيْٓ اِلَيْكَ ۱۲
سه چه خدائ فرمایلی دی وَمَنِ ابْتَغَيْتَ ۱۲ صه چه خدای فرمایلی دی مِمَّنْ عَزَلْتَ ۱۲

چه بهرله دروازے د رسول صلے اللہ علیه وسلم به ناسته وه منتظر پخلی د طعام ته بیا چه به ئے لوکے ولیدہ نو ورننه به وائے بے بللو ے اذنه اوهلته به کینا ست د پاره د خوراک نو د هغهٔ په منع کښ نازل شهٔ یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَدْخُلُوْا مَا نَوْتُ بُیُوْتَ النَّبِیِّ په کور د نبی پیغمبر صلی اللہ علیه وسلم اِلَّآ اَنْ یُّؤْذَنَ لَکُمْ چه اذن وکړے شی تاسے ته د نن تلو په بللو سره اِلٰی طَعَامٍ خوراک د طعام غَیْرَ نٰظِرِیْنَ په دے حال چه منتظرنهٔ اوسئ تاسے اِنٰهُ لا پخلی یا وخت د دغه طعام ته اود اِنَا مصدر دے له باب دَانٰی اِنًا. یعنے پس له دے منتظر هم مهٔ کینئ پخلی یا وخت د طعام ته په دروازه د رسول صلے اللہ علیه وسلم کښ اوبه بللومهٔ نوځئ هم **صه روایت دے** چه هرکله رسول صلے اللہ علیه وسلم زینبؓ په نکاح کړه اوانسؓ ئے ولیدلو چه خلق به ئے ډلے ډلے راوستل کو ترڅو طعام د ولیے ته اوبیا به تلل اوله وروستئ ډلے پس له خورا څو سړو لاړل اودرے تنه ترے په هغه ځائ پاتے شول اومجلس ئے بناکړو اوزینبؓ هم په هغه کالهٔ کښ مخ د یوال ته کړے حیرانه ناسته وه اوخواهش د رسول صلے اللہ علیه وسلم داووچه د اسړی هم اومس لاړے اما له حیائے وتر هیڅ نهٔ ویل نو دے ترے پاخیدهٔ اوپه نورو حجرو خپلو وګرځیدهٔ چه کوندی دوئ هم پاخیږی بیا چه راځے دوئ لا ناست وو نوشا ئے کړه ورته بیا چه دوئ په خاطر ملائ ئے پوهه شو نو راوتهٔ اونازل شهٔ وَلٰکِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ اولیکن په هغه وخت چه وبللے شئ تاسے فَادْخُلُوْا پس نوځئ فَاِذَا طَعِمْتُمْ پس په هغه وخت چه طعام وخورئ تاسے فَانْتَشِرُوْا پس تاریئ اوهلته نور مُدَارِمَهٔ کوئ وَلَا مُسْتَاْنِسِیْنَ اومهٔ کینئ هلته آرام کونکی لِحَدِیْثٍ د پاره د خبرے او د مجلس کولو د یوله بله سره اِنَّ ذٰلِکُمْ بیشکه دا مدار کول تاسے پس له خلا صید لو د خوراکه اوداکینا ستل تاسے د پاره د مجلس کَانَ یُؤْذِی النَّبِیَّ دے دا کار د اسے چه خفګان اوضرر رسوی پیغمبر صلی اللہ علیه وسلم ته له جهته د دے چه تنګ شی دا کور په دے کینا ستلو تاسے سره په تمامے خپلخانے یعنی هم په دهٔ اوهم په عیال ئے فَیَسْتَحْیٖ مِنْکُمْ پس حیا کوی دے له تاسے نو نه وائی درته چه پاخیږئ له کوره وَاللّٰهُ لَا یَسْتَحْیٖ اوخدائ حیا نهٔ کوی مِنَ الْحَقِّ له ویلو د حق چه ویستل دی له کوره **روایت دے** چه په اول کښ دا بیبیانے له بیګانه سړو یونه، نهٔ پټیدل ئے نو یوه ورځ عمرؓ مسجد څخه تیریده چه کاته ئے بیبیانے په مسجد کښ ناسته ئے له نورو نه بنځو سره ئے مجلس کولو نو دهٔ ورته وویل چه تاسو په نورو بنځو دے هم ترے پټ یئ لکه څنګه

ستاسے چہ پہ نورو سرہ یو بهتر دے نو تاسے کہ بیرون نہٗ کړئ خُپلے نو دا کار بہ سنهٗ دوا وچا ویلی دی چہ رسول صلے اللہ علیہ وسلم تہ ئے وویل چہ هر نیک اوفاسق اوفاجر تاکرہ نو ئے نو کہٗ بیبیانے محجوبے شوے نو دا کار بہ عوره وو نو نازل شهٗ وَاِذَا او پہ هغه وخت سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا چہ غواړئ تاسے اے مؤمنانو لہ دے بیبیانو د پیغمبر صلے اللہ علیہ وسلم څخہ کوم اسباب دکالہٗ چہ حاجت وی ورتہ ستاسے فَسْئَلُوْهُنَّ پس غواړئ تاسے هغه اسباب له دوئ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ط را بیرته له پردے یعنے پس له دے ستاسے او د دوئ پہ صیغ کښ د پردہ وی چہ یو بل سره نہٗ وینی ذٰلِكُمْ دا غوښتل ستاسے چہ دی دپردے د ورځ ستو اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ ډیر پاک او پاک ساتونکی دی د زړہٗ نو ستاسے وَقُلُوْبِهِنَّ ط او د زړہٗ تو د دوئ له وسوسو د شیطان او له موجباتو د فتنے څخہ وَمَا كَانَ لَكُمْ او نہٗ دی روا تاسے لره اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ دا کار چہ خفگان او ضرر وسوئ تاسے رسول د خدائ صلے اللہ علیہ وسلم تہ یعنی چہ دا سے کار کوئ چہ دے بد کړی هغه **روایت دے** چہ یو سړی له اصحابو وویل چہ کہٗ رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم وفات شهٗ نو عائشهٗ رضی اللہ عنہا بہ زهٗ پہ نکاح کړمہ او بل سړی هم دا سے پہ زړہٗ کښ تیر شوی وو اما پہ خولے ئے نہٗ وو ویلی نو نازل شهٗ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا او بل نہٗ دے روا دا کار هم چہ پہ نکاح واخلئ تاسے اَزْوَاجَهٗ بیبیانے د دهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا ط پس له وفات یا طلاق د دهٗ هیڅرے لیکن هغه چہ دخول ئے د ی سره کړے وی خُکه چہ دوئ مبنده دی ستاسے او مور پہ خُوی حرامه ده اِنَّ ذٰلِكُمْ بیشکه اِذا رسول دهٗ ته او نکاح د ازواجو د دهٗ چہ دی كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ دے دا کار پہ نزد د خدائ عَظِيْمًا ﴿۵۳﴾ دیره لویه گناه **فائده** پہ دے آیت کښ خلور څیزونه ذکر شوی دی دوه منع او دوه امره۔ منع د دخول د بیت د دے پے اذنه۔ او امر پہ انتشار پس له طعام او بل امر پہ سوال من وراءِ حجاب او بل منع له نکاح د ازواجو د دهٗ اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا کہ څرے بنکاره کړئ تاسے کوم څیز او پہ خولے وایئ یعنی د بعض له امهات المؤمنین څخہ اَوْ تُخْفُوْهُ یا پټ وساتئ هغه څیز پہ خپل زړہٗ کښ او پہ خوله ئے نہٗ وایئ له سره فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بیشکه چہ خدائ دے بِكُلِّ شَيْءٍ

عہ د ازواجو مطهرا تو سره د نکاح حرامیدل مجملاً خو منصوص او اجماعی دی البته پہ بعضے تفصیلو تو کښی اختلاف دے امام الحرمین او امام محرم ترلره د مدخول بها سره ئے خاص وئیلے دے او امام رازی رح او امام غزالی رح هغه بیخے لره حلال وئیلی دی چہ هغه تخییر نه پس دنیا ترلره اختیار کړی۔ قال العلامة النهانوی فی تقریره خود ده مفسر د ا بدیرش کلام نه دا سے معلومیږی چہ دوئ قول اول غوره کړیے دے ۱۲

عَلِيمًا ﴿۵۴﴾ په هر څیز خبردار نو جزا به درکړی دهریو **روایت دے** چه هر کله آیت د حجاب راغے نو پلرونو او وروڼو او نورو اقاربو دوئی وویل چه اے رسوله دخدائی مونږه به هم له دوئی سره پردے دورو ستوخبرے کوو نو نازل شو لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ او نهٔ شته هیڅ وبال په دغه ستړو اړو بنځو فِيْٓ اٰبَآئِهِنَّ په حق د پلرونو خپلو کښی وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ او نهٔ په حق د خپلو زامنو خپلو کښی وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ او نهٔ په حق د وروڼو خپلو کښی وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ او نهٔ په حق د خپلو خویندو زامنو خپلو کښی وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ او نهٔ په حق د خورو یو نو خپلو کښی دا ټکے طائفے له سړیو شوے وَلَا نِسَآئِهِنَّ او نه په حق د بنځو خپلو کښی او مراد ترے مؤمنان دی په دلیل د اضافت سره کلمے دهُنَّ ته او دا یوه طائفه شوه له بنځو وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ او نه په حق دهغه وینځو کښی چه مالکان شوی دی دهغو سیٔ سوته د دوئی او مریونه دیو په نزد جمهورو د بیګاه نوکر په شان دی او دا هم یوه طائفه شوه له مملوکانو نو دا تولے سره اُوهٔ طائفے شوے نوکهٔ له دغو طائفو څخه نه پتوی نوکناه نهٔ شته په دے کښی او ترهٔ او ماما ئے یاد نهٔ کړهٔ ځکه چه هغه دواړه په حکم د والد ینو کښی دی بیا عدول ئے وکړهٔ له غیبته خطاب ته د پاره د دیرتشد بد او تهویل او امر ئے ورته وکړهٔ چه وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ط او ویریږئ اے بنځو له خدائی او له پردے مهٔ ووځئ او یوهٔ شئ چه اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بیشکه خدائی دے عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ په هر څیز باندے شَهِيْدًا ﴿۵۵﴾ حاضر گواه یعنی په اقوالو په افعالو په احوالو په ظاهر په باطن ستاسے پورے نکه خبردار دے نو هر وخت په ځان خپل فهمدار او څوکیدار اوسئ بیا هر کله چه له تیرو آیتونو نو پئ او شرافت او تکریم د رسول صلی الله علیه وسلم معلومیدهٔ اقاضنًا۔ اوس ئے تصریح پرے وکړه نکه وائی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائی چه دے وَمَلٰٓئِكَتَهٗ او ملائك ددهٔ چه دی يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ط درود وائی په پیغمبر د خدائی په انزال د رحمت سره په دهٔ او ملائك په طلب د رحمت دهٔ له او په اظهار د شرف او د بلند شانئ سره او هر کله چه دے دا سے بلند شان دے نو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو صَلُّوْا عَلَيْهِ درود وایئ تاسے هم په دهٔ یعنی طلب د رحمت کوئی ور له له خدائی چه دا سے وایئ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ او سلام هم پرے وایئ په سلام ویلو سره یعنی وَسَلِّمْ عَلَيْهِ هم ورسره وایئ یا معنیٰ داچه گرد ن نهاده اوسئ امر ددهٔ ته اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ بیشکه هغه کسان چه ایذا

رسوی خدائ ته چه ولد اوشریک ورلره ثابتوی وَرَسُوْلَهٗ او ایذا رسوی رسول ددهٗ نه هم قولی چه شاعر اوساحر اومجنون ئے بولی اوهم فعلی چه غابن اووچولے ددهٗ مانوی لَعَنَهُمُ اللّٰهُ لرے کړیدی خدائ له رحمته خپله فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ هم په دنیا اوهم په آخرت کښ وَاَعَدَّ لَهُمْ اوتیار کړے دے دهٗ دوئ لره عَذَابًا مُّهِیْنًا ﴿۵۷﴾ عذاب سپکونکے وَالَّذِیْنَ اوهم چه هغه کسان دی یُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِیْنَ چه ایذا رسوی دوئ مؤمنانو سړو ته وَالْمُؤْمِنٰتِ او مؤمنو ښځو ته لکه صفوان او عائشهؓ اودا سے نورشوله پاکانو بِغَیْرِ مَا اکْتَسَبُوْا په غیر له هغه کاره چه کړے وی دوئ یعنی په ناکړی کار فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا پس په تحقیق باروی دوئ په خپل ځان غټ دروغ وَاِثْمًا مُّبِیْنًا ﴿۵۸﴾ اوګناه بنکاره موجب دعقوبت **روایت دے** چه په اوایلو اسلام کښ ښځے په هغه پخوانی عادت به کرځیدلے په شان دوینځو بوقمیص اوخکالی کښ نو اکثر به ددوئ اودوینځو فرق سړه نه کیدهٗ اوبدکارانو (دښو اوغټارو) به دشے په وینزو پسے دپره سعی کوله په هغه وخت چه کله دوئ به دپاره دحاجت بیرون حرم اکانو یا کنډ ته راووتے اوله اصیلانو سړه به ئے له سړه غرض نهٗ کولو او دپرکرت به اصیلے ته وړاندے شوپه دے ګمان چه داویزه ده نو دپاره دفع دکان دمفسدانو نازل شه یَآاَیُّهَا النَّبِیُّ ﷺ پیغمبره قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ ووایه بیبیانو خپلو ته وَبَنٰتِكَ اولونړ وخپلو ته وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِیْنَ اونښځو دنورو مؤمنانو ته هم یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ چه نزدے دِکار کوی اوخواره دِکا په هغو نو خپلو مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّ بعضے له پرونو اوله خادرونو خپلو یعنی اکثر د له بدن نه چادپره که اویو یو سپکے دِ تړے په سراوغ واچوی چه پرے ممتاز پے شی له وینځو ذٰلِكَ اَدْنٰۤى داپتول دبدن اودسر دغ دِ پر نزدے دی اَنْ یُّعْرَفْنَ دے ته چه دپیژندلے شی دوئ په صلاحیت اوپه عفت سړه یا په آزادئ سړه یعنی چه دا اصیلانے دی نوخنګ به تړے وکړی فَلَا یُؤْذَیْنَ ط پس ایذا نهٗ رسولے شی دوئ ته له طرفه دبدکارانو په دے ګمان چه داوینځے دی وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا اودے خدائ بخښونکے دتیرو ګناهونو کې مخکښ خوځ توبه وباسی رَّحِیْمًا ﴿۵۹﴾ مهربانه چه لاړے دخلاصی بندګانو ته بیانوی لَئِنْ لَّمْ یَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ قسم دے که وانهٗ وخت دامنافقان له نفاقه خپله مخه وَالَّذِیْنَ او وانهٗ وخته هغه کسان فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه په زړونو دوئ کښ دغ دے دبدکارئ اودمیل زنا ته وَالْمُرْجِفُوْنَ او

وانهٔ وخنهٔ وابدے آوازے کپ ونکی فِی الْمَدِیْنَةِ په بنار مدینه کښ په باب دلښکرد اسلام کښ دا سے چه آوازه کړه که چه لښکر د اسلام کفار و مات کهٔ یا ئے قتل که اوکفار راغلهٔ یادآ تورے سپکے کوئ دوئ دمؤمنانو لَنُغْرِیَنَّكَ بِهِمْ نوهرالله بنه وبه کار اوسلط به کړو مونږه خامخا په دوئ اوامر به درته وکړو په قتل د دوئ ثُمَّ لَا یُجَاوِرُوْنَكَ فِیْهَآ نو بیا به هسایه توب و نهٔ که دوئ ستا په دغه مدینه کښ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۶۰﴾ مگر لږه موده یعنی بیا زر به له بناره وویستے شی مَّلْعُوْنِیْنَ ۚ د تلی تر تلی اَیْنَمَا ثُقِفُوْٓا هرچرته چه بیامونږ شی اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا نو وبه نیولے شی اوقتل به کړے شی تَقْتِیْلًا ﴿۶۱﴾ په قتلولو خوائ سره سُنَّةَ اللّٰهِ دا یوه لاره ایځے ده خدائ فِی الَّذِیْنَ خَلَوْا په حق دهغه منافقانو مرجفانو کښ چه تیر شوی دی مِنْ قَبْلُ ۚ پخواله دے تیرو امموچه انبیاؤ د هغه وخت ته به حکم کیده د قتل د هغوئ وَلَنْ تَجِدَ اونهٔ به موے ته لِسُنَّةِ اللّٰهِ لارے د خدائ لره تَبْدِیْلًا ﴿۶۲﴾ بدلول او تغیر ورکول یَسْـَٔلُكَ النَّاسُ پوښتنه کوی له تا خلق عَنِ السَّاعَةِ ؕ له احواله د قیامت چه به کله وی یعنی مشرکان د پوښتی د پاره د مسخرے اوجلتئ اویهود د پاره د ازمیښت حُکمه چه تورات کښ ئے وخت معلوم نهٔ وو قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا وایه دوئ نه چه بیشکه همد اخبره ده چه پوهه یه وخت د قیامت چه ده عِنْدَ اللّٰهِ ؕ خاص خدائ تخه ده اوبل هیچا تنے معلومه کړے نهٔ ده هیڅ ملک مقرب ته اونه هیڅ نبی مرسل ته وَمَا یُدْرِیْكَ اوکوم خیز اکاه کوی تا په وخت د قیامت یعنی ته مطلق پرے خبر نهٔ ئے بیانوورته وایئ لَعَلَّ السَّاعَةَ بنائی چه قیام د قیامت تَكُوْنُ قَرِیْبًا ﴿۶۳﴾ وی نزدے او پدے زجر اوتهدید دے د پاره د جلت غوښتو نکو او اسکات دے د پاره د ازمیښت کونکیو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَعَنَ الْكٰفِرِیْنَ رتلی دی او له رحمنه خپله لرے کړی دی هغه کافران چه منکر دی له بعثه وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِیْرًا ﴿۶۴﴾ اوتیار کړے دے دوئ لره عذاب د هغه اوچه د پرتندے خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ په دے حال چه همیشه به وی دوئ په دغه اورکښ اَبَدًا ۚ تل ترتله د اتاکید دے لَا یَجِدُوْنَ وَلِیًّا نهٔ به موهی دوئ کوم دوست چه راوباسی دوئ له دغه دوزخ څخه وَّلَا نَصِیْرًا ﴿۶۵﴾ اونهٔ کوم مدد کار چه عذاب ترے بیرته کړی که یَوْمَ تُقَلَّبُ یاد کړه هغه ورځ چه وبه چورلولے شی وُجُوْهُهُمْ فِی النَّارِ مخونه د دوئ په اورکښ یعنی بتول ابدان د دوئ اوذکر د وجوه د پاره د دغه دے چه دے اشرف

د اعضاؤ دے يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَآ وائی به دوئ اے افسوس دے مونږه لره کاشکے اَطَعْنَا اللّٰهَ فرمان منے وے مونږه د خدائ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا (۶۶) اوبل چه فرمانبرداری کړے وے مونږه د رسول صلی اللّٰه علیه وسلم چه له دے عذابه خلاص شوے وے وَقَالُوْا اوبیا به والی دوئ رَبَّنَآ اِنَّآ اے ربه څمونږه بے شکه چه مونږه اَطَعْنَا سَادَتَنَا فرمان منلے وو مونږه د مشرانو خپلو وَكُبَرَآءَنَا اود غټانو پیشوا یانو خپلواو تابع شوی وو مونږه د دوئ فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا (۶۷) پس ورکه کړه دوئ له مونږه لاردحق او دے دونرخ له ځے راوستو رَبَّنَآ اٰتِهِمْ اے ربه څمونږه ورکړه دوئ لره په سبب دګمراه کولو څمونږه ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ په دوچنده له عذابه ځکه چه دوئ هم پخپله ګمراه وو اوهم ئے مونږه ګمراهان کړی وو۔ وَالْعَنْهُمْ اوږره ته اولره که دوئ له رحمته خپله لَعْنًا كَبِيْرًا (۶۸) په هغه ترلو سره چه ډیر لوئ وی **روایت دے** چه د زید رضی اللّٰه عنه او د زینب رضی اللّٰه عنها په باب کښ بعضے خلقو نالایقے خبرے کړے وے او د رسول صلے اللّٰه علیه وسلم خاطر مبارک ډیر ملال شوے وو او په صحیح بخاری کښ داسے وئیلی دی چه رسول صلے اللّٰه علیه وسلم کوم غنیمت قسمت کړۀ نو یوسړی وویل چه دا قسمت خو خدائی نۀ وو نودے په غضب شۀ بیائے ووئیل چه موسیٰ علیه السلام ته له دے زیاته ایذا رسیدلے وه او صبر ئے وکړۀ نو نازل شۀ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَكُوْنُوْا مثۀ کیږئ تاسے کَالَّذِيْنَ په شان دهغه کسانو اٰذَوْا مُوْسٰى چه ایذائے رسولے وه موسیٰ علیه السلام ته چه کوے ښځے ته ئے رشوت ورکړے ووچه موسیٰ علیه السلام باندے دعوئ دزنا وکړه ۔لکه چه دا بیان مفصل تیرے په قصه د قارون کښ۔ یاچه د اوهارون علیهما السلام کوهِ طور له تللے وو اوهارون علیه السلام هلته وفات شه او دوئ موسیٰ علیه السلام ته ووئیل چه دے تاوژلے دے نوهغه خدائ بیاژوندے کړۀ او په پاکۀ ددۀ ګویان یاچه موسیٰ علیه السلام به له ډیرے حیاڅان پټ ساتۀ نو دوئ ووئیل چه ددۀ بدن کښ عیب دے ځکه ئے پټ ساتی ناګاه یوه ورځ د غسل اراده ئے وکړه ونجلے ئے په یوه تیږه کیخوځے او تیږے ع پخلقو منډے کړے اودۀ ور پسے منډے وهلے اووئیل چه ثوبی ثوبی[ع] حجر بیاچه بربنډ ورغے خلقو

ع یعنی جامے ځما راکه اے تیږے ۱۲

لره اودوئ ولیدهٔ چه پیرخوبصورت وو نوتیزه ودریده اوجاے ځے ترے واخستے لکه چه والی فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ پس پاك کړهٔ دے خدائ وَمِمَّا قَالُوْا له هغه دروغوچه دوئ پرے ویل لکه چه رسول صلے الله علیه وسلم ځے پاك کړو په دے ایت سره چه مَا كَانَ محمد ابا احد من رجالكم وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ اوو د موسیٰ علیه السلام په نزد دخدائ وَجِيْهًا ﴿۶۹﴾ مخور کران مستجاب الدعوات ۔ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ اے مؤمنانو وویریږئ له خدائ وَقُوْلُوْا اوواییئ قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿۷۰﴾ خبره محکمه اورستیا. ئ متزلزله اودروغ لکه قصه دافك دعائشے رض اوقصه د زینب رض اوچاویلی دی چه قول سدید کلمه د لا اله الا الله ده یا هغه قول، دے چه خدائ پرے راضی کیږی يُّصْلِحْ لَكُمْ چه صالح او نیك کهٔ خدائ تاسے لره اَعْمَالَكُمْ عملونه ستاسے او ثواب اوخپله رضا پرے مرتبه كه وَيَغْفِرْ لَكُمْ اوو بخښی دے تاسے ته ذُنُوْبَكُمْ ځکناهونه ستاسے وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ اوهر چاچه فرمان ومانهٔ دخدائ وَرَسُوْلَهٗ اودرسول ددهٔ په هر باب کښ فَقَدْ فَازَ پس تحقیق بریالے شهٔ هغه فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۱﴾ په بری لوئے سره یعنی ورسیدهٔ منتهٰی د مقصود خپل ته چه جنت اودیدار دے اِنَّا بیشکه موږه چه عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عرض کړه موږه امانت چه طاعت دے ځمونږه یا حدود دی د شرع یا بنج بناده یا هر هغه کردار اوګفتار دے چه په کولو ځے ثواب اورضامرتبه کیږی او په ترك ځے عقاب او غضب عَلَى السَّمٰوٰتِ په اسمانونو وَالْاَرْضِ اوپه زمکه وَالْجِبَالِ اوپه غرونو پس له پیدا کولو دهغه اودنطق په دوئ کښ فَاَبَيْنَ پس اباداوړه دے درے وار وسره له دا سے قوته د دینیته اَنْ يَّحْمِلْنَهَا له دے چه واخلی دوئ دابار دامانت په سراوپه ځان ځے قبول کړه وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا او ویریدل له دغه بار یعنی دا اباځے له خوفه وه نه له مخالفته وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ اوواخست په سر یعنی قبول کړهٔ دا بار د امانت انسان سره له دا سے ضعفه له دینیته اِنَّهٗ بیشکه چه دا انسان چه دے كَانَ ظَلُوْمًا دے دا انسان ستمکار پخپل نفس ځکه چه دا سے دروند بارځے واخست چه دے اجرا موعظا مونه شو اخستے جَهُوْلًا ﴿۷۲﴾ نادان بے خبره له عاقبته دهٔ امانت چه بیاځے ادا ئے په ډیر توت اومشقت سره کیږی اودے وصف دے جنس په اعتبار دا غلب سره اودعرض دے امانت وکړه خدائ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ

عه نهٔ دے محمد ﷺ پدر د هیڅوك سړو ستاسے ۱۲ یعنی چه دعائے قبلیده له ۱۲ سه یعنی قصه د دروغوپه بی بی عائشے رض پورے ده ۱۲

د پاره دے چه عذاب ورکړی خدائ اَلْمُنٰفِقِيْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتِ منافقانو سړیو او منافقانو ښځو له چه هغه د خیانته په امانت کښ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ او مشرکانو سړیو او مشرکو ښځو له چه هغه د خیانته په هغه امانت کښ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ او چه قبوله کړه خدائ توبه اورجوع وکړه په یحمت سره عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ مؤمنانو سړیو او په مؤمنو ښځو وَكَانَ اللّٰهُ او دے خدای غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۷۳﴾ بخښونکے مهربان

سورة سبا مكية (۵۸) ۳۴ — بسم الله الرحمن الرحيم — آياتها ۵۴ ركوعها ۶

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ ثنا ده هغه خدائ لره لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ چه دی دهٔ لره هر هغه چه په اسمانونو کښ دی وَمَا فِي الْاَرْضِ اوهر هغه چه په زمکه کښ دی هم له جهته د ملک اوهم له جهته د خلق وَلَهُ الْحَمْدُ اوخاص هم دهٔ لره ثنا ده فِي الْاٰخِرَةِ ؕ په هغه جهان کښ لکه چه په دے جهان کښ ده لیکن نه له جهته د تکلیف بلکه له جهته د خوشحالئ لکه چه وائی به الحمد لله الذی هدینا لهذا. بل الحمد لله الذی صدقنا وعده. اوبل الحمد لله الذی احلنا دار المقامة الآیة. وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱﴾ او دے پرحکمته خبردار دے په هر ډول او بنکاره د بندګانو خپلو يَعْلَمُ مَا خبردار دے په هر هغه څیز چه يَلِجُ فِي الْاَرْضِ بنکته کیږی په زمکه کښ لکه او به اوخزانے اوکانونه اود اسے نور اشیاء وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا اوپه هر هغه څیز چه بیرون راوځی له زمکے لکه انواع د نباتاتو اونور اشیاء لکه جواهر اومعادن شو وَمَا يَنْزِلُ اوپه هر هغه چه راښکته کیږی مِنَ السَّمَآءِ له اسمانه لکه ملائک اوکتابونه اوباران اونذارے ارزاقو اود اسے نور اشیاء وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ اوپه هر هغه چه پورته خیژی په دے اسمان کښ لکه ملائک او اعمال نامے د بندګانو اوپاکے کلمے اوپاك ارواح اودعوات د عباد و اود اسے نور اشیاء وَهُوَ الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ﴿۲﴾ اودے مهربان دے په انزال درحمت بخښونکے دے د هر ګناه اوذلت وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوائی هغه کفار چه منکردی له بعثه لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ؕ چه رابه نهٔ شی مونږه ته قیامت قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ وایه وررته اے رسوله چه ولے به رانهٔ شی بلکه رابه شی وَرَبِّيْ قسم دے د ځما په رب چې چه لَتَاْتِيَنَّكُمْ ؕ هر اُئینه رابه شی دا قیامت خامخا تاسے له ره اے منکرانو هسے رب چه عٰلِمِ الْغَيْبِ ع اګاه اوخبردار دے په هر پټ چه یوله هغود اقیامت دے اوداصفت دے درب. لَا يَعْزُبُ عَنْهُ نهٔ پټیږی

له دهٔ اونهٔ لرے ووئی ترهرخیز مِثْقَالَ ذَرَّةٍ چه په قدر دوارهٔ میږی دے یا ذرے له ذراتو دهوا فِی السَّمٰوٰتِ نه په اسمانونو کښ وَلَا فِی الْاَرْضِ اونهٔ په زمکه کښ وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ اونه کم له دے وارهٔ میږی څخه وَلَآ اَكْبَرُ اونه لوئے ترے اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مُّبِیْنٍ ﴿۳﴾ مګر چه دا ټول بنکلی پراته دی په هغه کتاب کښ چه واضح دے یعنی په لوح محفوظ کښ او دا ټول ئے په لوح محفوظ کښ بنکلے دی لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دیاره دهغه چا چه جزا ورکه خدائ په هغه ورځے کښ هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئے کړی دی دنیکو اولٰٓئِكَ دا مؤمنان نیکوکاران چه دی لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرره دوئ لره بخښنه دګناهونو وَّرِزْقٌ كَرِیْمٌ ﴿۴﴾ او روزی بنه وافره بے طلبه بے مشقته وَالَّذِیْنَ سَعَوْ او هرچه هغه کسان دی چه سعی اوجلتی کوی دوئ فِیْٓ اٰیٰتِنَا په ابطال د اٰیتونو محمد زه کښ یعنے په درغږن کولو د قرآن کښ او په ترهلو د خلکو کښ له دهٔ څخه مُعٰجِزِیْنَ په دے حال چه عاجز کونکی وی دوئ محمد زه په زعم خپل کښ له عذاب یعنے دا سے ګمان کوی چه عذاب به رانهٔ شی موږ نه لره څکه چه بیاړ وندون نهٔ شته اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی لَهُمْ عَذَابٌ مقرر دے دوئ لره عذاب مِّنْ رِّجْزٍ لهغه سخت قسم د عذاب اَلِیْمٌ ﴿۵﴾ هسے قسم عذاب چه درد ناک وی او دا الیمٌ صفت دے د عذابٌ څخه مرفوع دے وَیَرَى الَّذِیْنَ اوبل د پاره دے چه وویني یعنی معلوم که هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه ورکړے شوے دے دوئ لره علم یعنی عالمان د محمد یا نو یا د اهل کتابو لکه ابن سلام او ملګری د دهٔ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ اِلَیْكَ هغه قرآن چه رالیږلے شوے دے تا ته مِنْ رَّبِّكَ له جانبه د رب ستا هُوَ الْحَقَّ د اچه دے حق اورشتیا دے بے شبهے وَیَهْدِیْٓ او برابروی خلق د امنزل اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ﴿۶﴾ لارے د هغه خدائ ته چه هم غالب هم ستایلے شوے دے چه هغه لاره د توحید او دین دے د اسلا **ترکیب** دا یو فعل قلب دے چه دوه مفعوله غواړی او دا الذین سره د خپلے صلے ئے فاعل دے او دا الذی سره له خپلے صلے ئے مفعول اول دے او دا هو ضمیر د فصل دے او دا الحق ئے مفعول ثانی دے او دا جمله د یوے بیا په موضع د نصب کښ عطف ده په جمله د تیر یَجْزِیَ باندے او دا یهدی عطف دے په الحق باندے **حاصل** یعنی قسم دے چه قیامت به راشی جزا به ورکړی خدائ مؤمنانو لره او چه معلوم که عالمان په وخت د ظهور د قیامت کښ عیانا چه دا منزل حق دے لکه چه معلومه وه

ورته پخوا برهانًا۔ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اووائی کافران دقریشو بعضے بعضو نورُ ته له دویره تعجب چه هَلْ نَدُلُّكُمْ ایا راکاه کړو مونږ ه تاسے عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ په یو سړی چه خبر کوی دے په تاسے یعنی محمد صلے الله علیه و سلم چه دا سے درته وائی اِذَا مُزِّقْتُمْ په هغه وخت چه ذرے ذرے کړے شوئ تاسے اوتًا په تار کړے شواجزا ستاسے چه دا اعضا سنتاسے په خاورُ کښی وراسته اوپوتی پوتی شو ۔ كُلَّ مُمَزَّقٍ لا په ټول تار په تار کیدلو سره دا سے چه په زمکه کښی خاورے شوئے اود اخاورے بیا سیلابونه هر هر ملك ته یوسی نو اِنَّكُمْ بیشکه تاسے پس له دغه خاورے کیدلو لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۷ هرالښه په نوی پیدا ایښت کښی به اوسئ یعنی بیا به راژوندی کړے شی پس له راجمع کولو دے خاورو او جوړ ولو بدن نو دا خبرے چه دے کوی اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ایا ترلی دی دهٔ له خپل ځانه په خدائ دروغ اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ اوکهٔ درپورے دے جنون چه دا سے ناشد فی خبرے کوی نوخدائ وائی چه بَلِ الَّذِيْنَ بلکه هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ مِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه ایمان نهٔ راوړی په آخرت یعنی بیا ژوندون او حساب اوجزا فِي الْعَذَابِ په عذاب کښی به وی په آخرت کښی وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ۸ اوپه دنیا کښی په هغه گمراهئ کښی دی چه ډیره لرے ده یعنی خښتن دوے گمراهئ له حقه نو وصف د ضلال په بعید سره په اسناد مجازی دے اَفَلَمْ يَرَوْا ایا پس نه کوری دا کافران اِلٰى مَا هغه څیز ته بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ چه په مخکښی دے ددوئ وَمَا خَلْفَهُمْ او هغه څیز ته چه وروستو دے ددوئ چه هغه عبارت دے مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ له اسمان اوله زمکے چه احاطه ئے کړے ده په دوئ دا سے چه دوئ پکښی محبوس دی اِنْ نَّشَاْ كه مُوږ اراده وشی نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ نوخپری به کړو په دوئ دا زمکه اوبکښی بهٔ ئے وب کړود قارون په شان اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ یا به وغورځوو په دوئ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ؕ یوه توته له اسمانه په سبب دانکار ددوئ له دغه نبوت دقدرته حُمونږه اوله بعثت اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دے کتلو کښی اسمان اوزمکے ته یا په دے فکر کښی دخسف اود اسقاط لَاٰيَةً هرالښه نښه ده دقدرت حُمونږه لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۹ د یارډهر هغه بنده چه رجوع کوی حق ته په فکر کولو سره په هغه دلیلونو دقدرت او عجائبُود قدرت کښی چه دلالت کوی په قادروالی حُمونږه په بعث اوبیا عبرت پرے اخلی دوئ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ اوهرالښه په تحقیق

ورکړے وو مونږه داؤد علیه السلام ته مِنَّا فَضْلًا له خپل جناب بهنزی په ټولو خلقو په نبوت په کتاب، په بادشاهئ، په عدل، په بخښش عاجزانو ضعیفانو ته په صورت حسن، په حلاوت د مناجات، په علم په حلافت. او چا فضل داو یلے دے چه پخپله ئے محکمه وائی هغه دادے چه وویل مونږه غږونه ته چه یٰجِبَالُ اَوِّبِیْ مَعَهٗ اے غږونو راوګرځوئ اوازونه خپل له دهٗ سره په وخت د تسبیح کښی وَالطَّیْرَ ج او مرغانو ته هم مونږه وویل چه تاسے په وخت د تسبیح د دهٗ کښی اوازونه ورسره وباسی. او دا عطف دے په محل د جبال باندے **روایت دے** چه داؤد علیه السلام په خپل شکل بدل کړو او په بله جامه به شو نو په خلقو کښی به پټ ګرځیدهٗ او له هرچا سره ئے پوښتنه کوله چه داود څرنګه سړے دے نو هرچا پرے بنهٗ ویل ناګاه یو ملک، ورلږه خدائ راولیږه په صورت د آدمی او دهٗ پوښتنه ترے وکړه نو هغه ورته وویل چه ډیر بنهٗ سړے دے خو ارمان دے کهٗ دا یوکار پکښی نهٗ وے چه د عیال روزی ئے له بیت المال څخه نهٗ وے نو دهٗ سوال د کوم کسب وکړهٗ له ربه چه روزی ئے له خپل کسبه شی نو تعلیم ورته وشهٗ د زغرے ساز او لوکه چه وائی وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِیْدَ ⑩ او نرمه کړے وه مونږه دهٗ لره اُسپینه ئے اوږے پلکه چه داسے بے ئے غږ وله په لاس کښی لکه موم او بیا وویل مونږه دهٗ ته اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ داسے چه ساز وه ترے زغرے فراخے اوږدګے چه په زمکه ګیږی وَقَدِّرْ فِی السَّرْدِ او اندازه په نظر کښی لره یه او د لوکښی چه حلقے سره برابرے وی **روایت دے** چه دهٗ به هره ورځ یو زغره ساز وله او په شپږ زره درهمه به ئے خرڅوله نو خلور زره به ئے د خدائ په جهت ورکړے او دوه زره به ئے نفقه کړه د عیال او چه وفات شه شپږ زره زغرے ورکړه وخټلے وَاعْمَلُوْا صَالِحًا او وویل مونږه دا ته او عیال ستاسے چه عمل کوی ټول د نیکو خالی له نورو اغراضو خالص ما لره اِنِّیْ بیشکه زهٗ چه یم بِمَا تَعْمَلُوْنَ په هغه کار و نوچه کوئ تاسے بَصِیْرٌ ⑪ ښه بینایم چه ټول راته بنکاره دی او جزا به ورکړم هرچا لره په قدر د عمل د دهٗ وَلِسُلَیْمٰنَ الرِّیْحَ او بل مسخر کړے وه مونږه سلیمان علیه السلام لره باد صبا غُدُوُّهَا شَهْرٌ چه الوتل د دے باد په اول د ورځے کښی یعنی د نمر د ختونه تر زوال دیوے میاشتے منزل به وو په تک د جلت سوارهٗ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ج او په اخر د ورځے کښی هم یعنی له زوال تر

ما بنام پورے الوتل ددے دیوے میاشتے منزل به وودا سے چه نمرخانة به له دمشق روان شه اودغے خوب به ئے په اصطخر د فارس کښی چه دیوے میاشتے مزل دے بیا پس له نواله به له اصطخر روان شهٔ اوشپه به ئے کابل له راوړه چه داهم دیوے میاشتے مزل دے کذا فی المدارك وَاَسَلْنَا لَهٗ اوبیولے وه مونږه دهٔ لره عَيْنَ الْقِطْرِ چشمه دمس ویلی کړے وه چه په هره میاشته کښی به درے ورځے لره کانه راوتة اوبهیده به یمن کښی دصنعا په خنګ چه بنهردے مِنَ الْجِنِّ اومسخر کړل وو مونږه دهٔ لره له دیوا نو مِنْ يَّعْمَلُ هعه څوك چه کار به ئے کوو بَيْنَ يَدَيْهِ چه په محکمتی دده بِاِذْنِ رَبِّهٖ ط په فرمان د رب دده سره وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ اوهر چاچه څنګ اوسرکشی به وکړه له دوئ عَنْ اَمْرِنَا له فرمان څومونږه اودده طاعت به ئے ترلے کړهٔ نُذِقْهُ نوو به ځکوو مونږه هغه ته په اخرت کښی مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ (۱۳) له عذابه د دوزخ اوچاو بلی دی چه په دنیا کښی یوملك ورسره مقرر ووچه اتشین مطروقه به وس څخه وه نوهرچاچه به څنګ وکړهٔ له فرمان د سلیمان علیه السلام نوهغه به ئے په دے مطروقه وواهلهٔ نو به سوځیده . يَعْمَلُوْنَ لَهٗ سازولوبه دغه دیوانو دهٔ لره مَا يَشَآءُ هرهغه شیز چه اراده به وکړشوه دهٔ مِنْ مَّحَارِيْبَ له هسکو بنګلو خوشنما یو څخه یاله ځایونو د جنګ څخه لکه لوئے پخے پخے قلاګانے او حصارونه اومورچلے وَتَمَاثِيْلَ اوتمثا لونه یعنی له صورتونو د ملائکو اود انبیاؤ په هغه هیئت چه دوئ به په عبادت مشغول وود پاره دده چه خلق ئے په دغه هیئت و دینی اود دوئ هم شوق عبادت تدګوندی پیدا شی اودده په شریعت کښی بتان سازول مباح وواو نور هر شکلونه به ئے سازول د مرغانو او د سباع لکه چه په روایت دے چه دوه شکلونه د مزر یوئے سازکړی وو دده تر تخت لاندے اودوه شکلونه د تپوسانوئے سازکړی وو دده دسر د پاسه نوهر کله چه دے به په تخت ختو تده مزر یو به خپلے را اوبدے کړے ورته نوده بخپے پرے کیخودلے اوپاس به وخوت اوبیاچه په تخت به کیناست نو دغه تپوسانو به وزرسره خواره کړهٔ اوپه دهٔ بهٔ ئے سوړے کړو - وَجِفَانٍ اوله لوبوکاسود لرګیو یا د بل څیز اوداجمع د جفنی ده چه کاسه ده گاڅوَابٍ په شان د لوی حوض نو دے لوئے کاسے چه زرګ کسانو به په یوه کاسه کښی طعام وخور اوتول به مارهٔ شو اوداجمع د جابیه ده چه لوئے حوض دے وَقُدُوْرٍ دیګونو د تیرو یاد مسو قرار پراتهٔ د نغریو په سر هیشه په سبب د پردوند والی چه چا به نه شوکولے اوده دهٔ دوئس

زړه اشیزان ووچه طعام بهٔ ئے پخولو په دغه دیګونوکښ اوچا ویلی دی چه لا اوس هم په شام یا په یمن کښ هغه دیګونه پراتهٔ دی چه په زینه ورخیژی او ووبل مونږه دوئ ته چه اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ عمل کوئ دنیکوایه خیلخانے ددا ود علیه السلام شُكْرًا د دپاره د شکر کذارئ دا سے نعمتونه دوئ د دپاره د امتثال په ډاسے امر ساعتونه دوړځو اودشپو سره قسمت کړی وو نو یوخو به خانخانه په شکر کذارئ مشغول وو وَقَلِيْلٌ او لږ دی مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾ له بندګانو څخا شکر کذار **روایت دے** چه موسی علیه السلام به کیږدئ وهلے وه په هغه ځائے کښ چه اوس یکښ بیت المقدس دے د دپاره د عبادت بیا داکیږدئ میراث پاتے شوه نو عابدانو به عبادت یکښ کولو تبرګا۔ بیا چه زمانه داود علیه السلام راغلهٔ نو دهٔ هلته بیت المقدس بناکړه اما په دهٔ وخت دوفات راغے پخواله پوره کیدلو دبیت المقدس نو وصیت ئے وکړو سلیمان علیه السلام ته دِاتمام۔ او دهٔ دیوان پرے ولګول۔ اما په دهٔ هم وخت دوفات راغے پخواله اِتمام ئے نوارادهٔ ئے وکړه ددے چه څا په مرلږ د دغه دیوان خبر نهٔ شی چه دا عمارت هم پوره شی اوبل دوئ دهیبئ دعلم غیب کوی چه هغه هم باطل شی نو دیوانوته ئے وویل چه دبنینبکارئ کنیذه راباندے دهم کړئ بے دروازے اودے پکښ ودریدهٔ په مانځه په همسا تکیه اوروح ئے هلته قبض شه په ولاړه اوسیبلان به پکار لګیاوو په دے ګمان چه دے ژوندے راته ولاړدے بیا چه عمارت پوره شهٔ نو وینو دهسابیخ وخوړاودے دا اولویدلهٔ او دیوان لاړه بیا دوئ پرو وینهٔ دهسا په څوکه کیخوده چه یوه ورځ اوشپه تیره شونو دهغه مقدار ئے معلوم کړو چه دوفات ئے پوکال تیر شوے دے او پټول عمر دهٔ درے پنځوس کاله وو او په دیارلسم کال بادشاه شهٔ او چه څلور کاله ئے دبادشاهئ تیر شونو بیا داتمام دبیت المقدس ئے وکړه کذا ذکره البیضاوی لکه چه وائی فَلَمَّا قَضَيْنَا پس هرکله چه حکم وکړهٔ مونږه عَلَيْهِ الْمَوْتَ په سلیمان علیه السلام دمرلږ او دے مړ ولاړ وو تکیه په هسا یو کال مَا دَلَّهُمْ نو هیڅا خبر کړے نهٔ وو دا دیوان عَلٰى مَوْتِهٖٓ په مرلږ دهٔ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ مګر چینجی لرکی خوړونکی یعنی هغه چینجی چه لرکی خوری چه په عربی کښ ورته اُرضه او سرته وائی او په فارسی کښ کرمک چوب خور اوپه پښتو کښ وینهٔ او هرچه ارض دے په سکون دریم سره هغه لګیدل دهٔ دی په لرکی دپاره دخوراک۔ او اَرَض چه دے په فتحه دریم سره مطلوح دے دهغهٔ لکه چه

وایهٔ شی ارضت الارض الخشبه ارضا فارضت ارضا کذا فی الصراح نو په دے دابة الارض کښ اضافت شوے دے دابة فعل ددهٔ ته چه هغه ارض دے یعنی خوراک دے دلوګی تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ج چه وے خوړه همسا ددهٔ فَلَمَّا خَرَّ پس هر کله چه ولویدهٔ دے په زمکه تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ نو پوهه شوا دیوان او پریان ټول په پوهے بنکاره او کا ملے سره پس له ګډولے په عوامو او ضعیفانو دوئی اَنْ لَّوْ كَانُوْا یعنی چه که چرے وے دا دیوان او پریان يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ چه پوهیدے په علم غیب مَا لَبِثُوْا نه وے به ځے تیرو سلامت یوکال فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ (۱۴) پ۲۲ په هغه مشقت او عذاب کښ چه سپکوے کے او خوارۍ کے وو چه هغه تکالیف شاقه وو په عمل دعمارت د بیت المقدس کښ **حکایت دے** چه افریدون بادشاه اراده کړے وه د ختلو په تخت د سلیمان علیه السلام بیا چه خپله ځے پورته کړه نو هغه تخت لاندے زمریو هغه خپه په پنجه وو هله او مانه ځے کړه نو دوباره هیڅوا اقدام ورته ونه کړو **روایت دے** چه پوسړے وو چه نوم ځے د سبا بن یشجب بن یعرب بن قحطان وو او ددهٔ په سبب اولادے هم په سبا بالهٔ شهٔ بلکه هغه ښارے مارب نوم ځے وو هغه به هم په سبا بالهٔ شهٔ او ددا ښار د سبا په یونا وُ کښ پروت ووچه ډیکه لوړه دوو غرونو او اوږدو والے د دغه ناوُ له برهٔ سړ ترکونړه سره اتلس فرسخه وو او نښکته او پورتنا وُ یعنی غه ښاره د سبا نور پریښار ونه پراتهٔ وو په مینځ د دغه ناوُ کښ ددهٔ له اولاده . او په یو طرف په بل طرف له دے ښار ونو باغونه یو چک سړه پراتهٔ وو د ناوُ له برهٔ سره ترکونړه سره پورے او او بهٔ به ځے له برهٔ سره د ناوُ ، اتلے او فصلونه او باغونه به ځے پرے او به کیدل . او کله به او به د ولایت د شجر و سره کډے شوے نو به ځے خرابے کاوو نو دوئی بلقیس چه حاکمه وه د دوئی په ولایت د یمن کښ سوال وکړهٔ چه دا او به څویږه نه بندے کړه نو هغه په سرد ناوُ کښ یولوئی دیوال وکړهٔ چونه ګچ له یوغړ ترښ غړ پورے چه او به دچښنو د دوئی او د ځمکو او د باران ټولے هلته حصارے شوے او په دغه دیوال کښ ځے درے سوری وکړهٔ یو پاس اویل په مینځ اویل په کوز سرد دیوال کښ . چه او به به درے وے نو پاس سوړے به ځے پرانست او که به میانه وے نو د مینځ او که ښه لږے وے نو به کوز . لکه چه وائی . لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ج په مسکن د دوئی کښ یوه غټه ښځینه په وجود د سبا سړی یا سا کنانو د ښار د سبا لره فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ج په مسکن د دوئی کښ یوه غټه ښځینه په وجود

او په قدرت کامله د صانع باندے او هغه ښته دا وه جَنَّتَانِ چه دوه باغونه وو عَنْ يَمِينٍ وَشِمَالٍ ؕ له
ښی طرفه د مینو د دوئ او له چپه طرفه نکته باغونه خو په واقعه کښی ډیر وو به حسابه او دلته
نسبت د دوو ورته شویدے نو یا په دے سبب دے چه هر کلے داډیر سره پیوسته وو نو کویا که یو باغ په ښی طرف
وو له مینو د دوئ له بره سره تر کوزه سره او یو هدا سے په چپ طرف وو او یا دهر سړی یو باغ پښی
طرف وو له مدینے دده او یوئ په چپ طرف وو - او ورته وویلے شو دا سے كُلُوا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ
چه خورئ له روزئ د ربه خپله یعنے له داسے وافرو میوو چه سنځه به تشه تر کرئ پرسرد ونو لاندے
شوه په کوم کار پسے نو دا نو کرئ به پخپله له میوے د کرشوه به له اچولو دے - وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ او شکر
کوئ اده له ډیر او قدر دانی کوئ د نعمتونے بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ ؕ دا ښار د صباچه دے ښار دے ډیر پاکیزه چه هیڅ
او سپږه او وړه او ما شے او مار او لړم له سره پکښی نشته تر دے حده چه کهٔ کوم مسافر ورلره
راشی نو هلته سپږے ئے نو له مړے شی له جهته د اعتدال ده هوا وَرَبٌّ غَفُوْرٌ (۱۵) او داپرو ردګار
چه تاسے لره ئے د انعمتونه درکړی دی د اسے رب دے چه بخښونکے دے د شکر گذارانو فَاَعْرَضُوْا پس
څنګ وکړهٔ دوئ او مخ ئے وګرځولو له دعوته د هغه پیغمبرا نو چه راغلی وو ورلره فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ
پس راخوشے کړه مونږه په دوئ سَيْلَ الْعَرِمِ سیلاب د عَرِم - او عرم یا نوم دے د سخت سیلاب یا د بارانو
یا د موش د شځے چه د ا دیوال ئے سورے کړے وو یا هغه دیوال یا هغه وادئ چه دا دیوال پکښی
بلقیس جوړ کړے وو خو په هر تقدیر مونږه سخت سیلاب پرے راولیږهٔ چه د دوئ مالونه او فصلونه او
باغونه ئے ټول لاهو کړهٔ وَبَدَّلْنٰهُمْ او بیا بدل ورکړهٔ مونږه دوئ لره بِجَنَّتَيْهِمْ په هغه باغونو دواړو
باغونو د دوئ جَنَّتَيْنِ دوه باغونه نور ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ چه دواړه خاوندان تر وو د میوے ترخے بے
مزے وَّاَثْلٍ او شوره ګز چه کوم قسم دے له غږ ونو څخه چه پانړه دهغه سپینه وی او د اسهٔ ائے
ته باغ ویل محض د پاره د مشا کلت دے وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ (۱۶) او یو قدر له بیرے هم خو ډیر
لږ او اهم د پاره د دے چه هغه پخوانۍ میوے ئے هیرے نه شی او اَثْلٍ او سِدْرٍ عطف دے په اُكُلٍ
نه په خَمْطٍ - ځکه چه غږ خو له سره میوه نهٔ لری ذٰلِكَ دا عذاب چه مونږه ورکړهٔ دوئ لره پرسبب
د دے چه هم کفران د نعمتو نو څخه مونږه وکړے وو دوئ او هم ئے کفر اختیار کړے وو چه څوک مونږه رسولان

ئے نۀ وو منلی ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا داکار جزا اوس کړه مونږه دوئ په سبب دهغے چه کافران شوی وو دوئ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ او ایا جزا اوس کو وو مونږه په دا شان یعنے نۀ ورکوو اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿۱۷﴾ مکړ ب قدرۀ لره چه حُمونږه دنعمتو نوقدر دانی ئے نۀ وی کړی روایت دے چه پاتی شوی دښار د سبا پس له دغه حادثے پیغمبر علیه السلام له راغله اوورته ئے وویل چه مونږ او س خدائ اورسول وپیژندل نو کله بیا په مونږه مهربانی وکړی نوحق به ئے ادا کړو او بے قدری به نۀ کوو او عبادت به کوو په ښه وجه نو رب العزت بیا پرے دروازه دنعمت پرانسته لکه وائی وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ اوپیدا کړۀ اوابادکړۀ مونږه په مابین دهٔ اهل د سبا وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ او په مابین دهغه کلیو اوښارۀ نوچه بٰرَكْنَا فِيْهَا برکت اچولے وو مونږه په هغوکښ په فراخئ د رزق اودمیووادانهارواوداشجارو چه هغه ولایت دهٔ شام قُرًى ظَاهِرَةً کلی اوښارونه ښکاره چه له یوکلی به بل لیدلے شو د اسے سره پیوسته له سبا تر شامه پورے اودا اوّل څلور زره اُوٹه سوه کلی وی وَقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ شرط اوانداز ه کړی وو مونږه په دغه صنع ئُ د ښارونو اوکلیوکښ تګ ددوئ دا سے چه په یوکلی کښ به ئے غرمه تیروله اوپه بل کښ به ئے شپه کوله اونه به توښے ته محتاج وو اوبه رڼا ته تر آخره سفره اوورته وویل مونږه چه سِيْرُوْا فِيْهَا ئُ اورائ ئُ په دے کلیوکښ د سود اکرئ د پاره تر شامه پورے لَيَالِيَ وَاَيَّامًا د شپے اود ورځے اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾ په امان له هرافته له دشمنه له سباعه له لوږے له تندے . بیا نو په دے کار اغنیاؤ لره حمد راغے چه دا خومونږه اوفقراء سره برابر شوځکه چه دوئ هم حُمونږ په شان په بے غمئ په خپل حاجت پسے ئُ او راځئ فَقَالُوْا رَبَّنَا پس وویل دے اغنیاؤ چه اے ربه حُمونږه بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا لوئی والے پیدا کړه په مابین د سفرونو حُمونږه کښ یعنے په دے صنع ئُ کښ ځائ په ځائے کلی وران کړه چه اوږده بیا باندے پکښ پیدا شی اوهر خوا رعاجز نۀ شی تللے نو مونږ قبول کړه دا سوال د ددوئ اوپه صنع ئُ کښ کلی وران کړۀ مونږه وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ اوظلم وکړه دوئ په ځانونو خپلو چه راحت ئے بدل کړۀ په مشقت او بے غمی په خواری اوآسانی په سختی فَجَعَلْنٰهُمْ پس کړه مونږه دا اهل د سبا اَحَادِيْثَ خبرے او قصے چه درست عالم ئے کوی له دیر تعجبه په احوال د ددوئ وَمَزَّقْنٰهُمْ او تار په تار کړه مونږه دوئ كُلَّ مُمَزَّقٍ ؕ په ټولو تار په تار کولو سره یعنی ورک کړه مونږه له خپل وطنه اوپه عالم کښ خوارۀ

شود اسے چه غسان ترے شام ته لاړه او انحصار ترے پرتوب له لاړه او جذام تهامی له او از دعمان
له اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے بیرته مذکور کښ لَاٰیٰتٍ هر اُئینه ریکارنگ نښے دی دعبرت اخستو
لِکُلِّ صَبَّارٍ شَکُوْرٍ ﴿۱۹﴾ دپاره دهر صابره پر زحمتونو شاکر پر نعمتونو وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَیْهِمْ اوهر اُئینه په
تحقیق رښتیلے بیاموندهٔ په دوئ اِبْلِیْسُ ظَنَّهٗ شیطان گمان خپل یعنی ده چه گمان کولو چه زه به دا
بنی آدم په سبب د شهوت او د غضب چه په دوئ کښ دے ولغزوله شم هغه گمان ئے په اهل دسبا کښ
بیاموندهٔ فَاتَّبَعُوْهُ پس پیروی وکړه دوئ د شیطان اِلَّا فَرِیْقًا مگر یوے فرقے مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۲۰﴾
چه هغه فرقه مؤمنان دی او دامِنْ بیانیه دے نه تبعیضیه وَمَا کَانَ لَهٗ اونهٔ وو دے شیطان لره
عَلَیْهِمْ مِنْ سُلْطٰنٍ په دوئ تسلط اِلَّا لِنَعْلَمَ مگر خاص دپاره دے چه معلوم کړو مونږه په علم
شهودی سره مَنْ یُّؤْمِنُ هغه څوک چه ایمان راوړی بِالْاٰخِرَةِ په را تلونکے آخرت مِمَّنْ هُوَ له هغه
چه دے مِنْهَا فِیْ شَکٍّ ط له دے آخرته په گمان کښ دے وَرَبُّكَ اوږب ستاچه دے عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ
حَفِیْظٌ ﴿۲۱﴾ په هرشیئ نگهبان دے قُلِ ووایه اے رسوله مشرکانو دقوم خپل نه اُدْعُوا الَّذِیْنَ زَعَمْتُمْ
چه وبولئ تاسے هغه معبودان خپل چه گمان به کولوتاسے په دوئ د خدایانو او دایه اصل کښ زعمتوهٗ
الهة دے ځکه چه زعمتم دوه مفعوله غواړی او دلته یوهم نشته بیا مفعول اول چه ضمیر دے عائد
حذف شهٔ دپاره دے چه طول د موصول راغلے په صلے سره او دے فُضْله دے او مفعول ثانی چے
اٰلهةً دے هغه حذف شهٔ او په څاګئ د ده صفت ئے قائم شهٔ چه دا دے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ج غیر له خدائ
یعنی وبولئ تلے معبودان خپل اما دوئ په جلب دنفع او په سلب دضرر کښ تاسے نه هیڅ فائده نه شی
رسولے او څرنگه به فائده ورکوی لَا یَمْلِکُوْنَ نه لری اختیار دوئ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ په قدر دوارهٔ میږی
نه دخیر او نهٔ د شر فِی السَّمٰوٰتِ نه په آسمانونو کښ وَلَا فِی الْاَرْضِ اونه په زمکه کښ او دادوارهٔ
ئے ذکر کړهٔ . چه بعضے اٰلهه د دوئ سماوی دی لکه ملائک او کواکب او بعضے ارضی دی لکه بتان
شو وَمَا لَهُمْ اونشته دغه خدایانو دوئ لَهٗ فِیْهِمَا مِنْ شِرْكٍ په دے آسمانونو او زمکه کښ څهٔ
قدرے شرکت نهٔ خلقاً اونهٔ مُلکاً. وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ اوهمدا سے نشته خدائ لره هم له دغه خدایانو
دوئ مِّنْ ظَهِیْرٍ ﴿۲۲﴾ هیڅوك مددګاری کونکے په تدبیر او په تصرفاتو د ده کښ او کهٔ دوئ

ترے شفاعت په طمع وی هغه هم نشته لکه چه وائی وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗ اوهمدآسے نهٔ رسوی هیڅ نفع دوئ ته شفاعت د دے معبود انو په نزد د خدائ لکه چه کان دوئ حکه چه شفاعت هیڅ فائده نهٔ رسوی خدائ ځخه اِلَّا لِمَنْ مگر شفاعت دهغه چا اَذِنَ لَهٗ ځچه اذن وکه خدائ دهٔ ته یادپاره د دهٔ شفاعت بل چاته یعنی یا معنیٰ داچه تانه اذن دے د دے چه شفاعت وکړه هر چا له چه کوے او یاد اچه دنده ن دپاره کهٔ شفاعت کوے نو اذن د درته وُکه روایت دے چه په ورځ د قیامت به هر څوك سره په ویره او په هیبت وی هم شفاعت مگر په دے چه مونږه ته به د دے اذن وشی که نه . چه د چا شفاعت وکړو اوګنهګاران په دے چه ځمونږ دپاره به اذن د شفاعت وشی که نه او یا د یره د دوئ به باقی وی حَتّٰٓى اِذَا فُزِّعَ ترهغه وخته پورے چه بیرته کړے شی دا ویره عَنْ قُلُوْبِهِمْ له زړونو د دوئ په دے شان سره چه رب العزت وائی چه اذن دے اوس تاسے ته د دوارو قسم د شفاعت او یا هر ګله چه داخرت اوشهٔ قَالُوْا نو وبه وائی دوئ یو بل ته سره مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ چه دا څرنګه خبره ده چه وویله رب سنا ے. قَالُوا الْحَقَّ ۚ نو وبه وائی ورته هغه نور چه حق ئ وویل چه دا دے چه اوس اذن دے د شفاعت دپاره د مومنانو وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۲۳﴾ اوډ یر بلند شان لوئے له دے چه بے له اذن د هٔ څوك شفاعت وکړه اګر کهٔ پیغمبر یا ملک قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ ؕ ووایه دوئ ته اے رسوله چه څوك روزی درکوی تاسے لره مِّنَ السَّمٰوٰتِ له طرفه د اسمانونو په ور ولو د باران سره . وَالْاَرْضِ ؕ اوله زمکے په زړ غونو لولو د نباتاتو سره بیانو د دوئ په ځائ هم تهٔ قُلِ اللّٰهُ ؕ ووایه چه خدائ درکوی او بیاد اسے هم ورته ووایه چه وَاِنَّآ اَوْ مونږه مومنان چه یو چه روزی رسان هم هغه یو یولو او عبادت هم هغه لره کوو بے شریکه اَوْ اِيَّاكُمْ یا سے مشرکان چه هغه بتان چه په کوزه مرتبه د امکان د ی چه جماد یت د ے هغه لَعَلٰى هُدًى هر اُلینه په سمے لارے یو اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾ یا په د اسے کمراهئ کښ یو چه بنکاره ده حاصل ا چه معلوم به شی په قیامت چه کوم یو له دغه دواړو طا ئفو له دے معاملے سره په سمے لارے روان و و او کوم یو د خپلے کمراهئ پښ قاب کښ و ډوب و وقُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ بیاووایه ورته چه نه به شی پوښتیدلے تاسے عَمَّآ اَجْرَمْنَا له هغه بد یو چه کړی وی مونږه وَلَا نُسْـَٔلُ اوهمدآسے نهٔ به پوښتیدلے کیږو مونږه

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۲۵) له هغو بد یو چه کوئ یے تاسے بلکه هر یو به له خپله عمله پوښتنه نه کیږی نه ؤ بل له عمله قُلْ يَجْمَعُ بیا وایه ورته چه جمع به وکړی بَيْنَنَا رَبُّنَا ځمونږه به صیغهٔ کښ رب ځمونږه به پ، ورځ د قیامت ثُمَّ يَفْتَحُ بیا حکم اوفیصله به وکړی بَيْنَنَا بِالْحَقِّ د په صیغهٔ ځمونږه کښ به حق سره به دے شان چه محققان به یوځی ښکته له اومبطلان به بوځی دوزخ له وَهُوَ الْفَتَّاحُ اوهم دے فیصل کوونکے رمشکل قضیو الْعَلِيْمُ (۲۶) دانادے په طریقو دفیصل کولو قُلْ اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ بیاوایه ورته چه وښیئ تاسے ماته هغه خدایان خپل اَلْحَقْتُمْ بِهٖ چه پیوست کړی دی ..... تاسے په خدائ پورے شُرَكَآءَ شریکان په عبادت کښ یعنے په دوی کښ کوم کمال دے چه په هغه سره تاسے دوی د خدائ شریکان سازکړی دی. كَلَّا نه دی داسے یعنے لائق نه دی دشرکت له دهٔ بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ بلکه هم دے خدائ غالب چه دهیڅوان نشته دشرکت ورسرهٔ. الْحَكِيْمُ (۲۷) چه پرحکمت دے وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ او نه یے لیږلے مونږه تهٔ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ مګر په دے حال چه جامع یے تهٔ خلقو له یعنے احاطه کوونکے یے له دوی په اندازه په ابلاغ سرهٔ. او د اهله چه كَآفَّةً حال شی له كاف د خطاب او ت د پاره د مبالغے شی لکه علامت کښ. او یا معنے داچه نهٔ یے لیږلے مونږه تهٔ مګر په دے حال چه خلقوته یے یعنے انس وجن وعرب وعجم واړوته اونهٔ بعضوته لکه پخوانی رسولان. او د اهله چه حال شی له النَّاسِ سخه اما مقدم شوے دے په دهٔ د پاره تاهتمام بَشِيْرًا زیږے ورکوونکے د رضوان د جنت د دیدار په مومنانو. وَنَذِيْرًا او ویرؤونکے له عذاب د کافرانو وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلق چه دی له کفارو د مکے لَا يَعْلَمُوْنَ (۲۸) نه پوهیږی په کمالاتو او په فضائلو ستا او جهل خپل ترڅو دی ستا مخالفت ته وَيَقُوْلُوْنَ او وائی دوی له دیره جهله مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ چه کله به وی داعذاب یا ظهور د قیامت مونږه پرے اکا ته کړی اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (۲۹) کچرے یئ تاسے ریښتنی په دے کښ چه قیامت به راشی. قُلْ لَّكُمْ مِّيْعَادُ يَوْمٍ ووایه ورته چه مقرره ده تاسے لره وعده دیوے ورځ. او د اضافت بیانی دے یعنی مقرره ده تاسے لره ورځ د قیامت د پاره د عذاب لَا تَسْتَاْخِرُوْنَ چه نهٔ به وروستی کیږی تاسے عَنْهُ ساعَةً له هغه ورځ یو ساعت هم وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ (۳۰) اونهٔ به روهیږی کیږی تر وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائی هغه کسان چه کافران دی له مکیانو لَنْ نُّؤْمِنَ له سره به ایمان رانهٔ وړو مونږه بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ

پہ دے قرآن چہ راغلے دے پہ محمد صلے اللہ علیہ وسلم باندے وَلَا بِالَّذِیْ اونہ پہ هغہ چہ راغلی دی بَیْنَ یَدَیْهِ پخوالہ دغہ قرآن چہ تورات او انجیل او دا سے نور دی یا مراد قیامت اوجنت او دوزخ دے وَلَوْ تَرٰۤی اوکہ وویئے تہٗ اِذِ الظّٰلِمُوْنَ چہ دا ظالمان یعنے مشرکان مَوْقُوْفُوْنَ وُدرولے شوی پہ موقف د حساب کښ عِنْدَ رَبِّهِمْ ﷻ پہ نزد درب خپل اوجواب ئے محذوف دے چہ دا دے لَرَاَیْتَ اَمْرًا صَعْبًا یعنی هرا ئینہ وبہ ویئے نہٗ سخت امر یَرْجِعُ بَعْضُهُمْ چہ سرہ اړوی پہ بعض دوئی اِلٰی بَعْضِ ۨ الْقَوْلَ ۚ لہ بعضو نور سرہ خبرہ دا سے چہ یَقُوْلُ الَّذِیْنَ وبہ وائی هغہ کسان اسْتُضْعِفُوْا چہ ضعیف گنړلے شوی وو یعنی تابعان او پیرو روان لِلَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا هغہ کسانو تہ چہ تکبر او سرکشی بہ ئے کولہ یعنی مشران اور ئیسان لَوْلَاۤ اَنْتُمْ چہ کہ نہٗ وے تاسے یعنی دا گمراہ کول او اړول ستاسے لہ ایمانہ لَكُنَّا مُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۱﴾ نو هرا ئینہ وئے بہ مونږہ مؤمنان اما تاسے گمراہ کړو مونږہ او ایمان تہ مو پرے نہٗ خو. قَالَ الَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا او بیا بہ وائی هغہ کسان چہ کودن کشی بہ ئے کولہ لِلَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْۤا هغہ کسانو تہ چہ عاجزان او بیچارہ گنړلے شوی وو. اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ ایوچہ حصار کړی وئی مونږہ تاسے عَنِ الْهُدٰی لہ سمے لارے او لہ قبول د ایمان بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ پس لہ هغہ چہ راغلے وو د هدایت تہ لرہ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِیْنَ ﴿۳۲﴾ بلکہ وئی تاسے پخپلہ گنهگاران چہ پہ مونږ پسے راتلئی بے حجتہ وَقَالَ الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا او بیا بہ وائی هغہ کسان چہ خوار او عاجز گنړلے شوی وی لِلَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا هغہ کسانو تہ چہ لوئی او کبرئے اختیار کړے وو بَلْ مَكْرُ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ بلکہ دا فریب وو ستاسے چہ شپہ او ورځ بہ مونږہ پسے وئی د پارہ د حصار ولولہ ایمانہ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَاۤ چہ امر بہ کولو تاسے مونږہ تہ هر وخت اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ دے چہ کفر اختیار کړو مونږہ پہ خدائ پورے وَنَجْعَلَ لَهٗۤ اَنْدَادًا او پیدا کړو مونږہ دہٗ لرہ شریکان وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ اوپټہ بہ کړہ دوئی یعنی د وارہ طائفے پښیمانی خپلہ یو بلتخہ یا بنکارہ بہ کہ پښیمانی سرہ یو بل تہ او دا حکمہ چہ اَسَرُّوْا لہ اضداد او دے یعنی اطلاق ئے د وارو وصحیح دے کذا ذکرہ البیضاوی لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ﴿۳۳﴾ پہ هغہ وخت چہ وویئی دوئی عذاب وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ اووا بہ چوو مونږہ طوقونہ داور فِیْۤ اَعْنَاقِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ہر کړو نو نور دهغہ کسانو تہ چہ کافر شوی دی کہٗ تابعان دی اوکہٗ متبوعان دی هَلْ یُجْزَوْنَ ایا جزا ورکولے شی دوئی لرہ یعنی

نهٔ شی ورکولے اِلَّا مَا كَانُوا مکر دهم هغه عمل چه وی دوئ په دنیا کښ يَعْمَلُوْنَ (۳۳) چه کاوهٔ به ئے
بیا د پاره د تسلئ د رسول صلی الله علیه وسلم وائی چه وَمَآ اَرْسَلْنَا اونهٔ وولیږلے مونږه هغوالهٔ تاسځمه
فِيْ قَرْيَةٍ په هیڅ کلی اوښار کښ مِّنْ نَّذِيْرٍ هیڅ ویرونکے له عذابه یعنی کوم پیغمبر اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ مکر
ویل به مشرانو او متکبرانو دهغه قرئے هغه پیغمبرانو علیهم السلام ته اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ چه بیشکه مونږه
په هغه خیر چه رالیږلے شوی یئ تاسے بِهٖ كٰفِرُوْنَ (۳۴) په هغه خیز سره ستاسے په زعم کافران او
منکران یو وَقَالُوْا نَحْنُ اوبل ویل به ئے چه مونږه اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا لږ یولوئ یو له جهته دمالو
اود اولاد ده. نو پیغمبری خو مونږه سره لایقه ده وَّمَا نَحْنُ اوبل دا چه نهٔ یو مونږه مُعَذَّبِيْنَ (۳۵) عذاب
کړے شوئ له ځکه جهته چه مونږه خدائ ته په پرکران یو ځکه دا سے دیر مال اواولاد ئے راکړے دے نو مونږه
ته به ولے عذاب راکوی قُلْ اِنَّ رَبِّيْ ووایه ورته بیشکه رب ځما چه دے يَبْسُطُ الرِّزْقَ ارتوی
اوفراخه کوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ د پاره دهرهغه چاچه اراده ئے وشی وَيَقْدِرُ اوتنګوی ئے په
هرهغه چاچه اراده ئے وشی په مقتضئ د حکمت بالغه سره وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلق چه
دی لَا يَعْلَمُوْنَ (۳۶) ع نهٔ پوهیږی په ځکه مباد اچه داکثرت دمال اود اولاد چرئے له جهته دا استدراج[عه]
نه وی لکه چه دوئ ته پخپله وائی وَمَآ اَمْوَالُكُمْ اونهٔ دی دا مالونه ستاسے وَلَآ اَوْلَادُكُمْ اونه دا اولاد
ستاسے بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ دا سے څیز چه نزدے کوی تاسے عِنْدَنَا زُلْفٰٓى په نزد ځمونږ په نزدے کولو سره
ځکه چه نزدیکت خدائ ته په عمل صالح دے نه په مال او په اولاد اوهغه تاسے نهٔ لږئ اِلَّا مَنْ اٰمَنَ
مګر نزدے کوی له تاسے هرهغه څوك چه ایمان راوړی وَعَمِلَ صَالِحًا اوعمل کوی د نیکو یعنی مال
دخدائ په لاره کښ صرفوی اواولاد په سمے لارے بیائی فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه دا سے کارکوی
لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ مقرره ده دوئ لره جزا دوچند یعنی زیات تر لسو تراوهٔ سوه بِمَا عَمِلُوْا په سبب
دهغه نیکیو چه کړی دی دوئ وَهُمْ فِي الْغُرُفٰتِ اود وئ په مانړیو دجنت کښ اٰمِنُوْنَ (۳۷) په امان
به وی له هرمکروه اوسختئ اوافت وَالَّذِيْنَ يَسْعَوْنَ اوهغه کسان چه سعی اوکوشش کوی فِيْٓ اٰيٰتِنَا
په ابطال د ایتونو ځمونږه کښ مُعٰجِزِيْنَ په دے حال چه عاجز کونکی وی دوئ ځمونږه په

عه الاستدراج هو الاخذ من حيث لا يحتسب ۱۲

خپل گمان کښی له عذابه د دوئ اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ (۳۸) په عذاب د دوزخ کښ حاضر کړے شوی به وی قُلْ اِنَّ رَبِّیْ ووایه ورته اے رسوله چه بیشکه رب ځمای يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخه کوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ هر هغه چا نه چه اراده ئے وشی مِنْ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو وَيَقْدِرُ لَهٗ او تنګوی ورلره چه اراده ئے وشی یا له اوله او یا پس له بسط ابتلاءً وَمَآ اَنْفَقْتُمْ او هر هغه چه ورکوئ تاسے د خدائ په لاره کښی مِّنْ شَیْءٍ له کوم شیزه څخه لږ یا زیات فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ج پس هم دے عوض ورکوی هغه لره یا دلته په مال هلته په ثواب وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ (۳۹) او دے غوره دے د ټولو روزی رسانو ځکه چه دے رازق حقیقی دے او نور قول واسطه دی په رسولانو د رزق کښی وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ او یاده که هغه ورځ چه راجمع به کړی د اکفارو جَمِيْعًا ټول یعنی هم مشرانو متکبرانو او هم کشران عاجزان ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ بیا به ووائی خدائ ملائکو ته چه اَهٰٓؤُلَآءِ ایا اِيَّاكُمْ ایا هغه ګمراهان دادی اے ملائکو چه خاص ستاسے بے له خدا یه كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ (۴۰) وو دوئ چه عبادت به ئے کولو په دنیا کښ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ نو وبه ووائی ملائک په جواب کښی چه پاکی ده تا لره له هره عیبه خصوصًا له شریکه اَنْتَ وَلِيُّنَا تهٔ ئے دوست او معبود ځمونږه مِنْ دُوْنِهِمْ ج غیر له دوئ یعنی مونږه دوستی خاص له تاسره کوونهٔ له بل چا سره او نه پخپله عابدان یو مونږه نو څرنګه به ځان دبل معبود کوو او دوئ په واقعه کښی ځمونږ عبادت ننه کاوه بَلْ كَانُوْا بلکه وو دوئ چه له ډیره جهله او حماقته يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ج عبادت ئے کوو د شیطانانو ځکه چه هم د هغهٔ فرمانبردار وو چه څهٔ هغوئ ورته ویل هم هغه به ئے کول اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ زیات د دوئ په ئے شیطانانو تُؤْمِنُوْنَ (۴۱) ایمان راوړونکی وو بیا نو خدائ وائی فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ پس نن ورځ اختیار نه لری بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ بعضے ستاسے چه معبودان دی د یارٔه د بعضے نورو نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا نه د نفع رسولو او د ضرر دفع کولو یعنی دا معبود په خپلو عابدانو تر نن ورځ هیڅ خیر نهٔ شی رسولے وَنَقُوْلُ او وبه وایو مونږه لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا هغه کسانو ته چه ظلم ئے کړے دے په خپل ځان چه وضع د عبادت ئے کړے ده په غیر له[عه] ځپل ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّتِیْ چه وخکئ عذاب د هغه اور کُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ (۴۲) چه وئ تاسے په

عه یعنی بے ځایه خپل چه هغه عبادت غیر له خدائ دے ۱۲

دنیا کښ چه دے تکذیب به موکولو چه قیامت او دوزخ نشته وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِمْ او په هغه وخت چه ولوستے شی په دوئ اٰیٰتُنَا بَیِّنٰتٍ ایتونه څوښه ښه دے حال چه واضح دی یعنی قرآن قَالُوْا مَا هٰذَآ نو وائی دوئ چه نۀ دے داسړے یعنی محمد صلی الله علیه وسلم اِلَّا رَجُلٌ یُّرِیْدُ مګر یوداسے سړے دے چه اراده لری اَنْ یَّصُدَّكُمْ دے چه وا پرې دے تاسے عَمَّا كَانَ له هغه څیزه چه وو دَآ یَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ چه عبادت به کاوو هغه پلرونو نوستا سے وَقَالُوْا مَا هٰذَآ اوبل دا وائی دوئ چه نۀ دے دا کلام چه لولی یے دے یعنی قرآن اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ؕ مګر دروغ دی له ځانه سازشوی او په خدائ تړلے شوی وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا او وائی هغه کسان چه کافر دی له مکیانو لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ حق ته چه قرآن یا اسلام یا امر د نبوت دے هر کله چه راغے دوئ لره اِنْ هٰذَآ چه نۀ دے اِلَّا سِحْرٌ مُّبِیْنٌ ۝۴۳ مګر جادو دے ښکاره او داخبره دوئ له کومه کوی وَمَآ اٰتَیْنٰهُمْ اوحال داچه نۀ دے ورکړے مونږه دوئ ته مِّنْ كُتُبٍ یَّدْرُسُوْنَهَا له کتابونو رالیږلو شوی چه لولی دوئ هغه کتابونه او په هغوکښ دلیل وی واضح په صحت د شرک وَمَآ اَرْسَلْنَآ او نۀ لیږلی وو راَلَیْهِمْ قَبْلَكَ دوئ ته پخواله تا مِنْ نَّذِیْرٍ ؕ ۝۴۴ کومه ویروونکے چه بولی دوئ شرک ته او ویروی ئے ترک د هغۀ وَكَذَّبَ الَّذِیْنَ او تکذیب کړے وو هم داسے هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ چه پخوا وو له د انبیاء علیهم السلام وَمَا بَلَغُوْا او حال داچه نه دی رسیدلی دا مکیان مِعْشَارَ مَآ اٰتَیْنٰهُمْ لسمے برخے دهغه ته چه ورکړے وو مونږه هغه پخوانیو لره یعنی پیر قوت او پیر مال او پیر عمر او معشار عشرته وائی فَكَذَّبُوْا رُسُلِیْ ۫ قف پس تکذیب وکړۀ هغه پخوانیو د رسولانو خُما فَكَیْفَ كَانَ نَكِیْرِ ۝۴۵ ع پس وګوره چه څرنګه وو انکار خُما په دوئ چه یوځکن اوهلاک م کړۀ ؤ ټول. نو دوئ دِهم ویږیږی چه هم هغسے پرے ونۀ شی چرے قُلْ اِنَّمَآ وایه دوئ نه چه بیشکه هم داخبره ده اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ پند درکوم تاسے ته د یوے خبرے او هغه خبره اَنْ تَقُوْمُوْا داده چه راپا خیږئ تاسے له مجلسه د رسول صلی الله علیه وسلم سخه لِلّٰهِ محض د پاره د لحاظ د خدائ نه د پاره دهوا د نفس او د تعصب اوبیا سره هم بیل شُنًى وَفُرَادٰى دوه دوه او یو یو یعنی یا سره دوه دوه شئ اوبیا هر یو د حاصل دخپل فکر وائی بل ته اما په طریقه د صدق او د انصاف چه دا فکر صادق ئے مفضی شی معرفت د حق ته او یا سره یو یو شئ چه هر یو سړے خپل فکر راوټول که

او د افکر بیاله عقل سره وجنګوی په عدل او په انصاف سره او پاخیدل له مجلس څکه وائی چه فکر دسړی په مجلس کښ مشوش وی نو چه څان له شو نو فکر به ئے راتول شی او صواب به راښکاره له له خطا څخه نو میاید چه اول راپاخیدل وکړئ ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا۟ تر بیا شبهٔ فکر وکړئ په باب د محمد صلی الله علیه وسلم کښ یعنی په رسوخ دافعالو او افعالو او احوالو د ۀ کښ له اوله تر آخره نو پخپله به درته معلوم شی داچه مَا بِصَاحِبِكُم نشته په منګری ستاسے پورے چه محمد صلے الله علیه وسلم د ے . مِّن جِنَّةٍ ؕ هیڅ قدر جنون چه موجب وی د دعوی د نبوت بلکه کمال د عقل د ۀ تاسے ته پخپله معلوم د ے او د اکافی د ے په باب د صدق د ۀ کښ پس هر کله چه مجنون نشهٔ نو اِنْ هُوَ نَذِيرٌ نهٔ دے د احمد صلی الله علیه وسلم اِلَّا نَذِيرٌ لَّكُمْ مګر ویرو ونکے مقرر کړے شوے د ے تاسے لره بَيْنَ يَدَىْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿۴۶﴾ په مخکښ د سخت عذاب چه هغه عذاب د ے د قیامت او کهٔ د دوئ وبیریدی له طلب د اجرت په د ے انداز نو قُلْ مَا سَاَلْتُكُم مِّنْ اَجْرٍ و وایه دوئ ته چه هر هغه چه وغوښتل مالونه تاسے له اجرته په د ے انداز او تبلیغ څما د پیغام فَهُوَ لَكُمْ ؕ پس هغه د هم ستاسے وی او ما لره مے له سوه مهٔ راکوئ اِنْ اَجْرِىَ نه د ے اُجرت د دعوت څما اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ مګر په خدائ د ۀ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿۴۷﴾ او د ے په هر څیز باندے شاهد ګواه قُلْ اِنَّ رَبِّىْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ بیا ووایه دوئ ته چه بیشکه رب څما چه د ے يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ راغورځوی حق یعنی راالیږی وحی په هر چا چه اراده ئے وشی یا شیندی دین د اسلام سره له احکامو ئے په افاتو کښ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿۴۸﴾ چه د ے ښهٔ خبردار د ے په پټو لو پټو شیانو ؤ چه هیڅ ترے مخفی نهٔ د ی قُلْ جَآءَ الْحَقُّ بیا ووایه ورته چه اوس راغے حق چه قرآن یا اسلام د ے اوهر چه ابلیس یا بت ترے هغه په هیڅ قادر نهٔ د ے لکه چه وائی وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ اوپیدا کولے نهٔ شی باطل چه ابلیس یا بت د ے یوا د نی څیزهم وَمَا يُعِيدُ ﴿۴۹﴾ اونهٔ بیرته ژوند ے کولے شی کوم مړے یعنی نه په خلق دپاقادر د ے اونهٔ په بعث ئے قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ بیا ووایه ورته چه که چرے واخیزیدم زهٔ له لارے د حق لکه چه ګمان کوئ تاسے په ما فَاِنَّمَا اَضِلُّ پس بیشکه هم د اخبره د چه به ولغزیږم عَلٰى نَفْسِىْ ۚ په څان خپل یعنی ضرر به ئے هم د غه ماته بیرته راجع وی وَاِنِ اهْتَدَيْتُ او که پسے لارے روان وم فَبِمَا يُوْحِىٓ پس په سبب د د ے د وحی چه راالیږی اِلَىَّ رَبِّىْ ؕ ما ته

رب حما حُکه چه توفیق دهغه له جانبه، دے اِنَّهٗ سَمِیْعٌ بیشکه چه دے اوریدونکے دے دهرڅهگتار
دبنده قَرِیْبٌ ﴿۵۰﴾ نزدے دے هم ماته اوهم تاسے ته نوجزا دعمل به هرپوله ورکه وَلَوْ تَرٰۤی اوکهٔ
وویئے تهٔ اوجواب ئے محذوف دے چه دادے لَرَاَیْتَ اَمْرًا عَظِیْمًا ۔ اِذْ فَزِعُوْا هغه چه وویریږی دوئی
په وخت دمرګ یا دبعث یا دبدر فَلَا فَوْتَ پس نهٔ به وی هلته هیڅ خلاصے له عذابه نه پتیخته او
نهٔ په پتیدلو وَاُخِذُوْا اوونیولے شی دوئی ته مِنْ مَّكَانٍ قَرِیْبٍ ﴿۵۱﴾ له هغه ځایه چه به نزدے
وی یعنی له زمکے قبر ته یاله موقفه دوزخ ته یاله صحراله بدره کوهی ته وَّقَالُوْۤا اٰمَنَّا بِهٖ اووائی مشرکان
چه ایمان راوړیدے مونږه په خدائ یا په پیغمبر علیه السلام یا په حشر وَاَنّٰی لَهُمُ التَّنَاوُشُ
اوله کومه به وی دوئی لره تناول دایمان یعنے ایمان به دوئی ته څرنګه راورسیږی اودوئی به ونیسی
مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِیْدٍ ﴿۵۲﴾ له لرے ځایه چه هغه دارالتکلیف دے یعنی بیرته دارالتکلیف ته دوئ ځوک نهٔ
بیاڅی اوایمان دلته ورلهٔ نهٔ شی راتلے چه له تکلیف وتلی نوخود سره لرے شو وَلَقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ او
حال داچه کفر اختیار کړے وو دوئی په خدائ یا په پیغمبر علیه السلام یا په حشر مِنْ قَبْلُ ۚ
پخواله دے په دارالتکلیف کښی وَیَقْذِفُوْنَ بِالْغَیْبِ اوګزارول به دوئی په ناديده په ناخبره درسول
اودبعث په باب کښی خبرے نالائقے چه رسول علیه السلام به ئے ساحر، شاعر، کاهن بالهٔ او
قرآن به ئے سحر، شعر، کهانت بالهٔ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِیْدٍ ﴿۵۳﴾ له لرے ځایه له حق اوله صدق اوله
صواب چه هغه دار د آخرت دے وَحِیْلَ بَیْنَهُمْ اوپرده اوجدائی واچولے شوه په مابین ددوئی کښی
وَبَیْنَ مَا یَشْتَهُوْنَ اوپه مابین دهغه څیز کښی چه ارزو اوارمان ئے کوی چه هغه قبول دے ایمان
اوبیرته راتلهٔ دی دنیا ته كَمَا فُعِلَ لکه چه کړے شوے وو دا کار بِاَشْیَاعِهِمْ له هم سنګو ددوئی
سره له پخوانیو کفارو مِنْ قَبْلُ ۚ پخواله دے یعنی له هغوبه هم ایمان دباس نهٔ قبلیدهٔ اِنَّهُمْ
بیشکه دوئی چه وو كَانُوْا فِیْ شَكٍّ وو دوئی په دلسے گمان مُّرِیْبٍ ﴿۵۴﴾ چه په ریب اوتردد کښی اچولے دے

سُوْرَةُ فَاطِرٍ (۳۵) مکیة (۴۳) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ اٰیَاتُهَا ۴۵ رُكُوْعُهَا ۵

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حمد اوثنا ده هغه خدائ لره فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ چه هغه نوے پیدا کړونکے دے دآسمانونو نو

وَالْاَرْضِ اودزمکے جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا چه کونکے دے دملائکو استاذی چه پیغام ددۀ راوړی انبیاؤ ته دے استاذی اُولِیْٓ اَجْنِحَةٍ خپلتنان دوزړه مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ط دوه دوه اودرے درے اوخلور خلور اومراد له دے خصوصیت دهمدغه اعداد واونفی دزیادت نه دے لکه چه حدیث کښ دی چه جبریل علیه السلام شپږسوه وزرے لری يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ زیاتوالے کوی دے په پیدایښت کښ مَا يَشَآءُ ط هرهغه قدرچه اراده ئے وشی په وزړو دملائکو کښ یا په صفاتو داد میانو کښ لکه عقل اوعلم اوکرم اوفصاحت اوحسن اوملاحت اوقوت اوشجاعت اوصبر اوسخاوت اوتواضع او عفت اوصدق اومحبت اودا اسے نور دیر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ① په هر څۀ قادر دے مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ هرهغه چه پرانزی خدائ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ د پاره دخلقو اوراليږی دوئ ته له رحمت خپله لکه نعمت اوعافیت اوفراخی اوصحت اودا اسے نور دیر فَلَا مُمْسِكَ لَهَا هیڅوك نشته هیڅوك حصارونکے هغۀ لره وَمَا يُمْسِكْ او هرهغه چه حصارکه دے له خلقو لره عطا خپله فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ پس له سره نشته لیږونکے دهغۀ هیڅوك مِنْۢ بَعْدِهٖ ط پس له حصار ولو دهغۀ وَهُوَ الْعَزِيْزُ زبردے غالب اوقادر دے هم په ارسال اوهم امساك الْحَكِيْمُ ② پرحکمت دے چه دواړه په مقتضی د حکمت بالغه سره کوی يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ط یاد کړی نعمت دخدائ په تا سے له عدم ئے وجودته وو بیستۀ اوبیائے روزی درکړه اوبه احسانا توکښ ئے پټ کړئ هَلْ مِنْ خَالِقٍ نو ایاشته بل کوم خالق غَيْرُ اللّٰهِ په له خدائ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ چه روزی درکوی له طرفه د اسمانه په واسطه دباران سره وَالْاَرْضِ له زمکے په زرغونیدلو دګیاه سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ز ط نشته بل هیڅوك معبود برحق مګرهم دے فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ③ پس کوم طرف ته ګډاروله شی تاسے له لارے دتوحید وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ اوکه تکذیب وکه دامکیان ستا فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ پس په تحقیق تکذیب کړے شوے وو دهغو رسولانو مِنْ قَبْلِكَ ط چه پخواله تا تشریشوی دی اوهغو پرے صبر کولو نۀ هم دوئ په ایذاء صبر کوه وَاِلَى اللّٰهِ اوخاص خدائ ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ④ بیرته کړځولے شی تول کارونه نو تاله به دسبر جزا درکړی اودوئ لره دتکذیب يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه چه وعده دخدائ حق اوربښتیا ده چه قیامت اوحساب اوجزا داعمالو شته

فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا پس خبردار چه عزه نه که تاسے دا کیکے ژوندون چه اخرت درخه هیرنه
شی وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۵ اونه دغه کوی تاسے باللہ دغه کوونکے ۵ په کرم د خدائ عزه کونکے چه شیطان دے
اِنَّ الشَّيْطٰنَ بیشکه شیطان چه دے لَكُمْ عَدُوٌّ تاسے لره دشمن دے فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا پس تاسے هم
ونیسئ دے په دشمن اوطاعت ئے مه کوئ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ پس بیشکه هم د اخبره ده چه بولی دے د له
خپله چه کفار دی ځائ دهلاکت ته لِيَكُوْنُوْا دپاره دے دے چه شی دوئ مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۶ د ملکرو
د دوزخ په آخرت کښ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه کسان چه کافر شوی دی لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۵ مقرر دے
دوئ لره عذاب سخت وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے اوله شیطان ئے
مخالفت کړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دنیکو لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرر ۵ دوئ لره بخښش ګناهونو
وَاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۷ اواجر دپر لوئ چه رضوان اوجنت اودیدار دے اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ آیا پس هغه څوک
چه ښایسته کړے شوے دے دوئ ته سُوْٓءُ عَمَلِهٖ بد عمل د دۀ فَرَاٰهُ حَسَنًا پس وینی ئے دے ښائسته
لکه ابوجهل شۀ یا امثال د دۀ فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ گمراه کوی هر هغه
څوک چه اراده ئے وشی وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۵ اوسمه لار ښائی هر هغه چاته چه اراده ئے وشی فَلَا
تَذْهَبْ نَفْسُكَ پس نۀ دِ دې نفس ستا یعنی نه دِ مائل کیږی هلاک ته عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ط په
ګمراهئ د دوئ له جهته د دې پرافسوسونو نه دے چه ایمان ولے نه راوړی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا بیشکه چه
خدائ ښۀ پوهه دے بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۸ په هغه کارونو چه کوی ئے دوئ نوجزا به ورکه ورلره وَاللّٰهُ
الَّذِيْٓ اوخدائ هغه قادر مطلق دے اَرْسَلَ الرِّيٰحَ چه رالیږی دا درے قسمه بادونه چه قبول او
شمول او جنوب دے فَتُثِيْرُ سَحَابًا پس راپورته کړه دغه بادونه ورېځے فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ
پس راکاږه دوئ دغه ورېځ هغه کلی ته یعنی زمکے دهغه کلی ته چه مړه یعنی چه کلک بے کیاه پرته
وی فَاَحْيَيْنَا بِهِ الْاَرْضَ پس ژوندی کړه مونږه په دغه اوبو چه له دے ورېځے راوښوځی هغه وچه زمکه
بَعْدَ مَوْتِهَا ط پس له مړوالی اوله وچوالی كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۹ همدارنګه به وی حال دبعث هم مَنْ

عه یعنی د نفلوی تاسے ۱۲ صه یعنی وسوسه د شیطان مۀ منئ ۱۲ سه یعنی چه وسوسه د شیطان ئے نۀ ده منلے ۱۲
ضه یعنی رضامندی اوخوشحالی د خدائ ۱۲ لحه یعنی په مثل د ژوندی کیدلو د مړے زمکے به قیامت راشی اوخلق به ژوندی

شی پس له مرګه ۴ اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ۱۲

کَانَ هر څوک چه وی دے یُرِیْدُ الْعِزَّةَ چه غواړی عزت نو هغه په طاعت او په رضا د خدای کښ دے لکه چه وائی فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِیْعًا ط پس خاص خدائی له دے عزت ټول هم په دنیا او هم په اخرت کښ پس که څوک عزت دار ښو غواړی نو طاعت د کوی د خدائی. هم قولاً او هم فعلاً حُکه چه اِلَیْهِ خاص دهٔ ته یعنی مقام قبول او د رضا د دهٔ ته یَصْعَدُ الْکَلِمُ الطَّیِّبُ پورته خیژی خبرے پاکے چه کلمه طیبه ده یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ چه سرد عزت د دارینو هم د اده او هم د اسے نور اقوال حسنه دی لکه تسبیح او تحمید او تهلیل او ذکر او دعا او استغفار او قراءت د قرآن شهٔ او قیاس د ته الکلم الطیبه وو او یا هر جمع چه نهٔ وی د هغے او د واحد په میخ کښ مگر په ت سره په هغه تذکیر سره او تانیث د واړه روا دی وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ او نیک عمل چه د ے عبارت د ے له عبادت خاصه لکه صلوٰة او زکوٰة او حج او بنا د مسجد او کنو د ل د کوهی او یا نخو د ل د پل او صدقه او جهاد او د اسے نور افعال حسنه شو یَرْفَعُهٗ ط پورته کوی د غه پاکے خبرے د اعمل صالح مقام قبول نه او د اضمیر مستکن په یرفعه کښ راجع د ے اَلْکَلِمُ ته حُکه چه عمل نهٔ قبلیږی مگر په توحید سره وَالَّذِیْنَ او هر چه هغه کسان دی له قریشو یَمْکُرُوْنَ السَّیِّاٰتِ چه سازوی دوئی تانه بد مکرونه یعنے چه په دار الندوه کښ رنگا رنگ مصلحتونه د رته کوی څوک د حبس او څوک د قتل او څوک د اخراج لکه چه په سورهٔ انفال کښ بیان شوی دی لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ ط مقرر دے دوئی له عذاب د سخت په اخرت کښ وَمَکْرُ اُولٰٓئِکَ او فریب د د غه قریشو چه د ے ستاپه باب کښ هُوَ یَبُوْرُ (۱۰) د امکر فاسد او باطل او هلاک د ے یعنی بے فائده د ے وَاللّٰهُ خَلَقَکُمْ او خدائی په اول کښ پیدا کړی تاسے یعنی نیکه ستاسے چه آدم علیه السلام وو مِّنْ تُرَابٍ له خاورو ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیا تاسے د هغه اولاد ئے پیدا کړئ له نطفے یعنی له خاتکی د منی ثُمَّ جَعَلَکُمْ اَزْوَاجًا بیا کړئ د ۀ سره جوړے جوړے یعنے نښه او میږهٔ د یا ره د تو الد او تناسل وَمَا تَحْمِلُ اونهٔ اخلی حمل مِنْ اُنْثٰی هیڅ نښه چه فوزند ئے په نس کیږی وَلَا تَضَعُ اونهٔ ږدی هیڅ نښه هغه فوزند چه د د ے په نس کښ د ے یعنی نهٔ لنکیږی اِلَّا بِعِلْمِهٖ ط مگر پیوسته وی د اتول له علمه د ۀ سره چه یوه ذره هم تر ے پته نهٔ وی وَمَا یُعَمَّرُ او

---

۱۰ یعنی جوړول د جمات ۱۲ منه یعنی غذا کول د کفار و سره ۱۲ منه یعنی د یا ره د اولاد له تاسے نه تر

نهٔ شی او یا دوله مِنْ مُّعَمَّرٍ دهیڅ او یا د عمر و رکړے شوی وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ او نه هیڅ قدر کم کوله شی له عمره د بل معمره څخه چه عمرئ کم وی له هغه پخوانی معمره. او دا ضمیر راجع دے هغه بل معمر ته اګر که مذکور نهٔ دے. له مقابلے معلومیږی حاصل دا چه هیڅ زیاتوالے اوکم والے د عمر نهٔ دے اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مګر په کتاب کښ یعنی په لوح محفوظ کښ دا ټول مقرر کړے شوی او ښکلے پروت دے اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه دا اندازه د درازئ او د کوتاهئ د عمر چه ده عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ (۱۱) په خدائ اسان کار دے وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۚ او بل دا چه نه برابریږی سره دواړه سیند و نه یعنی خواږه او تریخ نو لو صفا تو کښی اګر کهٔ په بعض کښ سره برابردی لکه رطوبت اولین او برودت شو لیکن په ډیرو کښ سره متفاوت دی ځکه چه هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ دا یو خوږ دے چه نهایت ډیر خوږ والے لری سَآئِغٌ شَرَابُهٗ چه ښهٔ هضمیږی نکے او اسان تیریږی نکے دی له حلقه او به دهٔ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ او دا بل تریو دے مائل تریخوالی ته وَمِنْ كُلٍّ اوله هریو څخه له دغه دواړه قسمه سیندو نو تَاْكُلُوْنَ لحمًا طَرِيًّا خوږئ تاسے غوښے تازه یعنی ماهی وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ او بل راوباسئ تاسے له دغه تارخهٔ سیندہ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا کانړه له ملغلرو او له مرجانو چه اغوندئ تاسے یعنی اغوندوئ ښځې خپلوته تنبیه دامثال دے د مؤمن او د کافر چه دواړه اګر په بعض صفاتو کښ سره برابردی لکه اکل، شرب، نوم سخاوت، شجاعت. اما په ډیرو کښ سره متفاوت دی ځکه چه مؤمن په سبب د ایمان او اعمال صالحه ؤ سره خوږ دے او کافر له جهته د کفره او د عصیان خپل تریو تریخ دے وَتَرَى الْفُلْكَ او بل وینے به ته بیړئ او جهازونه فِيْهِ مَوَاخِرَ په هریو کښ له دے دواړو خبرونکی دا بو او دا موا خر جمع ده د ماخرة مؤنث د ماخر له باب د منع یمخر مخرٌ ا معنے ئ ځیرول دا بو لِتَبْتَغُوْا دپاره د دے نه چه ولټوئ تاسے مِنْ فَضْلِهٖ بعض له فضل د رب یعنی سود په سودا کرئ کښی وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (۱۲) او بل دپاره د دے چه بنائی وباسئ تاسے شکر په دا سے لوئ نعمت يُوْلِجُ الَّيْلَ ننه باسی د شپے یعنی ساعتونه د شپے فِي النَّهَارِ په ورځ کښ یعنی په هره ورځ کښ یو قطعه له شپے اخلی او په ورځ ئے زیاتوی او دا له اوله د انقلاب شتوی وی ان تر انقلاب صیفی پورے وَيُوْلِجُ النَّهَارَ او بیا هم دا سے

مه یعنی تر والے او نرم والے او یخوالے ۱۲ مسه یعنی خوراک ښائسته خوب او سخاوت او زړه ورتوب ۱۲ سه یعنی اول ذکر خیدو دڅرنی نه تر ګرځیدلو د اوړی پورے ۵

ننه باسی دے ورځ یعنی ساعتونه ئے فِی الَّیۡلِ لا په شپه کښ چه ۵ ره ورځ یوه قطعه له ورځے راغلی او په شپه ئے زیاتوی او دا بیا اول د انقلاب صیفی وی ان تر انقلاب شتوی پورے وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ رَ اوایل کړی دهٔ نمر او سپوږمی دواړه فرمان خپل کُلٌّ یَّجۡرِیۡ چه هر یو بهیږی یعنی روان وی په آسمان لِاَجَلٍ مُّسَمًّی ط ترهغه وخته پورے چه په نامه کړے شوی دی چه منتهی د دور ده یا ورځ ده د قیامت چه بیا جریان ئے ورک شی ذٰلِکُمُ اللّٰہُ رَبُّکُمۡ د اخالق و دے واړو مذکورو چه دے خدائ دے چه رب دے ستاسے لَہُ الۡمُلۡکُ ط هم دهٔ لره ده بادشاهی وَالَّذِیۡنَ تَدۡعُوۡنَ اوهر چه هغه بتان دی چه بولئ ئے تاسے او عبادت ئے کوئ مِنۡ دُوۡنِہٖ غیر له خدائ مَا یَمۡلِکُوۡنَ نهٔ لری اختیار دوئ مِنۡ قِطۡمِیۡرٍ ﴿۱۳﴾ له هغ مهینے پرد ے چه دخرما په هسته کښ پرته وی اِنۡ تَدۡعُوۡهُمۡ کهٔ چرے وبولئ تاسے دوئ یعنی دا معبودان خپل لَا یَسۡمَعُوۡا دُعَآءَکُمۡ نونهٔ اوری دوئ بل ستاسے حُکه چه جمادات دی اوجماد خو غوږ نهٔ لری وَلَوۡ سَمِعُوۡا اوکهٔ واوری په تقدیر د فرض سره مَا اسۡتَجَابُوۡا لَکُمۡ ط نو نهٔ درکوی جواب دوئ تاسے لره حُکه چه ژبه نهٔ لری وَیَوۡمَ الۡقِیٰمَۃِ او بیا په ورځ د قیامت یَکۡفُرُوۡنَ بِشِرۡکِکُمۡ ط منکران به شی دوئ په دے شریکولو او په دے عبادت ستاسے وائ بهچه ماکنتم ایانا تعبدون نهٔ وئ تاسے چه عبادت موکړے وو خُمونږه وَلَا یُنَبِّئُکَ اوخبر به نه کا تاله حقیقت دد ے کاره هیڅ خبر و نکے مِثۡلُ خَبِیۡرٍ ﴿۱۴﴾ په شان د هغه علام الغیوب چه خبردار دے په حقائقو امورو یٰۤاَیُّہَا النَّاسُ اے خلقو اَنۡتُمُ الۡفُقَرَآءُ تاسے ټول محتاج یئ اِلَی اللّٰہِ ج خدائ ته هرڅوک په هروخت په هرځهٔ کښ یعنی هم په روزئ هم په جنت هم په رضامندئ کښ وَاللّٰہُ او خدائ چه دے هُوَ الۡغَنِیُّ هم دے غنی بے پرواه دے چه هیڅ احتیاج نهٔ لری هیڅا تنه او منعم دے په ټولو موجودا تو په انواع د نعمتونو هم ظاهرًا او هم باطنًا الۡحَمِیۡدُ ﴿۱۵﴾ چه ستایلے شوے دے په انواع د محامدو او چه څوک خپل احتیاج ورته بنکاره کوی او سوال ترے کوی نو دے پرے خوشحالیږی او بنده ته چه سوال کوے نو خفه کیږی لکه شاعر وائ ۔ ؎

عه یعنی اول ذکر خُدیلو د اوړی نه تر ګرځیدلو د ژمی پورے ۱۲

وَاللّٰهُ يَغْضَبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَهٗ وَابْنُ اٰدَمَ حِيْنَ يُسْئَلُ يَغْضَبُ

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ كه اراده وشی دخدائی دلرے کولو ستاسے نو بیه ځی تاسے له روی زمین په هلاك سره وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ (۱۷) اودا به ولی دے نور مخلوق نوے چه له تاسے د پیر فرمان بردار وی یا دا سے مخلوق چه نۀ چا لیدلے او نه اوریدلے وی وَمَا ذٰلِكَ اونۀ دی دالرے کول ستاسے اوراوستل دنورو عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ (۱۷) په خدائی سخت وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اونۀ اخلی هیڅ نفس گنهکار وِّزْرَ اُخْرٰى ط باردگناهونو دبل نفس وَاِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اوکۀ وبولی کوم داسے نفس چه دروند وی باردگناهونو ځے بل څوك اِلٰى حِمْلِهَا باردگناهونو خپلونه چه څۀ قدرے ترے دے واخلی ورسره چه په هغۀ بار لږ سپك شی لَا يُحْمَلْ نو وابه نۀ خستے شی مِنْهُ شَيْءٌ له هغه باره دگناهونو دده هیڅ یعنی ډاډلے شوے به له بلونکی هیڅ قدر پیتے وَاِنْ كَانَ او اگر كۀ وی دا بلے شوے ذَا قُرْبٰى ط خښتن دخپلولۀ لکه پلار یا مڼۀ وی یا ورور یا بل کوم قریب وی حُكه چه دهرچا به خپل بار پیروروندوی نودبل چا به ور سره نۀ شی اخستے اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ بیشکه همدا خبره ده چه ویروے تۀ هغه کسان يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ چه ویریږی دوئی له ربه خپله پس شاله دۀ یا له عذابه یا له خلقو وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ط اوبرپائی لری دوئی مونځ خپل په خپلواوقتونو کښ وَمَنْ تَزَكّٰى اوهرهغه څوك چه ځان خپل پاك كه په كولو د طاعتونو اوپه ترك دمعاصیو سره فَاِنَّمَا پس بیشکه هم داخبره ده چه يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ط پاكوی ځان دپاره دنفس خپل حُكه چه نفع ددۀ پاكئ هم دۀ له وِاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ (۱۸) اوخاص خدائی لره ور تله دی دهرچا نوپاكان نوره به هلته جزا ورکوی دوے پاكئ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ (۱۹) اونۀ برابریږی سره پروند اوبینا یعنی كافر او مؤمن وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ (۲۰) او همدا سے نه سره تاریكئ اونه رنړا یعنی باطل اوحق وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ (۲۱) اوهمدا سے نه سره سوړے اونۀ ډیره گرمی یا گرم باد یعنی ثواب اوعقاب یا جنت اودوزخ وَمَا يَسْتَوِي الْاَحْيَآءُ اوهمدا سے نۀ برابریږی سره ژوندی وَلَا الْاَمْوَاتُ ط اونۀ مړی یعنی عالمان اوجاهلان اودا لاړ په دغو تولوکښ دپاره دتاکید دبقی داستوی دے او تکرارئ دپاره دزیادت دتاکید دے

عه خدائی په غضب كیږی كه څوك پریږدے ته سوال ددۀ - اوبنی آدم چه سوال كولے شی تر نه نو په غضب كیږی

اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائی یُسْمِعُ مَنْ یَّشَآءُ ج اوروی هرهغه چا ته چه اراده ئے وشی خبرے دپند اود هدایت چه موجب ئے شی دایمان وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ اونه ئے ته اوروینکے دقول نافع مَّنْ فِی الْقُبُوْرِ ﴿۲۲﴾ هغوته چه په قبرونوکښ پراته وی یعنی کفار اودوئی ئے مشابه کړه له مړیو سره حُکه چه دوئی دمړیوپشان نفع اوپند نه اخلی په مسموع خپل اِنْ اَنْتَ نه ئے ته اِلَّا نَذِیْرٌ ﴿۲۳﴾ مګر ویرونکے یعنی په تا فقط هم دا انذار اوابلاغ دے اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بیشکه مونږه چه یولیږلے ئے مونږه ته په رښتیا سره بَشِیْرًا وَّنَذِیْرًا د زیږے ورکونکے دجنت اوویرونکے له دوزخ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اونه ووهڅه ټولے دپخوانیو امم اِلَّا خَلَا مګرچه تیر شوے دے فِیْهَا نَذِیْرٌ ﴿۲۴﴾ په هغه کښ ویرونکے یا پیغمبر اویا کوم بل پوهنده چه انذار کوی وَاِنْ یُّكَذِّبُوْكَ اوکه دروغژن بولی دوئی تا، نو خفګان مه کوه حُکه چه فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِیْنَ پس په تحقیق چه نسبت دد روغوکړے ووخپلو پیغمبرانو ته هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ څه چه پخوا وله دوئی جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ چه راته غله دوئی ته رسولان ددوئی بِالْبَیِّنٰتِ په بنکاره معجزو سره چه به شاهدوی په نبوت ددوئی وَبِالزُّبُرِ او په صحیفو سره له جانبه دخدائ لکه صحیفے دشیث اوادریس اوادابراهیم علیهم الصلوٰة والسلام شوے وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِیْرِ ﴿۲۵﴾ اوپه کتاب بنکاره کونکی او بیانونکی داحکامو دحلالو اودحرامو لکه تورات اوانجیل شو ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بیا سونیول ما په سخت عذاب سره هغه کسان چه به کافر شو فَكَیْفَ كَانَ نَكِیْرِ ﴿۲۶﴾ ع پس څرنګه وو انکار اوعذاب څاوړئ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ ایا نه وینے ته چه بیشکه خدائ چه دے اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ج رابښکته کړی دی دهٗ له طرفه دآسمانه اوبهٔ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ پس راوویستلے مونږه له زمکے په واسطه ددغه اوبو سره میوے رنګارنګ لکه انار اوبهئ اومنړے اوزړه الوا وشفتالو اوانګورو اوانجړو اوداسے نورے دیرے مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا په دیحال چه سره مخالف وی رنګونه ددوئی چه د بعضو رنګ تورد بعضو سور د بعضو شین د بعضو زیر وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ او همدا سے پیدا کړی دی مونږه له غرو نو لاړے یعنی په غرو نوکښ رنګونه رنګارنګ بِیْضٌ وَّحُمْرٌ بعضے سپین او بعضے سره مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا چه سره مخالف دی رنګونه ددے سپینوا ودسرو په شدت اوپه ضعف کښ داسے چه بعض به ډیر سپین اوډیر سرهٗ وی ، بعض به هغسے ډیر به وی وَغَرَابِیْبُ سُوْدٌ ﴿۲۷﴾ اوبعض نور تک تور سیاه رنګ وَمِنَ

النَّاسِ اوس هم داسے له اُدمیانو څخه هم وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ اوهم داسے له نورو زنده سرو اوچارپایانو هم مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ چه سره مخالف دی رنګونه ئے كَذٰلِكَ هم داسے لکه چه مخالف دی رنګونه دمیوو اود رنګونو اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ بیشکه هم داخبره ده چه ویریږی له خدائ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا له بندګانو نود ډۀ پوهنده عالمان چه دی په صفاتو پوځ فی اوتعظیم ئے کوی څکه څولۀ چه ویږدا ناوی هغه ډیر ویریږی له دغه جهته انبیاء علیهم السلام اخوف وو له (ویریږی وئے) نو لو خلقو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾ غالب دے چه انتقام اخلی له دشمنانو خپلو بخښونکے دے چه مغفرت کوی دد وستانو خپلو اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ چه لولی دوئ کتاب دخدائ یعنی قران وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ او برپای لری همیشه مونځ خپل سره له شرائطو ادابو وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ اوورکوی دخدائ پجهت بعضے له هغه مال چه ورکړے دے مونږه دوئ لره سِرًّا پټ له خوف دریا وَّعَلَانِيَةً اوښکاره چه بل څوک ئے وویني اود هغه هم میل پیدا شی ورکولو ته یا پټ په نفلی کښ اوښکاره په فرضی کښ يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً امید لری دوئ دداسے سودا کړئ لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ چه له سره نۀ هلاکیږی اونۀ نقصانی کیږی اوزیان نۀ راولی خدائ په دے سودا کړئ کښ لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ دپاره دده چه پوره ورسوی خدائ دوئ ته اجرونه دحسناتو دوئ وَيَزِيْدَهُمْ اوزیاتے ورکه خدائ دوئ لره اجرداعمالو دوئ مِنْ فَضْلِهٖ له فضله خپله په ارتولو دقبر سره یا په تضعیف (دچند کولو) دحسناتو یا په اذن د شفاعت دپاره دخپلوانو او یارانو دوستانو اِنَّهٗ غَفُوْرٌ بیشکه چه دے بخښونکے دے دګناهکارانو شَكُوْرٌ ﴿۳۰﴾ قدردان دے چه په لږ عمل ډیر اجر ورکوی وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اوهرچه هغه دے چه راولیږلے دے مونږه اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ تا ته له کتابه چه قرآن دے اوداِ مِنَ بیانیه دے هُوَ الْحَقُّ هغه ربښتیا دے مُصَدِّقًا په دے حال چه ربښتینے بلونکے اوموافق دے لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ له هغه کتابونو سره چه ترے پخوا وو لکه تورات اوانجیل په عقائدو اوپه اصولو د احکامو کښ اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ بیشکه چه خدائ په بندګانو خپلو لَخَبِيْرٌ بَصِيْرٌ ﴿۳۱﴾ هر اُلنبه خبردار دے په پټو دوئ بیناد ے په ښکاره دوئ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ بیا پس کتب سابقه اوس میراث پاتے کړۀ مونږه داکتاب چه قران دے پس له تا یعنی حکم وکړۀ مونږه په میراث پاتے کولو دے کتاب الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا هغه کسانو ته چه

غوره کړې دی مونږه د ئی اوعامله پکښې محذوف دے چه په اصل کښې اصطفیهم دے مِنْ عِبَادِنَا له بندګانو څخه اوچه هغه امتیان ستاوی اے رسوله کهٔ اصحاب دی اوکهٔ تابعین اوکهٔ تبع تابعین او کهٔ څوک به راځی اوپیدا کیږی این ترقیامته پورے او داحکه چه خدائ دوئ غوره کړی دی په ټولو بخوانیوامموباندے لکه چه ویلی وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ الاٰية اودوئ ئے خاص کړی دی په ټولو امموپه دے چه امت ئے کړی دی دسرناځ د ټولو رسولانو چه بنی اخرالزمان دے لکه چه محمد بصیری صاحب ویلی دی په قصیده برده کښې ؎

لَمَّا دَعَى اللّٰهُ دَاعِيْنَا لِطَاعَتِهٖ بِاَكْرَمِ الرُّسْلِ كُنَّا اَكْرَمَ الْاُمَمِ

بیادا امت په درے قسمه شولکه چه وائی فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ج پس بعض له دوئ هغه څوک دے چه ظالم دے پخپل ځان ځکه چه څښتن دے دکبائرو ویاچه سیّئات ئے ډیر دی له حسناتو یاچه جاهل دے یاچه اخرت ئے یعنی هیڅ نه له جهته دډیر شغل ددنیا یاچه عبادت کوی په غفلت اوپه عادت سره چه دنیا راټولوی بے پرسانه کهٔ حلاله وی کهٔ حرامه یاچه طالب وی یوازے دنیا وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ اوبعضے ترے میانه رودی ځکه چه څښتن دی دصغایرو ویاچه سیّئات ئے برابر دی لحسناتو سره یاچه متعلم دے یاچه دنیا اواخرت ئے دواړه په نظرکښې دی یاچه عبادت په خوف اوپه رجا سره یاچه سعی کوی په طلب دحلالو لکښې یاچه طالب وی دیوائے عقبیٰ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرٰتِ اوبعض هغه څوک دی چه ځان وړومبے کولنکی دی هرکار د خیرته اوهمیشه په عمل داحکامو دقرآن مشغول دے یاهغه دے چه مجتنب وی له کبائرو له صغائرو ویاچه حسنات ئے ډیر وی له سیّاتو یاچه عالم وی یاچه دنیائے هیره وی له ډیره شغله دعقبیٰ یاچه عبادت کوی محض په استحقاق یاچه دنه ئے شاوی کهٔ حلاله وی اوکهٔ حرامه یاچه طالب وی یوائے دمولیٰ کذا فی المدارك بِاِذْنِ اللّٰهِ په اذن اوپه توفیق دخدائ سره ذٰلِكَ دا توریث اواصطفی چه ده هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ۳۲ دا یوفضل دے

عه دبیت د قصیدے مبارکے معنیٰ دا ده چه هرکله ویالله الله جل جلاله رسول صلے الله علیه وسلم عبادت ته په ډیر غوره درګو علی نبینا وعلیه السلام سره نو مونږ هم په ډیر غوره دامتونو لقوله علیه السلام فی الحدیث القدسی انک خیر الوسل وانک خیار هم تنه چه ئے اے محمد صلعم مونږ د ټولو رسولانو ئے او امت ستا غوره دامتونو دوئ دے ۱۲ مولانا جلال الدین رومی ؒ عه یعنی په ویره له دوزخ اوپه امید د جنت سره ۱۲ سه یعنی چه ځان ساتی دګناهونو لږ او د ورکوونه ۱۲ صه یعنی میراث د قرآن او غوره والے دده وئ دے ۱۲

د بیر لوی جَنّٰتُ عَدْنٍ جنتونه داقامت چه دی يَدْخُلُوْنَهَا نوحئ به دا درے واړه طائفے چه بیړته ذکر شوی دی په دے جنتونو د عدن کښ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا چه په لاس کاوه به شی دوئ نه په دغه جنت کښ مِنْ اَسَاوِرَ له وخیو څخه یعنی وخی اودا اساور جمع ده دا سورة اود ے بیا جمع دے د سِوَار چه ساز شوی دی د اوخی مِنْ ذَهَبٍ له سره زر وخالصو وَّلُؤْلُؤًا اوله ملغلرو صافو چه په دغو وخیو به جړاو وی اوداعلاً دیادشاهانو د عربو ده لکه تاج د عجمو وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾ او اغوستن د دوئ په دغه جنت کښ د ریابی به وی خونه لکه د ریابی د دے جهان حُکه چه هغه به چا اوډلی نه وی وَقَالُوْا او وبه وائی دوئ چه له دوزخ تیر شو اوپه جنت کښ داخل شوچه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ ثنا ده هغه خدائ لره چه اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ط لرے کړد اوبوتهٔ د هٔ لره مونږ خفګان د نور یا د موت یا درد د طاعاتو اِنَّ رَبَّنَا بیشکه رب څمونږه چه دے لَغَفُوْرٌ هر اُټینه بخښونکے دے د ګناهونو اګرکهٔ پیر وی هم شَكُوْرٌ ﴿۳۴﴾ قبلونکے دے د طاعاتو اګرکهٔ لږ وی هم الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا هغه رب چه پیړه کړد ده مونږه دَارَ الْمُقَامَةِ په هویلے د اقامت چه هیڅوړے به ترے نهٔ لرے کیږ و نه په موت اونهٔ په اخراج مِنْ فَضْلِهٖ ج له فضل اوله ځمربانۍ خپلے نه څمونږه عمل سره لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا چه نهٔ به رسیږی مونږه ته په دے دار د اقامت کښ نَصَبٌ هیڅ سختی اومشقت وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿۳۵﴾ اوهمدا سے نهٔ به رسیږی خفګان ۱۲ مونږه ته په دے دار کښ ستومانی اوملالی ځکه چه تکلیف پکښ نشته وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوهر چه هغه کسان دی چه کفرئ اختیار کړے دے لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ج دوئ لره مقرر دے اور د دوزخ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ نهٔ به شی کولے حکم په دوئ د مرګ فَيَمُوْتُوْا پس چه مړه شی دوئ او په ارام شی وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ اونهٔ به سپکوالے کاوهٔ شی له دوئ مِّنْ عَذَابِهَا له عذاب د دے اور د دوزخ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ همدا سے جزا ورکوو مونږه كُلَّ كَفُوْرٍ ﴿۳۶﴾ هر شکر بے ایمان ته وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ فِيْهَا ج او دوئ به سورے وهی او فریاد به کوی په دے دوزخ کښ اوداسے به وائی چه رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا اے ربه څمونږه یوکرت وباسه مونږ له دے دوزخ او بیا ولیږه مونږه دنیا ته نَعْمَلْ صَالِحًا چه وکړو مونږه هلته نیک عمل غَيْرَ الَّذِيْ غیر له هغه عمله كُنَّا نَعْمَلُ ط چه وو مونږه چه کاوو به مو پخوا په دنیا کښ اوداسورے به مودو مره موده وی لکه اول د دنیا تر آخره پورے بیا نو رب العزت به ورته وائی چه

اَوَ لَمْ نُعَمِّرْكُمْ ایا نه وو در کړے مونږه تاسے له عمر مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ دومره قدر چه پند اخلی په هغه کښ مَنْ تَذَكَّرَ هر هغه څوك چه طلب لری دڈے چه پند واخلی وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ اوراغلے وو تاسے له ویرونکے چه پیغمبر وو یا کتاب یا موت یا د اقران یا سپین ویښته نو دوئ به وائی چه هو عمر دم راکړے وو او ویر ونکے هم راله راغلے وو بیا نو رب العزت به ورته وائی چه فَذُوْقُوْا پس وڅکئ عذاب دوزخ فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ پس نشته ظالمانو یعنی کافرانو له مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۳۷﴾ مدد کار هیڅوك چه له دے عذاب نه ع

خلاص کړے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ خبردار دے په پټو د اسمانونو وَالْاَرْضِ او دزمکے یعنی هرچه له تاسے پټ دی هغه ټول دهٔ ته بنکاره دی اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بیشکه چه دے آگاه دے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۳۸﴾ په هر هغه شے چه پټ دے په سینو کښ یعنی په زړونو د خلقو کښ نو هر کله چه په پټو زړونو خبر دے نو په نورو پټو خو به به طریقه اولی سره خبر وی هُوَ الَّذِیْ دے هغه قادر مطلق جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ چه کړ تاسے خلیفکان د نیو خلقو فِی الْاَرْضِ په زمکه کښ یعنی تاسے د پخوانیو خلقو په ځای کینولئ او تصرف دزمکے ئ تاسے له درکړو او حظوظ او لذ وذئ ټول درته مباح کړه چه شاکران شئ او توحید او طاعت په لاړے روان شئ فَمَنْ كَفَرَ پس هر څوك چه کافر شئ یا کفران ئے وکړهٔ دے نعمت فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ پس بارڈے په دهٔ د اکفر یا کفران د دهٔ یعنی موجب شئ د غضب د خدائ او د خسارت د اخرت لکه چه وائی وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ او نه زیاتوی د اکفر د دوئ عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد رب د دوئ اِلَّا مَقْتًا مګر غضب وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ او نهٔ زیاتوی کافرانو ته د اکفر د دوئ اِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ مګر زیان قُلْ اَرَءَيْتُمْ ووایه دوئ ته چه ایا وینئ تاسے شُرَكَآءَكُمُ الَّذِيْنَ هغه شریکان ستاسے تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ چه بلل به مواوعبادت به موکولو د دوئ غیر له خدائ اَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقُوْا وښائئ تاسے ماته چه کوم شے پیدا کړے دے خدایانو ستاسے مِنَ الْاَرْضِ له زمکے څخه اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ اوکه شته د دوئ له کوم قسم شریکوالے فِی السَّمٰوٰتِ په پیدا وښت د اسمانونو کښ نو که خدائ سره په الوهیت کښ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا اوکه ورکړے دے مونږه دوئ له کوم کتاب چه هغه ناطق دے په دڈے چه دوئ شریکان دی فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ پس دوئ په یاڅهٔ حجت ولاړ دی له هغه کتابه او دا یوهم نهٔ دے بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بلکه نهٔ کوی

وعده داظالمان یعنی مشرکان بَعْضَهُمْ بعض دووئ چه اشراف او مشران دی بَعْضًا بعضو نورو تجه
ازدال اواتباع دی اِلَّا نُفُوْرًا (۴۲) مکر دغه کولو په مکراو په فریب سره چه ورته والی چه دابتان به سنا
شفاعت وکه خدائ څخه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ ساتی دا اسمانونه وَالْاَرْضَ
او دازمکه اَنْ تَزُوْلَا ۚ له دې چه زائل شی یعنی چه لهٔ دایه خپلې بې ځایه شی ځکه چه ممکن لره په
حال د بقا کښې لازم دے ساتونکے خامخا وَلَئِنْ زَالَتَآ اوکه هغ په زوال شی دا دواړه په طریقه
دفرض سره اِنْ اَمْسَكَهُمَا نو وبه ئے نهٔ ساتی له زواله مِنْ اَحَدٍ هیڅوک مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ غیر له خدائ
اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے دے حَلِيْمًا څښتن د حلم چه مشرکان زرنهٔ نبسی په شرک غَفُوْرًا (۴۱)
بخښونکے دے تابانو له شرک روایت دے چه قریشو او وریدل پخواله بعث درسول صلے الله علیه
وسلم چه اهل کتابونکذیب وکړهٔ دخپلو رسولانو نو دووئ وویل چه لعنت دوی دوخت په یهود و
او په نصارئ وُ چه رسولان ئے ونه منل قسم دے کهٔ مونږه له رسول راغلے وُ نو هرا ئینه وو به مونږه
ډیر سم په لارے له هر یو له دے نولو. بیا چه رسول صلے الله علیه وسلم پیدا شهٔ او دووئ ونهٔ مانهٔ نو نازل
شهٔ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ اوسوګند کوی په خدائ دا کفار د مکه جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ په هغه سخت سوګند خپل سره
په دے چه لَئِنْ جَآءَهُمْ هرا ئینه کهٔ چرے راغے دووئ لره نَذِيْرٌ ویرونکے یعنی پیغمبر صلی الله علیه
وسلم لَيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى نو هرا ئینه وی به دووئ ډیر برابر په سے لارے مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ له یو د
تیرو امتونو چه یهود او نصارئ او نورو امم دی یعنی هر یو چه واخلے د دغه تیرو امو مونږه ترے ډیر
سم پو فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ پس هرکله چه بیا راغے دووئ له ویرونکے چه محمد صلے الله علیه وسلم دے
مَّا زَادَهُمْ نور زیات نهٔ کړه دے را تلو دهٔ دووئ ته اِلَّا نُفُوْرًا ۙ (۴۲) مګر تښته له حقه او لرے کیدل
اِسْتِكْبَارًا فِي الْاَرْضِ د پاره د طلب د لویئ په زمکه کښې وَمَكْرَ السَّيِّئِ ؕ او د پاره د کولو د بد مکر په
رسول صلے الله علیه وسلم پورے چه هلاک ئے کړے وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ او احاطه نهٔ کوی دا بد مکر
اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ مګر په اهل خپل باندے چه مکر کونکے اوله دووئ نه ئے هم بیا احاطه وکړه په ورځ د
بدر فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ پس آیا انتظار کوی دووئ یعنی نهٔ کوی اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ مګر د لارے د پخوانو
مکذبانو چه هغه تعذیب دووئ په وو په تکذیب د دووئ فَلَنْ تَجِدَ پس له سره به نهٔ موے تهٔ لِسُنَّتِ اللّٰهِ

لارے اوعادت دخدائ لره تَبْدِيلًا ۚ بدلول اوتغیر ورکول چه عذاب ددهٔ څوك په ثواب بدل که
وَلَنْ تَجِدَ اوبیاله سره یه نهٔ مومے تهٔ لِسُنَّتِ اللّٰهِ لارے اوعادت دخدائ لره تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾ گرځول اوله
مستحق چیول بل چانته اَوَلَمْ يَسِيرُوا ایا نهٔ دی گرځیدلی دامکیان فِي الْأَرْضِ په زمکه دشام او
دیمن اودعراق کښی فَيَنْظُرُوا پس چه ووینی دوئ په لاره دئ اوطانونکښی كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وو
عَاقِبَةُ الَّذِينَ اخره خاتمه دهغه مکذبانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا له دوئ تیر شوی دی لکه عاد اوثمود
اودَ نور وَكَانُوا اَشَدَّ اوسره له دے چه ووهغه پخوانی مکذبان دپیر سخت مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ له دهغه
مکیانو څخه په قوت کښی اوهغه هلاك کړے شو په سبب دَ دے تکذیب وَمَا كَانَ اللّٰهُ اونهٔ دے خدائ
دا سے لِيُعْجِزَهُ مِنْ شَيْءٍ چه عاجز کړه دے کوم څیز دا سے چه ترے فوت شی یا ترے تیر شی فِي
السَّمٰوٰتِ نه په اسمانونو کښی وَلَا فِي الْأَرْضِ اونه په زمکه کښی اِنَّهٗ كَانَ بیشکه چه دے
عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾ دانا په احوالو دهرچا قادر په تصرف په دوئ کښی چه څرنګه ئے
اراده وی بے مزاحم وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ اوکه چرے نیولے خدائ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا دا خلق په
سبب دهغه شرك اومعصیت چه کړے وَمَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا نو پریخے به ئے نهٔ وو په شاد دے زمکے
مِنْ دَآبَّةٍ هیڅ زنده سوے وَلٰكِنْ يُؤَخِّرُهُمْ لیکن وروستی کوی دوئ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ تر وخته
په نامه کړے شوی پورے فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ پس چه راغے اجل د دوئ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ پس بیشکه
دے خدائ بِعِبَادِهٖ بَصِيرًا ﴿٤٥﴾ په بندګانو خپلو بینا

سُوْرَةُ يٰسٓ — مَكِّيَّةٌ (٣١) — (٤١) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ٨٣ — رُكُوْعُهَا ٥

يٰسٓ ﴿١﴾ په دے کښی هم متاخرینو رنګا رنګ اقوال کړی دی نوځکه وائی چه دانوم دخدائ دے
اوځکه وائی چه دانوم د پیغمبر علیه السلام دے لکه حدیث دے چه اِنَّ اللّٰهَ سَمَّانِي فِي الْقُرْاٰنِ
بِسَبْعَةِ اَسْمَاءَ مُحَمَّدٌ وَاَحْمَدُ وَطٰهٰ وَيٰسٓ وَمُزَّمِّلٌ وَمُدَّثِّرٌ وَعَبْدُ اللّٰهِ اوځکه وائی چه

عه بیشکه چه خدائ نامه اینبے ده مالونه په قرآن کښی په اوو نومونو سره یو محمد دوئم احمد دریم طٰهٰ څلورم یٰسٓ
پنځم مزمل شپږم مدثر اوم عبد الله ۱۲

د اسورۃ دے لکہ حدیث دے چہ اَنَّ اللّٰہ قرءطٰہٰ ویٰسٓ قبل ان خلق السموت والارض بالف عام اوشوك وائی چہ دده معنیٰ یا انسان ده په ژبه دبنی طی - او اصل یا انیسیین دے بیا نو اختصار پکښ وشو د پاره د خفت دآ چه د ا دوه کلمے دے نو له هرے یوے ئے یو حرف واخست یعنے له یا ئے ئی اولہ انیسیین ئے سٓ راواخست نو یٰسٓ شواو دسورۃ مٰتمّمهم بالهُ شی حُکه چه مقاصد د ا دینو تاموی دخپل قاری اود آ فعه هم بالهُ شی حُکه چه دفع دټولو مکار هو ترے کوی - او قاضیه هم بالهُ شی حُکه چه حاجات ئے ټول ترسره کوی او قلب القرآن هم بالهُ شی حُکه چه حدیث دے چه لکل شیءٍ قلب وقلب القرآن یٰسٓ روایت دے چه کفار و د مکے هرکله وویل رسول صلے اللہ علیه وسلم ته چه تهٔ خدائ نهٔ ئے را لیږلے اود ا ټول له حُانه وائے نو نازل شو وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۙ(۲) قسم دے په هغه قرآن چه محکم دے یا حکم کونکے دے په حق یا خښتن دے د حکمت اِنَّكَ اوبیشکه تهٔ چه ئے لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۙ(۳) له هغو رسولا نو چه لیږلے شوی دی خلقو ته عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ؕ(۴) روان په سمے لارے اور الیږلے شوے دے تا ته د اقرآن تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ پـه را لیږلو د هسے خدائ غالب سره چه معاند ان ئے عاجز کړی دی په فصاحت اوبلاغت دده منزل سره الرَّحِيْمِ ۙ(۵) مهربان دے پرے چه دوستان ئے رابنکلی دی خپل ځان ته په لطف اوپه لذیذ خطاب اود اراغلے دے تا ته لِتُنْذِرَ قَوْمًا دپاره د ے چه وویروے تهٔ هسے قوم مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ چه نهٔ وو ویرولے شوی پلاران د دوئ این اسمٰعیل علیه الصلوٰۃ والسلام پورے چه د ازمانه دفترۃ وه قریب ځلور زره کلونو ته به وه فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۙ(۶) پس دوئ یعنی غافل اوبے خبره دی له توحیده اوله ایمانه اوله هدایته لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ هراٸیـنه په تحقیق واجب شو هغه کفت د عذاب چه د ا دے لاملئ جهنم من الجنة والناس اجمعین عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ په ډیاتو د دوئ یعنی په ازل کښ حکم شوے دے په دے چه دوئ به مری یا به قتلیږی به کفر لکه ابوجهل او امثال د ده فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ(۷) پس نو دوئ ایمان نه راوړی او د ا حُکه چه اِنَّا جَعَلْنَا بیشکه مونږه چه یو اچولی دی مونږه فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا په کړد نو نو د دوئ کښ طوقونه پس له پیوسته کولو د د وارو لاسونو د دوئ په پاس زنود دوئ کړد نو نو خپلو پورے فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ

عه معنی د ا چه بیشکه خدائ نو ستلے وه سوره طٰہٰ او یٰسٓ پخواد پیدا ښت د آسمانونو او د زمکے زر کاله ۱۲

پس دا طوقونه رسیدلی دی پاس زنو د دوئ ته له جهته د ډیر پلنوالی نو د ے طوق سر ونه د دوئ د ے
کلک نیولی دی چه له سره حرکت ته ے نه ځیږی دی نو هر کله چه دا سے شئ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ۸ پس
دوئ ځک سری کړے شوی دی او سترګے ے هم پټے کړے دی نو نه سر ښکته کولے شی او نه ګردن
راکړولے شی او نه سترګے غړولے شی حق ته روایت د ے چه ابوجهل سوګند کړے وو چه
کهٔ محمد صلے الله علیه وسلم په مانځه کله ماوليده نو په سجده کښ به ے سرمات کړم بیا چه په مانځه
ے ولیدهٔ نو تیږه په لاسونو کښ وله راغے چه تیږه ے پورته کړه نو په ګردن پورے ے ګلکه وخته
او به لاسونو پورے ځم سلیخت شوه نو بیرته راغے او هغه تیږه په ډیره سختئ خلقو تړ لرے
کړه بیا بل سړی ووایل چه زه به اوس لاړشم او سر به ئے پیه د م تیږه مات کړم نو چه هغه تیږه
په لاس نزدے راغے نو پوند کړ وخدائ. او نازل وَجَعَلْنَا او د رڼ ے مونږه مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ
سَدًّا په مخکښ د دوئ دیوال او پرده وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا او وروستو شا طرف ته د دوئ هم پرده او
دیوال فَاَغْشَيْنٰهُمْ پس پټے کړے دی مونږه سترګے د دوئ په پرده جهل او د عناد سره فَهُمْ لَا
يُبْصِرُوْنَ ۹ پس دوئ هیڅ نه ګوینی. محققانو نویلی دی چه مخکښ دیوال د طول اصل د ے او شا
ته د غفلت د ے له خپلو جنایاتو او هر څوک چه دا سے دیوالونو او پردو نیولی دی هغه کله لیدلے شی
دلایل د قدرت او لاره د هدایت اوخلاصی وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ او برابر د ے په دوئ دا کار ءَاَنْذَرْتَهُمْ
چه ایا ویروے ے ته دوئ له عذابه اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ یا نه ویروے ے نه دوئ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۱۰ ایمان نه
راوړی دوئ ځکه په ازل کښ د دوئ موت یا قتل په کفر مقرر د ے اِنَّمَا تُنْذِرُ بیشکه هم د اخبر
د ه چه ویروے ے ته مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ هر هغه څوک چه پیروی کوی د قرآن او د وی مواعظ په سمع د قبول
سره وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ او ویریږی له خدائ بِالْغَيْبِ پس شا نادیده پاپناه له خلقو فَبَشِّرْهُ بَمَغْفِرَةٍ
پس زیږے ورکړه اے رسوله په هغه بخښنه ډګنا هونو وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ۱۱ او په ډیر لوئ اجر سره
په آخرت کښ چه جنت رضوان دیدار د ے اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى بیشکه مونږه چه یوهم
دا مونږه بر ژوندی کوو مړی په بعث یا په مړ زړونو په هدایت یا کفار په ایمان وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا
او ښکو مونږه هغه چه لیږلی دی دوئ په هغه وخت چه لا ژوندی وو دوئ کهٔ نیک وی او کهٔ بد

وی وَ اٰثَارَهُمْ ط او پس له مړکه عملونه دد وئ هم یعنی هغه عملونه چه پس له مړکه ورپسے رسیږی
که ډخیروی لکه دنذر پس دعلم یا تصنیف دکتاب یا کنوول دکوهی یاساز ول دمسجد یا دلارے یا وقف
کول دزمکے یا دونے یا ایخودل دجرند ے یا دپل یا وقف کول دقرآن یا دکتاب یا دآ کوم بل کار خیر چاری
اوکۀ دشروی لکه شیندل دکوم باطل یاجوړ ول دالاتو دملاهی لکه ډول اوسورنی او سونده اوربابه
او داسے نور ډیردی یا بنیاد ایخودل دکوم نارواالکه حاکمان دډے زمانے چه هر یوچه راشی نوئے عمل
جاری کوی په رعیت مخالف له کتاب او تحصیل دمبلغ ته یوه بهانه جوړوی اوچا ویلی دی چه مراد
له دغه اثار وقدمونه دی دمصلیانو چه مساجدوته ئے اخلی د پاره د ادا دفرائضو او دجمعو اوعیدینو
لکه روایت دکړے چه په مدینه کښ کورونه دبنی سلمۀ له مسجدڅ ډیرلرے وو نو دوئ اراده دنږدے کیدلو کوڅ
مسجدته او رسول صلی الله علیه وسلم په دے خبر شو نو منع ئے وکړه له راتلو او ورته ئے وویل چه دیارکم
تکتب اثارکم یعنی هم هلته اوسئ چه ډیر بنکلے کیږی قدمونه ستاسے وَكُلَّ شَيْءٍ او بیان کړے دے
مونږه هرشے اَحْصَيْنٰهُ یعنی په شمار کړی او په ضبط کړی دی مونږه دغه شے فِيْٓ اِمَامٍ
مُّبِيْنٍ ﴿۱۳﴾ په هغه دفترکښ چه پیشوا اوښکاره دے یعنی لوح محفوظ روایت دے چه عیسے
علیه السلام پخوا له ختلو اسمان ته دوه سړی چه صادق اوصدوق نومونه ئے وو بنار دانطاکیے
ته ولیږل د پاره د دعوت چه دوئ بنار ته رانږدے شو نو هلته یو شپون وو چه کډے مے ئے پوره لے.
نوم ئے حبیب نجار وو هغه دوئ ته وویل چه څوک ئے دوئ وویل استاذی یو د عیسلی علیه السلام تاسے
لږه راغلو چه بتان پریږدئ او یوازے دخدائ عبادت کوی هغه وویل چه کومه معجزه لرئ دوئ
وویل هو. مریض او برلړ او خوارمخ ئے رغوو په امر دخدائ نو دۀ خپل خوی ورلږه راوست چه دوۀ
کلو نو مریض وو او دوئ پرے لاس راخکو نو فی الحال روغ شو او حبیب پرے ایمان راوړو بیا دا
خبره په بنار کښ مشهوره شوه او ډیر خلق ترے روغ شوچه بادشاه خبر شو نو حاضر ئے کړه او
ورته ئے وویل چه غیرله خدایانو څمونږ تا سے بل خدائ هم لرئ؟ دوئ وویل، هو هغه چه هم
نۀ اوهم ستاخدایان ئے پیدا کړی دی نو زنده ان کښ ئے واچول بیا عیسلی علیه السلام دریم
سړی ورپسے ولیږلۀ چه سمعون نوم ئے وو نو زلغے اوله عیلے دبادشاه سره اختلاط بنا کړۀ

بیا چه ډیرو سره خلط شهٔ نو دده وئی احوال ئے بادشاه ته ورسا و وچه ئے راو بالهٔ او ځان څخه ئے ډیر ډ
کړه نو ډیر ورته مقرب شو بیا یوه وخ ده بادشاه ته وویل چه اورم چه تا ده سړی په زندان کړی دی را
ولے ءځهٔ ئے ویلے دی؟ ته ئے راحاضر کړه بیا چه راغلهٔ ده وویل چا راپیژلی یئ؟ دوئی وے خدائی. بیا دهٔ
وویل وصف ئے وکړئ خو کوتاه دوئی و ویل یفعل مایشاء ویحکم مایرید بیا ئے ورته وویل چه معجزه لرئ
دوئی وویل هو. هرچه بادشاه غواړی نو یو اَکْمَهُ ئے وله راوست او دوئی ورته دعا وکړه نو سترګے ئے
وچاودے او دوئی پښو سی پکښ کیخوږے نو کاڼی شو چه لیدل ئے پرے وکړهٔ نو شمعون بادشاه ته وویلو
چه له تا به څوحال پټومه دوئی خوځهٔ نه وینی نه ځهٔ اوری نه نفع لری نه ضرر لری بیا شمعون دوئی
ته و ویل چه ستا سے خدائی کهٔ مړی ژوندی کړی نو مونږ به ایمان راوړو در باندے نو مړی لره ئے ورو
چه دمرګ ئے اومه وخ وه چه دوئی دعا وکړه هغه را پاسیدهٔ او ویل ئے چه زهٔ په اومه کنده ده دوزخ
کښ وم په سبب د شرګ او اوس تاسے ته وائم چه بت پرستی پریږدئ او ایمان راوړئ په خدائی
او بیائے و ویل چه داسمان دروازے ئے له پرانستے دی او یو خوش رویه ځلمے دے چه امین کړی په دعا
د دوئی درے واړو. نو بادشاه وویل کوم درے؟ هغه وویل شمعون او دا دواړه نو بادشاه ډیر تعجب وکړد
او شمعون په نرم دلی ددهٔ پوهه شهٔ نو نصیحت ئے ورته وکړو. نو بادشاه او بعضوله قومه ئے ایمان راوړهٔ
او په هغهٔ باقی جبریل علیه السلام یوه چیغه و وینسته نو هلاک شو لکه چه وائی ـ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا
او بیان کړه اے رسوله دے مکیانو ته یو مثل اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ مړ د اوسید ونکیو د هغه ښهر چه
انطاکیه بالهٔ شو اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ په هغه وخت چه راغله دے قریے لره استاذی اِذْ
اَرْسَلْنَآ یاد کړه هغه چه ولیږل مونږه اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ دوئی لره دوه استاذی چه صادق اوصدوق
یعنی عیسیٰ علیه السلام ولیږل په امر خمونږه سره فَكَذَّبُوْهُمَا پس تکذیب وکړو دغه خلقو دے
دواړو او په زندان کښ ئے واچول فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ پس عزت ورکړهٔ یعنی کړهٔ مونږه هغه دواړه
په دریم سره چه شمعون وو فَقَالُوْٓا پس وویل دوئی اهل دانطاکیه ته چه اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿۱۴﴾
بیشکه مونږه تاسے ته لیږلے شوی یو د عیسیٰ علیه السلام له جانبه قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ نو وویل دے
خلقو هغه استاذیو ته چه نهٔ یئ تاسے اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ مګر اړه میان خمونږه په شان اوښته

په تاسے کښ کوم ذیاتی څیزچه موجب د اختصاص ستاسے شی په ارسال پوځے وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ او بل داچه نۀ دے رالیږلے مونږه ته خدائ مِنْ شَیْءٍ هیڅ څیز له وحی اونه له رسالته اِنْ اَنْتُمْ نۀ یئ تاسے اِلَّا تَكْذِبُوْنَ (۱۵) مګر خو دروغ وایئ په دے دعوئ درسالت کښ قَالُوْا رَبُّنَا یَعْلَمُ بیا و ویل استاذیو چه رب ځمونږه پوهیږی اِنَّآ اِلَیْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ (۱۶) چه بیشکه مونږه تاسے ته هراٸینه رالیږلے شوی یُو وَمَا عَلَیْنَآ اونشته په مونږ بل هیڅ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِیْنُ (۱۷) مګر پیغام رسول دی بنکاره سره معجزے قَالُوْٓا اِنَّا بیا و ویل دغه خلقو مونږه بیشکه چه یو تَطَیَّرْنَا بِكُمْ بد فالی نیولے ده مونږه ستاسے په راتلو یعنی تاسے چه دے بنار لره راغلی یئ نو باران رابائد ے بند شوے دے اوغلے راته وچے شوے لَىِٕنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا هراٸینه کۀ وانۀ وختئ له دے دعوئ خپلے لَنَرْجُمَنَّكُمْ نو هراٸینه سنګسار به کړو مونږه خامخا تاسے وَلَیَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا او هراٸینه وبه رسیږی ځمونږه له طرفه تاسے ته عَذَابٌ اَلِیْمٌ (۱۸) عذاب دردناک قَالُوْا طَآىِٕرُكُمْ بیا و ویل استاذیو چه بد فالی ستاسے چه ده مَّعَكُمْ له تاسے سره ده له جهته د کفره - اَىِٕنْ ذُكِّرْتُمْ ایا کۀ پند درکړے شی تاسے ته نو بد فالی نیسئ او دقتل اراده کوئ بَلْ اَنْتُمْ بلکه هم دغه ستاسے قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ (۱۹) یو قوم یئ له حده د انصاف تیریدونکی په سبب د شرک خپل سره روایت دے چه هرکله دا څیرې دده ے قوم له استاذیو سره برپائ شوه او حبیب نجار په دے خبره خبر شو او کور په کوز د بنار سر کښ وو نو په منډه ور لره راغے لکه چه وائی وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِیْنَةِ او راغے له کونډ سره د بنار ه رَجُلٌ یَّسْعٰى یو سړے چه منډے ئے وهلے بیا چه قوم له راغے نو پوښتنه ئے وکړه له قومه چه دا استاذے په دے پیغام راوړلو څۀ مزدوری درڅخه غواړی؟ دوئ ویل نۀ غواړی قَالَ یٰقَوْمِ نو ویل دۀ چه اے قومه ځما اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِیْنَ (۲۰) پیروی وکړئ د دے استاذیو او نصیحت ئے قبول کړئ اوبلکل له ما واورئ چه اتَّبِعُوْا مَنْ همیشه پیروی کوئ اوخبره منئ دهرهغه چا لَّا یَسْـَٔلُكُمْ اَجْرًا چه نۀ غواړی له تاسے اجر د پیغام رسولو وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ (۲۱) اوحال داچه دوئ په سمے لارے روان وی یعنی دخیر په لارے نو دوئ د نۀ ویل چه بارے ته هم ددوئ په دین ئے نۀ وئ ویل وَمَا لِیَ اوکوم مانع دے مالره چه د زهۀ په صدق لَآ اَعْبُدُ الَّذِیْ عبادت نۀ کوم دهغه خدائ فَطَرَنِیْ چه پیدا کړے یم زهۀ او له عدمه ئے وجود ته دا ایستلے یم او تاسے هم

همدا سے دهٔ پیدا کړی یئ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (۲۲) اوهم دهٔ لره به بیا هم بیولے کیږئ نو میبایدچه تاسے هم خاص هم دډهٔ عبادت کوئ ءَاَتَّخِذُ ایا نیسم اوپیدا کوم زهٔ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً غیر له پرور دکاره نور خدایان اِنْ يُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ که اراده وکړهٔ له ماسره خدائ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّيْ دهغږ رسولو نو دفع به نهٔ کړی له ماسره شَفَاعَتُهُمْ دهٔ شیئاً شفاعت دډهٔ بتا نو هیڅ له هغږ ره وَّلَا يُنْقِذُوْنِ (۲۳) اونهٔ به خلاص کهٔ دوئ ما ترے په زور ه اوهر کله چه دا سے ده نو اِنِّيْٓ اِذًا بیشکه زهٔ چه یم په دے وخت چه نور خدایان ونیسم لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ (۲۴) هر اړینه په کمراهئ بنکاره کښ به اوسم بیا چه داخبره ترے قوم واوریده نو اراده ئے وکړه دده د قتل اودهٔ هغه استاذ یو ته مخ کهٔ او ورته ئے وویل چه اِنِّيْٓ اٰمَنْتُ بیشکه زهٔ چه یم ایمان راوړے دے ما بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ (۲۵) په رب ستاسے پس واورئ تاسے داخبره له ماچه په قیامت بیا شاهدان اوسئ حُما په ایمان اوچا ویلی دی چه داخطاب قوم ته دے بیائے قتل کړو نو قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ط وویلے شو ورته چه نوزه جنت ته اوقبرئے په بازار دانطاکیه دے اوچا ویلی دی چه ژوندے ترے یوړ وجنت له - اوپه هر تقدیر بیا په جنت کښ داخل شهٔ او نعمتونه ئے پکښ ولیدل بے انتها نو قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ وویل ده چه اے کاشکے چه دا قوم حُما يَعْلَمُوْنَ (۲۶) بِمَا غَفَرَ لِيْ پوهشوے په هغه بخښنه چه وکړه ما ته رَبِّيْ رب حُما وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ (۲۷) اوکرمے ئے زهٔ له عزت ورکړے شوږو په حال دجنت سره وَمَآ اَنْزَلْنَا اونهٔ وولیږلے مونږه عَلٰى قَوْمِهٖ په قوم دحبیب مِنْۢ بَعْدِهٖ پس له قتل یا له رفع دډهٔ اسمانه مِنْ جُنْدٍ کوم لښکر مِّنَ السَّمَآءِ له اسمانه یعنی ملایك دپاره دهلا کولو دوئ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ (۲۸) اونهٔ وو مونږه رالیږونکی د لښکرو په دے چه له دوی خپسیا نو سره اسمانی لښکر نه بنائیده او په بدر په حنین کښ محض دپاره دعزت درسول صلی الله علیه وسلم راغلے وو اوبل په دے چه لښکر ته هیڅ حاجت نهٔ ووحُکه چه اِنْ كَانَتْ نهٔ ووعاقبت دډهٔ قوم اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مگر یوه چغه وه دجبریل علیه الصلوة والسلام پرے وے کړه فَاِذَا هُمْ خٰمِدُوْنَ (۲۹) پس ناګاه دوئ بیا مړه پراتهٔ وو لکه اور - دوئ ئے مشابه کړه له اورهٔ سره حُکه چه ژوندی لکه اور دے او مړ لکه هیږئ دی لکه لبید شاعر ویلی دی - اشعار :

وَمَا النَّاسُ اِلَّا كَالدِّيَارِ وَاَهْلُهَا ۔۔۔ بِهَا يَوْمَ حَلُّوْهَا وَغَدْوَا بَلَاقِعُ
وَمَا الْمَالُ وَالْاَهْلُوْنَ اِلَّا وَدِيْعَةٌ ۔۔۔ وَلَا بُدَّ يَوْمًا اَنْ تُرَدَّ الْوَدَائِعُ
وَمَا الْعُمُرُ اِلَّا كَالتِّهَابِ وَضَوْئِهٖ ۔۔۔ يَصِيْرُ رَمَادًا بَعْدَ اِذْ هُوَ سَاطِعٌ

يٰحَسْرَةً اے ډیر افسوس دے عَلَى الْعِبَادِ ج په کافرو بندګانو چه مَا يَاْتِيْهِمْ نه دے راغلے دوی ته مِّنْ رَّسُوْلٍ هیڅ رسول اِلَّا کَانُوْا مګر چه وو به دوی بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ③ چه په هغے پورے مسخرے به ئے کولے اَلَمْ يَرَوْا ایا نه وینی دا مکیان یعنی نه پوهیږی په دے چه کَمْ اَهْلَكْنَا څومره مونږ هلاک کړی دی مونږه قَبْلَهُمْ پخوا له دوی مِّنَ الْقُرُوْنِ له قرنونو لکه قوم د نوح علیه السلام او عاد او ثمود او موتفکات او مدین او اصحاب د ایکے او فرعون او دا سے نور اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ چه بیشکه هغه هلاک شوی دوی ته لَا يَرْجِعُوْنَ ④ نه راګرځی یعنی بیرته د دنیا له نه راښی وَاِنْ کُلٌّ او نه دی دا ټول لَّمَّا جَمِيْعٌ مګر دا وارې یعنی رسولان او مؤمنان او کافران به ګډ سره لَدَيْنَا محضرونه مُحْضَرُوْنَ ع ⑤ وی به مونږه څخه حاضر کړے شوی د پاره د جزا په ورځ د قیامت وَاٰيَةٌ نښه لَّهُمُ دوی ته یو نښه چه ده دوی لره په قدرت ځمونږه باندے په بیا ژوندی کولو دے مر یو الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ج ځمکه ده مړه یعنی وچه کلکه بے سبزی اَحْيَيْنٰهَا چه ژوندی کړو مونږه دا زمکه په باران سره وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا او ووېستے مونږه له دے زمکے له دے حَبًّا دانه یعنی دا جنس لکه غنم او اوربشے او جوار او شولے او مویز او غوښت او ګډون او باجره او مټر او نخود او موټ او کونزلے او کول او مشنګ او لوبیا او دا سے نور حبوب عذائیه شو فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ⑬ پس له هم دغے دانے غوری او خپل قوت پرے کوی دوی او ظرف ئے دلته مقدم که چه دلالت وکا په دے چه دا دانه د ډیره اعلیٰ ده پر اقسامو دمعاش کښ ځکه چه ژوندون دبنی ادمو په همدغه دے ځکه کمیدل ددے موجب دقحط ئے او رکیدل ئے موجب دهلاک دے وَجَعَلْنَا فِيْهَا او ایښے دا چه پیدا کړی دی مونږه په دے زمکه کښ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ باغونه له رنګا رنګ خرما کانو وَّاَعْنَابٍ او له رنګا رنګ انګورو وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا او راختکولی دی مونږه په دے زمکه کښ مِنَ الْعُيُوْنِ ⑭ له چینو نو او بو لِيَاْكُلُوْا دپاره دے چه وخوړی دوی مِنْ ثَمَرِهٖ لا له میوے دهغه چه مذکور شو وَمَا عَمِلَتْهُ او نه ده پیدا کړے

او نهٔ دهٔ سازه کړے دا میوه اَیۡدِیۡهِمۡ لاسونو ددوئ بلکه محض دخدائ په قدرت پیدا شویده اَفَلَا یَشۡکُرُوۡنَ ﴿۳۵﴾ ایا پس شکر نهٔ وباسی دوئ سُبۡحٰنَ الَّذِیۡ پاکی ده له هره عیبه هغه خدائ لره خَلَقَ الۡاَزۡوَاجَ کُلَّهَا چه پیدا کړی دی ده په قدرت کامل خپل سره دا انواع او اصناف نۡزل مِمَّا تُنۡۢبِتُ الۡاَرۡضُ له هغو څیز و نو چه زر غونوی ځمکه لکه کښت او دانے اوونے او میوے او نورے ترکاریٔ او سبزیٔ په اقسامو اقسامو وَمِنۡ اَنۡفُسِهِمۡ او له خپلو ځانونو ددوئ یعنی اولاد لکه ځامن او لونړه او پسے نوسی او کړوسی وَمِمَّا لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۶﴾ اوله هغه مخلوقاتو چه نهٔ ځیژنی دوئ لکه مخلوق دآسمانونو او دسیندونو او دزمکے دمینځ او نورد اسے عجیبه غریبه مخلوق چه بندګان پرے خدائ نهٔ دی مطلع کړی وَاٰیَةٌ لَّهُمُ الَّیۡلُ ۚ اوبله نښه چه دهٔ دوی لره شپه ده چه په حکمتِ بالغه خپل سره نَسۡلَخُ مِنۡهُ النَّهَارَ راوباسو او لرے کوو له دے شپے رڼا دورځے دا سے لکه سپین قمیص چه لرے کوے شی له حبشی یا پوست چه لرے کوے شی له دنګره فَاِذَا هُمۡ مُّظۡلِمُوۡنَ ﴿۳۷﴾ پس ناګاه دوئ په دغه وخت نوتی دی په تیرو وَالشَّمۡسُ اوبله نښه دوئ لره نمر دے تَجۡرِیۡ لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَا چه ځئ دے او روان دے همیشه هغه قرارګاه ته چه مقرر دے دهٔ لره نو مراد له دغه قرارګاه دهٔ سیر یومی دے چه هره ورځ په مغرب تمامیږی چه له سترګو غائب شی او یا عامی دے چه دو رفلکی دهٔ ترکاله پورے شی اویا له سره ۓ اغاز وکه او یا عمری دی چه تر اخره دنیا به روان وی نو سیر به ۓ یعنی منتهی شی ذٰلِكَ داجریان دهٔ چه دے تَقۡدِیۡرُ الۡعَزِیۡزِ اندازه کول دی دهغه خدائ چه غالبت دے په بادشاهی خپل الۡعَلِیۡمِ ﴿۳۸﴾ دانادے چه دانادے په مخلوق خپل وَالۡقَمَرَ او مقدر کړے دے موږه نمر یاسیر سپوږمۍ قَدَّرۡنٰهُ مَنَازِلَ یعنی په اندازه کړیدے موږه نمر یاسپوږمۍ دهٔ په اتړ ویشتو منازلو کښی چه ټول بیرته بیان شوی دی نو دا سپوږمی یوه شپه په هر یو منزل کښی تیروی او نه نړے زیات او اول چه دا له نمره رابتره شی نو ډیره نزی بکاریږی لکه تار بیا وړو وړو ترے نه وړ وستو پاتے کیږی او نورے ورځ په ورځ زیا تیږی تر څوارلسم پورے بیا بیرته وړو وړو په کمیدو شی حَتّٰی عَادَ تردے چه وګرځی کَالۡعُرۡجُوۡنِ الۡقَدِیۡمِ ﴿۳۹﴾ لکه وچه کلکه څانګه د خرما چه له ډیرو چوالی کیږه شوے وی لکه لیندہ او تراتهٔ ویشتمه پورے

بیا یوه یا دوه شپے له نمره لاندے شی نو ورکه شی بیا چه له نمره تیره شی نو مهینه را بنکاره شی وهکذا۔ لَا الشَّمْسُ نه دے نمردا سے يَنْۢبَغِيْ لَهَآ چه بنائی دهٔ لره یعنی چه صحیح اوآسمان نهٔ وی و لره اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ دا چه را لاندے کا دے سپوږمی اوورورسپږی یا په زمان کښ چه په شپو کښ ورسره یوځائی شی او یا په مکان کښ چه دے هم دغه څیرمه آسمان ته وله راکوزشی او یا په صفت کښ چه دده سیرهم دهغه په شان جلت شی او یا په کمال او په ساطان کښ چه په څوارلسم کښ ورسره کډ شی او یا په منافعو او په آثارو کښ چه دے هم دسپوږمی خواص پیدا کهٔ اوهریوله دغو یځو ممنوع دی اودلیل دهریوه بنکاره دے نو بیان ته ئے حاجت نشته۔ وَلَا الَّيْلُ اونه شپه سَابِقُ النَّهَارِ ورومبئی کیدونکے ده په ورځ یعنی یځواله تیریدلو ورځے دانهٔ شی راتله وَكُلٌّ اودا ټول چه دی یعنی نمراو سپوږمی او ستوری فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾ په آسمان کښی لامبو وهی یعنی فراخ پکښی روان دی وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اوبله نښه چه ده دوئی لره اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ چه بیشکه مونږه چه یو سوارکړی دی مونږه ذُرِّيَّتَهُمْ هغه اولاد دده دوئی چه باعث شوی دی دا پلرونه په تک ددوئی سود آکړئی ته یعنی چه خپل اولادئے سود آکړئی لره لیږلی وی یا هغه هلکان یا ټبځے ددوئی چه ورسره حمی اوپوځ ووځی فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۴۱﴾ په هغه بیړئی کښی چه وکه وی له خلقو ډاهل که مراد مطلق بیړئی شی یا مراد نږے بیړئی دنوح علیه الصلوة والسلام ده اومراد له ذریة هغه اولاد دے چه په اصلابو دهغو سوریدو ونکیو کښی وو او تخصیص دیاره دامتنان دے په دوئی۔ وَخَلَقْنَا لَهُمْ اوپیدا کړی دی مونږه دوئی مِّنْ مِّثْلِهٖ په شان دبیړئی مَا يَرْكَبُوْنَ ﴿۴۲﴾ هغه چه سوربیږی پرے دوئی یعنی اوښان چه هغه دوچے بیړئی دی اویا مراد نږے وړے بیړئی اوکشتیکانی دی وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ اوکهٔ اراده وشی حمونږه نوغرق به کړو دا دبیړئی خلق فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ پس پیدا به نهٔ شی له سره کوم فریادرس دوئی لره چه له غرق ئے خلاص کړه وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿۴۳﴾ اونه به دوئی په زوره خلاصولے کیږی له مرګه اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا مګر نهٔ ئے غرقوو محض دیاره دمهربانئی له مونږه وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿۴۴﴾ اوبل دیاره دمعاش کولو دوئی تروخته داجل پورے وَاِذَا قِيْلَ اوپه هغه وخت چه وویلے شی لَهُمُ اتَّقُوْا دے کفارو دمکے ته چه وویریږئی مَا

بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ له هغسے عذاب چه رسیدلے دے پخوا له تاسے امم مکذبو ته وَمَا خَلْفَكُمْ اولهغه عذابه چه وروستو به درپسے راځی په اخرت کښی اوایمان راوړی لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۴۵﴾ تهائی تاسے لره چه رحم درباندے اوکړے شی وَمَا تَاْتِيْهِمْ اولیکن عادت ددوئی دادے چه نهٔ راځی دوئی لره مِنْ اٰيَةٍ هیڅ نښه مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ له نښو دربه ددوئی یعنے قرآن یا کومه معجزه یا دلیل وحدت اِلَّا كَانُوْا مکړچه وی دوئی عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۶﴾ له نښے څنګ کونکی وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ او په هغه وخت چه وویلے شی دوئی ته یعنی مشرکانو دمکے ته اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ له چه ورکول وکړی عاجزانو نادارانو ته له هغه مالونه چه روزی کړی دی ستاسے خدائ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا نو وائی هغه کسان چه کافردی لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا هغه کسانو ته چه ایمان ګے راوړے دے په طریقه دمسخرو سره چه اَنُطْعِمُ ایا طعام ورکړو مونږه یعنی نهٔ ورکوو مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ هغه چا لره چه کهٔ اراده وے خدائ اَطْعَمَهٗٓ نو طعام بهٔ ے ورکړے وو هغه لره یعنی تاسے دخدائ دُږی اوس په مونږ مړوئی اِنْ اَنْتُمْ نهٔ یئ تاسے اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۷﴾ مګر په ښکاره ګمراهئ کښی چه مونږ ته امرکوی په مخالفت دمشیت وَيَقُوْلُوْنَ او اوائی دوئی مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ چه کله به وی داوعده دقیامت ووایئ راته اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ کهٔ یئ تاسے دښتینی په دے کښی چه قیامت شته نوخدائ وائی مَا يَنْظُرُوْنَ نهٔ به وینی دوئی اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مګر یوه چیغه تَاْخُذُهُمْ چه ونسی دوئی یعنی پرے بهوشی وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴿۴۹﴾ اوحال داچه دوئی په دغه وخت کښی په سودا او په سودا خپلے سره په جګړه وی اوچه داچیغه پرے وشو نو ټول په ځائی ځائی مړه شی فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ تَوْصِيَةً پس نه به ئے توان وشی دوصیت وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع اونه به اهل خپل لره بیرته راشی وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ او بیا دویم پهکے به وکړے شی په صور دا سرافیل علیه السلام کښی پس له خلویښت کاله فَاِذَا هُمْ پس ناګاه دوئی به داوزی مِّنَ الْاَجْدَاثِ له قبرونو خپلو اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ رب خپل ته به منډے وهی او په دے خلویښتو کالو کښی به په مابین دنفختینو کښی دی عذاب به په هیڅا نهٔ وی نه په کفارو او نه په عاصیانو مؤمنانو قَالُوْا يٰوَيْلَنَا نو وائی به دوئی چه اے افسوس دے مونږه لره مَنْۢ بَعَثَنَا دا چا راپاڅولو مونږه مِنْ مَّرْقَدِنَا مرکه لره د خوابه خواب ګاه خپله اوځکه به دا سے وائی چه دوئی

پس له پیروعذ ابونو د اخلوینت کاله به راحت موند لے وی نو د ﷺ به وی لکه په خوارهٔ خوب چه اودهٔ وی بیا به وو وائی ملائک یا متقیان یا پخپله د اکفارچه یادئ شی کفتارد پیغمبرانو علیهم السلام چه د اله خوبه راپاخیدل نهٔ دی بلکه هٰذَا مَا اَوْعَدَ اهنه دویم ژوندون دے دقیامت وَعَدَ الرَّحْمٰنُ چه وعدهٔ کړے وه خدائی د راتلودهٔ اوتلے به هم هیشته ویل چه متیٰ هٰذَا الوعد - وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ (۵۲) اورښتیا ویلی وو رسولانو اِنْ كَانَتْ نهٔ به وی دا وروستی نفخه اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مګر یوه چیغه اوهرکله چه دا وشوه فَاِذَا هُمْ پس ناخاپه دوئ چه دی جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ (۵۳) ټول به مونږه ځمنه حاضرکړے شوی وی بیا به وو یلے شی ورته چه فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ پس نن ورځ چه ورځ دجزاده نهٔ به شی کولے ظلم په هیچا شَيْـًٔا دهیڅ څیز نه په کمولو دنیکئ اونه په زیاتولو د بدئ وَّلَا تُجْزَوْنَ اونه به درکړے کیږی تاسے له ره جزا اے دمحشر خلورالَّا مَا كُنْتُمْ مګرهم هغه قدر چه وئ تاسے په دنیا کښی تَعْمَلُوْنَ (۵۴) چه عمل به موکولوکهٔ خیرو و اوکهٔ شر اِنَّ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ بیشکه جنتیان چه دی نن ورځ فِيْ شُغُلٍ په مشغولا اوپه عیش کښی به وی خوشحاله ناږه وروده فٰكِهُوْنَ (۵۵) لذت اخستونکی په هر لذید خصوصًا په ابکارو میوے خوارهٔ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ دوئ او ښځے ددوئ هم له بنی اډموا وله حور و فِيْ ظِلٰلٍ پسوږے کښی به ناست وی عَلَى الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ (۵۶) په تختونو تکیه وهلی لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وی به دوئ له په دے جنت کښی انواع دمیوو وَلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ (۵۷) اوبل وی به دوئ له هغه څیزچه غواړی اوارزو به ئے کوی دوئ اوهغه څیزچه دے سَلٰمٌ قَوْلًا سلام به وی په کفتارسره په واسطه یا بے واسطه مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ (۵۸) له هغه رب چه دیر مهربان دے یعنی دوئ به مشغول وی په نعمتونو دجنت باندے چه ناکاه له پاسه به نُور پرے راښکاره شی اودوئ به سرونه وربوته که نواواز به وشی له رب العزت چه السلام علیکم یا اهل الجنة سلام دِ وی په تاسے اے اهل دجنت **روایت دے** چه هرکله دا مخلوق ټول په محشر کښی راجمع شی نو په اول کښی به مؤمنان اوکفار سره کډ وډ ولاړ وی نوکفار به په دے ډاډه وی ناکاه به غږ وشی چه وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اوراجد اشئ نن ورځ له مؤمنانو ځمنه اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ (۵۹) اے مجرمانو یعنی اے منافقانو اوکافرانو چه دوئ به لږ زمان کډ شی بیارب العزت به عام خطاب وکړه اودوبه وائی چه اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ ایا پیغام او وصیت نهٔ ووکړے ماتاسے ته لاږخوا په دنیا کښی

یٰبَنِیْٓ اٰدَمَ اے فرزندانو اٰدم علیہ السلام اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّیْطٰنَ ع دا سے چہ عبادت مہ کوئ د شیطان یعنی دبتانو پہ فرمان مدہ سرہ حُکم چہ اِنَّهٗ لَكُمْ بیشکہ چہ دے تاسے لرہ عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۶۰﴾ دښمن دے ښکارہ پخوانے دښمنی دوختہ اوعاقل پہ دښمن هیڅرے وساہ نہ کوی وَّاَنِ اعْبُدُوْنِیْ مَ اوراسے چہ عبادت کوئ یوازے حُما هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۶۱﴾ داعبادت کول حُما یوہ لارہ دہ برابرہ سمہ تلے جنت لرہ وَلَقَدْ اَضَلَّ اوهرا ئینہ پہ تحقیق گمراہ کړہ دہ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِیْرًا لہ تاسے خلق دیر پخوالہ تاسے اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۲﴾ ایا پس نہ یئ تاسے دا سے چہ عقل خیل وچلوئ اولہ دہ ځان ایمان خیل وساتئ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ دا هغہ دوزخ دے كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ چہ وئ تاسے پہ دنیا کبن چہ وعدہ درسرہ کړے شوے وہ دے اِصْلَوْهَا الْیَوْمَ ځئ ننوځئ پہ دے کبن نن وبِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۶۴﴾ پہ سبب دے چہ وئ تاسے پہ دنیا کبن چہ حق بہ مومنتو لو او دانبیاء علیہم السلام تصدیق بہ مونہ کولو روایت دے چہ هرکلہ پہ دے مشرکا نو دائرہ تنگہ شوہ پہ وخت د حساب او دجزا کبن نو لہ شرکہ بہ یعنی منکرشی دوئ، اوکاونړیان خیلوان خپلخانے بہ شاهدی پرے وائی دشرک بیانوقسم بہ وکاچہ وَاللّٰهِ ربنا ما کنا مشرکین بیاپس لہ هغہ بے پہ خولے مُهر سکوت وو هلے شی نوگنګی بہ شی اولاسونہ اوچیچے بہ ئے وغږولے شی لکہ چہ وائی اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ نن وخ بہ مهر وو هو مونږہ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ پہ خولو دوئ نوحصار بہ ئے کړولہ غږ بیدلو وَتُكَلِّمُنَآ اَیْدِیْهِمْ اوخبرے بہ وکړی لہ مونږہ سرہ لاسونہ دوئ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ اوشاهدی بہ ولولی چنے دوئ بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ﴿۶۵﴾ چہ کاوہ بہ ئے هغہ کارونہ بلکہ هر اندام بہ وغږ پرې پہ هغہ کارچہ لہ دہ ځخہ صادر شوے وو فائدہ لکہ چہ اندامونہ اعضاؤ بہ شاهدی وائی پہ دوئ باندے هدا اندامونہ د اولیاؤ بہ هم شاهدی وائی دوئ د دنیا پہ صدور دطاعاتو لہ دوئ این توګو توچہ شاهدی بہ وائی پہ تسبیح د مسبحینو لکہ حدیث دے چہ فانهن مسئولاتٌ مستنطقاتٌ. وَلَوْ نَشَآءُ اوکہ ارادہ شوے وے حُمونږہ اوس پہ دے دنیا کبن لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْیُنِهِمْ نوهرا ئینہ مهر دمحو بہ وهلے وو مونږہ پہ ستړکو دوئ یعنی رنډ کړے بہ موو فَاسْتَبَقُوا

عہ یعنی پیغمبران بہ مونہ منل اود هغوئ دیل بہ مود دوخ گنړل ۱۲ عہ قسم دے اے دبہ خُو مونږہ نہ وو مونږہ مشرکان ۱۲

الصِّرَاطَ پس بیا چه ورانده شوی هغه لاره نه چه پخوا هیڅ به پرے تلل دوئ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ (۶۶) پس څرنګه به لیدے وے دوئ هغه لاره وَلَوْ نَشَآءُ او بل داچه کهٔ اراده شوے وے هُمونږه لَمَسَخْنٰهُمْ نو هرا ئینه مسخ کړی به وو مونږه دوئ یعنی بیزوکان یا خنازیر یا بیږی کړی به موو عَلٰى مَكَانَتِهِمْ په خائ خپل باندے یعنی هر خائ چه ولاړ یا ناست یا پراتهٔ وی هم هلته به وچ کلک پاتے شوی وو فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا پس طاقت به ئے نهٔ درلود دتګ دواړندے وَلَا يَرْجِعُوْنَ (۶۷) اونه به ئے طاقت شوے وو دبیرته کوځیدلو وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ او هر هغه څوک چه اوږدعمر ورکړو ورلره مونږه نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ نو شکور او راچه به ئے کړو مونږه په خلقت کښ یعنی هر څیز ئے چه په اول دعمر کښ په زیاتیدو وو اوس ټول په کمیدو شی لکه چه زیادت دجسم په نقصان بدل شی اوقوت په ضعف اوپوهه په ناپوهئ اوهم داسے نورهم اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ (۶۸) ایا پس نهٔ کوی دوئ دا عقل چه هغه څوک چه قادر دے په بدلولو دځوانئ په زوړوالی اودقوت په ضعف اودپوهے په ناپوهئ هغه به پرے طمسه اوپه مسخ اوپه بعث هم قادر وی نوایمان راوړی وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ او نه دے زده کړے او نه دے او نبود لے مونږه محمد صلے الله علیه وسلم ته شعر وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ او نه بنائی ورلره شعر ویل نو دوئ ناحق وائی چه دا قرآن شعر دے اِنْ هُوَ نهٔ دے دا کلام چه ده راوړیدے اِلَّا ذِكْرٌ مګر پند اورهنمائی دے لپاره د خدائ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ (۶۹) اوکتاب دے سماوی لوستے شوے په محل بونو کښ بنکاره کوونکے دا حکامو اود حدودو دشرع اوراغلے دے لِّيُنْذِرَ مَنْ دپاره دے چه وویروی دے هر هغه څوک چه هغه څوک كَانَ حَيًّا چه وی دے ژوندے په زړهٔ یعنی عاقل فهیم څکه چه نادان اوبے عقل په مثال د مړی دی چه هغه مؤمن دے اوتخصیص ئے په ده پورے څکه وشو چه نفع پرے هم دے اخلی وَيَحِقَّ الْقَوْلُ اوچه واجبه شی کلمه دعذاب عَلَى الْكٰفِرِيْنَ (۷۰) په هغه کافرانو چه قرآن نهٔ منی اوکلک دی په خپل کفر اودوئ په مثال دمړیودی څکه چه خطاب د قرآن په غوږ ونو قبول نهٔ شی اوریدے ۔ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا ایا نهٔ وینی دوئ چه بیشکه مونږه چه يو خَلَقْنَا لَهُمْ پیدا کړی دی مونږه دوئ لره مِّمَّا عَمِلَتْ له هغه چه سازکړیدی اَيْدِيْنَآ لاسونه د قدرت هُمونږه يعنې پخپله

عه یعنی څوروالے په ماندوالی ۱۲ عه یعنی په مهر د محوه کولو او په مسخ کولو او په پوښته کولو له قبرونو نه ۱۲

مونږه بے شریکه دغیر چارپایان لکه اوښان اوغویان اووزان اوپسونه فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿۷۱﴾ پس دوئ دهغوماالکان اوواکدارانِ دی وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ اوایل کړی دی مونږه دغه چارپایان دوئ ته فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ پس بعضے له دے چارپایانوهغه دی چه مرکوب دی چه دوئ پرے سوریږی لکه اوښان او غویان وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿۷۲﴾ او بعضے نور له دیوهغه دی چه دوئ ئے غوښے خوری لکه پسونه اووزان وَلَهُمْ فِيْهَا او دوئ لره په دے چارپایانوکښ مَنَافِعُ ډیرسودونه دی لکه وړئ چه لمخی اوستنجئ او لوښکانے اوچمکنونه او شا لونه او شړی او خرجئ او بوجئ اوجرابے ترے سازوی او وژغنے چه کیکدئ اوغوندی اوجوالونه اوکمندونه اورسئ ترے جوړوی اوپوستکی چه څرمنے او بوزیکان اوخیکونه اوکوډی اوجئ اوپټرے اوکونے اومونږے اوځیلئ اوداسے نورډیراسبابونه ترے رَغوی اوګچ اوغوړی اوقورت اوپینږ اوپوخه ۔ وَمَشَارِبُ ط اونورد څښلو ځیزونه لکه شودهٔ او ماسته اوشلینے اوخیرې اولسی اوداسے نورځیزونه اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾ ایا پس شکرنهٔ وباسی دوی په دٔ نعمتونو وَاتَّخَذُوْا اوښولی دی دغه مشرکانو مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیرله خدائ اٰلِهَةً نور خدایان دپاره دعبادت لَعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۷۴﴾ چه بنائیږی دوی سره مدد وکړے شی په مدد کارئ دد ے خدایانو سره او واقعه بیاداده چه لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نهٔ لری طاقت دالهه نَصْرَهُمْ دمدد کولو له دوئ سره حُكْه چه جمادات دی وَهُمْ لَهُمْ اوحال داچه دغه اٰلهه دے مشرکانو سره جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿۷۵﴾ لښکر به وی حاضرکړے شوی له دوئ سره په دوزخ کښی په ورځ دقیامت فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ مه پس نهٔ دِ خفه کوی تادا ګفتار دوئ چه ځونږ په باب کښی ياستا په باب کښ ئے کوی چه مونږ ته نسبت دولد او دشریک کوی اوتاته نسبت دشعراو دسحر کوی اوخفګان ځکه مهٔ کوه چه اِنَّا نَعْلَمُ بیشکه مونږه چه یوپوهیږو مونږه مَا يُسِرُّوْنَ په هغه حسد اوبغض چه پټوئ ئے دوئ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۶﴾ اوپه هغه کفر اوعناد چه بنکاره ئے کوی دوئ نو دد غه پټو لو جزا به ورکړو دروه **روایت دے** چه اُبَیُّ بن خلف یوه وړځ وروست هډوکے دبنیٰ اٰدم رسول صلے الله علیه وسلم لره راوړلو اوپه لاس کښ ئے ښه میده کړه چه یعنی ګرد شه اوبیا هغه ګرد ئے پوکړوچه لاړ والوت نو ځویل اے محمد (صلے الله علیه وسلم) دا ګرد به څوک بیا راپټول کړی

او ترے سری به سازکه نو دهٔ ورته وویل چه خدائ به داهم بیا ژوندی کړی او تابه هم بیا ژوندے کړی که او بیا دوخ له به دِ بوځی نو نازل شهٔ اَوَلَمْ یَرَ الْاِنْسَانُ ایا نهٔ وینی اونهٔ پوهیږی دا انسان یعنی اُبی بن خلف اَنَّا خَلَقْنٰهُ په دے چه بیشکه مونږه چه پُوبیدا کړے دے مونږه دے مِنْ نُّطْفَةٍ له اوبود منیٔ چه هغه پخپله هم پلیتی دی او وتلے هم له پلیت حایه فَاِذَا هُوَ پس ناگاه چه دے خَصِیْمٌ مُّبِیْنٌ ﴿۷۷﴾ جگړه کونکے وُدے بنکاره له رب خپل سره وَضَرَبَ او تړی دے لَنَا مَثَلًا په موږ پورے مثال دوراسته هم وکی وَنَسِیَ خَلْقَهٗ ط او هیر کړے دے ده پیدایښت خپل چه دے څرنگه پیدا شوے دے او له نیستیٔ نه هستیٔ ته وتلے دے قَالَ مَنْ یُّحْیِ الْعِظَامَ وائی چه څوك بیرته ژوندی او نازه به که دا هډی کی وَهِیَ رَمِیْمٌ ﴿۷۸﴾ او حال داچه دا وراسته پوتی پوتی شوی دی قُلْ یُحْیِیْهَا الَّذِیْ وویایه دے خبیث ته چه بیا تازه او ژوندے به ئے کړی هغه قادر مطلق اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ ط چه پیدا کړی ئے دی دا هډی وکی اول کرت او له عدم محض ئے وجود ته را ایستلی دی وَهُوَ او حال داچه دے بِكُلِّ خَلْقٍ په هر قسم پیدایښت عَلِیْمُ نِ ﴿۷۹﴾ ښه پوهه دے که نوے وی او که زوړ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمْ هغه خدائ چه پیدا کړے دے دهٔ تاسے لره مِنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا له شنے اوے څخه اور یعنے هغه خدائ چه په قدرت کامل پخپل سره دوه ضده جمع کولے شی چه اوراوبهٔ دی دا سے چه دبانده وعریږو به شنه لخته را مات کړه له هغے نے چه مَرَج باله شی اوهغه به وموږی په شنے لختے دیلے ونے چه عفار بالله شی اوحال داچه له دواړو به اوبهٔ څاڅی اود دغو دواړو لختو له میځهٔ به دا سے اور راوځی چه دوئ ئے بلوی لکه چه وائی فَاِذَآ اَنْتُمْ پس ناگاه تاسے چه یئ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴿۸۰﴾ له هغه شنے ونے بیا بلوئ اور نوهغه خدائ دامړی هم ژوندی کولے شی او دا متفرقه اجزاء ئے هم را ټولولے شی له بڑه وی او که نه له بحره او بل دلیل په قدرت دمړی ژوندی کولو دا دے چه اَوَلَیْسَ الَّذِیْ ایا نهٔ دے هغه پروردګار چه خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړی دی دهٔ اسمانونه اوزمکه سره له دومره لوی والی دوئ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ قادر اونتوانا دے په دے کار یَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ط پیدا کړه دے مثل دوئ په کمکیوالی دبدن کښ بیانو پخپله وائی بَلٰى ن ولے نهٔ دے یعنی دے وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِیْمُ ﴿۸۱﴾ او حال داچه دے ډیر پیدا کونکے ډیر دانا دے او په هر قسم پیدا کولو پوهیږی یعنی هم نوی او هم په اعادے دوارو۔ او بل دلیل

په قدرت دمړی ژوندی کولو او په آسان والی دډے کار دادے چه اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ بیشکه هم دا خبره ده چه شان اوحال د دهٗ چه دے اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا په هغه وخت چه اراده وکه دے دپیدا کولو د کوم څیز اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ دا دے چه روانۍ دے هغه څیز ته چه سازشه فَيَكُوْنُ ﴿۸۲﴾ پس سازشی فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ پس پاکی او بے عیبی ده هغه خدائ لره چه بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ په لاس د قدرت دهٗ کښ واکداری او بادشاهی د هر څیز ده وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ او خاص هم دهٗ ته به بیا بیولے کیږئ تاسے په قیامت د پاره د جزا د اعمالو ستاسے۔ حدیث دے چه مَنْ قَرَءَ يٰسٓ ان کان جائعًا شبعه الله وان کان ظمآن آرواه الله وان کان عریانًا البسه الله وان کان خائفًا امنه الله وان کان متوحّشًا انسه الله وان کان فقیرًا اغناه الله وان کان فی السجن اخرجه الله وان کان اسیرًا اخلصه الله وان کان ضالا هداه الله وان کان مدیونًا قضی الله دینه من خزائنه او بل حدیث دے چه قرء یٰسٓ یرید بها وجه الله غفر له وَاُعطیَ من الاجر کانما قرء القرآن اثنین وعشرین مرة او بل حدیث دے چه من قرء سورة یٰسٓ اَمام حاجته قضیت له الحمد لله رب العلمین ط

سُوْرَةُ الصّٰفّٰت

مکیة ۱۸۲ — اٰیاتها ۵ — رکوعها ۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالصّٰٓفّٰتِ قسم دے په هغو ملایکو چه صف ترلی ولاړ دی د نفوسو په عبادت کښی یاد و نړوپه هوا کښی منتظر امر ربّانی ته صَفًّا ﴿۱﴾ په صف ترلو سره فَالزّٰجِرٰتِ پس بیا شړونکی د شیطانانو وی له پټ اوریدلو یا د ورېځو وی څائ د دوریدلو ته زَجْرًا ﴿۲﴾ په شړلو سره فَالتّٰلِيٰتِ پس بیا لوستونکی دی ذِكْرًا ﴿۳﴾ دوهی په انبیاؤ یا په هغو عازیانو چه صف ترلی ولاړ وی په جهاد کښی

عه معنی د اچه د یلی دی رسول کریم صلے الله علیه وسلم هر څوک چه روانۍ سورة یٰسٓ کړه چرے د وړے وی مړے به کړے خدائ تعالیٰ او که وی تړے سیرا به به کړه دے خدائ تعالیٰ او که وی بر بنه جامه به واغوندے وی پرے خدائ تعالیٰ او که چرے وی ویر بیدو یکړے په امن به کړه خدائ تعالیٰ دهٗ لره او که چرے وی پریشانه نواُنس به ورکړه ورلره خدائ تعالیٰ او که چرے وی فقیر غنی به کړے که خدائ تعالیٰ او که چرے وی بندی خلاص به کړے که خدائ که بنده او که صد ۱۲ وی گیراوه لره ۱۲ وښائی ورته خدائ او که چرے وی قرضدار ے خلاص به کړی خدائ قرض دهٗ له خزانو خپلو نه۔ بل حدیث دے چه چا لوستو سورة یٰسٓ چه اراده لری پرے د ذات د خدائ بخښنه به وکړی ور نه خدائ او ورته به کړی ورلره نو وایو ته نو لکه چه لوستلے وی قرآن دوه ورځت څو۔ بل حدیث دے چا چه د لوستو سورة یٰسٓ محکښی له حاجت خپل نه پوره به کړے شی ورلره حاجت ۓ ۱۲

اوشو نکی دا اسونو خپلو یا دکفارو وی اولوستونکی د تهلیل او تکبیر وی په وخت د جنګ کښ یا په هغو مؤمنانو چه صف ترلی ولاړوی په فرائضو کښ اوشو نکی د نفس خپل وی له معاصیو او لوستونکی د قرآن وی په مانځه کښ یا په هغه عالمانو چه صف ترلی ولاړوی د قد مونو خپلو په تهجد او په نورو مونځونو کښ اوشو نکی د خلقو وی له کفره اوله فسقه په نصیحتونو او په دلیلونو سره اولوستونکی دا یاتو او د احکامو وی عواموته یا په هغو مرغانو چه صف ترلی ځی په هوا کښ اوشو نکی دا فانووی له خپله ځانه اولوستونکی د تسبیح وی په هر وخت کښ ۔ او په هر ټقدیر جواب د قسم دا دے چه اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۴ هر الٰهیته یوه ده اوا په رد دوئ کښ دے چه ویل به ئے څومره درے سوه شپیته خدایان دی او دا ټول څومره کارنۂ شی برابر ولے او محمد صلے الله علیه وسلم د تمام جهان کار په یوخدائ برابروی دا د روغ دی رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دے تربیت کونکے دے د اسمانونو او د زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا او د هرهغه چه په مابین د دے دواړو کښ دی وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۵ او پیدا کونکے د درے سوه شپیتۂ مشرقونو دے او همدا سے د هومره مغربونو اما اکتفا ئے وکړه په ذکر د احد الضدین لکه سرابیل تقیکم الحرّ ۔ اِنَّا بیشکه مونږه چه یو زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بنائسته کړے دے مونږه دا خپره اسمان بِزِيْنَةِ ِن الْكَوَاكِبِ ۷ په بناسته سره یعنی په ستورو سره او دا کواکب بدل دے له زینت څخه فائده اکر کۂ په دے خپره اسمان کښ یو ازے قمر دے او دا نور شپږ سیارے یو یو دی په باقی پورته شپږ واسمانونو کښ او ثوابت ټول په کرسئ کښ دی اما د زمکے د خلقو په نظر کښ دا ټول په دے خپره اسمان کښ بنکاره کیږی نو ځکه نسبت ئے دۂ ته وشو حفظًا او ساتلے دے دا خپره اسمان په ساتلو سره مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ۸ له هره شیطانه سرکشه بے فرمانه چه ویشتلے کیږی له پاسه په لمبو سره لَا يَسَّمَّعُوْنَ غوږ نه نیسی دا شیطانان دپاره د خبرو اوریدلو او دا په اصل کښ يَتَسَمَّعُوْنَ دے بیا تَ سین شوه او ادغام وشۂ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى هغه ټولی بلند مکان یا بلند شان ته چه مطلق ملائك دی یا اشراف دی د دوئ یعنی چه دا ملائك یوبل ته سره اسرار د لوح محفوظ والی نو د دوئ ترے پوقدر واوری او نور د روغ د رسره خلط کا ۔ نو کا هنانو ته ئے بیاوائی وَيُقْذَفُوْنَ او ویشتلے کیږی دا شیطانان

قف صلے

په لمبوسره مِنْ كُلِّ جَانِبٍ (۸) له هرهغه طرفه د اسمان چه دوئ اراده وکه دختلو دُحُوْرًا د پاره د شړلو
او د لرے کولو له اسمان وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ (۹) او مقرر دے دوئ لره عذاب دائم یا سخت په اخرت کښ
اِلَّا مَنْ مګر غوږ نیسی هغه شیطان خَطِفَ الْخَطْفَةَ چه غوښته وکه په یوکرت غوښته کولو سره او چه راواخلی
کومه کلمه چه واورې له ملائکو فَاَتْبَعَهٗ پس زر سره یے راخطا شی له پاسه شِهَابٌ ثَاقِبٌ (۱۰) لمبه رڼا
کوونکے فَاسْتَفْتِهِمْ پس وپوښته د مشرکان د مکے له دے پیدا ایښت چه اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا ایا دوئ د پرښت
دی له جنته د پیدا ایښت اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا او که هغه خوک چه پیدا کړی دی مونږه یعنی اسمانونه او زمکه
او غرونه او ملائک او مشارق او مغارب او شهب اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ بیشکه مونږه چه یو پیدا کړی دی مونږه
دوئ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ (۱۱) له خټے سلیخنا کے یعنی هر کله چه دوئ له دے خسیس خیز څخه پیدا شوی
دی نو د ومره تکبر وس سره مناسب نه دے چه تکذیب کوی د رسول صلے الله علیه وسلم او د قرآن
او سره له دے واضحو دلایلو انکار هم کوی دوئ لره بعث له حشر له نشره **روایت دے** چه هرکله
رسول علیه الصلوٰة والسلام د اکمان د کولو چه هرچا چه د قرآن واورید نو ایمان به پرے راوړی او چه
مشرکانو د مکے واورید نو ایمان ئے پرے رانه وړ و بلکه مسخرے به ئے ورپورے کوله نو دغه په دے کار
دیر تعجب وکړو نو نازل شه بَلْ عَجِبْتَ بلکه تعجب کوے ته له دے انکاره او تکذیبه د دوئ وَيَسْخَرُوْنَ (۱۲)
او حال دا چه دوئ مسخرے کوی د رپورے وَاِذَا ذُكِّرُوْا او په هغه وخت چه پند ورکړے شی دوئ لره
په قرآن سره لَا يَذْكُرُوْنَ (۱۳) نو نه یادوی دوئ او پند پرے نه اخلی وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً او په هغه
وخت چه وویني دوئ کومه معجزه د دلالت کونکے په صدق ستا لکه انشقاق د قمر یا دا سے
بله يَّسْتَسْخِرُوْنَ (۱۴) نو بخپله هم مسخرے ورپورے کوی او نور د خلقو ته هم نارے وهی چه
راځئ مسخرے ورپورے کړو وَقَالُوْٓا او وائی دوئ اِنْ هٰذَآ چه نه دے دا چه مونږه ولیده اِلَّا سِحْرٌ
مُّبِيْنٌ (۱۵) مګر جادو دے بنکاره اِذَا مِتْنَا ایا په هغه وخت چه مړه شو مونږه وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا
او شو مونږه خاورے او هډوکی اَءِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ (۱۶) ایا مونږه به بیا ژوندی راپاڅولے شوی او سو
اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ (۱۷) ایا هغه لومړی پلرونه مُونږه قُلْ نَعَمْ وایه ورته اے رسوله چه هو

عه په ربښتینوالی ستاسره نکه نیم کیدل د سپوږمئ چه مشهوره معجزه ده ۱۲

راپاڼه څولے شئ هم تاسے اوهم پلرونه ستاسے وَاَنْتُمْ دَاخِرُوْنَ (۱۸) اوحال داچه تاسے به خوار او بے مقداراوسئ هلته فَاِنَّمَا هِیَ پس بیشکه همدا خبره ده چه داقیامت زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ یوه چیغه به وی یعنی ظهور به ئے په یو کوتاه وخت کښ وشی او بیاچه دانفخه ثانیه وشوه فَاِذَا هُمْ پس ناکاه دا مخلوقات چه دی یَنْظُرُوْنَ (۱۹) کوری به یعنی څوندی او ولاړ به وی منتظر چه څه به راسره کیږی وَقَالُوْا یٰوَیْلَنَا او وائی به دوئ چه اے افسوس دے مونږه لره هٰذَا یَوْمُ الدِّیْنِ (۲۰) داخوهغه ورځ ده دجزاچه مونږه به نهٔ منله بیانو ملائک به ورته ووائی چه هٰذَا یَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِیْ داهغه ورځ ده دقضا اودفیصل په مابین دنیکوکارانو اوبدکارانو کُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ (۲۱) چه دوئ تاسے په دنیا کښ چه دده تکذیب به موکولو او باور نهٔ کولو تاسے په راتلو دغے ورځ بیارب العزت به ووائی ملائکوته چه اُحْشُرُوا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا راټول کړئ تاسے هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے پخپلوځانونو په شرك سره وَاَزْوَاجَهُمْ او ښځے ددوئ هم چه کافرے وی یا اشتباه ددوئ یعنے بت پرستان لبت پرستانو سره او ستاره پرستان له ستاره پرستانو سره. یا اقران یعنی ملګری ددوئ په یوناروا چه زانی له زانی اوختیار له ختاره سره او قمارباز له قمارباز سره یا اعوان یعنی مددګاران ددوئ په دے ظلم کښ لکه **روایت دے** چه کوم درنړی پرسان وکړه له ابن مبارك رح چه زهٔ جامے دظالمانو ګندم نو په دے قدر سره خو به ددوئ داعوانو نه نهٔ کیږم نوده زهٔ ورته ووایل چه نهٔ له اعوانو ددوئ نهٔ ئے بلکه ته له عین ظالمانو نے او اعوان خوئے هغه څوك دی چه ستے او تارونه په تاخوځی وَمَا كَانُوْا اوهغه بتان چه وو دامشرکان یَعْبُدُوْنَ (۲۲) مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ چه عبادت به ئے کولو دوئ غیر له خدائ فَاهْدُوْهُمْ پس برابر او روان کړئ تاسے دا ټول اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِیْمِ (۲۳) لارے ددوزخ ته وَقِفُوْهُمْ اولږدوئ دوئ په دغه لاره کښ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ (۲۴) چه بیشکه دوئ پوښتنه کړے شوی دی یعنی پوښتیدے شی بیا به ورته ووایلے شی دپاره دشرمولو چه مَا لَكُمْ کوم مانع دے تاسے لره لَا تَنَاصَرُوْنَ (۲۵) چه مدد نهٔ کوئ یولهٔ بله سره په دے خلاصی کښ لکه دنیا کښ چه به دوئ بیاهرکله چه دوئ به دده خبرے جواب نهٔ لری نو دوئ له طرفه به ووایلے شی بَلْ هُمُ الْیَوْمَ بلکه دوئ چه دی نن ورځ مُسْتَسْلِمُوْنَ (۲۶) کردن نهاده اومنقاد دی له ډیرے عاجزئ

وَ اَقْبَلَ بَعْضُهُمْ اوځ به که په هډ غه موقف کښ بعضے د دوئ ځانې بَعْضٍ بعضو نو روته یعنې مشران او کشران سره يَتَسَآءَلُوْنَ (۲۷) چه پرسان به کوی سره یولې بلې یا ځکړه به کوی او ملامته به اچوی یو په بل سره داسے قَالُوْٓا آچه وائی به دا کشران تابعان مشرانو متبوعانو ته اِنَّكُمْ كُنْتُمْ بیشکه تاسے چه یئ دئ په دنیا کښ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ (۲۸) راتلئ به تاسے موږه له د یاره دلغزولو له جانبه دقوته اود زور یعنې موږه به تاسے په زور گمراه کولو یاله جانب د سوګندونه چه سوګند وئ به موکول راته چه دا دین حق دے قَالُوْا نو وبه وائی ورته دا متبوعان چه بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ (۲۹) بلکه نهٔ وئ تاسے پخپله مؤمنان یعنې تاسے خوبے گمراه کولو څومونږه پخپله گمراهان وئ او مؤمنان نهٔ وئ نو مونږه به څرنګه گمراه کولئ وَ مَا كَانَ لَنَا اونهٔ وهٔ مونږه له عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ په تاسے هیڅ قوت او غلبه چه مونږه په زور گمراه کولئ بَلْ كُنْتُمْ بلکه وئ تاسے پخپله قَوْمًا طٰغِيْنَ (۳۰) یوه ډله باغیانو څومونږه په شان فَحَقَّ عَلَيْنَا پس اوس واجب شو په مونږه ټولو باندے قَوْلُ رَبِّنَا ۖ ځه گفتار د رب څومونږه چه لَاٰئِقُوْنَ ملګن جهنم من الجنة و الناس اجمعين اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ (۳۱) نو بیشکه مونږه هرا ئینه څکونکی یو مزن ورځ د عذاب په سبب دهغه گفتار فَاَغْوَيْنٰكُمْ پس گمراهان کړئ مونږه یعنې گمراهئ ته و بللئ مونږه څکه چه اِنَّا بیشکه مونږه چه كُنَّا غٰوِيْنَ (۳۲) وو مونږه گمراهان نو مونږه داسے اراده وکړه چه تاسے هم څومونږه په شان اوسئ نو رب العزت وائی فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ پس بیشکه دوئ چه دی په دغه ورځ د قیامت فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ (۳۳) په عذاب کښ سره شریکان دی لکه چه یه گمراهئ کښې شریکات وو اِنَّا كَذٰلِكَ بیشکه چه مونږه هم داسے لکه چه دوی سره مو وکړه نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ (۳۴) کو و مونږه له ټولو مجرمانو یعنې مشرکانو سره اِنَّهُمْ كَانُوْٓا بیشکه چه دوئ دی داسے چه اِذَا قِيْلَ لَهُمْ په هغه وخت چه و ویلے شی دوئ ته چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نه نشته بل معبود برحق هیڅوک مګر یوازے الله دے جل شانهٔ. یعنې چه دا کلمه د توحید ورته و ویلے شی یا چه څوک و یولی دوئ دے کلمے ته يَسْتَكْبِرُوْنَ (۳۵) نو سرکشی کوی دوئ په دے یولونکی باندے وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا او وائی دوئ چه آیا بیشکه مونږه لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا هرا ئینه پریخودونکی یُو دهغه ایا نو خپلو

عه هرا ئینه دا به کړو مونږه دوزخ له کافرانو پریا نوادا دمیانو ټولو نه ۱۲

یعنی دعبادت دد وئی لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾ دپارہ دئ شاعر لیونی بیارب العزت وائی دد وئی پہ جواب کښی چہ دا سے نۀ دہ لکہ چہ دوئی ئے وائی ۔ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ بلکہ راتلۀ کړی دی دۀ پہ حق او پہ رښتیا سرہ چہ توحید دے وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۷﴾ او رښتینی بولی تیر رسولان ہتول ۔ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا بیشکہ تاسو چہ یئ اے کفارو هرا ئینہ خکونکی یئ الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿۳۸﴾ دعذاب درد ناکہ پہ سبب دشرک او دتکذیب سرہ وَمَا تُجْزَوْنَ اوجزا بہ نہ درکولے کیږی تاسے تر اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۹﴾ مکر پہ قدر دھغہ عمل چہ وئی تاسے پہ دنیا کښی چہ کول پہ موا لَّا عِبَادَ اللّٰهِ لیکن ھغہ بندگان دخدائ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾ چہ پاک کړی شوی دی لہ پلیتئ دشک او دشرکہ نو دھغوجزا مضاعف دہ حُكْمٌ چہ اُولٰٓئِكَ دا مخلصین چہ دی لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۴۱﴾ مقرر دہ دوی لرہ پہ جنت کښی روزی چہ ظاهر او بنکارہ دی جنس دھغے روزئ چہ خالصے فَوَاكِهُ میوے بہ وی عیشت دیاړ دتلذذ او قوت تہ بہ ئے هیڅ حاجت نۀ وی حُكْمٌ چہ جنتیا نو لرہ بہ دآسے پہ محکم اجسام ورکړے شی چہ ترابد الاباده بہ محفوظ وی لہ هره خلل نو پہ قوت پورے پہ هیڅ توقف نہ لری نو هرکلہ کړۀ هلته خوراک چا کولو نو محض د پاره دتلذذ بہ وی او یا بنکاره پہ وخت دهغے روزی چہ صبا او بیگاه بہ وی یا خاصیات دهغے چہ میوے بہ وی باقی دا ئسی چہ پہ اعلی رنګ اوخوند او لذت بہ لری وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۴۲﴾ او حال دا چہ دوئی لرہ بہ عزت ورکړے شوے وی فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۴۳﴾ پہ هغہ باغونو کښی چہ پہ ئے بہ وی لہ انواع دنعمتونو عَلٰى سُرُرٍ ناست بہ وی پہ تختونو چرا ؤ کړیو ۔ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۴۴﴾ مخامخ سره یو بل چہ هر یو پہ دیدن دیو بل خوشحالیږی يُطَافُ عَلَيْهِمْ گرځولے بہ شی پہ دوئی یعنی ساقیان دجنت بہ پرے گرځوی بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿۴۵﴾ پہ جام دئ لہ هغہ شرابو چہ بهیږی بہ لہ چشمو پہ مخ د زمکے لکہ او بہ بَيْضَآءَ چہ تک سپین بہ وی دا جام یا دا شراب لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿۴۶﴾ چہ د پرلہ تنا لۀ بہ وی دپاره دخکونکیو لَا فِيْهَا غَوْلٌ نہ بہ وی پہ دغہ شرابو کښی آفت او علت لکہ فساد د مزاج او ذهاب دعقل او درد دسر چہ پہ شرابو د دنیا کښی وی وَلَا هُمْ عَنْهَا اونہ ئے بہ وی دوئی لہ هغہ شرابو څخہ يُنْزِفُوْنَ ﴿۴۷﴾ چہ مست او بہ خوده کولے شی وَعِنْدَهُمْ او وی بہ پہ نزد دوئی قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ حورے کوتاہ ستړکے پہ ازواجو خپلو یعنی چہ ستړکے بہ ئے پخپلو

ازواجو بندوی او وړاندے بل چاته به تیرے شوے نه وی عِیْنٌ ﴿۴۸﴾ ستر گورے به وی یعنی ستر گے
به ئے غټے وی كَاَنَّهُنَّ چه گویا که دوئ چه دی بَیْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۴۹﴾ هګئ به وی دشتر مرغ پټه
ساتلے شوے یعنی لکه چه شتر مرغ هګئ خپله وزر لاندے پټه ساتی چه غبار پرے ونه لوئیږی اوهغه
تکه سپینه وی یو قد رمائل زړوئ ته چه احسن دالوانو دے نو دوئ به هم همدا صفا فی بنائسته وی
فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ پس مخ به وګرځوی بعض دده جنتیانو عَلٰى بَعْضٍ بعض نورو تہ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۵۰﴾ چه
پوښتنے به کوی سره یو له بله له احوالو دنیا چه پرے تیر شوی وو یا له دوست اوله دشمنه قَالَ قَآئِلٌ
مِّنْهُمْ نو دبه وائی یو دیوئکے له دوئ په مینځ دډګ مجلس کښ اِنِّیْ بیشکه چه زهٔ په هغه وخت چه په دنیا کښ
وم كَانَ لِیْ قَرِیْنٌ ﴿۵۱﴾ دوځما یو یار چه منکر و وله بعث اوچا ویلی دی چه داحال دهم هغه دوه
و دونږد دے چه قصه ئے په سورهٔ کهف کښ تیره شوے ده چه یو مؤمن دو یهودانو اوبل کافر
و دقطروس نوم یَّقُوْلُ نو دے کافر دویل مانه چه اَىِٕنَّكَ ایا بیشکه ته ځمے ئے لَمِنَ الْمُصَدِّقِیْنَ ﴿۵۲﴾
هرا ئینه له باور کونکو ئے په بعث باندے ءَاِذَا مِتْنَا ایا په هغه وخت چه مړهٔ شو مونږه وَكُنَّا تُرَابًا
وَّعِظَامًا اوشو مونږه خاورے اوهډوکی وراسته ءَاِنَّا لَمَدِیْنُوْنَ ﴿۵۳﴾ ایا بیشکه مونږه به جزا راکړے
شوی او سو یعنی مونږه به بیا ژوندی کړے شو اوجزا به راکړے شی قال بیا به دوائی هغه قائل یا
خدائ جنتیانو ته هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿۵۴﴾ ایا یئ تاسے نظر اچونکی دوزخ ته چه بنکاره شی ورته حال دهغه
قرین یا دقطروس یاد پرے دوزخیانو چه دخپلو نعمتونو قدر درته معلوم شی روایت دے چه په
جنت کښ به مورږکا نے وی دوزخ ته چه په هغوکښ جنتیان تماسے کوی دوزخیانو اوخبرے به هم
ورسره کوی لکه چه بیان ئے په سورهٔ اعراف کښ تیر شوے دے فَاطَّلَعَ پس نظر به واچوی هغه قائل
فَرَاٰهُ پس وبه وینی دے هغه قرین یا ورږخپل چه قطروس وو فِیْ سَوَآءِ الْجَحِیْمِ ﴿۵۵﴾ په مینځ
دوونږخ کښ قَالَ نو به وائی دا قائل تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ چه قسم دے په خدائ چه بیشکه نزدے وے تہ
اے قرینه یا ورږهٔ خمارتہ لَتُرْدِیْنِ ﴿۵۶﴾ چه هرا ئینه هلاك کړے وے تازهٔ په کمراه کولو سره وَ
لَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّیْ اوکه چرے نهٔ وے نعمت درب خمانه ما باندے په عصمت او په هدایت او په عطاد
ایمان سره لَكُنْتُ نو هرا ئینه وم به زهٔ اوس مِنَ الْمُحْضَرِیْنَ ﴿۵۷﴾ له حاضرکړے شویو له تاسره

په دوزخ کښی بیا به دوائی دا قائل یا ویل جنتیان د پاره داظهار د نعمت او د احسان د رب چه اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ (۵۸) ایا پس نهٔ یو مونږه مړهٔ کیدونکی په دٔ جنت کښی یعنی مونږه به همیشه د لت ژوندی اوسوا وله سره به مړ وځکه چه مونږه لره بل مړلۍ نهٔ دے مقرر شوے اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى مګر هم هغه یو مړلۍ خمو نږه چه پرمخ تیر شوے دے په دنیا کښی نو اوس به نه مړ و مونږه وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ (۵۹) او نهٔ یو پس له دٔ مونږه عذاب کړے شو بیا به وائی دا قائل یا جنتیان یا خدائی اِنَّ هٰذَا بیشکه داهیڅۀ ابدی او خلود او بے غمی چه ده له عذاب لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (۶۰) هرا ئینه داچه دے لوئی بړکے دے لِمِثْلِ هٰذَا خاص د پاره د مثل د دٔ نعمتو نو فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ (۶۱) پس میا ید چه عمل د کوی عمل کونکی نه د پاره د جاه او د مال د دنیا چه فانی دی اَذٰلِكَ ایا داچه مذکور شوی دی بیرته له نعمتونو د جنتانو خَيْرٌ نُّزُلًا غوره دے له جهته د میلمستیا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ (۶۲) او کهٔ ونه د زقوم چه میوه ئے د دوزخیانو میلمستیا ده او دا یوه ونده بد بویه چه پانړه ئے وړه او میوه ئے ترخه اوځائی ئے تهامه ده اِنَّا بیشکه چه مونږه جَعَلْنٰهَا گرځولے ده مونږه داونه فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ (۶۳) محنت او عذاب د پاره د کافرانو په آخرت کښی اِنَّهَا شَجَرَةٌ بیشکه داچه ده یوه ونه ده تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ (۶۴) چه زرغونیږی په بیخ د دوزخ کښی او بناخونه به ئے خواره شوی وی په ډولو درکا تو کښی یا معنٰی داچه دغه ونه ازمینت ده کافرانو لره چه وائی دوئی چه اورخوونه سیزی نو دٔ څرنګه وائی چه دا په بیخ د دوزخ کښی زرغونیږی طَلْعُهَا غنچه ده هغے وئے چه ده كَاَنَّهٗ گویا که داغنچه چه ده رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ (۶۵) سرونه د شیطانانو چه د خلقو په اعتقاد کښی دا خبره پرته ده چه شیطانان به د پرمکروه الطبع او قبیح المنظروی یا سرونه دی د هغه مارانو چه د پرکړیه او هولناك دی فَاِنَّهُمْ پس بیشکه دا د وزخیان چه دی لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا هرا ئینه خوړونکی به وی له میوے د هغه زقوم سره له دا سے بد بویئ او ترخ والے د هغه په سبب د پرے لوږے فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا البُطُوْنَ (۶۶) پس ډکونکی به وی له هغه نسونه ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ بیا بیشکه دوئی لره عَلَيْهَا لَشَوْبًا خوراك د هغه د پاسه هرا ئینه گډون او خلط کول یعنی ځکل به وی مِّنْ حَمِيْمٍ (۶۷) له هغے گرم او بوچه کُلَّمَا غُيِّثَتْ هر یکوی او د ازقوم وحمیم یوه میلمستیا ده دوئی چه ورکولے کیږی به ورلره پخواله دٔ خولہ د دوزخ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ بیا پس له دغه خوراك او څښلو بیشکه ورتله د دوئی چه

دی لَاِلَی الْجَحِیْمِ (۶۸) هرا ئینه دوزخ ته دوئ اِنَّهُمْ بیشکه چه دوئ اَلْفَوْا ا بَآءَهُمْ ضَآلِّیْنَ (۶۹) مومل دی پلرونو خپل گمراهان فَهُمْ عَلٰٓی اٰثَارِهِمْ پس دوئ په پلونوا تدمونوند هنوئ باندے یُهْرَعُوْنَ (۷۰) جلت منډے وهی یعنی تقلید کوی دهغوئ وَلَقَدْ ضَلَّ اوهرا ئینه په تحقیق گمراه شوی وو قَبْلَهُمْ پخوا له دغه قومه ستا اَکْثَرُ الْاَوَّلِیْنَ (۷۱) ډیرله پخوا نیوامولکه قوم د نوح علیه السلام اوعاد او ثمود اوآ نور ډیر وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهرا ئینه په تحقیق لیږلی وو مونږه فِیْهِمْ مُّنْذِرِیْنَ (۷۲) په دوئ کښ ویرونکی له عذاب یعنی پیغمبران علیهم السلام اما دوئ هغه ونه منل فَانْظُرْ کَیْفَ کَانَ پس وگوره تهٔ چه څرنگه وه عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِیْنَ (۷۳) اخره خاتمه د ویرولیو شویو چه قومونه وو دکفارو یعنی چه څهٔ قسم عذاب پرے راغلے وو اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِیْنَ (۷۴) مگر هغه بندگان د خدائ چه پاك كړے شوی وو له بے فرمانی یعنی هغه خلاص شوی وو له عذابه اوهرکله چه بیان شهٔ والیږل د منذرینو چه رسولان دی پخوانیو امونه اونه منل اوبدعاقبت دمنذرینو هم ۔ نواوس حال د بعضو صریح بیانوئ چه موجب شی د عبرت نو وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ اوهرا ئینه په تحقیق عبر وکړه مونږ ته نوح علیه السلام په هغه وخت چه نوراميدے ئ قطع شه له ایمان د قوم خپل اوسوال ئے راته وکړو ۔ آ چه رب اني مغلوب فانتصر فَلَنِعْمَ الْمُجِیْبُوْنَ (۷۵) پس هرا ئینه ښهٔ قبلونکی وو مونږه دسوال د دهٔ چه کفار د قوم د دهٔ موتول په طوفان هلاك كړه له شرقه تر غرب به اوله شمال تر جنوب وَنَجَّیْنٰهُ وَاَهْلَهٗ او وساته مونږ ده ٔ اوخپلخانه دده هم مِنَ الْکَرْبِ الْعَظِیْمِ (۷۶) له لویه غمه چه غرق یا ایذا د قوم وو وَجَعَلْنَا ذُرِّیَّتَهٗ اوکړهٔ مونږه فرزندان د دهٔ چه درے تنه وو سام، حام، یافث هُمُ الْبٰقِیْنَ (۷۷) هم دوئ باقی پاتے کیدونکی د پاره د نسل او دهغه نور وموُ منانو نسل نهٔ دے پاتے شوے بلکه درست روی زمین هم د دهٔ له اولاده دے ځکه دے ادم ثانی بالہ شی وَتَرَکْنَا عَلَیْهِ اوپریخوده مونږ ه په دهٔ مدح اوثنا فِی الْاٰخِرِیْنَ (۷۸) په دروستیو خلقو کښ له ده تخمدان تر قیامته پورے لسانبیاؤ اوله امو سَلٰمٌ عَلٰی نُوْحٍ سلام دے له خدائ په نوح علیه السلام باندے اوږدعاده په ثبوت د دغه تحیة دهٔ لره فِی الْعٰلَمِیْنَ (۷۹) په دریستو عالمیانو کښ یعنی په جن اوپه انس اوپه ملایکو کښ

عه اے څمارہ بیشکه زهٔ عاجزیم پس مدد وکړه تهٔ له ماسره ۱۲

اِنَّا كَذٰلِكَ بیشکه چه مونږه هم دا ډول یو لکه چه نوح علیه السلام لره جزا ورکړے وه نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ (۸۰) جزا ورکوو مونږه ټولونیکوکارانو لره اِنَّهٗ بیشکه دے چه وو مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ (۸۱) له هغو بندګانو نخو مونږه وو چه مومنان وی ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ (۸۲) بیا غرق کړهٔ مونږه په سوال دهٔ سره هغه نور یعنی کفار دقوم دهٔ وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ او بیشکه یو له پیروانو دهٔ چه دے لَاِبْرٰهِيْمَ (۸۳) هر اثبته ابراهیم علیه السلام وو په ایمان او په اصولو دین کښ او دوئ دواړو په منځ کښ دوه زره (۲۰۰۰) کاله او شپږ سوه (۶۰۰) اوخلویښت کاله وو او په دے مابین کښ دوه پیغمبران وو چه هود او صالح علیهما السلام دے اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ یاد که هغه چه راغے دے رب خپل لره بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ (۸۴) په دا ډول زړهٔ چه پاک وو له اعلاقو (تعلقاتو) یا له محبته د دنیا یا له حظوظو د نفس یا له درست ماسوی الله څخه اِذْ قَالَ یاد که هغه چه وویل دهٔ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ پلار خپل ته او قوم خپل ته مَاذَا تَعْبُدُوْنَ (۸۵) داڅهٔ څیز دے چه عبادت ئے کوئ تاسے اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ (۸۶) ایا په دروغ نورخدایان غیر له الله پیرودلکاره غواړئ تاسے یعنی عبادت ئے کوئ فَمَا ظَنُّكُمْ پس څهٔ ګمان دے ستاسے بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۸۷) په رب د تمام عالمیانو چه تاسے لره په دے عبادت دغیر درنه که **روایت دے** چه دوئ په درځ د اختر خپل عیدګاه ته ټول روان شول او پاخه طعامونه خپل ئے بتانو ته کیښودل دیاره د تبرک په دے نیت چه بیرته راشی نوخوری به ئے او دوئ ټول نجومیان وو نو ابراهیم علیه السلام ته ئے هم وویل چه څه له مونږ سره عیدګاه لره فَنَظَرَ نَظْرَةً پس نظر واچاوو دهٔ یوکرت په نظر اچولو سره په طریقه د تفکر فِي النُّجُوْمِ (۸۸) په ستوریو کښ یعنی طرف د اسمان ته یا په کتاب د نجوم کښ د پاره د تیریستلو د دوئ په دے حیله سره فَقَالَ اِنِّيْ سَقِيْمٌ (۸۹) پس وویل دهٔ چه بیشکه زهٔ مریض یم یعنی مریض القلب یم له جهته د کفره ستاسے یا مریض یم ځکه چه مراړم په مخکښ دے او هر څوک چه مراړئ په مخکښ وی هغه مریض وی. یا نزدے یم مرض ته او اکثر مرض د دوئ به طاعون وو او دوئ به ډیر ترسه ترهیدل نو هرکله چه د مرض خبره ئے ترے واوریده فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِيْنَ (۹۰) پس بیرته وګرځیدل له دهٔ په دے حال چه شا کو ونکی

کتبه: محمد صادق ذهیر زهیر پیرهارے د اګوال
ش ۱۳۷۲ / ۹ / ۲۵

وو دهٔ ته او و تحتیدل ترے له ویے د طاعون بیاچه دوئ نرے لاړل فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ پس پټ راغے دے په پرده کښ خدایانو ددوئ لره نوے لیدل چه پتول جړاؤ کړی دی او انواع د طعامونو رته پراته دی فَقَالَ پس و ویل دهٔ بتانو ته په طریقه د مسخرے سره چه اَلَا تَاْكُلُوْنَ (۹۱) ایا نهٔ خورئ تاسے د اطعامونه اوچه له دوئ هیڅ غږ ونهٔ خوت نو بیا ئے و رته وویل مَا لَكُمْ چه څهٔ بلاده په تاسے لَا تَنْطِقُوْنَ (۹۲) چه غږ نهٔ کوئ اوجواب نهٔ راکوئ مالره چه بیاغږ ونهٔ شهٔ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ پس پټ راغوت په دوئ او پتول ئے په تبر مات مات کړهٔ غیرله یوغټه چه هغه ئے تبر په اوږه سلامت پریخوده وَلا ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ (۹۳) په ولاړو سره په قوت یا په بنی لاس یا په سبب د هغه سوګند چه کړے وو دهٔ په تالله لاکیدون اصنامکم او داقصه په کمال سره بیان شوے ده په سورهٔ انبیاء کښ بیاچه دوئ کوم لیدونکی خبر کړهٔ فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ (۹۴) پس متوجه شو دوئ ابراهیم علیه السلام ته چه راماړوے ئے و هلی نوے نیولو او نمرود لره ئے راوستو نو پوتلو ورته وویل چه داوله ؟ مونږه ئے عبادت کوو او ته ئے راله ماتوے قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ نو وویل ده ورته په جواب چه ایا عبادت کوئ تاسے مَا تَنْحِتُوْنَ (۹۵) د هغه بتانو چه توکئ او سازوئ ئے په خپلو لاسونو وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ او حال دا چه خدائ پیدا کړی یئ تاسے وَمَا تَعْمَلُوْنَ (۹۶) او هغه کارونه چه کوئ ئے تاسے په لاسونو خپلو یعنی خدائ خالق دے هم ستاسے او هم د اعمالو ستاسے نو د بل چا عبادت ولے کوی او دا دلیل دے ځمونږه په دے چه خالق دافعالو د بندګانو خدائ دے کهٔ خیر دے او کهٔ شر دے بیا هر کله چه دا نمرودیان ملزم کړه ابراهیم علیه السلام اوله جوابه عاجز شو نو قَالُوا ابْنُوْا وویل دوئ سره یو بل ته چه بنا کړئ یعنی ساز کړئ لَهٗ بُنْيَانًا د پاره د سیزلو د دهٔ پوه چار دیواری له تیږو نو چار دیواری ئے سازه کړه چه دیرش ګزه اوږده اوشل ګزه پلنه وه اوله خسو ئے ډکه کړه فَاَلْقُوْهُ فِى الْجَحِيْمِ (۹۷) بیا وغورځوئ دے په هغه سخت تیز اور کښ فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا پس وکړو دوئ له دهٔ سره دغریب او د فتنے د پاره د سیزلو د دهٔ فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ (۹۸) پس وکړو ځول مونږ دوئ خوارخسته مقهور چه هغه فریب ئے عبث شهٔ او دے له هغه اوږه راووت او هغه اوږه ورته کلزار کړه مونږه وَقَالَ او بیا و ویل ابراهیم علیه السلام پس له هغه چه له اوږه سلامت راووت اِنِّىْ ذَاهِبٌ چه بیشکه زهٔ تلونکے یم اِلٰى رَبِّىْ رب خپل تر یعنی هغه ځائ ته چه دهٔ ما مورکړے یم

چه شام دے سَیَهْدِیْنِ ﴿۹۹﴾ زه زمکے چه برابر به کادے ما هغے لارے ته چه په هغے کښ صلاح دمارینو وی حُما **روایت دے** چه هرکله دے شام ته روان شهٔ نو په دے لاره کښ بی بی سارے رضؓ لمهٔ پایوه ویښه ورکړه هاجره نوے. او هغے بیا ابراهیم علیه السلام ته وښځله اوهٔ ؤ ازاده کړه بیا ئے په نکاح کړه هاغه کله چه ورسیده شام ته نو سوال ئے وکړو چه رَبِّ هَبْ اے ربه حُما راکړه ما لره یو فرزند مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۰۰﴾ له نیکو کارانو چه مدد کار وی حُما په طاعت ستا کښ او ملګری م وی په غربت کښ فَبَشَّرْنٰهُ پس زیرے وکړو موږه په دهٔ بِغُلٰمٍ حَلِیْمٍ ﴿۱۰۱﴾ بیا دا سے فرزند چه څښتن د حلم اود صبر به وی بیا فرزند ورلره خدائ ورکړهٔ **روایت دے** چه دهٔ بیا په امر د خدائ سره دامور اوحُوئ دواړه راوستل او په هغه حُائ کښ ئے کوز کړه چه اوس پکښ مسجد حرام دے بیا چه اسمٰعیل علیه السلام د اُو کالو یا د دیارلسو کالو شو نو ابراهیم علیه السلام ورلره راغے د پاره د دیدن او هلته ئے درے شپے وکړے چه د تروئے اود عرفے اود نحرد ی نو په اوله شپه ئے خوب ولیدهٔ چه څوک ورته وائی چه خدائ دا سے امر درته کړے دے چه داحُوئ ذبح حلال کړه نو صبا ورځ ئے پوله په تفکر کښ تیره کړه چه داخوب رحمانی دے که شیطانی. نوځکه تر دیه بالهٔ شی چه تر دیه تفکر نه وائی اوچه دویمه شپه ئے بیا هم دا سے خوب ولیدهٔ نو ورته معلوم شهٔ چه داحق دے نوځکه عرفه باله شی اوپه دریمه شپه ئے بیا هم دا سے خوب ولیدهٔ نو صباله ئے اسمٰعیل علیه السلام منٰی له راوست اوهلته ئے ذبح لا بنا وکړه ځکه چه څوباله شی لکه چه والیٰ فَلَمَّا بَلَغَ پس هرکله چه ورسیدهٔ ابراهیم علیه السلام مَعَهُ السَّعْیَ له حُوئ خپل سره حُائ دسعی ته چه میځ دے دصفا اومروه یا چه ورسیدهٔ اسمٰعیل علیه السلام حد د تلوته له پلاره سره حُائ د ذبح ته چه منٰی دے یا حد د کرخُید لوته له پلاړه سره په کار دنو اوپه حاجتو نو ددهٔ کښ قَالَ یٰبُنَیَّ نو وویل ورته ابراهیم علیه السلام چه اے بچو ریه حُما اِنِّیْٓ اَرٰی بیشکه چه زهٔ وینم فِی الْمَنَامِ په خوب کښ اَنِّیْٓ اَذْبَحُكَ دا سے چه بیشکه زهٔ ذبح کوم تا یعنی دا درے شپے سره په سر خوب کښ وینم چه امر کیږی م راته چه داحُوئ ذبح کړه م فَانْظُرْ پس تهٔ هم فکر وکړه پکښ مَاذَا تَرٰی ؕ چه تهٔ څرنګه ګڼږے اودا سے دپاره دا زمیښت ورته وویل چه غاړه ورته ږدی اوکهٔ نهٔ ږدی قَالَ یٰٓاَبَتِ افْعَلْ نو وویل ورته دهٔ چه اے پلاره حُما وکړه مَا تُؤْمَرُ ؕ

هر هغه کار چه ما موره کړے ته ؤ په هغه کار چه خوب د پیغمبرانو علیهم السلام حق وی لکه چه وحی وی د دوئ په وینبه سَتَجِدُنِیْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ زړے چه بیا به موے ته ما مأکۂ اراده وشی د خدائ مِنَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾ له صبر کونکو په ذبح یا په حکم د خدائ روایت دے چه هرکله ابراهیم علیه السلام منیٰ له راوست او اراده د ذبح ئے وکړه نو د ؤ سره ته وویل چه پلار ه! درے کاروونه وکړه پر د اچه پر ستونه او خپے م وتړه چه مبادا په وخت د ذبح کښ اضطراب ونۂ کړم او د اسے و پر ونو ککړے نشی او بل د اچه ستړے وتړه خُما او هم خپله اوپر مخے م د اچوه چه په وخت د تیغ را بنکلو په وچولی کښ م نغیر پیدا نۂ شی او شفقت پدری موجب د تقصیر او تاخیر د امر الٰهی نۂ شی او بل د اچه دا قمیص م بیا مورله ورکه خُما تسلی به پرے کوی نو ابراهیم علیه السلام همداسے وکړۂ لکه چه وائی فَلَمَّآ اَسْلَمَا پس هر کله چه غاړه کیخود له دوئ د دواړو د ؤ حکم الٰهی ته او د د ۂ لاسونه او خپے ئے وَتَلَّهٗ لِلْجَبِیْنِ ﴿۱۰۳﴾ او وائے چولو اسمٰعیل علیه الصلوٰة والسلام پر مخے په وچولی د د ۂ په ویلو سره او چا ویلی دی چه په بنی اړخ باندے او چاړۂ ئے را بنکله په حلق د د ۂ نوهیڅ قدر غوښتل ونکړۂ په امر د رب سره وَنَادَیْنٰهُ او غږ وکړۂ مونږه د ۂ ته یعنی ورته وویل مونږه اَنْ یّٰٓاِبْرٰهِیْمُ ﴿۱۰۴﴾ د اسے چه اے ابراهیم علیه السلام قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْیَا چه تحقیق چه رښتیا کړه تا خوب خپل او جواب د لتا مخد وف د ے چه فَبَلَّغْتَ مُنْهُ د ے او یاهم دا نادیٰنه د ے په زیادت د واو سره اِنَّا كَذٰلِكَ بیشکه چه مونږه په مثل د جزا ستا نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۰۵﴾ جزا ورکوو نیکوکارانو لره په خوشحالئ سره پس له سختئ سره پس له سختئ اِنَّ هٰذَا بیشکه دا ماموریت د ے لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِیْنُ ﴿۱۰۶﴾ هر امتحان ازمیښت یا محنت د ے بنکاره چه پرے مخلص له غیر مخلص معلومیږی[عه] وَفَدَیْنٰهُ او فدیه ورکړه مونږه اسمٰعیل علیه السلام لره بِذِبْحٍ عَظِیْمٍ ﴿۱۰۷﴾ په پسۂ لوئے چاغ سره چه هابیل قربانی کړے وه او بیا ورو ے ووځنت لره او هلته به څریدۂ تر دغه وخته پورے هغه جبریل علیه السلام لره جنت را روان کړۂ او څلورم اسمان لره راښے نو په زوره ئے وویل چه الله اکبر الله اکبر او د ؤ ئ دا آواز واو ریدۂ نو اسمٰعیل علیه السلام وویل چه لا اٰله الا الله والله اکبر او په دغه مینځ کښ بیا پسۂ ئے

عه اخلاص کونکے غیر اخلاص کونکے ۱۲ عه نخشته بل خدائ مګر یو خدائ دے ۱۲

ئے راورساووا ودا اسمٰعیل علیہ السلام پہ خُائی ئے ورتہ خٹلا ووا وھنہ ئے ترے لرے کرہ نو ئے دیر خوشحالہ شئہ پہ دے خُکہ چہ داسے گمان ئے وکړو چہ ماموربہ ہم پہ خُای ولکیدہ چہ اسمٰعیل علیہ السلام ذبح شہ نوے ویل چہ اللہ اکبر وللہ الحمد. بیا چہ ستړکے ئے پراستلے نوے لیدلو چہ خُوئی ئے ناست وواو پسہ ورتہ حلال کړے پروت وو نو دا ویل سنت جاریہ شئہ ان تر قیامتہ پورے نو پہ نزد دامام اعظم رح کہ ئے چاند رکیخودہ ئے پہ کوم کار ذبح دولد خپل نولاز میږی پرے ذبح دپسہ اودلیل ئے دا ایت دے وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ او باقی پریخودہ ئے مونږہ پہ دئ بنہ ثنا او مدح فِي الْاٰخِرِيْنَ (۱۰۸) پہ ورستو اموکښ ان ترقیامتہ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ (۱۰۹) سلام دے خُمونږہ پہ ابراھیم علیہ السلام باندے كَذٰلِكَ پہ مثل دجزا ددئ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ (۱۱۰) جزا ورکوونکو کا انو لرہ اِنَّهٗ بیشکہ دے چہ دے مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۱۱) لہ ھغو بندگانو خُمونږہ دے چہ مومنان دی وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ او زیږے ورکړئ مونږہ پہ دئ پس لہ اسمٰعیل علیہ السلام پہ بل خُوی چہ نوم ہ ئے اسحٰق علیہ السلام وی نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ (۱۱۲) پیغمبر لہ صالحانو وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ او برکت اچولے وو مونږہ پہ دہ پہ اولاد دتکثیر سرہ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ط او پہ خُوی ددئ چہ اسحٰق علیہ السلام دے پہ دے شان چہ پیدا کړہ مونږہ لہ پښتہ دده یو زر پیغمبران چہ اول ئے یعقوب علیہ السلام اواخرئے عیسیٰ علیہ السلام دے وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا اولہ اولاد دے دواړو وَمُحْسِنٌ خُوك نیکوکار دے پہ ایمان اوپہ طاعت سرہ وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ (۱۱۳) اوخوك ظالم دے پہ خُان خپل بنکاره پہ کفر او پہ معصیت سرہ وَلَقَدْ مَنَنَّا اوھرا ئینہ پہ تحقیق منت اواحسان بارکړے وو مونږہ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ (۱۱۴) پہ موسیٰ اوپہ ھارون علیھما السلام پہ نبوت وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا اوخلاص کړہ مونږہ دوئی دواړہ اوقوم ددوئی ھم چہ نور بنی اسرائیل وو مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ (۱۱۵) لہ ډیر لوئی غمہ چہ ھغہ مرئی توب وو د فرعون وَنَصَرْنٰهُمْ او مدد کاری وکړہ مونږہ لہ دوئی سرہ پہ وخت دمقابلے کښی لہ قبطیانو سرہ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ (۱۱۶) پس وو دوئی پہ دشمن باندے ھم دوئی غلبہ کونکی وَاٰتَيْنٰهُمَا او ورکړے وو مونږہ دواړو لرہ الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ (۱۱۷) کتاب ډیر بنہ بیانونکے دشرائعو او احکامو چہ تورات وو وَهَدَيْنٰهُمَا اوښودلی وو مونږ دوئی دواړو

ته الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿۱۱۸﴾ لاره سمه رسولکے مقصود ته وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا اوپریخوده مونږه په دوئ دواړو وښه ثنا اومدح فِي الْآخِرِينَ ﴿۱۱۹﴾ په وروستیو اموکښ این ترقیامته پورے سَلَامٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿۱۲۰﴾ سلام دے حُمونږه په موسیٰ اوپه هارون علیهما السلام إِنَّا كَذَٰلِكَ بیشکه چه مونږه همدا سے نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۲۱﴾ جزاورکوو نیکوکارانو لره إِنَّهُمَا بیشکه چه دوئ دواړه مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۲۲﴾ له هغو بندګانو نوحُمونږه دوچه مؤمنان دی وَإِنَّ إِلْيَاسَ اوبیشکه الیاس بن یاسین علیه السلام چه دے چه له اولاده د هارون علیه السلام وو اولیږلے شوے وو بنارد بعلبک اونواحیود هغهٔ ته لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۲۳﴾ هرائینه یولهٔ رسولانو وو خلقوته دپاره دعوت إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ یاد کړه هغه چه وویل دهٔ قوم خپل نه أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۲۴﴾ ایا نهٔ ویریږئ تاسے له عذاب دخدائ أَتَدْعُونَ بَعْلًا ایا بولئ تاسے بعل یعنی عبادت کوئ د هغه بت چه نوم ئ بعل دے اوډاډیوبت وو ددوئ د سرو زرو چه شل کزه اوږدوا اوخلورے مخونه وو یعنی تاسے عبادت دهغه بت کوئ وَتَذَرُونَ اوپریږدئ تاسے أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ ﴿۱۲۵﴾ عبادت دهغه خدائ چه غوره دخالقینو یعنی مصوّرینو دے اللَّهَ رَبَّكُمْ یعنی دهغه الله جل شانه چه هم رب دے ستاسے وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۲۶﴾ اوهم رب دے د هغو پخوانیو پلرونو ستاسے اوډاډرے واړه بدل دے له احْسَنَ خۇ فَكَذَّبُوهُ پس تکذیب وکړو دوئ دهغه فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿۱۲۷﴾ پس بیشکه دوی هم الله حاضر کړی شوی دی په دوزخ کښ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ مګر هغه بندګان دخدائ له قومه دده الْمُخْلَصِينَ ﴿۱۲۸﴾ چه پاک کړی شوی وو له شرکه له نفاقه وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ اوپریخوده مونږه په ده بنه ثنا اومدح فِي الْآخِرِينَ ﴿۱۲۹﴾ په وروستیو اموکښ این ترقیامته سَلَامٌ عَلَىٰ إِلْ يَاسِينَ ﴿۱۳۰﴾ سلام دے حُمونږه په الیاس خیلو یعنی په هغه چاچه ایمان ئے پرے راوړے دے إِنَّا كَذَٰلِكَ بیشکه چه مونږه همدا سے نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۳۱﴾ جزاورکوو نیکوکارانو لره إِنَّهُ بیشکه چه دے مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۳۲﴾ له هغه بندګانو نوحُمونږه دے چه مؤمنان دی وَإِنَّ لُوطًا اوبیشکه لوط بن هارون علیه السلام چه دے لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۳۳﴾ هرائینه یولهٔ رسولانو وو خلقو را إِذْ نَجَّيْنَاهُ یاد کړه هغه چه خلاص کړوٴ مونږه دهٔ لره وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿۱۳۴﴾ او اهل بیت دهٔ پَوْلَ إِلَّا عَجُوزًا مګر یوه زړه چه بنځه وه دده هغه

پاتے شوه فِی الْغٰبِرِیْنَ (۱۳۵) په بیرته پاتے کیدونکو کښی یعنی له قومه سره ځکه چه داهم کافر وه ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِیْنَ (۱۳۶) بیا هلاک کړهٔ مونږه هغه نور بیرته پاتے شوی یعنی قوم دده وَاِنَّكُمْ اوبیشکه تاسے اے مکیانو لَتَمُرُّوْنَ عَلَیْهِمْ هرائینه تیریږی اوراتیریږی په میندو دوئی په هغه وخت چه شام له ځئ په سودا کولو مُّصْبِحِیْنَ (۱۳۷) په دے حال چه داخل کیدونکی اوسئ په صبا کښی وَبِالَّیْلِ اودشپے هم یعنی هروخت پرے تیریږی اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ (۱۳۸) ایا پس عقل نه کوئ تاسے چه عبرت پرے واخلئ وَاِنَّ یُوْنُسَ اوبیشکه یونس بن متی علیه السلام چه دے لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ (۱۳۹) هرائینه یو له رسولانو دوخلقو دنینوی ته چه ښار دے له بلا دود موصل ځخه اودوئی ے توحید ته وبلل اودوئ پرے ایمان رانه وړ. نوعده دنزول دعذاب ئے ورسره وکړه اودے ترے لاړ بیاچه عذاب راغے اودوئی ایمان راوړهٔ نوعذاب ترے بیرته لاړ شهٔ بیاچه دے یوځو ورځے پس ورله رالغے اوله ورایه ئے ښهر ولیدهٔ چه هم هغسے اباد دے نو له صحرا بیرته وګرځیده لکه چه وائی اِذَا اٰبَقَ یاد که هغه چه وتختیهٔ دے له قومه خپله اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ (۱۴۰) هغه بیړئ ته چه دک وه له اډمیانو اوله متاعه بیاچه ډکه پکښی سورشهٔ نو بیړئ په خائ ودریده په میخ دسیندکښی نو ملاحانو وویل چه کوم مریے دے تختیدے له خښتن په دے بیړئ کښی نوقرغه واچوئ فَسَاهَمَ پس قرغه واچوله ده بیړئ له خلقو سره درے کرته فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِیْنَ (۱۴۱) پس شهٔ دے له مغلوبانو قرغه کښی درک واړه کرته یعنی په هم دهٔ وخته بیا نوخان ئے سیندته واچولو. فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ پس یوه لقمه کړهٔ دے ماهی اوسلامت ئے حلق تیرکړهٔ وَهُوَ مُلِیْمٌ (۱۴۲) اوحال داچه دے ملامته اچوئ ے وو په خان خپل په دے فعل چه کړے ئے وو **روایت دے چه ماهی ته امر وشهٔ چه** خبردار چه خراب ئے نکړے چه دے ستا خوراکی نه دے بلکه درځخه امانت دے نو دے ئے په اوږه سیندونو کښی وګرځولو اود ماهی بدن ورته خدائ ائینه کړه نوعجائبُ اوغرائبُ دسیند ونو به ئے لیدل او نارے به ئے وهلے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ نو رب العزت وائی چه فَلَوْلَآ پس که چرته نهٔ وے داکار اَنَّهٗ كَانَ بیشکه وو دے مِنَ الْمُسَبِّحِیْنَ (۱۴۳) لتسبیح ویونکیو

عه معنی داچه نشته معبود برحق مګر تے پاکی ده تا له بیشکه زهٔ یم د ظالمانو نه ۱۲

مخه لَلِبِثْتُ فِي بَطْنِهٖٓ نو هغه ئې په ګیډه کښ وے ما هی کښ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ (۱۴۴) تر هغې ورځې پورے چه بیا ژوندی کولے شی داخلق فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ پس پریښودو غورځولو موږه ئې په دا ډاګ میدان باندې چه په هغه کښ نه ونه نه بوټی اونه ګیاه وه وَهُوَ سَقِيْمٌ (۱۴۵) او حال داچه ئې رنځور وو یعنی ډیر ضعیف وو او بدن ئے د ناروغۍ شوے وو لکه دهغه هلک چه له موږه پیدا شی وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ او زرغون کړه موږه په سر دده شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ (۱۴۶) ونه یعنی بوټے د کدو چه د پانړو سورے پرے وکړه او چې هم ورته نزدے نه ګډے شی او داخاصه ده کدو وَاَرْسَلْنٰهُ او بیا ولیږه موږه دے اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ سل زرٌ مخلوق نه اَوْ يَزِيْدُوْنَ (۱۴۷) بلکه زیات وو له دے شل زره یا دیرش زره یا اویا زره فَاٰمَنُوْا پر ایمان راوړ دوئ یعنی تجدید د ایمان ئے وکړو د یونس علیه السلام په مخکښ فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ (۱۴۸) پس ژوندی پاتے کړۀ موږه دوئ تر یو وخت پورے او فی الحال مو هلاک نه کړه فَاسْتَفْتِهِمْ پس وپوښته ته داکفارو مکے د پاره د الزام یا خجینه اوښی خزاعه اوښی ملیح چه ملائکه لونړه بولی د خدائ یعنی دا قول د پوښته له دے قسمه چه اَلِرَبِّكَ الْبَنٰتُ آیا رب ستاله لونړه دی په زعم د دوئ چه ملایک دی وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ (۱۴۹) او دوئ لره خامن دی حکه چه په لونړو څخه کیږی اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا او که پیدا کړی دی موږ ملائک ښځے وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ (۱۵۰) او حال داچه دوئ حاضر وو په وخت د پیدا کولو د دوئ کښ اَلَآ اِنَّهُمْ واوره او خبردار اوسه چه بیشکه دوئ مِّنْ اِفْكِهِمْ له د دغ اوله افتراء خپلے لَيَقُوْلُوْنَ (۱۵۱) وَلَدَ اللّٰهُ هر اګینه والی دوئ چه اولاد راوړیدے خدائ یعنی ملائک وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ (۱۵۲) او حال داچه بیشکه دوئ هر اګینه دروغژن دی په دے ویلو کښ اَصْطَفَى الْبَنٰتِ آیا غوره کړی دی لونړه چه مکروه طبعی ستاسے دی عَلَى الْبَنِيْنَ (۱۵۳) په خامنو چه موجب د فخر او د معاونت ستاسے دی مَا لَكُمْ تنه کوم باعث دے په تاسے د دے قسمت نالائق كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ (۱۵۴) څرنګه حکم کوئ تاسے په دے فاسد حکم سره اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ (۱۵۵) آیا پس فکر نه کوی تاسے چه خدائ پاک دے له نښځے اولاد اولاد ده حکه چه مولود له جنسه د والد وی او دے منزه دے له مثل له شیبه اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ (۱۵۶) کوم دلیل او حجت بنکاره واضح په ګډه خدائ اولاد لری فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ پس راوړئ هغه کتاب منزل

خپل چه تورات دے چه مونږه هم وکړو وچه په هغه کښ د احکم شته اِنْ كُنَّا لَيَقُولُونَ تاسے صٰدِقِيْنَ (۱۵۶) ربښتیی په دے قول خپل کښ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ او پیدا کړی دی دغه مشرکانو په مابین دخدائ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا او په مابین د جنا تو کښ چه پټ دی له ستر کو یعنی ملائک نسبت او خپلولی چه ئے لونږه بولی دوئ د دغه وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ او هر اُئینه په تحقیق پوهیږی د جنات چه اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ (۱۵۸) بیشکه د اقائلان چه دی چه نسبت د ولد کوی خدائ ته هر اُئینه حاضر کړے شوی دی په دوزخ کښ سُبْحٰنَ اللّٰهِ پاك دے خدائ عَمَّا يَصِفُوْنَ (۱۵۹) له هغه نسبت د شریکه او د ولد چه وائی د اکفار اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ (۱۶۰) لیکن هغه بندکان د خدائ چه پاك کړے شویدی له شرکه له معصیته هغه منزه دی له دغه نسبت د نسبه اوله حضوره د دوزخ فَاِنَّكُمْ پس بیشکه چه تاسو اے کفارو وَمَا تَعْبُدُوْنَ (۱۶۲) او هغه بتان چه عبادت ئے کوئ تاسے مَآ اَنْتُمْ نه یئ تاسے ټول یعنی عابدان او معبودان عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ (۱۶۳) په دے بت پرستئ سره په فتنه کښ اچونکی یعنی گمراه کونکی د هیچا اِلَّا مَنْ مگر د هغه چا هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ (۱۶۴) چه دے ننوتونکے د دوزخ دے په علم د خدائ کښ بیا جبریل علیه السلام ووئیل رسول علیه السلام ته چه وَمَا مِنَّآ او نشته له مونږه هیڅوك اِلَّا لَهٗ مگر چه مقرر دے د ۀ لره مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ (۱۶۴) ځائ د خدمت او د عبادت معین کړے شوی په اسمانونو کښ چه عبادت کوی د خدائ او تجاوز نه کړے شی کوله وَاِنَّا او بیشکه مونږه لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ (۱۶۵) هر اُئینه مونږه صفونه تړونکی یو په وخت د طاعت کښ او په ځائ د خدمت کښ وَاِنَّا او بیا بیشکه مونږه چه یو لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ (۱۶۶) هر اُئینه مونږه تسبیح ویونکی یو حاصل د اچه مونږه پخپله عابدان یو نو لایق د معبودیت نه یو وَاِنْ كَانُوْا او بے شکه چه وو د اکفار له قریشو پخوا له بعث لَيَقُوْلُوْنَ (۱۶۷) چه هر اُئینه ویل به ئے دا سے لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا چه که چرے بیشکه وے مونږه تخمه ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ (۱۶۸) کوم کتاب له کتابونو د پخوانیو امو لکه تورات یا انجیل یا نور صحف شو لَكُنَّا نو هر اُئینه وو به مونږه هم عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ (۱۶۹) هغه بندکان د خدائ چه پاك کړے شوے دی له شائبے د شرك او د کفر او یا چه راغے ورله هسے کتاب چه دیر غوره وو له نزول کُتُبِ سماوی وُچه قرآن دے فَكَفَرُوْا بِهٖ پس کافر شو په

هغهٔ اوچا سعر او چا شعر و بالهٔ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ (۱۷۰) پس زردے چه معلوم به کړی وی عاقبت د دے کفرو لَقَدْ سَبَقَتْ اوهرا ئینه په تحقیق روړمبے شویدے كَلِمَتُنَا کفتار مونږه د نصرت لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ (۱۷۱) له هغو بندکانو خپلو مونږه سره چه لیږلی شوی دی خلقو ته چه هغه کلمه داده چه اِنَّهُمْ بیشکه دوئ چه دی لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ (۱۷۲) هرا ئینه هم دوئ یاری کړے شوی دی وَاِنَّ جُنْدَنَا اوبیشکه لښکر خپلو مونږه چه دے یعنی تابعان د دے رسولانو چه مؤمنان دی لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ (۱۷۳) هرا ئینه هم دوئ غالب دی پر کفارو په نصرت او په حجت سره او کهٔ کلمه خلاف د دے واقع شی په دنیا کښ نو په آخرت کښ خامخا غالب دی فَتَوَلَّ عَنْهُمْ پس مخ وکړخوه له دوئ اے رسوله یعنی له کفارو د مکے حَتّٰى حِيْنٍ (۱۷۴) تر یو وخت پورے یعنی تر هغه چه ماموریشوے نه ئے په قتال تا تر وخته د نصرته چه و رځ د بدر یا فتح د مکے وَّاَبْصِرْهُمْ اوبیا وکوره دوئ پس له لږے مودے چه څه ور سره کولے شی فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ (۱۷۵) پس زر دے چه وبه وینی دوئ عاقبت د کفر خپل بیا نو دوئ وویل له پوچ منډے چه دا به نو کله وی نو نازل شهٔ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ (۱۷۶) ایا پس په را تلو د عذاب خمونږه تلوار کوی دوئ چه مخوا خپل وخت ئے غواړی فَاِذَا نَزَلَ پس په هغه وخت چه را کوزشی دا عذاب بِسَاحَتِهِمْ په غولی د دوئ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ (۱۷۷) پس بد دے هغه صباد یر ولوشو یوچه چیاوُ د عذاب به پرے راليږي او بیاد وبارهٔ وائی دیاره د تاکید چه وَتَوَلَّ عَنْهُمْ اوځ وکړخوه له دوئ حَتّٰى حِيْنٍ (۱۷۸) تر یو وخته یعنی څوچه ا مر د قتال نهٔ د دے شوے وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ (۱۷۹) او وکوره بیا حال د دوئ پس زر دے چه دوئ به هم وینی حال خپل په وخت د نزول د عذاب کښ هم دلته اوهم هلته سُبْحٰنَ رَبِّكَ پاکی د ده رب ستا لره چه هره عیبه نقصانه رَبِّ الْعِزَّةِ چه څښتن د عزت او د قوت او غلبے او د دے پاك د ے عَمَّا يَصِفُوْنَ (۱۸۰) له هرهغه څیزه چه دا مشرکان ئے و رښه منسوب کوی لکه شریک او فرزند وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ (۱۸۱) اوسلام د دے په تولو رسولانو وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ اوشنا ده خدائ لره رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۸۲) چه تربیت کوونکے د دے تام عالمیانو ۔ وَعَنْ عَلِيٍّ رضی من احب ان یکتال بالمکیال الاوفی من الاجر یوم القیٰمة فلیکن آخر کلامه اذا قام من مجلسه سبحٰن ربك رب العزة عما یصفون وسلم علی المرسلین والحمد لله رب العلمین ط

مه هر څوك چه دوست لري چه و تلے شی د ده له په تلو و یر د سره له ثواب په و رځ د قیامت نو وی د ده له لره و روستنۍ خبره د دے هر کله چه پاتی د مجلسه خپل سبحٰن ربك رب العزة عما یصفون وسلم علی المرسلین والحمد لله رب العلمین وی ۱۲

سورۃ ص مکیۃ ۳۸ — بسم اللہ الرحمن الرحیم — الجزء ۲۳ — الحزب ۸۸

ص متاخرین په تاویل ددهٔ کښ دا سے وائی چه دا یو نوم دے د څخدای یادے سورۃ یا نوم دے د اول حرف دا سم صانع او د صمد او د صادق او د صبور. یعنی قسم دے په دے څیز د نوچه مذکور دی صراحةً یا اشارةً یا دلالةً او بل وَالْقُرْاٰنِ قسم دے په قران ذِی الذِّکْرِ (۱) چه څښتن د پند یا یادښان یاد شرف دے او جواب د قسم محذوف دے هغه دا دے چه دا سے نهٔ ده لکه دا کافرد مکے چه وائی له تعدد د څخدایانو بَلِ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا بلکه هغه کسان چه کافردی له مشرانود قریشو فِیْ عِزَّةٍ په کبر او سرکشئ کښ دی له قبول د حق وَّشِقَاقٍ (۲) او په مخالفت کښ دی له خدایانو او له رسول او دے ته نهٔ گوری چه کَمْ اَهْلَکْنَا د پر هلاک کړی دی مونږه مِنْ قَبْلِهِمْ پخواله دے قومه ستا مِنْ قَرْنٍ له څوځو قرنونو د تیرو اُمموپه سبب د دغه کبراو د سرکشئ فَنَادَوْا پس نارے به ئے وهلے په وخت د نزول د عذاب کښ د پاره د استغاثے یا د پاره د توبے او د استغفار وَّلَاتَ اوحال دا چه نهٔ به وو دا وخت یعنی چه عذاب په یوکرت راغے حِیْنَ مَنَاصٍ (۳) په وخت د مخ کړولو او تختیدلو او دا لَا لیسی دے چه تَ پرے زائده شویده د پاره د تاکید. او په دے تَ سره ئے حکم مغیر شوے دے دے اسے چه اوس نهٔ دا خبری مگر په حِیْنَ باندے. او بل واجب شی حذف دیو له معمولینو د دے یعنی دا سم او یاد خبراد ذکر د دے د منع دے او مناص مصدر دے د ناص ینوص نوصًا وصیاصًا ای فات یفوت فوتًا او دا عبارت ماخوذ دے له دے مقولے د عمرو بن چه هر کله دوئ په جنگ کښ به مغلوب شو نو نارے به ئے کړے چه مَنَاصَ مَنَاصَ چه تختئ چه دا وخت د تیښتے دے نو اوس دلته ئے اسم محذوف دے او تقدیر ئے دکلام دا دے چه فنادوا ولیس هذا الحین حین مناص اے منجاۃ وفرار. وَعَجِبُوْٓا او تعجب کوی دا کافرد مکے اَنْ جَآءَهُمْ له دے چه راغلے دے دوئ لره مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ ډ پیغمبر ویرونکے له عذاب د قیامت د دوئ له خپل جنس یعنی بشر په شکل د دوئ یاله قبیلے د دوئ چه قریش دی وَقَالَ الْکٰفِرُوْنَ اووائی دا کافران چه هٰذَا سِحْرٌ دا منذر جادوگر دے چه دا خوارق مونږته ښکاره

کوی کَذَّابٌ ④ ج صح ډیر دروغ کوئی دے یه دعوت د نبوت کښی یا په نسبت د قرآن کښی خدائ ته

روایت دے چه مشران د قریشو پس له اسلام د امیر حمزه رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه ډیر مضطرب شو نو ابو طالب له راغلهٔ چه تهٔ مشر ئے د ټولو نو خُمونږه اوځے وارهٔ په میږ کښی یو حکم وکړه چه ځے دغه بے عقلان خُمونږه یو یو په مکر او په فریب راتخنه خپل دین ته راکاږی . نو دهٔ رسول صلی الله علیه وسلم راوست او ورته ځے وویل چه د اقوم د ستاله لاسه په ډاډ راغلے دے نو دهٔ قوم ته وویل چه ستاسے څهٔ مدعا ده دوئ ویل چه خُمونږه دین د نهٔ خرابوی او خُمونږه د خدایانو بد هم نهٔ وائی . نو دهٔ وویل چه زهٔ هم تاسے ته سوال کوم چه کلمه د توحید د ووائی چه روی زمین تمام د رنه مسخر شی هم عرب او هم عجم . دوئ ویل هغه کومه کلمه ده . نو دهٔ وویل چه لا اله الا الله . نو ټول په بوکرت ترے پاخیدل او یو بل تهٔ ئے سره وویل چه اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ ا یا گرځولی دی دهٔ د اډے سوه شپیتهٔ خدایان اِلٰهًا وَّاحِدًا ج صح یو خدا ئ بے شریکه اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دا کړ زول د پیرو خدایانو یو خدا ئ لَشَیْءٌ مُّجَابٌ ⑤ هرا ئینه یو څیز ځے د پیر عجیبه چه مثل نهٔ لری ځکه چه خُمونږه دومره د پر خدایان کارسازی دیو نهر دیکے نهٔ شی کولے نو یو خدا ئ به څرنګه کارسازی د تمام عالم وکړے شی وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ او روان شو هغه پنځهٔ ویشت مشران چه ابوطالب له راغلی وو مِنْهُمْ له ټولی د قریشو پس له آوریدو د ے قول له رسول صلی الله علیه وسلم او یو بل تهٔ ئے سره وویل اَنِ امْشُوْا د اسے چه له د ے ځایه - وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ج صح او صبر اختیار کړئ په عبادت د خدایانو خپلو اِنَّ هٰذَا بیشکه دا مخالفت د محمد صلی الله علیه وسلم چه ځے له مونږه سره لَشَیْءٌ یُّرَادُ ⑥ ج صح هرا ئینه یو څیز ځے چه اراده ئے کړے شویده په تقدیر الهی کښی نو خلاص ترے نشته مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا نهٔ ځے اوریدلے مونږه د واحدانیت چه دوئ وائی فِی الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ج صح په هغه وروستی ملت کښی چه ملت د عیسیٰ علیه السلام ځے چه نصاریٰ دی یعنی هغه هم توحید نهٔ وائی بلکه تثلیث وائی یا چه علت د قریشو ځے چه مونږ پرته پلرونه موندلی دی اِنْ هٰذَآ نهٔ ځے د ا توحید او قرآن چه ځے وائی اِلَّا اخْتِلَاقٌ ⑦ مکر دروغ دی د اسے چه له خپل خانه ئے پیدا کړی او ساز کړی دی ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ

ع یعنی خدایان درے وائی یو خدائ دویم بی بی مریم دریم حضرت عیسیٰ علیه السلام

الذِّكْرُ ایا رالیږلے شوے دے په دۀ دا قرآن مِنْ بَيْنِنَا ؕ له مابین څوښره یعنی مشران او اشراف محروم شواوپه دے میږ کښ وحی په دۀ راغله اوداخبره دوئ له حسده وائی بَلْ هُمْ بلکه دوئ چه دی فِيْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِيْ ؕ په شک اوګمان کښ دی له وحی څماپه قرآن دے څکه تکذیب کوی دراوپرنکی ئے بَلْ لَّمَّا يَذُوْقُوْا عَذَابِ ۸ بلکه له سره نۀ دے څکی دوئ عذاب څما اوکۀ ئے وخکلو عذاب نو شک به ئے ورلۀ شی اما هغه وخت به هیڅ نفع ورته ونۀ رسیږی اَمْ عِنْدَهُمْ ایادوئ څخه دی خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ خزانے درحمت درب ستا هسے رب الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ ۹ چه ډیرغالب او ډیر ورکړه کونکے دے یعنی اختیار دخزانو درحمت او دعطا دنبوت ددوئ په لاس کښ نۀ دے چه اشراف دقریشو لره به ئے ورکړی بلکه دا محض یوفضل الهی دے په هرچا چه ئے وکړی اَمْ لَهُمْ اوکۀ دوی لره دهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بادشاهی داسمانونو او دزمکے وَمَا بَيْنَهُمَا تاته اودهرهغه چه په مینځ دے دواړو کښ دی نوکه چرے دوئ داسے زعم لری فَلْيَرْتَقُوْا پس نو میبایدچه دوه خیژی دوئ اسمان ته فِي الْاَسْبَابِ ۱۰ په هغه اسبابونو کښ چه په هغوسره وصول کیږی اسمان ته اوبیاله هغه ځایه دتدبیر دعالم وتړی اووحی دهم راولیږی په هرهغه چاچه مرضی وی ددوی اوداامر په دواړو ځایونو کښ دپاره داستفهام انکاری دے یعنی داسے بیا اوس اخبار کوی رب العزت په رسول صلے الله علیه وسلم دمانے اودخرابے دلښکرو د قریشولا پخوا له وقوع په دے ایت سره چه جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ چه مات اوخراب کړے شوی دی زر یعنی لږه موده پس اودا قریش هم حساب دی مِّنَ الْاَحْزَابِ ۱۱ له هغو لښکرو څخه چه شاخ جنګی بهئے کوله له پخوا نیورسولانو سره چه بیا به هغه ټول هلاک شولکه چه وائی كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ تکذیب کړے وو پخوا له دے قومه ستا قَوْمُ نُوْحٍ قوم دنوح علیه السلام وَّعَادٌ اوبل عادیانو وَفِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ۱۲ اوبل فرعون چه څښتن وود میخونو چه ځلورښتنے بهئے ودرولے وے نو په هرچا چه به په غضب شۀ اوعذاب بهئے ورلږه ورکولونو دهغه لاسونه اوښے بهئے په هغوستنو پورے وترلے اوپاسه بهئے میخونه پرے ټکول نوهم داسے بهئے ساه په ولاړے وخته وَثَمُوْدُ اوبل شود وَقَوْمُ لُوْطٍ اوبل

قوم د لوط علیه السلام وَاَصۡحٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ اوبل اهل د ځنګل چه شعیب علیه السلام ورلره راغلے وو. اُولٰٓئِكَ الۡاَحۡزَابُ (۱۳) دا امذکورین چه دی هم هغه ټولے دے د مکذبانو چه جند مهذوم د قریشوهم پکښ داخل دے. نو اولئك اشارت دے دغه احزابو ته اِنۡ كُلٌّ نۀ دے هریوله دوئ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ مګر چه تکذیب ئے کړے دے د ټولو رسولانو فَحَقَّ عِقَابِ (۱۴) پس لایق او واجب شۀ عذاب ځما دوئ لره نو پرے واقع شه فائده دلته ټول رسولان یا د شول سره له دے چه هر قوم تکذیب کړیدے یوا ئے د خپل رسول له دے ځهنه چه تکذیب دیو رسول تکذیب دے د ټولو ځکه چه دعوت د ټولو یو خیز ته دے چه توحید دے وَمَا يَنۡظُرُ هٰٓؤُلَآءِ او انتظار نه کوی د اقوم ستا اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً یوکړپکے چه نفخه اولی ده چه پرے وشی او وسره پرے عذاب نازل شی مَّا لَهَا چه نشته هغه كَفَوَاقٍ لره مِنۡ فَوَاقٍ (۱۵) هیڅ قدر بیرته گرځیدل یعنی چه هیڅوك ئے نۀ شی بیرته رد کولے وَقَالُوۡا رَبَّنَا او وائی معاندان د قریشو لکه نضر بن حارث او امثال ددۀ چه اے ربه ځمونږه عَجِّلۡ لَّنَا قِطَّنَا په جلتئ سره راکړه مونږه لره برخه ځمونږه له هغه عذابه چه محمد صلی الله علیه وسلم مونږه پرے ویروی یا اعمال نامه ځمونږه چه مونږه ئے اوس وو وینو قَبۡلَ يَوۡمِ الۡحِسَابِ (۱۶) پخوا له ورځے د حساب اود ابه ئے د یاره د پوچ منډو وبل نو رب العزت وائی رسول خپل ته اِصۡبِرۡ عَلٰى مَا صبر کوه په هرهغه ناخوالو خبرو يَقُوۡلُوۡنَ چه وائی دوئ وَاذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوٗدَ او یاده کړه او تیره که دوئ ته قصه د بنده ځمونږه چه داود علیه السلام دے د پاره د عبرت یعنی چه دے سره له دومره عزته او بلند شانئ او کران والی په خدائ په یوه صغیره سره څومره عتاب ورته وشۀ او په هغه صغیره او زلت کښ د پراختلافات دی دراویانو اما صحت ته اقرب پکښ داد ے چه یو سړے وو او یا زمے هغه یوه ښځه وغوښته او نوره شوده ته چه نکاح ئے وتړی ناګاه اولیاء د ښځے ورسره ناسازه شوه بیاداود علیه السلام خپل ځان له وغوښته او په نکاح ئے کړه او پخوا له دے یوکم سل ښځے ئے درلودے نو هغۀ زلت دا خِطبه وه دده په خِطبه د اسلامی رو رخپل باندے سره له دومره نورو ښځو او بیا په دے زلت ملا نګو ورلره څومره د یر زجر او تنبیه ورکه په کنایه او په مثال ترلوسره او بیا دے په زیرکۍ سره پوهه شۀ په خپل زلت نو مغفرت ئے وغوښت له ربه خپله

اوهرکله چه هغه راسره شئ نو دے کافرانو به څهٔ وی له دے کبره اوطغیان سره نو دا قصه ته دوئ ته هم تیره کړه اوته پخپله هم عبرت پرے واخله چه مبادا ناته هم داسے حادثه پیښه نه شی ذَا الْاَیْدِ چه څښتن وو د پیرزو راوقوت په عبادت کښ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ (۱۷) بیشکه دے پیر بیا بیا رجوع کونکے وو رضا د خدائ ته ځکه چه همیشه په نیمه شپه قائم وو اویوه درځ پس به صائم وو اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مسخر کړی وو مونږه غرونه مَعَهٗ یُسَبِّحْنَ له دهٔ سره چه تسبیح به ئے ورسره وایه یا لْعَشِیِّ وَالْاِشْرَاقِ (۱۸) په اخر اوپه اول دورځ کښ وَالطَّیْرَ مَحْشُوْرَةً ط اوبل مسخر کړی وو مونږه دهٔ ته مرغان په دے حال چه راټول کړے شوی به وو د دهٔ دسود پاسه صفونه نړلی کُلٌّ لَّهٗۤ اَوَّابٌ (۱۹) هریوچه وو له غږ نوا له مرغانو دهٔ لره د پیر مطیع وو یا بیا راګرځونکی د اوازخپل وو دهٔ لره په وخت تسبیح دهٔ کښ وَشَدَدْنَا مُلْکَهٗ اوځکه کړے وه مونږه باد شاهی د دهٔ په داعاد مظلومانو یا په نصیحت دوزیرانو یا په امان کولو رعیت لره ظالمانو په اچولو دهیبت په زړونو د دشمنانو یا په ساز ولود زغرو او د نورو وسلو د پاره د سپاهیانو یا په دیروالی د څوکیدارانو چه درے دیرش زره به هره شپه ترے چاپیره ولاړ وو نوهرکله چه متخاصمین به ورلره راغلهٔ نو د پیرو لاس به ور ورسیدهٔ او د پیر به له سره نهٔ رسیدهٔ وَاٰتَیْنٰهُ الْحِکْمَةَ او ورکړے وو مونږه دهٔ لره نبوت سره له قوت د علم او کمال د عمل وَفَصْلَ الْخِطَابِ (۲۰) او علم د قضا او د قطع د خصومانو اوبیلتون په مابین د حق او د باطل کښ روایت دے چه داود علیه السلام خپلے ورځے څلور قسمه کړے وے دا سے چه یوه ورځ به ئے د عبادت وه او به د قضا او به د وعظ او به د شغل په خپلو مهمانو نو ناګاه په ورځ د عبادت دے پاس په بالاخانه کښ په خپل ورد مشغول وو. دروازے بنے وے او څوکیداران چاپیر ولاړ وو چه ناڅاپه دوه متخاصمین هریو سره له لوڼے له پاسه په دیوال د بالا خانے راوختل لکه چه وائ وَهَلْ اَتٰىكَ اَوایا راغلے دے تاته اے رسوله نَبَؤُا الْخَصْمِ م خبر د هغه دوه دلود چکره کونکیو اوچاویلی دی چه هغه دوه جبریل او میکائیل علیهما السلام وو چه سره له نورو ملائکو په صورت انسانی سره ورلره راغلے وو اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ (۲۱) یاد کړه هغه چه راوختل بنے پاس په دیوال د محراب یعنی د عبادت خانے د دهٔ اِذْ دَخَلُوْا په هغه وخت چه راننوتهٔ بنے عَلٰی دَاوٗدَ په داود علیه السلام باندے اودهٔ ولیدل فَفَزِعَ مِنْهُمْ پس وویریده دے له دوئ ـ له

دوه جهته یو په دے چه بے اجازے راغلهٔ اوبل په دے چه په لارے رانغلهٔ په دیوال راوښاتهٔ قَالُوْا لَا تَخَفْ ج ویل ورته دوئ چه مه ویریږه خَصْمٰنِ مونږه دوه ډلے یو چه جګړه لرو سره په خپلو کښ او خصم مصدر دے اطلاق ځے په واحد چه کثر په دواړو کیږی بَغٰى بَعْضُنَا چه ظلم کړے دے بعضو ځمونږه عَلٰى بَعْضٍ په بعضو نورو فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ پس حکم وکړه په مابین ځمونږه کښ وَلَا تُشْطِطْ اوجود مه کوه په حکم کښ یعنی تجاوز مهٔ کوه له حقه وَاهْدِنَآ اوښوولکړه اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ میانه لارے ته چه عدل دے نو یو ویل چه اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ تد بیشکه دے ورور دے ځما په دین یا صداقت یا په شرکت دمال کښ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً نهه نوے ګډے دی وَّلِيَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ ځف او مالره یوه ګډه ده یعنے سره له دے دے نهه نوی لری او زهٔ یوه لرم اودے په دغه نهه نو یو صبرنه کوی فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا پس وائی دے ماته چه راکه مالره داستا یوه هم چه ځما پرے سل پوره شی۔ وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ او غلبه ځے کړے ده په ما باندے په ګفتګو کښ یعنی په پرخولهٔ ورکړے نو په خبرو کښ ځے نهٔ شم لاندے کولے یا مراد له خطاب خطبه ده یعنے له بابه د مبالغے ای خاطبنی فعزنی فی الخطاب یعنے بُرد بائی دهٔ راسره برپائی کړه په خطبه کښ پس غلبه ځے وکړه را باندے په هغهٔ کښ ځکه چه ده راڅخه دهٔ په نکاح کړه **نکته** نجه په لغت کښ ګډے ته وائی اوکله کله په دے سره کنایت کاوهٔ شی له نیځے اوکنایت اوتمثیل په وخت د تعریض کښ ابلغ دے له تصریح نوځکه دوئ مقصود په کنایت سره په تمثیل کښ اداء کهٔ۔ قَالَ نو ویل ورته داود علیه السلام پس له امتزاف د مدعی علیه اویا په تقدیر د صدق د مدعی چه لَقَدْ ظَلَمَكَ قسم دے چه په تحقیق ظلم ځے کړیدے په تا بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ په غوښتلو اوبه جمع کولو د دے یو ګډے ستا اِلٰى نِعَاجِهٖ ط له یو کم سلو خپلو سره **فائدہ** ۵ داخصوصًا دوئ ځکه دهٔ له راوړهٔ چه دے ځپلے داحکم وکه چه بیا پرے هم دے ملامتیږی وَاِنَّ كَثِيْرًا او بیشکه زیات چه دی مِّنَ الْخُلَطَآءِ له هغو شریکانو چه مالونه خپل له یو بل سره خلط کوی لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ هر اُتینه ظلم کوی بعض د دوئ عَلٰى بَعْضٍ په بعضو نورو چه له خپل حقه زیاتوی اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مګر هغه کسان چه ایمان ځے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعمل نه کوی دوئ د نیکو وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ۗ اوډیر لږ دی دوئ په مابین د شرکاوو کښ اوداهم مبتداء دے مؤخر اوقَلِيْلٌ

ئے خبر دے مقدم او دا مازائدہ دے دپارہ دابہام او دتعجب لہ قلت دوئی بیانولو دا دوارہ مَلَک پہ خپل شکل شو او اسمان تہ پہ خوشو او ویویل تہ ئے سرہ وویل چہ قضی الرجل علی نفسہ یعنے کوروئ چہ حکم دپروکړ دے سرې پہ خپل ځان اوولارہ غائب شو۔ وَظَنَّ دَاوٗدُ او پوھ شہ پہ یقین داؤد علیہ السلام اَنَّمَا فَتَنّٰهُ پہ دے چہ بیشکہ ھمدا خبرہ دہ چہ پہ فتنہ او پہ ازمیښت کښ واچولو مونږہ دے پہ سبب دھغہ تقصیر پہ دے حکومت سرہ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ پس بخښنہ ئے وغوښتہ لہ ربہ خپلہ دے ګنا وَخَرَّ رَاكِعًا او پرمخے پریوت پہ دے حال چہ سجدہ کونکے وو خدائ تہ وَّاَنَابَ (۲۴) اوبیرتہ راجع شہ خدائ تر پہ تو بے سرہ او پہ یو روایت خلویښت شپے او ورځے پہ سجدہ پروت وو او سر یې نہ پورتہ کولو مګر ما نخہ لرہ یا کوم ضرورت لرہ او دا وښکو یې او بو ئے وابنہ زرعون شوی وو د سجدے پہ ځائ کښ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ پس وبخښلہ مونږہ دہ تہ ھغہ تقصیر وَاِنَّ لَهٗ اوبیشکہ چہ دہ لرہ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى پہ نزد ځمونږہ ھرائینہ دی برقرب وو پہ دنیا کښ وَحُسْنَ مَاٰبٍ (۲۵) اوښہ مرجع دہ پہ عقبیٰ کښ چہ رضوان اوجنت او دیدار دے او بیا ورتہ وویل مونږہ یٰدَاوٗدُ چہ اے داؤد علیہ السلام اِنَّا جَعَلْنٰكَ بیشکہ مونږہ چہ یو کړخولے ئے مونږہ تہ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ خلیفہ پہ زمکہ کښ چہ بادشاھی مودرکړے دہ یا خلیفہ کړے ئے مونږہ تہ دتیرو انبیاؤ علیہم السلام فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ پس حکم کوہ پہ مابین دخلوکښ بِالْحَقِّ پہ حق او پہ راستئ سرہ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى اوپیروی مۀ کوہ دھوا دنفس اودارزو کانودہ چہ تصدیق دے دمدعی پخوا لہ پونښتنے لمدعیٰ علیہ شخہ فَيُضِلَّكَ پس چپ بہ کہ دغہ ھرا تا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لہ لارے دخدائ یعنی لہ دین داسلام اولہ ھغو براھینو چہ دال دی پہ توحید لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ مقرر دے دوئی لرہ عذاب سخت بِمَا نَسُوْا پہ سبب دے چہ ھیرہ کړے دہ دوئی يَوْمَ الْحِسَابِ ع (۲۶) ورځ دحساب وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ اونۀ دی پیدا کړی مونږہ دا اسمان او زمکہ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا اوھرھغہ چہ پہ مابین دے دواړو کښ دی پہ باطل او پہ عبث بلکہ ھریو پیدا شوید ے پہ حکمت بالغہ سرہ ځکہ موجب داستدلال دے پہ وجود واجب او پہ

وحدانیت ددهٔ ذٰلِكَ دا پیدا کول په باطله چه دی ظَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا گمان دے دهغه کسانو چه کافردی او عاقبت دڅه پیدا ایسنت ته نهٔ ګوری فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس افسوس دڅه کسانو لره چه کافردی له مکیا نو اودا سے باطل ګمانونه مِنَ النَّارِ (۲۰) له اوره دوزخ چه سوزی به په کښ **روایت دے** چه کفارو دمکے وویل مؤمنانو ته چه په آخرت کښ به مونږه له ناسے قدر لا بلکه زیات له تاسے نعمتونه راکړے شی نو نازل شهٔ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ایا ګرځوو مونږ هغه کسان چه ایمان ځے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوئ دوئ دنیکو ګا الْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ د پشان دهغوچه فساد کونکی دی په زمکه کښ يه جزا او په عطا کښ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ اوکه ګرځوو مونږه پرهیزګارانو ګالْفُجَّارِ (۲۸) پشان د بدکارانو نو یعنی نه ګرځوو کِتٰبٌ داقرآن یو کتاب دے دا سے اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ چه رالیږلے دے مونږه دڅه تا ته مُبٰرَكٌ چه برکت ورکړے شویدے ورلره لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ دپاره دڅه ښه فکر وکړی دوئ په آیتونو دده کښ او واقف شی په هغه معانیوچه مستنبط دے ترے او په هغه تاویلاتو صحیحو چه مستخرج دڅه ترے نو ایمان پرڅه راوړی اودا په اصل کښ يَتَدَبَّرُوا وو د ال واقع شهٔ پس له تٓ د تفعل نو دا تٓ دال شوه اود ال په د ال کښ مدغم شو وَلِيَتَذَكَّرَ او پل دپاره ددے چه پند واخلی پرڅه اُولُوا الْاَلْبَابِ (۲۹) څښتنان دصاف عقلونو وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ او ورکړے وو مونږه داؤد علیه السلام لره سُلَيْمٰنَ ځ فرزند چه نوم ځے سلیمان علیه السلام وو نِعْمَ الْعَبْدُ ط ښه بنده وو دڅه اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ (۳۰) بیشکه چه ډیر رجوع کونکے وو خدائ ته په توبے سره یاذکراو تسبیح ته **روایت دے** چه سلیمان علیه السلام جنګ کړے وو له کفارو دمشق او د نصیبین سره اوزمے اسونه ځے ترے راوستی وو دیا پلارځے په غزا کښ له عمالقهٔ راوستی وو او بیا دهٔ میراث پاتے شوی وو دیا بحری اسونه ووچه وزمے درلودهٔ بیا یوه ورځ پس له مانځه د نماز پښین دے په تخت کیناست دپاره د تماشے دڅه اسونو ترهغه پورے چه سمر پریوت او مازیګر ترے قضاء شو۔ لکه چه وائی اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ یاد کړه هغه چه عرض کړے شو په دهٔ بِالْعَشِيِّ په آخر ورځ کښ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ (۳۱) هغه کهوړه او تیز رو اسونه چه په درڅے خپے ولاړ وی او د څلورے خپے ځے نو که ګوڼے وی او دا د اسونو خوبانی ده۔ او صٰفِنٰت جمع مؤنث د

اسم فاعل دہ له باب دصفن یصفِن صفونًا له حد دکرم اوجیاد جمع دجواد دہ فَقَالَ اِنِّیۡۤ پس وویل دۀ بیشکه زۀ چه یم اَحۡبَبۡتُ حُبَّ الۡخَیۡرِ غوره کړۀ ما محبت دا سونو اودوئ ته خیر وایۀ شی ځکه چه په دوئ کښ دیرخیر دے لکه حدیث دے چه اَلۡخَیۡل معقود بنواصیها الخیر الی یوم القیامة - اوبے غافل کړم زه عَنۡ ذِکۡرِ رَبِّیۡ ځه له یادګیرئ دربه خپله یعنی له ورده دنماز دیګره یاله ماښځه ئ حَتّٰی تَوَارَتۡ تر هغه پورے چه پناه شۀ نمر بِالۡحِجَابِ ﴿۳۲﴾ په پرده سره او نماز دیګر قضا شۀ بیا نو وویل سلیمان علیه السلام خپلو سرپوته رُدُّوۡهَا عَلَیَّ ځه چه بیرته راولئ دا اسونه ماله نو بیرته ئے ورله راوستل فَطَفِقَ پس ولګیده سلیمان علیه السلام مَسۡحًا ای یمسح بالسیف مسحًا یعنی یضرب به ضربًا معنیٰ دا چه ولګیده ئے په هلوډکے اسونو په توره بِالسُّوۡقِ وَالۡاَعۡنَاقِ ﴿۳۳﴾ په پندیو اوپه ګردنونو دوئ یعنی ځنے اوکړ دونه ئے ترے نه پریکول اوغوښے ئے په خلقو خیرات کولے اوغوښے دا سونو به دۀ پے شریعت کښ خوږے شوے بیا چه دۀ اسونه حلال کړه خدائ دپاره نوځدائ دهغوپه عوض کښ بادورته مسخر کړو چه هم ترځوره اوهم ترے جلت وو روایت دے چه دسلیمان علیه السلام ځوئ پیدا شۀ نو دیوانو سره وویل چه دے کۀ لوئے شۀ نو دپلار په شان بیادے به هم مونږه په عذابونو خوارئ چه اوس ئے لا مړ کړو اودے په دغه مصلحت خبر شه نو په وړوکے ئے وساړه چه دده تربیت به ئے کولو نا کاه یوه ورځ راولویده دده په تخت اوچاویلی دی چه دۀ په جزیره کښ بنار دصیدون فتح کړۀ اودهغه بادشاه ئے مړ کړۀ اولورئے جراده نو م ترے راوسته اوسریه ئے کړه ځکه چه په ډیره بنایسته وه اودے پرے مین وو اما هغے به همیشه پلار پسے ژړل نو دۀ په دیوانو دپلار شکل ورلره سازکړو دپاره دتسلئ دپاره دے نو دے به سجدے ورته کولے اما پته ناکاه دے یوه ورځ غسلخانے ته ننوت اوکونته ئے خپلے اُم ولدے لره ورکړه چه آمینه نوم وو اودده دا مملکت ټول هم په دغه ګوتے پورے تړلے وو نو یو پورے صخر نوے پخوا له سلیمان علیه السلام له هغه غسلخانے راووت په شکل دده اوګوته ئے واخسته اولاړ په تخت کیناست اودرسته بادشاهی پرے راټوله شوه اوخپل حکم ئے جاری کړۀ غیرله حرمه دۀ بیا چه سلیمان علیه السلام له غسلخانے راووت

عه ترے شوے دے په ننتدی دا سونو پورے خیر ترے دنیا منته پورے ۱۲

اوګوته ئے له امینے وغوښته نو دے و ما اګهٔ او پوچ ئے ورته وویل نو پوهه شهٔ چه و نیولے
شوم په اول روایت په ترلا د توکل او په دویم په بے غورئ د بت پرستئ لکه چه وائی وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ
اوهرا ثبته په تحقیق ازمایلے وو موښه سلمن علیه السلام وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ اوغورځولے وه موښه
په تخت ددهٔ جَسَدًا یو بدن بے روح چه خوئی وو ددهٔ یا هغه صخر پیئے وو او د ے بے روح بدن
ځکه وبالهٔ شهٔ چه ځان ئے سلیمان کړے وو او سلیمانیت ئے نهٔ د رلودهٔ نو نسبت سلیمان علیه
السلام ته دا سے شهٔ لکه بے روح بدن بیا پس له دومره وخوچه بت پرستی پکښ شوے وه
چه خاوښت ور ځے وے هغه صخر و تختیدهٔ او هغه گوته ئے په سیند کښ وغورځوله او ماهی
تیره کړه بیا هغه ددهٔ په لاس راغے او دهٔ ئے نس څیرے کړهٔ نو گوته پکښ پرته وه چه هغه ئے
په لاس کړه نو هغه بادشاهی ورلره بیا راغله او خدائ ته په سجده پریوت نکه چه وائی ثُمَّ
اَنَابَ (۳۴) بیا رجوع ئے وکړه خدائ تد یا بادشاهی څیلے ته پس له څلویښتو ورځو بیا نو قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ
وویل ده چه اے خُدایه بخښه ماته هرهغه تقصیر چه له ماصادر شوے دے وَهَبْ لِيْ مُلْكًا اوراکه
ماله ده اسے بادشاهی لَا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ چه نهٔ بنائی بل هیچا له مِنْۢ بَعْدِيْ ء غیر له ما او دا ئے له
شفقته ووبل نه له حسده یعنی دا په زړه وند بار دے نو غیر له ماځے په بل چا مهٔ اچوه اِنَّكَ بیشکه
ته چه ئے اَنْتَ الْوَهَّابُ (۳۵) هم تهٔ ئے پیر ورکونکے **روایت دے** چه هرکله سلیمان علیه
السلام هم پیغمبر اوهم بادشاه وو نو دیوے دا سے معجزے سوال ئے رب نه وکړو چه هم پکښ
خرق عادت وی اوهم پکښ کارسازی د بادشاهئ وی نو ځکه ئے ووبل هب لی ملکا الخ بیادا
سوال ئے قبول شهٔ لکه چه وائی فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ پس مسخر کړے وو موښه ددهٔ ته بادپه دے
شان چه تجری بِاَمْرِهٖ رُخَآءً روانیدهٔ به په فرمان ددهٔ سره هرکله چه به ئے امر ورته وکهٔ نرم اراد
پیوست نه کلک اوتند حَيْثُ اَصَابَ (۳۶) هرځائ ته چه به اراده وشوه ددهٔ وَالشَّيٰطِيْنَ اوبل مسخر
کړی وو موښه ددهٔ ته دیوان كُلَّ بَنَّآءٍ هرښا کونکے د عمار تونو چه بنهٔ بنهٔ ځایونه ورلره سازوی
وَغَوَّاصٍ (۳۷) اوهرغوته وهونکے په سیند کښ دپاره د ایستلو د جواهرو ددهٔ لره وَّاٰخَرِيْنَ اونور
دیوان وو د پرسرکش غیر له هغو تیرو دوه طائفو مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ (۳۸) چه سره ترلی او

پیلی به پراته وو په زنځیر وتړکښ دپاره دتادیب اوچه ضرر چاته ونه رسوی او اُصْفَادٍ جمع دے صفد او صفد قید ته وائی اوبیا موټره ورته ووېل چه هٰذَا عَطَآؤُنَا دا بخښش دے څومره تانه فَامْنُنْ پس منت باروه یعنې ورکوه هرچا لره چه اراده دې وشی اَوْ اَمْسِكْ یا امساك کوه یعنی حصار وه له هرچا چه اراده دې وشی بِغَيْرِ حِسَابٍ (۳۹) بے حسابه یعنې دے حساب به دریسره نۀ شی کولے وَاِنَّ لَهٗ اوبیشکه چه دۀ لره عِنْدَنَا لَزُلْفٰى په نزد څومره هرا ئینه ډیر قرب وو په دنیا کښ وَحُسْنَ مَاٰبٍ (۴۰) اوښه مرجع ده په عقبی کښ چه رضوان اوجنت اوډیر اردے وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ مراوياد کړه بنده څومره چه ایوب علیه السلام دے اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ هغه چه غږ ئے وکړه رب خپل ته اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ دا سے چه بیشکه زۀ چه یم مس کړے یم شیطان بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ (۴۱) په رنځ اوپه درد سره نوجبریل علیه السلام ورته ووېل چه اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ووهه خپله په زمکه نوړے وهله اوچینے لاندے اوبو راوختې کیده نو بیا ئے ووته ووېل چه هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ (۴۲) دا اوبۀ دی ښے چه هم غسل پرے کولے شے اوښکے هم شے نو هم ئے غسل وکړۀ اوهم ئے وڅښلے نو بیرون اودرون ئے دواړه روغ پاك صاف شۀ په اذن دخدائ اوچا ویلی دی چه دوه چینے وے یوه تودۀ اوبله سره نو په کړے ئے غسل وکړۀ اوله سره ئے اوبۀ وڅښلے وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اوورکړه موښره دۀ لره یعنې بیرته ژوندے کړه موښره اَهْلَهٗ عیال ئے فرزندان ددۀ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ اوپه شمار دوی نور هم له دوئ سره یعنې اولاد ئے لېنځوا دوچند کړلو موښره رَحْمَةً مِّنَّا محض په مهربانئ سره له جنابه څومره وَذِكْرٰى اوبل دپاره دپند اخستلو لِاُولِي الْاَلْبَابِ (۴۳) څښتنتانو دصاف عقلو نو لره چه دوئ هم صبر کا دوپه سختیو په امید دفراخی اوخوشحالئ **روایت دے** چه رحیمه نومے بنځه دایوب علیه السلام چه لودوه دافرائیم بن یوسف علیه السلام یوه ورځ په کوم کار پسے لاړه اوپرېزندے کړو نوډۀ سوکنده وکړه چه که چرے زۀ خدائ روغ کړم نوسل کاله ورته به پرے وکړم بیا چه روغ شۀ نوخیله دسوکنده ئے ترسره کړلو ورته خدائ وښودله دا سے چه وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا اوونیسه په لاس خپل کښ جارو دکنړو فَاضْرِبْ بِّهٖ پس ووهه په هغه جارو سره بنځه خپله وَلَا تَحْنَثْ اوځان مه حانث کوه په ترك دوهلو سره اِنَّا بیشکه موښره چه وَجَدْنٰهُ صَابِرًا موندلے وو موښره

دے صبرناک په هنه سختیو چه رسیدے ویدهٔ ته په نفس په اهل په مال کښ نِعْمَ الْعَبْدُ ط بنهٔ بنده وو
دے اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ (۴۴) بیشکه چه دے دیر رجوع کونکے دے درگاه خُمونږه ته په صبر اوپه توکل سره وَاذْكُرْ
عِبٰدَنَآ اویاد که بندگان خُمونږه اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ چه دادرے واړه دی چه پلار اوځُوئ
اونیے دی سره اُولِي الْاَيْدِيْ وَالْاَبْصَارِ (۴۵) چه خښتنان دلاسونو اود سترګو ووچه په لاسونو به ئے
اعمالِ صالحه کول اوپه سترګو به ئے قدرتونه لیدل په نظر دعبرت سره یاخښتنان دقوت ووپه طاعت
کښ اود بصیرت وو په دین کښ اِنَّآ بیشکه مونږه چه یوا اَخْلَصْنٰهُمْ خالص کړی وو مونږه دوئ خپل خالص
لره بِخَالِصَةٍ په خالص خصلت سره یعنې ذِكْرَى الدَّارِ (۴۶) په یاد لوډ دار اخرت سره خلوته لکه
چه عادت دے دانبیاء علیهم السلام وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا اوبیشکه دوئ چه دی په نزد خُمونږه لَمِنَ
الْمُصْطَفَيْنَ هراینه له غوره کړے شویو وو په مابین دا هل دزمانے خپلے کښ الْاَخْيَارِ (۴۷) کریات کړی وو
له هرچا سخه په خیر کښ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ اویاد که اسمعیل اویسع بن اخطوب علیهما السلام چه
په اول کښ خلیفه وو دالیاس علیه السلام او په آخر کښ بیا پخپله پیغمبر شهٔ اودا لامر
پکښ زائده دے ـ وَذَا الْكِفْلِ ط اوبل خښتن دضمانت چه وراره وو دیسع یاځُوئ وو دایوب
علیه السلام چه پس له پلاره بیا مبعوث شوے وو یو قوم ته له شامه او ذاالکفل ورته ځکه وائی چه
سل پیغمبران علیهم السلام ورتخنیدلی وو له ویرے دقتل اودهٔ ورلره ځانی ورکړه اوکفیل ئے شهٔ
وَكُلٌّ اودا مذکورین نه دول مِنَ الْاَخْيَارِ (۴۸) له غوره کړے شویو وو په خلقو کښ هٰذَا ذِكْرٌ ـ دا حال
چه بیان شو دانبیاء علیهم السلام یو پند دے هر پند اخستونکیو لره یاذکر جمیل دے د دوئ وَاِنَّ
لِلْمُتَّقِيْنَ اوبیشکه پرهیزکارانو لره لَحُسْنَ مَاٰبٍ (۴۹) هر
اُمّتِنه بنه خاتمه ده په اخرت کښ اوهغه خاتمه داده چه جَنّٰتِ عَدْنٍ باغونه دی داقامت
مُفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ (۵۰) په دے حال چه پرانستے به پرته وی دهغو دپاره دروازے دهغو باغونو
مُتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا تکیه وهلی به ناست وی دوئ په هغو باغونو کښ په تختونو يَدْعُوْنَ فِيْهَا چه غواړی به دوئ
اوخواهش به کوی په هغو کښ بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ دیر میوو وَّشَرَابٍ (۵۱) او دیر څښلو اویوازے
میئے یادے شوے ځکه چه خوراک هلته نخص دپاره دلذت دے اولذت په میووکښ دیر دے وَعِنْدَهُمْ

او وی به دوئی تخدیعنی دده وئی بیخے به وی له حور و قصرات الطرف بند و نکے دستر کو په خپلواز واجو یعنی غیر له دوئی ۓ بل خوك لیدلے نه وی اترابٌ (۵۲) همزولے په خپلو کښ سره یاله ازواجو خپلو سره چه ټول به په عمر د دیر شو کلو وی نه کم نه زیات، اوملائك به ورته وائی هٰذَا مَا تُوعَدُوْنَ د هغه نعمتونه دی چه وعده به کولے شوله تاسے سره د دوئی په دنیا کښ لِيَوْمِ الْحِسَابِ (۵۳) د پاره د خوشحالی د ورځے د حساب اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا بیشکه چه دا معطی هر اټینه روزی ده خُمونږه اوداراز ق کـهٔ مضاف فاعل ته وی نو دا مقوله د رب العزت ده او کهٔ مفعول ته وی نو د جنتیانو نو ده مَالَهٗ مِنْ نَّفَادٍ (۵۴) چه نشته ده ٔ له هیڅ قدر قطع او کمولے هٰذَا د اخوحال دے د مطیعانو چه مؤمنان دی وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ او بیشکه چه د پاره د باغیانو چه کفار دی لَشَرَّ مَاٰبٍ (۵۵) هر اټینه بده مرجع ده جَهَنَّمَ ج يَصْلَوْنَهَا چه هغه د وزخ دے چه داخل به شی دوئی په هغهٔ کښ او پکښ به سوزی فَبِئْسَ الْمِهَادُ (۵۶) پس بد آرام کاه دے د وزخ هٰذَا لا دامذکور عذاب دے د دوزخیانو فَلْيَذُوْقُوْهُ پس میبایدچه د وځکی دوئی هغه حَمِيْمٌ چه هغه بیشدلے او بدُ به وی بدبویه په اوږه د وزخ د پاره د ځکلو وَّغَسَّاقٌ (۵۷) او زوے به وی بدبویه چه له پوستکی او له غوښے د دوزخیانو اوله فروجو د زانیانو نو به رابهیږی د پاره د دوئی او چا ویلی دی چه حمیم د پیرے گرمے اوبه دی او غساق د پیرے یخے دی چه د وارهٔ قسم سیزل کوی یوله د پیرے غلیظ د کومئی او بل له د پیرے غلیظ د یخنئ وَّاٰخَرُ او دے دوئی لره بل قسم عذاب هم مِنْ شَكْلِهٖٓ له شکل د هغه تیر عذاب اَزْوَاجٌ (۵۸) چه هغه په انواع مختلف دی روایت دے چه هرکله مشران د کفارو په د وزخ د نوتاهٔ نو تابعان به ئے هم ورسره د نوئی نو ملائك به دے مشرانو ته ووائی چه هٰذَا فَوْجٌ د اډوه د له د د تابعانو نو ستاسے په کمراهئ کښ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ چه په سختئ راسره نوتلے د ه په د وزخ کښ له تاسے سره بیا متبوعان به ووائی ملائکو ته لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ط چه نهٔ د وی هیڅ کرامت او خوشحالی او فراخی دے تابعانو سره ځکه چه اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ (۵۹) بیشکه دوئی د نوتو نکی دی په اور کښ پخپلو عملونو سره لکه مونږه پخپلو عملونو د نوتو نکی یو او دا اخبار د ئے له دے چه هغه د وستی او محبت به ئے سره قطع شی بلکه په عداوت به بدل شی قَالُوْا بیا به ووائی د اتابعان متبوعانو خپلو ته بَلْ اَنْتُمْ قف بلکه تاسے چه یوئ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ط نهٔ د وی هیڅ فراخی او کرامت او خوشحالی هم تاسے لره او تاسے بنه لائن یوئ د دے

عذاب حُکه چه اَنْتُمْ تاسے چه یئ قَدِّمُوْهُ لَنَا راوړاندے کړے دے تاسے دا عذاب مونږه ته حُکه چه مونږه په سبب د گمراه کولو ستاسے دے دوزخ له راغلی یُو فَبِئْسَ الْقَرَارُ (۶۰) پس بد قرارگاه دے دا دوزخ بیا به سوال او زاری وکه رب ته دا تابعان نو قَالُوْا رَبَّنَا د به وائی دوئ چه اے ربه حُمونږه مَنْ قَدَّمَ هرڅوک چه یخوائے ترلے او سازه کړے ده لَنَا هٰذَا مونږه لره دا الاره د گمراه و ضلال او مونږ ته لغزولی یُو فَزِدْهُ عَذَابًا پس زیات که ته هغه لره عذاب ضِعْفًا فِی النَّارِ (۶۱) دوچند په اور کښی او دا ضعفًا مصدر دے په معنیٰ د مفعول اے مضاعفًا یعنی هغه عذاب چه تاورلره رالیږلے هغه قدر نور هم ورسره که یوه برخه د ضلال بله د اِضلال وَقَالُوْا او وائی به د امتیران د گمراه و په دوزخ کښ چه مَالَنَا څه مانع دے مونږه لره لَانَرٰی رِجَالًا چه نه ګورو مونږه هغه سړی د لته کُنَّا نَعُدُّهُمْ چه وو مونږه په دنیا کښ چه شیرل به مو دوئ مِّنَ الْاَشْرَارِ (۶۲) له توليو د بد کارانو یعنی مشران د قریشو به وائی چه داځکه سبب دے چه هغه فقراء د مسلمانانو چه مونږه به مسخرے ورپورے کولے لکه عمار رضی الله عنه او صهیب رضی الله عنه او بلال رضی الله عنه او سلمان رضی الله عنه او اوس ئے نه ګورو په دوزخ کښ اَتَّخَذْنٰهُمْ هغوی سِخْرِيًّا ایا نیولی وو مونږه دوئ مسخره بازی اَمْ زَاغَتْ اوکه میل کړے دے او چیچے شوے دی عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ (۶۳) له لیدلو د دوئ سترګے حُمونږه حاصل دا چه دوئ به هلته وائی چه لږ غه دوه ځُکار ونو کوم یو شو یدے چه دوئ اوس په جنت کښ دی او حُمونږه مسخرے ورپورے په دروغ وے او که په دوزخ کښ دی له مونږه سره اما حُمونږه له سترګو چرته په خُنګ شوی دی اِنَّ ذٰلِكَ بیشکه دا چه مونږه بیان کړه بیرته لَحَقٌّ هر اُئینه حق او ربښتیا دی چه خامخا واقع کیږی هغه تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ (۶۴) جګړه او جنګ د سره په مینځ کښ د دوزخیانو او د اتباعاصم خبر دے د مبتدا محذوفه چه هُوَ دے قُلْ وویا اے رسوله کفارو ته اِنَّمَا اَنَا مُنْذِرٌ ځکه چه بیشکه هم دا خبره د ده چه زهٔ ویرونکے یم د خلقو له عذابه د خدائ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ او نشته هیڅ خدائ لائق د عبادت اِلَّا اللّٰهُ مګر الله دے یوازے جل شانهٗ اَلْوَاحِدُ چه یکانه دے په ذات خپل کښ چه نه شرکت قبلوی او نهٔ کثرت ورته لاره کولے شی اَلْقَهَّارُ (۶۵) چه ډیر قهر کونکے دے په اعداؤ خپلو رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دے رب دے هم د آسمانونو او هم د زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا او هم د هغه

چه په مابین د دوئ کښ دی یعنی خدائ او بادشاهی ټوله هم د دۀ ده په تمام عالم کښ الْعَزِيْزُ چه غالب دے د آ چه حکم ئے هیڅوك نۀ شی رد کولے الْغَفَّارُ (۶۷) چه ډیر بخښونکے دے د تصدیر اتو د احاد ځپلو قُلْ هُوَ دوا یه دوئ ته چه دا ټول چه مادرته بیان کړۀ یعنے انذار خپل او وحدانیت د خدائ او ثبوت د قیامت نَبَؤٌا عَظِيْمٌ (۶۸) خبره ده ډیره لویه چه هیڅ قدر غفلت ترے پکار نۀ دے اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ (۶۸) تاسے ترے څنګ کونکی یئ په سبب د کمال د غفلت خپل یاد انبوت ځما ډیر لوی خیز دے او تاسے ترے څنګ کوئ او دے نه ګورئ چه کۀ ما ته وحی شوے نۀ وے نو دا سمانو حال رم کلمه د یلے شوے لوستو او ریدلو لره بل چاڅکه چه مَا كَانَ لِيَ نشته ما لره مِنْ عِلْمٍ هیڅ قدر پوهه بِالْمَلَإِ الْاَعْلٰى په هغه مخلوق چه ډیر پاس دے یعنی په ملائکو اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ (۶۹) هغه وخت چه ځکړه کوله دوئ په باب د آدم علیه الصلوة والسلام کښ اِنْ يُّوْحٰٓى اِلَيَّ وحی نۀ شی کولے ما ته اِلَّآ اَنَّمَآ اَنَا مګر دے چه بیشکه هم د اخبره ده چه زه نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ (۷۰) ویرونکے یم ښکاره له موجبا تو د عذاب څخه اِذْ قَالَ رَبُّكَ یاد که هغه وخت چه وویل رب ستا لِلْمَلٰٓئِكَةِ ملائکو ته دا سے چه اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا بیشکه زه پیدا کونکے یم د یو بشر مِّنْ طِيْنٍ (۷۱) له خټے څخه یعنی آدم علیه السلام فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ پس په هغه وخت چه پوره کړۀ ما قالب د دۀ په احسن شکل سره وَنَفَخْتُ فِيْهِ او پو کړۀ ما قالب د دۀ کښ مِنْ رُّوْحِيْ له روح خپله څخه او دا نسبت د روح خپل ځان ته محض د پاره د شرافت او د طهارت د دۀ دے یعنی بیا هر کله چه روح خپل م په قالب کښ پو کړه او دے پرے ژوندے شۀ فَقَعُوْا لَهٗ پس پرے پوځئ ټول دۀ نه سٰجِدِيْنَ (۷۲) سجده کونکی له جهته د تعظیم او تکریمه د دۀ سجده د تحیة فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ پس سجده وکړه ملائکو كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ (۷۳) ټولو د دوئ واړو او په دے کښ دوه تاکیده دی اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ مګر چه هغه سجدۀ ونه کړه اِسْتَكْبَرَ تکبر او لوئ ئے وکړه او فرمان ئے ونۀ مانه وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ (۷۴) او شۀ په دے فرمانئ سره له کافرانو یا وو لاپخوا په علم د خدائ کښ له کفار قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ نو وویل رب العزت چه آ ابلیسه مَا مَنَعَكَ څۀ څیز خصار کړے تۀ اَنْ تَسْجُدَ له دے چه سجده وکړے لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ؕ هغه څیز ته چه پیدا کړے دے ما په دواړو لاسونو خپلو او ذکر د دیدۀ په اضافت سره خپل ځان ته محض د پاره د

تشریف دادم علیه السلام دے یعنے چه بے واسطے دوالد بنوم پیدا کړے دے او یا په عرف کښی اکثر نسبت داعمار بدیتوته کولے شی حُکه چه صدور د اکثر واعما لوله هم دوئی دے نو عمل د دوئی خطاب دے په نوم جوا رجو یا مراد له ید بنو صفتین دی دمهر او د قهر حُکه چه دا دواړه مشتمل دی په باقی تولو صفا تو الٰهیو۔ کۀ جلا لی دی کۀ جمالی دی او مخلوق بۀ تول مظهر د هم دغه دواړو لکه ملائک مظهر د جمالی او شیطانان مظهر د جلال او انسان مظهر د دواړو دے حُکه چه جامعه او لاین د سجودیت شۀ اَسْتَكْبَرْتَ ایا تکبر دِ وکۀ بے استحقاقه اَمْ كُنْتَ اوکۀ دے تۀ په واقعه کښ مِنَ الْعَالِيْنَ (۷۵) له هغو بلند شانو چه لائق توب لری د لوئی قَالَ نو وویل ابلیس اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ طعنه زۀ په واقعه کښ غوره یم له دے حُکه چه خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ پیدا کړے یم تازه له اوړۀ وَخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ (۷۶) او پیدا کړے دِ دے له خټو او په او د کښ لطافت او نورانیت دے او په خټه کښ کثافت او ظلمانیت دے او دالعین په دے قیاس کښ خطا وتد وو لکه چه بۀ تول بیان ئے په سورۀ اعراف کښ تیر شوے دے قَالَ بیا وویل رب العزت چه هرکله كِبرِ دِ وکړۀ اوحُما بے فرمانی دِ وکړه فَاخْرُجْ مِنْهَا پس ووځه له جنت یا یاله اسمانونو یا له صورتِ مَلَکی بلکه فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ (۷۷) پس بیشکه چه تۀ راتلے شوۓ ئے له رحمته او لرے کړے شوے ئے له مرتبے د کرامنه وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْ اوبیشکه چه په تا لعنت او غضب دے حُما اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ (۷۸) ابن تر ورځے د جزا پورے فائده دا الی غایة د مطلق لعنت نۀ دے بلکه د هغۀ لعنت دے چه خالی وی له عذاب او بیا پس له ورځے د جزا تر ابد الاباد پورے به وی سره له عذابه قَالَ رَبِّ بیا وویل ابلیس چه اے ربه حُما فَاَنْظِرْنِيْ پس هرکله چه دِ مردود کړے نو مهلت خو راکه راله اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ (۷۹) تر هغے ورځے پورے چه بیا څوندی کولے کیږی د خلق او غرض ئے په دے کښ خلاص دوله مرکه قَالَ فَاِنَّكَ نو وویل ورته رب پس بیشکه چه تۀ ئے مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ (۸۰) له مهلت ورکړے شوے راله اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ (۸۱) تر ورځے د وخت معلومه پورے چه هغه زمانه د نفخ اولی ده چه هرڅوك به پرے مری قَالَ فَبِعِزَّتِكَ بیا وویل ابلیس چه پس قسم دے په غلبه او په قهر ستا لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ (۸۲) چه هرا ئینه گمراهان بکړم خامخا دوئی بۀ تول اِلَّا عِبَادَكَ مگر هغه بندگان ستا مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ (۸۳) له دوئی پاك کړے شوی له

پلیتۍ د شرک او د عصیانه ﴿قَالَ فَالْحَقُّ﴾ نو وویل رب چه پس حق له ما د ے یا زهٔ حق یم یعنی په حذف د خبر یا د مبداء سره ﴿وَالْحَقَّ أَقُولُ﴾ (۸۴) او زهٔ همیشه وایم هم حق او چا ویلی دی چه تقدیر د اول فالحق قسمی دے او د دوئم جمله معترضه ده په مابین د مقسم به چه فالحق قسمی دے او جواب د قسم وا د ے ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ﴾ چه هر اڅینه د ك به کړم زهٔ خامخا د دوزخ ﴿مِنْكَ وَمِمَّنْ﴾ له تا سره له ذریت د اوبل له هغه چا ﴿تَبِعَكَ مِنْهُمْ﴾ چه پیروی ئے کړے وی ستا له د ے بنی ا د مو ﴿أَجْمَعِينَ﴾ (۸۵) له ټولو چه یو به هم پرے نه بر د م نه متبوع اونه تابع ﴿قُلْ﴾ و وایه اے رسوله د ے کفارو د مکے ته ﴿مَا أَسْأَلُكُمْ﴾ چه نهٔ عوام زهٔ له تاسے ﴿عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ﴾ په د ے قرآن یا په د ے رسولو د پیغام هیڅ قدر اجرت ﴿وَمَا أَنَا﴾ او بل د اچه نهٔ یم زهٔ ﴿مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ﴾ (۸۶) له کلفت کونکیو د هغه کار چه زهٔ ئے اهل نهٔ او سم یعنی چه دعوی به کوم د نبوت په دروغ او قرآن به سازوم له ځانه ﴿إِنْ هُوَ﴾ نه د ا قرآن ﴿إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ﴾ (۸۷) مګر پند د ګ پاره د عالمیانو ﴿وَلَتَعْلَمُنَّ﴾ او هر اڅینه زر د ے چه معلوم به کړئ تاسے خامخا ﴿نَبَأَهُ﴾ خبر د ے قرآن هر هغه چه په دهٔ کښ دی له وعده له وعیده یا خبر او صدق د محمد صلے الله علیه وسلم ﴿بَعْدَ حِينٍ﴾ (۸۸) پس له کوم وخت چه موت یا قیامت یا ظهور د اسلام د ے۔

سُورَةُ الزُّمَرِ (۳۹) مَكِّيَّة (۷۵۹) ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ ایاتها ۷۵ رکوعها ۸

﴿تَنْزِيلُ الْكِتَابِ﴾ را لیږل د د ے کتاب چه د ی د قرآن ﴿مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ﴾ له هغه خدائ د ے چه غالب د ے په تقدیر خپل کښ ﴿الْحَكِيمِ﴾ (۱) پر حکمت د ے په تدبیر خپل کښ ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا﴾ بیشکه مونږه چه یو را لیږلے د ے مونږه ﴿إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ﴾ تا ته د ا کتاب چه قرآن د ے په حق سره ﴿فَاعْبُدِ اللَّهَ﴾ پس عبادت کوه د خدائ ﴿مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ﴾ (۲) په د ے حال چه پا کوونکے اوسے ته د دین خپل له شرکه او له ریا څخه ظاهره کښ خطاب د ے رسول صلی الله علیه وسلم ته او پکښ مراد نورے امت د ے ﴿أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ﴾ واورئ چه خاص خدائ لره د ے هغه عبادت چه پاك وی له شائبے د شرکه او د ریا، کهٔ له دغه دواړو د رسره وی نو قبول نهٔ د ے او د ے مطلع د ے په پټو او په ضمائرو ﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا﴾ او هر چه هغه کسان دی چه ونیولے د ے د وی ﴿مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ﴾ غیر له خدائ نور

دوستان کهٔ مدلنک دی او که بتان اوکهٔ نورخهٔ او دا الذین مبتدا دے اوخبرئ محذوف دے چه یقولون دے یعنی وائی دوئ مَا نَعْبُدُهُمْ چه عبادت نکو و مونږه دوئ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا مگر دپاره دئ چه نزدے کا دوئ مونږه اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ط خدائ ته په نزدے کولو سره یعنی څمونږ شفاعت به وکا خدائ تحنر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ حکم به وکه په ورځ د قیامت په مابین د دوئ او مسلمانانو کښ فِيْ مَا هُمْ فِيْهِ په هغه څیز کښ چه دوئ په هغه کښ يَخْتَلِفُوْنَ ۵ سره اختلاف کوی یعنی په کار د دین کښ نومؤمنان به جنت له بوځ او کفار دوزخ له اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَا يَهْدِيْ مَنْ نهٔ ورکوی توفیق دهدایت هغه چا لره هُوَ كٰذِبٌ چه دے دروغ کوونکے په نسبت د شرئ او د ولد کښی كَفَّارٌ ۳ ناشکره دے چه صنع حقیقی ته ئے شا کړے ده لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ که چیرے اراده کړے وے خدائ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا د ځے چه ونیسی دے فرزند لکه چه وائی دوئ لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ نو هرا ئینه غوره کړے به ئے وو له هغه مخلوق چه پیدا کوی ئے دے مَا يَشَآءُ هر هغه چه اراده وے دهٔ نهٔ هغه چه وائی دوئ یعنی اشرف او اکمل به وو نهٔ اخس او ارذل لیکن سُبْحٰنَهٗ ط پاکی ده دهٔ له اتخاذه د شریکه او د ولده هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ خُکه چه دے یکا نه بے شریکه او بے ولده په هغه وحدت ذاتی سره چه هغه منافی دے له مماثلته د ماسوا سره فضل له توالده الْقَهَّارُ ۴ چه د پرقهر کونکے او انتقام اخستونکے دے له کاذبانو مشرکانو خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړی دی ده اسمانونه او زمکه بِالْحَقِّ په حق سره نه په باطل بلکه د پاره د دلالت په وجود صانع حکیم قادر علیم باندے يُكَوِّرُ الَّيْلَ چاپیروی او تاوی دے شپه یعنی ظلمت دے عَلَى النَّهَارِ په ورځ دهٔ لکه تاوول د پګړی چاپیرله سره دے چه تیاره دے پرے احاطه وکه او رنړا دهغه یعنی پټه کا وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ او بیاهم دا سے تاوی دے او چاپیروی ورځ عَلَى الَّيْلِ په شپے چه شعاع دهٔ پرے احاطه وکه او تیارهٔ دهٔ یعنی ورکه کا وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او مسخر کړی دی دهٔ نمر او سپوږمئ د پاره د سیر پکل يَجْرِيْ چه هریو روان دے په فلک خپل کښ دا سے چه یوان قرار نه کوی بلکه منډے وهی لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ترهغه وخت چه په نامه کړے شوے دے چه هغه ئے منتهی ده د دور یا یومی او شهری او عامی او یا بیخی انقطاع دے د دوی چه هغه ورځ ده د قیامت اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ او ورځ چه دے غالب دے په هر څیز او د پرے

قهر کولکے او انتقام احستو تکے دے له اعداؤ خپلو الْغَفَّارُ ⑤ دیر بخښونکے دے اولیاؤ خپلو خَلَقَكُمْ
پیدا کړی یئ دهٔ تاسے مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ له یو شخص چه آدم علیه السلام دے دا سے چه راوړستئ
تاسے دهٔ له پُښت دهغهٔ پخوا له پیدا کولو د حواء واړه په قدرت میږ یو ثُمَّ جَعَلَ بیا پس له هغه
پیدا کړهٔ دهٔ مِنْهَا زَوْجَهَا له دهٔ ښځه دهٔ حواء ده له ورڅخه پُښتئ د چپ طرف دهٔ وَاَنْزَلَ لَكُمْ
او راولیږل له جنت یا پیدا کړه دهٔ تاسے لره مِّنَ الْاَنْعَامِ له چارپایانو ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ اته صنفه دوه
له اوښا نو یو نر یو ماده او هدا سے ده له غوا اوله ګډو اوله اوزو د پاره د معاش ستاسے هم پهمخورا ك
اوهم په پوشاك کښ لکه په سورهٔ انعام کښ په تفصیل سره بیان شوې ده اوس رب العزت بیانوی
د هغه خلقت چه بیړته ذکر شوی دی هم دښ آدمو اوهم د چارپایانو د پاره داظهار د عجائبو د
قدرت خپل او اُولی العقل ئے خاص کړهٔ په خطاب سره ځکه چه مقصود هم دوئی دی نو وائی چه
يَخْلُقُكُمْ پیدا کوی دے تاسے فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ په سو نو د میندو ستاسے کښ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ یو
قسم پیدا ښت پس له بل قسم پیدا ښت دا سے چه اول نطفه وګرځوی علقه کا بیا هغه مضغه کا
بیا هغه تش هډوکی بیا هغه هډوکی په غوښه پټه کا بیا هغه حیوان مستوی کا لکه چه پسورهٔ مؤمنون
کښ په تفصیل سره بیان شوېدے فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ط په درے تاریکیو کښ چه یوه تاریکی د مثیے دویمه
د رحم د ریمه د بطن ده ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ دا موصوف په دے صفاتو هم هغه خدائی دے چه رب دے
ستاسے لَهُ الْمُلْكُ ځانګړی خاص هم دهٔ لره ده بادشاهی همیشه بے زواله لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوك
لائق د عبادت مګر هم دے دے یوازے فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ⑥ پس کوم طرف ته چپولے کیږئ تاسے
له لارے د حق سره له داسے بنکاره دلیلونو ران تَكْفُرُوْا که چرے کفر اختیار کړئ تاسو آدمکے خلق
فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدائ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ق بے پروا دے له تاسے یعنی له ایمان اوله عبادت ستاسے
وَلَا يَرْضٰى اونه خوښوی دے لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ د پاره د بندګانو خپلو کفر اګر که وی کله په اراده دهٔ
سره وَاِنْ تَشْكُرُوْا اوکه شکر ګذاری وکړئ تاسے په نعمت د توحید یا په ظهور د رسول په تاسے
کښ يَرْضَهُ لَكُمْ نو خوښوی هغه تاسے لره ځکه چه خیر پکښ ستاسے دے وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اوواښه ګنهګار
بار هیڅ نفس بار د اخستونکے وِّزْرَ اُخْرٰى بار د ګناهونو د بل نفس بلکه هر یو به خپل بار وړی

ع مشیه دهغه پرے دے چه پکښ وی اوله دهٔ نه چاپیره وی ۱۲

ثُمَّ اِلٰی رَبِّکُمْ بیا خاص رب ستا سے تہ مَّرْجِعُکُمْ بیرتہ ورتلہ ستاسے دی دپارہ د جزا د اعمالو فَیُنَبِّئُکُمْ پس خبر بہ کا دے بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ط پہ هغه عملونو چه وئ تاسے چه کول به موښوا اِنَّهٗ عَلِیْمٌ بیشکه چه دے دانا دے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۴ پہ نیاتو او پہ عزائمود سینو وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ او په هغه وخت چه ورسیږی انسان کافر تہ لکه ابوجهل یا عتبه بن ربیعه یا ابوحذیفه بن مغیره یا هر کافر شه ضُرٌّ کوم قسم سختی لکه فقر یا مرض یا بل آفت دَعَا رَبَّهٗ نو بولی دے رب خپل مُنِیْبًا اِلَیْهِ په دے حال چه بیرته کرځیدونکے وی دهٗ ته او شاکونکے وی خدایا نو خپلو ته ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ بیا په هغه وخت چه ورکړه دے دغه کافر لره نِعْمَةً مِّنْهُ نعمت له خپل جانبه د هغه سختی ترے لرے کا نَسِیَ مَا کَانَ نو هیر کا دے هغه سختی چه وو دے یَدْعُوْا اِلَیْهِ چه بالهٗ بهٔ خدائ دنع د هغهٔ لره یا هیر کا هغه خدائ چه زاری بهٔ کوله هغه ته مِنْ قَبْلُ پخوا له دے نعت وَجَعَلَ او بیا پیدا کا دے لِلّٰهِ اَنْدَادًا خدائ لره شریکان په عبادت کښ لِّیُضِلَّ عَنْ سَبِیْلِهٖ ط دپارہ د دے چه گمراه کړه دے خلق له لارے د دهٗ چه دین د اسلام دے قُلْ تَمَتَّعْ وویا یه ورته اے رسوله چه عیش او معاش وکړه بِکُفْرِكَ قَلِیْلًا ز پہ کفر خپل لږه موده چه باقی ژوندون دد ے په دنیا کښ اوله عیش د اخرته امید قطع کا دهٗکه چه اِنَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۸ بیشکه ته له اهل د دوزخ ئ بیا رب العزت وائ چه ایا د اسے کافر غوره دے اَمَّنْ اوکهٔ هغه خوك غوره دے چه هُوَ قَانِتٌ دے فرمانبردار وی درب لکه صدیق رض فاروق رض یا عمار رض یا سلمان رض یا عبدالله بن مسعود او مشهوره داده چه مراد ترے عثمان رض دے اوهمیشه مستقیم ولاړ وی په انواع د طاعت اٰنَآءَ الَّیْلِ په ساعتونو د شپے کښ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا کله په سجده اوکله ولاړ خپل رب ته په مانځه کښ په مابین د خوف او د رجا کښ یَحْذَرُ الْاٰخِرَةَ چه ویریږی له عذاب د اخرت وَیَرْجُوْا او امید لری رَحْمَةَ رَبِّهٖ ط د مهربانۍ درب خپل یعنی سره له دے مجاهدے او طاعت مترددوی په مابین د خوف او د رجا کښ قُلْ ووایه دوئ ته چه هَلْ یَسْتَوِی الَّذِیْنَ چه ایا برابر دی هغه کسان یَعْلَمُوْنَ چه پوهیږی او خښتنان د علم دی وَالَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ ط او هغه کسان چه نهٔ پوهیږی او امیان دی یعنی برابر نهٔ دی سره د نوکه چه عالم او جاهل سره

برابر نهٔ دی هم دا سے قانت اوعاصی هم سره برابر نهٔ وی ۔ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ بیشکه هم د اخبره ده چه پند
اخلی په ډ ے مواعیظو سره اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۹﴾ خښتنان د خلصو عقلو نو قُلْ وایه دوئ ته ځما له طرفه
دا سے چه يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ آ ے اهغه بند گانو ځما اٰمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ط چه ایمان ئے راوړے ډ ے ویریږئ
له عذابه دربه خپله په امتثال د اوامرو اوپه اجتناب د نواهیو د هٔ سره لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا مقرره
ده هغه کسانو لره چه نیکی ئے کړے ده فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا په ډ ے دنیا کښ په ویلو د کلمے د شهادت په صدق
د زړهٔ یا په لزوم د طاعت سره حَسَنَةٌ ط نیکی یعنی سنه جزا په اُخرت کښ چه جنت اورضوان دے
وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ط اوزمکه د خدائ ارته ده نوکهٔ چا پخپل وطن کښ نیکئ کولو ته نهٔ پریښودئ
تاسے نو بل هسے وطن ته لاړشی چه خوږ پکښ مانع نهٔ وی کهٔ نیکی اوصبر اختیار کړئ په مفارقت
د وطن یا په سختی د غربت یا په مشقت د عبادت یا په ایذاء د اعداؤ ځکه چه اِنَّمَا بیشکه هم د اخبره
ده چه يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ پوره یعنی ډ یرله اندازے زیات ورکولے کیږی صبر کونکیو لره په دے
شدایدو اَجْرَهُمْ اجرد دوئ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۱۰﴾ بے حسابه بے شماره یعنی دا سے ډ یر چه حساب د حساب کړو
احاطه پرے کولے نهٔ شی **روایت دے** چه کفارو د مکے رسول صلے الله علیه وسلم ته ویل
چه په تا کوم باعث د چه نوے دین د ے برپا ئ کړیدے اود اباؤ اجداد و دین د پریخے دے چه دوئ
به عبادت کاوو د بتانو اوته ئے نهٔ کوے نو نازل شهٔ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ وایه دوئ ته چه بیشکه
زهٔ مامور شوے یم اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ په دے چه عبادت کوم د خدائ یواځے مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ﴿۱۱﴾ په
د ے حال چه پاکونکے یم د هٔ لره دین خپل له شرک په توحید سره وَاُمِرْتُ اومامور شوے یم په
دغه عبادت دیوازے خدائ لِاَنْ اَكُوْنَ د پاره د ے چه اوسم زهٔ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲﴾ اول د
گردن نهاد انو نو له دے امته څخه قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ بیا وایه چه بیشکه زه ویریږم اِنْ عَصَيْتُ
رَبِّيْ کهٔ چیرے بے فرمانی اختیار کړم له ربه خپله په ترک د توحید او په اختیار د شرک سره عَذَابَ
يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۳﴾ له عذابه د هغے ورځے چه لویه ده یعنی ورځ د قیامت چه په قدر د پنځوس زرو
کالو ده قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ بیا وایه چه خاص د خدائ عبادت کوم زهٔ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِيْ ﴿۱۴﴾ په د ے
حال چه خالص کونکے یم د هٔ لره دین خپل له شرکه یا عمل خپل له ریا ۔ نو ځما خو د اعمالو ده ۰ او

هرچه تاسے بئی فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ پس عبادت کوئی تاسے دهرهنه خیز چه اراده وشی سِنَّا مِّنْ دُوْنِهٖ غیر له خدائی دا امر دپاره دنهدید اودتنبیه په خذلان اوپه حرمان ددوئی۔ او دا بیا منسوخ دے په ایت دسیف سره روایت دے چه هرکله دا تیر ایتونه مشرکانو واوریدل نو رسول صلی الله علیه وسلم ته ئے وویل چه مونږ زیان درکړه خپل په مخالفت د دین دا باؤ خپلو سره نو نازل شهٔ قُلْ ووایه دوئی ته چه اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ بیشکه زیان کاران چه دی الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا هم هغه څوك دی چه زیان ئے رسولے دے اَنْفُسَهُمْ وَ اَهْلِيْهِمْ هم ځانونو خپلو ته په ضلال سره اوهم عیالونو خپلو ته په اضلال سره يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط په ورځ د قیامت په خلود د دوزخ او په حرمان د جنت سره اَلَا ذٰلِكَ واورئ داخلود د نار اوحرمان له جنت چه دے هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝۱۵ هم دادے زیان بنکاره لَهُمْ مقرر دے دغه زیانکارانو لره په اخرت کښ مِنْ فَوْقِهِمْ دپاسه دسرونو ددوئی ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ سایبانونه له اوره وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ط اولاندے د خپو د دوئی به هم طبق وی داود غرض داچه اور به په دوئی احاطه کړے وی له هره طرفه ذٰلِكَ دا عذاب چه بیرته ذکر شهٔ يُخَوِّفُ اللّٰهُ ویروی خدائی بِهٖ عِبَادَهٗ ط په دے عذاب سره بندگان خپل یعنی مؤمنان دپاره ددے چه ځان خپل ترے وساتی بیا خطاب ئے ورته وکړو چه يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ۝۱۶ اے بندګانو ځما پس ویریږئ له ما څخه اوقدام مه کوئ هغه څیزونو ته چه موجب وی د غضب ځما اود عذاب د اخرت روایت دے چه یوځل ته لکه سلمان فارسیؓ او ابوذر غفاریؓ اوزید بن عمرؓ په زمانه دجاهلیت کښ هم په وحدانیت دخدائی مُقِر وو او بت پرستی ئے نهٔ وه کړے نو ددوئی په مدح کښ نازل شهٔ وَالَّذِيْنَ اوهرچه هغه کسان دی اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ چه ځان ساتلے دے دوئی له شیطانانو یا له بتانو اَنْ يَّعْبُدُوْهَا یعنی له دے چه عبادت وکا دوئی او دابدال اشتمال دے له طاغوت اود لته مراد ترے جمع ده فَاُدُ ۵ د اطاغوت په اصل کښ طغیوت دے چه مبالغه ده په طغیان کښ لکه رحموت په رحمت کښ بیائی مقدم شوه په غ او الف شوه نو طاغوت شه بیا په دے الفاظ د طاغوت کښ دے مبالغے دی یو تسمیه په مصدر سره چه گویا که دے عین طغیان دے دویم په قلب مکان سره دپاره داختصاص دریم په الحاق

دوآو اوتسره و رپورے وَ اَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ اوخ کړیدے دوئی خدائی ته په اخلاص دزړه سره لَهُمُ الْبُشْرٰى ج خاص هم دوئی لره دے زیرے هم په دنیا کښی په لسان دملائکو په وخت دموت او هم په عقبیٰ کښی په مغفرت او په جنت سره روایت دے چه هرکله صدیق اکبرؓ ایمان راوړو او بیا شپیر تنه له مبشره ؤ په دۀ پیښی شو چه عثمانؓ اوطلحهؓ او زبیرؓ او سعدؓ بن زیدؓ اوسعد بن ابی وقاصؓ اوعبد الرحمٰن بن عوفؓ دے اوله دۀ ګے دایمان اوصاف واوریدل نو دوئی هم ایمان راوړه او په باب ددوئی کښی نازل شۀ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿۱۷﴾ الَّذِيْنَ پس زیرے وکړه ۱۷ ے رسوله په هغوبندګانو خُما يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ چه واوری دوئی قول دصدیقؓ یا قرآن فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ط پس پیروی کوی دوئی د دې ربنۀ دهغه چه بلنه ده توحید ته یا محکم دے یا منسوخ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا هغه کسان دی هَدٰىهُمُ اللّٰهُ چه په سمے لارے روان کړی دی خدائی۔ وَ اُولٰٓئِكَ او بیا دا کسان چه دی هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾ هم دوئی خښتنان دخالصو عقلونو دی اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ ا یا پس هرهغه څوک چه واجب شوے وی په دۀ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ط ګفتار دعذاب چه لامڼلون جهنم من الجنة والناس اجمعین دے اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ ا یا پس تۀ خلاصوے مَنْ فِي النَّارِ ﴿۱۹﴾ هغه څوک چه مقرر شوے وی په اورکښی لٰكِنِ الَّذِيْنَ لیکن هغه کسان چه دی اتَّقَوْا رَبَّهُمْ چه ویریږی دوئی له ربه خپله او په ایمان او په طاعت مشغول وی لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ نورے مانړۍ به وی بنا کړے شوے یعنی زیرے محکمے لکه چه هغه هم په زمکه ولاړے وی تَجْرِيْ چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ دلاندے دهغو مانړیو څلور واړه قسمه وَعْدَ اللّٰهِ ط دا وعده کړے ده په وعده کولو سره خدائی لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿۲۰﴾ نۀ خلاف کوی خدائی وعده خپله اَلَمْ تَرَ ا یا نۀ وینے تۀ اَنَّ اللّٰهَ ډ ګنه چه بیشکه خدائی اَنْزَلَ راایږلے دی مِنَ السَّمَآءِ مَآءً له طرفه د اسمانه اوبه فَسَلَكَهٗ ينَابِيْعَ پس ننویستلی دی ده دا اوبۀ اوچینے کړے ګے دی فِي الْاَرْضِ په زمکه کښی یعنی دا سے ګے جاری کړیدی په زمکه کښی لکه ګڼونه په بدن کښی ثُمَّ يُخْرِجُ بیا وباسی دے بِهٖ زَرْعًا په دۓ او بو سره کښت له زمکے مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ په دۓ حال چه مخالف دی سره ډګونه د کښت یعنی شین اوسور او زیر او سپین او دا سے نور یا اصناف دے یعنی ګهم او اوربشے او جوار او شولے او

دا اسے نور ثُمَّ یَهِیْجُ بیا وُچ شی پس له شینوا لی هغه وخت چه یوخ شی فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا پس وینے به ئه
داکښت تک زیړ پس له تازه والی ثُمَّ یَجْعَلُهٗ حُطَامًا بیا وګرځوی خدائ د اکښت پوټے پوټے اِنَّ فِیْ
ذٰلِكَ بیشکه چه په دے انزال دابو او اخراج د کښت کښ لَذِكْرٰى لِاُولِی الْاَلْبَابِ (۲۱) هر اُښه پوه
لوئی پند دے د پاره د شښتنا نو د خالصو عقلونو اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ ایا پس هر هغه څوك چه پرا نستے او ارته
کړے وی خدائ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ سینه ددهٗ قبول د اسلام ته چه بے کلفته پکښ ځائے شوے وی
فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ پس د ارتے سینے شښتن په نور د هدایت او د معرفت ولاړ دے مِّنْ رَّبِّهٖ له
طرفه د ربه خپل هغه دا سے دے لکه څوك چه زړه ئے کلف او ابی وی له قبول د اسلام فَوَیْلٌ لِّلْقٰسِیَةِ
قُلُوْبُهُمْ پس افسوس دے هغه بد بختانو لره چه سخت وی زړونه د دوئ چه اعراض کونکی وی مِّنْ
ذِكْرِ اللّٰهِ له یاد ګیرئ د خدائ اُولٰٓئِكَ دا سنګدلان عاقل چه دی فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ (۲۲) په ښکاره
ګمراهئ کښ دی اَللّٰهُ نَزَّلَ خدائ نازیږلے دے اَحْسَنَ الْحَدِیْثِ ښائسته او خورے کلام یعنی كِتٰبًا
مُّتَشَابِهًا یو کتاب چه متشابه دی بعض ئے له نورو بعض سره په اعجاز کښ یا په وعظ او حکمت
کښ یا په صدق او په بیان کښ یا په جودة د لفظ او صحت د معنیٰ کښ یا دا سے په نورو اشیاؤ
کښ مَّثَانِیَ دے چه مکرر دے او دا جمع ده د مثنے چه صفت واقع شوے ده د کتاب په اعتبار د تفاصیلو
د هٗ سره لکه چه وائی قرآن سور تونه او آیتونه دی یعنی هر بیان ئے عبرتونه او مکرر دے کهٗ ئے قصے او که
ئے اخبار او که ئے احکام دی لکه امر، نهی او وعد او وعید او ثواب عقاب او جنت دوزخ او ذکر فکر
او مطیع عاصی او مؤمن کافر او دا سے نورهم تَقْشَعِرُّ مِنْهُ چه لړزیږی او ویریږی له دهٗ یعنی له
ذکره د وعید د هٗ جُلُوْدُ الَّذِیْنَ پوستکی د هغه کسانو یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ج چه ویریږی د وئ له ربخپله
ثُمَّ تَلِیْنُ بیا نرم شی او په ارام شی جُلُوْدُهُمْ د هغوئ پوستکی د د وئ او زړونه د د وئ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ
یاد ګیرئ د خدائ ته په رحمت او په مغفرت سره یعنی هر کله چه وعید پکښ راشی نو د وئ په لړزان
شی او بیا چه وعده راشی نو په اطمینان شی ذٰلِكَ دا کتاب چه قرآن دے هُدَى اللّٰهِ رهنمائی ده
د خدائ یَهْدِیْ به چه سمه لار بنائی دے په دے کتاب سره مَنْ یَّشَآءُ ط هر هغه چا ته چه اراده
وشی د د هٗ وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ او هر هغه څوك چه ولغزوی دے خدائ فَمَا لَهٗ پس پیدا به نهٔ شی

هغه لره مِنْ هَادٍ (۳۶) هیڅوک لارهٔ نشوده ونکه اَفَمَنْ یَّتَّقِیْ ایا پس هغه څوك چه ځان ساتی بِوَجْهِهٖ په مخ خپل سوه سُوْٓءَ الْعَذَابِ له سختئ دعذاب یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت هغه دآسی لکه هغه څوك چه په امان وی له عذابه اوپه خوشحالئ کښ وی یعنی نه وی حاصل داچه عادت د انسان دآسی چه هرڅه کومرمکروه مخامخ ورلره راشی نو دے دواړه لاسونه خپل ورته نیسی اوسپر کوی چه مخ تری وساتی ځکه چه دے ورته اعزدے د اعضاؤ څخه لوا وهرڅوك چه په دوزخ کښ اچولے کیږی نو اول دواړه لاسونه ئے په کردن پورے وترلے شی نوځکه یا که دآسی شی لکه چه مخ ئے سپر کړے وی اورته کذالك الدارك وَقِیْلَ لِلظّٰلِمِیْنَ اووبه ویلے شی ظالمانوته یعنی کفارود مکے ته ذُوْقُوْا مَا کُنْتُمْ تَکْسِبُوْنَ (۳۷) چه وئ تاسے په دنیا کښ چه کولو به موجبه تکذیب وو د رسول علیه السلام کَذَّبَ الَّذِیْنَ هم دا سے تکذیب کړے وو هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا تیرشوی دی له دوئ درسولانوڅخه فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ پس راته مخے ورلره عذاب مِنْ حَیْثُ لَا یَشْعُرُوْنَ (۳۸) چه نه به پوهیدل دوئ او گمان به ئے نه وو دے چه له دغه طرفه به عذاب رالره راشی فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْیَ پس وبه څکولے په دوئ خدائ خواری اورسوائی فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا په دے لږ ژوندون کښ په قتل اوپه سبی اوپه جلا وطنئ اوپه خسف اوپه مسخ اودآسے په نورڅو اقسامو له عذاب وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اوهرا ئینه عذاب دآخرت چه دے اَکْبَرُ م دیرلوئ دے له عذابه دنیا په سبب دشدت اود دوام سره سره لَوْ کَانُوْا یَعْلَمُوْنَ (۳۹) که چرے وی دوئ داسے چه پوهیدلے په دے نو ایمان به ئے راوړے وو وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ اوهرا ئینه په تحقیق بیان کړے دے مونږه خلقو ته فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په دے قرآن کښ مِنْ کُلِّ مَثَلٍ له هره مثل چه پکار یږی او اختیاج ورته پرے وئ په امورو د دین کښ لَّعَلَّهُمْ یَتَذَکَّرُوْنَ (۴۷) بنائی چه دوئ به پند واخلی قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا په حال د لید لود وئ لوستلے شوے په عربی ژبه کښ غَیْرَ ذِیْ عِوَجٍ نه څښتن دکجئ لرهئ وجمع نقصان اوخلل پکښ نشته رالیږلے شوے دے دپاره دے چه لَعَلَّهُمْ

عه یعنی په وزلو اوپه قیدولو اوپه سرلوله وطنونوڅخه او په غنی قولو په زمکه اوپه بد لولو دصورت انسانی سره په صورت حیوانی لکه بیزوکان او میلوکان اوختربران ۱۲

يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾ بنائی چه دوئی ځان وساتی له کفره ضَرَبَ اللّٰهُ ترې یعنی بیانوی خدائ مَثَلًا رَّجُلًا یومثال داسے چه یو سړے وی مرئ فِيْهِ شُرَكَآءُ چه وی په ده کښ دیر شریکان مُّتَشٰكِسُوْنَ ټول بد خویه سره ناسازه امورو نه کوی مخالف له بله او دے یو هم نه شی ترسره کولے نو یو هم تر راضی نه وی وَرَجُلًا او یو بل سړے وی هغه هم مرئ سَلَمًا لِّرَجُلٍ ط خوسلامت ټول دیو سړی وی چه بل هیڅوک او رسره شریک نه وی اوډ هغه خدمت ته شپه او ورځ ولاړ وی نو هغه راضی کړے شی نو هم دا ډاسے حال دے د مشرك او د مؤحد هَلْ يَسْتَوِيٰنِ ایا برابردی سره دا دواړه مریو نه مَثَلًا ط له جهته وصف او دحال اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ځانه خدائ لره چه پاك دے له شریکه بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات د خلقو چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾ نه پوهیږی په نفع اوپه ضرر خپل روایت دے چه مشرکانو به ویل نترڅو به ریب المنون یعنی انتظار کوو دهٔ ته دحادثے د مرګ چه ترے خلاص شو- نو نازل شو اِنَّكَ مَيِّتٌ بیشکه چه ته هم مړکیدونکے ئ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ او بیشکه دوئی هم مړه کیدونکی دی نو خو شحالی پکار نه ثُمَّ اِنَّكُمْ بیا بیشکه چه تاسے يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ د قیامت عِنْدَ رَبِّكُمْ په نزد د رب خپل تَخْتَصِمُوْنَ ﴿۳۱﴾ جګړه به کوئ سره په امورو د دین کښ فَمَنْ اَظْلَمُ پس څوك دے د پر ظالم مِمَّنْ كَذَبَ له هغه چاچه دروغ ترلی دی عَلَى اللّٰهِ په خدائ چه نسبت د شریک او د ولد ورته کوی یعنی نشته وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ او تکذیب کوی د هغه ریښتینی کفتارچه قران دے اِذْ جَآءَهٗ ط په هغه وخت چه راغے دا قران د ے مکذب له ره اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ ایا نشته په دوزخ کښ یعنی شته مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ ځائ د پاره د کافرانو وَالَّذِيْ جَآءَ بِالصِّدْقِ او هرچه هغه فرقده چه راوړے ئے دے د اصدق وَصَدَّقَ بِهٖٓ او تصدیق ئے کړیدے دهٔ چه هغه د رسول صلے الله علیه وسلم او مؤمنان دی اُولٰٓئِكَ داکسان چه دی هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾ هم دوئی پرهیزګاران دی لَهُمْ ما يَشَآءُوْنَ مقرر دی دوئی له هر هغه نعمت او کرامت په جنت کښ چه طلب دا رزو کوی دوئی عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد د رب خپل ذٰلِكَ دا مذکوره چه دهٔ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ جزا ده د نیکوکارانو په سبب د نیکۍ والی د تلوالو د افعالو د احوالو د خپلو او داسے به ورسره وشی لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ د پاره دے چه وُرځوی او توئی کا خدائ له دوئی اَسْوَاَ الَّذِيْ

عَمِلُوْا بد تر دھغہ ګناه چه کړے وی دوئی او دا اسوء یا دشۀ د پاره دما لغے یعنی هرکله چه تکفیر بد تر دشۀ نو دقدرِ بد خو به طریقه اولی سره به وشی او یا دا اسوء او محکمین احسن دواړه په معنے داصل فعل دی وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ اوچه جزا ورکه خدای دوئی لره د اجر د دوئی بِاَحْسَنِ الَّذِیْ په سبب د هغه د یر شۀ عمل سره کَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾ چه وو دوئی په دنیا کښی چه کولو به ئے هغه عمل چه هغه ایمان او توحید وو اَلَيْسَ اللّٰهُ ایا نۀ دے خدائ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ما بس کید ونکے دبنده خپل یعنی د محمد صلے الله علیه وسلم په کفایت دمهما تو د اعداؤ کښی یعنی بس دے چه له سره د اعداؤ به ئے وساتی بلکه دے به په یرے غالب کا او دین د دۀ به نا سخ کا د تو لوا دیانو روایت دے چه هرکله رسول صلے الله علیه وسلم به عیبونه د بتانو د یر ویل نو مشرکانو د مکے وئ ووېل چه خُمونږه په خدایانو باندے چه دوئی به ضرر درته ورسوی او لیونے به دِکا. نو نازل شۀ وَيُخَوِّفُوْنَكَ او ویروی دوئی تا بِالَّذِيْنَ په هغه بتانو چه عبادت ئے کوی دوئی مِنْ دُوْنِهٖ غیر له خدائ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ او هرڅوک چه ګمراه کا خدائ نو د دۀ ګفایت ترے هیرکا او ویرول کوی په هغه څیز چه نۀ ضرر لری او نۀ نفع فَمَا لَهٗ پس پیدا به نۀ شی دے ګمراه لره مِنْ هَادٍ ﴿۳۶﴾ هیڅوک سمه لار ښودونکے چه دے په لارے برابرکا وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ او هرڅوک چه سمه لار ورته وښائی خدائ او غیر له دۀ له هیڅا نۀ ویریږی فَمَا لَهٗ پس نۀ به وی دۀ لره مِنْ مُّضِلٍّ هیڅوک ګمراه کونکے چه دے له لارے چپ کا اَلَيْسَ اللّٰهُ ایا نۀ دے خدائ بِعَزِيْزٍ ذِی انْتِقَامٍ ﴿۳۷﴾ غالب په اعداؤ څښتن داخستلو د انتقام له دوئی یعنی دے وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او هرا ئینه کۀ وپوښتے تۀ دا مشرکان د مکے چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چا پیدا کړی دی دا آسمانونه او زمکه لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ نو هرا ئینه وبه وائی خا محاچه خدائ یعنی اقرار به وکا په تفرد خالقیت دۀ قُلْ نو ووایه ورته چه اَفَرَءَيْتُمْ ایا پس وینۀ تاسے مَّا تَدْعُوْنَ هغه بتان چه بولئ ئے تاسے یعنی عبادت ئے کوئی تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ هغه څرنګه د رنه سنکاریږی چه اِنْ اَرَادَنِیَ اللّٰهُ کَهٗ څِرٌ اراده وکه له ما سره خدائ بِضُرٍّ د ضرر رسولو یعنی د مرض یا د فقریا د کومے بلے سختئ هَلْ هُنَّ ایا کیدے شی دا بتان كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖۤ د دفع کونکی د هغه ضرر له ما اَوْ اَرَادَنِیْ یا اراده وکه دے له ما سره بِرَحْمَةٍ د نفع رسولو یعنی د صحت یا د غنا یا د کوم بل راحت هَلْ هُنَّ نو ایا

کیدے شی مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ حصار ونکے دهنه نفع له ما چه دوئی ئے وپو ښتیدل اورسالت نه لا جواب شونو دهٔ نه امر وشو چه قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ما وایه چه بس دے ځما خدائ هم په دفع دضرر کښ اوهم په رسولو دخیر او دنفع کښ عَلَيْهِ چه خاص هم په دهٔ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۳۸﴾ توکل کوی توکل کونکی یعنی تو امو رخپل په هم دهٔ سپاری قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا بیا وایه دوئی ته چه اے قومه ځما ژوند او دوزګار کوئ تاسے عَلٰى مَكَانَتِكُمْ په حال او په مناسبت خپل سره له بغض اوله عداوته او دامکانت په معنی دمکان دے او دلته مراد ترے حال دے اِنِّيْ عَامِلٌ ع بیشکه چه زه هم ژوندون او دوزګار کونکے یم په حال او په مناسبت خپل سره له صبره اوله توکل فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ پس زردے چه معلوم به کړئ تاسے له ما اوله تاسے مَنْ يَّاْتِيْهِ هغه څوك چه رابه شی ورلره عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ دلے هغے عذاب چه وبه شرموی اورسوابه کاد ے وَيَحِلُّ عَلَيْهِ اوراکوزبه شی په دهٔ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۴۰﴾ عذاب همیشه اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بیشکه مونږه چه یورالیږلے دے مونږه په تا دا کتاب چه قرآن دے لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ع د پاره دخلقو په حق سره یعنی چه پرے وویرولے شی له دوزخ اوزیږے پرے وکړے شی دجنت چه له معصیتهٔ طاعت ته راوګرځی فَمَنِ اهْتَدٰى پس هر څوك چه سمه لاره ئے بیاموندله په دے قران سره یعنی چه عمل ئے وکړهٔ په احکامودهٔ فَلِنَفْسِهٖ پس هم دهٔ لره دهٔ فائده ئے وَمَنْ ضَلَّ اوهر څوك چه ګمراه شهٔ چه دهٔ په احکاموئے عمل ونه کړو فَاِنَّمَا پس بیشکه هم داخبره ده يَضِلُّ عَلَيْهَا چه ګمراه کیږی دے په خپل ځان ځکه چه ضرر ئے هم دهٔ ته راجع دے وَمَآ اَنْتَ اونه ئے ته عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۴۱﴾ ع په دوئی نګهبان اللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ خدائ قبضوی نفسونه دعباد و یعنی راوباسی ئے له ابدانو دوئی څخه په دوه ډنډه کښ يوحِيْنَ مَوْتِهَا په وخت دموت دے عبادو کښ یعنی دهرهغه چا چه عمرئے تمام شوے وی اواجل ئے راغلے وی وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ اوبل هغه نفسونه دعبادوچه نه وی دوئی مړه یعنی دهغوهم قبضوی لکه فِيْ مَنَامِهَا په وخت دخوب دهغوکښ یعنی چه اودهٔ شی روایت دے له عن السنة په معالم کښ چه هر سړے دوه نفسونه لری یونفس دحیوٰة چه حرکت اوساه ورسره ترلی دی او بل نفس دعقل اوتمیز نوهرچه نفس دحیوٰة دے هغه په وخت دمرګ ترے جدا کیږی اما

نفس د عقل د تمیز هم ورسره لاړ شی ځکه چه په تک کښی هغه هم ورسره تړلے دے لره غ جهته مړے عقل تمیز هم نه لری او هر چه نفس د عقل او د تمیز دے هغه په وخت د خوب کښ ترے جدا کیږی اوله دهٔ سره نفس د حیوٰة نهٔ ځی ځکه او د عقل او تمیز نهٔ لری او حرکت کوی او ساه هم اخلی او نقل دے له ابن عباس رضی الله عنه چه هر سړے یو نفس لری او یو روح چه په مابین د دوئ کښی دا سے شعاع د ده لکه شعاع د شمس اوله نفس سره عقل تمیز تړلی دی اوله روح سره حرکت او ساه او په تک د روح سره تک د نفس لازم دے نو او د هغهٔ حرکت او ساه لړلی ځکه چه روح پکښی دے او عقل او تمیز نهٔ لری ځکه چه نفس ترے تللے دے او مړے یو هم نهٔ لری ځکه چه روح او نفس دواړه ترے تللی دی فَيُمْسِكُ الَّتِيْ پس وساتی دے هغه نفس قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ چه مقرر کړے دے د هغهٔ په هغه مرګ هم هلته په هغه عالم کښی او بیائے بدن لره راونهٔ لیږی وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰۤى او بیرته رالیږی بدن لره هغه لره بل نفس یعنی هغه چه او د هغهٔ وی او مرګ ئے ورلره نهٔ وی مقرر کړے ځکه چه عمرئے لا باقی وی اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ تر هغه مودے پورے چه په نامه کړے شوے د ده یعنی معین د ده چه منتهی ده د عمر اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے قبض او ارسال او امساک کښی لَاٰيٰتٍ هر ائینه نښانے لویۍ ښے دی د کمال د حکمت او شواهد دی د قدرت په بعث او په حشر لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾ د پاره د هغه قوم چه فکر کوی په دے کښی چه هغه قادر مطلق چه دا ټول کولے شی هغه مړی هم بیا ژوندی کولے شی امادا مشرکان د غه فکر نهٔ کوی اَمِ اتَّخَذُوْا بلکه نیولے دے دوئ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ شُفَعَآءَ ؕ شفاعتګر یعنی بتان چه خدائ ته خواست او زاری وکا د دوئ د پاره قُلْ وایه دوئ ته چه شفاعت به کوی دا بتان ستاسے اَوَلَوْ كَانُوْا ایا اګرکه وی دوئ په دے حال چه لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا اختیار نهٔ لری دوئ د هیڅ شے یعنی نه د شفاعت او نه د بل کوم امر وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴۳﴾ او نه عقل لری دوئ چه ستاسے عبادت ورته معلوم شی ځکه چه جمادات دی قُلْ بیا وایه دوئ ته چه لِلّٰهِ الشَّفَاعَةُ خاص خدائ لره دے اختیار د شفاعت جَمِيْعًا ؕ ټول او بل هیڅوک نه دخل پکښی نشته مګر په اذن د دهٔ سره ځکه چه لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ خاص هم دهٔ لره ده بادشاهی د اسمانونو

عه یعنی شاهد دی د قدرت د خدائ په پوره توګه کیدلو د خلقو او په جمع کیدلو ۱۲
کتبه: محمد صادق زهیر عفی عنه

وَالْاَرْضُ ۖ اودزمکے ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ بیا خاص هم دهٔ ته به بیرته بیولے کیږئ تاسے په ورځ د قیامت اوهلته به هم بادشاهی هم دهٔ وی یوازے وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ او په هغه وخت چه یاد کړے شی خدائ وَحْدَهُ یوازے هم دے له خدایانو دوئ یعنی چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وویلے شی نو اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ وترهیبزی اوقبض شی زړونه د هغه کسانو لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ چه ایمان نه راوړی اوباور نهٔ لری په اٰخرت په ذکر د توحید سره وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ اوپه هغه وخت چه یاد کړے شی هغه کسان مِنْ دُوْنِهٖ چه غیر دی له خدائ یعنی بتان اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ ناګاه دوئ تازه روئ شی یعنی مخونه ئے راڼه شی او وچولی ئے پراخه شی له ډیرے خوشحالئ او اشمیزاز او استبشار ئے سره مقابل کړهٔ حُکمه چه هر یوله دوئ په خپل باب کښ منتهی ته رسیدلی دی **فائدہ** بیا رسول صلی اللہ علیه وسلم ته امروشئ له جنابه رب العزت چه هرکله ته حیران شوے د دوئ په دے امر کښ اوعاجز شوے له دے بغض اوعناد د دوئ نو خدائ ته سوال اوزاری وکه دپاره د فیصل د دوئ مهم لکه چه وائ قُلِ اللّٰهُمَّ سوایه چه اے پروردګاره فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اے پیدا کونکیه د اسمانونو اود زمکے عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اے خبرداره په پټ او په ښکاره اَنْتَ تَحْكُمُ ته به حکم کوے په ورځ د قیامت بَيْنَ عِبَادِكَ په مابین د بندګانو نو خپلو فِيْمَا كَانُوْا په هغه کار د دین کښ چه وو دوئ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ چه په هغه کښ اختلاف به ئے کولو په دنیا کښ اوس بیا اخبار کوی رب العزت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له سختئ د عذاب د دے کفارو اوله نه خلاصی د دوئ له عذاب په هیڅ وجه سره وَلَوْ اَنَّ اوکه چرے بیشکه لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مملوك شی د هغه کسانو چه ظلم ئے اختیار کړے د ے یعنی کافران شوی دی مَا فِی الْاَرْضِ هغه مال اومبلغ چه په زمکه کښ دی جَمِيْعًا ټول یعنی له اوله تر اٰخره اوله شرقه تر غربه اوله شمال تر جنوبه وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ اوپه مثل یعنی په قدر د هغه مال نور هم ورسره شی نو جزائے دادہ لَافْتَدَوْا بِهٖ هر اینبه فدیه به ورکاوه وئ د اټول مبلغ په خلاصی د ځان خپل کښ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ له سختئ د عذاب يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ په ورځ د قیامت کښ وَبَدَا لَهُمْ اوښکاره به شی دوئ ته مِّنَ اللّٰهِ له طرفه د خدائ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا هغه قهر اوعذاب چه نه وو دوئ يَحْتَسِبُوْنَ ﴿۴۷﴾ چه گمان به کاوو د هغه یعنی دوئ گمان کولو په عبادت د بتانو سره د

رضا او د ثواب او بیا هم هغه عبادت ئے موجب شئ د قهر او د عذاب نو هله به ورته خپله زیانکاری بنکاره شی۔

نظم

ډیر واویل او آه افسوس دے هغه چا له	چه دے نیک کړی عمل او بد شی ورورہ
لکه څوك چه ځی بازار ته سود سودا له	او دے واخلی بنئ کره روپئ له کورہ
بیا صراف ته چه بنکاره کړ ځمالا لـــه	دے ئے سره پیسے راوباسی له اوسرہ
دا مراد چه مختورن دے ذوالجلا لـه	ته ئے وساتے له اوره له پیغورہ

وَبَدَا لَهُمْ او بنکاره به شی دوئ ته سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا بدی د هغه عملونو چه کړی وو دوئ وَحَاقَ بِهِمْ او چاپیره به شی له دوئ مَّا كَانُوْا هغه خیز چه وو دوئ په دنیا کښ بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾ چه په هغه پورے مسخره به ځے کولے چه هغه قهر الٰهی او عذاب ابدی دے فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ پس په هغه وخت چه ورسیږی جنس انسان ته ضُرٌّ دعا نازکوم قسم ضرر او سختی نو بولی دے موږه او زاری کوی دپاره د دفع د هغهٔ ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ بیا په هغه وخت کښ چه ورکوو مونږه دٔ ئے لره نِعْمَةً مِّنَّا لاکوم نعمت له خپل جنابه لکه مال او عزت او جاه قَالَ اِنَّمَآ نو وائی دٔ ئے چه بیشکه هم داخبره ده اُوْتِيْتُهٗ چه راکړے شوے دٔ ئے مالره دا نعمت عَلٰى عِلْمٍ په سبب د هغے څما په وجوه د کسب چه دا نعمت زما پرے حاصل کړے دے یا په سبب د علم د خدائ په استحقاق څما دے نعمت لره او په واقعه کښ دا سے نهٔ ده لکه چه دے وائی بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ بلکه دا نعمت یوازمیبنت دٔ ئے دوئ لره دا سے چه ایا دوئ پرے شکر کوی اوکهٔ نه کوی وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات د دے خلقو چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۹﴾ نهٔ پوهیږی په دے چه دا تخویل چه دے یوازمیبنت او استدراج دے مونږه لره قَدْ قَالَهَا په تحقیق سره ویلے وه داخبره یعنی داکلام چه انما اوتیته علی علم اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ هغه کسانو لره چه تیر شوی دی پخوا له دوئ لکه قارون او هغه قوم د دهٔ چه په دے ویلو ئے راضی وو فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ پس هیڅ قدر عذاب دفع نهٔ کهٔ له دوئ مَّا كَانُوْا هغه مال او متاع د دنیا چه وو دوئ يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ چه کسب ئے کاوو د هغهٔ او په کسب ئے حاصلولو فَاَصَابَهُمْ پس ورسید له هغه پخوا نیو ته سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا جزاد هغو بدیو چه کړے وے دوئ داسے چه له مالونو او له مینوسره

د وب شوپه زمکه کښی چه لا تراوسه پورے نښکته روان دی وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا اوهرچه هغه کسان دی چه کافران شوی دی اوناشکری ئے کړے ده دغسنو نو مِنْ هٰٓؤُلَآءِ له دے قومه ستا سَيُصِيْبُهُمْ زر دے چه وبه رسیږی دوئی ته هم سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ا جزاد هغو بدیو چه کړی دی دوئی لکه چه هغو پخوا نیوته رسید لے وه وَمَا هُمْ اونهٔ دی دوئی بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾ عاجز کونکی خُمونږه له تعذیبه بیا هغه وعده دجزا تر سره شوه دا سے چه اُوٹه کاله روزی ترے حصاره شوه په قحط سره اوبل مشران ئے پټول قتل شو په ورځ د بدر کښی اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا ایا نهٔ پوهیږی دوئی اَنَّ اللّٰهَ په دے چه بیشکه خدائ يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ هغه چاله چه اراده ئے وشی دپاره دازمینټ وَيَقْدِرُ او تنکوی دے په هغه چاچه اراده ئے وشی دپاره دابتلاء اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے بسط او قبض کښی لَاٰيٰتٍ هر اُئینه ډیرے نښے دی دکمال دقدرت لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی دوئی په دے چه باسط اوقابض هم دے دے روایت دے چه یوه طائفه د مشرکانو رسول علیه السلام له راغله اوسوال ئے وکړو چه له مونږه ډیر قتل اوډیر زنا اوداسے نورډیر گناهونه صادر شوی دی نواوس کهٔ مونږه داستادین قبول کړو نوداتبر گناهونه خُمونږه به راته وبخښلے شی اوکه نه؟ اوچا ویلی دی چه داسوال وحشی بن حرب قاتل دامیر حمزه رضؓ وکړو نو نازل شهٔ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ وویایه اے رسوله چه وائی پروردګار چه دے هغه بندګان نومُومنانو خُما اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ چه اسراف ئے کړے دے په خُانونو خپلو یعنی د ډیرا فراط موکړے دے په کولو د گناهونو کښی چه له حده زیات معاصی درتخم صادر شوی دی لَا تَقْنَطُوْا مهٔ نا امیده کیږئ مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ له رحمه دخدائ ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ بخښی گناهونه جَمِيْعًا ټول اګرکهٔ ډیروی هم، غیرله شرك اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ هم دے بخښونکے مهربان دے۔ نظم

راشه واورهٔ کنهکاره دا اُیت له ذوالجلاله ... زړهٔ خوشحاله لره تل اوطبیعت مهٔ کړه ملاله

دی اُیت کښی دی خوخیزه چه هرپوئے بے پرواه ... یوخطاب عِبَادِيَ دی عُصاةٌ نهٔ دے لالله

عه یعنی له عذاب وګولږخپلونه مونږه عاجزیو ۱۲ عمه یعنی خطاب عام خلقو ته دے نه خاص کنهکارانو ته ۱۲

بل عتاب دے په نرمئ چه اَسْرَفُوْا نَفْسِهِمْ اَخْطَاءُ دے بل لا تقنطوا ته کوره بل وردرومه جَمِيْعًا لـــه
بل تاکید دے په دوه اِنَّ بل بے شرط مغفرت دے لکه قید دمشیت دنیک عمل نه شته هیڅ لـــه
بل نکاردے دَ دوارو چه رحمت او مغفرت دے بل دے حصر په هُوَ کښی د غفران اورحمت خالـه
دا مراد په کنهګارانو دَ امید وار دِ رحمت دے نه غفور ئ هم رحیم په مغفرت ئ کړے خوشحالـه

او دا ایت بهتر او امید وار تر دا ایتونو دے او حدیث دے چه مَا اُحِبُّ اَنَّ لِی الدُّنْیَا وَمَا فِیْهَا بهذه الآیة وَاَنِیْبُوْٓا اِلٰی رَبِّکُمْ او بیرته وګرځئ رب خپل ته اے مشرکانو نه شرکه توحید ته اے عاصیانو غافلانو نه عصیانه طاعت ته اوله غفلته دُعا او زاریُ ته وَاَسْلِمُوْا لَهٗ اوغاړه کیږدئ دهٔ ته په اسلام سره یا په اخلاص دعمل، سره مِنْ قَبْلِ اَنْ یَّاْتِیَکُمُ الْعَذَابُ چه راځی تاسے لره عذاب ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ (۵۴) بیا مدد ګار به درسره نهٔ شی کولے په دفع دعذاب کښی وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَیْکُمْ اوپیروی کوی دډیر غوره حکم دهغه قرآن چه رالیږلے شوے دے هغه تاسے ته مِّنْ رَّبِّکُمْ له جانبه درب ستاسے نه یعنی د عزیمت، نه د رخصت اود ناسخ نه د منسوخ مِنْ قَبْلِ اَنْ یَّاْتِیَکُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً چه راشی تاسے لره عذاب ناڅاپه وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ (۵۵) او حال داچه تاسے به نه پوهیږئ په طرف دراتلو دهٔ چه تدارک ئے وکړئ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ یٰحَسْرَتٰی اے پښیمانئ دُعا اودا الف بدل دے له یٰ د متکلم عَلٰی مَا فَرَّطْتُّ په هغه څیز چه تقصیر کړے دے ما فِیْ جَنْۢبِ اللّٰهِ په طرف دخدائ، کښی یعنی په هغه طرف کښی چه مقضی وو رضا دخدائ ته وَاِنْ کُنْتُ اوبیشکه چه وم زهٔ لَمِنَ السّٰخِرِیْنَ (۵۶) هرائینه له مسخرے کونکیو په قرآن اوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم او په مؤمنانو پورے اَوْ تَقُوْلَ یا چه وائی دغه شخص لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِیْ که چرے دا سے وے چه بیشکه خدائ سمه لار ښودلے وے ماته لَکُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِیْنَ (۵۷) نو هرائینه وم به زهٔ له ځان ساتونکیو له شرکه اوله معصیته اَوْ تَقُوْلَ یا چه وائی دغه شخص حِیْنَ تَرَی الْعَذَابَ په هغه وخت چه وینی دے عذاب لَوْ اَنَّ لِیْ کَرَّةً اے کاش چه وے ماله ره یو کرت تک بیرته دنیا ته فَاَکُوْنَ پس وُم به زهٔ مِنَ الْمُحْسِنِیْنَ (۵۸) له نیکوکارانو یعنی له موحدانو او

عه یعنی دوست نه لرم زهٔ په تحقیق کهٔ شی ماله ره دنیا او هغه چه په دے کښی دی مګر له دے ایت سره دوستی لرم او خوشحالیږم پرے ۱۲

بیا ورته وائی خدائی بَلٰی ولے ما هدایت نهٔ وکړے درته بلکه کړے ما وو درته حُکمه چه قَدْ جَآءَتْكَ
اٰيٰتِیْ په تحقیق راغلی وو تاته اٰیتونه د کتاب حُما چه قرآن وو فَكَذَّبْتَ بِهَا پس تکذیب کړے وو تا د
هغو وَاسْتَكْبَرْتَ او کبر او سرکشی وکړے وه له ایمان نه په هغو وَكُنْتَ او وے ته مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾ له هغه
منونکیو د هغو او دا بَلٰی جواب دے د نفی تقدیری حُکمه چه معنی د لوان الله هدٰنی داده چه مَا هَدَانِیْ
وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ او په ورځ د قیامت کښ تَرَى الَّذِيْنَ وینے به ته هغه کسان كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ چه دروغ
ئے تړلی دی په خدائی په اتخاذ د ولد وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ط چه مخونه د دوئ به تور وی لا یخوا د دخول
د دوزخ په سبب د هغے سختئ چه په دهٔ به وی اَلَيْسَ فِیْ جَهَنَّمَ ایا نشته په دوزخ کښ مَثْوًى
لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾ ځائی د متکبرانو یعنی شته وَيُنَجِّی اللّٰهُ او وبه ساتی خدائی له دے دوزخ نه الَّذِيْنَ
اتَّقَوْا هغه کسان چه ځان ئے ساتلے دے له شرکه بِمَفَازَتِهِمْ ز په سبب د خلاصی د دوئ
په ایمان او په اخلاص د عمل سره او تفسیر د هغه خلاصی وادے چه لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ نهٔ
به مسه کوی دوئ یعنی ابدان ئے هیڅ سختی او مکروه وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾ اونهٔ به وی یعنی زړه
ئے غمژن کیږی اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ ز خدائی پیدا کوونکے د هرشے دے کهٔ ایمان دے کهٔ کفر خیر دے
کهٔ شر او دا راد دے په معتزلو او په شیو. وَّهُوَ او دے عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۶۲﴾ په هرشے نگهبان
دے. لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ خاص هم دی لره دی اوهم ددهٔ په تصرف کښ دی کلیکانے د خزانو
د اسمانونو وَالْاَرْضِ او د زمکے یعنی د بارانونو د اسمان او د نباتاتو د زمکے یا د نور هرشے وَالَّذِيْنَ
كَفَرُوْا او هرچه هغه کسان دی چه کافر شوی دی بِاٰيٰتِ اللّٰهِ په اٰیتونو د خدائی چه قرآن دے اُولٰٓئِكَ
دغه کسان چه دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۳﴾ ع هم دوئ زیان کاران دی چه خُائی ئے د دوزخ دے روایت
دے چه کفارو د قریشو رسول الله علیه السلام ته د ویل چه راشه د خُپلو نه د خدایانو تعظیم
وکهٔ په بنکلو یا په دود سته سلام په لاس سره نو موږ نه به هم ایمان راوړو ستا په خدائی باندے
نو نازل شهٔ قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ وویایه دوئ ته چه ایا پس غیر له خدائی په عبادت د بل چا تَاْمُرُوْٓنِّیْٓ
اَعْبُدُ امر کوئ تا سے ماته د دے چه عبادت ئے کوم اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾ اے نادانانو نو بے خبرو

عه هدایت نهٔ وکړے تا ماته ۱۲ عمه یعنی چه نسبت د ولد نیولو خدائی ته کوی ۱۲

په توحید دخدائ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ اوهرا ئینه په تحقیق وحی کړے شوے ده تانه وَإِلَى الَّذِينَ اوهغه کسانو نه هم مِن قَبْلِكَ چه پخوا له تا نیز شوی له پیغمبرانو دا سے چه لَئِنْ أَشْرَكْتَ قسم دے چه کهٔ شرك اختیار کړے نهٔ په تقدیر د فرض دمحال یا مراد نرے پکښ خطاب دے امت ته لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ نو هرا ئینه خراب به شی خامخا پخوانے عمل ستا چه په ایمان دِ کړے وی وَلَتَكُونَنَّ اوهر ا ئینه شے به تهٔ خامخا مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿۶۵﴾ له زیانکارانو بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ بلکه یوا ځے دخدائ عبادت کوه اوددوئ په ویلو پسے له سره مهٔ حُمَّ وَكُنْ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿۶۶﴾ او اوسه همیشه له شاکرانو په نعمت د توحید **روایت دے** چه یوله احبارو دیهود و رسول علیه السلام له راغے او ورته ئے وویل چه اے محمدؐ تانه معلوم دی اوکه نه چه خدائ په ورځ د قیامت دا اوهٔ واړه اسمانونه به په یوے گوتے کیږدی اودا اوهٔ واړه زمکے به په یے اودا اغزونه به په یے او دا دواړه گوتے ابی او خاکی به په یے اودا ټول مخلوق به په یے نو دا لاس به وشړقوی اووبه وائی چه أَنَا الْمَلِكُ أَنَا الْمَلِكُ ابن الملوك. نو رسول علیه السلام تبسم وکړو له دے قوله ددهٔ په طریقه د تعجب سره نو نازل شهٔ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ او تعظیم نهٔ دے کړے دے کفارو دخدائ حَقَّ قَدْرِهِ ﷺ هغه حق د تعظیم ددهٔ حُکه چه دوئ پخپله هم عبادت دبتانو کوی اورسول علیه السلام پرے ماموره کوی وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ اوحال داچه دے دا سے عظیم الشان دے چه زمکه ټوله سره له دا سے عظمته دده یو موټے به وی ددهٔ يَوْمَ الْقِيَامَةِ په ورځ د قیامت وَالسَّمَاوَاتُ اواوهٔ واړه اسمانونه چه دی مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ط تاوُ کړی به یتولی وی په ښی لاس ددهٔ کښ اودا الفاظ هم له هغو متشابهاتو دی چه متقدمین پکښ سکوت کوی اومتاخرین پکښ تاویلات کوی سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى پاك دے اوبلند شان دے عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۶۷﴾ له هغه چه شریک نیسی دوئ له ددهٔ سره وَنُفِخَ فِي الصُّورِ اوپوکے به وکړے شے په شپیلئ کښ اول کرت فَصَعِقَ پس مړه به شی مَن فِي السَّمَاوَاتِ هرهغه څوك چه په اسمانونو کښ دی وَمَن فِي الْأَرْضِ اوهرهغه څوك چه پهزمکه کښ دی إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ط مگرهغه څوك چه اراده کړے وی خدائ دنه وژلو د هغوچه څلور ملائك

عه معنی داچه زهٔ بادشاه یم چرته دی بادشاهان ۱۲ عه ملائک مقربین یعنی جبریل میکائیل اسرافیل عزرائیل علیهم الصلوٰة والسلام

یا حملة العرش یا خزنه د جنت او دوزخ دی ثُمَّ نُفِخَ بیا یو کے به وکړے شی پس له څلویښتو کالو فِيهِ أُخْرَىٰ په دے شپیلۍ کښ دویم فَإِذَا هُمْ پس ناڅاپه د اخلق چه مړه وو ټول قِيَامٌ يَنظُرُونَ (۶۸) ولاړ به وی په خپو چه یو بل طرف ته به ګوری لکه بے خوده یا بے قراره چه ډیر منتظر امر د خدائ ته په باب خپل کښ چه خړنګ به وی وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ او روښانه به شی زمکه د میدان د محشر بِنُورِ رَبِّهَا په نور د رب خپل سره په هغه وخت چه تجلی وکړے د پاره د قضا په مابین د بندګانو کښ یا مراد روښنائی د عدل ده چه نور د عدل به راشی او ظلمت د ظلم به پرے وړل شی وَوُضِعَ الْكِتَابُ او کیخودے شی کتاب یعنی اعمال نامه خپله د هر چا په لاس کښ د چا پښی لاس کښ او د چا په چپ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ او رابه وستلے شی پیغمبران علیهم السلام محشر ته د پاره د سوال له تبلیغ د رسالت او له جوابه د اُمت وَالشُّهَدَاءِ او شاهدان هم له هر امته یعنی نیکان د هر ے زمانے چه شاهدی به کوی په اهل د هغے زمانے باندے یا امت د محمد صلے الله علیه وسلم چه شاهدی کوی دوئ د پاره د رسلو په اداء د رسالت یا ملائک حفظه چه به کوی په هر سړی وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ او حکم به وکړے شی په مابین د دوئ کښ به حق او به عدل سره وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ او دوئ به مظلومان نه کړے شی هیڅ قدرته یه نقصان د ثواب او نه په زیادت د عقاب سره **فائدہ** افتتاح د دے آیت په عدل وه او اختتام ئے په نفی د ظلم وشه وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ او پوره به ورکړے شی هر شخص له مَا عَمِلَتْ جزا د هغه عمل چه کړے وو د ده وَهُوَ أَعْلَمُ او حال دا چه دے شیۍ خبردار دے بِمَا يَفْعَلُونَ (۷۰) په هغه عمل و نوچه کوی ئے دوئ نو حاجت نشته کا تب او شاهد ته وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا او شړلی اورا ښکلی کیږی به کنه بندیان هغه کسان چه کافر دی إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا د دوزخ ته ډلے ډلے به بعضو پسے حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا تر هغه پورے چه څو راشی دوئ د دوزخ له فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا نو پرانستے به شی ورته اوګه واړه دروازے د دوزخ او دا جواب دے د دا ذا ۔ وَقَالَ لَهُمْ او به وائی دوئ ته خَزَنَتُهَا خزانچیان د دوزخ یعنی هغه ملائک چه مسلط دی په تعذیب د دوزخیانو أَلَمْ يَأْتِكُمْ چه ایا نه

عه حملة العرش یعنی هغه ملائک چه عرش ئے په اوږو خپلو پورته کړے دے ۱۲

وو راغلی تاسولره رُسُلٌ مِّنكُمْ رسولان له تاسے یعنی ستاسے له خپل جنسه له بنی اٰدمو يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ چه لوستل به دوئی په تاسے اٰيٰتِ رَبِّكُمْ ايتونه د رب ستاسے چه انبیاء علیهم السلام لره راغلی وو۔ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ او ويروی وئ به دوئی تاسے لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا له ملاقات ته دهغے ورځ ستاسے چه دغه ده قَالُوْا بَلٰى نو وبه وائی دا کفار چه ولے نه وو راغلی بلکه راغلی وو وموبنزه لره او موبنزه ئے ویروللی هم وو وَلٰكِنْ حَقَّتْ او لیکن واجبه شوه كَلِمَةُ الْعَذَابِ کلمه د عذاب چه لاملئن جهنم اوے عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۱﴾ په کافرانو باندے قِيْلَ ادْخُلُوْٓا بیا به وویلے شی دوئی ته چه ځئ ننوځئ اَبْوَابَ جَهَنَّمَ دروازو د دوزخ کښ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا په دے حال چه همیشه به اوسیدونکی اوسئ تاسے په دهٔ کښ فَبِئْسَ پس بد دے مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۲﴾ ځائ د استوربنے د متکبرانو دا د دوزخ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اوبیولی کیږی به هغه کسان اتَّقَوْا رَبَّهُمْ چه ویریدل به دوئی له ربه خپله بیول به عزت پکښ مت په مراکبو سوارهٔ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا د جنت ته ولے ولے وراندے وروستو په تفاوت د مرا تبو سره به شرف او په علوشان سره حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْهَا تر هغه پورے چه څو راشی دوئی جنت لره وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا او حال دا چه لا پخوا به پرانستلے پرتے وی ورته دروازے د دے جنت چه انتظارونه کا دوئ وَقَالَ لَهُمْ او وبه وائی دوئی ته خَزَنَتُهَا خزانچیان د دے جنت سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ سلامتی اوبے غمی وی تاسے لره له هره مکروهه بیخه پس له دے به سختی او خفګان نه وینئ تاسے له سره ځکه چه طِبْتُمْ پاکئ وئ په دنیا کښ له خبرې ډکنا هونو فَادْخُلُوْهَا پس ننوځئ دغه جنت ته خٰلِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ په دے حال چه همیشه اوسیدونکی اوسئ تاسو په دهٔ کښ وَقَالُوا الْحَمْدُ او وبه وائی دوئی ته چه ستوانه جنت ته چه ثنا وه لِلّٰهِ الَّذِيْ هغه خدائ لره صَدَقَنَا وَعْدَهٗ چه ربنبتیائے کړه له موبنزه سره وعدهٔ خپله له بعثه اوله نعمتونو د عقبیٰ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ او میراث ئے راکړه موبنزه ته د ازمکه د جنت چه بے مشقته نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ځائ نیسو او ډیره کیږ و موبنزه له دے جنته حَيْثُ نَشَآءُ ځ په هر ځائ چه اراده وشی موبنزه فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۷۴﴾ پس ښه دے اجرد نیک عمل کونکیو په دنیا کښ وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ او ویني به ته ملائک حَآفِّيْنَ طواف کونکی مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ چاپیره له عرش يُسَبِّحُوْنَ چه تسبیح به وائی دوئی بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ع سره د ثناء رب خپل وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ

او حکم به وکړے شی په مابین د خلقو کښی په حق سره وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ او ویه ویلے شی چه ثناه د خدائ لره رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾ چه رب دے د عالمیانو ۔

سُوْرَةُ الْمُؤْمِن مکیة (۶۰) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — الجزء ۲۴ رکوعها ۸۵

حٰمٓ ﴿۱﴾ چاویلی دی نقل له ابن عباسؓ څه دا مجموعه اسم اعظم دے د خدائ اوچا ویلی دی چه هر حرف ئے اشارت دے یوے کلمے ته چه په هغے قسم کړے شوے دے ۔ نو حٰمٓ اشارت دے حکم د خدائ ته او مٓ ۔ ملک د دغٔ ته یعنی قسم کوم په حکم او ملک خپل او جواب د قسم دا دے چه تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ را لیږل د دغٔ کتاب چه دی چه قرآن دے مِنَ اللّٰهِ له هغه خدائ دغٔ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۲﴾ چه غالب دا ندے په هر څیز غَافِرِ الذَّنْۢبِ چه بخښونکے دے د ګناه و دعاصیانو وَقَابِلِ التَّوْبِ اوقبلونکے دے د توبے د تائبانو شَدِيْدِ الْعِقَابِ ﴿۳﴾ چه سخت عقوبت دغٔ دے د سرکشانو نه مخالفانو خپلو ذِي الطَّوْلِ د چه څښتن د فضل دے په مطیعانو خپلو یا څښتن د بے پروائیٔ دے له هرچا لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته لائق د عبادت هیڅوک مګر یوازے هم دے دے اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿۳﴾ خاص بیرته هم دغٔ ته ورتلهٔ دی د بندګانو د پاره د جزا د اعمالو مَا يُجَادِلُ جګړه نهٔ کوی او طعنے نهٔ وائی فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ په ایتونو د خدائ کښی پس له تحقیق د نزول اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مګر هغه کسان چه کافر شوی دی لکے فَلَا يَغْرُرْكَ پس نهٔ دِ تیر باسی تا تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ﴿۴﴾ چه ورلیدل او ګرځیدل د دوئ په ښارونو شام او د یمن کښی د پاره د سوداګری خوشحالے به غمه ځکه چه وخت د عقوبت ئے پر نزدے دے لکه تیر کفار چه كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ تکذیب کړے وو د رسول صلے اللہ علیه وسلم خپل پخوا له دوئ قَوْمُ نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ او هماغه ډلے نوح اقوام او هم تکذیب کړے وو د رسولانو خپلو مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له قوم د نوح علیه السلام لکه عاد او ثمود او قوم د لوط علیه السلام او د اسے نور هم وَهَمَّتْ او اراده کړے وه كُلُّ اُمَّةٍۢ هر ټولے له بِرَسُوْلِهِمْ په رسول خپل لِيَاْخُذُوْهُ د دے چه ونیسی دوئ

سه دوے ایت دیرے ټکیے ترجمه د تفسیر بیان القرآن نه لیکم غواړم د پاره دغٔ چه ستاسو بصیرت زیات شی ترجمه: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ تکذیب کړے وو دوئ نه مخکښی د حق دین قَوْمُ نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ قوم د نوح علیه السلام او نورو ډلو هم مِنْۢ بَعْدِهِمْ کوم چه د هغوئ نه پس وو لکه عاد او ثمود وغیرهم ۱۲

دا رسول علیه السلام دپاره دایذا یا دحبس یا دقتل په انواع دتعذیب وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ اوجګړه به ئ کولہ له دغه رسول علیه السلام سره په باطله یعنی په بے هوده خبرو وَلِيُدْحِضُوْا دپاره ددے چه محوکا دوئ بِهِ الْحَقَّ په دے باطل سره حق چه توحید دے فَاَخَذْتُهُمْ قف پس ونیول ما دوئ په سبب دے ایذاء اودجګړے له رسولانو نو خپلو سره اوهلاک م کړل فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ⑤ پس څرنګه وو عقوبت ځما دوئ لره یعنی تاسے خوهمیشه تیریږئ په مینود هغوئ او وینی اثار دعقاب اود قهر وَكَذٰلِكَ اوهم داسے لکه چه واجب شوے وه په هغه مکذبانو کلمه دعذاب حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ واجب شوے ده کلمه دعقاب دربستا عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا په هغه کسانو چه کافر شوی دی له قومه ستا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ⑥ هغه کلمه داده چه بیشکه دوئ ملازمان داوردی اوادابدل دے له كَلِمَتُ ربك څخه: بیارب العزت وائی چه کله ستا قوم عبادت نه کوی ځما نو غیر له دوئ نورهم ځما عابدان اوثناخوان ډیردی له اشراف دمخلوقاتو چه بعض ترے حاملان اوطوفان دعرش دی لکه چه وائی اَلَّذِيْنَ هغه کسان چه دی له ملائکو يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ چه اخلی عرش وَمَنْ حَوْلَهٗ او هغه څوک چه چاپیره دی له دغه عرش چه کړو بیان بالهٔ شی اودوئ سرکروه اومشران دی دټولو ملائکو اوپه قرب کښ هم په اعلی مرتبه کښ دی اوپه وجود کښ هم له ټولو ورومبے دی روایت دے چه دحاملانو دعرش څخه بنکته په اومه زمکه کښ دی اوسرونه ئے له عرش پورته ختلی دی اوستر ګے ځیله له دیره هیبته دجلال هیڅوک نه پورته کوی اونور ملائک علیهم الصلوٰة والسلام ټول خدائ ماموره کړی دی په دے چه هر صبا اوهر بیګا سلام کوی دوئ دغه حاملانو دپاره دتعظیم او اجلال ددوئ اوداکړو بیان اویازره صفونه دی دملائکو چه مدام په طواف کښ دی چاپیر له عرش اوهر وخت تهلیل اوتکبیر وائی اوبیاله دوئ په راښودنه اویازره صفونه نوردی چه هغه مدام په یوځائ ولاردی اودوئ هم هر وخت تهلیل اوتکبیر وائی اوبیاله دغو ولاړو په راښودنه یولک صفونه نوردی چه بنی لاسونه خپل ئے په خپو اینبی دی اویو مخاپُر له بله تسبیح وائی کذافی المدارك يُسَبِّحُوْنَ تسبیح وائی داحاملان اوطوافان اوداخبرګ دتیرالَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ رَبِّهِمْ پیوست له ثنا دربخپل سره وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ او ایمان راوړی دوئ په دهٔ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ اوبخښنه غواړی دوئ له خدائ لِلَّذِيْنَ

اٰمَنُوْا دپارہ دھغہ کسانوچہ ایمان ئے راوړے دے له جهته دمماثلت ددوئی له مؤمنانوسره یوصف دایمان کښی اګرکهٔ په جنس اوپه مکان کښی سره لرے دی اووائی دوئی دا سے چه رَبَّنَا اے ربه حُمونږه وَسِعْتَ رسیدلے ئے ته كُلَّ شَيْءٍ هرشیز ته رَّحْمَةً وَّعِلْمًا له جهته دبخششه اودانایئ چه دِ موجودکړی دی اوبیا تکمیلانی ئے هم کوی په روزئ رسولو سره یعنی ستارحمت اوعلم رسیدلے دے هرشیز ته فَاغْفِرْ پس بخښنه وکړه لِلَّذِيْنَ تَابُوْا هغه کسانوته چه توبه ئے ایستلے ده له شرکه وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ او پیروی ئے کړے ده دلارے ستاچه دین داسلام دے وَقِهِمْ اووساته دوئی عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۷ له عذابه ددوزخ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ اے ربه حُمونږه مهربانی وکړه اوننباسه دوئی جَنّٰتِ عَدْنِ نه الَّتِيْ هغه باغونو دا قامت ته وَعَدْتَّهُمْ چه وعده کړے ده تاد هغه باغونوله دوئی سره په مهربانئ خپلے سره. وَمَنْ صَلَحَ او هغه څوك ښنباسه ورسره چه نیک شئ یعنی اعمال صالحه ئے کړی وی مِنْ اٰبَآئِهِمْ له پلارانو ددوئی وَاَزْوَاجِهِمْ او ددوئی وَذُرِّيّٰتِهِمْ او له بځودوئی اوله فرزندانو ددوئی چه په دیدن دد وئی اوپه فضل ستاخوشحالی ددوئی په جنت کښی دوچنده شی اِنَّكَ بیشکه ته چه ئے اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۸ هم ته ئے غالب پرحکمت چه هیڅ کارد له حکمته خالی نهٔ دے وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ او وساته دوئی له بدیوبیعنی له ګناهونو په دنیا کښی یاله جزادګناهونو په عقبیٰ کښی چه عذاب دے اور وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ اوهرڅوك چه وساتے ته له بدیو یعنی له هغه عذابه چه په سبب دبدیو ورکولے شی ورلره يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ دقیامت فَقَدْ رَحِمْتَهٗ پس په تحقیق چه مهربانی دِ وکړه په هغهٔ وَذٰلِكَ اوداساتل ستاچه دی له عذابه هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۹ ع هم دابرے دے لوی اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چه کافرشوی دی يُنَادَوْنَ غږ به ورته وکړے شی په لسان دملائکو په هغه وخت چه دوزخ ته ننوځی اوهلته خپل ځان ته په غضب شی دوئی اوملامته به پرے وائی چه تاسوخو رسولانوایمان ته بللی وئی په دنیا کښی نوتاسوهاله ایمان ولے نه راوړو نوملائك به ورته ووائی چه دالا خهٔ دے زیات له دے اوروئ چه لَمَقْتُ اللّٰهِ هرالبته دشمنی اوغضب دخدائ چه دے په تاسے په سبب دکفرا اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ هغه دِ پرلوئ دے له دشمنیٔ اوله غضبه ستاسے اَنْفُسَكُمْ په خپلو ځانونوځکه چه مقت ستاسے خواوس پیدائهٔ پس له مشاهدے دعذابه اومقت دخدائ خو لا

چو اپه دنیا کښ وو اِذْ تُدْعَوْنَ په هغه وخت چه بلله کیدلئ به تاسے اِلَى الْاِيْمَانِ ایمان ته په خدائ او په رسول صلے الله علیه وسلم فَتَكْفُرُوْنَ ⑩ پس نو کفر به اختیار اوو تاسے اوله ایمانه به تښتیدلئ قَالُوْا رَبَّنَآ نو وبه وائ دوئ چه اے ربه خُمونږه اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ مړۀ دِ کړو مونږه دوه کرته وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ او بیا ژوندی دِ هم کړو مونږه دوه کرته پس دوه اما ته چه دی اول ځے په انتها د عمر کښ دے او دوئم ځے په قبر کښ دے پس له سوال او جواب او دوه احیاء چه دی اول ځے په قبر کښ دے دیاره سوال او جواب او دوئم ځے په قیامت کښ دے یعنی پس له معاینے به اعتراف وکا دوئ نو وبه وائ چه فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا پس قایل شو مونږه په ګناهونو خپلو چه انکار کولو مونږه له بعث او تکذیب به موکولو د رسولانو او مسخرے به موکولے په رسولانو نو پرے فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ پس آیا اوس شته وتلو خُمونږه ته له دے دوزخ مِنْ سَبِيْلٍ ⑪ کومه لاره چه پرے پرے ووځو اوله دے عذابه خلاص شو نو ملائک به ورته وائ چه لاره دخروج نشته او د اعذاب تاسے ابدی دے اوذٰلِكُمْ دا عذاب چه دے تاسے لره اِبَانَّهٗ په دے سبب دے چه بیشکه شان احوال داوو په دنیا کښ اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ په هغه وخت چه به وبلے شو الله وَحْدَهٗ یوا ځے به له خدایانو نورو تاسے کَفَرْتُمْ نو کفر به اختیار کړو تاسے یعنی منکران به شوئ په وحدانیت د دهٗ او ویل به موچه اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ الٰهًا وَاحِدًا ۔ وَاِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ او بیا چه به هم وبللے شو له دهٗ سره تُؤْمِنُوْا نو ایمان به راوړو تاسے په دے شرکاؤ او دوئ به موومنل فَالْحُكْمُ پس ن ورځ حکم یعنی اختیار چه دے دهر چا په هر باب کښ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ خاص هغه خدائ لره دے چه بلند شان دے له شریکه الْكَبِيْرِ ⑫ لوئے دے له دے چه بل څوک ځے مساوی شی په خدائ کښ هُوَ الَّذِيْ دے هغه قادر بیچونه دے يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ چه بنائ تاسے ته ښے د قدرت خپل لکه باد او وریځ اورعد او صواعق او داسے نور هم او اهو مبتداء دے او اخباره ځے دلته مذکور دی چه الذی یریکم ځے اول دے وَيُنَزِّلُ لَكُمْ اوراکوزوی ستاسے د پاره مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا له طرفه د اسمانه روزی یعنی باران چه سبب دے د روزئ وَمَا يَتَذَكَّرُ اونه نه اخلی په دے ښو د قدرت اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ⑬ مګر هغه څوک چه راګرځید لی وی له شرکه

عه یعنی اوایا ذکر څول پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پرځدایان یوخدائی ۱۲

توحید تہ اوله معصیته طاعت ته فَادْعُوا اللّٰهَ پس وبولئ تاسے خدائ یعنے عبادت کوئ دہ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ پہ دے حال چہ خالص کونکی او پاك کونکی اوسئ تاسے دہ لرہ دین خپل له شرکه وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ او اگرکہ بدکنړی کافران دا اخلاص ستاسے هم رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ عظیم الصفات دے پورته کونکے دے د درجو یعنی د منازلو د مؤمنانو یه جنت کښ د بعضو له بعضو یه تفاوت دمقاماتو سره یا یه دنیا کښ یه طاعت او یه اخلاص سره یا د مراتبو د انبیاؤ یه صفوت یه دعوت یه خلقت یه قربت یه زهادة یه شفاعت یا د مصاعدو د ملائکو یا د اسمانونو یو له بل څخه او دائ خبر ثانی دے ذُو الْعَرْشِ ج چه څښتن دے دهغه عرش چه سرد عالم جسمانی دے او سر رشته د بادشاهئ او اجراء د احکاموهم له هغه ده اودائ خبر ثالث دے يُلْقِي الرُّوْحَ چه راغورځوی یعنی راالیږی دے روح چه جبریل علیه السلام دے اودائ خبر رابع دے او یا وروستی اخبار دی د مبتداء محذوف مِنْ اَمْرِهٖ له امره خپله یعنی یه فرمان خپل سره عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ پہ هرهغه چا چه اراده ئ وشی مِنْ عِبَادِهٖ له بندگانو خپلو یعنی نبوة ورلره ورکه لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾ د پاره د دے چه ویروی دے خلق دورځ د پیښئ یعنی چه یکښ پیښیږی یه اهل سماء یه اهل ارض یا اولین په اخرینو یا ارواح په اجسادو یا اعمال په عاملانو یا مظلومان یه ظالمانو یا عابدان په خپلو معبودانو يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ په هغه ورځ چه دوئ به بشکاره وی یعنی راوتلی به وی له قبرونو یا بشکاره به وی ابدان د دوئ یعنی نه به ئے جامے وی دځان پټولو اونه به ئے ځائ وی د پناه کیدلو یا اعمال او سرائر د دوئ لَا يَخْفٰى چه نۀ به وی پټ عَلَى اللّٰهِ په خدائ باندے مِنْهُمْ شَيْءٌ ۭ له دوئ هیڅ څیز اعیان او اعمال او احوال به ئے نۀ وی ورته معلوم وی نو هر یو لر هیڅله خپله جزا ورکه او دا سے غږ به وشی چه لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ چا لره ده بادشاهی نن ورځ اوهر کله چه هیڅوك د جواب پیدا نۀ شه نو پخپله به ووائی چه لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۱۶﴾ خاص خدائ لره ده بادشاهی چه یوازنه لاشریک دے گرد نونه ماتونکے دے د مخالفانو اوچا ویلی دی چه دا جواب به د محشر عالم ورکا په اتفاق مؤمنان له جهته د ایمان قدیم او کفار له جهته د هغه علم ضروری چه فی الحال به ور لره حاصل شوے وی بیا به و ویلے شی دپاره د دفع د وهم د جوز یا

د تیر وتلو په حساب کښ چه اَلْیَوْمَ تُجْزٰی نن ورځ به جزا ورکړے شی کُلُّ نَفْسٍ هر شخص لره بِمَا کَسَبَتْ ؕ په قدر هم د هغه عمل چه کړی وی ده او لَا ظُلْمَ الْیَوْمَ ؕ نشته هیڅ قدر ظلم نن ورځ نه په کمولو نیکیۍ اونه په زیاتولو بدئ اونه په نیولو د یوسړی په گناه دبل ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ سَرِیْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۷﴾ ډیر چلت دے په حساب کښ اوبل تیر وتل هم پکښ نشته نو نقصان هیڅ لره نۀ ورولی دهیڅ څیز وَ اَنْذِرْهُمْ او ویروه اے رسوله دا کفار یَوْمَ الْاٰزِفَةِ له عذابه د ورځے د هغه نزدے څیزه چه قیامت دے او ازوف قرب دے نو قیامت ته ازفه وایۀ شی له جهته د قرب د دۀ اِذِ الْقُلُوْبُ په هغه وخت چه زړونه د دوئ لَدَی الْحَنَاجِرِ په نزد د حلقو نو به وی یعنی زړونه به ئے له خپله ځایه راپورته شوی وی له ډیره خفگانه اوغمه او حلقو ته ځته به ولاړه وی او نه به راوځی چه مړۀ شی اونه به بیرته خپل ځائ لره ځی چه په ارام شی کٰظِمِیْنَ ۘ په دے حال چه زغمونکی به څښتنان د دے زړونو غم او د خفگان مَا لِلظّٰلِمِیْنَ نۀ به وی دے ظالمانو یعنی کافرانو لره په دغه ورځ کښ مِنْ حَمِیْمٍ هیڅوک دوست مهربان چه دا عذاب تر دفع کا وَّ لَا شَفِیْعٍ یُّطَاعُ ﴿۱۸﴾ اونۀ کوم شفاعتگر چه په شفاعت ئے له عذابه خلاص کړے یَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْیُنِ پوهیږی خدائ یه خیانت د سترګو لکه نظر ثانی شۀ غیر محرم ته یا سترګك وهل په عیبونو د خلقو وَ مَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾ او پوهیږی په هغه څیزونو هم چه پټوی ئے سینے د خلقو لکه امانت اوخیانت او نظر د شهوت اجنبیۀ پټ بیا تفکر په جمال د دے کښ وَاللّٰهُ یَقْضِیْ اوخدائ به حکم کوی بِالْحَقِّ ؕ په حق سره په جزا د نیکو کارانو اوبد کارانو وَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ اوهرچه هغه بتان دی چه بولی ئے د مشرکان مِنْ دُوْنِهٖ غیر له خدائ لَا یَقْضُوْنَ بِشَیْءٍ ؕ حکم نۀ شی کولے دوئ په هیڅ څیز نه دخیر او نه د شر ځکه چه اول خو دوئ جمادات دی قادر نۀ دی په حکم اودوئم که بالفرض حکم وکه نو حکم ئے بے ځایه ځکه چه دوی پخپله مخلوق اومملوك دی او د مملوك حکم په هیڅوا باندے نافذ نۀ دے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے هُوَ السَّمِیْعُ هم دے دے اوریدونکے د اقوالو د عبادو الْبَصِیْرُ ﴿۲۰﴾ لیدونکے د افعالو د دوئ اَوَ لَمْ یَسِیْرُوْا ایا نۀ گرځی د مشرکان د ځکے فِی الْاَرْضِ په زمکے د شام اویمن په وخت د سفر د پاره د سودا گرئ یعنی گرځی فَیَنْظُرُوْا پس وگوری دوئ کَیْفَ گَانَ چه څرنگه وو عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ

اخره خانمه دهغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ چه وو دوئ پخوا له دغه مشرکانو لکه عاد او ثمود او موتفکات
اوداسے نورهم ۔ وَكَانُوْا چه وو هغه پخوانی مکذبان هُمْ اَشَدَّ هم دوئ ډیر سخت مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا له
دغه مکیانوهم ۔ جهته د قوته او هم له جهته د ښیو فِی الْاَرْضِ په زمکه کښی لکه لوئ لوئ ښارونه او
چونه ګچ قلاګانے اوهسکے بیکلے اونور داسے رنګارنګ عمارتونه فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ پس ونیول دوئ خدائ
یعنی هلاک ئے کړه بِذُنُوْبِهِمْ ؕ په سبب د ګناهونو د دوئ چه کفر او تکذیب وو وَمَا كَانَ لَهُمْ اونهٔ
وو دوئ لره مِّنَ اللّٰهِ له خدائ یعنی له عذابه دهٔ مِنْ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾ هیڅوك ساتونکے چه له دوئ هغه
عذاب لرے کا ۔ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ دا ښیول د دوئ په دے سبب وو چه بیشکه دوئ چه وو كَانَتْ
تَّاْتِيْهِمْ دا سے کار وو چه راتله به دوئ لره رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ رسولان د دوئ په ښکاره دلیلونو او
معجزو فَكَفَرُوْا پس کفر به ئے اختیار کړه او دا رسولان به ئے ونهٔ منل فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ پس وښیول
دوئ خدائ یعنی هلاک به ئے کړه اِنَّهٗ قَوِیٌّ بے شکه چه دے ښځتن د ډیر قوت دے شَدِیْدُ
الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾ سخت عقوبت دے په اهل شرکو وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهر اینه په تحقیق لیږلی وو مونږه
مُوْسٰی بِاٰیٰتِنَا موسی علیه السلام له معجزو خپلو سره چه هغه ایات تسعه وو وَسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲۳﴾
او په ښکاره حجت سره چه عصا وه اِلٰی فِرْعَوْنَ فرعون ته چه بادشاه وو د مصر وَهَامٰنَ اوهامان ته
چه زیر وو د دهٔ وَقَارُوْنَ او قارون ته چه تربور یا خوریے وو د موسی علیه السلام او مقرب
وو د فرعون نو دوئ ئے وبلل تو حیدته فَقَالُوْا پس وویل دوئ سٰحِرٌ کَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ چه
جادوګر دے په اظهار د خوارق کښی ډیر دروغ ګوئ دے په دے ګفتارکښی چه بل خدائ
شته او زهٔ رسول یم فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ پس هرکله چه راغے دوئ لره هغه پیغام چه رښتیا
وو مِنْ عِنْدِنَا له جانبه ځمونږه په لسان د موسی علیه السلام قَالُوا اقْتُلُوْٓا نو وویل دوئ
عملے خپلے ته چه قتلوئ تاسے اَبْنَآءَ الَّذِیْنَ د هغو کسانو اٰمَنُوْا مَعَهٗ چه ایمان ئے
راوړیدے له دهٔ سره یعنی اوس بیا دیم کرت قتل کړئ په هغو منونے چه له دهٔ سره
شی لکه چه پخوا پرے کړے وو تاسے له جهته د دهٔ وَاسْتَحْیُوْا نِسَآءَهُمْ ما اوژوندئ پریږدئ
تاسے ښځے یعنی لونږه د دوئ دیاره د خدمت وَمَا كَیْدُ الْكٰفِرِیْنَ اونهٔ دے مکاو فریب د کافرانو له

انبیاؤ اوله مؤمنانو سره اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ (۲۵) مکر په کمراهئ او بے عقلئ کښ ځکه چه هغه مکرو راندے نه ځئ بلکه بیرته په هم دوئ راګرځئ روایت دے چه هرکله فرعون عجز خپل ولیدهٔ نو اراده ئے وکړه د قتل د موسیٰ علیه السلام اما خواصوئے ورته وویل چه په قتل به خلق د اسے ګمان وکړ چه د ده نه عاجز شو ځکه ئے مرکړو او دے خو ساحر دے نو ساحران ورلږه راوله او په هغوئ ئے پرکه نو بیائے مرکړه او دے هم په زړهٔ کښ ویریده له دے چه که اراده د قتل ئے وکړم او سره له دے چه پکښ خو ما ته ښهٔ معلوم دے چه دے پیغمبر دے په حق سره نو مبادا چه فی الحال پرے هلاک شم نو قتل ئے نهٔ شو کولے لکه چه وائی وَقَالَ فِرْعَوْنُ او وویل فرعون علے خپلے ته ذَرُوْنِیْٓ پریږدئ ما اَقْتُلْ مُوْسٰی چه مرکړم زه موسیٰ علیه السلام وَلْیَدْعُ رَبَّهٗ ځه اومیا ید چه دِ د راوبولی دے رب خپل چه اوس ئے له ماخلاص که اِنِّیْٓ اَخَافُ بیشکه زهٔ ویریږم اَنْ یُّبَدِّلَ دِیْنَكُمْ له دے چه بدل کا او تغیر ورکړ دے دین ستاسے لره یعنی چه حصار کړ دے تاسے له عبادت نه ځما او دبتانو نه ځخه اَوْ اَنْ یُّظْهِرَ یاله دے ظاهر کا دے او برپائ کا فِی الْاَرْضِ الْفَسَادَ (۲۶) په دے زمکه د مصر کښ فساد د اسے چه تا یعنی پیدا کا او بیا بله تاسے سره جنګ برپائ که وَقَالَ مُوْسٰٓی او وویل موسیٰ علیه السلام قوم خپل ته پس له هغه چه په دے ګفتار د فرعون خبر شو اِنِّیْ عُذْتُ چه زهٔ پناه نیسم بِرَبِّیْ وَرَبِّكُمْ خپل او او په رب ستاسے پوریے مِنْ کُلِّ مُتَكَبِّرٍ له هره کبر جنه سرکشه یعنی له شره د ده د اسے متکبر لَّا یُؤْمِنُ چه نهٔ راوړی دے ایمان او باور نهٔ کوی بِیَوْمِ الْحِسَابِ (۲۷) په راتلو د ورځے د حساب او دجزا بیا هر کله چه د اصلاحت د قتل د دهٔ مشهور شه نو د بنمنان ئے خو ښهٔ ځاله ستاو د وستان ئے ځخه شو وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ او وویل یوسړے چه مؤمن و او وو دے مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ له خپلخانے د فرعون او چا ویلی د ترهٔ خوئ ئے و و او نوم ئے خربیل یاسمعان وو یَكْتُمُ اِیْمَانَهٗٓ چه پټاو و دهٔ ایمان خپل له فرعونیانو یعنی په هغه وخت چه د ے خبر شه له دغه مصلحته نو راغے او د وئ ته ئے وویل چه اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا ایا وژنئ تاسے یو سړے اَنْ یَّقُوْلَ په دے چه وائی دے رَبِّیَ اللّٰهُ چه رب ځما الله دے جل شانهٔ وَقَدْ جَآءَكُمْ او حال دا چه په تحقیق راوړے دے دهٔ بِالْبَیِّنٰتِ بنکاره معجزے

او د لیلونه مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ له جانبه د رب ستاسے لکه عصا او ید بیضا او داسے نورے پرے وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا او بل دا چه کهٔ چرے وی دے دروغلوئی نو تاسے ته هیڅ زیان نه رسیږی ځکه چه فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ پس په هم دهٔ به بیرته راوګرځی وبال د دروغ خو دهٔ اوهم دهٔ به پرے هلاك شی وَاِنْ يَّكُ صَادِقًا اوکه چرے وی دے د ښتپنے يُّصِبْكُمْ نو وبه رسیږی تاسے ته بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ۚ بعضے له هغه عذابونه چه وعده کوی دے دهغه له تاسے سره او بعض ځکه وویل چه دے خو درته هم عذاب د دنیا اوهم د اخرت وائی نو دا بعضے چه د دنیادی د اخوفی الحال به درلره راشی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ چه دے لَا يَهْدِيْ سمه لار نهٔ بنائی یعنی توفیق نهٔ ورکوی دهدایت مَنْ هُوَ هرهغه چا لره چه دے مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ اسراف کونکے دیر دروغ ګویه .اوداپه ظاهرکښ ئے موسیٰ علیه السلام نبوده او پکښ اشارت وو فرعون ته یعنی دے مسرف دے په شرك او په قتل د بے ګناه هلکانو کښ او دیرکذاب دے په دعوئی دربوبیت کښ او په انکارکښ له رسالته د موسیٰ علیه السلام ثُمَّ يٰقَوْمِ اے قومه خُمَا لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ تاسے لره باد شاهی نن وړځ ظٰهِرِيْنَ په دے حال چه غالب یئ تاسے په بنی اسراءِ يلو فِي الْاَرْضِ ۚ په دے زمکه د مصرکښ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا پس څوك دے چه مدد کاری به وکه له مونږه سره او د به ساتی مونږه مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ له عذابه د خدائ اِنْ جَآءَنَا كه چرے راشی داعذاب مونږه نو له موسیٰ علیه السلام سره بیخش پکار نهٔ دے قَالَ فِرْعَوْنُ نو وویل فرعون هم هغه مؤمن اوهغه نور وخلقو ته چه حاضر وو په مجلس کښ مَآ اُرِيْكُمْ چه نهٔ بنائم زهٔ تاسے ته په باب د موسیٰ علیه السلام کښ اِلَّا مَآ اَرٰى مګر هم هغه مصلحت چه وینم زهٔ چه په دے کښ خیر دے تاسے لره چه قتل دے د دهٔ وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اونهٔ بنایم تاسے ته حق د دهٔ کښ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ مګر لاره د صلاحیت او د صواب بیا نو حضرت خر بیل بله طریقه د نصیحت د ښه اغازه کړه چه هلاك د پخوا نو مکذبانو نے ورته حجت کړو لکه چه وائی وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ او وویل هغه سړی چه ایمان ئے راوړے و د يٰقَوْمِ اے قومه خُمَا اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه چه زه وېريږم په تاسے له جهته د دهٔ د دغه تکذیبه ستاسے چه مبادا رانه شی د رباند ے مِّثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿۳۰﴾ په مثل د عذاب د دورځے د نورے د امم سره بقوم په سبب د تکذیب د رسلو بیا نو تفصیل کوی د احزابو لکه:

وائی مِثْلَ دَابِ په مثل دحال د قَوْمِ نُوْحٍ قوم دنوح علیه السلام چه ټول په طوفان هلاك شو وَّعَادٍ اوپه شان دعاد یانوچه په باد صرصر ټول هلاك شو وَثَمُوْدَ اوپه شان د ثمود چه ټول په چیغه هلاك شو. وَالَّذِيْنَ اوپه شان دهغو نورو مکذبانو مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ چه له دغه درے واړو تیرشوی دی لکه مؤ تفکات او اصحاب دایکے وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ اونهٔ دے خدائ دا سے چه ارادهٔ کوی ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ (۳۱) د ظلم په بندګانو نوخپلوچه بے ګناه دوئ په عذاب کا،نوتاسے بے فرمانی مه کوئ چه مستحق دعذاب نهٔ شئ وَيٰقَوْمِ اوا ے قومه حُمَّا اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه چه زه ویریږم په تاسے له جهتهٔ ددے تکذیب ښه ستاسے يَوْمَ التَّنَادِ (۳۲) له عذاب دهغه ورځے د بللو یعنی د نار وسره یو بل ته دپاره د فریاد رسئ اوهیڅوك به دچا فریاد رسی نه شی کولے یاچه جنتیان به دوزخیانو نه نارے وهی اودوزخیان به جنتیانو ته لکه سورهٔ اعراف کښی په تفصیل بیان شوے دے یاچه موت به ذبح کړے شی اوغږ به وکړے شی چه یٰٓاَهْلَ الْجَنَّةِ خلود ولاموت ویا اهل النار خلود ولاموت. یا چه غږ به وشی اَلَآ اِنَّ فلانا سعد سعادة لایشقی بعدها ابدًا اَلَآ اِنَّ فلانا شقی شقاوة لایسعد بعدها ابدًا. يَوْمَ تُوَلُّوْنَ په هغه ورځ چه بیرته وګرځولے شئ تاسے له موقف دحسابه دوزخ ته اوروان شئ تاسے مُّدْبِرِيْنَ ۚ شا ګرځونکی موقف ته په طرف داور مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نهٔ به وی تاسے لره د عذاب د خدائ مِنْ عَاصِمٍ ۚ هیڅوك ساتونکے وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ اوهرڅوك چه ګمراه کړ اللہ او ولغزوهٔ خدائ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ (۳۳) پس پیدا به نهٔ شی هغهٔ لره هیڅوك لاره نبودونکے وَلَقَدْ جَآءَكُمْ اوهرا ئینه په تحقیق راغلے وو تاسے لره يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ یوسف سف علیه السلام پخوا له موسیٰ علیه السلام څخه بِالْبَيِّنٰتِ په بنکاره معجزو سره فَمَا زِلْتُمْ نه یاست لهٔ لقد جاء کم یوسفُ څخه دا سے معلومیږی چه دلته یولړ درے کاروبونه دے چه کهٔ دا مذکور یوسف بن یعقوب علیهما السلام وی نو د افرعون د موسیٰ علیه السلام رهم هغه فرعون دیوسف علیه السلام دے چه عمرئ اوږد شوید ے اودهٔ زمانے ته رسید لے دے اویا دا بل یوسف دے چه څوئ دے افرایم بن یوسف

عه یعنی اے اهل دجنت هیڅه اوسئ په دے کښی اونشته مرګ او اے اهل دوزخ هیڅه اوسئ په دے کښی اونشته مرګ ۱۲ عمه پس خبر اوشئ په تحقیق سره فلانکے نیک بخت شهٔ په نیک بخت سره چه بدبخته به نهٔ شی پس له دے هیچرے او به تحقیق سره بدبخته شهٔ فلانکے په بد بخت سره چه نیک بخته به نهٔ شی پس له دے هیچرے ۱۲

بن یعقوب علیهما السلام اویا د انسبت شوے دے د احوالو د پلرونو اولادته یعنی راغلی وو پ ونه
ستاسے فَمَا زِلْتُمْ پس همیشه به وئ تاسے فِیْ شَكٍّ په شک او په گمان کښ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ له هغه
حکم الٰهی چه راوړے وو د ؤ تاسے لره هغه حکم شرعی حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ تر هغه پورے چه څو هلاك شو یعنی
له دنیا نه ښیر شو قُلْتُمْ نو وویل تاسے لَنْ یَّبْعَثَ اللّٰهُ له سره به راونه لیږی خدائ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا د
پس د ؤ هیڅ رسول یعنی هر کله چه مونږه د ے ونه مانه ؤ بل به رانه ځی په دے سبب چه هغه به هم
ونه منلے شی كَذٰلِكَ یُضِلُّ اللّٰهُ همدا سے گمراه کوی خدائ په وادی د طغیان مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ هر هغه څوك چه
د ے مُّرْتَابٌ ﴿۳۴﴾ له حده تیریدو نکے وی په انکار کښ شک راوړونکے وی په هغه رسالت
کښ چه په معجزو ثابت شوے وی بیا اوس بیان کوی د مسرفانو مرتابانو وائی الَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ
یعنی هغه کسان چه جګړه کوی له انبیاء علیهم السلام سره فِیْۤ اٰیٰتِ اللّٰهِ په ابطال او په دفع د ایتونو
د خدائ کښ بِغَیْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ بے کومه حجته چه را غلے د ے دوئ بلکه په تقلید د اباؤ یا
هسے په وهم خپل سره كَبُرَ مَقْتًا ډیر لوئ د ے د ا مسرف کذاب له جهته د بغض یا د اجدال ؤ
عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ وَعِنْدَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ؕ او په نزد د هغه کسانو چه ایمان ئ راوړے د ے
یعنی هم ئ خدائ او هم ئ مؤمنان د ښمنان دی كَذٰلِكَ یَطْبَعُ اللّٰهُ همدا سے مهر وهی
خدائ د کفر او د شقاوت عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ په هر زړۀ د کبر جن ډیر جبر کونکی
نکته بیا فرعون خپل وزیر ته نارے کړے د پاره ددے چه څ د حاضرانو د مجلس له د غه وعظ د حضرت
خبیبل بل طرفته وګرځی مبادا چه د اپند په د وئ کښ تاثیر ونه ئ کړه لکه چه وائی وَقَالَ فِرْعَوْنُ
او بیا وویل فرعون وزیر خپل ته چه یٰهَامٰنُ ابْنِ اے هامن بناکه لِیْ صَرْحًا ما له یوه مانړئ
هسکه څنه چونه کړے بنکاره لَعَلِّیْۤ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ بنایئ چه زه ورسیږم لارو او دروازو ته په
ختلو د ے مانړئ سره **نکته** د ا اسباب ئے اول مبهم یاد کړۀ او بیا اوس ئے واضحه کوی د پاره
د تعظیم او تفخیم د شان کار نو وائی اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ یعنی هغو لارو او دروازو د اسمانونو ته چه رسونکی
وی ځما پورته یعنی له یو اسمانه بل ته اوله هغه بیا پسے بل تر اخره پورے چه له ؤ تو لو اسمانونو پورته
وخیژم او عرش له ورسم فَاَطَّلِعَ پس اګاه شم او نظر وکړم اِلٰۤى اِلٰهِ مُوْسٰى خدائ د موسیٰ

علیه السلام ته چه واقعی شته اوکهٔ نشته او زِقٌ او بیشکه زهٔ چه یم لَاَظُنُّهٗ کَاذِبًا هر اینینهٔ گمان کوم په دهٔ دروغژن په دے دعویٰ دهٔ کښی چه غیر له مابل خدائ هم شته دے وَکَذٰلِكَ اوهمدا سے زُیِّنَ لِفِرْعَوْنَ بنائسته کړے شوے وو فرعون ته سُوْٓءُ عَمَلِهٖ بدی د کردار دهٔ وَصُدَّ عَنِ السَّبِیْلِ ط اوحصار کړے شوے وو دے له سمے لارے وَمَا کَیْدُ فِرْعَوْنَ اونهٔ وو دا مکر او فریب د فرعون په ساز ولو دے مانړۍ کښی دپاره د تلبیس شوم اِلَّا فِیْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾ مګر په زیانکارۍ او په هلاک کښی دے وَقَالَ الَّذِیْٓ اٰمَنَ اوبیا وویل هغه سړی چه ایمان ئے راوړے وو یعنی حضرت حزبیل یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اے قومه حُما پیروی کوئ حُما اَهْدِكُمْ سَبِیْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ د بنایم درته لاره د هدایت یٰقَوْمِ اِنَّمَا اے قومه حُما بیشکه هم د اخبره ده چه هٰذِهِ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا دا ژوند دنن چه کوتاه دے مَتَاعٌ ز یولږ معاش دے د یوځو ورځو چه زوال ئے لږدے وَاِنَّ الْاٰخِرَةَ اوبیشکه اخرت چه دے هِیَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ هغه حویلئ ده د ارام او د قرار چه زوال نهٔ لری مَنْ عَمِلَ سَیِّئَةً هر څوك چه وکا بد کار فَلَا یُجْزٰٓی پس جزا نهٔ شی ورکاوهٔ هغهٔ لره اِلَّا مِثْلَهَا مګر په قدر د هم هغه سَیِّئَةٍ او د اپه حکم د عدل سره وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا او هر څوك چه وکا نیک کار مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰی ک نارینه وی اوکهٔ له ښځے وی وَهُوَ مُؤْمِنٌ اوحال دا چه دے مومن وی ځکه چه قبول د عمل صالح مشروط دے په ایمان سره فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چه موصوف دی په ایمان او په عمل صالح یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ داخل به شی دوئ په جنت کښی یُرْزَقُوْنَ فِیْهَا بیا روزی به ورکاوهٔ شی دوئ لره په هغه جنت کښی بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ بے حسابه یعنی په قدر د عمل بلکه زیات له اندازے وتلے اوډا په حکم د فضل سره بیا هرکله چه فرعونیان پوهه شو په دے چه دهٔ هم ایمان راوړے دے نو د ډیر ملامت ئے پرو وایهٔ چه ولے تهٔ د فرعون پرستش نه کوے نو دهٔ هم ورته خطاب د عتاب اغاز کړو لکچه وائی وَیٰقَوْمِ مَا لِیْٓ اوے قومه حُما خهٔ دی مالره یعنی دا حُما اوستاسے سره څرنګه د مخالفت معامله ده چه اَدْعُوْكُمْ اِلَی النَّجٰوةِ بولم زهٔ تاسے خلاصی ته له عذابه په توحید د خدائ او په متابعت د رسول سره وَتَدْعُوْنَنِیْٓ اِلَی النَّارِ ﴿۴۱﴾ او بولئ تاسے ما اورد دوزخ ته په عبادت او په متابعت د فرعون سره تَدْعُوْنَنِیْ بولئ تاسے لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ د پاره د دے چه کفر اختیار کړم زهٔ په خدائ پورے

وَاُشْرِكَ بِهٖ اوچه شریک کړم زهٗ له دهٗ سره په ربوبیت کښ مَا لَيْسَ لِيْ هغه څیز چه نشته مالره په علم زه په هغه یعنی په ربوبیت دهغهٗ پوهه اودلته مراد په نفی دعلم سره نفی دمعلوم ده یعنی څرنګه شریک کړمه دیسره هغه څیز چه نهٗ دے الله اوهرکله چه په واقعه کښ الله نهٗ دے نوعلم په الوهیت ٹے هم محال دے وَاَنَا اَدْعُوْكُمْ اوحال داچه زهٗ بولم تاسے اِلَى الْعَزِيْزِ هغه خدائ ته چه غالب اوقادر دے په تعذیب دمشرکانو الْغَفَّارِ (۴۲) چه مغښونکے دے اومحوه کونکے دے دګناهونو دموحدانو لَا جَرَمَ حق او واقعی ده داخبره اود اجَرَمَ فعل دے په معنیٰ دحَقَّ اوفاعل داهکښ یعنے اَنَّمَا بیشکه هغه څیز چه دے یعنی معبودستاسے چه بتان دی تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ چه بولئ تاسے ما هغهٗ ته یعنی عبادت دهغهٗ ته لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ نشته دهٗ لره بلنه یعنے طاقت دبلنے خپل عبادت ته دهیڅاهکله چه دګ جماد دے قابلیت دبلنے نهٗ لری فِي الدُّنْيَا په دے دنیا کښ وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ اونه په اٰخرت کښ چه شفاعت به وکه دچا وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اوبله داهم حق ده چه بیشکه بیا رجوع خو مونږه ده اِلَى اللّٰهِ خاص خدائ ته په مړلو سره اوهلته بیا جزا داعمالو به راکه مونږ لره وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ اوبله داهم حق ده چه بیشکه مسرفان یعنی مشرکان چه دی هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ (۴۳) هم دوئ ملګری یعنی همیشه اوسیدونکی دی داورد دوزخ بیا نوفرعونیانو ده دقتل اختیار هم وکړو نو دهٗ ورنه وویل چه فَسَتَذْكُرُوْنَ پس زړه ډاچه یاد به کړئ تاسے په وخت دمعاینے دعذاب کښ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ط صدق دهغه اقوالو دنصیحت چه اوس ئے دایم زهٗ تاسے ته وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ط اوسپارم زه هرکار خپل خدائ ته هم جانی هم مالی هم دینی هم دنیوی خصوصًا داځان خپل اوپه هم دهٗ توکل کوم چه ستاسے له شره م وساتی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ (۴۴) بینا دے دهغو اقوالو اوافعالو دبندګانو هم دُما اوهم ستاسے **روایت دے** چه هرکله حضرت خزبیل له فرعونیانو سره دامباحثه وکړه نو ترے غږهٗ ته وتختیدهٗ اوهلته په عبادت مشغول شو اوخدائ چاپیره ترے لیوان ودرول دپاره دنګهبانئ اوفرعون یو زرتنه ورپسے چیاؤ ولیږل نوزیات هغه لیوانو هلته مات کړل اوخوک چه بیرته ترے راغلل هغه ټول فرعون په فرغږهٗ کړهٗ اودے ترے صحیح سلامت خلاص شهٗ لکه چه وائی فَوَقٰىهُ اللّٰهُ پس وساتهٗ دے خدائ په حمایت خپل سره سَيِّاٰتِ مَامَكَرُوْا هغه سختئ

د انواع دهغه عذاب چه دوئی وریته په مکر اوفریب سره بنا کړے وو وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ اونازل شُو په اٰل د فرعون یعنی په قوم ئے سره له دغه اوچاپیره شئ ترے سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ بد عذاب چه په دنیا کښ غرق دے اوبیا په اٰخرت کښ النَّارُ اوردد دوزخ دے یُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا چه عرض کاوه شی دوئی په دغه اور یعنی خو دلے شی دوئی ته په برزخ کښ هغه ځائی د استوریدنے د دوئی له دوزخ غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ج هر صبا اوهر بیگاه وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ق اوبیا په هغه ورځ چه برپا ئی شه قیامت نو رب العزت به وائی ملائکو ته چه اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ ننه باسئ فرعونیان اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾ په سخت عذاب کښ له هغه عذاب به دبرزخ چه عذاب دے د جهنم وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ اویاد کړه هغه چه جګړه به کوی سره یو تربله د دوزخیان فِي النَّارِ په اوردد دوزخ کښ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا پس وبه وائی عاجزان د قوم لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا هغه کسانو ته چه کبرجن اومشران وو په دنیا کښ اِنَّا كُنَّا تابعان به خپلو متبوعانو ته ووائی چه اِنَّا كُنَّا بیشکه چه مونږه وو په دنیا کښ لَكُمْ تَبَعًا تاسے لره تابعان اوفرمانبردار اوتاسے بللی ووشرک اوتکذیب دانبیاؤ علیهم السلام ته اوداهم تاسے سبب شوئ د دخول حُمونږه په دے دوزخ کښ فَهَلْ اَنْتُمْ پس ایا اوس بئ تاسے مُّغْنُوْنَ عَنَّا دفع کونکی له مونږه نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۷﴾ یوپارچه له اوره قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا نو وبه وائی هغه کسان چه متکبران اومتبوعان وو چه مونږه کله قادران یو په دفع د عذاب له تاسے نه ګورئ دے ته چه اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ بیشکه مونږه ټول پراته یو په دے اورکښ یعنی که مونږه قادر وے په دفع د عذاب نو اول به مونږه خپل ځان نه دفع کړے وا ما دا حُمونږه له قدرته بیرون وه خُكْمَ چه اِنَّ اللّٰهَ بے شکه خدائ قَدْ حَكَمَ په تحقیق حکم کړے دے په مقتضی د حکمت سره بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۸﴾ په مابین د بندګانو د اسے چه هر څوك ئے خپلو هغو ځایو نو لره چه له دوئی سره لائق ولایق مستحقان د جنت جنت لره اولائقان د دوزخ دوزخ لره وَقَالَ الَّذِيْنَ اوبیا به ووائی هغه کسان فِي النَّارِ چه په اورکښ به وی پس له هغه چه یوله بله ئے سره امید قطع شی لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ خزانچیانو د دوزخ ته اُدْعُوْا رَبَّكُمْ وچه و بولئ یعنی سوال او زاری وکړئ حُمونږه د پاره رب خپل تا يُخَفِّفْ عَنَّا چه سپک کاندے له مونږه مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾ یوه ورځ په مقدار د دایا مو د دنیا یو قدر له

عذاب څخه چه په مونږه لږ بار سپک شی او دوئ ته به ځکه وائی چه د دوئ سوال به قبول کړی
قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ نو وبه وائی خزاخپیان دوئ ته چه اَوَلَمْ تَكُ ایا نه ؤوو احال چه تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ راغلی وو
تاسے لره په دنیا کښ رسولان ستاسے بِالْبَيِّنٰتِ ؕ له بښکاره معجزو سره له جانبه د خدائ او دعوت
ئے کړے ووتاسے ته قَالُوْا بَلٰى ؕ نو وبه وائی دا دوزخیان چه ولے نه ؤوو راغلی بلکه راغلی ووخو مونږ
ئے تکذیب کړے وو. قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ نو وبه وائی ورته خزاخپیان چه هرکله حال دا سے دے نو اوس
تاسے بولئ خدائ او مونږ ته خواذن د سوال نشته او کوئ سوال ورته اما یے مصرفه ځکه چه وخت
د اجابت د رڅه تیر شوے دے چه د دنیا وه وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اونه ده بلنه او سوال د کافرانو اِلَّا
فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۵۰﴾ مګر په بطلان او په ضایع والی کښ ده ځکه چه هیڅ فائده نه لری او دا کلام یا د
خدائ دے یا د خازنانو دے اِنَّا بیشکه مونږه چه لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا هر اړ ښینه مدد کوو له
رسولانو خپلو سره وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او له هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړے دے فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا
هم په دے واړه ژوندون کښ په حجت او په ظفر او په انتقام سره له اعداؤ د دوئ وَيَوْمَ يَقُوْمُ
الْاَشْهَادُ ﴿۵۱﴾ اوهم په هغه ورځ چه ولاړ به شی شاهدان یعنی په ورځ د قیامت د پاره د اداء د
شاهدئ په خلقو کۀ ملائک دی کۀ انبیاء کۀ مؤمنان دی يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ په هغه ورځ
چه نۀ به رسوی هیڅ نفع ظالمانو ته مَعْذِرَتُهُمْ عذر خواهی د دوئ او دا بدل دے له يَوْمَ يَقُوْمُ
وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ ۖ او مقرر دے دوئ لره لعنت یعنی لرے والے له رحمت د خدائ وَلَهُمْ سُوْٓءُ
الدَّارِ ﴿۵۲﴾ او بل مقرر دے دوئ لره بده حویلئ چه دوزخ دے وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او هر اړ ښینه په تحقیق
ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْهُدٰى موسی علیه السلام لره رهنمائ یعنی هر هغه څیز چه
لاره پرے مونده شی کۀ معجزات دی او کۀ تورات دے او کۀ نور شرائع دی وَاَوْرَثْنَا او میراث
پاتے کړۀ یعنی پریخودۀ مونږه پس له وفات نه د دۀ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾ بنی اسراءیلو نه کتاب
یعنی تورات هُدًى وَّذِكْرٰى هم رهنمائ اوهم پند لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾ د پاره د خښتنانو د خالصو
عقلونو فَاصْبِرْ پس صبر وکړه اے رسوله په ایذا د کفارو اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکه وعده د
خدائ حق ده د نصرت د انبیاؤ علیهم السلام او د هلاک د اعداؤ او دا معلوم کا له حاله

د موسیٰ علیه السلام چه په اخرکښی نصرت ورسره وشۀ په فرعون وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ اوبخښنه وغواړه له خدائ د پاره دګناه خپل دا کلمه چه حذف د مضاف سره دے ای لذنب امتك یعنی د پاره دګناه دامت خپل وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ او تسبیح وایه سره له ثناء رب خپل بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿۵۵﴾ هم په اخراوهم په اول دورځ کښی یعنی سبحان الله وبحمده وایه یا مراد ترے دوه مونځونه دی د مازدیګر او دصباځکه چه اول په مکه کښی هم دادوه مشروع وو فقط **روایت دے چه** هرکله مشرکانو د مکے به مجادله کوله له رسول صلے الله علیه وسلم سره په باب د قرآن او بعث کښی دا سے چه د قرآن له خدایه نۀ دے را غلے بلکه خود ساخته کلام دے او بیا ژوندون هم له سره نشته نو نازل شۀ إِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يُجَادِلُوْنَ چه جګړه کوی فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ په بطلان او دفع دآیتونو د خدائ کښی بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ بے کوم حجت آسمانی یا دلیل عقلی اَتٰىهُمْ لا چه را غلے یا بنکاره شوے وی دوئ ته بلکه محض په تعصب او په حماقت سره اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ نۀ دی په سینو د دوئ کښی اِلَّا كِبْرٌ مګر کبر سرکشی له حقے خبرے یاد مشرئ او د ریاست چه د دوئ د پاسه بل هیڅوك نۀ وی یا حکم یا لوئی موهومه دا سے کبر او ریاست مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ چه نۀ دی دوئ رسیدونکی هغه ته فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ پس پناه ونیسه په خدائ پورے له شره د دوئ اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ السَّمِيْعُ هم دے اوریدونکے دے د اقوالو د دوئ الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾ لیدونکے دے د افعالو د دوئ نو جزا به ورکا ورله لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هر اُښه پیدا کول د آسمانونو او زمکے چه دی اَكْبَرُ ډیر لوی دی په نزدسا مِنْ خَلْقِ النَّاسِ له پیدا کولو د انسانانو هغه شوك چه قادر دے په پیدا کولو د دا سے اجرامو عظامو بے مادے او بے نمونے هغه بیشکه قادر دے په پیدا کولو د انسان دویم کرت سره له وجود د مادے او نمونے وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلق چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ نه پوهیږی په دے چه دا دویم کرت پیدا ښئ انسان دے له اوله وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى اونۀ برابریږی سره یو روند وَالْبَصِيْرُ ۚ او بل بینا یعنی غافل او ذاکر یا جاهل یا عالم یا دا سے نور وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه دا سے برابریږی سره هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئے کړیدی دنیکو وَلَا الْمُسِيْٓءُ ۭ او نه هغه بدکار دی یعنی لکه چه پروند او بینا سره برابرنۀ دی په دنیا کښی همدا سے مؤمن او کافر

هم سره برابر نهٔ دی په عقبیٰ کښی قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ (۵۸) لږ پند اخلی تاسے اے خلقو او هر کله چه دا دنیا دار تکلیف او دا امتحان وو نو بیا دار د جزا هم پکار وو چه هر حقدار ته خپل حق ورسیږی نو ځکه وائی اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ بیشکه قیامت چه دے هرائینه راتلونکے دے لَا رَيْبَ فِيْهَا نشته هیڅ شک په را تلو دهغه کښی ځکه چه اتفاق دے د پوځو رسولانو په وقوع دهغهٔ کښی وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اوليکن زیات د خلقو چه دی لَا يُؤْمِنُوْنَ (۵۹) ایمان نهٔ راوړی په دے قیامت اوتصدیق نهٔ کوی له جهته د کم فکرئ خپلے وَقَالَ اووائی رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ رب ستاسے اے بندګانو چه بولئ ما او سوال راته کوئ اُسْتَجِبْ لَكُمْ ځما چه قبول کړم زهٔ تاسے لره سوال ستاسے یا توحید کوئ ځما چه مغفرت درته وکړم یا عبادت کوئ ځما چه جنت درکړم اود دے ورسوئ شاهد دادے چه اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَسْتَكْبِرُوْنَ چه کبر او سرکشی کوی دوئ عَنْ عِبَادَتِيْ له عبادة ځما نو سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ زر دے چه داخل به شی په دوزخ کښی دٰخِرِيْنَ (۶۰) خوارخسته نظم

تا ویلی دی له فضل اے خالقَ مهربانه — چه ما بولئ بندګانو او هُمسوال کوئ له ما نه
قبلوم به زهٔ له تاسے هغه سوال چه پخلوص وی — خوښ چه سوال نهٔ کا له کبرځنی به او له بے ګمانه
ځکه غوارم وله تاسے چه ساته مونږه لِشرّه — دا عبادونه وخپلو بیا له نفسه له شیطانه
بیا له تانه غواړم وعفوهم بخښش دګناهونو — برخه وکړے ځمونږه غټه نه له عفوله غفرانه
بیا ساته مونږ حفیظه نه دقبر له عذابه — هم امان راکړے له حرق او له حوفه د نیرانه
بیا مونږه تیر کړ بیحسابه برجنت نه چه فردوس دے — ذوالمنن ئے عطا وکړے بے عوضه ئے مناته
دا مُراد چه بینوا دے طلبګار د عطا دے — برخه غواړی د پره غټه ستا له رب رضوانه

اَللّٰهُ الَّذِيْ خدائ هغه مهربان چه جَعَلَ لَكُمُ اليل پیدا کړے ئے ده تاسے لره په فضل خپل شپه لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ د پاره دے چه آرام وکړئ تاسے په هغے کښی له جهته د تیرے اوبه راحت شی په کښی بدن ستاسے لکه مقوله ده چه النوم راحة البدن وزيادة العقل وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا او پیدا کړے ده د ورځ لید ولے یعنی سبب د لید لو ستاسے چه کسب او معاش پکښی کوئ له جهته د رزق او اسناد د لید لو نهار ته مجاز دے د پاره د مبالغه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ لَذُوْ فَضْلٍ هر انسان

څښتن د فضل او د مهربانۍ د ے عَلَى النَّاسِ په ادمیانو چه اول ئے پیدا کړه او بیائے روزی جامه عقل فکر ورکړهٔ او بیائے اسباب دارام او د راحت او د کسب او د معاش ورپیدا کړه چه لیل او نهار دے وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات دخلقو چه دی لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾ شکر نهٔ کوی په دے نعمتونو ذٰلِكُمُ دا کار و نه چه کوی چه له خواصو د الوهیت او د ربوبیت دی اَللّٰهُ رَبُّكُمْ هغه خدائ دے چه رب ستاسے دے خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ مَ چه پیدا کوی نکے دے هر څیز لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوك لائق د عبادت مګر هم دے یوازے فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۲﴾ پس څرنګه اوپه کومه وجه ګرځولے کیږئ تاسے له عبادته ددهٔ دبل چا عبادت ته كَذٰلِكَ همدا سے لکه چه ګرځولے شوے دے دغه قوم ستا يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ ګرځولے کیږی له حقه هر هغه کسان كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ چه وی د وئ چه په ایتونو د خدائ پورے يَجْحَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ انکار کوی اَللّٰهُ الَّذِيْ خدائ هغه قادر مطلق دے جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ چه ګرځولے ده دهٔ تاسے لره دازمکه قَرَارًا ځائے دارام چه خپل کندران او معاش پرے کوی وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً اوبل ګرځولے ئے دے اسمان بام پاس په سرو نو تاسے وَصَوَّرَكُمْ اوبل صورت بندی ورکړهٔ ده تاسے فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ پس ډیر ښائسته ئے ساز کړهٔ صورتونه تاسے. بادی البشرة مستقیم القامة غیر منکوس کالبهائم - په دے شان چه بل هیڅ حیوان داسے ښائسته نهٔ دے ساز شوے وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ او بیا روزی ئے درکړه تاسے لره له پاکیزه او لذتناکو څیزونو د ماکولاتو او اشرف ممتازه له ماکولاتو د حیوانا تو ذٰلِكُمُ اللّٰهُ داچه داسے صورت بندی ئے کړے ده تاسے. خدائ دے رَبُّكُمْ ځے چه رب ستاسے دے فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ پس بلند شان دے خدائ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ چه رب دے د تمام عالمیانو هُوَ الْحَيُّ هم دے ژوندے دے په داسے حیاة سره چه ذاتی دے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوك لایق د عبادت مګر هم دے دے یوازے فَادْعُوْهُ پس هم دے بولئ تاسے هم اوهم ددهٔ عبادت کوئ مُخْلِصِيْنَ په دے حال چه خالص کونکی اوسئ تاسے لَهُ الدِّيْنَ ط ددهٔ لره دین خپل له شرکه او طاعت خپل له ریا. او وایئ داسے چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثناه د خدائ لره رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾ چه رب دے د تمام عالمیانو قُلْ وویا یه اے رسوله هغه مشرکانو ته چه بولی

عه یعنی ظاهر ځ برابر قد نه ټیټ سر لکه چا پایان ۱۲

تا دین دا باؤ خیلو نہ چہ اِنِّیْ نُهِیْتُ بیشکہ زہٗ منع کړے شوے یم اَنْ اَعْبُدَ لہ دے چہ عبادت وکړم الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ دھغہ بتانو چہ بولی ئے تاسے یعنی عبادت ئے کوئی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر لہ خدائی لَمَّا جَآءَنِیَ الْبَیِّنٰتُ هر کلہ یعنی پس لہ هغہ چہ راغلہٗ مالرہ بنکارہ دلیلونہ دتوحید مِنْ رَّبِّیْ زلہ جانبہ رب خُمار وَ اُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ اوماموړ شوے یم زہٗ پہ دے چہ منقاد شم زہٗ اوغاړہ کیږدمہ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۶۶﴾ رب دتمام عالمیانو نہ هُوَ الَّذِیْ دے هغہ قادر مطلق دے خَلَقَكُمْ چہ اول پیدا کړئی دہٗ تاسے یعنی نیکہٗ ستاسے چہ آدم علیہ السلام دے مِّنْ تُرَابٍ لہ خاورو ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ بیا ئے پیدا کړئی تاسے اے اولادہ ددہٗ لہ اوبو دمنیٔ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ بیا لہ هغہ کلکے پارچے دوینو چہ پس لہ څلویښتو ورځو پہ رحم کښ سازہ شوے دہ لہ هغہ اوبو دمنیٔ ثُمَّ یُخْرِجُكُمْ بیا راوباسی دے تاسے لہ ارحامو میندو طِفْلًا اَی اَطْفَالًا وارہٗ هلکان ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا بیا تربیت کوی ستاسے دپارہ دے چہ ورسیږئ تاسے اَشُدَّكُمْ منتهی دقوت خپل ته چہ هغہ لہ دیر شو کالونځہ ترخلویښتو پورے دے چہ منتهی دہ دشبات ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا بیا ژوندی ساتی تاسے دپارہ دے چہ شئ تاسے شُیُوْخًا زارہٗ بے قوتہ بے مجالہ وَ مِنْكُمْ مَّنْ او بعضے لہ تاسے هغہ څوك وی چہ یُّتَوَفّٰی مِنْ قَبْلُ چہ مړ کاوہٗ شی دے پخوا لہ بلوغ یا لہ شیخوخة وَ لِتَبْلُغُوْٓا اوبل دپارہ دے چہ ورسیږئ تاسے اَجَلًا مُّسَمًّی هغہ موده ته چہ پہ نامہ کړے شوے دہ چہ وخت دمرګ ستاسے دے وَّ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ اوبل دپارہ دے چہ عقل وکړئ تاسے پہ دے پیدا ښت خپل کښ هُوَ الَّذِیْ دے هغہ قادر یَحْیٖ وَ یُمِیْتُ ج چہ هم ژوندی کول کوی او هم وژل کوی فَاِذَا قَضٰٓی اَمْرًا پس پہ هغہ وخت چہ ارادہ وکړہ دے دموجود کولو دیو څیز فَاِنَّمَا یَقُوْلُ پس بیشکہ هم دا خبرہ دہ چہ ووائی دے لَهٗ كُنْ هغہ څیز تہ چہ موجود شہ فَیَكُوْنُ ﴿۶۸﴾ پس بیا موجود شی هغہ فِی الْحال بے مهلتہ بے کلفتہ اَلَمْ تَرَ ایا نہٗ وینے تہٗ اِلَی الَّذِیْنَ هغہ کسانو تہ یُجَادِلُوْنَ چہ جګړہ او نزاع کوی دوئی فِیْٓ اٰیٰتِ اللّٰهِ پہ ایتو نو دخدائی کښ یعنی پہ قرآن کښ اَنّٰی یُصْرَفُوْنَ ﴿۶۹﴾ چہ څرنګہ کړ ځاوہ شی لہ تصدیق دهغو بل طرف یا لہ ایمانہ اوداجګړہ کونکی دی الَّذِیْنَ كَذَّبُوْا هغہ کسان دی چہ تکذیب کړے دے دوئی بِالْكِتٰبِ هم پہ دے کتاب دخدائ چہ

قرآن دے چه کفار دی وېلے وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او په هغه څیز یعنی په هغو کتابونو یا په احکامو او شرائعو چه رالیږلی وو مونږه بِهٖ رُسُلَنَا قف په هغه سره رسولان خپل فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۰﴾ پس زر دے چه معلوم به کا دوئ عاقبت د تکذیب او دا انکار خپل اِذِ الْاَغْلٰلُ په هغه وخت چه اتښین طوقونه فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ په کړد نو نود وئ کښی به وی وَالسَّلٰسِلُ ط او زنځیرونه هم چه په دې طوقونو کښی به اچولی وی او بیا په دې زنځیرونو سره يُسْحَبُوْنَ ﴿۷۱﴾ فِي الْحَمِيْمِ لا را ښکلے کیږی به دوئ پرمخ په خو تکید لو او بو کښی په او د دوزخ ثُمَّ فِي النَّارِ بیا پس له هغه په اور د دوزخ کښ يُسْجَرُوْنَ ﴿۷۲﴾ سیزلے او وریتلے به شی دوئ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ بیا پس له هغه وبه ویلے شی دوئ ته اَيْنَمَا كُنْتُمْ چه اوس چرته دی هغه بتان چه وی تاسے په دنیا کښی تُشْرِكُوْنَ ﴿۷۳﴾ چه شریکول به مولہ خدائ سره په اُلوهیت کښی او عبادت به موکا وو دهغو مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط غیر له خدائ چه اوس خلاص کا تاسے له دے عذابه قَالُوْا نو وبه وائی دوئ ضَلُّوْا عَنَّا چه پناه شوی دی اوس له سترګو ځمونږه او دلته مونږه هیڅ منفعت ترے ونۀ لیدهٔ بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا بلکه ګویا نهٔ وو مونږه چه بالله به مو اوعبادت به موکا وو مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ط پخواله دے په دنیا کښی دهیڅ څیز یعنی اوس رانه دا معلوم شه چه ځمونږه هغه ګمانونه ټول خطا وو كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ همدا سے پشان د دغه ښاد لانو ګمراهان کوی خدائ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ کافران چه لاره بیا نهٔ مومی هغه څیز ته چه دوئ لره نفع رسوی په آخرت کښی او بیا به ورته وویلے شی چه ذٰلِكُمْ دا ګمراهی او لغزش ستاسے چه ګنګن وړ ځ په آخرت کښی بِمَا كُنْتُمْ په سبب دې دے چه وئ تاسے پخواپه دنیا کښی تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ چه خوشحالی به موکوله او بے غمه به ګرځیدئ په زمکه کښی بِغَيْرِ الْحَقِّ په هغه څیز چه غیر د وله حقه یعنی باطل وو چه هغه شرک او طغیان وَبِمَا كُنْتُمْ او بل په سبب دې چه وئ تاسے تَمْرَحُوْنَ ﴿۷۵﴾ چه ناز او تکبر به موکا وو بیا به ورته وویلے شی چه اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ ځ شوئ دروازو د دوزخ کښی چه هرے طائفے لره بیلے بیلے مقرر ے شویدی له تاسے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ج په دے حال چه همیشه پاتے کیدونکی اوسئ په هغه کښی فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۶﴾ پس بد دا رامکاه د متکبرانو دے د دوزخ او هر کله چه حال دا سے دے نو

فَاصْبِرْ پس صبر کوه اے رسوله په ایذاء د قوم خپل حُکمه اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ج بیشکه وعدهٔ خدائ په نصرت د اولیاؤ او په هلاکولو د اعداؤ حق ده یعنی خامخا کیدونکے ده اوخفگان مه کوه فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ پس که چرے وخودو مونږه تاته په حیین د حیوٰة ستا کښ اود اپه اصل کښ فان نریبنک و وبیا ما پرے زائید شوے دے پاره د تاکید د معنیٰ د شرط حُکمه نُوْن ملحق کړے شو په فعل پوځے بَعْضَ الَّذِيْ بعض له هغه عذاب نَعِدُهُمْ چه وعده کوو مونږه د هغه له دوئ سره چه قتل اوبندۍ د ورځے د بدر اوحزاد اِنْ محذوف ده یعنی فبها ونعم اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ یا کهٔ مړ کړو مونږه تا بخوا له ظهور د هغه عذاب فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿۷۷﴾ پس خاص مونږ ته به راوستلے شی دوئ بیا په ورځ د قیامت اوجزا به ورکړه تولولره یعنی په هیڅ وجه خُو مونږه له عذابه خلاصیدونکی نهٔ دی دوئ **روایت دے** چه هرکله کفارو مکے رنگارنگ معجزے وغوښتلے له رسول صلے اللہ علیه وسلم لکه چه په سورهٔ بنی اسراءیل کښ تیر شوی دی نو نازل شهٔ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوهرا ئینه په تحقیق لیږلی وو مونږه رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ رسولان بخوا له تا مِنْهُمْ مَّنْ بعض له دوئ هغه دی قَصَصْنَا عَلَيْكَ چه قصے د هغو کړی دی مونږه تاته چه هغه نهٔ ویشت پیغمبران علیهم السلام دی وَمِنْهُمْ مَّنْ او نور بعض له دوئ هغه دی لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ط چه نهٔ دی کړی مونږه قصے د هغو تاته چه هغه باقی دی له دوئ او مشوره دا سے ده چه نوں سره یو لکهه او خلیرویشت زره پیغمبران علیهم السلام دی وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اونهٔ دی باندے هیڅ رسول لره اونه ئے له لاسه کیږی اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ د اچه راوړی دے کومه معجزه چه علامه شی په نبوة د ده اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ج مګر په اذن د خدائ سره یعنی دوئ له دهٔ معجزه غواړی اودے اختیار د هغه نهٔ لری بے اذن خُما اوخُما له عدم د وقوع د هغو معجزو کښی حکمت د ادے چه کهٔ هغه د دوئ غوښتے معجزے زهٔ واقع کړم اوحال دا چه دوئ خو پس له هغه هم ایمان نه راوړی نو عذاب به پرے نازل شی بے مهلته خامخا اوخُما اراده لانهٔ ده د هلاکولو د دوئ نو حُکمه ئے نه واقع کوم لکه چه وائی فَاِذَا جَآءَ پس په هغه وخت چه راشی اَمْرُ اللّٰهِ فرمان د خدائ په نزول د عذاب پس له وقوع د دغو معجزو په غوښتو نکیو او بیانهٔ مونکیوئے له پیرو ئے عناده قُضِيَ بِالْحَقِّ نو حکم به وکړے شی په حق سره په مابین د رسول او د مکذبانو ئے وَخَسِرَ او زیان به وکا هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۷۸﴾ پدهغه ع ۸ ۱۲

ځای کښ باطل اود روغ بلونکی ددغه رسول اوددغو معجزو وَاللّٰهُ الَّذِیْ خدائ هغه قادر مطلق دے جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ چه پیدا کړی دی ده په حکمت بالغه سره تاسے لره چارپایان لکه فیلۍ اواوښان اواسونه اوقچر اوخرۀ اوغوایان اومیږۍ او وزے بیادا انه واړه په درے قسمه دی څلور یکښ خاص د سورئ، ودبار ولودی چه فیلان اواسونه اوخره دی اوده خاص دخوراک دی چه کړے او وزے دی اوده دوار وکار ونودی چه اوښان اوغوایان دی لکه چه وائی لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا دپاره ددے چے سورپرئ تاسے په بعضو دوئ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ (۷۹) اوله بعضو دوئ خوراک کوئ تاسے وَلَكُمْ فِيْهَا اودی تاسے لره په دے انعاموکښ مَنَافِعُ نفع رنکارنګ لکه نسل شودۀ، وږئ اوړځنے اوپوستکی اوداسے نور وږ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَيْهَا اوبل دپاره ددے چه ورسیږئ تاسے په دے حَاجَةً فِیْ صُدُوْرِكُمْ هرهغه حاجت ته چه په زړونو ستاسے کښ وی لکه مثلاً غلے اورختونه اونور ټول اسبابونه وږل بل وطن ته په وخت دحاجت کښ وَعَلَيْهَا اوبل په دے انعامو په برکښ وَعَلَى الْفُلْكِ اوپه بیړیو او په جهازونو په بحرکښ تُحْمَلُوْنَ (۸۰) سوروله کیږئ تاسے وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ښے اوښائ خدائ تاسے ته ښے دقدرت خپل فَاَیَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ پس په کوم یوے باندے دښو خدائ چه دلالت کوی په وحدانیت تُنْكِرُوْنَ (۸۱) انکار کوئ تاسے چه داله خدائ نۀ ده اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا ایا پس نۀ وی کړیدلی دوئ فِی الْاَرْضِ په زمکه دعاد اوثمود کښ فَيَنْظُرُوْا پس چه نظر وکا دوئ كَيْفَ كَانَ چه څرنګوالے عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ اخره خاتمه دهغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا له دوئ تیر شویدی لهٗ اُمُوْ گانسوا اَكْثَرَ چه ووهغه پخوانی د پیر زیات مِنْهُمْ له دے کفارو په شمار کښ وَاَشَدَّ قُوَّةً اوهم د پیر سخت ووپه قوت بدنی کښ له دوئ وَّاٰثَارًا فِی الْاَرْضِ اوهم په هغه قدمونو کښ چه له دوی په زوره پاتے دی کښ ښځ شوی دی یا په هغو ماڼیو اوقلاګانو کښ چه اوس ئے هم ښے ولاړے دی فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ پس هیڅ قدر عذاب دفع نه کاله دوئ مَّا كَانُوْا هغه څیز چه وو دوئ يَكْسِبُوْنَ (۸۲) چه کسب اوپیدا کول به ئے کول دهغه چه مال اوجاه او سپاه وو فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ پس هر کله چه به راغلۀ دوئ لره رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ رسولان ددوئ په بنکاره معجزو سره فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ نوخوشحاله به شو داکفار په هغه څیز چه ووبه دوئ څخه مِّنَ الْعِلْمِ چه عبارت دے له پوهِ ددوئ یعنی داخپله پیه ورته

غوث بنکارہ شوہ او د رسولانو علم بہ ورتہ سپک او هیڅ بنکارہ شوچہ ویل بہ ئے چہ مَآ اَنۡتُمۡ اِلَّا بَشَرٌ مِّثۡلُنَا او مَآ اَنۡزَلَ الرَّحۡمٰنُ بمبعوثین ۵ او دا سے نور د یر وَخَابَ کُلُّ جَبَّارٍ عَنِیۡدٍ اوچا پیرا د محیط سنۂ پہ دوئ مَا کَانُوۡا هغہ خیز چہ وو دوی بِهٖ یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ (۸۳) چہ پہ هغہ پورے مسخرے بہ ئے کولے چہ عذاب وو فَلَمَّا رَاَوۡا پس هرکلہ چہ بہ ولید دوئ پہ دنیا کښ بَاۡسَنَا سختی د عذاب خمونږہ قَالُوۡۤا امَنَّا نو وبویل دوئ چہ ایمان راوړے دے مونږہ باللہ پہ خدائ باندے وَحۡدَهٗ چہ یوازے دے بے شریک وَكَفَرۡنَا بِمَا كُنَّا اوکافر شو مونږہ اوس پہ هغہ خیز چہ وو مونږہ بِهٖ مُشۡرِكِيۡنَ (۸۴) پہ هغہ خیز سرہ مشرکان چہ بتان دی فَلَمۡ يَكُ پس نہ وو دا کار يَنۡفَعُهُمۡ اِيۡمَانُهُمۡ چہ نفع ورسوی دوئ تہ ایمان دد وئ لَمَّا رَاَوۡا بَاۡسَنَا هرکلہ چہ بہ ولید دوئ عذاب خمونږہ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِیۡ سنت ایحے دے خدائ پہ سنت ایحو دلوسرہ هغہ سنت قَدۡ خَلَتۡ فِیۡ عِبَادِهٖ ج چہ پہ تحقیق تیر شوے دے پخوا پہ بندګانو دد ۂ کښ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الۡكٰفِرُوۡنَ (۸۵) او زیان کاران شو دا وخت کافران ۲

حٰمٓ السجدۃ مکیۃ (۴۱) — رکوعہا ۶ — آیاتہا ۵۴

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

حٰمٓ (۱) بیان دد نے تیر شوے دے پہ سرد سورۃ مؤمن کښ او دا بیا مبتداء دے او خبرئے دا مکښ دے یعنی دا قرآن یا دا سورۃ چہ دے تَنۡزِيۡلٌ رالیږلے شویدے مِّنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ (۲) لہ هغہ خدائ چہ روزی رسان دے دهر چا او مهربان دے پہ مطیعانو كِتٰبٌ فُصِّلَتۡ اٰيٰتُهٗ یو دا سے کتاب دے چہ بیان کړے شوی دی پہ تفصیل سره ایا تو ند دد ۂ لہ احکامو او لہ امثالو او لہ مواعظو او لہ وعدو او لہ وعیدو او لہ دا سے نورو امورو هم او دا خبر ثانی دے حٰمٓ ۔ قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا پہ دے حال چہ لوستے شویدے پہ عربی ژبہ لِّقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ (۳) د پارہ د هغہ قوم چہ پوهیږی دوئ پہ ژبہ د عربی یا پہ نزول د دۂ من عند اللہ ۔ بَشِيۡرًا او نَذِيۡرًا ج زیرے کونکے پہ مطیعانو د رضوان د جنت د دیدار او ویرو ونکے د متمردانو لہ غضب لہ دوزخ لہ حرمان فَاَعۡرَضَ اَكۡثَرُهُمۡ پس څنګ وکړہ اوښ وګرځاوو زیاتو د دوئ لہ قبولہ د دۂ یعنی کافرانو فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُوۡنَ (۴) پس دوئ نہ اوږی پہ

عہ ذبیبئ تاسے مګر سړی خمونږہ پہ شان ۱۲ عہ اوښ یو مونږ بیا پاخیدو نکی ۱۲

سماع د قبول سره وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا او وائی د اکفارچه زړونه حُمونږه فِیْٓ اَكِنَّةٍ په پرده وکښ دی مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ له فهم دهغه توحیده یا قرآن چه بولے ئے مونږه هغهٔ ته وَفِیْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ اوبل په غوږونو حُمونږه کښ ثقل دے د کونږوالی چه مانع دے حُمونږه له اوریدلو د قول ستا وَمِنْۢ بَيْنِنَا او په مابین حُمونږه وَبَيْنِكَ حِجَابٌ اوپه مابین ستا کښ پرده ده د مخالفت په دین کښ چه یوبل سره نزدے کیدلو ته نهٔ پریږدئ یعنی زړونه اوغوږونه اوسترګے چه موجبات دالفت او اختلاط او دمودّة دی هغه حُمونږه پټول له تاچپ او په نفرت دی نو حُمونږه اوستاسو هیڅ شان دالفت اواختلاط نشته فَاعْمَلْ نو پس عمل کوه تهٔ په دین اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝۵ بیشکه چه مونږه هم عمل کونکی یو په دین خپل قُلْ اِنَّمَآ اَنَا ووایه دوئ ته چه بیشکه هم داخبره ده چه زهٔ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ بشر اوُ د می یم په مثل ستاسے لیکن حُماد افرق دے له تاسے چه يُوْحٰٓى اِلَيَّ پیغام کاوهٔ شی ماته له جانبه دربه اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ دا سے چه بیشکه هم داخبره ده چه خدائ ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ خدائ دے یو بے شریکه فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ پس مستقیم شی په ترحیدا و مخ کړئ دهٔ ته په ایمان او په طاعت سره وَاسْتَغْفِرُوْهُ او بخښنه غواړئ له دهٔ د هغو کنا هونو چه پس له اسلام صادر شوی وی درڅخه وَوَيْلٌ او افسوس دے لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۝۶ الَّذِيْنَ هغو مشرکانو لره لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ چه نهٔ ورکوی زکوٰة له ځکه اوله عدم شفقته په خلقو یا نهٔ کوی هغه کار چه دوئ پرے پاکیږی چه هغه ایمان اوطاعت دے وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ اودوئ چه دی په اٰخرت یعنی په بعث په ثواب په عقاب هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝۷ هم دوئ منکران دی اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دوئ دنیکو لَهُمْ اَجْرٌ مقرر دے دوئ لره اجر غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝۸ ع بے منت بے قطع یعنی په دے اجر به نهٔ پرے احسان باراوهٔ شی اونه به ترے قطع کاوه شی اوچا ویلی دی چه دا په حق درنخُورا نو اود عاجزانو اود شلو اود زړوکښ نازل شویدے یعنی هرکله چه دوئ له عبادته عاجز شی په سبب د دے عوارضو نو بنکل کاوه شی ورلره عبادت د وخت دصحت اود قوت **روایت دے** له ابن عباسؓ په باب د ابتداء د ایجاد د عالم کښ دا سے چه هرکله اراده وکړه خدای د ایجاد نو اول یوه شنه مرغلره ئے پیدا کړه چه طول ئے د لسو

زمکہ کالو منزل وو اوعرض ئے دیو زمڑ کالو وو بیا نظر دھیبت ئے پرے وکړو نو له خوقئے او به شوه بیا په دے اوبو ئے اور مسلط کړو نو په جوش راغلے او په سرئے زڼے پیدا شهٔ او بخار هم ترے ولاړ شهٔ په شان د لوګی نو اول ئے له دهٔ ژکه زمکه سازه کړه یعنی جرم دے اوبیا ئے له دے بخار آسمان ساز کړو کذا فی المدارك لکه چه وائی قُلْ اَئِنَّكُمْ وو ایه دوئ ته چه ایا بیشکه تاسے لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِیْ هر الښه کفر اختیار روئ په هغه خدائ پورے خَلَقَ الْاَرْضَ چه پیدا کړے ده زمکه فِیْ یَوْمَیْنِ په دوه ورځو کښ چه یکشنبه اودوشنبه دی داسے چه په اول کښ ئے پیدا کړه او په دوئم کښ ئے وعوړوله وَتَجْعَلُوْنَ او سازوئ تاسے له خپل ځانه لَهٗۤ اَنْدَادًا دهٔ له ره شریکان ذٰلِكَ داچه زمکه ئے سره له دا ټوله کوی والی په دوه ورځو کښ پیدا کړے ده رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۹﴾ پروردګار دے دعالمیانو وَجَعَلَ فِیْهَا رَوَاسِیَ اوبیا پیدا کړه دهٔ په دے زمکه کښ غرونه کلک محکم مِنْ فَوْقِهَا له پاسه دے چه هر څوك ئے وینی او عبرت پرے اخلی او په منافع ئے معاش هم کوی وَبٰرَكَ فِیْهَا او بیا برکت ئے خوړکړو په دے زمکه کښ په پیدا کولو د انهارو او اشجارو او زروعو او د حیواناتو تر یاپه دے غرونو کښ په پیدا کولو د دینابیع او معادنو او درنګارنګ مسنا یعو وَقَدَّرَ فِیْهَاۤ او مقرر ل و په اندازه ئے کړے په دے زمکه کښ اَقْوَاتَهَا روزی کانے دده یعنی د ۱۱ اهل دے دهر هر صنف پیلے پیلے د ۱۱ سے چه غلے د ۱۱ دمیانو او واښهٔ دبهائمو او غوښے دسباعو او دهرے طائفے. بیا بیل بیل اقسام دی د مطعوما تو چه بیان ئے پردا ذکر کیږی فِیْۤ اَرْبَعَةِ اَیَّامٍ ط په خلورو ورځو کښ اما له هغو تیرو دوه ورځو سره یعنی د اکار ئے هم په دوه ورځو کښ وکړه چه سه شنبه او چارشنبه دی د اسے چه په اول کښ ئے غرونه پیدا کړهٔ او په دوئم کښ ئے انهارا و اشجارا و اقسام د زړو او اصناف د حیواناتو ئے پیدا کړه سَوَآءً لِّلسَّآئِلِیْنَ ﴿۱۰﴾ برابر شوے یعنی پوره خلور شوے دا ورځے په برابر کیدو سره بے زیادت او نقصان دپاره د پوښتنه کونکیو له پیدا کولو د زمکے. او د مافیها قَائِلِیْنَ له دے دا سے معلومیږی چه پیدا کیدل د زمکے لمړے دی له پیدا کیدو د آسمان او سره له دے چه په سورهٔ النّٰزعٰت کښ دی چه والارض بعد ذلك دحها. نو دده دوئ موافقت ئے سره د اسے کړے چه جرم د زمکے له اسمانه مخو پیدا شوید ے او غوړ پیدل ئے ترے وروسته پیدا شوی دی ثُمَّ اسْتَوٰۤی بیا اراده وکړه خدائ اِلَی السَّمَآءِ

اسمان ته دپیدا کولو وَهِيَ دُخَانٌ اوحال د اچه دا بولګے وو ولاړ یعنی بخار وو پشان دلوګی فَقَالَ لَهَا پس وویل خدائ دغه اسمان ته یعنی دغه بخار ته چه اسمان به ترے جوړیږی وَلِلْأَرْضِ اودغه زمکے ته یعنی دغه جرم ته چه بیا غوړ یږی به اوزمکه به ترے جوړیږی ائْتِيَا چه راشئ دواړه او ومنئ هرهغه فرمان څماچه درته ئے کوم طَوْعًا اَوْكَرْهًا ط په دے حال چه پرے خوښ اوسئ یا ناخوښ یعنی خامخائے وکړئ کهٔ په رضاوی که بے رضا اومراد له دے طوع او کره اظهارد ے د کمال د قدرت اود وجوب د وقوع د مراد ربانی نه اثبات دطوع اودکره قَالَتَآ اَتَيْنَا نو وویل دے دواړو چه راغلو اوومانځ مونږه فرمان سنا طَآئِعِيْنَ ﴿۱۱﴾ په دے حال چه په خوښه مونږ کی پوفرمان ستانهٔ په کره اوداعن اول هغو اجزاؤ د مکے کړے چه اوس پکښ کعبه ده نوځکه داقبله شوه د تمام مخلوقاتو تر قیامته اوله اجزاؤ د اسمان هم هم دغه محاذات غږ ورکړے دے فَقَضٰهُنَّ پس نوساز کړهٔ دهٔ له هغه بخار دا سَبْعَ سَمٰوٰتٍ اوه اسمانونه فِيْ يَوْمَيْنِ په دوه ورځو کښ چه پنځشنبه اوجمعه دی داسے چه په اوکښ ئے اسمانونه پیدا کړهٔ او په دویم کښ ئے نمر اوسپوږمۍ اوستوری پکښ کینودل وَاَوْحٰى اوولیږهٔ دهٔ فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ په هر اسمان کښ اَمْرَهَا اومردهغه اسمان یعنی هرهغه کار چه دهٔ لره مقرر شوے دے یا اهل دهریوته امرد عبادت اودنورو اوامرو وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا اوښائسته کړے دے مونږه دا رانزدے اوخیرمه اسمان بِمَصَابِيْحَ ۖ په څراغونو سره یعنی په هغو ستورو سره چه داسے رڼا کوی لکه چراغونه فَائِدَه داستوری چه دی ټول غیرله سبع سیاره وَ په کرسئ کښ دی اما نسبت ئے دے خیرمه اسمان ته ځکه شوے دے چه په سبب د شفاف د ټولو اسمانونو ناظر ته داسے بنکاره کیږی چه ټول دٔ اسمان کښ دی وَحِفْظًا ط اوساتلے دے مونږه دا اسمان په ساتلو سره له غوږ ایخودلو د شیطانانو ذٰلِكَ دا بیر ته یادشوی چه دی له مجاهدو پیدا ئُبت تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۱۲﴾ اندازه او پیدا ئُبت دٔ دهغه خدائ چه غالب دا ندے اَنْ اَعْرَضُوْا پس کهٔ چرے څنګ وکا اوګرځاوو دے کفار او مکے له راوړلو د ایمان پس له دٔ بیان فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ پس ووایه ورته چه ویرومه زهٔ تاسے صٰعِقَةً له هغه سخته عذاب چه په مثل د تندروی مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ لکه عذاب د عاد چه باد صرصر وو وَثَمُوْدَ ﴿۱۳﴾ او

د ثمود چه چیغه وه د جبریل علیه السلام او دا دوه قومه ځکه یاد شو چه دوئ به ئے همیشه په مینو
تیریدل په وخت د تجارت او اثار د عذاب به ئے لیدل اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ په هغه وخت چې راغلل
دوئ لره رسولان چه هود او صالح علیهم السلام وو مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ د مخ طرفه د دوئ - وَمِنْ
خَلْفِهِمْ او د وروستو د دوئ نه هم - یعنی کوم پیغمبران چه د هغوئ طرف ته لیږلے شوی وو هغوئ
په لوئی کوشش سره دوئ پوهه کړهٔ لکه چه کوم یوسړے چا لره کله د وړاندے نه راشی پوهه ئے
کړی او کله د وروستونه راشی پوهه ئے کړی او هغه پیغمبرانو علیهم السلام هم دا وویل
یعنی له هره طرفه ورلره راغلهٔ او ټولے ئے پرے تماے کړے لیکن غیر له اعراض ئے له دوئ نور
هیڅ ونهٔ لیدل په هغه وخت چه ورلره راغلهٔ او ورته ئے وویل اَلَّا تَعْبُدُوْٓا د اسے چه مهٔ کوئ
عبادت د بل هیچا اِلَّا اللّٰهَ ؕ مګر یوازے د خدائ قَالُوْا نو وویل ورته کفارو په جواب کښ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا
کهٔ چرته اراده کړے وے رب څومره د لیږلو رسولانو لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً نو هر اینه راليږلی وے ملایک
ستاسے په ځائ فَاِنَّا پس بیشکه چه مونږه بِمَآ اُرْسِلْتُمْ په هغه څیز چه راليږلے شوی یئ تاسے
په زعم خپل بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ په هغه څیز کافران یعنی نه مونږ کی یو ځکه چه تاسو خو څومونږه په
شان اد میان یئ نو تاسے لره په مونږه هیڅ بهتری نشته اوس بیا په تفصیل سره بیانوی قصه
د دوئ نو وائی فَاَمَّا عَادٌ پس هر چه عاد وو فَاسْتَكْبَرُوْا پس کبر اولوئی ئے اختیار کړو فِی الْاَرْضِ
په زمکه د احقاف کښ چه بلاد و دیمن ده بِغَيْرِ الْحَقِّ په ناحق چه مستحقان د دے کبر نه وو
پس دوئ هود علیه السلام له عذاب وویرول وَقَالُوْا مَنْ اووویل دوئ چه څوك دی اَشَدُّ
مِنَّا قُوَّةً ؕ د یرسخت له مونږه څخه په قوت کښ چه په مونږه به د ے عذاب راولیږی او دوئ
په بدن کښ د یر او بډهٔ اوغټ وو او په قوت کښ همدا سے د یر قوتناك وو چه یوسړی به تر ے
لویه تیږه له غړۍ پهلاس راولو رولے اوبل وطن لره به ئے یوړه اَوَلَمْ يَرَوْا ایا نه لیدل دوئ او نه
پوهیدل اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ په دے چه بیشکه هغه خدائ خَلَقَهُمْ چه پیدا کړی دی هغه دوئ هُوَ اَشَدُّ هغه
د یرسخت ے مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ له دوئ څخه لهجهته د قوته وَكَانُوْا او وو دوی چه له د یر غرور او تکبره او
تعصبه بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ په ایتو نو څومونږه پورے انکار به ئے کولو سره له علمه په دے چه دا

حق دے فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ پس راولیږه موښږه په دوئ رِيْحًا صَرْصَرًا باد تند او یرهیبتناك آواز کونکے یا دیر یخ چه لَهُبُوْبٌ سړے وژنی او دابړو دت فِيْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ په هغو ورځو کښ چه دیرے نحس اوشوے وے اودا باد په آخر د شوال کښ پرے را اولے وو چه له صبا دیو چار شنبے شروع شوے وو ترمازدیګر دیلے چار شنبے پورے چه دا واړه اتهٔ ورځے اواوهٔ شپے شوے اوداباد په دوئ رالیږلے وو موښږه لِنُذِيْقَهُمْ دا پاره درد ے چه وخکو موښږه یه دوئ باندے عَذَابَ الْخِزْيِ عذاب درسوایئ اودخوارئ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دے واړه ژوندون کښ چه ټول موله خیریے هلاك کړے وو وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اوهم البته عذاب د آخرت چه د ے اَخْزٰى دیر زیات ذلّه جهته درسوایئ اودخوارئ وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ اوحال داچه مدد به ونه کړے شی له دوئ سره له طرفه دهغو باتو چه دوئ به ئے عبادت کاوو په اُمید د مدد کارئ وَاَمَّا ثَمُوْدُ اوهرچه ثمود وو فَهَدَيْنٰهُمْ پس وښود له لاره دحق موښږه دوئ ته په ود رولود د لیلونو او په لیږلو د رسولانو سره فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى پس غوره کړهٔ دوئ کړ وندوالے یعنی جهل اوکمراهی اوکفر عَلَى الْهُدٰى په هدایت یعنی په علم اوښه رهنمایئ اوپه ایمان فَاَخَذَتْهُمْ پس ونیول دوئ صٰعِقَةُ الْهُوْنِ تندر آواز د سپکوٰنکی عذاب پشان د تندر یعنی چیغه د جبریل علیه السلام چه هلاك ئے کړه دوئ بِمَا كَانُوْا په سبب د هغه کار چه وو دوئ يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۷﴾ چه کاوو به ئے چه هغه تکذیب وو د صالح علیه السلام وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اووسانل موښږه له دے صاعقے هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو په صالح علیه السلام وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸﴾ ع اووُ ډوی دلے چه پرهیز به ئے کاوو له شرك وَيَوْمَ يُحْشَرُ اویاده کړه هغه ورځ چه راولاړ اوکړد به کړے شی اَعْدَآءُ اللّٰهِ دښمنان دخدائ اِلَى النَّارِ اُور د دوزخ ته فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۹﴾ پس دوئ به راحصار ولے شی یعنی لمړی د دوئ به راحصارولے شی دپاره دے چه راوریږی وربته روستی د دوئ چه سره تار په تار نه شی بیا چه ټول سره یو ځائ شی نو روان به کړے دوزخ ته حَتّٰٓى اِذَا مَا ترهغه وخت پورے چه جَآءُوْهَا چه راشی دوئ دغه اوس لره او وپوښتیلے شی له بدوکردار ونو خپلو او دوئ منکر شی شَهِدَ عَلَيْهِمْ نوښاهدی به وکړی په دوئ یعنی په کولو د بدوکردار ونود دوئ سَمْعُهُمْ غوږونه د دوئ اوهرهغه چه اوریدلی

وی دوئی وَ اَبْصَارُهُمْ او سترگے دوئی دھر هغه چه لیدلی وی دوئی وَجُلُوْدُهُمْ او پوستکی دوئی دھر هغه چه لمس کړے وی دحرام یا مراد له جلود فروج دی چه شاهدی به ولوئی بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۲۰) په هر هغه کار چه وو دوئی چه کاوو به ئے وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ اوبیا وبه وائی دا کافران پوستکیو خپلو ته له دیره تعجب لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؟ چه ولے شاهدی ولودهٔ تاسے په مونږه باندے او سره له دے چه مونږه خو دا انکار دپاره د دفع د عذاب له تاسے کاوو فَائِدَة یوائے سوال له جلود وشه غیر له سمع اوله بصر له دے جهته چه شاهدی دجلودو دپره اعجبه او ابعده دا هڅکه چه دوئی له شان نه سمع اونه بصر دے قَالُوْٓا نو وبه وائی دا جلود چه مونږه په خپله نهٔ یو عذیدے بلکه اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِیْٓ غږ ولی یُو مونږه هغه خدائ چه په قدرت کامله خپلے سره اَنْطَقَ كُلَّ شَیْءٍ غږ ولے دے دهٔ هر څیز له حیوان وَهُوَ خَلَقَكُمْ اوحال دا چه دهٔ پیدا کړی یئ تاسے اَوَّلَ مَرَّةٍ هغه اول کرت چه په عدم محض ئے وجود تدا وپستی یئ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (۲۱) اوبیا هم خاص هم دهٔ ته بیرته بیولی به شئ دپاره دجزا او دا کلام یاد جلود دے او یاد خدائ وَمَا كُنْتُمْ اونه وئ تاسے په وخت دکولود فواحش کښ تَسْتَتِرُوْنَ دا سے چه پټول به تاسے د افواحش اَنْ يَّشْهَدَ له دے چه شاهدی به ولوئی بیا عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ په تاسے غوږونه ستاسے وَلَآ اَبْصَارُكُمْ اونهٔ سترګے ستاسے وَلَا جُلُوْدُكُمْ اونهٔ پوستکی ستاسے هڅکه چه تاسے خوله بعث اوله جزا بیخی منکران وئ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اولیکن گمان به کولو تاسے اَنَّ اللّٰهَ دے چه بیشکه خدائ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا نهٔ پوهیږی په زیاتو باندے مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ (۲۲) له هغو کارونو چه کول به تاسے **حاصل** داچه تاسے به دا فواحش پټ پټ کول په دنیا کښ هغه پټول ستاسے له دے جهته نهٔ ووچه بیا شاهدی به وکوئ په تاسے داجوارح ستاسے بلکه په دے سبب ووچه تاسے خدائ نه کاږه په ډیرو کارونو خپلو خبردار اوداځکه چه دے کفار وبه داسے ویل چه هر کار چه مونږه بنکارهٔ کوو په هغه خدائ پوهیږی اوچه پټ ئے کوو په هغه دے نهٔ پوهیږی نوخدائ ورته وائی وَذٰلِكُمْ اوداسے گمان ستاسے چه دے ظَنُّكُمُ الَّذِیْ هغه گمان دے ستاسے ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ چه کاوو به داگمان تاسے په رب خپل چه دے په پټو اعمالو څمونږه خبردار نهٔ دے اَرْدٰىكُمْ هلاک کړئ دے فاسد گمان تاسے اوس په آخرت کښ

فَاَصْبَحْتُمْ پس شوئ تاسے اوس په سبب د هغه فاسدګانو سره مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (۲۳) له زیانکارانو
څخه فَاِنْ يَّصْبِرُوْا پس که صبر کوی دوئ په عذاب فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ پس اور ځائے دے د دوئ
یعنی نه په صبر خلاصیدے شی هوئ له اوره اونه په فریاد وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا اوکه خوښی اورضا
غواړی دوئ دخدائ فَمَا هُمْ پس نه به وی دوئ مِنَ الْمُعْتَبِيْنَ (۲۴) له هغو خلقو چه خوښی تر راغلے
وی او عُتْبٰى خوښی اورضاته وائی وَقَيَّضْنَا لَهُمْ او مقرر کړے دے مونږ هغے مشرکانو دمکے لره او
مسلط کړی مودی پرے قُرَنَآءَ همنشینان اودوستان له شیطانانو فَزَيَّنُوْا لَهُمْ پس بناسته کړے
دے دے شیطانانو دوئ ته مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ هغه څیزونه چه په مخکښ دی دوئ چه زینت دے
د دنیا اوپیروی ده دهواد نفس چه هم هغو پسے روان دی وَمَا خَلْفَهُمْ اوهغه څیزونه چه شاته
دی د دوئ له امور د آخرت چه ورته وائی بعث نشته حساب نشته وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ اولازم
او واجب شه په دوئ گفتار د عذاب چه لاملګی جهنم الخ دے فِيْٓ اُمَمٍ په هغه امتونو کښی قَدْ
خَلَتْ چه په تحقیق تیر شوی دی هغه اُمم مِنْ قَبْلِهِمْ پخوا له دوئ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ د پیریانو
اوله آدمیانو یعنی هغو لکه بد عملونه کول اوپرے لائق شول د عذاب همدا سے دوئ هم په دے بد و
اعمالو لائق شویدی د عذاب اِنَّهُمْ بیشکه چه دوئ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ (۲۵) دی زیانکاران پدوارو
جهانونکښ **روایت دے** چه کفارو به یو بل ته ویل چه هر کله محمد صلے الله علیه وسلم د قرآن په
لوستلو لاس پورے کړو نو غوږ ورته مه ږدئ تاسے اوشور ماشور واچوئ هلته چه ستاسے آواز ونه
پرے د پاسه شی اوهغه قراءت پرے کړو د شی بیا نو هر کله چه ده به شروع وکړه په قراءت نو دوئ
به هلته سره راټول شول اونارے سورے به ئے وهلے اولاسونه به ئے ټکول اوشیبلی به ئے وهل او
ناکاره بے هوده اشعار به ئے ویل لکه چه وائی وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائی هغه کسان چه کافر
شوی دی سره یو بل ته لَا تَسْمَعُوْا چه غوږ مه نیسئ لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ دے قرآن ته چه محمد صلی
الله علیه وسلم ئے لولی وَالْغَوْا فِيْهِ اوچیغے وهئ اوشور ماشور واچوئ په وخت د قراءت د ده ګنی
لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ (۲۶) بنائی چه تاسے غالب شئ په ده اوهغه لوستلوئ حصار کړئ نورب العزت
وائی فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هر اینه وبه څکو و مونږه خامخا هغه کسانو ته چه کافران دی

عَذَابًا شَدِيدًا عذاب سخت وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اوهرآئینه جزا به ورکړو مونږه خامخا دوئ لره اَسْوَاَ
الَّذِيْ ډیره بده جزا دهغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۲۷) چه وو دوئ چه کولو به ئے له ډیره جهل او غضب
ذٰلِكَ داسخت عذاب چه دے جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ جزا ده دښمنانو د خدائ النَّارُ ډیره یعنی اور دا
عطف بیان دے دجزا یا خبر دے مبتدا محذوف لَهُمْ فِيْهَا مقرر دے دوئ لره په دغه اور کښی دَارُ الْخُلْدِ
دار د همیشه والی یعنی دا سے مقام چه همیشه به وی دوئ په هغه کښ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا اجزا به ورکړ
شی دوئ په جزا ورکولو سره په سبب دے چه وو دوئ بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ (۲۸) په اینو نوځمونږه
چه قرآن دے انکار به ئے کاوو وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اووبه وائی هغه کسان چه کافران دی په ورځ
د قیامت په دوزخ کښ رَبَّنَآ چه اے ربه ځمونږه اَرِنَا الَّذَيْنِ وښایه مونږه ته هغه دوه تنه اَضَلّٰنَا
چه گمراهان کړی وو هغو مونږه په دنیا کښ چه وو هغه دوارِنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ له پیریانو او له
آدمیانو چه ابلیس او قابیل دے چه بو اول تاوده کفر او عصیان اینبے دے او بل دخون په
ناحقه نَجْعَلْهُمَا چه واچوو مونږه هغه دوارِنَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لاندے د قدمونو خپلو او انتقام د
اضلال خپل نرے واخلو یا په کوزه کنده د دوزخ کښ ئے وغورځوو لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ (۲۹) د پاره دے
چه شی هغه دوارِنَا له هغو کفارو چه دی دوئ په ډیره کوزه پایه کښ له دوزخ چه عذاب ئے ځمونږه له
عذابه ډیر سخت شی اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا بیشکه هغه کسان چه ویلی دی دوئ په صدق د زړه سره رَبُّنَا
اللّٰهُ چه رب ځمونږه خدائ دے یعنی اقرار ئے کړے وی په توحید ثُمَّ اسْتَقَامُوْا بیا محکم ولاړ وی په
هم دے اقرار تر آخره د عمره او په مقتضا یا تو دے اقرار چه ثبات دے په ایمان او امتثال دے په
اوامرو او په نواهیو کښ او اخلاص دے په عمل کښ اوادا د فرائضو د ه پس هر کله چه دا کار نه
وکړه دوئ نو جزا به ئے داوی چه تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ راکوزیږی به په دوئ ملائک په وخت
د مرګ ئے کښی یا په وخت د خروج له قبرونو نو یا په لحد و نو کښی یا په درے واړو احوالو کښی او وائی به ورته
اَلَّا تَخَافُوْا دا سے چه مه ویریږئ له هغو سختیو چه ستاسے په مخکښ دی گکه چه هغه به په تاسے
خدائ اسانے کا۔ وَلَا تَحْزَنُوْا او مه خفه کیږئ په سبب د هغه چا چه ببره تر څنګ پاتے شوید ی

عه یعنی چه لفظ دهُوَ دے نو تقدیر دا سے شی چه هو النار۔ چه هغه جزا اور دے ۱۲

له عیال چه خدائ به ئے نکهبان شی وَابْشِرُوْا اوخوشحاله اوسئ بِالْجَنَّةِ الَّتِیْ په استوریے دهغه جنت كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ (۳۰) چه وئ تاسے په دنیا کښ چه وعده به ئے درسره کولے شوه په لسان درسولانو اوبل به داسے وئ ته ووائ چه نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ مونږه دوستان ووستاسے فِی الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا هم په دے واړه ژوندون کښ چه له اخرتو به مونږه سائ ئ اوخیرته به مومدام راسئ ئ اوبه کولو دنیکئ کښ به مومعاونت درسره کاوو وَفِی الْاٰخِرَةِ ج اوهم په اخرت کښ به تعظیم اوبه تکریم اوبه شفاعت اوبه مدد درسره نژهغه پورے چه جنت ته ننوځئ وَلَكُمْ فِيْهَا اومقرر دے تاسے لره په دے آخرت کښ مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُكُمْ هغه څول خیژونه چه ارزوکوی نفسونه ستاسے لره لذتونو اوله نعمتونو وَلَكُمْ فِيْهَا اوبیا مقرر دے تاسے لره په دے آخرت کښ مَا تَدَّعُوْنَ (۳۱) هر هغه خیژچه غواړئ تاسے اوارمان ئے کوئ نُزُلًا په دے حال چه دا میلمستیا ده تیاره کړے شوے مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ (۳۲) لهغه پروړ کاره چه ډیر بخښونکے اومهربان دے وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا اوخوك دے ډیر ښائسته لهجهته دکفتار مِّمَّنْ دَعَآ له هغه چاچه بولی خلق اِلَى اللّٰهِ خدائ ته یعنی عبادت ددهٗ ته وَعَمِلَ صَالِحًا اوعمل هم کوی دے ښهیل دنیکو وَّقَالَ اوداسے هم وائ چه اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ (۳۳) زه له مسلمانانو گردن نهاد ویم خدائ ته اوداآیت یاپه شان درسول صلے الله علیه وسلم کښ دے چه خلق بولی نوحید ته یامراد ترے اصحابؓ دی اوعمل صالح ئے متابعت دے درسول صلے الله علیه وسلم اویاعلماء دی چه احکام ددین بیانوی خلقوته اوعمل صالح ئے عمل دے په علم خپل اویا محتسبان دی چه امرد معروف اونهی دمنکر کوی خلقوته اوعمل صالح ئے صبر اوتحمل دے په هغو مکارهوچه دوئ ته پکښ پیښیږی اویامؤذنان دی چه خلق بولی مانځه ته اوعمل صالح ئے دوه رکعته نفل دی داذان اود اقامت په مینځ کښ اویا هر هغه څول دی چه جامع وی ددے صفاتو تولواوهادی اوداعی وی دخلقوخدائ ته وَلَا تَسْتَوِی الْحَسَنَةُ اونه برابریږی سره نیکئ وَلَا السَّيِّئَةُ ما او نه بدی په جزا اوپه حسن دعاقبت کښ اوداالزائده دے دپاره تاکید دنفی دلمړی لا پس هر کله چه کار داسے شئ اِدْفَعْ دفع کوه ته ډهغه بدئ چه څوك ئے وکا له تاسره بِالَّتِیْ په هغه خصلت سره هِیَ اَحْسَنُ چه هغه غوره دی له هغه بدئ فَاِذَا ۵ دفع بیاپه دوه قسمه ده یوه په وجه حسن ده

اوهغه داده چه مثلاً غضب په حلم دفع کړی اوګناه په عفو اوبوج په درګذر سره اوبله په وجه حسن ده اوهغه داده چه دبدئ په ځای نیکی ورسره وکړی لکه چه هغوك ستاذم وکا اونهٔ ئے په مقابل کښ مدح وکړے اوهر کله چه داسے وکړهٔ فَاِذَا الَّذِیْ پس ناګاه هغه څوك بَیْنَكَ چه په مابین ستا وَبَیْنَهٗ عَدَاوَةٌ او په مابین دهغهٔ دشمنی وی نوهغه به دوست شی ستاپه دے شان چه كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ﴿۳۴﴾ گویا که دے یار دے ستا مهربان لکه نقل دے له امام اعظم رح چه ده ویلی دی چه هر کله زهٔ به خبرشوم چه فلانے ستا پیربد وائی نومابه دهغه پیره مدح اوثنا کوله ترهغه پورے چه بیابه خبرشوم چه هغه هم ستا مدح اوثنا کوی وَمَا یُلَقّٰىهَاۤ اونهٔ شی نبودلے اوورکولے دا خصلت چه دفع دبدئ ده په نیکئ اِلَّا الَّذِیْنَ صَبَرُوْا ۚ مګرهغه کسانوته چه صبرکوی په مکارهو دخلقو اوهس حصاروی له انتقامه وَمَا یُلَقّٰىهَاۤ اوبیا نهٔ شی نبودلے داخصلت اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِیْمٍ ﴿۳۵﴾ مګرخښتن د دلوئی برخے ته وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ اوکه چیرے واړوی تا اودے کښ ادغام شویدے دونن دان شرطیے په مازائده کښ مِنَ الشَّیْطٰنِ له طائفے دشیطان نَزْغٌ آی نازغ کوم اړوکے له دغه خصلت په وسوسه سره یعنی کهٔ چرے داسے وسوسه شیطانی وِ زړه لره راغله چه له دے خصلت ئے اړوله فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ نو پناه ونیسه ته په خدائ پورے له شره دهغه اِنَّهٗ بیشکه دے چه هُوَ السَّمِیْعُ هم دے اوریدونکے دے داستعاذے ستا الْعَلِیْمُ ﴿۳۶﴾ دانادے په نیت ستا وَمِنْ اٰیٰتِهِ الَّیْلُ وَالنَّهَارُ اوبله نبنود قدرته ددهٔ شپه اوورځ دی چه په یوکښ لباس اوپه بل کښ معاش دے وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ؕ اوبله له نبنود قدرته ددهٔ نمراوسپوږمئ دی چه هریواه جدا سیر مقرر دے لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ سجده مهٔ کوی نمرته وَلَا لِلْقَمَرِ اونهٔ سپوږمئ ته ځکه چه دا دواړه هم مخلوق دی ستاسے په شان وَاسْجُدُوْا اوسجده کوئ لِلّٰهِ الَّذِیْ هغه خدائ ته خَلَقَهُنَّ چه پیدا کړی ئے دی داخلوس واړه ایات چه لیل، نهار، شمس، قمر دے۔ اِنْ كُنْتُمْ كهٔ چرے یئ تاسے اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾ چه خاص هم ددهٔ عبادت کوئ ځکه چه سجده اځص دعبادا نوده نو داخالق نه بانده ده نهٔ مخلوق ته فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا پس کهٔ لوئی اوسرکشی وکړه دوئ له سجدے کو لوخدائ ته یوائے فَالَّذِیْنَ پس هغه څوك عِنْدَ رَبِّكَ چه په نزد درب ستادی له ملائکو یُسَبِّحُوْنَ لَهٗ تسبیح

وائی دہ ٗ لرہ یا موئخ ٗ کذارئی دہ ٗ لرہ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ هم دشپے اوهم دورځے یعنی هیڅته به عبادت دے ٗ مشغول دی وَهُمۡ لَا يَسۡـَٔمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ اوحال داچه دوئی نهٗ ملا له کیږی اونهٗ ستومانه کیږی په اترت دعبادت اوپه نزد دامام اعظمؒ سجده دلته ده اوپه نزد دامام شافعیؒ په تعبدون ده وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ اوبل له نښو دقدرته ددهٗ اَنَّكَ داده چه بیشکه ته چه ئے تَرَى الۡاَرۡضَ ویے به ته دازمکه خوا له نزول دباران خَاشِعَةً وچه کلکه بےکیاه فَاِذَاۤ اَنۡزَلۡنَا پس بیا په هغه وخت چه راښکته کړے موټره عَلَيۡهَا الۡمَآءَ په دے اوبه دباران اهۡتَزَّتۡ نوسره وخوږیږی له جهته دزرغونید لودګیا وَرَبَتۡ ؕ اوراپوته شی اوډوپرسیږی په سبب دسریان دبیخو نودنبا تاتو په دے کښی اوڅوندی شی نوله دے حال دزمکے معلوم کړئی تاسے چه اِنَّ الَّذِىۡۤ بیشکه هغه خدائی اَحۡيَاهَا چه څوندئی کړے ئے ده دازمکه لَمُحۡىِ الۡمَوۡتٰى ؕ هم اٰئینه څوندے کونکے دے دمړیو یعنی لکه چه په هغه قادر دے په هم قادر دے اِنَّهٗ بیشکه چه دے عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿۳۹﴾ په هرڅیز بنهٗ قادر دے کهٗ احیاء دے که امانت دے ۔ اِنَّ الَّذِيۡنَ بیشکه هغه کسان يُلۡحِدُوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِنَا چه میل کوی دوئی له حق باطل ته په ایتو نوځمونږ ٔ کښ په طعن اوپه تحریف اوپه تکذیب اوپه تاویل باطل سره لَا يَخۡفَوۡنَ عَلَيۡنَا ؕ نهٗ دی پټ دوئی په مونږه یعنی دالحاد اوطعن اوتحریف اوتکذیب ددوئی مونږه ته ډول ښکاره دے نوجزا دڅولو به درلره ورکړو ته مه خفه کیږه اَفَمَنۡ يُّلۡقٰى ایا پس هغه څوك چه وغورځولے شی فِى النَّارِ خَيۡرٌ ؕ په اور کښ هغه غوره دے اَمَّنۡ يَّاۡتِىۡۤ اوکهٗ هغه څوك چه راشی دے اٰمِنًا يَّوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ په امن له دوزخ په ورځ دقیامت داتمثیل دے دمؤمن اودکافر اوچاویلی دی چه ابوجهل اورسول صلے الله علیه وسلم دے بیا اوس وائی کفار وته دپاره دتهدید اودزجر اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ ۙ چه کوئی اے کفارو هر هغه کارچه اراده وشی ستاسے اِنَّهٗ بیشکه چه دے بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۴۰﴾ په هغه کارونوچه کوئی ئے تاسے بنهٗ بینا دے نوجزا به دڅولو درکا اِنَّ الَّذِيۡنَ بیشکه هغه کسان كَفَرُوۡا بِالذِّكۡرِ چه کافرشوی اومنکرشوی دی له قرآن چه بهترپند دے لَمَّا جَآءَهُمۡ ۚ په هغه وخت چه راغے دوئی لره اوخبر دراتَ پکښی محذوف دے چه سیعذّ بون یاهالکون دے وَاِنَّهٗ اوحال داچه بیشکه داقرآن لَكِتٰبٌ عَزِيۡزٌ ﴿۴۱﴾ هم اٰئینه یوکتاب دے ډیرنافع یاعدیم النظیر یامنیع لَّا يَاۡتِيۡهِ

الْبَاطِلُ چه نه ړاځی و ړانه باطل له هیڅ طرف مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ نه د مخ نه له طرف دده وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ط اونه له شاله طرف ئے په هیڅ وجه له وجوه نه په زیادت اونه په نقصان سره څکه چه تَنْزِيْلٌ رالیږلے شوے دے مِّنْ حَكِيْمٍ له هغه پروردګار ده چه پرحکمت دے حَمِيْدٍ (۴۲) ستایلے شوید ے مَا يُقَالُ لَكَ نه ویلے کیږی تانه یعنی نه وائی تانه قوم ستا اے رسوله اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ کمتار قَدْ قِيْلَ چه په څخیین ویلے شوے وو یعنی پخوا نیو کفارو ویلی وو لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ط هغه رسولانو نه چه پخواله تا تیر شوی دی یا معنی دا چه نه وائی خدائی تانه مګر په مثل دهغه چه ویلی وودهٗ پخوا نیو رسولانو نه اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دے لَذُوْ مَغْفِرَةٍ هرائینه څښتن دمغفرت دے اَحْيَاؤُ خپلوته وَ ذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ (۴۳) اوخښتن ددردناك عذاب دے اعداؤ خپلولره **روایت دے** چه کفارو د قریشو به ویل چه داقرآن ټول ولے عربی دے بائده دا سے ووچه بعضے ترے عجمی هم وے چه دواړو طائفو ترے فائده اخستے نو نازل شهٗ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ اوکه ګرځولے اورالیږلے مونږه دا کتاب قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا قرآن په ژبه د عجمو لَقَالُوْا نو هم اثینه ویلی به وو کفارو د عرب و چه لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ط ولے واضح بیان کړے شوی نهٗ دی اٰیتو نه د دهٗ یعنی په هغه ژبه چه مونږه پرے پوهیږو داخو پرے فائده منزل دے چه ءَاَعْجَمِيٌّ آیا هغه کلام چه نازل دے عجمی دے وَعَرَبِيٌّ ط اومخاطب ئے عربی دے یعنی په هر اړه وجه دوئی خدشه پکښ پیدا کوی له جهته دعناده قُلْ هُوَ ووایه دوئی ته چه داقرآن چه دے لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دپاره د هغو کسانو چه ایمان ئے راوړے دے هُدًى وَّشِفَآءٌ لاره ښودونکے دے حق ته او شفا ورکونکے دے له امراضو او د شکو او د شبهو وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اوهم چه هغه کسان دی چه ایمان نه راوړی په دے قرآن فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ په غوږونو د دوئی کښ دروند والے دے دکونږ والی چه دوئی ئے دزړهٗ په غوږونو نهٗ شی اوریدلے چه پند پرے واخلی وَّهُوَ اوحال دا چه داقرآن عَلَيْهِمْ عَمًى ط په دوئی روند والے اوپټوالے دے نو هیڅ ترے نهٗ شی فهمولے اُولٰٓئِكَ دغه کسان چه دی ایمان ئے نه دے راوړے په قرآن کو یاکه داسے دی لکه چه يُنَادَوْنَ غږ ورته کاوهٗ شی مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ (۴۴) له لرے ځایه یعنی لکه چه چا ته څوك له لرے نارے وهی چه نهٗ هغه وینی اونه ئے اواز اوری نو داغږ هغه ته هیڅ نفع نه رسوی. هم

دا سے دوئ ته هم دابل د قران هیڅ فائده نه لری وَلَقَدْ اٰتَيْنَا اوهم اٰیښه په تحقیق ورکړے وو مونږه مُوْسَى الْكِتٰبَ موسلی علیه السلام لره کتاب چه تورات وو فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ط پس اختلاف کړے شوے وو په هغه کښ په مثل د قران په تصدیق او په تکذیب سره وَلَوْلَا كَلِمَةٌ اوچے نه وے هغه کلمات سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ چه روبمے شوے په هر څه له طرفه د ربه ستاسے هغه وعده د تاخیر د عذاب ترقیامته لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ط نو هرا ٹیښه حکم به کړے شوے وو په ما بین د دے مکذبانو کښ په بیځایئ سره چه په دنیا کښ به ټول هلاک شوی وو وَاِنَّهُمْ اوبیشکه دامشرکان یا یهود چه د دے لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ هرا ٹیښه په شک اوګمان کښ دی له دے قران یا له تورات مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ چه موجب د اضطراب وی مَنْ عَمِلَ صَالِحًا هر څوك چه وکا کار نیک فَلِنَفْسِهٖ پس د پاره د خپل ځان ئے دے ځکه چه نفع ئے د ۀ ته راجع ده وَمَنْ اَسَآءَ اوهر څوك چه بد کار وکا فَعَلَيْهَا ط پس هغه هم په ډۀ بار د ے ځکه چه ضرر ئے هم ډۀ راجع دے وَمَا رَبُّكَ اونۀ ډ رب ستا بِظَلَّامٍ تَلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾ ظلم کونکے په بندګانو چه موجب ئے په عذابوی اِلَيْهِ يُرَدُّ خاص هم ډۀ ته رد کاوۀ شی عِلْمُ السَّاعَةِ علم د قیامت یعنی کۀ څوك پوښتنه کوی له ظهوره د قیامته نو حواله ئے په خدائ پکار ده چه بل هیڅوك پرے خبر نۀ دے وَمَا تَخْرُجُ اونۀ راوځی مِنْ ثَمَرٰتٍ هیڅ قسم له میوو مِّنْ اَكْمَامِهَا له پردو اوله غلافونو خپلو وَمَا تَحْمِلُ اونۀ اخلی بار۔ مِنْ اُنْثٰى هیڅ مادینۀ له انسان اونه له نورو حیواناتو وَلَا تَضَعُ اونه بدی بار یعنی حمل اِلَّا بِعِلْمِهٖ ط مګر په علم د ډۀ سره یعنی لکه چه علم په قیامت خاصه د ډۀ هم دے علم په ثمارو اوپه نتایجو هم خاصه د ډۀ ده وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اوپه هغه ورځ چه عزیر به وکړی خدائ دے مشرکانو ته یعنی دا سے به وریته ووائی چه اَيْنَ شُرَكَآءِيْ ځۀ شوهنه شریکان ځما په زعم ستاسے قَالُوْٓا اٰذَنّٰكَ لانو وبه ووائی دوئ چه خبر کړے مونږه تۀ په دے چه مَا مِنَّا نشته له مونږه مِنْ شَهِيْدٍ ﴿۴۷﴾ هیڅوك شاهدی کو دوئ کی په دے چه دا شریکان دی ستا ځکه چه اوس حقیقت د دا مور اته معلوم شۀ او یا دا کلام د شرکاؤ دے چه له مونږه هیڅوك شاهد نۀ دے په حقیقت د دوئ په دے نسبت د شرك کښ وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورك به شی له دوئ مَا كَانُوْا يَدْعُوْنَ هغه بتان چه وو دوئ چه عبادت به ئے کاوو دَهُوْ مِنْ قَبْلُ پخوا له دے په دنیا کښ ځکه چه نه به ئے وینی اونه به ئے څۀ نفع

د سپیرۍ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ او یقین به راشی د دوئ په دے چه ونښته دوئ لره مِّنْ مَّحِيْصٍ (۴۸) هیڅ ځایٔ د تښتے لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ نه ملالہ کیږی او نه ستومانه کیږی انسان مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ له غوښتلو خیر یعنی هر وخت طلب د عیش او د انواع د نعمت او د فراخ کولو په مال کښ او د اپه اصل کښ من دعائه الخیر دے بیا ضمیر د فاعل ترے حذف شه او مصدر مضاف شۀ مفعول ته وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ که ورسیږی دۀ ته یو قدر سختی لکه فقر یا مرض یا بله کومه سختی شوه فَيَئُوْسٌ پس ډیر ناامیدوی له هره خیره او له راحته قَنُوْطٌ (۴۹) امید پرے کړے له رحمته د خدائ ځکه او دا او مابعد ئے په حق د کافر کښ دے وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ اوهر اٰئینه که چرے وڅکوو مونږه دغه کافر ته رَحْمَةً مِّنَّا رحمت له جانبه خُمونږه لکه صحت یا غناشوه مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ پس له هغه سختئ چه رسیدلے وی دۀ ته لکه مرض یا فقر شۀ لَيَقُوْلَنَّ نو هر اٰئینه وائی دے هٰذَا لِيْ لا چه دا خپل او عافیت مالره مقرر دے او زۀ ئے مستحق یم وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ او گمان نۀ کوم زۀ په قیامت قَآئِمَةً د برپا یی کید ولیکه چه به راشی وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ او قسم دے چه که چرے بیرته وگرځولے شم زۀ له مرګه او بیا وندے کړے شم او بوتلے شم اِلٰى رَبِّيْٓ رب خپل ته لکه چه د اسلمان وائی اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ نو بیشکه مالره به وی دۀ څه لَلْحُسْنٰى ځ هر اٰئینه هغه څیز چه ډیر ښۀ دے چه هغه جنت دے یعنی زۀ مستحق یم د کرامت کۀ په دنیا یم کۀ په عقبیٰ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هر اٰئینه اګاه به کړو مونږه خامخا هغه کسان چه کافران دی بِمَا عَمِلُوْا ز په هغه کفر او تکذیب چه کړیدۍ دوئ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ او بیاهر اٰئینه وبه څکوو مونږه خامخا دوئ ته مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ (۵۰) له هغه عذاب نه چه سخت او لوئی دے وَاِذَآ اَنْعَمْنَا او په هغه وخت چه انعام وکړو مونږه او د فرحت او راحت دروازه پرانزو عَلَى الْاِنْسَانِ په انسان اَعْرَضَ څنګ وکه دے له شکر وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ج اولرے شی په سبب د غرور او د کبر خپل له لارے د حق او له یاد کیږئ د خدائ او جانب عبارت له نفس ای تباعد بنفسه. وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ او په هغه وخت چه ورسیږی دۀ ته سختی او یا فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ (۵۱) پس بیا دے څښتن وی ډیرے پلنے او اوږدے دُعا یعنی هر وخت په سوال او په زاړئ مشغول وی

عریض لږے شی یه نفیس خپل سره ۱۲

قُلْ اَرَءَيْتُمْ وویه دوئی ته چه ایا وینئ تاسے نو ما هم خبر کړئ چه اِنْ كَانَ كه چیرے دی د اقرآن
مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ له جانبه دخدائ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ بیا کفر اختیار کړے دے تاسے په هغهٔ پوځے دلیلے تامل
نو تاسے پخپله فکر وکړئ چه مَنْ اَضَلُّ څوك دے په گمراه مِّمَّنْ هُوَ له هغه چا چه دے فِيْ شِقَاقٍ
بَعِيْدٍ ﴿۵۲﴾ دی په مخالفت کښ له خدائ چه دے ډیر لرے دے سَنُرِيْهِمْ ایبنّا زر دے چه وبه بنایو
مونږه دے کفارو د مکے ته ښے دقدرت خپل فِى الْاٰفَاقِ په ټولو افاقو کښ یعنی هم په کنارو د آسمان
کښ لکه مثلاً شق د قمر او رجم د نجوم او دارسے نورو عجائبُ او عرائبُ د سماوه شو او په کنارو د زمکے
کښ لکه مثلاً نباتات او انهار او اشجار او دا سے نورو عجائبُ او غرائبُ ارضیه شو یا لکه نورهغه حوادث
اتیه شوچه له هغو اخبار کړے وو رسول صلے الله علیه وسلم او بیا پس له هغه اخباره واقع شوی دی لکه
مثلاً فتح د روم او د فارس او د یمن یا واقعه د بدر او هم دا سے حوادث ماضیه لکه قصے د پیغمبرانو انبیاءُ علیهم السلام
او د اموسابقه ګ په وجه د خرق د عادت سره وَفِىْٓ اَنْفُسِهِمْ او په نفسونو د دوئ کښ یعنی هغه عجائبُ
د صنع الٰهی چه د دوئ په ابدانو کښ پیدا کړے شوی دی حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ د پاره د دے چه بنکاره
شی دوئ ته اَنَّهُ الْحَقُّ ط دا چه بیشکه دا قرآن یا رسول الله صلی الله علیه وسلم یا توحید دخدائ
حق دے اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ ایا کافی او بس نهٔ دے رب ستا یعنی بس دے او دا باآ زائده ده د پاره د
تاکید یعنی ایا بس نهٔ ده دا خبره چه اَنَّهٗ بیشکه دے عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۵۳﴾ په هر خیز شاهد
حاضر دے دا بدل دے د اَوَلَمْ يَكْفِ څخه اَلَآ اَنَّهُمْ واوره د اچه بیشکه دا کفار فِىْ مِرْيَةٍ په شك کښ
دی مِّنْ لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ط له ملاقات د رب خپل یعنی له بعثه او له جزا اَلَآ اَنَّهٗ بیا واوره چه بیشکه
دے بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيْطٌ ﴿۵۴﴾ ع په هر خیز احاطه کوونکے دے علم او قدرت د دهٔ۔

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ ۴۲ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۵۳ رُكُوْعُهَا ۵

حٰمٓ ﴿۱﴾ ع عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ دا دواړه الفاظ گرکهٔ خماسی دی په شان دکهٰیعٓصٓ۔ اما دوئ مخالف دی
له هغه په دے کښ چه هغه یوآیت دے او دا دوه آیتونه دی چه یوحٰمٓ دے او بل عٓسٓقٓ دے او

عه یعنی خیرے والے دسپوږمی او ویشتل دستورځ ۱۳

چا ویلی دی چه د دواړه نومونه دی دغه سورت څکه جدا ښکلی کیږی سره او دوه ایتونه حسابیږی او که مجموعه سره یو نوم دی نو جدا جدا ښکل دحمٓ د پاره د مطابقت دی له نورٌ حوامیموسره اوچا ویلی دی چه پنځه حرفونه اخستے شوی دی اوله اوائلو د اسماؤ د رب۔ چه حکیم، مجید، علیم، سمیع، قدیر دے کَذٰلِكَ په مثل د وحی د دے صورت یُوْحِیْ اِلَیْكَ همیشه وحی کوی تاته وَاِلَى الَّذِیْنَ او هغه رسولا نو نه هم مِنْ قَبْلِكَ لږ چه یخواله تا نیږشوی دے اللّٰهُ الْعَزِیْزُ هغه خدائ چه غالب دے نوهیڅوك ئے له وحی نه شی حصارولے الْحَكِیْمُ ۳ پُرحکمت دے چه مستحق د وحی ورته معلوم دے او د اللّٰه فاعل دے د تیر یُوْحِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ خاص هم دهٗ لره دی په طریقه د مملوکیت سره هغه چه په اسمانونو کښی دی له علویاتو وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او هم د اسے هر هغه چه په زمکه کښی دی له سفلیاتو وَهُوَ الْعَلِیُّ او دے دیر لوئ دے الْعَظِیْمُ ۴ دیر بلند شان دے چه لوئی او عظمت ئے بے انتهاڈے تَكَادُ السَّمٰوٰتُ نزدے دی اسمانونه پتول دے یَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ چه وُچوی دوئ له پاس طرفه خپل یعنی هغه اسمان چه د ټولو د پاسه دے چه اول هغه وُچوی پسے ترے د اکوں تراخره له جهته د ظهور د کبریا او عظمته د پروردګار یا له جهت د نسبت د ولد دهٗ ته یا له جهته د کثرته د ملائکو وَالْمَلٰٓئِكَةُ اوهغه ملائك چه حاملان دی د عرش اوهغه کروبیان چه تر چاپیره دی یا مطلق ټول ملائك یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ تسبیح وائی دوئ پیوست له ثنا د رب خپل سره وَیَسْتَغْفِرُوْنَ اوبخښنه غواړی دوئ له خدائ لِمَنْ فِی الْاَرْضِ ط د پاره د هغه مؤمنانو چه په زمکه کښی دی اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ او وری بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ۵ هم دے دیر بخښونکے مهربان دے وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا اوهرچه هغه کسان دی چه نیولی دی دوئ مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِیَآءَ غیر له خدائ نگهبان دے نورد وستان یعنی بتان چه اللّٰهُ حَفِیْظٌ عَلَیْهِمْ رسے خدائ نگهبان دے یعنی اقوال افعال احوال د دوئ ټول ورته معلوم دی نو جزا به د ټولو ورکړه وَمَاۤ اَنْتَ اونهٔ ئے ته اے رسوله! عَلَیْهِمْ بِوَكِیْلٍ ۶ په دوئ مسلط کړے شوے بلکه په تا تبلیغ دے فقط وَكَذٰلِكَ اوهم دا ګډ چه هر پیغمبر ته یې موږه وحی کوله په لسان د قوم خپل سره اَوْحَیْنَاۤ اِلَیْكَ وحی وکړه موږه تاته په لسان د قوم ستا سره قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا قرآن عربی لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى د پاره د دے چه

چه وویروے تہ مورد بنارونو دروی زمین یعنی اهل دوکے وَمَنْ حَوْلَهَا او وویروے هرهغه خلوك چه چاپیره دی له دے ام القریٰ له هرجانبه تراخره دزمکے فائدہ دے مکے تدام القرا واپۂ شی ځکه چه دا اصل دتولو بلادو اومیځ هم دے دزمکے. هم له همدے غوندے ویرپدلے دے هر طرفته وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ اوچه وویروے تہ خلق له هوله اوله عذابه دورځے دجمع چه قیامت دے لَا رَيْبَ فِيهِ ناچه نهٔ شته هیڅ شك په وقوع دهغه کښی اودے تہ ځکه ورځ دجمع واپه شی چه اولین او اخرین به پکښی یوځائی کاوهٔ شی یا ارواح اوابدان یا اعمال او عاملان اویا پس له جمع اوکونا هئی دحساب خلق به دوه فرقے شی فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ یوه فرقه به وی په جنت کښی چه مؤمنان مؤحدان دی وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ۷ اوبله فرقه به وی په دوزخ کښی اوه منافقان دی وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ اوکه ارادہ شوے وے دخدائ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً نو هر اثبینه کړے به ئے وو دا ټول مخلوق یو توله. یعنی واړه مؤمنان یا واړه کافران وَلَٰكِنْ يُدْخِلُ اولیکن ننباسی دے مَنْ يَشَاءُ هر هغه خوك چه ارادہ وشی دده فِي رَحْمَتِهِ په رحمت خپل کښی په هدایت او په توفیق دطاعت سره وَالظَّالِمُونَ اوهر چه ظالمان یعنی کافران دی مَا لَهُمْ نشته دوئ لره مِنْ وَلِيٍّ هیڅوك دوست چه غمخواری وکه ددوئ وَلَا نَصِيرٍ ۸ اونه کوم مددکار چه دوئ له عذابه خلاس کړے. أَمِ اتَّخَذُوا بلکه نیولی دی دوئ مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ غیر له خدائ نور دوستان یعنی بتان اوکه دوئ چرے حقانی دوست غوښتلے نو فَاللَّهُ پس خدائ چه دے هُوَ الْوَلِيُّ هم دے دوست دے وَهُوَ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ اوهم دے ژوندی کوی مړی په قیامت نهٔ بتان وَهُوَ اودے چه دے عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۹ په هر کار قادر دے نه بتان. بیا رسول صلے الله علیه وسلم وویل مؤمنانو ته اورب العزت ترے حکایت کړے دے دا سے چه وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ اوهرچه هغه کار دے چه اختلاف کوئ په هغه کښی تاسے اے مؤمنانو له کفارو له اهل کتابو سره اوله مشرکانو سره مِنْ شَيْءٍ له کوم شیزه څخه له امورو ددین یاددنیا فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ پس حکم یعنی فیصل دهغه مفوض دے خدائ تہ چه به ئے فیصل کوی په دنیا کښی به نصرت اوپه هزیمت سره یا په عقبیٰ کښی په ثواب اوپه عقاب سره ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي داچه حکم کوی په حق داخدائ دے چه رب ځماد ے. عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ خاص پرهم دهٔ اعتماد کړے دے ما پے هم

کښ وَالَیْهِ اُنِیْبُ ﴿۱۰﴾ اوخاص هم دهٔ ته رجوع کوم په توله مهما تو خپلوکښ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا کوونکے دے د اسمانونو او دزمکے جَعَلَ لَکُمْ پیدا کړی دی دهٔ تاسے لره مِنْ اَنْفُسِکُمْ له خانونو ستاسے یعنی له جنسه ستاسے . یا چه بی بی حوائے پیدا کړے ده له پوښتنئ د آدم علیه السلام څخه اَزْوَاجًا څیځ وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا او بل پیدا کړی دی ده تاسے لره چارپایان رنگارنگ اصناف یا نران او څیځ یَذْرَؤُکُمْ فِیْهِ د پیروی او زیاتوی دے تاسے په دے توالد او تناسل کښ لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ نشته پشان دده هیڅ څیز او دا کاف زائد دے وَهُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ﴿۱۱﴾ اوده اوریدونکے لیدونکے دے دهرهغه چه اوریدهٔ اولیدهٔ شی لَهٗ مَقَالِیْدُ السَّمٰوٰتِ خاص هم دهٔ لره دی او په تصرف دده دهٔ کښ دی کلیکانے دخزانو د اسمانونو وَالْاَرْضِ او د زمکے یعنی کلیکانے د رزق چه اوبه ئے له اسمانه دی او نباتات ئے له زمکے دی یَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخ کوی دے روزی لِمَنْ یَّشَآءُ هرهغه چا لره چه اراده ئے وشی په مقتضای د مشیت وَیَقْدِرُ او چا لره چه تنګوی کمه ورکوی اِنَّهٗ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۱۲﴾ بیشکه چه دے په هرڅیز دانادے له استحقاق د بسط او د قبض شَرَعَ لَکُمْ بیان کړی او بنکاره کړی دی ده تاسے لره مِنَ الدِّیْنِ له دین څخه مَا وَصّٰی هغه څیز چه فرمائش کړے وو دهٔ بِهٖ نُوْحًا په هغه څیز سره نوح علیه السلام ته چه اول دے د انبیاؤ د شرائع وَّالَّذِیْٓ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ او بل هغه څیز چه رالیږلے دے موښږه تاته چه آخرئ د دوئ وَمَا وَصَّیْنَا بِهٖٓ اوبل هغه څیز چه فرمائش کړے وو موښږه په هغه څیز سره هغو انبیاؤ ته چه په دے میځ کښ دی چه دا دی اِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی وَعِیْسٰی یعنی دا درے واړه چه څښتنان دی د شرائعُ حاصل دا چه مقرر کړی او رالیږلی دی دهٔ تاسے لره دین د نوح او محمد علیهما السلام او دین دهغه انبیاؤ چه په دے میځ کښ دی له څښتنانو د شرائعُو هغو واړو ته یو امر مشترک له اصول د دین څخه ئے رالیږلی دی چه هغه اَنْ اَقِیْمُوا الدِّیْنَ دا دے چه برپا ئے کړئ دین چه هغه توحید او طاعت دے د خدائ او ایمان دے په رسولانو او په کتابونو دهٔ او په ورځ د آخرت او په توله هغو څیزونو چه سړے پرے مسلمان کیږی نو دا د توله وادیانو حد مشترک دے . او هرچه باقی شرائع دی . هغه سره مختلف دی لکه

چه وارد دے لِکل جعلنا منکم شرعة ومنهاجًا وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ اومهٔ تارپه تارکړیئ سره په سبب د اختلاف په هغه دین کښ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ لوی اوګران اوسمت دے په مشرکانو مَا تَدْعُوهُمْ هغه څیز چه بولے تهٔ دوئ إِلَيْهِ هغه څیز ته چه توحید د خدائ اونفی د شرك ده اللّٰه خدائ چه دے يَجْتَبِي إِلَيْهِ راکاږی اوراجمع کوی دے ځان ته یادغه دین ته مَنْ يَشَاءُ هر هغه څوك چه اراده کړی وشی ددهٔ د رابنکلو هغهٔ وَيَهْدِي إِلَيْهِ اوبراسروی دے ځان ته یادغه دین ته مَنْ يُنِيبُ ﴿۱۳﴾ هر هغه څوك چه مخ کوی طاعت ددهٔ ته یعنی هر څوك چه له غیر اعراض وکړه اومخ که دهٔ ته نوډے سمه لاره ورته بنائی وَمَا تَفَرَّقُوا اونهٔ ووتار په تارشوی پخوانی امتونه له قبول د دین لکه عاد او ثمود اومؤ تفکات یا اهل کتاب إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ چه راغلے وودوئ لره علم په دے چه دا تفرق کمراهی ده له اخباره درسولانو یا علم په حقیقت درسول علیه السلام له تورات اوله انجیل نودوئ هیڅ التفات ورته ونهٔ کړه بَغْيًا له جهته د هغه حسد اوعداوته اوتکبر یا له جهته د هغه طلب د دنیا اود عزت اود جاه چه واقع وو بَيْنَهُمْ ط په مابین د دوئ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ اوکهٔ چرے نه وے هغه کلمه سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ چه نمړه شوے ده له جانبه درب ستا په مهلت د عذاب اوپه تاخیر د جزا إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ترهغه وخته په نامه کړے شوے پورے چه هغه اخر د عمر د دوئ دے یا د ورځ د قیامت ده لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ط نوهر اُئینه حکم به کړے شوے وو په مابین د دوئ کښ په یوکنځ د مبطلانو اوپه خلاصی د محقانو سره وَإِنَّ الَّذِينَ اوبیشکه هغه مشرکان أُورِثُوا الْكِتَابَ چه ورکړے شوے دے تورات اوانجیل یاهغه اهل کتاب د زمانے درسول علیه السلام چه وس لره ورکړے شوے دے قرآن پس له کتاب خپل مِنْ بَعْدِهِمْ پس له پخوانیو امتونو لَفِي شَكٍّ مِنْهُ هر اُئینه واقع دی په شک کښ چه له دے دینه یا له قرآنه یا له رسول علیه السلام څخه دا سے شک مُرِيبٍ ﴿۱۴﴾ چه په اضطراب کښ اچوونکے دے فَلِذَٰلِكَ پس د پاره د دغے تفرقے چه موجب شوے ده پیدا کولو د انواع د کفر فَادْعُ ج پس وبولہ تهٔ دا خلق اتفاق ته په توحید اوپه دین د اسلام وَاسْتَقِمْ اومحکم ولاړ اوسه په دے دعوت كَمَا أُمِرْتَ ج لکه چه ماموره شوے ئے تهٔ روایت دے چه ولید بن مغیره رسول صلی اللّٰه

علیہ وسلم تہ وویل چہ له دے دینَ او دعونہ لاس واخله نو نیم مال خپل به درلرہ درکړم او شیبه بن مغیره ورته وویل چه بیرته دین دآبا وګمونږه ته راوګرځه نو خپله لور به درکړم نو نازل شُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ اوتابعداری مهٔ کوه دباطلو ارزوګانو دوئ بلکه کلک اوسه په خپل دین اودعوت وَقُلْ اٰمَنْتُ اووایه دوئ ته چه ایمان راوړے دے ما بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه چه رالیږلے دے خدائ مِنْ كِتٰبٍ ۚ له جنس دکتاب چه ماته رانغلے دے اوکهٔ نورو انبیاؤ ته یخوا لمانخه اوبه هغو ټولو کښ حکم اوامر رالیږلے دے خدائ په توحید اوپه نفی د شرک وَاُمِرْتُ اوبل مامورٌ شوے یم زهٔ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ ؕ په دے چه برابری کوم په مابین ستاسے کښ هم په حکوما توکښ اوهم په تبلیغ داحکاموکښ چه اشرافو اوارزلو سره یوړنګ معامله کوم په دے دواړو کښ ۔ اَللّٰهُ رَبُّنَا خدائ دے چه رب دے ځمونږه وَرَبُّكُمْ ؕ اورب دے ستاسے لَنَآ اَعْمَالُنَا مونږه لره دی عملونه ځمونږه یعنی جزائے وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ؕ اوتاسے لره دی عملونه ستاسے یعنی جزائے ۔ لَا حُجَّةَ نشته هیڅ ګډوډ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ؕ په مابین ځمونږه او په مابین ستاسے کښ ځکه چه حق ظاهر شوے دے نوحجت بازئ ته هیڅ حاجت نشته اوکهٔ چا انکار یاخلاف کاوو پس له دے نو هغه به له عناد اوله سرکشئ وی اَللّٰهُ خدائ چه دے يَجْمَعُ بَيْنَنَا ؕ جمع به وکا په مابین ځمونږه کښ یعنی مونږ اوتاسے به سره یوځائ کړه په قیامت دپاره وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ؕ (۱۵) اوهم دهٔ ته بیاورتلهٔ دی دهرچا وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ اوهرچه هغه کفار دی چه ګډوډ کوی دوئ فِى اللّٰهِ په خدائ کښ یعنی په دین دهٔ کښ مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه اسْتُجِيْبَ لَهٗ چه منلے شوے دے حکم دخدائ اوداخل شوی دی په دین داسلام کښ یاچه منلے ده خدائ دعاد رسول صلے الله علیه وسلم په اظهارولو دین په نصرت ددهٔ په وړځ دبدر یاچه منلے دے اهل کتابو نبوت د رسول صلے الله علیه وسلم په تورات کښ اوایمان ئے پرے راوړے دے حُجَّتُهُمْ داحِضَةٌ ؕ حجت ددوئ باطل دے عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد درب ددوئ پس له ظهوره دابیتو نوځکه چه دامحض عناد دے وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ اوپه دوئ غضب دے د خدائ له جهته دے باطلے مجادلے وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ (۱۶) اودوئ لره سخت عذاب مقرر دے اَللّٰهُ الَّذِىْٓ خدائ هغه قادرمطلق دے اَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ چه رالیږلے دے دهٔ کتاب چه قرآن دے

پہ حق وَالْمِيْزَانَ اور الیرلے دہ دۀ تلہ چہ خرڅوئکے او اختستو نکے دواړہ نفصافی سنی وَمَا يُدْرِيْكَ اوخۀ ځیز خبر کړے ئے تۀ پہ دے چہ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ (۱۷) بنائی چہ قیامت نزدے وی يَسْتَعْجِلُ بِهَا جلق کوی پہ راتلو د قیامت الَّذِيْنَ هغہ کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا چہ نۀ راوړی ایمان پہ هغہ قیامت وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهغہ کسان چہ ایمان ئے راوړیدلے پہ خدائ پہ رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم پہ قیامت مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا لاپہ ویرہ دی لہ قیامت اوحیران چہ خدائ بہ څرنګہ معاملہ راسرہ وکا وَيَعْلَمُوْنَ او پوهیږی دوئ اَنَّهَا الْحَقُّ پہ دے چہ دا قیامت حق دے اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ اوړئ چہ بیشکہ هغہ کسان يُمَارُوْنَ چہ جګړہ کوی دوئ فِي السَّاعَةِ پہ راتلو د قیامت کښ اووائی چہ قیامت لہ سرہ نشتہ لَفِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ (۱۸) هر اړخینہ پہ هغہ ګمراهئ کښ دی چہ لرے دہ لہ صوابہ اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ خدائ مهربان دے پہ بندګانو خپلو ځکہ ئے پہ لوږہ نۀ هلاکوی پہ سبب د ګناهونو يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ روزی ورکوی دے هرهغہ چا لرہ چہ اراده ئے وشی وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ (۱۹) اودے قوی دے پہ مراد خپل کښ غالب دے پہ حکم او پہ اراده خپلہ کښ مَنْ كَانَ هغہ څوک چہ وی دے يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ چہ غواړی پہ عمل خپل سرہ کښت د اخرت یعنی ثواب ئے نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ نو زیاتوالے کوو مونږہ دۀ لرہ پہ کښت دہ ئے کښ دا سے چہ یوہ حسنہ پرلسو ورلرہ سنبکو یا پہ اوۀ سوہ یا زیات وَمَنْ كَانَ اوهغہ څوک چہ وی دے يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا چہ غواړی پہ عمل خپل سرہ کښت د دنیا یعنی مال متاع یا عزت جاہ یا بل کوم مطلب لہ مطالبو دنیا نُؤْتِهٖ مِنْهَا نو ورکوو مونږہ دۀ لرہ ترهغہ قدر چہ مونږہ ورلرہ مقرر کړے وی بے زیادتہ او نقصانہ وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ او نۀ وی دۀ لرہ پہ اخرت مِنْ نَّصِيْبٍ (۲۰) هیڅ قدر برخہ ځکہ چہ حدیث دے انما الاعمال بالنیات وانما لامرءٍ ما نوی (الحدیث) اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا بلکہ دی دغہ کفارو دمکے لرہ شریکان پہ معصیت کښ لہ شیطانانو شَرَعُوْا لَهُمْ چہ ساز کړی دی هغو دوئ لرہ یعنی بنائسته کړی ئے دی پہ زړونو دوئ کښ مِّنَ الدِّيْنِ لہ دین د جاهلیت مَا لَمْ يَاْذَنْۢ هغہ چہ امر نۀ دے کړے بِهِ اللّٰهُ ۚ پہ هغہ څیز خدائ لکہ شرک او انکار لہ بعث او عمل د پاره د دنیا او تحریم د بحیرے او سائبے او دے نورهم وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ اوکۀ چرے نۀ وے کلمہ د فصل یعنی قضاء سابق پہ تاخیر د جزا

یا دله وعده چه فیصله به په ورځ د قیامت کبږی لَقُضِیَ بَیْنَهُمْ ما نو هرا ښیه حکم به کړے شوے وو په مابین د مؤمنانو او د کفارو یا د مشرکانو او د شرکاؤ د دوئ کښ وَاِنَّ الظّٰلِمِیْنَ او بیشکه ظالمان کافران چه دی لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ (۲۱) مقرر دے دوئ لره عذاب دردناک تَرَی الظّٰلِمِیْنَ وینے به ته مشرکان په ورځ د قیامت مُشْفِقِیْنَ ویریدونکی مِمَّا کَسَبُوْا له جهته د هغو بدیو چه کړے وی دوئ په دنیا کښ وَهُوَ او حال دا چه وبال د هغو افعالو او اقوالو د دوئ وَاقِعٌ بِهِمْ ط راپریوتونکے دے په دوئ یعنی رسیدونکے دے دوئ ته کله چه ویریږی او کله نه ویریږی وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هر چه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی د نیکو فِیْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ج په هغو د پرو غورځیدلو نو د جنتو نو کښ به وی لَهُمْ مَّا یَشَآءُوْنَ وی دوئ لره په دے جنت کښ هر هغه نعمت چه غواړی او اړ ښ وکوی دوئ هر وخت تیار او ثابت عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد د رب د دوئ ذٰلِكَ دا کار مت چه بیرته ذکر شویدے د پاره د جنتیانو هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِیْرُ (۲۲) دغه لوی فضل دے چه خدائ په خپلو بندګانو پیښ ور کړے دے چه نسبت هغه ته دا فانی نعمتونه د دنیا په حقیر د دوئ ذٰلِكَ الَّذِیْ دا ثواب هغه دے یُبَشِّرُ اللّٰهُ چه زیږے کوی خدائ او په پکښ محذوف دے عِبَادَهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا په هغو بندګانو خپلو چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ط او عملونه کوی دوئ د نیکو روایت دے چه مشرکانو به یو بل ته سره ویل چه څوک له تلے خبر دے چه محمد صلے الله علیه وسلم چه دا دعوت او تبلیغ کوی په دے له چا اُجرت هم غواړی او کله نه غواړی نو نازل شو قُلْ ووایه دوئ ته لَآ اَسْـَٔلُكُمْ چه نه غواړم زه له تاسے عَلَیْهِ اَجْرًا په دے پیغام رسولو اُجرت اِلَّا الْمَوَدَّةَ لیکن دوستی غواړم فِی الْقُرْبٰی ط په خپلوئ کښ حاصل د اچه په قریښو کښ هیڅوک د اسے نشته چه حُما د خپلوئ تاردُ ته نه دے ورغلے نو زه له دوئ اُجرت د تبلیغ نه غواړم اما پالل د هغے صله رحمئ ترے غواړم چه حُما او د دوئ په مینځ کښ د هغه پخیله د هم دشمنی راسره نه کوی او د نورو دشمنانو په باب کښ د هم مدګاری راسره کوی وَمَنْ یَّقْتَرِفْ حَسَنَةً اوهر څوک چه د کومه نیکی خصوصًا محبت د ال د رسول صلے الله علیه وسلم نَّزِدْ له نو زیاتوو مونږه د ده لره فِیْهَا حُسْنًا ط په هغه حسنه کښ بنائست په مضاعف کولو د ثواب د هغے سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائ

غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾ بخښونکے دے دگناہ دعاصیانو قبلونکے دے دطاعت دمطیعانو اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى بلکه وائی دا کفارچه له خانه ترلے دے یعنی محمد صلے الله علیه وسلم عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا یه خدائ دروغ یه دعوی دنبوت یا په نزول دقرآن فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ پس که اراده وشی دخدائ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ط نو مهر به کیږدی دے په زړهٔ ستا دصبر نوخفکان به نهٔ درځی په ایذا ددوئ سره وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ اومحوه کوی خدائ باطل وَيُحِقُّ الْحَقَّ اوثابت او بنکاره کوی حق بِكَلِمٰتِهٖ ط په کلماتو خپلو سره چه قرآن دے اِنَّهٗ بیشکه چه دے عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾ بنهٔ آګاه دے په هر هغه چه په زړونو کښ دی یعنی ستاراستی اودوئ بدګمانی ورته معلوم دی وَهُوَ الَّذِيْ اودے هغه مهربان دے چه محض په فضل سره يَقْبَلُ التَّوْبَةَ قبلوی توبه عَنْ عِبَادِهٖ له بندګانو خپلو هر کله چه دوئ تائبان شی وَيَعْفُوْا اوعفو کوی دے عَنِ السَّيِّاٰتِ له بدیو دوئ پس له پښیمانۍ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ اوپوهیږی دے په هر هغه کارچه کوئ ئے تاسے کهٔ گناه وی کهٔ توبه وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او قبلوی دے سوال اوطاعت دهغوکسانوچه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دوئ دنیکو وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ط اوزیادت ورکوی دے دغه مؤمنانو سائلانو لره له فضله خپله یعنی هر هغه چه دوئ غوښتی وی هغه خوورلره ورکاندۍ اوددوئ له مسئول تیرے هم ورکوی له خپله فضل وَالْكٰفِرُوْنَ اوهر چه کافران دی لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿۲۶﴾ دے دوئ لره عذاب سخت وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ اوکهٔ پرے ارتنکړے وے خدائ روزی لِعِبَادِهٖ دپاره دبندګانو خپلو یعنی کهٔ روزی ئے پرے پراخه کړے وے او ټول ئے غنیان کړی وے لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ نوهر اُلیښه ظلم اوبغی به برپائ کړے وه دوئ په زمکه کښ په تکبر اوپه فساد سره وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ او لیکن رالیږی دے روزی دوئ لره بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ط په هغه اندازه سره چه اراده وی دده حکمت بالغه سره اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ بیشکه چه دے په احوالو دبندګانو خپلو خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ بنهٔ خبردار بیناد ے چه هر یوه سره څهٔ باندهٔ دی اوخوباندهٔ دی اوکوم وخت باندهٔ دی وَهُوَ الَّذِيْ اودے هغه منان دے چه محض په کرم خپل سره يُنَزِّلُ الْغَيْثَ رالیږی دے باران مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا پس له هغه چه نا امیده شی دوئ له وریدلوئے وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ط اوخوروی رحمت خپل

هم په ایا دیواوهم په عزم ونیواوهم په واغونو وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ (۲۸) اودے دوست دے دمؤمنانو ستایش کونکے دے دحامد انو وَمِنْ اٰيٰتِهٖ اوبعضوله نبنود قدرته ددۀ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ پیدا ئښت داسمانونو اودزمکے وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا اوپیدا ئښت دهرهغه څیز کښ چه شیندلی دی ده په دے دواړو کښ مِنْ دَآبَّةٍ له زنده سړو خوزیدو وکیلو لکه ملائک اوجن او انس اوباقی ټول حیوانات وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ اودے په بیا راجمع کولو ددوئ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ (۲۹) په هرهغه وخت چه اراده ئے وشی هغه قادر دے اوغیر له ددۀ نورهرڅوك له دے عاجزدی وَمَآ اَصَابَكُمْ اوهرهغه چه رسیږی تاسے ته مِّنْ مُّصِيْبَةٍ کوم قسم غم اے مؤمنانو یه ځان یا په اهل یا په مال کښ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ پس په شامت دهغوګناهونو وی چه کسب ئے کړے دے لاسونو ستاسے اوداف جزائیه ده یا متضمن دے معنی دشرط لره وَيَعْفُوْا اوعفوه کوی او تیریږی دے عَنْ كَثِيْرٍ (۳۰) له زیاتو ګناهونو ستاسے اوکۀ کوم بے ګناه ته کله څۀ مصیبت ورسیږی نوهغه به موجب دزیاتوالی داجر ددۀ وی فائدہ نقل دے چه علی کرم الله وجهه ویلی دی چه په تمام قرآن کښ داځائ د پیرامید دے ځکه چه په دے آیت کښ رب ویلی دی چه مؤمن ته په سبب د بعض ګناهونو مصیبت رسوم اوپه مصیبت ئے ترے رڅوم اودډیرو ګناهونو عفو ورته کوم نودے منزه بلند شان دے له دے چه یوکرت به ئے په دنیا کښ ترے عفو کړے وی اوپه عقبیٰ به ئے ببا پرے نیسی داخو حال وو د مؤمنانو اوس دا حال دکفارو وائی وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ تاسے اے کافرانو عاجز کوونکی دخدائ له جاری کولو دامرخپل اوله عذاب ورکولو مستحقانو لره فِي الْاَرْضِ ځمکے په زمکه وَمَا لَكُمْ اونشته تاسے لره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر له خدائ مِنْ وَّلِيٍّ هیڅوك کارساز په دنیا کښ وَّلَا نَصِيْرٍ (۳۱) اونۀ کوم یارمدد کار چه خلاص دوئ تاسے لره عذاب په عقبیٰ کښ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ اوبل له نبنود قدرته اود قوته ددۀ روانے بیړئ اوجهازونه دی فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ (۳۲) په سیند کښ لکه غرونه په لوی والی کښ اِنْ يَّشَاْ كۀ چرے اراده وشی ددۀ يُسْكِنِ الرِّيْحَ نو به ودروی دے دا باد چه دغه جهازونه پرے روان دی فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ پس شی به دا جهازونه ټول ولاړ په یوځائ عَلٰى ظَهْرِهٖ ط په شا د دغه اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دے جاری کیدلو د باد ونو او په روانیدلو د جهازونو

کښ لَاٰیٰتٍ هر اُسینه لوئی نښے دی لِکُلِّ صَبَّارٍ دپاره دهر هغه چا چه د پرصبر کونکی وی په نزد د رحمتونو شَکُوْرٍ ﴿۳۳﴾ د پرشکر کونکی په نزد د نعمتونو اَوْ یُوْبِقْهُنَّ یا به هلاک کا دے دا بیړۍ اوجهازونه سره له اهلو دمیانو په غرق سره په باد دطوفان بِمَا کَسَبُوْا په سبب دهغو گناهونو چه دا د جهازونو خلق ئے کوی وَیَعْفُ اوعفو کوی دے عَنْ کَثِیْرٍ ﴿۳۴﴾ له د پرو گناهونو د دوئ حُکمه ئے نه فرتوی فی الحال په سیند کښ اوکه ارادہ وشی دده نوغرق به کا دا کفار یو دپاره دده چه انتقار ترے واخلی وَیَعْلَمَ الَّذِیْنَ اوبل دپاره دده چه پوهه شی په وخت د نزول دعذاب کښ هغه کسان یُجَادِلُوْنَ فِیْ اٰیٰتِنَا چه جگړه کوی دوئ په اٰیتونو گمونږه کښ د پاره د ابطال او د دفع دهغو په دے چه مَا لَهُمْ نشته دوئ لره مِّنْ مَّحِیْصٍ ﴿۳۵﴾ هیڅ ځائ د تیښتے له عذابه بیا وائ مؤمنانو ته چه فَمَآ اُوْتِیْتُمْ پس هر هغه چه درکړے شوے دے تاسے لره مِّنْ شَیْءٍ له کوم شیزه څخه نو لکه څامن اونور تول مال شئ د دے جهان فَمَتَاعُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا پس هغه معاش دے د دے نزدے ژوندون وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ او هغه جنتونه اونعمتونه چه خدائ څخه دی خَیْرٌ وَّاَبْقٰی هغه هم غوره دی اوهم ترے دپره پائیدونکی دی لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا د پاره د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ ﴿۳۶﴾ او په رب خپل توکل کوی وَالَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ اوبل هغه کسان چه څان ساتی دوئ کَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ له هغو غټو گناه چه اول ئے شرک دے اوبیا پسے هر هغه گناه دے چه موجب د حد وی وَالْفَوَاحِشَ اوله نورو بدو کارونو وَاِذَا مَا غَضِبُوْا او په هغه وخت چه په غضب شی دوئ په چا په سبب د کوم مکروه هُمْ یَغْفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ دوئ بخښنه کوی او تیریږی له هغه تقصیره وَالَّذِیْنَ اوبل هغه کسان اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ چه دعوت ئے منلے دے د رب خپل مراد نصارٰی دی چه رسول صلی اللّٰه علیه وسلم توحید اوعبادت درب ته وبلل او دوئ فِی الْحَال په رغبت سره قبول کړو وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ تاس اوبرپائ لری دوئ مونځ خپل یعنی ادا کوی ئے سره له تولو شرائطو او حقوقو وَاَمْرُهُمْ اوکار د دوئ چه دے شُوْرٰی بَیْنَهُمْ مشورت او مصلحت وی په خپلو کښ سره یعنی یوازے په خپل فکر هیڅوک ترے کوم کار نه کوی خوچه تول پرے جمع شوی نه وی او شوریٰ مصدر دے لکه فتیا په معنیٰ د تشاور وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او بعضے له هغو اموالو چه درکړی دی مونږه دوئ لره

يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۸﴾ ورکول کوی دوئ په لارے دخدائ کښ وَالَّذِيْنَ اوبل هغه كَاِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ په هغه وخت چه وسیږی دوئ ته ظلم له طرفه دکفارو هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ نو دوئ انتقام اخلی له هرهغه چا چه ظلم ئے پرے کړے وی په قدر دظلم دهغهٔ اوحلم اوانتصار دواړه محمودی اوحد دانتصار دادے لکه چه پخپله وائی وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ اوجزاد بدکارده سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا چ بدکارده خوچه په مثل د هغووی اوزیات ترے نهٔ وی **فائده** دا اوله سیئه خو په واقعه کښ سیئه ده اوهرچه دوئمه ده اگرکهٔ هغه هم فی نفسها سیئه وه لیکن اوس حسنه شوے ده لغیرها اودلته سیئه بدله شویده یادپاره دمشابهت له هغ دړومبی سره په صورت کښ لکه وَاِنْ عُوْقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا کښ اویاچه په جزاد سیئه کښ واقع شویده اویاچه په چانازل شوے ده هغه پرے خفه کیږی اویاچه کهٔ ترے نهٔ وے نوداد ونُم به سیئه وه **نکته** په تسمیه دوئم کښ په سیئے سره اشارت دے دیته چه عفو اولی ده فَمَنْ عَفَا پس هرچا چه عفوه وکړه له بل مسلمان اوانتقام ئے ترک کړو وَاَصْلَحَ اوصلح ئے وکړه له خپل ظالم سره فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ پس اجردهٔ په خدائ دے اِنَّهٗ بیشکه خدائ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۰﴾ نه خوښوی ظالمان یعنی هغه کسان چه ابتداء کوی په ظلم وَلَمَنِ انْتَصَرَ اوهرانسانه هغه څوك چه واخلی دے حق خپل بَعْدَ ظُلْمِهٖ پس له مظلوم کیدو دهٔ یعنی پس له هغه چه اول ظلم په دهٔ وکړے شی اوالفظ ظلم مصدر دے مضاف مفعول خپل ته فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان چه دی چه خپل حق ئے اخستے دے مَا عَلَيْهِمْ نشته په دوئ په هے باب کښ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۱﴾ هیڅ لاره یعنی نه دعقاب اونه دعتاب اوند دملامت دهیڅا یا نشته په دوئ هیڅ وبال څکه چه خپل حق ئے اخستے دے اِنَّمَا السَّبِيْلُ بیشکه هم داخبره ده چه وبال چه دے عَلَى الَّذِيْنَ خاص په هغو کسانو دے يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ چه ظلم کوی ابتداءً دوئ په خلقو وَيَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ اوتیریږی دوئ له حده په زمکه کښ په فساد اوبه تکبر اوپه لویئ سره بِغَيْرِ الْحَقِّ ط بے حق یعنی بے موجب دظلم اودبغی لکه هغه تیرچه وَاُولٰٓئِكَ داکسان چه موصوف دی په ظلم اوپه بغی سره لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۲﴾ مقرر دے دوئ لره عذاب دردناك وَلَمَنْ صَبَرَ اوهرانسانه هرهغه څوك چه صبر وکړ په ظلم اوپه ایذاء دخلقو وَغَفَرَ اوبخښنه ئے وکړه دوئ ته دمظلوم دوئ اوانتقام ئے تر

وانهٗ خست اِنَّ ذٰلِكَ نو بیشکه دا صبر او بخښنه چه ده لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۴۳﴾ هر ا ئینه له هغو خورو کارونو څخه چه باندې دی هر عاقل لره چه په ځان ډ لازم کاندا وهیڅوک و نه پریږدی په اختیار ولو دانتقام سره او دلته عائد حذف دی څه مِنْهُ دے وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ او هر هغه څوك چه ګمراه کړهٗ خدائ فَمَا لَهٗ پس نه به وی دهٗ لره مِنْ وَّلِيٍّ هیڅ دوست لاره بنو دونکے مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ پس له ګمراه کولو دخدائ دهٗ تہ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ او وینے به تهٗ ظالمان یعنی کافران لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ په هغه وخت چه وینی دوئ عذاب په ورڅ د قیامت يَقُوْلُوْنَ چه وائی به دوئ له ډیره خوفه هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ چه ایا شته بیرته تللو د دنیا ته مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾ کومه لاره چه بیرته لاړشو او تدارك د مافات عمله وکړو وَتَرٰىهُمْ او وینے به تهٗ دوئ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا چه عرض کاوهٗ شی دوئ په دغه اور باندے چه له لفظ دعذاب معلومیږی خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ چه لړزان ترسان حقیران به وی دوئ له خوارئ اوله رسوایئ يَنْظُرُوْنَ چه ګوری به دوئ دغه اور تہ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ په ضعیف نظر سره یعنی پټ تر بنڑ ولاندے له ډیره هیبته وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا او وبه وائی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے په هغه وخت چه د ابد حال ئے ولیدهٗ د دوئ چه اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ بیشکه زیانکاران چه دی الَّذِيْنَ هغه کسان دی خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه زیان ئے رسولے دے ځانونو خپلوته وَاَهْلِيْهِمْ او عیالونو خپلوته يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ په ورڅ د قیامت په خلود فی النار او په حرمان له نعمتونو د جنت اوله دیدار اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ ګوری چه بیشکه ظالمان یعنی مشرکان چه دی فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿۴۵﴾ په هغه عذاب کښ به وی چه هیشه به پیوست وی له دوئ سره وَمَا كَانَ لَهُمْ اونهٗ به وی دے کافرانو لره مِّنْ اَوْلِيَآءَ هیڅوك له دوستانو نچه په وخت د عذاب کښ يَنْصُرُوْنَهُمْ مدد کاری وکړه دوئ له دغه کافرانو سره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ غیر له خدائ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ او هر هغه څوك چه ګمراه کړے دے کا خدائ فَمَا لَهٗ پس نه به وی دهٗ لره مِنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۶﴾ هیڅ لاره خدصی ته اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ قبوله کړئ اے خلقو بلنه د رب خپل ایمان او توحید ته مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ بوڅه مخ چه راځی هغه ورځ لَا مَرَدَّ لَهٗ چه نشته هیڅ قسم رد او دفع هغه لره

عه یعنی په موندلو دهغو نیکو چه له موږه فوت شوی دی په دنیا کښ ۳ عمه یعنی په همیشه والی په اوکښل او پ ب نصیبوالی له نعمتونو ۱۲

کتبه: محمد صادق زهیر عفی عنه

مِنَ اللّٰهِ ط له جانبه دخدائ یعنی چه یوکرت هغه ورځ راغله په امر دخدائ سره نو بیائے هیڅوک بیرته
کرځولے نۀ شی مَالَكُمْ نه به وی تاسے لره مِّنْ مَّلْجَاٍ هیڅ پناه او کریزگاه له عذابه يَّوْمَئِذٍ په دغه
ورځ وَّ مَا لَكُمْ اونۀ به وی تاسے لره مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿۴۷﴾ هیڅ لاره انکارته چه منکران شی له بدیوخپلو
ځکه چه هم کرام الکاتبین به قول ښکلی وی په اعمال ناموکښ اوهم بستاسے خپل اندامونه
پرے شاهدی ولوی اونکیر انکارته وائی فَاِنْ اَعْرَضُوْا پس که چرے څنګ وکړۀ دے مشرکانو
اوداستادعوت ئے قبول نۀ کړۀ فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ پس نۀ ئے لیږلے مونږه تۀ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا په دوئ
نگهبان چه اعمال ددوئ به ساتے اوددوئ په مطلب به ئے برابروے اِنْ عَلَيْكَ نه دے پرتا بل
هیڅ کار اِلَّا الْبَلٰغُ ط مګر تش پیغام رسول قدرے دی اوداپخپله امره په جهاد دوو وَاِنَّآ اوبیشکه
مونږه چه اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ په هغه وخت چه وڅکو مونږه جنس انسان ته مِنَّا رَحْمَةً
له خپله جانبه کوم قسم مهربانی لکه غنا یا صحت فَرِحَ بِهَا نو خوشحاله شی دوئ په هغه نعمت
وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ اوکه چرے ورسیږی دے اددمیانو نه کوم قسم بلا لکه فقر یا مرض بِمَا
قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ په سبب دهغو بدیوچه پخوا لیږلی دی لاسونو ددوئ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ پس بیشکه
چه انسان په دغه وخت کښ كَفُوْرٌ ﴿۴۸﴾ ناشکره دے چه هغه نعمت بیخی هیر کاندے او سختی زحمت
هر وخت یادوی لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ خاص خدائ لره ده بادشاهی داسمانونو نو وَالْاَرْضِ ط او د
زمکے يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط پیدا کوی دهرچه اراده ئے وشی له اولاده نخه يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ ورکوی
هر هغه چاله چه اراده ئے وشی اِنَاثًا یوازے نیځے یعنی بے ځامنو لکه لوط علیه السلام
وَيَهَبُ اوورکوی دے لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿۴۹﴾ هر هغه چاله چه اراده ئے وشی یوالے نارینه
یعنی ځامن بے لونږه لکه ابراهیم علیه السلام اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا یا جفت یعنی
کډ وډ ورکوی دے دا اولاد هر هغه چاله چه اراده ئے وشی یعنی ځامن اولونږه دواړه
سره کډ وډ لکه رسول علیه السلام وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ اوګرځوی دهر هغه څوک چه اراده
ئے وشی عَقِيْمًا شندے اولاد لکه یحیی علیه السلام اِنَّهٗ عَلِيْمٌ بیشکه چه دے دانا دے
په مصلحت دهر چا قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ قادر دے په هر هغه چه اراده ئے وشی روایت دے

چه یهود و رسول الله صلے الله علیه وسلم ته وویل چه خدائ له تاسره ولے بے واسطے خبرے نه کوی چه په ستر کوئے و وینے لکه موسیٰ علیه السلام چه به لیده خدائ نو نازل شهٔ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اونه بنائی اونهٔ دی روا هیڅ اوسی لره اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ داچه خبرے وکاله دهٔ سره خدائ په دنیا کښ دا سے چه وینی ئے مگر په یوه طریقه له دریو طریقو چه اول ترے وحی ده لکه چه وائی اِلَّا وَحْيًا مگر په وحی سره اووحی بیا په څوقسمه ده یوداچه خفی کلام په سرعت سره واوریدے شی د زړه په غوږ و نو اوبل داچه الهام وشی دا سے چه په زړهٔ کښ واچولے شی دخدائ له طرفه اوبل داچه خوب ولیدے شی لکه خوب د ابراهیم علیه السلام شهٔ په ذبح دولد کښ لکه حدیث دے چه رؤیا الانبیاء وحیٌ۔ او دوئم ترے کلام دے اما پرده د وړ وستو لکه چه وائی اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ یا چه خبرے وړ سره وکا د وړ وستو د پردے لکه چه موسیٰ علیه السلام سره۔ او دریم ترے لیږل دی دا ستاذی یعنی د مَلَكٌ لکه چه وائی اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا یا چه ولیږی دے کوم استاذے له ملائکو لکه جبریل علیه السلام فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ پس پیغام یوسی دا ملک هغهٔ په اذن د خدائ سره مَا يَشَآءُ ط هغه چه اراده وی د دهٔ اِنَّهٗ عَلِيٌّ بیشکه چه دے بلند شان دے لږ صفاتو د حدوثو حَكِيْمٌ ﴿۵۱﴾ پُرحکمت دے په صنعت خپل کښ وَكَذٰلِكَ اوهم دا لکه چه وحی کړے وه مونږه نور پیغمبرانو ته پخواله تا اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ راليږلے دے مونږه تاته رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا روح په امر خپل سره یعنی قرآن چه پرے ژوندی کیږی زړونه لکه بدن په روح سره یا جبریل علیه السلام مَا كُنْتَ تَدْرِيْ نهٔ وے تهٔ دا سے چه پوهیدے به پخواله وحی په دے چه مَا الْكِتٰبُ څهٔ څیز دے کتاب یعنی قرآن وَلَا الْاِيْمَانُ اونهٔ په دے چه څهٔ څیز دے ایمان یعنی شریعت وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ اولیکن گرځولے دے مونږه دا روح یا دا کتاب یا دا ایمان نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ یوه رڼا چه سمه لار بنایو مونږه په دهٔ سره مَنْ نَّشَآءُ ط هغه چا ته چه اراده وشی مونږه مِنْ عِبَادِنَا له بندګانو خپلو په توفیق د قبول سره وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اوبیشکه چه ته هرائینه بولے خلق په دے وحی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۲﴾ سمے لارے ته چه اسلام دے صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لاره د هغه خدائ اوډا

عه یعنی پښه خبره په جلتیٔ سره واوریدے شی ۱۲

بدل دے له یخوانی صراط لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ چه خاص هم دهٔ لره دی هر هغه چه په اسمانونو کښ دی وَ مَا فِی الْاَرْضِ ط اوهغه چه په زمکه کښ دی هم خلقًا اوهم مِلکًا- اَلَآ اِلَی اللّٰهِ واورئ داچه خاص خدائ ته تَصِیْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۴۳﴾ بیرته به کرزی ټول کارونه د خلقو به قیامت او په دے کښ وعدا و وعید دے

سُوْرَةُ الزخرف مکیة (۴۳) ۸۹ آیاتها رکوعها

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

حٰمٓ ﴿۱﴾ دے د بیان یخوا تیر شوے دے یعنی قسم دے په هر هغه چه مراد دے له دے مقطعاتو وَالْکِتٰبِ الْمُبِیْنِ ﴿۲﴾ اوبل قسم دے په دے کتاب یعنی په قرآن چه بنکاره کوونکے دے د لارے د هدایت اود هرهغه چه احتیاج ورته پیښیږی له احکامو د شریعت اوجواب دقسم داد ے اِنَّا جَعَلْنٰهُ بیشکه مونږه چه یو کړ کولے دے مونږه دا کتاب قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا قرآن عربی یعنے لوستلے شوے په ژبه د عربو لَّعَلَّكُمْ دپاره د دے چه بنائی اے اهل د مکے تَعْقِلُوْنَ ﴿۳﴾ چه پوهه شئ تاسے په معانیو د دهٔ اوفائده ترے واخلئ وَاِنَّهٗ اوبیشکه چه دا قرآن فِیْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ په اصل د هر کتاب د سماوی کښ یعنی په لوح محفوظ کښ چه سا تلے شوے دے له تغیر تبدل لَدَیْنَا مونږ خو لَعَلِیٌّ هر اُلتینه ډیر بلند شان دے په تو لو کتبو سماویه وکښ حُكِیْمٌ ﴿۴﴾ څښتن د حکمت بالغه دے یا داسے محکم دے چه له سره نسخ نهٔ لری اَفَنَضْرِبُ ایا پس حصار به کړو مونږه عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا له تاسے داپند چه قرآن دے په حصار و لوسره پس نو امر او نهی به د رته نهٔ کړو اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِیْنَ ﴿۵﴾ پوله د مسرفانو اوه اصفحًا یا مفعول مطلق دے د نضرب من غیر لفظه او یا مفعول لهٔ دے اود استهزا انکاری دے یعنی له جهته د بشرك یا د اعراض او تکذیب ستاسے مونږه دا نزال د دے قرآن نهٔ موقوف کوو بلکه په تاسے الزام د دے حجت خامخا کوو بیا د پاره د تسلئ د رسول صلے اللّٰه علیه وسلم وائی چه وَكَمْ اَرْسَلْنَا او څومره لیږلی دی مونږه پخواله تا مِنْ نَّبِیٍّ له پیغمبرانو علیهم السلام فِی الْاَوَّلِیْنَ ﴿۶﴾ په پخوانیو اُمتو کښ او عادت د دوئ داوو چه وَمَا یَاْتِیْهِمْ اونه به برابرتهٔ د دوئ

لره مِنْ نَّبِیٍّ هیڅ پیغمبران له دے پیغمبرانو اِلَّا کَانُوْا مګر چه وو به دوئ بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ⑦ چه په هغهٔ پورے مسخره به ئے کوے فَاَهْلَكْنَآ پس بیا هلاك به کړهٔ مونږه اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا هغه سخت تردد وی له جهته دقوته یعنی مشران ئے سره له وَّمَضٰى او تیرشوی دی څو څائ یه قرآن کښ مَثَلُ الْاَوَّلِیْنَ ⑧ قصه د پخوانیو چه دوئ به له پیغمبرانو سره څهٔ کړی وو او بیا په اخر کښ به له دوئ سره مونږه څهٔ کړی وو نوتهٔ هم اوس په استهزاء د قوم خپل مُخفه کیږه وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او هرا ئینه کهٔ چرے و پوښتے ته دا قوم خپل له دے چه مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ چا پیدا کړی دی دا اسمانونه وَالْاَرْضَ اودا زمکه لَیَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ نو هرا ئینه وبه وائی دوئ چه پیدا کړی دی دا تول الْعَزِیْزُ العَلِیْمُ ⑨ الَّذِیْ هغه خدائ غالب دانا جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ چه گرځولے ئے ده تاسے لره زمکه مَهْدًا بچاونړه چه تاسے پرے خپل کدران اومعاش کوئ وَّجَعَلَ لَكُمْ او بیا گرځولے ده دهٔ تاسے لره فِیْهَا سُبُلًا په دے زمکه کښ لاړے لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ⑩ بنائ چه تاسے سم اوبرابر لارشی هغو اوطانونو له په وخت د سفر کښ چه حاجت وی ورته ستاسے وَالَّذِیْ نَزَّلَ اوهغه خدائ چه راکوزے کړے دی ده مِنَ السَّمَآءِ له طرفه داسمانه مَآءًۢ بِقَدَرٍ اوبهٔ په قدر د حاجت اودمصلحت سره نه کم اونه زیات فَاَنْشَرْنَا بِهٖ پس ژوندی کړی دی مونږه په هغه اوبو سره بَلْدَةً مَّیْتًا هغه کلے یعنی مکان چه مړه وی یعنی چه وچ کلک وی بے ګیاه وی كَذٰلِكَ په مثل د دغه ژوندی کولو تُخْرَجُوْنَ ⑪ راوبه ویستلے شئ تاسے هم له قبرونو ژوندی وَالَّذِیْ اوهغه خدائ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ کُلَّهَا چه پیدا کړی دی دهٔ تاسے لره وَجَعَلَ لَكُمْ اوجوړے ئے کړے تاسے لره مسخر او تابع والے د څیزد سورلئ دے مِنَ الْفُلْكِ له بیړیو اوله جهازونو وَالْاَنْعَامِ اوله چارپایانو مَا تَرْكَبُوْنَ ⑫ هغه چه سوریږئ پرے تاسے په لوندہ او په وچه کښ اودواړه ئے پیدا کړی دی تاسے لره لِتَسْتَوٗا دپاره د دے چه سم برابر کښئ تاسے عَلٰى ظُهُوْرِهٖ په شاګانو د هر یو فلك اوله انعام په وخت د سورلئ کښ ثُمَّ تَذْكُرُوْا بیا چه یاد کړئ تاسے په زړونو خپلو کښ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ نعمت د رب خپل چه تسخیر اوتذلیل د مرکب دے اِذَا اسْتَوَیْتُمْ په هغه وخت چه سم برابر کښاستئ تاسے عَلَیْهِ په دهٔ باندے وَتَقُوْلُوْا اوبیا چه ووایئ تاسے پرخوے

خپلے دا سے چہ سُبۡحٰنَ الَّذِیۡ پاکی دہ هغه خدائ لره سَخَّرَ لَنَا هٰذَا اچه مسخر کړی دی دۀ مونږ ته دا مَرکب چه هم په بحر او هم په برکښ قطع د مسافت پرے کوو وَمَا كُنَّا اونهٔ وو مونږه لَهٗ مُقۡرِنِيۡنَ ﴿۱۳﴾ دے مرکب لره په ضبط کښ راوستونکی اوخپل فرمان بردار کونکی وَاِنَّاۤ او بیشکه مونږ چه یو اِلٰى رَبِّنَا رب خپل تہ لَمُنۡقَلِبُوۡنَ ﴿۱۴﴾ هر اُئینه سواره بیرته ورتلونکی یو په جناوره په اخر د عمر کښ چه هغه اخر مرکب دے په دنیا کښ وَجَعَلُوۡا لَهٗ اوګرځولے او مقرر کړے دے دے کافرانو خدائ لره مِنۡ عِبَادِهٖ له بندګانو د دۀ جُزۡءًا جُزء یعنی پارچه ځکه چه دوئ وائی چه ملائک لونږه دی د خدائ او ولد خو جزء او پارچه وی د والد خپل او تعجب دے له دۓ حماقته د دے جاهلانو چه پس له اقراره د دوئ په خالقیت او په عزت او په علم د دۀ اثبات د ولد کوی د دۀ لره او په دے نه پوهیږی چه ولادت خوله خواصو د اجسادو دے او دے خو خالق د اجسامو اِنَّ الۡاِنۡسَانَ بیشکه هغه انسان چه د اسے وائی لَكَفُوۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۵﴾ هر اُئینه ناشاکر دے ښکاره ځکه چه منکر دے له نعمته له جهته د دے چه کافر شوے دے او کفر اصل کښ د کفران اَمِ اتَّخَذَ ایا نیولے دے دۀ او د اهمزه د ام انکاری دے د پاره د تجهیل د دوئ او د تعجب له دۓ قوله د دوئ او د لته قول پکښ مقدر دے ای یقولون اتخذ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنٰتٍ له هغه مخلوق څخه چه پیدا کوی دے لونږه چه اَخسی او ادنیٰ دی وَّاَصۡفٰىكُمۡ او غوره کړی او خاص کړی یمې دۀ تاسے بِالۡبَنِيۡنَ ﴿۱۶﴾ په ځامنو چه اشرف او اعلیٰ دی وَاِذَا بُشِّرَ او سره له دۓ چه په هغه وخت چه زیږے وکړے شی اَحَدُهُمۡ بِمَا په یو له دوئ د هغه څیز ضَرَبَ لِلرَّحۡمٰنِ مَثَلًا چه سازوی د دے خدائ لره مثل او مانند ځکه چه ولد هرکله له جنس د والد وی ظَلَّ وَجۡهُهٗ مُسۡوَدًّا او شی مخ د دۀ تک تور له د یره غمه او خفګانه وَّهُوَ كَظِيۡمٌ ﴿۱۷﴾ او حال دا چه دے وی له غمه اَوَمَنۡ يُّنَشَّؤُا یا منسوب کوی دوئ خدائ ته هغه څوک چه تربیت ے کاوۀ شی فِى الۡحِلۡيَةِ په ګاڼو او په زینت یعنی هغه ښځه په وخت د مجادلے او زبان بازئ کښ دے خپل مطلب نه شی ښکاره کولے او ترسره کولے په سبب د نقصان د عقل او د قلت د فهم د دۀ **تنبیه** هرکله چه خدائ تربیت په ګاڼو او په زینت کښ له عیوبو شمارکۀ نو هر مؤمن عاقل لره بنائ چه دے له دے اجتناب کوی او

حرص ډکوی په زینت د تقوی باندے وَهُوَ فِي الْخِصَامِ اوهغه دقوت فکر په دکمزورئ په وجه په مباحثه کښ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿۱۸﴾ د بیان قوت هم نهٔ لری وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ اوګرځوی اوبولی دا کفار هغه ملایک هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ چه دوئ خاص بندګان دی د خدائ اِنَاثًا په ښځو چه وائ دوئ لونړه دی د خدائ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ ایا حاضر وو دوئ په وخت د پیدا کیدلو دهغوکښ چه ښځ پیدا شوی دی سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ زرګ چه وبه ښکلے شی د اشاهدی د دوئ وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۹﴾ اوبیا پوښتنه به هم ترے وکړے شی په ورځ د قیامت حاصل داچه کفار وله کفره درے قسمه اختیار کړی اول داچه نسبت د ولدګ کړے دے خدائ ته. دوئم داچه په صنفین د اولاد کښ هغه ادنیٰ اوخسیس صنف ګ منسوب کړے دے ورته چه لونړه دی دریم داچه هغه خسیس صنف ګ بیا ملائک بللی دی چه د پیر مکرم دی خدائ ته او دوئ ګ په دے سبک کړی دی وَقَالُوْا او بل وائ دوئ دا سے چه لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ که چرے اراده وے د خدائ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ مونږ نه به وُ کړے مونږه عبادت د دے ملائکو فَائِدَة معنی د دے ایت دا ده په نزد د امام اعظم رح چه له دے مشیت دوئ رضا مراد کړے ده نو دوئ وائ چه کهٔ خدائ راضی نهٔ وے په دے عبادت ځمونږه نو مونږه به ګ منع کړی وو له دغه عبادته په قهر سره یا به ګ عذاب راله راليږلے وو په جلتی او هرکله چه منع ګ ونهٔ کړه نو معلومه شوه چه د دے پرے راضی دی نو دا قول او دا اعتقاد دوئ رد کړهٔ خدائ په دے قول سره چه مَا لَهُمْ نشته چه دوئ لره بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ق په دے ګفتار خپل هیڅ قدر پوهه اِنْ هُمْ نهٔ دی دوئ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۲۰﴾ ګمان دروغ وائ خُله چه دے په کفر د هیڅ کافر راضی نهٔ دے بیا نو وائ چه دا سے نهٔ ده لکه چه دوئ وائ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا ایا ورکړیدے مونږ دوی لره کوم کتاب مِّنْ قَبْلِهٖ پخوا له دے قرآن چه ناطق دے په صحت د قول د دوئ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿۲۱﴾ پس دوئ په هغه کتاب ښکلے ښخونکے او حجت نیونکی دی یعنی کتاب خو مونږ نهٔ دے ورلره ورکړے نو نقلی حجت خو نهٔ لری. اوهمدا سے عقلی هم نهٔ لری بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا بلکه وائ دوئ دا سے چه بیشکه مونږه چه يُّوَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا موندلی دی مونږه پلرونه خپل عَلٰٓى اُمَّةٍ په پروړش او دین او طریقه اوامة هغے طریقے ته وائ چه د هغے قصد کاوهٔ شی وَاِنَّا

عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ اویشکه موږه په قد مونو دوئ یعنی په پیروئ د دوئ سره مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ تلونکی اوسه
لاره مونږ دونکی یُوَ كَذٰلِكَ اوهمدا سے ستا په شان مَآ اَرْسَلْنَا نه ؤ ولیږله مونږه مِنْ قَبْلِكَ پخوا
له تا فِیْ قَرْیَةٍ په هیڅ کلی اوښار کښ مِّنْ نَّذِیْرٍ کوم ویرونکے له عذابه یعنی پیغمبر علیه السلام اِلَّا
قَالَ مُتْرَفُوْهَآ نه مګرچه وبه ویل تواګرانو او مشرانو د هغے قریئے اِنَّا بیشکه چه مونږه چه یو وَجَدْنَآ
اٰبَآءَنَا موندلی دی مونږه پلرونه خپل عَلٰٓى اُمَّةٍ په یو روش او دین باندے وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ او
بیشکه مونږه په قد مونو یعنی په ټک د دوئ مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾ اقتداء کونکی یُوَ قٰلَ بیا وبه ویل ورته
هغه پیغمبر د دوئ چه اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ ایا اګرکه راوړے وی ما تاسے له بِاَهْدٰى ممَّا هغه دین چه پدے
خوره او برابروی مقصود له دین څخه وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ چه مونډلی دی تاسے په هغه دین اٰبَآءَكُمْ ګډ
پلرونه خپل نو پیروی د خپلو اباؤ کوئ قَالُوْٓا اِنَّا نو وبه ویل ورته دوئ چه بیشکه مونږ چه یو
بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ په هغه دین چه رالیږلے شوی یئ تاسے له هغه سره كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾ نامنونکی او
منکران یُو۔ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ پس انتقام به واخست مونږه له دوئ په بیځکئ سره فَانْظُرْ پس ګوره
اے رسوله كَيْفَ چه څرنګه وه عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ آخره خاتمه د تکذیب کونکیو نو ته ؤ هم دخپل قوم په
تکذیب مۀ خفه کیږه له سره وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ او یاد که هغه چه وویل ابراهیم علیه السلام پس له
هغه چه له غاره راووت لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ پلار خپل ته اوهم قوم خپل ته چه اِنَّنِيْ بَرَآءٌ بیشکه
بیزاره یم اودا ابراء مصدر دے په معنیٰ د بَرِیْءٌ لکه رَجُلٌ عدلٌ نو په دۀ کښ واحد او تثنیه
اوجمع او مذکر او مؤنث قول برابردی اِلَّا مګر چه تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۶﴾ له هغو بتانو چه عبادت ئے کوئ تاسے اِلَّا الَّذِیْ
لیکن هغه خدای فَطَرَنِیْ چه پیدا کړے یم دۀ ذۀ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾ پس بیشکه چه هغه
ثابت لری ما په هدایت او په دین خپل وَجَعَلَهَا اوګرځولے ابراهیم علیه السلام دا مقوله
خپله چه اننی براء مما تعبدون ده تراخره كَلِمَةً باقِيَةً یوه کلمه باقیه یعنی کلمه جاری روانه
ترقیامته فِیْ عَقِبِهٖ په پښت خپل کښ داسے چه هیسته په اولاد د دۀ کښ څوک خوی چه
خلق توحید ته بولی یا معنیٰ دا چه ګرځولے ده خدائ دا کلمه د توحید باقیه په نسل د ده کښ
ترقیامته لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾ چه بنائی چه دا مشرکان راګرځی له دے شرک توحید ته بَلْ

ع ۱۴ ۱۵ ۱۶ ۱۷ ۱۸ ۱۹ ۲۰ ۲۱ ۲۲ ۲۳ ۲۴ ۲۵ ۲۶ ۲۷ ۲۸ ۲۹ ۳۰ ۳۱ ۳۲ ۳۳ ۳۴ ۳۵ ۳۶ ۳۷ ۳۸ ۳۹ ۴۰ ۴۱ ۴۲ ۴۳ ۴۴ ۴۵ ۴۶ ۴۷ ۴۸ ۴۹ ۵۰ ۵۱ ۵۲ ۵۳ ۵۴ ۵۵ ۵۶ ۵۷ ۵۸ ۵۹ ۶۰ ۶۱ ۶۲ ۶۳ ۶۴ ۶۵ ۶۶ ۶۷ ۶۸ ۶۹ ۷۰ ۷۱ ۷۲ ۷۳ ۷۴ ۷۵ ۷۶ ۷۷ ۷۸ ۷۹ ۸۰ ۸۱ ۸۲ ۸۳ ۸۴ ۸۵ ۸۶ ۸۷ ۸۸ ۸۹ ۹۰ ۹۱ ۹۲ ۹۳ ۹۴ ۹۵ ۹۶ ۹۷ ۹۸ ۹۹ ۱۰۰ ۱۰۱ ۱۰۲ ۱۰۳ ۱۰۴ ۱۰۵ ۱۰۶ ۱۰۷ ۱۰۸ ۱۰۹ ۱۱۰ ۱۱۱ ۱۱۲ ۱۱۳ ۱۱۴ ۱۱۵ ۱۱۶ ۱۱۷ ۱۱۸ ۱۱۹ ۱۲۰ ۱۲۱ ۱۲۲ ۱۲۳ ۱۲۴ ۱۲۵ ۱۲۶ ۱۲۷ ۱۲۸ ۱۲۹ ۱۳۰ ۱۳۱ ۱۳۲ ۱۳۳ ۱۳۴ ۱۳۵ ۱۳۶ ۱۳۷ ۱۳۸ ۱۳۹ ۱۴۰ ۱۴۱ ۱۴۲ ۱۴۳ ۱۴۴ ۱۴۵ ۱۴۶ ۱۴۷ ۱۴۸ ۱۴۹ ۱۵۰ ۱۵۱ ۱۵۲ ۱۵۳ ۱۵۴ ۱۵۵ ۱۵۶ ۱۵۷ ۱۵۸ ۱۵۹ ۱۶۰ ۱۶۱ ۱۶۲ ۱۶۳ ۱۶۴ ۱۶۵ ۱۶۶ ۱۶۷ ۱۶۸ ۱۶۹ ۱۷۰ ۱۷۱ ۱۷۲ ۱۷۳ ۱۷۴ ۱۷۵ ۱۷۶ ۱۷۷ ۱۷۸ ۱۷۹ ۱۸۰ ۱۸۱ ۱۸۲ ۱۸۳ ۱۸۴ ۱۸۵ ۱۸۶ ۱۸۷ ۱۸۸ ۱۸۹ ۱۹۰ ۱۹۱ ۱۹۲ ۱۹۳ ۱۹۴ ۱۹۵ ۱۹۶ ۱۹۷ ۱۹۸ ۱۹۹ ۲۰۰ ۲۰۱ ۲۰۲ ۲۰۳ ۲۰۴ ۲۰۵ ۲۰۶ ۲۰۷ ۲۰۸ ۲۰۹ ۲۱۰ ۲۱۱ ۲۱۲ ۲۱۳ ۲۱۴ ۲۱۵ ۲۱۶ ۲۱۷ ۲۱۸ ۲۱۹ ۲۲۰ ۲۲۱ ۲۲۲ ۲۲۳ ۲۲۴ ۲۲۵ ۲۲۶ ۲۲۷ ۲۲۸ ۲۲۹ ۲۳۰ ۲۳۱ ۲۳۲ ۲۳۳ ۲۳۴ ۲۳۵ ۲۳۶ ۲۳۷ ۲۳۸ ۲۳۹ ۲۴۰ ۲۴۱ ۲۴۲ ۲۴۳ ۲۴۴ ۲۴۵ ۲۴۶ ۲۴۷ ۲۴۸ ۲۴۹ ۲۵۰ ۲۵۱ ۲۵۲ ۲۵۳ ۲۵۴ ۲۵۵ ۲۵۶ ۲۵۷ ۲۵۸ ۲۵۹ ۲۶۰ ۲۶۱ ۲۶۲ ۲۶۳ ۲۶۴ ۲۶۵ ۲۶۶ ۲۶۷ ۲۶۸ ۲۶۹ ۲۷۰ ۲۷۱ ۲۷۲ ۲۷۳ ۲۷۴ ۲۷۵ ۲۷۶ ۲۷۷ ۲۷۸ ۲۷۹ ۲۸۰ ۲۸۱ ۲۸۲ ۲۸۳ ۲۸۴ ۲۸۵ ۲۸۶ ۲۸۷ ۲۸۸ ۲۸۹ ۲۹۰ ۲۹۱ ۲۹۲ ۲۹۳ ۲۹۴ ۲۹۵ ۲۹۶ ۲۹۷ ۲۹۸ ۲۹۹ ۳۰۰ ۳۰۱ ۳۰۲ ۳۰۳ ۳۰۴ ۳۰۵ ۳۰۶ ۳۰۷ ۳۰۸ ۳۰۹ ۳۱۰ ۳۱۱ ۳۱۲ ۳۱۳ ۳۱۴ ۳۱۵ ۳۱۶ ۳۱۷ ۳۱۸ ۳۱۹ ۳۲۰ ۳۲۱ ۳۲۲ ۳۲۳ ۳۲۴ ۳۲۵ ۳۲۶ ۳۲۷ ۳۲۸ ۳۲۹ ۳۳۰ ۳۳۱ ۳۳۲ ۳۳۳ ۳۳۴ ۳۳۵ ۳۳۶ ۳۳۷ ۳۳۸ ۳۳۹ ۳۴۰ ۳۴۱ ۳۴۲ ۳۴۳ ۳۴۴ ۳۴۵ ۳۴۶ ۳۴۷ ۳۴۸ ۳۴۹ ۳۵۰ ۳۵۱ ۳۵۲ ۳۵۳ ۳۵۴ ۳۵۵ ۳۵۶ ۳۵۷ ۳۵۸ ۳۵۹ ۳۶۰ ۳۶۱ ۳۶۲ ۳۶۳ ۳۶۴ ۳۶۵ ۳۶۶ ۳۶۷ ۳۶۸ ۳۶۹ ۳۷۰ ۳۷۱ ۳۷۲ ۳۷۳ ۳۷۴ ۳۷۵ ۳۷۶ ۳۷۷ ۳۷۸ ۳۷۹ ۳۸۰ ۳۸۱ ۳۸۲ ۳۸۳ ۳۸۴ ۳۸۵ ۳۸۶ ۳۸۷ ۳۸۸ ۳۸۹ ۳۹۰ ۳۹۱ ۳۹۲ ۳۹۳ ۳۹۴ ۳۹۵ ۳۹۶ ۳۹۷ ۳۹۸ ۳۹۹ ۴۰۰ ۴۰۱ ۴۰۲ ۴۰۳ ۴۰۴ ۴۰۵ ۴۰۶ ۴۰۷ ۴۰۸ ۴۰۹ ۴۱۰ ۴۱۱ ۴۱۲ ۴۱۳ ۴۱۴ ۴۱۵ ۴۱۶ ۴۱۷ ۴۱۸ ۴۱۹ ۴۲۰ ۴۲۱ ۴۲۲ ۴۲۳ ۴۲۴ ۴۲۵ ۴۲۶ ۴۲۷ ۴۲۸ ۴۲۹ ۴۳۰ ۴۳۱ ۴۳۲ ۴۳۳ ۴۳۴ ۴۳۵ ۴۳۶ ۴۳۷ ۴۳۸ ۴۳۹ ۴۴۰ ۴۴۱ ۴۴۲ ۴۴۳ ۴۴۴ ۴۴۵ ۴۴۶ ۴۴۷ ۴۴۸ ۴۴۹ ۴۵۰ ۴۵۱ ۴۵۲ ۴۵۳ ۴۵۴ ۴۵۵ ۴۵۶ ۴۵۷ ۴۵۸ ۴۵۹ ۴۶۰ ۴۶۱ ۴۶۲ ۴۶۳ ۴۶۴ ۴۶۵ ۴۶۶ ۴۶۷ ۴۶۸ ۴۶۹ ۴۷۰ ۴۷۱ ۴۷۲ ۴۷۳ ۴۷۴ ۴۷۵ ۴۷۶ ۴۷۷ ۴۷۸ ۴۷۹ ۴۸۰ ۴۸۱ ۴۸۲ ۴۸۳ ۴۸۴ ۴۸۵ ۴۸۶ ۴۸۷ ۴۸۸ ۴۸۹ ۴۹۰ ۴۹۱ ۴۹۲ ۴۹۳ ۴۹۴ ۴۹۵ ۴۹۶ ۴۹۷ ۴۹۸ ۴۹۹ ۵۰۰ ۵۰۱ ۵۰۲ ۵۰۳ ۵۰۴ ۵۰۵ ۵۰۶ ۵۰۷ ۵۰۸ ۵۰۹ ۵۱۰ ۵۱۱ ۵۱۲ ۵۱۳ ۵۱۴ ۵۱۵ ۵۱۶ ۵۱۷ ۵۱۸ ۵۱۹ ۵۲۰ ۵۲۱ ۵۲۲ ۵۲۳ ۵۲۴ ۵۲۵ ۵۲۶ ۵۲۷ ۵۲۸ ۵۲۹ ۵۳۰ ۵۳۱ ۵۳۲ ۵۳۳ ۵۳۴ ۵۳۵ ۵۳۶ ۵۳۷ ۵۳۸ ۵۳۹ ۵۴۰ ۵۴۱ ۵۴۲ ۵۴۳ ۵۴۴ ۵۴۵ ۵۴۶ ۵۴۷ ۵۴۸ ۵۴۹ ۵۵۰ ۵۵۱ ۵۵۲ ۵۵۳ ۵۵۴ ۵۵۵ ۵۵۶ ۵۵۷ ۵۵۸ ۵۵۹ ۵۶۰ ۵۶۱ ۵۶۲ ۵۶۳ ۵۶۴ ۵۶۵ ۵۶۶ ۵۶۷ ۵۶۸ ۵۶۹ ۵۷۰ ۵۷۱ ۵۷۲ ۵۷۳ ۵۷۴ ۵۷۵ ۵۷۶ ۵۷۷ ۵۷۸ ۵۷۹ ۵۸۰ ۵۸۱ ۵۸۲ ۵۸۳ ۵۸۴ ۵۸۵ ۵۸۶ ۵۸۷ ۵۸۸ ۵۸۹ ۵۹۰ ۵۹۱ ۵۹۲ ۵۹۳ ۵۹۴ ۵۹۵ ۵۹۶ ۵۹۷ ۵۹۸ ۵۹۹ ۶۰۰ ۶۰۱ ۶۰۲ ۶۰۳ ۶۰۴ ۶۰۵ ۶۰۶ ۶۰۷ ۶۰۸ ۶۰۹ ۶۱۰ ۶۱۱ ۶۱۲ ۶۱۳ ۶۱۴ ۶۱۵ ۶۱۶ ۶۱۷ ۶۱۸ ۶۱۹ ۶۲۰ ۶۲۱ ۶۲۲ ۶۲۳ ۶۲۴ ۶۲۵ ۶۲۶ ۶۲۷ ۶۲۸ ۶۲۹ ۶۳۰ ۶۳۱ ۶۳۲ ۶۳۳ ۶۳۴ ۶۳۵ ۶۳۶ ۶۳۷ ۶۳۸ ۶۳۹ ۶۴۰ ۶۴۱ ۶۴۲ ۶۴۳ ۶۴۴ ۶۴۵ ۶۴۶ ۶۴۷ ۶۴۸ ۶۴۹ ۶۵۰ ۶۵۱ ۶۵۲ ۶۵۳ ۶۵۴ ۶۵۵ ۶۵۶ ۶۵۷ ۶۵۸ ۶۵۹ ۶۶۰ ۶۶۱ ۶۶۲ ۶۶۳ ۶۶۴ ۶۶۵ ۶۶۶ ۶۶۷ ۶۶۸ ۶۶۹ ۶۷۰ ۶۷۱ ۶۷۲ ۶۷۳ ۶۷۴ ۶۷۵ ۶۷۶ ۶۷۷ ۶۷۸ ۶۷۹ ۶۸۰ ۶۸۱ ۶۸۲ ۶۸۳ ۶۸۴ ۶۸۵ ۶۸۶ ۶۸۷ ۶۸۸ ۶۸۹ ۶۹۰ ۶۹۱ ۶۹۲ ۶۹۳ ۶۹۴ ۶۹۵ ۶۹۶ ۶۹۷ ۶۹۸ ۶۹۹ ۷۰۰ ۷۰۱ ۷۰۲ ۷۰۳ ۷۰۴ ۷۰۵ ۷۰۶ ۷۰۷ ۷۰۸ ۷۰۹ ۷۱۰ ۷۱۱ ۷۱۲ ۷۱۳ ۷۱۴ ۷۱۵ ۷۱۶ ۷۱۷ ۷۱۸ ۷۱۹ ۷۲۰ ۷۲۱ ۷۲۲ ۷۲۳ ۷۲۴ ۷۲۵ ۷۲۶ ۷۲۷ ۷۲۸ ۷۲۹ ۷۳۰ ۷۳۱ ۷۳۲ ۷۳۳ ۷۳۴ ۷۳۵ ۷۳۶ ۷۳۷ ۷۳۸ ۷۳۹ ۷۴۰ ۷۴۱ ۷۴۲ ۷۴۳ ۷۴۴ ۷۴۵ ۷۴۶ ۷۴۷ ۷۴۸ ۷۴۹ ۷۵۰ ۷۵۱ ۷۵۲ ۷۵۳ ۷۵۴ ۷۵۵ ۷۵۶ ۷۵۷ ۷۵۸ ۷۵۹ ۷۶۰ ۷۶۱ ۷۶۲ ۷۶۳ ۷۶۴ ۷۶۵ ۷۶۶ ۷۶۷ ۷۶۸ ۷۶۹ ۷۷۰ ۷۷۱ ۷۷۲ ۷۷۳ ۷۷۴ ۷۷۵ ۷۷۶ ۷۷۷ ۷۷۸ ۷۷۹ ۷۸۰ ۷۸۱ ۷۸۲ ۷۸۳ ۷۸۴ ۷۸۵ ۷۸۶ ۷۸۷ ۷۸۸ ۷۸۹ ۷۹۰ ۷۹۱ ۷۹۲ ۷۹۳ ۷۹۴ ۷۹۵ ۷۹۶ ۷۹۷ ۷۹۸ ۷۹۹ ۸۰۰ ۸۰۱ ۸۰۲ ۸۰۳ ۸۰۴ ۸۰۵ ۸۰۶ ۸۰۷ ۸۰۸ ۸۰۹ ۸۱۰ ۸۱۱ ۸۱۲ ۸۱۳ ۸۱۴ ۸۱۵ ۸۱۶ ۸۱۷ ۸۱۸ ۸۱۹ ۸۲۰ ۸۲۱ ۸۲۲ ۸۲۳ ۸۲۴ ۸۲۵ ۸۲۶ ۸۲۷ ۸۲۸ ۸۲۹ ۸۳۰ ۸۳۱ ۸۳۲ ۸۳۳ ۸۳۴ ۸۳۵ ۸۳۶ ۸۳۷ ۸۳۸ ۸۳۹ ۸۴۰ ۸۴۱ ۸۴۲ ۸۴۳ ۸۴۴ ۸۴۵ ۸۴۶ ۸۴۷ ۸۴۸ ۸۴۹ ۸۵۰ ۸۵۱ ۸۵۲ ۸۵۳ ۸۵۴ ۸۵۵ ۸۵۶ ۸۵۷ ۸۵۸ ۸۵۹ ۸۶۰ ۸۶۱ ۸۶۲ ۸۶۳ ۸۶۴ ۸۶۵ ۸۶۶ ۸۶۷ ۸۶۸ ۸۶۹ ۸۷۰ ۸۷۱ ۸۷۲ ۸۷۳ ۸۷۴ ۸۷۵ ۸۷۶ ۸۷۷ ۸۷۸ ۸۷۹ ۸۸۰ ۸۸۱ ۸۸۲ ۸۸۳ ۸۸۴ ۸۸۵ ۸۸۶ ۸۸۷ ۸۸۸ ۸۸۹ ۸۹۰ ۸۹۱ ۸۹۲ ۸۹۳ ۸۹۴ ۸۹۵ ۸۹۶ ۸۹۷ ۸۹۸ ۸۹۹ ۹۰۰ ۹۰۱ ۹۰۲ ۹۰۳ ۹۰۴ ۹۰۵ ۹۰۶ ۹۰۷ ۹۰۸ ۹۰۹ ۹۱۰ ۹۱۱ ۹۱۲ ۹۱۳ ۹۱۴ ۹۱۵ ۹۱۶ ۹۱۷ ۹۱۸ ۹۱۹ ۹۲۰ ۹۲۱ ۹۲۲ ۹۲۳ ۹۲۴ ۹۲۵ ۹۲۶ ۹۲۷ ۹۲۸ ۹۲۹ ۹۳۰ ۹۳۱ ۹۳۲ ۹۳۳ ۹۳۴ ۹۳۵ ۹۳۶ ۹۳۷ ۹۳۸ ۹۳۹ ۹۴۰ ۹۴۱ ۹۴۲ ۹۴۳ ۹۴۴ ۹۴۵ ۹۴۶ ۹۴۷ ۹۴۸ ۹۴۹ ۹۵۰ ۹۵۱ ۹۵۲ ۹۵۳ ۹۵۴ ۹۵۵ ۹۵۶ ۹۵۷ ۹۵۸ ۹۵۹ ۹۶۰ ۹۶۱ ۹۶۲ ۹۶۳ ۹۶۴ ۹۶۵ ۹۶۶ ۹۶۷ ۹۶۸ ۹۶۹ ۹۷۰ ۹۷۱ ۹۷۲ ۹۷۳ ۹۷۴ ۹۷۵ ۹۷۶ ۹۷۷ ۹۷۸ ۹۷۹ ۹۸۰ ۹۸۱ ۹۸۲ ۹۸۳ ۹۸۴ ۹۸۵ ۹۸۶ ۹۸۷ ۹۸۸ ۹۸۹ ۹۹۰ ۹۹۱ ۹۹۲ ۹۹۳ ۹۹۴ ۹۹۵ ۹۹۶ ۹۹۷ ۹۹۸ ۹۹۹ ۱۰۰۰

مَتَّعْتُ بلکه برخوردار ی اومعاش ورکړ ما هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ دے کفارود قریشولره اوپلرونوددوی لره هم په اوږدو عمرونو او په رنګارنګ نعمتونو حَتّٰى جَآءَهُمُ الْحَقُّ ترهغه وخته چه راغے دوئی لره حق چه قرآن دے وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۹﴾ اوهغه رسول چه رسالت ئے بیکاره دے په معجزاتو سره وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ اوهر کله چه راغے دوئی لره حق نو باندے ئے لره دا ووچه دوئی په دغه نعمت شکرکړے وے اما دوئی کفران اوانکار وکړد قرے قَالُوْا وویل دوئی هٰذَا سِحْرٌ چه دا قرآن جادو دے وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾ اوبیشکه چه مونږه په دے ناباوړ او کافران یو یعنی نه منوچه دا له خدائ دے وَقَالُوْا اوبل وویل دوئی چه لَوْلَا نُزِّلَ ولے راونه لیږلے شئ هٰذَا الْقُرْاٰنُ دا قرآن کۀ په رښتیا له خدائ وی عَلٰى رَجُلٍ په کوم یوسړی باندے مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ له دغو دواړو قریو چه مکه اوطائف دے بیا دا سړے عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾ چه ډیر لوئ وی له جهت دعزت اوجاه اودمال لکه ولید بن مغیرۀ شئ له مکے اوعروه بن مسعود ثقفی شئ له طائف چه داوحی یو ډیر لوئ منصب دے نو دے له ډیر لوئے سړی نورب العزت وائی په جواب د دوئی کښی چه اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ ایا دوئی ویشی اوقسمت کوی رَحْمَتَ رَبِّكَ رحمت د رب ستا په خلقوچه نبوت دے دا سے نۀ ده لکه چه دوئی وائی بلکه نَحْنُ قَسَمْنَا مونږه ویشلے اوقسمت کړے دے بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ په مابین د دوئی کښ هغه اسباب د معاش د دوئی لکه روزی جامه یا نور اشیاء شو فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دے وارۀ ژوند ون کښ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ اوپورته کړی دی مونږه بعض له دوئی چه مارۀ او اشراف او اصیلان او پوهنده دی فَوْقَ بَعْضٍ دیاسه د نورو بعضو چه وږی او ارذال او مریونه اوناپوهه دی دَرَجٰتٍ په مرتبو کښ . لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا پاره د دے چه ونیسی بعض د دوئی بعضی نور لره سُخْرِيًّا ماسخران اوکارکونکی یعنی چه بعضے ترے مزدوران نیونکی شی اوبعضے نورمزدوری کونکی شی چه نظام د عالم پرے روان وی حکه چه بعض به مالداران وی اوعمل ته به محتاج وی او بعضے به عاملان وی او مبلغ ته به محتاج وی وَرَحْمَتُ رَبِّكَ اورحمت د رب ستا خَيْرٌ هغه ډیر غوره دے مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ له هغه مال چه جمع کوی دوئی په دے دنیا کښ وَلَوْلَآ اوکه چرے نه وے کراهت اوخوف اَنْ يَّكُوْنَ

---

۲۵ یعنی کاروبار د دے جهان پرے روان دے ۱۲ ۳۲ یعنی کارکولو ته به محتاج وی ۳۲ یعنی کارکونکی دی روپیه به محتاج وی ۱۲

النَّاسُ د دے کار چه شی به د اخلق ټول اُمَّةً وَّاحِدَةً یو ټولے متفق به کفر یعنی به هغه وخت چه
وو بنی دوئ د الکفار چه په نعمتونو او په فراخئ د معاشونو کښ دی نو ټول به کافران شی لهجهته
د پرمحبته د دنیا نو کهٔ چرے د اجهت نهٔ وے لَجَعَلْنَا لِمَنْ نو هم اللّٰه گرځولے یعنی سازکړے به وو
مونږه د پاره د هغه چا یَكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ چه کفر اختیار روی دے په خدائ پورے لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا یعنی د پاره
د کو تو د دوئ با مونه مِّنْ فِضَّةٍ له سپینو زرو وَمَعَارِجَ او بل زینه پائی به هم سازے کړے وے ورلره
د سپینو زرو چه په هغو سره عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ په دغو کوتو به ختل دوئ د پاره د حاجت خپل
وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا او د پاره د کوتو د دوئ دروازے به وے د سپینو زرو وَّسُرُرًا او تختونه به وو
د سپینو زرو عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ چه په هغوبه ئے تکیه وهلے وے وَزُخْرُفًا او نور د پرزینت
یا سرهٔ زر یا پرته له دے مذکورو به هم ورلره ورکړی وو حاصل د اچه کهٔ خوف د کفر د مؤمنانو نه
وے په ورکولو د دغه اشیاؤ کفار ولره نو مونږه به د اټول ورکړی وو دوئ لره د پاره د دې پرحقارت د
دنیا مونږه څه لیکن دا مانع دے له دغه ورکولو وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ او نهٔ دی د اټول چه پیرته ذکر
شوی دی لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ط مګر برخوداری او معاش دے د دغه لږ ژوند ون چه یوځ
ورځ وی او زر فانی شی وَالْاٰخِرَةُ او اٰخرت یعنی جنت چه د عِنْدَ رَبِّكَ په نزد د رب ستا
لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ پرهیزکارانو لره د له شرکه او له معاصیو وَمَنْ يَّعْشُ او هر هغه څوك چه څان
ئے ړوند کړو او سترګے ئے پټے کړے یعنی اعراض ئے وکړو او په دے کښ دوه بابونه مستعمل دی یو
عَشِيَ يَعْشٰى لکه چه خَشِيَ يَخْشٰى چه په ستر کو کښ ئے عیب وی او بل عَشِيَ يَعْشُوْ لکه غزا یغزو
چه په زورے څان ړوند کړے وی بے عیب لکه عَرِجَ او عَرَجَ ۔ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ له یاد گیرئ د خدائ
یعنی چه له پند د قرآن ئے څان ړوند کړے وی سره له علمه پرے چه د احق ذے نُقَيِّضْ لَهٗ مسلط
کړو مونږه په هغهٔ شَيْطَانًا یو شیطان فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾ پس د اشیطان له دهٔ سره همیشه پیوست
ملګرے همنشین وی د پاره د دوسے او د لغزولو دهٔ **فائده** دے کښ اشارت دے دے ته
چه هر څوك چه همیشه په ذکر د خدائ مشغول وی نو شیطان وی ورسره ملګرے او همنشین نهٔ
وی وَاِنَّهُمْ او بیشکه د اشیطانان چه دی لَيَصُدُّوْنَهُمْ هم اللّٰه اړوی دوئ د غه قرنیان خپل عَنِ

السَّبِيْلِ له لارے دحق وَ يَحْسَبُوْنَ اوگمان کوی د اکفار ستړے پینونکی اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ (۳۷) د دے چه بیشکه دوئ په سے لارے روان دی په سبب د متابعت د دے شیطان سره یا دے چه د اشیطان سمه لار ښودونکی دی او دوئ په هم دے گمان کښ پراته وی حَتّٰٓى اِذَا جَآءَنَا ان ترهغه وخته پورے چه راشی د اعاشی سره له قرینه خپله مونږه لره په ورځ د قیامت قَالَ نو وبه وائی د اعاشی شیطان ته يٰلَيْتَ اے کاشکے چه وے بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ په مابین خُما او په مابین ستا کښ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ لرے والے د مشرق له مغربه په دے کښ مشرق غالب کړے شویدے په مغرب ځکه اطلاق پرے د مشرقین وشۀ لکه عُمَرَيْن او قمرین فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ (۳۸) پس بد ملګرے ئے ته خُما نو رب العزت به ورته ووائی وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اوله سره به نفع ونۀ رسوی تاسے ته نن ورځ د اپښیمانی اوارمان ستاسے هیڅ قدر اِذْ ظَّلَمْتُمْ له دے جهته چه ظلم کړے ووتاسے په خُما نو خپلو په دنیا کښ اوډا محکمښ علت دے د ماقبل خپل په تقدیر د لام سره یعنی اَنَّكُمْ د پاره دے چه بیشکه تاسے له خپلو قرینانو سره له شیطانانو فِى الْعَذَابِ په عذاب د دوزخ کښ مُشْتَرِكُوْنَ (۳۹) سره شریکان یئ لکه چه په کفر کښ سره شریکان وئ **روایت دے** چه هر کله رسول صلی الله علیه وسلم په ایمان د قوم خپل د پرحریص وو نو ددۀ به د دوئ په دعوت کښ د پرکوشش کاوو اماهم څوچه دۀ به د پرد عوت کاوو هومره به د دوئ انکار اوعناد لا پسے زیاتیده او په دے کار به دے د پر دلګیر کیدۀ نو نازل شۀ اَفَاَنْتَ ایا پس تۀ اے رسوله! تُسْمِعُ الصُّمَّ اورولے شے کلام د حق ګنډونه یعنی هغه کسانونه چه د زړۀ غوږ ونه لګاوۀ وی اَوْتَهْدِى الْعُمْىَ یا سمه لار ښودلے شے ته پوندته یعنی هغو کسانونه چه د زړه سترګے ئے پرندے دی وَمَنْ كَانَ او بل هغه چا ته چه وی دے فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ (۴۰) په ښکاره ګمراهی کښ یعنی هر ګل چه ته د ایو هم نۀ شے کولے نو د پر مشقت په ځان مۀ تیروه فَاِمَّا پس که چرے په دے نوآن شرطیے مدغم شویدے په ما زائده کښ نَذْهَبَنَّ بِكَ بوځو مونږه خامخا تا د اریقاته خامخا تا د اریقاته ښوانه هغه چه وښایو تا ته عذاب د دوئ نو هم هیڅ قدر خفګان مه کوه ځکه چه فَاِنَّا مِنْهُمْ پس بیشکه چه مونږه له دوئ مُّنْتَقِمُوْنَ (۴۱) انتقام احستونکی یو په آخرت کښ اَوْنُرِيَنَّكَ الَّذِىْ یا که چرے وښایو مونږه خامخا تا ته په دنیا کښ هغه عذاب

وَعَدْنٰهُمْ چه وعده کړے ده مونږه دهغه له دوئ سره چه قتل اوبند د بدردے فَاِنَّا عَلَيْهِمْ پس بیشکه چه مونږه په دوئ مُّقْتَدِرُوْنَ (۴۲) قادر یُو نو په یوشان به مونږه انتقام رستا واخلوله دوئ ستاپه حیاتُ یا بعد المات فَاسْتَمْسِكْ پس منګلے نیخ کړه تهٔ بِالَّذِيْٓ په هغه قرآن اُوْحِيَ اِلَيْكَ ج چه رالیږلے شویدے تا تهٔ اِنَّكَ بیشکه چه ته عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۴۳) په سمے لارے روان ۓ ته نو زړه به مطلب ته ورسیږے وَاِنَّهٗ اوبیشکه چه داقرآن لَذِكْرٌ لَّكَ هر اُمّینه شرف اوعزت دے هم تالره وَلِقَوْمِكَ اوهم قوم ستالره چه قریش یا ټول عرب دی چه دوئ په ژبه راغلے دے چه مراد ترے اُمت دے وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ (۴۴) اوزړے چه وبه پوښتنیے لے شئ تاسے له دے نعمته په ورځ دقیامت اوله تعظیم اوله شکره دده اوله ادا دحق دده وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا او وپوښته اے رسوله هغه څوک چه لیږلے وو مونږه مِنْ قَبْلِكَ پخواله تا مِنْ رُّسُلِنَآ له رسولانو څخه مونږه چه ملائک دی یا له پیغمبرانو علیهم السلام وچه په شپه دمعراج دِ ملاقات ورسره وو یا له اممو اوله علماؤ د دین د دوئ له هغو وپوښته داچه اَجَعَلْنَا ایا مقرر کړی وو مونږه مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ غیر له خدائ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ (۴۵) نور خدایان چه عبادت به کاوهٔ شهٔ دهغو یعنی نهٔ وو مقرر کړی مونږه په هیڅ امت کښ له پخوانیو اممو اومراد له دے استشهاد دے په اتفاق دټولو انبیاؤ علیهم السلام په توحید باندے وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى اوهر اُمّینه په تحقیق لیږلے وو مونږه موسیٰ علیه السلام بِاٰيٰتِنَآ له نښو خپلو سره چه هغه معجزے وے دلالت کونکے په نبوت دده اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فرعون ته او مشرانو خیل دده ته چه قبطیان دی فَقَالَ اِنِّيْ پس ووئیل ورته دهٔ چه بیشکه زهٔ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۴۶) استاذے یم د پروردګار د تمام عالمیانو فَلَمَّا جَآءَهُمْ پس هر کله چه راغے موسیٰ علیه السلام دوئ له بِاٰيٰتِنَآ له نښو یعنی له معجزو څخه مونږه سره لکه عصا اوید بیضا او دآسے نورشو اِذَا هُمْ ناکاه دوئ چه وو مِّنْهَا یَضْحَكُوْنَ (۴۷) په دے آیتونو څخه مونږه پورے خندل به ئے او مسخره به ئے ورپورے وَمَا نُرِيْهِمْ اونهٔ به ښودہ مونږه دوئ ته مِّنْ اٰيَةٍ هیڅ نښه له نښو عذاب لکه طوفان اوجراد او قمل اوضفادع او دم

عه ستا په ژوند یا پس له مرګه ۱۲

اِلَّا هِیَ اَکْبَرُ مگر چه هغه به لویه وه مِنْ اُخْتِهَا د له خوره د کے یعنی له هغے نیرے چه په مثل د دے به وه نفس اعجاز کښ اوهرے یوے تعجه به چا کتل نو ویل به ئے چه داله هغے تیرے لویه ده او په واقعه کښ نوے سره برابرے وے اماهره یوه به مخصوصه وه په یو نوع د اعجاز سره لکه چې پخپل محل کښ نوے بیان شوی دی وَ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ او نیولی د و مونږه د وی په عذاب چه هغه قحط وو او دا تیر پنځه مذکور دی لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ (۴۸) بنائی چه د وئی راوګرزی له دے باطل دین څخه بیا هر کله چه عذاب ولیدے فرعونیانو نو په فریاد شو وَ قَالُوْا او وویل د وی موسی علیه السلام ته چه یٰۤاَیُّهَ السّٰحِرُ اے جادوګره! او دا نداء د د وئی په دغه وصف د ساحر سره یا د هیره حماقته اوله ډیرے وارخطایئ وه او یا د وئی د نوی عالم ته به ساحر ویل اُدْعُ لَنَا وبولہ خُمونږه د پاره رَبَّكَ رب خپل چه له مونږه لرے کا تدے د اعذاب بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ئے په سبب د هغه عهد د د ۀ چه تا څخه ده یاد نبوت او یا د دے چه هر ۀ دعا ستا به قبلوم او یا د دے چه عذاب به لرے کومه له هر هغو چا چه ایمان راوړی اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ (۴۹) نو بے شکه مونږه هر اُ ښینه سمه لار به بیا مومو فَلَمَّا كَشَفْنَا پس بیا هر کله چه لرے کړه مونږه عَنْهُمُ الْعَذَابَ له د وئی هغه عذاب په دعا د موسیٰ علیه السلام سره اِذَا هُمْ یَنْكُثُوْنَ (۵۰) نو ناګاه د وئی چه وومات ئے کړه فی الحال هغه عهد روایت دے چه هر کله دا اجابت د ۀ دعا د موسیٰ علیه السلام فرعون ولیدۀ نو ویریده چه مبادا بعض خلص پرے ایمان رانۀ وړی نو د اخپل قوم ئے درست راحاضر کړو او عام خطاب ئے و رته وکۀ د پاره د ځمر اوه اظهار د لویئ څپلے لکه چه وائی وَنَادٰى فِرْعَوْنُ او غږ وکۀ فرعون پخپله یا منادی په امر د ۀ سره فِیْ قَوْمِهٖ په قوم خپل کښ پس له لرے لید د عذاب له د وئی قَالَ یٰقَوْمِ نو وے ویل چه اے قومه حُمَا اَلَیْسَ لِیْ ایا نۀ دے مالره یعنی په تصرف حُما کښ مُلْكُ مِصْرَ داخلقه او پرګنه د مصر له اسکندریے تر شام پورے یعنی دے وَ هٰذِهِ الْاَنْهٰرُ او دا څلور ولے چه دی ډیرے عظیمے چه نهر الملك، او نهر طولون او نهر د میاط او نهر طِیْسِ باله شی چه څلور واړه را بیلے دی له رود نیل څخه تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِیْ ج بهیږی د لاندے حُما یعنی حُما تر تختہ یا تر مانړیو یا تر باغونو لاندے اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ط (۵۱) ایا نۀ وینئ تا سے د ا لوئی او جاه وجلال حُما

اَمۡ اَنَا خَیۡرٌ بلکه زهٔ بهتریم دا امر منقطعه دے په معنیٰ دبل. مِّنۡ هٰذَا الَّذِیۡ له دے دا سے شخص څخه یعنی موسیٰ علیه السلام هُوَ مَهِیۡنٌ ۙ چه دے خوار بے مقداره دے وَّلَا یَکَادُ او نهٔ دے دے نږدے یعنی قادر په دے یُبِیۡنُ ﴿۵۲﴾ چه ښکاره او واضح وویلے شی خبره خپله په سبب د سکوتے چه په خولے کښ اچولے وه دهٔ په ورکو توالی اوژبه ئے پرے سوے وه لکه چه قصهٔ ے مشهوره ده

روایت دے چه عادت د بادشاهانو دهغه زمانے دا وو چه به ئے څوک مشر کولو نو د سر و زر څو ونښے به ئے ورپه لاس کهٔ او اوبنۍ به ئے هم ورپه غاړه کړه نو حُکه فرعون وویل چه فَلَوۡلَاۤ اُلۡقِیَ عَلَیۡهِ پس هر کله چه دهٔ خدائ مونږ لره مشرك کړے رالیږلے دے نو ولے راونهٔ عوږ څولے شو یه ده لطرفه دهغه اَسۡوِرَةٌ مِّنۡ ذَهَبٍ وښے له سر و زر څو اَوۡ جَآءَ یا ولے نهٔ دی راغلی مَعَهُ الۡمَلٰٓئِکَةُ مُقۡتَرِنِیۡنَ ﴿۵۳﴾ ملائکے دهٔ سره پیوسته یاله دهٔ سره پیوسته چه معاونت ورسره کوی او تصدیق ئے هم کوی فَاسۡتَخَفَّ قَوۡمَهٗ پس کم عقل بیاموندهٔ دهٔ قوم خپل نوطلب د فرمانبردارئ ئے ترے وکړهٔ فَاَطَاعُوۡهُ ؕ پس فرمان ومانه دوئ دهٔ په هغه مامور به دهٔ کښ اوله موسیٰ علیه السلام یعنی بیزاره شو اِنَّهُمۡ کَانُوۡا قَوۡمًا فٰسِقِیۡنَ ﴿۵۴﴾ بیشکه چه دوئ وو د له دفاسقانو فَلَمَّاۤ اٰسَفُوۡنَا پس هر کله چه په غضب کړو دوئ مونږه په سبب د پرعناد او عصیان سره انۡتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ نو انتقام واخست مونږه له دوئ فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۵۵﴾ پس غرق کړه مونږه دوئ ټول په سیند کښ فَجَعَلۡنٰهُمۡ سَلَفًا پس کړه مونږه دوئ قدوه او پیشخانه د هغو کفارو چه پس له دوئ به راتله په استحقاق د عقاب کښ په مثل د دوئ وَّمَثَلًا لِّلۡاٰخِرِیۡنَ ﴿۵۶﴾ او پند او عبرت کړهٔ مونږه دوئ دپاره د وروستنیو خلقو

ترقیامته روایت دے چه هر کله قریشو دا آیت او وریدهٔ چه اِنَّکُمۡ وما تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ۔ نو په غضب شو او ابن زبعریٰ وویل چه عیسیٰ علیه السلام خو هم معبود دے د نصارٰی ؤ نو هر کله چه هغه له خپلو عابدانو سره پروت وی په دوزخ کښ نو مونږه هم راضی یو په دوزخ نو رسول صلی الله علیه وسلم ساکت شو او قریشو په خندهٔ قهقهه لاس پورے کړو او شورئ واچولو له ډیرے خوشحالئ په دے گمان چه رسول صلے الله علیه وسلم ئے ملزم

عه په تحقیق تاسے او هر هغه چه عبادت ئے کوئ تاسے بے لهخدای خاشاك دجهنم دی ۱۲

کړه ځکه چې شئ بیا هغه شیء ته دئ ایت دنع کړه چه اَن الذین سبقت لهم منا الحسنی الأیة او نازل شئ وَلَمَّا ضُرِبَ اوهر کله چه ونیولے شئ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا په خوئ دې بی مریم پورے مثال اِذَا قَوْمُكَ ناګاه قوم ستاچه دے مِنْهُ يَصِدُّونَ (۵۷) په هغه مثال پورے په قهقهه خاندی په هسک اواز او خوشحالی کوی وَقَالُوْٓا اووائی درته دوئ چه ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ ایا اخذ ایمان څومره غوره دی اَمْ هُوَ اوکه دے یعنی عیسلی علیه السلام چه غوره دے څومره له خذ ایا نو هر کله چه هغه په اورکښی پروت وو له دوئ سره نو مونږه خو د شل کرته پکښی پراته اوسو - مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ نه دے ترپے دوئ دا مثال تالره اِلَّا جَدَلًا مکر محض دپاره د جګړے اودخصومت نه دپاره د بیلولو دحق له باطله بَلْ هُمْ بلکه دوئ په هر کار کښی قَوْمٌ خَصِمُوْنَ (۵۸) یو ټولے دے جګړه اووۍ دیر کلک په خصومت کښی اِنْ هُوَ نه دے داعیسلی علیه السلام اِلَّا عَبْدٌ مګر یو بنده دے لکه دا نور بندګان یعنی نه خدائ دے اونه ځوی دے اونه ثالث دے د ثلاثو تَوْ بلکه یو داسے بنده دے اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ چه منت بار کړے دے مونږه په دۀ او احسان کړے دے مونږه له ده سره په نبوت او په رسالت وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا اوګرځولے وو مونږه دے یو امر عجیب اونبنه د قدرت خپل لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ (۵۹) د پاره د بنی اسراءیلو یعنی دا تولد دۀ بے پلاره یو عجیبه قصه اوحال دے لکه نور عجائب د عالم شو وَلَوْ نَشَآءُ اوکه ارادہ شوے وے څومونږه لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ نو هر اوئینه کینولے اوپیدا کړے به وو مونږه ستاسے په ځائے او دامِّنْ په معنیٰ د بدل دئ مَّلٰٓئِكَةً فِي الْاَرْضِ ملائک چه په زمکه کښ يَخْلُفُوْنَ (۶۰) خلیفګان شوی به وو ستاسے او ستاسے په ځائ به د پیره وو وَاِنَّهٗ اودا عیسلے علیه السلام چه دے لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ هر اوئینه پوهه ده د پاره د قیامت یعنی معلومیږی په نزول د دۀ سره قرب قیامت روایت دے چه پس له خروج د دجال به دے راکوزشی شرقی منارے د دمشق څخه په یوے غُنْدُئ چه اَفِيْقُ بالهٔ شی چه د واړه لاسونه بدئ د مَلَکینو په وزړ اینی وی اوزر غونے جامے به ئے اغوستے وی بیا بیت المقدس له به راشی او امام به د صبا په مانځه و د ریږی نو امام به بیرته شی اودے به محمدیؐ مونځ وکړی په

عه ئے شکه هغه کسان چه پروسے تیر شوی دی له مونږه نه هغوی لره نیکی دکه ۱۲

محکمکنں بیا بہ روان شی پہ دجال پسے او پہ دروازہ دلُد بنار کنں بہ ئے مرکا بیا بہ یاجوج ماجوج راوزی او عیسیٰ علیہ السلام بہ مؤمنانو سرہ کوہ طور کنں حصار کہ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا پس لہ سرہ شک مدلاوئ تاسے پہ دے قیامت کنں یعنی پہ راتلودے کنں بیا وایہ دوئ تہ چہ وَاتَّبِعُوْنِ ط اوپیروی کوئ حُما پہ اختیار د توحید کنں هٰذَا داچہ زۂ درتہ وایم صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ (۶۱) لارہ دہ سمہ برابرہ چہ هیڅوک پرے نہ گمراہ کیږی وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ج اوخبردار چہ وانہ پروی هیڅرے تاسے شیطان لہ دے متابعتہ حُما پہ وسوسہ اچولو سرہ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ (۶۲) دښمن دے بنکارہ وَلَمَّا جَآءَ اوهر کلہ چہ راغے عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ عیسیٰ علیہ السلام لہ بنکارہ معجزو سرہ چہ هغہ رغوئل دا کمہ اودا برص اواحیاء دا مواتو اوداسے نور یشو قَالَ نو وویل دہ بنی اسراء یلو تہ قَدْ جِئْتُكُمْ چہ پہ تحقیق راغلے یم زۂ تاسے تہ بِالْحِكْمَةِ پہ حکمت سرہ چہ نبوت اواحکامو دا انجیل دی وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ اوبل دپارہ دے چہ بیان اووضاحت کړم زۂ تاسے تہ بَعْضَ الَّذِيْ بعض لہ امر ددین اولہ احکامو دتورات هغہ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ج چہ اختلاف کوئ تاسے پہ هغہ کنں فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس وویرپیږئ تاسے لہ خدائ وَاَطِيْعُوْنِ (۶۳) اوفرمان برداری کوئ حُما پہ هر څہ کنں اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ خدائ چہ دے هُوَ رَبِّيْ هم دے رب دے حُما وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ لہ اودے رب دے ستاسے هم پس عبادت کوئ یوازے هم دد هُذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ (۶۴) دا لارہ دہ سمہ چہ هیڅ قددے کجی پکنں نشتہ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ پس مختلف شو سرہ داقومونہ دنصارا ئ وُچہ یعقوبیہ او نسطوریہ او ملکائیہ او شمعونیہ دی مِنْۢ بَيْنِهِمْ ج پخپل مینځ کنں نو بعضو بہ ویل چہ عیسیٰ علیہ السلام خدائ دے ځکہ چہ بے پلارہ وو اوآسمان لہ لارہ او بعضو بہ ویل چہ دے خُوئ دے دخدائ ځکہ چہ بل پلارنہ لری او بعضو بہ ویل چہ دا دریم دے لہ دریو خدایانو نچہ بی بی مریم اوعیسیٰ علیہ السلام اوپخپلہ خدائ دے چہ هغہ ئے بنځہ اوهغہ ئے خُوئ دے اودا درے واړہ خدایان دی فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا پس افسوس دے هغہ کسانو لرہ چہ ظلم ئے کړے دے پہ باب دعیسی علیہ السلام کنں لہ دے احزابو۔

عہ پوند مرد مادر زاد ۱۲ ۔ عہ یعنی جبرائیل چہ نوم دے د مرض ۱۲ سہ یعنی ژوندی کول د مرد ۱۲

مِنْ عَذَابٍ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۶۵﴾ له عذابه دهغې ورځې چه درد ناک دے عذاب ئے هَلْ يَنْظُرُوْنَ ایا منتظرې دا احزاب یعنی نهٔ وی اِلَّا السَّاعَةَ مګر قیامت ته اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً یعنې دے ته چه راشی دا قیامت، دوئ لره ناکاه ﴿۶۶﴾ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ او دوئ نه پوهیږی په وخت دا تلوئ پخوا له ظهوره دهغې په سبب دا اشتغال دد وئ په امورو د دنیا اَلْاَخِلَّآءُ یاران او دوستان دکفر او معصیت چه دی يَوْمَئِذٍ په ورځ د قیامت بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ بعضے د دوئ به له بعضو نورو سره عَدُوٌّ دښمنان به وی ځکه چه دوستی دپاره دمعاونت ده په کفر او په معصیت نوهغه به هلته سره قطع شی اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۷﴾ مګر د پرهیزګارانو له مؤمنانو چه دهغوئ دوستی به هم هغسے باقی وی دپاره د دے چه محض خدائی ده ځکه یو د بل شفاعت به کوی سره او ادیاء به ورته وشی په ورځ د قیامت چه يٰعِبَادِ اے بندګانو ځما او په اصل کښی یعبادی دے بیا تی ترې حذف شوه دپاره د تخفیف لَا خَوْفٌ نشته هیڅ ویره عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ په تاسے نن وړځ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۶۸﴾ او نهٔ تاسے دا سے یئ چه به خفه شئ هیڅ قدر بیا اوس صفت کوی دهغوعبادو الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا چه بندګان ځما هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے بِاٰيٰتِنَا په آیتونو ځمونږه چه قران دے وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾ او وو دوئ کردن نهاده امر ځمونږه ته بیا به ورته ووائی منادی اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ چه ځئ دے جنت ته اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تاسے او بنځے ستاسے تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾ چه خوشحاله یا بنائسته یا معزز به کړے شی يُطَافُ عَلَيْهِمْ چورلولے به شی په دے جنتیانو باندے بِصِحَافٍ مِنْ ذَهَبٍ کاسے د سرو زرو کے وَاَكْوَابٍ او اوابه خوری د سرو زرو کے له انواع دشرابو د اجمع ده دکوب چه اښخوره ده وَفِيْهَا او وی به دوئ لره په دے جنت کښی مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ هر هغه خیز چه ارزوکوی دهغه نفسونو د دوئ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ او بل هر هغه چه لذت پرې اخلی ستر ګے د دوئ وَاَنْتُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ همیشه به اوسئ ځکه چه کمال دنعمت دادے چه زوال ورباندې نهٔ وی وَتِلْكَ الْجَنَّةُ

او داجنت چه تاسے یکښ اوسئ اَلَّتِیْ اُوْرِثْتُمُوْهَا هغه دے چه میراث درکړے شوے دے تاسے
لره بِمَا كُنْتُمْ ۚ په سبب د هغه عملونو چه وئ تاسے په دنیا کښ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾ چه کول به مولکم
فِيْهَا مقرر ده تاسے لره په دے جنت کښ فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ میوه ډیره مِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾ چه
له هغے به خورئ تاسے او په حدیث کښ راغلی دی چه لَا يُنْزَعُ رجل فِي الجنة من ثمرها الا نبت
مكانها مثلها ۔ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ بیشکه مجرمان یعنی کافران چه دی فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ ۚ په عذاب
د دوزخ کښ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾ همیشه پاتے کیدونکی دی لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ نه به شی سپکولے اوکمولے
دا عذاب له دوئ وَهُمْ فِيْهِ اودوئ په دے عذاب کښ مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۵﴾ ناامیده به وی له
خوشحالئ اوله خلاصی وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ اونهٔ ووکړے ظلم مونږه په دوئ وَلٰكِنْ كَانُوْا اولیکن
وو دوئ هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۶﴾ هم دوئ ظالمان چه شرک به ئے کولو بیاچه دلته ئے طمع قطع
شوه نو مالک ته به ځ کۀ چه خازن دے د دوزخ لکه چه وائی وَنَادَوْا اوبیاغږ به وکا دوئ
یعنی د: سے به ووائی چه يٰمٰلِكُ اے مالکه سوال وکه څومره ده پاره چه لِيَقْضِ عَلَيْنَا میباید چه
حکم دِ وکړی دمرګ په مونږه رَبُّكَ ځرب ستا قَالَ نو وبه وائی مالک دوئ ته په جواب کښ پس له زرو کالو
اِنَّكُمْ ثٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾ چه بیشکه تاسے پاتے کیدونکی یئ ژوندی په دے عذاب کښ بیارب
العزت به وریته ووائی چه لَقَدْ جِئْنٰكُمْ هر اینه په تحقیق راوړیدے مونږه تاسے ته بِالْحَقِّ
کفتار د حق په لسان د پیغمبرانو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ اولیکن زیات ستاسے چه دی لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾
د کفتار د حق بدګنړونکی اونه منونکی دی اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا بلکه محکم نیولے دے دغه کفار ودمکیو
کار په مکر اوپه فریب کښ په رسول باندے یا په ابطال د حق کښ فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ پس
بیشکه مونږه هم محکم نیونکی یو د یو کار د پاره د ابطال د سعی د دوئ چه هغه نصرت دے له
رسولانو سره اَمْ يَحْسَبُوْنَ ایا گمان کوی دا مکر کونکی دکفارو اَنَّا لَا نَسْمَعُ دا چه بیشکه نۀ اورو
مونږه سِرَّهُمْ هغه پټ خبرے د دوئ چه په زړه کښ ئے ګرځوی وَنَجْوٰىهُمْ ؕ او هغه کوښے د
دوئ چه په خولے له یو بل سره مجلس او مصلحت کوی بَلٰى ولے نۀ اورو بلکه اورو اوپرے اګاه یو

عه یعنی نۀ شو کوی سره ۔ په جنت کښ دیرے د هغه نه مګر چه زرغونه شی په څای د هغه کښ په مثل د هغه شوکید لے ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ولمن یحبهٔ ویوانسه ۱۲

وَرُسُلُنَا او بیا سره له اطلاع خُمونږه چه دی یعنی حفظه چه کرام الکاتبین دی لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۸۰﴾ دوئ ځمنه مقرر دی چه لیکی ټول اعمال دوئ کهٔ پټ دی کهٔ بنکاره نوهر کله چه پټ اسرار دوئ ملائکو ځمانه ټول بنکاره دی نوله مابه هغه څرنګه پټ وی چه علام الغیوب یم قُلْ اِنْ كَانَ وواید اے رسوله دوئ ته کهٔ چرے وے لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ﷺ خدائ لره فرزند فرضًا لکه تاسے چه وایئ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ پس زهٔ خواول یم دعابدانو دخدائ نوهغه به ماته معلوم وو اوهر کله چه ماته معلوم دی چه فرزند ورلره نشته نوتاسے دروغ وایئ یا معنیٰ داچه زهٔ به اول وم له عبادت کونکو دهغه ولد اوله تعظیم کونکوئے لکه چه تعظیم دشاهزاده کاوهٔ شی له جهته دپلار سُبْحٰنَ پاکی بیانوی دذات خپل له اتخاذه دولد نوائی رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رب دآسمانونو اودزمکے اوبل رَبِّ الْعَرْشِ خښتن دعرش عظیم له هرٔ عیبه څخه خصوصًا عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ له هغه چه وائی ے دا کفار چه نسبت دولد کوی ورته په دروغ فَذَرْهُمْ پس پریږده تهٔ دوئ يَخُوْضُوْا چه غوڅ وهی په باطلوخپلو کښ وَيَلْعَبُوْا اولوبے کوی په دے دنیا کښ حَتّٰى يُلٰقُوْا ترهغه پورے چه پیښ شی یعنی ووینی دوئ يَوْمَهُمُ الَّذِيْ هغه ورځ خپله يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾ چه وعده کاوهٔ شی دهغے له دوئ سره وَهُوَ الَّذِيْ اودے هغه پروردکار دے فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ چه دے په آسمان کښ هم معبود دے وَفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ اوپه زمکه کښ هم معبود دے پاس دملائکو اوکوز دجنو انسو وَهُوَ الْحَكِيْمُ العَلِيْمُ ﴿۸۴﴾ اوهم دے پُرحکمت دانا په مصالحو بندګانو اودا دواړه فِي متعلق دی په اِلٰهٌ پورے ځکه چه دے په معنیٰ دمعبود دے وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ اوبرکتناک دے هغه څوک لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ چه خاص هم دهٔ لره ده بادشاهی آسمانونو وَالْاَرْضِ اودزمکے وَمَا بَيْنَهُمَا اودهرهغه چه په مابین دددواړو کښ دی وَعِنْدَهٗ اوبل خاص هم دهٔ څخه عِلْمُ السَّاعَةِ ج پوهه دقیامت ده چه کله به برپا ای کیږی وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۵﴾ اوبل خاص هم دهٔ ته به بیولے شئ دپاره دحساب وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ اواختیار به نهٔ لری په دغه ورځ هغه خدایان ددے کفارو يَدْعُوْنَ چه بولی ئے یعنی عبادت ئے کوی دوئ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ غیرله خدائ دشفاعت لکه چه زعم دے ددوئ کهٔ بتان

کهٔ ملائك کهٔ جنس دی اِلَّا مَنْ مګر هغه څوك به اختیار لری د شفاعت شَهِدَ بِالْحَقِّ چه شاهدی ئے لودی وی په حق یعنی چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ئے ویلی وی په خوله لکه ملائك اوعیسیٰ اوعزیر علیهم السلام شوچه دوئ لره مرتبه د شفاعت شته وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ (۸۶) او حال داچه دوئ پوهیږی اویقین درڅه هم لری په دے قول خپل وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ اوقسم دے چه کهٔ وپوښتے تهٔ دوئ مَّنْ خَلَقَهُمْ له دے چه چا پیدا کړی دی دا عابدان اومعبودان لَیَقُوْلُنَّ اللّٰهُ نو هر اٹینه وبه وائی دوئ چه خدائ اوپه سبب د دې ظهور انکار به ترے نشی کولے فَاَنّٰی یُؤْفَكُوْنَ (۸۷) پس کوم طرف ته ګرځولے کیږی یا څرنګه ګرځولے کیږی دوئ له عبادته د خدائ عبادت دغیرته وَقِیْلِهٖ اوبل خاص هم دهٔ څخه دے علم دد ے قول د رسول چه یٰرَبِّ اے ربه ځما اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ بیشکه دا معاندان د قریشو چه دی قَوْمٌ لَّا یُؤْمِنُوْنَ (۸۸) یو ټولے دے چه ایمان نهٔ راوړی اودا قیلهٖ عطف دے په السَّاعَةِ باندے یعنی وعنده علم قوله صلے الله علیه وسلم فَاصْفَحْ عَنْهُمْ پس څنګ وګرځه له دوئ اوله دعوته د دوئ اوله ایمانه ئے هم طمع قطع کا وَقُلْ سَلٰمٌ اوووایه دوئ چه مونږه سلامتی غواړو له شره ستاسے او داحکم بیا منسوخ شوے دے په آیت دسیف سره فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ (۸۹) ع پس زر دے چه معلوم به کا دوی عاقبت دکفر خپل په دنیا کښ په ورځ د بدر اوپه عقبی کښ په وخت د دخول د نار۔

سُوْرَةُ الدُّخَان (۴۴) مکیة (۶۳) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اٰیَاتُهَا ۵۹ رُكُوْعُهَا ۳

په حدیث کښ راغلی دی چه مَنْ قَرَاَهَا فِیْ لَیْلَةِ الْجُمُعَةِ اصبح مغفورًا له حٰمٓ (۱) ع دے بیان هم پخوا تیر شوے دے یعنی قسم دے چه هر هغه څیز چه مراد دے له دے مقطعاتو وَالْكِتٰبِ الْمُبِیْنِ (۲) اوبل قسم دے په هر هغه کتاب یعنی په قرآن چه ښکاره کونکے دے دلارے دهدایت اودهر هغه څیز چه حاجت ورته پیښیږی له احکامو د شریعت اوجواب د قسم دادے اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ بیشکه مونږه چه یوراپیرلے دے مونږه دا کتاب فِیْ لَیْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ په هغه شپه کښ چه برکتناکه

عه یعنی هر چا چه ولوست دا سورة په شپه د جمع کښ صبا به کړے بخښلے شوے دهٔ لره ۱۲

ده چه لیلة القدر ده او دا قول ماهِ رمضان لره هم شامل دے ځکه چه په اکثرو روایاتو سره په ماهِ رمضان کښ د دغه لیلة القدر چه په دے کښ را نبکته شوے دے د قرآن له لوح محفوظ نه دغه څیرمه آسمان ته اوله هغه ځایه بیا جبریل علیه السلام نوټه نوټه راوړے دے رسول الله صلے الله علیه وسلم لره په قدر د حاجت سره چه په درویشتو کالو کښ ټول پوره شوے دے او برکت د دے شپے نزول دے په دے کښ د ملائکو او د هر خیر او سلامتئ له اقتا او کیدل د عبادت په دے کښ غوړ دے له عباده ته د زړه میاشتو اوچاو یلی دی چه د اشپه پخلسمه ده د شعبان او برکت ئے نزول دے د ملائکو او تبلیدل دی د دعواتو او فیصل والے د امورو او قسمت د ارزاقو او مقرر والے د اجالو او د اسے نورهم اِنَّا كُنَّا بیشکه چه مونږه يُنْذِرِيْنَ ۳ ویرونکی یه دے انزال سره فِيْهَا يُفْرَقُ ۴ په دے شپه د لیلة القدر یا د برات کښ بیلاوه اوکوتاه کاوه كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ۴ هر کار حکمتناك اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ یعنی هر هغه کار چه مقرر شوے دے مونږه څخه په مقتضی د حکمت بالغه حُصُولِه سره اِنَّا كُنَّا بیشکه چه مونږه مُرْسِلِيْنَ ۵ رالیږونکی د رسولانو او ابدال دے د تیرا تَا كُنَا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ دا پاره د رحمت او د مهربانئ په خلقو له طرفه د رب ستا اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ السَّمِيْعُ هم دے اوریدونکے د اقوالو د بندګانو الْعَلِيْمُ ۶ دانا په افعالو او په احوالو او په نیاتو د دوئ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ یعنی له طرفه د رب دا سمانونو او زمکے وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ او هر هغه چه په مابین د دواړو کښ دی اِنْ كُنْتُمْ تُوْقِنِيْنَ ۷ که چرے یئ تاسے اے مکیانو یقین کونکی په ربوبیت د مونږ رسالت د محمد صلی الله علیه وسلم هم یقین او کړی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته بل لایق د عبادت هیڅوك مګر هم دے يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ چه هم ژوندی کول کوی او هم ژړل کوی رَبُّكُمْ دے هم رب دے ستاسے وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۸ او هم رب دے د نورو پلرونو ستاسے بَلْ هُمْ بلکه دوئ چه دی فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ۹ په شک او ګمان کښ پراته دی چه لوبے کوی په رسول صلے الله علیه وسلم او په قرآن پورے فَارْتَقِبْ پس منتظره اوسه تهٔ دوئ ته اے رسوله! يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ په هغه ورځ چه راپیدا به کا آسمان بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ۱۰ په لوګی ښکاره يَّغْشَى النَّاسَ ؕ چه پټ به کا دا لوګے تمام مخلوق تَنْبِيْه په دے لوګی کښ روایات دی نوچا

ویلی دی چه عرب سخت اولوئ شر ته دخان وائی نو دلته مراد ترے هغه اوګ کاله دقحط دی چه رسول صلے الله علیه وسلم سوال کړے وو چه اللهم اشدد وطأتك على مضر واجعلها عليهم سنين كسني یوسف یعنی اے خدایه سخت کا پامالی خپله په مضریانو باند ے اوکړه داپامالی په دوئ د اسے کلونه دقحط لکه کلونه دیوسف علیه السلام نو اوه کاله په دے قریشو د اسے قحط عظیم راغے چه مردار سپی به ئے هډوکو سره خواړه او په ستړکو به ئے د اسے تیاره راغله چه دزمکے اسمان مینځ به ئے دګ لیدهٔ له لوګی ترحده چه یوسړی به خبرے دبل اوریدهٔ او په ستړکو به ئے نهٔ لیدهٔ نه دیرے لوګے اوچا ویلی دی چه مراد ترے هغه غبار دے چه په وخت دفتح د مکے یا په مودے د هغه قحط کښ له دیرے وج کالئ دا سے غبار رونه راپورته شول چه د اهوا پرے درسته تکه توره شوکه په شان دلوګی اوچا ویلی چه واقعی لوګے به راپورته شی له اسمانه چه هغه هم یوه نښه ده له نښو د قیامت او د زمکه به پرے د اسے تکه توره شی لکه لوګی وهلے کوته. او د ابه پخواله قیامت وی او د اچه راغے نو نښوئ به په خولے په پوزے په غوږونو د کفار وکښی او په مومنانو به دومره سختی راولی لکه په دومی وهلو سره نو د اکفار به په دے لوګی بے هوش اولیونی شی نو ملائک به ورته ووائی چه هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ داهغه عذاب دے دردناک چه صفد ائی وعده کړے وه د هغه له تاسے سره نو دوئ به زاری برپاوئ که اووائی به چه رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اے دبه څونږه لرے که عَنَّا الْعَذَابَ له مونږه تخنه د اعذاب اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾ بیشکه چه مونږه مؤمنان یو پس له رفع دے عذاب یعنی هرکله چه د اعذاب راتخنه لرے شهٔ نو مونږه به ایمان راوړو نو رب العزت وائی چه اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى چرته به نفع ورسوی دوئ ته پند اخستل او ایمان راوړل پس له نزول دعذاب وَقَدْ جَآءَهُمْ اوحال داچه په تحقیق راغلے وو دوئ لره رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۳﴾ رسول بیانوونکے د توحید او بنکارهٔ کوونکے دمعجزاتو او دوئ پرے پند وانهٔ خست بلکه انکارئ ترے وکړو ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ بیا مخ ئے وکړخاو وله دهٔ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ اوویل بعضوله دوئ چه لولے شویدے یعنی عداس چه مریے دے د ثقیف یا له بشره یا له جبیره او له یساره څخه دا زده کوی او بیا مونږ ته ئے وائی او بعضو نورو ویل چه مَجْنُوْنٌ ﴿۱۴﴾ لیونے دے او دماغ ئے مختل شوی دی نو پرته وائی

روایت دے چه په ایا مودے قحط کښی ابوسفیان له یوے ډلے دقریشو سره مدینے له راغے اورسول صلے الله علیه وسلم ته ئے دیاره ددفع دئ قحط ډیره زاری وکړه او وعده ئے هم وکړه د ایمان راوړلو لکه چه پیر ته تیردی چه ربنا اکشف عنا العذاب انا مؤمنون اودئ دعا نو رب العزت وویل اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ بیشکه مونږه لرے کونکی یو دعذاب د قحط په دے دعا ستاسره فَتَبْلًا لږه موده چه هغه موده دحیات ستاسے ده اما وایه دوئ ته چه داکشف تاسے ته هیڅ فائده نۀ رسوی ځکه چه اِنَّكُمْ عَائِدُوْنَ ﴿۱۵﴾ بیشکه تاسے بیرته ګرځیدونکی یئ له فراخئ بیا کفر خپل ته اوچاچه دا دُخان د هلامود قیامت ویلے دے هغه وائی چه څلویښت ورځے به دغه دود ولاړوی اوداخلو به پیے په تنګ شی اودوئ ډیره زارئ به کا خدائ ته نو پس له څلویښتو ورځو به داورك شی اودوئ به بیا پخوانی شرك اوفسق خپل ته ګرځی لکه چه پخواله دے عذابه دوو اویاد کا يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ج هغه ورځ چه به ونیسو مونږه دا کفار په سخت او لوی نیولو سره چه هغه ورځ د قیامت یا ورځ د بدر ده چه اویا ته قتل او اویا بندیان شو اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۱۶﴾ بیشکه مونږه انتقام اخستونکی یو په هغه ورځ وَلَقَدْ فَتَنَّا اوهرا ئینه په تحقیق ازمیلی وو مونږ قَبْلَهُمْ پخواله دغه مشرکانو ټخه قَوْمَ فِرْعَوْنَ قوم د فرعون چه قبطیان دی وَجَآءَهُمْ او راغلے وو دوئ لره رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۷﴾ استاذے ګران خدائ ته اومؤمنانو ته یا بلند شان هم حبًّا اوهم نسبًا اودے فرعونیا نو ته ئے ووایل اَنْ اَدُّوْٓا داسے چه وسپارئ تاسے اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ په ما باندے دا بندګان د خدائ چه بنی اسراءیل دی اوله ما سره ئے وليږئ اِنِّيْ لَكُمْ بیشکه چه زۀ تاسے لره رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۸﴾ استاذے یم امانتګر په رسالت خپل کښ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا اوبل دا ته وایم دا چه مه ګوئ لوئی اوسرکشی عَلَى اللّٰهِ ۚ په خدائ په اهانت دوحی سره اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ بیشکه چه زۀ راوړونکے یم تاسے تە بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۹﴾ ۚ حجت اودلیل واضح په نبوت او په صدق خپل بیا فرعونیا نو ورته ووایل چه سنګسار به دِکړو کۀ دے خبر و نه وائنۀ وخته نو دۀ ووایل چه وَاِنِّيْ عُذْتُ اوبیشکه زۀ پناه نیسم بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ په رب خپل اوپه رب ستاسے اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۰﴾ له دے چه سنګسار کړئ تاسے ما وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ اوکۀ باور نۀ کوئ په ما او ایمان نۀ راوړئ راباندے

فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿۲۱﴾ پس کنار وشئ له ما او شرمهٔ رار سوئ اما دوئ ددهٔ په دے ویلو عمل ونهٔ کړو او جفائے ورسره بر پائ کړه هم قولی اوهم فعلی فَدَعَا رَبَّهٗۤ پس سوال وَلَهٗ موسئ علیه السلام رب خپل ته پس له تلڈ یبه ددوئ اَنَّ هٰۤؤُلَآءِ داسے چه بیشکه دا قبطیان چه دی قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾ یو ټولے دے د مصر په کفر او په کبر خپل نو دوئ هلاك کړه او د اسوال ئے رب قبول کړو نو ورته ئے وویل فَاَسْرِ بِعِبَادِیْ پس بوځه تهٔ بندگان خُما چه بنی اسراءیل دی یعنی له مصرئے وبا سه لَیْلًا د شپے اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ بیشکه چه تاسے متبوع یئ د قبطیانو یعنی هرکل چه دوئ خبر شوله خو وجه ستاسے نو درپسے به درځی بیا سیند ووهه په همساخپلے چه دولس کوڅے به شی اوبنی اسراءیل پکښ تیرکا په امان سلامت بیا چه بنی اسراءیل تیرشو نو موسی علیه السلام بیا اراده وکړه د دے چه د اسیند بیا په هسا وهی چه بیرته هوارشی او دا کوڅے ئے ورکے شی چه ،باد اقبطیان راپورے وځی راپسے نو دا امروته وشهٔ چه وَاتْرُكِ الْبَحْرَ او پریږده اے موسئ د اسیند رَهْوًا چ هم هسے کوڅه اولاره لکه چه اوس ولاړدے او بیائے مهٔ وهه په هسا د پاره کوڅے ورکو لو اوله قبطیانو ویره مه کوه څکه چه اِنَّهُمْ جُنْدٌ بیشکه دوئ یو ټولے دے مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾ د غرق کړے شوی یعنی دوئ به ټول غرقشی بیا نوله څیرے غرق شوڅکه وائی چه كَمْ تَرَكُوْا د پر پرځول دوی بیرته مِنْ جَنّٰتٍ له باغونو نو کوله ریگارنگ میو و وَّعُيُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ او همدا سے له چینو د اوبو اوله کښتونو په اقسامو وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۲۶﴾ او مینو بنو او پریښتونو۔ وَّنَعْمَةٍ او نور اسباب دمعاش كَانُوْا فِيْهَا چه وو دا قبطیان په هغهٔ کښ فٰكِهِيْنَ ﴿۲۷﴾ بنادی او برخورداری کوښکی كَذٰلِكَ تف هم دا سے کوو موښه له مکذبانو سره وَاَوْرَثْنٰهَا او میراث پاتے کړو موښه دغه ټول څیزونه چه بیرته ذکر شوی دی قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿۲۸﴾ بل قوم ته چه بنی اسراءیل وو فَمَا بَكَتْ پس ونهٔ ژړل عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ په دوئ آسمان وَالْاَرْضُ او نه زمکے په خلاق لمؤمنانو چه په هغو به پس له مړکه ترخلویښتو ورځو پورے خلور څیزونه ژاړی چه مُصَلّٰی او ځائ د عبادت ئے دے دا دوه له زمکے او مصعد د عمل ئے مهبط د رزق ئے دے دا دوه له آسمانه لکه حدیث دی چه اِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيَبْكِيْ عَلَيْهِ مُصَلَّاهُ وَمَحَلُّ عِبَادَتِهٖ وَمَصْعَدُ عَمَلِهٖ وَمَهْبِطُ رِزْقِهٖ

عه یعنی یه حقیقی سره مؤمن نه هر اتینه ژاړی په دوه باندے مصلی ددهٔ اوځائ (پاتے په صفحه ۴۹۷ کښ)

او یا دلته مضاف پکښ حذف دے یعنی اهل السماء والارض وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ (۲۹) او نهٔ وو دوئ مهلت ورکړے شوی تریو وخته دپاره دتوبے وَلَقَدْ نَجَّيْنَا او هرائینه خلاص کړی وو موښ بنی اسرائیل بَنِي إِسْرَائِيلَ بنی اسراء یلو لره مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ (۳۰) له هغه عذاب چه خوارونکے وو چه مربی توب وو د فرعون او قتل وو د ابناؤ او نور سخت کارونه وو مِن فِرْعَوْنَ ط یعنی له فرعون او دابدل دے د من العذاب تخصیصه كَانَ بیشکه چه دے وو عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ (۳۱) سرکش متکبر یو له مسرفانو چه تیرید ونکی دی له حده د ایمان وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ او هرائینه په تحقیق غوره کړی وو موښ بره دوئ یعنی موسیٰ علیه السلام او مؤمنان د بنی اسراء یلو عَلَىٰ عِلْمٍ په علم خپلو بره په دے چه دوی لائق دی د غوره والی او داحال دے له ضمیر ه د فاعل عَلَى الْعَالَمِينَ (۳۲) په درستو عالمیانو د زمانے خپلے وَآتَيْنَاهُم او ورکړے وو موښ بره دوئ لره مِّنَ الْآيَاتِ له نبوت قدرتونه چه مَا فِيهِ هغه څیزونه چه وو په هغهٔ کښ بَلَاءٌ مُّبِينٌ (۳۳) نعمت بنکاره یا ازمیښت بنکاره چه بیا وګورو چه دوئ څهٔ کوی إِنَّ هَٰؤُلَاءِ بیشکه دا کفار د قریشو چه دی لَيَقُولُونَ (۳۴) هرائینه وائی دوئ چه إِنْ هِيَ نهٔ دے د اعاقبت دکار خو موښ بره إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولَىٰ مګر هم دا نمړ ۍ دے خو موښ بره چه پس له دے ژوند د دنیا دے وَمَا نَحْنُ او نهٔ یو موښ بره بیا پس له دے مړ کولے مُنشَرِينَ (۳۵) ژوندی کړے شوی او راولاړ کړے شوی بیا پس له مړ کله او کهٔ تاسے په دے خبره باور نهٔ کوئ فَأْتُوا بِآبَائِنَا پس راولئ او راژوندی کړئ تاسے پلرونه خو موښ بره إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (۳۶) کهٔ چرے یئ تاسے رښتینی په دے وعده کښ أَهُمْ خَيْرٌ آیا دا قریش غوره دی په شدت او په شوکت او په قوت او په مال کښ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ او کهٔ قوم د تبع غوره وو او تبع حمیری یو سړے و و یا نبی یا هسے مومن صالح لکه چه حدیث دے چه ما ادری اکان تُبَّع نبیا او غیر نبی. او دے بادشاه و و مؤمن او قوم ئے لوئ لښکر وو بے حده و پر مهیب قوتناك اما پتول کفار وو اتش پرست وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ط او بل هغه کسان چه پخوا و و له دے قوم د تبع لکه عاد او ثمود او دا سے نور چه هر کله ایمانه أَهْلَكْنَاهُمْ د نوملاړ کړه موښ بره دا پتول څکه چه إِنَّهُمْ بیشکه دوئ چه وو كَانُوا مُجْرِمِينَ (۳۷) وو دوئ کافران

(بقیہ حاشیہ صفحہ ۲۹۶) د عبادت دوهٔ اوځائ د څښتن د عمل دده او څای در اکوزیدو د رزق دده ۱۲

منکران له بعث له قیامت وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ اونهٔ دی پیدا کړی موږه دا اسمانونه وَالْاَرْضَ
او دا زمکه وَمَا بَيْنَهُمَا اوهر هغه چه په مابین ددے دواړو کښ دی لٰعِبِيْنَ (۳۸) په حال د
کید لوځمونږه کښ لوبے کونکی یعنی عبث اوبے مطلبه مونږ پیدا کړی نهٔ دی بلکه مَا خَلَقْنٰهُمَا
نهٔ دی پیدا کړی موږه دا دواړه اِلَّا بِالْحَقِّ مګر په حق سره یعنی دپاره ددے چه استدلال
وکړے شی په دوئ سره په وجود او په قدرت څمونږه باندے وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات د
دے خلقو چه مشرکان دی په سبب دغفلت اوکم فکرئ لَا يَعْلَمُوْنَ (۳۹) نهٔ پوهیږی دوی په دے
چه فعل دحکیم له حکمته خالی نهٔ وی اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ بیشکه ورځ دبیلتون چه ده دحق له باطل
اودحق له مبطل په جزا سره یا دهرسړی له اقاربو اوله احباؤ خپلو مِيْقَاتُهُمْ وخت دوعدهٔ گاه
د دوئ دے د پاره دحساب اودجزا اَجْمَعِيْنَ (۴۰) دټولو يَوْمَ لَا يُغْنِيْ په هغه ورځ چه دفع کوے
نهٔ شی مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى هیڅ دوست اوخپلوان له خپل دوست اوخپلوان شَيْـًٔا هیڅ څیز له عذابه ـ
وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ (۴۱) اونهٔ به دوئ سره مدد وکړے شی په دفع دکوم مکروه کښ له دوئ او دا یو
بدل دے له یوم الفصل څخه اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ مګر هغه څوك چه رحم پرے وکا خدائ په عفو او
په قبول دشفاعت سره له دهٔ لکه مؤمنان چه دوئ به یو بل شفاعت سره کوی په اذن دخدائ
سره اِنَّهٗ بیشکه خدائ چه دے هُوَ الْعَزِيْزُ دے غالب دے په انتقام اخستلو کښ له کفارو الرَّحِيْمُ (۴۲)
مهربان دے په مؤمنانو اِنَّ اشَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ (۴۳) بیشکه ونه دزقوم چه ده او زقوم یوه ونده په
دوزخ کښ په مثل دونو دونیا اوزقوم ئے میوه ده طَعَامُ الْاَثِيْمِ (۴۴) خوراك دے دهرفاجر گنهگار
کثیرالاثام یعنی ابوجهل اوملګری دهٔ اودا اول خبر دے دِاِنَّ كَالْمُهْلِ څ داسے به وی لکه خیږے
دتیلو اودا ئے دویم خبر دے يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ (۴۵) چه جوش به وهی دازقوم په درونو نو ددوئ
کښ كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ (۴۶) لکه جوش وهل دګرموابو اودا ئے دریم خبر دے بیا امر به وشی
زبانیو ته چه واکدارانِ دی ددوزخ خُذُوْهُ ونیسئ دافاجر اثیم فَاعْتِلُوْهُ پس را کاږی ئے په
سختئ او په قهر سره اِلٰى سَوَاءِ الْجَحِيْمِ (۴۷) منځ ددوزخ ته ثُمَّ صُبُّوْا بیا توئ کړئ فَوْقَ رَاْسِهٖ
پاس په سر دده مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ (۴۸) له عذاب دګرموابو یعنی هغه ګرم چه اوبهٔ ګرمے له عذاب

ورسره پوست دے چه بیرون ئے په دے اوبود اسے معذب شی لکه چه دروں ئے په زقوم معذب وی بیا به ورته وویلے شی چه ذُقْ ۚ اِنَّكَ وخکه داعذاب بیشکه چه تهٔ اَنْتَ الْعَزِيْزُ تـه ئے عزتناك اومشرد قوم خپل اَلْكَرِيْمُ ﴿۴۹﴾ لوئ په زعم خپل اود ابه حُکه ورته وائی چه ابوجهل به ویل چه زهٔ اعز اکرم دے نباریم اوپه وادی د بطحا کښ له مازیات څوك نشته بیادے منکرانو د بعث ته به وویلے شی اِنَّ هٰذَا اچه بیشکه داعذاب چه دے مَا كُنْتُمْ هغه دےچه وئ تاسے په دنیا کښ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ چه په دهٔ کښ به شك اوږتاسے اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ بیشکه پرهیزکاران چه دی فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ﴿۵۱﴾ په هغه دیره کاه کښ به وی چه په امان به وی له هرهٔ افته مخافته فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۲﴾ په هغه باغونو اوچینوکښ به وی او دابدل دے د مقام اَمِين څخه يَّلْبَسُوْنَ چه اغوندی به دوئ جامے مِنْ سُنْدُسٍ له دریا ئیګانو مهینوناز کو وَّاِسْتَبْرَقٍ او له پیرو نیکو مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۵۳﴾ په دے حال چه مخامخ به سره ناست وی په تختونو او مجلسونو سره کوی كَذٰلِكَ تندم داسے به وی بے تغیر تبدیل وَزَوَّجْنٰهُمْ اوملګری به کړو مونږه له دغه متقیانو سره بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿۵۴﴾ له سپین پوستیو ستر کو بنځو سره يَدْعُوْنَ فِيْهَا غواړی به دوئ له خادمانو خپلو په دے باغونوکښ بِكُلِّ فَاكِهَةٍ هرقسم میوه چه اشتهائے ورته وشی اٰمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ په دے حال چه په امان به وی دوئ له زوال اوله انقطاع اوله ضرر دے میوے لَا يَذُوْقُوْنَ نهٔ به څکی دوئ فِيْهَا الْمَوْتَ په دے جنت کښ مرګ اِلَّا الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى غیر له هغه نمړۍ مرګه چه په دنیا کښ پرے تیر شوے وَوَقٰهُمْ اوویه ساتی دوئ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ له عذابه د دوزخ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ له جهته د فضل اوکرمه له جانبه درب ستا ذٰلِكَ داچول د عذاب اوبخل د حیاتِ ابدی سره له جنت هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ هم دا لوئ برے دے فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ پس هم داخبره ده چه اسان کړے دے مونږه دا قرآن له دے جهته لیږلے ئے مونږه بِلِسَانِكَ په ژبه ستاچه عربی ده دپاره د دے لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ چه بنائی چه داقوم ستا وپوهیږی په معنیٰ د دهٔ اوپند پرے واخلی اماد وئ پرے هیڅ پند وانهٔ خست نوهرکله چه دا سے شوه فَارْتَقِبْ پس منتظر اوسه ته هغه خیزته چه په دوئ به راځی اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾ ع

بیشکه چه دوئ هم منتظر دی تاته چه څهٔ معامله به دریسره کیږی .

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ ۴۵ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۳۷ رُكُوْعُهَا ۴

حٰمٓ ۱ کهٔ دا دوه حرفونه اشارات شی دوه نومونږ خدائ ته چه مثلاً حکیم اومجید دے نو دا به مقسم شی اوما بعد به ئے جواب د قسم شی اوکه دانوم شی دسورت نو دا به مبتدا شی او مابعد به ئے خبر شی نومعنیٰ به ئے یادا سے شی چه قسم د ے په هغه خدائ چه حکیم اومجید دے اویا به دا سے شی چه دا سورت چه نوم ئے حٰمٓ دے دا چه دے تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ رالیږل دکتاب یعنی دقران دی مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ له هغه خدائ چه غالب دے په هر چا الْحَكِيْمِ ۲ پرحکمت دے دا سے چه هیڅ کار ئے له حکمته خالی نهٔ دے اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ بیشکه په اسمانونو کښ له ستورو چه بعض سیاره اوبعض ثوابت دی وَالْاَرْضِ اوهم دا سے په زمکه کښ له غرونو له انهارو له اشجارو له حیواناتو اودا سے له نورو څیزونو لَاٰيٰتٍ لَّلْمُؤْمِنِيْنَ ۳ هرائینه رنکارنګ نښے دی د قدرت مؤمنانو لره دلالت کوونکے په وحدانیت دصانع وَفِيْ خَلْقِكُمْ اوبل په پیدا ایښت ستاسے کښ له نطفے اوبیا په اړولو اړ ولوکښ له یوحال بل حال ته ترتمام دصنعت وَمَا يَبُثُّ اوبل په هغه کښ چه شیندی ئے دے په زمکه کښ مِنْ دَآبَّةٍ له هر خوځیدونکی اوتکړ کونکی په روی زمین چه ادمیان اوکهٔ غیږدی په اختلاف داشکالواودصورو اودخاصیاتو سره اٰيٰتٌ رنکارنګ نښے دی دپاره د استدلال په وجود دصانع لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۴ دپاره دهغه قوم چه یقین لری په رانلو دقیامت وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اوبل په اختلاف دشپے اود ورځ کښ په زیاتید لو او په کمید لواوبه تلواو په راتلواوپه تیرے اوپه رنړا سره وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اوبل په هغه کښ چه رالیږلے دی خدائ مِنَ السَّمَآءِ له طرفه داسمانه مِنْ رِّزْقٍ له روزئ یعنی باران اودائے په روزئ وبالهٔ حُکه چه دا سبب دے دروزئ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ پس ژوندئ کړیده په دغه باران سره زمکه بَعْدَ مَوْتِهَا پس له مړکه یعنے له وچوالی دے وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ اوبل په چورلولو باد ونو کښ چه کله کله د بور کله شمول کله جنوب شی اوکله یخ اوکله ګرم کله تند اوکله نرم کله شنډ کله وړوکے شی په دغه ټولو کښ

ایتٔ رنگارنگ نښے دی د قدرت کامله لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۵ دپاره دهغه قوم چه فکر اوعقل وکاړه دے
اینتونکښ اوداڅکرۍ بیا مفضی شی ایمان ته حاصل په اخرد دے درے اینتونکښ اول ایمان
ذکر دے پسے ایقان پسے تعقل یعنی پوهنده منصفان چه دی له خلقو چه اول ښخ نظر وکا پـه
اسمانونو اوپه زمکه کښ نوله دے تخمۍ ځمکلارښتی صانع نه اوایمان راوړی بیا چه نظر وکا پخپل
پیدایښت کښ چه له یوے قطرے منی دے حد د کمال ته ځے ورسولم په دے اصنافو حیواناتو
کښ چه څرنگه ځے خواړه کړی دی په مخ د زمکے په قدرت کامله سره نو یقین ځے پیدا شی اوایمان
ځے راسخ شی بیا چه نظر وکا په حواد ثو د عالم کښ لکه اختلاف دلیل اونهار اونزول د باران اونوزاو
شنه کیدل د وچے زمکے اوتقلبات دبادونو وحدانیت اوکمال د قدرت ځے ښۀ عقل ته پریوځی اویقین
اوایمان ځے کامل شی تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ دا علامے د قدرت یا ایتونه د قرآن چه دی دانښے دی د خدا ځے
دلالت کونکے په وحدانیت د دۀ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ چه لولوځے مونږه په تا بِالْحَقِّ ۚ په رښتیا سره فَبِاَيِّ
حَدِيْثٍ ۾ پس په کومه خبره بَعْدَ اللّٰهِ پس له خبرے د خدائ چه قرآن دے وَاٰيٰتِهٖ اوپس لـه
نښو د قدرت د دۀ يُؤْمِنُوْنَ ۶ ایمان به راوړی دوئ چه په دے قرآن ایمان نۀ راوړی وَيْلٌ
لِّكُلِّ اَفَّاكٍ افسوس دے هر دروغجو اَثِيْمٍ ۷ د بركناهی لره یعنی نضر حارث يَّسْمَعُ اٰيٰتِ
اللّٰهِ چه اورى دے ایتونه د خدائ یعنی قرآن تُتْلٰى عَلَيْهِ چه لوستلے کیږی په دۀ ثُمَّ يُصِرُّ بیا
قائم اولاکلک شی په کفر خپل مُسْتَكْبِرًا په دے حال چه کبر کونکے اوګردن کش وی له ایمان
راوړلو په هغو كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ گویا کۀ له سره نۀ دی اوریدلی دۀ دغه ایتونه حُكْه چه هیڅ
قدر رنځ ځے پرے وانۀ خسته فَبَشِّرْهُ پس زیرے وکا په دۀ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۸ په عذاب د رد ناک
سره وَاِذَا عَلِمَ اوپه هغه وخت چه واوری اوپوهـ شی مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْـًٔا ۙ له ایتونو څمونږه کوم
څیز اتَّخَذَهَا هُزُوًا ؕ نو وینیسی دے دا ایتونه مسخره بازی بے تامله اُولٰٓئِكَ دا مسخره بازان چه
دی لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۹ مقرر دے دوئ لره عذاب سپکوںکے مِّنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۚ چه په
مخکښ د دوئ دوزخ دے چه د ورڅ ان دی یا شاته د دوئ یعنی پس له مرګه چه مسکن به وی دوئ
وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ اودفع به نه کاله دوئ مَّا كَسَبُوْا هغه چه کښتلے اوپیدا کړے دے دوئ کۀ اموال

دی اوکهٔ اولاد دی شَيْئًا هیڅ خیر له عذاب دخدائ وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا اونه به دفع کالد دوئ هیڅ شیز
هغه بتان چه نیولی دی دوئ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ غیر له خدائ نور دوستان وَلَهُمْ عَذَابٌ
عَظِيْمٌ ﴿١٠﴾ او مقرر دے دوئ لره عذاب لوئ چه سختی به ئے له حده زیاته وی هٰذَا هُدًى ع دا
قرآن راهنمائ دے وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه کسان چه کافران دی او دے مقتضا دا ده چه کوم
خلق نهٔ منی بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ دا آیتونه درب خپل لَهُمْ عَذَابٌ مقرر دے دوئ لره عذاب مِنْ
رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿١١﴾ له هغه سخت عذاب چه درد ناکه دے اَللّٰهُ الَّذِيْ خدائ هغه قادر مطلق دے -
سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ چه مسخر کړے دے دهٔ تاسے لره دا سیند یعنی دهٔ پاس مخ ئے هوار کړے دے
چه متخلخل خیزونه پرے دریږی او میخ ئ دهٔ ئے نرم کړے دے چه غواصانو لره له غوته کیدلو
مانع نهٔ شی لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ دپاره دے دے چه ځی او کرځی بیړئ او جهازونه فِيْهِ بِاَمْرِهٖ په دغه سیند
کښ په امر دهٔ سره وَلِتَبْتَغُوْا اوبل دپاره دے دے چه لټوئ او غواړئ تاسے په تجارت او په
غواصئ او په ښکار کړه سره مِنْ فَضْلِهٖ له فضل او له سوده دهٔ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾ او بل دپاره دے
بنائ چه تاسے شکر وباسئ په دے نعمتونو وَسَخَّرَ لَكُمْ اوبل مسخر کړی دی ده تاسے لره یعنی
پیدا کړی ئے دی دهٔ تاسے لره یعنی پیدا کړی ئے دی دپاره دمنافع ستاسے مَا فِي السَّمٰوٰتِ هرهغه
چه په آسمانونو کښ دی لکه نمر او سپوږمئ او ستوری او باران وَمَا فِي الْاَرْضِ او هرهغه چه په
زمکه کښ دی لکه جبال او نباتات او انهار او اشجار او دا سے نور اشیاء جَمِيْعًا مِّنْهُ دا ټول
مسخر دی دده له طرفه اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے تسخیر لَاٰيٰتٍ هر اینه زیکار نښانے
دقدرت لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٣﴾ دپاره دهغه قوم چه فکر کوی دوئ په عجائبو دصنعت کښ
او په غوائبو دحکمت کښ روایت دے چه یو مشرك له بنی غفار او عمر ۶۰ تن زوړے وکړے
اودهٔ اراده وکړه دده چه هغه ونیسی او خپل انتقام ترے واخلی نو نازل شه قُلْ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
ووایه اے رسوله هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے يَغْفِرُوْا چه بخښنه وکړی دوئ دهرهغه
ایذاء چه رسیدلے وی دوئ ته له طرفه دکفار ۶ او دهغے انتقام نه اخلی بلکه اعراض او عفو وکړی
لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ هغه کسانو ته چه نهٔ ویریږی دوی اَيَّامَ اللّٰهِ له ورځو دخدائ یعنی له

وقائعو دده ئ له اعدائ خپلو سره او عرب له وقائعو په ایام سره تعبیر کوی او داحکم پخوا و له امره
دجهاد لِيَجْزِيَ قَوْمًا دیاره ددے چه جزا ورکاخدائ یوقوم لره بِمَا كَانُوا په سبب دهغه عمل
چه دی دوئ يَكْسِبُونَ ﴿۱۴﴾ چه کوی ئے تنبیه داقوم مذکور یا مؤمنان دی او دا تنکیرئے
دتعظیم دے او داکسب ئے مغفرت دے او یاکافران دی او داتنکیرئے تحقیر دے اوکسب ئے
اسائت دے حُكْمَ ئے ورپسے دا دویاره یادکړه چه مَنْ عَمِلَ صَالِحًا خوك چه وکاکوم نیک کار
فَلِنَفْسِهِ ئے پس هغه ئے دیاره دخان خپل دے حُكْمَ چه نفع ئے هم دهٔ ته راجع ده وَمَنْ أَسَاءَ اوهر
خوك چه کوم بدکار ئے وکړو فَعَلَيْهَا نو پس په هم ده باردے پیښے دوبال دهغه کار ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ
بیاخاص رب ستاسے ته تُرْجَعُونَ ﴿۱۵﴾ بیرته به بیولے کیږئ تاسے په ورځ دقیامت دیاره دجزاد
اعمالو خپلو وَلَقَدْ آتَيْنَا اوهر اُئینه په تحقیق ورکړے وو مونږه بَنِي إِسْرَائِيلَ اولادیعقوب علیه السلام لره کتاب چه تورات وو وَالْحُكْمَ اوحکمت اوفقاهت هم یافصل
دخصوماتو په مابین دخلقو حُكْمَ چه بادشاهی په دوئ کښ ده وَالنُّبُوَّةَ اوپیغمبری هم حُكْمَ
چه په دوئ کښ دزمانے دیوسف علیه السلام نزوختنه دعیسلی علیه السلام پورے او یازره پیغمبران
تیرشوی دی وَرَزَقْنَاهُمْ اوروزی ورکړے وه مونږه دوئ لره مِنَ الطَّيِّبَاتِ له پاکیزه خیزونو
لکه من اوسلوی وَفَضَّلْنَاهُمْ اوغوره کړی وو مونږه دوئ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۱۶﴾ په عالمیانو زمانے
خپلے وَآتَيْنَاهُمْ اوورکړے وو مونږه دوئ بَيِّنَاتٍ مِنَ الْأَمْرِ بنکاره دلیلونه له امره ددینه
یعنی له حلالو اوله حرامو یا بنکاره آیتونه له امرد محمد صلی الله علیه وسلم دلالت کونکی په
صدق ددهٔ فَمَا اخْتَلَفُوا پس نهٔ دے کړے اختلاف دوئ په پیدا کولو ددهٔ کښ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا
مگر پس له هغه چه جَاءَهُمُ الْعِلْمُ چه راغلهٔ دوئ لره پوهه یعنی یقین په دے چه دا هم هغه پیغمبر
دے چه منعوت دے په تورات کښ اوبیا ددهٔ حال ئے پته کړهٔ له خلقو بَغْيًا بَيْنَهُمْ له جهته د
هغے بغی اوسرکشئ یعنی په سبب د هغه عداوت چه پیدا شویدے په دوئ کښ له دیره بغضه او
حسده إِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستاسه دے يَقْضِي بَيْنَهُمْ حکم به وکا په مابین ددوئ کښ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
په ورځ دقیامت فِيمَا كَانُوا په هغه باب کښ چه وو دوئ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۷﴾ چه په هغه

کښ اختلاف به ئے کولو ثُمَّ جَعَلْنٰكَ بیا وګرځولے مونږه تهٔ عَلٰى شَرِيْعَةٍ په یوه طریقه او لاره مِّنَ الْاَمْرِ له لاره د دینه فَاتَّبِعْهَا پس متابعت اوپیروی ئے کوه تهٔ اے رسوله وَ لَا تَتَّبِعْ اومهٔ کوه پیروی اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ دارنړو کانو دهغه کسانو لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾ چه نهٔ پوهیږی دوی په حقیقت د توحید یعنی مشران دقریشوچه تا راکاږی متابعت د دین دپلرونو خپلوتهٔ اِنَّهُمْ بیشکه چه دوئ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ له سره دفع نه کاله تا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا له خدائ یعنی له عذابه د دهٔ هیڅ څیز وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ او بیشکه ظالمان یعنی کافران چه دی بَعْضُهُمْ بعض د دوئ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ د دوستان د بعضو نور دی له جهته د مناسبته او د جانسته د ئ په خپل میڼځ کښی او هر کله چه ستا د جانست ورسره نشته نو ته له دوئ سره دوئ مهٔ کوه وَ اللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹﴾ او خدائ دوست دے د پرهیزګارانو تهٔ هم له دوئ سره دوستی کوه هٰذَا دا قرآن چه دے یعنی هغه معالم د دین او شرائعوچه په دهٔ کښ دی بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ هغه بینائ ګانے دی د پاره د خلقوچه په هغوسره جدا کوی دوئ حق له باطل وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ اورهنمائ اومهربانی ده له طرفه د خدائ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ د پاره د هغه قوم چه یقین راوړی دوئ په بعث اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ ایا ګومان کسانو دا اَمر په معنیٰ د هم زه دانکار دے اِجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ چه کسب ئے کړے دے د بد یعنی کفر او د معاصیو اَنْ نَّجْعَلَهُمْ د دے چه وبه ګرځوو په اخرت کښ مونږه دوئ کَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په مثل د هغو کسانو چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی دوئ د نیکو سَوَآءً برابر دے او دا بدل دے له کاف د کالذین ای نجعلهم سواء مَّحْيَاهُمْ ژوندون د دوئ وَمَمَاتُهُمْ اوهم مرګ د دوئ یعنی دوئ ګمان کوی د مساوات دابدا نو له نیکانو سره هم په ژوندون اوهم په مرګ کښ اود اَنهٔ ده نو سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۲۱﴾ بد دے د احکم چه کوی دوئ د برابرو والی بلکه د دوارو طالفو ژوند او مرګ د دوارو سره بیل دی ځکه چه د دوئ تمام عمر په فرمانبرداری اوپه طاعاتو کښ وو او هغو درست عمر په بے فرمانی اوپه کفر اوپه معاصیو کښ وو د اخو معامله ئے د دنیاده اوهدا سے پس له مرګه هم حال ئے سره بیل دے ځکه چه دوئ به په رحمت په نعمت په کرامت کښ وی اوهغه به په زحمت په حسرت په ندامت په دوزخ کښ وی الحکم لِلّٰه وَخَلَقَ اللّٰهُ اوپیدا کړیدی خدائ

تعالیٰ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اسمانونہ اوزمکہ بِالْحَقِّ پہ رښتیا چہ دلالت وکا دا پیدا کول ئے پہ قدرت کاملہ دخدائی وَلِتُجْزٰی کُلُّ نَفْسٍ او بدل دپارہ ددے چہ پورہ اجر بہ ورکړے شی ہر نفس لرہ بِمَا كَسَبَتْ پہ ھغہ چہ ئے کړی وو پہ دنیا کښی لہ نیکۍ او لہ بدئ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ (۲۲) او دوئ چہ دی وبہ نہ کړے شی پرے ظلم او تیرے پہ کمولو دنیکۍ او دابرار و پہ زیاتولو دبدیو اشرارو اَفَرَءَيْتَ مَنِ ۱۲ یا پس وینے تہ ھغہ کس اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ چہ نیولے ئے وی معبود خپل ارزۂ دنفس یعنی ھرڅہ چہ ورتہ نفس امارہ وائی اگرچہ مخالف وی لہ شریعتہ ھم ھغہ کوی وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ اوگمراہ کړے وی دے اللہ تعالیٰ پہ علم ازلی کښی یا گمراہ کړے وی ئے خدائی تعالیٰ سرہ لہ پوھے ددہ پہ حق اوباطل باندے وَخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ او مھر ایخودے وی خدائی تعالیٰ پہ غوږ دہ چہ حق نہ اوری وَقَلْبِهٖ اوپہ زړۂ ئے چہ پہ حق نہ پوھیږی وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ط اوگرځولے دہ خدائی تعالیٰ پہ سترگو ئے پردہ چہ حق نہ وی فَمَنْ يَّهْدِيْهِ پس څوك بہ لارہ وښائی دے تہ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ط پس لہ گمراہ کولو دخدائی دۂ لرہ یا بغیر لہ خدائی اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ (۲۳) ایا پس نہ اخلئ تاسے پند پہ اپتو نو اوقدرتونو دخدائی تعالیٰ یعنی ضرور پندپرے واخلئ وَقَالُوْٓا او وائی ھغہ منکران لہ قیامت مَا هِيَ نشتہ ژوند اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا مگر ھم دا ژوندون خُموښرہ دے پہ دے دنیا کښی نَمُوْتُ وَنَحْيَا چہ مُخے فنا کیږو یعنی مرو او مُخے ژوندی کیږو یعنی پیدا کیږو وَمَا يُهْلِكُنَآ اونہ ھلاکوی موښرہ لرہ اِلَّا الدَّهْرُ مگر زمانہ یعنی تیریدل ئے چہ ھر کل زارۂ شونو خود بہ مرۂ شو وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ اونشتہ دوئ لرہ پہ دے کښی نسبت دمرۂ زمانے تہ کوی مِنْ عِلْمٍ ھیڅ پوھہ اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ (۲۴) نہ دی دوئ مگر فقط اتکل کوی بے دلیلہ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اوھر کلہ چہ ولوستے شی پہ دے کافرانو چہ مکړی لہ قیامتہ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ اٰیتونہ د قرآن خُموښرہ بَيِّنٰتٍ پہ دے حال چہ واضحہ دی اودلالت کونکی دی پہ ژوند پس لہ مرۂ یہ مثل دقل يُحْيِيْهَا الذِيْ انشاها اول مرة او بل ان ان الذی احیاها لمحی الموتیٰ مَا كَانَ حُجَّتَهُمْ نو وی دلیل ددوئ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتُوْا مگر ھم داخبرہ چہ وائی ائتوا چہ راولئ یعنی فِی الحال ژوندی

---

۱۲ یعنی ووایہ اے محمدہ ۱۲ چہ ژوندی بہ کړی ھغو کولرہ ھغہ خدائی چہ پیدا کړی ئے وو اول خُلد یعنی پہ تحتین سرہ ھغہ خدائی چہ ژوندی کړی ئے دی دا ھر اُبینہ ژوندے کونکے دمړیو دے ۱۲

کړئ بِاٰبَآئِنَآ پلاران مړه ځمونږه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ که چرے یئ تاسے رښتینی یږ ے کښ چه ژوندون پس له مرشته دے قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ وایاید ورته اے رسوله چه خدائ ژوندی کوی تاسے له نطفے دمور او پلار نه په رحم دمیندو کښ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ بیا به مو وژنی چه اجل مو راشی ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ بیا به مو سره ټول جمع کړی اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ حساب دورځے دقیامت ته لَا رَيْبَ فِيْهِ چه نشته دے هیڅ شک په راتلو کښ ئے وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات دسړو چه منکړی له قیامته لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ نه پوهیږی په دے چه نشته شک په راتلو د قیامت کښ نو ځکه ترے انکار کوی وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ او خاص خدائ لره ده بادشاهی د اسمانونو او د زمکو وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ او په هغه ورځ چه ودریږی یعنی شروع شی ورځ د قیامت يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ نو په هغه ورځ به زیانکاره شی هغه باطل دینه چه کافران دی یعنی په هغه ورځ به ښه ظاهره شی زیانکاری ئے ځکه چه په دوزخ کښ به اچولے شی وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً او وینے به ته اے کتونکیه په دغه ورځ هر هر ډله ناسته په زنګنو نو له ډیره هیبته او یا جمع کړے شوے ده دپاره د حساب كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا هر هر ډله به بللے کیږی کتاب د عملونو خپلو ته او ویلے به شی ورته چه اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ نن ورځ به جزاء درکړے شی مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ د هغه څیز چه کولو تاسو په دنیا کښ هٰذَا كِتٰبُنَا دا کتاب ځمونږه دے یعنی ځمونږه په امر او حکم دا کتاب لیکلے دے كرام الکاتبینو يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ چه اوس خبرے کوی دے په تاسے یعنی په عملونو ستاسے بِالْحَقِّ په رښتیا سره بے د زیاتوالی اوله کم والی نه اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ بیشکه مونږه وو چه لیکل به مو یعنی ملائکو ته به مو ویل چه لیکئ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ هغه چه وئ تاسے چه کول به مو په دنیا کښ له نیکئ اوله بدئ نه فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس هر کله چه هغه کسان دی چه یقین ئے کړے وی په خدائ او په رسول د خدائ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او کړی ئے وی نیه ښه کارونه په دنیا کښ فَيُدْخِلُهُمْ پس ننه به باسی دوئ لره رَبُّهُمْ خدائ د دوئ فِيْ رَحْمَتِهٖ په رحمت خپل کښ چه جنت دے ذٰلِكَ دا نو تل په جنت کښ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۰﴾ هم دا بریے اوغلبه ده ظاهره په نفس او شیطان وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هر چه هغه کسان دی چه کافر وو په دنیا کښ نو دا سے به

ورتہ وویلے شی اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ ایا پس نہ وو ایتونہ حُما تُتْلٰى عَلَيْكُمْ چہ لوستے کیدل بہ پہ تاسے پہ دنیا کښ پہ ژبہ درسولانو حُما فَاسْتَكْبَرْتُمْ پس تکبر بہ موکولو لہ قبلولو دھغہ او ایمان موپرے نہ راوړو وَكُنْتُمْ اووئ تاسے قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ (۳۱) یو تولے کافران وَاِذَا قِيْلَ اوھر کلہ چہ ووبہ ویلے شو درتہ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ بیشکہ وعدہ دخدائ دژوند پس لہ مرکہ رښتیادہ وَّالسَّاعَةُ اوقیامت چہ دے لَا رَيْبَ فِيْهَا نشتہ ھیڅ شک پہ راتلوکښ قُلْتُمْ نو ویل بہ موورتہ پہ جواب کښ چہ مَّا نَدْرِيْ مَا السَّاعَةُ نہ پوھیږو مونږہ چہ څہ څیز دے قیامت اِنْ نَّظُنُّ نہ یو مونږہ چہ کمان کوو پہ راتلو د قیامت اِلَّا ظَنًّا مگر پہ یو ضعیف کمان سرہ وَّمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ (۳۲) او نہ یو مونږہ یقین کونکی پہ راتلو د قیامت وَبَدَا لَهُمْ اوظاھر بہ شی دوئ تہ پہ قیامت کښ سَيِّاٰتُ مَا بدی اونا کاری دھغہ عمل عَمِلُوْا چہ کړے ئے وو پہ دنیا کښ وَحَاقَ بِهِمْ اونازل او چاپیرہ بہ شی پہ دوئ باندے مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ (۳۳) ھغہ چہ وو دوئ پہ ھغہ پورے بہ ئے ټوقے کولے چہ ھغہ عذابونہ د قیامت دی وَقِيْلَ او وبہ ویلے شی ورتہ لہ جانبہ دخدائ چہ اَلْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ نن ورځ مونږہ پریخودی یو تاسے پہ دوزخ کښ كَمَا نَسِيْتُمْ لکہ چہ پریخودی او ھیر کړی وو تاسے پہ دنیا کښ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا یوګلے کیدل لہ ورځے خپلے سرہ چہ داورځ د قیامت دہ یعنی قیامت موبالکل ھیر کړے وو او ښۀ بنۀ عملونہ مونۀ کول وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ او ځائ درجوع ستاسے اوس اور د دوزخ دے وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ (۳۴) او نشتہ تاسے لرہ ھیڅوک مدد کاران چہ لہ عذابہ موخلاص کا ذٰلِكُمْ دغہ عذابول ستاسے بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ پہ سبب د دے دی چہ بیشکہ تاسے نیولی وو اٰيٰتِ اللّٰهِ ھُزُوًا ایتونہ دخدائ یعنی قرآن پہ ټوقو او مسخرہ سرہ وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا او غولولی وئ تاسے ھغہ ژوندون نزدے او لږ ترھغہ پورے چہ ویل بہ مونشتہ بیا ژوندون او حساب فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا پس نن ورځ بہ نۀ شی ویستے دوئ لہ دغہ اور نہ د دوزخ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ (۳۵) او نۀ بہ وی دوئ چہ طلب د رانی کولو د خدائ ترے وکړے شی پہ توبہ یا پہ عبادت سرہ ځکہ چہ ھر کلہ پہ دنیا کښ ئے نہ وو کړی نو پہ دغہ ورځ کښ کۀ ئے وکړی ھم ھیڅ نفع نۀ رسوی او پہ کار نۀ دی فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ پس خاص خدائ

لره ده ثنا ئوله رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ چه ترتیب کونکے دا اسمانونو او د زمکو دے رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۳۶) تربیت کونکے د ټولو عالمونو دے وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ اوخاص هم دهٗ لره ده لوئی فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ص په اسمانونو او په زمکو کښ وَهُوَ الْعَزِيْزُ اوهم دے غالب دے په بادشاهۍ کښ الْحَكِيْمُ (۳۷) هر کار ئے په حکمت دے اومحکم کار ئے دے۔ ع

سُوْرَةُ الاحقاف مکیة ۴۶ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۳۵ رکوعها ۴

حٰمٓ (۱) خدائ عالم دے په معنیٰ دے حرفونو او موټو ته ایمان راوړلے دے په هغه چه مراد دے د خدائ له دوئ نه تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لیږل د کتاب یعنی د قرآن مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ لخدائ دی چه غالب دے په هرچا الْحَكِيْمِ (۲) هر کار ئے له حکمته خالی نه دے مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ نهٗ دی پیدا کړی موټو ته دا اسمانونه او زمکه وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ اوهغه څیزونه چه په مینځ ددے دواړو کښ دی مګر په ریښتیا سره وَاَجَلٍ مُّسَمًّى او په یوے ټاکلے معینے اومقرر ے سره یعنی موټو ته مقرر کړے ده چه دومره موده پس به فنا کیږی۔ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوهغه کسان چه کافران شوی دی عَمَّآ اُنْذِرُوْا له هغه څیزه چه دوئ ډرے ویرولے شی چه قرآن دے مُعْرِضُوْنَ (۳) مخ کړونکی دی نهٗ ګوری ورته قُلْ ووایه ورته اے پیغمبره! اَرَءَيْتُمْ مَّا ایا خبر کړئ ما په حال دهغه بتانو تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ چه تاسو ورلره عبادت کوئ بغیر له خدائ یعنی پرته له خدائ لره عبادت نهٗ کوئ اوهغوله ئے هم کوئ نو اَرُوْنِيْ مَاذَا وښایئ ما ته کوم څه هغه څیز خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ چه پیدا کړے دے دوئ له زمکے اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ ایا که شته دوئ لره شریکوالے له خدائ سره فَائْتُوْنِيْ دا اَمْ په معنیٰ دهمزے انکاری دے یعنی نشته له خدائ سره شریک فِي السَّمٰوٰتِ په پیدا کولو اسمانونو کښ ائْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ راوړی ما ته کوم یو کتاب چه نازل کړے شوے وی مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ پخوا له دے قرآن چه په هغه کتاب کښ حکم کړے شوے وی په شریک نیولو خدائ سره اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ یا یو باقی پاتے شوے له علم د پخوا نو رسولانو چه هغه شاهدشی په دے دعویٰ ستاسے اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (۴) که ئیۍ تاسے

ربنتینی په دے کښ چه په عبادت کو لودے بتانو نه مونږه نزدے شوخدائ ته وَمَنْ اَضَلُّ او خوك دے ډیر گمراه یعنی نشته هیڅوك گمراه مِمَّنْ یَّدْعُوْا له هغه چا چه عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بغیر له خدائ چه لائق دے دعبادت مَنْ لَّا یَسْتَجِیْبُ دهغه چا چه نهٔ کولے قبلول هغه معبود. لَهٗۤ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ دے عبادت کونکی لره تر ورځے د قیامت کهٔ ترے نه څهٔ وغواړی وَهُمْ عَنْ دُعَآىِٕهِمْ اودغه بتان ئے له عبادت ته دوئ نه غٰفِلُوْنَ ⑤ ناخبره دی. پس هر کله چه هغوئ پخپله حیران دی اوله عبادت ته ئے غافل دی نو به څرنګ نفع ورنه ورسوی وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ او هر کله چه بیا جمع کړے شی د اټول سړی د پاره د حساب گانوٗا نووی به د ابتان ئے لَهُمْ اَعْدَآءً دئے عبادت کونکو خپلو لره دښمنان وَّكَانُوْا اووی به د ابتان بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ⑥ په عبادت د عبادت کونکو خپلو منکران وائی به چه مونږه لره موبالکل هیڅ چرے عبادت نهٔ دے کړے هسے دروغ وایئ اوچا دا سے ترجمه کړے ده چه وی به دا عبادت کونکی دبتانو په عبادت دبتانو خپلو منکران یعنی وائی به چه والله ربنا ما کنا مشرکین مخنی دا سے ده چه قسم په خدائ چه څمونږه رب دے په دے چه نهٔ وو مونږه په دنیا کښ شریک نیونکی له خدائ سره بلکه مومنان موحدان وَاِذَا تُتْلٰی عَلَيْهِمْ اوهر کله چه لوستے شی په دے اهل دمکے باندِ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ ایتونه د قرآن څمونږه په دے حال کښی چه واضح دی یعنی معنی ئے قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لنو وائی هغه کسان چه کافر شوی دی لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ لا قرآن ته هر کله چه راغلو ورلره دا سے چه هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑦ دا قرآن سحر دے ظاهر اَمْ يَقُوْلُوْنَ بلکه وائی دوئ یعنی په دے بس والے نهٔ کوی چه دَ قرآن ته سحر وائی اِفْتَرٰىهُ طچه له خپله خانه جوړ کړیدے محمدؐ دا قرآن. اوله خدائ نهٔ دے راغلے قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ ووایه و رته پیغمبره کهٔ چرے له خانه م جوړ کړے وے اوله خدائ نهٔ وی فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِیْ پس نهٔ به شی تاسے مالکان یعنی خلاصونکی مالږه مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا له عذاب د خدائ هیڅ قدر یعنی کهٔ زهٔ دروغ ووایم په خدائ نو دفع به نهٔ کړئ تاسے له ما نه عذاب دخدائ هیڅ قدر نو پس څهٔ لره به جوړ ومه چه خدائ دروغ هُوَ اَعْلَمُ دغه خدائ بنهٔ عالم دے بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ په هغه ویلو چه تاسے کیودئ په هغهٔ کښ یعنی هر یوه خبره چه کوئ پرې

د قرآن کښی چه سحر او مفترای و رته وائی پس خدائ پرے بنهٔ خبردار دے کَفٰی بِهٖ شَهِیْدًا ۱ بس دے دغه خدائ شاهد بَیْنِیْ وَبَیْنَکُمْ ط په میخ حُما او ستاسے کښی په دے چه د قرآن له طرفه د خدائ دے او ماجور پکړے نهٔ دے وَهُوَ الْغَفُوْرُ اوهم دغه خدائ بخښونکے دے د ګناهونو تو ۔ ایستونکیو الرَّحِیْمُ ۸ مهربانه دے چه تلوار اوجلتی نهٔ کوی په عذابولو دکا فرانو او د عاصیانو کښی قُلْ و وایه ورته اے رسوله! چه مَا کُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ نهٔ یم زهٔ اول له لیږلو شویو د خدائ بلکه اول له مانه هم د پیر رسولان تیر شوی دی پس له پیغمبرئ حُما نه ولے انکار کوئ او په ما پورے دروغ وایئ وَمَآ اَدْرِیْ او نهٔ پوهیږم زه چه مَا یُفْعَلُ بِیْ څه به کولے شی له ماسره په دنیا کښی یعنی چه له خپله وطنه به شړلے شم یا که به و ژلے شم لکه چه شړلے شوی او وژلے شوی و و پخوانی پیغمبران وَلَا بِکُمْ ط او نهٔ پوهیږم چه څهٔ به کولے شی له تاسے سره په دنیا کښی یعنی چه به سنګسار پرے کړی لکه د اصحاب فیلو په شان یا کهٔ به د پوبیرئ لکه د فارونیانو او فرعونیانو په شان اِنْ اَتَّبِعُ نهٔ کوم زهٔ متابعت او پیروی اِلَّا مَا مګر د هغه څیز چه یُوْحٰٓی اِلَیَّ وحی کولے شی ما ته له رب العلمین او نهٔ جوړوم له خپله خُانه هیڅ څیز وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ۹ او نهٔ یم زهٔ مګر ظاهر ویرهٔ ونکے له عذابه قُلْ اَرَءَیْتُمْ و وایه ورته چه آیا خبر کړئ تاسے ما په دے اِنْ کَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ کهٔ وی دا قرآن له نزده د خدائ وَکَفَرْتُمْ بِهٖ او حال دا چه کافر شوی یئ ناسے پرے باندے وَ شَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ او شاهدی ویلی وی یو شاهد له عالمانو د بنی اسراءیلو چه هغه عبد الله بن سلام دے عَلٰی مِثْلِهٖ په دے قرآن چه د اله خدایه راغلے دے او بعضو له مفسرانو ویلی دی چه مراد له دغه شاهده موسیٰ کلیم الله دے نو معنی دا ده شوه چه کهٔ هغه شاهدی ویلی وی په مثل د دے قرآن چه تورات دے یعنی لکه چه د قرآن بیان کوی چه خدائ واحد لاشریک دے او ژوندون پس له مرګه او جمع کیدل د خلقو د پاره د حساب حق دی او داسے نور احکام شونو هم دارنګه به هغه شاهد د بنی اسراءیلو له تورات څخه احکام بیانول فَاٰمَنَ پس ایمان راوړے وی هغه شاهد پرے وَاسْتَکْبَرْتُمْ ط او تکبر کړے وی تاسے له ایمان پرے تنبیه دلته کښی جزاد شرط چه اِنْ کان دے مقدر دی چه الستم ظالمین ده حاصل

ئے داشہ چہ ھر کلہ دھنہ بل امت شاھد پرے شاھدی ویلی وی او ایمان ئے ھم پرے راوړے وی
بیا تاسے ترے تکبر وکړئ نو ایا نۀ بہ یئ تاسے ظالمان بلکہ یئ بہ اود لالت پہ دے جزا کښی داچہ
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ بیشکہ چہ خدائی لارہ نۀ بنائی یعنی توفیق دمومنو لونہ ورکوی الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ (۱۰)
ھغہ ټولی دظالمانو لرہ روایت دے چہ ھر کلہ عبد اللہ بن سلام او اصحابو دۀ ایمان راوړو
نو یہودیانو وویل وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وویل ھغہ کسانو چہ کافر شوی وو لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پہ
حق دمؤمنانو کښی داسے چہ لَوْ كَانَ خَيْرًا کہ چرے وے دا ایمان راوړل پہ قرآن او پہ محمد صلے
اللہ علیہ وسلم باندے یو نبۀ بہتر کار مَّا سَبَقُوْنَآ نو نۀ بہ وو وراندی شوی دا مؤمنان لہ مؤمنانو
لہ مونږہ اِلَيْهِ ط دغہ بہتر کارتہ بلکہ بنۀ کارنۀ دے ځکہ ئے مونږ نۀ راوړہ وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ
او پہ دغہ وخت چہ لارہ بیانہ موندہ یہودیانو پہ دے قرآن سرہ فَسَيَقُوْلُوْنَ پس زر دے چہ
وائی بہ هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ (۱۱) دا قرآن دروغ دی پخوانی یعنی پخوا عالمانو دروغ سازکړی دی
وَمِنْ قَبْلِهٖ او حال دا دے چہ پخوا لہ دے قرآنہ كِتٰبُ مُوْسٰٓى تورات دموسیٰ کلیم اللہ اِمَامًا
وَّرَحْمَةً ط پہ دے حال چہ پیشوا وو مؤمنانو لرہ او سبب درحمت وو پہ دوئ وَهٰذَا كِتٰبٌ
مُّصَدِّقٌ او دا قرآن یو کتاب رښتینے کونکے دے ھغہ خبرو او صفتونو لرہ چہ پہ تورات او نورو
پخوانیو کتابونو کښی وو لِّسَانًا عَرَبِيًّا پہ دے حال کښی چہ پہ ژبہ عربی دے لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ دپارہ دے
چہ وویروی دا قرآن ھغہ کسان ظَلَمُوْا ق چہ ظلم ئے کړے دے پہ خپلو نفسونو او کافر شوی دی وَبُشْرٰى
لِلْمُحْسِنِيْنَ ج (۱۲) او زیرے دخوشحالئ دے نیکوکارانو لرہ چہ مؤمنان دی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکہ ھغہ
کسان چہ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ وائی رب خو مونږہ خدائ دے نۀ بتان ثُمَّ اسْتَقَامُوْا بیا ودریږی محکم
پہ عبادت ددۀ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ پس نۀ بہ وی ویرہ پہ دوئ پہ دنیا کښی وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ج (۱۳)
او نۀ بہ وی دوئ چہ خفہ بہ شی پہ اخرت کښی اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ دغہ کسان یاران او
اوسیدونکی دجنت دی خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ج پہ دے حال چہ همیشہ بہ وی پکښی جَزَآءً م ورکولے
بہ شی جزا یعنی مزدوری بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۴) پہ سبب دھغہ عملونو چہ وو دوئ چہ کول
بہ ئے پہ دنیا کښی لہ نیکئ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ او امر کړے دے مونږہ ھر سړی تہ بِوَالِدَيْهِ اِحْسَانًا

له مورِ پلار سره د نیکۍ کولو حُکه چه حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا پورته کړے وو دے مور چیلے په نس کښ په سختئ وَ وَضَعَتْهُ كُرْهًا او بیا ئے ایخودلے یعنی زیکولے وو په سختئ وَحَمْلُهٗ اود اپورته کول د دۀ په نس دمور کښ وَفِصٰلُهٗ اوجدا کول ئے له قتی دمور نه ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ط دیرش میاشتے دی حُکه چه اقل موده دحمل شپږ میاشتے ده اوموده د تی رودلو دوه کلونه برابر دی نوخو د دیرش میاشتے شوے او په یو روایت کښ له ابن عباس رضی الله عنه دا سے نقل دی چه کهٔ وضع دحمل ئے پس له نهو میاشتو وکړه نو موده د تی رودلو ئے دوه کلونه دی برابر. بیانو دے یاتے شوځوند ے حَتّٰٓى تر هغه پورے اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ په هغه وخت چه ور سیدلو دے قوت اوهوښیارۍ خپلے ته وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً او ورسید لو مورے د خلویښتو کالو نو ته قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ نو وے ویل چه اے ربه زما الهام وکړے ما ته په زړهٔ کښ او توفیق راکړے اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ دے چه زهٔ شکر اداکړم دنعمت ستا الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ هغه نعمت چه دِ کړے دے په ما چه مسلمان کړے دِ یم وَعَلٰى وَالِدَيَّ او کړے دِ ے په مور او پلار حُما چه هغوئ دِ هم مسلمانان کړی دی وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا او توفیق دِ دے هم راکړے چه کومه زهٔ کار بنائسته تَرْضٰىهُ چه تهٔ راضی کیږے په هغه کار سره له ما وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ط او وکړئ صالح والے یعنی ښهٔ والے په اولاد حُما کښ یعنی اولاد م صالحان کړے اِنِّيْ تُبْتُ په تحقیق سره مارجوع کړے دِه اِلَيْكَ تانه له هغه خیزه چه ستا رضا پرے نهٔ وی وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۵﴾ او زهٔ له کردن ایخودو نکو یم فرمان ستا ته **روایت دے** له ابن عباس رضی الله عنه نه چه دغه تیر ایت سره له مابعده په حق دابوبکر صدیق رضی الله عنه کښ نازل شوے دے حُکه چه دے شپږ میاشتے دمور په نس کښ وو او دوه کاله ئے تے رودلو او اتلس کاله ئے په ملازمت دحضرت کښ تیر کړی وو او دیر احسان به ئے له مور او پلار خپل سره کولو بیا هر کله چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دخلویشتو کالو شهٔ نوخدائ پیغمبر کړ وخلق ته اوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا ته ویشتو کالو نو وو نودهٔ پرے ایمان راوړهٔ بیا په دویم کال دهجرت دحضرت محمد صلے الله علیه وسلم چه ابوبکر صدیق څلویښتو کالو ته ورسیدهٔ نو دغه تیر شوے سوال ئے رب ته وکړو پس خدای ئے قبول کړو او مور پلار ئے هم په اسلام مشرف شو او بیا ئے خُوئ چه عبد الرحمٰن نوم ئے وو ایمان راوړهٔ بیا ئے نرۍ

ګوی د عبد الرحمٰن چه ئے نوم ابوعتیق وو اسلام راوړۀ او لور یې عائشه رضی اللہ عنہا چه حرم د رسول اللہ علیه وسلم وه اوچا ویلی دی چه دا ایت عام دے یعنی په حق دهر چا کښ دے چه داسے کوی اوبهتره هم داده چه عام وی واللہ اعلم اوس اللہ تعالیٰ بنا ئسته حال اومال ددا سے کسانو چه دغه شان نیکی کوی بیا نوی لکه چه وائی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دغه کسان چه داسے نیکی کوی هغه کسان دی چه نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ قبلوو مونږه له دوئ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا هغه ښۀ ښۀ کارونه چه ئے کړی دی وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ او تیریدل کوو له ګناهونوئے ګه ترے صادر شوی وی فِيْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ؕ په دے حال کښ چه وی به په یارانو او اوسیدونکیو د جنت کښ وَعْدَ الصِّدْقِ د وعده کړے ده خدائ وعده رښتیني الَّتِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ (۱۶) هغه وعده چه وو دوئ ورسره به کولے شوه په دنیا کښ په ژبه د رسول ۳ لکه چه وعد اللہ الذین اٰمنوا وعملوا الصّٰلحٰت جنت تجری من تحتها الانهٰر الایة. همدارنګه نورایتونه شول. هرکله چه پروردګار اوصاف اواخر کار د مؤمن مؤحد پرهیزګار بیان کړۀ. نواوس بیان اواظهار د هغه کفارو بدکردارو خراب روزګار چه ګمراوو د مورا و پلارکوی محض د پاره د عبرت اخستلو لکه چه وَالَّذِيْ قَالَ لِوَالِدَيْهِ اوهغه کس چه ویلی ئے وۀ مور پلار خپل ته چه هغوا ایمان اُفٍّ لَّكُمَآ بد حالی اونا کاره والے دِی تاسے د واړو لره اَتَعِدٰنِنِيْٓ ایا تاسے د واړه وعده کوئ له ما سره اَنْ اُخْرَجَ له دے چه بهر به کړے شم له قبره یعنی چه مړشم نو بیا به هم ژوندے کیږم وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ ع اوحال داچه په تحقیق پخوا تیر شوی دی یعنی مړۀ شوی دی اهل د زمانو اوله هغوئ تراوسه یوهم ژوندے مشوے نۀ دے نوزۀ به څرنګه ژوندے شم وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ او هغه دواړو فریاد اوزاری کوله خدائ ته د پاره د اسلام دۀ او ویلے ورته چه وَيْلَكَ هلاک دے تالره په قیامت کښ کۀ له کفره ونه ګرځیدے بلکه اٰمِنْ ؕ ایمان راوړه چه په امان شے اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ بیشکه چه وعده د خدائ ژ ژوندون پس له مرګ رښتیا ده هیڅ شک پکښ نۀ شته فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ پس ویل به دۀ هغو ته چه نۀ دی د اویل ستاسے ژوندون پس له مرګ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ

عه یعنی وعده کړیے ده خدائ تعالیٰ هغه کسانو سره چه یقین ئے کړے وی په خدائ او رسول او ښۀ ښۀ کارونه کوی که جنتو نو چه بهیری به لاندے ئے ولے تر آخره ۱۲

الْوَالِدَيْنِ ﴿۱۷﴾ مکر خوشے قصے دپخوا نیودی هیڅ اعتبار ورلره نشته اوس الله تعالیٰ عاقبت دده شان کسانو بیانوی لکه چه وائی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَقَّ دا ټولے هغه کسان دی چه ثابته شوے او واجبه شویده عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ په هغه خبره دعذاب یاچه دوئ اهل داوردی فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ؕ په ډلوکښن چه په تحقیق تیرشوی دی پخواله دوئ له پیریانو او سړیو اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۸﴾ داسے چه بیشکه دوئ وو په علم ازلی دخدائ کښن زیان کاران کافران وَلِكُلٍّ اوشته دے هر چاڅه که مؤمن وی کۀ کافر وی، مطیع وی که فاجر وی دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ درجے او مرتبے له هغه چه ئے کړے وی په دُنیا کښن اوخدای مقرر کړے دے هر چاڅه درجے او مرتبے دپاره دعدل وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ او بدل دپاره دے چه برابره ورکړی دوی لره مزدوری د عملونو ئے وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾ او دوئ چه دی ظلم به نه شی پرے کولے له هیڅ وجے نه پرکمولو دنیکئ مؤمنانو لره اونه په زیاتو دبدئ کافرانولره وَيَوْمَ اویاده کړه اے رسوله دوئ ته هغه ورځ چه يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وړاندے به کړے شی هغه کسان چه کافر شوی دی عَلَى النَّارِ ؕ په اور دوزخ دپاره داچولوپکښن اووبلے به شی ورته چه اَذْهَبْتُمْ وړی دی تاسو طَيِّبٰتِكُمْ هغه خیزونه لزتناكُ خپل فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا په هغه ژوندون خپل کښن چه نزدے دوتاسے یادوو وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا او نفع مواخستله وه په هغه لذتونوچه په دنیا کښن اوهیڅ خیز مړد پاره دآخرت نه وو پریښے فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ پس نن ورځ جزا درکولے شی عَذَابَ الْهُوْنِ عذاب دسپک والی اوخوارولی یعنی هغه عذاب چه پکښن ذلت اوحقارت وی بِمَا كُنْتُمْ په سبب دهغه چه وئ تاسے په دنیا کښن تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ تکبر به موکولو په زمکه کښن په ناحقه سره وَبِمَا كُنْتُمْ او په سبب دهغه چه وی تاسے تَفْسُقُوْنَ ﴿۲۰﴾ ایستل به موځانونه خپل له طاعته اوعبادته دخدائ یعنی طاعت دخدائ اودرسول ۴ به نه کولو بلکه هوا دنفسونو پسے به تللئ وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ؕ اویاده کړه اے محمد صلے الله علیه وسلم دے قوم خپل تہ قصه درور دعاد۔ یعنی چه یود قبیلے دوئ نه وه اونوم ئے هود وو دوئ دعبد الله بن رباح بن خلود بن عاد بن عوص بن ارم بن سام بن نوح ۴ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ هغه

وخت چه ویرولوئ قوم خپل له عذاب به بِالْاَحْقَافِ په هغه ځائ او وطن کښ چه نومرئ احقاف
وو قریب حضرموت بنارته په ولایت دیمن کښ احقاف جمع دحقف ده اوحقف د ریګونو
شکوته ویلے شی ځکه چه ددوئ وطن ټول شګه وه په غاړه ددریاب کښ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ او
په تحقیق چه تیر شوی وو نور ویرونکی یعنی پیغمبران مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وراندے له هودؑ وَمِنْ خَلْفِهٖ
اوورو ستو یعنی له دهٗ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا په دے شان چه مهٗ کوئ عبادت دبل هیچا لره اِلَّا اللّٰهَ ؕ مګر
یوائے یوخدائ لره چه لایق د عبادت دے اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه زهٗ ویریږم په تاسے کے عبادت
دبل چامووکړو عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۲۱﴾ دعذاب دورځے لوئ چه هغه ورځ د نزول دعذاب ده
قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا وویل ورته هغه قوم ځے په جواب کښ چه ایا راغلے ځے ته مونږه لره لِتَاْفِكَنَا
دیاره دے چه تهٗ وګرځوے مونږه عَنْ اٰلِهَتِنَا له عبادت ته دبتانو دین خپل ته نو دا کار خونهٗ
کیږی فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ پس راوله ته مونږ لره هغه عذاب چه ته ویرولے مونږه په هغه سره
اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾ که ځے ته له رښتیانو په ویرولو ځمونږه کښ له عذاب قَالَ اِنَّمَا
الْعِلْمُ ووایل ورته هودؑ چه خبره دا ده بله نه ده علم دراتلود عذاب تاسے لره یا علم دهر څیز چه
دے عِنْدَ اللّٰهِ ﷺ خدائ ځخه دے هغه هم پرے خبر دے چه کله به دراوړه عذاب راځی زهٗ پرے نهٗ یم
خبر وَاُبَلِّغُكُمْ اوزهٗ فقط رسوم تاسے ته مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ هغه احکام اوخبرے چه لیږلے شوے
یم زهٗ پرے تاسے ته وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ اولیکن زهٗ وینمه تاسے یوقوم چه ناپوهی کوئ
ظاهره ځکه چه په زوره ځان لره عذاب غواړئ پس چه منع نهٗ شول نوراغے ورلره هغه عذاب
چه دوئ به پرے ویرولے شو فَلَمَّا رَاَوْهُ پس هر کله چه ولیدو دوئ هغه عذاب عَارِضًا په دے
حال کښ چه وه هغه وریځ خوریدونکے په اطراف دآسمان کښ مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ لاړ کونکے او
راتلونکے کندواو ملکونو دوئ ته نوخوشحاله شو پرے ځکه چه باران نه بند شوے وو ۔
قَالُوْا هٰذَا وُوے دوئ پخپلو کښ چه دغه راتلونکے مونږه لره عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا لوی یوه وریځ
ده باران ورړونکے په مونږ ووایل ورته الله تعالیٰ یا هودؑ ! چه دغه ورځ باران ورونکے نهٗ
ده بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ؕ بلکه داهغه عذاب دے چه تلوار به موکوله په غوښتو کښ ځے

رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۴﴾ دایو باد دے چه په دۀ کښ عذاب درد ناک دے تاسے لره تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍ هسے باد چه هلاکوی هر څیز چه پرے تیرشی بِاَمْرِ رَبِّهَا په اذن درب خپل بیا هرکل چه هغه باد درلره راځی نو هلاک ئے کړل فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى پس وکړځیدل دوئ په دغه عذاب په دا سے شان چه نۀ شولیدے اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ مګر فقط کورونه ئے كَذٰلِكَ هم په مثل د دغه جزا بدے بیخ ویستونکے د دوئ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ جزا ورکوو مونږه هغه ټولی دروغ ویونکو او کافرانو لره وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ اوهر اٸینه په تحقیق تصرف اوقوت ورکړے وو مونږه دوئ لره په یا پرکړی وو مونږه دوئ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ په هغه څیز کښ چه نه دے درکړے تصرف اوقوت مونږ تاسے لره اے اهل د مکے په هغه کښ یعنی د یرد یر مالونه اوقوی قوی صورتونه او لوئی لوی عمرونه ورکړی وو هغوئ لره وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا اوګرځولی وو مونږه دوئ لره غوږونه د پاره د اوریدلو حق وَّاَبْصَارًا او سترګے د پاره د لیدلو د معجزو وَّاَفْـِٕدَةً زړے اوزړونه د پاره د پوهیدلو په خیر او شر فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ پس نۀ کړۀ دفع اوړے له دوئ نه سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ هیڅ غوږونه ئے اونه سترګوئے اونه زړونوئے هیڅ قدرے له عذابه حُکمه چه یوئے هم په حق کښ مستعمل نۀ کړۀ بلکه هر څۀ به وړ ته چه نفس ویل هغه به ئے کول اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ اوهیڅ ئے دفع نه کړه له دے جهته چه وو دوئ انکار به ئے کو بِاٰيٰتِ اللّٰهِ له ایتونو او دلیلونو د خدائ وَحَاقَ بِهِمْ او نازل اوچاپیره به شو په دوئ باندے مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾ هغه عذاب چه وو دوئ پرے پورے به ئے مسخرے او ټوقے کولے وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا اوهر اٸینه په تحقیق هلاک کړی اونیست کړی دی مونږه مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى هغه چه دی چاپیره له تاسے نه له اهل د کلیو نکه جمع چه ځائ د ټولو دیانو وو او مؤ تفکات چه کلی دلوط ۴ دقوم وو او احقاف چه ځائ د عادیانو وو هم داسے نور شو وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ او مکرر مکرر تر ته بیکاره کړی او بیان کړے وے مونږه علامے د قدرت خپل لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾ د پاره د دے چه دوئ وګرځی له کفره خپله لیکن چه ونۀ کړځیدل نو هلاک ئے کړل فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ پس ولے ونه کړۀ مدد له دوئ سره په دفع کولو د عذاب کښ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا هغه بتانو چه نیولی وو دوئ هغه مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

بغیر له خدائ قُرْبَانًا دپاره د نزدے والی په زعم دوئ سره خدائ ته اٰلِهَةً ما معبودان اوخد ایان لکه ویل به ئے مَا نَعْبُدهُمْ الا لیقربونا الی الله زلفیٰ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ج بلکه ورك شول دغه بتان له دوئ نهٔ په وخت د راتلو د عذاب کښ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ اودغه ښول ئے د بتانو د پاره د نزدے والی خدائ ته دروغ دوئ وو وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ (۲۸) اوهغه چه وو دوئ له خپل خانه ئے جوړول بے دلیله روایت دے چه رسول د خدائ صلے الله علیه وسلم دپاره دوعظ اونصیحت بنی ثقیف له تلے وو بیا چه هغوپرے ایمان رانهٔ وړه اودے نزے نا امیده خفه راروان شهٔ چه راتلل له طائف مکے ته نو په لاره کښ پرے صباح شهٔ پس مونځ د صباح ئے سره له اصحابو په بطن نخله نوم ځائ کښ چه په مینځ د طائف اود مکے کښ دے کولو پس قراءت ئے اوهٔ یا نهو تنو پیریانو واورید هٔ هر کله چه نزدے ورلړه راغلهٔ سره په خپلو کښ ئے وویل چه چپ شی اوغوږ پرے کیږدئ داخهٔ والی چه بنهٔ ئے واوریده نو رسول خدا ره راغلل اوایمان ئے پرے راوړهٔ لکه چه والی وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ او یاد کا اے پیغمبره هغه وخت چه وګرځول مونږه مایل تاته نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ یوه ډله پیریانو نفر نوم د هغه جمع دے چه کم دی له لسو يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ج په دے حال چه اوریدلو دوئ قرآن فَلَمَّا حَضَرُوْهُ پس هر کله چه نزدے راغلل رسول صلے الله علیه وسلم لره قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا نو وے سره په خپلو کښ چه چپ شئ چه واورئ داخهٔ والی فَلَمَّا قُضِیَ پس هر کله چه فراغت وکړے شهٔ له قراءته یعنی مونځ ئے پوره کړو نو ایمان ئے پرے راوړه وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ نو وګرځیدل دغه پیریان قوم خپل ته مُّنْذِرِيْنَ (۲۹) په دے حال کښ چه ویرووونکی وو دوئ هغوله له عذابه کهٔ ایمان نهٔ راوړی ددوئ په شان قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ وویل دوئ هغوئ ته چه اے قومه خپلو نږدے اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا بیشکه چه مونږه واوریدهٔ یو کتاب اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى چه نازل کړے شوے دے له خدائ پس له کتاب د موسیٰ ؑ او یاد ئے نهٔ کړهٔ عیسیٰ ؑ حکه چه په انجیل کښ قول اوصاف د الله تعالیٰ دی احکام پکښ په مثل د تورات د پرنشته او یا حکه چه دوئ یهود

عه یعنی نهٔ کوو مونږه عبادت د بتانو مګر د ے د پاره چه نزدے کړی دوئ مونږه خدائ ته حکه چه دوئ مقربان د خدائ دی ۱۲ عمه مفعول اول د اتخذوا ضمیر محذوف دے چه راجع د ے الذین ته او مفعول ثانی ئے قربانا دے نو تقدیر ئے داسے شهٔ اتخذوهم من دون الله قربانا اٰلهة بدل د ے له قربانًا تمّت ۱۲

وو په دین د موسیٰ ؑ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ په دے حال کښ چه رښتینے کوونکے او موافق دے هغه کتابونو لره چه وراندے وو له دهٔ لکه تورات او انجیل او زبور او نورے صحیفے شوے يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ لار ښائی حق ته چه دین د اسلام دے وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۰﴾ او لارے سمے ته چه تلے اور سیدلے دہ خدائ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا اے قومه ځمونږه قبول والے وکړئ دَاعِيَ اللّٰهِ د بلونکی د خدائ خلقو لره ایمان ته چه نوم ئے محمد ﷺ دے وَاٰمِنُوْا بِهٖ او یقین راوړئ پرے يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ چه وبخښی خدائ تاسے ته ځئے ګناهونه ستاسے ځکه چه ځئے ګناهونه لکه ظلم کول شول هغه به خدائ نه بخښی مګر په رضا کیدلو د مظلوما نو سره وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۱﴾ او خلاص به کړی تاسے له عذاب د درد ناک چه عذاب د قیامت دے وَمَنْ لَّا يُجِبْ او هر څوک چه قبول ونه کړی دَاعِيَ اللّٰهِ د بلونکی د خدائ چه پیغمبر دے فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ پس نهٔ به وی دے عاجز کوونکے خدائ لره په زمکه کښ یعنی نهٔ به شی تښتیدے له او پتیدے له هیڅرته له خدائ وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ او نهٔ به وی دے لره بغیر له خدایه نور دوستان مددګاران چه ئے په زور خلاص ګاله عذابه د خدائ اُولٰٓئِكَ دغه کسان چه قبول د حکم د رسول علیه السلام ئے نهٔ دے کړے فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾ په ګمراهئ ظاهرے کښ دی اَوَلَمْ يَرَوْا ایا نهٔ ګوری دغه منکران له قیامت او فکر نهٔ ګوی په دے کښ چه اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ بیشکه خدای هغه ذات دے خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ چه پیدا کړی ئے دی په قدرت خپل سره اسمانونه او زمکے بے کتلو بل چاته وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ اونهٔ دے ستومانه شوے په پیدا کولو دوئ سره پس ایا نه دے دغه خدای بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ژوندی کړی دے مردګان له قبرونو بَلٰٓى بلکه قادر دے په دے پیدا کولو دوئ له قبرونو ځکه چه اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾ بیشکه هم دے په پیدا کولو د هر څیز قادر دے پس د اپیدا کول د مردګانو هم یو څیز دے نو په دے هم قادر دے وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او په هغه ورځ چه وراندے به کړے شی کافران یعنی عذابولے به شی دوئ عَلَى النَّارِ ؕ په اور د دوزخ نو ویلے به شی ورته په دغه ورځ کښ چه اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ ایا نهٔ وو دا عذابول ستاسے چه ئے دینۍ په رښتیا قَالُوْا بَلٰى نو وبه وائی دوئ چه

پہ ربستیا دو وَرَبِّنَا اوقسم دِ وی حُمونږہ پہ تربیت کو نکی خدائ خپل باند ے چہ حق دے تنبیہ دا ۱ قرار دد وئی پہ دلے قسم عاجزی سرہ محض دپارہ دطبع دخلاصولو لہ عذاب نہ بہ وی اوکلہ بہ خلاص شی پہ دے عاجزئ سرہ بلکہ قَالَ وبہ وائی ورتہ خدائ تعالیٰ یا مالک چہ نوم دیوخازت ددوزخ دے فَذُوْقُوا الْعَذَابَ پس وځکئ اومزہ واخلئ ددغہ عذاب بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾ پہ سبب دھغہ چہ وئی تاسے پہ دنیا کښی کافران کیدلئ بہ پرے اومنکر یدلی بہ ترے نوھر کلہ چہ عاقبت دکارد کافرانو دغہ دے چہ درتہ بیان شۂ نو فَاصْبِرْ پس تہ ھم صبر کوہ اے محمد ﷺ پہ ضرور تو نود قوم خپل كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ لکہ چہ صبر کړے ووخاوند انو دوالو پہ حق لہ رسولانو دخدای وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ اوتلوارمۂ کوہ پہ عذاب غوستلو کښی دوئی لرہ حُکمہ کۂ ئے وعنوا پے نوئی الحال بہ نازل شی پرے بلکہ پریږدہ چہ څۂ قدرے نفع واخلی پہ دنیا کښی كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ گویا کۂ دوئی ھغہ ورځ وو یینی مَا يُوْعَدُوْنَ لا ھغہ څیز چہ پرے ویرولے شوے وولہ عذاب بہ نوگمان بہ کوی چہ لَمْ يَلْبَثُوْٓا نۂ ئے دے کړے درنګ اوکذران پہ دنیا کښی اِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ مگر لږ یو ساعت لہ یوے ورځے بَلٰغٌ پہ دغہ ذکر کښی چہ اوس تاسے تہ پرے وعظ وکړے شۂ بس والے دے تاسے لرہ کۂ پند پرے واخلئ یا رَسُوْل دپیغمبر دی لہ خدایہ فَهَلْ يُهْلَكُ پس ایا ھلاک بہ کړے شی پہ عذاب سرہ یعنی نۂ بہ کړے شی اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ مگر ھم ھغہ قوم چہ وتونکی دی لہ عبادتہ اواطاعتہ دخدائ اللھم لا تجعلنا بکرمک من الفسقین وَاجعلنا بفضلک وقدرتک من الراجعین الیک والی سنۃ حبیبک سید المرسلین انک انت ارحم الرحمین واخر دعوانا ان الحمد للہ رب العلمین ط

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ مَّدَنِيَّةٌ ۹۵ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ۳۸ — ۴

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ھغہ کسان چہ کافر شوی دی لہ اھل مکۂ وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ او ارولی ئے دی نور خلق لہ لارے دخدائ چہ لارہ داسلام دہ اویا گرځیدلی دی لہ طریقے داسلام اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿۱﴾ خراب کړی دی خدائ ھغہ کار وینہ بنۂ بنۂ دوی لکہ طعام ورکول فقیرانو او

مسافرانو لره یا پیوستون دصلی رحمئ شئ هم دارنګ نو راعمال صالحه ګے یعنی چه ایمان ئے نه وی نوښئ کارونه به ئے هیڅ پکار نه شی ښئ په دنیا نه په اخرت وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوهغه کسان چه ان ئے راوړے وی په خدائ او رسول خیل اوکړی ئے وی ښئ ښئ کارونه لکه عبدالله بن سلام شئ یا انصار یا مؤمنان داهل کتاب یو شو وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ اوبیا ایمان ئے راوړے وی په هغه قرآن چه نازل شوے دے په محمد ﷺ باندے وَّهُوَ الْحَقُّ اوهغه نازل کړے شوے په محمد ﷺ حق دے باطل نه مِنْ رَّبِّهِمْ لا په دے حال کښ چه راغلے دے له ربه ئے اوله ګناه ئے جوړ کړے نه دے هم کلمه چه داسے ایمان ئے راوړے وی نو كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وُبه بخښی دوئ ته ګناهونه ئے وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿۲﴾ اوښئ به کړی حال دوئ ذٰلِكَ دغه خبرئول دعملونو کافرانو اوبخښل ګناهونو مؤمنانو بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا په سبب دے دی چه بیشکه کافرانو اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ پیروی ئے کړے وه د شیطان نو خود عملونه ئے غبث شو وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اوبیشکه هغه کسانو چه یقین ئے کړے دے په خدائ او په رسول اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ متابعت اوپیروی ئے کړے ده د قرآن چه نازل شوے له ربه ئے نو خود ګناهونه ئے ورته عفوه کړل كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ همدارنګه په مثل دبیانولو دے مثال بیانوی خدائ تعالیٰ دپاره د عبرت لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ﴿۳﴾ سړیو ته مثالونه ئے هرکله چه الله تعالیٰ حق والے د مؤمن اوباطل والے دکافر درته بیان کړه نو اوس حکم دکافر بیانوی یعنی چه دا سے وزسره مناسب دی لکه چه وائ فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هر کله چه پیښ اومخامخ شوئ له هغوګسانو سره چه کافران دی په جنګ کښ فَضَرْبَ الرِّقَابِ پس وهئ ګردنونه ئے په وهلو سره یعنی وژنئ ئے حَتّٰٓى اِذَآ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ تر هغه پورے چه ښئ ام قتل کړئ دوئ اوپورے غالب شوئ نو بیابندیان ئے کړی فَشُدُّوا الْوَثَاقَ پس سخت اومحکم کړئ تړل دوئ چه د رنه خلاص نه شی فَاِمَّا مَنًّا پس بیا به احسان ورسره وکړئ په احسان کولو سره یعنی چه بے عوضه مفت به ئے آزاد کړئ بَعْدُ پس له بندی کولو او تړلو ئے وَاِمَّا فِدَآءً اویا به عوض واخلئ ترڅه بندیان دمسلمانانو او یا نور مال په عوض اخستلو

عه او وژلو تعبیر ئے په وهلو سره وکړه دپاره ددے چه غالب وځل په جنګ کښ په وهلو ګردن سره وی ۱۲

سره حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۚ جنګ وو سره کوئ تر هغه چه کیږدی هغه کفار جنګیان وسله اسباب د جنګ خپل یعنی چه یا بتول مسلمانان شی اویا وعده دنهٔ کولود جنګ د رسره وکا ذٰلِكَ ط کوئ له دوئ سره همد غه شان جنګون اویا مناسب ورسره هم دغه دی وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ اوکهٔ اراده وے دخدائ هر اُمینه بدل به ئ اخستے وولد دوئ بے جنګه ستاسے یعنی یا به ئ وب کړے وو. یا په یوبل رنګ عذاب به ئ هلاك کړی وو وَلٰكِنْ اویکن امر دتره وکړو په جنګ له دوئ سره لِيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ط د پاره ددے چه وازمائ څه لرتاسے په څه ددوئ په جنګ کښ چه ستاسے شهیدان جنت ته بوزی اوددوئ مقتولان دوزخ کښ واچوی وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اوهغه کسان چه مړهٔ شوی دی یاجنګ کوی په لاره د خدائ کښ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۴ پس هرګز به خدائ خراب اوضائع نهٔ کړ بنهٔ بنهٔ کارونه ددوئ سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۵ زه دے چه بنه لاره په ورته وښائ خدائ تعالیٰ او بنه به کړی حال ددوئ په دنیا کښ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ او بیا په اخرت کښ داخل به ئ کا جنت کښ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۶ چه معلوم کړی به ئ وی ورته ځایونه ددوئ په جنت اوچا ویلی چه دا تبیر عَرَّفَ له عرفه دے او عرف خوشبوئ ته وائ یعنی داخل به ئ کا جنت کښ چه خوشبویه کړے ، ئ وی ورته يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ اے مومنانو که تاسے مدد کوئ له دین او رسول د خدائ يَنْصُرْكُمْ نومدد به وکا تاسے سره خدائ په دښمن ستاسے وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۷ او محکم به کړی خدائ پښے ستاسے په ځائ د جنګ کښ چه نهٔ به تښتئ له دښمن نه وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه کسان چه کافران شوی دی فَتَعْسًا لَّهُمْ پس هلاك والے اوشرمول دی دوئ لره له خدائ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ۸ اوخراب اوعبث به کړی خدائ تعالیٰ کارونه بنهٔ بنهٔ ددوئ **فائده** د وروستئ جمله معطوفه ده په تَعِسُوْا مقدره باندے نه په تعسالهم باندے فافهم. ذٰلِكَ دغه هلاکول د دوئ اوخرابول دعملونوئ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا په سبب د دے دی چه بیشکه دوئ بد

عه یعنی هم په تا اوهم په اخرت کښ هغه لاره چه تاته نفع به رسوی دوئ ۱۲ عه یعنی حال د هغه کسانو چه قتل ئ دی په دنیا بنهٔ به کړی په رضا کیدلو د دښمنانو ئ اودوئ ئ داخل کړه په قتلو اکښ تنلیبا ۱۲ عه یعنی ئ به کومره نو خپلو ته اودوئ لاره نهٔ څخا کوی ګویا که دوئ پخواوځ رسیدلی ۱۲

اونا کاره لیدلہ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ هغه قران چه نازل کړے دے خدائ په رسول فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ⑨
پس خراب اوړه اللّٰهُ کړه خدائ تعالیٰ هغه ښه ښه کارونه دده وئ لکه جوړول د مسجد حرام اوطواف د
کعبے اومیلمستیا د خلقو اوداسے نور شول اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ ایا پس نه کړی دغه کفار د عرب یو
زمکه دخدائ کښ داهره دانکاره دے یعنی وړ کړی دپاره د عبرت فَیَنْظُرُوْا کَیْفَ کَانَ پس دوئ
وګوری چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ اخر د هغه کسانو چه وو پخواله دوئ لکه عادیان
اوثمودیان یاقوم د لوط ۴ هم ارنګه نور شول دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ نه چه هلاک راوستے وو خدائ په
هغوئ چه نافرمانی د رسول علیه السلام ځ وکړه نو الله تعالیٰ مال اوعیال ځ ټول په یوکرت
هلاک کړه وَلِلْکٰفِرِیْنَ اَمْثَالُهَا ⑩ اودی جنس کافرانو لره چه دهغوئ په شان وی په مثل
د اخرکار دهغوی یعنی هر څوک چه کفراوعصیان کوی نوده غه شان به ځ هلاکوم ذٰلِكَ دغه مدد
کاری د مؤمنانو اوهلاکول د کافرانو بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا په سبب د دے چه بیشکه خدائ
تعالیٰ دوست اومدد کار ے د مؤمنانو وَاَنَّ الْکٰفِرِیْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ⑪ او بیشکه کافران
چه دی نشته دے دوست دوئ لره چه عذاب دخدائ ترے لرے کا اِنَّ اللّٰهَ یُدْخِلُ الَّذِیْنَ
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ بیشکه چه خدائ ښنباسی به هغه کسان چه یقین ځ کړے وی
په خدائ او په رسول او بیا کارونه ښه ځ هم کړے وی په باغونو کښ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ د هغے باغونه چه بهیږی به دلاندے ځ ولے جاری وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا اوهغه کسان چه
کافر شوی دی په خدائ تعالیٰ او په رسول صلی الله علیه وسلم یَتَمَتَّعُوْنَ وَیَاْکُلُوْنَ نفع اخلی څه
قدرے اوفقط خوراک کوی له طعامونو او شراب دونیا کَمَا تَاْکُلُ الْاَنْعَامُ لکه چه خوراک کوی
چاریان یعنی دوئ هر وخت په هوا د نفس کښ معی اوکوشش کوی او آخرت ته ځ هیڅ فکر
نشته چه حساب به راسره کیږی په مثل د چارپایانو چه شپه اوورځ خوراک خوری او له خانه
خبر نه وی اوفکر نه کوی چه کله به ذبح کیږو وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ⑫ اواور د دوزخ ځای د
گذران دوئ لره دے په قیامت کښ **روایت دے** چه هر کله رسول الله صلے الله علیه وسلم سره له
ابوبکر صدیق ؓ په نیت د هجرت له مکے روان شو اوهغه فارته ورسیدل نو نظر ځ وکړو مکے ته

او په طریقه دخفکان او افسوس ئے وویل چه اے بنار دمکے ته بهتر او محبوب د تولو بنارونوئے خدائ تعالی ته اوهمد ارنگه محبوب مرغوب ئے ماته اوبیشکه کهٔ دغه مشرکانو زهٔ نه وئے ویستلے له تانه نو په خپله رضا به زهٔ درنه نهٔ وم وتلے پس لوئ دښمن دخدائ تعالی هغه څوك دے چه ظلم کوی په بندکا نو دخدائ تعالی په حرم دخدائ کښ او یاوژنی ماسوئی له قاتله خپله نو الله تعالی دپاره دتسلئ دډغه ورانده ایت نازل کړهٔ لکه چه وائی وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً اودیراهل دکلیوچه هغوئ سخت اومحکم وو له جهته دقوت مِنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ٚ له اهل دکلی ستا هغه کلے چه ته ئے تریے نه ایستلے ئے اَهْلَكْنٰهُمْ هلاك کړه مونږه هغوئ چه به ئے نافرمانی درسول کوله فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾ پس بیانهٔ به ورسره دکار هغوئ لره چه له عذابه خُمونږه ئے خلاص کړے وے نوتهٔ هم مهٔ خفه کیږه څکه چه دا اهل دمکے به هم دهغوئ په شان هلاك کړم کهٔ مؤمنان نهٔ شول اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ایا پس دی هغه څوك چه وی په بنکاره حجت له ربه خپله لکه محمدﷺ اونور مؤمنان كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ په مثل دهغه چا چه بناسته کړے شوے وی ورته خراب اونا کاره عمل ئے وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾ اوپیروی ئے کړے وی دخواهش دخانونو خپلو بے دلیل اوقرآن اورسول علیه السلام ته ئے شا کړے وی نو پس دے اومؤمن موحد عامل په قرآن سره برابر دے بلکه برابر نهٔ دے مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ صفت اوبیان دهغه جنت چه وعده ئے کړے شوے دهٔ مؤمنانو پرهیزکارانو سره یعنی څان ئے ساتلے وی له شرکه اوله ګناهونو دا سے دی چه درته بیانیږی فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ وی به په هغه جنت کښ ولے جاری له اوبو صافو غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ هسے اوبه چه نهٔ به وی بد لید ونکے په مزه یا په بوی کښ یعنی همیشه به خوږے اوصافے وی نه لکه اوبه دد دنیا وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ اووی به پکښ ځنے ولے جاری له شوو لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ چه نه به وی مغیره مزه دهغو بلکه خواږه اوصاف به وی وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ اوځنے ولے به جاری له شرابو لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ هسے شراب چه مزه ورکونکے به وی هغو څکونکیو لره وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ؕ اوځنے ولے جاری له شهدو یعنی کښیږی چه صاف کړے شوے به وی له هرخیری وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

اووی به دغه متقیانو لره په هغه جنت کښ له هر قسم میوے وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ اووی به
و لره پکښ بخښنه اواحسان له ربه ئے ایا پس هغه څوك چه وی په دائسے نعمتو نو تیږو شویر
کښ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ په مثل دهغه چا دی چه همیشه وی معذب په اور دوزخ کښ
یعنی نۀ دی سره برابر وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا اوځکولے به شی پرے اوبه دیرے گرمے فَقَطَّعَ
اَمْعَآءَهُمْ (۱۵) پس توټے توټے به کا دغه اوبۀ کلے ذدوئی له جهته دډیر گرم والی روایت
کے چه هرکله پیغمبر علیه السلام به خطبه ویله اودمنافقانو عیب ئے اظهار کولو نو دوئی به په طریقه د
تدقوعلماؤ څخه پوښتنه هر له مسجده چه دۀ څخۀ وویل نوخدائی دحال دحال دهغوئی نه خبر ورکوی دائسے چه وَمِنْهُمْ مَّنْ اوبعض له اهل مدینه یعنی منافقانو یا جنس کافر هغه څوك دی
يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ چه غوږ ږدی تاته په وخت د خطبه کښ حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ تر هغه
چه پاسی اولاړشی له مجلسه سنا قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ نو وائی دوئی په طریقه د تهوقو او
ناپوهئی هغه کسانو ته چه ورکړے شوے دے ورله علم او پوهه په قرآن لکه ابن عباس رضی اللہ عنہ یا نور اصحاب
شوداسے چه مَاذَا قَالَ اٰنِفًا څۀ څیز ووهغه چه ویل محمد اوس دغه تیر ساعت کښ یعنی څۀ
حکم ووځمونږه ورته بنۀ فکر نه وو فائدہ په دے آیت کښ اشارت اووعید دے هغه چا ته
چه په مجلس دعلم اووعظ کید لوکښ حاضرشی اوفکر نۀ کوی ورته په سبب دخیالاتو پراگندو او
اړو کانو با طلو بلکه دیو بل نه پوښتنه کوی چه دغه عالم یادغه واعظ څۀ وویل څماورته فکر نه وو
بنۀ پرے پوهشو نو په قیامت کښ دائسے سړی لره لویه ویره دده له عذابه داحاصل دتفسیر
فتح الرحمٰن دے اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دغه منافقان هغه کسان دی چه په سبب د نفاق ئے طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى
قُلُوْبِهِمْ مهر دغفلت اودکفر ایخے دے خدائی تعالیٰ په زړونوئے نو په حق نۀ پوهیږی وَاتَّبَعُوْٓا
اَهْوَآءَهُمْ (۱۶) اوپیروی ئے وکړه دارزو گانو نو با طلو خپلو نوځکه تهوقے کوی دوئی په خبرو د پیغمبر
پورے وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا اوهغه کسان چه ئے لاره سمه مونډلے ده ایمان اوهر خیرته یعنی چه مؤمنان
دی زَادَهُمْ هُدًى زیات کړۀ دوئی خدائی یا دغه وعظ له جهته دهدایت یعنی ورله رڼا توفیق
دنیکئ ورکړه وَاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ (۱۷) اوورئے کړه دوئی لره پرهیزگاری دوئی فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ پس نۀ

کوری دا اهل مکه په ایمان راوړلو کښ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً مګر قیامت ته چه راشی ورلره ناګهانه او دوئ به خبرنهٔ وی ترے فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا پس په تحقیق چه راغلی دی څنې علامے ئے لکه بعضے له هغونه لیږل او رسول کیدل ستادی او بله دویمه نیمه کیدل دسپوږمۍ دا په اشارت ستاد پاره د بنکاره کولو د معجزے دوئ ته او بله علامهٔ لیږل دلوګی وو په قریشو هم دارنګ نورے علامے ئے فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ پس بیا کله به نفع ورسوی دوئ ته هغه وخت چه راشی ورلره قیامت پند اخستل د دوئ یعنی چه قیامت راشی بیا ګټه پند اخلی او ایمان راوړی نو هم به نفع نهٔ رسوی دوئ ته اونهٔ به قبلیږی پس هرکله چه درته معلومه شوه چه بهتر کار توحید او عبادت د خدائ دے او خواب کار شرک او نافرمانی د خدائ دے نو فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ پس ثابت اوسه او همیشه والے وکړه په دے چه شان دادے نشته لائق د عبادت کولو هیڅوک مګر هم یو خدائ دے وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ او بخښنه غواړه ګناه خپله لره یعنې چه واقع نه شی درنه او یا خلاف اولی لره وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ او بخښنه غواړه د ګناه د مؤمنانو سړیو لره او مؤمنو ښځو لره يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ او خدائ د هر یو په ځائ د ګرځیدلو ستاسے په ورځ کښ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾ ع او په ځائ د آرام کولو ستاسے په شپه کښ نو هرځهٔ چه کوئ خدائ پرے عالم دے جزا به د رکوی په قیامت کښ پس لازم دی په تاسے چه مهٔ غافل کیږئ له دهٔ روایت دے چه هرکله مؤمنان د غه ډیر وصفونه د شهید انو او د یدل نو ډیره ارزوے وشوه د جنګ کولو له کفارو سره او هر وخت به ئے پرسول الله صلے الله علیه وسلم ته ویل چه خدائ د رته ولے امر نهٔ کوی په جنګ کولو له کفارو سره چه مونږ هم قتال وکړو او شهیدان شولو د غه شان لوئ لوئ مرتبے بیا موږ نو د غه وراندے ایت نازل شولکه چه وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او وائ مؤمنان چه لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ﴿۲۰﴾ ولے نهٔ شی رالیږلے له خدائ یو سورت د قرآن چه پکښ تاته امر په جهاد له کفارو سره وی فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ پس هرکله چه نازل کړے شه یو سورت محکم چه منسوخ پکښ نهٔ وی وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ او یاد کړے شی په هغه کښ جنګ کول له کفارو سره رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ نو وینے به ته هغه کسان چه په زړونو کښ ئے ریځ یعنی شک دے يَنْظُرُوْنَ

اِلَیۡكَ چه کوری تا ته په خراب نظر سره نَظَرَ الۡمَغۡشِیِّ عَلَیۡهِ مِنَ الۡمَوۡتِ ؕ په مثل د نظر کولو وهنه چا چه پټ کړے شوی وی په علامو د مرګ یعنی نیخ نیخ او بدبد درته کوری چه وے مونږ ته امر په قتال له کافرو سره کوی فَاَوۡلٰی لَهُمۡ ۚ﴿۲۰﴾ پس هلاک دے وی په دوئ او دوزخ دے خائ دوئ لره طَاعَةٌ وَّ قَوۡلٌ مَّعۡرُوۡفٌ ۫ تف طاعت کول د دوئ خدائ لره او ویل نیک تانه دا بهتر دی دوئ لره او چا دا سے ویلی دی چه د غه اولی لهم مبتداء ده په معنی د مناسب ولائق اوخبرئ دا وسوئ جمله چه طاعة وقول معروف ده نو معنی ئے دا سے شوه چه بهتر او نیکه او مناسب له دوئ سره طاعت کول د خدائ تعالیٰ او د رسول صلے الله علیه وسلم او ویل نیکه ووتانه اے رسوله نه چه نافرمانی اوخراب خبرے کول تا ته فَاِذَا عَزَمَ الۡاَمۡرُ ۫ تف پس هر وخت چه فرض شی حکم په جنګ کولو له کفارو سره فَلَوۡ صَدَقُوا اللّٰهَ پس که چرے رښتیا ویل کړے وے دوئ له خدائ سره په خپلو خپلو کښ لکه چه ویلی ئے وی ایمان مو راوړیدے په خدائ او په رسول اوجنګونه به نه وو له کفارو سره لَكَانَ خَيۡرًا لَّهُمۡ ﴿۲۱﴾ نو هر اینګه وه به دا درست کوئ غوره دوئ لره له هغه کفره او مخالفته ئے فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ پس ایا نزدے یئ تا سے یا بنائیږی تاسے لره اے ضعیف ایمانوالو اِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ که چرے بادشان او متصرفان شئ تاسے د خلقو او یا وګرځیدئ له طاعت د خدائ او د رسول اَنۡ تُفۡسِدُوۡا فِی الۡاَرۡضِ نزدے ئے دے ته چه وران کارى به کوئ په زمکه کښ په ظلم سره وَ تُقَطِّعُوۡۤا اَرۡحَامَكُمۡ ﴿۲۲﴾ او پریکوئ به خپلوئ خپلے یعنی که چرے بادشاهان شی یا پیر وی د کلام الله او رسول الله صلے الله علیه وسلم مو پریخودہ نو دغه خراب کارونه اوظلمونه به شروع کړئ او د بنمنان به شی د خدائ او د رسول اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ دغه ډله د مفسدانو هغه کسان دی لَعَنَهُمُ اللّٰهُ چه لرے کړی دی خدائ له رحمت په سبب د فساد په زمکه کښ او د قطع د خپلوئ سره فَاَصَمَّهُمۡ پس کانړه کړی ئے دی دوئ له او ړیدلو د حق وَ اَعۡمٰۤى اَبۡصَارَهُمۡ ﴿۲۳﴾ او پرند ے کړی دی خدائ ستر کے د دوئ نو پس نه وینی لاره د خدائ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوۡنَ الۡقُرۡاٰنَ ایا پس نه کوی فکر قرآن ته چه پرے پوهه شی او پرځی حق له باطله اَمۡ عَلٰی قُلُوۡبٍ اَقۡفَالُهَا ﴿۲۴﴾ بلکه په زړونو ئے قلفونه دی نو ځکه نه پوهیږی په حق روایت دے چه یهودیانو صفت د رسول الله صلے الله علیه واله وسلم

په تورات کښ لوستلے وُو او صحیح والے دپیغمبرئ دردُ ے معلوم کړے وو او نخواد بعث دپیغمبرئ ے نعت دردُ ویلو او لیږلے لودڈُ ته ے خلق خبرُول لوهر کله چه دے ولیږلے شُ او ما، پښے تړ راښے لودوی ترے وُکړ ځیدل لکه چه خدائ تعالیٰ وائی اِنَّ الَّذِیْنَ ارْتَدُّوْا بیشکه هغه کسان چه بیرته وُکړ ځیدلی دی له ایمانه کفر ته یعنی هغه کفر ته چه پریښے وُو دی. عَلٰٓی اَدْبَارِهِمْ په شاوُ خپلو یعنی چه یا کافران شوی دی په محمدصم. مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمُ الْهُدَی پس له هغه چه ظاهره شوے ده ورته سمه لاره داسلام. الشَّیْطٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ شیطان اسان کړے او بناسُته کړے دے دی ته هغه ناکاره کار چه کړزیدل دوی کفر ته. وَاَمْلٰی لَهُمْ (۲۵) او په اوږدلوئ امید کښ یے اچولی دی دوی. او په یوقراءت کښ وَاُمْلِیْ لَهُمْ په صیغه متکلم سره دے. یعنی خدائ وائی چه ځُنه مهلت ورکړُم دوی لره او زړیے نُه په عذابوُم لکه دنخوانیو عالمو پښان. ذٰلِكَ دغه مهلت دوی ته یعنی هغه یهودیانو ته چه کافران شو په پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام بِاَنَّهُمْ قَالُوْا په سبب دے دی چه بیشکه دوی به ویل. لِلَّذِیْنَ كَرِهُوْا هغه کسانو ته چه مکروه اوناغوره یے کنړل. مَا نَزَّلَ اللّٰهُ هغه څیز چه رالیږلے دے خدائ یعنی یهودیانو منافقانو ته وویل په پته کښ داسے چه سَنُطِیْعُكُمْ فِیْ بَعْضِ الْاَمْرِ زهٔ دے چه اطاعت اوفرمانبرداری به وکړو مونږه تاسے لره په ځینے کارستاسے کښ چه هغه دښمنی ده له رسول اکرم صم سره اومنع کړول دخلقودی له جهاد. وَاللّٰهُ یَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ (۲۶) اوخدائ تعالیٰ پوهیږی په هغو پټو خبرو دوی چه یے په زړونو اونفسونو خپلو کښ وی نبی جزابه ورکا. فَكَیْفَ پس څرنګه حال به وی دوی یا څُنه به کوی دوی. اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ په هغه وخت کښ چه یے وژنی ملائک دخدائ. یَضْرِبُوْنَ په دے حال چه وهی به هغه ملائک وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ (۲۷) مخونه اوشاوُنه دوی چه له حق نه به یے گرزوُل. ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ دغه مرلټ دوی په دے سخت سره په سبب دے دے چه بیشکه دوی. اتَّبَعُوْا مَاۤ اَسْخَطَ اللّٰهَ متابعت اوپیروی یے کړے وه دهغه څیز چه په غضب کولو یے خدائ تعالیٰ. چه کفر اونور ګناهونه وُو. وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ اوبدی یے شوړضا کیدل دخدائ یعنی نُه په یے کوُلو هغه څیز چه خدائ به پرے راضی اوخوشاله کیدهٔ. چه هغه ایمان اواسلام وُو. فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ (۲۸) پس عبث اوخراب کړهٔ

خدائ له دغه سببه هغه بنهٔ کار ونه د دوئ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ ایا گمان کوی هغه منافقان فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه په زړونو کښ ئے ړغ د شک دے اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ دے چه ظاهر به نهٔ کا خدائ رسول ﷺ او مؤمنانو ته اَضْغَانَهُمْ (۲۹) هغه پټے کینے او بغضونهٔ د دوئ له رسول ﷺ او مؤمنانو

سره **فائدہ** دا استفهام انکاری دے یعنی نهٔ ډکوی دوئ دغه گمان بلکه ظاهر به ئے کړوتاته اے رسوله! وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ اوکه چرے غوښتے مونږه نو هر اُئینه ښودلی به مو دوتاته دوئ یو یو په علامو او دلیلونو سره نو فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ پس هر اُئینه پیژندل به ډوی په علامو دوئ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ او خامخا به و پیژنے دوئ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ په گرځولو او اړولو د خبرو کښ تعریض او توریت ته یعنی چه حکمت او په اشارت به ئے کوی **روایت دے** له ابن عباس رضی الله عنه چه پټ نهٔ ځهٔ په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے هیڅوك له منافقانو بلکه ټول به ئے پیژندل په علامو او په خبرو سره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ (۳۰) او خدائ تعالیٰ پوهیږی او عالم دے په عملونو ستاسے چه کوئ ئے له نیکئ او بدئ نو جزا به درکا وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ او هر اُئینه خامخا ازمیښت مونږه تاسے ټول په امر د جهاد او نورو تکالیفو سره حَتّٰى نَعْلَمَ تر هغه چه جدا کړو یا ظاهر کړو او یا عالمان شو مونږه په علم ظاهر سره لکه چه عالمان یو په علم باطنی سره الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ هغه جهاد کوونکی له تاسے وَالصّٰبِرِيْنَ او هغه صبر کوونکی په جهاد او په نورو احکامو او تکالیفو اسلام کښ وَنَبْلُوَا۟ اَخْبَارَكُمْ (۳۱) او ازمیښت حالونه او خبرونه یا عملونه ستاسے د جهاد او د ایمان چه لهٔ اخلاصه دی یا گهٔ نفاق دے اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چه کافر شوی دی په خدائ او په رسول ﷺ یعنی یهودیان او یا هغه کسان چه طعام ئے ورکولو کفارو لره په وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ او اړولی ئے دی خلق له لاره د خدائ چه لاره حقه ده وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ او مخالفت یا دښمنی ئے کړے ده له رسول ﷺ سره مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى پس له هغه چه واضحه او ظاهر شوه دوئ ته لاره سمه حق ته لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا نو هر گز به ونهٔ رسوی دوئ ضرر دین د خدائ ته هیڅ قدر بلکه ضرر رسوی خانونو خپلو ته وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ (۳۲) او زر ضائع کړی به گا خدائ تعالیٰ عملونه بنهٔ د دوئ چه کوی ئے يٰٓاَيُّهَا

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ اے مؤمنانو متابعت اوپیروی کوئ دخدائ تعالی او
د رسول په شریعت کښ وَ لَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اومۀ خرابوئ عملونه خپل په کفر اونفاق او
ریا او حسد اوعُجب سره همدارنګه او نورخراب کارونه شول یعنی پیروی دخدائ اورسول ﷺ کوئ
او پیروی دهواد نفسونو خپلو پریږدئ ځکه چه تاوان دے تاسے لره ظاهرٌ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا
بیشکه هغه کسان چه کافرشوی دی په خدائ او رسول ﷺ اواړولے ئ دی خلق عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له
لارے دخدائ چه دوئ کافروو ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ بیا هغوئ هم کافرشو (او) مړۀ
هم شو فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ هرگز به ونۀ بخښی خدائ دوئ فَلَا تَهِنُوْا پس سستی
مۀ کوئ اومۀ ضعیفان کیږی په جنګ کولوکښ له کفار وسره وَ تَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ۚ اومۀ
غواړئ تاسے کافران صلح ته بلکه جنګونه وسره کوئ وَ اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۚ اوحال داچه تاسے غالب
یئ په کفارٌ وَاللّٰهُ مَعَكُمْ اوخدائ تعالی ملګرے دے تاسے لره نوفتح به درکه په دښمن وَلَنْ
يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾ اوهرگز به کم اوضائع نۀ کاعملونه ستاسے بلکه په قیامت به پوره جزا درکا
اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا بیشکه هدا ده بله نۀ ده چه ژوندون دے دنیا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌ ؕ عبث لوبے نابکاره
اومشغولیدل ناپائداره اوبے اعتباره دی هیڅ بقاورلره نشته روایت دے په روح البیان کښ ۃ
وفی الخبر ان الله تعالی خلق ملکًا وهو یمدّ لا اِله من اول الدنیا فاذا قال لا اله الا الله قامت القیمة وفیه اشارة
الی ان الدنیا وما فیها من اولها الی اٰخرها لا وجود لها فی الحقیقة وانما هی امر عارضی زائل والله
تعالی هو الازلی الابدی وَاِنْ تُؤْمِنُوْا اوکه یقین وکړئ تاسے اے سړیو په خدائ اوپه رسول ﷺ
اوپه قیامت وَتَتَّقُوْا اوځان خپل وساتئ له شرك اوله کناهونو يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ نودرکوی
خدائ تعالی تاسے لره مزدوری دعملونو ستاسے وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿۳۶﴾ اونۀ به غواړی له تاسے
ټول مالونه ستاسے بلکه فقط هم زکوٰة مفروضه به درنه اخلی اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا کهٔ چیرے وغواړی

عه یعنی په تحقیق سره خدائ تعالی پیدا کړے دے یوه مدانګه اوهغه ساړا کاږی په کلمه د لا اله باندے اوله له پیدا شته
دنیا نه نږدے په هغه وخت کښ چه ووائی الا الله وبه درښیی درښ د قیامت اوپه دے کښ اشارت دے دے ته چه په
تحقیق سره دنیا او هرڅه چه په دے کښ دی له اوله تر اٰخره نشته وجود دوئ لره په حقیقت کښ اوپه تحقیق سره دنیا
چه ده یو امر عارضی دے لرے کیدونکے اوفانی اوخدائ تعالی دے هیڅه پاتے کیدونکے نورجوع کوئ دۀ ته نه دنیا ته ۱۲

دے له تاسے دغه ټول مالونه هم فَيُحْفِكْكُمْ پس ښهٔ کوښښ وکا له تاسے په غوښتلو کښ تَبْخَلُوا نو بخل به وکړئ تاسے پرے باندے او ورپه ځ نهٔ کړئ وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾ او بیرون یعنی ظاهر به کړه دغه بخل کول ستاسے هغه پټ کینے او دشمنئ په زړه ونوستاسے کښ له هغه خو بنستو کښ دا مالونو سره هَآ اَنْتُمْ خبرداره شئ اوغوښه کیږدئ چه تاسے چه یئ هٰٓؤُلَآءِ اے دغه کسانو تُدْعَوْنَ بلے کیږئ تاسے له جانبه دخدائ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دے ته چه ورکوئ مالونه خپل په لاره د خدائ کښ په هغه طریقه سره چه فرض کړی ځے دی په تاسے لکه زکوٰة یا نور حقوق د خدای تعالیٰ شول فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ پس څنے له تاسے هغه څوك دی چه بخل کوی په ورکولو کښ یعنی نه ځ ورکوی په لاره د خدائ کښ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ پس بیشکه دا ده بله نهٔ ده چه بخل کوی دَ په ځان خپل یعنی منع کوی خپله خپله ځانه چه له ثواب اوله اجره محرومیږی اوخدای ته هیڅ قدر ضرر نشی رسولے ځکه چه وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ اوخدائ تعالیٰ غنی دے له تاسے او تاسے محتاجه یئ هغه ته یعنی خدائ تعالیٰ امرنهٔ کوی په ورکولود مالونو سره د پاره د حاجت خپل ځکه چه هغه غنی دے بلکه امر کوی د پاره د حاجت او د فقیرئ ستاسے ثواب وَاِنْ تَتَوَلَّوْا او کهٔ چرے وګرځیدئ تاسے له ایمانه او پرهیزګارئ نه اوله ورکولود مال نه په لاره د خدائ کښ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ د نو بدل اوعوض به راولی خدائ یو قوم نور له تاسے ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾ بیا به نه وی هغوئ ستاسے په شان کرځیدونکی له طاعت د خدائ او رسوله بلکه فرمان وړونکی او پرهیزګاران به وی۔

روایت دے چه هر کله دغه تیرایت نازل شه نو اصحابو رضی الله عنهم له رسول صلے الله علیه وسلم سوال وکړ چه هغه قوم بدل اوعوض راتلونکے څومره په ځائ څوك به وی او د چا له قبیلے به وی کهٔ چرے مونږه وګرځیدلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په جواب کښ اشارت وکړو سلمان فارسی رضی الله عنه چه قوم د دهٔ به وی بلکه دائے هم وویل چه کهٔ چرے وے ایمان معلق به ثریا ستوری پورے نو وس وبه رسیږی ورته ځنے سړی له اهل فارسه او دیر خوشحال شه رسول صلعم پرے ایت اللهم لاتجعلنا برضاك المعرضين الغافلين البخلين واجعلنا بكرمك من المسلمين المطيعين المنفقين فی سبیلك انك انت ارحم الراحمين وصل علی حبیبك سيد المرسلين واله واصحابه اجمعين۔

سُوْرَةُ الفتح مدنية ۲۹ اٰیاتها ۲۹ رکوعها

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه حضرت محمد صلے الله علیه وسلم یوه شپه په خوب کښ ولیدل چه زهٔ له اصحابو خپلو سره په نیت د عمرے کولو په مکه کښ داخل شوے یم اوهر کله چه له عمرے کولو فارغ شو نو په آرام اوخاطرجمعئ سره په حلق او قصر دسرونوخپلو مشغوله یو نوحضرت صلے الله علیه وسلم په دے خوب لید لو ډیر خوشحاله شهٔ اوډیاره د بشارت خپل ئے اصحاب خپل په دے خوب لید لوخبر کړهٔ اوبیا په ورځے د دوشنبے اوغړه ذوالقعدے په شپږم کال د هجرت دوئ له یوزر اوخلور سوه اصحابو مسلمانانو سره په نیت د عمرے کولو بیت الله ته روان شول نوهر کله چه دوئ حدیبیه نوم ځائ ته ورسیدل نوکفارو د قریشو منع وکړه له ورتللو اود اخلیدلو د دوی مکے ته بلکه په نیت د جنګ کولو سره له اسبابه اوسامانه خپل ټول راجمع شول اوراغلل نوبیا ډیر قاصدان او ایلچیان سره ترمینځه د مسلمانانو او د دوئ وکړ خیدل پس اخره داسوه چه رسول الله صلے الله علیه وسلم په امر د خدائ تعالیٰ له دوئ سره صلح وکړه په دے شان چه کفارو وورته وویل چه اوس تهٔ سره له اصحابو خپل ته ښیرته وګرځۀ او لا پرښۀ اوکعبه ته مه ورځۀ اوبیا وراندے کال کښ راشه له اصحابو سره نوکعبه به مودرته خالی کړے وی بیا دریے شپے او ورځے تاته اختیار دے که حج کوے اوکهٔ عمره کوے نو رسول الله صلے الله علیه وسلم دغه خبره سره له نورو قبیلو د قبوله کړه اوهم په دغه ځائ کښ ئے اول قربانئ خپله وکړے اوغوښے ئے تقسیم کړلے په فقراؤ اومسکینانو اوحلق ئے هم اوکړو پس الله تعالیٰ ترے ته دغه افعال دج اود عمرے د دوئ سره له قربانیو ټول قبول کړل او وعدهٔ ورسره وکړه د نزدے فتح له ئے چه فتح د خیبر ده هر کله چه دوئ ټول روان شول وطن خپل ته نو په لاره کښ پرے الله تعالیٰ داسورۃ په وخت د تللو کښ نازل کړهٔ هر کله چه جبریل علیه السلام فارغ شهٔ له وحی رسولو نو رسول صلے الله علیه وسلم ځ مبارک کړهٔ اصحابو خپلو ته اوویے ویل ورته چه الحمدلله نن ورځ نازل شهٔ په مابو سورۃ چه هغه بهتر د مافیها نه چه دا دے اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ بے شکه چه مونږ ه حکم کړے دے تاله د نیولو د مکے شریف یا د خیبر یا د فدک نو ډم ځائ یا هدار نګے

نوم بنارئے شوے فَتْحًا مُّبِيْنًا ۝۱ په نبولو ظاهر سره لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ دپاره ددے چه وبخښی تاته خدائ تعالیٰ په سبب دجهاد ستاسره حُکمه چه جهاد په ورکیدلو د شرك کښی سبب د مغفرت دے نو فتح سبب د مغفرت شۀ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ هغه چه ورپاندے دوله پیغمبرئ ستا له کنا هونو یعنی خلاف اولی ستاتخنه اوهم دارنګه هغه هم چه وروستی دی له پیغمبرئ ستا وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ او دپاره ددے چه پوره او تمام کاندی خدائ په دغه فتح سره نعمتونه ددین او دنیا خپل ته تاباندے وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝۲ او دپاره ددے چه وښائ ورته خدائ لاره سمه یعنی ثابته اومحکمه چه هغه لاره دین داسلام دے او یارسول د احکامو د خدائ دی خلقونه وَيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ۝۳ اوچه مدد وکا درسره خدائ تعالیٰ په مدد ښۀ اومحکم اوغالب سره

روایت دے چه هر کله په صلح دحدیبیه کښی اصحاب خالی له تردده اوخفګا نه نۀ وو نو خدائ تعالیٰ فرمائی داسے چه هُوَ الَّذِيْٓ دغه خدائ تعالیٰ احسان کوونکے له تاسره هغه ذات پاك دے اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ چه نازله کړے ئے وه ارام اوتسلی خپله فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ په زړونو د مؤمنانو کښی په سبب د صلح سرۀ حُکمه چه بے قراره ونفسونه خپل اولغزیدکے ځیے ئے لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا دپاره ددے چه تیرے اونور زیاتی حاصل کاندی دوئ ایمان لره مَّعَ اِيْمَانِهِمْ سره له ایمانونه چه خوانیه خپله یعنی چه یقینونه ئے په قدرت د خدائ تعالیٰ نور هم لاښۀ زیات شی وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اوخدائ تعالیٰ لره دی لښکرے د اسمانونو او د زمکے یعنی ملائک او مؤمنان پټول لښکرے د خدائ تعالیٰ دی نوکله مسلط کوی بعضے له دوئ په بعضو باندے اوکله واقع کوی په مینځ د دوئ کښی صلح وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا اودے خدائ تعالیٰ همیشه له ازله ترابده عالم په هر څیز چه بعضے له هغے نه صلح ده حَكِيْمًا ۝۴ اوهر کارئے په حکمت دے له حکمته خالی نۀ دے او امرئے وکړه تاسے ته په جهاد کولو له کافرانو سره لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ددے چه داخل کاندی مؤمنان سړی او مؤمنے ښځے هغه باغونو ته چه بهیږی به ئے د لاندے څلور قسمه ولے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا په دے حال چه همیشه به وی دوئ په هغه باغونو کښی وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ او دپاره ددے چه لرے کاندے له دوئ گناهونه ئے وَكَانَ

ذٰلِكَ اودی دا د اخلوْل جنت ته اولرے کول ډکنا هونو عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ تعالی فَوْزًا عَظِيْمًا ۝۵ غلبه او برے لوئ په نفس او شیطان باندے وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ اود پاره د دے چه په عذاب کا منافقان سړی او منافقے ښځے او مشرکان سړی او مشرکے ښځے او په تقدیم د منافقانو کښ په مشرکانو باندے اشارت دے ته چه منافقان به ډیر او سخت عذابیږی له مشرکانو نه ځکه چه دوئ جمع د کفر او د دروغو کړے ده لکه چه صریحًا په بل ایت کښ په اخر سورت کښ دی چه ان المنفقین فی الدرك الاسفل من النار الظَّانِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ط دا ہے منافقان او مشرکان چه ګمان کوی په خدائ تعالی ګمان بد او خراب او ناکاره یعنی دا ګمان به ئے کولو چه هیڅرے به بیرته رانهٔ شی رسول علیه السلام او مومنان له خائ د جنګ کورونو خپلو ته بلکه هم په هغه خائ کښ به ټول قتل شی له لاسه د کفار وَعَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ج هم په دے ګمان کونکیو دی ګرځیدل د بدئ یعنی هم دوئ به په خپل قتل او ذلیل او مغلوب شی نهٔ مؤمنان وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ او په قهر شوے دے خدائ په دوئ په سبب د نفاق ئے وَلَعَنَهُمْ او سرلی او بیرته کړی ئے دی له رحمت خپله وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ط او تیار کړے دے خدائ تعالی دوئ لره دوزخ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝۶ او بد دے دغه دوزخ خائ د اګر ځیدلو او اوسیدلو وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط اوهم خدائ لره دی لښکرے د اسمانونو او زمکے او تکرار ددے د پاره د وعدے دے مؤمنانو لره چه په مدد د خدائ د باور کونکی وی او د وعید دے مشرکانو منافقانو لره چه له کفره خپله د وېرېږی وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا او دے خدائ تعالی له ازله تر ابده لوئ عزت دار او غالب په هر چا حَكِيْمًا ۝۷ محکم کارے چه هر کارئ په حکمت دے اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا بیشکه مونږه لیږلے ئے ته اے (محمد صلی الله علیه وسلم) خلقو ته چه شاهد به ئے په قیامت کښ په دوئ وَّمُبَشِّرًا او زیرے کونکے ئے په دنیا کښ مؤمنانو نیکوکارانو لره په جنت وَّنَذِيْرًا ۝۸ او ویرونکے کافرانو او بدکارانو لره په دوزخ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ دپاره دے چه ایمان راوړئ په یو والی د خدائ تعالی او په رښتیئ د رسول وَتُعَزِّرُوْهُ او چه مدد وکړئ له دینه له خدائ یا له رسوله سره وَتُوَقِّرُوْهُ ط او چه تعظیم او عزت وکړئ د

خدائی یا رسول ﷺ وَتُسَبِّحُوْهُ اوچه په په پاکئ یاد کړئ خدائی له هر نالائقه بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝۹ په صبا او بیګاه کښ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ بیشکه هغه کسان چه وعده او بیعت کوی له سره په حدیبیه نوم ځائی کښ په ډیر شان چه جنګیږی نو به له کافرو سره اونه به کو وتښته ترې اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ خبره هم داده بله نهٔ ده چه وعده نه کوی دوئی په واقعه کښ له خدائی سره لکه بل مقام کښ ایت ﷺ چه من اطاع الرسول فقد اطاع الله يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ج گویا ید د خدائی تعالیٰ د ﷺ پاسه د رسولانو د دوئی **روایت دے** چه هرکله دوئی وعده کوله له رسول علیه السلام سره په حدیبیه نوم ځائی کښ په ډیر شان چه نه به تختوله کافرانو په جنګ کښ نو لاسونه خپل به ﷺ ورکول رسول علیه السلام لره په طریقه د بیعت سره پس رسول علیه السلام به لاسونه د دوئی پاسه لاس مبارک خپل کښ نیول اولاس مبارک د حضرت ﷺ پاسه د رسولانو د دوئی وو نو الله تعالیٰ له هغه معامله نه اوس بیان کوی خلقو ته چه يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ الاية حاصل ﷺ دا چه خدائ خبر دار دے په هغه وعده چه کړے ده دوئی له رسول ﷺ سره نو پس جزا اوسزا به ورکا هر چا لره په قیامت موافق له عمله سره نو مناسب دی چه مخالفت دی نهٔ کوی هیڅوک له وعدے خپله او یائے معنیٰ دا ده شوه چه لاس د رسول (صلے الله علیه وسلم) هغه لاس چه پاس په لاسونو د دوئی وو گویا که لاس د خدائی وو لکه چه خدائ تعالیٰ پاک ﷺ له اند امونو څخه فَاَئِلٌ کا پس په ډغه تیر شوی ایت کښ ډیر لوئی شرافت ﷺ ید د رسول صلے الله علیه وسلم لره که فکر وکړے نو وکړے شی فافهم ۔ فَمَنْ نَّكَثَ پس هر چا ماته کړله هغه وعده خپله چه ﷺ کړے وه له رسول علیه السلام سره فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ج پس خبره هم داده بله نهٔ ده چه ماتوی به ﷺ په ځان خپل یعنی هم خپل ځان ته به ضرر د ماتولو د رسوی نه مونږه ته وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ اوهر چا چه وفا یعنی پوره والے وکړو په وعدے خپلے له خدائی سره فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ع ۝۱۰ پس زر ﷺ چه ورښه کا خدائ تعالیٰ هغه وفا کونکی لره اجر لوئی چه جنت او رضا کیدل او دیدار د خدائ تعالیٰ دے **روایت دے** چه هر کله پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام

عه هر چا چه فرمان برداری د پیغمبر وکړه پس فرمان برداری د خدائی ﷺ وکړه ۱۲

مکے ته دپاره دعمرے ړوانیدل نو بعضے له اعل بولکه جهینه اومزینه اوسلم اوغفار اواشجع شویو کا عذ
را واستولوچه په دے سفر کښې مونږه تاسے سره نه شوتللے په سبب دعذر سره مالونه اوعیالونه
دی اودوئ دویرے دجنګه دقریشواد مخالفت له جهاد پاتے شول نوخدائ تعالی پیغمبر خپل خبر
کړۀ چه هرکله ته ورسیږے نو سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ زهدے چه وائ به تاته هغه
کسان چه پاتے کړے شوی دی له تانه په تللوکښې مکے ته په سبب دمالونو اوعیالونوخپلولـه
هغه سحرائ عالمو داسے چه شَغَلَتْنَآ منع کړی اوبندکړی وومونږه له تللوله تاسره مکے ته اَمْوَالُنَا
وَاَهْلُوْنَا مالونوخپلواوعیالونوخپلوڅکه چه دروستو موهیڅوك د تربیت اوحفاظت کولو ددوئ
نۀ وو کۀ چرے مونږه تاسره تللے وے نو دا ټول به هلاك شوی وو فَاسْتَغْفِرْ لَنَا نو پس بخښنه
وغواړه مونږه لره له خدایه یعنی چه راته عفوه کړی دغه ګناه دپاتے کیدلو له تا فائده هغه
چه وو دعه استغفار ددوئ هسے په خولے باندے فقط او واقعی اوله اخلاصه دزړۀ نۀ وو نو
شرمنده کړل دوئ خدائ تعالی مخلوق خپل کښې ځکه چه بیان ئے کړل احوال دزړونو ددوئ لکه
دادی چه يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ وائ دغه پاتے کیدونکی منافقان په ژبو خپلوله طلب دمغفرته او
هدا ونکه نورعذروته دپاتے کیدلو. مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ط هغه خبرے چه نشته په زړونو د
دوئ کښې نوپس دوئ دروغژن دی په دغه عذر اوطلب دبخښنے کښې قُلْ ووایه ورته اے پیغمبره
پرجواب ددغه عذرونو کښې چه فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا پس څوك دے چه قادر به شی
تاسے لره له خدائ دښۀ څیز یعنی ددفع دعذاب فائده دا استفهام په معنیٰ دنفے دے یعنی
نشته هیڅوك دا رنګ چه دفع اومنع کړی له تاسے قضا اوحکم دخدائ تعالیٰ هیڅ قدرے اِنْ اَرَادَ
بِكُمْ ضَرًّا كۀ اراده وکاخدائ تاسے ته دضرر رسولو په قتل اوپه تښتے اوپه نقصان سره په مالونو
اوعیالونوکښې اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا اویا كه اراده وکه خدائ تعالیٰ تاسے ته دنفع رسولو په دولت او
په مدد اوپه ساتلو دمالونو اوعیالونو سره اوداسے نۀ ده لکه دا تاسے چه ګڼئ وائ په ژبو. بَلْ
كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۱﴾ بلکه دے همیشه خدائ تعالیٰ په عملونو ستاسے خبردار
یعنی پوهیږی په مخالفت ستاسے نوجزا به درکاپه قیامت بَلْ ظَنَنْتُمْ بلکه ګمان کولو تاسے اے

مخالفت کونکیو منافقانو اَنْ لَّنْ یَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ دده چه هرگز به بیا بیرته
راونهٔ کړی دغه رسول اومؤمنان چه ورسره مکے ته تللے دی اِلٰٓی اَهْلِیْهِمْ اَبَدًا هغه عیالونو
اوکورنو نوخپلوته چه په مدینے کښ دی هیڅرځکه چه دوئ لږ دی اوکفار په زیاتی نو پس ټول به هلاک
کا وَزُیِّنَ ذٰلِكَ فِیْ قُلُوْبِكُمْ اوښائسته کړے شوے وو دغه گمان په زړونو تاسے کښ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ
السَّوْءِ ج اوگمان کړے وو تاسے گمان د بدئ یعنی چه خدائ به هیڅرے مدد ونهٔ کا له رسول سره وَكُنْتُمْ
قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۲﴾ او وئ تاسے یو ټولے هلاک کړے شوے څخه یعنی لائق وئ د تهرد خدائ په سبب
دفساد د عقیدے او د بدگمانئ ستاسے وَمَنْ لَّمْ یُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ اوهرچا چه ایمان اویقین رانهٔ وړ
په خدائ چه واحد اولاشریک دے اوپه رسول ئے چه په حق دے نوهغه گافر دے فَاِنَّاۤ اَعْتَدْنَا
لِلْكٰفِرِیْنَ سَعِیْرًا ﴿۱۳﴾ پس بیشکه مونږ نه تیار کړے دے کافرانو لره اورگډم چه دوزخ دے وَلِلّٰهِ
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط اوخدائ لره ده بادشاهی د اسمانونو او د زمکے یَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ
بخښنه کوی هغه چا ته چه اراده ئے وشی بخښل د هغه ځکه چه وجوب پرے نشته وَیُعَذِّبُ مَنْ
یَّشَآءُ ط اوپه عذابوی هغه څوك چه اراده ئے وشی عذابول د هغهٔ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ﴿۱۴﴾
اود هميش خدائ تعالی بخښونکے اومهربانه په هر چا خصوصًا په توبه ویستونکیو روایت
دے چه هر کله رسول الله صلے الله علیه وسلم پس له اصحابو سره بیرته راوګرځیدل مدینے
ته په شپږم کال د هجرت اوپه میاشته ذوالحجه کښ نوخدائ تعالی دوئ سره وعده وکړه
د تخصیص د فتح د خیبر یعنی چه غنیمتونه د فتح د خیبر یوازے هم دده اصحابو دی
چه نن ورځ د ورسره دی اود نورو مؤمنانو پکښ شرکت نشته بیا چه رسول صلے الله علیه وسلم
خپل ځائ ته راغے اوپه میاشته د محرم کښ ئے اراده د دغه غزا وکړه نو دغه پاتے شویدو نکیو
له هغه اول غزا هم اراده وکړه چه مونږه هم درسره پریږده چه تاسے سره شو لکه چه وائی سَیَقُوْلُ
الْمُخَلَّفُوْنَ زړے چه وبه وائی درته پاتے کیدونکی له تا اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰی مَغَانِمَ په هغه وخت چه
روان شوئ تاسے هغه غنیمت د خیبر ته لِتَاْخُذُوْهَا د پاره د اخستلوئے نو اسے به وائی درته چه
ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ج پریږدئ مونږه چه درځو تاسے پسے خیبر ته د پاره د جنګ یُرِیْدُوْنَ اَنْ

يُبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ارادہ لری دوئ دے چہ بدل او مغیر کاندے ھغہ خبرہ یعنی وعدہ د خدائ تعالی لہ تاسے سرہ چہ ھغہ تخصیص دفتح خیبر وو قُلْ تہ ووایہ ورتہ اے پیغمبرہ پارہ دنا امیدئ ئے چہ لَنْ تَتَّبِعُوْنَا ھرگز بہ ونہ کړئ تاسے پیروی حُمونږہ پہ تللو کښ خیبر تہ حُکہ چہ كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ھم دارنګہ ویلی دی د خدائ تعالی مونږہ تہ پخوا لہ کہ رځیدلو حُمونږہ لہ حدیبیے فَسَيَقُوْلُوْنَ پس زہ دے چہ وبہ وائی ورتہ پہ جواب کښ چہ دا منع کول ستاسے مونږ لرہ حکم د خدائ تعالی نہ دے بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا بلکہ تاسے حسد او کینہ کوئ لہ مونږہ سرہ پہ شرکت د غنیمتو نو کښ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵﴾ بلکہ وو دی ھمیشہ چہ نہ پوھیدل مگر لږ قدرے پہ کار د ونو د دنیا نہ د اخرت فَقُلْ لَّنْ ھر کلہ چہ دغہ منافقان مخالفت کړئ وُلہ رسول صلعم محض د پارہ د تربیت د اسباب د دنیا نو اللہ تعالی بیا لہ نور و پیرو فائدو محرومہ کړل بلکہ علاوہ د اچہ بیان ئے کړلو جھل د دوئ لکہ وُئے ویل چہ بل كانوا لا يفقهون الاية نو پس مناسب دی ھر چا لرہ چہ پیر کوشش کوی پہ متابعت د رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم کښ او دغہ متابعت د رسول۳ نہ حاصلیږی مگر پہ زدہ کولو د علم سرہ او پہ ھرہ ورځ حاضر یدل مجلس دعالمانو تہ چہ لہ دنیائے زړہ تر یږن او اخرت تہ ئے مخہ کیږی او پہ دے ایت کښ اشارت ئے دے تہ چہ د امال د دنیا خائ ئ دگمان د حسد دے او حسد پیرنا کارہ صفت د نفس دے حُکہ چہ رسول اللہ علیہ وسلم بہ ھر وخت منع ترے کولہ او ویل بہ ئے چہ[عہ] لا تحاسدوا ولا تنابزوا ولا تناجشوا ولا تدابروا وکونوا عباد اللہ اخوانا ۱۲ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ ووایاے پیغمبرہ دغہ پاتے کیدونکیو منافقانو تہ لہ صحرائ عالمودا سے چہ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ زہ دے چہ وبہ بلے شئ تاسے جنګ د یو قوی تہ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ چہ ھغوی بہ خاوندان د جنګ سخت وی یعنی چہ ھغوئ یا اھل دیمامہ قوم د مسیلمة الکذاب دی او یا نور مرتدان د دوئ پہ شان شول تُقَاتِلُوْنَهُمْ چہ یا بہ جنګ کوئ لہ ھغوئ سرہ کہ ٔ چرے نہ ٔ مسلمانیږی

عہ یعنی مہ ٔ کوئ کینہ لہ خلقو سرہ پہ نعمتو نو د خدائ کښ او مہ ٔ کوئ بغض یو تر بلہ او مہ ٔ تیزوئ خلق پہ اختلاو د خیزو نو حرامو کښ او مہ ٔ قطع کوئ خپلوی او او سئ تاسے بندگان د خدائ او وروڼہ یو تر بلہ ۱۲

أَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ او یا به گردن کیږدی احکامو د خدائ تعالی او رسول ته فَإِنْ تُطِيْعُوْا پس که چرے قبول دحکم دغه بلونکی مو وکړه يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ أَجْرًا حَسَنًا ۚ نو درته کړی تلے له د خدائ مزدوری ښکه اوښه چه په دنیا کښ غنیمت دے او په اخرت کښ جنت دے وَإِنْ تَتَوَلَّوْا او که وګرځیدلئ اوشا موکړه دغه بلونکی ته كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ لکه چه وګرځیدلی وئ پخوا له دے هم په کال د حدیبیه کښ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿١٦﴾ نو په عذاب به کا خدائ تعالی تلے په عذاب درد ناک

سره **روایت دے** چه هر کله دغه تیرایت نازل شۀ نو یو رونده پته ستر کو رسول الله صلے الله علیه وسلم اوږه او وے ویل ورته چه زۀ څۀ وکړم طاقت نۀ لرم دجهاد ځکه چه پروندیم نودا محکم ایت نازل شۀ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ نشته په پاند ه ګناه کۀ پاتے شی اه سفره دجهاد وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ او نه په ګوډ اوشل باندے ګناه په پاتے کیدلو کښ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ؕ اونۀ په ناجوړه باندے ګناه په پاتے کیدلو کښ ځکه چه دغه ټول طاقت د جنګ کولو نۀ لری او هغه ځائ کښ پکار جنګ دے نۀ فقط حاضریدل معرکے ته وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اوهر چا چه فرمان برداری د خدای او د رسول ئے وکړه په ټولو احکامو د دین کښ خصوصًا په جهاد کښ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ۚ نو داخل به کا خدائ تعالی دے په قیامت هغه باغونو کښ چه بهیږی به دلاندے ئے قسم قسم وله وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿١٧﴾ اوهر څوک چه وګرځیده له اطاعت د خدائ او رسول ۴ نو په عذاب به ئے کا خدائ تعالی په قیامت کښ په عذاب دردناک سره **روایت دے** چه هر کله رسول الله صلے الله علیه وسلم په هغه کال د تللو کښ مکے ته په نیت د حج او عمرے چه حدیبیه نوم ځائے ته سره له اصحابو و رسیدۀ اوکفارو منع وکړه له و رتللو د دوئ مکے ته نو رسول علیه السلام له دغه ځائ خراش بن امیه د خزاعی قبیلے قاصد ولیږلو اهل مکے ته هر کل چه دے و رسیدۀ هغو څۀ نواهل مکے قصد د مړلو د دۀ وکړۀ بیا لښکریانو د اطرافو ترے خلاص کړۀ چه وښل د قاصد منا سب نۀ دی پس پیرته راغے خراش خپل ځائ ته بیا رسول ۴ او عثمان رضی الله عنه حُوی د عفان رضی الله عنه ولیږلو هغوئ ډیر بند کړۀ بلکه اوازه د ورږغو د مړلو ئے هم راغله مؤمنانو نو له پس رسول علیه الصلوة والسلام په قهر

شۂ اوزئے وکړ د اصحابو خپلوته چه دوئ یو زر څلور سوه وو په اصح روایت کښی دا سے چه راځئ چه ځوجنګ لره اوبیا بیعت ئے ورسره وکړو د لاندے دهغه وخ دکیکړیا د بیرے پرځ شان چه جنګ به کوولا کفارو د قریشو سره اوهرګز به نۂ ځنډ تر مرګ پورے نو چه خدائ تعالیٰ ته ښۂ نیت او اخلاص د دوئ ظاهرًا معلوم شۂ نو پس د بیعت ئے راضی شۂ او صلح ئے واچوله د هغوئ په زړونو کښ نو اوس بیان دهغه واقعې کوی د پارې د نصیحت او عبرت لکه چه وائی لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ هر ائینه په تحقیق چه راضی شوے دے خدائ تعالیٰ له هغه مؤمنانو مخلصانو صادقانو اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ په هغه وخت چه بیعت یعنی وعده کوله دوئ له تاسره اے پیغمبره په نه تختیدلو لوله کفارو په جنګ کښ تَحْتَ الشَّجَرَةِ د لاندے دهغه وخ دکیکړیا د بیرے فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ پس وپوهیدۂ خدائ تعالیٰ یعنی عالم شه په علم ظاهری سره لکه چه عالم وو په علم باطنی سره په هغه اخلاص او محبت چه په زړونو دوئ کښ وو فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ پس راولیږلو الله تعالیٰ ارام په زړونو دوئ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ اوجزائے ورکړه دوئ له په عوض دوغه کښ فتح کول نزدے چه هغه فتح دخیبر ده وَمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا اومقررے ئے کړه ورله غنیمتونه د پیرچه په اسانه سره به اخلی دوئ هغه غنیمتونه وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾ اودے همیشه خدائ تعالیٰ غالب په هر چا او محکم کارے دے هر کارئے په حکمت دے وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا وعده کړے ده تاسے سره اے مومنانو خدای تعالیٰ د غنیمتونو د پیر وچه اخلئ به ئے په اسانه سره فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ پس په تلوارئے او زړے د رکړۂ تاسے لره دغه نعمتونه د خیبر وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ او بندئے کړه له جنګ کولو په کوم خپل سره لاسونه د سریو د خیبر له تاسے چه اویازده په شمار وو او اویا یهودیانو او یا د اهل مکے یعنی الله تعالیٰ په زړونو دهغوئ کښی ویره واچول چه د رسره جنګ ونۂ کا - اولاسونه دهغوئ ئے د رنه بند کړۂ یو د پارې د دے چه غنیمت کړئ مالونه د دوئ اوباشی دغه غنیمتونه کول د مالونو د دوئ سبب د شکر ستاسے خدائ تعالیٰ لره وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ او بل د پارې د دے چه شی دغه غنیمت کول د مالونو ئے بوره علامه په قدرت کامل د خدائ او په ریښتینئ د رسول ﷺ د پارې د مؤمنانو وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲۰﴾ اوچه وښائی

خدائ تعالیٰ تاسے تہ پہ دغہ علاے سرہ لارہ سمہ چہ اسلام دے وَ اُخْرٰی اودر بہ کا غنیمتونہ
نورہ بر لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا چہ لانہ ئے قادر شوی تاسو پہ ھغو چہ ھغہ غنیمتونہ د اھل فارسو یا
دھوازن دی قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ٹچہ پہ تحقیق سرہ چا پیروالے کرے دے خدائ تعالیٰ پہ ھغہ غنیمتونو
پس تاسے ئے غالب کړی یئ پہ ھغوئ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا (۲۱) اودے ھمیشہ
خدائ تعالیٰ پہ ھر څہ قادر یعنی ھر څہ تہ چہ ارادہ وکا نوکولے ئے شی بے تکلیفہ وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا اوکہ ڈیرے جنګ اختیار کړے اوشروع کړے وے لہ تاسے سرہ کافرانو اوصلح ئے نہ وے کړے
لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ نوھرا ئینہ گرخولی بہ وو دوئ تاسے تہ شاؤ نہ خپل پہ جنګ کښی یعنی شکست بہ
ئے کړے وولہ تاسے ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا بیا بہ ئے نہ ووموندلے ګاں خپل لرہ ھیڅوک دوست چہ
ئے ساتلے وے لہ قتل وَّلَا نَصِيْرًا (۲۲) اونہ ئے ھیڅوک مددګار چہ ئے مدد ورسرہ کړے وے
سُنَّةَ اللّٰهِ دامصدر تاکید کونکے دفعل محذوف خپل دے ای سن اللہ غلبة انبیاءہ یعنی دا یوہ لارہ
تړلے دہ خدائ تعالیٰ دغالب کیدلو دنبیانو خپلو الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ ھغہ لارہ چہ پہ تحقیق
سرہ تیرہ شوید ہ پخوا لہ دے پہ نو روامتونو کښی لکہ بل مقام کښی ایت دے چہ کتب اللہ لاغلبن
انا ورسلی ان اللہ قوی عزیز وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا (۲۳) اوھرګز بہ بیانہ موے لارہ د
خدائ تعالیٰ لرہ بدلیدل اومغیرکیدل وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ اوھغہ خدائ تعالیٰ
ھغہ ذات مطلق ئے چہ بند ئے کړل لاسونہ دکفارو د مکے لہ تاسے پہ صلح سرہ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ او
لاسونہ ستاسے لہ ھغوئ بِبَطْنِ مَكَّةَ پہ میخ ئ دمکہ کښی مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ؕ پس لہ ھغہ
غالب ئے کړی تاسے پہ ھغوئ دپارہ دډیرو فائدو اوھغہ غلبہ د اونګ وہ چہ ا تیاتہ سړی جنګیاد
وسلہ دار لہ کفارو د مکے چا پیرہ لہ مسلمانانو کړل دپارہ د چپاؤ اولوټ کولو د لښکر وستاسے پہ
ھغوئ ونیولے شول اورسول صلے اللہ علیہ وسلم لرہ راوستے شول بیا رسول صلے اللہ علیہ وسلم
پریخودل اوعفو ئے ورتہ وکړہ اوبیا دغہ کار سبب صلح د دوئ شۀ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
بَصِيْرًا (۲۴) اودے خدائ پہ ھغہ څہ چہ کوئ تاسے لہ نیکئ یا بدئ کتو نکے اولید ونکے نو جزا بہ

عہ معنی دا چہ مقرر کړے اوفرض کړے دہ خدائ تعالیٰ دا چہ ھرا ئینہ خامخا بہ غالب شم زۀ اورسولان خما حُکمہ چہ
پہ تحقیق سرہ خدائ دپرقوت نالۀ اوغالب دے ۱۲

د رکا یه قیامت کښ هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دغه مخلوبان هغه کسان دی چه کافران شوی دی پرخدائ او رسول ﷺ وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اوبند او منع ئے کړی تاسے له رسید لو صحد حرام ته چه مکه ده یعنی مکے ته ئے نه پرېخودلئ دپاره حج کولو وَالْهَدْيَ اوهدار ئنګ بند ئے کړے ئے وے قربانئ سره مَعْكُوْفًا اَنْ یه ئے حال چه بند ے کړے شوے وے دغه قربانئ او ولاړے وے له ئے چه يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ د رسیدی ځائ دحلا لولو اوذبح کولو خپلو ته چه مکه ده وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَ نِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ اوکه چرے نه وے په دغه مکه کښ سړی پټ مؤمنان اوښځے پټے مؤمنے لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ هسے سړی اوښځے چه نه پېژنئ تاسے هغوئ په صفت دایمان سره ځکه چه خلط اوګډوډی دی له مشرکانو اَنْ تَطَئُوْهُمْ چه پامال اوهلاك به کړئ هغوئ هم له کفار وسره فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ پس وبه رسیدی تاسے ته له دوئ ګناه اومکروه والے اوسختی په ناپوهئ سره فائده داوس وستی جمله حال ئے له فاعل دتطئوهم نه یعنی پامال اوهلاك به کړئ هغوئ په دے حال کښ چه تاسے به نه ډئ عالمان پته ګنهګار کیدلو خپلو په سبب دقتل دهغوئ نو په دا شان ترجمه کولو اشارت دے دفع ګمان دتکرارته چه لم تعلموهم اوبغیر علم ئے په ایت واحد کښ ځکه چه مراد له اوله نفسونه دهغوئ دی یعنی چه نه پېژنئ تاسے هغه پټ مؤمنان اومراد له دوئمه ګناه ئے یعنی په دے حال کښ چه نه به ډئ عالمان پته ګنهګار کیدلو خپلو په سبب دقتل دهغوئ والله اعلم اوجواب دلولا محذوف ئے چه هغه لما کف ایدیکم عنهم دے حاصل ئے داچه که چرے نه وے مکروه والے دے چه هلاك اوقتل به کړئ تاسے سړی مؤمنان په میځ دکفارو کښ په ناپوهی سره پس نو بیا به ورسیږی تاسے ته ناکاره والے اوګناه بے علم نوهر ائینه منع اوبند کړی به نه وا الله تعالیٰ لاسونه ستاسے له کفارو دمکے پس له غلبے ستاسے په هغوی باندے لیکن منع اوبند ئے کړل لاسونه ستاسے له هغوئ دپاره دغه فائده اوبل دپاره دئے لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ چه داخل ئے کا خدائ تعالیٰ په رحمت خپل کښ هغه څوك چه اراده ئے وی داخلول دهغهٔ لَوْ تَزَيَّلُوْا که چرے تار په تار شوے اوجدا شوے وے بعضے له بعضو یعنی معلومیدلے مؤمنان له مشرکانو نو لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ نو هرائینه خامخا به په عذاب

کړی وومونږه هغه کسان چه کافران دی په علم ازلی کښی له دے اهل مکے ﴿عَذَابًا اَلِيْمًا﴾ (۲۵) په عذاب دردناك سره یعنی اذن به مړ کړے وو تاسے ته اوس فی الحال بے مهلته په قتلولو اوفتح کولو داهل مکے ﴿اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ دغه اِذْ منصوب دے په اذکر مقدر سره بنا بر مفعولیت نو معنی ئے داچه یا کا اے رسول هغه چه وکړ حُولو کافرانو اوچا ویلی دی چه منصوب دے بنا بر ظرفیت یعنی دغه جعل مذکوره ظرف دے لعذبنا له اویاصد وکمله نو په دے تقدیر ئے معنی داسے شوه چه هر اُئینه په عذاب کړی به مووو کافران په هغه وخت چه وکړ حُولو کافرانو د مکے ﴿فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ﴾ په زړونو خپلو کښی هغه ننګ اوناموس خپل ﴿حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ﴾ یعنی ننګ اوناموس دناپوهئ اوبے عقلئ **روایت دے** له زهری صاحبه چه هغه ننګ دجاهلیت عدم اقرار د دوئ په رسالت د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوبل منع د دوئ وه له لیکلو د کلام قدیم یعنی بسم الله الرحمٰن الرحیم په اول د کاغذ د صلح کښی اوچا ویلی دی چه دوئ به رسول الله صلے الله علیه وسلم ته ویل چه کهٔ ته اوس داخل شے دے اصحابو سره مکے ته نو دغه چا پیره اوکړا کړد عالم به وائی چه اهل د مکے دیر بے همته اوبے غیرته وو نو په زور ئے سره محمد صلے الله علیه وسلم دا دنیول. وغیر ذلك. ﴿فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ﴾ پس راولیږه الله تعالیٰ آرام اولطف خپل ﴿عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ په رسول خپل اوهم په مؤمنانو یعنی چه ئے صلح له هغوئ سره بنا کړه اوښنګ دجاهلیت ئے ونهٔ کړهٔ دکافرانو په شان ﴿وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى﴾ اولازمه اوثابته ئے کړه لدے مؤمنانو سره هغه کلمه اوخبره دپرهیزګارئ یعنی چه ویل دهغه کلمے سبب دے دځان ساتلو له اوره دوزخ چه هغه کلمه لا اله الا الله محمد رسول الله ده ﴿وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا﴾ اووو دغه مؤمنان په علم ازلی دخدائ کښی بنهٔ لائق له دغه کلمے سره ﴿وَاَهْلَهَا﴾ اووو اهل اومستحق دغه کلمے ﴿وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا﴾ (۲۶) اودے همیشه خدائ په هرشے عالم خبردار پس نو دے پیژن حق دهرشی اوحقدارته ئے ورکوی اورسوی لکه چه ورئے کړه داکلمه طیبه اهل خپل ته چه مؤمنان دی **روایت دے** چه هرکله رسول الله صلے الله علیه وسلم هغه خوب لیدلے وو د داخلید لو مکے ته سره له اصحابو خپلو په حال دامن کښی له لاسه دکافرانو حلق کونکی دسرو نو

خپلو او قصر کونکی بیا رسول صلے الله علیه وسلم خبر درے خوب وکړو اصحابو خپلوته دیاره د
بشارت نو اصحابو پرے دیر خوشحال شول پس هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصحابو
خپلو بیرته راوګرځیده خپل ځائ ته نو منافقانو به مسخرے او ټوقے کولے او ویل به ئے چه
مونږه خو نه مکے کښی داخل شو او نه موحلق وکړو او نه قصر لکه چه تاویلی وو نو پرهغو مؤمنانو
دا مسخرے د دوئ دپاره سخته لګیدله او دیر به پرے خفه کیدل پس الله تعالیٰ دیاره د تصدیق
دهغه خوب د رسول خپل او دیاره د تسلئ د مؤمنانو دغه محکمه آیت نازل کړه لکه چه وائی
لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا هر ائینه په تحقیق چه په رښتیا ښودلی وو خدائ تعالیٰ رسول
خپل ته هغه خوبونه بِالْحَقِّ په رښتیا سره **فائده** داجار سره له مجروره متعلق دے له صَدَقَ
مذکور سره اوچا ویلی دی چه حال دے له مفعول ثانی د صَدَقَ نه چه الرُّءْيَا دے اَیْ حال
کون تلك الرّءیا متلبسه بالحق یعنی په دے حال چه دغه خوبونه ئے پیوست وو له رښتیا سره
اوچا ویلی دی چه قسم دے په هغه نوم حق دخدائ تعالیٰ والله تعالیٰ اعلم اوهغه خوبونه
دا سے وو چه لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ لا هر ائینه ضرور به اوخامخا به
داخلیږئ مسجد حرام ته په مکه کښی که رضا او اراده شوے وی د خدای تعالیٰ په دے حال چه په امن
کښی به یئ **فائده** داوړه سته کلام الله تعالیٰ یا محض دپاره د تبارك ذکر کړے دے اویا دپاره
د تعلیم دے عباد و مؤمنانو ته یعنی مناسب دی هر یو مؤمن لره چه هر یو خبر اشنه کوی نو
ان شآءَ الله تعالیٰ دِ ورسره وائی لکه الله تعالیٰ سره له دے چه عالم دے د ربه په هر غیب اوداکلام
ئے ذکر کړو مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ په دے حال کښی چه له ښه خریونکی به یئ بعضے تاسے د ټولو وینتو
د سرونو خپلو وَمُقَصِّرِيْنَ لا اوبعضے لنډونکی به د وینتو یئ لَا تَخَافُوْنَ ط په دے حال کښی چه
نه به ویریږئ تاسے پس له دغه هیچرے له هیچا فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا پس عالم اوپوه و وخدائ
تعالیٰ په دغه صلح کولو کښی په هغه فائدو چه تاسے پرے نه پوهیدئ اے مؤمنانو فَجَعَلَ
مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ پس مقرره کړے ده اواسانه کړے ده درته خدائ تعالیٰ پخوا له داخلیدلو

عه ولیست من قبیل اضافات الاحکام لان ما رأه کان لا محالة فی وقته المقدر له وهو العام القابل کما وقع ۱۲ منه
عه حال مؤکدة او استیناف ای لا تخافون بعد ذلك ابدًا ۱۲ منه

مکے ته فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۲۷﴾ فتح کول دیوخائے زر اونزدے چه هغه فتح دخیبر ده ځکه چه رسول الله صلے الله علیه وسلم له تیرید لو دپخلسو شپوله اصحابو سره خیبرته روان شول اوهغے فتح کړ هُوَ الَّذِيْٓ دغه یوخدائ تعالیٰ هغه ذات پاك صفات دے اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ چه لیږلے ئے دے رسول خپل خلقوته دپاره د نفع اخستو دووئ بِالْهُدٰى په لارے سمے سره چه کلمه طیبه ده یعنی لا اله الا الله وَدِيْنِ الْحَقِّ او په دین رښتینی اوثابت سره چه دین د اسلام دے لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ د پاره ددے چه غالب کړی دا دین ددۀ په هر یو دین باندے وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۲۸﴾ اوبس دے خدائ تعالیٰ شاهد په وعدو خپلو او یا په نبوت او رسالت د رسول اکرم یعنی محمد صلے الله علیه وسلم لکه چه وائ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ محمد صلے الله علیه وسلم چه دے رسول د خدائ تعالیٰ دے وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اوهغه کسان چه له ددۀ سره دی یعنی تابعان ئے دارنګ دی چه اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ د پرمخت په کافرانو یعنی هیڅ قدرے زړۀ نۀ سیزی په مشرکانو په جنګ وغیره کښی رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ اومهربانی کونکی اوزړه سیزونکی اونرمی کونکی او دوستی کونکی وی همیشه سره په میڼه خپل کښی اوبل صفت ئے دا دے چه تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا اوینے به ته اے کتونکیه دوئ ته په دے حال کښی چه رکوع کونکی اوسجده کونکی به وی خدائ تعالیٰ ته یعنی هر وخت به مونځونه کوی دپاره د خدائ تعالیٰ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ز په دے حال کښی چه غواړی دوئ په دغه عبادت کولو سره فضل یعنے ثواب له خدائ تعالیٰ اورضا کیدل ددۀ ترے یعنی عبادت خالص خدائ لره کوی نه دپاره د ریا اوعُجب سِيْمَاهُمْ علامت دصلاحیت او دپیژندلو دووئ فِيْ وُجُوْهِهِمْ ثابت ده په مخونو د دوئ کښی چه هغه یوه رڼا اوسپین والے دے په مخونوکښی ئے چه په قیامت به له ورایه پیژندے کیږی پرے مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ له تاثیره د ډیرو ډیرو سجدو کولو ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚ دغه وصف اوحال مذکوره بیان او صفت ددووئ دے په تورات کښی وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚ اوصفت اوبیان ددووئ دے

سے روی الطبرانی عن ابی بن کعب مرفوعا سیماهم النور یوم القیٰمة و عن مجاهد هو الخشوع والتواضع (باقی برصفحہ ۵۴۵)

په انجیل کښ کَزَرْعٍ پشان دهغه کښت دی اَخْرَجَ شَطْاَهٗ چه وباسی یعنی خپل سائکے او بنا خونه خپل فَاٰزَرَهٗ پس کو مک او مدد و رسره وکه او قوی ئے کا. فَاسْتَغْلَظَ پس بیا وکړی سخت او محکم پس له نرئ او ضعیفئ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ پس بیا برابر اوسم او دیرئ په پندئ یعنی بیخ خپل يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ په دے حال چه تعجب ورولی هغه دهقانانو خپلو لره چه ئے کرلی وی **فائدہ** دغه تیر شوے آیت یو مثال دا صحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے چه بیان کړے او مشابه کړے دے خدائ تعالیٰ لره کښت سره چه دوئ هم په اول د اسلام کښ په مثل د زرغونے د کښتونو د پرگم اولږ او ضعیفان وو بیا ورځ تر ورځ به زیاتیدل او محکمیدل تر هغه چه ښهٔ او دیر ښهٔ محکم شول په ښهٔ شان چه تعجب به کولو ورته خلقو لکه د کښت په شان چه له اوله و پروکے او ضعیف وی او بیا رو رو لوئیږی او دیر یږی او محکمیږی او تعجب ورته کوی بیا دهقانان لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ دا جار او مجرور متعلق دے له محذوف سره چه شُبِّهُوْا ؕ یعنی مشابه کړے شو مؤمنان له کښت سره د پاره ددے چه په غضب او په قهر او خفه شی پرے کافران د عرب او د مکے **فائدہ** له مالك بن انس رضی الله عنه روایت دے چه له دغه تیر شوی آیت کفر د رافضانو معلومیږی حُکه چه دوئ هم دښمنی او غضب کوی له اصحابو کبار و سره او هر څوك چه بغض کوی له اصحابو سره پس هغهٔ ته خدائ تعالیٰ کافر وائی په قرآن کښ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ وعده کړے ده خدائ تعالیٰ هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړے وی او کار و نه ښهٔ ئے کړے وی له جنسه د دوئ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ د بخښنے ډکنا هونو او اجر چه جنت دے **فائدہ** دغه حرف دمن په کلمه د منهم کښ بیانیه او جنسیه دے لکه په فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ کښ او تبعیضیه نهٔ دے فافهم ۔ اللهم اجعلنا بکرمک من المؤمنین الصالحین

(بقیه حاشیه ۵۴۵) وعن سعید بن جبیر هو اثر التراب علی الجباه وعن شهر بن حوشب یکون مواضع سجودهم کالقمر لیلة البدر ۱۲ منه ۔ (حاشیه صفحه هذا) عه شطأه بسکون وفتحها افراخه وهو ولد الطائر وکل صغیر من الحیوان والنبات کما یقا اشطأ الزرع اذا افرخ ونبت ۱۲ منه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه یوه ورځ حضرت ابوبکر صدیق رض او حضرت عمر فاروق رض په امیر کولو د اقرع بن حابس رض او د قعقاع بن معبد کښ جګړه او نزاع کوله یعنی ابوبکر صدیق رض رسول علیه الصلوة والسلام ته ویل چه اقرع ځوی دحابس امیر کړه ځکه چه دے ښهٔ لائق د بادشاهئ دے او عمر فاروق رض ویل چه قعقاع بن معبد امیر کړه پس ابوبکر صدیق رض عمر فاروق رض ته وویل چه ستا اراده نوره نهٔ ده مګر فقط دښمنی او مخالفت له ما ځکه تهٔ هغه خو ښوے او عمر فاروق رض هغه ته دغه رنګ وویل او بیا د دواړو اواز ډیر سره پورته شول په طریقه د جګړے کولو سره پس نازل شهٔ دا آیت چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا اے مؤمنانو وړاندے والے مهٔ کوئ په خبرو او په کارونو کښ بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وړاندے د خدائ او د رسول ﷺ یعنی تاسے له اوله مه وائی چه فلانے لائق د امیرئ دے یا فلانے کار د کولو دے بلکه هرڅه چه د خدائ او د رسول ﷺ پسند او اراده ﷺ وی هغه به کوی پس تاسے فقط د هغه هر یو متابعت کوئ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ او ویریږئ له خدائ په هر کار کولو اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ① بیشکه چه خدائ تعالیٰ اورید ونکے دے د خبرو ستاسے او عالم دے په کارونو او نیتونو ستاسے باندے پس هرڅهٔ چه کوئ د جزا به پوره برابره د رکا په قیامت **روایت دے** چه ځینے یاران مؤمنانو به په زوره او په لوئ اواز سره خبرے کولے له رسول صلی الله علیه وسلم سره پس نازل شهٔ چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ اے مؤمنانو مهٔ پورته کوئ تاسے اواز ډیل په وخت د خبرو کولو کښ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ د پاسه د اواز مبارك د نبی صلی الله علیه وسلم وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ او په زوره مهٔ کوئ د هٔ سره خبرے چه ورسره مجلس کوئ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ پشان د جهر کولو ځینے ستاسے له ځینے نور د سره یعنی لکه چه

په پخپل مینځ کښ تاسے سره جهړا اوپورته والے کوئی په خبرو کښ نو هغه رنګ له دۀ سره مۀ کوئی د پارہ د تعظیم او د عزت د دۀ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ د پارہ د دے چه خراب اوعبث او ضائع نۀ شی عملونه ستاسے په سبب د دغه زړۀ ورتیا ستاسے سره په رسول ﷺ یاله جهته دویږے د دے چه خراب به شی عملونه ستاسے کۀ منع نۀ شوئ تاسے له دغه بے ادبئ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۲ اوحال داچه تاسے به نۀ پوهیږئ په دغه خرابیدلو د عملونو خپلو - **روایت دے** چه څنے اصحابو لکه ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ او عمر فاروق رضی اللہ عنہ اوهم دارنګه نور اصحاب شو ورو ورځ په آرام آرام او په عاجزئ سره به خبرے کولے له رسول ﷺ سره نو په وصف د هغوئ کښ نازل شۀ چه اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ بیشکه هغه کسان چه تیتوی آواز ونه خپل یعنی په آرام او ورځ ورځ سره خبرے کوی عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ په نزد د رسول صلے اللہ علیه وسلم د پارہ د آدب اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ د غه د له هغه کسان دی چه ازمایلی اوغوره کړی دی خدائ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ط زړونه د دوئ د پاره د پرهیزکارئ یعنی غوره کړی دی دوئ خدائ تعالیٰ چه هم دوئ بنۀ لائق د توحید دی لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرره ده دوئ لره په آخرت کښ بخښنه د کنا هونو وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ۳ او اجر لوئ له خدائ چه جنت دے **روایت دے** چه یوه ورځ څوکسان له بنی تمیم چه یوله هغوئ اقرع بن حابس وو په وخت د غرے کښ رسول صلے اللہ علیه وآله وسلم لره راغلل اوحال داچه رسول اللہ صلے اللہ علیه وآله وسلم دننه په خپل کور کښ وو پس دوئ په زور آواز ونه کول رسول علیه الصلوٰة والسلام ته چا پیره له کورونو د هغه چه بهر ته راشه نو الله تبارك وتعالیٰ ناکاری اونا پوهی د هغوئ بیانوی د پاره د عبرت لکه چه وائی اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ بیشکه هغه کسان چه آواز ونه کوی تاته اوغواړی د اے رسول علیه الصلوٰة والسلام مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ د وړاندے یا د وروستو د کوټو د اهل بیتو ستا اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۴ نۀ قول د دوئ چه دی نۀ پوهیږی په عزت او تعظیم او مرتبے ستا اے رسول علیه السلام وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا او کۀ چرے دوئ

صبر کړے وے له اواز و نو کولو او انتظار ئے کړے وی درته حَتّٰی تَخْرُجَ اِلَیْهِمْ تر هغه چه بیا په خپله ته و تلے وے له کوره خپله دوئ ته لَکَانَ خَیْرًا لَّهُمْ ؕ نو هر اُلښه و وبه دغه صبر او انتظار کول ئے غوره او بهتر دوئ لره له دغه تلواړے او اواز و نو کولو ئے وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝۵ اوخدائ تعالیٰ بخښونکے او مهربانه دے په توبه ایستونکیو باندے یعنی هر چا چه دغه شان یا بله بے ادبی کړے وی او بیا له اخلاصه د زړهٔ توبه و باسی نو بیاد نهٔ نا امیده کیږی له رحمته د هغهٔ بلکه عفوه به ورته وکا حُکه چه خدائ غفورٌ رَّحیم دے **روایت دے** چه یوکال رسول الله صلے الله علیه وسلم ولید نومے سړے چه خُوئ د عقبه وو بنی مصطلق قبیلے ته د پاره داخستلو د زکوٰة تو نو او خبر اتو نو ترے ولیږلو او حال دا چه پخوا په وخت د جاهلیت کښی په مینځ د دغه ولید او د بنی مصطلق کښی دښمنی وه په سبب دیو مړی پس هرکله چه ولید دهغوکلی ته نزدے راغے نو اهل د هغه کلی ورته ورایند ے سوارہ راغلل د پاره د عزت ئے پس دے په زړه خپل کښی له هغوئ و ویریده او گمان ئے راغے چه دوئ جوړ د پاره د مرګ حُما په قصد د هغه عوض اخستلو له ما راغلل نو دے بیرته په جلدئ رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغے او وے ویل چه اے پیغمبره هغوئ بیا بیرته مرتد ان شوی دی او زکوٰة تو نه نهٔ راکوی بلکه په نیت د وژلو حُما راغلل لیکن زه ترے راو تختیدم پس رسول صلے الله علیه وسلم په دے خبره ډیر خفه او دلگیر شه او قصد ئے د جنگید لو له هغوئ سره بیا وکړهٔ ناگهانه هغوئ راو رسید ل رسول صلے الله علیه وسلم لره او بیان د دغه حال ئے ورته وکړو نو دا آیت نازل شهٔ چه یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ اے مؤمنانو که چرے راشی او راوړی تاسے ته کوم یو فاسق یو خبر له خبرو نو او حادثو فَتَبَیَّنُوْۤا پس تاسے ښهٔ معلوم کړئ رښتیا له دروغو د دغهٔ او په بل قراءت کښی فتثبتوا دے یعنی تاسے د رنگ وکړئ او د ډیرئ او صبر وکړئ تر هغه چه درته حال دهغهٔ په شان معلوم شی اَنْ تُصِیْبُوْا قَوْمًۢا د پاره د دے چه و نه رسیږئ تاسے یو ټولی ته یا د پاره د ډیرے د دے

چه وبه ریږئ تاسے یو توم ته بِجَهَالَةٍ په حال د نا پوهئ کښ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ
نٰدِمِيْنَ ⑥ پس نو وبه کړئ تاسے بیا په هغه خطا خپله چه کړے مو وی له هغه قوم
سره پښیمانه - پس ور ولیږلو رسول علیه السلام پس له دغه خالد نوے سپے دیاره
د امتحان اومعلومولود حال دهغو نو بیاموندل دغه خالدرض هغوئ ټول مؤمنان
صالحان اوطاعت کونکی دخدائ او د رسول ﷺ پس بیا خالدرض رسول اللهﷺ خبر کړو په
هغه واقعی حال دهغو نو خوشحاله شو رسول الله صلے الله علیه وسلم وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ
رَسُوْلَ اللّٰهِ ؕ او پوهه شئ اے مؤمنانو په دے چه په تاسو کښی دے لیږلے شوے د خدائ
تعالیٰ یعنی دروغ او باطل مهٔ وایئ ځکه چه خدائ تعالیٰ به رسول خبردار کړی پرهغه
قولونو اوفعلونو ستاسے لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ د چرے طاعت اوفرمان بردارئ
ستاسے وکړی دغه رسول په ډیرو کارونو کښی لَعَنِتُّمْ نو هر اینه په گناه اومشقت کښی
بیا داخل اوهلاک شی تاسے وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ او لیکن خدائ تعالیٰ
په کرم اوپه فضل خپل غوره کړے اودوست کړے دے تاسے ته ایمان او توحید وَزَيَّنَهٗ
فِيْ قُلُوْبِكُمْ اوښائسته کړے ئے دے دغه ایمان په زړونو ستاسے کښی اے مومنانو یعنی
چه نبودلی او په زړه کښی ئے اچولی دی درته دلیلونه د توحید خپل وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ
اوبد او ناکاره کړے ئے دے درته کفر یعنی پټول د حق وَالْفُسُوْقَ اوهم دغه رنگ وتل
اوبهرکیدل له لارے سے چه لاره د اسلام ده وَالْعِصْيَانَ ؕ اوهمدغه شان نافرمانی
کول اویاغی کیدل له خدائ اوله رسول ﷺ اُولٰٓئِكَ دغه د له تحقیق کونکی په خبرونو او
حکمونو کښی هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ⑦ هم دوئ دی هوښیاران اولاره موندونکی په ربښتیا
فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ له جهته د فضل له جانبه د خدائ تعالیٰ او یا فضل ئے کړے دے په فضل
کولو سره وَنِعْمَةً ؕ او یو نعمت دے له دربارهٔ د خدائ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ⑧ او خدائ
تعالیٰ خبردار دے په هرڅیز او بیا هرکارئ په حکمت دے یا محکم کارئ روایت دے
چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم سوروو په حمار خپل او تیریدل په یوے

ډلے د انصارو باندے اوحال دا چه په هغه ډله کښ عبد الله بن اُبی منافق هم ناست
وو پس رسول الله صلی الله علیه وسلم لږ څهٔ قدرے ودریدهٔ په هغه ځائ کښ د یارهٔ
دوعظ کولو هغوئ ته پس ناکهانه بول یاخاشنهٔ وکړهٔ هغه حمار د رسول الله صلی الله
علیه وسلم - نو عبد الله بن اُبیٔ منافق زر پوزه خپله په طریقه د تکبر سره وښوله اوښهٔ
ئے کړه چه بد بوئی د بولو د حمار ورنه شی اوبیائے وویل رسول اکرم صلے الله علیه وسلم
ته چه زهٔ بیرته اولرے کړه له مونږه بد بوئی د بولو د خرخپل مونږه پرے ډیر خفه او
تنګ شوے اوته ځه ځائ خپل ته پس هر څوک چه درځی له مونږه نو هم هغه ځائ
کښ ورته وعظ اونصیحت کوه او د اځائ مهٔ تنګوه پس نو واورید له د اخبره یو مؤمن
کامل متقی اصحابی ساده چه نوم ئے عبد الله بن رواحه وو له قبیلے د اَوس پس فی
الحال ئے عبد الله بن اُبیٔ منافق ته چه له قبیلے د خزرج وو په قهر او په غضب سره
وویل چه ایا تهٔ حمار د رسول مختار[1] ته دا رنګ بے ادبه نسبت کوے اوحال دا
چه قسم دے ځما په خدائ چه دغه بول د حمار د رسول اکرم صلے الله علیه وسلم ډیر
خوشبویه اوښهٔ دی له هغه خوشبوئی د مښکو اوعطرو چه په بدن ستا پورے دے پس
زر خفه روان شو رسول[2] او بیا ډیرے سخت خبرے اوشوے په مینځ د عبد الله بن
رواحه اَوسی او د عبد الله بن ابی منافق خزرجی کښ تر دے چه دوارو سره کنځل کول
شروع کړل او بیا په جنګ شول پس راجمع شه قوم د هریو یعنی اوس قبیلے او
خزرج قبیلے اوښهٔ جنګ په څپلیو اولخټو قهورهٔ وشهٔ او بعضو ویلی دی چه په
توږهٔ هم وشهٔ پس دغه محکمینے[3] ایت نازل شه اوبیا راغلو دوئ لره رسول د خدائ صلے الله
علیه وسلم او دا ایت ئے ورته ولوستو او بیائے صلح په مینځ د هغوئ کښ وکړه فَاَدَّ کَ
اوپس له هغه حاد ثے ترین ورځے پورے هم داحکم دے چه هرکله دوه ډلے د مؤمنانو
په جنګ شی نو ثالث په مینځ د هغوئ کښ صلح کوی لکه چه وائی وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ

[1] یعنی د پلار د کومک د عبد الله بن رواحه ۱۲ منه [2] د یارهٔ د مدد د عبد الله بن اُبیٔ منافق ۱۲

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا اوکه څرے دوه ډلے له مؤمنانو سره جنګ اوجدل کوی په صیغهٔ خیل کښ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ پس صلح وکړئ اے نورو مؤمنانو په صیغهٔ دهغوئ دواړو جنګ کونکو کښ په نصیحت کولو سره اوغواړئ ے حکم دخدائ او رسول ته فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى پس که څرے ظلم اوتیرے و الے وکړو یوے له دغه دواړو ډلو پرهغے بلے باندے یعنی چه صلح قبول نهٔ کړی او په حکم دخدائ او رسول ﷺ راضی نه شوی نو فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ پس جنګ کوئ اووژئ اے ثالثانو مومنانو هغه ډله چه ظلم اوبے انصافی کوی په هغ بلے ډلے حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ ترهغه چه بیرته وګرځی حکم دخدائ ته اوګردن کیږدئ ورته فَاِنْ فَآءَتْ پس که څرے وګرځیدله دغه ډلې تیرے کونکے له ظلم خپله اوحکم دخدائ تعالیٰ ئ قبول کړو فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ پس نو صلح اوجوړوالے وکړی په صیغهٔ دغه دواړو ډلوکښ په انصاف سره یعنی ملګرتیا د یوے ډلے په طریقے دغیرت اوننګ دجاهلیت مهٔ کوی بلکه همیش تابعان دشرع اوسئ وَاَقْسِطُوْا ۭ اوعدل اومیانه روی کوئ په هرکار کښ ځکه چه اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝۹ بیشکه خدائ خوښوی هغه عدل کونکی په قولونو اوکارونو خپلوکښ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ هم دادهٔ بله نهٔ ده چه مؤمنان ټول سره وروڼه یو تربله دی په دین کښ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ ۚ پس صلح دجوړوالی کوئ په صیغهٔ دوو وروڼو خپلو کښ هغه وخت چه دواړه سره جنګ اومخالفت کوی۔ اوپه بل قراءت کښ اخوة ګهم راغلے دے په صیغه دجمع سره وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝۱۰ اووویریږئ همیشه په هر څهٔ کښ له خدایه نو ښایی چه دربانده رحمت وکړے شی له هغه خدایه روایت دے چه یوے ډلے دبنی تمیمو به ټوټے اومسخرے کولے په فقیرانو اوعاجزانو مسلمانانو پورے لکه عمار، اوصهیب، او بلال اوسلمان اوخباب رضی الله عنهم هم ارنګه نور شوتو الله تعالیٰ منع کړهٔ له هغه اوناوئ کړهٔ چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ اے مؤمنانو ټوټے اوسپکوالے دِ نهٔ کوی یو ټولے له تاسے په بل پورے عَسٰٓى

اَنۡ یَّکُوۡنُوۡا خَیۡرًا مِّنۡهُمۡ نزدے دہ اوبنا ئیږی چه وی به دغه ټوقے کړے شوے ښځه او بهتر په نزد د خدائ تعالیٰ له هغه ټوقے کونکیو بل۔ **روایت دے** چه څنے ښیانو د حضرت صلی الله علیه وسلم به هم کله کله مسخرے کولے په ځینو نورو هم سنجو خپلو پورے نکه ام سلمه رضی الله عنها ته به ئے ویل چه ته کوتاه قده یعنی ټیټه اومندرئ ئے بی بی صفیه ته به ئے دیهودیت نسبت کولو ځکه چه له قومه د هغوئ نه دغه مسلمانه شوے وه هم اوهدا رنګه په نورو پس نازل شۀ۔ وَلَا نِسَآءٌ مِّنۡ نِّسَآءٍ اوهدا رنګ مسخرے اوسپک والے دِنۀ کوی څنے ښځے په څنو پورے۔ عَسٰۤی اَنۡ یَّکُنَّ خَیۡرًا مِّنۡهُنَّ ج نزدے ده اوبنائیږی چه وی به دغه ښځے ټوقے کړے شوے پرے پورے بهتر اوغورے خدائ تعالیٰ ته له دغه ټوقے کونکیو نه وَلَا تَلۡمِزُوۡۤا اَنۡفُسَکُمۡ اوعیب هم مۀ وایئ د ځانونو خپلو ځکه چه عیب بیانول دبل چا عیب ظاهرول دخپل ځان دی اویا ځکه چه ټول مؤمنان ګویا که نفس واحده دے وَلَا تَنَابَزُوۡا بِالۡاَلۡقَابِ ط او ویشتل مۀ کوئ یعنی مۀ بولئ اومۀ غواړئ ځنے ستاسے ځنے نوم لرې په نومونو نا کاره او بد وسره یعنی مؤمن ته دارنګ مۀ وایئ چه اے یهودی یا اے نصرانی یا اے فاسقه ځکه چه بِئۡسَ الِاسۡمُ الۡفُسُوۡقُ بَعۡدَ الۡاِیۡمَانِ ج اونا کاره نوم دے دفاسقئ پس له ایمان راوړلو یعنی هر څوک چه مؤمن اومسلم شی بیا هغه ته فاسق یا یهودی یا نصرانی ویل ډیر نا کاره اوبد کار دے وَمَنۡ لَّمۡ یَتُبۡ اوهر څوک چه بیرته ونه ګرځیده له هغه چه ناروا دی په شرع کښ فَاُولٰٓئِکَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ⑪ پس نو دغه ډلے چه دی هم دوئ ظالمان دی په ځانونو خپلو باندے ځکه چه بے ضرورته خدائ تعالیٰ ځان خپل ته په قهر وی **روایت دے** چه هرڅه به رسول علیه السلام غږ کولو یا سے ښل سړے به ښتن له اصحابو رضی الله عنهم خپلو سره۔ نو عادت مبارک به ئے داوو چه یو فقیر اوحاجتمند سړے به ئے د دوو غنیانو په حواله کولو یعنی چه دغه فقیر د ستاسے خدمت د پخلی د طعام وغیره کوی اوتاسے دۀ لره طعام وغیره ورکوئ نو یو کرت ئے په یو سفر کښ سلمان

فارسی رضی حواله کړۀ په نورو دووا صحابو د پارۀ د خدمت پس نوره ورځ په سفر کښ هغه دواړو اصحابو سلمان رضی ولیږلو منزل خپل ته چه تۀ لاړ سه اوطعام مونږ لره تیار کړه چه هغه منزل خپل ته ورسیدۀ نوخوب پرے غلبه وکړه او اودۀ شۀ اوطعام ئے تیار نۀ کړه هر کله چه هغوی دواړه منزل ته راغلل نوسلمان ته ئے وویل چه طعام حاضر کړه چه وخورۀ هغه وویل چه زۀ اودۀ شوم اوطعام مے نیار کړے نۀ دے نو دوئی بیا ورته وویل چه ورشه اوله رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه طعام مونږه لره راوړه پس سلمان لاړۀ اوطعام ئے ترے طلب کړه نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم حواله ورکړه په اسامه رضی چه خزانچی او لنګری د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وو پس اسامه ورته وویل چه فی الحال طعام خلاص شوے دے اونشته نو بیا سلمان رضی څخه راغے هغه ملګرو خپلو لره اودغه حال ئے پوره ورته بیان کړو نو بیا هغوئی نو واصحابو لره واستولو د پارۀ د طلب د طعام پس هغوئی هم دغه جواب ورکړو چه طعام خلاص شوید ے بیا هغه دواړو اصحابو سره پخپل مینځ کښ وویل چه د سلمان د اسے قدم دے کۀ چرے دے مونږه واستوکوهی د سمیځه ته نوهرا ئینه هغه به هم وچ شی له اوبو او بیا عیبت کول د اسامه رضی ئے هم شروع کړل یعنی چه طعام هغه څخه موجود وو لیکن بخل ئے وکړۀ له مونږه سره چه رائے نۀ کړه او بیا جا سوسی د اسامه ئے کوله چه ایا دغه وبل د دۀ له خلاصید لو او تمامید لو له طعام ریښتیادی یا دروغ بیا هم کله چه په بله ورځ دغه دواړه په مجلس د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښ حاضر شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوئی څخه پوښتنه وکړه چه څۀ ده دغه سرخی د غوښو چه زۀ ئے وینم په خولو او غاښونو ستاسے کښ پس هغوئی دواړو وویل چه اے حضرته مونږ خو بالکل غوښے نۀ دی خوړلے بیا هغه حضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه مراد څما د اغوښے حلالے او خوړونکے نۀ دی بلکه غوښے د سړیو د رته وایم یعنی معلومیږی چه تاسے غیبت د چا کړے دے نو پس دا آیت نازل شه چه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ ۱ اے مؤمنانو خان خپل ساتئ ډیر له کولو بدګمان إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ بیشکه چه څنې ګناه کول ګناه ده یعنې ګنهګار کوونکے دے ګمان کو نکیولو لکه بد او ناکاره ګمان کول په نبو ببو خلقو له مومنانو اونه په فاسقانو څکه چه په هغه کښ هیڅ ګناه نشته وَلَا تَجَسَّسُوا او تلاش هم مهٔ کوئ عیبونو دخلقو پسے څکه چه ډیرنا کاره کار دے **فائده** رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی چه ایاکم والظن فان الظن اکذب (الحدیث) ولا تجسسوا ولا تنافسوا ولا تحاسدوا ولا تباغضوا ولا تدابروا وکونو عباد الله اخوانا ۔ او په بل حدیث کښ دی یامعشر من آمن بلسانه ولم یفض الایمان الی قلبه ولا تغتابوا المسلمین ولا تتبعوا عوراتهم فانه من یتبع عورات المسلمین یتبع الله عورته و من یتبع الله عورته فیفضحه ولو فی جوف رحله او هدا ارنګه نور احادیث وارد دی په وعید دے کښ وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُم بَعْضًا او غیبت دِ نهٔ کوی څنې ستاسے دځنے نور و **فائده** له ابوهریرة رضی الله عنه روایت دے چه یوه ورځ رسول صلے الله علیه وسلم تفحص وکړو له اصحابو خپلو چه آیا تاسے پوهیږئ چه څهٔ ته غیبت ویلے شی هغوئ ورته وویل چه خدائ اورسول به ئے پرے پوهیږی مونږه پرے نهٔ پوهیږو پس رسول الله صلی الله علیه وسلم دوئ ته بیان او تفسیر د غیبت وکړو چه غیبت بیانول او یادول دیو ورور د مسلمان غائب دی په هغه کار و نو کښ چه که هغه حاضروی نو پرے خفه کیږی بیا اصحابو رضی الله عنهم وویل چه اے رسوله صلی الله علیه وسلم ! اګر که هغه کار وی په هغهٔ کښ نور رسول الله صلے الله علیه وسلم ورته وویل چه کهٔ چرے وی په هغهٔ کښ چه ئے ته پرے وائے نو بیشکه چه غیبت دهغهٔ دِ وکړهٔ او که چرے نهٔ وی په کښ هغه چه ئے ته وائے پرے نو په تحقیق چه

۱ پرهیز وکړئ له بدګمانئ نه څکه چه بدګمانی دیره دروغ خبره ده اوجاسوسی مهٔ کوئ او تیزی مهٔ کوی او یو بل سره حسد مه کوی او مه له یو بل سره کینه کوی او مه شا کوی په جنګ کښ اوشی بندګان د خدای یو تر بله اے هغه ډلے چه ایمان ئے راوړیدے تش په خپل ژبه په فتنه کښ مهٔ اچوئ مسلمانانو له او مهٔ ګرځوئ پردود هغوئ پسے څکه هغه څوک چه ګرځی پردود مسلمانانو پسے نو الله پاک به پردے د هغه پسے شی او هر څوک چه خدائ تعالی د هغه پردے پسے شی نو وبه ئے شرموی اګر که په کور خپل کښ وی هم ۱۲

اللهم اغفر لکاتبه : کتبه محمد صادق ، زهیر ، چیرهارے د اګوال سنه ۱۳۷۴/۱۰/۱۸ هـ ش

بهتان دِ وویل اودا بهتان هم لویه ګناه ده. همدارنګ نور احادیث په دے مضمون سره وارد دی اُوس بیا الله تعالیٰ د پاڑه د ناکاروالی د غیبت کولو یو بل مثال بیانوی لکه چه وائی اَیُحِبُّ اَحَدُکُمْ ایا خوښوی او بهتره وی یوستا سے اے مومنانو اَنْ یَّاْکُلَ لَحْمَ اَخِیْهِ مَیْتًا دا چه وخوری دوئ غوښے د ورور خپل په دا حال کښ چه هغه مړوی فَکَرِهْتُمُوْهُ ط پس بد او ناکاره به وګڼئ تاسو هغه خوړل د هغه مدارنګه بد او ناکاره وګڼئ او منع شئ له غیبت کولو د هغهٔ ځکه چه غیبت کول د هغه غوښه خوړل ګے دی فَائِدَه انس بن مالک صحابی رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نقل کړے دے چه هر کله زهٔ په شپه د معراج پورے ته ختلم او تللم نو ناګهانه پښې شوم په یو دا سے ټولی چه نوکان د هغوئ د تامبے وو تیرهٔ او دوئ په هغوئ مخونه خپل توکل او زخمی کول پس ما له جبریل امین وپوښتوس وکړو چه دغه څوك دی او په کومه ګناه دا رنګ سخت په عذاب دی نو جبریل علیه السلام راته وویل چه دا هغه غیبت کونکی دی چه په دنیا غوښے د خلقو به ګے خوړے او عزت یے او ابرو کانے د خلقو به ګے اختیار هم دا رنګ نور احادیث هم په دے وعید کښ راغلی دی وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او ویریږئ له عذاب د خدائ په کولو د دغو ناکارو او بدکارونو کښ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲﴾ بیشکه چه خدائ توبه قبلونکے او بیا ګرځیدو نکے دے بندګانو خپلو ته په مغفرت سره او مهربانی کونکے دے په دوئ **روایت دے** چه په وخ د فتح د مکے رسول الله صلے الله علیه وسلم بلال رضی الله عنه ته امر وکړو چه اذان وو ایه د پاڑه د مانځه نو بلال رضی الله عنه په اذان شروع وکړه پس حارث بن هشام رسول الله صلے الله علیه وسلم ته وویل چه ایا تابل څوك نه موندل بے له دے توره کاږغهٔ چه دهٔ ته د امر وکړو په اذان کولو سره او بیا نور اصحابو هم طعنه وکړه په نسبت د دهٔ کښ پس نازل شهٔ یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰکُمْ اے سړیو بیشکه چه مونږ پیدا کړی یئ تاسے ټول په اصل کښ مِّنْ ذَکَرٍ وَّ اُنْثٰی له یو نارینه چه آدم علیه السلام دے او له یوے ښځے چه بی بی حوا ده په تاسے څهٔ له فخر او لوئی کوئ په نسبونو

او وصفونو کښی یعنی چه هغه کم اصل او دغه لوی اصل دے یا دغه سپین او هغه تور دے وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا او گرځولی مو یئ تاسے بناخونه او قبیلے قبیلے دپاره ددے چه پیژنئ تاسے او معلومولی سره یو له بله اونه چه به فخر او لوئی اونکبر کوئ تاسے په نسبونو کښی ځکه چه فخر او لوئی په دے نوړے نۀ ده بلکه اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ بیشکه چه عزت دار ۀ او بزرګ سنا سے خدائ تخ هغه بنۀ پرهیزګار او ویریدونکے له خدائ سټاسے دے یعنی چه په حدود خدائ تعالیٰ بنۀ فهم کوی او له جنس نارواؤ په شرع کښی ځان خپل ساتی او هغه نۀ دی چه نسب کښی پورته او په تقوی کښی بنکته اولاندے وی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۳﴾ بیشکه چه خدای عالم دے په کارونو ستاسے اوخبردار دے په زړونو ستاسے جزا به درکړی په قیامت روایت دے چه یوه ډله دبنی اسد قبیلے راغله رسول الله صلے الله علیه وسلم لره پس اظهار دکلمے شهادت ئے وکړو پس له هغه بیا ډیر منت او احسان به ئے کولو په رسول الله صلے الله علیه وسلم باندے چه مونږه سره له عیالونو خپلو تالره راغلی او مسلمانان شوی یو او تولوعرب او به دریسره جنګونه کول او مونږه دریسره نۀ دی کړی نو مناسب دی چه تۀ هم مونږه سره څۀ احسان وکړۀ یعنی څۀ څیز راکړۀ له صدقاتو پس نازل شوچه قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ ویل درته هغه صحرائی سړیو دبنی اسد اوعظفان قبیلو چه یقین دزړۀ کړے دے مونږه په یو والی دخدائ او په پیغمبرئ ستا قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وواید ورته اے پیغمبره چه نۀ دے راوړے تاسے ایمان په ربستیا سره وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا مګر ووائی چه ګردن موایښے دے تاته په ظاهره محض دپاره د خلد صیدلو له قتل اوله بندۀ ځکه چه ایمان اقرارد ژبے سره له تصدیق د زړۀ ته ویلے شی او ستاسے خو اقرارد ژبے شته او تصدیق دزړۀ مونۀ شته وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ اوهرګز داخل شوے نۀ دے ایمان په زړونو ستاسے کښی ځکه چه زړۀ ستاسے له ژبو سره موافق نۀ دے وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اوکۀ چېرته تاسے اطاعت دخدائ اودرسول ئے وکړئ په اخلاص

د زړهٔ سره لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا نو کم او ناقص به به نهٔ کړی خدائ تعالی تاسے لره له جزا د عملونو ستاسے هیڅ څیز بلکه پوره او برابره جزا د عملونو به درکا اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ بیشکه چه خدائ بخښونکے دکنا هونو درښتینی مؤمنانو دے په دوئ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ هم دا دے بله نهٔ دے چه رښتینی مؤمنان هغه کسان دی چه یقین د زړهٔ لے کړے وی په خدائ او په رسول۴ ے ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا پس له هغه بیا شک و نهٔ کړی په زړونو کښ پس له اقرار د زړے وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اوجهاد او غزا کوی په مالونو او ځانونو خپلو سره په لارهٔ د خدائ تعالی کښ چه لاره د اسلام ده یعنی غازیانو لره تو ښه دلارے او وسلے دجنګ د رکوئ او پخپله هم غزا کوی له کفارو سره اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾ دغه ډله چه دغه تیرشوی کار ونه کوی - هم دوئ رښتینی دی په دعوئ د ایمان کښ او نه هغه چه فقط په خولهٔ وائی وائی چه ایمان مو راوړے دے او په زړهٔ کښ ئے یقین نهٔ وی رواټ دے چه هر کله دغه دوه تیرشوی ایتونه نازل شول نو بیا دغه اعرابیان رسول۴ د خدائ صلے الله علیه وسلم لره راغلل او قسمونه ئے ورته په خدائ تعالی کول چه مونږه په رښتیا د زړهٔ له اخلاصه مؤمنان یو او سرسری نه یو او حال د اچه خدائ تعالی ته خو حال د ایمان د دوئ ښهٔ معلوم و وچه سرسری اوظاهری دے او واقعی نهٔ دے نو الله د پارهٔ د اظهار د پټکئ او فریب د دوئ دا ایت نازل کړه چه قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ و وایه دوئ ته اے پیغمبره چه ایا پوهوئ او خبروئ تاسے خدائ تعالی په دین خپل وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ او حال د اچه خدائ تعالی عالم او خبر دے په ټولو هغه څیزونو چه په اسمانونو کښ دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ او په هغه څیزونو چه په زمکه کښ دی وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۶﴾ او خدائ تعالی په هر څیز پوهه خبردار دے هیڅ ترے پټ نهٔ دی پس حاجت ئے ستاسے خبر ولو ته نشته يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ منت او احسان کوی دوی په تا اے پیغمبره د دے چه فقط اسلام

ئے راوړے دے ۔ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ وایه دوئی ته اے رسوله چه منت او احسان مهٔ کوی په ما د اسلام راوړلو خپلو بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ بلکه خدائ تعالیٰ منت او احسان کوی په تاسے اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ په دے چه لاره ئے ښودلے ده تاسے ته طرف د ایمان ته اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾ که چرے یئ تاسے رښتینی په دعوٰی د ایمان خپل کښ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ بیشکه چه خدائ تعالیٰ پوهیږی عالم دے په پټو څیزونو له بندګانو نه په آسمانونو او زمکه کښی وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾ ع او خدائ تعالیٰ لیدونکے دے هغه کارونو لره چه کوئ ئے تاسے له رښتینی ایمانه یاله نفاق. نسأل الله تعالیٰ التوفیق للطاعات والکمالات والختم علی السعادات والحشر فی زمرة الصدیقین والصدیقات انه مجیب الدعوات والقاضی الحاجات ونصلی علی حبیبه محمد اضعاف التحیات واصناف الصلوٰة والبرکات وآخر دعوٰنا ان الحمد لله رب العلمین ط

سُوْرَةُ قٓ مَكِّيَّةٌ ۵۰ ۴۵ اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعُهَا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قٓ ۚ دغه خدائ تعالیٰ عالم دے په معنیٰ دے حرف او ایمان راوړے دے مونږه په هغه چه مراد دخدائ تعالیٰ دے له دے حرف وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ﴿۱﴾ او قسم دے په قران بزرګ ف دے ځائ کښی جواب د قسم محذوف دے چه لَتُبْعَثُنَّ دے معنیٰ دا چه قسم دئے په قران بزرګ چه ضرور خامخا به پورته کړے شئ تاسے له قبرونو نه په قیامت کښی اودا کافران پرے یقین نۀ کوی بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ بلکه تعجب کوی ۚ کمارد قریشو له دے چه راغلو دوئی لره مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ پیغمبر ویرونکے له عذابه چه له جنسه دوئی دے فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ پس ویل به کافرانو چه هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۲﴾ دا ویرول دمحمد صلے الله علیه وسلم مونږه لره له عذابه د خدائ یوځیز او خبره عجیبه ده اونایاب دے ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ایا هرکله چه مړۀ شو مونږه اوخاورے شو په قبرونو

کښ پس بیا به هم مونږه ژوندی کیږو ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيدٌ ۳ دغه گرځیدل خو مونږه بیا ژوندون ته یو گرځیدل لرے له عادت او امکان دی پس خدائی تعالیٰ بیا د پاره د ورد دے خبرے د دوئ وائی چه قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ په تحقیق چه پوهیږو او خبر یو مونږه په هغه چه کموی ئے زمکه له پوستکو او غوښو او هډوکو د دوئ یعنی هر قدرے چه دوئ ذره ذره او خاورے شی نو مونږه پرے خبردار یو پس پوټل به جمع او ژوندی کوو د پاره د جزا او د سزا وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۴ او مونږه څخه کتاب ډے ساتونکے دنو مونږ او تفصیلونو د دوئ یا چه ساتلے شوے دے له شیطانانو یا له تغییره او تبدیله نو بیا ژوندی کول د دوئ رابا ندے گران نهٔ دی بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ بلکه نسبت د دروغو کړے دے دوئ قرآن ته هرکله چه راغے دوئ ته او بیا دوی عاجز شول له جوړولو د یو سورت په مثل د هغهٔ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۵ پس دوئ په یو کارگډ وډ او پریشانه کښ دی ځکه چه کله دوئ قرآن ته سحر وائی او پیغمبر ته ساحر وائی او کله قرآن شعر او پیغمبر ته شاعر او کله قرآن ته کهانت او پیغمبر ته کاهن وائی ۔ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا ایا پس نهٔ گوری دغه منکران له بیا ژوندہ او له قیامته اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ طرف د اسمان ته چه پورته او د پاسه د سر و نو د دوی دے چه محض په قدرت خپل كَيْفَ بَنَيْنٰهَا څرنګه بنا کړے او جوړ کړے دے مونږه دغه اسمان بے ستونو طبقه په طبقه وَزَيَّنّٰهَا او بناسته کړے مودے په ستوریو سره وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۶ او نهٔ شته دغه اسمان کښ هیڅ چاوډونه او سوری پس پیدا کول د دا رنګ لویو څیزونو بے چودونو او نورو علتونو نو دلیل دے په کمال قدرت د الله تعالیٰ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا او ایا نهٔ گوری دوئ زمکے چه څرنګ غوړولے ده مونږه په مخ د اوبو وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ او غورځولی او اچولی مودی په دغه زمکه کښ غرونه لوی لوی او محکم محکم د پاره د قرار نیولو او محکم کیدلو د دغه زمکے وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا او زرغونه کړی مودی په دغه زمکه کښ د پاره د نفع ستاسے مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۷ له هر قسم گیاه تازه او بناسته او خوشحالونکے تاسے

لره پس دغه ټول کارونه موجه کړی دی تَبْصِرَةً دپاره د زیرکتیا یعنی د پاره د نظر د عبرت کولو او دلیل په قدرت خُمونږه وَ ذِكْرٰى او د پاره د پند اخستلو لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ⑧ د پاره د هرهغه بنده چه گرځید ونکی وی طاعت خُمونږ ته وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ اوښکته راليږلی مودی له طرفه د اسمانه مَآءً مُّبٰرَكًا اوبه د پیرے خیرے او د پیرے برکتی او د پیرے نفعے فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ پس زمونږ موکره په دغه او بو سره باغونه چه قسم قسم رنګا رنګ ونے او میوے پکښ وی وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ⑨ او همدا رنګه دانے یعنی کښت چه ریبلے او پریکولے شی په وخت درسید لو کښ لکه غنم او اوربشے او شولے او جوار او موسر او باګړی او مڼی او جنرے او غوخت او مټر او لوبیا. همدا رنګ نور د پیرزګونه خیزونه وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ اوزمونږ کړے مودی په دغه او بو سره ونے د خرما او کهجورے لوړے لوړے اوچا ویلی دی چه بلاربے یعنی بار دارے اوحمل دارے لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ⑩ چه وی دغه خرما ؤ لره شخولی اووګی لاندے باندے د پیر او دغه ټولے دانے او میوے موپیدا کړی دی رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ د پاره د روزی د بندګانو وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا او ژوندۍ کړے مودہ په دغه او بو سره زمکه مړه یعنی وچه شوے كَذٰلِكَ هم دارنګ په مثل د ژوندۍ کولو د ے زمکے پس له وچیدلو الْخُرُوْجُ ⑪ را وتل ستاسے دی له قبرونو یعنی ژوندی کیدل موپه قیامت د پاره د حساب اوس د پاره د تسلی ورکولو رسول خپل لره الله تعالیٰ فرمائی چه تهٔ مهٔ خفه کیږه په تکذیب د دے قوم خپل حُکه چه كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ نسبت د دروغو کړے وو پخواله د ے اهلِ مکه قَوْمُ نُوْحٍ ټولے او امت د نوح ؑ چه بنی شیث او بنی قابیل وو پیغمبر خپل ته وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ اویارانو دکوهی بمامے یاد معطلے یاد جبل فتح هغه پیغمبر خپل ته چه نوم ئے حنظل ؑ وو ۔ وَثَمُوْدُ ⑫ او ثمود یانو پیغمبر خپل ته چه صالح وو وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ او عاد یانو هود ؑ او فرعون او قوم ئے موسیٰ ؑ ته وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ⑬ او وروڼه یعنی قوم د لوط ؑ پیغمبر خپل ته وَاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ او یارانو دهغه ځُنګل شعیب ؑ ته وَقَوْمُ تُبَّعٍ او قوم د تُبَّع

نامی بادشاه ته په یمن بتارکښی چه په اسلام مشرف شوے وو او بیا قوم خپل ے اسلام ته بللے وو وَكُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ دغه ټولو تیرو شویو چه ونسبت د دروغو ے کړے وو پیغمبرانو خپلوته په مثل د دے اهلِ مکه وَفَحَقَّ وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ پس لائق اوواجب شۀ په هغوی ټولونا زلیدلۀ عذاب خُما نو د ڈهم مۀ خفه کیږه اے محمدؐ کۀ چرے داقریش منع نۀ شول اوهم دغسے کوی نو دوی به هم هلاك کړم دهغوی په شان اَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ؕ ایا پس څۀ ستومانه شوی او زهیر شوی اوعاجزه شوی وو مونږه په اول پیدا کولو سره چه کنړی بیا ے ژوندی نۀ کړو فائده دغه استفهام انکاری دے یعنی مونږه نۀ یو ستومانه شوی په اول پیدا کولو سره پس هم دارنګه کران او سخت نۀ دی بیا پیدا کول دۀ خلقو په مونږه بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۵﴾ بلکه دی دغه کافران د مکے په شک اوشبه کښی له بیا پیدا کولو وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ اوهم انسانه په تحقیق پیدا کړے دے مونږه جنس بنی آدم وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۚ اوحال داچه مونږه پوهیږو په هغه چه وسوسه اچوی ورته پرے نفس د دۀ له فکرونو عبثو اونا کارو وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ او مونږه نزدے یو دۀ ته له رګه دسانه ے ف دغه نزدے والے هم بنده نه په علم اوقدرت سره دے نۀ په مکان اومسافت سره اِذْ يَتَلَقَّى یادکه هغه چه جمع کوی اولیږی اوله ځانه سره بیا اخلی خبرے اوکارونه بندګانو الْمُتَلَقِّيٰنِ هغه دوه ملائکه مسلط او یادونکے اوجمع کونکے اولیکونکے دعملونو د سرے عَنِ الْيَمِيْنِ چه ناسته وی یو بنی طرف دسرې ته د پاره دلیکلو دنیکیۀ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ اوبله په چپ طرف دسرې ناسته وی د پاره دلیکلو بدئ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ نه کوی سړے لږکوم خبرے اوله کاره اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ مګر چه وی له دۀ څخه ملائک ساتونکی او یادونکی دعملونو د دۀ او تیاره حاضره وی نه چه هرګز ترے نه جدا کیږی اوهر چه دے وائی اوکوی ے نو فی الحال ے لیکی روایت دے له رسول الله صلے الله علیه وسلم نه چه هر بنده سره دوه دوه ملائک مقرر دی د پاره دلیکلو دعمل د دۀ که نیکی وی یا بدی پس هغه چه نیکی لیکی مقرر دے په بنی طرف دسړی اوهغه چه بدی لیکی مقرر دے په چپ طرف دسړی او دغه لیکونکی دنیکیو امیر او بادشاه دے

په هغه لیکونکی د بد یو پس هر کلمه چه سړے یوه نیکی وکړی نو هغه ملائک دښی طرف ئے فی الحال ولیکی یو په لس بلکه زیات هم اوچه یو بدی وکړی نو هم دغه ملائک دنیکئ لیکلو هغه بل ته وائی چه تهٔ صبر وکړه او بدی ئے مهٔ لیکه اوه ساعته بنا ئیږی چه دا سړے توبه وباسی اوبخښی الله به وائی لکه په تفسیر معالم التنزیل کښی دا بیان دے. وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ او راغله بے خودی د مړئ په ریښتیا سره نو پس په دغه وخت کښی ویلے به شی مړ شو ید وکی ته چه ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿۱۹﴾ دا مړئ اوسختی ستا هغه ده چه وے ته به ترے تختید لے او ویریدلے ټول له دے وخت وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ط او پوکلے به شی په شپیلی د اسرافیل ؑ کښی د پاره د ژوندی کیدلو او پورته کیدلو د مخلوق له قبرونو په اذن د خدائی تعالیٰ سره پس دا به هغه دویم پوکل وی اوبیا وائی به ورته ملائک چه ذٰلِكَ د اورئ د پوکلو په شپیلئ کښی يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿۲۰﴾ هغه ورځ د ویرولو د کافرانو ده په عذاب سره وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ او راځی به هر نفس دار مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿۲۱﴾ چه وی به ورسره یو ملک شرونکے دهٔ لره محشر ته او بل ملائک شاهد په عملونو د دهٔ یعنی دوه دوه ملائک به له هرچا سره وی او الله تعالیٰ به ورته وائی چه لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا هم ا ئینه په تحقیق وے تهٔ په دنیا کښی په ناخبرئ او ناپوهئ کښی له دے ورځے یعنی په دنیا کښی بالکل د هیره کړے اوشانته غوږ ګولے وه اوله ناروا د پرهیز نهٔ کولو فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ پس بیرته موکړه ستا له ستر ګو هغه پرده فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿۲۲﴾ پس سترګے ستانن ورځ د پیرے تیرے دی په نظر کولو او لیدلو کښی چه هر څهٔ له نیکئ اوبدئ خپله به وینی وَقَالَ قَرِيْنُهٗ اوواٸی به هغه ملګرے او رفیق ددهٔ یعنی هغه ملائک چه مسلط او مقرر وو په دهٔ په دنیا کښی دا سے چه هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿۲۳﴾ دا دی هغه چه ما ټنګ دی له دفتره دعملونو دهٔ حاضر او تیار پس بیا امر به وکړی الله تعالیٰ پس لهٔ هغو دوه د ملائکو ته چه سائق او شاهد دی دا سے چه اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ واچوئ اوګذار کړئ تلا سے دوارہ په دوزخ کښی كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۲۴﴾ هر هغه کافر نا شکره او عناد کونکی له حق سره مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ چه بندو نکے وی نیکئ لره یعنی منع کونکی د زکوٰة د مال خپل وی او یا منع کونکی وی

دوړ ۵ یا دځوئ خپل له خیرات کولو مُعْتَدٍ مُّرِيْبِ ﴿۲۵﴾ دهر هغه تیریدونکی له حدونو د خدائی اوشک کونکی په وحدانیت دخدائ تعالی او په رسالت د رسول کښ الَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ هغه چه کرځولے ئے دے له خدائ سره معبود بل سوا له دهٔ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿۲۶﴾ پس گذار کړئ او واچوئ تاسے دواړه دغه رنګ سړے په عذاب سخت هميشه کښ او بیا چه دوزخ کښ ئے اچوی نو وائی به هغه کافر چه ځما څه گناه ده زهٔ خو شیطان گمراه کړے یم چه د هغه په خوله م دا کارونه کول پس نو شیطان به فی الحال هم په هغه ساعت حاضر کړے شی چه تپوس وکړے شی نو منکر به شی شیطان لکه چه وائی قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وائی به هغه منکرے ددهٔ یعنی شیطان چه اے ربه ځمونږه نهٔ وو بے لارے کړے ما دے په زور سره وَّلٰكِنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۲۷﴾ مګر وو دے په خپل په دنیا کښ په گمراهئ لرے کښ له لارے سے نو ما به غوښتو گمراهئ سرکشئ ته پس دا به متابعت ځما کولو بیا به هغه کافر وائی چه اے ربه د اشیطان دروغ وائی زهٔ هم دهٔ گمراه کړے یم بیا نو قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وبه وائی ورته اللّٰه تعالی چه جګړه مهٔ کوئ د لته کښ ما څخه هیڅ فائده نهٔ کوی ځکه چه وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ بِالْوَعِيْدِ ﴿۲۸﴾ او په تحقیق وړاندے د لیږلے وو ما تاسے ته دنیا کښ ویرول له عذابه د دے ورځے که مؤمنان نهٔ شوئ په ژبه د رسولانو خپلو او اوس هیڅ حجت او دلیل ستاسے پلتے شوے نهٔ دے او هیڅ قدرے عذر ستاسے او ریدلے نه شی ځکه چه مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ نهٔ شی بدلیدلے خبره ما څخه په دغه باب کښ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۲۹﴾ او نهٔ یم زهٔ تیرے کونکے په بندګانو نو چه بے گناه به عذاب وکړم څوك يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ یاده که هغه ورځ چه وبه وایو مونږه قیامت کښ دوزخ ته دا رنګ چه هَلِ امْتَلَاْتِ ایا ډک او مور شوے ته ئه له خلقو ځکه چه وعده د دګوالی ستام کړے ده وَّتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿۳۰﴾ او وبه وائی دغه دوزخ په طریقه د سوال چه ایا نور څه تیرے هم شته دے یعنی زهٔ لا نهٔ مو ړ شوے نهٔ یم ځکه چه حدیث کښی په تفسیر معالم التنزیل کښی راغلی دی چه دوزخ به هم دغه شان اوازونه او سوالونه د هَل من مزید کوی بیا به

خلق پکښ واچوله شی پس بیا به دغه رنګ اواز ونه او سوالونه کوی بیا به نور خلق پکښ واچوله شی اودے بیا به اواز ونه کوی حق چه رب العزت به قدم مبارک خپل کیږدی پکښ پس بیا به یوځای شی دوزخ بعضے له بعضے نور وسره او فریاد به وکه چه اے خدایه بس دے ښهٔ مور شوم اوچا ویلی دی چه دغه قول دهل من مزید اګرکهٔ استفهام دسوال دے په ظاهره لیکن دا استفهام انکاری دے په معنیٰ نو حاصل ئے داشو چه وائی به دوزخ چه ایا شته په ماکښ څه کوم ځائ تیرے او زیاتی یعنی ښهٔ ډک شوم نو ځائی راکښی نشته وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ اونزدے به کړے شی جنت لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿۳۱﴾ پرهیزګارانو ته چه نهٔ به وی لرے له دوئ فائده دغه نزدے کول اوبنودل دجنت دوئ ته پخواله داخلیدو د دوئ به وی پکښی محض دپاره دخوشحالئ د دوئ پس وائی به دوئ خدائ تعالیٰ ته چه هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ داچه ئے په ستړکو وینئ هغه جنت دے چه وعده کولے شوی وی تاسے په دنیا کښی پرے په ثبه د رسولانو لِكُلِّ اَوَّابٍ دپاره دهر هغه ګرځیدونکی له کفره ایمان ته اوله باطله حق ته اوله بدئ نیکئ ته اوله خلقو حق ته حَفِيْظٍ ﴿۳۲﴾ چه ساتونکے اورعایت کونکے وئ حدونو د خدائ تعالیٰ لره له رواو او ناروڅخه یا ساتونکے نفس خپل لره له ګناه نه مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ دپاره دهر هغه چاچه ویریږی له خدایه په ترک د ناروا وسره په ناپیدلو وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبِ ﴿۳۳﴾ او راوړے ئے وی یا راخلے وی په خپله قیامت کښی په زړه ګرځیدونکی سره حق ته پس نو دارنګ سړی وته چه دغه شان کارونه ئے کړی وی ویلے به شی ورته له خدایه چه اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ننوځئ جنت ته بے غمئ او امن سره له هرڅه ویرے یا په سلام ویلو په تاسے له جانبه د خدائ اوله ملائکو ذٰلِكَ داورځ د داخلیدو وَيَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿۳۴﴾ هغه ورځ دهمیشه اوسیدلو اوپاتے کیدلو ده په جنت کښی چه مرګ بیا نهٔ شته لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا شته مؤ منانو جنتیانو لره هغه نعمتونه اولذتونه چه ئے غواړی اوورته ئے اراده کیږی په جنت کښی وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿۳۵﴾ اومونږ د څخه تیرے والے هم شته دے له عملونو اوغوښتلو د دوئ

یعنی چه دوئ ښځه ځملونه کړی دی یا ئے دوئ غواړی پس هغه به هم ورکړم ف په حدیث کښ دی چه انهم یسئلون الله تعالیٰ حتی ینتهی مسئلتهم فیعطون ما شاء واشد یزیدهم الله من عنده مالم یسئلونه قال انس رض وجابر رض هو النظر الی وجهه الکریم وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ اوډیر عالم هلاك کړی دی مونږه پخوا له کفارو د قریشو مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا له امتونو چه هغوئ سخت اومحکم وو له دے کفارو د قریشو له جهته د دوته فَنَقَّبُوْا فِی الْبِلَادِ وطپس تللی او گرځیدلی وو هغوئ په زمکه کښ د پاره د سود اګرځئ یا نور و مطلبونو خپلو هَلْ مِنْ مَّحِیْصٍ ﴿۳۶﴾ او بیا څهٔ وو د دوئ لره یا ئے بیا مونده ځان خپل لره یوځائے د پناه د تښتے یا د خلاصی له عذابه اومرګ د خدائ ف دا استفهام انکاری دے یعنی نهٔ به وو د دوئ لره ځائ د پناه اود خلاصی یعنی هرکله چه ورلره مرګ راشے نو بیا نهٔ شول اوخلاص نهٔ شول له مونږه اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى بیشکه چه په دغه خبر تیرو نیرو شیو په دے سورت کښ هر اُئینه پند اخستل دی لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ د پاره د هغه چا چه وی ده لره زړهٔ د پوهید لو او د فکر کولو په حق کښ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ یا کیږد ی غوږونه خپل وعظ او قرآن ته وَهُوَ شَهِیْدٌ ﴿۳۷﴾ او حال د اچه دے حاضر وی په زړګ خپل سره په وخت د وعظ کیدلو کښ او غافل نږے نهٔ وی روایت دے چه یوه ورځ تبوس او پونښته وکړه یهودیانو له حضرت محمد صلے الله علیه وسلم دبیان او تفصیل د هغه چه پیدا کړی دی خدای تعالیٰ په دے شپږو ورځو کښ. نو حضرت رض د دوئ تر وویل په جواب کښ چه پیدا کړے ده خدای تعالیٰ په قدرت خپل سره زمکه په ورځ د اتوارا و دپیر کښ او پیدا کړی ئے دی غرونه په ورځ دنهے کښ او بنارونه او ولے اور زقونه د مخلوق په ورځ د چارشنبے کښ او اسمانونه او ملائک په ورځ د زیارت او د جمع تر دے ساعتونو پورے او بیا په بل ساعت کښ هم د دغه ورځے د جمع کښ ئے پیدا او مقرر کړه اجلونه او ښیټے د مرګ د مخلوق

ع بدرګیر جنیان میوا ہند از ضعفها تا کہ تمام جواہد شد سوال ایشان پس داده شود آنچه خواہند پس زیاده خواہد داد خدا از نزد خود آنچه خواہد باشد و در خاطر ایشان باشد گفت جابر و انس کہ از زیادتی دیدار پروردگار خواہد بود ۱۲ د اجنیانو به غواړی له خدایه نعمتونه قسما قسم تر هغو پورے چه خلاص به شی سوالونه د دوئ پس د ربه کړے شی هغه چه د دوئ غوښتی وی بیا به تیرے د وکړی د دوئ لره خدائ له نږدے خپله هغه چه نه وی غوښتی د دوئ دیل دی انس رض او جابر رض چه هغه د یدار د خدائ دے ۱۲

او بل ساعت هم دغه ورځے کښ ئے اٰدم علیه السلام پیدا کړو بیا یهود و ورته وویل چه رښتیا دی که ورپسے نو رهم رښتیا و وایئ نو رسول ؑ وویل چه نو رځهٔ رښتیا و وایئم پس هغوئ وویل چه بیا خدائ تعالیٰ په ورځے دخالی کښ کیناست په عرش مجید باندے دیاړه دستومانئ ویستلو نو الله تعالیٰ دیاړه درد قول دهغوئ نازل کړو چه وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ اوهرا ئینه په تحقیق پیدا کړی دی مونږه اسمانونه او زمکه اوهغه عالم چه په مینځ دده دواړو کښ دے په مقدار د شپږو ورځو کښ له ورځے داتواره تر ورځے دخالی پورے وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿۳۸﴾ اونه دے رسیدلے مونږ ته په دغه پیدا کولو کښ هیڅ مشقت اوستومانی **روایت** چه رسول علیه السلام په دغه خبره دد وئ یعنی دنا ستے دخدائ تعالیٰ په عرش په طریقے دستومانئ سره دیرخفه او په غضب شو حتیٰ چه ځ مبارک ئے سور شه له دیره غضبه پس بیا نازل شهٔ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ پس صبر کوه ته اے رسول علیه السلام او مهٔ خفه کیږه په هغه چه وائی ئے یهودیان یا په جنس خبرو او ضرر ونو د مشرکانو **نوف** دغه حکم پخوا له امره په جهاد وو بیا منسوخ شوے دے په اٰیت د سیف سره وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ او پاکی وایه یعنی مونځ کوه په دے حال چه ویونکے د ثنائ خدائ خپل لره قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ پخوا له راختلو اوظاهر یدلو له نمره چه مونځ د صبادے وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ او پخوا له د ویدلو ئے چه دوه مونځونه دما سپښین او نماز دیګر دی وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ او بعضے له شپے نه پس ته مونځ کوه خدائ لره چه دوه مونځونه د ماښام او دخفتن دی وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ او مونځ کوه نفل پس له سجدو د فرضو او چا ویلی دی چه مراد له دے وروستی وتر پس له نماز خفتن دی او چا ویلی دی چه مراد ترے سُبحان الله والحمدلله ویل پس له هر مانځ په طریق د سنت سره وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ او واورهٔ هغه ورځ چه اواز کاندے اواز کونکے له ځائ نزدے نه. معنےٰ داده چه غوږ کیږده اے محمد صلے الله علیه وسلم اواز د قیامت او د پورته کیدونه په هغه ورځ چه اواز اوکړی اواز کونکے **روایت کوی** معالم له مقاتل نه چه اواز کونکے اسرافیل ؑ دے اواز به وکړی چه اے هډوکو زړو رڑیدلو او اے بندونو

جدا کړو شویو او اے غونښتو تار په تار کړے شویو او وینښتو خورو کړے شویو به تحقیق الله تعالیٰ وائی او حکم کوی تاسے ته چه یو څائی شئ تاسے دپاره د حکم او د فیصلے کولو په میځ کښ ستاسے څخه څائی نزدے کا نړی د بیت المقدس ته او هغه میځ د زمکے دے او هغه زمکه نزدے ده آسمان ته اتلس میله له نورے زمکے نه يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ؕ هغه ورځ چه واورى دوئ آواز به حق سره چه حق ظاهر شى او دغه شپیلئ دویمه او پوکے وروستے دے ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ هغه ورځ دوتلوده چه راووبه وئ له قبرونو نه دپاره د حساب اِنَّا نَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ په تحقیق مونږه ژوندى کول او مړه کول کووچه پوره شى اجلونه وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿۴۳﴾ او خاص مونږ ته دى راګرځیدل نو راجمع به شئ مونږ ته په آخرت کښ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ؕ هغه ورځ چه څیرے به شى زمکه له دوئ نه نو راوبه وزى دوئ په چا بکئ سره ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿۴۴﴾ هغه جمع کول په مونږه باندے اسان دى نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ مونږه ډیر عالمان یُو په هغه څهٔ چه دوئ وائی نو جزا به ورکړو برابره د ویلو دوئ وَمَا اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ تاسے اونه ئے ته په دوئ باندے زور کونکے چه مسلمان کړے دوئ په زور باندے بلکه ته خو لیږلے شوے ئے نصیحت کونکے نو وعظ وکړه ته او وکوره څا حکم ته فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿۴۵﴾ نو وعظ وکړه او یروه په قرآن سره هغه څوك چه ویریږى له وعید مے له ویرے څانه اوله عذابو لو څانه نو هغوئ ته به نفع وکا خلاف له هغه چا نه چه بد بخت ازلى وى معالم روایت کړے دے له ابن عباس رضی الله عنه چه وویل دوئ یارانو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم یا رسول الله که ته او ویروے مونږه نو نازل شهٔ فذكر بالقرآن من يخاف وعيد ط

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ ۵۱ ۲۷ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۶۰ رُكُوْعُهَا ۳

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿۱﴾ قسم خورم په بادونو الوزونکو الوزول چه الوزى خاورے یا هغه شے چه اراده وى د الله د الوزولو د هغه فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿۲﴾ پس قسم خورم په هغه وریځو پورته کونکو د بادونو هغه وریځ چه پورته کوى بار له اوبو نه فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ﴿۳﴾ پس قسم خورم

په هغه بیړیواوجهاز ونو تلونکیو سره چه ځمکې په اسانۍ سره فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ﴿۴﴾ پس قسم خورم په هغه ملائکو ویشونکیو د کارچه ویشی کارونه په میخۍ د خلقو کښی په هغه شان سره چه حکم کړے شوے وی دوئی ته او ویلے شوی دی چه هغه ویشونکی څلورد ی یو جبریل۴ دے چه وحی رسوی پیغمبرانو ته پوره او صاحب د سختۍ دے او بل میکائیل۴ دے چه صاحب د رزق او رحمت دے له طرفه د الله۔ او بل اسرافیل۴ دے صاحب د شپیلۍ او د لوح محفوظ دے او بل عزرائیل۴ دے صاحب د قبض کولو د ارواحو۔ نو قسم وخوړ خدائ تعالیٰ په دے څیزونو باندے له دے سببه چه له دوئی نه معلومیږی لوی لوی کارونه د الله نو اوس ذکر کوی دهغه شی چه الله قسم خوری په هغه نو وائی اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ﴿۵﴾ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴿۶﴾ خبره هم داده چه هغه چه وعده کړے شوے ده له تاسے سره خامخا هغه رښتیاده او په تحقیق سره حساب او بدله دیکو کارونو اوبد و په تحقیق واقع کیدونکے او راتلونکے ده نو اے خلقو څان ورته تیار کړئ او الله پاک بل قسم خورلے دے او ویلی ئے دی۔ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿۷﴾ او قسم خورم په اسمان چه صاحب د پیدا وخت بنائسته دے چه محکمه کړے شوے ده بنا د هغۀ اویا معنے دا چه صاحب دے د لاور۔ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿۸﴾ په تحقیق سره تاسے په یوه خبره مختلف کښ ئ۔ نو بعضے والی چه دا قرآن سحر دے او فال بینی ده او قصے د وړ د منو خلقو دی او وائی په حق د محمد صلی الله علیه وسلم کښ چه ساحر او شاعر او لیونے دے يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ﴿۹﴾ کړ ځولے شی له ده نه هغه څوک چه کړ ځولے شوے دے معنیٰ د ادہ چه هغه څوک چه معلوم وو الله تعالیٰ ته چه د وئی ایمان نه راوړی په محمد صلے الله علیه وسلم نو وکړ ځولے شوله دۀ نه او ایمان ئے رانه وړ په دۀ او په قران قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿۱۰﴾ لعنت کړے شوے دے او هلاک کړی شوی دی دروغ کونکی پیغمبرلره او د وئی هغه ویشونکی دی چه ویشلے ئے وے لارے د مکے او خبرے د حق د رسول الله۴ کښ چه کړ ځوی خلق له دین او د اسلام نه او ویلی دی مجاهد رح چه د وئی کاهنان دی الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿۱۱﴾ هغه چه د وئی په خبرے خپلے کښ اوپه ړوندوالی او په ناپوهۍ کښ عبث کونکی دی او بے خبره

دی له کاره د آخرت نه یَسْئَلُوْنَ اَیَّانَ یَوْمُ الدِّیْنِ ﴿۱۲﴾ سوال کوی دوئ چه کله به وی ورځ د جزا نو وائی تاته اے محمد صلے اللّٰه علیه و سلم د پاره د دروغ کولو او د خندا لوچه کله به وی وِرځُ د جزا چه بولی خدائ ستا ورځ د قیامت یَوْمَ هُمْ عَلَی النَّارِ یُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ کیږی ده دجزا په هغه ورځ د دی دوئ کښی چه دوئ په اور باندے عذابوئ شی او سوے شی ذُوْقُوْا فِتْنَتَکُمْ وُخکی تاسے عذاب خپل دا به وریته ووائی هغه خدمتکاران د دوزخ هٰذَا الَّذِیْ کُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ دا هغه عذاب دے چه دوئ تاسے چه به جلتی سره غوښتو تاسے په دنیا کښی په دے قول سره چه فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا. یعنی راوړه مونږ ته هغه چه ته مونږ سره چه عذاب دے پس له حاله دکافرانو ذکر کړے دے خدائ پاک حال د مؤمنانو او ویلی ئے دی اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ فِیْ جَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِیْنَ مَآ اٰتٰهُمْ رَبُّهُمْ ؕ په تحقیق پرهیزکاران او خان ساتونکی له بدو عقیدو او له بدو خویونو اوله مخالفت کولو له قرآن او له حدیث نه په لویو لویو باغونو کښی او په ولوکښی به وی اخستونکی به وی د هغو نعمتونو چه ورکړی دی دوئ لره رب د دوئ او پالونکی د دوئ چه هغه هسے خیر او بزرگی او نعمتونه دی چه نه د چا غوږ ونو اوریدلی دی او نه د چا سترګو لیدلی دی او نه د چا په زړه نوکښی تیر شویدی او دا مرتبه دوئ لره له دے سببه ده. اِنَّهُمْ کَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِیْنَ ﴿۱۶﴾ په تحقیق سره دوه دوئ چوا له دے نه نیکی کونکی په دنیا کښی چوا له نو تلو له جنته کَانُوْا قَلِیْلًا مِّنَ الَّیْلِ مَا یَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وو دوئ چه په لږه د شپے نه اوده کیدل دوئ معالم کښی روایت دے له سعید بن جبیرؓ نه هغه له ابن عباسؓ نه چه معنیٰ ئے دا ده چه وو دوئ چه لږه شپه تیریده په دوئ باندے چه دوئ به مونځ کولو به هغ کښی یا په اول کښی یا په آخر کښی بلکه د پرته لږه شپه به ئے هسے پریښوله. وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ یَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ او په وخت د سحر نوکښی به دوی بخښنه غوښته دګناهونو خپله له ربه خپله ویلی دی حسنؓ نه چه نه اوده کیدل دوئ په شپه کښی مګر لږ او چه پرځُلے به خوشحال شو دوئ په مزو د عبادت خپل سره نو لږ یا تول به ئے وکړه د عبادت تر سحره پورے نو شروع به ئے وکړه په وخت د سحر کښی په بخښنه غوښتلو کښی معالم کښی روایت دے له سهل خُوی د ابی صالح ؒ نه

چه هغه روایت کوی له پلاره خپله او پلارئ له ابی هریره رض نه چه په تحقیق رسول الله صلے الله علیه وسلم ویلی دی چه راکو زیږی الله تعالیٰ دے اسمان نږدے ته هره شپه چه باقی وی دریمه برخه شپه. نو وائی چه زهٔ بادشاه یم څوك دے هغه چه و بلی ما نوزه به قبلول وکړم هغه څوك دے هغه چه سوال وکړی له ما نه نوزهٔ به ورکړم هغه لږه څوك دے هغه چه طلب د بخښنے وکړی له ما نه نوزهٔ به بخښنه وکړم هغهٔ ته وَفِیْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ (۱۹) او په مالونو د دوئ کښ حق وی او حصه وی د پاره د سوال کونکی او د هغه چا چه منع کړے شوی وی معنیٰ د منع کړے شوی دا ده چه دے ځان سائی له سواله نو منع کړے له ورکولو د خلقونه وَفِی الْاَرْضِ اٰیٰتٌ لِّلْمُوْقِنِیْنَ (۲۰) او په زمکه کښ نښانے دی اوعلاے اوعبرتونه دی د پاره د یقین کونکیو نو هغه وخت چه لاړے دوئ په دے زمکه کښ نو وویني په هغے کښ غرونه او دریاوونه او ونے او میوے او قسم قسم کیاهونه اوکلونه وَفِیْٓ اَنْفُسِكُمْ ؕ او په نفسونو ستاسے کښ نښے دی څکه چه وو مَنِیٓ بیا پاڑچه شوه د وینے بیا شوه لکه جوړیلے شوے غوښه پس شوه هډوکی ترهغه پورے چه پکښ پوکړے شهٔ روح اونو بستلے شوه پکښ سا نو په دے کښ لویه علامه او عبرت دے کهٔ څوك لږ عقل لری اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ (۲۱) ایا پس نهٔ گورئ تاسے چه و وینی تاسے چه څرنګه پیدا کړئ الله تاسے نو به پوهه شئ تاسے په قدرت د هغه په پورته کولو کښ له قبرونو د پاره د حساب وَفِی السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ (۲۲) او په اسمان کښ دے د رزق اور وزی ستاسے او هغه چه تاسے سره وعده کړے شوے ده چه ثواب دے اوعذاب دے او نیکی او بدی د اوجنت او دوزخ دے فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ (۲۳) پس سوګند خوړم په پالونکی او مالک د اسمان او د زمکے چه په تحقیق دا رزق ثابت دے مثل د هغه شے چه تاسے وایئ چه هغه څهٔ دی چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دے نو په دے کښ خو هیڅ شک نشته نو دا رزق به هغه رزق کښ چه الله مقرر کړے دے هیڅ شک نشته هَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ ضَیْفِ اِبْرٰهِیْمَ الْمُكْرَمِیْنَ (۲۴) ایا راغلے دے تا لره خبره د میلمنو د ابراهیم علیه السلام چه لوی کړے شوی وو او بزرګی ورکړے شوے وه سوال وکړهٔ الله تعالیٰ له پیغمبر نه د پاره د لوی والی دے د قصے

او دپارہ دخبرو کولو چہ دا پیغمبر خبر نۀ وو لیکن ماخبر کړو نو دا معجزہ دہ ددۀ د پیغمبرئ اوکہ دا نۀ وی نو دخدائ ځۀ حاجت وو د سوال کولو روایت دے چہ وو دا میلمانہ دولس تنہ اوچا ویلی دی چہ دا نهه کسان وو لسم ئے جبرائیل ؑ وو دوئ خو میلمانہ نۀ وو خو میلمانہ ئے وہ تہ وویل چہ دوئ په صورت د میلمنو و او بزرگی ورکړے شوے وہ دوئ لرہ چہ دوئ د خدائ نیک بندگان وو اوله دے وجه چه دلوئ سړی میلمانہ نۀ وو چه ابراهیم ؑ وو هغه او بی بی ددۀ خدمت دهغوئ او میلمانه ئے تیار کړہ په جلتی سره اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ هغه وخت چه راننوتل په ددۀ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ پس وویل هغوئ چه سلام کوو مونږه په تا باندے سلام کول قَالَ سَلٰمٌ ۚ وویل ددۀ چه په تاسے باندے د سلام وی قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ ځوے ئ نا اشنا راته وښایئ چه تاسے څوک یئ فَرَاغَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ پس لاړ دے عیال خپل ته په پټه له میلمنونه چه جلتی وکۀ په میلمستیا تیار ولو کښی او خبرئ نۀ کړۀ میلمانہ ؑ دپارہ ددۓ چه دی منع نۀ کړی له میلمستیا نه او د پارہ ددے چه دا ادب شی دپارہ د میلمنو او عزت شی په حدیث کښی پیغمبر علیه السلام ویلی دی کۀ چا ایمان راوړے وی په الله او په رسول دهغه او په ورځ د قیامت نو عزت د وکړی د میلمه فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ ﴿۲۶﴾ پس راوړہ ددۀ یو څسے څوروب فَقَرَّبَهٗٓ اِلَيْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ پس نزدے کړۀ ددۀ هغه دوئ ته دپارہ دذے چه وخوړی دوئ له هغه نه نو هغوئ ونۀ خوړ ددۀ ایا نه خوړئ تاسے بد وګنړل ددۀ له دوئ نه نۀ خوړل اوتیز ئے کړل په خوړلو باندے فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيْفَةً ؕ پس پټه کړہ ددۀ په زړۀ کښی ویره له دوئ نه چه په تحقیق هغه څوک چه نه خوری طعام ستا وبه نه شی له هغه نه امان ستا روایت دے له ابن عباس رضی الله عنه چه واقع شوه په زړۀ ددۀ کښی چه په تحقیق دا ملائکے دی چه لیږلے شوی دی دپارہ دعذاب نوځکه وویریدۀ دے قَالُوْا لَا تَخَفْ ؕ وویل دوئ مۀ ویریږہ نۀ مونږه رسولان دالله تعالیٰ یو او ویلی شوی دی چه مسح کړۀ جبریل هغه سنے پس پاسید ہ او یوځائ شو له مورۀ سره وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾ او خوشخبری وکړہ دوئ ددۀ ته په هلک لوئ عالم سره چه دابه لوئ شی او علم به زده کړی او دازیرے په نزد داکثرو علماؤ د اسحٰق علیه السلام وو

فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِیْ صَرَّةٍ پس مخ کړۀ بی بی دده په آواز سره فَصَكَّتْ وَجْهَهَا نو په څپیړه ئے وهلوخ خپل ولے چه داعادت دښځود ے چه نا اشنا خبره وواری نوخ ووهی وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِیْمٌ ﴿۲۹﴾ اووے ویل چه زۀ زړه یم شنډه نوخرنګه به زیګول وکړم زه لکه چه ئے ویلی دی په بل ځائ کښ ءالدوانا عجوز وهذا بعلی شیخا ایا زیګول به وکړم زۀ اوزۀ زړه یمه او داخښتن دے ځما زوړ قَالُوْا كَذٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ووویل دوئ په منزل دده خبره لوئ ویلی دی مالک ستا اوپالونکی ستا مونږه خو خبره هغه نهٔ کووچه له ځانه درته وایو اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِیْمُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۰﴾ په تحقیق سره هم هغه دے محکم کونکے دکار ونو اوحکم کونکے په انصاف اوډیر پوهیدونکے دے له هرچا نه نوخبره دهغهٔ حقه ده اوکار دهغه محکم دے حکایت دے په ابوسعود کښ چه جبریل علیه السلام وویے ته چه وګورده دے چهت دکور ستاوته نوهغے وکاته نو ناکاه لاهڑلی دهغے اوبرکے دهغے پانړے اومیوے پکښ شوے وے قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَیُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾ ووویل ابراهیم علیه السلام څهٔ دے حال ستاسے اودځهٔ د دپاره لیږلے شوی یئ تاسے یے له خوشخبرئ نه بل څهٔ کار دے اے لیږلے شویو له طرف دالله نه. قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِیْنَ ﴿۳۲﴾ په تحقیق لیږلے شوی یو مونږه هغه قوم کنهکارانه لِنُرْسِلَ عَلَیْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِیْنٍ ﴿۳۳﴾ چه پریږدو او ولیږو مونږه په هغوئ باندے کانړی له خټو نه مقصود هغه کانړی ووچه پاخه شوی وو له خټو نه لکه چه پخیږی خښتے نوشوی وودارنګے لکه کانړی مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِیْنَ ﴿۳۴﴾ نښانه دارکړے شوی. لیکلے شوے ووپه هریو باندے نوم دهغه چا چه په هغے سره هلاکولے شۀ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِیْنَ ﴿۳۴﴾ په نزد دربستاد پاره د زیاتی کونکیواو له حده نه تیریدونکو خدای ورته مصرفان ووویل لکه چه عادین ئے ورته ووویل ځکه چه دوئ تیرشوله حده نه اوزیاتوالے ئے وکړۀ په کارونو خپلو کښی ولے چه دوئ صبر ونه کړو په هغه څیز چه رواکړے شوے وو دپاره د دوئ معنی دعادین له حده نه تیریدونکی اودوئ هم له حده نه تیرشوی نوځکه الله تعالیٰ درته عادین ووویل فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِیْهَا پس وځکل مونږه هغه څوک چه وو په دے کلیو دلوط علیه السلام کښ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۵﴾ له ایمان

راوړونکو نه په الله او په لوط علیه السلام باندے فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا پس نه بیانۀ موندہ موږه په دے کلیو د لوط علیه السلام کښ غَيْرَ بَيْتٍ بے دیو کوره مِنَ الْمُسْلِمِينَ (۳۶) له مسلمانانو او وے ویل ورته مؤمنان او مسلمانان دواړه ولے چه په تحقیق سره نه وی مؤمن مګر هغه څوك چه مسلم وی مؤمن وائی منونکی د ټولو حکمونو د خدائ لره او مسلم وائی غاړه ایښودونکی ټولو حکمونو د خدائ نو مؤمن په شرع د پیغمبر ﷺ کښ هله شی چه ومنی ټول حکمونه د خدائ او غاړه ورته کیږی ولے چه درمیان د دے دواړو کښ جمع ضروری ده په دے معنیٰ سره چه ایمان بے له اسلامه نه وی اګرچه اسلام ظاهر کړی د ایښودل دی هغه کله په منافقانو کښ هم راځی۔ او ویلو شوی دی چه لوط ۴ او د هغۀ دکور خلق چه خلاص شوی وو د یارته وو او ویلی شوی دی چه هغه خلا شوی لوط ۴ او دوه لونړه ددۀ وے کذا فی تفسیر سراج المنیر وَتَرَكْنَا فِيهَا اوموږه پریښود په دے کلو د لوط ۴ کښ اٰيَةً یوه نښه لویه چه هغه کانړی وو چه هغوی پرے ویستلے شوی وو یا اوبه وے بد بویه چه راوتے له دوئ نه چه نه وے پیدا دوئ ولے چه نه وه کناه د دوئ په شان ګناه د نور وخلقو لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ (۳۷) د پاره د هغه خلقو چه ویریږی له عذاب د رب وکونکی نه له وجه د جوړوالی د طبیعت اصلی د دوئ نه او د وجه د نرم والی د زړه د نور زړه ښه د دوئ نو هغه څوك چه بغیر له دوئ نه وی چه سخت شوی وی زړونه د دوئ نو هغه څوك په دے اعتبار نه کوی او نه ئے شمیرے چه راښه ده له طرفه د خدائ نه معنیٰ اداده چه موږ پریښے ده په دے کښ یوه نښانه د پاره د ویر ونکیو نو هغه نښانی د دوئ ته د اخبره چه الله هلاك کړه د دوی نو د وی ویریږی له عذابه د هغوئ نه نوځان وساتی له بدکارئ د هغوئ نه وَفِي مُوسَىٰ او په پریښے ده موږه په قصه د موسیٰ ﷺ کښ نښانه او عبرت اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ (۳۸) هغه وخت چه ولیږلو موږه د ے فرعون په دلیل ظاهره سره فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ نو راوګرځیده د ی سره د جمع او د لښکرو خپل چه ددۀ ځان قوی کولو په دوئ سره وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ (۳۹) او ویل د ۀ چه د اجادوګر دے یا لیونے فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ پس ونیوه موږه د ے او لښکرے د ددۀ نو

وُم غورځول دوئ په دریاب کښ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۴۰﴾ اودهٔ رانلله کړی وو په هغه څهٔ چه دوئ پرے ملامت کړے شوی وو چه هغه دعوئ دخدایئ وه او دروغ کول درسولانو وو وَفِيْ عَادٍ اوپه هلاکولود عاد یانو کښ همدارنگے ښنبه اولصیحت دے دپاره دنصیحت قبلونکی اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿۴۱﴾ هغه وخت چه ولیږلو مونږه په دوئ باندے بادشنډ چه نهٔ ووهیږ خیر په هغه کښ اونهٔ نیکی چه شنے کړی ونے یاراوړی باران مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ نه ئے پریخږو یوشے له نفسونو اوله مالونو دوئ نه چه والوت په هغه اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ﴿۴۲﴾ مګروے ګرځولو لکه یوشے هلاک او زورچه وچ شی اوغوبل شی دارنګے لکه میده کړے ګیاه دزمکے چه ئے والوځوی باد۔ وَفِيْ ثَمُوْدَ اوپه ثمودیانو کښ ښنبه ده اونصیحت دپاره دعقلمندۍ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۴۳﴾ هغه وخت چه ووئیلے شهٔ دوئ ته نفع واخلی تریوولسو پورے چه هغه موده دتیریږو داجلونوستاسے ده فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ نوکبر وکړه دوئ اوځانونه نےلوئ وشیرل له منلو دحکم دالله نه فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ نوونیول دوئ یواواز سخت او واقعی لوئ **حکایت** دے په ابوسعود کښ چه هرکله ولیدے دوئ علامے چه بیان کړے وے هغه دوئ ته صالح علیه السلام چه هغه زیږوالے دمخونو ددوئ وو په اوله وړځ او سورواله دمخونو ددوئ وو په دوئمه وړځ اوتوروالے دمخونو ددوئ وو په دریمه وړځ نوقصد وکړو دوئ وژلو دصالح علیه السلام ته نوخلاص کړالله تعالیٰ له دوئ نه زمکے دفلسطین ته چه نوم دښاردے نوهم کله چه وخت دځابنت شهٔ په خلورمه وړځ نو دوئ خوشبیان کړل اوکفنونه ئے واغوستل دپخو څرمنو پس راښکے دوئ لږه اواز سخت نوهلاک شو دوئ فالحمدلله۔ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۴۴﴾ اودوئ لیدلوهغه عذاب ظاهر وله چه په وړځ کښ وو اودوئ به لیدل چه هغه هلاکولو یوبل فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ پس دوئ طاقت ونهٔ لرلو دپورته کیدو او پاڼهٔ سیدل دوئ پس له راتلودعذاب په دوئ وَمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ اونهٔ وو دوئ بدل اخستونکی وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اوهلاک کړے وو مونږه قوم دنوح ؑ پخواله عاد یانو او ثمودیانو او دقوم دفرعون نه اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۴۶﴾ په تحقیق سره وو دوی ډیر بے

د تو نکی له حکم دخدائ اوکافران اومنکران وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ اواسمان جوړکړو مونږه په لاسونو
ف په تفسیر مدارک اوخازن اوجامع البیان سراج المنیرکښی معنی کوی دایْدٍ په قوت او په قدرت سره
وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ (۴۷) او په تحقیق سره مونږه خامخا فراخونکی یو چه فراخ کړے موږ اسمان په دےشان
سره چه دازمکه اوهرهغه چه په دے زمکه کښی دی نسبت دفراخئ د اسمان نه لکه یوکوټه د په لاس کولو
دے چه غورځولے شوے وی په یو څنګل کښی ف دفراخی د اسمان له زمکے نه دا دے دہ لکه فرخوالے دلوئ څنګل
له کوټے نه په تفسیر سراج المنیرکښی دی چه معنیٰ د مُوْسِعُوْن داده چه مونږه غنیان یو اوقدرت لرونکی
یو هسے قدرت اوغنا چه انتهانه لری اونهٔ خلاصیږی نولهٔ دے سببه فراخ کړه مونږه اسمان اوهغه چه نږدے
دے اسمان کښی دی لهٔ رزق نو دازمکه تولهٔ سره له فراخئ دے لکه یوټکے ورکوټے دے په مینځ د اسمان کښی
وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا اوزمکه غوړولے ده مونږه فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ (۴۸) پس بنائسته غوړونکی یُو مونږه
وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ اوله هرشیز نه پیدا کړیدی مونږه دوه قسمه لکه سړے اوښځه او نر او ناره او
اوشپه او ورځ اولوند او وچ اواسمان اوزمکه اوغر اوزمکه اوځنګل اودریاب اوکفر اوایمان اوبدبختی
اونیک بختی ۔اوځے او وبے اوپیریان اوبنی آدم اوعلم اوتهمر او بے زړهٔ والے اوزړهٔ ورتوب اوسخا اوبخل
یاهغه چه په مثل دےدی لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ (۴۹) د پاره دےدے چه تاسے پند واخلئ نو یوهیر شئ تاسے چه
پیدا کړیدے دے جوړ ویو شریک نهٔ لری فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ پس وتختئ تاسے الله ته له عذابونو د
خدائ نه ثواب نو دهغهٔ ته په ایمان سره اوبه عبادت سره او وتختئ له ماسِوَاله هغهٔ نه الله ته
اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ (۵۰) په تحقیق سره زهٔ د پاره ستاسے له طرفه دهغه ته ویرونکے
ظاهریم وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ او بیا په نورزیات توضیح سره وایم چه مګر زهٔ د
خدائ سره بل کوم معبود په دے کښی زیاته توضیح دےدے وجه منه وشوه چه فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ چه هغه
امر بالتوحید دے مستلزم دے نهی عن الشرك لره اولَا تَجْعَلُوْا عین نهی عن الشرك دلا اوده «عین» د
دلالت په نسبت سره ملزوم نه زیات واضح کیدل بشکاره دی مُحکمی د مضمون توحید دعنوان ۔تغییر
په وجه سره دالله ذبیا تاکید دے چه اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ (۵۱) زهٔ تاسو دپاره ویرونکے د الله د
طرف نه بشکاره ویرونکے رابغلے یم ۱۲ ازبیان القرآن لمولانا اشرف علی التهانوی ؒ د وبارک وبل دے آیت چه

انی لکم منه نذیر مبین یوځل په نزد دامر به طاعت سره اودوئم ځل پس له منع له شرکه دپاره د
دکچه معلوم شی ایمان نفع نه رسئ مګر سره دنیک عمل کولو. چه عمل نفع نه رسوی مګر سره له ایمانه
او په تحقیق سره برے به بیانۀ موصی په نزد دالله مګر هغه څوک چه جمع کونکے شی دد وار و کَذٰلِكَ مَآ
اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ همدارنګے نۀ دے راغلے هغه خلقونه چه وو پخوا له دوئ هیڅ
پیغمبر په مثل دۀ دے چه قوم ستا تالره په جادو اولیونتوب سره ستائی اوصفت کوی اَلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ
اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ مګر ویل به هغوئ پیغمبر خپل ترچه دے جادوګر دۀ یا لیونے - اَتَوَاصَوْا بِهٖ ایا وصیت
کړے دے دوئ یو بل ته په دے سره. دا انکار دۀ او تعجب دۀ له حاله د دوئ نه خدائ بد وکړنۀ دا
حال او اتفاق د دوئ په هسے نا کاره خبره باندے چه هګز به تیرنۀ شی په زړه دیوسړی کښ چه
عاقل وی زیاتی اولاد اچه خوله پرے وخوزوی معنیٰ دا ده چه په زړۀ ئے نۀ تیریږی خوله پرے
څنګه وخوزوی دا اتفاق د دوئ له وجه د وصیت نه نۀ دے بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾ بلکه
دوئ یو قوم دے سرکش نو دوئ سرکشئ باعث کړل په دۀ خبره باندے چه دا لیونے او جادوګر دیل
دی پیغمبر ۲ ته. فَتَوَلَّ عَنْهُمْ پس مخ وګرځوه ته له دوئ نه او پریږده جګړه د دوئ. په تحقیق تا
بیا نصیحت وکړۀ دوئ ته نو دوئ هیڅ ونۀ کړۀ بے له نه منلو فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ پس ته نه ئے
ملامت کړے شوے په تحقیق سره تا رسولے دے حکم د خدائ پوره او تا خرڅ کړۀ کوشش خپل او
هیڅ قصور دِ نۀ دے کړے په هغه څۀ کښ چه تا ته پرے حکم کړے شوے دے له ربه ستا نه. په
معالم التنزیل او په خازن او په تفسیر حسینی او په سراج المنیر کښ وائی هر کله چه نازل شۀ دا
آیت نو خفه شۀ نبی علیه السلام او سخته شوه د اخبره په یارانو د دۀ ولے چه د دوئ یقین وشۀ
چه وحی منقطع شوه او عذاب حاضر شۀ نو خدائ تعالیٰ دپاره د تسلئ د پیغمبر او د خوشحالئ د یارانو
دۀ داحکم راولیږلۀ وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ او نصیحت وکړه پس په تحقیق سره
نصیحت کول نفع رسوی مؤمنانو ته. نو خوشحال شوا صحابؓ د رسول الله ۲ په دے سره وَمَا خَلَقْتُ
الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ او ما نۀ دی پیدا کړی پیریان او بنی آدم مګر د پاره د دے چه
عبادت وکړی ځما. په تفسیر خازن کښ دی چه د اخاص دی په اهل طاعتو پورے چه څوک

خبرہ دخدائی او د رسول منی له پیر یا نو نه وی او که له بنی آدمو او همدارنگه دے په معالم کښ روایت دے له کلبیؒ او له ضحاکؒ او له سفیانؒ څخه داخاص دے په مؤمنانو پورے او دلیل په دے خاص والی دقراءت دابن عباسؓ دے۔ وماخلقت الجن والانس من المؤمنین الا لیعبدون ٹ مانهٔ دی پیدا کړی هغه پیریان او سړی چه له مؤمنانو نه دی مګر دپاره دد ے چه عبادت وکړی خُما پس له دے ویلی دی ابن عباسؓ په حق دهغوخلقو کښی چه مؤمنان نهٔ دی وَلقد ذرأنا لجهنم کثیرًا من الجن والانس یعنی او په تحقیق خا مخا پیدا کړی دی مونږه دپاره د دوزخ دیر له پیریا نو اوله سړو نه پس معلوم شه له دے آیته چه دوئ ئے دپاره د جهنم پیدا کړی دی اوهغه چه دپاره دعبادت ئے پیدا کړی دی مؤمنان دی مَآ اُرِیْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ زهٔ اراده نکوم له دوئ نه چه روزی ورکړی دوئ خا نونوخپلولره یا چه رزق ورکړی بل چا لره له مخلوق خُمانه وَمَآ اُرِیْدُ اَنْ یُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾ اوزهٔ اراده نکوم له دوئ نه چه رزق راکړی مالره معنیٰ دادده چه زهٔ نهٔ غواړم له دوئ نه داخبره چه دوئ روزی ورکړی مخلوق خُمالره لکه موافق له دے سره فرمایلی دی رسول صلی الله علیه وسلم چه وبه وائی الله تعالیٰ په ورځ د قیامت چه اے حُویه دادم ! ناجوړه شوے وم زهٔ نو تاسو تپوس ونهٔ کړو نو وبه وائی هغه چه څنګه تپوس وکړم ستا او ته خوږ ب دپټول جهان ئے۔ نو وبه وائی الله تعالیٰ چه نهٔ پوهیدے تهٔ چه په تحقیق فلانے بنده خُما ناجوړه وو او تا تپوس ونهٔ کړو د هغهٔ ایا نه پوهیدے تهٔ کهٔ تا تپوس کړے وے د هغهٔ نو خامخا به تاموندلے وم هغه څخه۔ اے حُویه دادم ! ما روټی وغوښته له تانه نو تا روټی رانهٔ کړه مالره وبه وائی هغه چه څنګه روټی درکړمه تالره۔ ته بنهٔ پالونکے د پټول جهان ئے وبه وائی الله تعالیٰ ایا نهٔ پوهیدے تهٔ چه په تحقیق روټی وغوښته له تانه فلانی بنده خُما نو تا روټی ورنهٔ کړه هغهٔ ته ایا نهٔ پوهیدے تهٔ۔ کهٔ تا روټی ورکړے وے هغهٔ لره۔ نو تا به موندلے وو هغه ما څخه اے حُویه دادم ! ما او به وغوښتے له تانه نو تا او به رانهٔ کړے مالره نو وبه وائی هغه چه اے ربه څنګه او به درکړم تا لره او ته خو مالک دپټول جهان ئے نو وبه وائی الله تعالیٰ چه او به وغوښتے له تانه هغه فلانی بنده خُما نو او به دِ ورنهٔ کړے هغه لره ایا نه پوهیدے تهٔ چه په تحقیق کهٔ

چرے اوبه ورکړے وے تا هغه لره نوخا نخا موندلے به وے تا ماتخ داحدیث په صحیح مسلم کښ دے له ابی هریرة رضه نه. پس بیان کړے ده الله تعالی داخبره چه په تحقیق هم هغه دے رزق ورکوونکے نه بل څوک اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ په تحقیق الله هم دے دے رزق ورکوونکے نورزق ورکوی قوی مخلوق خپل لره ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ (۵۸) صاحب دقوت محکم دے فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا پس په تحقیق هغه خلقو لره چه ظلم کړے دے هغوئ لویه برخه ده عذاب مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ په مثل د برخے د یارانو د دوئ نو شوه برخه د اهلِ مکه وٗ په مثل د برخے د قوم د نوم اوعاد یانو اود ثمود یانو فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ (۵۹) نو تاوارِدِ نه کوی ځکه چه ځای دوعدے د دوئ قیامت دے فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ (۶۰) پس افسوس اوهلاک دے اوکنده ده د پاره دهغه خلقو چه کافران دی په هغه ورځ د دوئ کښ چه دوئ سره وعده کړے شوے ده چه هغه ورځ د قیامت ده یا د بدر ده.

سُوْرَةُ الطُّوْر مَكِّيَّة ۵۲ ع ۲ اٰيَاتُهَا ۴۹ رُكُوْعُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالطُّوْرِ (۱) قسم خورے په غرّه نو مراد په دے سره مطلق غرّه ندی ولے چه دا میخونه دزمکے دی اوپه دے کښ لوی لوی نعمتونه دالله دی د پاره د مخلوق خپل یامراد په دے سره هغه غرّه دے چه خبرے کړے وے په هغه باندے الله تعالی له موسیٰ۴ سره وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ (۲) قسم خورم په کتاب لیکلے شوی باندے فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ (۳) په پانړه خوړه کړے شوے کښ چه هغه کتاب یا لوح محفوظ دے یا تختئ ده دموسیٰ۴ اوپه معالم التنزیل اوپه جمل کښ روایت دے له کلبی رح نه چه مراد په کتاب سره تورات دے چه لیږلے وو الله تعالی د پاره دموسیٰ۴. په تفسیر حسینی کښ دی چه یامراد په دے کتاب سره هغه دے چه لیږلے دے الله تعالی د پاره د ملائکو چه په هغه کښ علم دتیرشویو اودراتلونکو دے نو دوئ بولی له هغه وَالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ (۴) اوقسم خورم په هغه کور آباد کړے شوی باندے چه هغه یوکور دے په اوم اسمان کښ طوف کوی له هغه ملائکے اوپه تفسیر جامع البیان کښ دی چه په هر یو اسمان کښ یوکور دے چه عبادت کوی په هغه

کښ اهل دهغه اسمان اوهغه چه په نزدے اسمان کښ دی نژاد هغه بیت العزت دے وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ۵ اوقسم خورم په چت اوچت کړے شوی چه هغه اسمان دے الله تعالیٰ فرمایلی دی وجعلنا السماء سقفا محفوظا یعنے گرځولے دے مونږه دا اسمان چهت ساتلے شوے وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ۶ اوقسم خورم په دریاب کرم کړے شوی. محمد بن کعبؒ اوضحاکؒ معنیٰ کړے ده دمسجور په گرم کړے شوی باندے په شان دتنور گرم کړے شوی اودغه معنیٰ ده دقول دابن عباسؓ اوروایت کړے شوے دے په حدیث کښ چه و به گرځوی الله دریابونه قول په ورځ د قیامت اونور زیاتی به کړی په هغه سره اوردوزخ لکه ویلی دی الله تعالیٰ واذا البحار سجرت یعنی هغه ورځ چه گرم کړے شی دریابونه په حدیث کښ دی له ابن عمرؓ چه ویلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم - نهٔ دِ سوریږی سپے په دریاب کښ مگرغږ اکونکی یاعمره کونکی یاحج کونکی. ولے چه په تحقیق لاندے د دریاب نه اوردے اولاندے د اوره دریاب دے اوله حضرت علیؓ نه نقل دے چه هغه دریاب کړے شوے یو دریاب دے لاندے دعرشه چه ژوروالے دهغهٔ دومره دے لکه دآوهٔ اسمانونو اوو زمکو او په هغهٔ حائی کښ دی اوبه تپینکے اونوم دهغه دریاب بحرالحیوان دے وبه وروله شی په دے خلقو باندے پس له شپیلیٔ پرمبنیٔ نه له دے دریاب څلویښت ورځے نور زرغون به شی دوئی په قبرونو خپلو کښ دا بیان دبحر مسجور په تفسیر معالم التنزیل کښ دے سره دکوتاهئی اویا معنیٰ دبحر مسجور دمنع کړے شوی دے له زمکے نه چه غرقه ئے نهٔ کړی. په مسند دامام احمدؒ کښ دی چه فرمایلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه نشته هیڅ مگرچه دا دریاب پورته کیږی په هغه کښ دریے کُله اواذن عواړی دالله تعالیٰ نه چه راواوړی په مخلوق دزمکے باندے پس منع کړی هغه لره الله تعالیٰ داحدیث پرجامع البیان کښ دے اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۷ په تحقیق سره عذاب دروب ستا واقع کیدونکے دے مَّالَهٗ مِنْ دَافِعٍ ۸ نشته دے هغه لره منع کونکے يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۹ هغه ورځ چه وخوزی او بے قراره شی اسمان خوزیدل اوبے قراره کیدل وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ۱۰ اوروان شی غرونه روانیدل فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۱۱ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ۱۲ پس

سخت عذاب دے یه هغے ورځے کښ دیاړه د دروغ کونکیو چه یه به هود خبرو او په بیهوده کارونو کښ لوبے کوی یَوْمَ یُدَعُّوْنَ اِلٰی نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿۱۳﴾ هغه ورځ چه تیل وهلے شی دوئ اوس دد وخ ته تیل وهل ولے چه خد متگاران د دوزخ په زنځیرونو سره به وتړی لاسونه د دوئ کړد نونو ته اوجمع به کړی تندی د دوئ قدمونو د دوئ ته او تیل به ئے وهی په مخونو باندے او به ځوی په ستونکښ په نیزو سره ترهغه پورے چه ئے ورولی دوزخ ته نوچه دوئ نزدے شی دوزخ ته ورته به ووائی خد متگاران د دوزخ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِیْ کُنْتُمْ بِهَا تُکَذِّبُوْنَ ﴿۱۴﴾ داهغه اور دے چه دوئ تاسے چه دروغ گولوتاسے هغه اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ ایا سحر دے دا یا تاسے یئ چه نهٔ وینځ یعنی چه ویل به تاسے هغه خبرو د الله تعالیٰ ته چه ویرولی تاسے پیغمبر په هغوئ سره له دے اورنه اړله عذ ابونو نه چه دا سحر دے اونهٔ دی خبرے د الله تعالیٰ نو اوس وګورئ چه سحر دے دا یا تاسے یئ چه نهٔ وینځ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا سَوَآءٌ عَلَیْکُمْ ؕ نوزئ تاسے اورته پس صبر وکړئ تاسے یا صبر مهٔ کوئ برابردی د دواړه کار رونه په تاسے باندے چه صبر کول دی یا نهٔ صبر کول دی اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ خبره هم داده چه بدله درکولے شی تاسے لره د کار ستاسے اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ فِیْ جَنّٰتٍ وَّنَعِیْمٍ ﴿۱۷﴾ فٰکِهِیْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۚ وَوَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ ﴿۱۸﴾ په تحقیق سره پرهیزګاران اوځان سا تونکی له بد و خصلتونو اوله بد و خوږیونو به باغونو اونعمتونکښ به وی خوند اخستونکی او مزے کونکی به وی په هغه شی اونعمتونو سره چه ورکړی دی دوئ لره رب د دوئ او ساتلی دی دوئ رب د دوئ له عذابه د دوزخ کُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِیْٓـًٔا بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وخورئ اوو څښئ ښهٔ هضمیدونکی په بدل د کار ستاسے کښ چه نیک کار ونه کړی وو تاسے نوخوری بدل دهغه هر چه خوښه وی ستاسے هیڅ ضرر به ونه کړئ تاسے ولے چه دا نهٔ دے په شان د خورلو اود خورلو او څښلو د دنیا چه کله سړے بد هضم شی او مرض ترے پیدا شی او په دے کښ هیڅ خلل نشته مُتَّکِـِٕیْنَ عَلٰی سُرُرٍ مَّصْفُوْفَةٍ ۚ په دے حال کښ چه تکیه لګونکی یئ تاسے په تختونو چه یو ځائ شوی وی بعضے بعضو ته وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِیْنٍ ﴿۲۰﴾ اوجوړه کړی دی مونږه دوئ سره له

هغو بنځو پیرو سره ښه ښه ژوند کړی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ او هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے او منلی ئے دی ټول حکمونه د خدائ تعالیٰ او تابع شوے وی دده ئ اولاد د دوئ په ایمان سره یو ځائ به کړو مونږه له دوئ سره اولاد د دوئ په سبب د ایمان سره او ورکوټی په تابعدارئ د موراوپلار سره **حدیث** دے په طبرانی کښ چه ویلی دی رسول الله صلے الله علیه وسلم چه ننه به وزی یو سړے جنت ته نوسوال به وکړی د مور و پلار خپل او د بیځے خپلے او د اولاد خپل. نو وبه ویلے شی هغه ته چه په تحقیق هغوئ نه ډی رسیدلی مرتبے ستاته نو وبه وائی دے چه اے ربه ما خو نیک عمل کړے وو د پاره د ځان او د دوئ نو حکم به وکړے شی په یو ځائ کید لو د هغوئ له ده سره دا حدیث په جامع البیان کښ دے او په معالم او په خازن کښ روایت دے له ابن عباسؓ نه په معنیٰ د دے آیت کښ چه لوئ به یو ځائ کړی له دوئ سره په ایمان د دوئ سره او وارۀ به یو ځائ کړی له دوئ سره په ایمان د پلار او د مور د دوئ سره. الله تعالیٰ ویلی دی چه جمع به کړے شی د پاره د بنده مومن اولاد د ډۀ په جنت کښ لکه چه د وست کنړل د ډه چه جمع شی د ډۀ ته په دنیا کښ نو نه ب ب الله تعالیٰ دوئ جنت ته او یو ځائ به کړی له د ډۀ سره وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ط او مونږ نه ډی کم کړی دوئ لږه له کاره د دوئ نه هیڅ شے. نو مونږه پوره ورکړیدے دوئ لږه ثواب د ښو کارو نو د دوئ او د یو ځائ کول د دوئ سره د عیال د دوئ او د اولاد د دوئ صرف په فضل او په کرم سره دی. سعید خُوئ د جبیر روایت کوی له ابن عباسؓ چه پورته به کړی الله تعالیٰ اولاد د مؤمن په جنت کښ او وبه ئے رسوی مرتبے د هغۀ ته. اګر چه کم وی هغه له ده ئ نه په نیک کار کښ چه سړے (یخے) شی په هغوئ سره ستړکے د هغه **روایت دے** له علیؓ نه چه سوال وکړۀ خدیجےؓ له پیغمبر صلے الله علیه وسلم نه د دو وځا منو چه مړۀ شوی وو هغوئ په وخت د جاهلیت کښ نو وویل رسول الله صلے الله علیه وسلم چه هغوئ په اور کښ دی نو هر کار چه ولیدۀ رسول الله صلے الله علیه وسلم خفګی په مخ ډے کښ. نو وویل رسول الله صلے الله علیه وسلم کۀ چرے لیدلے تا ځائ د هغه د وارو. خامخا بد به ګنړلے وو تا هغوئ نو وویل هغے چه یا

رسول الله ﷺ! څهٔ حال دے دهغه ولدځما چه له تا نه دے نو ووایل رسول الله صلے الله علیه وسلم چه هغه په جنت کښی دے پس ووایل رسول الله صلے الله علیه وسلم چه په تحقیق مؤمنان او اولاد د دوئ په جنت کښی دی او په تحقیق مشرکان او اولاد د دوئ په دوزخ کښی دی نو بیا ولوست رسول الله ﷺ دا ایت چه تیر شوے دے غرض دا دے چه خلاف دے په اولاد د مشرکانو کښی ویلی دی په جامع البیان کښی په تفسیر د دے ایت کښی وما کنا معذبین حتی نبعث رسولًا او مونږه نهٔ یو عذ ابونکی تر هغه پورے چه ولیږو رسول. چه ظاهره داده چه هغه څوک چه پیدا شوے وی په سر د غرهٔ اونه ځے وی اوریدلے خبرے د رسول ﷺ نو هغه لره عذر دے او همدارنګه لیونے همیشه او هلکان مطلقًا د هر چا چه وی لیکن شیخ اشعری تله کړیدی دے خبرے ته چه په دوئ به ازمایښت وکړے شی په ورځ د قیامت په دے شان چه حکم به وکړی دوئ ته الله د نو تلود اور نو هر چا چه فرمانبرداری وکړه خلاص به شی او نه به وزی جنت ته او ظاهر به شی علم د الله تعالیٰ په حق د دهٔ کښی په ورومبئ نیکبختئ د دهٔ سره او هر چا چه مخالفت وکړهٔ نو نه به وزی اور ته خوار او ظاهره به شی هغه ورومبئ بدبختی د ده او ویلی دی شیخ اشعری چه دغه مذهب د اهل سنت وجماعت دے او دغه دے عقیده کړے شوے د بیهقی او د محققینو علماؤ او د کرهٔ کونکو او په دے باندے دی حدیثونه. تر دے پورے د ده خبره د جامع البیان او په حدیث د بیهقی کښی دی چه صحیح دے. څلورته به دلیل ونیسی په ورځ د قیامت کونړ چه هیڅ نهٔ اوری او بے عقل چه نهٔ پوهیږی او په زور او هغه څوک چه مړ شوے وی په دا وخت کښی چه نهٔ وی لیږلے شوے په هغوئ کښی رسول ﷺ نو خدائ به ولیږی هغوئ ته رسول ﷺ. چه نوزئ تاسے اورته نو هغه څوک چه نوزی اورته نو سوړ به شی په دوئ باندے سره د سلامتئ او هغه څوک چه ورننه نهٔ وزی اورته هغه به راځکے شی په مخونو باندے اورته او روایت کړے دے غیر له بیهقی نه په مثل د دے معنیٰ او حکم کړے دے اشعری ؒ چه هلکان به واز میلے شی په ورځ د قیامت په دے باندے دی اهل سنت والجماعت. د احدیث په وجه کښی دے. كُلُّ امْرِئٍ ۢ بِمَا كَسَبَ رَهِيْنٌ ﴿۲۱﴾ هر سړے به په کار خپل کښی ګانړه او ګروؤ او قید

به وی. معالم روایت کوی له مقاتل نه چه هر سړے کافر په کار خپل کښ چه کفر او شرك دے کافره به وی په او رکښی او مؤمن نه کافره کیږی ولے چه الله تعالی په بل ځائے کښ ویلی دی کل نفس بما کسبت رهینة الا اصحب الیمین هر نفس په سبب د هغه چه دهٔ څهٔ کړی دی قید به وی مګر صاحبان دښی لاس او هغه څوك چه کاغذونه ورلره په ښی لاس ورکولے شی هغه به نهٔ قید یږی وَ اَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۲﴾ او زیاتی ورکړی دی ما دوئ لره میوے او غوښے چه دوئ شوق لری او مینه ئے ورته کیږی. يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَ لَا تَاْثِيْمٌ ﴿۲۳﴾ اخلی به دوئ یوله بله جنت کښ شراب چه نهٔ به وی عیب خبرے په هغه کښ او نهٔ نسبت دګناه یو بل ته وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۲۴﴾ او چاپیره به ګرځی له دوئ هلکان چه دوئ لره به وی ګویا که هغوئ ملغلرے دی ساتلے شوے له لا سونو د خلقو نه او نهٔ دے رسیدلے ورته ګرد. معالم روایت کوی له عبد الله بن عمرؓ نه چه نشته هیڅوك له جنتیانو نه مګر چه ګرځی دپاره د خدمت د دهٔ یو زر هلکان او هر هلک به هغه کار کوی چه هغه بل به ئے نهٔ کوی غرض دا دے چه سوال وکړه یو سړی له رسول الله ﷺ نه داحال د خدمتګار دے نو څنګه به وی هغه څوك چه خدمت ئے کوله شی نو وویل رسول الله صلے الله علیه وسلم چه زیاتوالے د خدمت کړے شوی په خدمت کونکی باندے دا رنګ دے لکه زیاتوالے د سپو ږمۍ د څوارلسمے په نور و ستورو باندے وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ اوخ به ګاندے بعضے بعضوته سوال به کوی یو تربله یاد به کړی هغه چه وو دوئ په هغه کښ له مشقتونو او دویرو نه په دنیا کښ اوداد به یادوی دپاره د شکر قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ وبه وائی دوئ چه په تحقیق وو مونږه پخواله دے په عیال خپل کښ ویریدونکی فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ پس احسان وکړه الله تعالی په مونږه باندے او وے ساتلو مونږه له عذاب داور ددوزخ نه. نو له دے نه صاف معلومه شوه داخبره چه ویره د الله تعالی نه په وخت د جوړولو کښ او په کومو خپل کښ سبب د خلاص والی دے د اورنه اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ط په تحقیق سره د دو مونږه پخواله دے چه باله مونږه هغه

وعبادت موکولود هغه اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿۲۸﴾ په تحقیق هم هغه دے نیکی کونکے اورحم کونکے
په ویلو خیلو کښی اوپه پوره کولو د وعدے خپلے کښی فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ
وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿۲۹﴾ پس نصیحت وکړه تهٔ اونهٔ ئے ته په نعمت د رب خپل سره فالبین اونهٔ لونے
اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ ﴿۳۰﴾ ایا وائی دوئی چه شاعر دے کور و مونږه
دهٔ ته اوانتظار کوو حادثو د زمانے اود مرګ ئے ته چه هغه حادثے څهٔ دی چه افتونه د زمانے دی چه
هغه به راشی اوهلاک به کړی دے لکه چه هلاک شوی ووشاعران پخواله دهٔ نه قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّيْ
مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿۳۱﴾ وو ایه ته چه کوری اوانتظار وکړئ مرګ څما نه پس په تحقیق سره
زهٔ سره له تاسے له نظر کونکو نه یمه. چه راشی حکم د الله تعالیٰ په تاسے کښی اَنْ تَاْمُرُهُمْ
اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ ایا حکم کوی دوی ته عقلونه د دوئی په دے سره ولے چه د الوئی د قریشو
مشهور وو په عقلونو اوپه دانایئ سره نو الله پاک وویل دا عقلونه اوداپوهے د دوئی چه دا
څرنګه پوهه ده چه حق اوباطل نهٔ پیژنی اَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۳۲﴾ بلکه دوئی یوقوم دے سرکش
چه هغه سرکشئ باعث کړی دی په دے خبره چه کله لاړے وویشی او سړی پکښی کښینی چه
هغه پیغمبر ته شاعر اوکاهن اومجنون وائی اوکله حکم وکړی دوئی ته اوتیار کړی دوئی دے ویلو ته
چه شاعر دے صبر کوو هلاک د دهٔ ته چه مړ به شی اوخلاص به شوله دهٔ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ج
ایا وائی دوئی چه دا قران دهٔ له ځانه جوړ کړے دے نهٔ ده دا رنګه بلکه دا کتاب د خدائ دے
دوئی جاهلان دی پرے نه پوهیږی بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۳﴾ بلکه دوئی ایمان نه راوړی او یقین
نهٔ کوی په سبب د کبر خپل اود ناپوهئ د دوئی فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖ نو راوړی دوئی یوه
خبره جوړه کړے شوے په مثل د دے غرض دا دے کهٔ دا پیغمبر له ځانه جوړ کړے وی لکه چه
وائی دوئی په سبب د کفر اود ناپوهئ خپلے نو دوئی دِ جوړ کړی یو کلام بنائسته په مثل د دے
لکه دا قران چه بنائسته دے اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۳۴﴾ کهٔ چرے وی دوئی رښتیا ویونکی په خبرهٔ
کښی چه دا محمد صلے الله علیه وسلم له ځانه جوړ کړے دے اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ ایا
دوئی پیدا کړے شوی دی بے له هیڅ شی نه. ایا دوئی پیدا کونکی نهٔ لری غرض دا دے چه بے د

پیدا کړونکی نه هیڅوک نهٔ دی. دا طاهره ده چه پیدا کړونکے شته دے نو دوئ ولے نهٔ منی خبره د
پیدا کړونکی خپل اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ یا هم دوئ دی پیدا کړونکی چه پیدا کړی ئے دی ځانونه
خپل یا نور خپل مخلوق نوځکه نهٔ منی خبره دخدائ او د پیغمبر دهغهٔ نو دا خبره غلطه ده ولے چه
دوئ خو نه وو او چه څوك نهٔ وی نو هغه به ځان څنګه پیدا کړی نو معلومه شوه چه پیدا کړونکے
دوئ شته نو بدله به واخلی له دوئ نه دکفر دوئ او دکمراهئ دوئ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَ
الْاَرْضَ ۚ ایا دوئ پیدا کړی دی اسمانونه اوزمکه نهٔ ده دا رنګے پیدا کړونکے د نو الله تعالیٰ دے
بَلْ لَّا یُوْقِنُوْنَ ﴿۳۶﴾ بلکه دوئ یقین نهٔ کوی اونهٔ منی چه ایمان راوړی په هغه باندے او بندګی
وکړی دهغهٔ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ ایا دوئ څخه دی او په نزد دوئ دی خزانے د ربّ
پس وکړی پیغمبری هغه چا لره چه دوئ خوښه وی یا دوئ څخه دی خزانے د رزق او د باران
بلکه دے نو لواختیار د الله دے اَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ ایا دوئ دی زور کونکی چه نهٔ دی
لاندے د حکم د چا نو کوی هغه چه خوښه ده دوئ وی بلکه دوئ نو ټول په حکم د الله کښ دی او
ذلیل دی لاندے د حکم دهغهٔ اَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ ایا دوئ لره اندر پاڼه ده چه دوئ
اوریدل کوی په هغے کښ نو دوئ خپل خبرئ اسمان ته او معلوموی هغه چه حق دے نو دلیل نیسی
په هغه سره فَلْيَاْتِ مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ نو راوړی وړی هغه اوریدونکی د دوئ یو
حجت ظاهر لکه چه پیغمبر وخوت په اسمانونو او رائے وړ حجت ظاهر چه قرآن دے او معجزے بے
شماره چه هیڅ پیغمبر نه دی راوړی په مثل دے اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۳۹﴾ ایا خدائ
لره لونړه شوے او تاسے لره ځامن او دا انکار د الله دے په دوئ باندے چه دوئ مقرر ی
هغه شے چه دوئ ئے بدګنړی دپاره د ځانو خپلو چه لونړه دی نو دوئ لونړه بدے ګنړی او سره له
دے وائی چه ملایکه لونړه دی دا الله تعالیٰ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۰﴾
ایا تهٔ غواړے له دوئ نه مزدوری نو دوئ له تاوانه دهغه نه درانه کړے شوی دی ف غرض
دا دے چه تهٔ څو دوئ ته بیا نوے حکم د الله تعالیٰ بے له مزد دوئ نه اوبے له خوښتو یو شی نه
نو نه راوړل د ایمان اونه تابع کیدل ستاصرف جهل دے او کینه د دوئ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ

فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿۴۱﴾ ایا په نزد دوئ دے غیب نو دوئ لیکی ف معنیٰ دا ده ایا دوی څخه علم غیب دے چه دوی معلوموی په هغه سره داچه وائی پیغمبر خبره د قیامت او د پورته کید و دا درغ ده بلکه نۀ ده داخبره چه دوئ څخه علم غیب دے بلکه دوئ صرف ضد نیولے دے نو ځکه ایمان نه راوړی اَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ایا دوئ اراده لری دیوچل چه جوړ کړی ستاهلاک ته فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴿۴۲﴾ بلکه هغه خلق چه کافر شوی دی هم دوی باندے چل کړے شوے دے ولے چه هغه عذاب د دوئ هم دوئ ته راوګرځیدہ اوهلاک ئے کړہ دوئ اَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۴۳﴾ ایا دوئ لرہ معبود دے غیر د الله . پاک دے الله دهغه څیز نه چه دوئ شریکوی له الله سره نو الله پاک دے له شرک او له هره عیبه وَإِنْ يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا او که دوئ وویني یوه ټکړه له اسمانه پریوتونکے داخبره جواب دے دهغه خبرے د دوئ فاسقط علینا کسفا من السماء . یعنی وو روله په مونږه باندے یوه ټکړه له اسمانه نو وویل الله په جواب د دوئ کښ که چرے مونږه وعذاب وو دوئ په راغورځولو یوے ټکړے سره د اسمان په دوئ باندے نو دوئ به منع نه شی له کفره خپله يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿۴۴﴾ وبه وائی دوئ چه داورېځ ده بعضے په بعضے سره شوے فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿۴۵﴾ نو پریږده دوئ ترهغه پورے چه دوئ ووینی او یوه ځای شی له هغه ورځے د دوئ سره چه دوئ په هغے کښ هلاک کړے شی يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿۴۶﴾ هغه ورځ چه دفع به نۀ کړی له دوئ نه چن د دوئ هیڅ شے او نه به وی دوئ چه مدد ورسره وکړے شی معنیٰ داده چه راشی هغه ورځ د هلاک او د عذابولو د دوئ نو منع به نۀ کړی هغه چلونه چه دوئ جوړول په دشمنئ د پیغمبر کښ یو شے له عذابونو د الله. وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ او په تحقیق دپاره دهغه خلقو چه هغوی ظلم کړے دے او کافر شوی دی عذاب دے بغیر له دے عذابه چه هغه عذاب دے په دنیا کښ په قتل او په لوږه او په قحط او نورقسم قسم عذابونه چه هغه خدائ ته معلوم دی الله تعالیٰ د وساتی مونږه مسلمانان سږی او مسلمانانے ښځے . وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۴۷﴾ او لیکن اکثر

دخلقونه پوهیږی نوځکه مخ ګرځوی له قرآن اوله تابعدارئ د پیغمبر نه وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا اصبر وکړه د پاره دحکم دمالک او د پالونکی خپل پس په تحقیق سره ته په ځائ د لیدلو ځمونږه کښی ئے مونږه د بینو هغه چه دوئ کوی په دښمنئ ستا کښی نو دوئ به هیڅ ضرر ونه رسوی تا ته مګر هغه چه مقرر کړے وی ما وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿۴۸﴾ او پاکی وایه سره له ثنا درب ستا هغه وخت چه ته پورته کیږے معنئ دا ده چه ته وایه هغه وخت چه پورته کیږے ته له مجلس خپله. سبحنك وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك نو داویل ددے به پتونکی شی هغه شی لره چه په دے مجلس کښی شوے وی څهٔ ہے هوده او ناکاره خبرے وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿۴۹﴾ او په شپه کښی پس پاکی وکړه دخدائ تعالیٰ او وروستو دستورو یعنی دوه رکعته پخوا له فرضو د صباح نه ولے چه په هغه وخت کښی شا کړے وی ستورو اوپټ شوی وی په رنړا د صباح سره۔



وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ﴿۱﴾ قسم خورم په ستورو چه پریوځی یا راخیژی. عرض دادے چه هوٰی په معنئ د ختو او د پریوتو دواړو راغلے ده او په ایت کښی دوه معنئ جوړیږی او مراد په ستورپو سره پریوتی دی لکه چه په حدیث دابی هریرهؓ کښی راغلی دی له رسول صلی الله علیه وسلم نه چه نهٔ وی ختلی ستوری هرګز چه په زمکه کښی پوخیږی وی له افتو نو مګر هغه پورته شی او مراد په ستوری سره پریوتی دی او یا مراد ترے ټول ستوری دی ولے چه په دوئ سره لاړ مومی خلق په وچه کښی او په لوند ه کښی مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ﴿۲﴾ چه نهٔ دے خطا شوے له لارے حقے نه ملګرے ستاسے او سرکشی ئے نه ده کړے وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ﴿۳﴾ اونه وائی له خواهش خپل نه غرض دادے چه دارد ے په کافرانو باندے ولے چه هغوئ به ویل چه دا قرآن دهٔ له ځانه جوړ کړے دے نو الله رد کړه داخبره او په ځکښی دوے ښه کلک والے کوی او وائی إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴿۴﴾ نهٔ دی داچه وائی پیغمبر مګر وحی ده اوخبر دے

د الله تعالی چه دهٔ ته کولے شی معنیٰ دا دهٔ چه د اوحی ده له طرفه د الله تعالی نه کهٔ قران دے اوکهٔ حدیث دے نهٔ دے له طرفه د نفس د دهٔ نه عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى (۵) پوهه کړے دے او بنودلے دے دهٔ ته د اخیز چه وائی دے په دین کښی هغه چا چه سخت قوتونه او مضبوط قوتونه دی د هغه چه جبریل علیه السلام دے په مدارک کښی وائی چه بعضے له قوتونو څخه نه دا ووچه ے څکل څکلی د لوط علیه السلام او د اپورته ے کړوله او بو توږ نه په یو وزر باندے تر آسمانه او په بل خ ے د اړول۔ او یو اواز ے وکړو په ثمود یانو پس ټول هلاک شو ذُوْ مِرَّةٍ ؕ صاحب د پرښائسته او یا صاحب د عقل محکم دے فَاسْتَوٰى (۶) پس برابر شهٔ جبریل ؑ په هغه کار چه د ده ته حکم کړے شوے و و یا د اچه د ے و د ریدهٔ په صورت اصلی خپل وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى (۷) او هغه په کنارے ښے اوچتے باندے و و۔ غرض د ادے چه جبریل ؑ و د ریده په کناره د آسمان باندے څائی د څتو د نږدے څه اوهیڅ پیغمبر نهٔ و و لیدلے جبریل علیه السلام په صورت مذکی چه هغه صورت اصلی د دهٔ و و بے له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه او دهٔ لیدلے و و په دے صورت خپل سره د وهٔ ځله اول ځله ے چه ولیده نو بے هوش شهٔ چه په هوش کښی راغے نو جبریل ؑ ورنږدے ناست و و یو لاس ے ایښے و و په سینه د دهٔ او بل لاس ے ایښے و و په مینځ د اوږو د دهٔ کښی نوله دے نږدے والے نه خبر و رکوی الله تعالیٰ وائی۔ ثُمَّ دَنَا پس نږدے شهٔ هغه غرض د آدے چه نږدے شه جبریل ؑ پیغمبر ته پس له هغے نه چه ے ولیده هغه بیهوشه شهٔ یعنے رسول الله صلے الله علیه وسلم فَتَدَلّٰى (۸) نو بنهٔ نږدے شهٔ ۔ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى (۹) پس و د انږدے والے په مینځ د جبریل ؑ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لکه نږدے والے د دو ولیندو یا د پیر نږدے فَاَوْحٰۤى اِلٰى عَبْدِهٖ مَاۤ اَوْحٰى (۱۰) نو پس وحی وکړه اوظاهر ے کړه بنده د الله تعالیٰ ته هغه چه ظاهر ے کړه **فائده** چه وحی وکړه جبریل ع بنده د الله تعالیٰ د هغه شی چه وحی کړے ده الله تعالیٰ جبریل ؑ ته۔ او بعضے نږدے والے وائی د الله پیغمبر ته او بعضے نږدے والے وائی د پیغمبر الله ته په دے شان سره لکه چه وړاندے له دے نه ویلی دی۔ ثم دنا فتدلی فکان قاب قوسین او ادنی۔ پس نږدے شهٔ محمد رسول الله صلے الله

علیه وسلم الله تعالی ته. نو هرکله چه دا نړۍ والے د پیغمبر الله تعالی تر لیدلے نه شۀ او دا په فکر کښ راتلے نه شۀ. نو الله تعالی د دے د پاره یو مثال راوړو د پاره د دے چه خلق پرے پوهشی نو ے وی ویل نړۍ والے د پیغمبر الله تعالی ته په قدر ددو و لیندو والا ته ډهم نړۍ دا بیان دے د کلک والی د نړۍ والی د دۀ چه د پر نړۍ شۀ الله پیغمبر یا د پر نړۍ شه پیغمبر الله ته. بیان وکړه الله ډډے نړۍ والی په وجه د یو مثال سره چه هغه دا دے چه سړی دا نو د غږ ارادہ وکړه یو دبل سره د مړے د وستۍ او د بنے خپلولۍ نو د وه لیندے به ۓ راوړے او موتی د هغوبه ۓ یوځائ و نیوه په لاسونو خپلو کښ او یو غښے به ۓ له د وا ړه نه په یوځل و وینشت او دا کار به ۓ کولو د دے د پاره چه ځما او ستا په مینځ کښ دا سے د وستی شوچه یو په کوم کار خفه کیږی نو هغه بل به هم په هغه کار خفه کیږی نو الله نړۍ والے د دے پیغمبر په د ے شان بیان کړ چه په کوم کار زۀ خفه کیږم په هغه به پیغمبر ۴ هم خفه کیږی او په کوم کار چه پیغمبران ناراضه کیږی په هغه به الله هم ناراضه کیږی او څوک چه د وست د الله وی هغه به د وست د پیغمبر وی او څوک چه د وست د پیغمبر وی هغه به د وست د الله وی. غرض دا دے چه د وستی دیوله دے د وا ړه نه د وستی د هغه بل د ه او د شمنی دیوله د وئ د شمنی دبل د ه۔

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ⑪ د روغ نۀ و و ویلی زړۀ په هغه څیز کښ چه لیدلی ۓ و وغرض دا دے چه ربنتیا ویلی و و زړۀ د پیغمبر په هغه څیز کښ چه لیدلی ۓ و و نو په دے لید لی شوی کښ خلاف دے چه هغه جبریل ۴ و و لکه چه و یلی دی ابن مسعود ؓ او بی بی عائشے ؓ او ابن عباس ؓ وائی چه هغه لیدلے شوے الله تعالی و و چه و لیدۀ پیغمبر ﷺ په ستر کو د زړۀ سره د وه ځلے او انس ؓ او احسن ؓ او عکرمه وائی چه و لیده محمد صلے الله علیه وسلم الله تعالی په ستر کو د سر سره او احقر العباد وائی چه د دے د ړے د وا ړه معنو هیڅ مخالفت نشته و لے چه د ا ر وا د ه او د هیڅ سړی عقل نۀ منع کوی د اخبرۀ چه پیغمبر لیدلے وی جبریل ۴ او الله تعالی به ستر کو د سر سره او چه ستړے و وینی یو شے په ستر کو سره نو معلوم کړی او یو هشی په زړۀ کښ نو د هغه لیدل شو په ستر کو د زړۀ سره اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ⑫ ایا تاسے جګړه کوی له پیغمبر ﷺ

سرہ پہ ھغہ څیز کښ چہ دۀ لیدلی دی یعنی ھرڅۀ چہ دۀ لیدلی دی او ډیر وائی ھغہ حق دی
وَلَقَدْ رَاٰهُ اوخامخا پہ تحقیق سرہ لیدلے دے و محمد صلے اللہ علیہ وسلم جبریل علیہ السلام نَزْلَةً
اُخْرٰى (۱۳) بل کلے عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى (۱۴) پہ نزد دھغے بیرے چہ خلاصیږی ھغے تر علم د
مخلوق عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى (۱۵) پہ نزد دھغے دے ھغہ جنت چہ نوم ئے ماوی دے۔ ولے
چہ ماوی ځائ تہ وائی او ھغہ ځائ دے د پرھیزگارانو یا دار واخود شہید انو اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ
مَا يَغْشٰى (۱۶) ھغہ وخت پتہ کړے وہ بیرہ ھغہ څیز چہ پتہ کړے وہ یعنی ولید ۀ پیغمبر علیہ السلام
جبریل علیہ السلام پہ ھغہ وخت د پټ والی د بیرے کښ ھغہ پتونکے د بیرے څۀ وو یو
ټولے لوئے وو د ملایکو نہ چہ عبادت ئے کولو ھغے څخہ او ویلے شوی دی چہ پتہ کړے وہ ھغہ رنہ
یو فرښتہ د سر و زرو مَا زَاغَ الْبَصَرُ نۀ و ګرځیدلے نظر د رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم یو طرف
تہ بل طرف تہ لہ لیدلو د ھغہ څیز و نہ چہ دۀ تہ حکم کړے شوے وو یہ لیدلو د ھغوی سرہ
وَمَا طَغٰى (۱۷) اونہ و د تیر شوے دے لہ ھغے څیز و نو نہ چہ دۀ تہ حکم کړے شوے و و د لیدلو
د ھغۀ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى (۱۸) خامخا پہ تحقیق سرہ لیدلے وے دۀ نبو د رب ددۀ
نہ ډیرے لوی یعنی ھغہ لوی لوی نبئے چہ وخیژ ولے شۀ دے آسمان تہ نوے لیدہ ھغہ چہ
پہ اسمان کښ وو چہ ھغہ څۀ شے وو چہ عرش او کرسی وہ او سدرۃ المنتھی وہ او نور لہ
دے نہ ھم زیات څیز و نہ ئے ولیدۀ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى (۱۹) ایا لیدلے دے تاسے لات او
عزیٰ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى (۲۰) او منات دریم نو خبر را کړئ مالرہ د د رے وا رہ و بتانو چہ
تاسے عبادت کوئ د ھغوئ بے د اللہ نہ چہ دوئ لرہ شتہ دے څۀ قدرت او لرے والے ف
نو دا لات بت و و د ھغہ تیے چہ نوم ئے ثقیف وو د طائف پہ زمکہ کښ او ویلی شوی دی چہ
دا بت پہ نخلہ کښ وو نوم د یو ځائ دے قریبیشو دۀ عبادت کولو او عزیٰ بت و و د عطفان
قبیلے او دا یوہ ونہ وہ چہ دوئ بہ ئے عبادت کولو نو پیغمبر علیہ السلام خالد رض ورتہ ولیږلہ
چہ ئے وخکلہ ھغہ۔ او منات یو کانړے و و چہ عزیل قبیلے او خزاع قبیلے بہ د ھغہ عبادت
کولو۔ دا بیان د بتانو پہ مدارک کښ دے او پہ تفسیر جلالین کښ دا سے ذکر شوی دی چہ دا

درے وارہ بتان وو دکانړی چه مشرکانو به د دوئ عبادت کولو او ویل به ئے چه دوئ به شفاعت او سفارش وکړی ځمونږه او خلاص به کړی مونږ د عذاب د الله به هرکله چه دوئ به ویل چه ملائکے لونړه د خدائ دی او سره له دے چه دوئ به لونړه بدے ګنړلے تړے حده چه به دچا لور وشوه نو ژوندی به ئے ښخه کړه نو الله تعالیٰ رد وکړه د دوئ او وے ویل اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ﴿۲۱﴾ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ﴿۲۲﴾ ایا تاسے لړه هلکان شوا او الله تعالیٰ لړه لونړه د اقسمت دے کړ یعنی اے کافرو تاسے برابر ویش و نه کړو چه تاسے سره له پلیتی او د خوارئ خپلے الله تعالیٰ ته نسبت کوئ د لونړو سره له لویئ او د بے پروائ ډهنه خیز او پاڼه ئے له هر عیبه د هغه خیز چه هغه خیز تاسے لائق نه ګڼئ د ځانو خپلو چه هغه لونړه دی اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ نه دی دا چه تاسے ئے بولی په خدائ سره مګر نومونه دی چه تاسے اینبی دی د پاره د هغوئ تاسے او پلرونو تاسے نه دے لیږلے الله په دے سره هیڅ حجت او دلیل اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ نه تابع کیږی دوئ مګر د ګمان او د هغه خیز چه غواړی نفسونه د دوئ یعنی هر څه چه بنا سُسته کاندے دوئ ته شیطان نو په سبب د پلیتئ خپلے سره تابع شی د هغه که د اعبادت د بتانو یا نور په مثل د دے پلیتئ د پیرے ولے چه فکر ونه د دوئ پلیت دی او خبرے د الله پاکے دی او رښتیا نه نو دوئ وګورځوی له هغے نه که چه الله وائی وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿۲۳﴾ او خامخا په تحقیق سره راغلی دی دوئ لړه له ربه د دوئ نه لاربنود ل یعنے الله تعالیٰ نازل کړه یو کتاب د پیر ښه بیانه او د پیر اسان په یو پیغمبر باندے چه هغه د پیر ښه بیانونکے دے له تولو بنی ادمو او له تولو پیریانو نه بلکه له تولو پیغمبرانو نه سره له دے چه څوک په اصل کښ بدبخت و و نو هغه ونه مانه او وے ویل چه دا قرآن خو د پیر ګران دے او مونږه پرے نه پوهیږو وَاَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾ ایا دی سړی لړه هغه چه دے غواړی معنیٰ دا ده چه دۀ لړه به نه شی هغه چه دے ئے خواهش کوی نو داهسے بدګمانی ده چه اچولے ده دۀ ته شیطان چه شفاعت د بتانو دے او انکار دے له قیامت او حساب او جزا ورکولو نه فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ پس

خاص د پاره د الله دے آخرت او دنیا نو مالک نه دے هیڅوك په دے دواړو کښې دهیڅ شی ملکر په حکم د الله سره اونۀ به مالک شی چرے به له رضا د هغۀ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى (۲۶) او دپيرے دی له ملائکو نه په اسمانونو کښې چه د دغه به ونۀ کاندې شفاعت د دوئ یو شے له عذاب نه اونه په نفع ورسوی مګر پس له هغې نه چه حکم ورته وکړی الله د شفاعت د پاره دهغه چا چه وغواړی الله او رضا دوهې د دۀ نو ملائکے سره له بزرګئ او دپروالی د دوئ چه د ټولو شفاعت نۀ قبلیږی بے له حکم د الله نه نو بنا نو ټه ثۀ امید دے اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى (۲۷) په تحقیق سره هغه خلق چه ایمان نۀ راوړی په اخرت او باور نۀ کوی په پورته کیدلو له قبرونو نه خامخا نوم ښدی دوئ هرے یوے ملائکے نوم دښځے ولے چه وائی دوئ چه ملائکے لونړه دی د خدائ نو هرے یوے ته ئے نوم کیخودۀ بنځه وَمَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ او نشته دے دوئ لره په دے باندے علم یعنی دوئ علم په الله باندے نشته نو حُکمے ملائکے لونړه وائی اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا (۲۸) نۀ تابع کیږی دوئ مګر د ګمان او په تحقیق ګمان نه نفع کوی له حق نه دهیڅ شی یعنی دوئ تابع کیږی صرف د ګمان او نۀ ګوری حکم شرعی نو حُکمه وائی هر کفر چه په خولے ئے راشی لکه ویل شو ملائکو ته لونړه دخدائ فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا پس مخ وګرځوه ته له هغه چا نه چه هغه ګرځیدلے دے له ذِکره حُمونږه یعنی هغه څوك چه هغه ګرځیدلے دے له قرآن اوله ایمانه اوتابع شوے دے د ګمان خپل هغه لائق نۀ دے د ګفتګو وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا (۲۹) اونۀ دی اراده کړے هغۀ مګر ژوند دپرنا کار اونزدے هلاك ته ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ دا غور کول د دنیا اورضا په دے سره ځائ د رسیدلو د علم دوئ دے چه نۀ تیریږی له دے نه علم د دوئ اخرت ته اوداد دے بدشے دے چه پناه غوښتے وه له دے نه رسول الله صلے الله علیه وسلم او ویلی وو اللهم لا تجعل الدنیا اکبر همنا ولا مبلغ علمنا یعنی اے الله مګر زه دنیا لوی مقصود حُمونږه اونه ځائ د رسیدو د علم حُمونږه اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى (۳۰)

په تحقیق سره رب ستا د پیر عالم دے په هغه چا چه گمراه شوے دے له لارے د الله تعالی نه او هغه د پیر عالم دے په هغه چا چه په لارے سمے دے نو چه هغه د پیر عالم دے په دواړو فرقو نو جزا به ورکوی دوئی لره د کار ونو د دوئی او نیک وی او گه بد وی وَلِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ او خاص الله لره دی هغه چه په اسمانونو کښ دی او هغه چه په زمکه کښ دی لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰی ﴿۳۱﴾ د پاره دے چه جزا او درکړی هغه چا لره چه بدی ئے کړے وی د هغه شی چه دوئی کړے دی او جزا او درکړی هغه خلقو لره چه نیکی ئے کړے وی دنیکۍ معنیٰ داده چه پیدا کړے دے الله د اخلاقو چه جزا او درکړی نیکو کارانو بد کارانو لره موافقت سره له کارد هریو ولی چه بادشاه لائق دے د پاره د مدد د دوستانو او د قهر په دشمنانو الَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ کَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ط هغه دی چه ځان ساتی له لویو گناهونو نه او له هغه لویو گناهونو نه چه ظاهروی پلیتی او بے حیائی د هغو لیکن وارپاڼ گناهونه لکه نظر کول یا بنکول ورته به وبخښلے شی گه چرے ځان وساتی له لویو گناهونو نه او لویۍ گناهونه اگرچه د پیردی لیکن له پورلونه لوئی شرك دے له الله سره او نزدے ورته قتل د مؤمن دے په ناحقه او زنا ده او لواطت دے چه بدکاری ده د نرله نر سره او څښل د شرابو او گواهی د دروغو او خوړل د مال د یتیم په ناحقه او جادوکول او بنکځل یا گوښځه تو په زنا سره او مخالفت له مور او پلار نه او تیښته له جنګ د کافرانو نه او خوړل د سود او بغیر له دے نه هم د پیردی إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ط په تحقیق سره رب ستا فراخ دے د بخښنے نو بخښنه کوی او توبه قبلوی که څوك توبه وکړی او بخښنه وغواړی په تفسیر جلالین کښ دے چه گنې خلقو ویل چه نمونځونه حمونږه او روژے حمونږه د پیرے بنائسته دی نو نازل شه دا آیت. هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِیْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ج فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ط هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰی ﴿۳۲﴾ الله د پیر عالم وو په تا سے باندے هغه وخت چه پیدا ئے کړئ تاسے له زمکے نه او هغه وخت چه وئ بچی په گیډو د میندو ستاسو کښ نو مهٔ پاکوئ نفسونه خپل او په زړه کښ مه تیروئ چه حمونږه عملونه د پیر بنهٔ دی او بل چا ته ئے هم مه ظاهروئ ولے چه هغه د پیر عالم دے نوستاسے د لافو ته څهٔ

حاجت دے جزا به درکړی تلے لره نو ولے تاسے ثواب نه خپل په دے کار ونو سره خرابوئ
روایت دے چه یو کافر تابع شوے وو د پیغمبر علیه السلام نو پیغور ورکړهٗ هغهٗ لره کافر اونوچه
تهٗ گمراه شوے نو هغه وویل چه زهٗ ویریدم له عذاب د الله نه. پس هغه چا چه پیغور ورکړے
وو ورته وویل چه زهٗ به پورته کړم عذاب ستا او دومره مال مالرته راکړه اوله دین د محمد
(صلی الله علیه وسلم) نه وګرځه نو هغه سړے بیرته کافر شهٗ اوخهٗ مال ئے ورلره ورکړو
اوخهٗ ئے ورنه کړو نو الله تعالی په بدئ دهٗ کښ وویل اَفَرَءَيْتَ الَّذِیْ تَوَلّٰی ﴿۳۳﴾ وَاَعْطٰی قَلِيْلًا
وَّاَكْدٰی ﴿۳۴﴾ ایا لیدلے دے تا هغه سړے چه وګرځیدهٗ له ایمانه او ورئ کړه منکری خپل تہ
لږ او منع ئے کړه نو دمال اَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰی ﴿۳۵﴾ ایا دهٗ څخه دے علم د غیب پس
دے ئے وینی یعنی دے پوهیږی په دے خبره چه که ما ته څوك ضامن شی د عذاب د الله تعالی
نو ما به خلاص کړی له هغه نه اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِیْ صُحُفِ مُوْسٰی ﴿۳۶﴾ وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِیْ وَفّٰۤی ﴿۳۷﴾
ایا نهٗ دے خبر کړے شوے په هغه څیز باندے چهٗ وو په پانړو د موسیٰ کښ او په پانړو د ابراهیمؑ
هغه ابراهیم چه پوره کړے ئے ووحکم درب خپل په ورکولو د خان او په پرېښودلو د مال او د
ملک سره او د وکولو د هغوئ خپل سره د یارانو د حلالولو او په پانړو د ابراهیم او د موسیٰ علیهما
السلام کښ د اخبره وه اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی ﴿۳۸﴾ چه پورته به نهٗ کا پورته کونکے بار د بل
معنی دا ده ایا نهٗ پوهیږی د اولید په هغه خبره چه لیکلے شوے وو په پانړو د موسیٰ او د ابراهیم
کښ او کهٗ دے خبر وے نو کافر شوے به نهٗ وو په خوښے د یو د بل وغړ تر سړی او بل خبره په هغے
کښ دا وه وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی ﴿۳۹﴾ او چه نشته مے سړی لره مګر هغه چه دهٗ کړی
وی. وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰی ﴿۴۰﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰی ﴿۴۱﴾ او په تحقیق سره سعی د
دهٗ او کار دهٗ زر دے چه وبه لیدے شی پس جزا به ورکړے شی سړی لره د کار خپل بدله
پوره وَاَنَّ اِلٰی رَبِّكَ الْمُنْتَهٰی ﴿۴۲﴾ او په تحقیق رب ستا ده انتها او خلاصوالے د هر شی یعنی
دا ټول خلق به وګرځی هغهٗ ته وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰی ﴿۴۳﴾ او په تحقیق سره هغه خندوی
او ژړوی وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ﴿۴۴﴾ او په تحقیق سره هم هغه وژنی او ژوندی کوی

وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ او په تحقیق سره هم هغهٔ پیدا کړے دے جوړه نر او
بڅه مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾ له منی نه چه وغورځولے شی په رحم کښ وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ
الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ او په تحقیق سره هم په هغه باندے پیدا کول دی دبل نو پیدا به کاندی تاسے
په آخرت کښ نوجزا به درکړی تاسے لره موافق دکارستاسے وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿۴۸﴾ او په
تحقیق سره هم هغه غنی کوی او اصل د مالونو ورکوی وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾ او په
تحقیق سره هم هغه دے رب دشعرٰی . شِعرٰی یوستوره ده وچه عبادت کاوُ وحزاعود دے
او دوی تابع شوی وو دا ابوکبشه چه دے مخالف وو له نورُ عرب ونه چه هغوی عبادت کولو د
نورُ ستورُ او دهٔ شروع کړهٔ دشعرٰی عبادت نوهر کله چه رسول الله دین د الله تعالیٰ راوړهٔ
مخالف له عقید و دوی نه نو ویل دے عرب و پیغمبرٔ ترچه دے ابن کبشه دهٔ وَاَنَّهٗ اَهْلَكَ
عَادَا ِۨ الْاُوْلٰى ﴿۵۰﴾ او په تحقیق سره هغه هلاک کړے دے عاد پر و مخے چه هغه قوم دهودٔ و
او هغوئ اولاد پاتے شوے وو چه هغه عاد دویم شوچه قوم دصالح دے وَثَمُوْدَ فَمَآ اَبْقٰى ﴿۵۱﴾
اوهلاک کړهٔ الله تعالیٰ ثمودیان نو باقی ئے پرے نهٔ خودل له دوئ ذهیڅوك وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ
اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿۵۲﴾ اوهلاکئے کړهٔ قوم دنوح پخوا له دوئ نه په تحقیق سره وو
دوئ ډیر ظالم او ډیر سرکش. ولے چه نوح علیه السلام ډیر عمر تیر کړهٔ په دوئ کښ او دوئ سره
له نه ایمان په دهٔ باندے ډیر ضرر ورسول دهٔ ته اوے وهلو ډیر کُلے وَالْمُؤْتَفِكَةَ
اَهْوٰى ﴿۵۳﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿۵۴﴾ اوهغه کلی اړولی شوی خکته ئے راوغورځول پس پټ کړهٔ
هغه کلی هغه څیز چه پټ کړی ئے وو چه هغه کانړی وو چه ئے پرے ورولی وو پس له اړولو
نه . فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿۵۵﴾ پس په کوم یو دنعمتونو د رب ستا اے سړیه شک به کړے
تهٔ . هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿۵۶﴾ دا محمد رسول الله صلے الله علیه وسلم یو ویرونکے دے له
ویرونکو د مبنونه لکه چه هغه پیغمبران وو ویرول بهٔ ے کول له عذاب د الله نه دا ملک
داهم پیغمبر دے چه ویرول کوی اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾
نزدے شوے دے نزدے کیدونکے چه ورځ دقیامت دهٔ نشته دے هغه لره لرے کونکے چه لرے

کړی عذاب دهغه لره چه واقع شی په خلقو یا بیانو نکے وخت دهغے لره چه کله به وی یعنے دا بیانونکے هیڅ څوك نشته دے وخت دهغے لره اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾ ایاله دے خبرے نه چه قرآن دے تعجب کوئ دیاره دروغ کولو اوخاندی دیاره مسخرے کولو اونه ژاړی په اوریدلو د وعدے د ثوابونو اود عذابونو اوتلاسے غافل یئ بے خبره له هغه شي نه چه به طلب وکړے شی له تاسے نه په ورځے د قیامت فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿۶۲﴾ السجدة پس سجده وکړی خاص الله تعالیٰ لره اوعبادت وکړئ هغه لره او سجده مه کوئ دیاره دبتانو او مه عبادت کوئ دهغوئ۔

سُوْرَةُ الْقَمَرِ ۵۴ مکیه ۴۶ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۵۵ رکوعها ۳

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ نزدے شوے دے قیامت اوشخیرے شوه سپوږمئ او داخیر یدل دسپوږمئ هم یوه لویه معجزه ده له معجزو د پیغمبر نه او د اخبرو معلومیږی له حدیثه دانسۜ چه سوال وکړۀ اهل مکهٔ وله رسول صلے الله علیه وسلم نه چه بنکاره کړه موښږه ته یوه نښه د پیغمبرئ نو بنکاره ئے کړه ورته شخیریوالے د سپوږمئ دوه ګڼے داحدیث په بخاری اومسلم کښ دے او زیاتی کړے ده په ترمذی کښ داخبره چه نازل شۀ دا آیت بیهقی ویلی دی چه قریشو ولیده سپوږمئ شخیرے شوه دوه ځایه په شپه د څوارلسے وے ویل چه داسحر وکړۀ په تاسے ځوی دابی کبشه. نو وګورئ چه راشی تاسے ته مسافر ولے چه د محمد صلے الله علیه وسلم طاقت نشته چه سحر وکړی په مسافرانو نوله هر کله چه مسافران راغلل له لرے ځایونونه نو قریشو تریه تپوس وکړو نوهغوی نوله وویل چه موښږه لیدلے دے شخیری والے دسپوږمئ نو قریشو ونه مانهٔ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿۲﴾ اوګڼه چرے وګوری کافران یوه نښه اومعجزه د پیغمبر ﷺ وکړځوی اووائی چه داجادو دے قوی یا جادو دے هیشه وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳﴾ اودروغژن کوی دوئ پیغمبر او خبرے دالله او تابع شوی دی دوئ دخواهشونو خپلواوهر کار چه خیر دے اوکهٔ شر دے

یعنی نیکی او بدی قرارے نیولے دے سرہ لہ کونکی خپل پہ جنت کښی یا پہ اور کښی وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ﴿۴﴾ او پہ تحقیق سرہ راغلی دی دوئی لرہ خبرونہ د هلاك دامتونو د روغ کونکو درسولانو نوخپلو هغہ څیز چہ پہ هغہ کښی منع وہ لہ کفرہ نہ او د روغ کول وو د پیغمبرانونہ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ علم پورہ چہ هغہ پورہ وو چہ هغہ پورہ وو پہ منلو د پیغمبرانو کښی نو ونہ ما نہ هغہ خلقو چہ بدبخت ازلی وو فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿۵﴾ پس نفع ونہ کړہ ویرونکو فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ پس مخ وگرځوہ تہ لہ دوئی نہ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴿۶﴾ خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ يادہ کړہ دوئی تہ هغہ وخ چہ راوے بلی بلونکے یوخیز نا کارہ تہ چہ نہ وی لیدلے شوے پہ شان دهغہ چہ هغہ سختی د قیامت دہ پہ دے حال سرہ چہ خوارو ی نظر ونہ د دوئی راوبہ وځی لہ قبرونو كَاَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ﴿۷﴾ مُّهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ؕ گویا کہ دوئی ملخان دی خوارہ چہ جلدی کونکی او راختونکی د کړو نو نوبہ وی بلونکی تہ چہ اسرافیل دے يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾ وائی بہ کافران چہ داورځ دہ سختہ ویرہ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا د روغژن کړے وو پخوا لہ دے کافرانو د مکہ نوم دنوح پس د روغژن کړے وو بندہ ځمونږہ فَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّازْدُجِرَ ﴿۹﴾ او ویلی وو دوئی چہ لیونے دے او منع کړے شوے دے لہ دے خبرونہ پہ بنکتلو سرہ او پہ وهلو سرہ فَدَعَا رَبَّهٗۤ اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ﴿۱۰﴾ پس دہ سوال وکړو رب خپل تہ چہ پہ تحقیق زہ عاجز کړے شوے یم نو بدلہ واخلہ مالرہ لہ دوئی نہ فَفَتَحْنَاۤ اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿۱۱﴾ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ عَلٰۤى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿۱۲﴾ پس پرانستے مونږہ دروازے د اسمان پہ اوبو د یرو اړولو شویو سرہ چہ نہ بند یدے څلویښت ورځے او وُم گرځولہ زمکہ چینے چہ اوبہ ئے راجتکولے نو یو ځائے شوے اوبہ د اسمان او د زمکے پہ هغہ کار چہ مقدر وو او حکم پرے کړے شوے وو پہ اول کښی پہ دوبولو سرہ وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ﴿۱۳﴾ او پورتہ کړہ وو مونږہ دے

عہ پہ تفسیر جلالین کښی دی چہ آواز کونکے اسرافیل دے پہ جمل کښی وائی چہ وہ دیرہ بزی اسرافیل پہ کانړی د بیت المقدس نو آواز بہ وکاندی د پورتہ کیدو او بعضے وائی چہ آواز کونکے جبریل دے او پوکو نکے اسرافیل دے۔ او شہاب وائی چہ پہ یو کونکے جبریل وُ او دغہ دیرہ صحیح دہ او پہ دے باندے دے قول دا صحابو او د تابعینو پورہ شہ عبارت د جمل پہ سورۃ قٓ کښی ۱۲

په هغه بیړۍ با ندے چه صاحب د تختو نو او د میخونو وه ۔ دُسُر هغه څیز دے چه بیړۍ پرے کلکولے شی ۔ لکه میخونه یا نور څیز و نه شو چه حاجت ورته پر بوځی دجهاز والو تَجْرِیْ بِاَعْیُنِنَا جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ (۱۴) بهیدل له په خائی دلیدلو خمونږه کښی او په ساتنه او په حکم خمونږ سره داکار وکړۀ مونږه له دوئی سره دپاره د بدلے اخستلو دهغه چه کفر کړے شوے و وپه هغه باندے چه نوح ؑ وو ویعنی مونږه بنه بدله واخسته ددوست خپل وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً اوخامخا پـه تحقیق سره پریخوده مونږه هغه بیړۍ یوه نښانه اوعلامه چه عبرت واخستے شی په هغے سره مدارك اوخازن روایت کوی له قتادهؓ چه باقی پاتے کړے وه الله تعالیٰ هغه بیړۍ په زمکه جزیرے کښی اوویلی شوی دی چه وه دابیړی په جودی باندے تر هغه پورے چه ولیده اول خلق دامت د پیغمبرؑ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ (۱۵) ایا څوك شته دے یادونکی اونصیحت اخستونکی یعنی الله بیان وکړۀ دے امت ته دخبر ونو د پرو مبنو اُمتونو اود رسولانو د هغوئی او بیان ئے ورته وکړو دکارونو د هغوئی اود عذابونو د هغوئی اودکارونو پیغمبرانو اود اُمتونو او دپیغمبرانو دهغوئی صرف دپاره د رحمت اود مهربانی چیلے دے په دے امت د محمد صلے الله علیه وسلم باندے ولے چه په دے هرے یوے قصے کښی وعظ و واو په هره یوه قصه کښی ئے ورته وویل فهل من مدکر ۔ یعنی ایا شته دے څوك نصیحت اخستونکے پس نصیحت واخلی په دے سره او یادے کړی فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ (۱۶) نو څرنګه ووعذاب خمونږه او ویرول خمونږه وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ (۱۷) اوخامخا په تحقیق سره اسان کړیدے مونږه قران دپاره د پند اخستلو ایا څوك شته دے یادونکی اونصیحت اخستونکی یعنی یاد کړی دا اوپند پرے واخلی كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ (۱۸) دروغژن کړے وو عادیانو نبی خپل نو څنګه وو عذاب خمونږه او ویرول خمونږه اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا په تحقیق سره لیږلے وو مونږه په دوئی باندے باد سور یادیر سخت الو تونکے اوسخت اواز خونکے فِيْ يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ (۱۹) په ورځ د بدئی کښی چه همیشه وه بدی دهغے په دوئی باندے چه پاتے نه شۀ پکښی یوله دوئی نه اودا اخره چهارشنبه وه دمیاشتے دواړه آخرتَنْزِعُ النَّاسَ كَاَنَّهُمْ

اَعۡجَازُ نَخۡلٍ مُّنۡقَعِرٍ ﴿۲۰﴾ وخکل ئے خلق گو یا کہ دوئی بیخونہ وو دقجورو لہ بیخہ وخکلے شوے یعنے راوخکل باد اوے ویشتل پہ سرونو باندے نوجدا ئے کړہ سرہ دھنوی او پریواتہ پہ زمکہ باندے بے سرونو مړہ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِىۡ وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾ نو څرنگہ وو عذاب خُمونږہ او ویرول خُمونږہ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ﴿۲۲﴾ او خامخا پہ تحقیق سرہ اسان کړیدے مونږہ قرآن دپارہ د پند اخستلو ایا څوک شتہ دے یا د دوئی نکی او نصیحت اخستونکی یعنی یا د کړی او پند پرے واخلی۔ كَذَّبَتۡ ثَمُوۡدُ بِالنُّذُرِ ﴿۲۳﴾ د روغژن کړی وو ثمود یا نو ویرول او وعظونہ چہ اوریدلی ئے وولہ صالح علیہ السلام یا د روغژن کړی وو رسولان۔ ولے چہ صالح ئے د روغژن کړہ نو گو یا کہ ټول پیغمبران ئے د روغژن کړل ولے چہ ټول دیو اللہ پیغمبران وو او د ټولو یو دین وو نو د یود روغژن کول د ټولو د روغژن کول شو فَقَالُوۡۤا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗۤ الخ نو وویل دوئی أیا سړے لہ مونږہ نہ چہ یو دے تابعداری وکړو مونږہ دھغہ یعنی مونږہ نہ تابع کیږو د یو سړی سرہ لہ ډیرو والی خُمونږہ اِنَّاۤ اِذًا لَّفِىۡ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۲۴﴾ پہ تحقیق سرہ مونږہ پہ دغہ وخت کښی چہ تابعداری وکړو د دۂ خامخا یو بہ پہ گمراهئ او پہ لیونتوب یا پہ عذاب یا پہ اور کښی ولے چہ د سُعُر معنیٰ پہ تفسیر و نو کښی پہ دے درے واړو سرہ راغلے دہ ءَاُلۡقِىَ الذِّكۡرُ عَلَيۡهِ مِنۡۢ بَيۡنِنَا ایا غوږ څوے شوے دے ذکر پہ دہ باندے یعنی وحی نازلہ کړے شوے دہ پہ دۂ باندے چہ غوږہ کړے شوے دے دے لہ مینځہ خُمونږہ نہ پہ وحی سرہ او پہ مونږہ کښی د یر غوږہ اولائق د پیغمبرئ دے لہ دۂ نہ۔ بَلۡ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾ بلکہ دے د یر د روغژن او کبرجن دے غرض ئے دا دے چہ ځان لوئی کاندی پہ مونږہ پس اللہ رد کوی پہ دوئی او وائی سَيَعۡلَمُوۡنَ غَدًا مَّنِ الۡكَذَّابُ الۡاَشِرُ ﴿۲۶﴾ زر ئے چہ پوهہ بہ شی دوئی صبا چہ څوک دے د یر د روغژن او کبرجن چہ د روغ کوی خبرے د اللہ تعالیٰ او کبر کوی پہ رسول د اللہ باندے اِنَّا مُرۡسِلُوا النَّاقَةِ فِتۡنَةً لَّهُمۡ خامخا مونږہ لیږونکی یو د اوښے د پارہ د ازمیښت د دوئی نو مونږہ وخکل یوہ اوښہ لکہ چہ دوئی غوښتہ لہ یو کانړی نہ چہ هغہ مونږہ لائق کړے وو د پارہ د وخکلو د اوښے او سرہ لہ ئے چہ پہ جهان کښی کانړی

ډیر وو دارنګې مونږه غوږه کړو یو سړے په پیغمبرئ سره ځمونږه په کار کښ هیڅوک دخل نشی کولے اونهٔ پوهیږی له مونږه نه زیات په هغه چا چه لاتن دپیغمبرئ وی فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾ نو ګوره دوئ ته او مهلت ورکړه او صبر وکړه په ضرر ددوئ وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ۚ اوخبر کړه دوئ چه په تحقیق سره اوبهٔ ویشلے شوی دی په مینځ ددوئ کښ نو یوه ورځ د اونښے ده اوبوه ورځ ددوئ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿۲۸﴾ هر برخے ته به حاضریږی شی یعنی حاضریږی به ورته هر هغه څوک چه دچا وار وی فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ نو اواز وکړے هغوئ ملګری خپل ته نو وے نیول هغه اوښه پس پوند ے د هغے ے ووهلے یعنے په دے اواز کونکو کښ یو ډیر لوئ بدمعاش اوډیر لوی کافر وو چه نوم ئے قدار وو چه هغه په توره ووهل هغه اوښه په پوند وباندے اومړه ئے کړه فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ نو څنګه ووعذاب ځما اوویرول ځما اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً ۔ په تحقیق سره مونږه لیږلے وو په هغوئ باندے اواز یو یعنی اواز وځکهٔ په دوئ باندے جبریل ؑ په څلورمه ورځ له وژلو اوښے نه ولے چه وژل داوښے په ورځ دسه شنبے وو اوهلاک ددوئ په ورځ دخالی ووفَكَانُوْا كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ نو وو دوئ په شان ډګیاه وچے میدہ کړے د شپول جوړونکی وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ اوخامخا په تحقیق سره اسان کړے دے مونږه قرآن د پاره د نصیحت نو ایا شته څوک نصیحت اخستونکے په دے سره كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍۭ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ دروغژن کړی وو قوم د لوط علیه السلام او عظونه او خبرے د پیغمبر اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا په تحقیق لیږلے وو مونږه په دوئ باندے باد کانړی ویشتونکے یعنی مونږ لیږلے وو په قوم د لوط علیه السلام چه وے ویشتل له دوئ نه هغه چه پاتے شوی ووپس لارو لو دکلو دوئ نه یعنی مسافران چه کور ونو نه راغلل اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ۭ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾ مګر عیال د لوط پیغمبر ؑ چه خلاص کړی وو مونږه دوئ په وخت د سحر کښ یعنی لوط علیه السلام سره د دوو لونړ وخپلو او سره دهغه چه ایمان راوړے دے په دۀ نو خلاص کړه مونږه په

عه چه نوم ئے قدار یا قدار وو۔ کذا فی الجلالین ۱۲

وخت د سحر کښی له هغه عذاب چه قوم د لوط ؑ پیغمبر پرے هلاک شه چه هغه اړول دکلو او ورول دکانړوو په باد سره نِعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا د اخلاصول د لوط ؑ سره د تابعدارانو خپله نعمت و له فضله اوله مهربانګۍ زمونږه هم په دوئ او هم په نورو مؤمنانو وله چه هغوئ به پرے عبرت واخلی نو دوئ ته به فائده شی په دین هم په دنیا کښی كَذٰلِكَ نَجْزِیْ مَنْ شَكَرَ ﴿۳۵﴾ په مثل د دے نعمت اونیکۍ زمونږه سره د دوئ جزا اوبدل به ورکوو مونږه هغه چا لره چه شکر کوی یعنی هر څوك چه خدائ پو وکنړی او خبره ومنی د پیغمبر نو هغه به وِ نـهٔ عذابیږی سره د کافرانو وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾ او خامخا په تحقیق سره ویرولی وو لوط ؑ دوئ له نیولو اوله عذابولو خُمونږه نو شك وکړۀ او دروغژن وکړۀ دوئ ویل او ویرول دهغۀ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ او خامخا په تحقیق سره غوښتلی وو دوئ له هغه نه میلمانۍ دهغه دپاره د بدکارئ اوداعادت دهغه کافرانو وو فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ نو راندۀ کړۀ مونږه دوئ او وکړځول سترګے د دوئ بے خیری والی یعنی جبریل ؑ ووهل دوئ په وزر سره نو راندۀ شو دوئ او شوے سترګے د دوئ په شان د نورو مخ چه نۀ معلومیږۀ پکښی ځائ د سترګو فَذُوْقُوْا عَذَابِیْ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ پس وخکئ عذاب ځما او ویرول ځما وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ او خامخا په تحقیق سره راغلے وو د دوئ ته په وخت د صباح کښی عذاب چه ثابت وو او قرار نیولے وو په دوئ باندے ترهغه پورے چه وے رَسُوْل دوئ عذاب د آخرت ته فَذُوْقُوْا عَذَابِیْ وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ پس وخکئ عذاب ځما وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ او خامخا په تحقیق سره اسانه کړے دے مونږه قرآن د پاره د نصیحت نو آیا شته څوك نصیحت اخستونکے په دے فائده په تفسیر مدارك کښی وائی چه فائده د بیا بیا ذِکر کولو د فَذُوقُوا عذابی و نذر او د ولقد یسرنا القرآن للذکر فهل من مدکر د پاره دے چه دوئ نوی کړی په نزد هر خبر له خبر ونو ورو سبونه یادول خپل او وعظ اخستل خپل او نبه بیدارشی چه واوری بیا بیا ویل دالله وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿۴۱﴾ او په تحقیق سره خامخا راغلی وو

خپلو د فرعون لره ویرونکی چه هغه موسلی اوهرون۴ اونور پیغمبران وو او یا معنی د نذر ویرول دی کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا کُلِّهَا دروغژنے کړے هغوئ نښانے او معجزے ځمونږه ټول یعنے هغه نهۀ معجزے چه ورکړے وے مونږه موسلی لره نو دروغژنے کړے دوئ ټولے فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِیْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۴۲﴾ نو ونیول مونږه دوئ، په نیولو دیر غالب قادر سره چه هیڅوك پیدا نهٔ شه دپاره دحلاصولو د دوئ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ ایا کفار ستاسے غوره دی له دے شمار کړے شویو نه چه قوم د نوح۴ او د هود۴ او د صالح۴ او د لوط۴ او اهل د فرعون دی نو دا کفار ستاسے غوره دی په قوت او په زور د دنیا کښ اوکم دی په کفر او په گناه د پیغمبر کښ نهٔ ده دارنګے بلکه دوئ دیر بد دی له هغوئ نه ولے چه دوئ کافر شو په دیر لوئے پیغمبر اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِی الزُّبُرِ ﴿۴۳﴾ او کهٔ تاسے لره خلاصے دے په کتابونو ورومبنو کښ د دے خبرے چه څوك کافر شی له تاسے نه او دروغژن کړی پیغمبران نو هغه به په امان وی له عذاب نه نهٔ ده دارنګے بلکه بدله به واخستے شی له دوئ نه دکفرد دوئ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ جَمِيْعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿۴۴﴾ ایا ویلی ابوجهل په ورځ د بدر کښ چه په تحقیق مونږه جمع یو بدل اخستونکی له هغه چا نه چه مخالفت کوی له مونږه نو نازل شهٔ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ ﴿۴۵﴾ داشان نزول په جلالین کښ دے په جمل کښ روایت دے له عمرؓ چه هرکله چه نازل شهٔ دا آیت زهٔ نهٔ پوهیدم چه دا به کله وی هرکله چه ورځ د بدر شوه ولیدم ما رسول دخدائ صلے الله علیه وسلم چه وائے غوسته زغره وے ویل سیهزم الجمع نو پوهه شوم زهٔ په معنیٰ دا آیت چه هغه جمع ما ته دا ده ـ بیضاوی ـ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ ﴿۴۶﴾ بلکه قیامت ځائ دوعدے دوئ دے پس له بدر نه او قیامت لویه بلاده او دیره ترخه ده په عذاب کښ له دنیا نه ـ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِیْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۴۷﴾ په تحقیق سره مشرکان په کمراهئ او په اورکښ دی يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِی النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿۴۸﴾ هغه ورځ چه راخکله شی دوئ په اورکښ په مخونو باندے نو وبه ویلے شی دوئ ته چه وڅکئ عذاب د دوزخ اِنَّا كُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿۴۹﴾ په تحقیق سره هرشے پیدا کړے دے مونږه په اندازے سره ـ معالم په

اسناد خپل سره روایت کړے دے له عبد الله نه چه خوئ د عمرؓ وو او هغه خوئ دعاص وو
چه ویلی دی رسول صلے الله علیه وسلم چه رب العالمین لیکلی دی اندازے د ټول مخلوق
پخوا پیدا کولو د اسمانونو د زمکونه پنځوس زره کاله او د عرش د الله تعالی په اوبو باندے
معالم روایت کوی له طاوس یا نی نه چه ویلی دی هغه چه اصحابوؓ د رسول الله صلعم ویل چه هر
څیز په قدر د الله سره دے اوما اوریدلی دی د عبد الله بن عمرؓ نه چه ویل هغه چه ویلی دی
رسول د خدائ صلے الله علیه وسلم چه هر څیز په قدر سره دے ترهغے پورے چه عاجزکیدل او
دانا ئی اوبیا معالم روایت کړے دے د علیؓ نه چه ویلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤمن
به نه شی بنده ترهغے پورے چه د منی او باور وکړی په څلور وخبرو- گواهی ورکړی چه نشته
الله مګر یودے او په تحقیق زهٔ رسول د الله یم چه لیږلے یم په حق سره او ایمان راوړی
په پورته کید لو پس له مرګه وَمَآ اَمۡرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمۡحٍۭ بِالۡبَصَرِ ﴿۵۰﴾ اونهٔ دے امر زمونږ
د پاره د یو شی چه اراده وکړو مونږه مګر خبره یوه چه ورته وو اوبو چه شه نوشی په شان
د رپ لولو د سترګو یعنی لکه چه رپوی یو له تاسے سترګه خپله او ابن عباسؓ وائی چه معنی دا ده
چه حکم څومونږه په راتلو د قیامت سره په جلئ کښ دا رنګه دے لکه د رپ د سترګے وَلَقَدۡ اَهۡلَكۡنَاۤ
اَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ﴿۵۱﴾ او تحقیق هلاک کړی وو مونږه هغه کسان چه په مثل ستاسے
وو په کفر کښ دا متو نو تیر و شویو نه پس شته څوك نصیحت قبلو نکے چه ایمان راوړی اوځان
وساتی له کار ه دهغوئ نه وَكُلُّ شَىۡءٍ فَعَلُوۡهُ فِى الزُّبُرِ ﴿۵۲﴾ اوهر هغه څیز چه کړے وو هغوئ له
نیکئ او له بدئ نه لیکلے شوے دے په عملنا مو دهغوی او په لوح محفوظ کښ وَكُلُّ صَغِيۡرٍ وَّكَبِيۡرٍ
مُّسۡتَطَرٌ ﴿۵۳﴾ اوهر وړوکے اولوئ د خلقو نه او د کارونو او د نیتونو او د اجلونو د دوئ نه لیکلے
شوے دے اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿۵۴﴾ په تحقیق سره خان ساتونکی له کفره اوله بدو
کارونو اوله بدو خصلتونو نه په باغونو او په ولو کښ به وی یعنی ولے اوباغونه دجنت چه
له اوبو او د شرابو او د دیبو او د کلبینو دی فِىۡ مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِنۡدَ مَلِيۡكٍ مُّقۡتَدِرٍ ﴿۵۵﴾ په مجلس
د رښتیا ؤ اوښائستګی کښ به وی چه نهٔ به وی په هغه کښ عبث خبره اوګناه اوخالی به

وی له دروغونه په نزد د بادشاه چه لوئی قدرت لرونکے دے

سُوْرَةُ ۵۵ الرَّحْمٰن مدنیه ۹۷ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۷۸ رُكُوْعُهَا ۳

الرَّحْمٰنُ ۱ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۲ رحمٰن بنودلے دے قرآن هغه چا ته چه رضائے وی په ده سورت کښ خدائ تعالیٰ بیان کړی دی نعمتونه په قسمونو قسمونو سره او لوئی نعمت یکښ نعمت د دین وه چه قرآن دے نوهغه ئے مقدم کړه په پټولو باندے او په دخولو د قرآن چه هغه لوئی نعمت دے ذکر د پیدا کولو د انسان د پاره د دے دے چه هر سړے پوهشی چه پیدا کول څه د پاره د دین دی او دین څه په دے قرآن کښ دے اوشان نزول د دے آیت مفسرانو په دے شان ویلے دے چه کافرانو وویل چه مونږه نه پیژنو رحمٰن. نو الله تعالیٰ وویل چه رحمٰن هغه دے چه خولے ئے دے خلقو ته قرآن او بعضو ویلی دی چه شان نزول ئے دا دے چه کافرانو وویل انما یعلّمه بشر یعنی بله ده نه ده چه خودلے دے د قرآن ده ته سړی نو الله تعالیٰ دے چه په جواب کښ وویل چه رحمٰن بنودلے دے قرآن خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۳ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۴ پیدا کړے ئے دے سړے. ابن عباس رضی الله عنه وائی چه مراد له سړی نه بابا آدم دے او یا اول بنی آدم دی بنودلی ئے دی ده ته ظاهر دل دهغه شی چه په زړه کښ وی په ژبه یا په قلم سره یا په اشارت اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۵ نمر او سپوږمئ دروهی په حساب معلوم سره او پټ لحاظ یونو معلوم وکښ چه نه تیریږی له هغه نه وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۶ او هغه بوټی چه پندئ نه لری او هغه بوټی چه پندئ نه لری سجدے کوی او سجدے د دے دغه سړے د دوئ دے او قبلول دی د کار د خدائ یعنی د حکم دهغه او یا سجده د دوئ هغه ده چه خدائ پرے پوهیږی او بل څوك پرے نه پوهیږی لکه ویلی: ی الله تعالیٰ وان من شیء الا یسبح بحمده ولکن لا تفقهون تسبیحهم یعنی نشته دے هیڅ شے مګر هغه پاکی وائی د خدای لیکن تاسونه پوهیږئ په پاکئ ویلو هغے هم دا رنګ نه پوهیږی په سجده دهغوئ مګر یو الله تعالیٰ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۷ او آسمان اوچت کړے دے هغه او ایخے ئے ده تله د پاره د دے چه تاسے انصاف وکړئ په ده سره اَلَّا تَطْغَوْا

فِي الْمِيْزَانِ ﴿۸﴾ چه تاسے سرکشی ونهٔ کړئ او تیرونهٔ شی له اندازے نه په تلو کښی وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ﴿۹﴾ اوبرابر کړئ تول په انصاف سره او نقصان مهٔ کوئ په تلو کښی وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ﴿۱۰﴾ اوزمکه ایښے ده الله تعالیٰ د پاره د خلقو چه تولو چه دی ارام وکړی په دے کښ فِيْهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ﴿۱۱﴾ په دے کښ قسم قسم میوے دی چه تاسے خوندونه اخلئ په هغوسره اود اسے نعمتونه دی چه شمارستاسو کښی نهٔ راځی اوکهجورے دی صاحب دلستونې وچه په هغو کښ ساتلے شی دانے دوئ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾ او په دے کښ دانے دی صاحب دبوسو او په دے کښ رزق دے اوچا ترجمه کړے ده ریحان په خو شبویئ سره فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ پس په کوم یو د نعمتونو د رب ستاسے باندے اے پیریانو او سړیو تاسے به دروغ وایئ اومنکر به شئ له هغهٔ یعنی لوئ لوئ نعمتونه د خدائ چه ذکر کړے شوی دی پخواله دے ایتونو اویا ذکر کیږی پس له دے نه یعنی الله تعالیٰ ذکر کړهٔ دا ایت یو د پرش حُله صرف د پارهٔ د ثابتو لو د نعمتونو او د کلکو لو د کُښ خبرے چه تاسے یاد ولری دا نعمتونه جلالین روایت کوی له حکیم رح چه هغه روایت کړے دے له جابر رض چه وویل جابر رض چه ولوست رسول الله صلے الله علیه وسلم مونږته سورهٔ رحمٰن تر هغه پورے چه ختم ئے کړهٔ پس وے ویل څهٔ چل دے چه تاسے ونیم چپ. پیریان د هغوره وولے تاسے نه په جواب کښی ما نه وولے په هغوئ باندے دا ایت یو کرت مگر دوی وویل ولا بشیء من نعمك ربنا نكذب فلك الحمد او نه په هیڅ شی د نعمتونو ستا اے ربه خُصونږ دروغ وایو پس خاص تا لره ثنا ده یعنی هر حُله دوئ پس د لوستو دے قول نه د اجواب راکړهٔ مالوهٔ - په جُمل کښی وائی چه معلومه شو « له دے نه د اخبره چه سنت دی اوریدونکی د قرآن چه د اجواب د ورکړی د یونکی لره خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿۱۴﴾ پیدا کړهٔ الله تعالیٰ سړے چه آدم علیه السلام دے له خټے د چه نه. چه آواز ترے وخوت لکه کودرے وَخَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿۱۵﴾ پیدا کړهٔ پلار د پیریانو له لنبو خالصو نه چه لوګے پکښی نهٔ وو له اور نه او ویلی شوی دی چه ابو الجان ابلیس دے فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ پس په کوم یو د نعمتونو د رب ستاسے اے پیریانو

اوسرپوتاسے بہ دروغ وایئ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَالْمَغْرِبَيْنِ (۱۷) مالک اوپالونکے دوہ وڅایونو دختود نمراد دسپور. ئی دے. اومالک اوپالونکے دوہ وڅایونو پریوتودے. یعنی دوہ ځایددختود اودڈمی اودوہ ځایدپریوتودداوړو فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ (۱۸) پس پہ کوم یو دنعمتونو دربستاسوتاسے بہ دروغ وایئ اے پیریانواوسړو مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ (۱۹) بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ (۲۰) اوړان کړی دی (اللہ دوہ دریابونہ چہ یوتربلدے اوبل خوبددے چہ لکی یولہ بل سرہ چہ نشتہ دے پردہ پہ مینځ دوئ کښی پہ ظاہر نظرکښی بلکہ پہ مینځ دوئ کښی پردہ دہ دقدرت دالله نودوئ سرکښی نشی کولے یوپہ بل باندے چہ بدلہ کړی مزہ یودبل فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ (۲۱) معنیٰ دے کلما تولہ اول نہ معلومہ کړہ مکررکولودمعنیٰ تہ څہ حاجت دے يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ (۲۲) وُزی لہ دے دواړو نہ لوئ لوئ مرغلرے اووړے وُڅی خویوائے لہ تروو نہ. لیکن ہرکلہ چہ دواړہ سرہ لکی نودا سے شولکہ یوځکئ وویل چہ وزی لہ دے دواړو نہ. فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ (۲۳) وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَـَٔاتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ (۲۴) اوخاص دپارہ دالله دی بیړئ تلونکے پورتہ کړے شوے دی بعضے لرکی ددوئ پہ بعضو باندے اواوچتے کړے شوی دی دوئ پہ دریاب کښی لکہ غرونہ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ (۲۵) كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ (۲۶) وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ (۲۷) ټول هغہ چہ دی پہ دے زمکہ باندے هلاکیدونکی دی اوباقی بہ پاتے شی ذات دربستاچہ صاحب دلویئ اودلویئ ورکولودے چہ لوئی ئے ورکړے دہ پیغمبرانواواولیاؤ اودوستانو خپلولرہ پہ حدیث کښی دی اَلظُّوْا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ یعنی لازم ونیسئ تاسے پہ دئ ذکرسرہ اومہ ئے پریږدئ مدارك روایت کوی چہ رسول الله صلی الله علیہ وسلم تیریدہ ئے پہ یوسړی چہ هغہ مونځ کاوہ اوویل ئے. یاذ الجلال والاکرام نو رسول الله صلی الله علیہ وسلم دغہ ووِیل چہ پہ تحقیق سرہ قبلول وکړے شو تالرہ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ (۲۸) يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ (۲۹) سوال کوی دالله نہ هغہ څوك چہ پہ

عہ فی مجمع البحار اظهروا یا ذا الجلال والاکرام ای التزموہ واثبتوا علیہ واکثروا من قولہ من الظ بہ اذ لازم فی القاموس الظ لازم داومہ واقام ۱۲ — کتبہ محمد صادق زهیر چیرهارے د اکوال

اسمانونو اوپه زمکو کښ دی یعنی ملائکے اوسړی اوپیریان ۔ نونهٔ دی بے پرواه له فضل دهٔ نه مخلوق دا اسمانونو اود زمکو ټول ۔ ابن عباسؓ ویلی دی چه مخلوق دا اسمانونو سوال کوی له دهٔ نه د بخښنے اومخلوق دزمکے سوال کوی له دهٔ نه د رزق اود بخښنے دواړو هره ورځ دے په یوکار کښ دے دا ددے په یهودیانو باندے چه هغوئ ویل چه دے په ورځ دخالی سترے ستومانه پروت په عرش باندے اوارام ئے وکړهٔ له هغه ستری کید لونه په پیدا کولو د مخلوق سره ۔ مدارك روایت کوی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ولوست دا ایت نو وویلے شودهٔ ته چه څهٔ دے هغه شان نو وویل پیغمبر صلعم چه شان د الله دا دے چه بخښنې گناهونه اولرے کوی غم او پورته کوی یو قوم اوښکته کوی بل ۔ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَیُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ زه دے چه موښه به فارغ شوتاسوته اے پیریانو اوسړو یعنی ورځے په نزد حُماد وه دی په دنیا کښ خویوشان ووچه هرهٔ ورځ مادرے لښکرے له خپله حُایه راوښکے یوله شاد بلرونونه اود سینے د هیندونه رَحِم تر اودونُم لښکرم راوخکهٔ دنیا ته او د ریم رم له دنیا نه روانو ۔ آخرت ته یا په مثل دډے نورکارونه اوبوه ورځ د آخرت ده په هغه کښ نشته دے مگرجزا ورکول ستاسے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾ یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾ اے ټولیه د پیریانو اوسړو که چرے طاقت وی ستاسے د وتلو پس وُتختئ له اطراف د اسمانونو اود زمکے نه چه خلاص د حکم خُمانه ۔ وبه نهٔ وزئ تاسے مگر په قوت سره اوقوت نشته تاسے لره نوخدائ تعالیٰ پوهه داخلق چه تاسے نهٔ شئ خلاصیدئ له حسابه ۔ ولے خلاصیدهٔ د بادشاه په دوه طریقو سره کیږی یا خود وی چه د سړی زور روی چه مقابله وکړی د بادشاه سره اود ا خو معلومه ده چه زور خو نشته دے دویمه طریقه دا ده چه سړے وُتختی ۔ نو هغوته الله تعالیٰ وویل چه تاسے نه شئ تختیدے ۔ په مدارك کښ وائی چه وبه ویلے شی دوئ ته هغه وخت چه چاپیره شی له دوئ نه ملائکے او وے گوری دا پیریان اوسړی نو دوئ به وتختی په هرطرف چه وتختی بیا بهموی ملائکے چه راکیږی وی به دوئ او وبه وائی دوئ ته چه وتختی که تختیدے شی فَبِاَیِّ

اَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۵﴾ وبیا لیږلے شی په تاسے باندے لمبه خالصه دا وراولوکی او زیږ ویلی کړے شوی چه اړولے به شی پرسرونو دوئ دواړه دا معنیٰ د نحاس. روایت کړے شوے دے له ابن عباس رضؓ نه یعنی چه راوزئ تاسے له قبرونو نه پس وبیا لیږلے شی په تاسے باندے لمبے دا وراولوکی چه راټول کړی تاسے خائ د جمع تر نوتاسے به څان منع نۀ کړے شئ له دے دواړو نه اونه د نور عذاب د اللہ نه. فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾ پس په هغه وخت کښ چه څیرے شی اسمان اوشی کل یعنی سنکاړه شی په شان د سرۀ کل لکه تیل د خونۀ او یا په شان د څرمنے سرے فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿۳۹﴾ نو په هغے ورځ کښ به څیرے شی اسمان نو سوال به ونۀ کړے شی د هیڅ سړی او د پیرۍ نه د ګناه د دۀ چا به ویل چه خدائ تعالیٰ سوکنډ خو رلے دے او ویلی ئے دی چه فوربك لنسئلنهم اجمعين. پس سوکنډ دے په رب ستا چه مونږه به سوال وکړو له دوئ ټولونه. نو جواب دا دے چه قیامت یوه لویه ورځ ده او په هغے کښ دیر ځایونه دی نو په ځینو ځینو کښ به سوال نۀ کیږی لکه اللہ تعالیٰ په دے ایت کښ وویل او په ځینو ځینو کښ به وشی لکه چه اللہ تعالیٰ په بل ایت کښ ویلی دی فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۰﴾ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ وَالْاَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ وبیا پیژندلے شی ګنهګاران یعنی کافران په نښو د دوئ سره چه تورولے د مخونو او زیږ والے د سترګو دے. نو به نیولے شی دوئ له وراندے طرفونو د سرونو او د قدمونو سره پس وبیا غور رځولے شی په او رکښ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ ﴿۴۴﴾ وبیا ویلے شی دوئ ته چه د اجهنم چه تاسے غور رځولے شئ په دے کښ د اهنه دے چه منکر کیدۀ له هغه اے کافرانو او یقین مو پرے نه کاوۀ ګرځی به دوئ په میخ د دوزخ کښ او په میخ د اوبوکړو کښ چه نهایت ته رسید لے دے ګرمی د هغے خازن روایت کوی له کعب الاحبار نه چه یوه کنده ده له کندو د دوزخ نه چه جمع کولے شی

په هغے کښ زوئ د دوزخیا نو پس غوپه به ورکولے شی د دوئ لره په هغے کښ نوجدا برشی قول بندونه او رګونه د دوئ نو بیا به را وخکلے شی له هغه نه بیا به نوے پیدا ئش ورکړے شی دوئ لره او وبه غوږ ته ولے شی په اوکښ دا معنیٰ ده ددے قول دالله تعالیٰ چه تیرشوۀ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ (۴۵) چیا به ویل چه داخیزونه چه ذکر شوی دی په دے ایتونو کښ دکل من علیها فان نه تردے خُلاپورے داخو نعمتونه نۀ دی نو ولے پس دهغو یونه فبای الاء ربکما تکذبن ویل جواب دادے چه داوعظونه دی اومنع کول دی له بدوکارونو نه نو دا نعمت نۀ لوئ او فائدۀ شوله لـ طرفـ دالله تعالیٰ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ (۴۶) اوخاص دپارۀ دهغه چاچه ویریږی له ودریدلو خپلونه دوه باغونه دے درب خپل دپارۀ دحساب پس پریږدی گناه او بدکارونه یا هغه څوک چه ویریږی له ودریدو درب خپل نه په دۀ باندے چه رب خُما په ما ولاړ دے او ما وینی نو له دے ویریږے نه پریږدی گناه . ددے سړی دپارۀ دوه جنته دی یوپه سبب د ویریدے سره اوبل په سبب د پریخودو د گناه سره ترمذی له ابوهریرۀ رضؓ نه **روایت** کوی چه پیغمبرﷺ ویلی دی کۀ څوک ویریږی نو په شپه کښ ډاډ لاړشی او هر څوک چه په شپه کښ لاړشی نو خائی ته به ورسی خبر شئ تا سے چه رخت دالله گران دے او په قیمت لری او خبر شئ په دے چه رخت دالله جنت دے معالم التنزیل په اسناد خپل سره له ابی ذرؓ نه چه دۀ اووید لی وو له پیغمبرﷺ نه چه هغه وعظ کاو وپه منبر او ویل ځے ولمن خاف مقام ربه جنتن نو ما وویل اګر کۀ زنا کوی او غلا کوی نو هغۀ وویل اګر کۀ زنا کوی او غلا کوی نو پیغمبرﷺ بیا ولوست دا ایت نو بیا ما ورته وویل دوئم ځل اګر چه زنا کوی او غلا کوی نو وویل پیغمبر علیه السلام اګر کۀ زنا کوی او غلا کوی - پیغمبرﷺ بیا وویلو دا ایت نو ما ورته وویل په دریم ځل اګر کۀ زنا کوی او غلا کوی نو وویل پیغمبرﷺ اګر کۀ زنا کوی او غلا کوی په خواریدو د پوزے د ابی ذرؓ یعنی کۀ تۀ د پرخفه کیږے او ذلیل کیږے او پوزه دِ سپرلۍ کیږی

عه په تفسیر د حافظ ابن کثیر کښ دی چه دروایت کړے شوے دے له ابی ذرؓ نه چه اصحابی خاص وو د رسول صلے الله علیه وسلم چه په تحقیق پیغمبر صلے الله علیه وسلم ویلی دی چه هغه څوک چه ویریږی له رب خپل نه هغه نه زنا کوی او نه غلا کوی ۱۲ منه رحمه ربه ۱۲

خو د پاره د ویریدو نکی دوه جنته دی فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۶﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾ چه صاحبان د خانکو دی صاحبان د خانکو ئے وی ته وویل له دے وجه چه د غه خانکے پانړے نیسی اومیوے نیسی اوله دے نه لوی لوی سوری جوړیږی. اوله دے نه میوے را تولوے شی یا هسے جنتونه چه صاحبان د رنګونو دی یعنی په رنګ رنګ میوے دی چه خټکه د دوئ نفسونه غواړی او ستړے ئے سړیږی فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۹﴾ فِیْهِمَا عَیْنٰنِ تَجْرِیٰنِ ﴿۵۰﴾ په دوئ کښ دوه چینے دی چه بهیږی هر چړته چه دوئ خوښه وی کهٔ پورته ئے خیژوی او کهٔ سنکته ئے کوزوی. ابن عباس رضی الله عنه وائی چه بهیږی پکښ د پاره د خیر او د رحمت او د عزت او د لوئی د جنتیانو له طرفه د الله تعالیٰ نه اوحسن رضی الله عنه وائی چه بهیږی پکښ اوبه صاف د دیوے نوم تسنیم دے او دیلے سلسبیل دے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۱﴾ فِیْهِمَا مِنْ کُلِّ فَاکِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿۵۲﴾ په دے دواړو کښ دی له هرڅ قسمه میوے نه دوه قسمه اشنا اونا اشنا. وچه اولمده. هرڅ میوه چه په دنیا کښ تړدے پورے چه مړ غونے هم پکښ شته. خو هغه مړ غونے به د ډیره خوږه وی. فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۳﴾ مُتَّکِـِٔیْنَ عَلٰی فُرُشٍ بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ وَجَنَا الْجَنَّتَیْنِ دَانٍ ﴿۵۴﴾ تکیه کونکی به وی په بیچاونړو اوپه فرشونو باندے چه خټونه د هغو به دسختو ریښمو وی او مخونه ئے بیان نهٔ کړهٔ الله تعالیٰ ولے چه مخونه به ئے دارنګ بنائسته وی چه په هغه باندے عالم نهٔ دے هیڅوك. او د اښائسته د هغه قسم نعمتونو نه دے چه پټ ساتلے دے الله تعالیٰ د پاره د سړو والی د ستر کو د دوئ او میوے د دواړو جنتونو پ ړے نزدے دی. رسیږی ولاړ او ناست او ملاست فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِیْهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ لَمْ یَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ پس په دے شمار کړے شویو کښ چه جنتونه او ولے او میوے او فرشونه او نزدے والے د میوو د دے حورے بند ولے د نکے د نظر ونو د ی چه بند ے کړی یے د ی نظر و نه خپل پر خاوند انو او څښتانو او په مړو نو خپلو باندے نړ کوری بیکا نوټه. نهٔ د ی مسه کړی د وی او جماع نهٔ د ه کړے له د وی سره سړی او نهٔ پیږی بے له خاوند انو خپلو له د ے نه د اخبره معلومیږی چه

پیریان هم کوروالے کوی. خازن روایت کوی له مجاهدؒ نه چه سره جماع کوی له نیغے خپلے سره او بسم الله ونهٔ وائی نجت شی پیره سره ذکره ددهٔ نه نوهنه هم جماع وکړی له نیغے د ددهٔ سره یوځائی فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۸﴾ کَاَنَّهُنَّ الْیَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۹﴾ گویاکه دوئی مرغلرے دی وړے د پیرے صفا او روښانه. یاقوت یوکانړے دے کهٔ ته اُوچوے پکښ یوتار اووځ وگورے له بهرنه نو وبه وینے هغه تارلکه په ظاهر. او مرجان هم وړے مرغلرے دی د پیرے سپینے. فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۰﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿۶۱﴾ نهٔ ددهٔ جزا د هرنیک کار مگر ثواب دے اونهٔ ده جزا د اسلام مگر دارسلام دے یعنے کورد سلامتیا چه جنت دے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۲﴾ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿۶۳﴾ اولاندے ردے دواړه جنتونونه چه وعده کړے شوے ده دپاره د نزدے کړے شوے دیو الله تعالیٰ ته دوه جنتونه نور دی دپاره دنورو مؤمنانو. فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۴﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿۶۵﴾ تور دی له وړیره شینوالی نه فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۶﴾ فِیْهِمَا عَیْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۷﴾ په دے دواړو جنتونو کښ چینے دی جوش وهونکے خوتکیدونکے په اوبو سره. ابن عباسؓ اوضحاکؒ وائی چه چې کونکی اوخندونکے دخیر او برکت دے په جنتیانو باندے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۸﴾ فِیْهِمَا فَاکِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۹﴾ او په دغه دواړو کښ میوے دی قسم قسم چه یو الله ته معلومے دی اوکهجورے او انارد ی دا دواړه اگرچه په میوو کښ داخل وو الله تعالیٰ بیا ذکر کړو له وجه د زیاتوالی د دوئی په فائدو کښ دغه دے مذهب د علماؤ. اوخلاف دے ابوحنیفهؒ. دے وائی دا نهٔ دی داخل په میوو کښ ولے چه الله بیل کړو له میوونه فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِیْهِنَّ خَیْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ په دے جنتونو کښ بنځے دی ډیرے خوږه نیکے. امسلمےؓ سوال وکړو له رسول الله صلے الله علیه وسلم نه چه خبر کړه ماله هغو نیکو بنائسته وُ نه. رسول الله صلے الله علیه وسلم ورته وویل نیک دی خویونه ئے او بنائسته دی مخونه ئے فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ بنځے بنائسته او غټ سترګے چه تورو الے دسترګو او سپین والے ئے ډیر پوره دے په سترګ کړے شوے نهٔ راوځی له وجه د بزرګئ او د شرافته دوئی او د بنځے بزرګی او شرافت پرده ده. خازن

روایت کوی له رسول الله صلے الله علیه وسلم نه چه هغهٔ ویلی دی چه کهٔ چرے یوه بنځه له بنځود جنت نه رابنکاره شی زمکے تهٔ خاخاره وښانه به کړی مینځ د اسمان او زمکے او دلهٔ به ئے کړی په خوشبوئیٔ سره او یو زهر وکے د سرد هغے د پیر غوره دے له دنیا نه اوله پتو لو هغه خیژونو نه چه په دے دنیا کښ دی فِی الْخِیَامِ ﴿۷۲﴾ ناستے دی په خیمو کښ. متفق علیه - حدیث دے له ابی موسیٰ اشعریؓ نه چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ویلی دی چه په تحقیق سره په جنت مؤمن لره خیمه ده له یوے مرغلرے د پرے نه چه پلنوالے دهغے شپیته کروه دے همدارنګ ئے اوچتوالے دهغے. مؤمن لره به په هغے کښ ښځے وی چه دے به ورځے هرے یوے لره او نورے به ئے نه وینی فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۳﴾ لَمْ یَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿۷۴﴾ چه کوروالے نه دے کړے له دوئیٔ سره هیڅ سړی یخوالے نه دوئیٔ نه او نه پیرۍ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۵﴾ مُتَّکِـِٕیْنَ عَلٰی رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِیٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ تکیه کونکی به وی دوئیٔ په جاموپلنو باندے یا په بالغتونو باندے چه شنه دی او نقوش داردی. هره جامه حه نقش داره وی نوعرب هغے ته عبقری وائی او خلیل ویلی دی چه هر شے چه د پیر غوره وی له سړو نه وی اوکهٔ له نورو څیژونو نه وی چه ښائسته وی نو هغه عبقری دے. حسان تاکید شه دعبقری فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾ تَبٰرَکَ اسْمُ رَبِّکَ ذِی الْجَلٰلِ وَالْاِکْرَامِ ﴿۷۸﴾ د پیر برکتی دے نوم درب ستاچه صاحب دبزرګی او بښګئ ورکولو دے. خازن نقل کوی له مسلم نه په روایت دثعبان سره چه ویل ده چه وو رسول الله صلے الله علیه وسلم چه به راوکړ حُیدهٔ له ما نځه نو استغفار به ئے وغوښت درے ځلے - او وبه ئے ویل - اللّٰهم انت السلام ومنک السلام تبارک یا ذا الجلال والاکرام -

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَکِّیَّةٌ ۹۶ اٰیَاتُهَا ۳ رُکُوْعُهَا ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱﴾ لَیْسَ لِوَقْعَتِهَا کَاذِبَةٌ ﴿۲﴾ په هغه وخت کښ چه واقع شی واقع کیدونکے نهٔ به وی واقع کیدلو دهغے لره یو نفس دروغ کوونکے یعنی منکران له راتلو د قیامت نه به پیردی اوس اوچه راشی بیا به هیڅوک منکر نهٔ شی بلکه قول به اقرار وکړی خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿۳﴾

درځ د قیامت بنکته کوونکے د ځمنے خلقو دے او پورته کوونکے دے د ځمنے خلقو یعنی بنکته بد کړی کافران دوزخ ته اوپورته به کړی مومنان جنت ته ﴿۴﴾ اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ رَجًّا ﴿۴﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿۵﴾ په دغه ورځ د قیامت کښی به وخوزولے شی زمکه خوزول سخت او تار په تار او میده به کړے شی غږونه میده کول بنهٔ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ﴿۶﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ﴿۷﴾ پس شی به دا غږونه گرد خور کړے شوے اویئ به تاسے قسمونه درے۔ دوه به جنت کښی وی او یو به دوزخ کښی وی لکه چه ورانده بیانوی الله تعالیٰ او وائی چه فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿۸﴾ نوخاوندان دښی طرف یعنی هغه څوك چه ونیوے شی او روان کړے شی په ښی طرف جنت ته او دا هغه خلق دی چه پیدا شوی وو د ښی طرف د بابا آدم علیه السلام اولیلی وو الله تعالیٰ چه دا د پاره د جنت دی اوزۀ هیڅ پروا نۀ لرم نو دوئ لره به ورکړے شی کاغذونه په ښی لاسونو د دوئ کښی. څۀ دی خاوندان دښی لاسونو یعنی تعجب دے له حال د دوئ نه په نیکبختی کښی اوپه لویو لویو مرتبو کښی وَاَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ﴿۹﴾ او خاوندان دچپ لاسونو څۀ دی صاحبان دچپ لاسونو یعنی تعجب دے له نا کاروالی دحال او د مرتبے د دوی اوداهغه خلق دی چه وبه ونیولے شی دوئ اوروان به کړے شی په چپ طرف باندے د دوزخ ته اوداهغه خلق دی چه پیدا شوی وو د چپے اوگے د بابا آدم علیه السلام نه او ویلی وو الله تعالیٰ چه دا خلق د پاره داوردی او څما پرے هیڅ پروا نشته وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ﴿۱۰﴾ اوورومبے کیدونکی اسلام ته اونیکوکارونو ته دغه به ورومبے کیدونکی وی په ورځ د قیامت جنت ته اوديدار د خدائ ته. اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۱۱﴾ دغه خلق نزدے کړے شوی دی الله ته په بزرگی او په حجت سره فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۱۲﴾ په باغونو د نعمتونو کښی به وی ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۴﴾ د پیردی له امتونو ورومبنو نه اولږ دی له ورستونو نه یعنی مقربون اونږدے کړے شوی الله تعالیٰ ته د پیردی پاره امتونو ورومبنو کښی ولے چه امتونه له بابا آدم علیه السلام نه تر محمد رسول الله صلے الله علیه وسلم پورے د پیرو و اولږ دی په ورستو کښی چه امت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے ولے چه دا د پیغمبر

امت دے نو ځکه یکښ لږ دی عَلٰی سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿۱۵﴾ په تختونو باندے به وی چه وودے شوے دی له سرو زرو او له جواهرو نه یا معنیٰ دا ده چه صف کړے شوی دی یعنی لګیدے شوی یو تر بله مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿۱۶﴾ تکیه کونکی به وی په تختونو باندے مخامخ کینا ستوګی به وی یو بل ته له وجه د صفایئ د زړونو دوئ په خلاف دکینا ستلو د دنیا نه چه په ظاهر کښی به د پیر په خوشحالئ کینی ولے زړونه ئے سره صاف نه وی يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ﴿۱۷﴾ ګرځی به په دوئ باندے د پاره د خدمت هلکان چه همیشه به وی په صفت دهلکوالی بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ ۙ وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿۱۸﴾ او سره د کا سود شرابو لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ وبه نه ئ شی سر درد ی دوئ له هغه شرابو نه او خلاص به نه ئ شی شراب د دوئ دا معنی دینزفون هله ده چه زیر د ر سره ولوستے شی او که زُوْرٍ سره ولوستے شی نو معنیٰ دا ده چه بے هوش به نه کړے شی دوئ په دے شرابو سره او نه به عقل د دوئ لاړ شی دا فرق د معنیٰ په زُوْرٍ د ر سره په تفسیر تفسیر مدارک کښ دے او په جلالین او په جمل کښ دی چه په زُوْرٍ او په زیر سره نه ئ راځی په دواړو سره هم دغه یوه معنیٰ ده چه عقلونه به ئ لاړ نه ئ شی پدے سره وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ﴿۲۰﴾ او راوړی به دوئ لره میوے هغه چه د دوئ خوښے وی وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۱﴾ او غوښے د مارغانو چه د دوئ و رته شوق کیږی وَحُوْرٌ عِيْنٌ ﴿۲۲﴾ او ښځے چه د پرینۍ وی سپینولے او تورولے د ستر کو د هغوئ د اسے ښځے به وی هغوئ لره چه غټے ستر ګے لرے وی كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿۲۳﴾ په شان د مرغلرو چه ساتلے شوی دی د لاسونو د خلقو نه او ګرد و نو نه **روایت دے** په تفسیر جمل کښ چه بنکاره به شی یو نور په جنت کښ نو مومنان به وو ائی چه داځهٔ دی نو وبه ویلے شی چه دا زمونږ د غابن د خورے ده چه وے خندل پرځ د ښتن خپل کښ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ جزا به ورکولے شی دوئ لره د هغه کارونو نیکو چه دوئ کړی وو لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِيْمًا ﴿۲۵﴾ وا به نه ئ وری دوئ په جنت کښ با طلے او بے هوده خبرے او نه نسبت د ګناه یو بل ته او نه به پخیله دا سے خبره وکړه

چه پکښ کناه وی اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا (۲۶) مګر وائی به او اوری به سلام دیو په بل یا سلام
د الله تعالی او ملایکو په دوئ نو د لویه مرتبه او عزت شه د دوئ چه الله تعالی پرے سلام
وائی او ملایکے وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ اوخاوندان دښی لاس یعنی چه کاغذونه د عملونو ورکړه په بنی
لاس ورکړے شی مَآ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ (۲۷) څنګه عجب اوښکلے حال دے د خاوندانو د بنی لاس
فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ (۲۸) به بیر وکښ به وی چه ازغی نۀ لری او سورے کړے شوی وی میوے د هغوئ
یو په بل باندے یعنی له بیخ نه تر سره پورے به یوځائے پکښ خالی نۀ وی وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ (۲۹)
او په کیلو کښ به وی چه ډکے به وی له میوونه په دے شان سره چه سورے به وی
میوے د هغوئ بعضے په بعضو باندے وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ (۳۰) او په سوری اوږد کړے شوی
کښ وی لکه سورے له صباح نه تر نمرختو پورے یعنی دوئ به هیڅه نه د اسے سوری
کښ به وی وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ (۳۱) او په اوبو جاری کړے شوی وکښ به وی چه جاری به وی بے
په ولے اوبے ولے وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ (۳۲) لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ (۳۳) او په میوو د پرے وکښ به وی
چه نۀ خلاصیږی لکه چه خلاصیږی میوے د دنیا په څنے وخت کښ اونۀ به شی منع کولے په
هیڅ عذر سره لکه چه میوے د دنیا منع کولے شی د پاره د غوښتلو د پیسو یا له وجه د نه قدرته
په شوکولو باندے یا له وجه د دے چه خوږ وی نکی ته ضرر کوی وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ (۳۴) او په
بچاونو او وچت کړے شوی وکښ به وی چه هغه ډیرے اوچتے او کران قیمتے دی. ترمذی له
ابی سعید خدری رضی روایت کوی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویل چه اوچتوالے به ئے
دومره وی لکه په مینځ د اسمان او د زمکه کښی او بعضے مفسرانو ویلی دی چه مراد په دغه شو
سره بیخے دی عرب بیخوته فرشونه او جلے وائی او دا معنیٰ ده بنه ظاهره او برابره له دے قول
د الله تعالی سره چه اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً (۳۵) فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا (۳۶) په تحقیق مونږه پیدا
کړی دی دغه بیخے پیدا کول پس کړ هولی دی مونږه دوی پکړے ابن عباس رضی ویلی دی چه دا
هغه بیخے دی زړے سپین سرے چه بے وګرځوئی خدائ تعالیٰ پکړے. خازن وائی په
روایت د انس رضی سره چه رسول الله صلعم ویلی دی چه دغه پیدا کړے شوے بیخے چه الله تعالیٰ

به ئے وکړځوی ېکړے جیبکئ ېپغلے هغه دی چه وے په دنیا کښ دوئ زړے کم نظرے لږچن سړے وی به دغه شئے عُرُبًا مینه کونکے سره دخپلنتنا نوخپلواو بنائسته مجلس کونکے اَتْرَابًا (۳۷) برابرے په خلقت اوپیدائش کښ او په عمرکښ چه وی به ددری دیرشوکالو ـ خازن وائی په روایت دمعاذ سره چه پیغمبرﷺ وېلی دی چه ننه به وځی جنتیان په جنت کښ ځلمی بے ږیرے ودیرشو یاد دری دیرشوکالو ـ شک کړے دے معاذؓ په دیرشو او په دری دیرکښ لِاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ (۳۸) پیدا کړی دی الله تعالیٰ دا ښځے دپاره دخاوندانو دښی لاسونو ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ (۳۹) وَثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ (۴۰) یعنی هغه څوك چه کاغذونه ورلرك په بنی لاس کښ ورکړے شی دیر دی په مؤمنانو دړومبنو امتونو کښ او دیردی په مؤمنانو دوروستنو امتونو کښ ـ روایت کړے دے معالم په اسناد دثعلبی سره له عروه څوی دروېم نه ـ چه هرکله چه نازل شئه دا آیت چه ثلة من الاولین وقلیل من الاخرین نو وژړل عمرؓ او وے ویل چه اے نبی دالله مونږه ایمان راوړیدے په رسول او یقین موکړے په هغهٔ څوك چه به خلاص شی له مونږه لږ به وی یعنے داخو به دیر پاتے شی په عذاب کښ نو دعاوکړه رسول الله صلعم پس نازل کړه الله تعالیٰ دا آیت چه ثلة من الاولین وثلة من الآخرین نو راو بللو رسول الله صلے الله علیه وسلم عمرؓ او ورته ئے وویل چه نازل شئه په هغه څیز کښ چه تاغوښتئه نو عمرؓ وویل چه راضی یومونږه درب خپل نه اودرښتیا کولو دپیغمبر څمونږه نو وویل رسول الله صلعم چه له بابا آدمؑ نه ترمونږ پورے ثُلَّةٌ دے یعنی یوه لویه جمع دہ او له مونږه نه ترقیامته پورے ثُلَّةٌ ده یعنی یوه لویه جمع ده او پورته به نه شی دامګر په دغه تورو تروسره چه څرونکی داوښانو دی چه ویلے ئے ده لا اله الا الله وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ (۴۱) اوخاوندان د چپ لاسونو ثُلَّةٌ دی خاوندان دچپ لاسونو ـ یعنی هغه څوك چه ورکړے شی کاغذونه په چپ لاسونو یعنی تعجب دے له بد اوله سخت عذابه دوئ نه ـ الله تعالیٰ دے ترے وساتی مونږه اومؤمنان فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ (۴۲) په اورګرم کښ به وی چه توردی او تور دی هغه څوك چه پکښ دی او په اوبوګرم موکښ به وی چه ختکیږی به وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ (۴۳) اوبه

سورې دلوګی ډیر تورکښی به وی لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ (۴۴) چه نه به وی سوړ اونه به وی نفع رسونکے اودوئ لائن دی دڅے ولے چه اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ (۴۵) په تحقیق سره وو دوئ پخواله دے نه یعنی په دنیا کښی مزے اخستونکی په خواهشونو خپلو سره مخالف دحکم الله نه وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ (۴۶) اوو دوئ همیشه کونکی چه همیشه والے ئے کولو په ګناه لوئے باندے چه شرک وو اوقسمونه خوړل وو په دے باندے چه قیامت نشته او مونږه به هرګز اوچت نه کړے شو اوداڼګ نور دروغ قسمونه وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ (۴۷) اوو دوئ چه ویل به ئے ایا په هغه وخت کښی چه مړه شو مونږه اوشوخاورے اوهډوکی نوایا مونږه به ناڅاپه راپورته کړے شو اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ (۴۸) اوهغه پلرونه ځمونږه رڼوه مبنی یعنی مونږه سره ځومره پلرونو لرلو بیا نه ژوندی کیږو نوداستادعوئ دے خبرے دروغ ده نوخدائ دوئ دروغژن کړه اووے ویل چه قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ (۴۹) لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ (۵۰) دوایه دوئ ته چه په تحقیق سره درڼوه مبی او وروستی خامخا جمع به کړے شی وخت دورځے د معلومے ته ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ (۵۱) لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ (۵۲) پس په تحقیق سره تاسے اے لارخطاکونکو هغه لوبه لاره دخدائ تعالیٰ اود پیغمبرانو اے دروغژن کونکو دحق خامخا خوړونکی به یئ تاسے له وڼے دزقوم ګڼه چه ډیره بوره ناکاره ونه دی په دوزخ کښی فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ (۵۳) فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ (۵۴) فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ (۵۵) پس تاسے به ډکونکی یئ له هغے وڼے نه ګیډے اوخکونکی به یئ په هغے باندے ګرم پس خکونکی به یئ په شان دخکولو دهغه اوښ چه پرے داسے مرض لګیدلے وی چه نه مړیږی سره دهغه نه په اوبو بلکه خکی تر هغه پورے چه پرے هلاك شی هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ (۵۶) داخیزونه چه تاوا وبدل دارزق دوئ دے په ورځ دجزا کښی یعنی داجزا دعملونو دوئ ده نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ (۵۷) مونږه پیدا کړی یئ تاسے چه نه وئ تاسے هیڅ شے پس ولے یقین نه کوئ تاسے په بیا پیدا کولو بیا پیدا کول خوګران نه دی له اول پیدا کولونه اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ (۵۸)

ایا وینئ تاسے یعنی خبر راکړئ مالږه دهغه څیز چه تویوئ تاسے په رحمونو کښ یعنی منی چه تاسے ئے اچوی په کښت ودنبو کښ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ (۵۹) ایا تاسے پیدا کوئ له هغے منئ نه سړی او کهٔ مونږه یو پیدا کونکی تاسے لږه خوکورئ چه تاسے خو هیڅ نهٔ شئ پیدا کوئ له هغے نه خوزهٔ پیدا کوئ کے یم پس تاسے ولے نه قائلیږئ په بیا پیدا کولو چه زهٔ ئے وعده کوم له تاسے سره نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ (۶۰) مونږهٔ اندازه کړے دے په میئنځ ستاسے کښ مرئ چه په هغه اندازے سره څوك وژنو ورکوئ څوك وژنو ځلمی څوك وژنو زارهٔ او څوك وژنو هسے زور چه بے عقل شی او دا داسے اندازه ده څومونږه چه برابر دے په کښ مخلوق د زمکے او داسمان او معتبر او غریب او نه یو مونږ چه وړاندے کیدل وشی په مونږه باندے یوهیڅوك به رانه ورنهٔ تختی او نه به رانه خلاص شی یو سړے غرض داد ے چه زهٔ بنهٔ قادر یم په هلاك ستاسے او قادر یم په دے خبره عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ (۶۱) او پیدا کړو مونږه تاسے په هغه شکلونو او صورتونو کښ چه تاسے پرے نه پوهیږئ یعنی په هر شکل او صورت سره لکه شادوکان کول او خنزیران کول مونږه بنهٔ قادر یو لکه مونږه کړی دی په پخوا اُمتونو کښ نومهٔ منکریږئ تاسے له بیا پیدا کولو نه حُما په قدرت کښ هیڅ شك نشته وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ (۶۲) او په تحقیق سره پوهیږئ تاسے په پیدا کولو پرومبنو باندے نو تاسے ولے نصیحت نه قبلوئ چه قائل شئ په پیدا کولو باندے اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ (۶۳) ایا وینئ تاسے یعنی خبر راکړئ مالږه دهغه شی چه تاسے کړئ. الله تعالیٰ یادکړهٔ دوئ ته اول پیدا کیدل د دوئ او پکښ ئے یادکړل لوئ لوئ دلیلونه د قدرت اود لویئ خپل. پس له هغے نه ئے ورته ذکر کړهٔ څیزونه دخوړلو او څښلو اوهغه شے چه پرے خوړل څښل جوړیږی نو بیا داد خوړلو او څښلو اوهغه چه پرے خوړل او څښل جوړیږی په دوئ کښ درے څیزه چه اصل وو هغه ئے ذکر کړل چه دانے او اوبهٔ او اور دے ولے چه دانے خورئ او اوبهٔ ورپسے څښئ او په اور سره جوړول کیږی د دوئ. نو هغه څیزونه چه تاسے کړئ

چه دانے دی اوستاسے پہ دے سرہ ژوندون دے ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗۤ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ (۶۴) ایا تاسے ئے زرغونوئ او لویوئ ترهغه پورے چه پخے شی اوکهٔ مونږه یو زرغونوئ نکی او پسوده کونکی دے کار دا ظاهره ده چه داخوزهٔ کوم نو لازم دی په تاسے باندے شکر دے لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا کهٔ چرے رضا وے خمونږه نوخامخا به کړ حُولے وو مونږه دغه چه تاسے کرئ وُچه یعنی بُوس چه نهٔ وی دانه پکښ یا به دا سے وُچ کړی ووچه هیڅ نفع نهٔ وی پکښ فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ (۶۵) پس ګرځیدلی به وئ تاسے چه نا اشنا به موکنږے وو هغه شے چه راغلے وی په تاسے باندے چه داخهٔ بلاوشوه په مونږه او یا داچه پښیمانه شوی به وئ تاسے په خرڅولو دپسو خپلو په تخم او په اړولو دزمکے او په اوبو ورکولو سره او ویله به تاسے داخبره اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ (۶۶) بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ (۶۷) چه په تحقیق سره مونږه خامخا مونږه زیان کړے شو یعنی مال لاړ بے بدله لکه مونږه محروم کړے شو له رزق نه یعنی راځنه پاتے نهٔ شهٔ خهٔ څیز دخو رلو اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ (۶۸) ایا وینی تاسے یعنی خبر را کړئ دهغے اوبو چه تاسے څکئ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ ایا تاسے نازلے کړی دی دا اوبه له وریځے سپینے نه ـ نو دا سے کار دے چه هیڅوک قادر نهٔ دے بے له مانه او تاسے لره مناسب دے شکر دے اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ (۶۹) اوکهٔ مونږ یو نازلونکی داخو معلومه ده چه مونږه نازلونکی یو لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا کهٔ چرے رضا وے خمونږه نو مونږه به ګرځولے وے دا پرے تړوے یا تړخ نونهٔ به شوے څښلے فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ (۷۰) نو تاسے شکر نهٔ کوئ دد اسے نعمت دالله تعالی چه په هغه سره ژوندون ستاسے دے اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِيْ تُوْرُوْنَ (۷۱) ایا وینی تاسے یعنی خبر را کړئ دهغے اوربه تاسے وباسئ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَاۤ ایا تاسے پیدا کړیدهٔ ونه داور یعنی چه تاسے اور تړے راوباسئ چه هغه دوه ونے دی چه دیوے نوم مرخ اودبل غفار دے چه یو ته په بله سره ووهئ نو اور تړے وُزی او یا دا چه تولے ونے مراد دی چه اور پرے بلیږی ـ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ (۷۲) اوکهٔ مونږه یو پیدا کونکی دهغے ونے چه اور تړے وباسئ او اور پرے بلوئ بلکه مونږه یُو پیدا کونکی نهٔ تاسے نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً مونږه ګرځولے دے

دغه اوردد نیا یادول چه یادکړئ تاسے په دے سره اور دجهنم متفق علیه حدیث دے له ابوهریرة رض نه چه په تحقیق سره رسول الله صلعم ویلی دی دا اورستاسے چه تاسے ئے بلوئ دایوه برخه ده اویا یمه له اوره ددوزخ نه نوهغه ورته وویل چه قسم دے چه په تحقیق سره دا هم بس دے اے رسول دخدائ تعالیٰ نو وویل رسول الله صلعم چه په تحقیق سره هغه زیات دے په دے اوربانده ے پریوکم اویا برخے سره چه هره برخه د هغے کرمه ده په مثل دکرمئ د دے اور- غرض دتول حدیث داشئ چه هغه اوپه دے باندے پریوکم او یا مرتبے سره زیات کرم دے - وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿۷۳﴾ اوکرځولے دے مونږه دا اورنفع د پاره د مسافرانو چه دوئ پرے نفع اخلی په مسافروخپلوکښ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾ نو پاکی وکړه تهٔ دنوم د رب خپل چه لوئ دے اومهربانی کوونکے دے په داسے لویو نعمتونو سره چه هغه په شمار د بنده کښ نهٔ راځی - روایت کوئ مدارك چه هر کله دا ایت نازل شهٔ نو وویل پیغمبر علیه السلام چه دا وکړځوئ په رکوع کښ یعنی د وایئ سبحان ربی العظیم- فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿۷۵﴾ قسم خورمه ولے چه دا لآ پکښ زائد دے نو معنیٰ ئے رانغله اویا معنیٰ داده چه تاسے مهٔ د دروغژن کوئ او مهٔ منکر پرئ له هغه شی نه چه ما تاسے ته یادکړے دے نعمتونه اودلیلونه دیووالی خپل نه اویا ئے معنیٰ داده چه نهٔ دارنگه چه کافروائی په حق د قرآن کښ چه دا سحر او شعر او فال بینی ده نو په دے دواړو معنیٰ سره لآ زائد نهٔ شی- اویا ئے معنیٰ داده چه قسم نهٔ خورم ولے چه خبره ظاهره ده نوقسم ته څهٔ حاجت دے اوله معنیٰ چه قسم خورم اولآ پکښ زائد دے نوهغه بنا په دے خبره ده چه اگرچه خبره دالله ظاهره دی لیکن منکران ترے ډیردی نوقسم ته حاجت وی حاصل داچه قسم خورم یا نهٔ خورم په خُایو نو دخو اوپریوتو دستوریو وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿۷۶﴾ اوپه تحقیق سره داقسم دے کهٔ تاسے پوهیږئ ډیرلوئ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۷﴾ په تحقیق سره داقرآن ډیر بزرګ دے یعنی هرڅ نفع د دنیا او د آخرت پکښ ده اولوئ دے په نزد دالله تعالیٰ فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿۷۸﴾ لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾ دا قرآن په لوح محفوظ کښ دے هسے لوح محفوظ چه سلتے شوے دے له باطل نه او همدارنگه ساتلے شوے

دے له دے نه چه نهٔ ئے شی کتے هیڅوك ئے له هغه نزدے کړے شو یو دالله نه چه ملایکے دی نهٔ مسه کوی هغه کتاب مکر پاکان۔ یعنی لوح محفوظ نهٔ مسه کوی مکر پاکان اویا معنیٰ دادہ چه نهٔ مسه کوی دقرآن مکر هغه څوك چه پاك وی له بے اودسی اوله جنابته اوله حیضه اوله نفاسه چه دادوه بیمارئ دی دښځو تَنْزِيلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾ د قرآن نازل کړے شوے دے له رب العٰلمین نهٔ دہ دارنگه لکه چه کافروائی چه داشعرے دے یا جادو یا فال یعنی دہ نو دئ دروغژن دی اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿۸۱﴾ ایا په دے لویه خبره چه قرآن دے تاسے دروغ ویونکی یئ چه دروغ کوئ اودا اوکفر پرے کوئ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ اوگرځوئ تاسے شکر دهغه رزق چه درکړے دے الله تعالیٰ تاسے لپاره دروغ کول دکتاب دهغه یعنی الله فرض کړے دے په تاسے باندے شکر کول دئے نعمت چه قرآن دے اوتاسے په ځائے دشکر کښی دروغ کول وکړۂ نو تاسے لوئ بے وقوفه اوږے دینه ئے فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ پس ولے نهٔ دہ داخبره په هغه وخت کښی چه ورسیږی ساد سړی مرئ ته وَاَنْتُمْ حِيْنَىِٕذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾ اوتاسے اے خلقو چه چاپیره یئ دده ئ نه په دغه وخت کښی گوری هغه وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ اومونږه دپرنزدے یُو هغهٔ ته له تاسے نه په علم اوپه قدرت اوپه لیدو سره ولیکن تاسے نهٔ وینئ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾ پس ولے نهٔ دہ داخبره کړے یئ تاسے چه نه ئیئ په ملك خُمکښی اوکهٔ نهٔ وی داخبره چه له تاسے سره به حساب وشی اوجزا به درکړے شی بلکه تاسے باهر یئ دقدرت خُمانه نوولے پیرته نهٔ راګرځوئ سا دے سړی فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ پس کهٔ چرے وی دغه سړے دنږدے شو یو دالله نه یعنی دغه مړے بزرګ وی فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ نو دهٔ لره به راحت اوآرام وی او رزق به وی اونعمتونه دجنت وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ اوکهٔ چرے وی داوڅلے شوے له هغه چا نه چه کاغذ وزلره په ښی لاس ورکولے شی نو سلام دے تالره اے محمد صلے الله علیه وسلم) له صاحبانو دښی لاسونو نه

معنیٰ دا ده چه ته به خفه نه شے په عذاب د دوئ باندے بلکه دوئ به الله تعالیٰ خلاص کړهٔ د عذاب نه او وربه کړی لوئ نعمتونه نوتهٔ به پرے خوشحاله شے وَاَمَّا اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ الضَّآلِّيْنَ (۹۲) اوکهٔ چرے وی دغه وژلے شوی له دروغژن کونکو لارے ورکونکونه چه دروغژن کړی وی خبرے دالله او د رسول ﷺ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ (۹۳) وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ (۹۴) نو د دهٔ د پاره نهاری دے چه تیار کړے شوے دے له اوبوګرمونه او نوتل دا دور لوئے دے. اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ (۹۵) په تحقیق سره داچه په دے سورت کښ بیان کړے شهٔ هم دغه ثابت دی په یقین سره چه هیڅ شبه نشته په دے کښ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ (۹۶) پس پاکی وکړه د رب خپل چه دیر لوئ دے. خازن روایت کوی له جابر رض چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ویلی دی چه چا وویل سبحان الله وبحمده نو کیخود به شی اونهال به کړے شی کهجوره د دهٔ د پاره په جنت کښ

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَكِّيَّةٌ ۵۷ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعُهَا ۴

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (۱) تسبیح ویلے دے خاص خدائ تعالیٰ لره هغه چه په اسمانونو او زمکه کښ دی او هغه دے غالب او محکم کونکے د کاسونو - لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ خاص ده لره ده بادشاهی د اسمانونو او زمکے ژوندی کول کوی او مړه کول کوی وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (۲) او هغه په هر شی قادر دے لکه بادشاهی د اسمانونو او زمکے اوژوندی کول او وژل - نو د اهغهٔ په قدرت دهغه کښ دی هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ او هغه اول دے پخواله هر شیٔ نه ابتدا نه لری او روستے دے له هر شیٔ نه یعنے وروستے دے او وی به همیشه او ظاهر دے په دلیلونو سره او پت دے له لیدلو دستر کونه نو هیڅوک ئے لیدے نهٔ شی په دنیا کښ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ (۳) او هغه په هر شی باندے ښهٔ عالم دے هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ؕ او الله هغه ذات دے چه پیدا ئے کړهٔ اسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کښ چه اول ئے استوا

او اخیرۍ جمعه وه پس برابرشۀ په عرش باندے په دا سے کید لوسره چه له ده سره لاس ورد
يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ط عالم دے په هر
وخت کښ په هغه شی چه ننوځی په زمکه کښ لکه باران او مړی او اشیاء د کرلو شو او په هغه شی چه
راوځی له زمکے نه لکه کیاهونه شول او هر هغه شے چه راوباسی ترے الله تر قیامته پورے او
هغه شے چه نازلیږی له اسمان نه لکه رحمت شۀ او عذاب شۀ او عالم دے په هغۀ شی چه
خیژی په اسمان کښ لکه نیک عملونه او دعاونه شوه مخلوق وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَمَا كُنْتُمْ ط او
هغه سره له تاسے دے په علم او په قدرت سره هر چرته چه تاسے یئ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
بَصِيْرٌ ۴ الله په هغه چه تاسے ځئ کوئ لیدونکے دے نو جزا به درکړی تاسے لره برابره د
کارونو ستاسے سره لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ط وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُوْرُ ۵ خاص خدائ
لره ده بادشاهی د اسمانونو او د زمکو او خاص الله ته به وګرځولے شی کار وینه د مخلوق يُوْلِجُ
الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ط ننه باسی شپه په ورځ کښ نو شپه لنډه کړی
او ورځ پرے اوبده کړی او ننه باسی ورځ په شپه کښ نو ورځ لنډه کړی او شپه پرے اوبده
کړی وَهُوَ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۶ او هغه ښۀ پوهیږی په فکرونو او په اندیښنو چه
په په سینو کښ دی یعنی هر هغه شے چه په زړونو د خلقو کښ دے الله پرے عالم دے اٰمِنُوْا
بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ایمان راوړئ تاسے او باور وکړئ په الله او په رسول دهغۀ وَأَنْفِقُوْا مِمَّا
جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ط او ورکړئ تاسے له هغو نعمتونو نه چه کړ ځولی ځئ یئ الله تاسے
خلیفکان په هغه یعنی دامال خو دالله وو او دا نعمتونه ټول دهغه وو نو تاسے ځئ پرے د رولئ
لکه خلیفکان فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوْا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيْرٌ ۷ نو هغه خلق چه ایمان ځئ
راوړید ے له تاسے نه او یقین ځئ کړے دے په الله او په رسول او مالونه ځئ خرڅ کړی
دی په لاره د الله تعالی کښ خاص هغۀ لره دے اجر لوئ چه لوے والے دهغه الله ته معلوم دے
وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ج وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ او څۀ دی تاسے لره یعنی
څۀ عذر دے او کومه بهانه ده چه تاسے باور نۀ کوی په الله باندے او رسول ؐ بلی تاسے چه

تاسے ایمان راوړئ په رب خپل. وَقَدْ اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ او په تحقیق سره خدائ تعالیٰ اخیستے دہ وعدہ ستاسے په هغه وخت کښ چه راوے ویستی له شا د بابا آدم نه چه په تحقیق سره الله رب ستاسے دے اونشته دے الله تاسے لره بے دهغهٔ نه نو تاسو ټولو په دے اقرار وکړو اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۸ کهٔ چرے یئ تاسے ایمان راوړونکی په یو ورځ کښ له ورځونه او په یو سبب سره له سببونو نه نو اوس ایمان راوړئ ولے چه الله تعالیٰ تاسے ته راولیږل د یردلیلونه په خولے د پیغمبر سره هغه دادی چه الله تعالیٰ دوړاندے بیانوی هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ الله هغه ذات دے چه نازلوی په بندهٔ خپل باندے ایتونه واضح د پارهٔ ددے چه وباسی الله تعالیٰ تاسے په دے قرآن سره له تیارو کفرهٔ او له کمراهئ نه روښنائ د ایمان ته وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۹ او په تحقیق سره الله تعالیٰ په تاسے باندے د پر مهربان رحمت کونکے دے وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اوخهٔ ځیل دے تاسے لره چه تاسے نهٔ خرڅوئ مال اونهٔ ځے ورکوئ په رضا کولو د الله تعالیٰ کښ اوتاسے مړئ کیږئ او ستاسے مال پاتے کیږی نو الله تعالیٰ به ځے ستاسے په ځائ نور لره ورکړی وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اوخاص الله لره دے میراث د اسمانونو او د زمکو یعنی میراث د مخلوق د اسمان او د زمکو به الله تعالیٰ ته پاتے شی او تاسے نه به سوال وکړے شی چه تاسے ولے نه خرڅوو د مال د پارهٔ د الله لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقٰتَلَ ؕ نهٔ دے برابر له تاسے نه هغه څوک چه مال ځے خرڅ کړے دے د پارهٔ د الله تعالیٰ پخواد فتح د مکے نه اوجنګ ځے کړے دے د پارهٔ د الله له دشمنانو د الله سره اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَقٰتَلُوْا ؕ دغه خرڅونکے د مال خپل په لاړے د الله تعالیٰ کښ اوجنګیدونکی د پارهٔ دهغه د پیرلوی دی په مرتبه کښ له هغه خلقو نه چه مال ځے کړے دے اوجنګیدلی دی پس له فتح د مکے نه یعنی مال خرڅول اوغزا کول په وخت د سختی کښ د پیره مرتبه لری د هغه نه چه په وخت د فراخ کښ وی وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ اوهر یو د دے دواړو نه وعده کړے ده الله تعالیٰ له دوئ سره د نیکئ اګرچه مرتبه د دوی مبنوړ

زیاته ده په وروستو باندے مدارک ویلے دی چه دا ایت نازل شوے دے په حق دابوبکر صدیق ؓ کښ ولے چه هغه اول اسلام راوړے وو او اول ئے مال خرچ کړے وو په لاړے د الله تعالیٰ کښ نو دا دلیل شۀ په فضیلت ددۀ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۰﴾ او الله تعالیٰ په هغۀ څۀ چه تاسے ئے کوی خبردار دے نو جزا به درکړی تاسے لره برابره د کارونو ستاسے مَنْ ذَا الَّذِیْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا څوك دا چه قرض درکړی الله لره قرض نیک په دے امید چه مال ئے پاك وی او نیت پکښ بے له الله نه نور هیڅ نۀ وی او امید د ثواب کوی له الله تعالیٰ نه فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ پس زیاته به کړی الله تعالیٰ هغه مال ددۀ لره یعنی د یو ثواب به درکړی ده لس په هغه باندے وَلَهٗۤ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۱﴾ او خاص ده لره ده مزدوری د یو لویه چه دیے په بدل به لس درکړی یا اوه سوه یا له دے نه هم زیاته ولے چه څنے په ښۀ ځای کښ درکوی او نیت ئے ښۀ صاف وی يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ دوئ لره اجر عظیم به وی په هغه ورځ چه وویني تۀ مؤمنان سړی او مؤمنې ښځے يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ چه د رڼا د نور به د دوئ د ورپاندے د دوئ او په ښی طرف نو د دوئ ولے چه نیکبختانو لره کاغذونه ورکولے شی له ورپاندے طرفه په ښی لاسونو پس داطرافونه به ورته روښانه شی او کافرانو لره به ورکولے شی له دروستو طرفه په چپ لاسونو بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ځاے زیږے دے تاسے لره نن ورځ نو تل دجنتونو دی چه بهیږی دلاندے دهغے نه ولے همیشه به ږئ تاسے په هغه کښ ۔ نه به ناجوړه کیږی اونه به زړیږئ اونه به مرئ اونه به هغه کښ څۀ کمیږی بلکه په زیاتید وکښ به ئی ۔ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ دغه دے برے اوکټه لویه يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ و ویږوه داخلق او یاد کړه ورته هغه ورځ چه وائی منافقان سړی او منافقانے ښځے یعنی هغه څوك چه په ظاهر کښ خان ته مؤمنان وائی او په باطن کښ منکر دی له پیغمبر نه او بدے کړی خبرے دهغۀ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ هغه چاته چه ایمانونه ئے راوړی دی چه وګورئ او مهلت وکړئ مونږ ته چه واخلو مونږه له

نور اوله رنړا ستاسے نه قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ط وبه ویلے شی دوئ ته چه وکړئ
په بیرته ستاسے او ولټوئ نوریځائے دے رنړا التولو دنیاده داویل دملائکو یادمؤمنانو دی
داشرل ددوئ اوخندل په دوئ پورے دی ولے چه هغوئ به په دے پوهیږی چه دوئ
په بیرته نه ئ شی تلے فُضِرَبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ط پس وبه وهلے شی په مینځ د مؤمنانواو
دمنافقانوکښ دیوال چه هغه دیوال پرده ده په مینځ دجنت اودوزخ کښی چه هغه دیوال
لره یوه دروازه ده دپاره دمؤمنانو جنت ته بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ط (۱۳)
چه په دننه طرف دهغهٔ کښ رحمت دے چه هغه نوراوجنت دے اوظاهر طرف دهغهٔ له طرف د
هغهٔ نه عذاب دے یعنی په باهرطرف ئے عذاب دے چه ورنبوئ کافران يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ
نَكُنْ مَّعَكُمْ ط اواز به وکړی منافقان مؤمنانو ته ایا نهٔ وؤ مونږه له تاسے سره یعنی مونږه خو
ملګری وؤستاسے قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وبه وائ مؤمنان چه هو تاسے له
مونږه سره وئ ولیکن هلاک کړه تاسے نفسونه خپل اوپه لویو عذابونو کښی مو واچول وَ
تَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ اوتاسے منتظره وئ افتونونو مومنانو ته چه کله به په
دوئ څه بلا راپریوځی اوشک کړے ووتاسے په خبرو د الله تعالیٰ اودرسول کښی اوغلولی وئ
تاسے امیدونو اوطمعو چه کافر به زیات شی اومونږه به ظاهرکړو کفرخپل حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ
اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ (۱۴) په شک کښی وئ ترهغه پورے چه راغے تاسے لره حکم د الله تعالیٰ
په مرګ سره اوغلولی وئ تاسے په الله باندے غلوڼکی یعنی غلولی وئ شیطان تاسے چه الله
تعالیٰ بخښونکے دے مونږه به ومنجنبی څه کیږی کهٔ مونږه نفاق کوو اوبل غلول ئے دادی چه
پورته کیدل نشته اوحساب نشته نوپه دے خبروئ غلولی وئ تاسے فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ
فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ط پس نن ورځ به وانهٔ خیستے شی له تاسے ته نه اے
منافقانو بدله چه تاسے پرے خلاص کړے شئ اونه له هغه خلقو نه چه کافران شوی دی
مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ط هِيَ مَوْلٰىكُمْ ط ځائے ستاسے اوردے اوهغه د پرغوره دے تاسے لره ولے چه
مالک شوے دے هغه دکارستاسے اوسپارلی شوی یئ تاسے هغهٔ نوهغه د پرغوره دے له

تا سے سره د هر څیز نه وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۱۵﴾ او بد ځای دے اور اَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ اٰمَنُوا ایا نه ډے راغلے وخت هغه خلقو لره چه ایمانونه ئے راوړے دی . په مدارك کښی وائی چه دو دوئ په مکه کښی په قحط کښی نو هر کله چه دوئ هجرت وکړو او بیا ئے مونده رزق او نعمتونه نو سست شو دوئ په عبادت کښی نو دا ایت نازل شۀ او روایت دے له ابن مسعودؓ نه چه نۀ وو په مینځ د اسلام څوښتره کښی په دے ایت سره مګر څلور کاله یعنی پس له څلورو کالو له ایمان څوښتره نه ملامت ئے کړو مونږه نه په دے ایت سره او روایت دے له ابوبکر صدیقؓ نه چه په تحقیق سره ولوستے شه دا ایت دو پاندے ددۀ او دۀ څخه ناست ووخلق د یمانی د ملک نو وژړل هغوئ په سمنت ژړلو سره نو وکاته دوئ ته ابوبکر صدیقؓ او وے ویل چه وو مونږه همدارنګے ترهغه پورے چه زړونه موسخت شو یعنی اول څوښتره زړونه نرم وو لکه د دے خلقو اَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ لا یعنی راغلے دے مومنانو لره وخت چه ویریږی زړونه د دوئ د یاد ه د ذکر د الله تعالیٰ اوله وجه دهغه نه چه نازل شوے دے له حق نه چه قران دے ولے چه دے جمع کونکے دے ذکر لره او وعظ لره نو دے ډیر لائق دے د یاد ه د دے چه ویریږی زړونه یې او ویدلو دۀ سره چه سخت والے ئے لرے شی وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ اُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ او نۀ د کیږی د امونان په سختوالی د زړونو کښی په شان د هغه خلقو چه ورکړے شوے وو کتاب پخوا له دوئ نه یعنی ووښی اسراویل چه الله مدد کار د دوئ وو هر څۀ ئے چه ترے غوښتل ورکول ئے او دوئ به چه واوریدۀ تورات او انجیل نو به یریدل د الله نه او نرم به شول زړونه د دوئ پس چه تیره شوه په دوئ څه موده نو غالب شو په دوئ باندے ظلمت او تورو والے د زړونو او مختلف شول او پیدا ئے کړه په دین کښی نوی کارونه لکه بدلول د کتاب د خدائ شول یا نور فساد وینه نو الله تعالیٰ وو یل مومنانو ته چه تاسے مه کیږئ د ارنګے بلکه لکه چه تاسے بنۀ وئ هم هغسے اوسئ چه آخر موبنۀ شی فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ط پس اوږده شوه په دوئ باندے زمانه یعنی هغه وخت چه په مینځ د دوئ او د

پیغمبر انو وہ پس سخت شو زړونه د دوئ په تابعدارئ د شهوتو نو خپلو سره وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿۲۶﴾ او ډیر له دوئ نه وتونکی وو له حکم د خدائ نه او پریخود ونکی وو هغه څیزونو له چه په کتاب د دوئ کښ وو پس مهُ شئ اے مؤمنانو پشان د دوئ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ط پوهیږئ تاسے چه په تحقیق سره الله چه دے ژوندئ کوی زمکه په باران سره نو را وباسی ورنه گیاه همدارنګه به راژوندی کا مړی . او ابن عباس رضی الله عنه معنی د دے ایت دارنګ کوی چه نرمه وی زړونه پس د سختو الی او کلکو الی د هغے نه نو وے کړئ دے عاجز کونکی او کړځیدونکی الله ته نو د ه مراد له زمکے نه زړونه کړۀ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ په تحقیق سره موښږه بیان کړی دی د لیلونه دیووالی او د قدرت خپل شاید چه تاسے عقل وکړئ او پوهه شئ په کار و نو د دین خپل اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ په تحقیق سره خیرات کونکی سړی او خیرات کونکے يُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا او هغه څوك چه قرض ورکړی الله لره قرض بنائسته یعنی خیرات وکړی د پاك شی په خوشحالئ او په ښه نیت سره په هغه چا چه لائق د خیرات وی يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۸﴾ زیات والے به وکړے شی دوئ لره او خاص دوئ لره به وی مزدوری لویه وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ او هغه خلق چه ایمانونه ئے راوړی دی په الله او په رسولانو د ۀ باندے اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۚ وَالشُّهَدَآءُ هم هغه خلق دی د پیر ربښتینی او شهیدان کړے شوی په لارے د خدائ کښ عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد د رب د دوئ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ط دوئ لره د ۀ مزدوری د دوئ او رونبنائی د دوئ چه تیر به شی په هغے سره په پل صراط وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۲۹﴾ ع او هغه خلق چه کافر شوی دی او د وړوکړی ئے دی د ایتونو څمونږه هغوئ اوسیدونکی د اوږدی الله تعالیٰ د وساتی مونږه له هغه نه سره د تولو مسلمانانو سر یو او سره د تولو مسلمانانو نبحُو اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ پوهه شئ اے خلقو چه په تحقیق سره هغه ژوند ون چه د پیر ناکاره او د پیر نږدے د ے هلا کیږی او وړکیدونه لوبے دی او تماشه ده دهلکانو وَزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ او بناست او لوبے

ع ۲ ۲ ۱۸

کول دی په مینځ ستاسے کښ په یو بل باندے وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ط او په یرول دی اودعوی کول دی دډیر والی په مالونو او په اولاد کښ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ حال اوصفت دده دنیا په شان دباران دے چه بنائسته بنکاری شی کرونکی تړکیاه دهغه ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا پس وچه شی نو کوریه تهٔ کیاه زیړه پس له شینوالی دهغے نه ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ط پس بیاشی ماته تار په تار په لږ وخت کښ دارنګه دنیاده زړورکیدونکے او آخرت هیڅه باقی دے نوهغه ته هروخت ځان تیاروئ وَفِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ط او په آخرت کښ عذاب دے سخت دپاره دهغه چاچه مخلے ولګولے په دنیا او په مزو خپلو اوشا کړی آخرت ته او بخښنه ده لویه او رضامندی ده دالله تعالیٰ نه او دالله تعالیٰ له ده نه که ډیرے مخ کا دے الله تعالیٰ ته اوشا کاندی دنیا ته وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾ اونهٔ دے هغه ژوندون چه ډیرنا کاره او ډیرنږدے دے مکراسباب دے دغلیدلوچه وغولیدہ په دے باندے حُصُونِهٖ په شان په ډیرخلق سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ تلواروکړی تاسے بخښنے ته چه له ربه ستاسے نه ده یعنی وکړئ هغه کارونه چه الله تعالیٰ پرے رضا کیږی اوهغه کارونه ټول په تابعدارئ دپیغمبر کښ دی وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۙ اوجنت ته چه پلنوالے دهغه دارنګه دے لکه پلنوالے دآسمان او دزمکے چه دواړه یو ځای کړے شی اودا جنت لوئے سره دډیرو نعمتونو به هرګز بیان نه موندے شی بے تابعدارئ دپیغمبر نه اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ط تیارکړے شوے دے هغه جنت دپاره دهغه خلقو چه ایمانونه ئے راوړی دی په الله او په رسولانو د دهٔ او باورئے کړے دے په خبرو دهغوئ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ط داوعدہ کړے شوے چه بخښنه اوجنت دے دا فضل دالله دے وړکوی هغه چاته چه رضائے وشی چه مؤمنان دی یا دا دلیل دے په دے خبره چه جنت ته نوتل نشته بے له فضل دالله تعالیٰ نه نو سړے دے په خپلو نیکو عملونو خطا نهٔ شی بلکه دادِ وکړنی چه دا نیک کارونه چه زهٔ کومه داخالی فضل دالله دے وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾ او الله تعالیٰ صاحب دډیرلوئ

فضل دے یولہ فضلونو نہ ئے دادے چہ پہ دنیا کښی ئے اسلام ورکړو نو پہ اخرت کښی بہ پہ امن
شی لہ هر قسم خفہ کیدونہ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ نہ رسیږی هیڅ
غم او افت مالونو تہ پہ زمکہ کښی اونہ پہ خپلو نوستاسے کښی اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ
نَّبْرَاَهَا مگر دا لیکلے شوے دی پہ کتاب کښی پخوا د پیدا کیدو د زمکے او د نفسونو ستاسے
اوپخوا د پیدا کیدو د هغہ افت نہ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۲۲﴾ پہ تحقیق سرہ دا اندازہ پخوا لہ
پیدا کولو دے تہ لو خیزونو پہ اللہ باندے اسانہ دہ لِكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ د پاڑہ د
دے چہ تاسے خفہ نہ شئ پہ دا سے خفہ کیدو سرہ چہ لہ صبرہ مو و باسی پہ هغہ خیز باندے
چہ لاړشی لہ تاسے نہ چہ هغہ مال او اولاد ستاسے دے وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ او تاسے خوشحالی
ونہ کړی خوشحالی دکبر او دخان لویولو پہ خلقو باندے پہ سبب د هغہ څہ چہ مادرکړی
دی تاسے تہ بلکہ شکر کوئ تاسے وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ او اللہ تعالیٰ دوست نہ کښی
کبر کوونکی چہ کبر کوی پہ مال یا پہ نور و خیزونو سرہ فَخُوْرِ ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ
النَّاسَ بِالْبُخْلِ فخر کونکی چہ فخر کوی پہ خلقو هغہ دی فخر کونکی چہ منع کوی حقونہ د
خدائ او د خلقو او حکم کوی خلقو تہ پہ بخیلئ سرہ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ
الْحَمِيْدُ ﴿۲۴﴾ او هر څوک چہ مخ وګرځوی لہ دینہ او پہ خپائ رانہ ئ وړی حکم دهغہ ئ یعنی د اللہ
او منع نہ ئ شی لہ هغہ خیز نہ چہ اللہ تړے منع کړے وی نو پہ تحقیق اللہ د چا پرے پرواہ او بے
احتیاجہ دے . هغہ ئ تہ هیڅ خیز ضرر نہ ئ رسوی بلکہ ضرر مخ ګرځونکی تہ دے اللہ صفت کړے
شوے دے پہ کارونو خپلو کښی . د چا عبادت تہ د هغہ ئ څہ حاجت نشتہ کہ ئ حاجت دے خو
دسړی د پارہ د خپل خپل دے چہ دے بہ ثواب موسی لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ پہ
تحقیق خامخا لیږلی دو مونږہ رسولان خپل پہ معجزو او پہ دلیلونو ظاهرو سرہ وَاَنْزَلْنَا
مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ او نازل کړے دو مونږہ سرہ د هغہ رسولانو کتاب او تله **روایت**
دے چہ جبریل علیہ السلام راوړہ تله او ورئے کړہ نوح علیہ السلام لرہ چہ دوا پہ قوم
خپل تہ چہ تول کړی پہ دے سرہ ولے چہ پہ دے کښی انصاف دے لِيَقُوْمَ النَّاسُ د پارہ د دے

چه ودربیږی خلق بِالْقِسْطِ ط په انصاف سره اوظلم ونهٔ کړی یو په بل وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ
بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ او نازله کړے ده مونږه اوسینه روایت دے چه هرکله
راکوزشهٔ آدم ؑ له جنت نه نوله ده سره پنځه خیزونه وو داوسپنے سندان اودوه پلکونه
اویوه سندنه او یو څټك او میقعه. او په اوسپنه کښی دے جنګ سخت او قوت ډیر او نفعے ډیرے
پکښی دپاره دخلقو وله چه اکثر کارونه دخلقو په اوسپنه سره کیږی وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ
يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ ط او دپاره دے چه پوهشی الله او ووینی چه څوك مدد کوی له دهٔ سره
اوله رسولانو دهٔ سره یعنی الله وليږل رسولان او نازل ئے کړل سره دوئی دا سے خیزونه
دپاره دے چه وکوری چه دوئی انصاف کوی اوکهٔ بے انصافی کوی او وکوری مدد کاران خپل
او مدد کاران دپیغمبرانو په غیب سره یعنی بے لیدلو دوئی اوحساب اوکتاب اوورځ دقیامت
لره چه دوئی نهٔ دی لیدلی جنت اودوزخ او دوئی مدد کاری وکړی دالله تعالیٰ نودغه مدد
کوونکی دی په غیب اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۵﴾ په تحقیق سره الله قوی دے په دے کار خپل کښ
اوغالب دے چه څوك پرے غلبه کولے نشی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّاِبْرٰهِيْمَ وَجَعَلْنَا فِيْ
ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ اوخامخا په تحقیق سره لیږلے وو مونږه نوح ؑ او ابراهیم ؑ اوپیدا کړی
وو مونږه په اولاد دوئی کښی پیغمبری یعنی کرځولی وو مونږه پیغمبران په اولاد دے
دواړو کښی اونازل کړے وو مونږه په اولاد دے دواړو کښی کتابونه فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ
مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۶﴾ پس بعضے له دوئی نه لارموندونکی ووچه لاړه په لارے سے اوډیر دوئی
نه وتونکی ووله حکم دالله تعالیٰ نه ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا پس تابع کړه مونږه دوئی لره
یعنی وُم لیږل پس له دوئی نه په قدمونو او په لارے د دوئی نور رسولان خپل وَقَفَّيْنَا
بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ اوراوسټ مونږه له وروستو دوئی عیسیٰ ؑ خوئی دمریم وَاٰتَيْنٰهُ
الْاِنْجِيْلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ط اوورکړے وو مونږه عیسےٰ ؑ
لره انجیل اوکړخولے وه مونږه په زړونو دهغه خلقو کښی چه تابع شوی دعیسےٰ ؑ وو دډیره مهربانی
اورحم یو په بل باندے وَرَهْبَانِيَّةَ ِۨ ابْتَدَعُوْهَا او په چهلو کښی کیناستل اونه کول دبنځو

اوجد اکیدل له خلقونه دا کارجور کړے وو دوئ له خانونو خپلونه مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ اودا چهلے او سختئ چه له خانه ئے جوړ کړی وو نهٔ وو فرض کړی مونږه په دوئ لیکن وکړهٔ دوئ د پاره د رضا مندئ د الله تعالی. په تفسیر جمل کښ وائی چه دا د رهبانیت پوائے کیدل د دوئ وو په غږونو او په غارونو کښ او تخنیدل د دوئ و وله فسادونو د خلقونه په دین کښ او بارول وو په خانونو باندے د سختو نو عبادتونو او پریخودل د نکاح وو او نګول په خانونو باندے او په جامو خپلو او په خوراك او په څښلو خپلو نا کاره څیزونه لکه د روایت دے له ابن عباس رضی الله عنه چه بادشاهانو پس له عیسیٰ علیه السلام نه بدل کړے وو تورات او انجیل او په دوئ کښ لږ خلق وو مومنان چه هغوئ لوست تورات او انجیل او رابدل به ئے خلق د دین د الله ته نو وو یلے شو هغه بادشاهانو نه چه تاسے راجمع کړئ د غه خلق چه مخالفت کوی له تاسے نه پس مړهٔ ئے کړئ او یا ئے موافق کړئ له خان سره یعنی چه پریږدی تورات او انجیل او عمل وکړی په دغه بدل کړی ستاسے. نو راجمع کړل بادشاهانو او ورته ئے وراندے کړل وژلل چه یا مو وژنو او یا پریږدئ تورات او انجیل او عمل وکړئ په دغه څیز باندے چه مونږه بدل کړی دی. یعنی چه څهٔ موراوخکلی دی له تورات او له انجیل نه او یو شے موجود کړے دے نو مؤمنانو ورته وویل چه مونږه پریږدئ چه مونږ جدا شوله تاسے نه او تاسے ته به نهٔ ښکاره کیږو نو وویل څنګه له مؤمنانو چه جوړ کړئ خمونږ د پاره او چت خا یونه لکه ستنے او چتے نو وخیژوئ مونږه په هغوئ باندے او را کړئ مونږ لره یو شے چه مونږ پورته کوو په هغه سره خوږل او څښل خپل نو مونږ به نهٔ ښکاره کیږو تاسے ته او یو تړلے وویل چه پریږدئ مونږه چه کرځوو په زمکه کښ او څرو او خوږل او څښل کوو په زمکه کښ لکه څنګلی څیزونه کهٔ تاسے لره قدرت راغے په مونږه باندے په زمکه ستاسے کښ نو مړهٔ کوئ مونږه یعنی مونږه به بیا چرے نه حاضریږو تاسے ته او هغه نور و ورته وویل چه مونږ لره کورونه جوړ کړئ په میروکښ نو مونږ به هلته کوهے جوړ کړو او سالږ به کړو او په هغهٔ به ساعت تیر وو او ودے مؤمنانو په کافرو کښ خپل وو نو هغوی داکارونه وکړهٔ دے

مؤمنانو دپارہ یعنی حُینو اوچت خایونہ ورتہ جوړکړہ اوهغوئ ئے پکښ کینول اوحُینوتہ ئے کورنہ نه پیرہ جوړکړہ اوهغه حُینے به پرغربیان ووهغوئ ئے حُنګلو نو تہ پرنخودہ نو په دے شان سره دا مسلمانان په سختئ کښ مړه شو اودین دعیسےٰ ئے پرے نخودہ پس له یوے زمانے نه دا کافران درے ټولی شو۔ یو وویل چه مونږه لا ردهغو کوچه اوچت خایونه ئے جوړکړے وو اوهغه بیا فرقے وویل چه مونږه دهغو لارکوو چه په میرو کښ ئے کورونه جوړ کړی وو اوهغه دریم ټولی وویل چه مونږه دهغوئ کو وچه عزونو ته تللی وو اوداد دے کافرانو هسے دعوٰی وکه ولے چه دوئ بدل کړے وو دخدائ کتاب نو کافر شو اوهغوئ دخدائ په کتاب مسلمانان وکړل سختئ ئے په خان تیرے کړے وے ۔ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا نو تینګ نه کړہ دوئ هغه کار ونه اوعمل ئے ونه کړہ په هغوئ یعنی هغه خلقو چه چا کتاب بدل کړے وکړ په خلاف دهغه خلقو چه ږومبی مسلمانان تیر شوی وو او په بنو کار ونو مړہ شوی وو فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ پس ورکړل مونږه هغه خلقولره چه ایمان ئے راوړے وو له دوئ نه اَجْرَهُمْ ج مزدوری اوثواب ددوئ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۶﴾ او ډیر له دوئ نه وتونکی وو له حکم دخدائ نه په بدلولو کتاب دالله سره نو دوئ کافر ووخو تشے دعوے ئے کولے دلارے دمسلمانانو نو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ اے خلقو چه ایمان مورا وړے دے وویریږئ دالله نه اوایمان راوړئ په رسول دهغه باندے ۔ الله تعالیٰ حکم وکړہ مومنانو د اهل کتابو ته چه باقی وو په کتاب خپل او په تابعدارئ د پیغمبر خپل چه تاسے ایمان راوړی په دے رسول باندے لکه چه ایمان مورا وړے وو په نور رسولانو یعنی ایمان راوړئ په محمد رسول الله صلے الله علیه وسلم يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ درښه کړی الله تعالیٰ تاسے ته دوه برخے له رحمته خپله یو دایمان په محمد رسول الله صلے الله علیه وسلم اوبل دایمان په پخوانو پیغمبرانو وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ او وبه کړځوی تاسے د پاره روښنائی چه تاسے ترے تلل کوئ په هغے سره په دنیا کښ او په پل صراط او په جنت کښ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾ او وبه بخښی تاسے ته کناهونه ستاسے او الله

بخښونکے دے مهربان هر کله چه واوریدہ هغه اهل کتابو چه ایمان ئے نه وو راوړے پر محمد صلے الله علیه وسلم باندے له مؤمنانونه دا خبره چه هر هغه څوك له اهل کتابو نه چه ایمان راوړی په محمد صلے الله علیه وسلم باندے هغه لږه دوه برخے دی د ثواب نو وے ویل مؤمنانو ته چه مونږه اوتاسے برابر یو چه مونږه لږه یوه برخه شوه اوتاسے لږه یوه برخه شوه نو الله تعالیٰ ردکوی دۓ خبرے دکافرانو لِئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ د اچه بیان کړے الله تعالیٰ دوه برخے د پاره د مسلمانانو د اهل کتابو د پاره دی چه پوهه شی کافران د اهل کتابو په دے خبره چه دوئ به قادر نه شی او بیا به نه مومی یو شے د فضل د الله نه ولے چه دوئ ایمان رانه وړ په دے پیغمبر۴ نو پخوانے ایمانونه هم معتبر نۀ دے ولے چه دوئ لا پخوا کتابونه بدل کړے وو او هلته لا کافر وو لکه دا وله معلومه شوے ده وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ او په تحقیق سره فضل چه ایمان دے په پیغمبر۴ او په قرآن هم دا رنګه نور نعمتونه په لاس د الله کښ دی هیڅوك پکښ تصرف کولے نشی بے له هغے نه دے ورکوی هر چا ته چه رضائے وشی وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿۲۹﴾ الله تعالیٰ صاحب د فضل دے او لوئے دے فضل ئے

سُوْرَةُ المجادلة مدنية ۵۸ ۲۲ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ۱۰۵ اٰيَاتُهَا ۲۲ رُكُوعُهَا ۳

روایت دے چه یوه ورځے اوس خوئ د صامت ؓ میل وکړو خوله لورد ثعلبه ته یعنی خوله چه بنځه د اوس وه جماع ته ئے وبلله نودے ترے ځان منع کړه پس دے ورته وویل ﴿۱﴾ انت علے کظهر امی اود اویل په جا هلیت کښ طلاق وو پس راغله خوله پیغمبر ﷺ ته او حال ئے څیل ورته وویلو نو رسول کریم صلے الله علیه وسلم وویل چه ته پرے حرامه شوے بو خوله وویل ما ته ئے لفظ د طلاق نۀ دے ویلے - نو بیا پیغمبر علیه السلام وویل کمان نۀ کوم مګر د حرامو الی په هغه باندے پس خوله خفه شوه له جهنه د پیروالی د اولاد او

عه یعنی ته په ما باندے لکه شا د مور څمائے ۱۲ منه

درکو توالی ئے او د جد اکید لو د خبستن پخوانی څخه نود ویم ځل ئے بیا عرض وکړو رسول اللہ ﷺ ته پس ده بیا ورته وویل چه ته پرے حرامه شوے پس مخ کړهٔ خوله آسمان ته او وے ویل اَللّٰهُمَّ عمه انی اشکوا الیک فی هٰذا الحکم ۔ فی الحال دا آیت راغے **قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ** په تحقیق سره واوریدهٔ خدائ **قَوْلَ الَّتِیْ** ویل دهغه ښځے **تُجَادِلُكَ** چه جګړه ئے کوله له تا سره **فِیْ زَوْجِهَا** په کارد خبستن خپل کښ **وَتَشْتَكِیْۤ اِلَى اللّٰهِ** اوچه شکایت او ژړا ئے کوله خدائے ته **وَاللّٰهُ یَسْمَعُ** اوخدائ اوریدل **تَحَاوُرَكُمَا** وویل ددواړو ستاسے یعنی چه تاورته ویل چه ته پرے حرامه شوے او هغے ویل چه زهٔ ئے طلاقه کړے نه یم **اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌۢ** په تحقیق سره خدائ اوریدونکے دے شکایت د مضطرلره **بَصِیْرٌ** (۱) اولیدونکے دے حال دهٔ لره **اَلَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ** هغه کسان چه ظهار کوی له تاسے **نه مِّنْ نِّسَآىِٕهِمْ** له ښځو خپلو نه او ورته وائی چه ته په ماندے دا سے ئے لکه شا د مور خُما **مَّا هُنَّ** نهٔ دی دغه ښځے **اُمَّهٰتِهِمْ** ط مینده د دوئ یعنی په ویلو دده خبرے سره ئے ښځه نه مور کیږی ځکه چه **اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ** نهٔ دی مینده د دوئ **اِلَّا الّٰٓـِٔیْ وَلَدْنَهُمْ** ط مګر هغه ښځے چه دوئ ئے زیږولی دی او ږدونکے ښځے په حکم دمینده وکښ دی او همدارنګه ازواج مطهرات د رسول کریم صلے اللہ علیه وسلم **وَاِنَّهُمْ** او په تحقیق سره ظهار کونکی سړی چه دی **لَیَقُوْلُوْنَ** خامخا وائی **مُنْكَرًا** مِّنَ الْقَوْلِ نا معقول خبره یعنی مخالف له عقله **وَزُوْرًا** ط او وائی دروغ ځکه چه ښځه نه برابریږی له مور سره **وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ** او په تحقیق سره خدائ عفو کونکے دے توبه ایستونکی لره له دے ویلونه **غَفُوْرٌ** (۲) بخښونکے دے دوئ لره په کفاره سره **وَالَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ** اوهغه کسان چه ظهار کوی له ښځو خپلو نه **ثُمَّ یَعُوْدُوْنَ** پس بیا رجوع وکړی دوئ **لِمَا قَالُوْا** له هغه قول نه چه ویلے وو دوئ یعنی قصد وکړه وطی د دغه ښځے ته پس له حرامولو نه **فَتَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ** پس په دهٔ آزاد ول د مړئ دی **مِّنْ قَبْلِ اَنْ یَّتَمَآسَّا** د وصیله دے نه چه مظاهره سړے او مظاهره ښځه مسه کړی یو بل **ذٰلِكُمْ** دغه

عمه یعنی اے خدایه زهٔ شکایت اوژړا کوم تاته په دے حکم کښی ۱۲ منه

حکم په کفارهٔ سره تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ط پند درکولے شی تاسے ته په دے سره حُکه چه بیا رجوع
اوعود ونه کړی ظهار ته وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۳ اوخدائ په هغه خهٔ چه تاسو ئے کوئ
خبردار دے نوجزا بهٔ درکړی فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ پس هر چا چه بیانهٔ مونده مړیے فَصِيَامُ
شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ پس په دهٔ روژے دوو میاشتو پلے پسے دی چه مینځ کښی بے عذره
روژے ونهٔ خوری اودغه روژے مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ط وصحبے دے له مسه کولو نه په
مباشرت سره فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ پس هر خوك چه روژے نهٔ شی ساتلے فَاِطْعَامُ پس په دهٔ
طعام ورکول سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا د شپیتو فقیرانودی هر یو ته نیم اوسے له غنمونه اوبرابر اوسے
له نورو دانونه ذٰلِكَ دغه احکام ذکر کړے شوی مقرر شول لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ د پاك
دے چه تصدیق وکړئ خدائ لره او رسول لره ئے په قبلولو د شریعت سره او په ترك کولو دهغه
کارونوچه کول تاسے په جاهلیت کښی وَتِلْكَ اودغه حکمونه چه بیان کړل مونږه په ظهار او
کفارهٔ کښی حُدُوْدُ اللّٰهِ ط مقرر کړے شوی دخدائ دی نوتجاوز ترے روا نهٔ دے وَلِلْكٰفِرِيْنَ
اوهغه کسانو لره چه فرمان د خدائ نه قبلوی عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝۴ عذاب درد ناك
دے اِنَّ الَّذِيْنَ په تحقیق سره هغه کسان چه يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مخالفت کوی
له خدائ اوله رسوله ئے په تجاوز سره له حدودونه كُبِتُوْا هلاك به کړے شی دوئ
كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ لکه چه هلاك کړے شوی وو امم ماضیه . مِنْ قَبْلِهِمْ وړومبے له دوئ
نه په سبب مخالفت ئے له رسولانو خپلونه وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اَوپه تحقیق سره نازل کړی دی مونږ
اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ط ایتونه روښانه چه دلالت کوی په صدق د رسول اوپه صحت د قول سره ئے
وَلِلْكٰفِرِيْنَ اوکافرانو لره په دے ایتونو باندے عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۵ عذاب خوار اورسوا
کونکے دے په دنیا کښی اویا په اخرت کښی يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ یاد کړه دوئ ته هغه ورځ چه
پورته به کړی خدائ دوئ له قبرونونه جَمِيْعًا ټول چه یو به هم ترے پاتے نهٔ شی فَيُنَبِّئُهُمْ

عه بیان کړهٔ خدائ په اول ایت کښی چه داخبره نا معقول اود روغ ده او بیائے کړه په ایت دویم کښی حکم د
ظهار پس دا ایت مکرر نهٔ دے ۱۲ عمه یعنی پخواد یوځائے کیده لوه دواړو نه ۱۲ په دے کښی اشارت دے ته چه
د پردے نه وطی حرامه ده ۱۳ منه رحمه ربه ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ۱۲

بِمَا عَمِلُوْا ط پس خبر به کړی خدائ دوئ لره په هغه څیز چه ئ کړی وی اَحْصٰىهُ اللّٰهُ ساتلے اویاد کړے به وی خدائ عمل د دوئ وَ نَسُوْهُ ط اوهیر کړے دے دوئ هغه له جهته د د پرواتی نه وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ اوخدائ په هرلوڅیز ونوله اعمالوا وله اقوالو او احوالو- شَهِیْدٌ ۶ خبردے نهٔ پهتیږی له دهٔ هیڅ څیز روایت دے چه یوه ورځ ربیعه خُوئ دعمرؓ او حبیب رورئ سره دصفوان خبرے کولے نو یو وویل ایا خدائ پوهیږی په دے چه مونږ ئ وایو او بل وویل په بعضو پوهیږی او په بعضو نهٔ پوهیږی نو دریم وویل که چرے په بعضو پوهیږی نو بس په ټولو به پوهیږی ځکه چه مانع و رلره نهٔ شته پس دا مخکښ ایت نازل شه اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ ایا نهٔ پوهیږے ته په دے چه په تحقیق سره خدائ پوهیږی مَا فِی السَّمٰوٰتِ په هغه څیز ونو چه په اسمانونو کښ دی له ملائکو او له ستورو او له اړواحانو نه وَ مَا فِی الْاَرْضِ ط اوپوهیږی په هغه چه په زمکه کښ دی له معادنو اونباتاتو اوحیوانا تو څخه مَا یَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ نه دی له درے کسانو چه راز وائی یو تر بله - اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ مگر خدائ څلورم وی له دوئ نه په علم سره یعنی څلورم گرځی دوئ لره له جهته د اطلاع په رازد دوئ وَ لَا خَمْسَةٍ اونهٔ وی پنځه راز ویونکی اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ مگر دے ئ شپږم وی وَ لَاۤ اَدْنٰى اونهٔ وی کم مِنْ ذٰلِكَ له دریونه چه دوه دی وَ لَاۤ اَكْثَرَ او نهٔ وی زیاتی له پنځونه اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ مگر خدائ وی دوئ سره - یعنی پوهیږی په راز د دوئ اَیْنَ مَا كَانُوْا ج هر چرته چه وی دوئ په اسمانونو او په اطرافو د زمکے کښ ځکه چه علم د دے څیزونو په قرب مکانی سره نهٔ دے چه په اختلاف د مواضعو سره عالم پرے نشی ثُمَّ یُنَبِّئُهُمْ پس خبر به کړی خدائ دوئ لره بِمَا عَمِلُوْا په هغه کارچه ئ کړے دے په دنیا کښ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ط په ورځ د قیامت پس جزا به ورکړی موافق د عمل سره اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ۷ په تحقیق سره خدائ په ټولو څیزونو له اقوالو او افعالو پوهه دے -

روایت دے چه یهودیانو او منافقانو به پټ خبرے کولے او په کوشو د ستر کو کښ به ئ اشاره مومنانو ته کوله د پاره د واقع کیدو د شک په راوړونو د دوئ کښ پس پیغمبرؐ دوئ

دے کارہ منع کړل نو درے ورځے ئے نہ کوئے نو بیا ئے ویلے پس ایت نازل شہ اَلَمْ تَرَ ایا نہ وینے تہ اونظر نہ کوے اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا هغه کسانو ته چه منع کړے شوی وو عَنِ النَّجْوٰى له راز ویلونه ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ پس بیرته کړځی لِمَا نُهُوْا عَنْهُ هغه څیز ته چه ترے منع کړے شوی وو وَ يَتَنَاجَوْنَ او راز وائی دوئ بِالْاِثْمِ په هغه څیز سره چه دوئ پرے کنا هکار یږی چه غیبت دمؤمنانو دے وَالْعُدْوَانِ او په ظلم سره په حق د اهل ایمانو وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ د اوپه نہ منلو د فرمان د پیغمبر سره **روایت دے** چه یوه ډ ډ ئ یهود یان پیغمبر ﷺ له راغلل نو وے ویل السَّام عَلَيْكَ نو پیغمبر ﷺ دوئ ته وویل وَعَلَيْكُمْ نو خدائ تعالیٰ دا ایت نازل کړ وَاِذَا جَآءُوْكَ او هر کله چه راشی دا یهودیان تاته حَيَّوْكَ سلام وائی تاته بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ نه په هغه څیز سره چه سلام نه دے ویلے تا له ډ خدائ پرے یعنی دوئ وائی په سلام ستا کښ السام علیك یا محمد۔ او سام مرګ ته وائی او خدای تعالیٰ وائی سَلٰمٌ عباده الذین اصطفٰی وَيَقُوْلُوْنَ او وائی دوئ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په منځ خپل کښ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ ولے نه عذاب وی خدائ مونږه بِمَا نَقُوْلُ ط په سبب دهغه خبرے سره چه وایو مونږه یعنی دوئ ویل که چیرے محمد ﷺ پیغمبر وے نو خدائ تعالیٰ به مونږ په سبب دے دسلام سره عذاب کړے وے پس وویل خدائ تعالیٰ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ج بس دے دوئ له دوزخ دپاره دعذاب يَصْلَوْنَهَا ج داخل به شی دوئ په دوزخ کښ فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۸﴾ پس بدځای دے دوزخ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِذَا تَنَاجَيْتُمْ هر کله چه راز یو ترلبه وایئ فَلَا تَتَنَاجَوْا پس راز مه وایئ بِالْاِثْمِ په کناه سره وَالْعُدْوَانِ او مه وایئ په ظلم سره هم وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ او په بے فرمانئ له رسول ﷺ نه یعنی تاسے په مثل د یهودیانو او منافقانو راز په شر سره مه وایئ بلکه وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ راز وایئ په ادا کولو د فرائضو او نوافلو سره وَالتَّقْوٰى ط او پرترك د کنا هونو سره او یا راز وایئ چه پکښ خیر وی مؤمنانو له او پرهیزوی له معصیته د پیغمبر ﷺ وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ویریږئ له خدائ په هر کار کښ چه کوئ تاسے خیر او که شر الَّذِيْٓ هغه خدائ تعالیٰ نه

عه سلام د وی په بند کانو د خدائ هغه بند کان چه غوره کړی ئے دی ۱۲

چه تاسے به اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ۹ دے ته جمع کړے شی دپاره دحساب نوجزا به درکړی موامق د رازستاسے سره اِنَّمَا النَّجْوٰی په تحقیق سره چه راز ویل په اثم او په عدوان سره مِنَ الشَّیْطٰنِ له وسوسے دشیطان دے حُکمه چه دوئ ے په ستړگو ستاسو کښ بناسته کوی لِیَحْزُنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دپاره دے چه غمژن کړی دوی مؤمنانو لره وَلَیْسَ بِضَآرِّهِمْ شَیْـًٔا اونهٔ دے شیطان یا راز ضرر رسوںکے مؤمنانو لره هیڅ قدر اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ مګر په حکم دخدائ سره وَعَلَی اللّٰهِ او په خدائ باندے فَلْیَتَوَکَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۱۰ پس باندے دی چه توکل دِ کوی مؤمنان اوکا دوند خپل دِ دهٔ ته سپاری او هیڅ باك دِ نهٔ کُنړی له راز ویلو دیهودیانو او منافقانو نه **روایت دے** چه یو ټولی دا هل بدر نه مجلس د رسول کریم صلے اللہ علیہ وسلم ته راغے او بعضے اصحاب چا پیره ترے ناست وو بدریانو سلام وکړو او په ښیڅ دمسجد کښ ودریدل اوهیچا دوئ لره ځائ ورنه کړو نو پیغمبر ګ ووویل پورته شه فلانی او فلانی نو دوئ پورته شول اوځائ ے اهل بدر وته پریښود هٔ نومنافقانو په دے باب کښ خبرے کولے پس خدائ تعالی دا ایت نازل کړه یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اے مؤمنانو اِذَا قِیْلَ لَکُمْ هر کله چه ووایلے شی تاسے ته چه تَفَسَّحُوْا فِی الْمَجٰلِسِ ځائ فراخ اوارت کړئ په کینا ستو کښ فَافْسَحُوْا پس فراخ کړئ ځائ خلقو ته دپاره دے چه یَفْسَحِ اللّٰهُ لَکُمْ فراخ کړی خدای تاسے ته ځائ په قبر یا جنت کښ وَاِذَا قِیْلَ انْشُزُوْا اوهر کله چه ووایلے شی تاسے ته چه پورته شئ دپاره دفراخوالی دمجلس اوچا وبلی دی مانځه ته فَانْشُزُوْا پس پورته شئ دپاره دډے چه یَرْفَعِ اللّٰهُ پورته کړی خدائ په جنت کښ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْکُمْ هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے له تاسونه وَالَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ او هغه کسانو لره چه ورکړے شوے دے ورلره پوهه په ایمان دَرَجٰتٍ درجے پورته له مؤمنانو نه څخه حُکه چه مؤمن عالم بهتر دے له مومن بے علمه څخه لکه چه حدیث دے فَضْلُ الْعَالِمِ علی العابد کفضل القمر لیلة البدر علی سائر الکواکب ۔ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ او خدائ په هغه څیز چه کوئ تاسے خَبِیْرٌ ۱۱ خبردار دے نوجزا به ئے درکړی

عه یعنی بهتر والے دعالم په عابد باندے دا سے دے لکه بهتر والے دخوارلسے ښے د سپوږمئ په ټولو ستورو باندے ۱۲ کتبہ : محمد صادق زهیر چیړ هارے د اکوان

روایت دے د یرخلق به رسول کریم صلے اللہ علیہ وسلم له راتلل اوهر قسم راز ونه به ئے ویل نو پیغمبرؐ ترے تنگ شۀ پس خدائ تعالیٰ وویل یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اے مؤمنانو اِذَا نَاجَیْتُمُ الرَّسُوْلَ په هغه وخت کښ چه راز وایئ د پیغمبرسره فَقَدِّمُوْا پس وړاندے وکړئ تا سے بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ وړاندے د رازخپل نه صَدَقَةً خیرات فقیرانولره فائده په دے امرکښ تعظیم او شرافت دے پیغمبرؐ لره او نفع ده فقیرانولره او منع ده خلقو لره له ویلو دهر قسم رازونو نه پیغمبرؐ ته ذٰلِكَ دغه صدقه ورکول ړوهیے له رازنه خَیْرٌ لَّكُمْ غوره دی تا سے لره حُکه چه طاعت زیاتوی وَ اَطْهَرُ او پاکیزه زیات دے حُکه چه کناهونه کموی فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا پس کۀ بیانه مومئ تا سے هیڅ شے چه خیرات کړئ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ پس خدائ بخښونکے دے هغه چا لره چه رازبے صدقے پیغمبرته وائی رَّحِیْمٌ (۱۲) مهربان دے پرے حُکه چه رواعے کړه عاجزلره رازویل بغیرله خیراته پس دغه امرلس ورځے وو او بیا منسوخ شۀ په دے ایت سره ءَاَشْفَقْتُمْ ایا ویریږی تا سے له فقره اَنْ تُقَدِّمُوْا چه ړوهیے وکړئ بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ط پخواله رازخپله صدقے حُکه چه شیطان وسوسه اچوی په زړونوستا سے کښ چه خیرات ورکولوبه فقیران شَیْءٍ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا پس هر کله چه ونۀ کړئ تا سے دغه کار یعنی خیرات ړوهیے له رازنه وَتَابَ اللّٰهُ عَلَیْكُمْ او رجوع وکړه خدائ تا سے ته په توبے سره یعنی عفوۀ ئے وکړه په ترک د خیرات سره ړوهیے له رازنه فَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ پس همیشه ادا کوئ موځ فرض لره وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ او ورکوئ زکوٰة وَاَطِیْعُوا اللّٰهَ او فرمانبرداری وکړی خدائ لرؤ وَ رَسُوْلَهٗ او رسول ددۀ لره په ټولو اوامرو کښ وَاللّٰهُ خَبِیْرٌۢ او خدائ خبردار او پوهه دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ (۱۳) په هغه څیز چه کوئ تا سے خرکنده او په پته نوجزا به درکړی روایت دے چه عبد اللہ حُوی د نبتل یو منافق وو چه پیغمبرؐ سره به کیناستۀ او پاڅیدۀ نو خبرے ددۀ به ئے یهود یانو ته ویلے پس یوه وړۀ پیغمبرؐ په خُائے دیوے بی بی کښ سره د ټولی داصحابو مناست ووپس وے ویل

عه یعنی خیرات ورکول ړوهیے د رازنه ۱۲

اوس به یو سړے را شی چه زړۀ به ئے سرکش وی اوله شیطان به کوری ناګهانه ځوی نبتل راغے نو پیغمبرؐ و رته و ویل تۀ اوفلانی او فلانی یاران دِ ولے ما ته ښکنځل کوئ نو ځوی نبتل او یارانوئے سوګند وخورچه مونږه هیڅکله داسے بے ادبی نۀ ده کړے پس دا لحکمه ایستخدائے نازل کړو اَلَمْ تَرَ ایا نۀ ګورے تۀ اے پیغمبره اِلَى الَّذِيْنَ هغه کسانو ته یعنے منافقانو ته چه تَوَلَّوْا یاپه دوستئ ئے ټولے ئے قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ط هغه قوم چه غصه ښو لے ده خدائ پرے چه یهودیان دی ما هم نۀ دی هغوئ یعنی منافقان مِنْكُمْ له تاسے نخمه اے مؤمنانو وَلَا مِنْهُمْ ۙ او نۀ دی هغوئ له یهودیانو نخمه وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ اوسوګند خوری په دروغ په دعوئ داسلام اواحترام دپیغمبر وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ اوحال دادے چه دوئ پوهیږی چه دروغ وائی اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ تیار کړے دے خدائ دپاره ددوئ عَذَابًا شَدِيْدًا ط عذاب سخت اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ لره سَآءَ بد دی مَا كَانُوْا هغه څۀ چه وو دوئ يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ کول به ئے لهګناهونو نه اِتَّخَذُوْٓا ټولے دے دوئ اِيْمَانَهُمْ جُنَّةً سوګند خپل ډال یعنی دوئ په دے سوګند سره ځان خپل اومال خپل له مؤمنانو نه ساتی فَصَدُّوْا پس بندکړل دوئ په دے سوګند سره مؤمنان عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے دخدائ چه جهاد دے یعنی منع ئے کړل مومنان له جنګه اوله اخستلو دمال په دے سوګند سره فَلَهُمْ پس دے دوئ لره عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۶﴾ عذاب خوارکونکے فائدہ داعذاب دویم دے په صفت بل سره اوچا ویلی دی اول عذاب دقبر دے اودوئم عذاب دآخرت دے لَنْ تُغْنِيَ دفع به نۀ کړی عَنْهُمْ له دوئ نخمه په ورځ دقیامت اَمْوَالُهُمْ مالونه ئے وَلَآ اَوْلَادُهُمْ اونه اولاد دوئ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ط له عذابه دخدایه لږ یعنی مالونه اواولاد به ترے لږ عذاب هم دفع نۀ کړی اُولٰٓئِكَ دغه ټولے دمنافقانو اَصْحٰبُ النَّارِ ط یاران دوزخ دی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ دوئ به په دوزخ کښ همیشه وی يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ په هغه ورځ چه پورته کړی خدائ دامنافقان له قبرونو نه جَمِيْعًا ټول فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ پس سوګند به کوی دوئ خدائ لره چه مونږه په دنیا کښ مسلمانان وو كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لکه چه سوګندکوی په دنیا کښ تاسے لره چه مونږه

مخلصان یو وَيَحْسَبُوْنَ اوپه هغه ورځ به گمان کوی داسے چه اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ط دوئی په یو خیز دی له نفع نه یعنی دوئی به گمان کوی چه مونږ لره به ئی ورځ هم سوکند فائده رسوی اوله عذابه دخدائی به موخلاص کا لکه چه په دنیا کښی ئے له مومنانو نه خلاص کړی وو اَلَآ خبردار شه دلسے چه اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئی هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ⑱ هم دوئی دی دروغژن د پرځکه خدائی تعالیٰ سره هم دروغ وائی اِسْتَحْوَذَ غالب شوے دے عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ په دوئی شیطان چه په وسوسے سره ئے گناه ته اړولی دی نو فَاَنْسٰىهُمْ پس هیر کړهٔ دئ په دوئی ذِكْرَ اللّٰهِ ط یادول دخدائی نو نهٔ ئے په زړهٔ یادوئی اونه ئے په ژبه اُولٰٓئِكَ دغه ټولے هیرونکے حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ط لښکر اوتابع دشیطان دی اَلَآ خبردار شه چه اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ په تحقیق سره لښکر د شیطان هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ⑲ هم دوئی دی زیان کاران ځکه چه فوت ئے کړل پخپل ځان نعمتونه دجنت اوورانده ئے کړل عذاب ته اِنَّ الَّذِيْنَ په تحقیق سره هغه کسان چه يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ مخالفت کوی له خدائ وَرَسُوْلَهٗٓ او مخالفت کوی له استاذی دخدائ اُولٰٓئِكَ دغه ټولے دمخالفانو به وی فِي الْاَذَلِّيْنَ ⑳ په ټولی دخوارانو کښی چه كَتَبَ اللّٰهُ لیکلے دے خدائ په لوح محفوظ کښی داسے چه لَاَغْلِبَنَّ اَنَا خامخا غالب به شم زهٔ وَرُسُلِيْ ط اوغالب به شی پیغمبران ځما په دلیل او په تورے سره اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ په تحقیق سره خدائ توانا دے په نصرت سره پیغمبرانو لره عَزِيْزٌ ㉑ اوغالب دے نو نهٔ عاجزوی دهٔ لره هیڅوك **روایت دے** چه خدائ تعالیٰ پس له بیانونو اوبدو منافقانو اوله دوستئ د دوئی نه دشمنانو د خدائ سره صفت د مخلصانو بیانوی لَا تَجِدُ قَوْمًا بیا به نهٔ موے تهٔ یو ټولے چه يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ایمان ئے راوړے وی په خدائ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او په ورځ د قیامت نو يُوَآدُّوْنَ دوستی به کوی مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ هغه چاسره چه خلاف کوی له خدائ وَرَسُوْلَهٗٓ اوله استاذی یعنی مؤمنان دوستی نه کوی له کافرانو اومنافقانو سره وَلَوْ كَانُوْٓا اګرکه وی دغه مخالفان اٰبَآءَهُمْ پلاران د دوئی اَوْ اَبْنَآءَهُمْ یا ځامن د دوئی اَوْ اِخْوَانَهُمْ یا وروڼه د دوئی اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ط یا خپلوان ئے اُولٰٓئِكَ دغه کسان

چه سره د دشمنانو د خدائ دوستی نه کوی کَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ لیکلے دے خدائ په زړونو د خدائ کښ ایمان وَاَیَّدَهُمْ او قوت ئے ورکړے دے دوئ لره بِرُوْحٍ مِّنْهُ په رحمت یا په مدد یا په نور د زړهٔ یا په قرآن سره له فیضه خپله وَیُدْخِلُهُمْ او داخل به کړی خدائ دوئ په ورځ د قیامت جَنّٰتٍ تَجْرِیْ په باغونو کښ چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د ونو ئے ولے خلور قسمه خٰلِدِیْنَ فِیْهَا همیشه به وی په هغه باغونو کښ. رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ خو شحال شهٔ خدائ له دوئ څخه په سبب د طاعت سره په دنیا کښ وَرَضُوْا عَنْهُ اوخوشحال شو دوئ له خدائ په سبب د وعدے په اخرت کښ اُولٰٓئِكَ دغه کسان حِزْبُ اللّٰهِ لښکر او ناصر د دین د خدائ دے اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ پوه شه چه په تحقیق سره لښکر د خدائ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۲۲) هم دوئ خلاص دی

روایت دے له پیغمبر۴ هرچا چه ولوست سوره مجادله نو دے به ولیکلے شی له حزب الله نه په ورځ د قیامت.

سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِیَّةٌ ۱۰۱ ۵۹ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیَاتُهَا ۲۴ رُكُوْعُهَا ۳

سَبَّحَ ثنا اوپاکی وویله لِلّٰهِ خدائ لره مَا فِی السَّمٰوٰتِ هغه څهٔ چه په اسمانونو کښ دی وَمَا فِی الْاَرْضِ ۚ اوهغه څهٔ چه په زمکه کښ دی وَهُوَ الْعَزِیْزُ او خدائ غالب دے په ټولو الْحَكِیْمُ (۱) اوحکم کونکے دے **روایت دے** چه هرکله پیغمبر۴ مدینے ته راغے نو بنی نضیر و دهٔ سره صلح وکړه په دے چه نه به کوم دښمن ورته جنګ او مدد له تاسره نوچه دے غالب شهٔ په ورځ د جنګ بدر پس دوئ وویل دا هغه پیغمبر دے چه صفت ئے ذکر شوی دے په تورات کښ اوچه تیغته وکړه مسلمانانو په ورځ د جنګ اُحد کښ نو دوئ صلح ماته کړه نو کعب سره د څلویښتو کسانو ملګے ته لاړهٔ پس پیغمبر علیه السلام محمد څوی د مسلمه ته وفرمایل چه کعب قتل کړه نو قتل ئے کړو پس خارج شه پیغمبر صلعم سره د لښکره او بند ئے

عه نوم د قبیلے دے له یهودیانو نه ۱۲

کړل یو ویشت ورځې نو امرئ وکړو په قطع کولو د خرما وُ سره ئے پس وغورځولو له خدائ په زړونو بنی نضیر وکښی ویره نووے ویل صلح کوو له تاسره لے پیغمبره دهٔ وویل چه صلح نهٔ کوم مګرچه ووځئ له دے ځایه پس له دریو ورځو نه پس دوئ لاړل شام ته لکه چه خدائ والی هُوَ الَّذِیْٓ خدائ هغه ذات دے چه له خواړئ ے اَخْرَجَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا وے ویستل هغه کسان چه کافرشوی وو مِنْ اَهْلِ الْکِتٰبِ له اهل کتابو څخه چه بنی نضیر دی مِنْ دِیَارِهِمْ له کورونو خپلو نه چه مدینه کښی وو لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ په اول ویستلو د دوئ سره له د عرب نه او ویستل دویم ځله خیبر وو مَا ظَنَنْتُمْ گمان نهٔ کولو تاسے اے مسلمانانو نوچه اَنْ یَّخْرُجُوْا بهر به شی بنی نظیر له مدینے نه حُکه چه دوئ ډیر وو او محکمے قلعے ئے وے وَظَنُّوْٓا اوګمان کولو بنی نضیر وو دا سے چه اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ ساتونکی د دوئ حُصُوْنُهُمْ قلعه ګانے د دوئ دی مِّنَ اللّٰهِ له عذاب د خدائ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ پس راغے دوئ لره عذاب د خدای مِنْ حَیْثُ لَمْ یَحْتَسِبُوْا ؕ له هغه ځائ چه دوئ ګمان نهٔ کولو چه هغه مرلا د دکعب سردارئے وو وَقَذَفَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ او وغورځولو خدائ په زړونو د دوئ کښی ویره چه یُخْرِبُوْنَ بُیُوْتَهُمْ خرابول به دوئ کور د خپل بِاَیْدِیْهِمْ په لاسونو خپلو سره د پاره د دے چه مؤمنان پکښی استوګنه و نهٔ کړی وَاَیْدِی الْمُؤْمِنِیْنَ ۚ او په لاسونو د مؤمنانو سره نو فَاعْتَبِرُوْا پس پند واخلئ تاسے یٰٓاُولِی الْاَبْصَارِ ۝۲ اے خاوندانو د ستر کو یعنی فکر وکړئ په احوالو د بنی نضیر وکښی او حُان وساتی له افعالو د هغوئ نه حُکه چه تاسے په مثل د بنی نضیر و په عذاب نه شئ ف په دے کښی اشارت دے جواز د قیاس ته وَلَوْلَآ اَنْ کَتَبَ اللّٰهُ اوکه نهٔ چرے نهٔ وے لیکلے خدائ عَلَیْهِمُ الْجَلَآءَ په دوئ وتل له وطنه لَعَذَّبَهُمْ فِی الدُّنْیَا د خامخا به ئے عذاب کړی وے په دنیا کښی په وژلو او په بندولو سره لکه بنی قریضه وَلَهُمْ اودے دوئ لره کهٔ وو تلے شی اوکهٔ ووژلے شی فِی الْاٰخِرَةِ په آخرت کښی عَذَابُ النَّارِ ۝۳ عذاب د اور ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ دغه عذاب په دے سبب سره دے چه وو دوئ شَآقُّوا اللّٰهَ مخالفت به ئے کولو دا مر د خدائ وَرَسُوْلَهٗ ج او د استاذی د دهٔ سره وَمَنْ یُّشَآقِّ اللّٰهَ او هغه

خوک چه مخالفت کوی له خدائ فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق سره خدائ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾ سخت عذاب کونکے دے روایت دے چه هر کله پیغمبر صلعم امر وکړو عبد اللّٰه او ابو لیلی ته په قطع کولو خرماؤ سره ئے نو ابو لیلی هر قسم خرما قطع کوله او ویل ئے په دے سره زړونه د منافقانو ماتوم او عبد اللّٰه خرما خرابے پریکولے او ویل به ئے چه د اخرما به خدائ په لاس د مؤمنانو کښ ورکړی نو هغه چه ښے دی دوئ لره ئے پریږدم نو خدائ تعالیٰ فرمائ مَا قَطَعْتُمْ هغه چه تاسے پریکړے مِنْ لِّيْنَةٍ له ونو خرماؤنه اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا او یا مو پریے نهٔ کړے او پریخود ے تاسے قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا ولاړے په بیخونو خپلو فَبِاِذْنِ اللّٰهِ پس دغه قطع کول او پریخودل په حکم د خدائ وو وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۵﴾ او بل د پاره د دے چه ذلیل او خوار کړی خدائ یهودیانو لره روایت دے چه هر کله بنی نضیر لره نهٔ بیخوس زعزعے او بیخوس خوله او درے سوه خلو بیښت تورے ترے پاتے شوے او همدا رنګے مالونه او زمکے نو پیغمبر ﷺ خلور حصے خلکو ته وبخښلے نو خدائ تعالیٰ وائ وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ او هغه مالونه چه غنیمت او لُجه کړ خُولی وو خدائ پاک رسول خپل باندے مِنْهُمْ له بنی نضیر وتخه فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ پس نهٔ وو زغلولی پرے تاسے مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ اسونه او اوښان یعنی پیاده مودا قلعه فتح کړے وه وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ ولیکن خدائ په مدد خپل سره غالب کوی پیغمبران خپل عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ په هر چا چه ئے غواړی وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۶﴾ او خدائ په هر خیز له غالب کولو د پیغمبرانو او له مغلوبیت د دشمنانو نوانا دے نو کله په سبب ظاهری سره چه جنګ دے دوئ غالبوی او کله ئے په سبب داچه لوډ ویرے سره په زړونو د کافرانو کښ غالبوی مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ اوهغه څهٔ چه غنیمت کړ خُولے وو خدائ عَلٰى رَسُوْلِهٖ په پیغمبر خپل باندے مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى له مالونو د اهل د کلیونه چه جنګ فَلِلّٰهِ پس خدائ لره دی وَلِلرَّسُوْلِ او د رسول لره ئے وَلِذِي الْقُرْبٰى او خپلوانو د پیغمبر لره وَالْيَتٰمٰى او یتیمانو لره وَالْمَسٰكِيْنِ او فقیرانو لره وَابْنِ السَّبِيْلِ لا او مسافرانو لره كَيْ لَا يَكُوْنَ د پاره د دے چه نه وی هغه غنیمت دُوْلَةً ۢ کړ خُید ونکے بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ په مینځ د غنیانو کښ مِنْكُمْ ؕ له تاسے څخه چه

زیاتی له حقه خپله اخلی او فقیرانو لره لږ ورکوی او یائے محرومه کوی لکه په جاهلیت کښ به دا سے دوئ کول وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ اوهغه څهٔ چه درکړی تاسے ته پیغمبرﷺ له غنیمته فَخُذُوْهُ ق پس وائے خلئ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ اوله هغه څهٔ نه چه منع کړی ترے تاسے فَانْتَهُوْا ج پس بیرته شئ ترے تاسے اوطلب ئے مهٔ کوئ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وویریږئ له خدائ په مخالفت کښ له پیغمبرﷺ اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق سره خدائ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۷ سخت عذاب کونکے دے هغه چا لره چه مخالفت کوی له پیغمبرﷺ نو هیڅکله ترے مخالفت مهٔ کوئ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ او دپاره د فقیرانو مهجرت کونکو یعنی غنیمت دپاره د یتیمانو او مسکینانو او مسافرانو او فقیرانو مهجرت کونکو دے الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا هغه فقیران چه ایستلے شوی وو دوئ مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ له کور دونو او له مالونو خپلونه يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا په دغه حال کښ چه طلبوله دوئ بخښنه مِّنَ اللّٰهِ له رب خپله وَرِضْوَانًا اوطلبوله ئے رضا د خدائ یعنی مهجرت ئے دپاره د سود اکړئ او بل غرض نه وو بلکه طلب کونکی د خدائ او د رحمت د دۀ وو وَيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ او مدد کوی دین د خدائ لره په نفس او مال خپل سرہ وَرَسُوْلَهٗ ط او مدد کوی له استاذی د خدائ سرہ. اُولٰٓئِكَ دغه ډله د مهاجرانو هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝۸ هم دوئ دی ریښتینی په ایمان او جهاد کښ وَالَّذِيْنَ او بل دپاره د هغه کسانو د چه تَبَوَّءُو الدَّارَ ځایونه ئے نیولی دی په مدینه کښ وَالْاِيْمَانَ اوخالص کړے ئے دے ایمان مِنْ قَبْلِهِمْ ړومبے له مهاجرانو څخه يُحِبُّوْنَ دوست لری دوئ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ هغه چا لره چه هجرت وکړے دوئ ته وَلَا يَجِدُوْنَ او نهٔ بیا مومی دوئ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً پهسینو خپلو کښ کینه مِّمَّآ اُوْتُوْا له هغه څهٔ چه ورکړے شوے وو مهاجرانو لره یعنی له هغه غنیمت چه پیغمبرﷺ خاص دوئ ته ورکړے وو. روایت دے چه یوه ورځ پیغمبرﷺ انصارو مدینے طلب کړل او ورته ئے وویل که تاسے غواړئ نو تول مالونه دبنی نضیر وبه په تاسے قسمت کړم او مهاجرانو له به هیڅ ورنه کړم مګر په کور دونو ستاسے کښ دِاوسی او که غواړئ نو دا مالونه به مهاجرانو ته ورکړم پس ستاسے د کور دونو نه دِ وُزی او خپله کذاره دِ پرے کوی نو مشرانو د انصارو وویل اے پیغمبرﷺ! مالونه خاص په دوئ

قسمت کړه او هم ځمونږه په ځایونو کښ د اوسی نو پیغمبر صلی اللہ علیه وسلم دوئ ته دعا وکړه پس خدائ تعالی په حق د دوئ کښ وائی وَيُؤْثِرُوْنَ او غوره کوی انصار مهاجرانو لره عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ په نفسونو خپلو باندے وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ط اګرکه وی دوئ لره هغه مالونه ته حاجت وَمَنْ يُّوْقَ څوک چه وساتلے شُحَّ نَفْسِهٖ له بخل د نفسه خپله یعنی چه منع کړی نفس لره د مال فَاُولٰٓئِكَ پس دغه ټولے هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۹ هم دوئ دی خلاص یابرے موندونکی وَالَّذِيْنَ اوبل د پاره دهغه کسانو جَآءُوْ چه راغلی دی او راځی تابعان د اصحابو ترڅیا مِنْۢ بَعْدِهِمْ پس له مهاجرانو او انصارونه يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا وائی اے ربه ځمونږه اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا او رونړه ځمونږه هم په دین کښ الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا هغه رونړه چه پرو مونږ والے ځے کړے دے په مونږه بِالْاِيْمَانِ په ایمان سره چه ایمان ځے مونږه پرومونږ راوړے دے وَلَا تَجْعَلْ اومهٔ پیدا کوه فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا په زړونو ځمونږه کښ کینه لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هغه کسانو ته چه ایمان ځے راوړے دے یعنی اصحاب د پیغمبر دی رَبَّنَآ اے ربه ځمونږه اِنَّكَ رَءُوْفٌ ۝۱۰ په تحقیق سره چه ته مهربان ځے رَّحِيْمٌ اوبخښونکے ځے نو دعا ځمونږه قبوله کړه او په رحمت خپل سره په تولی دیګو اینو کښ مو داخل کړه اَلَمْ تَرَ ایا نظر نه کوے ځے محمد صلے اللہ علیه وسلم اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا هغه کسانو ته چه منافق شوی دی چه عبد اللہ ځوئ دابئ او یاران د دهٔ دی يَقُوْلُوْنَ وائی دوئ لِاِخْوَانِهِمُ د رونړو خپلو ته الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه د رونړو ته چه کافر شوی مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل کتابو څخه لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ کهٔ چرے بهر کړے شوئ له کورونو خپلو نه لَنَخْرُجَنَّ خامخا به بهر شو مونږه مَعَكُمْ تاسے سره اَحَدًا هیڅوک لره هیڅکله هیڅ یعنی قبول به نه کړو فرمان د محمد صلی اللہ علیه وسلم او د نورو مسلمانانو نو کهٔ چرے مامور کړی په جنګ ستاسے سره مونږه وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ اوکهٔ جنګ وکړے شی تاسے سره یعنی کهٔ مسلمانان تاسے سره جنګ کوی نو لَنَنْصُرَنَّكُمْ خامخا به مونږه مدد کو و تاسے سره وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اوخدائ شاهدی وائی چه اِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ لَكٰذِبُوْنَ ۝۱۱ دروغ وائی یهودیانو ته لَئِنْ اُخْرِجُوْا کهٔ چرے بهر کړے شی یهودیان له

مدینے نه لَا یَخْرُجُوْنَ وُبه نه وُځی منافقان مَعَهُمْ ج دوئ سره وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا او کهٔ چرے جنګ وکړے شی له اهل کتابو سره لَا یَنْصُرُوْنَهُمْ ج مدد کاری به ونه کړی منافقان له دوئ سره وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ اوکهٔ چرے مدد ورکړی اهل نفاق یهودیانو لره لَیُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ تف خاخا به وګرځوی دوئ شا چیلے او وبه تختی ثُمَّ لَا یُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲﴾ پس له تیښتے د منافقانو به مدد ونه کړے شی یهودیانو سره لَاَنْتُمْ خاخا تاسے اے مؤمنانو اَشَدُّ رَهْبَةً سخت ډیریئ له جهته دویرے ثمه فِیْ صُدُوْرِهِمْ په زړونو د منافقانو کښ مِّنَ اللّٰهِ له خدائ تعالیٰ یعنی منافقان له تاسے ډیر ویریږئ او له خدائ لِذٰلِكَ دغه ویرے له تاسے بِاَنَّهُمْ په سبب د دے سره د دے چه دوئ قَوْمٌ لَّا یَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾ یو ټولے دے چه نه پیژنی لویئ د خدائ حُکمه چه ویره د خدائ لائق ده نه د مخلوق. لَا یُقَاتِلُوْنَكُمْ جنګ نه کوی دوئ تاسے سره جَمِیْعًا ټول یهودیان او منافقان یعنی دوئ ټول نه توانیږی تاسے سره د جنګ کولو اِلَّا فِیْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ مګر په هغه کلیو کښ چه محکم وی په قلعه او خندق او برجونو سره اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ط او یا د روستو دیوالونو نه او مخامخ جنګ نه کول د دوئ له جهته د لږو والی او د عاجزئ نه نه دی بلکه بَاْسُهُمْ جنګ د دوئ بَیْنَهُمْ په مینځ خپل کښ شَدِیْدٌ سخت دے لیکن هر شجاع چه خدائ او رسول سره جنګیدو کے شی نو هغه به یے زړه او ویریدو کے شی پس په سبب د هغے ویرے سره چه خدائ په زړونو د دوئ کښ اچولے ده مخامخ جنګ نه شی کولے تَحْسَبُهُمْ ګمان به کوے ته په یهودیانو او منافقانو باندے جَمِیْعًا ټول په یو فکر. وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ط او حال به داوی چه زړونه به ئے پریشان وی حُکمه چه عقائد او مقاصد د دوئ مخالف دی په دے کښ اشارت دے د دلاورئ او تیزئ مؤمنانو لره په جنګ د دوی ذٰلِكَ دغه پریشانی چه ده بِاَنَّهُمْ په سبب د دے ده چه دوئ قَوْمٌ لَّا یَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ یو ټولے دے چه پوهه نه لری پس مثال د یهودیانو کَمَثَلِ الَّذِیْنَ په مثل د هغه کسانو دے چه وو مِنْ قَبْلِهِمْ ړوبمے له دوئ نه یعنی اهل بدر یا امم ماضیه قَرِیْبًا په زمانه نزدے کښ ذَاقُوْا وئ څکل وَبَالَ اَمْرِهِمْ ج بدی د اخر کار خپل په دنیا کښ وَلَهُمْ او شته دوئ لره عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۵﴾ سره دخواږئ په دنیا کښ

عذاب دردناک په آخرت کښ او مثال د منافقانو په فریب ورکولو کښ یهود یانو لره كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ په مثل د شیطان دے اِذْ قَالَ په هغه وخت چه وویل ده لِلْاِنْسَانِ اَكْفُرْ خاص کافر ته چه په کفر خپل ثابت اوسه اوزهٔ دهم یاربم فَلَمَّا كَفَرَ پس هرکله چه ثابت شهٔ انسان په کفر قَالَ ورته وویل شیطان دا سے چه اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ په تحقیق سره بیزاریم له تانه داځکه چه اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ په تحقیق سره زهٔ ویریږمه له خدایه چه رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ (۱۶) رب دعالمیانو دے روایت دے چه مراد له شیطان ابلیس دے اوله انسان ابوجهل دے نو په هغه وخت کښ چه ابوجهل جنګ دبدر ته تللو پس دے قبیلے دکنانه ته په نصرت سره امیدوار وو ناګهانه ابلیس په صورت د سراقه چه سردار دکنانه وو راغے او وے ویل دهٔ ته چه مهٔ ویریږه زهٔ ملګرے او مدد کار ستایم نو هر کله چه دوئ بدر ته ورسیدل اوشیطان ولیدل چه ملائکه په نصرت د اهل اسلام راښکته کیدے وُتختیدهٔ او وے ویل زه له تاسے بیزار یم فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ پس دے اخر کار د شیطان اود کافرد اسے چه اَنَّهُمَا دوئ دواړه فِي النَّارِ په اور د دوزخ کښ دی خَالِدَيْنِ فِيْهَا هیشه به وی په اورکښ وَذٰلِكَ او دغه هیشه والے په اورکښ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ (۱۷) جزا اوبدل دکافرانو دے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اے مؤمنانو اتَّقُوا اللّٰهَ وویریږئ له خدائ په اوامرو ددهٔ کښ. نومخالفت ترے مهٔ کوئ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ اومناسب دی چه فکر دِ کوی هرسړے او وینے دِ مَا قَدَّمَتْ هغه خیز لره چه پروړے ے لپاره دے لِغَدٍ ده پاره د صباچه ورځ د قیامت ده فَمستی ئے کړو قیامت په غد سره له جهته د نږدے والی نه ویاله دے جهته چه دنیا او اخرت دواړه ورځے دی نو دنیا دا سے ده لکه نن ورځ او اخرت لکه صبا. وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ویریږئ له خدائ تکرار دپاره د تاکید دے اوچا ویلی دی چه اول امر په ادا کولو د واجباتو دے ځکه چه مقرون دے په عمل پورے اودویم په ترک د محارمو دے ځکه چه متصل دے په دے پورے چه اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق سره خدائ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ (۱۸) خبردار دے په هغه خیز چه کوئ تاسے وَلَا تَكُوْنُوْا او مهٔ کیږئ اے مؤمنانو كَالَّذِيْنَ په مثل د هغه کسانو چه نَسُوا اللّٰهَ هیر کړے دے هغوئ خدائ نو

فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ط هیرکړل خدائ په دوئ خانونه ددوئ نو وائ نه وریدهٔ هغه چه فائدهٔ
وه دوئ لره اُولٰٓئِكَ دغه ټولے چه دے هُمُ الْفٰسِقُوْنَ (۱۹) هم دوئ بهردی له لارے دخدائ
لَا يَسْتَوِيْٓ برابر نهٔ دی په نزد دخدائ اَصْحٰبُ النَّارِ یاران ددوزخ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ط
او یاران د جنت اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ یاران دجنت چه دی هُمُ الْفَآئِزُوْنَ (۲۰) هم دوئ دی
برے موندونکی اویا خلاص له عذاب لَوْ اَنْزَلْنَا که چرے نازل کړے وے مونږه هٰذَا
الْقُرْاٰنَ دا قرآن عَلٰى جَبَلٍ په یوغر اوپه مثل دانسان موورته فهم ورکړے وے لَّرَاَيْتَهٗ
خامخا به لیدلے وو تا هغه غر خَاشِعًا ویریدونکے او حکم وړونکے مُّتَصَدِّعًا هوتے شوے
مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ط له ویرے دعذاب دخدائ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ او دامثالونه چه دی نَضْرِبُهَا
بیانوو مونږه دا لِلنَّاسِ د پاره دخلقو لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ (۲۱) ښائیدی چه فکر وکړی دوئ
په دغه مثالونو کښی نو ایمان پرے راوړی **روایت دے** چه هر کله مشرکانو شریدینول
دخدائ سره او مشابه کولوئے له خلقو سره نو خدائ تعالیٰ دپارهٔ د رد د دوئ وویل چه
هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ خدائ هغه ذات دے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج نشته معبود برحق مګر یوخدائ
دے عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ج پوهه دے په پټو څیزونو اوپه ظاهرواو یا پوهه دے په دنیا او
په آخرت هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ (۲۲) هغه خدائ بخښونکے اومهربان دے هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ
خدائ هغه ذات دے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج نشته معبود برحق مګر یوخدائ دے اَلْمَلِكُ بادشاه
دے چه بادشاهی ګنهٔ زائلیږی الْقُدُّوْسُ اوپاك دے له قبا ځوځخه السَّلٰمُ اوخاوند دسلامتیا
دے له عیبونو ځخه اوچاو یلی دی خدائ هغه ذات دے چه په امن دی خلق له ظلم ئے
الْمُؤْمِنُ اوپه امن کونکے دے له عذابه هغه چاله چه طاعت ئے کوی اَلْمُهَيْمِنُ او
ساتونکے دخلقو دے الْعَزِيْزُ اوغالب دے په حکم کښ الْجَبَّارُ اولوی دے اوچاویلی دی چه جوړ ونکے
دکارونو ماتودے الْمُتَكَبِّرُ ط سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (۲۳) اولوئے دے له هغه څیزه چه شریکوی
ئے مشرکان له دهٔ سره ځکه چه شریک نهٔ دے له دهٔ سره په دغه مذکورکښ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ
الْبَارِئُ هغه خدائ دے چه پیدا کوونکے نوی یعنی ظاهر کونکے داعیانو الْمُصَوِّرُ جوړونکے دصورتونو د

مخلوقا تو دے په رحم کښ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى خدائ لره دی نامے نیکے چه دلالت کوی په صفاتو دهٔ يُسَبِّحُ لَهٗ په پاکئ سره یادوی خدائ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج هغه څهٔ چه په اسمانونو او په زمکه کښ دی وَهُوَ الْعَزِيْزُ او هغه خدائ غالب دے په ملک خپل کښ الْحَكِيْمُ ع (۲۴) حکم کونکے هم دے روایت دے له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه چه مَنْ قرء سورة الحشر غفر له ما تقدم من ذنبه و ما تاخر۔

سورة الممتحنة ۶۰ مدنية ۹۱ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اياتها ۱۳ ركوعها ۲

روایت دے چه هر کله حاطب حُوئ دابی بلتعه پوهه شهٔ چه پیغمبر علیه السلام له اهل مکے سره غزا کوی نو دوئ ته ئے داسے ولیکل اِنَّ رسول الله یرید کم فخذوا حذرکم پس جبریل علیه السلام حضرت خبر کړو نو دهٔ علی او زبیر او مقداد رضی الله عنهم روضهٔ خاخ ته ولیږل او کاغذ ئے دسارہ نه چه معتق دابی عمرو واخست او پیغمبر صلعم ته ئے راوړهٔ او ورته ئے وویل چه تا ولے داسے کار کړے دے نو ده وویل اے پیغمبره ۱۳! قسم دے په خدائ چه زهٔ مؤمن یم لیکن وُم زهٔ اوسیدونکے په قریشو کښ او نهٔ وومالره په دوئ کښ خوك ساتونکے داهل او دولد او دمال اونور رښتو مهاجران په قریشو کښ خپلوان لری نومامو ویل چه یوحق پرے ثابت کړم چه په سبب دهغهٔ سره خلق خُماساتنه کوی اوزهٔ پوهیدم چه کاغذ خُماله دوئ نه عذاب د خدائ نهٔ دفع کوی پس پیغمبر ﷺ وویل اے یارانو حاطب رښتیا وائی اوحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په قهر شهٔ او وے ویل اے پیغمبره ۱۳! ما ته امر وکړه چه گردن ددے منافق ووهم نو پیغمبر ﷺ وویل اے عمر رضی الله عنه ! دے مهٔ خفه کوه خُکه چه له بدر و څخه دے اوخدائ بدر یانو ته زیږ ورکړے دے داسے چه اِعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم۔ نو دا ایت نازل شه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ مهٔ نیسی دشمنان خُما او دشمنان خپل

عه یعنی هرچا چه دلوست سورة حشر وبه مخښلے شی گناهونه تیرشوی او روستی دده ۱۲ عمه یعنی پیغمبر علیه السلام اراده دجنگ ستاسو لری پس دنیمهٔ ، وصلے خپلے ۱۲

دوستان تُلْقُوْنَ دغه حال کښ چه غوږ ځوئ اولیږئ اِلَیْهِمْ هغوئ ته احوال د پیغمبر حُما۔ بِالْمَوَدَّةِ په سبب د دوستئ سره وَقَدْ كَفَرُوْا او حال دا دے چه هغوئ یعنی دشمنان حُما او ستاسے کافر شوی دی بِمَا جَآءَكُمْ په هغه څیز باندے چه راغلے دے تاسے ته مِنَ الْحَقِّ ج له ربنتیانه چه اسلام یا قرآن دے يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ و باسی دوی پیغمبر له مکے نه وَاِيَّاكُمْ او وباسی تاسے هم اَنْ تُؤْمِنُوْا خُکه چه ایمان راوړے دے تاسے بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ په خدائ باندے چه پالونکے ستاسے دے یعنی دوئ په سبب د ایمان سره تاسے له دے مکے نه وباسی پس تاسے هم دوئ په دوستی سره مۀ نیسئ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ كه څرے یئ تاسے بهر وتلی له وطنونه خپلونه جِهَادًا فِیْ سَبِیْلِیْ د پاره د جهاد کولو په لاره حُما کښ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِیْ ج او وتلی یئ د پاره د خوشحالئ حُما نوجواب د شرط محذوف دے فَلَا تتخذوهم اولیاء یعنی که څرے تاسے دوستان حُمایئ پس مۀ نیسی دوئ په دوستی سره تُسِرُّوْنَ اِلَیْهِمْ پټ لیږئ تاسے دوئ ته پیغام بِالْمَوَدَّةِ ج په سبب د دوستئ سره وَاَنَا اَعْلَمُ او زۀ ښۀ پوهیږم بِمَآ اَخْفَیْتُمْ په سبب د دوستئ باندے چه پټه کوئ تاسے له دوئ سره وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ط او پوهه یم په هغه هم چه ظاهر وئ تاسے له عذر ونونه وَمَنْ يَّفْعَلْهُ او هر څوک چه وکړی دا کار یعنی ونیسی دوستان او یا پیغام و رولیږی مِنْكُمْ له تاسے نه فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق سره خطائ کړه سَوَآءَ السَّبِیْلِ ① لاره سمه اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ که څرے برے بیا موهی کفار د مکے په تاسے باندے یعنی که تاسے ئے قید کړی نو يَكُوْنُوْا وی به دوئ لَكُمْ اَعْدَآءً تاسے له لره دشمنان یعنی د ادوستی به تاسے ته هیڅ فائده ونۀ کړی وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَیْكُمْ اَیْدِیَهُمْ اوپراته نزی دوئ تاسے ته لاسونه خپل په وهلو اوپه وژلو سره وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ اوپراته نزی ژبے خپلے په بدئ اوپه فحش ویلو سره وَوَدُّوْا او دوست کړے دے دوئ لَوْ تَكْفُرُوْنَ ② چه تاسے کافر شئ لَنْ تَنْفَعَكُمْ نفع به ونه رسوی تاسے ته اَرْحَامُكُمْ خپلوان ستاسے وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ج او نه اولاد ستاسے یعنی تاسے دوستی له مشرکانو سره د پاره د مال او اولاد او خپلوانو لرئ او دوئ به تاسے ته فائده ونۀ رسوی یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ج په ورځ د قیامت یَفْصِلُ جدائی به وکړی خدائ په ورځ د قیامت

بَيْنَكُمْ ط پہ میخ ستا سے اود اولاد او دخیلو انو کبن یعنی کافران بہ دوزخ کبن وغورځوی او مؤمنان
بہ جنت لہ بوځی نو پس ولے نزدیک کوئی تا سے حق خدائی دیارہ ددوئی وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ او
خدائی پہ هغہ څیز باندے چہ کوئی تا سے لہ دوستی اولہ دشمنی نہ بَصِيْرٌ ۳ لیدونکے دے
نوجزا بہ ئے درکړی۔ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ پہ تحقیق سرہ چہ شتہ تا سے لرہ اے مومنانو اُسْوَةٌ
حَسَنَةٌ طریقہ نیکہ چہ ابتدا پسے کولے شی فِيْ اِبْرٰهِيْمَ پہ خبرو ابراهیم کبن وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ ج
او پہ خبرو دهغہ کسانو کبن چہ وو دۀ سرہ لہ مؤمنانو اِذْ قَالُوْا پہ هغہ وخت چہ وویل
ابراهیم ؑ اوقوم ئے چہ مؤمنان وو لِقَوْمِهِمْ قوم خپل تہ چہ مشرکان وو دا سے چہ لہ مونږہ
دوستی مہ غواړئ ځکہ چہ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ مونږہ ویزارہ یولہ تا سے نہ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ
او بیزارہ یولہ هغہ څیزہ چہ تا سے ئے عبادت کوئی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ نږ بغیر لہ خدائی چہ بتان دی
كَفَرْنَا بِكُمْ کافرشو مونږہ پہ دین ستا سے وَبَدَا اوه ظاهره شوه بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ پہ
میخ ځمونږہ او پہ میخ ستا سے کبن دشمنی پہ زړۀ سرہ وَالْبَغْضَآءُ اودشمنی پہ لاس سرہ
اَبَدًا همیشہ حَتّٰى تُؤْمِنُوْا تر هغہ پورے چہ ایمان راوړئ بِاللّٰهِ پہ خدائی باندے وَحْدَهٗ
چہ یوے نږ پس لہ ایمانہ بہ دشمنی تا سے سرہ نہ کووف پہ دے کبن اشارۃ دے دے تہ
چہ مؤمنان دِ پہ بیزاری کبن لہ مشرکانو نہ اقتداء پہ ابراهیم ؑ پسے کوی اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ
مکرخو اقتداء مہ کوئی پہ هغہ خبرہ چہ ابراهیم ؑ ویلے وہ لِاَبِيْهِ خاص پلار خپل تہ دا سے چہ
لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ خامخا بہ بخښنہ وغواړم تالرہ ځکہ چہ دغہ استغفار پخوا وولہ منع نہ
وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ او توانائی نہ لرم اے پلارہ تالرہ یعنی نہ توانیږم چہ دفع کړم لہ تا نہ مِنَ
اللّٰهِ لہ عذابہ دخدائی نہ مِنْ شَيْءٍ ط هیڅ څیز کہ ئے چرے ایمان رانہ وړے روایت دے
چہ هرکلہ ابراهیم علیہ السلام اواصحابو ئے بیزار وکړہ لہ قوم نووے ویل دا سے چہ
رَبَّنَا اے ربہ ځمونږہ عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا پہ تا توکل کړے دے مونږہ وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا اوتاتہ مو
رجوع کړے دہ وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ۴ اوتاتہ دہ رجوع دتولو پہ اُخرت کبن رَبَّنَا اے خدایہ
ځمونږہ لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً مہ ګرځوہ مونږہ فتنہ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا د پارہ دکافرانو یعنی دوئی پہ

مونږه مۀ مسلط کوه وَاغْفِرْ لَنَا او وبخښه مونږه رَبَّنَا اے خدایه خُمونږه اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ په تحقیق سره چه تۀ غالب ئے الْحَكِيْمُ ⑤ حاکم ئے لَقَدْ كَانَ لَكُمْ په تحقیق سره چه شته تاسے لره فِيْهِمْ په خبرو د ابراهیمؑ او قوم د ده کښ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ خصلت او اقتدا ایکه دغه تکړ د پاره د زیا توالی دحث دے په ابراهیمؑ پسے او دغه اقتدا ده لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ هغه چا لره چه امید لری د ثواب د خدائ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ او امید لری د جزا د اخرت وَمَنْ يَّتَوَلَّ او هر څوک چه مخ وګرځوی له فرمان د خدائ او دوستی کوی دشمنانو د ده سره نو فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق سره خدائ هُوَ الْغَنِيُّ هم دے دے بے نیازه الْحَمِيْدُ ⑥ مستحق د ثنا روایت دے چه پس له نازلیدلو د دے ایت مؤمنانو قطع د دوستی وکړه له خپلوانو مشرکانو څخه چه په مکه کښ وو نوخدائ د دوئ سره وعده وکړه دا سے چه عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بنائیږی چه خدائ پیدا کړی بَيْنَكُمْ په مینځ ستاسے وَبَيْنَ الَّذِيْنَ او په مینځ د هغه کسانو کښ چه عَادَيْتُمْ دشمنی لره تاسے مِّنْهُمْ له کافرانو د مکے نه مَّوَدَّةً د دوستی او محبت نو ابو سفیان او سهیل او حکیم او دا سے نور د دشمنانوئے ایمان راوړۀ او محبت ئے پیدا شۀ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ او خدائ توانا دے چه دشمنی په دوستی سره بدله کړی وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدائ بخښونکے دے هغه چا لره چه دوستی ئے کړے وه له دشمنانو سره رَّحِيْمٌ ⑦ او مهربان دے په هغه چه پس له منع ئے قطع د دوستی کړے ده له دوئ نه روایت دے چه قوم د خزاعی لره د پیغمبر صلعم سره عهد او پیمان دا سے وو چه هیڅ کله به قصد د جنګ مسلمانانو سره ونۀ کړی او سره د دشمنانو د دین ئے هم مدد به و نه کړی نو خدائ په حق د دوئ دا سے وویل چه لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ نۀ منع کوی خدائ تعالیٰ تاسے اے مؤمنانو عَنِ الَّذِيْنَ له دوستی د هغه کسانو چه لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ جنګ ئے نۀ دے کړے تاسے سره فِي الدِّيْنِ په کار د دین کښ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ او نه ئے یئ ایستلی تاسے مِّنْ دِيَارِكُمْ له کور و نو خپلو نه او چا ویلی دی مراد ترے ښځے او ورکوټی دی ځکه چه دوئ لره اخراج او قتل کښ دخل نشته خدائ منع کوی تاسے له دوئ نه چه اَنْ تَبَرُّوْهُمْ نیکی کوئ تاسے دوئ سره وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ

اوچه عدل کوئ دوئ سره اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ په تحقیق سره خدائ دوست لری الْمُقْسِطِیْنَ ⑧ عدل کونکیو لره اِنَّمَا یَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ په تحقیق سره خدائ منع کوی تاسے عَنِ الَّذِیْنَ له دوستی دهغۂ کسانو څخه چه قٰتَلُوْكُمْ جنګ ئے کړے دے تاسے سره فِی الدِّیْنِ په دین دخدائ کښی چه اسلام دے وَ اَخْرَجُوْكُمْ او ویستلی ئے یئ تاسے مِّنْ دِیَارِكُمْ له کورونو خپلونه وَظٰهَرُوْا او مدد ئے کړے وی سره دشمنانو ستاسے عَلٰۤی اِخْرَاجِكُمْ په ویستلو ستاسے سره منع کوی خدائ تاسے له دے څخه چه اَنْ تَوَلَّوْهُمْ دوستی کوئ تاسے دوئ سره وَمَنْ یَّتَوَلَّهُمْ اوهرڅوک چه دوستی کوی دوئ سره نو فَاُولٰٓئِكَ پس دغه هغوی دوستی کونکے هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑨ هم دوئ ظلم کونکی دی په نفسونو خپلو باندے حُکه چه دوستی خدائ سره اوله دوستانو دده سره بنائیږی نهٔ له دشمنانو سره ئے **روایت دے** چه هرکله په حدیبیه کښی صلح وشوه نو یو شرط داوۀ چه که مسلمانان له مکے وتختی نو مدینے ته بیا په بیرته ئے راواستوه او که مسلمانان له مدینے نه مکے ته راشی مونږه به ئے دروانستو ۔ اولاحضرت ؐ په حدیبیه کښی ووچه یو توله مسلمانانے شوے راغلے له هغوئ نه یوه سبیعه اسلمیه هم وه څښتن ورپسے راغے اوویے ویل چه شرط دصلح دادے چه په بیرته ئے مونږه لره راکړه ۔ جبریل ؑ راغے وے ویل یارسول الله صلے الله علیه وسلم ۔ وعده په حق دمؤمنانو سره وکښی واقع شوے ده نهٔ په حق دمؤمنانو بنځوکښی اودا روانهٔ دی چه مسلمانانے وکافرانو ته جارباسی اٰیت راغے چه یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اے ټولیه چه ایمان مو راوړے دے اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ هرکله چه راشی تاسے لره ښځے مسلمانانے مُهٰجِرٰتٍ هجرت کړونکے وی دکفر په ایمان سره فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ پس وازموئ دوئ لره په هغه چه سوګند ورلره ورکړئ چه نهٔ دی راغلی په سبب دشمنئ دخښتنانو سره یا په بله واسطه دد نیا سره بلکه خاص د پاره د خدائ او درسول په دین داسلام کښی راغلے دی اَللّٰهُ اَعْلَمُ خدائ تعالیٰ دانادے بِاِیْمَانِهِنَّ ۚ په ایمان راوړو ددوئ باندے ۔ خبردے ولے داهمبره ده چه هرکله حکم دشرع ظاهر دے دوئ لره سوګند ورکړئ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ پس کهٔ وپوهیږئ په غلبه دګمان سره چه

موسخے دی فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ پس مهٔ جارباسئ دوئ لرهٔ اِلَى الْكُفَّارِ وخښتنانو کافرانو ته لَا هُنَّ نهٔ دی یعنی دا نښځ حِلٌّ لَّهُمْ حلا لے دی خاص کافرانولرهٔ وَلَا هُمْ او نه هغه کافران يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ حلال دی په دے نښځو باندے ولے چه په تباین دداریدو سره جدائی واقع شوے ده په میان ددوئ کښ وَاٰتُوْهُمْ او ورکړئ کاندی خښتنانو ددوئ لرهٔ مَّآ اَنْفَقُوْا هغه چه خرچ کړئ دی په نکاح ددوئ باندے له مهره. حضرت سوګند سبیعه لرهٔ ورکړو اوهرځه چه څرخ شوی وو هغه ئے خښتن ددے لرهٔ ورکړهٔ او بیرته وجارو تل ایت راغے چه وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ او نشته هیڅ ګناه په تاسے باندے اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ چه په نکاح واخلئ دا نښځ مهاجرے اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ هر کله چه ورکړئ دوئ لرهٔ اُجُوْرَهُنَّ مزدوری ددوئ یعنی مهرونه ئے پس فاروق رض هغه وغوښته اوبل ایت راغے چه وَلَا تُمْسِكُوْا او منګولے مهٔ وهئ بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ په عصمتونو دکافرانو یعنی نکاح دکافرانومهٔ پریږدئ دکهٔ ایمان نهٔ راوړی نوطلاق ورکړئ پس اصحابوهرهٔ نښځه کافره چه په نکاح کښ لرله طلاقه ئے کړه اوحکم وشهٔ چه وَسْـَٔلُوْا اوغواړئ له هغه چاچه دا نښځه په نکاح کړه له کافرانو نه مَآ اَنْفَقْتُمْ هغه څهٔ چه خرچ شوی موی له مهره وَلْيَسْـَٔلُوْا او بنائی چه وغواړی کافران له تاسے نه مَآ اَنْفَقُوْا هغه څهٔ چه خرچ کړے دے له مهرونو دمهاجرانو. یعنی هر کله چه حق د زوجیت دوئ ترمینځه پاتے نشهٔ په سبب دکفرسره پس هر یوچه څهٔ ورکړی وو وصاحب خپل ته بیرته واخلی ذٰلِكُمْ داچه څهٔ ذکرکړی دی حُكْمُ اللّٰهِ فرمان دخدائ تعالیٰ دے يَحْكُمُ حکم کوی خدائ تعالیٰ په هغهٔ سره بَيْنَكُمْ ستاسے ترمینځه وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخدائ تعالیٰ دانادے په مصلحتونو ستاسے باندے حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾ حکم کړونکے دے په هغه چه حکمت وی خاص پس له نزول ددے ایت مؤمنانو مهرونه دمهاجرانو ورکړل وخښتنانو ددوئ ته او کافرانو دورکولو مهرونو دمرتدانو نښځو نه منع راوړه ایت راغے چه وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ اوکهٔ چرے فوت شی اے مومنانو له تاسے نه څهٔ شے مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ یو له نښځو ستاسو نه اِلَى الْكُفَّارِ وکافرانو ته یعنی دارالحرب ته لاړه شی او مهر د هغے په لاس ستاسے کښ نهٔ راځی

فَعَاقَبْتُمْ پس غنیمت واخلئ یعنی غزا وکړئ او آخرتاسے لږه به فتح وی او مال به لاس کښی به کیوئ ستاسے فَاٰتُوا الَّذِيْنَ پس ورکړئ هغو لږه ذَهَبَتْ چه تللی دی اَزْوَاجُهُمْ ښځے دهغوئ ودارالحرب ته او مهرئے نه دے موندلے مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا په مثل هغه چه مهر ورکړے دے دوئ هغه ښځولږه په معالم کښی ئے راوړی دی له ابن عباس رض نه نقل دے چه شپږ ښځے له مهاجرانو مرتد ے شوے او کافر انو ته لاړلے حضرت ﷺ مهرونه دهغوئ له غنیمت وخښتنانو ته هغوئ لږه ورکړئ وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ووېرېږئ له عذابه دخدائ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ هغه خدائ تعالیٰ چه تاسے بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ (۱۱) په هغهٔ ایمان راوړے دے حکم ددے آیت ترهغه پورے ووچه عهد باقی وو هم کله چه عهدمات شهٔ حکم منسوخ شهٔ راوړی دی چه په ورځ دفتح دمکے حضرت سید عالم ﷺ له اسلام قبلولو او لاس نیولو د سړو نه فارغ شو ښځوهم په متابعت سره اسلام قبول کړو دا آیت راغے يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ هرکله چه راشی تالره ښځے مسلمانے نے یعنی نیت کړو نکے يُبَايِعْنَكَ چه بیعت کوی له تاسره عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ په دے شرط سره چه شریک به نهٔ کاندے بِاللّٰهِ شَيْـًٔا له خدائ تعالیٰ سره هیڅ شیز وَّلَا يَسْرِقْنَ اوغلا به ونهٔ کاندے وَلَا يَزْنِيْنَ او زنا به نه کاندے وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ اونه به وژنی اولاد خپل لکه ژوندی په زمکه کښی ښخول یا اولاد چه په کیږ ۱ کښی ئے وی وے نهٔ غورځوی وَلَا يَاْتِيْنَ اورابه نهٔ شی بِبُهْتَانٍ په دروغ سره چه له جمله يَّفْتَرِيْنَهٗ چه جوړ کړی ئے وی هغه دروغ - بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ په مینځ دلاسونو اودخپو خپلو کښی یعنی څامن حرامزاده راښه وړی او په په دروغه په خښتنانو تهمت نهٔ کا او په لاسونو او په پښو چه راوړے ئے وی یا النه کوی وَلَا يَعْصِيْنَكَ اوبے فرمانه به ونشی له تا فِيْ مَعْرُوْفٍ په هغه کښی چه فرمائے تهٔ له نیکئ نه چه ترك دویر اوغم شوکول او وینځه وُښکل اوهرکله چه په دے شرطونو سره وعده وکاندے فَبَايِعْهُنَّ پس بیعت وکړه له دوئ سره عائشے رض فرمایلی دی چه بیعت دحضرت صلی الله علیه وسلم له ښځو سره په ژبه وو اولاس دحضرت ﷺ هیڅ ښځے ته نهٔ وو رسیدلے یوقول دادے چه ښځو لاس په اوبو کښی

واچو و بیایه هغه کنډ ولی کښ حضرت هم لاس واچوو او به [illegible] ی دی چه امنه حورد خدیجے ته ئے وویل چه بیعت دښځو ونیسه وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ [illegible] وطلب د بخښنې وکړه ویاړه د هغو ښځو له خدائ تعالیٰ نه اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ په تحقیق سره چه خدائ تعالیٰ بخښونکے دے هغه چا لره چه په توحید باندے بیعت کوی رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ مهربان دے چه توفیق د توبے او د ایمان ئے ورکړے دے او یو بزرګ ویلی دی چه رحمت موقوف دے په ایمان باندے تر هغه پورے چه ایمان رانه وړی مستحق د رحمت نهٔ کیږی او بعضے وائی چه ایمان موقوف دے په رحمت پورے تر هغه پورے چه رحمت ونهٔ شی ایمان به رانه وړی بعضے فقیرانو د مسلمانانو نو دیاړه د نفع له یهودیانو سره دوستی به کوله او خبرے به ئے کولے ایت راغے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے لَا تَتَوَلَّوْا دوستی مهٔ کوئ قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ لرهنه قوم سره چه په غصه دے خدائ تعالیٰ په دوئ باندے قَدْ يَئِسُوْا په تحقیق نا امیده شوی دی یهودیان مِنَ الْاٰخِرَةِ له ثوابه د اخرنه هرکله چه پوهیدلی دی چه په سبب د عناد د حضرت صلے الله علیه وسلم دوئ لره حصه د اخرت خامخا نا امیده دی له هغه كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ لکه چه نا امیده شوی دی کافران مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿۱۳﴾ ع له اهل د قبرونو یعنی جارو تلی دی دوئ په دنیا کښ یهودیان نا امیده شوله ثوابه د عقبیٰ لکه کافران مړهٔ چه ښکاره پوهیدلی دی چه له نعمتونو د هغه جهان محمی وجه شوی دی۔

سُوْرَةُ الصَّفِّ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۹ ۶۱ ۲ ۱۴ ۲ ۱۳ ۲ ۱۳ ۲ ۱۳

چه کومه عمل وکړه و مونږه چه په هغه سره له گناهونو خلاص شو او په جنت کښ داخل شو له حق سبحانه وتعالیٰ دا آیت راغے ۔ چه یا ایها الذین اٰمنوا هل ادلکم علی تجارة تنجیکم من عذاب الیم ط حضرت ووے چه اے قومه راغلل هغه چه تاسے غوښتلو یعنی هغه عمل چه بنده له لږه خلاص کاندے له عذاب او په جنت کښ داخل کاندے ایمان اوجهاد دے ۔ اصحاب رض ویریدل نو دا آیت راغے یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۲ ولے وایئ هغه خبرے چه نه ئے کوئ کَبُرَ مَقْتًا لوے دے په سبب دغصے عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ تعالیٰ اَنْ تَقُوْلُوْا هغه چه وایئ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۳ هغه چه نه کوی او عالمان وائی چه آیت شامل دے اوعام دے یعنی هر خوک چه خبرے کاندی او عمل پرے نه کاندی داخل په دے عتاب دے او هغه عالمان چه خلقو ته حکم کوی په عمل سره او پخپله عمل نه کوی داخل په دے عتاب دے داعذاب به ورلږه وی اتامرون الناس بالبر وتنسون انفسکم اوحضرت ۴ په شپه د معراج کښ لیدلی ووچه شوندے دهغے عالم په مقراض داورسره ئے غوڅولے اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق سره چه خدائ تعالیٰ یُحِبُّ الَّذِیْنَ یُقَاتِلُوْنَ دوست لری هغه خوک چه جنګ کوی فِیْ سَبِیْلِهٖ په لارے د خدائ تعالیٰ کښ صَفًّا صفونه کړی په برابرئ د دشمن کښ کَاَنَّهُمْ گویا کهٔ دوئ په استحکام کښ بُنْیَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۴ دیوالونه محکم دی ۔ دا کنایت دے له محکمے د قدمه په جنګ کښ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی اویاده کړه هغه چه ویلی وو موسیٰ ۴ لِقَوْمِهٖ خاص قوم خپل لږه یعنی بنی اسراءیلو ته ئے ووے یٰقَوْمِ اے قومه لِمَ تُؤْذُوْنَنِیْ ولے آزار رسوی وماته په نه اوریدو د حکم سره وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اوپه تحقیق سره چه تاسو پوهیږئ اَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ هغه چه زه استاذے د خدائ تعالیٰ یم اِلَیْکُمْ ط تاسو ته اوپه پیغمبرئ خپلے باندے معجزے بنکاره رم دی اوتاسو ته معلوم دی اوشپه تاسو لږه نهٔ ده پاتے شوے پس بنائ چه رسول مکرم اومحترم وی نو تاسے ورسره نبرداری کُما کوئ اودوئ په هغے کمراهی باندے ثابت وواومحکم ووا و خبرهٔ د موسیٰ ۴ بهٔ ئے نهٔ اوریده فَلَمَّا زَاغُوْٓا پس هر کله چه وجارو تل بنی اسراءیل له قبلولو د

فرمان دموسیٰ ۴ اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ط وجاریدل خدائ تعالیٰ زړې نه دوئ له صفه دیقینه اوشک مندئ کړل وَاللّٰهُ اوخدائ تعالیٰ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۵ لاره خپله نهٔ بنائی هغولره چه ونلی دی له فرمانه وَاِذْ قَالَ او یادکړه داهم چه ووے عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ عیسےٰ خوئ د مریم قوم خپل ته چه يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اے ځامنود یعقوب علیه السلام اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ په تحقیق زه استازے د خدائ یم تاسے ته په هجتونو اوپه دلیلونو سره مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ په هغه حال کښ چه باور لروونکے یم خاص هغه څیز لره چه ماتخه دے مِنَ التَّوْرٰىةِ له تورات یعنی چه پخوا له مانه کتاب نازل دے اوزهٔ تصدیق لروونکے یم چه هغه له جانبه د خدائ تعالیٰ دے وَمُبَشِّرًا ۴ اوزیږے کړونکے یم بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ط چه راځی به په دین کامل اوپه شرع شامل سره مِنْۢ بَعْدِي پس له ما - اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ط چه نوم د هغه احمد دے یعنی د یرصف کړونکے اوپه ترجمه د کلام مهتر عیسٰی کښ راوړی دی چه انی ذاهبٌ الی ربی وربکم والغار قلیطا جاء اومعنی د غار قلیطا احمد دے اوپه تبیان کښ ئے راوړی دی چه نوم د حضرت په سُریانی ژبه کښ منحینا دے اومعنی داده چه خدائ تعالیٰ به ئے په تاسے ولیږی پس له عیسےٰ ۴ فَلَمَّا جَآءَهُمْ پس هر کله چه راغے دوئ لره بِالْبَيِّنٰتِ په معجزو روښانو سره لکه څوندی کول د مړو او نورے معجزے قَالُوْا ووے بنی اسراءیلو هٰذَا داچه هغه ښائی سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۶ جادو دے ښکاره یعنی په هیڅا پته نهٔ ده چه هغه سحر کوی وَمَنْ اَظْلَمُ اوڅوک دے نړیات ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى له هغه چاچه وائی عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ په خدائ تعالیٰ باندے دروغ یعنی پیغمبر د هغه دروغژن کوی اومعجزه د هغهٔ لره جادو وائی. بعض علماؤ ویلی دی چه نضرځوئ دحارث ووے چه په ورځ د اخرت کښ لات او عُزّٰی به ځمونږه شفاعت کاندی اوخدائ تعالیٰ به شفاعت د دوئ قبول کاندے دا آیت راغے چه څوک د یرظالم دے له هغه چاچه دروغ وائی په خدائ تعالیٰ باندے په قبول د شفاعت د بتانو په حق دکافرانو کښ وَهُوَ يُدْعٰٓى اوحال دادے چه دامغتری بللے شی یعنی پیغمبرئ رابولی اِلَى الْاِسْلَامِ ط واسلام ته چه مشتمل دے په نیکئ باندے په

دنیا په آخرت کښی وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۷ اوخدائ لاره نهٔ بنائی وظالمانوته په لباب کښی ۷ راوړی دی چه څورته وی په حضرت باندے راغله ۰کعب څوئ داشرف وو چه زیږے دِوی تاسولره اے یهودیانو چه خدائ نور محمد ﷺ لرے کړو او کار دهغهٔ انتهاء ته ورسیدهٔ داخبره په جانب دحضرت ﷺ کښی چاوکړه دلګیری او تیارهٔ په زړهٔ مبارک دحضرت ﷺ کیناستهٔ جبریل ؑ دیاره ددفع دهغه عبار راغے او دا آیت ۷ راوړهٔ چه يُرِيْدُوْنَ عواړی کافران لِيُطْفِـُٔوْا چه بنکته کیږی نُوْرَ اللّٰهِ نور دخدائ تعالیٰ بِاَفْوَاهِهِمْ په خولو خپلوسره یعنی په ګفتار پسند یدهٔ سره او په خبرے بے ادبے سره وَاللّٰهُ مُتِمُّ اوخدائ تعالیٰ تمام کړونکے دے نُوْرِهٖ نور دین اود شرع دسید المرسلین لره پخواتر قیامته وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۸ اګرکهٔ بنهٔ ګڼی کافران اتمام دهغه لکه بنا پیرك چه نمرته ضرر نشی رَسُوْلَهٗ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ هغهٔ خدائ چه دهٔ لیږلے دے پیغمبر خپل بِالْهُدٰى په هغه څیز سره چه سبب دهدایت دے یعنی قرآن وَدِيْنِ الْحَقِّ او په دین رښتیا سره لِيُظْهِرَهٗ دده دے دپاره چه غالب کا ندے دے دین لره عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ په واړه دینونو باندے په وخت د کو زید ودعیسیٰ ؑ واړه اهل زمین به دین داسلام قبول کړی وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۹ اګر کهٔ بدګنړ کافران اظهار دین دمحمد ﷺ لره چه مشتمل دے په ثبوت دحق باندے او په ابطال دشرك باندے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے هغه کسانو چه ایمان ۷ راوړے دے هَلْ اَدُلُّكُمْ ایا دلالت وکړم زهٔ تاسے ته عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ په هغے سوداګری باندے چه خلاص کا ندے تاسے لره مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۱۰ له عذاب دردناك نه پس بیان دسوداګرۍ کوی چه تُؤْمِنُوْنَ خبر دے په معنے دامر یعنی ایمان راوړئ مراد دادے یعنی محکم اوسئ په ایمان باندے چه لرئ بِاللّٰهِ په خدائ باندے وَرَسُوْلِهٖ او په استاذی دهغهٔ باندے وَتُجَاهِدُوْنَ اوجنګ کوئ له کافرانو سره فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره دخدائ تعالیٰ کښی بِاَمْوَالِكُمْ په مالونو خپلو سره چه توښه اوراحله او وسله ده وَاَنْفُسِكُمْ ؕ اوپه نفسونو خپلوسره چه جنګ ته ځے وراندے کوئ ذٰلِكُمْ داچه مذکور شول له ایمان اوله جهاد خَيْرٌ لَّكُمْ

منزل ۶ ★ ★ ★

بهتر دی تاسے لره له معمولا تو نه اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۱۱) كه ئ بئ تاسے چه پوهیږئ شان د سودا کوئ لره یو بزرګ فرمایلی دی چه اصل سوداګری دا ده چه بے له حقه پریږدے او حق واخلے په نفخات کښ له ابی عبد اللہ نه نقل شوے دے چه حُوئ ے وده ته راغلے پلار ته ئ ووے چه حُماله سره یو مئ د نورو پریوت اومات شه غوږی برباد شو پلار ورته وئ چه هغه دولت په لاس کړه چه همیشه له تاسره وی هغه دا دے چه ایمان راوړئ او جنګونه له کافرانو سره کوی يَغْفِرْ لَكُمْ وبه بخښی خدائ تعالی تاسے لره ذُنُوْبَكُمْ ګناهونه تیرشوی ستاسے په دنیا کښ وَيُدْخِلْكُمْ او رابه ولی تاسے لره په اخرت کښ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ په باغونو کښ چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ دلاندے دونو د هغو لے وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً اوپه کور ونو بنا ګستو کښ چه جوړ شوی دی فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ په باغونو کښ چه همیشه به وی په هغو کښ استوګنه ذٰلِكَ دا بخښنه اوننه ایستل په جنت کښ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (۱۲) یعنی برے دے لوئ وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا اوتاسے لره دی بل نعمت په دنیا کښ چه دوست لرئ هغه لره نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ مدد له خدائ تعالی نه په قریشو چه فتح د مکے ده۔ ابن عطاء ویلی دی چه نصر توحید دے او فتح نظر په جمال د ملک مجید باندے او په نزد محققانو فتح قریب پرانستل د دروازے دزړۀ دی او تولو مؤمنانو لره په دے کښ شرکت دے کما قال اللہ تعالی وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۳) او زیرے وکړه اے محمدؐ په مؤمنانو باندے په نصرت سره په دنیا کښ او په محبت سره په اخرت کښ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے تولیه د مومنانو مخاطب یو جماعت دے له انصارو چه په شپه د عقبه کښ ئ اسلام راوړے وو او دوئ او یا تنه وو یا خطاب عام دے د ټولو مومنانو چه فرمائ كُوْنُوْٓا اوسئ اَنْصَارَ اللّٰهِ مدد کړونکی د دین د محمدؐ لره او تقدیر د کلام دا دے چه اے محمدؐ طلب د مدد وغواړه له قوم خپله كَمَا قَالَ لکه طلب د مدد فرمایلے وو او وُوے عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ عیسٰی حُوئ د مریم حواریینو نه چه خاصان د ده وو او په دین د ده کښ له ټولو نه درومبی وو چه مِنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ط څوك دے مدد وکړونکے حُما او مدد کار د خدائ تعالی یا څوك دے مدد کار حُما په دعوت

دخلوکښی خدائ تعالیٰ ته قَالَ الْحَوَارِيُّونَ وویل حواریینو په دے لاره کښی نَحْنُ الْأَنْصَارُ اللّٰهِ مونږه هم مدد کاران د دین د خدائ تعالیٰ یو او فی الواقع دوئ مدد وکړو دین د مهتر عیسیٰ لره پس له پورته له تللو د هغۀ وخلوتو له ئے دعوت وکړو فَآمَنَتْ پس ایمان ئے راو پاڅید سبب د دعوت د دوئ سره طَّآئِفَةٌ یو ټولی مِّنْ بَنِيْ إِسْرَآءِيْلَ له ځامنو د یعقوب علیه السلام پیغمبر باندے او رسول د خدائ ے وکافرو وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ اوکافر شوۀ بل ټولے چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ته څوئ د خدائ تعالیٰ وایۀ پس هر کله چه حضرت محمد صلی اللہ علیه وسلم مبعوث شۀ موافق د هغه مومنانو وائی فَأَيَّدْنَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا پس قوت ورکړو مونږه هغولره چه مؤمنان شول په مهتر عیسیٰ علیه السلام باندے او په رسالت د هغه قائل شو عَلٰى عَدُوِّهِمْ په دشمنانو د دوئ باندے چه قائل نۀ وو په خدایئ سره فَأَصْبَحُوْا پس شول مؤمنان ظٰهِرِيْنَ (۱۴) غلبه کړونکی په کافرانو باندے ۞

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ مدنية ۱۱۰ ۶۲ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ایاتها ۱۱ رکوعها ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ په پاکئ سره یادوی خاص خدائ تعالیٰ لره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هغه څۀ چه په آسمانونو کښی دی له علویا تو نه وَمَا فِي الْأَرْضِ او هغه چه په زمکه کښی دی له سفلیا تو نه الْمَلِكِ بادشاه دے چه ملک ئے بے زواله دے الْقُدُّوْسِ پاك دے له خلله الْعَزِيْزِ غالب دے چه مثل نۀ لری الْحَكِيْمِ (۱) حکم کړونکے دے چه ربنتیا کوی هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ هغه دے چه لیږلے دے فِي الْأُمِّيّٖنَ په امیانو کښی مراد ترے قوم دعرب بودے چه پیرو جاهلان وو رَسُوْلًا مِّنْهُمْ پیغمبر له یو ټولی د دوی نه دے د دے د پاره چه پیغمبری د ده له تهمته لرے وی او امی والے د حضرت محمد صلی اللہ علیه وسلم په دے سبب وو چه په وړومبنو کتابونو کښی امی مذکور وو او په کتاب د شعیب علیه السلام کښی دا رنګ مذکور دی چه انی امیًّا فی الْأُمِّيّٖن واختم به النبيين پس صفت د نبی امی کوی چه يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ ولولی په دوئ باندے اٰيٰتِهٖ ایتونه د کلام د پروردګار باوجود چه سړے دے په مثل د دوئ وَيُزَكِّيْهِمْ او پاکوی دوئ له خبث د عقائدو او له بدو

خصلتونه نه وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ اوښائی دوئی لره کتاب یعنی قرآن وَالْحِكْمَةَ او احکام دشرع وَاِنْ كَانُوْا اګرچه وو دوئی چه اوس قرآن لولی اوښائی مِنْ قَبْلُ پخوا له بعث دمحمدﷺ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۲ هرائینه په ګمراهئ بنکاره کښ چه هغه شرك اوپیروی دکفرونه وَّاٰخَرِیْنَ او بل مبعوث به شی په میڼځ دنورو کښ مِنْهُمْ له مؤمنانو چه دوئی لَمَّا یَلْحَقُوْا بِهِمْ ط نه دی رسیدلی هغوئ ته چه ورسره مبی دی ولے داهمبره ده چه پس به پیدا شی مراد ترے تابعین دی په معالم کښ په حدیث متفق علیه کښ ئے راوړی دی چه هغه عجم دی اوصحیح قول دادے هرڅوك چه ایمان راوړی یا پس له وفات دحضرت مسلمان شی په اخرینو کښ داخل دے وَهُوَ الْعَزِیْزُ اوخدائ غالب دے په حکم دبعث کښ هرڅوك چه رضائے وشی ولیږی الْحَكِیْمُ ۳ صاحب دحکمت دے په اختیار دهر پیغمبر پاره دهر اُمت ذٰلِكَ دا نبوت یا بعث فَضْلُ اللّٰهِ زیاته بخښنه دخدائ تعالیٰ ده یُؤْتِیْهِ ورکاندے هغه مَنْ یَّشَآءُ ط هرچا ته چه رضائے وشی وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْمِ ۴ اوخدائ تعالیٰ صاحب دفضل لوئی دے چه نعمتونه دد دنیا او اخرت په څنګ د هغه کښ لږ اوسپک بنکاری مَثَلُ الَّذِیْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ مثال دهغوچه لیږلے شوے وو په دوئی تورات یعنی حکم پرے کړے شوے وو د پورته کولو دحکمونو د تورات ثُمَّ لَمْ یَحْمِلُوْهَا پس نه ورته ئے نه کړه هغه احکام په عمل کولو سره او په مجی د لوستو د تورات سره قناعت ئے وکړو كَمَثَلِ الْحِمَارِ په مثال دخرۀ دی چه یَحْمِلُ اَسْفَارًا ط پورته کاندی کتابونه د علم یعنی رنځ اوسختی وړی له هغو نفع نه مومی دارنګ یهود تورات لولی او نفع له هغه نه مومی بِئْسَ بد مثال دے چه ووایه شه مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِیْنَ كَذَّبُوْا مثال دهغودے چه دروغ وائی یعنی دا یهود بِاٰیٰتِ اللّٰهِ په حجتونو دخدائ تعالیٰ چه دلیل دے په نبوت باندے وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی اوخدای تعالیٰ لاره نه ښائی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ۵ ټولی دظالمانو ته چه په عناد له خدائ تعالیٰ سره ظلم په ځان خپل باندے کوی باوجود چه دوئی وائی نحن ابناء الله و احبآؤه. او لاَ په کوی چه لن یدخل الجنة الا من کان هودًا. قُلْ ووایه اے محمدﷺ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ هَادُوْۤا اے ټولیه دیهود یانِ اِنْ زَعَمْتُمْ که ګمان کوئ تاسے اَنَّكُمْ اَوْلِیَآءُ لِلّٰهِ چه په

تحقیق تاسے دوستان دخدائی تعالیٰ یوئی مِنْ دُوْنِ النَّاسِ بے له نور و تولوخلقونه یعنی بے له عربواو بے له عجمونه چه مؤمنان شوی دی فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ پس ارزو وکړی دمرګ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ٦ کهٔ یئ تاسے رښتینی په هغهٔ کښ چه تاسے وایئ چه مونږه دوستان دخدائ یو دے دپارهٔ چه ورسیږئ وامان ته چه خدائ دپاره دخپلو دوستانو مقرر کړے دے وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًا ام حال دادے چه ارزو به ونهٔ کړی دمرګ هیڅوړے بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ په سبب دهغه چه وړاندے لیږلے دے لاسونو دوئ یعنی هغه عملونه چه لا سونو ئے کړے دی لکه جارو تل له احکام تورات او له صفونو دمحمد صلی الله علیه وسلم او پوهیږی چه پس له مرګه په هغه عذابونو سره به گرفتارهٔ شی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ٧ اوخدائ تعالیٰ پوهیږی په ظالمانو په نفسونو خپلو باندے قُلْ ووایه اے محمدؐ ویهود وته چه اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ مرګ چه تښتئ له هغهٔ نه اوارزوئ نهٔ کوئ او وقوع دهغهٔ بدوګنړی فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ پس په تحقیق هغه رسیدونکے دے یعنی وبه نیسی تاسے اوشریتۍ هغهٔ به وخکئ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ پس وبه جاریږئ تلے اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ په طرف دداناپه پټ اوښکارهٔ ته فَيُنَبِّئُكُمْ پس خبر به کاتاسے لږه بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ٨ پ په هغه چه عمل کوئ تاسے اوپه موافق دعملونو جزا به درکاندی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے په احکامو دشرع باندے اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ هرکله چه بانګ وویلے شی دپارهٔ دنمانځه مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ په ورځ دجمعے فَاسْعَوْا پس وزغلئ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ یادولو د خدائ تعالیٰ ته چه مونځ اوخطبه ده یعنی رغبت وکا نږئ په هغهٔ کښ اوسعی وکړئ وهغهٔ ته وَذَرُوا الْبَيْعَ ط اوپریږدئ خرید وفروخت قول صحیح په مذهب دامام اعظمؒ دادے چه سبب دپریخودو دسودا گړی بانګ اول دے په ورځ دجمعے کښ ذٰلِكُمْ داسعی اوترک دبیع خَيْرٌ لَّكُمْ بهتر دے تاسے لږه له معاملے نه ولے چه په سعی کښ نفع دآخرت ده اوپه معامله کښ نفع دد نیاده اودا نفع فانی ده اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ٩ کهٔ پوهیږی په نفع اوپه ضرر خپل اوجدائ کوئ په مینځ دخیر اودشر فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ پس هرکله چه وګذارلے شی

موئ فَانْتَشِرُوْا پس خواره شئ فِی الْاَرْضِ په زمکه کښ د پاره د سودا کرئ اود حاجتونو خپلو وَابْتَغُوْا او ولټوئ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ له فضل د خدائ تعالیٰ یعنی جوړول داسبابونو خپلو او بعضو ویلی دی چه خوریدهٔ په زمکه د مسجد کښ د پاره د مجلس د علماؤ او په قول د بعضو مراد ترې پوښتنه د رنځور ده او طلب دے او حضور د جنازے دے او زیارت د مؤمنانو دے چه دا ټول د سیلے دی وفضل د خدائ تعالیٰ نه وَاذْكُرُوا اللّٰهَ او یاد کړئ خدائ تعالیٰ کَثِيْرًا د پرېښے په مجلسونو کښ په ذکر فکر دده مشغول اوسئ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (۱۰) بنائ چه و بخښلے شئ تاسے او نیکی د دواړو جهانونو بیاموئ چه ذکر دده سبب د جمعیت د ظاهر او د باطن او د دنیا او د اخرت دی **روایت دے** چه یوه ورځ حضرت رسالت پناه ﷺ خطبه لوسته ناڅاپه سودا گرله طرفه د شام راښکاره شوه اوغله دېرهٔ ے راوړله او په هغه وخت په مدینه کښ قحط وو سودا گر هر کله چه سلامت ورسیده طنبل د ښادئ ے وغږاوو او په غږ ید و د طنبل سره حاضرین د مجلس د پاره د بیع د طعام واړه لاړل بے له دولسو تنو نه چه څلور تنه خلفاء راشدین رضوان اللّٰه علیهم وو په مسجد کښ هیڅوك پاتے نشئ حضرت رسالت پناه ﷺ وے که څوك نۀ وے پاتے شوے په مسجد کښ نودا اوریه په تاسے پسے روان شوے و موافق د دے حال دا آیت نازل شۀ وَاِذَا رَاَوْا اوهر کله چه وو یئ تِجَارَةً سودا گری اَوْ لَهْوًا یا اوری انْفَضُّوْٓا متفرق شی له مجلسه اِلَيْهَا هغه سودا گرئ ته یا پرے مے کړی یو تن یا دواړه د بیع د طعام وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا او پرېږدی تا ولاړ په منبر باندے قُلْ ووایه مَا عِنْدَ اللّٰهِ هغه چه په نزد د خدائ دے ثواب دمانځه او اوریدهٔ د خطبے او پیروی د مجلس د رسول خَيْرٌ بهتر او سود مند دے مِنَ اللَّهْوِ له اوسیدلو لهو وَمِنَ التِّجَارَةِ ط اوله نفع د سودا گرئ چه فائده ے ډېرے متحقق دی وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ (۱۱) او خدائ تعالیٰ بهتر روزی رسونکے دے یعنی له وسیلو د دنیا نه **نقل دے** چه یو بادشاه بغدادی بهلول ته ووے چه راشه ستا روزی دهرے ورځے مقرر کړم چه هیڅ روزئ له غمگین ئے بهلول جواب ورکړو چه که تا لره څوعیبه نه وے ما به قبوله کړے وه او

داچه تهٔ پوهیږے چه مالرهٔ څومره پکار دے اوحق تعالیٰ شانهٔ ضامن درزق حُماد ے ۲۲

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْن مدنیة ۶۳ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۱۱ رکوعها ۲

روایت دے چه په پنځم کال له هجرت چه رسول اللہ ﷺ له غزوه د مریسیع راوجاروت اوپه سرد کوهی د یره شهٔ په میان د سنان بن وبرجهنی اوپه میان د جهجاه بن غفاری منازعت یعنی جګړه وه وشوه اوخبره تردے پورے ورسیده چه په مینځ د مهاجروا اوانصارو فتنه ظاهره شوه اوابیٔ منافق په هغه کښ خبرے بد بدے وکړے بلکه داسے ګے ووے چه مهاجرو نه هیڅ مهٔ ورکوئ چه له مدینے نه وُزی اوزید بن ارقم په مجلس د حضرت کښ راغے داحال ګے ورته وویے حضرت دیاره دد فع دفتنے کوچ ګے وکړ د اوله اسید بن حضیر سبب دد ے مضمون وپوښتیدهٔ .حضرت ﷺ ته ګے ظاهره کړه داخبره ابن اُبیٔ ته ورسیده په خدمت د حضرت کښ راغے اوسوګند ونه ګے کول اوابن ارقم ګے ملامت کړ د چه دروغ ګے ویلی دی .حق سبحانهٔ وتعالیٰ د یاره د رښتینی کولو دهغهٔ لره داسورت نازل کړه اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ هرکله چه راشی تالره منافقان لکه ابن اُبیٔ او اصحاب دهغهٔ قَالُوْا نَشْهَدُ ووائی چه ګواهی ورکوو مونږه چه اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ په تحقیق تهٔ استاذ ے د خدائ تعالیٰ ګے . یعنی مونږه منافقان نهٔ یو او په زړه رسالت لره معتقد یو وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ اوخدائ پوهیږی چه په تحقیق تهٔ لَرَسُوْلُهٗ ط استاذ ے دهغهٔ ګے اوبے له هغهٔ بل چانه ګے رالیږلے وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اوخدائ تعالیٰ ګواهی ورکوی اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۝۱ چه په تحقیق منافقان دروغژن دی په ګواهئ خپله کښ دیاره ددے چه اعتقاد د دوئ په موافق ډګفتارنهٔ دے پس رسالت د دوئ په اعتقاد د زړهٔ باندے دروغ دی او بعضو ویلی دی چه مراد له دے شهادت سوګند دے یعنی په اعتقاد د رسالت چه دوئ کوی خدائ تعالیٰ پوهیږی چه سوګند په دروغ کوی اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ نیولی دی منافقانو سوګند ونه خپل جُنَّةً ډهالونه یعنی پناهی

چه په هغهٔ سره ځان له قتل وساتی فَصَدُّوْا پس منع کوی خلقو له په شهادت سره عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارے د خدائ تعالیٰ او اعراض کوی له جهاد په لارے د خدائ تعالیٰ کښ اِنَّهُمْ سَآءَ په تحقیق چه دوئ بد عمل دے مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۲ هغه چه کوی له سوګندونو د روغو نه او جاروزی له حقه ذٰلِكَ داحکم د پروردګار په بدئ داعما لو د دوئ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا په سبب د هغه دے چه دوئ مسلمانان دی په ژبه ثُمَّ كَفَرُوْا پس کافر شوی دی په زړهٔ یا په ظاهر به والی چه مونږه مومنان یُو او په پته خبرے د کفرئ کولے فَطُبِعَ پس مهر وهلے شوے دے عَلٰى قُلُوْبِهِمْ په زړونو دوئ باندے فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۳ پس دوئ نهٔ پوهیږی حقیقت د ایمان لرهٔ چه اقرار د ے په ژبه او تصدیق دے په زړهٔ. راوړی دی چه ابن اُبَیّ سرے شیرین او فصیح زبان وو او نور منافقان یو دے صورت وو او هر کله چه په مجلس د پیغمبر کښ به راغلل هغه حضرت به په تعجب کښ لاړ یعنی د پیر تعجب به ئے وکړهٔ له شکلونو د دوئ نه او له خبرو د دوئ نه حق سبحانه ا یت راولیږهٔ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ او هر کله چه تهٔ وویني منافقانو لره تُعْجِبُكَ تعجب راولی تا لره اَجْسَامُهُمْ جُسے د دوئ له تازګئ نه وَاِنْ يَّقُوْلُوْا او هر کله چه خبرے کوی دوئ تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ او به وریږ تهٔ خبرے د دوئ او باور کوے په سوګندونو د دوئ باندے او حال دا دے چه په عدم عقل او قلت د بیر کښ گَاَنَّهُمْ گویا کهٔ دوئ خُشُبٌ لرګی دی مُّسَنَّدَةٌ په دیوال پورے تکیه وهلے خالی له عقل له علمه اوله نظر يَحْسَبُوْنَ گڼی او گمان کوی كُلَّ صَيْحَةٍ هر فریاد چه وی یا هر اواز چه په مدینه کښ وی چه هغه صدا یا صیحه واقع د ه عَلَيْهِمْ په دوئ باندے یعنی بد زړهٔ او بد گمان او ویرهٔ د دوئ ترهغه حده د ه هر اواز چه واوری وګڼی چه نفاق خو مونږه په پیغمبر صلعم باندے او مومنانو باندے بنکاره شوید ے او مونږه رسوا شوی یُو. هُمُ الْعَدُوُّ دوئ دشمنان دی تا لره او مومنانو لره فَاحْذَرْهُمْ پس پرهیز وکړهٔ له مکرهٔ د دوئ او له دوئ مهٔ بے غمه کیږهٔ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ژ هلاک به کاندے خدائ تعالیٰ دوئ یا لعنت کوی په دے باندے اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۴ څرنګه له لارے د حق دوئ جارسته ئ شی او معالم کښ راوړی دی چه پس له نزول د ۲ ایت

قوم دابن اُبَیٔ دډۀ تہ اووے چه دا ایت په حق ستا کښ نازل شوے دے ورشه حضرت لره ددے دپاره چه ستا دپاره بخښنه وغواړی منافق ستا ګرد وچه ماته ئے ویلی ووچه ایمان راوړۀ ایمان م راوړۀ اوزکوٰة ئے ویلی وو ورم کړو نور سجده محمدؐ ته پاتے ده ایت راشے وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اوهرکله چه ووایے شی منافقانو ته چه راشئ په عذر سره يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ دپاره ددے چه بخښنه وغواړی تاسے لره رَسُوْلُ اللّٰهِ استاذ ے دخدائ تعالیٰ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ تاؤ کاندئ سرونه خپل یعنی وجاربا سی لکه چه له مکروه جاربا سی وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ اوته وبینے دوی چه اعراض کوی له تللو په خدمت د پیغمبر کښ وَهُمْ اودوئ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۵ ګردن کشان دی سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ برابره خبره ده په دوئ باندے اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ که بخښنه غواړے دوئ لره - اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ط یا بخښنه نه غواړے دوئ لره لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ط وبه نۀ بخښی دوئ خدائ تعالیٰ په سبب دمنافقۍ محکمے اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق چه خدائ تعالیٰ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۶ لاره نۀ بنائی هغه قوم ته چه وتلی دی له فرمانه د پروردګار هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ دوئ هغه دی چه وائی انصارو ته چه لَا تُنْفِقُوْا نفقه مۀ ورکوئ عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ په هغه چا چه په نزد د رسول الله دی له فقیرانو مهاجرینو ته حَتّٰى يَنْفَضُّوْا تر هغه پورے چه جدا جدا شی غلامان له مولا کانو نه لارشی اوځامن پلرونو نه لارشی یعنی منافقانو به انصار منع کول له روزئ نفقه کولو په مهاجرانو باندے وَلِلّٰهِ اوحال دادے چه خدائ تعالیٰ لره دی خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ خزانے داسمانونو او دزمکے او مصلحتونه په لاس د قدرت دډۀ کښ دی هر چا لره چه رضائے شی ورکاندی وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ولیکن داهمیره ده چه منافقان لَا يَفْقَهُوْنَ ۷ نۀ پوهیږی چه رازق دے عَلَى الاطلاق نۀ سړی يَقُوْلُوْنَ وائی منافقان مراد ترے ابن اُبَیٔ دے لَئِنْ رَّجَعْنَآ که بیا وُجار وتو مونږ ته له دے سفره اِلَى الْمَدِيْنَةِ ومدینے ته لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ په تحقیق وبه باسی عزیزان مِنْهَا الْاَذَلَّ ط له مدینے نه خوارانو لره مراد دوئ له عزیز نفس خسیس دوئ وو اوله خوار وذات اشرف او اکمل له تولو مخلوقاتو حضرت۴ دو وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ اوخاص

خدائی تعالیٰ لرکا دے عزت قدرت ربوبیت وَلِرَسُوْلِهٖ او رسول د خدائی تعالیٰ لره عزت
د نبوت او د شفاعت وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ او مؤمنانو لره دے عزت د ایمان او د طاعت وَلٰكِنَّ
الْمُنٰفِقِيْنَ ولیکن منافقان حقیقت د عزت باندے لَا يَعْلَمُوْنَ ۸ نه پوهیږی

نقل دے چه هر کله حضرت ﷺ کنډ د عتق ته ورسیده هُوی د ابن اُبَیٔ چه عبداللہ نوم
ئے وو مومن او مخلص وو په سر لاړے و دریده د دے د پاره چه پلار ئے ورسیدهٔ اوښ د
پلار ئے خلاو وو اوخپے په مهار د اوښ ئے کیخودے او وے ویل چه سوکنډم دے چه مد یني
ته به د پرے نهٔ بردم ترهغه پورے چه اذن نهٔ دے شوے چه و پیژنی چه خوا اذل ته ئے
او حضرت اعز دے هر کله چه حضرت رسول کریم ﷺ ورسیده اذن ئے وکړهٔ چه پریږده يٰٓاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے ټولیه د مؤمنانو لَا تُلْهِكُمْ مشغول د نه کاندے تاسے اَمْوَالُكُمْ مالونه
ستاسے وَلَآ اَوْلَادُكُمْ اونه اولاد ستاسے عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ له یاده د خدائی تعالیٰ نه چه
خواهش د ایمان دے چه دوستی د خدائی تعالیٰ غالبه د که په دوستئ د مالونو باندے تر
هغه حده پورے چه کهٔ تمام مالونه د دنیا او نعمتونه د اخرت هغه ته وښائی په نظر د هغهٔ
کښ قبول به نهٔ شی وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ او هر څوک چه وکاندی هغه کار یعنی په مال او
په اولاد سره له حق پاتے شی فَاُولٰٓئِكَ پس هغه کسان دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۹ دوئ زیان
کاران دی چه له بهتر او باقی نه پاتے شی په سبب د فانی سره وَاَنْفِقُوْا او نفقه کوئ یعنی
حقوق واجب ادا کوئ مِّمَّا رَزَقْنٰكُمْ له هغه چه رزق درکړے دے تاسے لره ذخیره
د اخرت کوئ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ پخوا تر هغه چه راشی اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ یو له تاسے لره
سببونه د مرګ فَيَقُوْلَ رَبِّ پس وبه وائی هغه څوک چه اے پروردګاره ځما لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ
ولے بیرته نهٔ جار باسے ما یعنی څهٔ به شی کهٔ تاخیر کړے مرګ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ د ترمودے
نزدے پورے فَاَصَّدَّقَ چه صدقه وکړم او ادا د زکوٰة وکړم وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۱۰
اوشم زه له نیکو کارانو وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ او بیرته نهٔ جار باسی خدائی تعالیٰ نَفْسًا مرګ د
هیڅ نفس اِذَا جَآءَ هر کله چه راشی او ورسیږی اَجَلُهَا ما وخت د تلو د هغه یعنی هر کله

چه عمر انتهانه وربیری نو بیانه څهٔ زیږی اونهٔ کمیږی وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ اوخدائ تعالی خبردار دے بِمَا تَعْمَلُوْنَ ع (۱۱) په هغه چه کوی سړی او امام حفص په خطاب سره لولی یعنی هرڅهٔ چه تاسے کوئ۔

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ ۶۴ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعُهَا ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ په پاکئ سره یادوی خدائ لره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هغه چه په اسمانونو کښ دی له روحانیاتو وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ اوهغه چه په زمکه کښ دی له جسمانیاتو نه لَهُ الْمُلْكُ خاص دهٔ لره ده بادشاهی د اسمانونو اوهغه چه دے دواړو ترمینځهٔ دی وَلَهُ الْحَمْدُ ز اوخاص خدائ لره ده ثنا په نعمت باندے وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ اود ے په واړو څیزونو باندے قَدِيْرٌ (۱) تواناد هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ هغه څوك دے چه پیدائے کړئ تاسو اے سړیو فَمِنْكُمْ پس بعضے له تاسونه كَافِرٌ کافران دی په خالق باندے لکه دهریان اوطبیعیان وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ط او بعضے له تاسے نه مؤمنان دی په خالق باندے لکه اهل اسلام اوایمانداران وَاللّٰهُ اوخدائ تعٰ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ (۲) په هر څهٔ چه کوئ تاسے لیدونکے دے موافق له عملونو سره جزا به درکا خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدائے کړه اسمانونه اوزمکه بِالْحَقِّ په راستی اوپه حکمت سره یادپاره دبیان دحق یعنی چه دلالت په وحدانیت او په حق باندے کوی وَصَوَّرَكُمْ او پیدائے کړئ تاسے فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ پس نیک ئے کړه صورتونه ستاسے په امتداد دقد اوپه اعتدال د خلقت سره ۔ امام تشیری قدس سره فرمایلی دی چه طاهرئ ستاسے ارایسته کړے دے په کمال دقدرت سره اوباطن ستاسے ئے بناسته کړیدے په جمال دقربت سره وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ (۳) اودهٔ ویته دی جارو تل دَوَارِ و يَعْلَمُ پوهیږی په علم کامل سره مَا فِي السَّمٰوٰتِ څه چه په اسمانونو کښ دی وَالْاَرْضِ اوهغهٔ چه په زمکه کښ دی وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ اوپوهیږی په هغه چه پټوئ تاسے وَمَا تُعْلِنُوْنَ ط اوهغه چه بنکارهٔ کوئ تاسے وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ اوخدائ تعالی دانا دے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ (۴) په هغه چه په سینو ستاسے

کښ دی له خواطرو اَلَمْ یَاْتِکُمْ ایا نهٔ دی راغلی تاسولره اے اهل دمکے نَبَؤُا الَّذِیْنَ کَفَرُوْا خبر دهغوچه کافرشوی دی مِنْ قَبْلُ ز پخوا له تاسے نه لکه اولاد دقابیل او دعاد او ثمود او اصحٰب الایکه اونور فَذَاقُوْا پس وے څکلو وَبَالَ اَمْرِهِمْ عذاب دکار خپل یعنے ضرر دکفر په دنیا کښ په باد صرصر اوصیحه اوعذاب دیوم الظله وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ⑤ اودوئ لره دے عذاب دردناک ذٰلِكَ داعذاب دوئ لره بِاَنَّهٗ کَانَتْ تَّاْتِیْهِمْ په سبب دهغے دے چه راتلل به دوئ ته رُسُلُهُمْ پیغمبران دوئ بِالْبَیِّنٰتِ په حجتونو روښانو سره او معجزو ظاهرو سره فَقَالُوْۤا پس ویل به دوئ اَبَشَرٌ ایا سړے دے لکه مونږه هسے یَّهْدُوْنَنَا چه لاره بنائی ومونږه ته تعجب به ئے کولوچه حق تعالیٰ وحی ودوئ ته به رالیږله فَکَفَرُوْا پس کافرشول په رسولانو سره وَتَوَلَّوْا اوځ به ئے وجاریستلو له بینانو وهغه بتانو ته چه له دوئ سره وو پس خدائے تعالیٰ دوئ هلاک کړه وَّاسْتَغْنَی اللّٰهُ اوبے نیازدے خدائ تعالیٰ له ایمان دخلقو وَاللّٰهُ غَنِیٌّ اوخدائ تعالیٰ بے نیازدے له عبادته دکافرانو حَمِیْدٌ ⑥ ستایلے دحامدانو زَعَمَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْۤا گمان کوی هغه چه کافران دی اَنْ لَّنْ یُّبْعَثُوْا دے دے چه به پانهٔ څولے شی دوئ قُلْ بَلٰی وواید چه وبه پاځولے شی وَرَبِّیْ لَتُبْعَثُنَّ اوسوګندم دے په پروردګارځما چه په تحقیق مبعوث به شئ تاسے په قیامت کښ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ پس خبر به کړے شئ تاسے بِمَا عَمِلْتُمْ د په هغه چه کړی مودی اوخبر به په حساب او په جزا سره وی وَذٰلِكَ اودا پاځول اوجزا وركول عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرٌ ⑦ په خدائ تعالیٰ باندے اسان دے فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ پس ایمان راوړئ په خدائ تعالیٰ باندے وَرَسُوْلِهٖ اوپه رسول دهٔ باندے چه محمد ﷺ دے وَالنُّوْرِ الَّذِیْۤ اَنْزَلْنَا اوپه هغه روښانائی چه لیږلے دهٔ مونږه په محمد ﷺ باندے چه مراد ترے قرآن دے اوهغهٔ ته ئے روښنائی ځکه وویل چه ظاهر کړدنکی د احکامو د حلالو او د حرامو دے وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ اوخدائ تعالیٰ په هغه چه تاسے کوئ له اقرارهٔ اوله انکارهٔ خَبِیْرٌ ⑧ خبردار دے یَوْمَ یَجْمَعُكُمْ یادهٔ کړهٔ هغه ورځ چه جمع کاندی تاسے خدائ تعالیٰ لِیَوْمِ الْجَمْعِ په ورځ د جمع کښی دپارهٔ د حساب. د قیامت ورځ ته ئے جمع ځکه ویلے دهٔ چه روحونه او بدنونه

به واړه په هغه ورځ کښ جمع کړی یا انبیاء او امتیان یا ظالم او مظلوم یا اهل هدایت او گمراهان یا بهشتی او دوزخی یا ملائک او جن او انس ذٰلِكَ دغه ورځ يَوْمُ التَّغَابُنِ ط ورځ د زیان ده هر گله چه مؤمن په مقام د کافر په جنت کښ وی غبن به ظاهرشی و کافر انوته چه زیان کار یو مونږه یا مؤمنان زیان خپل به و وینی چه ولے مونږه نیکی نه کوله یا هر څوك سود خپل ځان لره به خواړی او زیان بل لره وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ او هر څوك چه ایمان راوړی په خدائ تعالیٰ سره يَعْمَلْ صَالِحًا او وکاندی کار ښائسته يُكَفِّرْ عَنْهُ پټ به کاخدائ تعالیٰ له هغه نه سَيِّاٰتِهٖ بدئ دهغهٔ یعنی عفو به ے کاندی وَيُدْخِلْهُ اوننه به ے باسی جَنّٰتٍ تَجْرِيْ په باغونو کښ چه څنگ به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د حویلود هغو ولے خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ په هغه حال کښ چه همیشه به وی په هغه کښ اَبَدًا همیشه - تاکید دخلود. ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۹ هغه عفو د گناهونو او ننه ایسته په جنت کښ خلاص لوئ دے وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوهغه کسان چه مسلمانان نه شول په خدائ تعالیٰ باندے وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ او دروغژن ګڼلے ایتونه څمونږه چه قرآن دے یا معجزے چه په لاس د پیغمبر موظاهر کړے دی اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هغه ټولے صاحب د دوزخ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط همیشه به وی په هغه دوزخ کښ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۱۰ او بد ځاے دا ستوبنے دے دوزخ مَآ اَصَابَ نه رسیږی هیڅا ته مِنْ مُّصِيْبَةٍ هیڅ سختی له مرګه یا له مرضه یا له مرګه دولد اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ط مګر په قضا د خدائ تعالیٰ سره يعنے په علم د هغه سره واړه مصیبتونه به رسیږی اوګه رضائے وشی واړه بندګان به وساتی ولے د پاره د بندګانو او د پاره د ازمیښت د دوئ صبر کوی او زیاتی د ثواب او کفاره ګڼلے هونود دوئ نه رسوی وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ او هر څوك چه ایمان راوړی او پوهیږی چه سختی په رضا د دئ سره ده يَهْدِ قَلْبَهٗ ط لاره ښیی زړهٔ د هغهٔ ته صبر او اثبات یعنی پوهیږی چه بلا له خدائ ده او په ځان ے قبول کاندے او له هغه بلا نه خفګان نه کوی جمال د څښتن ورلره حاصل شی وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ او خدائ په واړو څیزونو باندے عَلِيْمٌ ۝۱۱ پوهیدونکے دے صابر او شاکر پټ ئ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ او

او فرمان وړئ خدائ تعالیٰ لره په فرض سره وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ او فرمانبرداری کوئ رسول
اللہ لره په سنت کښ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ پس که مخ وجار باسئ له فرمانبرداریٔ نه هغهٔ لره څهٔ زیان
فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا پس بے له دے نه بله نه ده چه په رسول څمونږه باندے الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾
رَسُول دی بنکاره اوپیغمبر چیل تبلیغ بنکاره رسولے دے او وظیفه درسول ئے په څای کړیده
اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ هیڅ معبود لائق دعبادت نهٔ دے اِلَّا هُوَ ؕ مګر د اخدائ دے وَعَلَى اللّٰهِ او په
خدائ باندے نه بغیر له خدائ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾ پس بنائ چه توکل وکاندی
مؤمنان چه ایمان تقاضا دده خبرے کوی چه کارخپل وخدائ تعالیٰ ته وسپاری
او په حاجتونو کښ تکیه په ده باندے وکړی. له ابن عباس رضی اللہ عنہ روایت دے چه پس له هجرت
د حضرت صلے اللہ علیه وسلم یو ټولے د مسلمانا نو نیت د مدینے کا وو او دوئ په مکه
کښ وو پس قبیلو او څامنود وئ منع کړل یو ټولے د مسلمانا نو نیت د مدینے کا وو او دوئ
په حق د دوئ کښ ایت راغے چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو نو اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ په تحقیق
چه بعضے له ښځو ستاسے ته وَاَوْلَادِكُمْ اوله څامنو ستاسے نه چه مانع دی له هجرت ته په
حضرت محمدؐ پسے عَدُوًّا لَّكُمْ دشمنان دی تاسے لره فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ پس دوئ پرهیز
وکاندئ او په ژړا د دوئ مهٔ غلطیږئ او ترک د هجرت مهٔ کوی دا ایت چه دوئ ته ورسیدهٔ
هجرت ئے وکړه مدینے ته هر کله چه یارانو مهاجرانو لره دوئ ولیدل چه هر یو په احکامود دین
فقیه کامل دی او دانا فاضل ووقصد دعقوبت د ښځو او د څامنو خپلوئے وکړچه مونږه
په سبب د دوئ له علمه پاتے شوی یُو نفقهٔ ئے په دوئ باندے بنده کړه او رسم د مرحمت
ئے پریښود وحق تعالیٰ دا ایت راولیږهٔ چه وَاِنْ تَعْفُوْا او که وکاندئ له جنایتونو عفوچه
دوئ کړی دی وَتَصْفَحُوْا او وبخښی وَتَغْفِرُوْا اوپټ کړئ هغهٔ لره او قبول کړئ هغه عذر
چه دوئ وائ فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق چه خدائ تعالیٰ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ بخښونکے
مهربان دے په تاسے باندے اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ بے له دے نه بله نه ده چه مالونه ستاسے
وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ؕ اوځامن ستاسے ازمیښت دے دپاره چه ظاهر شی چه څوک دے

له تاسے نه چه حق لره په محبت دووئ سره یو کا او په مینه دووئ کښ گرفتار وی وَاللّٰهُ عِنْدَهٗۤ او خدائ تعالیٰ څه دے اَجْرٌ عَظِيْمٌ ⑤ مزدوری ورکوله لویه خاص هغه چا لره چه محبت د خدائ تعالیٰ اود رسول غالب گنړی په مال په خامنو باندے فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووپریږئ له عذاب د خدائ تعالیٰ نه اوپرهیز وکړئ له موجباتو دهغهٔ نه مَا اسْتَطَعْتُمْ هغه قدر چه توانیږئ ـ دا آیت ناسخ دهغه حکم دے چه اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ په کشف الاسرار کښ راوړی دی چه په یوآیت کښ اشارت په واجب دامر سره او په بل خائ کښ اشارت دے په واجب د حق سره واجب دامر بنائی او واجب د حق نسخ شهٔ ولے چه خدائ تعالیٰ بنده لره طلب کوی په وجوب دامر سره پس هرکله چه امر ته وکړهٔ گنا هونه به ورته عفو شی اوکهٔ په وجوب د حق ئے میل وکاندے طاعت د زړهٔ کالو اوگناه د زړو کالو هغه خائ برابر دی وَاسْمَعُوْا او واورئ خبرے د خدائ تعالیٰ وَاَطِيْعُوْا اوفرمانبرداری کوئ هغه لره وَاَنْفِقُوْا او نفقه کوئ خَيْرًا د بهتر یعنی هرخیز چه وی په لارے د خدائ تعالیٰ کښ وړکانړئ لِّاَنْفُسِكُمْ د پاره د نفسونو خپلو چه فائده دهغهٔ به تاسو ته رسیږی وَمَنْ يُّوْقَ او هرڅوک چه وساتلے شو شُحَّ نَفْسِهٖ له بُخل د نفس خپل یعنی حق د خدائ بنده نهٔ کا او په لارے د خدائ تعالیٰ کښ ورکاندے فَاُولٰٓئِكَ پس هغه کسان چه نفع رسونکی وی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ⑯ دوئ خلاص دی په دنیا کښ له مخلوقاتو نه او په آخرت کښ له عقوبا تو نه اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ که قرض وړکانړئ خدائ تعالیٰ لره یعنی صرف کړئ مال خپل په هغه خائ کښ چه ئے فرمایلی دی قَرْضًا حَسَنًا متصل له اخلاص سره یا صدقه وړکانړئ په خوشحالئ د زړهٔ سره يُّضٰعِفْهُ زیاتی به کاندی خدائ تعالیٰ هغه لره چه تاسے ورکړے دی لَكُمْ تاسے لره یو په لس تر اوه سوه پورے ترهغه پورے چه بے حسابه شی وَيَغْفِرْ لَكُمْ او وبه بخښی گناه ستاسے چه وی امساك اوله ترك د انفاق وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ اوخدائ غوره کړونکے د شاکرانو دے ثواب دیر په مقابله د لږ عمل به ورلره ورکاندے حَلِيْمٌ ⑰ اوتحمل کړونکے په عذاب د معصیتکارانو دی ـ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ پوهیدونکے دے د پټو اود ښکاره پوهیږی چه څوك څهٔ کوی

په ظاهر له تصدق اوهغه چه پتوی په زړه ونوکښ له ریا اوله اخلاص الْعَزِيْزُ غالب دے بدل اخلی له هغه چاچه خالص نیت ئے نه وی الْحَكِيْمُ (۱۸) حکم کړو ئکے دے په بنړ ئکی دهغه چاچه له صدق تصدق وکاندِ ۔

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ مدنية ۶۵ — اٰيَاتُهَا ۱۲ — رُكُوْعُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه عبد اللہ بن عمرؓ په حال د حیض کښ ښځه طلاقه کړه حضرتؐ ورته وے چه رجوع وکړه په هغه وخت چه له حیضه پاکه شی که رضا دِ شی بیا ئے طلاقه کړه په دے باب کښ آیت راغے چه يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ ئے پیغمبر وایه امت خپل ته چه تاسے اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ هرکله چه طلاق ورکوئ مدخول بهالره اوصغیره اوحامله او ایسه نهٔ وی ۔ فَطَلِّقُوْهُنَّ پس طلاق ورکړئ لِعِدَّتِهِنَّ په عدت د دوئ کښ یعنی په طهر ے جماع کښ چه تاسے له رب شمارکاله عدته او داطلاق سنی دے حُکه چه ښځه پس له دے طلاقه په عدت کښ شی اوبل بدعی دے چه وخت د حیض دے یا د طهر چه په هغه کښ ئے وطی کړے وی ولے چه هغه وړځ له عدته حساب نهٔ دی اوپه هغه وخت کښ ښځه نه معتده وی اونه کړه دچاوی اوشمار طلاق په مذهب دامام شافعیؒ اعتبار نهٔ لری او په مذهب دامام اعظمؒ او امام مالکؒ شمارئے اعتبار دے پس کهٔ په پاکی کښ په میاشت کښ درے طلاقه ورکاندے په مذهب دامام شافعیؒ سنت دی او په مذهب دهغه دوه امامانو بدعت دے پس کهٔ یو طلاق وی په اتفاق دواړو سنت دی وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ او شمار کاندی اے سړو عدت د ښځو ولے چه دوئ له شمارهٔ عاجزے دی یا غافل دی وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ او ویریږئ له خدائ چه پروردګار ستاسے دے اوطلاق سنی ورکوئ او پس له طلاق لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مهٔ وباسئ ښځے مطلقے مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ له کورونو د دوئ نه یعنی هغه کورونه چه په وخت د نکاح کښ په هغه کورونو کښ اوسیدلی دی ترهغه وخته چه عدت ئے تیر شی وَلَا يَخْرُجْنَ او ښځے دِهم نهٔ وځی پس دا ښځے مهٔ وباسئ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ مګر هله کهٔ راشی بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ط

په عمل بدسره چه ښکاره کړے شوے وی مراد ترے ګناه ده چه لویه وی لکه زنا یا غلا چه د پاره د حد ئے وی اسی بائر دی یا داچه په ښکځل یا فحش سره اهل دهغه کور ته ضرر رسوی په هغه حال کښی ویستل د دوئ روا دی ولے چه داحکم د نشوز لری په اسقاط د حق کښی وَتِلْكَ او د احکمونه چه مذکور شول حُدُوْدُ اللّٰهِ ط حد ونه د خدائ دی یعنی اندازے د خدائ چه مقرر ے کړے ئے دی وَمَنْ يَّتَعَدَّ او هر څوك چه تیرشی حُدُوْدَ اللّٰهِ له حدونو د خدائ تعالیٰ نه فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ط پس په تحقیق چه ظلم ئے وکړو په خپان خپل باندے او خپان ئے لائق د عذاب کړو لَا تَدْرِیْ نه پوهیږے ته اے طلاق ورکونکیه یا هیڅ نفس لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بنائی چه خدائ تعالیٰ پیدا کاندے بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ① پس له طلاق پښیمانه شی و دوستئ د ښځوته بیا مینه دارشئ او رجوع وکانړئ فَاِذَا بَلَغْنَ پس هر کله چه ورسیږی ښځے اَجَلَهُنَّ و مودے خپلے ته یعنی آخر د عدت ته فَاَمْسِكُوْهُنَّ پس په نکاه لرئ دوئ یعنی رجوع و دوئ ته وکانړئ بِمَعْرُوْفٍ په نیکئ او په عیش وعشرت سره او دویم دهیره طلاق مهٔ ورکوی د پاره د ضرر په دوئ باندے اَوْ فَارِقُوْهُنَّ یا جدا شی له دوئ نه او پریږدئ بِمَعْرُوْفٍ په نیکئ سره یعنی هغه چه حق د طلاق دے لکه متعهٔ او مهر وَّاَشْهِدُوْا او کواهان ونیسئ ذَوَیْ عَدْلٍ دوه صاحب د عدل مِّنْكُمْ له تاسے مسلمانانو نه چه فاسق نه وی په رجعت باندے او دا مستحب دی او امام شافعی رح وائی چه واجب دی ۔

وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ او اقامت د شهادت کوی اے شاهدانو په وخت د حاجت کښ لِلّٰهِ ط د پاره د رضا د خدائ تعالیٰ او د پاره د ثواب ذٰلِكُمْ دا شهادت يُوْعَظُ به پند ورکاوه شی په دے سره مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ هر هغه چا لره چه ایمان ئے راوړے دے بِاللّٰهِ په خدائ تعالیٰ باندے او په هغه چه فرمایلی دئ دی وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ط او په ورځ د آخرت باندے او هغه چه متعلق له آخرت سره دی وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ او هر څوك چه ویریږی له خدائ تعالیٰ نه او مرتکب نه شی يَجْعَلْ لَّهٗ و به کړی دی د پاره د هغهٔ خدائ تعالیٰ ۔ مَخْرَجًا ② خلاصی دوتو یعنی خلاص به شی له غمه د آخرته یا هر څوك چه پرهیز وکاندے له حرا

د خدائ تعالیٰ هغه لره به ور سوی رزق د حلال وَيَرْزُقْهُ او روزی به ورکاندِ هغهٔ لره مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ط له هغه ځائ چه گمان به نهٔ راوړی او شمار به نهٔ راوړی یعنی په زړهٔ کښ به تیر نشی ستاسے سبب د نزول دے ایت دادے چه کافرانو حُوئ د عوف بن مالک ئے بندګړه او هغه نزدے د پیغمبرؐ راغے او وے ویل چه یا رسول اللہ صلے اللہ علیه وسلم حُوئ رم په بند د کافرانو کیخوت مورئے و اویلا د یره کوی او نهایت فقر او فاقے ته رسیدلے دے حضرت صلے اللہ علیه وسلم ووے چه تقویٰ او پرهیزګاری کا نرئ او د یر وائی لاحول ولا قوة الا باللہ العلی العظیم عوف سړه له ښځے خپلے په قول د حضرتؐ عمل وکړهٔ لږه موده تیره شوه چه حُوئ د عوف له قید نه خلاص شهٔ څلور زره ګډے د کافرانو ئے راوتخولے او مدینے ته راغے او دا ایت نازل شهٔ هر څوک چه تقویٰ وکا ندی روزی حلالَ به بیا مومی وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ او هر څوک چه توکل وکا ندی په خدائ تعالیٰ او کار خپل په دهٔ باندے وسپاری فَهُوَ حَسْبُهٗ ط پس خدائ تعالیٰ بس دے هغهٔ لره په کفایت د مهمّ کښ اِنَّ اللّٰهَ په تحقیق چه خدائ تعالیٰ بَالِغُ اَمْرِهٖ ط رسید ونکے دے وکار خپل ته په هر ځائ چه وی یعنی هغه چه مراد د خدائ تعالیٰ وی تړے نه فوت کیږی قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ په تحقیق چه ګرځولے دے خدائ تعالیٰ او پیدا کړے دے خدائ تعالیٰ لِكُلِّ شَيْءٍ د پاره د هر شیز له فقر او له تونګړه یا له غنا قَدْرًا (۳) اندازه چه له هغه تیرنهٔ شی یا مقدار له زمانے نه چه وړاندے ور وستو تیرے نهٔ کیږی. ابو ذر غفاریؓ روایت کړے دے چه حضرت رسالت پناه فرمایلی دی چه زهٔ په هغے یو ایت پوهیږم چه سړے پرے عمل وکا ندی همه وا پرولره کافی دے پس ایت و من یتق اللہ یجعل له مخرجًا ئے ولوست او څوځله ئے مکرر کړه بنا د دے ایت په تقویٰ او توکل باندے د ه تقویٰ نفخ دباغ د نزدیکت د ه او له دے مرتبے د یوځائے والی نه خبر د رکوئ ایت اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوا او توکل بوے ډکذار د کفایت دے. اَنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ترے خبر ور کوی

عه یعنی په پوره کولو د مراد د دهٔ کښ ۱۲ عه په تحقیق چه خدائ سړه د هغه چا دے چه تقویٰ کوی ۱۲ سه په تحقیق خدائ دوست لری توکل کونکی ۱۲ اللهم اغفر لکا تبه ولوالدیه ۱۲

اوبه له دے دواړو صفتونو قدم په لارے د تحقیق کښ نهٔ توانیږی ایخود ل په هغه وخت د احکم دعدت مطلقه کوز شهٔ چه یتربصن بانفسهن ثلثة قروء - اصحابو پوښتنه وکړه چه عدت دهغوښځو چه حائضه نهٔ شی څهٔ دے دا ایت راغے وَالّٰٓـِٔیْ یَئِسْنَ اوهغه ښځے چه نا امیده شوے وی مِنَ الْمَحِیْضِ له حیض په سبب دډیر عمر سره مِنْ نِّسَآئِکُمْ له ښځو ستاسے نه اِنِ ارْتَبْتُمْ کهٔ چرے شک وشی ستاسے یعنی نهٔ پوهیږئ تاسے فَعِدَّتُهُنَّ پس موده دعدت د دوئ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ لا درے میاشتے دی وَّالّٰٓـِٔیْ لَمْ یَحِضْنَ ط اوعدت دهغوښځو چه حیض ورلره نهٔ ورځی په سبب دصغر والی سره حکم ځے په دارنګ د درییو میاشتوډے وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اوصاحب دحمل یعنے حامله ښځے اَجَلُهُنَّ انتهاء مدت دعدت د دوئ اَنْ یَّضَعْنَ هغه ده چه کیږدی حَمْلَهُنَّ ط بارخپل کهٔ مطلقه وی کهٔ خښتن ځے مړ وی وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ اوهر څوک چه وویریږی له خدائ تعالیٰ نه اورعایت د حقوق د حکمونو دهغهٔ کوی یَجْعَلْ لَّهٗ وبه گرځوی هغه متقی لره مِنْ اَمْرِهٖ یُسْرًا ۝۴ له کاره د هغهٔ اسانی یعنی دهغهٔ به اسان کاندے ذٰلِكَ داچه وویلے شو اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ حکم د خدائ تعالیٰ دے هغه له لوح محفوظ ځے نازل کړے دے اِلَیْكُمْ ط تاسے وته وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ اوهر څوک چه پرهیز کا له عذابه د خدائ تعالیٰ او فرمانبرداری دهغه وکاندی یُكَفِّرْ پټ به کا عَنْهُ سَیِّاٰتِهٖ له دهٔ نه ګناهونه ددهٔ یعنی بخښنه به ورته وکاندی وَیُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ۝۵ اولویه به کاندی خدائ تعالیٰ دهٔ لره مزدوری ددهٔ اَسْكِنُوْهُنَّ اوسوئ ښځے مطلقے مِنْ حَیْثُ سَكَنْتُمْ پهٔ هغه ځائ چه اوسئ تاسے مِنْ وُّجْدِكُمْ له طاقته خپله یعنی مسکن د دوئ په قدر د طاقت خپل سازوئ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ اوضرر مهٔ رسوئ مطلقا تو لره په استوګنه اوپه خوراک کښ لِتُضَیِّقُوْا دپاره د دے چه تنګوئ عَلَیْهِنَّ ط په دوئ باندے کوښښ د دوئ اوخروج به ضرر شی دوئ لره وَاِنْ كُنَّ اوکهٔ وے هغه مطلقے - اُولَاتِ حَمْلٍ صاحب دبار یعنی حامله وے فَاَنْفِقُوْا عَلَیْهِنَّ پس نفقه

مه انتظار دِ کوی هغه ښځے په خان باندے درے حیضونه ۱۲ منه یعنی په پورے کولو دامرد دهٔ کښ ۱۲

کوئی په دوئی باندے حَتّٰی یَضَعْنَ ترهغه وخته پورے چه کیږی حَمْلَهُنَّ ج بار خپل او له عدته ووتی فَاِنْ اَرْضَعْنَ پس که شوډهٔ ورکوی دا بچے پس له قطع کیدو د نکاح لَكُمْ خامنو ستاسے لره فَاٰتُوْهُنَّ پس ورکاږئ دوئی لره اُجُوْرَهُنَّ ج مزدوری د دوئی دشودو وورکولو وَاْتَمِرُوْا او مصلحت کوئ بَيْنَكُمْ په میان دیو بل په کار د فږندکښ بِمَعْرُوْفٍ ج په نیکی سره په رضاع کښ اوپه اُجرت دهغه کښ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ اوکهٔ سختی وکړئ تاسے اے مورو پلارہ یعنی مور په رضاع کښ اوپلار په مزدورئ ورکولو کښ اِبا کوی فَسَتُرْضِعُ لَهٗٓ اُخْرٰى ۝۶ پس شودهٔ ورکړی ورته کے وغواړه زاهوزاد لره بله یعنی دائی ونیسی دپاره د رضاع او مور لره پریږدئ لِيُنْفِقْ بنائی چه نفقه دِ ورکاندی ذُوْ سَعَةٍ خداوند د توانائی مِّنْ سَعَتِهٖ ط له توانائی خپلے نه یعنی په قدر د توانائی خپلے مطلقے لره نفقه دِ ورکوی وَمَنْ قُدِرَ اوهرڅوك چه تنګ کړے شوی دی عَلَيْهِ رِزْقُهٗ په دهٔ باندے رزق ددهٔ یعنے رزق ئے لږ دے فقیر دے فَلْيُنْفِقْ پس بنائی چه نفقه دِ کاندِ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ط له هغه چه خدائی خدائی تعالیٰ ورلره ورکړے دے لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ تکلیف نهٔ ورکوی خدای تعالیٰ نَفْسًا هیڅ نفس لره اِلَّا مَآ اٰتٰىهَا ط مګر هغه چه ورکړے دے ۔ یعنی خدائی تعالیٰ له مال یعنی تکلیف مالا یطاق نهٔ بدی سَيَجْعَلُ اللّٰهُ زر به وی چه بنکاره به کاندی خدائی تعالیٰ بَعْدَ عُسْرٍ پس له سختئ اوتنګ ستئ نه يُسْرًا ۝۷ اسانی او توانائی وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ او ډیر له کلیو نه په سبب د جهل سره عَتَتْ جاروتنی دی عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا له فرمان د خدائی تعالیٰ خپله وَرُسُلِهٖ او له فرمانه د پیغمبرانو دهغه نه فَحَاسَبْنٰهَا پس حساب به وغاړو مونږه په ورځ د قیامت کښ ترے نه حِسَابًا شَدِيْدًا لا حساب سخت چه په هغه کښ مناقشه وی وَّعَذَّبْنٰهَا او عذاب به ورکړو مونږه دوئی لره په دنیا کښ عَذَابًا نُّكْرًا ۝۸ په عذاب هولناك سره به دوئی گرفتار کړو یا په ورځ د آخرت کښ پس له حساب فَذَاقَتْ پس وبه څکی وَبَالَ اَمْرِهَا عذاب د کار خپل وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا او وعاقبت د کار د دوئی خُسْرًا ۝۹ زیان کاری

اوکوم زیان بد به تړے زیان بل وی چه جنت د همیشکی نه اوله لقاء د خدائ تعالی نه
پاتے شی او په بندی خانه د دوزخ کښی به کیوځی اوعذاب درد ناک سره به گرفتار شی ۔
اَعَدَّ اللّٰهُ تیار کړے دے خدائ تعالی لَهُمْ دوئی لره عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ عذاب سخت په
دار وجهانو کښی فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووپریږئ له عذاب د خدائ تعالی نه يٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ ۺ
اے صاحبانو د عقلونو الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۛ هغه چا چه ایمان راوړے دے قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ په
تحقیق لیږلی دی الله تعالی اِلَيْكُمْ تاسے ته ذِكْرًا ۙ (۱۰) پند یا بزرگی چه قرآن دے او
لیږلے ئے دے تاسے ته رَّسُوْلًا استاذ چه محمد ﷺ دے قرآن ته ئے شرف ویلے دے ولے
چه شرف د دنیا دے اوکر امت د عقبیٰ دے لوستل د ده اوعمل کول په دغه اوبعضو ویلی دی
چه مراد له ذکر قرآن دے اومراد له استاذی جبریل ؑ دے او په یو قول رسول ﷺ دے له ذکره
اومشهوره داده چه خبره په رسول تمامه شوے ده اورسولاً په زور سره منصوب دے په
فعل محذوف سره تقدیر ئے دا دے چه متابعت کوئ رسول سره چه همیشه يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ
لولی په تاسے باندے اٰيٰتِ اللّٰهِ ایتونه د خدائ تعالی چه قرآن دے مُبَيِّنٰتٍ روښان کړی
اوامام ابو حنیفه ؒ په زیر سره لولی یعنی قرآن روښان کړونکے دے خدائ تعالی ذکر
او رسول ئے راواستو لِيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دپاره د دے چه وباسی په خپله یا قرآن
یا رسول ﷺ هغهٔ لره چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکړی ئے دی عملونه ښهٔ
بنائسته مِنَ الظُّلُمٰتِ له تیرو د کمراهئ اِلَى النُّوْرِ ؕ روښنائی د هدایت وته یا له باطل
حق وته یا له جهل وعلم ته وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ اوهر څوك چه ایمان راوړی په خدائ تعالی
اوتصدیق یه هغه وکاندی وَيَعْمَلْ صَالِحًا اووکاندی عمل نیک او پاك یعنی خالی له ریا
اوله غرضه يُّدْخِلْهُ داپه ئے ولی خدائ تعالی جَنّٰتٍ تَجْرِيْ په باغونو کښی چه بهیږی مِنْ
تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ د لاندے د کوټو نو د هغو وله خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ همیشه به وی په جنت کښی
اَبَدًا ؕ همیشه بے زواله اوبے انتقاله قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ په تحقیق چه نیک تیار کړیدے
الله تعالی په جنت کښی دپاره د مومن عامل رِزْقًا ۝ (۱۱) روزی اللّٰهُ خدای تعالی په

حق. الَّذِیْ هغه دے خَلَقَ چه پیدا کړی ئے دی سَبْعَ السَّمٰوٰتِ اوۀ اسمانونه بعضِ دپاسه د بعضِ وَّمِنَ الْاَرْضِ اوپیدا ئے کړله زمکے مِثْلَهُنَّ ط په مثل ددوئ بعضِ ترے لاندے د بعضو. اوبعضِ علماء حمل دمثلهن په عدد باندے کوی یعنے زمکے ئے هم اوۀ پیدا کړی دی یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ کوزیږی فرمان دخدائ تعالیٰ اوقضا دهغۀ بَیْنَهُنَّ په مینځ د اسمانونوکښ یعنی جاری دے حکم دهغۀ په اسمان او زمکه کښ په هره طبقه لطبقاتو دا سمان اود زمکے هغه اړه مخلوق دے جدا جدا لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ ددے دپاره چه وپوهیږئ په خدائ تعالیٰ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ په پیدا وخت ددوارو څیزونو قَدِیْرٌ لا توانا دے اوفرمان خپل ئے په وارو جاری کړے دے ددے د پاره چه معلوم کاږئ چه وَّ اَنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائ تعالیٰ قَدْ اَحَاطَ په تحقیق رسیدلے دے بِکُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾ په وارو څیزونو باندے په سبب دعلم سرہ یعنی قدرت دهغه ټولونکے دے وارو څیزونو لره او موجودات بنکاره اوپټ هیڅ څیز له دائرے دعلم دهغه نه بهر نه دی

سُوْرَةُ التَّحْرِیْم مَدَنِیَّة ۶۶ ۱۰۷ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | اٰیَاتُهَا ۱۲ رُکُوْعُهَا ۲

نقل دے چه حضرت صلے اللہ علیه وسلم په شربت د شهدو پیرمین وو او بی بی زینب رضی اللہ عنہا کره شهد وو هر کله چه حضرت صلے اللہ علیه وسلم دکره راغے دے به شربت تیاره وود پاره دحضرت رضی اللہ عنہا نو درنګ به پیر تیریدۀ بعضے ازواجو طاهراتو بدۀ منله بی بی عائشے رضی اللہ عنہا او حفصے رضی اللہ عنہا اتفاق وکړۀ چه کۀ حضرت صلے اللہ علیه وسلم پس له څښلو د شربت خمونږه کره راشی مونږ به ورته وایوچه یا حضرته له تانه بوئ د مغافیرو راځی اوهغه پیر بد بویه وی او حضرت صلے اللہ علیه وسلم په خوشبوئ باندے پیرمین وو هر کله چه حضرت صلے اللہ علیه وسلم راغے دوئ ورته ووے. چه یا حضرت بوی د مغافیرو له تانه راځی. حضرت صلے اللہ علیه وسلم ووے چه مغافیر مې نۀ دی خوړلی لیکن شربت د کبینۀ رضی اللہ عنہا څښلے دے پس ووے بی بی عائشه رضی اللہ عنہا او حفصه رضی اللہ عنہا چه مچئ به کل دعر فط څښلے وی اوهغه گندونی دی. امام زاهدی رحمہ اللہ وائی چه داصورت څو هیره واقع شه حضرت صلے اللہ علیه وسلم ووے چه

حرمت العسل علی نفسی فواللہ لا اکلہ ابدًا۔ او داسوکندے دے دپارہ وخوړچه بل څوک ورلره عسل رانهٔ وړی. پس دا دایت رانغے یَاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبر علیه السلام لِمَ تُحَرِّمُ ولے حراموے تهٔ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ج هغه چه حلال کړی دی خدائ تعالیٰ تالره یعنی شهد او روایت مشهور دادے چه په نوبت دحفصه کښی ورکړه حضرت ناست وو په اجازت دحضرت سره زیارت د پلار لره لاړه شوه حضرت ماریه قبطیه طلب کړه او په خدمت سره ئے سرفرازه کړه۔ دا پوهه چه د یره دلګیره شوه حضرت ووے چه اے حفصےؓ راضی ئے چه ماریه په ځان حرامه کړمه دے ووے چه حضرت ووایل چه ماریه په ما حرامه ده لیکن دا خبره چا ته مهٔ وایه هرکله چه حضرت دځ کوره ووت۔ حفصےؓ عائشےؓ ته پت راز ووے چه له ماریه نه خلاصه شوے۔ حضرت هرکله چه په کورد عائشهؓ کښی راغے عائشهؓ ووته ووے نو دا سورهٔ نازل شهٔ چه ولے حراموے په ځان خپل باندے هغه چه حلال کړے دے خدائ تعالیٰ په تاباندے او سوکند کوے تَبْتَغِیْ طلب کوے په حرا مولو کښی مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ط رضا د ښځوخپلو وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدائ تعالیٰ بخښونکے دے سوکند ستالره رَّحِیْمٌ ① مهربان دے چه مقرر کړے ئے دے کفارهٔ د سوکند قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ په تحقیق چه مقرر کړے دے خدائ تعالیٰ او بیان کړے ئے دے تاسے لره تَحِلَّةَ اَیْمَانِكُمْ ج پرانستل د سوکندونو ستاسے په کفارت سره یعنی هغه څوک چه سوکند وتړی په کفارهٔ سره پرانستل شی او بیان ئے په سورهٔ مائده کښی دے وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ج اوخدائ تعالیٰ دوست ستاسے دے اوکارونه ستاسے جوړوی تاسے لره هغه چه ستاسے بهبود وی وَهُوَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ② اوهغه دانادے په مصلحتونو د بندګانو باندے اونیکوکاردی په هرڅه چه وائی اوکوی دپارهٔ د دوئ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِیُّ او یادکړئ اے مؤمنانو هرکله چه راز ووے پیغمبر الی بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ و بعضو خپلوته یعنی حفصهؓ ته حَدِیْثًا ج خبره چه تحریم د ماریه دے یا عسل دی یا خلافت د شیخینو دے چه حفصےؓ خوئ خپل ته ویلی وو او خوئ ئے وعائشےؓ ته ووے او عائشےؓ خبر کړهٔ

دا راز فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ پس هغه وخت چه خبر ورکړه حفصه رضی الله عنها وعائشه رضی الله عنها ته په هغه خبره وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ او بنکاره کړه خدائ تعالیٰ پیغمبر خپل ته او خبرئ کړه عَلَيْهِ په اظهار د هغه خبر له حفصه رضی الله عنها نه عَرَّفَ پیژندونکی کړه پیغمبر حفصه او خبرئ کړه بَعْضَهٗ بعضے له هغو ته یعنی فلانکئ خبره ما تاته ویلے وه او تا هغه ظاهره کړه یعنی قصه د تحریم د مارے وَاَعْرَضَ او اعراض وکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم عَنْۢ بَعْضٍ ج له بعضو نورو نه یعنی خلافت د شیخینو نه مراد ئے دادے چه حضرت صلی الله علیه وسلم قهر و نهٔ کړو باوجود دے چه حفصے رضی الله عنها وارهٔ خبره د حضرت ظاهره کړے وے فَلَمَّا نَبَّاَهَا پس هغه وخت چه خبر کړه پیغمبر صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها بِهٖ په په هغه خدائ دے خبر کړے وو قالت وویے حفصه رضی الله عنها چه مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ چا خبر کړے ته په دے چه ما راز بنکاره کړے دے قَالَ وویے حضرت صلی الله علیه وسلم نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝۳ خبر کړم زهٔ صاحب د دانائی یم په پتو د زړونو باندے له پټ رازونو اِنْ تَتُوْبَاۤ که ځپرے توبه وباسئ اے حفصے او عائشے او وجار ونئ اِلَى اللّٰهِ وخدائ ته او په ازارد زهٔ د حضرت طیار نشئ تاسے لره به بهتر وی فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ج پس په تحقیق چه مات شوی دی زړونه ستاسے له نیک کارونو نه چه ساته د خبرے نهٔ کوی وَاِنْ تَظٰهَرَا او کځپرے تاسے مدد کاری وکړئ په مینځ خپل کښ عَلَيْهِ په خفه کولو د زړهٔ د حضرت صلی الله علیه وسلم فَاِنَّ اللّٰهَ پس په تحقیق چه خدائ تعالیٰ هُوَ مَوْلٰىهُ هغه یار او مدد کار د هغه دے یعنی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دی او هغه سره مدد به وکاندی وَجِبْرِيْلُ او جبریل علیه السلام یار د هغهٔ دے او مدد کاری به په ځائ وکه وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ج او نیک له مؤمنانو مدد کار د دهٔ دی وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ۝۴ او تولے فرښتے د اسمان او د زمکے هم له دے سره دی چه خدائ او جبریل او صحابه مدد کو نکی د دهٔ دی. په یو قول سره مراد ترے صدیق رضی الله عنه او فاروق رضی الله عنه چه پلار د عائشے او د حفصے دے او مدد کاران د حضرت صلی الله علیه وسلم چه رضا د هغه کوی نه دخپلو لونړو او مجاهدو ویلی دی چه صالح المؤمنین مرتضیٰ علی رضی الله عنه دے او فرښتے د اسمان او د زمکے دی باوجود د خدائ تعالیٰ او د جبریل علیه السلام او د صحابه رضی الله عنهم چه یاران د هغه دی او مدد کاران دی د پاره د هغه

عَسٰى رَبُّهٗۤ بنائی چه پروردکار دهغهٔ اِنْ طَلَّقَكُنَّ که طلاق درکاندی تاسے لره دایرول د بیبیانو دی اونصیحت کول دی ورته فرضًا طلاق درکاندے اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ نوهغهٔ لره به بدل ورکاندی خدائ تعالی اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ بهتره له تاسے نه دا اخبار دے له قدرته نه له کن چه خدائ تعالی لری یعنی طلاق به درکاندی پس تعریف دهغه بنهٔو کوئ مُّسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ اقرارکړونکے په وحدانیت باندے یاغاړه ایخودونکے په حکم یا باورکونکے قٰنِتٰتٍ نمازګذارونکے یا فرمانبردارے تٰٓئِبٰتٍ جاروتله له ګناهونو نه یارجوع کړونکے په درګاه د پروردګارکښ په نیکئ سرهٔ عٰبِدٰتٍ عبادت کونکے یاحضوع کړونکے سٰٓئِحٰتٍ روژه دارے ثَيِّبٰتٍ خښتنان لیدونکے وَّاَبْكَارًا ⑤ اوپیغلے بکرے ابن عباس رض فرمایلی دی چه ثیبه اسیه بنځه دفرعون ده اوباکره مورد مهرعیسٰی ده چه حق تعالیٰ فرمایلی دی چه دواړه بنځے دحضرت صلے الله علیه وسلم په جنت کښ به وی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے ټولیه دمؤمنانو قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وساتئ خانونه خپل په ترڅ دمعاصیو سره وَاَهْلِيْكُمْ اوقبیله او خامن خپل په مواعظت اونصیحت سره نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ له اوره چه بالنړدهغهٔ یعنی اورلګونکی اوخا شاك دهغهٔ سړی به یعنی کافران له جن اوله انس وَالْحِجَارَةُ اوکانړی چه په سول کښ زیاتوی یابتان دکانړیو چه کافرانو په خدائ نیولی دی یاخزانه له سره له سپینوزرو دا حبارو اورهبانو چه اصل ددیو کانړی دی عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ په اور باندے قرښتے دی موکل غِلَاظٌ شِدَادٌ سخت اوخبرے سختے کونکے اوسخت کاران ترهغه پورے کهٔ دوزخی وی سره جنګ وکاندی له دوئ به خلاص نشی لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ بے فرمانی نهٔ کوی خدائ تعالیٰ لره مَآ اَمَرَهُمْ هغه چه وائی ودوئ ته یعنی په رشتونو نهٔ غلیږی دده دپاره چه ګنړی مخالفت له حکمه وکاندے وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ⑥ اوکوی هغه چه فرمان وشی په دوئ باندے له خدائ تعالیٰ په تبیان کښ ئے راوړی دی چه لذت درفښتو په عذاب دکافرانو سره هسے دے لکه لذت په جنت کښ په نعمتونو سره هرکل چه کافرانو لره په غاړه ددوزخ راولی دوئ به عذرکوی دپاره دخلاصیدے نه حقتعالیٰ

به فرښتو ته وائی يَاأَيُّهَا الَّذِينَ كَفَرُوا اے هغه کسانو چه کافر شوی یئ لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ط عذرمهٔ کوئ نن ورځ چه عذر قبول به نشی اوفائده هیڅ به بیانهٔ موی إِنَّمَا تُجْزَوْنَ بے له دے نه بله نهٔده چه جزا به درکولے شی تاسے لره مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ع ۷ هغه څیز چه په دنیا کښی موکاوو يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړیدے تُوبُوا إِلَى اللَّهِ وجارو زئ وَخدائ ته تَوْبَةً نَصُوحًا خاص جارو تل خالص یعنی توبه وکانړئ له تمام گناهونو. معاذ بن جبل رض فرمایلی دی چه توبه نصوحا داده چه تائب بیا گناه ونهٔ کا لکه شوے ده ترے نه اوبیا بیرته ونه گرځی. اوحسن بصری رح ویلی دی چه توبه د نصوح دوه رکنونه لری چه اول نیت وکاندی په پښیمانی باندے بیا نیت وکاندی په ترك د گناه باندے عَسَى رَبُّكُمْ بنائی چه پروردگار ستاسے هر کله چه توبه وکاړئ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ چه ورځروی له تاسے نه سَيِّئَاتِكُمْ گناهونه ستاسے وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ اونه باسی تاسے لره په باغونو کښی چه همیشه تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لا حمی ترے لاندے دونواوبه کور دونوئ ولے بهیږ ونکے دانهونتل کله به وی يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ په هغه ورځ چه مجل به نهٔ کاندی خدائ تعالی پیغمبر ص یعنی نهٔ نفس دهغهٔ لره به عذاب ورکاندے اونهٔ شفاعت دهغه به ردکاندی وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ ج اورسوا به نه کاندی هغو لره چه ایمان ئے راوړے دے په دهٔ سره نُورُهُمْ نور ددوئ یعنی هغه نور چه خدائ تعالی به په مومنانو باندے عطا کړے دے ذغلی او وزی به بَيْنَ أَيْدِيهِمْ دوړاندے د دوئ وَبِأَيْمَانِهِمْ اوپه ښی پلوړ ددوئ په هغه وخت چه په پل صراط تیریږی اوپه هغه وخت چه منافقان به بے نوره شی يَقُولُونَ رَبَّنَا وائی به مؤمنان چه اے ربه خمونږه أَتْمِمْ لَنَا تمام کړه په مؤمنانو باندے نُورَنَا نور خمونږه یعنی باقی لره مونږه سلامت چه په پل صراط تیر شو وَاغْفِرْ لَنَا او وبخښه مونږه یعنی له تیرو شویو گناهونو موپاك کړه إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ په تحقیق چه تهٔ په وار وخیږ ونوله تماموله نورواوله مغفرتة قَدِيرٌ ۸ قادرئ يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبر خبر کونکیه په بلندئ د مرتبه سره جَاهِدِ الْكُفَّارَ جهاد

وکړه له کافرانو سره په تورو۔ وَالْمُنٰفِقِيْنَ اوله منافقانو سره وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ط اوسختی پکار کړه په دوئ باندے یعنی په دوارو ټولیو باندے وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط اوجاروتل د دوئ دوزخ ته دی وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۹ او بد ځای دجاروتو د دوئ دے ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا بیان کړے دے خدائ تعالیٰ مثال لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا دپاره دهغوچه کافران دی امْرَاَتَ نُوْحٍ ښځه د مهتر نوح علیه السلام چه واعله نومړے وو وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ط او ښځه د مهتر لوط علیه السلام چه نوم د هغے واهله وو كَانَتَا وے دا دوارہ تَحْتَ عَبْدَيْنِ لاندے دحکم دد وارو بندګانو مِنْ عِبَادِنَا له بندګانو څخه صَالِحَيْنِ ښائسته فَخَانَتٰهُمَا پس خیانت وکړو دوارو ښځو په هغه دوارو بندګانو باندے په نفاق سره ښځے د مهتر نوح ۴ قوم ددۀ تهے ووے چه دیوانه دے اودا ویلے ښځے د لوط ۴ چه قوم به ئے په میلمانه باندے خبراوو فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا پس بیرته نه کړه هغه دوارو پیغمبرانو له هغو دوارو ښځو نه مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا له عذابه دخدائ تعالیٰ هیڅ څیز ښځه د مهتر نوح ۴ غرقه شوه په طوفان سره اود ښځے د مهتر لوط ۴ په سرکا نړی وریدل وَقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ اووبه ویلے شی په ورځ د قیامت واهله ته او واعله ته چه ننوزی په دوزخ کښ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۱۰ له ننوتونکو سره یعنی له کافرانو سره حاصل دمثال دا دے چه کافران په عذابونو او هغه نسبت ددے ښځو او د پیغمبرانو ترمینځ چه دے باوجود دهغه ځیڅ فائده ئے هیڅ ونه کړو وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا اوبیان کړے دے خدائ تعالیٰ مثال لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا دپاره دهغوچه مؤمنان دی امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ مر اوهغه مثال د ښځے د فرعون دے یعنی اسیه لور د مزاحم اِذْ قَالَتْ هرکله چه ووے رَبِّ ابْنِ لِيْ اے پروردګاره ځما بنا کړه ماته عِنْدَكَ په نزد د خپل بَيْتًا کور فِي الْجَنَّةِ په جنت کښ دپاره د دے چه اسان شی په ما باندے عذاب د فرعون۔ راوړی دی چه هرکله اسیه ایمان راوړه فرعون ووے چا رمیخه ئے کړې اوپه نورکښ ئے وغورځوئ حق سبحانه وتعالیٰ فرښتو ته حکم وکړو چه په څانګو سره سورے پرے وکړئ اوفرعون ووے چه یوکا نړے لوئے په سینه ئے کښیږدئ

اسیه دُعا وکړه څښتنه مالړه کور په جنت کښ جوړ کړه وَنَجِّنِيْ اوخلاصه کړه ما. مِنْ فِرْعَوْنَ له فرعون وَعَمَلِهٖ اوله کردارونه دفرعون یعنی هغه عذاب چه په ما باندے کوی. وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۱﴾ او پناه راکړے مالړه له ټولو دظالمانو نه چه تابعان دفرعون دی حق سبحانهٗ وتعالیٰ دُعا دهغے قبوله کړه. جواب له مینځه ئے واخست اوکور دهغے ته ئے وخوده اوروح دهغے ئے قبض کړهٗ اوپه ډیرو تفسیرونو کښ ئے راوړی دی چه حق سبحانهٗ وتعالیٰ په جنت کښ داخله کړه له صورت خپل سره. اوحاصل دے مثال دادے چه باوجود ایمان اواتصال دهغے له کافرانو سره هیڅ ضرر ورته ونهٔ شه. مثال دے دپاره داز واجو طاهرانو تو دحضرت صلی اللہ علیه وسلم اودواړو مؤمنانو. وَمَرْيَمَ الْبَتُوْلِ عِمْرٰنَ اومریم چه لوردعمران ده الَّتِيْ اَحْصَنَتْ هغه بنځه ده چه نکاح ئے لرلے ده. فَرَجَهَا لمن خپل له حرام له فواحشه فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا پس پوه کړهٗ مونږ په کریوان دهغے کښ له روحه چه پیدا کړے وو مونږ وَصَدَّقَتْ اوباور لاره مریم ؑ او ایمان ئے راوړهٗ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا په خبرو د پروردګار خپل یعنی په صحیفو کوزے شویو پخوا له انجیل یا په وعدے چه جبریل له خدائ په دے راوړے ووچه لاهب لک غلما زکیا. وَكُتُبِهٖ اوپه کتابونو د خدائ تعالیٰ باندے یعنی په انجیل یا په هغه چه خدائ تعالیٰ نبکلی وو په لوح محفوظ له قصے دهغے اوله څوئ نه. او امام حفص په جمع سره لولی مراد ترے واړه کتابونه دی دپرورد کار. وَكَانَتْ اودهٔ دامریم مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ﴿۱۲﴾ له فرمان بردارانونه اویا له همیشه والی کونکیو نه په وظائفو د عبادا تو باندے او تذکیر دپاره د تغلیب دے اوخونه ددے ده چه مریم ؑ په طاعت کښ له مردانو کامل وه او په حدیث کښ راوړی دی چه له مردانونه ډیره کمالیت ته رسیدلے وه او له بنځو هیڅ یوهٔ نه رسیدلے مګر مریم ؑ لوردعمران او اسیه رضی اللہ تعالیٰ عنها بنځه د فرعون.

○ ○ ○

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مكية ۶۷ | ۲ آیاتها ۳۰ رکوعها

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تَبٰرَكَ بزرګ او بلند تر دے او ثابت دے په دوام الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ز هغه خدائ چه په لاس د قدرت کښ ئے بادشاهی ده نو هر څه چه غواړی هغه کوی وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۝۱ او هغه په هر څیز باندے له اندازو او له نعمتونو توانا دے الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ خدائ هغه ذات دے چه پیدا کړے دے خدائ مرګ. وغه الذی خبرد مبتدا محذوفه دے نو تقدیر ئے داشه چه هو الذی. وَالْحَيٰوةَ او پیدا کړے دے ده ژوندون یعنی پیدا کړے دے خدائ مرګ دخلقو په دنیا کښ او ژوند ئے په آخرت کښ او بعضو دیلی دی چه مراد له موته دنیا ده اوله حیوته آخرت دے. نو معنیٰ ئے دا ده شوه چه دنیا او آخرت ئے پیدا کړه لِيَبْلُوَكُمْ دپاره دے چه ازمیښت وکه دے په تاسو په دنیا کښ اَيُّكُمْ یوله تاسو نه اَحْسَنُ بنه اخلاص مند دے عَمَلًا له جهته دعمله یعنی کوم له تاسو څخه کار نیک بے ریا کوی وَهُوَ الْعَزِيْزُ او هغه خدائ غالب دے په انتقام اخستلو کښ له عاصی نه الْغَفُوْرُ ۝۲ او بخښونکے دے توبه ایستونکیو لره الَّذِيْ خَلَقَ هغه خدائ چه پیدا کړی دی دۀ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ اوه آسمانونه طِبَاقًا طبقے طبقے. یعنی بعضے له دوئ پاس په بعضو باندے مَا تَرٰى وینے نۀ وینے تۀ اے لیدونکیه. فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ په پیدا وښت د خدائ کښ چه اسمانونه دی، او کۀ نورڅۀ خیزونه دی مِنْ تَفٰوُتٍ هیڅ خلل اوعیب (نولفظ دمِنْ ترے زائده دے اوچا ویلی دی چه بیا دماترای دے پس معنیٰ ئے دا ده شوه چه له هیڅ خلل اوعیبه) فَارْجِعِ الْبَصَرَ پس وګرځوه ستړکے آسمان ته چه په دۀ کښ. هَلْ تَرٰى ایا وینے ته مِنْ فُطُوْرٍ ۝۳ خیری والے. ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ پس بیا وګرځوه تۀ دویم ځله ورته یعنی په یونظر سره تا ته معلوم نشی عیب په آسمان کښ نو دویم ځله ورته وګوره اوجواب دامر دا دے يَنْقَلِبْ بیرته به وګرځی اِلَيْكَ الْبَصَرُ تاوته ستړکے ستا خَاسِئًا په دے حال کښ چه خوار شوے به

وی دغه نظر دموند لود عیبه وَّهُوَ حَسِيْرٌ ④ او هغه به ستومانه وی له ډیره نظره او یا له لید لود عیب څخه کهٔ ډیر نظر وکهٔ هیڅ عیب به پکښ ونهٔ وینے وَلَقَدْ زَيَّنَّا او په تحقیق سره بناڼسته کړے دے مونږه السَّمَآءَ الدُّنْيَا اسمان نزدے زمکے نه بِمَصَابِيْحَ په چراغونو سره چه هغه ستوری دی وَجَعَلْنٰهَا او گرځولی دی مونږه دغه ستوریو لره رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ ویشتونکی شیطانانو لره یعنی هرکله چه دوئ قصد د آوریدلو د خبرو د ملائکو وکړی نو یوه شغله له ستورو جداشی پس دوئ پرے وسوزی او وشړلے شی څخه چه ستوری له خپله ځایه نه لرے کیږی وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ او تیار کړے دے مونږه شیطانانو لره پس دسیزلونه په دنیا کښی عَذَابَ السَّعِيْرِ ⑤ عذاب د دوزخ په آخرت کښی وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوشته دے د پاره د هغه کسانو چه کافر شوی دی بِرَبِّهِمْ په خدائ خپل باندے کهٔ شیطانان دی اوکهٔ نور څوك عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ عذاب د دوزخ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ⑥ او بد ځائ ذکر ځیدودے دوزخ اِذَآ اُلْقُوْا په هغه وخت چه وغورځولے شی کافران فِيْهَا په دوزخ کښی سَمِعُوْا لَهَا نو واوره وری دوئ دوزخ له شَهِيْقًا اواز په مثل د اواز د خر یعنی هرکله چه کافران دوزخ کښی وغورځولے شی نو دوزخ به فریاد وکا وَهِيَ تَفُوْرُ ⑦ او هغه به جوش کوی او کافران به لاندے باندے کوی لکه چه غوښے په دیګ کښی ویشیږی تَكَادُ تَمَيَّزُ نزدے به وی چه ټوټے ټوټے شی دوزخ مِنَ الْغَيْظِ ؕ له قهر او غصے نه په کافرانو كُلَّمَآ اُلْقِيَ هر وخت چه وغورځولے شی فِيْهَا فَوْجٌ په دوزخ کښی یو ټولے له کافرانو سَاَلَهُمْ سوال به وکا له هغه نوليو نه خَزَنَتُهَآ خازنان د دوزخ د لسے چه اَلَمْ يَاْتِكُمْ ایا نهٔ وو راغلی په دنیا کښی تاسو ته نَذِيْرٌ ⑧ پیغمبران ویرونکی له عذاب قَالُوْا بَلٰى وبه وائی کافران هو قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ پـه تحقیق سره راغلی وو مونږه لره پیغمبران ویرونکی فَكَذَّبْنَا پس دروغ کړه مونږه د هغوئ په اُنْزِلَ او په اِرْسَال کښی وَقُلْنَا او وویل مونږه هغوته دا سے مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۚ چه نهٔ دے نازل کړے خدائ په تاسو هیڅ څیز چه تاسو وایئ له وعده اوله وعیده اوله امر اوله نهی. او بل ووایل

مونږه هغه پیغمبرانو ته دا سے چه اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ کَبِیْرٍ ⑨ مکړیئ په خطایئ کښ ځکه چه سره له وجوده د بشریت دعوی د پیغمبرئ کوی او بعضو ویلی دی چه دا خطاب د ملائکو دے کافرانو ته یعنی په جواب د کافرانو کښ به وائی ملائکه. نه وئ تاسے په دنیا کښ مګر په ګمراهئ لوئ کښ وَقَالُوْا او وبه وائی کافران لَوْ کُنَّا نَسْمَعُ کَه چرے وے مونږه په دنیا کښ چه اوریدلی موخبرے د پیغمبرانو اَوْ نَعْقِلُ یا موعقل کړے وے په معاینو دخبرو د هغوئ کښ مَا کُنَّا نو نه به وُو مونږه مِنْ وٰرِ فِیْ اَصْحٰبِ السَّعِیْرِ ⑩ په ټولی دا اهل دوزخ کښ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ج پس اقرار به وکا دوئ په ګناه خپلے چه هغه تکذیب د پیغمبرانو دے فَسُحْقًا پس لرے والے به وی له رحمته لِّاَصْحٰبِ السَّعِیْرِ ⑪ یا دانو د دوزخ لره کَه اقرار کوی او کَه انکار ځکه چه په دغه وخت کښ اقرار به هیڅ فائده دوئ ته نه کړے سوی اِنَّ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ په تحقیق سره هغه کسان چه ویریږی رَبَّهُمْ بِالْغَیْبِ له عذابه د خدائ خپله په پټه کښ یعنی چه علاے دویرے لکه ژړا او فریاد شۀ له خلقو پټوی لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ نو دوه د غه کسانو لره بخښنه دګناهونو وَّ اَجْرٌ کَبِیْرٌ ⑫ او دوه د غو لره بله مزدوری لویه چه جنت دے **نظم**

مۀ ویریږئ زیرے د ویرے شته دے — هر څوک چه ویره کا ندِ هغه مبارک بنده دے

خوف وخشیت خاصه دهغو بنیارانو زده عاقله — هر څوک چه هوښیار نه وی ویره کله کا کامله

ویریدل سبب د خلاصی دے له عذابه — خدایه نصیب م ویریدل کړے بے حسابه

روایت دے چه هر کله مشرکان د مکے په سبب د فراخی د عیش سره مغرور شول نو په حق د پیغمبر ﷺ کښ ئے خبرے نالائقے ویلے نو خو ځله خدائ تعالیٰ په نازلولو د ایتونو سره پرده د ویلو د هغوئ نه پورته کړه پس دوئ یو تر بله د اسے مصلحت وکړو د اسے چه خبرے په حق د پیغمبر کښ پټے وایئ ځکه چه خدائ تعالیٰ د هغے ئ وانه وری او محمد ﷺ پرے خبر نه ګرځی نو دا محکمے ایت نازل شۀ وَ اَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ کَه پټوی اے اهل د مکے خبرے خپلے چه په حق د محمد ﷺ کښ ئے وایئ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ط او کَه ښکاره کوئ هغه خبرے یعنی

اسرار او اجهار قول په نزد د خدائ تعالیٰ برابر دے حکه چه اِنَّهٗ بے شکه چه خدائ تعالیٰ عَلِیْمٌۢ پوهه دے بِذَاتِ الصُّدُوْرِ (۱۳) په هر خیز چه په سینو د خلقو کښ وی یعنی خواله بنکاره کولو په ژبه نو ... خرنگه به پوهه نه وی په هغه خیز چه قول وکړئ تاسو پرے اَلَا یَعْلَمُ ایا نه پوهیږی په هغه اسرارو چه په زړونو کښ دی مَنْ خَلَقَ ط هغه څوك چه پیدا کړی ے دی یه قدرت خپل سره زړونه بلکه پوهیږی وَهُوَ اللَّطِیْفُ او حال دا دے چه هغه پوهه دے په باطن د خیزونو الْخَبِیْرُ (۱۴) او خبردار دے په ظاهر د موجوداتو هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ خدائ هغه ذات دے چه گرځولے دے دهٔ لَكُمُ الْاَرْضَ تاسو لره زمکه ذَلُوْلًا نرمه او اسانه د پاره د تللو پرے باندے فَامْشُوْا فِیْ مَنَاكِبِهَا یعنی ځئ تاسے په اطرافو د زمکه کښ وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ط اوخورئ له روزئ حلالے د خدائ چه تاسو لره ځئے مقرر کړے دے په زمکه کښ وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ (۱۵) او خدائ ته دے رجوع ستاسے اوپوتے کیدل له قبرونو پس خدائ سوال کونکے دے تاسو نه د شکر په هغه خیزونو چه انعام ئے کړے دے په تاسو **روایت دے** چه کفارو د اکمان کولو چه خدائ په اسمان کښ دے اورحمت اوعذاب دواړه له دهٔ نه نالیږی پس وویلے شو دوئ د موافق د اعتقاد د دوئ سره ءَاَمِنْتُمْ ایا په امان اوبے غمه یئ تاسے اے کافرانو مَّنْ فِی السَّمَآءِ له هغه چا نه چه په اسمان کښ دے په گمان ستاسو سره ددے نه اَنْ یَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ چه بنکته کړی تاسو لره په زمکه کښ فَاِذَا هِیَ پس هغه وخت زمکه پس له بنکته کیدلو ستاسو نه په هغے کښ تَمُوْرُ (۱۶) وگرځی او هواره شی په تاسے باندے اَمْ اَمِنْتُمْ ایا په امان اوبے غمه شوئ تاسے مَّنْ فِی السَّمَآءِ له هغه ذات چه په اسمان کښ قهر او قدرت دهٔ دے اَنْ یُّرْسِلَ عَلَیْكُمْ چه ولیږی په تاسے باندے (ان یرسل بدل دے له من فی السماء څخه اوهمدارنگه ان یخسف بدل دے له من فی السماء څخه) حَاصِبًا ط باد چه ولی تاسے په سنگریزو سره لکه چه په قوم د لوط۴ باندے فَسَتَعْلَمُوْنَ پس زر دے چه پوهه به شئ تاسے پس له لیدلو د عذاب په اُخرت کښ چه كَیْفَ نَذِیْرِ (۱۷)

څرنګه وو ویرول ځما په عذاب سره نو دغه ټوله به تاسونه په دغه وخت کښ هیڅ فائده
ونه رسوی وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ او په تحقیق سره تکذیب کړے وو پیغمبرانو څخه لړه هغه کسانو چه وو
مِنْ قَبْلِهِمْ وړاندے دے کفارو دے زمانے نه فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۱۸﴾ پس څرنګه وو په هغوئ
عذاب ځما اَوَلَمْ يَرَوْا ایا نه کوری دوئ اِلَى الطَّيْرِ مارغانو ته فَوْقَهُمْ پورته دسرونو
څخه په هغواکښ صٰٓفّٰتٍ پرانستے وزرے وَّيَقْبِضْنَ مګر او ټولوی وزرونه څخه لږ اړخونو
سره مَا يُمْسِكُهُنَّ نه ساتی دوئ نه له پریوتلونه په حال دقبض او دبسط کښ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ط
مګر خدائ په قدرت څخه سره اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍۢ بَصِيْرٌ ﴿۱۹﴾ په تحقیق سره خدائ په هر
څیز باند ے بینا دے اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ ایا څوك دے هغه کس هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ چه هغه
مدد کار شی تاسے لره يَنْصُرُكُمْ هغے مدد کار چه مدد وکا له تاسے سره مِنْ دُوْنِ
الرَّحْمٰنِ ط بغیر له خدائ چه دفع کاله تاسونه عذاب د دغه یعنی نشته مدد کار
تاسو لره بغیر د خدائ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ نه دی کافران اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿۲۰﴾ مګر په فریب د
شیطان کښ دی چه وائ دوئ ته تاسے لره عذاب نشته . اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ ایا څوك دے
هغه يَرْزُقُكُمْ چه روزی به درکړی تاسے لره اِنْ اَمْسَكَ که چرے منع کړی خدائ رِزْقَهٗ
روزی خپله په بند ولو د باران سره او جواب د شرط محذوف دے چه فمن یرزقکم دے
یعنی پس څوك دے هغه چه روزی به درکړی تاسے لره . نو کافران پوهیږی چه خالق او
رازق خدائ دے پس کفر ددوئ نه دے له جهل بَلْ لَّجُّوْا بلکه محکم شوی دی دوئ
فِيْ عُتُوٍّ په کږوی کښ له عناده وَّنُفُوْرٍ ﴿۲۱﴾ او تښتخته کښ دی له حقه پس بیان کړ
خدائ تم مثال کافر او مؤمن لره نو وے ویل اَفَمَنْ يَّمْشِيْ ایا پس هغه څوك چه مخ
مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ نسکور په مخ خپل باند ے اوړاند ے وروستو بښے او کږ ترخپل نه وینی
اَهْدٰٓى دے ښه لاره موند ونکے دے اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا او کله هغه څوك چه مخ دے برابر او ولاړ
چه ټول اطراف خپل وینی عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۲﴾ په لاره سے چه رسونکے ده مقصود
ته یعنی کافر گمراه او مومن لاره موند ونکے برابر نه دی او چا ویلی دی مراد له مُكِبٌّ نه

ابو جهل دے او د سوی نه پیغمبر دے نو آیت خاصه شئ اوښا په قول اول سره عام دے تنبیه خبر د مَنْ اول اهدیٰ دے او خبر د مَنْ دوئم محذوف دے دلالت کوی پرے خبر د اول ۔ رباعی فرق دے په میان دهغه چا کښ چه په یقین ۔ په ستر کو روښانو سره حیٔ په لاره کښ دد ین سره دهغه چا چه وی دوارو ستر کے تر پے ۔ هر طرف ته حیٔ په گمان او په تخمین قُلْ وویایه اے محمد صلے الله علیه وسلم مشرکانو ته چه هُوَ الَّذِیْ خدائ هغه ذات دے چه په قدرت کامله سره اَنْشَاَكُمْ پیدا کړی بیٔ هغه تاسے په ابتداء کښ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ او پیدا کړی دی هغه تاسولره غوږونه د پاره د اوریدلو د حق وَالْاَبْصَارَ او پیدا کړے ئے دی ستر کے د پاره د لیدلو د دلائلو د قدرت وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ او پیدا کړے ئے دی زړونه د پاره د فکر په مصنوعاتو د خدائ کښ ف خاص کړل خدائ دغه درے څیزونه ځکه چه آلات د علم هم دوئ دی قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ لږ شکر وایئ دغه نعمتونو لره ځکه چه شریکوئ له خدائ سره په عبادت کښ بتان او خاص خدائ لره ئے نه کوئ او بعضو ویلی دی چه قلیل په معنیٰ د عدم دے نو معنیٰ دا سے شوه چه نۀ کوی شکر قُلْ هُوَ الَّذِیْ وویایه خدائ هغه ذات دے چه پس له پیدا کولو ستاسونه ذَرَاَكُمْ پراگنده ئے کړئ تاسے فِی الْاَرْضِ په زمکه کښ د پاره د عبادت کولو وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ او خاص خدائ ته به جمع شی تاسو په ورځ د قیامت د پاره د حساب او د جزا وَیَقُوْلُوْنَ او وائی مشرکان پیغمبرا و یارانو د ده ته چه مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ کله به وی دغه وعده د حشر ان كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۵﴾ کۀ چرے یئ تاسے ریښتینی په دغه ویلو کښ نو مونږه پوهه کړئ په زمانه د قیامت قُلْ وویایه په جواب کښ دوئ ته اِنَّمَا الْعِلْمُ یه تحقیق سره پوهه په زمانه د راتلو د قیامت سره عِنْدَ اللّٰهِ ص په نزد د خدائ ده او بل هیڅوك خبر نۀ دے وَاِنَّمَاۤ اَنَا او په تحقیق سره زۀ چه یم نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲۶﴾ ویرو نکے یم ظاهر یعنی په راتلو د قیامت سره ویروم تاسے او په وخت ئے خبر نۀ یم فَلَمَّا رَاَوْهُ پس هر کله چه وویني دوئ دغه عذاب موعوده زُلْفَةً نزدے خپل نو سِیْٓـَٔتْ تور به شی له جهته د غمه او یاتور به کړی دغه عذاب

وُجُوهَ الَّذِينَ كَفَرُوا مخو نه دهنه کسانوچه کافرشوی دی وَقِيلَ او وبه ویلے شی یعنی خازنان
د دوزخ به وائی دوئ ته هٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ داعذاب هغه دے چه وئ تاسے په دنیا
کښ دے ته مونَدَّعُونَ ﴿۲۷﴾ اُرنه واو تلوارکوله روایت دے چه همیشه به کافرانو
اُرنه ودمرګ درسول کریم صلی الله علیه وسلم اود اصحابوکوله یعنی ویل به ئے چه دے او
اصحاب د دهٔ مرګ شی نومونږه به ترے خلاص شو نوخدای پیغمبر ﷺ خپل ته و ویل چه
قُلْ اَرَءَيْتُمْ و وایه ته دوئ ته چه خبر کړئ تاسے مالره اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ که اُچرے مر
کړی خدائ مالره وَمَن مَّعِيَ اوهغوئ لره چه ماسره دی له مؤمنانو اَوْ رَحِمَنَا لا او یارحمت
وکړی خدائ په مونږه په دراز کولو اجل فَمَن يُجِيرُ الْكَافِرِينَ پس څوك دے هغه چه
خلاص کړی کافرانو لره مِنْ عَذَابٍ اَلِيمٍ ﴿۲۸﴾ له عذاب درد ناك څخه یعنی مرګ ځما تاسے
ته فائده نهٔ کوی او ژوندځما هم له تاسو څخه عذاب نهٔ دفع کوی بلکه خلاصوی
تاسے لره له عذابه توحید اوایمان پس انتظار ستاسے مرګ ځما ته هیڅ سود نهٔ رسوی
تاسے ته قُلْ و وایه ته دوئ ته چه هغه څوك چه ایمان پرے سبب د خلاصی دے
هُوَ الرَّحْمٰنُ هغه دے خدائ بخښونکے اٰمَنَّا بِهِ ایمان راوړے دے مونږه په هغه وَ
عَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا او په هغه باندے توکل کړے دے مونږه فَسَتَعْلَمُونَ پس زر دے چه
پوهه به شئ تاسے په وخت د لیدلو د عذاب کښ چه مَنْ هُوَ څوك دے له مونږه او له
تاسو نه چه وی هغه فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ﴿۲۹﴾ په کمراهئ ظاهره کښ قُلْ اَرَءَيْتُمْ و وایه
اے پیغمبره ته دوئ ته چه خبر کړئ مالره اِنْ اَصْبَحَ که اُچرے وکړی مَآؤُكُمْ اوبهٔ
ستاسے یعنی اوبه د زمزم یا اوبه د بیرمیمون حضرمی یا اوبه د چینو او د کوهیو غَوْرًا
بنکته زمکے ته چه بوقه او رسئ ورته نهٔ رسیږی فَمَن يَأْتِيكُم پس څوك دے هغه چه راوړی
تاسے بِمَآءٍ مَّعِينٍ ﴿۳۰﴾ اوبه جاري یا ظاهرے داسے چه هر څوك ئے وینی یعنی هیڅوك به رانهٔ
وړی اوبه بغیر له خدائ نو ولے انکار کوئ تاسے له قیامت په حدیث کښ راغلی دی
چه پس له ویلو دے آیت بائده دی چه قاری دِ وائی اللّٰه ربنا ورب العلمین. روایت

دے چه پر زندیق دا ۱ ایت واوُ ربیدهٔ نوے ویل چه په قوم او په مد دکارئ دخلقو سره به اوبهٔ راوړے شی نود شپے چه اودهٔ شهٔ په دواړو سترګو روند شهٔ نوهاتف ورته اواز وکړو چه اوبهٔ د سترګو دِ په یُوم او په مدد دخلقو سره راوړه نعوذ باللّٰه من الجُرَاَت علی اللّٰه و علی اٰیٰتِه - او په حدیث کښ دی - اِن سورةً من الکتٰب ماهی الاثلثون ایةً شفعت لرجلٍ فاخرجته یوم القیمة من النار وادخلته الجنة وهی سورة تبٰرک ؕ

سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ ۶۸ ۲ ۵۲ اٰیَاتُهَا رُكُوْعُهَا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نٓ علماؤ په دے کښ دِیرے خبرے کړی دی نوچاویلی دی دا اول حرف دے له حروفو نو د اسماءِ الٰہی څخه چه نور او ناصر دے اوچاویلی دی دا اخر حرف دے د رحمٰن اوچا ویلی دی دا اسم د سورة دے یا اسم د ولیٔ دے په جنت کښ اوچا ویلی دی قسم یادکړیدے خدائ په نصرت مؤمنانو لره. اوچاویلی دی نامه د ماهی ده یاد جنس ماهی یاد هغه ماهی چه زمکه په شاد هغهٔ پرته ده. اوچاویلی دی نامه د مشوانړئ ده نو په دے تقدیر سره خدائ قسم یادکړے دے په مشوانړئ باندے وَالْقَلَمِ او قسم دے په قلم اعلی باندے چه د نور دے اویا په هغه قلم چه لیکی پرے خلق حُکه چه په دهٔ کښ نفعے او فائدے د دین او د دنیا دِیرے دی - وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۱ او سوګند دے په هغه څیز باندے چه لیکئے ملائکے حفظه له احکام د وحی نه اوجواب د قسم دادے چه مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ په سبب د نعمت د خدائ چه پیغمبری ده بِمَجْنُوْنٍ ۲ لیونے یعنی نفی دلیونتوب له تا نه په سبب د انعام د خدائ ستادی په تا باندے چه پیغمبری ده او په دے کښ اشارت دے خبرے د ولید بن مغیرة ته چه دهٔ به محمدﷺ ته مجنون ویل نو خدائ تعالیٰ سوګند وکړو په نون او په قلم او په هغه څیز چه لیکئے ملائکے دے چه ما انت بمجنون. یعنے په تحقیق سره نهٔ ئے ته لیونے حُکه چه انعام کړے دے رب په تا باندے وَاِنَّ لَكَ اَجْرًا او په تحقیق سره خاص تالره خامخا ثواب دے په رانبکلو د بار

د نبوت سره او یا په صبر کولو د افتراء دکافرانو سره غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ۳ بے نهایت یعنے ثواب دائمی چه هیڅکله نهٔ قطع کیږی وَاِنَّكَ او په تحقیق سره چه ته لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ۴ په دین لوئے ئے چه اسلام دے یا په خویونو لویو سره چه هغه بل چا لره نشته لکه صلهٔ د رحم سره او یا لکه عفو سره هغه چا ته چه ظلم کوی په تا باندے او چا ویلی دی چه مراد له خُلق قران دے چه خدائ درکړے دے فَسَتُبْصِرُ پس زړے چه وبه وینے ته اے محمدؐ وَيُبْصِرُوْنَ ۵ او وبه وینے کافران د مکے چه عذاب پرے راشی دا سے چه بِاَيِّيْكُمُ الْمَفْتُوْنُ ۶ کوم یو دے له تاسو څخه لیونے کړے شوے پس بَ زائده شوه پس زړے چه پوهه به شی دوئ چه دیوانه ته ئے او کهٔ دوئ - او چا ویلی دی مفتون مصدر دے لکه معقول نو معنیٰ ئے بِاَيِّيْكُمُ الْجُنُوْنُ شوه پس په دے تقدیر سره بَ زائده نهٔ ده او چا ویلی دی چه بَ په معنیٰ د فِی ده نو معنے فِیْ اَيِّيْكُمُ الْمَفْتُوْنُ شوه اِنَّ رَبَّكَ په تحقیق سره رب ستا چه دے هُوَ اَعْلَمُ ښهٔ پوهه دے بِمَنْ ضَلَّ په هغه چا چه گمراه شوے دے عَنْ سَبِيْلِهٖ له لاری د خدائ تعالیٰ یعنی لیونے په حقیقت کښ گمراه وی له لاری سے نه او په هغه باندے خدائ ښهٔ پوهه دے وَهُوَ اَعْلَمُ ښهٔ پوهه دے بِالْمُهْتَدِيْنَ ۷ په لاره موندونکیو باندے چه مومنان دی روایت دے چه مشرکانو د مکے پیغمبرؐ دین د پلارانو خپلو ته بللو او ورته ئے ویل کهٔ ته میلان وکړے دین خمونږ ته نومونږه به طعنه ستا په دین کښ نهٔ کوو نو خدائ منع کړهٔ دے له منلو د فرمان د مشرکانو څخه دا سے چه فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ۸ پس فرمانبرداری مه د دروغ ویونکو لره چه کافران د مکے بولی تا دین د پلرونو ته وَدُّوْا دوست لری مشرکان چه لَوْ تُدْهِنُ کهٔ نرمی کوے له دوئ سره اوضع نهٔ کړے دوئ په ترک د شرک سره فَيُدْهِنُوْنَ ۹ پس دوئ به نرمی کوی په دین ستا کښ په ترک د صنعه سره **تنبیه** لو مصدری دے او فیدهنون معطوف دے په تدهن او کهٔ وگرځوله شی جواب د تمنی چه معلومیږی د وَدُّوْا څخه نو مقدر کړله شی پس له فَ نه هُمْ یعنی فهم یُدْهنون وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ اوفرمان مهٔ قبلوه هر سوګند خور

لره د دروغ چه ولید بن مغیره دے په اصح روایت سره مَّهِيْنٍ ﴿۱۰﴾ هسے خلاف چه سست فکری اوبے مقداره دے هَمَّازٍ عیب ویونکے دے د خلقو پسے شا مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيْمٍ ﴿۱۱﴾ کوشش کونکے دے په خبرو د فساد سره په مینځ د خلقو کښ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ منع کونکے دے د مال په لاره د خدائ کښ او یا منع کونکے دے خلقو لره له ایمان مُّعْتَدٍ سخت ظالم دے اَثِيْمٍ ﴿۱۲﴾ د بدکنهکار دے عُتُلٍّۭ سخت ویونکے اوبدخوی دے بَعْدَ ذٰلِكَ پس له دے ټولو عیبونو ذکر شو یو ټخه زَنِيْمٍ ﴿۱۳﴾ حرام زاده دے چه پلارئ معلوم نه دے حُکه چه پس له اتلسو کالو په ولید مغیره دعوٰی وکړه چه دے حُما حُوئ دے په تفسیر د امام زاهد کښ راوړې دی چه هر کله رسول کریم صلی الله علیه وسلم په ټولی دقریشو کښ دا آیت په ولید ولوست نو هر عیب چه حضرت ویلو ولید په خپل ځان کښ لیده مګر بے له حرام زادګئ نه نو په زړه کښ ئے وویلے چه پلار حُما مغیره سره بنکاره دے او پوهیږم چه محمد دروغ نه وائی پس خُنګه به داکار معلوم کړم پس تورهٔ ئے وخکه او مورله راغے نو په ویرولو یې د سره ئے مور د ویل چه پلار ستا نامرده وو او وونږه ئے منتظر وو میراث ته - نو ما لره کینه راغله غلام دیوسړی م په ځان باندے واچوو نو تر پیدا شوے اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۱۴﴾ له دے جهته چه دے هغه خاوند دمال او دځامنو دروغ وائی په ایلتو نوځمونږه پورے اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا په هغه وخت کښ چه ولوستے شی په دهٔ آیتونه د قرآن څمونږه قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۵﴾ وائی دے دا قصے دی د پخوا نوعالمو سَنَسِمُهٗ زه دے چه داغ به کیږدم هغهٔ لره عَلَى الْخُرْطُوْمِ ﴿۱۶﴾ په پوزه د پاره دسپکوالی ئے نو په جنګ د بدر کښ پوزه ئے زخمی شوه او اثرئے باقی وو ترمرګه اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ په تحقیق سره مونږه اهل د مکے ازمیلے دے په قحط د غلے سره كَمَا بَلَوْنَآ لکه چه ازمیلی وو مونږه اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ خاوندان د باغ د مروان په هلاکیدو د میو د سره **روایت دے** چه په اطراف د صنعا کښ چه ولایت دیمن دے یو مرد صالح لره باغ ووچه په ورځ د میوے شوکو لوکښ فقیران به ئے بلل اولسمه حصه به ئے ورکوله

پس هر کله چه هغه وفات شه نو خامنوئے وویل مال لږدے اوعیال حمونږه ډیر دے کهٔ مونږ
د پلار په شان کار وکړو نو مونږه به تنګ شو صبا چه فقیران خبر نه وی لاړ به شو او میوے
به راوړو او په دے خبرے بیل بیل سوګند وکړو لکه چه خدائ تعالیٰ وائی اِذْ اَقْسَمُوْا یاد
کړه دوئ ته هغه چه سوګند وکړو وارثانو دمروان چه پټ له فقیرانو به لَیَصْرِمُنَّهَا
خامخا قطع کړو میوه دباغ مُصْبِحِیْنَ ﴿۱۷﴾ په وخت دصبا کښ چه فقیران خبر نهٔ شی۔
وَلَا یَسْتَثْنُوْنَ ﴿۱۸﴾ او استثناء ئے ونهٔ کړه یعنی دا سے ئے ونهٔ ویل چه ان شاءالله تعا
فَطَافَ عَلَیْهَا پس نازل شهٔ په هغهٔ باندے طَآئِفٌ مِّنْ رَّبِّكَ بلا طواف کونکے لخدائے
ستا چه اور وو نوهغه ئے وسوهٔ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۱۹﴾ اوحال دا وو چه دوئ اودهٔ وو
فَاَصْبَحَتْ پس شهٔ باغ ئے په هغه بلاسره كَالصَّرِیْمِ ﴿۲۰﴾ لکه شپه توره یعنی پس لهسولو
نه توریشهٔ او یا لکه صبا یعنی شهٔ هغه باغ لکه زمکه سپینه فَتَنَادَوْا پس ندا وکړه بعضو
له دوئ بعضوته مُصْبِحِیْنَ ﴿۲۱﴾ په وخت دصبا کښ دا سے چه اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ
صباځئ کښت خپل ته اِنْ كُنْتُمْ صٰرِمِیْنَ ﴿۲۲﴾ کهٔ چرے یئ تا سے شوکونکی دمیوے۔
فَانْطَلَقُوْا پس لاړل دوئ باغ ته وَهُمْ یَتَخَافَتُوْنَ ﴿۲۳﴾ اودوئ خبرے نرے ویلے چه څوك
خبر نهٔ شی دا سے چه اَنْ لَّا یَدْخُلَنَّهَا الْیَوْمَ رانهٔ شی باغ کښ نن وړ عَلَیْكُمْ مِّسْكِیْنٌ ﴿۲۴﴾
په تاسے باندے فقیر وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ اوپه صبا لاړل باغ ته په قصد دمنع له فقیرانو
قٰدِرِیْنَ ﴿۲۵﴾ توانا په منع په گمان خپل سره فَلَمَّا رَاَوْهَا پس هر کله چه ولیدهٔ دوئ هغه
باغ تور شوے نو قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿۲۶﴾ وے ویل یو تربله په تحقیق سره مونږه ورکه کړے
دهٔ لاردهغه باغ ځکه چه هغه مونږه باغ له میوو دډك وو نوفکر وکړهٔ اووے ویژندلو نو
وے ویل بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۲۷﴾ بلکه مونږ بے حصے یو له میوے په سبب دمنع خمونږه
له فقیرانو قَالَ اَوْسَطُهُمْ وویل بهتر دوئ په عقل کښ دا سے چه اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ایا نهٔ وو
وویلی ما تا سے ته په رون چه لَوْ لَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿۲۸﴾ ولے نهٔ یادوئ خدائ په لویئ سره
اوتوبه وباسئ له منع دفقیرانو نه اویا ولے استثناء په ان شاءالله تعالیٰ سره نهٔ وایئ نو قَالُوْا

وویل دوئ سُبۡحٰنَ رَبِّنَاۤ پاکی دہ خدائ حُمونږہ لرہ له ظلم په مونږه باندے بلکه اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ ﴿۲۹﴾ په تحقیق سره مونږه وُظالمان په نفسونو خپلو باندے فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ پس مخ کړه بعضوله دوئ په بعضوچه يَّتَلَاوَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾ ملامتیا ئے کوله یعنی یوبل لره ئے ملامته کولو دا سے چه دا فکر ستاوو هغه ویل تۀ پرے راضی ئے نو پس اقرار وکړو تولو قَالُوۡا يٰوَيۡلَنَاۤ وے ویل افسوس دے مونږه لره اِنَّا كُنَّا طٰغِيۡنَ ﴿۳۱﴾ په تحقیق سره مونږه وو له حده تیرشوی په گناه کښ له جهته دمنع له فقیرانو اوبل له جهته د ترک داستثناء نه عَسٰى رَبُّنَاۤ امید دے له خدائ حُمونږه دا سے اَنۡ يُّبۡدِلَنَا چه بدل راکړی مونږه لره خَيۡرًا مِّنۡهَاۤ غوره له دغه باغه په برکت د توبے او د اقرار سره اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا په تحقیق سره مونږ رب خپل ته رٰغِبُوۡنَ ﴿۳۲﴾ طلب او رجوع کونکی یو پس خدائ دوئ ته یو باغ حیوان نوم ورکه كَذٰلِكَ په مثل د خاوند او د باغ دے الۡعَذَابُ ؕ عذاب هغه چالره چه مخالفت کوی له امره حُمونږه په دنیا کښ وَلَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ اَكۡبَرُ ۚ اوخامخا عذاب د اخرت چه دے لوئے زیات دے ځکه چه د دنیا عذاب لږے کیږی او د اخرت به هیڅ وی لَوۡ كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ کۀ چرے دوئ پوهیدلے په عذاب د اخرت نو دمخالفت د امره حُمونږه به ئے ځان ساتلے وے پس ذکر کړه خدائ تعالیٰ هغه خیزچه دۀ ځخه دے مُومنانو لره نو وے ویل چه اِنَّ لِلۡمُتَّقِيۡنَ په تحقیق سره پرهیزګارانو لره دی عِنۡدَ رَبِّهِمۡ په نزد د خدائ د دوئ په اخرت کښ جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ ﴿۳۴﴾ باغونه د نعمتونو خالصو **روایت دے** چه کافرانو وویل کۀ چرے مونږه بالفرض پورته شوله قبرونو پس را به کړے شی بهتر له مُومنانو لکه چه په دنیا کښ نو خدائ نازل کړو اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ؕ ایا وبه نۀ کړځوم مسلمانان كَالۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۳۵﴾ په مثل د کافرانو یه ورکولو د نعمتونو کښ بلکه وبه نۀ کړځوم مَا لَكُمۡ ۫ د کیف تَحۡكُمُوۡنَ ﴿۳۶﴾ څۀ دلیل دے تاسے لره څرنګه حکم کوئ اے مشرکانو په برابروالی یا بهترو والی سره په مینځ د مُومنانو او مشرکانو کښ اَمۡ لَكُمۡ كِتٰبٌ ایا تاسے ځخه شته کتاب نازل شوے د اسمان چه فِيۡهِ تَدۡرُسُوۡنَ ﴿۳۷﴾ په هغۀ کښ لولئ تاسے د اسے چه

اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ په تحقیق سره تاسے لره په هغه کتاب کښ دی لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ﴿۳۸﴾ هغه څیز چه غوره کوئ ئے تاسو اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ ایا شته تاسے لره وعدے محکمے په سوګند سره عَلَيْنَا په مونږه باندے بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لا هسے وعدے چه باقی وی تر قیامته دا سے چه اِنَّ لَكُمْ په تحقیق سره شته تاسے لره لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۹﴾ هغه څیز چه تاسے پرے حکم کوئ یعنی چه بهتر والے ستاسے دے په اخرت کښ سَلْهُمْ پوښتنه وکړه اے محمد صلے الله علیه وسلم له مشرکانو چه اَيُّهُمْ کوم یو له دوئ بِذٰلِكَ په دغه حکم چه کوی زَعِيْمٌ ﴿۴۰﴾ ضامن دے اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ج ایا شته دوئ لره شریکان په دے ویلو نو فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ پس راوړی دوئ شریکان ضامنان اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۴۱﴾ که ګډے وی دوئ رښتینی په دعوئ خپله کښ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ په هغه ورځ چه جامه به پورته کولے شی له پنډئ نه یعنی راوړ بلی شریکان په هغه ورځ چه سخت شی کار حُکه چه کشف دساق به په هغه ورځ نهٔ وی نو مراد دکشف دساق نه سختی ده وَيُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ او به بللے شی کافران سجدے ته فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۴۲﴾ پس طاقت دسجدے کولو به نهٔ لری حُکه چه شابهٔ ئے په مثل دچا رپایانو شی خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ په هغه حال کښ چه بنکته به وی سترګے دوئ له شرمه تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ط پیوسته به شی له دوئ سره خواری وَقَدْ كَانُوْا او په تحقیق سره وو دوئ په دنیا کښ يُدْعَوْنَ بللے به شو اِلَى السُّجُوْدِ سجدے ته وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ او دوئ جوړ وو نو سجده ئے نه کوله پس له دے جهته منع کړے شوئ ورځ چه ورځ د قیامت ده له سجدے څخه پس خدائ تعالیٰ دپارهٔ د تسلئ د پیغمبر علیه السلام او د ویرولو د مکذبانو وائی فَذَرْنِيْ پس پریږده مَالِهٖ وَمَنْ يُّكَذِّبُ او هغه چا لره چه دروغ وائی بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ط په دے خبرے سره چه قرآن دے او یا خبره د بعث او د حشر ده سَنَسْتَدْرِجُهُمْ زر دے چه وبه نیسم دوئ لره لږ لږ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۴﴾ له هغه طرفه چه دوئ به پرے نهٔ پوهیږی وَاُمْلِيْ لَهُمْ ط او مهلت به ورکړم دوئ لره په دنیا کښ نو بیا بهٔ ئے ونیسم حُکه چه اِنَّ كَيْدِيْ

مَتِیْنٌ ﴿۴۵﴾ په تحقیق سره عذاب خُما محکم دے اَمْ تَسْئَلُهُمْ اَجْرًا ایا غواړے ته دوئ نه مزدوری په تبلیغ درسالت سره فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ پس دوئ له تاوان دهنه اجره مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۶﴾ دروند باری دی نوځکه ایمان نهٔ راوړی ف دا اَمْ په معنیٰ د نفی دے یعنی نهٔ ئے ته چه طمع د اجر له دوئ نه کوے نوځکه ایمان نهٔ راوړی اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَیْبُ ایا دوئ تخنه لوح محفوظ دے چه پکښ غیب دے فَهُمْ یَكْتُبُوْنَ ﴿۴۷﴾ پس دوئ لیکی له لوح محفوظ دغه حکم چه برابری کوی دمومن اودکافر **روایت دے** چه هر کله پیغمبر علیه السلام قصد د دُعا بدے په قبیلے د ثقیف وکړو نوخدائ وائی چه اے پیغمبره ۴ اصبر کوه ځکه چه کافرینه په صبر سره کیږی لکه چه فرمائی فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ پس صبر کوه اے محمدٌ حکم دخدائ خپل ته چه امهال ددوئ دے وَلَا تَكُنْ او مهٔ کیږه تهٔ تلوار کونکے كَصَاحِبِ الْحُوْتِ م په مثل دصاحب دماهی چه یونس۴ وو اِذْ نَادٰى یاد کړه هغه وخت چه اواز وکړهٔ دهٔ خدائ ته په خیټه دماهی کښ داسے چه لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ط وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿۴۸﴾ اودے وړك له غمه وو په ماهی کښ لَوْلَآ اَنْ تَدٰرَكَهٗ که چرته ونه موندے دهٔ لره نِعْمَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ نعمت له خدائ خپله په قبلولو توبے سره لَنُبِذَ نو پریوتے به وو دے له خیټے دماهی څخه بِالْعَرَآءِ په بیابان کښ وَهُوَ مَذْمُوْمٌ ﴿۴۹﴾ په دغه حال کښ چه دے به ملامت کړے شوے وو اویا شړلے شوے وو له رحمته فَاجْتَبٰىهُ رَبُّهٗ پس غوره کړهٔ دے په پیغمبرئ سره رب دهٔ په سبب دعذر سره ئے فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۵۰﴾ پس وکړو خدائ دے له نیکوکارانو **روایت دے** چه بنی اسد یو ټولے چه مشهور وو په بد نظرئ سره مقرر کړه په پیغمبرؐ اوورته ئے وویل کهٔ ستاسے په نظر سره دے هلاك شهٔ اویا له خپلے مرتبے نه پریوت نومونږه به تاسے سره ډیر بنهٔ وکړو پس خدائ تعالیٰ د پاره د حفظ دهٔ له نظره دا آیت نازل کړو وَاِنْ یَّكَادُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا او په تحقیق سره نزدے وو هغه کسان چه کافر وو لَیُزْلِقُوْنَكَ چه هلاك کړی یاوغورځوی تا له مرتبے خپلے نه بِاَبْصَارِهِمْ

عه دکه حدیث دے چه ان العین لتدخل الرجل القبر والجمل القدر یعنی نظر د اخلوی سړے په قبر کښی او د اوښ په کتوئ کښی ۱۲ کتبه: صادق (زهیر) چپرهارے د اکوال عفی عنه ۱۲

په ستر کو خپلو سره لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ هر کله چه واوریدهٔ دوئ قرآن وَيَقُولُونَ او وائی له جهته دکینې نه دا سے اِنَّهٗ لَمَجْنُونٌ (۵۱) په تحقیق سره دے لیونے دے وَمَا هُوَ اوحال دا دے چه نهٔ دے قرآن اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ (۵۲) مګر پند دے عالمو لره یعنی دهٔ ته دوئ لیونے په سبب د قرآن سره وائی اوحال دا دے چه نهٔ دے قرآن مګر پند پس څرنګه به لیونے وی هغه څوک چه پرے نازلیږی قرآن **روایت دے** له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه چه من قرء سورة القلم اعطاه الله ثواب الذین حسّن الله اخلاقهم ؏

سورة الحاقة مکیة ۶۹ ۵۲ رکوعها ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَآقَّةُ (۱) هغه حال چه حق او ثابت دے واقع کیدل ئے مَا الْحَآقَّةُ (۲) څهٔ حال دے **تنبیه** الحاقة مبتدا دهٔ اوما الحاقة ئے خبر دے وَمَآ اَدْرٰىكَ اوتهٔ خبر پوهٔ کړے تهٔ چه مَا الْحَآقَّةُ (۳) څهٔ څیز دے هغه حال **ف** حاقه هم یوه نامه ده دقیامت كَذَّبَتْ دروغ ویلی وو ثَمُوْدُ وَعَادٌ قبیله د ثمود اوعاد بِالْقَارِعَةِ (۴) په ورځ د قیامت پورے **ف** قارعه هم یوه نامه ده دقیامت ځکه چه دغه ورځ به ټکوی زړونه خلقو په ویرے سره فَاَمَّا ثَمُوْدُ پس هرچه ثمودیان وو نو فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ (۵) پس هلاك شول په اُواز تند سره. چه اُواز دجبریل ؑ وو اویا په سبب د سرکشئ سره یعنی هلاك والے ئے په سبب دکړو والی دنافے وو وَاَمَّا عَادٌ اوهرچه قبیله د عاد وه نو فَاُهْلِكُوْا پس هلاك شول بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ په باد سخت اُواز سره عَاتِيَةٍ (۶) هسے باد چه تند وو اوبه ضبط دخان نو کښې نه راتلو له جهته د قهر ؤ په دوئ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ مسلط کړے وو خدائے پرے دغه باد سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ لږ اوه شپے اواته ورځے ځکه چه په وخت د صباد چارشنبے شروع شوے وو تر شنبې پریوتو د بلے چهار شنبے حُسُوْمًا پله پسے یعنی لاندے باندے

عه هغه چا چه ولوست سورة قلم نو ورته کړی خدائ ده لره ثواب دهغه کسا نوچه نیک کړی دی خدائ تم خویونه دهغوئ ۱۲ منه رحمه ربه ؏ کتبه محمد صادق زهیر - چیرهارے ۱۲ کوال

شپے ورځے فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا پس تا به لیدلے وو قوم دعاد کهٔ چرے حاضروے په دغه وخت کښ صَرْعٰى ۙ په دغه حال کښ مړی په زمکه پراتهٔ كَاَنَّهُمْ گویا کهٔ دوئی له جهته دلویو جُسو. اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۝۷ یخونه د خرماؤ دی په زمکه پریوتی فَهَلْ تَرٰى لَهُمْ پس ایا ویښے ته دوئی لره مِنْۢ بَاقِيَةٍ ۝۸ څوك باقی پاتے شوی بلكه وبه نهٔ ریښے وَجَآءَ فِرْعَوْنُ او راغے فرعون وَمَنْ قَبْلَهٗ او هغه څوك چه وو پرو مخے له دغه څخه كافران وَالْمُؤْتَفِكٰتُ او اهل دكليو د لوط ؑ بِالْخَاطِئَةِ ۝۹ په گناه سره چه شرك وو نو فَعَصَوْا پس بے فرمان شهٔ هریوله دوئی رَسُوْلَ رَبِّهِمْ له استازی د خدائ خپله نو فَاَخَذَهُمْ پس ونیول خدائ دوئی اَخْذَةً رَّابِيَةً ۝۱۰ په ډیرو سختو سره اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ په تحقیق سره موږ زه هرکله چه پورته شوے اوبه په غږونو باندے حَمَلْنٰكُمْ پورته کړی وو موږ زه پلاران ستاسے فِي الْجَارِيَةِ ۝۱۱ په بیړی د نوح ؑ کښ لِنَجْعَلَهَا یو د پاره دے چه وگرځوو دغه بیړی لَكُمْ تاسے لره تَذْكِرَةً یو نصیحت په خلاصی د مؤمنانو او په غرقیدلو د کافرانو کښ وَّتَعِيَهَآ او بل د پاره دے چه یاد لری دے نصیحت لره اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ۝۱۲ غوږونه سانونکی یعنی چه نفع اخلی په هغه څیز چه اوری ئے فَاِذَا نُفِخَ پس په هغه وخت کښ چه پوکو هلے شی فِي الصُّوْرِ په شپیلئ کښ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ۝۱۳ پوکے یو چه پوکے اول دے وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ او پورته کړے شی زمکه وَالْجِبَالُ او غږونه له ځایونو خپلو فَدُكَّتَا پس مات کړے شی غږونه او زمکه دَكَّةً وَّاحِدَةً ۝۱۴ په ماتولو یو سره فَيَوْمَئِذٍ پس په دغه وړځ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۝۱۵ ودریږی وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ او څیرے به شی اسمان یعنی دروازے به د اسمان پرانستلے شی فَهِيَ پس اسمان به يَوْمَئِذٍ په دغه وړځ وَّاهِيَةٌ ۝۱۶ سست او ضعیف وی وَّالْمَلَكُ او ملائکے به عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا په کنارو د اسمان کښ وی حُكه چه هرکله خُائ د اوسیدلوئ څیرے شی نو کنارو ته به ځی وَيَحْمِلُ او بار به کړی عَرْشَ رَبِّكَ عرش د خدائ ستا فَوْقَهُمْ پاس د ملائکو چه په کنارو د اسمان وی يَوْمَئِذٍ په دغه وړځ ثَمٰنِيَةٌ ۝۱۷ اته ملائکے اونن وړځ پورته کوی د عرش

څلور ملائکې دی يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ په دغه ورځ به وړاندے کړے شی تاسے خدائ ته د
پاڑه د حساب لَا تَخْفٰى پټ به پاتے نۀ شی په خدائ مِنْكُمْ له عملونو ستاسے خَافِيَةٌ ﴿۱۸﴾
هيڅ خيز پټ له سرائرونه يعنی خدائ په سرائرو ستاسے خبر دے نو پس عرض او حساب د
پاڑه د خبردارئ د خدائ نۀ دے بلکه د پاڑه د عدل او د ظاهرولو د څخه الوتے دے په خلقو
باندے پس بيان کوی خدائ تعالیٰ د عرض فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ پس هر هغه څوک چه ورکړے
شۀ دۀ لره كِتٰبَهٗ کاغذ د عمل د دۀ بِيَمِيْنِهٖ په ښی لاس د هغه کښ نو فَيَقُوْلُ پس وبه وائی
دے له خوشحالیٔ نه هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿۱۹﴾ راشی ولولئ کاغذ د عمل خپل اِنِّيْ ظَنَنْتُ
په تحقیق سړے ما په دنیا کښ يقين کولو دے چه اَنِّيْ مُلٰقٍ زۀ لیدونکے يم حِسَابِيَهْ ﴿۲۰﴾
حساب خپل لره يعنی ما يقين کولو چه ما سړه به حساب کولے شی پس مشغول شوم په
طاعت باندے فَهُوَ پس دغه سړے به فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۲۱﴾ په ژوند عوره کښ وی
فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۲۲﴾ په جنت مرتفعه کښ قُطُوْفُهَا په دے کښ اشارت دے ده چه جنت
په آسمان کښ دے دَانِيَةٌ ﴿۲۳﴾ میوے به ئے نزدے وی چه لاس د ولاړ او د
نلست او د ملاست به ورته رسیږی او رضوان به وائی دوئ ته چه كُلُوْا خورئ له
میوۀ د جنت وَاشْرَبُوْا او څښئ له شراب د جنت هَنِيْٓـًٔا هسے خوراك او څښل چه
هضمیږی بے له بول او غائط کولو نه بِمَآ اَسْلَفْتُمْ په سبب د هغه عمل صالحه سره چه
کړے وو تاسے ته فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾ په ورځو شوو کښ يعنی په دنیا کښ رنځ او سختی
راځکلے وه تاسے نن ورځ جزا ئے واخلئ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ او هر څوك چه ورکړے شی دۀ
لره كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ کاغذ د عمل ئے په کینۍ لاس کښ نو فَيَقُوْلُ پس وبه وائی دے
له غمه يٰلَيْتَنِيْ اے کاشکے لَمْ اُوْتَ نۀ وے راکړے شوے مالره كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾ کاغذ د عمل
خُما وَلَمْ اَدْرِ او کاشکے نۀ وے پوهه زۀ نن ورځ چه مَا حِسَابِيَهْ ﴿۲۶﴾ څۀ دے حساب خُما
حُکمُ چه هیڅ نفع ئے مالره نشته بغیر له عذابه يٰلَيْتَهَا اے کاشکے هغه مرلۀ چه مر
وُم پرے په دُنیا کښ كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾ وے حکم کوونکے په فنا ابدی چه بیا ژوندے

شوے نہٗ وے او داعذاب م نہٗ وے لیدلے اگر کہٗ پہ قبر کښ عذاب و ولیکن داترے سخت دے
مَآ اَغۡنٰی عَنِّیۡ هیڅ نفع ونہٗ رسولہ ماتہ مَالِیَهۡ (۲۸) مال ځما هیڅ قدر ے هَلَكَ هلاکہ او
ورکہ شوہ عَنِّیۡ لہ ما تخہ سُلۡطٰنِیَهۡ (۲۹) بادشاهی ځما پس و بہ وائی خدائی خازنانو د
جهنم تہ چہ خُذُوۡهُ ونیسئ دہٗ لرہ فَغُلُّوۡهُ (۳۰) پس پہ زنځیر وترئ دہٗ لرہ ثُمَّ الۡجَحِیۡمَ
صَلُّوۡهُ (۳۱) پس پہ دوزخ کښ وغورځوئ دہٗ لرہ ثُمَّ فِیۡ سِلۡسِلَةٍ بیا پہ زنځیر ونوند اورکښ
ذَرۡعُهَا چہ وی بہ گز دهغہ زنځیر سَبۡعُوۡنَ ذِرَاعًا اویا گزہ پہ گز د ملك سره چہ هرگز
ئے اویا باعہ لہ کوفے دے ترمکے پورے فَاسۡلُكُوۡهُ (۳۲) پس داخل کړئ دہٗ لرہ پہ هغہ کښ
یعنی لہ دہٗ نہ ئے مضبوط او محکم تاؤ کړئ چہ حرکت ونہٗ کړی ځکہ چہ اِنَّهٗ پہ تحقیق سره دے
كَانَ لَا یُؤۡمِنُ ووچہ ایمان ئے نہ راوړو بِاللّٰهِ الۡعَظِیۡمِ (۳۳) پہ خدائی لوئی باندے
وَلَا یَحُضُّ او تیزوَل بہ نہ کا وُدہ عَلٰی طَعَامِ الۡمِسۡكِیۡنِ (۳۴) پہ طعام ورکولو سره فقیرانو
لرہ فَلَیۡسَ لَهُ الۡیَوۡمَ پس نشته دہٗ لرہ نن ورځ چہ ورځ دقیامت دہ هٰهُنَا حَمِیۡمٌ (۳۵) پہ دے
ځائ کښ دوست چہ پورته کړی ترے عذاب وَّلَا طَعَامٌ اونشته دہ لرہ هیڅ طعام چہ
وے خوری اِلَّا مِنۡ غِسۡلِیۡنٍ (۳۶) مگر لہ زوگ د دوزخیانو نخہ لَّا یَاۡكُلُهٗۤ وبہ نہٗ خوری
دغہ غسلین اِلَّا الۡخَاطِـُٔوۡنَ (۳۷) مگر کافران فَلَاۤ پس نہ دہ دا رنگے لکہ چہ وائی
کافران چہ قرآن جور کړے د محمد ﷺ دے اُقۡسِمُ سوگند خورم زہٗ بِمَا تُبۡصِرُوۡنَ (۳۸) پہ
هغہ څیز باندے چہ وینئ تاسے لہ مخلوقاتو وَمَا لَا تُبۡصِرُوۡنَ (۳۹) اوپہ هغہ څیز چہ
نہٗ وینئ تاسے لہ پیدا وخت یعنی سوگند خورم پہ ټولو څیزونو د اسے چہ اِنَّهٗ پہ تحقیق
سره قرآن چہ دے لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ خامخا ویل د رسول دی کَرِیۡمٍ (۴۰) هسے رسول چہ رسول
لوئے دے خدائ هغہ چہ محمد ﷺ اویا جبریل ؑ دے وَمَا هُوَ اونہٗ دے قرآن بِقَوۡلِ شَاعِرٍ
ویل د شاعر لکہ دا رنگے وائی ابوجهل قَلِیۡلًا مَّا تُؤۡمِنُوۡنَ (۴۱) لږ تصدیق کوئ تاسے پہ
قرآن باندے یعنی تصدیق نہٗ کوئ وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٍ اونہٗ دے قرآن گفتار د کاهن
لکہ چہ عقبہ کمان کوی قَلِیۡلًا مَّا تَذَكَّرُوۡنَ (۴۲) لږ دی تاسے څخہ چہ پند اخلی پہ دہٗ سره

یعنی نهٔ اخلی تَنْزِيلٌ قران نازل شوے دے مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۴۳) له خدائ دعالمیانو څخه وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا او که چرے دروغ جوړ ولے محمدؐ په موږ باندے لکه چه گمان ستاسے دے بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ (۴۴) بعض خبرے چه م دهٔ ته نهٔ وی ویلے لَاَخَذْنَا مِنْهُ خامخا نیولے به م وو دے مِنْهُ الْوَتِيْنَ (۴۵) په قوت سره چه دے مالره ثُمَّ لَقَطَعْنَا پس پرے کړے به م وو مِنْهُ الْوَتِيْنَ (۴۶) له دهٔ څخه رالهٔ دزړهٔ ئے. یعنی مرکړے به م وو فَمَا مِنْكُمْ پس نشته له تاسے مِّنْ اَحَدٍ هیڅوك یعنی نهٔ یئ تاسے عَنْهُ حٰجِزِيْنَ (۴۷) له محمدؐ دفع کونکی هلاکت لره وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره قران لَتَذْكِرَةٌ خامخا نصیحت دے لِّلْمُتَّقِيْنَ (۴۸) پرهیزګارانو ځکه چه خاص دوئ پرے نفع اخلی وَاِنَّا لَنَعْلَمُ او په تحقیق سره پوهیږو مونږ چه اَنَّ مِنْكُمْ بعضے له تاسے لَمُكَذِّبِيْنَ (۴۹) دروغ ویونکی دی قران لره وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره انکار له قران لَحَسْرَةٌ خامخا سبب د حسرت دے عَلَى الْكٰفِرِيْنَ (۵۰) په کافرانو باندے په وخ د قیامت هر کله چه وویني ثواب د مصدقینو د قران وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره چه دے لَحَقُّ الْيَقِيْنِ (۵۱) عین یقین او محض یقین دے له خدائ فَسَبِّحْ پس تسبیح وایه بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ (۵۲) په نوم د رب خپل سره چه لوئے دے؛

سُوْرَةُ المَعَارِج مَكِّيَّة ۷۹ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۴۴ رُكُوْعُهَا ۲

روایت دے چه نضر بن حارث په دروازه د مسجد حرام کښی ودریدهٔ او وے ویل اے خدایه که ځپرے محمدؐ په حق باندے وی او هغه چه وائی له عذاب له تا وائی پس باران دکانړو وُرِّدوه په سر رُحُماله اسمان نوداً ایت راغے سَاَلَ سَآئِلٌ سوال وکړو یو سوال کونکی بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ (۱) په هغه عذاب سره چه واقع کیدونکے دے لِّلْكٰفِرِيْنَ کافرانو لره لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ (۲) نشته دغه عذاب لره دفع کونکے مِّنَ اللّٰهِ له طرفه د خدائ لوئے. ذِي الْمَعَارِجِ (۳) هسے خدائ چه خاوند د مرتبو لوړو دے د وستا نو لره په جنت کښی

تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ پورته خیژی ملائکے وَالرُّوْحُ اوجبریل ؑ اِلَيْهِ طرف دامرد خدائی ته یعنی خیژی هغه ځائی ته چه ورته وفرمائی فِيْ يَوْمٍ دغه عذاب به واقع شی په کافرانو باندے په هغه ورځ چه كَانَ مِقْدَارُهٗ اندازه دهغه ورځ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۝۴ پنځوس زره کاله له کلونو دد نیا نه فَاصْبِرْ پس صبر کوه ته ؑ په دروغود منکرانو صَبْرًا جَمِيْلًا ۝۵ په صبر نیک سره یعنی بے شکایت اوبے جزع اِنَّهُمْ په تحقیق سره کافران يَرَوْنَهٗ وینی عذاب لره اویا قیامت لره بَعِيْدًا ۝۶ لرے یعنی دوئ وائی نشته قیامت وَّنَرٰىهُ او وینو مونږه قیامت لره قَرِيْبًا ۝۷ نزدے يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ یعنی واقع به شی هغه ورځ چه وګرځی اسمان كَالْمُهْلِ ۝۸ پشان دقلعی وِتَكُوْنُ الْجِبَالُ او وګرځی غرونه كَالْعِهْنِ ۝۹ په شان د پشم په سپکوالی کښ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا ۝۱۰ اوپوښتنه به نه کوی یو دوست له دوسته څخه ځکه چه هریو به مشغول وی په نفس خپل يُّبَصَّرُوْنَهُمْ هغے حمیم چه وبه بنودلے شی دوئ هغوئ لره یعنی هر څوک بخپل وپژنی اوپوښتنه به ترے نه کوی يَوَدُّ الْمُجْرِمُ دوست به لری کافر دوئ لره لَوْ يَفْتَدِيْ چه عوض اوبدل ورکړی مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۭ له عذابه دهغے ورځے نه بِبَنِيْهِ ۝۱۱ ځامنو خپلو لره وَصَاحِبَتِهٖ اوبدل ورکړی ښځے خپلے لره وَاَخِيْهِ ۝۱۲ او ورور خپل لره وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِيْ تُـْٔوِيْهِ ۝۱۳ اوخپلوانو خپلو لره هغه خپلوان چه ځائی ورته ورکوی په دنیا کښ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اودوست به لری چه فدیه ورکړی هغه څوک چه په زمکه کښ دی جَمِيْعًا تول ځیزونه فدیه کا له ځانه خپله ثُمَّ يُنْجِيْهِ ۝۱۴ پس خلاص کړی دغه لره دغه عوض ورکول كَلَّا نه دغه لکه چه کافر ځائ ارزوکوی ځکه چه اِنَّهَا په تحقیق سره اوردوزخ چه کافران ترے فدیه ورکوی لَظٰى ۝۱۵ شعله وهونکے دے نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ۝۱۶ ویستونکے دے لاسونواو خپود مشرکانو لره تَدْعُوْا بلی به ملائکه زبانیه اویا راکاږی به اوردوزخ مَنْ اَدْبَرَ هغه چالره چه شا کړے وه حق نه وَتَوَلّٰى ۝۱۷ اوهغه چالره چه مخ ئے ګرځولے دے له ایمانه وَجَمَعَ اوهغه چالره چه جمع کړے وی مال دد نیا فَاَوْعٰى ۝۱۸ پس په لوښی کښی

ساتلے وی اوحق دخدائ ترے نۀ ورکوی اِنَّ الْاِنْسَانَ په تحقیق سړه چه بنی ادم خُلِقَ پیدا شوے دے هَلُوْعًا (۱۹) ډیر حرصناك اوبیان ئے دادے چه اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ په هغه وخت کښ چه ورسیږی دۀ ته ضرر لکه فقر او مرض جَزُوْعًا (۲۰) ډیر فریاد کوی وَاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ او په هغه وخت کښ چه ورسیږی دۀ ته نیکی لکه دولتمندی اوجوړوالے شۀ نو مَنُوْعًا (۲۱) منع کونکے وی نفس خپل لره له طاعته او مال لره له نفقے نه اوچا ویلی دی هلوع بے صبره ته وائی اوچا ویلی دی هلوع ډیر حرصناك اولږ صبرناك ته وائی اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ (۲۲) مګر خو هلوع نه دے پیدا کړے شوے نوموئ کونکی الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ (۲۳) هغه کسان چه دوئ په مونځونو خپلو باندے همیشه ګیږی کونکی وی یعنی چه په هیڅ شغل سړه ترے نۀ فوت کیږی وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ اونۀ دی هلوع (هغه) کسان چه په مالونو ددوئ کښ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ (۲۴) حصه مقرره ده چه زکوٰة او صدقے دی لِّلسَّآئِلِ دپاره دهغه فقیر چه سوال کوی وَالْمَحْرُوْمِ (۲۵) اودپاره دهغه محتاجه چه سوال نۀ کوی وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ اونۀ دی هلوع هغه کسان چه یقین کونکی دی بِيَوْمِ الدِّيْنِ (۲۶) په واقع کیدلو د قیامت باندے وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ اونۀ دی هلوع هغه کسان چه دوی له عذاب دخدائ خپل مُّشْفِقُوْنَ (۲۷) ویریږی ځکه چه اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ په تحقیق سړه عذاب دخدائ ددوئ چه دے غَيْرُ مَاْمُوْنٍ (۲۸) نۀ دے مامون یعنی ګنهګاران ترے په امان نۀ دی وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ اونۀ دی هلوع هغه کسان چه فرجونو خپلو لره حٰفِظُوْنَ (۲۹) ساتونکی دی اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ مګر خو ساتونکی نۀ دی په بنځو خپلو باندے اومَا مَلَكَتْ يَمِيْنُهُمْ یا په هغو وینځو چه مالك شوی وی اَيْمَانُهُمْ بنی لاسونو ددوئ نو فَاِنَّهُمْ پس خامخا ددوئ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ (۳۰) نۀ دی ملامت کړے شوی ځکه چه بنځے او وینځے خپلے پرے حلالے دی فَمَنِ ابْتَغٰى پس هر څوك چه طلب کړی ځائ د وطی وَرَآءَ ذٰلِكَ بغیر له بنځے او وینځے خپلے نه فَاُولٰٓئِكَ پس دغه ټولے چه دے هُمُ الْعٰدُوْنَ (۳۱)

عہ یعنی ډیر حرص کونکی لږ صبر کونکی ۱۲

هم دوئ تجاوز کونکی دی له حلالونه حرامونه ف په دے اشارت دے حرمة دمتعه او وطی دچا رپایانو او دسړو او طلب دمنځ ته په لاس سره وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ اونهٔ دی هلوع هغه کسان چه دوئ امانتونو خپلولره وَعَهْدِهِمْ اووعدو خپلولره رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾ ساتونکی وی چه خیانت پکښ نهٔ کړی وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ اونهٔ دی هلوع هغه کسان چه دوئ په شاهدئ خپلے باندے قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ ولاړ او ثابت وی او میلان نهٔ کوی دولتمند اوخپل ته وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ اونهٔ دی هلوع هغه کسان چه دوئ په مانځه خپل باندے يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾ ساتنه کوی ف مکرر ئے کړو صلوٰة ځکه چه بهترڅ له نورو عباداتو تخه اُولٰٓئِكَ دغه ډولے چه ذکر شول. وی به فِيْ جَنّٰتٍ په باغونو کښ په ورځ د قیامت مُّكْرَمُوْنَ ﴿۳۵﴾ لوی شوی عزت ورکړے شوی په ثواب سره۔

روایت دے چه پس له نازلیدو دے دا ایت مشرکانو چاپیره د پیغمبر صلعم حلقه وکړه او په خندا سره ئے وویل کهٔ یاران د محمد صلے الله علیه وسلم طمع لری باغونو داخرت لره نو موږ نره هم طمع لروچه په روهبے له دوئ به ئے بیا مومو پس دا ایت نازل شهٔ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس څهٔ شوی دی کافرانولره چه قِبَلَكَ تاوته مُهْطِعِيْنَ ﴿۳۶﴾ په دے حال کښ چه جلت راتلونکی دی عَنِ الْيَمِيْنِ له نبی طرفه وَعَنِ الشِّمَالِ اوله کینړه طرفه عِزِيْنَ ﴿۳۷﴾ ټولی ټولی حلقه کونکی اَيَطْمَعُ ایا طمع کوی كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ هر سړے له دے کافرانو څخه دا سے چه اَنْ يُّدْخَلَ داخل به کړے شی سره د مؤمنانو جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿۳۸﴾ باغونو د نعمتونو ته كَلَّا نهٔ دا سے چه دوئ ئے طمع کوی ځکه چه اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ په تحقیق سره پیدا کړی یم دی دوئ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ له هغه څیزه چه دوئ پرے پوهیږی یعنی له نطفے ناپاکے څخه نو طمع د جنت نشی کولے مګر په تقوی او ایمان سره فَلَآ پس دا سے نهٔ ده لکه چه کافران ئے وائی اوچاویلی دی چه لا زیات دے نو معنیٰ ئے دا سے شوه چه پس اُقْسِمُ سوګند خورم بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ په خدائ د مشرقونو د افتاب باندے چه په کال کښ له بیله بیله ځایه خیژی وَالْمَغٰرِبِ او سوګند خورم په خدائ د مغربونو د افتاب

باندے چه په کال کښ بیل بیل ځائ کښ پریږدئ اِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ﴿۴﴾ په تحقیق سره مونږه توانایو عَلٰٓی اَنْ نُّبَدِّلَ په دے باندے چه بدل کړو یعنی چه مشرکان هلاک کړو اوبدل ترے پیدا کړو نور خلق خَیْرًا مِّنْهُمْ په ږیره ورته له دوئ نه اوحکم ورونکی وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِیْنَ ﴿۴۱﴾ اونهٔ یو مونږه عاجزه له هلاکته د دوئ فَذَرْهُمْ نو پس پریږده اے محمد اصلے الله علیه وسلم دوئ لره یَخُوْضُوْا چه شروع کوی په خیږونو باطلو کښ وَ یَلْعَبُوْا اوبازی اولوبے کوی دوئ په دنیا کښ حَتّٰی یُلٰقُوْا ترهغه پورے چه پیوسته شی دوئ یَوْمَهُمُ ورځ خپله ته الَّذِیْ یُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾ هغه ورځ چه وعده کړے شوے ده پکښ دوئ لره دعذاب چه جنګ دبدر دے اویاقیامت ف په ایت دسیف سره دا ایت منسوخ شوے دے یَوْمَ یَخْرُجُوْنَ په هغه ورځ چه بهر شی دوئ مِنَ الْاَجْدَاثِ له قبرونونه سِرَاعًا په دغه حال کښ جلت اوزغلید ونکی کَاَنَّهُمْ گویا که دوئ اِلٰی نُصُبٍ ښتے وته یُوْفِضُوْنَ ﴿۴۳﴾ زغلی به لکه لښکر چه مات اوپراګنده شی هر ځائ چه ښه وبینی ورزغلی خَاشِعَةً په دغه حال کښ چه خوار اوذلیل به وی اَبْصَارُهُمْ سترګے دوئ یعنی له حیرته دخوارئ به سترګے پورته کولے نهٔ شی تَرْهَقُهُمْ وبه رسی دوئ ته ذِلَّةٌ ط خواری ذٰلِكَ الْیَوْمُ الَّذِیْ دا ده هغه ورځ چه کَانُوْا یُوْعَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ ع وو دوئ په دنیا کښ وعده کړے شوې وئ ۔ په دے سره ۔

سُوْرَةُ نُوْحٍ مَّكِّيَّةٌ ۷۱ — سورة نوح مکية ۷۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّآ اَرْسَلْنَا نُوْحًا په تحقیق سره چه مونږ لیږلے وو نوح علیه السلام اِلٰی قَوْمِهٖٓ قوم خپل ته دا سے چه اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ ویروه قوم خپل لره مِنْ قَبْلِ اَنْ یَّاْتِیَهُمْ روسے له دکخه چه راشی دوئ ته کهٔ چرے ایمان رانهٔ وړی عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱﴾ عذاب دردناک چه طوفان یا عذاب دآخرت دے قَالَ وویل نوح علیه السلام یٰقَوْمِ اے قومه خُما ۔ ف اضافت دقوم ئے خپل خُمان ته وکهٔ دپاره دشفقت په دوئ باندے اِنِّیْ لَكُمْ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲﴾

په تحقیق زهٔ تاسے لږه ویرونکے یم ښکاره دا سے چه اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ عبادت کوئ خدائ لږه په وحدانیت سره وَاتَّقُوْهُ او ویریږئ له عقوبته دهغه څخه وَاَطِيْعُوْنِ ۳ او زما ومرئ مالږه په امر او نهی کښ يَغْفِرْ لَكُمْ د پاره دے چه وبخښی تاسے ته خدائ مِنْ ذُنُوْبِكُمْ بعضے له ګناهونو ستاسے څخه حُکه چه حقوق د عباد ونشی بخښلے او چا ویلی دی مِنْ زائده دے حُکه چه په اسلام سره ړومبنی ګناهونه بخښلے شی نومعنے ئے داسے شوه چه وبخښی خدائ تاسے ته ګناهونه ستاسے او بل د پاره دے چه وَيُؤَخِّرْكُمْ اخر کړی تاسے لږه بے حده یعنی چه ژوندی لری تاسے لږه اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ط تر وخت مقرره پورے حُکه چه اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ په تحقیق سره وخت مقرر کړے د خدائ اِذَا جَآءَ ۔ په هغه وخت کښ چه راشی لَا يُؤَخَّرُ نه ځنډ شی د روستو کولے لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۴ کاشکے چه پوهیږئ

روایت دے چه نوح ۴ نه نیم سوه کاله دوئ ته وعظ او نصیحت وکړو او دوئ به ترے سرکشی کوله نو قَالَ وویل نوح علیه السلام رَبِّ اے ربه حُمَا اِنِّيْ دَعَوْتُ قَوْمِيْ په تحقیق سره ما وبالهٔ قوم خپل توحید او عبادت ته لَيْلًا وَّنَهَارًا ۵ په شپه او ورځ کښ یعنی هیشه نو فَلَمْ يَزِدْهُمْ پس زیات نهٔ کړه دوئ ته دُعَآءِيْٓ بلنے حُما اِلَّا فِرَارًا ۶ مګر تختیدل له ایمان او له طاعته وَاِنِّيْ او په تحقیق سره زهٔ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ هرکله چه وبلم زهٔ دوئ لږه توحید او عبادت ته لِتَغْفِرَ لَهُمْ د پاره دے چه و بخښے تهٔ دوئ لږه جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ داخلوی دوئ ګوتے خپلے فِيْٓ اٰذَانِهِمْ په غوږونو خپلو کښ د پاره دے چه وا نهٔ وری خبرے حُما وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ اوړا کاږی په سر باندے جامے خپلے چه ما ونه وینی وَاَصَرُّوْا او ودریدل په کفر خپل وَاسْتَكْبَرُوا اوکبرئ وکړهٔ له ایمان اسْتِكْبَارًا ۷ په کبر لوی ف ذکرئ کړهٔ مصدر له جهته د پیروالی دکبر دوئ نه ثُمَّ پس له اصرار او استکبار دوئ نه اِنِّيْ په تحقیق سره ما دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۸ وے بلل دوئ په جهر سره ثُمَّ اِنِّيْٓ پس په تحقیق سره ما اَعْلَنْتُ لَهُمْ ښکاره وویل دوئ ته وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ او پټ م ووئل دوئ ته اِسْرَارًا ۹ په پټ ویلو سره حاصل دا دے

چه نوح علیه السلام وبلل دوئ په شپه او ورځ کښ په پته سره او بیائے وبلل په ښکاره
سره او بیائے په پته او په ښکاره دواړو سره **روایت دے** چه هرکله خدائ پرے باران
بند کړ ۱۰ نیځ دوئ ے شندے کړے نو دوئ نوح ؑ ته رجوع وکړه نو نوح ؑ وائ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا
رَبَّكُمْ ط نو ویل ما طلب د بخښنے وکړئ له خدائ خپله یعنی تو به له شرکه وباسئ ځکه چه اِنَّهٗ
كَانَ غَفَّارًا ۝۱۰ په تحقیق سره دے خدائ بخښونکے تو به ویستونکیو لره او هرکله چه
تاسے توبه وباسئ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ وبه لږی وریځ عَلَيْكُمْ په تاسے باندے مِّدْرَارًا ۝۱۱
پرورونکے دباران وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ او نصرت به وکا تاسے سره په مالونو
اوځامنو سره یعنی پرے به کړ اموال او اولاد ستاسے وَيَجْعَلْ لَّكُمْ او درے به کړی تاسے
لره جَنّٰتٍ باغونه وَيَجْعَلْ لَّكُمْ او درے به کړی تاسے لره اَنْهٰرًا ۝۱۲ ولے داو بوجا ریو
چه کښتونه او باغونه پرے او بهٔ کوی مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ څهٔ دی تاسے لره چه امید نهٔ
لرئ لِلّٰهِ وَقَارًا ۝۱۳ خدائ لره دلویئ یعنی چه اعتقاد نهٔ کوئ په هغه باندے په زړۍ چه
ایمان پرے راوړئ وَقَدْ خَلَقَكُمْ اوحال دادے چه پیدا کړی ئے یئ تاسے اَطْوَارًا ۝۱۴
رنګ په رنګ سره بعضے سپین او بعضے تور بعضے بینا او بعضے نابینا بعضے جوړ او بعضے
ناجوړ **روایت دے** چه خبر کړل خدائ دوئ اول په کتلو سره نفسو خپلو ته ځکه
چه نفسونه نزدے دی دوئ ته او بیائے په نظر کولو سره عالم ته چه دلالت کوی په
صانع باندے نو وائ اَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ ایا نهٔ وینی تاسے چه څرنګه خَلَقَ اللّٰهُ پیدا
کړیدی خدائ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ۝۱۵ او اسمانونه لاندے باندے وَّجَعَلَ الْقَمَرَ او
کړلول ئے دہ سپوږمئ فِيْهِنَّ نُوْرًا په یو اسمانونو کښ روښانه وَّجَعَلَ الشَّمْسَ
اوکړلول ئے دے نمر سِرَاجًا ۝۱۶ د یوه روښانه اهل دزمکے سره یعنی لکه چراغ چه
لرے کوئ کے دتیرے دے له مجلس دد وئ نه. دارنګے نمر محوه کونکے د ظلمت د شپے دے له
اطراف د زمکے څخه وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ اوخدائ زمونږ کړئ تاسے یعنی پیدا ئے کړئ
مِّنَ الْاَرْضِ له زمکے نه یعنی پیدا ئے کړهٔ پلار ستاسے اٰدم ؑ له خاورو څخه نوتاسے هم له خاورو

پیدایئ نَبَاتًا ﴿۱۷﴾ پہ زمکہ غوښلو وسرہ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا پس بیا بہ یوځی تاسے پہ زمکہ کښ یعنے پہ قبرونو کښ پس لہ مرګہ وَيُخْرِجُكُمْ او وبہ باسی تاسے لرہ پہ ورځ د قیامت لہ قبرونو نہ اِخْرَاجًا ﴿۱۸﴾ پہ ویستلو سرہ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ اوخدائ ګرځولے دہ تاسے لرہ زمکہ بِسَاطًا ﴿۱۹﴾ بچاونړہ لِتَسْلُكُوْا دپارہ ددے چہ ځئ تاسے مِنْهَا لہ زمکے ځنے سُبُلًا فِجَاجًا ﴿۲۰﴾ پہ لاړو لویو باندے روایت دے چہ پس لہ وعظونو اولہ نصیحتونو ځنے عام قوم د نوح علیہ السلام ذکر کونکی شول نوخواصو اوسردارانو دوئ لرہ ګمراہ کړل نو پس قَالَ نُوْحٌ وویل نوح علیہ السلام رَّبِّ اِنَّهُمْ اے ربہ ځما پہ تحقیق سرہ عام قوم ځما عَصَوْنِيْ نافرمانی کوی لہ مانہ وَاتَّبَعُوْا او پیروی کوی مَنْ لَّمْ يَزِدْهُ دھغہ چا چہ نہ زیاتوی ھغہ لرہ مَالُهٗ وَوَلَدُهٗٓ مال دھغہ اوفرزندان دھغہ اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ مګر زیانکاری او ګمراھی وَمَكَرُوْا او مکرئ وکړو یعنی مشرانو ئے مَكْرًا كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ پہ مکر لوئ لرہ دا سے چہ کشران ئے ټول خپل کړل او پہ ضرر ځمابا ندے ورتہ امر کوی وَقَالُوْا اووائ مشران ئے کشرانو تہ چہ لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ مہ پریږدئ عبادت د خدایانو خپلو وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا اومہ پریږدئ ھغہ بُت چہ نوم ئے «ود» دے او پہ صورت د سړی دے وَّلَا سُوَاعًا ۙ اومہ پریږدئ سواع لرہ چہ پہ صورت د ښځے دے وَّلَا يَغُوْثَ اومہ پریږدئ یغوث لرہ چہ پہ صورت د مزرئ دے وَيَعُوْقَ اومہ پریږدئ یعوق لرہ چہ پہ صورت د اس دے وَنَسْرًا ﴿۲۳﴾ اومہ پریږدئ نسر لرہ چہ پہ صورت د تہوس دے وَقَدْ اَضَلُّوْا اوحال دادے چہ پہ تحقیق سرہ ګمراہ کړل مشرانو اوچا ویلی دی چہ بتانو کَثِيْرًا ۚ ډیر خواړانو لرہ اویا ډیر وخلقو لرہ روایت دے چہ ھرکلہ خدائ وکړہ نوح علیہ السلام تہ چہ ایمان بہ رانہ وړی لہ قومہ ستا نہ ھیڅوک نوډعا پہ حق ددوئ کښ لکہ چہ وائی وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اومہ زیاتوہ اے خدایہ ظالمانو لرہ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾ مګر ھلاکت اوعذاب مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ پہ سبب د ګناھونو خپلو سرہ اُغْرِقُوْا غرق کړے شو پہ طوفان کښ فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ

پس داخل کړے شو په اورکښ یعنی په قبر ونوکښ اوچا ویلی دی په آخرت کښ فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ بیا نهٔ مونده وئ دوئ د پاره دځان خپل مِنْ دُونِ اللّٰهِ بغیر له خدائ اَنْصَارًا (۲۵) مدد کاران چه له طوفان ئے خلاص کړے وے روایت دے چه هر کله خدائ نوح ؑ ته خبر وکړو چه هیڅوك به له قومه ستا نه ایمان رانهٔ وړی اوله دوئ نه کهٔ څوك پیدا شی هم به ایمان رانهٔ وړی پس نوح ؑ مناجات وکړو وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ اوو ویل نوح ؑ اے ربه ځما لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ مهٔ پریږده په مخ د زمکے باندے مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا (۲۶) له کافرانو څخه اوسیدونکی لږه یعنی هیڅ کافر ژوندے مه پریږده ځکه چه اِنَّكَ په تحقیق سره تهٔ اِنْ تَذَرْهُمْ کهٔ چرے پریږدے دوئ لږه يُضِلُّوْا عِبَادَكَ گمراهان به کړی دوئ بندگان ستا چه مؤمنان دی وَلَا يَلِدُوْٓا اونهٔ پیدا کیږی له دوئ نه فرزند اِلَّا فَاجِرًا کفّارًا (۲۷) مگر بدکردار ه ناشکره رَبِّ اغْفِرْ لِيْ اے ربه ځما وبخښه ما لږه وَلِوَالِدَيَّ او وبخښی مور او پلار ځما تنبیه نامه د پلار د نوح ؑ ملک وه او د مورئ شمخاوه وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ او وبخښے هغه چا لږه چه داخل شی کور او یا کشتئ اویا مسجد ځما کښ مُؤْمِنًا په هغه حال کښ چه مؤمن وی وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ او وبخښے ټولو مؤمنانو سړو او مومنانوښځو لږه تر قیامته پورے او بیا دُعا وکړه نوح ؑ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اومه زیاتوه د پاره د ظالمانو یعنی کافرانو اِلَّا تَبَارًا (۲۸) مگر هلاکت پس هلاك ئے کړه او په حدیث کښے دی چه مَنْ وَ . سورة نوح کان من المؤمنین الذین تدرکهم دعوة نوح علیه السلام



روایت دے چه یو ټولے له پیریانو څخه په بطن نخل کښ رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته ورسیدهٔ او قران ئے واوریدهٔ نو ایمان ئے راوړهٔ پس هر کله چه دوئ قوم خپل ته ورسیدل نو رنګارنګ خبرے ئے دوئ ته ویلے پس خدائ ترے پیغمبر صلعم خبر کړو

ع یعنی هر چا چه ولوست سورة نوح وی به له هغه مؤ منانو څخه چه موند لے وی هغوئ دُعا او بلنه د نوح علیه السلام ۱۲

چه قُلْ وویایه ته اے محمد صلی اللہ علیه وسلم اُوْحِیَ اِلَیَّ وحی کړے شویده ماته دا سے چه اَنَّهُ اسْتَمَعَ آوریدلے دے دا قرآن په بطن نخله کښ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ یو ټولے له پیریانو څخه ف نفی هغه ټولی ته وائی چه له لسونه کم وی اوله دریونه زیات وی فَقَالُوْٓا پس وویلے دوئی قوم خپل ته هر کله چه پیرته ورغلی دا سے چه اِنَّا سَمِعْنَا په تحقیق سره واوریدل مونږه قُرْاٰنًا عَجَبًا ① قرآن لره عجیبه چه له کلام د بشر سره مناسبت لری یَّهْدِیْٓ لاره بښی دغه قرآن اِلَی الرُّشْدِ ایمان اونیکوته فَاٰمَنَّا نو پس ایمان راوړو مونږه پرے په قرآن باندے وَلَنْ نُّشْرِكَ اوهیڅکله شریک نه نیسو بِرَبِّنَآ له ربه خپل سره اَحَدًا ② هیڅ یو له بتانو اوله نورو څخه وَاَنَّهٗ تَعٰلٰی اوویے ویل دا سے چه په تحقیق سره لویه ده جَدُّ رَبِّنَا لوئی درب حُمونږه مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً نه ئے دے ښځه وَّلَا وَلَدًا ③ اونه فرزند لکه چه وائی کافران دپیریانو اودبنی اٰدمو وَاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ اوویل دوئی قوم خپل ته دا سے چه په تحقیق سره وائی سَفِيْهُنَا جاهل اوناپوهه حُمونږه چه ابلیس دے عَلَی اللّٰهِ په خدائ باندے شَطَطًا ④ دروغ لره چه نسبت دښځے اودفرزند خدائ ته کوی وَاَنَّا ظَنَنَّآ اومونږه یقین کولو دا سے چه اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ وبه نه وائی سړی اوپیریان عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا ⑤ په خدائ باندے دروغ نو خامخا هر څه چه سفها وُحُمونږه وبه ویل مونږه به پرے یقین کولو پس هر کله چه واوریدهٔ مونږه قرآن وپوهیدو چه هغوئ دروغ ویل په خدائ باندے نو ایمان موپرے راوړهٔ **روایت دے** چه هر کله به څوک له عربو څخه ځائ ویړه ناک ته ورسیدهٔ نو ویل به ئے پناه او امان غواړم په سردار دے ځائ سره له شره د سفها وُ دے قوم نو خدائ وائی وَاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ اوپه تحقیق سره ووسړی له بنی اٰدمو نه چه يَعُوْذُوْنَ پناه به ئے غوښتله بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ په سړو سره له پیریانو نه فَزَادُوْهُمْ پس زیات کړه بنی اٰدمو پیریانو لره په سبب دے استعاذے سره رَهَقًا ⑥ سرکشی اوکبر چه ویل به ئے مونږه سرداران دپیریانو

عیني په سبب د دے وینا او فریاد غو ښتلو سره ۱۲

او دبنی اد مویو وَاَنَّهُمْ ظَنُّوْا او په تحقیق سره کافرانو بنی اد مو او چا ویلی دی پیریان گمان کولو کَمَا ظَنَنْتُمْ لکه چه تاسے گمان کوئ اے پیریانو او اے اهل مکو داسے چه اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ هرگز پورته به نه کړی خدائ اَحَدًا ⑦ هیڅوك له مړیونه د پارهٔ وحساب نو هرکله چه قرآن ئے واوریده اقرارئے په بعث باندے وکړو نو تاسے هم اقرار پرے باندے وکړئ وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ او په تحقیق سره چه ورسیدو مونږه اسمان ته د پارهٔ داوریدو دخبرو د ملائکو فَوَجَدْنٰهَا پس بیامونده مونږه اسمان مُلِئَتْ ډك کړے شوے حَرَسًا شَدِيْدًا له څوکیدارانو محکمونه چه ملائك دی وَّشُهُبًا ⑧ اوله ستورو ویشتو نکیو پیریانو لره وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ او په تحقیق سره وو مونږه چه کینا ستو به ږوهے له پیغمبره مِنْهَا له اسمان مَقَاعِدَ په ځایونو د ناسته کښ لِلسَّمْعِ ط د پارهٔ داوریدلو د اخبارو د اسمان یعنی وږوهے له پیغمبره به مونږه موندل بعضے ځایونه خالی له څوکیدارانو او ستورو نه فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ پس هغه څوك له پیریانو چه طلب اوقصد داوري د وکړی اوس يَجِدْ لَهٗ مومی د پارهٔ دڅان خپل شِهَابًا ستوری روښانه اوغورځونکی رَّصَدًا ⑨ ولاړ د پارهٔ دسیزلوئ وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ او په تحقیق سره مونږه نه پوهیږو وچه اَشَرٌّ اُرِيْدَ ایا بدی ارادهٔ کړے شوے ده په منع ځمونږه کښ له اسمان بِمَنْ فِي الْاَرْضِ په هغه چا باندے چه په زمکه کښ دی له بنی اد مو اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ او یا ارادهٔ کړے ده په حق د دوئ کښ خدائ د دوئ رَشَدًا ⑩ خیر او صلاحیت وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ او په تحقیق سره چه بعضے ځمونږه نیکوکاران دی پس له آوریدو د قرآن وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ط او بعضے له مونږه میانه رودی كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ⑪ یو مونږه خاوندان دلارو مختلفو وَّاَنَّا ظَنَنَّآ او په تحقیق سره مونږه یقین کوو داسے اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ هیڅ کله به عاجز نه کړو خدائ لره فِي الْاَرْضِ په زمکه کښ کهٔ په یوځائ مقام ونیسو وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ⑫ اوعاجز به نهٔ کړو د هٔ لره کهٔ وتختو کهٔ قاف ته وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى او په تحقیق سره مونږه هرکله چه واوریدهٔ قرآن لره اٰمَنَّا بِهٖ ط ایمان راوړو مونږه په هغه باندے فَمَنْ يُّؤْمِنْ

باندے فَلَا يُظْهِرُ پس نهٔ خبروی عَلٰى غَيْبِهٖٓ په علم غیب خپل باندے اَحَدًا ﴿۲۶﴾ هیڅوا
لره اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مګر هغه چا ته چه راضی وی ترے دے مِنْ رَّسُوْلٍ له رسوله خپله فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ
پس په تحقیق سره خدائ روانوی مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وراندے له هغه پیغمبره وَمِنْ خَلْفِهٖ او
روستو دهغه نه رَصَدًا ﴿۲۷﴾ څوکیداران له ملائکو څخه لِّيَعْلَمَ دپاره دے چه پوهه شی
رسول وحی کړے شوے دا سے چه اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا په تحقیق سره ورسول جبریل ۴ او هغه
ملائکے چه په وخت د نزول د وحی کښی همراه ددهٔ وی رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ پیغامونه د رب خپل
بے نقصانه اوچاویلی دی لیعلم دپاره دے چه پوهه شی خدائ داسے چه ان قد ابلغوا
په تحقیق سره رسولی دی پیغمبرانو رسلت الخ وَاَحَاطَ او رسیدلے اوشامل دے علم
د خدائ بِمَا لَدَيْهِمْ په هغه څیز باندے چه رسولانو اوملائکو څخه دے وَاَحْصٰى اوشمارلی
ئے دی كُلَّ شَيْءٍ هر څیز عَدَدًا ﴿۲۸﴾ ع له جهته د شمارهٔ او په حدیث کښی دی چه مَنْ قرء سورة الجن كان له بعدد كل جنى صدق محمدا وكذب به عتق رقبة ؕ

سورة المزمل مکیة ۷۳ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ایاتها ۲۰ | رکوعها ۲

روایت دے چه پیغمبر ۴ اوده ده په شپه کښی چه جامه ئے له ځانه چاپیره کړے وه پس
امر ورته وکړے شهٔ دپاره د مانځه دا سے چه يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿۱﴾ اے جامه
اغوستونکیه قُمِ الَّيْلَ پاسه په شپه کښی اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲﴾ مګر کم له نیولے شپے څخه چه هغه
نِّصْفَهٗٓ نیمه شپه ده اَوِ انْقُصْ مِنْهُ یا کمه کړه له نیمے شپے نه قَلِيْلًا ﴿۳﴾ لږه چه ثلث دے ۔
اَوْ زِدْ عَلَيْهِ یا زیات کړه په نیمے شپے باندے چه دوه ثلثه دی وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ او لوله قرآن
لره تَرْتِيْلًا ﴿۴﴾ په لوستو واضحو سره ۔ چه سامع ئے شمار د حروفو کولے شی اِنَّا سَنُلْقِيْ په
تحقیق سره چه موږ زه به نازل کړو عَلَيْكَ په تا باندے قَوْلًا ثَقِيْلًا ﴿۵﴾ خبرے سخته لره

عه هغه چا چه ولوست سورة جن . وی به دهٔ لره په شمار هر یو پیری چه تصدیق ئے کړے
وی د محمد صلے الله علیه وسلم او کهٔ تکذیب ئے کړے وی د دهٔ په قدر ازاد والی د مړئ ۱۲

چه قرآن دے په مکلفانو باندے له جهته د اوامرو او نواهیو څخه او چا د یلی دی خبرے سخته له دۀ په منافقانو او کافرانو باندے اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ په تحقیق سره پورته کیدل په شپه کښ له خوبه هِيَ اَشَدُّ وَطْاً دغه پوره تکیدل د پرسخت دی له جهته د رڼا او کلیف ځکه چه ترڪ کول د خوب د پرسخت دی وَّاَقْوَمُ قِيْلًا ﴿۶﴾ او درست زیات دے له جهته د ویلو څخه. یعنی لوستل د قرآن په شپه کښ بهتر دی ځکه چه زړۀ فارغ وی اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ او په تحقیق سره تا لره په ورځ کښ سَبْحًا طَوِيْلًا ﴿۷﴾ شغل دے د پرپس فارغ کړه په شپه کښ ځان خپل د پاره د عبادت د خدائ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ او یاد وه نامه د رب خپل وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ او پریکړے شۀ له خلقونه دۀ ته په عبادۀ کښ تَبْتِيْلًا ﴿۸﴾ په پریکولو کامل سره یعنی نفس خپل له فکره د ما سوی الله نه هم دکړه رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ د ابدال دے له ربك نه یعنی یاد وه نامه د رب خپل چه خداوند د مشرق او د مغرب دے - لَآ اِلٰهَ نشته معبود برحق اِلَّا هُوَ مګر دے فَاتَّخِذْهُ پس ونیسه دے وَكِيْلًا ﴿۹﴾ کارساز خپل وَاصْبِرْ او صبر کوه عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ په هغه خیز باندے چه وائ کافران مالره بنځه او فرزند او تالره شاعر او ساحر او مجنون ځکه چه ته دوست ځمائ وَاهْجُرْهُمْ او پریږده دوئ لره هَجْرًا جَمِيْلًا ﴿۱۰﴾ په پریښودو لونکو سره یعنی انتقام تریه مهٔ اخله او ماته ئ پریږده لکه چه وائ وَذَرْنِيْ او پریږده ما لره وَالْمُكَذِّبِيْنَ او دروغ ویونکو لره چه اُولِي النَّعْمَةِ خاوندان د نعمتو نو دی وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ﴿۱۱﴾ او مهلت ورکړه دوئ لره لږ تر بدر او یا تر قیامت ځکه چه اِنَّ لَدَيْنَآ په تحقیق سره په نزد ځمونږ دی په اخرت کښ اَنْكَالًا طوقونه او زنځیرونه وَّجَحِيْمًا ﴿۱۲﴾ او اور سیزونکے وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ او خوراك غاړه نیونکے وَّعَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۳﴾ او عذاب درد ناك **روایت دے** چه پس له نزول د دغه آیت پیغمبر ﷺ بیهوش پریوت او وے ویل چه دا وعدے به رښتیا شی يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ په هغه ورځ باندے چه په خوزید و راشی زمکه وَالْجِبَالُ او په خوزید و راشی غرونه وَكَانَتِ الْجِبَالُ او وی کړی غرونه سره دلوی والی كَثِيْبًا مَّهِيْلًا ﴿۱۴﴾ روان

او بهید و نکی یعنی غږونه سخت به په مثل دسڅلو روان شی اِنَّآ اَرْسَلْنَآ په تحقیق سره لیږلے دے مونږ ه اِلَيْكُمْ تاسے ته اے اهل مکه وَ رَسُوْلًا ه پیغمبر یعنی محمد صلے الله علیه وسلم شَاهِدًا عَلَيْكُمْ شاهدی و یونکے په تاسے باندے په ورځ د قیامت په کفر ستاسے كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ لکه چه لیږلے وو مونږ فرعون و ته رسول یعنی موسیٰ ﴿۱۴﴾ فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ پس نافرمانی وکړه فرعون له موسیٰ علیه السلام فَاَخَذْنٰهُ پس ونیوو مونږ ه هغه اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿۱۶﴾ په ښولو سختو سره یعنی په د دریاب کښ موغرق کړهٔ فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ پس څرنګه به وساتئ اے مشرکانو له عذاب نفسونه خپل اِنْ كَفَرْتُمْ که چرے کافر پاتے شئ په کفر خپل باندے يَوْمًا له عذاب د هغ ورځے چه له هیبته د هغے نه يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ وبه کړی هلکان شِيْبًا ﴿۱۷﴾ زاړهٔ یعنی ویخته به ځے سپین شی له غمه ځکه چه غم سړے زړه وی السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌ ﴿۱۸﴾ به ۱ اسمان به مات شی په سبب د سختئ د هغه ورځے سره كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ﴿۱۸﴾ ده وعده د خدائ په راتلو ددے واقعو باندے کیدونکے اِنَّ هٰذِهٖ په تحقیق سره د ۱ ایتونه تَذْكِرَةٌ ج پند اونصیحت دے خلقولره فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ پس هر څوك چه رضائ وشی نیسی دِ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۱۹﴾ خدائ خپل ته لاره د ایمان په دے پندنسره روایت دے چه پس نزول د قُمِ الَّيْلَ پیغمبر ﷺ او اصحاب به ځے پاسیدل په شپه کښ او هر کله چه اندازه او دثلث او د ثلثانو معلومه نه وه په دوئ باندے پس له جهته د ویرے د عدم محافظت په قدر واجبه باندے تمامه شپه به ځے موښ کولو ترسبا پورے ترهغه چه خپو مبارکو د پیغمبر ﷺ پارسوب وکړو نو خدائ پس له یوکاله دغه بارکران له مومنانونه پورته کړو د اسے چه اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ په تحقیق سره خدائ ستا پوهیږی په دے اَنَّكَ تَقُوْمُ چه ته پاسے د پاره د مانځه په شپه کښ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ کمتر له دوو ثلثانو د شپے څخه وَ نِصْفَهٗ او موښ کوئ په نیمه شپه کښ وَ ثُلُثَهٗ او په دریمه برخه له شپے وَطَآئِفَةٌ او پاسی په دے طریقے سره یو ټولے مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ ط له هغه کسانونه چه تاسره دی له اصحابو وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ

اَلَّیۡلَ وَالنَّهَارَ ؕ او خدائ اندازه کوی شپے او ورځے لره عَلِمَ پوهیدهٔ خدائ دا سے چه
اَنۡ لَّنۡ تُحۡصُوۡهُ طاقت به و نهٔ لرئ تاسے اندازے د شپے لره فَتَابَ عَلَیۡکُمۡ پس انسان والے
ئے وکړه په تاسے یعنی ساقط ئے کړه له تاسے فرضیت د قیام په شپه کښ نو فَاقۡرَءُوۡا پس
لولئ په مانځه کښ مَا تَیَسَّرَ هغه قدر ے چه انسان وی مِنَ الۡقُرۡاٰنِ ؕ له قرآن اوچاولی ئ
مراد له قرآن مونځ د ے نومعنیٰ ئے دا سے شوه چه ادا کوئ مونځ هغه قدر چه انسان وی په
تاسے باندے پس بیان کړهٔ خدائ حکمت په منسوخ والی د قیام د شپے نو وے وِیل عَلِمَ اَنۡ
سَیَکُوۡنُ پوهیدهٔ خدائ چه وی به مِنۡکُمۡ بعضے له تاسے نه مَّرۡضٰی ۙ بیماران پس سخت
به وی په دوئ باندے پاسیدل په شپه کښ وَاٰخَرُوۡنَ او وی به نور له تاسے نه یَضۡرِبُوۡنَ
فِی الۡاَرۡضِ چه سفر به کوی په زمکه کښ یَبۡتَغُوۡنَ په دے حال کښ چه طلبوی به رزق
حلال او یا علم مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ ۙ له فضله د خدائ وَاٰخَرُوۡنَ او وی به بل ټولے چه
یُقَاتِلُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ۟ جنګ به کوی په لارے د خدائ کښ پس هر کله چه دوئ
ته رنځ او سختی رسیده له په مانځه د شپے کښ نو ساقط ئے کړ و له دوئ نه ف برابرے
وکړے شو په مینځ د مجاهدو او مکتسب کښ څکه چه کسب حلال جهاد دے فَاقۡرَءُوۡا
پس لولئ مَا تَیَسَّرَ مِنۡهُ ؕ هغه قدر ے چه انسان وی له قرآن وَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ او ادا کوئ
مونځ فرض لره وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ او ورکوئ زکوٰة واجب لره وَاَقۡرِضُوا اللّٰهَ اوقرض ورکوئ
خدائ لره قَرۡضًا حَسَنًا ؕ قرض نیک په خوشحالئ د زړهٔ سره یعنی خیرات ورکوی له مال
بے له زکوٰة په لاره نیکه کښ ف اضافت وکړ و خدائ خپل ځان ته د پاره د ے چه
غنیان د احسان نهٔ کوی په فقیرانو باندے په خیرات کښ وَمَا تُقَدِّمُوۡا اوهغه څیز
چه وړاندے لیږئ تاسے لِاَنۡفُسِکُمۡ د پاره د نفسونو خپلو مِّنۡ خَیۡرٍ له نیکئ نه تَجِدُوۡهُ
بیا به مومئ هغه خَیۡرًا عِنۡدَ اللّٰهِ په نزد د خدائ هُوَ خَیۡرًا دغه مال لیږل بهتر د ے وَّاَعۡظَمَ
اَجۡرًا ؕ اولوی د ے له جهته د ثواب یعنی ثواب به ئے زیات مومی وَاسۡتَغۡفِرُوا اللّٰهَ ؕ اوطلب
د بخښنے کوئ له خدائ په هر حال کښ څکه چه انسان له تقصیر خالی نهٔ د ے

اِنَّ اللّٰہَ غَفُوْرٌ په تحقیق سره خدائ بخښونکے دے بنده کا نو لره رَّحِیْمٌ ﴿۲﴾ مهربان دے په دوئ باندے او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة المزمل رفع الله عنه العسر فی الدنیا و الاخرة ۔

سورة المدثر مکیة ۷۴	بسم الله الرحمن الرحیم	ایاتها ۵۶ رکوعها ۲

روایت دے نه جابر رضی الله عنه چه پیغمبر دخدائ صلے الله علیه وسلم ویلی دی دا سے چه زهٔ په یوے لارے باندے روان وُم چه ناگاه یو اواز مے واوریدهٔ پس نظر وکړهٔ مابنی طرف او کیڼ طرف ته نو ما ونهٔ لیدهٔ هیڅ خیز پس نظر م وکړو پورته نو م ولیدهٔ په صیڼ ذ زمکے او د اسمان کښ ملائکه په تخت ناسته پس له هیبته په ما باندے ویره راغله نو راغلم کورته نو دُم ویل ما پټ کړئ په جامو کښ نو زهٔ ئے پټ کړم پس راغلو جبریل علیه السلام او وے ویل یٰۤاَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿۱﴾ اے جامه اغوستونکیه قُمْ فَاَنْذِرْ پورته شه له خلایه دخوبه فَاَنْذِرْ ﴿۲﴾ پس وویروه قوم خپل له عذابه دخدائ کهٔ ایمان نهٔ راوړی وَرَبَّكَ اوخدائ خپل لره فَكَبِّرْ ﴿۳﴾ پس په لویئ سره یاد وه وَثِيَابَكَ اوجامے خپلے فَطَهِّرْ ﴿۴﴾ پاکے کړه په او بوسره له پلیتئ نه خُکه چه مونځ نهٔ صحیح کیږی مکر په جامو پاکو کښ اوچا ویلی دی پاك کړه نفس خپل له افعالو قبیحو څخه وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿۵﴾ او له پلوگنا هونو نه کناره کوه وَلَا تَمْنُنْ اواحسان مهٔ کوه په خدائ باندے په عمل سره تَسْتَكْثِرُ ﴿۶﴾ چه ډیر کثیری اوچا ویلی دی عطا مهٔ کوه چا ته دپاره دطمع د زیاتوالی وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿۷﴾ اودپاره درضا دخدائ خپل صبر کوه فَاِذَا نُقِرَّ پس په هغه وخت کښ چه پوکو هلے شی فِی النَّاقُوْرِ ﴿۸﴾ په شپیلئ کښ فَذٰلِكَ پس دغه پوکے يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ يَّوْمٌ عَسِيْرٌ ﴿۹﴾ نښه دوړے سختے دہ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ په کافرانو باندے غَيْرُ يَسِيْرٍ ﴿۱۰﴾ نهٔ به وی اسانه په دوئ باندے

روایت دے چه ولید یوه ورځے له پیغمبر ﷺ اول د سورة حٰمٓ او د سورة مؤمن

عه هغه چا چه ولوست سورة مزمل پورته به کړی خدائ له دهٔ څخه خواری د دنیا او د اخرت ۱۲ منه

واؤ ریدهٔ نو قوم خپل ته راغے او وے ویل چه سوکند دے په خدائ تعالیٰ باندے چه له
محمد ﷺ یو کلام واؤ ریدهٔ چه نه له خبر و د جنّ او نه له انسٔ حکه چه ډیر خوږ والے
ئے لرلو او دغه کلام به غالب شی نو ځکه یشو کمان وکړو چه ولیدو ایمان راوړو نو ابو جهل
په رنګ رنګ خبرو سره جاهلیت ته مائل کړو چه قران ته ئے سحر او شعر و ویلو نو
پیغمبر ﷺ چه خبر شهٔ ډیر خفه شهٔ حق سبحانهٗ و تعالیٰ دا ایت نازل کړو ذَرْنِیْ پریږده
مالره وَمَنْ خَلَقْتُ او پریږده هغه څوک چه پیدا کړے مے دے هغه وَحِیْدًا (۱۱) یواځے
بے مال او بے ولده او بے مدد کاره وَّجَعَلْتُ لَهٗ او ورکړے مے دے دهٔ لره مَالًا مَّمْدُوْدًا (۱۲)
مال ډیر روایت دے له مجاهد ﷺ چه وے دهٔ لره سل زره اشرفۍ او وو دهٔ لسره
باغونه په طائف کښی اوهم دارنګ اوښان اوچیلۍ اوکډے ئے ډیرے لرلے او وینځے
او غلامان بے له شماره بهرو و وَّبَنِیْنَ شُهُوْدًا (۱۳) او ورکړی مے دی دهٔ لره فرزندان
لس تنه حاضر دهٔ سره په مکه کښی حکه چه غنیان و و حاجت ئے سفر ته نه پاڼه د سود اګرۍ
نهٔ وو روایت دے چه له لسو واړو نه دریو تنو ایمان راوړے و و خالد او هشام
او عمار وَمَهَّدْتُّ لَهٗ او غوړولے مے دے دهٔ لره بچاوینړه د سرداری تَمْهِیْدًا (۱۴) پاڼه غوړولو
سره ثُمَّ یَطْمَعُ پس طمع کوی دا سے چه اَنْ اَزِیْدَ (۱۵) زیات کړم نعمت خپل په مال او
اولاد سره بے له شکره کَلَّا ط نهٔ کوم دا سے یعنی نعمتونه خپل پرے نهٔ زیا تو م حکه چه
اِنَّهٗ کَانَ په تحقیق سره دے دا کافر لِاٰیٰتِنَا ایتونو د قران حمو نږدے لره عَنِیْدًا (۱۶) منکر
روایت دے چه په تحقیق له نزول د دے ایت مال او مرتبه ئے کمیدل له ترهغه پورے
چه مرشهٔ سَاُرْهِقُهٗ پس زړے چه و به رسوم دے صَعُوْدًا (۱۷) غږد صعود ته اودغه غږد
اوږدے چه پس له اویا کالونه به ئے سرته رسیږی۔ اوهر کله چه ورسیږی بیا بنکته
راغورځولے شی ځکه چه اِنَّهٗ فَكَّرَ په تحقیق سره ولید فکر وکړو چه څرنګه طعن وکړم
په قران کښی وَقَدَّرَ (۱۸) او اندازه ئے وکړو کار د محمد ﷺ او کار د قران پس و ویل ولید چه دے
جادو کړے ځکه چه بنځه له خښتنه۔ او خوئ له پلار نه جدا کوی او دا کار جادو کړے کافر ټول

قائل شوچه رښتیا دِ وویل پس دا ایت نازل شه فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۱۹﴾ پس لعنت دِ وی پرے چه څرنګه اندازه ئے وکړه ثُمَّ قُتِلَ پس بیا دِ لعنت وی كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۲۰﴾ چه څرنګه اندازه ئے وکړه ثُمَّ نَظَرَ ﴿۲۱﴾ پس نظر ئے وکړو قران نه دوباره ثُمَّ عَبَسَ پس مخ ئے ترېو کړو هر کله چه ځائی دطعن ئے بیا نه مو په قران کښ وَبَسَرَ ﴿۲۲﴾ او اُچولے غوټه کړه په طریقه ذکر اهیت سره ثُمَّ اَدْبَرَ پس بیا ئے مخ وکړ حُولوخ له حق وَاسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾ اوکړدن کشی ئے وکړه له متابعت دپیغمبرؐ فَقَالَ پس وے ویل اِنْ هٰذَآ نه دے داچه محمدؐ ئے وائی اِلَّا سِحْرٌ مګر سحر اوجادو دے يُّؤْثَرُ ﴿۲۴﴾ چه نقل کولے شی له ساحرانو نه اِنْ هٰذَآ نه دے داقران اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿۲۵﴾ مګر خبرے دبنیاد مودی سَاُصْلِيْهِ زه به وغورځوم ولیدلره سَقَرَ ﴿۲۶﴾ په طبقه پنځمه کښ له دوزخ چه نوم ئے سقر دے وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿۲۷﴾ اوڅهٔ څیز خبر کړے ته چه څهٔ څیز دے سقر لَا تُبْقِيْ اوردے چه پرے به نږدی غوښے اوپوست اورګونه او پلے او هډوکی په هیڅ دوزخی باندے بلکه ټول به ئے وسیزی اوبیا به ئے خدائی نوے پیدا کړی وَلَا تَذَرُ ﴿۲۸﴾ او پرے به ئے نږدی دوباره مګروبه ئے سیزی لَوَّاحَةٌ هغه اور تودونکے ده لِّلْبَشَرِ ﴿۲۹﴾ پوست دکافرانولره عَلَيْهَا په اور دسقر باندے تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿۳۰﴾ نولس ملائك موکل دی۔ **روایت دے** چه پس له نزول ددے ایت ابوجهل وویل چه یوتن به له تاسے نه لس تنه ملائکے دفع نه کړے شی نووویل ابوالاسد حُوی دکلده چه زه به اولس ملائك دفع کړم او دوه باقی تاسے دفع کړئ پس دا ایت نازل شهٔ وَمَا جَعَلْنَآ اومانهٔ دی کړ حُولی اَصْحٰبَ النَّارِ موکلان دِدوزخ اِلَّا مَلٰٓئِكَةً مګر ملائکے قوت ناکے له بنی اد موچه یوے لره قوت دثقلینو دے وَمَا جَعَلْنَآ اونهٔ دے کړ حُولے موښره عِدَّتَهُمْ شمار دملائکو چه نولس دی اِلَّا فِتْنَةً مګر د پاره د فتنے او امتحان لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا د کافرانولره یعنی چه استهزاء او توقے کوی چه نولس ملائکے څرنګه دِ پرجن اوانس دوزخ ته بوځی اوبل ذکر د نولس ﻡ کړے د ے د پاره ددے چه لِيَسْتَيْقِنَ یقین

وکړی الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ هغه کسان چه ورکړے شوے دے تورات او انجیل خُکه چه شمارئ په کتابونو د هغو کښ نولس دے نو پس وپوهیږی دوئ چه قرآن حق دے ۔ وَ اوبل دپاره دے چه يَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا زیات شی په دغه عدد مخصوصه سره مومنانو لره اِيْمَانًا یقین له جهته دموافقته کتابونو پخوانو سره او بیا وائی خدائ تعالی د پاره د تاکید وَلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اوچه شک ونه کړی په شمار د مؤکلانو کښ هغه کسان چه ورکړے شوے دے ورلره کتاب وَالْمُؤْمِنُوْنَ لا او مُومنان ددے امت یعنی چه دوئ په دغه عدد مخصوصه کښ شکمند نه شی وَ اوبل ذِکر دعدد مخصوصه م کړے دے لِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ دپاره دے چه ووائی هغه کسان چه فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ په زړونو کښ ئے مرض دے یعنی منافقان وَّالْكٰفِرُوْنَ او وائی کافران مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ خهٔ خیز اراده کړے دے خدائ بِهٰذَا مَثَلًا په دے شمار سره چه نولس دی مثال كَذٰلِكَ هم دارنګه له اضلال دمنافقانو او کافرانو څخه اوله هدایت دمومنانو څخه يُضِلُّ اللّٰهُ گمراه کوی خدائ مَنْ يَّشَآءُ هر چا لره چه رضائ وشی وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اولاره بنائ هرچا لره چه رضا ئے وشی روایت دے چه ابوجهل ودیل نشته خدائ د محمد ﷺ لره مدد کاری مکړ نولس نونازل شهٔ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اونهٔ پوهیږی په لښکر دخدائ ستا اِلَّا هُوَ ط مګر خدائ نو پس گران اوسخت نه دی په خدائ باندے تمامول د مؤکلانو شل او دیرش ۔ لیکن خدائ لره په دغه عدد کښ حکمت دے چه تاسے پرے نهٔ پوهیږئ ۔ وَمَا هِيَ اونهٔ دے بیان دسقر اویا شمار د مؤکلانو او یاد اسورة اِلَّا ذِكْرٰى مګر نصیحت دے لِلْبَشَرِ ﴿۳۱﴾ دپاره د سړو چه پند ونیسی په دے سره كَلَّا نهٔ دغه داسے چه څوک به انکار له سقره وکړی وَالْقَمَرِ ﴿۳۲﴾ اوسوګند دے په سپوږمی باندے وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ﴿۳۳﴾ اوسوګند دے په شپه باندے په هغه وخت چه راشی ورو ستوله ورځ څخه وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ﴿۳۴﴾ اوسوګند دے په صبا باندے په هغه وخت کښ چه روښانه کړی عالم لره اِنَّهَا په تحقیق سره سقر چه دے لَاِحْدَى الْكُبَرِ ﴿۳۵﴾ خامخا یو له

خیز ونو لویونۀ دے نَذِيْرًا پیدا کړے ہم دے سقر ویرو لکے لِلْبَشَرِ ﴿۳۶﴾ سړو لرہ چہ
یہ دہ سرہ پند ونیسی لِمَنْ شَآءَ ھغہ چا لرہ چہ رضائے وشی یعنی ویروی پہ دوزخ سرہ
ھر چا لرہ چہ رضائے وشی مِنْكُمْ لہ تاسے نہ دا سے چہ اَنْ يَّتَقَدَّمَ پروھیے حُی نیکی تہ
اَوْ يَتَاَخَّرَ ﴿۳۷﴾ اویا بیرتہ ودریږی لہ شرکہ او لہ معصیت یعنی تولو لرہ نصیحت ورکونکے
دے كُلُّ نَفْسٍ ہر نفس بِمَا كَسَبَتْ پہ سبب دھغہ کردار سرہ چہ کړے ئے وی رَهِيْنَةٌ ﴿۳۸﴾
کا نرہ بہ وی یعنی پہ دوزخ کښ بہ گرفتار وی اِلَّآ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ﴿۳۹﴾ مگر گرفتار بہ نہ
وی خاوند ان دښی لاس چہ اطفال د مؤمنانو دی اوچا ویلی دی مراد ترے مؤمنان دی
ځکہ چہ دوئ خلاص کړی دی گردونہ خپل پہ طاعت سرہ۔ وی بہ فِيْ جَنّٰتٍ ځٹ پہ
باغونو کښی يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ سوال بہ کوی دوئ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۴۱﴾ لہ مشرکانو نہ وائی
بہ مؤمنان مَا سَلَكَكُمْ څہ ځیز راوستئ تاسے فِيْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ پہ سقر کښی قَالُوْا وبہ
وائی مجرمان پہ جواب د مؤمنانو کښی۔ لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿۴۳﴾ نہ وو مونږہ پہ دنیا
کښی لہ مونځ کونکیو نہ یعنی پہ فرضیت د مانځہ مواعتقاد نہ کولو وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿۴۴﴾
اونہ وو مونږہ چہ پہ زکوٰۃ سرہ موطعام ورکړے وے فقیرانو لرہ وَكُنَّا نَخُوْضُ او وو
مونږہ کا چہ فکر بہ موکولو پہ شان د ایتونو د خدائی او د محمد ﷺ کښی مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ﴿۴۵﴾
سرہ د فکر کونکیو وَكُنَّا نُكَذِّبُ او وو مونږہ چہ دروغ موویل بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۴۶﴾ پہ
ورځ د جزا باندے حَتّٰٓى تر ھغہ پورے اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿۴۷﴾ چہ راغے مونږ لرہ
مرګ فَمَا تَنْفَعُهُمْ پس نفع بہ ونہ رسوی دوئ تہ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿۴۸﴾ شفاعت
د شفاعت کونکیو ځکہ چہ شفاعت مؤمنانو لرہ دے نہ کافرانو لرہ **فائدہ** پہ دے
کښی اشارت دے ثبوت د شفاعت تہ مؤمنانو لرہ او پہ حدیث کښی دی چہ اَنَّ[عہ] من امتی
من یدخل الجنة بشفاعة اکثر من ربیعه و مضر فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ پس څہ

عہ پہ تحقیق سرہ بعض لہ امت ځمانہ ھغہ څوک دی چہ داخلیږی بہ جنت تہ پہ شفاعت سرہ د ربیعہ
لہ ربیعہ او مضر څخہ او ربیعہ او مضر دواړہ نامے دوو قبیلو دی چہ د یردو پہ عرب کښی ۱۲
اللھم اغفر لکاتبہ و لوالدیہ ولمن یحبہ ویرانہٗ ۱۲

ځیږدے دوئی چه هیشه له قرآن مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۹﴾ انکار کونکی (مخ گرځونکی) دی كَاَنَّهُمْ
گویا که دوئی حُمُرٌ خرونه دځنګل دی مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿۵۰﴾ تختیدونکی دی فَرَّتْ چه تختی
هنوئی مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿۵۱﴾ له مزری څخه یعنی لکه چه خرد ځنګل د مزری نه تختی دوئی له
اوریدلو د قرآن څخه تختی **روایت دے** چه مشرکانو پیغمبر ﷺ ته وویل مونږه تاباندے
ایمان نه راوړو ترهغه پورے چه په نامه خُصونږه باندے کاغذ له آسمان راننه وړے
داسے چه داسے چه دا کاغذ دے له خدائی په نامه دفلانی سړی بانډه دی چه متابعت
دِ کوی محمد ﷺ لره نو آیت راغے بَلْ يُرِيْدُ بلکه غواړی كُلُّ امْرِءٍ هرسړے مِّنْهُمْ له دوئی
څخه داسے چه اَنْ يُّؤْتٰى ورکړے شی دوئی لره صُحُفًا کاغذونه مُّنَشَّرَةً ﴿۵۲﴾ سپرودے
چه پکښ لیکلی وی اے فلانیه پیروی کوه د محمد ﷺ كَلَّا وربه نه کړے شی دوئی لره
دا کاغذونه اوکه چرے ورکړے شی هم به دوئی ایمان راننه وړی نو اعراض ددوئی له
ایمان په سبب د نه راتلو کاغذونو سړه نه دے بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۵۳﴾ بلکه نه
ویریږی دوئی له عذاب د اخرت كَلَّآ نه ده داسے چه دوئی په باب د قرآن کښ
وائی چه سحر او یا ویل دبنیٰ ادمو دی ځکه چه اِنَّهٗ په تحقیق سړه قرآن چه دے
تَذْكِرَةٌ ﴿۵۴﴾ نصیحت دے فَمَنْ شَآءَ پس هرڅوك چه رضا ئے وشی نصیحت نیول
ذَكَرَهٗ ﴿۵۵﴾ نصیحت د ونیسی په قرآن باندے وَمَا يَذْكُرُوْنَ او نه یادوی قرآن لره
اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ مگر پندا خلی هغه څوك چه اراده وکړی خدائ پاك هُوَ اَهْلُ
التَّقْوٰى هغه خدائ لائق د دے دے چه ویریږی خلق له ده نه وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿۵۶﴾
اولائق دے چه وبخښی ویریدونکیو لره له ده نه په حدیث کښ دی چه مَنْ قرء
سورة المدثر اعطاه الله عشر حسنات بعدد من صدق بمحمد ﷺ ومن كذب بمكة

عه هغه چا چه ولویست سورة مدثر ورسره کړی خدائ ده لره لس نیکئ په شمار هغه چا چه تصدیق ئے کړے
دے محمد ﷺ او په شمار هغه چا چه تکذیب ئے کړے دے محمد ﷺ په مکه کښ ۱۲

سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ ۷۵ مکیة ۳۱ اٰیاتہا ۴۰ رکوعہا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَآ اُقْسِمُ سوگند خورم زهٔ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۱ په ورځ د قیامت باندے وَلَآ اُقْسِمُ او سوگند خورم بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۲ په نفس ملامت کونکی باندے یعنی په نفس متقی باندے چه ملامتیا کوی نفس تقصیری لره اوجواب د قسم محذوف دے چه لَتُبْعَثُنَّ دے یعنی خامخا به پورته شئ **تنبیه** لَآ په دواړو ځایونو کښ زائد دے **روایت** دے چه عدی له پیغمبر ﷺ د احوال د قیامت پوښتنه وکړه نو پس له اخبارهٔ حضرت ﷺ ته وویل که زهٔ هغه ورځ ووینم یقین به ونه کړم ځکه چه ایا هډوکی رڼ یدلی به یو ځائ شی پس دا ایت نازل شهٔ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ ایا گمان کوی بنی آدم یعنی عدی چه اَنْ لَّنْ نَّجْمَعَ جمع به نهٔ کړو عِظَامَهٗ ۳ هډوکی پریشانه ددهٔ بَلٰى اوجمع به ئے کړم قٰدِرِيْنَ په دے حال کښ چه توانایم عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّيَ په دے باندے چه برابر به کړم زهٔ بَنَانَهٗ ۴ سرونه دگوتو ددهٔ پس څرنگه به قادر نشم په جوړولو دهډوکولویو باندے بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ بلکه غواړی عدی او یا جنس انسان لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ۵ چه دروغ ووائی په هغه څیز باندے چه په وړاندے ددهٔ کښ دی له بعث او له حساب نه يَسْـَٔلُ سوال کوی په طریقه داستهزاء چه اَيَّانَ کله به وی يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ۶ ورځ د قیامت فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ۷ پس هغه وخت چه خیره شی سترګے وَخَسَفَ الْقَمَرُ ۸ او توره شی سپوږمئ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۹ او چه جمع کړے شی نمر او سپوږمئ په یو ځای کښ له مغربه يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ وبه وائی کافر يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ اَيْنَ الْمَفَرُّ ۱۰ چرته دے ځائے د تښتے له اوره كَلَّا لَا وَزَرَ ۱۱ حق ده چه نهٔ به وی په دغه ورځ هیڅ ځائے د تښتے او دپناه اِلٰى رَبِّكَ خاص خدائ ستا ته دی يَوْمَئِذِ نِ الْمُسْتَقَرُّ ۱۲ په دغه ورځ کښ قرارګاه او آرام ګاه د خلقو له جنت او دوزخ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ خبر به کړے شی انسان په دغه ورځ کښ

بِمَا قَدَّمَ په هغه خیز باندے چه په مخکښ ئے لیږلے دے له اعمالو نه وَ اَخَّرَ ﴿۱۳﴾ او په هغه خیز باندے چه پیرته ئے پریښے دے له اعمالو نه بَلِ الْاِنْسَانُ بلکه بنی آدم عَلٰی نَفْسِهٖ په نفس خپل باندے بَصِیْرَةٌ ﴿۱۴﴾ بینا دے په احوالو خپلو باندے او شاهد به وی په افعالو او اقوالو خپلو باندے وَّ لَوْ اَلْقٰی مَعَاذِیْرَهٗ ﴿۱۵﴾ اګرکه وکاندے عذرونه خپل

روایت دے چه هرکله جبریل م به وحی په پیغمبر م باندے ولوستله نو رسول کریم م له هغه سره ویله د پاره ددے چه هیره نه شی له مانه پس آیت نازل شو لَا تُحَرِّكْ مُ خوزوه اے پیغمبره بِهٖ په قرآن باندے لِسَانَكَ ژبه خپله رو هے له اتمامه دوحی لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿۱۷﴾ د پاره ددے چه تلوارکوے په یادولو د قرآن سره ځکه چه اِنَّ عَلَیْنَا په تحقیق سره سره په مونږ باندے جَمْعَهٗ جمع کول د قرآن په زړه ستاکښ وَ قُرْاٰنَهٗ ﴿۱۸﴾ او په ما باندے دی لوستل ئے په ژبه ستا باندے فَاِذَا قَرَاْنٰهُ پس په هغه وخت کښ چه لولو مونږ د قرآن په ژبه د جبریل م باندے فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿۱۸﴾ پس پیروی کوه د قرآن لوستلو دهغه لره ثُمَّ اِنَّ عَلَیْنَا پس په تحقیق سره په مونږ باندے دی بَیَانَهٗ ﴿۱۹﴾ بیانول د قرآن په تا باندے هغه چه مشکل وی کَلَّا نه ده دارنګه لکه چه انکارکوی کافران له قیامت بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿۲۰﴾ بلکه دوست کنړئ تاسے دنیا ګرندئ چه زر به فانی شی وَ تَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۲۱﴾ او پریږدی آخرت لره نو پس عمل نه کوئ د پاره د آخرت وُجُوْهٌ مخونه دمؤمنانو به یَّوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ نَّاضِرَةٌ ﴿۲۲﴾ تازه او روښانه وی اِلٰی رَبِّهَا طرف دخدائ خپل ته نَاظِرَةٌ ﴿۲۳﴾ کتونکی (نظر کونکی) به وی بے پردے څخه وَ وُجُوْهٌ او مخونه د منافقانو او مشرکانو به یَّوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ بَاسِرَةٌ ﴿۲۴﴾ تور به وی تَظُنُّ ګمان به کوے ته اے مخاطب داسے چه اَنْ یُّفْعَلَ وبه کړے شی بِهَا له دغه سره فَاقِرَةٌ ﴿۲۵﴾ بلا اورنځ چه هډوکی دشا به ئے ماتوی کَلَّاۤ نه ده داسے چه د دنیا غوره کوئ په آخرت باندے اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِیَ ﴿۲۶﴾ په هغه وخت چه ورسیږی روح هډوکی د سینے او کردن ته وَ قِیْلَ او ووایلے شی مُحْتَضَرته له طرف د ملائکو نه مَنْ سَ رَاقٍ ﴿۲۷﴾ څوك

ع۵ یعنی هغه کس چه مدنیکے د پاره دقبض کولو د روح د تا حاضرے شی

دے دم اچولے په دے بیمار باندے چه روغ شی او روح ئے په جُثه وکړی وَظَنَّ او یقین وکړی محتضر دا سے چه اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿۲۸﴾ په تحقیق سره دا څیز چه راغلے دے سبب د جدایئ ځمادے - له دنیا نه - وَالْتَفَّتِ السَّاقُ او تاؤ به شی یوه پنډئ د محتضر بِالسَّاقِ ﴿۲۹﴾ د پنډئ بلے سره اِلٰى رَبِّكَ طرف د رب ستا ته يَوْمَئِذِ نِ الْمَسَاقُ ﴿۳۰﴾ په دغه ورځ کښ تلله د ټولو مخلوقاتو دی روایت دے چه دا محکمه ایت په حق د ابوجهل لعین، کښ نازل شوے دے فَلَا صَدَّقَ پس تصدیق ونه کړو ابوجهل قرآن لره اوچاویلی دی صدقه ئے ورنه کړه له ماله خپله وَلَا صَلّٰى ﴿۳۱﴾ او مونځ ئے ادا نه کړو د پاره د رب خپل وَلٰكِنْ كَذَّبَ لیکن تکذیب ئے وکړو قرآن لره وَتَوَلّٰى ﴿۳۲﴾ او مخ ئے وګرزوو له ایمانه ثُمَّ ذَهَبَ پس لاړ شهٔ اِلٰٓى اَهْلِهٖ اهل خپل نه يَتَمَطّٰى ﴿۳۳﴾ په خرام سره له جهته د فخر په تکذیب اوتولیٰ باندے اَوْلٰى لَكَ افسوس دے تالره اے ابوجهل په ورځ د مرګ باندے فَاَوْلٰى ﴿۳۴﴾ پس افسوس دے تالره په قبر کښ ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ پس افسوس دے تالره په وخت د پورته کیدلو کښ له قبره فَاَوْلٰى ﴿۳۵﴾ پس افسوس دے تالره په اورکښ روایت دے چه پس له نزول د دے ایت پیغمبر علیه السلام ابوجهل په بطحا کښ ولیدهٔ اوجامے نه ئے وینوُ نوورته ئے وویل اولیٰ لك فاولیٰ ثم اولیٰ لك فاولیٰ - پس ابوجهل وویل چه ما ویروے اے محمد ﷺ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ ایا ګمان کوی انسان یعنی ابوجهل دا سے چه اَنْ يُّتْرَكَ پرے به خوے شی دے سُدًى ﴿۳۶﴾ مهمل اومعطل چه نهٔ به مامورهٔ کولے شی اونه به منع کولے شی او نهٔ به ثوندے کولے شی اونهٔ به جزا ورکولے شی دا ګمان دِ نهٔ کوی اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً ایا نهٔ وو دے یوڅاڅکے داوبو مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿۳۷﴾ له منئ توی شوے څخه په رحم کښ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً پس وه یوه پارچه له وینو فَخَلَقَ پس پیدا کړل خدائ اندامونه ددهٔ فَسَوّٰى ﴿۳۸﴾ پس برابرے ګړو صورت ددهٔ اوروح ئے پوکړهٔ په هغه کښ۔

عه یعنی په دروغ او په ځ ګړځولو ۱۲

فَجَعَلَ مِنْهُ پس پیدا ئے کړهٔ له او بو د منی څخه ـ اَلزَّوْجَيْنِ دوه صنفه اَلذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿۳۹﴾ ط
نر او ښځه اَلَيْسَ ذٰلِكَ ایا نهٔ دے هغه ذات چه پیدا کول کوی له منیٔ څخه بِقٰدِرٍ قادر او
توانا عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ﴿۴۰﴾ ع پۀ دے باندے چه ژوندی کړی مړه لره ـ د و پیغمبر علیه
السلام چه وبه ئے لوست دا سورة ویل به ئے ـ سبحٰنك بلٰی ـ او په حدیث کښی دی چه
مَنْ قرء سورة القيٰمة شهدت له انا و جبريل يوم القيمة انکان مؤمنا.

سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَكِّيَّةٌ ۷۶ ۳۱ اٰيَاتُهَا رُكُوْعُهَا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

هَلْ اَتٰى ایا تیر شوے وو ـ فائده ـ دا استفهام دے تقریری دے یعنی په تحقیق سره تیر
شوے وو عَلَى الْاِنْسَانِ په آدم علیه السلام باندے حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ یوه موده له زمانے څخه
چه څلویښت کلونه وُ و روبښه له پوکوهلو دروخ په دهٔ کښی لَمْ يَكُنْ چه نهٔ وو په دغه
زمانه کښی شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا ﴿۱﴾ یو خیزله دهٔ نه یاد کړے شوے بلکه وو یو څیز غیر مذکور
په انسانیت اوعناصر او نطفه سره اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ په تحقیق سره پیدا کړے مړ دے
اولاد آدم مِنْ نُّطْفَةٍ له څاڅکی د منیٔ څخه اَمْشَاجٍ ق هسے څاڅکی چه یو شوے وی د نر
او ښځے نه نَّبْتَلِيْهِ چه وَ ازمایو انسان په امر او نهی سره فَجَعَلْنٰهُ پس وګرزوو
مونږ هغه سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۲﴾ اوریدونکی اولیدونکی ـ ځکه چه قادر شی په مشاهدے
د دلائلو او په سماع د قرآن باندے اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ په تحقیق سره مانبوولے دے
هغهٔ ته لاره سمه په دلیلونو د عقل سره اِمَّا شَاكِرًا یا به شکر ویونکے وی یعنی مؤمن
سعید به وی وَّاِمَّا كَفُوْرًا ﴿۳﴾ او یا به ناشکره وی. یعنی کافر شقی به وی روایت دے
چه هر کله خدائ ذکر کړے دوه فرقے نو پس بیان د څیزونو د دوارو کوی دا سے چه اِنَّا
اَعْتَدْنَا په تحقیق سره مونږ تیار کړے دے لِلْكٰفِرِيْنَ دپاره د کافرانو سَلٰسِلَا زنځیرونه
په په هغوئ سره به راکاږی دوئ لره د دوزخ ته وَاَغْلٰلًا او طوقونه چه پراتهٔ به وی په
کردن د دوئ کښی وَسَعِيْرًا ﴿۴﴾ او اور دوښانه چه همیشه به سوزی په هغهٔ کښی

پس بیانوی حال د مؤمنانو اِنَّ الْاَبْرَارَ په تحقیق سره نیکوکاران یَشْرَبُوْنَ څښنی به په جنت کښ مِنْ كَاْسٍ کَانَ له جامِ د شرابو چه وی به مِزَاجُهَا کَافُوْرًا ۵ په هغه شرابو کښ. کافور یعنی له هغه شرابو چه کمې کړی وی به کښ کافور د جنت د پاڑه دے چه وکړئی یخ او خوږ ے عَيْنًا کافور یوه چینه ده يَّشْرَبُ بِهَا څښنی به ابرار له هغے نه. فائده. ب په معنیٰ د مِنْ ده عِبَادُ اللّٰهِ بندګان د خدائ يُفَجِّرُوْنَهَا جاری کوی به دوئ دغه چینه هرچرته چه رضا شی دوئ کو رونو ته تَفْجِيْرًا ۶ په جاری کولو اسانو سره. روایت دے چه هر کله بیمار شۀ حسن رض او حسین رض نو علی رض او بی بی فاطمے رض نذر وکړے د ورځو روژے په خان خپل باندے پس قرض وکړے علی رض له یهودی نه درے اوکی وربشے نو اوړۀ کولے بی بی فاطمے رض له هغے وربشو نه هره ورځ یو اوکے او د دوئ کولے پس غوره ئے کړل درے شپے په نفسونو خپلو باندے مسکین او یتیم او اسیر لره او وُنه څښلے دوئ په وخت د افطار کښ مګر اوبه. نو نازل شو. يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وفا کوی ابرار په هغه نذر باندے چه کړے وی دوئ په طاعت سره وَيَخَافُوْنَ او ویریږی يَوْمًا كَانَ له هغے ورځ نه چه دے شَرُّهٗ شر او سختی د هغے مُسْتَطِيْرًا ۷ منکاره او رسید ونکے کنهکارانو ته وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ او ورکوی طعام لره عَلٰى حُبِّهٖ په مینه د خدائ باندے یا په محبت د طعام باندے یعنی سره له دے چه محتاج وی د طعام ته مِسْكِيْنًا فقیر عاجز لره وَيَتِيْمًا او یتیم لره وَّاَسِيْرًا ۸ او بندی لره چه کافر او ترخه وی او دا مطعمان په ژبه د مقال یا د حال سره وائی اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ په تحقیق سره طعام درکوو تاسے لره لِوَجْهِ اللّٰهِ د پاڑه د طلب د ثواب د خدائ لَا نُرِيْدُ نه غواړو مونږه مِنْكُمْ جَزَآءً له تاسے نه یا دول او بدل وَّلَا شُكُوْرًا ۹ او نه ثنا او صفت حُکه چه اُمید د جزا او د ثنا سره ثواب د ورکولو کمیږی اِنَّا نَخَافُ په تحقیق سره مونږه ویریږو مِنْ رَّبِّنَا له ربه خپله يَوْمًا عَبُوْسًا له عذابه د هغے ورځ نه چه تروه ده یعنی له هغے ورځ چه له سختئ د هغے نه به مخونه د کنهکارانو تراوۀ شی قَمْطَرِيْرًا ۱۰ او ورځ سخته ده

فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ پس وبه ساتی خدائی دوئی لره په سبب دده کار ونو سره شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ
له سختی ددغه ورځی نه وَلَقّٰىهُمْ اوملاقی به کا دوئی سره نَضْرَةً تازگی دمخ وَّسُرُوْرًا ﴿۱۱﴾
اوخوشحالی دزړه وَجَزٰىهُمْ اوجزا به ورکړی دوئی لره بِمَا صَبَرُوْا په سبب دصبر کولو دوئی
سره له طعام جَنَّةً باغ وَّحَرِيْرًا ﴿۱۲﴾ اوجامے ریښمینے مُّتَّكِـِٕيْنَ په هغه
حال کښ چه تکیه کونکی به وی دوئی فِيْهَا په جنت کښ عَلَى الْاَرَآئِكِ ج په تختونو
باندے لَا يَرَوْنَ فِيْهَا نهٗ به وینی دوئی په جنت کښ شَمْسًا نمر وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿۱۳﴾ او
نه یخی یعنی اوړے اوژمے به یکښ نهٗ وی ځکه چه گرمی اوسړی دوئی ته ضرر ونهٗ رسوی
بلکه هوا به ئے معتدله وی وَدَانِيَةً اوجزا به ورکړی دوئی لره په جنت بل کښ چه
نزدے به وی عَلَيْهِمْ په دوئی باندے ظِلٰلُهَا سوری د ونوئے وَذُلِّلَتْ اوتیټ کړے
شوے به وی قُطُوْفُهَا میوے دهغه باغ تَذْلِيْلًا ﴿۱۴﴾ په تیټیدو سره یعنی ټولول
به ئے اسان وی وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ اوگرځولے به شی په دوئی باندے یعنی خدمتگاران
به پرے گرځی بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ جامونه دسپینوزرو وَّاَكْوَابٍ کانٹ اوگرځولے به
شی په دوئی باندے کوزے بے لاستو چه وی به قَوَارِيْرَا ﴿۱۵﴾ په مثل دښیښو سره
قَوَارِيْرَا مِنْ فِضَّةٍ چه هغه ښیښے به دسپینوزرو وی یعنی له بهره ئے دننه لیدلے
شی قَدَّرُوْهَا اندازه کړے به وی هغه جامونه ساقیانو د جنت روصے له راتلو دجنتیانو
نه تَقْدِيْرًا ﴿۱۶﴾ په اندازه کولو سره یعنی هر چا لره به چام ورکوی چه پرے مړیږی اوزیاتے
اوکمے به نهٗ وی وَيُسْقَوْنَ اوخښوبولے شی جنتیان فِيْهَا په جنت کښ كَاْسًا په کاسو
دشرابو سره كَانَ مِزَاجُهَا زنجبیل زَنْجَبِيْلًا ﴿۱۷﴾ چه وی به ګډ یکښ زنجبیل د جنت دپاره
دخوشبویئ عَيْنًا فِيْهَا او زنجبیل چینه ده جنت کښ تُسَمّٰى سَلْسَبِيْلًا ﴿۱۸﴾ چه مسمے
کړے شوے ده په سلسبیل سره ځکه چه لذیذ دے خوراک کښ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ
اوطواف به کوی په بهشتیانو باندے وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ء هلکان هیشه پاتے
شوی په طفولیت باندے چه نهٗ به زړیږی اِذَا رَاَيْتَهُمْ په هغه وخت کښ چه ته وویني

هغوئ لره حَسِبْتَهُمْ گمان به کوے ته هغوئ لره له جهته د صفایئ نه لُؤْلُؤًا مَنْثُورًا (۱۹) مرغلرے تو ئے کړے شوے . او تخصیص د منثور د پاره ددے دے چه دا بناسته بنکاریږی له مرغلرو پیلوخته وَاِذَا رَاَيْتَ او په هغه وخت چه نظر وکړے ته ثَمَّ په جنت کښ . رَاَيْتَ نَعِيْمًا و به وینے ته نعمتونه ډیر وَّمُلْكًا كَبِيْرًا (۲۰) او و به وینے ته بادشاهی لویه حُکه چه په حدیث کښ راغلی دی چه کمترین جنتی به د زرو کالو په لارے باندے ملک خپل وینی له لرے نه لکه چه وینی ئے له نزدے نه عٰلِيَهُمْ لباس دبهشتیانو به ثِيَابُ سُنْدُسٍ جامے د زرے پتو نازکو وی خُضْرٌ چه زرغونے به وی وَّاِسْتَبْرَقٌ زاوجامے د زرے پتو محکمو به وی وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ او واښه غوستلے شی جنتیانو لره باهوکان مِنْ فِضَّةٍ ج له سپینو زرونه وَسَقٰىهُمْ او خرڅوی جنتیان رَبُّهُمْ خدائ د د وئ شَرَابًا طَهُوْرًا (۲۱) په شرابو پاکو سره او وبه ویلے شی جنتیانو ته داسے چه اِنَّ هٰذَا په تحقیق سره دغه انعمتونه ذکرشوی كَانَ لَكُمْ جَزَآءً دے د عملونو ستاسے بدل . وَكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ع (۲۲) او ووکوشش ستاسے قبول کړے شوے حُکه چه ویل ستاسے مسکین اوبیتیم اوبندی ته لا نرید منکم جزاء و لا شكورًا ۱۲ اِنَّا نَحْنُ په تحقیق سره مونږ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ نازل کړے مِ دے په تا باندے قران تَنْزِيْلًا ع (۲۳) په نازلولو سره په مقتضی د حکمت فَاصْبِرْ پس صبر کوه لِحُكْمِ رَبِّكَ حکم د رب خپل ته په نصرت ستاسره په کافرانو د مکے باندے روایت دے چه عتبه ویلے چه محمد علیه السلام ته دعوت مه کوه ما ته د پاره ددے چه لوړ بناسته سره د مال درکړم نو نازل شۀ وَلَا تُطِعْ اوفرمانبرداری مه کوه مِنْهُمْ له کافرانو نه اٰثِمًا گنهکار لره اَوْ كَفُوْرًا ع (۲۴) او هیڅ ناشکره لره چه تابولی کفر ته لکه ولید شۀ چه ویل به ئے دۀ ته چه دین د پلارانو ته رجوع وکړه چه غنی د ډیر کړم وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ او یاد وه خدائ خپل لره بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ع (۲۵) په وخت د صبا او د بیگاه کښ یعنی همیشه ئے یاد وه وَمِنَ الَّيْلِ او بعضے له شپے نه فَاسْجُدْ لَهٗ سجده کوه خدائ لره او چا ویلی دی وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ موښ کوه

خدائی خپل لره بکړه نوح د صبا واصیلا او نوح د ماسپخین او دمازدیګر و من
اللیل او بعضے له شپے نه فاسجد له پس سجده کوه خدائی لره وَسَبِّحْهُ او نوح کوه خدائی
لره لَيْلًا طَوِيْلًا ⑥ په شپه دراوزه کښ یعنی تهجد کوه اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ په تحقیق سره دا چوله د
کافرانو يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ دوست لری دوئ دنیا ز تیریدونکے لره وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ او
پریږدی دوروستو دشا خپلے يَوْمًا ثَقِيْلًا ⑦ ورځ سخته لره چه قیامت دے نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ
مونږ پیدا کړی دی دوئ له معنی ځه وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ج او محکم کړے مودے پیدا وخت د
دوئ اوچا ویلی دی اندامونه د دوئ وَاِذَا شِئْنَا او په هغه وخت کښ چه رضا وشی
خُمونږه بَدَّلْنَآ بدل به کړو دوئ اَمْثَالَهُمْ په امثالو د دوئ باندے په پیدا وخت کښ
تَبْدِيْلًا ⑧ په بدلولو سره یعنی دوئ به هلاک کړم او په بدل د دوئ به پیدا کړم بندګان
فرمانبردارانو اِنَّ هٰذِهٖ په تحقیق سره چه دا سورهٔ تَذْكِرَةٌ ج پند دے فَمَنْ شَآءَ
پس هرڅوک چه غواړی حال د دوئ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ نیسی د رب خپل ته سَبِيْلًا ⑨
لاره په خیرا و په طاعت سره وَمَا تَشَآءُوْنَ اوغواړه به نه کړئ تاسے هیڅ لاره اِلَّآ اَنْ
تَشَآءَ اللّٰهُ مګر هغه چه خدائی غواړی تاسے لره اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا په تحقیق سره
خدائی دانادے په استعداد دهرچا باندے حَكِيْمًا ⑩ قف اومحکم کارد ے نه کوی
هیڅ کارمګر په مقتضٰی د علم خپل يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ داخلوی هغه چاله رحمت چه رضا ئے
وشی فِيْ رَحْمَتِهٖ په رحمت خپل کښ چه جنت دے وَالظّٰلِمِيْنَ اوکافران چه دی
اَعَدَّ لَهُمْ تیار کړے ئے دے دپاره د دوئ عَذَابًا اَلِيْمًا ⑪ ع عذاب دردناک او په
حدیث کښ دی چه مَنْ قرء سورة هل اتٰى كان جزاءه على الله جنة ؕ

سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ مكية ۵۰ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۵۰ اٰيَاتُهَا ۵۰ رُكُوْعُهَا

وَالْمُرْسَلٰتِ سوګند دے په ملائکو باندے چه لیږلے شوی دی عُرْفًا ① په نیکئ سره

عه هغه چا چه ولوست سورة هل اتٰى وی به جزا دهٔ په خدائی باندے جنت ۱۲ منه رح

یعنی په امر او نهی سره فَالْعٰصِفٰتِ پس سوکند دے په هغه ملائکو باندے چه کوځی عَصْفًا ۲ په ګړندو تلو سره په امتثال د امر د خدائ کښ وَّالنّٰشِرٰتِ اوسوکند دے په هغه ملائکو باندے چه اظهار د شرائعو اود کتبو کوی نَشْرًا ۳ په ظاهر ولو سره فَالْفٰرِقٰتِ پس سوکند دے په هغه ملائکو باندے چه جدا کونکی دی حق او باطل لره فَرْقًا ۴ په جدا کولو سره۔ فَالْمُلْقِيٰتِ پس سوکند دے په هغه ملائکو باندے چه غورځونکی او وړونکی دی ذِكْرًا ۵ وحی لره پیغمبرانو ته اود غه القا اوذکر چه دے عُذْرًا د پاره د پیدا کولو د حجت د مومنانو لره اَوْ نُذْرًا ۶ یا د پاره د ویرولو د کافرانو ده اوجواب د قسم دا دے اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ په تحقیق سره هغه څیز چه وعده ئے درکړے شوے ده تاسے لره چه راتلل د قیامت دی لَوَاقِعٌ ۷ خامخا واقع کیدونکے ده فَاِذَا النُّجُوْمُ پس په هغه وخت کښ چه ستوری طُمِسَتْ ۸ محوه کړے شی یعنی نور ترے لاړ شی وَاِذَا السَّمَآءُ اوپه هغه وخت کښ چه اسمان فُرِجَتْ ۹ څیرے کړے شی وَاِذَا الْجِبَالُ اوپه هغه وخت کښ چه غرونه نُسِفَتْ ۱۰ وو یستلے شی له ځایونو خپلو نه وَاِذَا الرُّسُلُ اوپه هغه وخت کښ چه پیغمبران اُقِّتَتْ ۱۱ جمع کړے شی د پاره د شاهدئ ورکولو په امتونو خپلو باندے پس وبه وائی لِاَيِّ يَوْمٍ چه د پاره د کومے ورځے اُجِّلَتْ ۱۲ وړوستو کړے شوه اخیزونه یعنی طمس د نجوم او شق د اسمان او قلع د جبال۔ پس جواب ورکړه لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۱۳ د پاره د دوړځے د حکم کولو په مینځ د خلقو کښ وَمَآ اَدْرٰىكَ اوځه څیز پوهه کړے ته ګه چه مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۱۴ څه څیز دے ورځ د فصل حکه چه کُنْه ئے ته نه پیژنے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۱۵ دروغ ویونکو لره په دغه ورځ باندے اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ۱۶ آیا هلاک کړی مِ نه دی پخوانو امولره لکه قوم د نوح ۴ او عاد او ثمود بلکه هلاک کړی مِ دی ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ پس تابع به کړم مِ روسبنولره په هلاکت کښ الْاٰخِرِيْنَ ۱۷ دے روستولره چه کافران دمکے دی یعنی هلاک به ئے کړم په مثل د هغوئ حکه چه دوئ دروغ وائی په مثل د پخوانیو كَذٰلِكَ نَفْعَلُ هم دارنګه کار کوو مونږ بِالْمُجْرِمِيْنَ ۱۸ په

کنھکارانو باندے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے پہ دغہ ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۹﴾ دروغ ویونکو لرہ پہ ایبتونو دحد ائی باندے اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ ایا نہ مو یئ پیدا کړی تا سے مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿۲۰﴾ له اوبو خوار وشخہ چہ منی دہ فَجَعَلْنٰهُ پس کے مو خودے ھغہ اوبۂ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿۲۱﴾ پہ ځائ محکم کښی چہ رحم دمور دے اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۲﴾ ترمودے معلوے پورے چہ مقرر ہ کړے دہ خدائ دپارہ زیږیدلو فَقَدَرْنَا پس توانایو مونږ ہ پہ پیدا اوخت ستا سے باندے فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿۲۳﴾ پس نیک توانا یو مونږ ہ پہ اندازہ باندے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے پہ دغہ ورځ کښی لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۴﴾ دروغ ویونکو لرہ پہ دغہ قدرت باندے اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ ایا نہ دہ کړ ځوے مازمکہ كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ جمع کونکے اَحْيَآءً ژوندو لرہ پہ شاخپلے باندے وَّاَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾ اومړ یو لرہ پہ خپلہ خپلکښی وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ اوپیدا کړی مو دی پہ زمکہ کښی غرونہ محکم پہ ځائ خپل باندے شٰمِخٰتٍ لسرے . وَّاَسْقَيْنٰكُمْ او وم څښولے تا سے لرہ مَّآءً فُرَاتًا ﴿۲۷﴾ اوبۂ خوږے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس کندہ د دوزخ دہ پہ ورځ د قیامت کښی لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۸﴾ دروغ ویونکو لرہ پہ دغہ نعمتونو باندے وبہ ویلے شی کافرانو تہ پہ ورځ د قیامت اِنْطَلِقُوْٓا لاړ شئ اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۹﴾ ھغہ اورتہ چہ وئ تاسے پرے دروغ ویونکی اِنْطَلِقُوْٓا ځئ تاسے اِلٰى ظِلٍّ سوری تہ چہ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ خاوند د دریو شاخودے . یعنی لہ جھتہ دلوئ والی بہ درے شاخہ شی یو شاخ پاس پہ سرد کافرانو باندے اویو شاخ ئ بنی طرف تہ اویوئ کینږ طرف تہ لَّا ظَلِيْلٍ ھسے سورے چہ نۂ بہ وی یخ وَّلَا يُغْنِيْ اونۂ بہ دفع کوی لہ دوزخی نہ مِنَ اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾ لہ کرئ داورہ ھیخ خیږلرہ اِنَّهَا پہ تحقیق سرہ دوزخ بہ تَرْمِيْ بِشَرَرٍ ویشتل کوی پہ دغہ ورځ کښی پہ بسروسرہ چہ ھر بسرے بہ ئے كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ پہ مثل د مانړئ وی پہ لوئ والی کښی كَاَنَّهٗ گو یا کۂ دی ھغہ بسری جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ پہ مثل داوښا نو زیرو سرہ فائدہ کہ مشابہ ئے کړل بسری لہ مانړئ سرہ لہ جھتہ دلوئ والی او د اوږدوالی نہ اومشابہ ئے کړل لہ اوښا نو سرہ لہ جھتہ دډیرو والی او د رنګہ او دپئ دړپئ والی تخہ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

افسوس دے په هغه ورځ لِلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۴﴾ دروغ ویونکو لره په دوزخ اوبسرو باندے حُکه چه دغه حق دی هٰذَا يَوْمُ دا هغه ورځ ده چه لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ خبرے به نهٔ کوی کافران په بعضے حُایونو کښ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ او اذن به نشی کولے دوئ ته فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴿۳۶﴾ پس چه عذر وکړی وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۷﴾ دروغ ویونکو لره په دے اخبارو باندے هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ دا ورځ د جدایئ ده په مینځ د محسن او د مسیء کښ جَمَعْنٰكُمْ جمع به کړم تاسے اے دروغ ویونکو محمدؐ وَالْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۸﴾ او دروغ ویونکو وړومبنو لره چه تکذیب ئے کړے وو رسولانو خپلو لره پس حساب به درته وکړے شی او عذاب به کړے شئ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ پس که وی تاسے لره حیله په دفع کولو د عذاب سره لکه چه په دنیا کښ به کوله تاسے له مؤمنانو سره فَكِيْدُوْنِ ﴿۳۹﴾ پس حیله وکړئ ما باندے په خلاصولو د نفسونو خپلو سره له عذاب ابدی څخه وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ کنده به وی په دغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۰﴾ دروغ ویونکو لره حُکه چه نشته حیله دوئ لره په خلاصولو کښ له عذابه اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ په تحقیق سره حُان ساتونکی له عذاب په ترك کولو د شرك او د عصیان سره به وی فِيْ ظِلٰلٍ لاندے د سورو د جنت وَّعُيُوْنٍ ﴿۴۱﴾ او وی به په غاړه د چینو جاریو وَّفَوَاكِهَ او وی به په مینځ د میوو کښ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۴۲﴾ له هغه میوونه چه اړزوئ وړته کیږی فائده په دے کښ اشارت دے دے ته چه خوراك او څښل به په جنت کښ په اعتبار د اړزو د جنتیانو سره وی او ملائکے به دوئ ته وائی كُلُوْا خوړئ له دے میوونه وَاشْرَبُوْا او څښئ له دے اوبونه هَنِيْٓـًٔا خوږل څښل هضم ناك بِمَا كُنْتُمْ په سبب د هغه چه وئ تاسے تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ عمل موکولو په دنیا کښ اِنَّا كَذٰلِكَ په تحقیق سره موږ به دارنګه نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۴۴﴾ جزا ورکوو نیکوکارانو لره پس نیکی کوئ چه جزا بیا موږ تاسے وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ کنده د دوزخ په دغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۵﴾ دروغ ویونکو لره چه نعمتو د جنت ته میلان نهٔ کوی كُلُوْا خوړئ تاسواے دروغ ګویانو نعمتونه د دنیا وَتَمَتَّعُوْا اونفع واخلئ قَلِيْلًا لږه موده

څکه چه نفع د دنیا لره ده اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ (۴۴) په تحقیق سره تاسے کافران یئ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په په دغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ (۴۵) د دروغ ویونکو لره عذاب دردناک څکه چه دوئ وړاندے کړل څانونه خپل عذاب هیښته ته سبب د نفع لرے سره وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا او په هغه وخت کښ چه وویلے شی دوئ ته چه مونځ کوئ. لَا يَرْكَعُوْنَ (۴۸) نه کوی دوئ مونځ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ افسوس دے په دغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ (۴۹) دروغ ویونکو لره په امر او نهی باندے فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ پس په کومه خبره باندے بَعْدَهٗ پس له قرآن به يُؤْمِنُوْنَ (۵۰) دوئ ایمان راوړی. هر کله چه په قرآن ئے ایمان رانه وړ. او حال دا دے چه دے مشتمل دے په دلیلونو واضحو او معاینو شریفو باندے. په حدیث کښ دی. چه مَنْ قرء سورة المرسلات كُتِبَ له انه ليس من المشركين

سُوْرَةُ النَّبَاِ مكية ۷۸ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۴۰ رُكُوْعُهَا ۲

روایت دے چه هرکله پیغمبر علیه السلام بلل ظاهر کړل او قرآن ئے په خلقو باندے ولوست او په ورځ د قیامت ئے ویره وکړه نو کافرانو په پیغمبرئ د دهٔ کښ او په نزول د قرآن کښ او په واقع کیدو د قیامت کښ اختلاف اوکړ او یو تربله ئے سوال کولو. لکه چه خدائ وائ عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ (۱) له څهٔ څیزه سوال کوی کافران د مکے یو تربله او یاله مؤمنانو نځه په استهزاء سره عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ (۲) سوال کوی له خبرے لوئ څخه چه قیامت دے الَّذِيْ هُمْ هغه خبره چه دوئ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ (۳) په هغه خبره کښ اختلاف کوونکی دی. نو بعضے وائ قیامت شته دے او بعضے وائ نشته او بعضے شک کوی په وقوع او په لاوقوع کښ ئے كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ (۴) حقه ده چه زر به پوهشی په هغه څیز چه پکښ اختلاف کوئ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ (۵) پس حقه ده چه زر به پوهشی دا کافران په هغه څیز باندے

عه هغه چا چه ولوست سورة مرسلت وبه لیکلے شی دهٔ لره داسے چه دے نه دے له مشرکانو څخه ۱۲

وخت کښ چه مړه شی اووځکی عذاب ﴿اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا﴾ (۶) ایا نهٔ ده کړځولے
مونږ زمکه بچاونړه بلکه کړځولے م ده دپاړه داستوربرنے ستاسے ﴿وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا﴾ (۷) ایا نږدے
د کړځولی غړونه میخونه د زمکے چه پرے قرار د زمکے دے ﴿وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا﴾ (۸) اوپیدا
کړی مو یئ تاسے نراوښځه ﴿وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ﴾ اوکړځولے مودے خوب ستاسے ﴿سُبَاتًا﴾ (۹)
ارام اوخوشحالی دتن ﴿وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ﴾ اوکړځولے مودہ شپه ﴿لِبَاسًا﴾ (۱۰) پرده پوش چه په
تاریکئ خپلے سړه هرڅیز پټوئ ﴿وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا﴾ (۱۱) اوکړځولے م ده ورځے لږه وخت
د معاش چه پکښ کسب اومعاش خپل کوئ ﴿وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ﴾ او بنا کړے مو دے پاس
په سرستاسے ﴿سَبْعًا شِدَادًا﴾ (۱۲) اوه اسمانونه محکم چه هیڅ ړخه نږیږی ﴿وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا
وَّهَّاجًا﴾ (۱۳) اوکړځولے مودے نمر په اسمان کښ ډیوه روښانه ﴿وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ
مَآءً ثَجَّاجًا﴾ (۱۴) اونازله کړی مودی له وریځو نه اوبه توئید ونکے ﴿لِّنُخْرِجَ بِهٖ﴾ دپاړه ددے
چه وباسو په دغه اوبو سړه ﴿حَبًّا﴾ دانے یعنی غنم اواوربشے اوباقی حبوبات ﴿وَنَبَاتًا﴾ (۱۵) اوګیاه چه خوراك د چارپایانو دے ﴿وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا﴾ (۱۶) اوچه
بهر راوړو په دغه اوبو سړه باغونه ډیر یو تر بله نږدے ﴿اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ﴾ په تحقیق سړه
ورځ د جدایئ په میخ د حق اود باطل کښ ﴿كَانَ مِيْقَاتًا﴾ (۱۷) ده په حکم د رب سړه
مقرره دپاړه د واقع کیدلو د جزا ﴿يَّوْمَ﴾ هغه ورځ ده چه ﴿يُنْفَخُ﴾ پوکلے به شی ﴿فِي الصُّوْرِ﴾ په
شپیلئ کښ. ف مراد په دے نفخ سړه نفخ ثانیه ده ﴿فَتَاْتُوْنَ﴾ نو رابه شئ تاسے له قبرونو
خپلونه ﴿اَفْوَاجًا﴾ (۱۸) ټولی ټولی اوچاویلی دی امتونه امتونه هر یو امت سړه د پیغمبر
خپله ﴿وَفُتِحَتِ السَّمَآءُ﴾ اوخیرے به شی اسمان په هغه ورځ کښ ﴿فَكَانَتْ﴾ پس وبه کړځی
اسمان له جهته د خیرۍ والی نه ﴿اَبْوَابًا﴾ (۱۹) خداوند د دروازو ﴿وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ﴾ اوروان
به کړے شی غړونه له زمکے نه په هوا باندے ﴿فَكَانَتْ سَرَابًا﴾ (۲۰) پس وبه کړځی دغه
غړونه پشان د شګو ﴿اِنَّ جَهَنَّمَ﴾ په تحقیق سړه دوزخ چه دے ﴿كَانَتْ مِرْصَادًا﴾ (۲۱) ځائ
د تیریدو د خلقو دے نو مؤمن به تیرشی اوکافر به پکښ پریږدئ ﴿لِّلطّٰغِيْنَ﴾ کافرانو لپاره

مَآبًا ﴿۲۲﴾ ځای د قرار دد وئ لِّـٰبِثِينَ فِيهَآ درنګ کونکی به وی دوئ په دوزخ کښی اَحۡقَابًا ﴿۲۳﴾ موده د زاړه هیشه لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا نه به څکی دوئ په دوزخ کښی بَرۡدًا هوا یخه چه پرے راحت بیا مومی اوګرمی د دوزخ ترے لرے کا ندی وَلَا شَرَابًا ﴿۲۴﴾ اونه به څښنی شراب اِلَّا حَمِيمًا مګر مومی به اوبه ګرمے دا سے چه هر څیز تد وریږی سیزی به ئے وَّغَسَّاقًا ﴿۲۵﴾ اوځښنی به زوے چه بهیږی به له زخمونو د دوئ جَزَآءً جزا به ورکړی دوئ ته وِفَاقًا ﴿۲۶﴾ موافقه له اعمالو سره ئے څکه چه اِنَّهُمۡ كَانُوا په تحقیق سره دوئ وو په دنیا کښے لَا يَرۡجُونَ نه به ویریږیدل حِسَابًا ﴿۲۷﴾ له حساب د خدائ څکه چه منکر وو له قیامت وَكَذَّبُوا اوتکذیب ئے کولو بِاٰيٰتِنَا په ایتونو د قرآن څما باندے كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ په تکذیب سره وَكُلَّ شَيۡءٍ اوهر څیز له طاعت اوله معصیت اَحۡصَيۡنٰهُ شمار لے مودی كِتٰبًا ﴿۲۹﴾ په لیکلو سره په لوح محفوظ کښی د پاره د ډیر چه جزا پرے ورکړم دوئ لره اووبه ویلے شی دوئ ته په اُخرت کښی چه فَذُوقُوا وخکئ عذاب د دوزخ فَلَنۡ نَّزِيدَكُمۡ پس هیڅ کله به زیات نه کړو تاسے لره اِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾ مګر عذاب په حدیث کښی دی چه دا ایت د ډیر سخت دے له اهل دوزخیانو کښی اِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ په تحقیق سره پرهیزګارانو لره په قیامت کښی مَفَازًا ﴿۳۱﴾ خلاصے دے له عذاب ابدی نه حَدَآئِقَ باغونه د میوو به وی وَاَعۡنَابًا ﴿۳۲﴾ اوونے د انګورو به وی وَّكَوَاعِبَ اووی به دوئ لره جینکئ انارتیوے اَتۡرَابًا ﴿۳۳﴾ همځولے اودوست دارے وَّكَاۡسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾ اووی به دوئ لره جامونه پرُ له شرابو لَّا يَسۡمَعُوۡنَ نه اوری فِيهَا په جنت کښی لَغۡوًا خبرے بے هوده او باطله وَّلَا كِذَّابًا ﴿۳۵﴾ اونه به اوری دروغ لره جَزَآءً جزا به ورکړی متقیانو لره په جزا ورکولو سره مِّنۡ رَّبِّكَ له ربه ستا نه عَطَآءً وربه کړی دوئ لره د ډیره حِسَابًا ﴿۳۶﴾ چه وافی او کافی دے په حساب د اعمالو سره ئے رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ پیدا کونکے د اسمانونو اود زمکے دے وَمَا بَيۡنَهُمَا اوپیدا کونکے د هغه څیزونے چه په مینځ د اسمان اود زمکے کښی

عه یعنی تیونه به ئے په مثل دانارو وی ۱۲

دے الرَّحْمٰنِ مهربان دے لَا يَمْلِكُوْنَ نهٔ به مالک کیږی مِنْهُ خِطَابًا ﴿۳۷﴾ له خدائ خبرو لره یعنی نهٔ به توانیږی هیڅوك چه خبرے وکړی له خدائ سره د پاره د شفاعت له جهته دوبرے نه يَوْمَ په هغه ورځ چه يَقُوْمُ الرُّوْحُ و دیږی جبریل علیه السلام وَالْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ؕ او نورے ملائکے صفونه صفونه. تنبیه یوم ظرف د لایملکون دے لَا يَتَكَلَّمُوْنَ خبرے به نهٔ کوی خلق په باب د شفاعت کښ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ مګر خبرے به کوی هغه څوك چه اذن وکړی خدائ دهٔ ته په شفاعت سره وَقَالَ صَوَابًا ﴿۳۸﴾ او ویلی وی مشفوع لهٔ په دنیا کښ لا اله الا الله. ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ دغه ورځ رښتیا ده فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ نو پس هغه څوك چه رضائے وشی نیسی اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿۳۹﴾ خدائ خپل ته د ګرځیدو په ایمان او په عمل نیک سره چه ځائ بیا موعی په جنت کښ اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ په تحقیق سره زهٔ ویروم تاسے عَذَابًا قَرِيْبًا ۚ له عذاب نزدے نه په اخرت کښ ځکه هغه څیز چه راتلونکے وی هغه نزدے وی يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ په هغه ورځ کښ چه وویني کافر مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ هغه څیز چه وړاندے لیږلے دے لاسونو دهٔ له سره نو تخصیص د لاسونو پاره ددے دے چه اکثر عملونه د دوئ نه واقع کیږی وَيَقُوْلُ الْكٰفِرُ او وبه وائ کافر په دغه ورځ باندے. وضع ئے کهٔ ظاهر په ځائ د مضمر کښ د پاره د ذم او چا ویلی دی مړ عام دے پس خاص ئے کهٔ ترے کافر نومراد له ما قدمت یدٰه څخه خیر اوشر دواړه دی او چا ویلی دی مراد له مړ نه مؤمن دے ځکه چه ذکر ئے کهٔ کافر پس له مړ څخه نومراد له ما قدمت څخه خیر دے يٰلَيْتَنِيْ اے کاشکے زهٔ كُنْتُ تُرٰبًا ﴿۴۰﴾ وے خاورے په دنیا کښ چه هیڅکله پیدا نشوے نهٔ وے او چا ویلی دی خاورے شوے وے په دے ورځ کښ چه پورته شوے نهٔ وے او چا ویلی دی. جمع به کړی خدائ تول حیوانات د پاره د قصاص پس خاورے به شی دوئ نو دے به وائ يٰلَيْتَنِيْ کنت ترابًا او چا ویلی دی مراد له کافره ابلیس دے پس دے به اارنو وکړی چه کاشکے وے له خاورو نه لکه آدم علیه السلام

عه یعنی هغه څوك چه ورلره شفاعت کړے شی ـ کتبه : صادق چیړهارے د آکوال ۱۳۷۴/۱۱/۲۸ھ

د پاڑہ ددے چہ ثواب ہم موند لے وے پہ مثل د اولاد د دۀ اوپہ حدیث کښ دی چہ من قرء عمّ سقاہ اللہ بردالشراب یوم القیٰمۃ ؕ

سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ ۴۶ اٰيَاتُهَا ۴۶ رُكُوْعُهَا ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالنّٰزِعٰتِ اوقسم دے پہ هغه راځکونکیو ملائکو باندے روح د کافرانو لرکہ غَرْقًا (۱) پہ قوت اوسختئ سرہ وَالنّٰشِطٰتِ اوسوکند دے پہ هغه ملائکو باندے چہ وباسی روح د مؤمنانو لرہ نَشْطًا (۲) پہ ویستلو نرموسرہ وَّالسّٰبِحٰتِ اوسوکند دے پہ هغه ملائکو باندے چہ جلتئ کوی پہ حکم د خدائ کښ سَبْحًا (۳) پہ جلتئ سرہ فَالسّٰبِقٰتِ پس سوکند دے پہ هغه ملائکو باندے چہ سبقت کوی سَبْقًا (۴) پہ سبقت سرہ پہ فرمان برداری د خدائ کښ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا (۵) پس سوکند دے پہ هغو ملائکو باندے چہ تدبیر کوی پہ کار د دنیا کښ اوجواب د قسم محذوف دے چہ لَتُبْعَثُنَّ دے معنیٰ ئے دا چہ خامخا به تاسے پورتہ کړے شی يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ (۶) هغه ورځ چہ وبہ خوزی خوزیدونکی یعنے وبہ لرزیدی غږ نہ اوزمکہ له هیبت د هغه ورځے نہ فـ دغه خوزیدونکی به پہ نفخہ اولی سرہ وی تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ (۷) د روستو د هغے نہ به راشی را تلونکی چہ نفخہ ثانیہ ده اوپہ مینځ د دواړو نفخو کښ به خلویښت کاله وی مګر پہ نفخہ اولی سرہ به حلق مړۀ کیږی اوپہ دوئمہ سرہ به ژوندی کیږی د وئ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ زړونہ د منکرانو پہ هغه ورځے وَّاجِفَةٌ (۸) ویریدونکی وی اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ (۹) سترګے د خاوندانو د زړونو به خواړے اوذلیلے وی له جهته د هیبت يَقُوْلُوْنَ وائی منکران له قیامت پہ دنیا کښ پہ استهزاء سرہ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ ایا مونږ به بیرته کرځیدونکی یُّوْنَ فِي الْحَافِرَةِ (۱۰) پہ حال اول کښ یعنی ژوندته پس له مرګه پس زیاتوالے ئے وکړ پہ انکار کښ اووئ ویلے ءَاِذَا كُنَّا اَيْ پہ هغه وخت کښ چہ وکړ کرځیدو مونږ ځ عِظَامًا نَّخِرَةً (۱۱) هډوکی زاړۀ نو بیا به پورتہ

عہ هغه چا چہ ولوست عمّ پہ شکی خدائ پہ دۀ یخ شراب پہ ورځ د قیامت ۱۲ عمہ ننخہ پوکی د شپیلئ د ۱۲ سراخیل ۴ ته وبیلے شی ۱۳

شو یعنی پورته به نهٔ شو قَالُوْا وویلے منکران وله بعث تِلْكَ اِذًا دغه رجوع خُمونږه به ژوبد ته په دغه وخت کښ كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿۱۲﴾ رجوع زیان ور کونکے وی یعنی که رښتیا شی پوښ ته کیدل خُمونږه پس مونږه به افسوس کوو حُکه چه مونږه ئے همیشه نکذیب کوو۔ او ویلے ئے دا په طریقه داستهزاء سره۔ پس حق تعالیٰ ووویلے سخت مهٔ کنړئ کار د قیامت حُکم چه فَاِنَّمَا هِیَ پس په تحقیق سره قیامت چه دے زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ یوا واز دے یعنی یو پوکے دے د اسرافیل علیه السلام۔ چه بتول مړی به پرے ژوندی شی فَاِذَا هُمْ پس نا کهانه وی به دوئ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾ پرځ د زمکه باندے پس له مرګه اوچا ویلی دی ساهرهٔ نامه د زمکے ده په شام کښ چه نزدے ده بیت المقدس ته اوچا ویلی دی نامه د دوزخ ده هَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ مُوْسٰى ﴿۱۵﴾ ایا نهٔ دَ راغلے تاته اے محمدؐ بلکه راغلے ده خبره د موسیٰ ۴ پارهٔ ددے چه تسلی ورکړے زړهٔ خپل لره په تکذیب د قوم خپل سره اِذْ نَادٰىهُ په هغه وخت کښ چه ندا وکړه موسیٰ علیه السلام رَبُّهٗ خدائ د دهٔ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿۱۶﴾ په میدان پاك کښ چه نوم ئے طوی دے اِذْهَبْ لاړشه په پیغمبرئ سره اِلٰى فِرْعَوْنَ فرعون تهٔ حُکه چه اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۱۷﴾ په تحقیق سره فرعون له حده تیر شوی دے په کفر او فساد کښ فَقُلْ هَلْ لَّكَ پس ووایه فرعون ته ایا شته تالره مینه اِلٰۤى اَنْ تَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ دے ته چه ځان پاك کړے له شرکه او له عصیانه په ایمان سره وَاَهْدِیَكَ اوچه لاره وښائم تا ته اِلٰى رَبِّكَ معرفت د خدائ سنا ته فَتَخْشٰى ﴿۱۹﴾ پس ویریږے به ته له عذابه د خدائ حُکه چه ویره له خدائ نه وی مګر په معرفت سره لکه چه ویلی دی انما یخشی الله من عباده العلمٰؤا معنی داچه په تحقیق سره ویریږی له خدائ له بندګانو د دهٔ نه عالمان په معرفت د خدائ باندے پس لاړ و موسیٰ ۴ په فرمان د خدائ فرعون ته نو د دهٔ ترے طلب د معجزے وکهٔ فَاَرٰىهُ پس وښود له موسیٰ علیه السلام فرعون ته الْاٰیَةَ الْكُبْرٰى ﴿۲۰﴾ معجزه لویه چه عصا وه فَكَذَّبَ پس تکذیب وکهٔ فرعون ۴ له نومیتے ئے کهٔ په ساحر سره وَعَصٰى ﴿۲۱﴾ او عاصی شهٔ له فرمان د خدائ نه ثُمَّ اَدْبَرَ پس مخ ئے وکړځوو له ایمانه یَسْعٰى ﴿۲۲﴾ کوشش ئے

کولو په فساد سره په زمکه باندے فَحَشَرَ پس جمع ئے کړل ساحران او لښکر خپل فَنَادٰى (۲۳) پس اواز ئے وکړ دوئ ته په هغه ځائ چه جمع شوی وو فَقَالَ پس وے ویلے دا سے چه اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى (۲۴) زۀ یم رب لوئے ستاسے یعنی بتان چه په صورت ځما دی قبول خدایان ستاسے دی اوزۀ لوئی یم دوئ نه فَاَخَذَهُ اللّٰهُ پس ونیولو خدائ فرعون لره نَكَالَ الْاٰخِرَةِ په عذاب د اخرت سره چه احراق دے وَالْاُوْلٰى (۲۵) او په عذاب د دنیا سره چه اغراق دے اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ په تحقیق سره په نیولو د فرعون کښ لَعِبْرَةً خامخا پند دے لِّمَنْ يَّخْشٰى (۲۶) هغه چا لره چه ویریږی له خدائ ءَاَنْتُمْ ایا تاسے اے منکرانو له قیامت اَشَدُّ خَلْقًا سخت یئ له پیدا وخت اَمِ السَّمَآءُ یا اسمان سخت دے له جهته د خلقت پس بیان کړ خدائ کیفیت د خلقت ئے نو وے ویلے بَنٰهَا (۲۷) جور کړ یدے خدای اسمان لره رَفَعَ سَمْكَهَا چه پورته کړے دے چهت د اسمان فَسَوّٰىهَا (۲۸) پس برابر کړے ئے دے بے عیبه بے نقصانه وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا او تیاره کړے ئے ده شپه د اسمان وَاَخْرَجَ ضُحٰهَا (۲۹) او بهر کړے ئے ده وړځ له اسمان تنبیه اضافت د شپے او د ورځے ئے وکړ ۀ اسمان ته ځکه چه شپه سورے د اسمان دے او وړځ ډیوه د اسمان ده وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ او زمکه ئے پس له پیدا ویدو د اسمان دَحٰهَا (۳۰) غوړولے ده جمهور وعالمانو ویلے دی چه پیدا وخت د زمکے پروے وود خلقت د اسمانه اوغوړول ئے روستی دی یعنی خلقت د زمکے د کهیے ئے کړے وو دوه زره کاله وړومبے د پیدا ویدو د اسمان نو پس ترے خلقت د اسمان شوے دے او زمکه له کهیے څخه پرځ د اوبو باندے وغوړوله اَخْرَجَ مِنْهَا او وے ویستے له زمکے نه مَآءَهَا اوبۀ دوے په جاری کولو د دریابونو او چینو سره وَمَرْعٰهَا (۳۱) او ویستلے ئے ده کیاه د زمکے نه وَالْجِبَالَ اَرْسٰهَا (۳۲) او غرونه ئے ثابت کړل پرځ د زمکے باندے او اثبات د غرونو او جاری کول د دولو او اظهار د چراکاه مَتَاعًا لَّكُمْ د پاره د نفع ستاسے وَلِاَنْعَامِكُمْ (۳۳) او د پاره د نفع د چارپایانو ستاسے فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى (۳۴) پس هغه وخت کښ بلا ویه چه نفخه ثانیه ده او چاوبلی دی طامة کبرای هغه ساعت

دے چه روان کړے شی جنتیان جنت لره او دوزخیان دوزخ لره يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ په دغه ورځ به یادوی سړے مَا سَعٰى (۳۵) هغه خیر چه کړے وو ده یعنی اوّل اعمال به لیکلے ورکه چه وئے لولی وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ اوظاهر به کړے شی دوزخ لِمَنْ يَّرٰى (۳۶) هرلیدونکی ته حُکه چه ظاهر به بنکاریږی فَاَمَّا مَنْ طَغٰى (۳۷) پس هر څوك چه له حده تیر شوے وی په کفر سره وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا (۳۸) اوغوره کړے ئے وی ژوند دد نیا په اخرت باندے په اتباع د شهوت سره فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى (۳۹) پس په تحقیق سره دوزخ ځائے د استوربنے دوئ دے وَاَمَّا مَنْ خَافَ اوهر څوك چه ویریږی مَقَامَ رَبِّهٖ له اودریدو خپلو نه په نزد د خدائ وَنَهَى النَّفْسَ اومنع کوی نفس عَنِ الْهَوٰى (۴۰) له ارزوډ نفس فَاِنَّ الْجَنَّةَ پس په تحقیق سره جنت چه دے هِيَ الْمَاْوٰى (۴۱) هغه ځای دارام ددهٔ دے حاصل دادے چه عاصی به په اوکښی وی اومطیع به په جنت کښی وی يَسْـَٔلُوْنَكَ سوال کوی کافران دمکے له تانه اے محمدؐ عَنِ السَّاعَةِ له قیامت او وائی چه اَيَّانَ مُرْسٰىهَا (۴۲) کله به وی اقامت د قیامت فِيْمَ اَنْتَ په څهٔ خیز کښی ئے تهٔ اے حضرتؐ مِنْ ذِكْرٰىهَا (۴۳) له یادولو د قیامت یعنی تهٔ خبر نه ئے په راتلو د قیامت باندے اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا (۴۴) خدائ ستانه دے علم د قیامت یعنی هیڅوك ترے خبر نهٔ دے اِنَّمَا اَنْتَ په تحقیق سره تهٔ مُنْذِرُ ویروونکے ئے مَنْ يَّخْشٰىهَا (۴۵) هغه چاله چه ویریږی له قیامت گانَّهُمْ گویا کهٔ کافران دمکے يَوْمَ يَرَوْنَهَا په هغه ورځ چه ووینی قیامت لره لَمْ يَلْبَثُوْٓا درنگ ئے نهٔ ووکړے په دنیا کښی اِلَّا عَشِيَّةً مگر په قدر د مابنام سره اَوْ ضُحٰىهَا (۴۶) یا په قدر د څاښت دهغه ورځے چه مابنام ئے ذکر شوے دے یعنی له جهته دهیبته دهغه ورځے ژوندون خپل به هیرکا اودارنگے به وگڼی چه نه وو مونږه په دنیا کښی مگر په قدر د څاښت یا د مابنام د یوے ورځے سره۔

سُوْرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۴۲ رُكُوْعُهَا ۱

روایت دے چه عبد الله حُوئی دا مکتوم مجلس د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلو او په دغه وخت کښی پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام په بلنه د اشرافو د عمی بوبانده مشغول وو او عبد الله ۳ له جهته د نابینایئ خپله په دغه حال باندے خبرنه ووو ویلے یا رسول الله عَلِّمنی مما علّمك الله او دوباره ئے وویلے پس ملول شو پیغمبر علیه السلام په قطع کولو د کلام سره ۱۰ او وچولے مبارك ئے تریُو کهٔ او مخ ئے وگرځولو له هغهٔ نه نو په هغه ساعت کښی جبریل علیه السلام وحی راوړه عَبَسَ وُچولے تریُو کهٔ محمد علیه السلام وَتَوَلّٰی ۱ او مخ ئے وگرځاوو اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰی ۲ چه راغلو دهٔ له ره نابینا یعنی عبد الله وَمَا یُدْرِیْكَ اوځهٔ خبر پوهه کړے تهٔ اے محمد ۳ - لَعَلَّهٗ بنائیږی چه ابن ام مکتوم یَزَّكّٰۤی ۳ پاك شی له گناهونو نه په سبب د هغه خیر چه واوری له تانه اَوْ یَذَّكَّرُ او یا پند ونیسی فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰی ۴ پس نفع به ورسوی پند ورکول ستا عبد الله له ره اوکهٔ تر پوهه ۵ نو تولّی به دِ نه وکړے اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰی ۵ هغه څوك چه وی غنی په مال سره فَاَنْتَ لَهٗ پس تهٔ هغهٔ ته تَصَدّٰی ۶ مخ کوے له جهته د حرص په ایمان د هغه باندے وَمَا عَلَیْكَ اونشته په تا باندے گناه اَلَّا یَزَّكّٰی ۷ په دے چه مستغنی پاك نشی په اسلام سره حُکه چه تا باندے رسول ئے دی فقط وَ اَمَّا مَنْ جَآءَكَ اوهر چه هغه څوك دی چه راځی تانه چه یَسْعٰی ۸ تلوار کوی په طلب د خیر کښی یعنی ابن ام مکتوم وَهُوَ یَخْشٰی ۹ اوحال دا دے چه هغه ویریږی د خدائ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰی ۱۰ پس تهٔ اے حضرته له هغه څخه مشغولیږے له کافرانو سره روایت دے چه پیغمبر علیه السلام پس له دے آیت هیڅ کلمے مخ مبارك خپل تریو کړے نهٔ وُ فقیر ته کَلَّاۤ مهٔ کوه دا سے دوباره حُکه چه اِنَّهَا په تحقیق سره دا سورت اویا دا آیتونه چه دی تَذْكِرَةٌ ۱۱ پند دے خلقو له فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۱۲ پس هر څوك چه رضائے وشی یا دوی د قرآن له ره دا آیتونه ثابت کړے شوی دی فِیْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۱۳ په صحیفو بزرگو کښی په نزد د خدائ چه

عه یعنی اے رسوله د خدائ وښایه ماته بعضے له هغه څیزه چه خوله دے تانه خدائ ۱۲

لوح محفوظ دے مَّرْفُوْعَةٍ چه بلند قدره دے مُّطَهَّرَةٍ ﴿۱۴﴾ پاکے کړے شوی دی له هغه خبرو څخه چه له خدایه نهٔ دی بِاَيْدِيْ سَفَرَةٍ ﴿۱۵﴾ په لاس د لیږ ونکیو کښ یعنی دهغه ملائکو کښ چه له لوح محفوظ څخه لیکی كِرَامٍ چه لوئی دی په نزد دخدائ بَرَرَةٍ ﴿۱۶﴾ اونیکو کاره دے قُتِلَ الْاِنْسَانُ په لعنت کړے شوے دے سړے مراد نړے کافر دے اوچا دیلی دی چه مراد ترے عتبه دے مَآ اَكْفَرَهٗ ﴿۱۷﴾ څهٔ څیز کافر کړهٔ دهٔ لره اندیښنه نهٔ کوی چه مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿۱۸﴾ له څهٔ څیزه پیدا کهٔ خدائ دهٔ لره پس بیان کهٔ خدائ هغه څیز نوے ویلے مِنْ نُّطْفَةٍ له څاڅکی د منی څخه خَلَقَهٗ پیدا ئے کهٔ ده لره فَقَدَّرَهٗ ﴿۱۹﴾ پس اندازه ئے کړه اندامونه اوهیئت دهٔ لره په رحم د مور کښ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ﴿۲۰﴾ پس اسانه ئے کړه لاره دهٔ په فراخ کولو دخپلے د رحم سره ثُمَّ اَمَاتَهٗ پس مړ کوی دهٔ لره فَاَقْبَرَهٗ ﴿۲۱﴾ پس په خاورو کښ دفن کوی دهٔ لره او په مثل د مردارے ئے نهٔ غورځوی په لاره کښ ثُمَّ اِذَا شَآءَ پس هر کله چه رضا وشی دخدائ اَنْشَرَهٗ ﴿۲۲﴾ ژوندے به کړی دهٔ لره كَلَّا لَمَّا يَقْضِ حقه ده ونهٔ کړهٔ کافر مَآ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾ هغه څیز چه خدائ فرمائیلے وو دهٔ لره یعنی کافر په عهد او میثاق باندے وفا ونه کړه په ایمان اوطاعت سره۔ **روایت دے** چه هره بیان کړل خدائ نعمتونه په نفس د انسان کښ له اوله پیدا وخته ئے تر آخره پورے نو اوس بیان کوی دهغه نعمتونو چه ورته ئے حاجت کیږی فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ پس نظر دِ وکړی سړے اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿۲۴﴾ خوراک چل ته چه څرنګه ئے تیار کړے دے دهٔ لره داسے چه اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ په تحقیق سره مونږه توئی کړی دی اوبهٔ له وریځے نه صَبًّا ﴿۲۵﴾ په تویولو سره ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ پس څیرے کړے مو دے زمکه شَقًّا ﴿۲۶﴾ په څیرولو سره فَاَنْۢبَتْنَا پس زرغونه موکړه فِيْهَا په زمکه کښ حَبًّا ﴿۲۷﴾ دانه دپاره دخوراک ستاسے وَّعِنَبًا او انګور وَّقَضْبًا ﴿۲۸﴾ اوسیو (منړه) وَّزَيْتُوْنًا اوخونه چه پکښ نفع دیرے دی وَّنَخْلًا ﴿۲۹﴾ اوخرما وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿۳۰﴾ اوباغونه دیرګنړ وَّفَاكِهَةً او میوے لوندے اوتازه وَّاَبًّا ﴿۳۱﴾ اومیوے وچے

او چا ویلی دی چراه کاه د چارپایانو اودغه ټول څیزونه مَتَاعًا لَّكُمْ د پاره د نفع ستاسے دی وَلِاَنْعَامِكُمْ (۳۲) او پاره د نفع د چارپایانو ستاسے دی حُکه چه تسمونه ذکر کړے شوی بعضے طعام دے او بعضے چراه کاه دے فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ (۳۳) پس په هغه وخت کښی چه واښی اواز سخت چه کنړوی به غوږونه ددوئ چه نفخه ثانیه ده يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ په هغه ورځ چه به تختی سړے مِنْ اَخِيْهِ (۳۴) له وروره خپله سره د مهربانی د وروی په وروړ باندے وَاُمِّهٖ اوله مور خپلے سره له ډیرے مینے ددغے په خوئ باندے وَاَبِيْهِ (۳۵) اوله پلاره خپله سره له ډیره مشقته ددغه په فرزند باندے وَصَاحِبَتِهٖ اوله ښځے خپلے چه هغه غم خواره ددغه وه وَبَنِيْهِ اوله خپلو خپلو چه ټکړے د زړه ئے وے حُکه به تختی چه مشغول به وی له کاره خپله سره او پوهه به شی چه دوئ ماته نفع نه رسوی او چا ویلی دی تختی به حُکه چه ډیر ډیری به له طلبه ددوئ نه حق خپل لره لِكُلِّ امْرِئٍ د پاره دهر سړی به مِّنْهُمْ له اهل قیامت يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ كبن شَاْنٌ یو کار وی چه يُّغْنِيْهِ (۳۷) بے پروا کوی به خلق یو تر بله وُجُوْهٌ ډیر مخونه به يَّوْمَئِذٍ په هغه ورځ كبن مُّسْفِرَةٌ (۳۸) روښانه وی له نوره دایمانه ضَاحِكَةٌ خندیدونکی مُّسْتَبْشِرَةٌ (۳۹) او خوشحاله په سبب دخلاصی سره له عذابه وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ او ډیر مخونه په دغه ورځ وی به عَلَيْهَا غَبَرَةٌ (۴۰) په هغوئ باندے کرد او تیارۀ تَرْهَقُهَا رسیدلی به وی هغوئ ته قَتَرَةٌ (۴۱) تور والے اُولٰٓئِكَ خاوندان دغه حال چه دی هُمُ الْكَفَرَةُ هم دوئ دی کافران په حقوقو دخدائ باندے الْفَجَرَةُ (۴۲) او بدکردارۀ په حقوقو د عبادو کښی پس هر کله چه جمع کړے دے دوئ کفر سره فجور نو جمع به کړی خدائ تور طلی د مخونو سره ئے کرد. په حدیث کښی دی چه مَنْ قرء سورة عبس جاء يوم القيمة و وجهه ضاحكة مستبشرة ؛ ؛ ؛

عه یعنی هغه چا چه ولوست سورة عبس رابه شی دغه قاری په ورځ د قیامت اوبه ئے خندیدونکی او خوشحاله وی ۱۲

سُوْرَةُ التَّكْوِيْر ۸۱ مکیۃ ۷ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتہا ۲۹ رکوعہا ۱

اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝۱ پہ هغه وخت کښ چه نمر توره شی یعنی روښنائی ترے لاړه شی
وَاِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ ۝۲ او په هغه وخت کښ چه ستوری پریږدی چې په زمکه باندے
وَاِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝۳ او په هغه وخت کښ چه غرونه روان کړے شی له خانونو خپلونه
وَاِذَا الْعِشَارُ اوپه هغه وخت کښ چه اوښے بلاربے دلسو میاشتو عُطِّلَتْ ۝۴ پریږدے شی
یعنی خاوندان به ئے پریږدی او ساتنه به ئے نه کوی حُکه چه دوئی به مشغول وی دنفسونو
خپلوسره وَاِذَا الْوُحُوْشُ اوپه هغه وخت کښ چه جانوران وحشیان حُشِرَتْ ۝۵ جمع
کړے شی یو له بله سره او نه به وی دوئی لږه طاقت دضرر رسولو یو تر بله وَاِذَا الْبِحَارُ
اوپه هغه وخت کښ چه دریابونه سُجِّرَتْ ۝۶ کړے شی تلخ د شیرین سره یعنی چه
یو دریاب شی وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ ۝۷ اوپه هغه وخت کښ چه نفسونه جوړه کړے
شی یعنی هر څوك له مثل خپل سره یوځائی کړے شی نیکوکار له نیکوکار سره او بدکار له
بدکردار سره اوچاویلی دی چه جوړه کړے شی ارواح له اجسادو سره وَاِذَا الْمَوْءٗدَةُ
اوپه هغه وخت کښ چه جینکئ ژوندے ښخے کړے شوے سُئِلَتْ ۝۸ وپوښتیدلے شی
یعنی له مرکۀ ددوئی نه به سوال وکړی چه بِاَیِّ ذَنْۢبٍ قُتِلَتْ ۝۹ په کومے گناه سره وژلے
شوے ده روایت دے چه عادت داکثرو عربو په جاهلیت کښ داوُ وچه لونړه به ئے ژوندئ
ښخولے. له ویرے دخدائ نه اویاله جهته دعار دزُوم وَالی نه پس حق تعالیٰ وفرمایل
چه ددے قتل سوال به وکړے شی **فائده** په دے کښ اشارت دے دے ته چه اطفال
دمشرکانو به نه عذابیږی اوبل دے ته چه عذابول بغیر له گناه نخه نه وی وَاِذَا
الصُّحُفُ نُشِرَتْ ۝۱۰ اوپه هغه وخت کښ چه کاغذونه داعمالو ددوئی وسپرودے
شی حُکه چه دغه ناسے نه ښخے شی په نزد دمرګ اوسپرودے به شی په وخت دحساب کښ
وَاِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ ۝۱۱ اوپه هغه وخت کښ چه اسمان وویستلے شی له ځایه خپله وَاِذَا

الْجَحِيْمُ او په هغه وخت کښ چه دوزخ سُعِّرَتْ ﴿۱۲﴾ بل کړے شی یعنی په قهر د خدائ کرم شی وَاِذَا الْجَنَّةُ اُزْلِفَتْ ﴿۱۳﴾ او په هغه وخت کښ چه جنت نزدے کړے شی دوستانو د خدائ ته. جواب د اِذَا دادے چه عَلِمَتْ نَفْسٌ پوهه به شی هر نفس په وخت د دغه څیزونو ذکر کړے شویو کښ چه ورځ د قیامت ده مَّآ اَحْضَرَتْ ﴿۱۴﴾ په هغه څیز باندے چه حاضر شوے وو د هغه تله خیره او له شره فَلَآ اُقْسِمُ پس سوګند کوم زهٔ. بِالْخُنَّسِ ﴿۱۵﴾ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ﴿۱۶﴾ په هغه ستورو باندے چه پټیږی په ورځ کښ او ځی ځایونو د پرېوتلو خپلو ته وَالَّيْلِ اِذَا عَسْعَسَ ﴿۱۷﴾ او سوګند دے په شپه باندے په هغه وخت کښ چه وړاندے راشی او هوا تور کړی وَالصُّبْحِ اِذَا تَنَفَّسَ ﴿۱۸﴾ او سوګند دے په صبا باندے په هغه وخت کښ چه وخیژی او جواب د قسم دادے اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ په تحقیق سره قرآن ویل د لیږلی شوی دی کَرِيْمٍ ﴿۱۹﴾ چه لوئ دے په نزد د خدائ چه هغه جبریل علیه السلام دے ذِىْ قُوَّةٍ چه خداوند د قوت دے په قلع د مؤ تفکا تو کښ عِنْدَ ذِى الْعَرْشِ چه په نزد د خداوند د عرش مَكِيْنٍ ﴿۲۰﴾ خاوند د مرتبے دے مُّطَاعٍ ثَمَّ فرمان ئے وړے شوے دے په اسمانونو کښ یعنی تولے ملائکے فرمان د هٔ وړی اَمِيْنٍ ﴿۲۱﴾ امانتګرد ے په وحی کښ وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ ﴿۲۲﴾ عطف دے په جواب د قسم باندے یعنی نه دے صاحب ستاسے چه محمد علیه الصلوٰة والسلام دے لیونے وَلَقَدْ رَاٰهُ او په تحقیق سره لیدلے وو حضرت جبریل علیه السلام لره په صورت اصلی د هغه سره بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ﴿۲۳﴾ په کنارهٔ روښانو باندے چه خائ د ختلو د نمر دے وَمَا هُوَ اونهٔ دے محمد علیه السلام عَلَى الْغَيْبِ په هغه څیزونو پسے باندے چه وحی وررسه وشی بِضَنِيْنٍ ﴿۲۴﴾ بخیل چه تعلیم تاسے ته نهٔ کوی وَمَا هُوَ او نهٔ دے د قرآن بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿۲۵﴾ ویل د شیطان شرلے شوی فَاَيْنَ تَذْهَبُوْنَ ﴿۲۶﴾ پس چرته ځئ تاسے اے کافرانو قرآن هُوَ نهٔ دے اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۷﴾ مکر پند دے عالمیانو لره لِمَنْ شَآءَ هغه چا لره چه رضائے وشی مِنْكُمْ له تاسے څخه د اسے

اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿۲۸﴾ چه برابر شی په لاره د خدائ باندے وَمَا تَشَآءُوْنَ اونهٔ اختیار وئ تاسے استقامت اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ مگر په هغه وخت کښ چه اختیار وی خدائ استقامت سنا سے چه رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۹﴾ مالك د خلقو تولو دے اوُ په حدیث کښ دی چه مَنْ قرء سورة التكوير اعاذه الله تعالى ان يفضحه حين تَنْشُرُ صَحِيْفَتُهٗ ۲

سُوْرَةُ الْاِنْفِطَار مكية ۱۲ ۸۲ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — آیاتها ۱۹ رکوعها ۱

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿۱﴾ په هغه وخت کښ چه اسمان څیرے شی وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ﴿۲﴾ او په هغه وخت کښ چه ستوری پریوځی وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿۳﴾ او په هغه وخت کښ چه دریابونه روان کړے شی بعضے بعضوته او ټول یو دریا شی وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿۴﴾ او په هغه وخت کښ چه لاندے باندے کړے شی یعنی چه خاورهٔ ترے لرے شی اوخارج شی ترے مړی اوجواب د اِذَا دادے عَلِمَتْ نَفْسٌ پوهه به شی هر نفس نیکوکاره او بدکاره مَّا قَدَّمَتْ په هغه څیز باندے چه کړے ئے وی له عبادت اوصدقاتونه وَاَخَّرَتْ ﴿۵﴾ اوپه هغه چه وړ وستو ترے پاتے شوے وی له نیکئ اوبدئ نه يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اے سړیه مَا غَرَّكَ څهٔ څیز مغروړ کړے تهٔ چه کافر بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ﴿۶﴾ په رب خپل باندے چه لوئے دے الَّذِيْ خَلَقَكَ هغه خدائ چه پیدا کړے ئے تهٔ له عدم څخه فَسَوّٰىكَ پس برابرے کړل اندامونه ستا له بعضو سره یعنی پیدائے کهٔ یولاس په اندازه دبل سره اویو سترګه په اندازه دبلے سره **فائده** په دے کښ اشارت دے دے نه چه هر کله هغه ذات توانادے په دغه شان سره نو توانا دے په پیدا کولو سره دیارهٔ دحساب اود جزا فِيْٓ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ په هر صورت سره چه رضاوه د خدائ رَكَّبَكَ ﴿۸﴾ مرکب ئے کړے تهٔ یعنی په صورت بناُسته او قبیحه اوطویل اوقصیر سره اولفظ مَا زیاتی دے

عه چاچه ولوستلو سورة التكوير و به ساتی خدائ تعالی دهٔ لره له رسوایئ څخه په هغه وخت کښ چه پرانستے به شی عمل نامه ددهٔ ۱۲

كَلَّا نهٔ ده داسے لکه چه گمان کوئ تاسے چه قیامت نشته بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بلکه دروغ گوئ تاسے اے اهل مکه بِالدِّيْنِ ۝٩ په ورځ د جزا باندے له جهته د عناد پس نصدیق نه کوی ثواب اوعقاب لره وَاِنَّ عَلَيْكُمْ او په تحقیق سره په عملونو اوقولونوستاسے باندے لَحٰفِظِيْنَ ۝١٠ خامخا ساتونکی دی له ملائکو څخه كِرَامًا چه لوئ دی په نزد د خدائ ۔ كَاتِبِيْنَ ۝١١ لیکونکی دی افعالو اوتاوالو ستاسے لره یعنی تاسے دروغ وایئ په ورځ دقیامت باندے او ملائکے لیکی عملونه ستاسے دپاره ددے چه جزا درکړے شی موافق داعمالو سره يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝١٢ پوهیږی دوئ په هغه څیز چه کوئ تاسے له خیر اوله شر څخه پس بیانوی هغه څیز دپاره دهغے لیکی اِنَّ الْاَبْرَارَ په تحقیق سره مؤمنان به لَفِيْ نَعِيْمٍ ۝١٣ په نعمتونو دجنت کښ وی وَاِنَّ الْفُجَّارَ اوپه تحقیق سره کافران به لَفِيْ جَحِيْمٍ ۝١٤ په اورسیزونکی کښ وی يَّصْلَوْنَهَا داخل به شی دوئ دغه اور ددوزخ کښ يَوْمَ الدِّيْنِ ۝١٥ په ورځ دقیامت کښ وَمَا هُمْ عَنْهَا اونهٔ به وی دوئ له دوزخ څخه بِغَآئِبِيْنَ ۝١٦ بهر وتونکی وَمَآ اَدْرٰىكَ اوځه څیز پوهه کړے تهٔ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝١٧ څهٔ څیز دے قیامت ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝١٨ پس څهٔ څیز پوهه کړے تهٔ چه څهٔ څیز دے قیامت **فائده** مکرر ه ځے کړه دغه ورځ له جهته دتاکید اوددهشت پس بیان ځے کړهٔ په دے قول سره يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ هغه ورځ دهٔ چه نه به مالک کیږی هیڅوك لِنَفْسٍ د پاره دهیڅ نفس شَيْئًا ط د یوخیز یعنی هیڅوك به نه توانیږی چه په قوت خپل سره نفع او یاضرر رسوی رسولی حُكْم چه هر یو به مشغول وی له نفس خپل سره وَالْاَمْرُ اوحکم به يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ۝١٩ په دغه ورځ کښ خاص خدائ لره وی او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الفطرت كتب الله له بعدد كل قطرة من السماء حسنة و بعدد كل قبر حسنة

عه صفه چاچه ولوست سورة الفطرت دبه لیکی خدائ دهٔ لره په شمار د هر څاڅکی سره چه نازلیږی له آسمانه نیکی او په شمار د هر قبر سره نیکی ۱۲

سورة التطفيف مكية ۸۳ ۳۶ آیاتها رکوعها

بسم الله الرحمن الرحيم

روایت دے چه اهل دمدینے به کیل او وزن کښ خیانت کولو هر کله چه پیغمبر علیه السلام له مکے نه مدینے ته هجرت وکړو په مینځ دلارے کښ دا سورت نازل شۀ وَيْلٌ کنده دوزخ ده لِّلْمُطَفِّفِينَ ① دپاره دکمی کونکو په کیل او وزن کښ الَّذِينَ هغه کسان إِذَا اكْتَالُوا په هغه وخت کښ چه اخلی عَلَى النَّاسِ له خلقو څخه خپل ځان لره

فائده. علی په معنیٰ د مِنْ دے. يَسْتَوْفُونَ ② پوره او تمامه ئے اخلی وَإِذَا کالُوهُمْ او په هغه وخت کښ چه پیمانه کوی دوئ خلقو لره أَوْ وَّزَنُوهُمْ او یا وزن کوی دوئ خلقو لره يُخْسِرُونَ ③ کم ورکوی اوزیان ورته رسوی روایت دے هر څوك چه په کیل اووزن کښ کمے کوی نو په ورځ دجزا به په دوزخ کښ وغورځولے شی اوپه مینځ ددووغړو نوداورکښ به ځینولے وی اوورته به وویلے شی كِلْهُمَا وَزِنُوهُمَا. أَلَا يَظُنُّ ایا یقین نۀ کوی أُولَٰئِكَ دغه ټولے چه دیر اخستو نکے اوکم ورکونکی دی داسے چه أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ④ په تحقیق سره دوئ پورته کیدونکی دی لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ⑤ دپاره د حساب دورځے لوی يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ په هغه ورځ چه وبه درپیږی خلق لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ⑥ دپاره دحکم دخدائ دعالمیانو كَلَّا مه کوئ تطفیف اوغفلت له قیامت پس بیانوی خائ دفجارو داسے چه إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ په تحقیق سره اعمالنامے دکافرانو لَفِي سِجِّينٍ ⑦ په سجین کښ دی فائده مستی ئے کړه اعمال نامه دکافرانو په سجین سره له دے وجهته چه سجین وزن فعیل دے په معنیٰ د بند سره او دغه کاغذ هم سبب دبندوالی دے په دوزخ کښ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ ⑧ اوخه څیز پوهکړے تۀ چه څۀ دے سجین كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ⑨ یوکاغذ دے لیکلے شوے چه هر څوك ئے ووینی پرے پوهیږی چه په

ه یعنی په هغه څیز چه پیمانه کولے شی په اوکی سره لکه غنم، وریشے شوے ۱۲ سه یعنی په هغه څیز کښ چه تلے شی په تله باندے سه یعنی پیمانه کړه دادواړه غږونه اووے تله - په حدیث کښ راغلی دی الصلوة مکیال فمن وفی وفی له ومن طفف فنظر ما قال الله تعالیٰ فی القرآن ۱۲

کښ خیر نشته دے وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ افسوس دے په هغه ورځ کښ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ دروغ ویونکو لره الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ هغه کسانو لره چه دروغ وائی بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿١١﴾ په ورځ د جزا او د حساب باندے وَمَا يُكَذِّبُ بِهِ او دروغ نه وائی په دغه ورځ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ مګر هر ظالم او ګنهکار إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ په هغه وخت کښ چه ولوستے شی په معتدٍ اثیم باندے آيَاتُنَا ایتونه زمونږ قَالَ اَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وائی له پیړه جهل چه دا قصے د پخوانیو دی كَلَّا نه دا داسے نه دی چه وائی بَلْ ران بلکه زنګ غفلت رسیدلے دے عَلَىٰ قُلُوبِهِم په زړونو د دوئ باندے مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ په سبب د هغه عمل سره چه کوی ځ دوئ له معصیت څخه یعنی په سبب د ګناهونو سره زړونو ته زنګ نیولے دے لکه چه په حدیث کښ دی اَنَّ العبد کلما اذنب ذنبا حصل فی قلبه نکتةٌ سوداءُ حتی یسود قلبه، كَلَّا نه دا داسے نه دی اِنَّهُمْ ریښتیا ده چه دوئ به عَن رَّبِّهِمْ له دیدار د خپل یَوْمَئِذٍ په هغه ورځ کښ لَمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ منع کړے شی. فائده: په دے آیت کښ اشارت دے دے ته چه مؤمنان به وینی رب خپل ثُمَّ پس له منع له لیدلو د رب خپل إِنَّهُمْ په تحقیق سره دوئ لَصَالُو الْجَحِيمِ ﴿١٧﴾ داخل به کړے شی دوزخ ته ثُمَّ يُقَالُ پس وبه ویلے شی یعنی ملا ټکے زبانیه به دوئ ته وائی هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ دا هغه عذاب دے چه وئ تاسے په دنیا کښ په دے باندے تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ دروغ ویونکی كَلَّا نه دا داسے نه دی اِنَّ كِتَابَ الْأَبْرَارِ حقه ده په تحقیق سره کاغذونه د نیکوکارانو چه دی یعنی د هغه کسانو چه تطفیف نه کوی په کیل او وزن کښ او ایمان راوړی په ورځ د قیامت باندے لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ په علیین کښ وی. په اوم آسمان لاندے د عرش فائده: مسلے ځ کړه عملنامه د ابرارو په علیین سره څکه چه علیین وزن فعیل دے په معنی د علو سره او دغه کاغذهم سبب د پورته درجے دے په جنت کښ وَمَا أَدْرَاكَ او څهٔ خبر پوهه کړے تهٔ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ څهٔ خبر دے علیون كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ یو کاغذ دے لیکلے شوے چه

عه په تحقیق سره بنده هر کله چه وکړی ګناه حاصلیږی په زړه د ده کښ نکته تور ه ترهغه پورے چه توب شی زړهٔ د ده ۱۲

هر څوك ئے وویی پوهه به شی چه په دے کښ د یر خیرد ے یُشۡهَدُهُ الۡمُقَرَّبُوۡنَ ﴿۲۱﴾ حاضریږی هغه کتاب، ته ملائکے مقرّبے چه اوسیدو نکے د علیین دی اوچا ویلی دی حاضریږی عملونو د نیکانو ته ملائکے مقربے د هراسمان په هغه وخت کښ چه عمل ئے پورته کیږی ۔ اِنَّ الۡاَبۡرَارَ لَفِیۡ نَعِیۡمٍ ﴿۲۲﴾ په تحقیق سره نیکان به په نعمتونو د جنت کښ وی عَلَی الۡاَرَآئِكِ په تختونو مکلّلو باندے یَنۡظُرُوۡنَ ﴿۲۳﴾ نظر به کوی باغونو د جنت ته د پاره خوشحالئ تَعۡرِفُ فِیۡ وُجُوۡهِهِمۡ پیژنے به ته اے لیدونکیه په مخونو د دوئ کښ نَضۡرَةَ النَّعِیۡمِ ﴿۲۴﴾ تازگی د نعمتونو د جنت یُسۡقَوۡنَ څښتولے به شی دوئ باندے مِنۡ رَّحِیۡقٍ لہ شرابو پاکولہ خیری نه مَّخۡتُوۡمٍ ﴿۲۵﴾ خِتٰمُهٗ مِسۡكٌ ؕ مهرکړے شوی به وی لوښی د هغه شرابو په مښکو سره په خائ د موم اوچا ویلی دی موند لے به شی بوی د مښکو په نزد د خلاصی د شرابو وَفِیۡ ذٰلِكَ اوپه دے شرابو پاکو کښ فَلۡیَتَنَافَسِ الۡمُتَنَافِسُوۡنَ ﴿۲۶﴾ پس بنائیږی چه مینه اورغبت د وکړی رغبت کونکی اودغه رغبت کیږی په جلئ سره نیکئ نه او په امتناع سره بدئ نه وَمِزَاجُهٗ اوګډے به وی په هغه شرابو کښ مِنۡ تَسۡنِیۡمٍ ﴿۲۷﴾ له اوبو د چینے څخه چه نامه ئے تسنیم ده لکه چه بیان کوی عَیۡنًا تسنیم یوه چینه ده یَّشۡرَبُ بِهَا چه څښی به له دغه چینے څخه الۡمُقَرَّبُوۡنَ ﴿۲۸﴾ نزدے شوی خدائ ته یعنی دوئ به ئے خالصے څښی حُکه چه نۀ وو مشغوله شوی په دنیا کښ بغیر له خدائ سره اودغه اوبه به ګډولے شی باقی اهل جنتو ته **تنبیه** تسنیم نامه د چینے معلومے ده اوصیغے ئے کړه په تسنیم سره له دے جهته چه خائ پورته به توئیږی په لوښو د دوئ کښ او یا پورته دی له شرابو د جنت په مزه کښ **روایت دے** چه هرکله به سردارانو د قریشو فقیران د اصحابو لکه عمّار رضی اللہ عنہ اوخباب رضی اللہ عنہ اوصهیب رضی اللہ عنہ او بلال رضی اللہ عنہ ولیدل ورپورے به ئے ټوقے کولے اوخندا کوله دا آیت نازل شو اِنَّ الَّذِیۡنَ اَجۡرَمُوۡا په تحقیق سره هغه کسان چه کافر شوی دی کَانُوۡا مِنَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا د دوئ په هغه کسانو پورے چه ایمان ئے راوړے یَضۡحَكُوۡنَ ﴿۲۹﴾

عہ یعنی جزا ورکړے شوے په مرغلرو ۱۲

خندا کوی وَاِذَا مَرُّوْا او په هغه وخت چه تیریږی دوئ بِهِمْ په مؤمنانو باندے يَتَغَامَزُوْنَ (۳۰) یو تربله اشاره کوی په سترګو سره وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا او په هغه وخت کښ چه وګرځی کافران اِلٰٓى اَهْلِهِمُ کور نوخپلوته انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ (۳۱) رجوع کوی خوشحاله له جهته داستهزاء یه په مؤمنانو پورے وَاِذَا رَاَوْهُمْ او په هغه وخت کښ چه وینی کافران مؤمنانو لره قَالُوْٓا وائی دوئ یو تربله اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ په تحقیق سره دا ټولے چه تابع د محمدﷺ دے لَضَآلُّوْنَ (۳۲) خامخا گمراهان دی وَمَآ اُرْسِلُوْا اوحال دا دے چه نه دی لیږلے شوی کافران عَلَيْهِمْ په مؤمنانو باندے حٰفِظِيْنَ (۳۳) څوکیداران چه ساتی عملونه د دوئ، او کواهی وائی په هدایت اوضلالت د مؤمنانو باندے فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس په ورځ د قیامت هغه څوک چه مؤمنان دی مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ (۳۴) په کافرانو پورے به خاندی عَلَى الْاَرَآئِكِ په تختونو مکلو باندے به ناست وی يَنْظُرُوْنَ (۳۵) کورې به دوئ ته چه دوزخ کښ څونګه عذابیږی هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ په تحقیق سره جزا به ورکړے شی کافرانو لره مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ (۳۶) په سبب د هغه عمل سره چه کړے وو دوئ په دنیا کښ له خندانه اوله مسخرونه یعنی د پاره د انتقام د مؤمنانو نه کافرانو څخه جزاء ورکړه چه په عوض د خندا کښ ټن ورځ دوئ پورے خاندی مؤمنان.-او په حدیث کښ دی. چه مَنْ قرء سورة المطففين سقاه الله تعالىٰ من الرحيق المختوم يوم القيمة ؛

سورة الانشقاق مكية ۸۴ — بسم الله الرحمن الرحيم — ركوعها ۱ — آياتها ۲۵

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ (۱) په هغه وخت کښ چه اسمان څیرے شی د پاره د نازلیدلو ملائکو وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا او واوری او گردن کیږدی خدائ لره په څیرې والی کښ. وَحُقَّتْ (۲) او لائق شی اسمان حکم د خدائ په انقیاد سره وَاِذَا الْاَرْضُ او په هغه

عه چا چه ولوست سورۀ مطففین خوږه به کړی خدائ تعالیٰ دګ لره له شرابو څخه هغے شراب چه مهر کړے شوی به وی په ورځ د قیامت کښ ۱۲

وخت کښ چه زمکه مُدَّتْ ③ وغوړولے شی یعنی چه غږونه او دریابونه اوکوږ ونه له مینځ ۓ پورته کړے شی وَاَلْقَتْ او وغورځوی بهرته مَا فِيْهَا هغه خیزونه چه په زمکه کښ دی له مړو او خزانو نه وَتَخَلَّتْ ④ اوخالی شی له ټولو شیاؤ څخه وَاَذِنَتْ او فرمان ورونکے شی لِرَبِّهَا حکم درب خپل لره په اَلْقَاء او تخلّی کښ وَحُقَّتْ ⑤ او سزاوار شی اوریدلو د حکم د خدائ لره اوجواب دا دا محذوف دے یعنی وبه وینی انسان ثواب اوعذاب لره يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اے سړیه اِنَّكَ كَادِحٌ په تحقیق سړه تن کار کولونکے ۓ په کوشش سړه اِلٰى رَبِّكَ جزا درب خپل ته كَدْحًا کار کولو سړه فَمُلٰقِيْهِ ⑥ پس ملاقات کونکے ۓ عمل خپل لره یعنی انتقام د هغه لره فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ پس هغه څوک چه ورکړے شی كِتٰبَهٗ کاغذ د عمل د ده بِيَمِيْنِهٖ ⑦ په ښی لاس کښ ۓ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ پس زر به وسړه حساب وکړے شی حِسَابًا يَّسِيْرًا ⑧ حساب اسان ښے له مضائقے نه وَّيَنْقَلِبُ اِلٰٓى اَهْلِهٖ او وبه گرځی قبیلے خپلے ته کهٔ مؤمنان وی او یا ټولی د مؤمنانو ته مَسْرُوْرًا ⑨ خوشحاله وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ اوهغه څوک چه ورکړے شی کاغذ د عمل د هغهٔ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ⑩ وروستو د شا ئے په کینږ لاس کښ فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ⑪ پس زر به ووائی یا ثبورا - اوثبور هلاکت ته وائی یعنی ارزو د هلاکت به وکړی وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ⑫ او داخل به شی دوزخ ته اِنَّهٗ كَانَ په تحقیق سړه د ۓ وو په دنیا کښ فِيْٓ اَهْلِهٖ په میږه د اهل خپل کښ مَسْرُوْرًا ⑬ خوشحاله به په کفر سړه اِنَّهٗ ظَنَّ په تحقیق سړه د ۓ گمان کولو په دنیا کښ دا سے چه اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ⑭ رجوع به ونۀ کړی خدائ ته یعنی خدائ لره قیامت نشته بَلٰٓى اوبه رجوع به وکړی دے اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ په تحقیق سړه رب د ۓ د ۓ په احوالو او اعمالو د ۓ بَصِيْرًا ⑮ لیدونکے - پس مهمل به پرے نه ږدی د ۓ لره بلکه رجوع به وکړی خدائ ته او جزا به ورکړی موافق له اعمالو سړه ۓ فَلَآ اُقْسِمُ پس خورم زۀ قسم بِالشَّفَقِ ⑯ په سپینوالی باندے چه پس له سرخۍ نه وی وَالَّيْلِ اوسوکند دے په

عه په غږ ټولو دوزخیو نوکښ اوبه خالی کیدلو کښ ۱۲

شپه باندے وَمَا وَسَقَ (۱۸) او سوکند دے په هغه څیز باندے چه پټوی او جمع کوی هغه څیز لره تاریکی د شپے وَالْقَمَرِ او سوکند دے په سپوږمئ باندے اِذَا اتَّسَقَ (۱۸) په هغه وخت کښ چه کامله شی بدیت وته جواب د سوکند دادے چه لَتَرْكَبُنَّ خامخا به وسیږئ تاسے اوملاقی به شئ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ (۱۹) له یوحال بل حال ته چه برابر وی له اول سره په شدت کښ فَمَا لَهُمْ پس څهٔ دے سړو لره چه سره د دے احوالو سختو لَا يُؤْمِنُوْنَ (۲۰) ایمان نهٔ راوړی وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ او په هغه وخت کښ چه ولوستے شی په دوئ باند ے قرآن لَا يَسْجُدُوْنَ (۲۱) سجده نهٔ کوی د پاره د لوستلوئ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بلکه کافران يُكَذِّبُوْنَ (۲۲) دروغ وائی قرآن او قیامت لره وَاللّٰهُ اَعْلَمُ او خدائ ښهٔ پوهیږی بِمَا يُوْعُوْنَ (۲۳) په هغه څیز باندے چه جمع کوی دوئ په زړونو کښ له کفره او له تکذیبه د پیغمبر او له کینے نه مؤمنانو سره فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ (۲۴) پس خبر کړه دوئ لره په عذاب دردناك سره اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مګر هغه کسان چه مؤمنان دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او کړی ئے وی عملونه نیک لَهُمْ اَجْرٌ دوئ لره ده مزدوری غَيْرُ مَمْنُوْنٍ (۲۵) ع بے نهایته او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة انشقت اعاذه اللّٰهُ ان يعطيهُ كتبه من وراء ظهره

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ — البروج — مکیة ۲۶ — ۸۵ — رکوعها ۱ — آیاتها ۲۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ (۱) سوکند دے په اسمان باندے چه خداوند د برجونو دے چه هغه دولس دی وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ (۲) او قسم دے په هغه ورځ چه وعده کولے شی چه قیامت دے وَشَاهِدٍ او سوکند دے په کواه باندے چه خدائ تعالیٰ دے او یا محمد علیه السلام دے اویا حج اسود دے او یا شپے ورځے دی وَّمَشْهُوْدٍ (۳) او سوکند دے په کواهی ورکړے شوے باندے چه بنده دے اویا اُمت د پیغمبر علیه السلام

عه هغه چا چه ولوست سورة انشقاق د به ساتی خدائ دهٔ لره له دے نه چه ورکړی دهٔ لره عملنامه دهٔ ورو ستوده شا نه ۱۲

دے او یا حاجیان دی او یا بنی آدم دی او جواب د قسم محذوف دے دلالت پرے کوی دا
قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ ۙ﴿۴﴾ النَّارِ لعنت کړے شوی د وخاوندان د خندق د نبود او ورځ حاصل
دا دے چه سوګند کوی خدائ تعالیٰ په دغه څیز د نبود ے چه کافران د قریشو
ملعونین دی لکه چه ملعونین شوی د وخاوندان د اُخدود ۔ او اُخدود جمع د خند ده
په معنے د کندے او د حندق سره **روایت دے** چه یو بادشاه لرو ساحر کړ او غیب
کویانه و و هر کله چه دے زور شه وے لیږلو د ۀ ٔ ته یو هلک د پاره د دے چه تعلیم د
سحر ورته وکاندے ځکه ۀ ٔ دے مړشی نو د اهلک به ۀ ٔ خلیفه شی او په لاره د هلک
کښ یو راهب وو نو په دین د راهب متدیّن شۀ هر ه ورځ به په بهانه د تعلیم د ساحر
سره هغه ته ورته او صحبت به ۀ ٔ ورسره کولو ترهغے حده پورے چه دے عاقل او مستجاب
الدعاء شۀ ٔ ناګهانه یوه ورځ له ځایه د راهب کورته راتۀ ٔ په لاره یو مار پروت و و چه
لاره د خلقو ۀ ٔ بنده کړے وه پس واخست هلک یو کانړے او وے ویلے ۔ اَللّٰهُمَّ ان کان
الراهب احب اليك من الساحر فاقتلها فقتلها ۔ او وو هلک پس له دے نه چه جوړول
به ۀ ٔ راند ه له مورۀ پیدا شوی په دعا سره او جوړول به ۀ ٔ برکی او جوړول به ۀ ٔ ټول
بیماران ترهغے حده پورے چه یوه ورځ مصاحب د بادشاه راغے د ۀ ٔ لره چه په ستر ګو
روند و و هلک ورته وویلے کۀ ٔ چرے متابعت ځما کوے ستر ګے به ۀ ٔ روښانه کړم ۔ پس
مصاحب ورسره وعده و کړه او هلک ورته تلقین د کلمه شهادت و کۀ ٔ نو ستر ګے به ۀ ٔ روښانه
شوے پس سوال و کړه بادشاه ۔ چه چا جوړ کړے نو وویل مصاحب خدائ خپل پس بادشاه
په قهر شۀ ٔ او وے ویل خدائ د ۀ ٔ خوځ دے جواب ۀ ٔ ورکۀ ٔ اَللّٰهُ الَّذِیۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ معنیٰ
دا چه خدائ ځما هغه ذات دے چه نشته بل خدائ مګر هم هغه دے بادشاه ورته په
طریقے د حیلے سره و ویلے ۔ د اتلقین د ورته چا کړے د ے چه زۀ ٔ ے هم متابعت و کړم په

عه یعنی اے خدایه کۀ ٔ چرے وے راهب د وست تا ته له ساحره ښه نو پس و و ژنه دے اژدها له پس وے و ژله
په حدیث کښ دی چه نۀ ٔ وی هیڅ ورځ مګر او از کوی د اسے چه زه ورځ نوے یم او په هغه څیز باندے چه و کړے شی پما
کښ شاهدی و یو ځکه یم نو پس غنیمت و شمار که مالره او که چرے پریږدلو نو ښه ځما بیا به ۀ ٔ موے ما لره تر قیامته پورے ۱۲

مثل ستا۔ پس مصاحب له جهنټ دشقفتة په ایمان د بادشاه باندے قصه دهلک ورته وکړه بادشاه هلک راوبالۀ او په عقیده ے خبرشۀ نو پرکوشش ے وکړو لیکن هلک له اسلام نه ونۀ ګرځیدو او راهب ے هم بادشاه ورته وخودۀ نو راهب ے په اره کۀ۔ اوے لیږلو هلک غر ته د پاره دده چه له پاسه راوغورځولے شی۔ هر کله چه سر دغرۀ ته ورسیدل۔ دعا وکړه هلک۔ باد لوئی پیدا شۀ۔ ټول سړی ے وس غرول او دے سلامت پاتے شه او بیائے سره دیو ټولی په بیړئی کښ کینولو۔ د پاره دده چه غرق کړے شی هر کله چه مینځ د دریاب ته ورسیدل نو دعا ے وکړه پس واوړیده بیړئی په هغوئی باندے نو ټول غرق شو او دے سلامت پاتے شۀ پس بادشاه وویل چه اورکښ وسیزئ نو هغوئی وسول اودے پاتے شۀ پس په سولئ ے وخیژولو او په غشوئ ووښتلو او هیڅ غشی پرے اثر نۀ کولو نو هلک وویلے اے بادشاه ایمان راوړه په هغه خدائ باندے چه دا ټول کار وند وقدرت دهغهٔ دی۔ بادشاه له جهنټ دعاده وویل۔ نۀ غواړم مګر مرګ ستا۔ نو ده ورته وویل که مراد د داوی پس غشے راکاږه او ووایه داسے چه د ګلم د په نامه د خدائ ستا باندے چه غشے د ولګیږی۔ بادشاه داسے کار وکۀ نو هلک شهید شۀ او حاضر انود مجلس ایمان راوړه په خدائ د غلام باندے پس حکم وکړو بادشاه چه په زمکه کښ کندے جوړے کړئ اوله اوړ ے د کے کړئ۔ پس هر څوک چه بیرته نۀ ګرځید و له ایمان هغه به ے پکښ اچولو تر هغے حده پورے چه راغله یوه ښځه چه د ورسره یو هلک وو پس وړستو شوه هلک دے ته وویلے۔ اے مورے صبر وکړه ځکه چه ته په حقه ے پس وغورځے شول هلک اومور ے په اورکښ پس رب العلمین اکرم الاکرمین دوئ ته اصحاب اُخدود وویل۔ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۝۵ چه خداوندان داور وو یعنی بلوڼونکی داور وو په لرګو او سره او ذٰلِكَ هُمْ په هغه وخت کښ چه ووکافران فائدہ اذ ظرف دے قتل لره معنیٰ لُعِنُوا حین اُحرقوا بالنار قُعِدَ ین حولها۔ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۝۶ په غاړه دکندو باندے

عه یعنی په لعنت کړے شوی وو خداوندان د اُخدود په هغه وخت کښ چه سیزل دوئ خلق په اور کښ په هغه حال کښ چه ناست وو دوئ چاپیره داور نه ۱۲

ناست وو په کرسو باندے وَهُمْ اوکافران چه وو عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ په هغه څیز باندے چه کولو دوئ له احراق بِالْمُؤْمِنِيْنَ په مؤمنانو باندے شُهُوْدٌ ۷ حاضر وو او چا ویلی دی گواهی ویله بعضو له دوئ نه بعضولره په نزد دبادشاه دا سے چه هیچا په حکم ستاکښ کښے نۀ دے کړے **فائدہ**:۔ په دے کښ اشارت دے دے حث ته مؤمنانولره په صبر کولو سره په ضرر دمکیانو باندے وَمَا نَقَمُوْا اودشمنی نۀ کوله اصحابو د اُخدود مِنْهُمْ له مؤمنانو سره اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا مګر په سبب د دے سره چه ایمان راوړے وو دوئ بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ په خدائ باندے چه غالب دے نولره عذاب نۀ بائدہ دی وَبِيرِيدل الْحَمِيْدِ ۸ چه صفت کړے شوے دے یعنی له رحمته ئے بائدہ دی اُمید کول الَّذِيْ لَهٗ هغه خدائ چه دہ هغه لره مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ بادشاهی داسمانونو او دزمکے وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۹ ؕ اوخدائ په هر څیز باندے له افعالو اولہ اقوالو د مؤمنانو او دکافرانو څخه گواه دے نوجزا به ورکړی دوئ لره موافق داعمالو سره اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ په تحقیق سره هغه کسان چه عذابول ئے په اورسره مؤمنان سړی اومښے ښځے ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا پس توبه نۀ اوکاږی یعنی اونۀ کړی له کفره خدائ ته فَلَهُمْ پس دے دوئ لره په آخرت کښ عَذَابُ جَهَنَّمَ عذاب د دوزخ په سبب دکفر سره ئے وَلَهُمْ اودے دوئ لره په دنیا کښ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۱۰ ؕ عذاب داور سیزونکی څکه چه روایت شوے دے چه اورد اصحاب اُخدود لمبه ووهله څلویښت کزه نو دوئ پرے وسول اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په تحقیق سره هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکړی ئے دی نیک کارونه لَهُمْ دی دوئ لره جَنّٰتٌ تَجْرِيْ باغونه چه روان به وی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ دلاندے دونوئے ولے ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ۱۱ ؕ دا دے خلاصے لوئ څکه چه دنیا ومافیها په مقابله دده کښ څیز لږ دے. **فائدہ**:۔ په الّذین کښ اشارت دے هغه کسانو ته چه صبر ئے کړے وو په عذاب دا صحاب اخدود باندے نوآیات نازل شۀ اوچا ویلی دی دغه عام مؤمنانو ته اشارت دے اِنَّ بَطْشَ

رَبِّكَ په تحقیق سره نیول د رب ستا چه دی ظالمانو لره لَشَدِيدٌ ﴿۱۲﴾ خامخا سخت دی
اِنَّهٗ په تحقیق سره خدائی تعالی چه دے هُوَ يُبْدِئُ دے ظاهر کونکے دے بطش لره پکافرانو
باندے په دنیا کښ وَ يُعِيْدُ ﴿۱۳﴾ او بیا ظاهر کونکے دے بطش خپل لره په دوئ باندے په
آخرت کښ نو پس نه عاجزوی دهٔ لره په هغه څیز کښ چه اراده ئے وکړی هیڅوك وَ
هُوَ الْغَفُوْرُ او دے بخښونکے دے هغه چا لره چه توبه وباسی له گناهونو خپلو څخه الْوَدُوْدُ ﴿۱۴﴾
او دوست دے هغه چا لره چه حکم ئے وړی ذُو الْعَرْشِ پیدا کونکے او مالک دعرش دے
الْمَجِيْدُ ﴿۱۵﴾ لوئے دے په ذات او په صفات کښ۔ حُکه چه واجب الوجود تام القدرة
اوتام الحکمة دے اوچا ویلی دی په جَرّ سره۔ نو معنیٰ ئے دا ده سوه هسے عرش چه لوئ
دے فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۶﴾ کونکے دے هغه څیز لره چه اراده ئے وشی پس نهٔ سختیږی په
خدائی تعالیٰ باندے یوکار له افعالو خپلو څخه اوله افعالو د مخلوق څخه فَائِدَهٔ: په دیکښے
اشارت دے دے ته چه خالق د افعالو د بندگانو خدائی دے هَلْ اَتٰىكَ آیا راغلے دهٔ تا
لره اے محمّدﷺ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ﴿۱۷﴾ خبره د لښکرو یعنی په تحقیق سره پیژندلے دے تا
تکذیب د چا نیو کافرانو پیغمبرانو خپلو لره اوپیژندلے دِ دے هغه عذاب چه نازل
شوے وو په هغوئ باندے۔ پس تسلی اوصبر وکړه په تکذیب دقوم خپل باندے فِرْعَوْنَ
چه فرعون اوقوم ئے وو وَ ثَمُوْدَ ﴿۱۸﴾ او قبیله د ثمود یانو وه تنبیه بدل ئے کهٔ فرعون
او ثمود له چنود نه حُکه چه مراد له دے نه فرعون اوقوم ئے دے بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
بلکه هغه کسان چه کافران شوی دی له قوم سته نه فِيْ تَكْذِيْبٍ ﴿۱۹﴾ په تکذیب کښ
دی له جهته د عناده وَّ اللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ اوخدائی چاپیره له دوئ نه مُّحِيْطٌ ﴿۲۰﴾ پوهه
دے په احوال د دوئ باندے او دا سے نه ده لکه چه گمان کوی کافران چه
قران سحر دے او یا شعر دے بَلْ هُوَ بلکه فرقان چه دے قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ قران
لوئے دے په کتابونو کښ او په اعجاز کښ اولیکلے شوے دے فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾

عه یعنی په تحقیق راغلے دهٔ تا لره حُکه چه هل استفهام تقریری دے ۱۲ عمه سره د دے چه بدل مطابق
د بدل منه سره نهٔ دے په جمعیت کښ ۱۲

یه هغه لوح کښی چه محفوظ دے له تغیره او تبدیله او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة البروج اعطاه الله بعدد کل جمعة وعرفة تکون فی الدنیا عشر حسنات

سورة الطارق ۸۶ مکیة ۳۶ | الجزء ۳۰ | الحزب ۶۰ | رکوعها ۱

بسم الله الرحمن الرحیم

روایت دے چه یوه شپه رسول کریم صلی الله علیه وسلم سره د ابوطالب ناست وو ناکهانه یو ستوری وځلیدهٔ او لویه شغله ترے ظاهره شوه د اسے چه ابوطالب ترے وویریدهٔ پس وے ویل داځهٔ وو پیغمبر علیه السلام وویل داستوری ووچه شیطان پرے شرلو له آسمان او دغه یوه ښنه ده له قدرت د خدائ فی الحال جبریل علیه السلام د اسورت راوړو - وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ﴿۱﴾ سوګند دے په آسمان باندے او سوګند دے په ستوری باندے چه ظاهریږی په شپه کښی وَمَآ اَدْرٰىكَ او څهٔ څیز پوهه کړے تهٔ اے محمد ﷺ چه مَا الطَّارِقُ ﴿۲﴾ څهٔ دے طارق النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ ستوری ځلیدونکی دی په مثل د شغلے داور - اوجواب د سوګند دا دے چه اِنْ كُلُّ نَفْسٍ نهٔ دے هیڅ نفس - لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿۴﴾ مګر دے په هغهٔ باندے یو څوکیدار چه شماری اقوال او ددهٔ **روایت دے** چه هر کله وویلے خدائ ان کل نفس لما علیها حافظ په امر ئ وکهٔ په نظر سره اول پیدا وخت ته د پاره دے چه پوهه شی دے د اسے چه په تحقیق سره هغه چا چه پیدا کهٔ مالره توانا دے په اعاده باندے لکه چه وائی فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ پس باید ه دی چه نظر وکړی سړے یعنی منکر له بعث په اصلی پیدا وخت خپل کښ چه مِمَّ خُلِقَ ﴿۵﴾ له څهٔ څیزه پیدا کړے شوے دے او جواب د استفهام دا دے چه خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿۶﴾ پیدا کړے شوے دے له اوبو څخه چه توئید ونکے دی په رحم کښ او وے نهٔ ویلے - مِنْ مَّاءٍ بَيْنِ - ځکه چه ګډیږی دواړه په رحم کښ يَخْرُجُ هسے او به چه بهر کیږی مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ له میښهٔ د اشا د سړی نه وَالتَّرَآئِبِ ﴿۷﴾ او له

عه هغه چا چه ولوست سورهٔ بروج ورسره کړی خدائ تعالی دهٔ لره په شمار د هر جمعے او د هر عرفے چه په دنیا کښ تیرے دی او یا راځی لس نیکۍ ۱۲

هلوکو د سپینے د ښځے نه اِنَّهٗ په تحقیق سره خدائ تعالیٰ چه دے عَلٰی رَجْعِهٖ په بیرته کړحُولو د انسان باندے پس له مړکه لَقَادِرٌ ﴿۸﴾ خامخا توانادے یَوْمَ تُبْلَی السَّرَآئِرُ ﴿۹﴾ په هغه ورځ باندے چه ظاهر به کړے شی پټ خیزونه په زړونوکښ له عقائدُو او نیتونو څخه فَمَالَهٗ پس نهٔ به وی انسان لره مِنْ قُوَّةٍ هیڅ قوت چه له عذابه خُان خلاص کړی وَّلَا نَاصِرٍ ﴿۱۰﴾ او نهٔ به دهٔ لره مددکار چه بلا ترے دفع کړی وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿۱۱﴾ اوسوګند دے په ورېځ باندے چه صاحبه د باران ده خُکه چه پورته کوی اوبهٔ لـه دریابه پس بیرته ځے راګرځوی زمکے ته اوچا ویلی دی ۔سوګند دے په بیان باندے چه صاحب درجوع دے خُکه چه رجوع کوی په هرکړدش کښ هغه خُائ نه چه تر ے خوځیدلے وی وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿۱۲﴾ اوسوګند دے په زمکه باندے چه خدا وندہ د چاؤدلوده چه اوبه اوګیاه ترے بهرراځی اِنَّهٗ په تحقیق سره قرآن چه دے لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿۱۳﴾ خامخا یو قول دے چه جدا کونکے دے په مینځ د حق اود باطل کښ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿۱۴﴾ اونهٔ دے قرآن یو قول باطل اومسخره اِنَّهُمْ په تحقیق سره مشرکان د مکے چه دی یَكِيْدُوْنَ مکرکوی دوئ په باطلو لو د امر د خدائ کښ کَيْدًا ﴿۱۵﴾ په مکرکولو سره وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ﴿۱۶﴾ اوجزا به ورکړم زهٔ دوئ لره موافق له مکره د دوئ سره له هغه خُائ چه دوئ پرے پوهه نهٔ لری فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ پس مهلت ورکړه کافرانو لره یعنی تلوارمهٔ کوه په هلاکت د دوئ کښ اَمْهِلْهُمْ پریږده دوئ لره پس مکړئے کـړه مهلت د پاره د ذیا توالی د آرام د زړهٔ او د صبر د پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام رُوَيْدًا ﴿۱۷﴾ مهلت لږ چه هغه اجل معین د دوئ دے تنبیه حکم د دے آیت منسوخ شوے دے په آیت د سیف سره ۔ او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الطارق اعطاه الله تعالیٰ بعدکل نجم فی السمآء عشر حسنت۔

عه هغه چاچه ولوست سورة طارق ورسره کړی خدائ تعالیٰ دهٔ لره په شمار د هر ستوری چه په اسمان کښ دی لس نیکی ۱۲ منه رحمه ربه ۱۲

سورۃ الاعلیٰ ۸۷ مکیۃ ۸ — بسم اللہ الرحمٰن الرحیم — ایاتہا ۱۹ رکوعہا ۱

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ① پاکوه نامه دخدائ خپل چه لوئ دے له هغه څیزه چه وړسره لائق نهٔ دے اوچا ویلی دی ووایه سُبْحٰنَ ربی الاعلیٰ - یه حدیث کښ دی چه هرکله نازل شهٔ فَسَبِّحْ باسم ربک العظیم وویلے پیغمبر علیه السلام وکړځوئ تاسے دا په رکوع خپلے کښ اوهرکله چه نازل شهٔ سبّح اسم ربّك الاعلی وویلے رسول کریم صلے الله علیه وسلم وکړځوئ تاسے دا په سجده خپله کښ او وو دوئ چه ویل به ئے پرومبے له دے په رکوع کښ اللهم لك رکعتُ او په سجده کښ اللهم لك سجدتُ ② الَّذِي خَلَقَ فَسَوّٰى ③ هغه خدائ چه پیدا کړی ئے دی قول څیزونه نو پس برابرئے کهٔ پیدا وخت د دوئ دا سے چه پیدا ئے کړل دوئ لره اندامونه او اجزائے چه پرے حاصلیږی کمال د دوئ وَالَّذِي قَدَّرَ او هغه خدائ چه تقدیر د رزق او د اجل قسمونو او اشخاصو ئے کړیدے فَهَدٰى ④ پس لارے وښودله دهٔ لره رزق ته په طریقه د اکتساب سره وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعٰى ⑤ او هغه خدائ چه وستلے ده گیاه له زمکے نه د پاره د چارپایانو فَجَعَلَهٗ پس کړځولے ده هغهٔ گیاه پس له شینوالی څخه غُثَآءً أَحْوٰى ⑥ وچه توره نواحوی صفت د غثاء دے - اوچا ویلی دی احوی حال دے له مرعیٰ نه نو دا سے شهٔ اخرجه احوی من شدّة حضرته سَنُقْرِئُكَ زړے چه وبه لولو مونږه په ژبه د جبریل ؑ په تاباندے قران فَلَا تَنْسٰٓى ⑦ پس ته به ئے نهٔ هیروے له جهته د یاد اشته - سره ددے چه اُمی ئے د پاره ددے چه شی د اهم یوه معجزه تالره إِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ مگر هغه چه رضا وشی د خدائ تعالیٰ په هیرولو سره ئے یعنے هغه چه منسوخ وی تلاوت ئے. محوه به کړے شی له سینے ستانه إِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ یعنی تهٔ اے پیغمبره جهر کوے په قران سره چه لولی ئے جبریل علیه السلام له ویرے دهیر والی نه او په تحقیق سره خدائ پوهیږی

عه پاکی ده رب خپلوړه چه لوئ دے ۱۲ عمه په پاکئ سره یاد وکړه نامه د رب خپل چه لوئ دے ۱۲ سه یعنی وستلے ئے دهٔ بهرته گیاه په دے حال کښ چه توره وی له دیر شینوالی څخه ۱۲ منه رحمه ربه

په جهرستا باند ے سره د جبریل علیه السلام وَمَا يَخْفٰى ⑦ او پوهیږی په هغه چه پټ وی په نفس ستا کښ له بلنې څخه جهرونه چه هیر والے دے او چا ویلی دی چه په تحقیق سره خدائ پوهیږی په هغه افعالو او اقوالو د خلقو چه ظاهر وی ئے او په هغه افعالو او اقوالو چه پټوی ئے وَنُيَسِّرُكَ او توفیق به درکړم تالره لِلْيُسْرٰى ⑧ هغه لارے ته چه آسانه ده په یا دولو د وحی کښ او چا ویلی دی توفیق به درکړم تالره عمل د جنت وته فَذَكِّرْ وعظ کوه په قرآن سره اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ⑨ په تحقیق سره نفع رسوی وعظ مؤمنانو لره - او چا ویلی دی کهٔ نفع رسوی او کهٔ نهٔ رسوی یعنی وعظ مهٔ ترک کوه کهٔ څوك پرے نفع اخلی او کهٔ نهٔ اخلی سَيَذَّكَّرُ زر دے چه وعظ به قبول کړی مَنْ يَّخْشٰى ⑩ هغه څوك چه ویریږی له خدائ حُکه چه دے فکر کوی په دیکښ وَيَتَجَنَّبُهَا اولرے والے کوی له وعظ قبلولو نه الْاَشْقَى ⑪ د یر بد بخت چه کافر دے حُکه چه دے بد بخت زیات دے له فاسقه او یا شقی له کافرانو نه هغه څوك دے چه مشغول وی په دشمنئ د پیغمبر کښ چه ولیدے الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ⑫ هغه بد بخت چه داخلیږی به په اور لوئ کښ چه اور د جهنم دے او ور کوتے د دنیا دے حُکه چه په حدیث کښ دی نارکم هذه جزءٌ من سبعین جزءٍ من نار جهنم - ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا پس نه به مری هغه بد بخته په دغه اور کښ چه خلاص شی له عذابه وَلَا يَحْيٰى ⑬ اونه به ژوندے وی په هسے ژوند سره چه ترے خوشحاله شی قَدْ اَفْلَحَ په تحقیق سره خلاص به یاموند ۂ مَنْ تَزَكّٰى ⑭ هغه چا چه پاك شهٔ له کفر او له معصیته - او چا ویلی دی چه پاك شهٔ د پاره د ماتحه وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ او یاد ه ئے کړه نامه د رب خپل په تکبیر اول سره فَصَلّٰى ⑮ پس مونځ ئے وکهٔ - فائده په دے کښ اشارت دے وجوب د تکبیر اول ته او بل دے وته چه تکبیر اول روا دے په هر نوم سره له نامو د خدائ او چا ویلی دی خلاص شهٔ هغه څوك چه صدقه د فطرئ ادا کړے وی او یاد ه کړے ئے

عه یعنی د ژوند ستا سے د اچه او د دنیا دے یو جزء دے له او یاؤ جزو نو د جهنم څخه ۱۲ ز

وی نامه دخدائ په لاره دعید کښی او ادا کړے وی موځ د اختر بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا (۱۶) بلکه غوره کوی تاسے اے بدبختانو ژوند دد نیا په آخرت باندے وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ اوحال دادے چه اخرت بهتر دے له دنیا نه وَّ اَبْقٰى (۱۷) اوهمیشه دے اِنَّ هٰذَا په تحقیق سره د اخبره چه ده لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى (۱۸) خامخا په صحیفو پخوانو کښی ده ف په هذا کښی اشارت دے قد افلح وته ترابقی پورے او دلیل دے په جواز د لوستلو د قرآن په ژبه د فارسی سره په ماتحته. حُکه ذکر کړے وه خدائ دغه خبره په رومبنو صحیفو کښی سره د دے چه نه وه دغه خبره چه هغوئ کښی په دے نظم او په دے لغت سره صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ په صحیفو د ابراهیم علیه السلام کښی شل وے وَمُوْسٰى (۱۹) او په صحیفو د موسیٰ علیه السلام کښی چه تختئ وے او په حدیث کښی دی چه مَنْ قرء سورة الاعلیٰ اعطاه الله عشر حسنات بعدد کل حرف انزل الله تعالیٰ علیٰ ابراهیم وموسیٰ علیهما الصلوٰة والسلام

سورة الغاشية ۸۸ مكية ۶۸ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — الجزء ۳۰ ۲۶ ۱ ۱

هَلْ اَتٰىكَ په تحقیق سره راغلے ده تانه اے پیغمبره حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ (۱) خبره پته چه قیامت دے **فائده**: مسئلے ئے کهٔ قیامت په غاشیه سره حُکه چه هغه پتوی خلقو لره په سختیو خپلو کښی وُجُوْهٌ مخونه دکافرانو به يَّوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښی خَاشِعَةٌ (۲) ویریدونکی اوخواروی **فائده**: خاص ئے کهٔ مخ حُکه چه هر کله په سړی غم اوخوشحالی دیر شی ظاهر بری په مخ کښی عَامِلَةٌ عمل کونکی به وی نَّاصِبَةٌ (۳) رنځ راکونکی به وی په دغه عمل کښی یعنی دوزخیان به عمل کوی چه دوئ ته به ترے رنځ رسیږی تَصْلٰى داخل به شی دوی نَارًا حَامِيَةً (۴) په هغه اورکښی چه زیات گرم دے تُسْقٰى

ع یعنی په عربی سره بلکه په سریانی او نورو ژبو سره ۱۲ منه هغه چا چه ولوست سورة اعلیٰ وربه کړی خدائ تعالیٰ ده له لس نیکئ په شمار د هرحرف سره چه نازل کړی وخدائ تعالیٰ په ابراهیم او موسیٰ علیهما الصلوٰة والسلام ۱۲

خرو بولے به شی یعنی په وخت د غلبې د تنده کښ به خړو بولے شی دوئ لره مِنْ عَيْنٍ
اٰنِيَةٍ ۝۵ له هغه چینے نه چه او به ئے نهایت کړے دی **فائده** ضمیر په دغه صفاتو او افعالو
کښ راجع دے وجوه ته او مراد ترے خاوندان د وجوه دی په دلیل دد ے **قول** سره لَيْسَ
لَهُمْ طَعَامٌ نه به وی دوزخیانو لره خوراك اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝۶ مکر له ضریع او دغه
گیاه ده خارناکه چه لوند ه وی عرب ورته شبرق وائی او اوښان ئے خوری او چه وُچه
شی ور ته ضریع وائی **فائده** په دے کښ اشارت دے ده ته چه عذاب به په ډیرځ
د قیامت قسم قسم وی نو بعض به زقوم خوری او بعضے به غسلین خوری او بعضے به ضریع
خوړی یعنی اشارت دے دے وته چه تناقض نشته په مینځ د دے ۱ایت کښ او په مینځ
د دے قول کښ چه وَلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ **روایت دے** چه هر کله ابوجهل
دغه ۱ایت واوریدهٔ وویل دهٔ ـ څهٔ کیږی ضریع به مونږه څړوی لکه چه څړوی اوښان
حُمُوْضَهٗ نو دا ۱ایت راغے لَا يُسْمِنُ نهٔ به څړوی ضریع د دوزخ هیڅ اړه وَلَا يُغْنِيْ مِنْ
جُوْعٍ ۝۷ او نهٔ اړیږی کوی لوږے لره. یعنی دواړه نفع د عذاب کښ نشته چه یو مور والے
دے او بل څړوبالے دے پس وصف ئے وکړهٔ د مخونو د مؤمنانو. نو وے ویلے وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ
مخونه د مومنانو به په دغه ورځ کښ نَّاعِمَةٌ ۝۸ تازه تروی لِّسَعْيِهَا عمل خپل لره به چه
کړے ئے وی په دنیا کښ رَاضِيَةٌ ۝۹ خوږ کونکی وی په آخرت کښ چه ثواب ئے
وویني فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۝۱۰ په جنت لوئ اوچت کښ به وی لَّا تَسْمَعُ فِيْهَا نهٔ به اوری
خاوندان د دغه مخونو. او یا تهٔ اے مخاطبه په دغه جنت عالیه کښ لَاغِيَةً ۝۱۱ خبرے
بے هوده څُکه چه کلام د بهشتیانو به په حکمت اوثنا د خدائ سره وی په نعمتونو
همیشه وُ باندے فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ۝۱۲ وی به په دغه جنت کښ چینے جاری فِيْهَا
سُرُرٌ وی به په دغه جنت کښ تختونه مَّرْفُوْعَةٌ ۝۱۳ پورته کړے شوی د پاره د دے چه
وینی پرے مؤمن ملک او نعمتونه د خدائ **روایت دے** چه دغه تختونه به پورته
وی په هوا کښ او هرکله چه مؤمن پرے کینی را کوزیږی به او چه پرے کینی

بیا به هواته لاړشی وَاَكْوَابٌ اووی به په دغه جنت کښ کوزے بے لاسو مَّوْضُوْعَةٌ ﴿۱۴﴾ ایخودلے شوے پرځ د بهشتیانو کښ دپاره د خوشحالئ د دوئ وَنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿۱۵﴾ اووی به په دغه جنت کښ بالختونه یو تربله ایخودلے شوی هر چرته چه کینی په یو باندے به کینی اوبل ته به تکیه لګوی وَزَرَابِيُّ اووی به په جنت فرشونه مَبْثُوْثَةٌ ﴿۱۶﴾ غوړیدلی روایت دے چه هر کله خدائ تعالیٰ په صفت د جنت کښ دغه آیتونه نازل کړلا اود بیل بیل بیان پیغمبر علیه السلام وکړ۔ دا سے چه پورته به وی تختونه سل فرسخه اوکوزے ایخودلے شوے چه نهٔ داخلیږی په حساب دخلقو کښ ځکه چه ډیرے بے وی اوهر یو بالخت اوفرش به دومره دومره اوږد وی نومنکر شول کافران اوویے ویلے یو تربله څرنګه به وخیژی سړے په دغه تخت باندے اوځرنګه به ډیرے شی کوزے چه شمار به ئے نشی کولے اوځرنګه به اوږدهٔ شی بالختونه اوفرشونه سره ددے چه نه دی لیدلی مونږه په دنیا کښ نو وویلے خدائ تعالیٰ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ ایا پس نهٔ ګوری دوئ اِلَى الْاِبِلِ اوښ وته چه په قدرت ځمونږه كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿۱۷﴾ څنګه پیدا شوی دی یعنی سره له دغه لویئ مسخرکیږی وپرو کی هلک لره چه پرے سوریږی اوترے کوزیږی نوهمدارنګے به تیتیږی تختونه مؤمنانو لره لکه چه تیتیږی اوښ وَاِلَى السَّمَآءِ اویا نهٔ ګوری اسمان ته چه په حکمت ځمونږه سره كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿۱۸﴾ څنګه پورته کړے شوید ے بغیر له ستنو اوستوری پکښ ډیر شوی دی چه نهٔ داخلیږی په حساب دخلقو کښ پس هم دا سے به ډیرے وی کوزے په جنت کښ وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿۱۹﴾ او ایا نهٔ ګوری دوئ غرونو ته چه په قدرت ځمونږه سره څرنګه ودرولے شوی دی په زمکه باندے محکم پس ولاړدی او نهٔ خوځیږی سره دلوئ والی ئے نو پس هم دا سے به ولاړ وی بالختونه اونهٔ به خوزیږی وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿۲۰﴾ اونهٔ ګوری زمکے وته چه څنګه غوړولے شوید ے سره دهسے لوئ والی نوله یو فرش ده نوهمدا سے به لوئ فرشونه په جنت کښ وی فَذَكِّرْ تذ پس پند وایه دوئ ته په دلیلونو د قدرت سره دپاره د دے چه فکر وکړی دوئ

په دغه ډیر کښ اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ ﴿۲۱﴾ په تحقیق سره ته پند ورکوونکے ئے هرچا وته لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ﴿۲۲﴾ نهٔ ئے تهٔ په دوئ باندے مسلط چه زور پرے کړے په ایمان سره که دغه خیز وښوده نظر او فکر نه کوی حُکه چه تا باندے رسول دی. ف: دغه ایت منسوخ شویدے په ایت دقتال سره اِلَّا مَنْ تَوَلّٰى لیکن هغه چا چه مخ وګرځولو له ایمان پس له پند وَكَفَرَ ﴿۲۳﴾ او کافر شهٔ يُعَذِّبُهُ اللّٰهُ پس په عذاب به کړی خدائ تعالی هغه لره الْعَذَابَ الْاَكْبَرَ ﴿۲۴﴾ په عذاب لوئ سره چه عذاب دجهنم دے نو استثناء منقطع ده اوچا ویلی دی دغه استثناء ده له فذکر شخه. نو معنیٰ ئے داشوه چه نصیحت کوه په دغه دلیلونو سره هرچا وته مګر نصیحت مهٔ کوه هغه چا وته چه قطع شی له ایمانه ئے طمع ستا اوخ وګرځوی له ایمانه پس مستحق شی عذاب لوئ لره اِنَّ اِلَيْنَآ اِيَابَهُمْ ﴿۲۵﴾ په تحقیق سره مونږ ته ده رجوع د دوئ پس له مرګه ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿۲۶﴾ پس په تحقیق سره په مونږ ده حساب د دوی په قیامت کښ. نو حساب به ورسره وکړم اوجزا به ورکړم موافق د اعمالو ئے تنبیه لفظ دعلی دپاره د تاکید د وعدے دے اونه ډے دپاره د وجوب حُکه چه نهٔ واجبیږی په خدائ هیڅ خیز او په حدیث کښ دی چه مَنْ قَرَءَ سورة الغاشیه حاسبه الله تعالی حسابًا یسیرًا ؛ ؛ ؛

سورة الفجر مكية ٨٩ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ايآتها ٣٠ — ركوعها ١

وَالْفَجْرِ ﴿۱﴾ سوګند دے په صبا دهرے وړځ باندے چه وخت د مناجات د دوستانو دے او یا سوګند دے په مانځه د صبا باندے چه آرام دځان د عاشقانو دے وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿۲﴾ او سوګند دے په لسو شپو د ذی الحج باندے چه عرفه پکښ ده او یا په لسو اولو باندے له محرم چه عاشوره په هغوئ کښ ده او یا په لسو اخرو باندے له رمضان چه شپه د قدر پکښ ده او یا په لسو شپو د شعبان باندے چه شپه د برات پکښ ده وَالشَّفْعِ او سوګند دے

ع هغه چا چه ولوست سورة غاشیه حساب به وکړی ورسره الله تعالی حساب اسان ۱۲

په جفت د تولو څیزونو باندے وَالْوَتْرِ ۳ او په طاق د تولوئے اوچا ویلی دی چه په جفت د دغه شپو باندے او په طاق ئے۔ اوچا ویلی دی په جفت د مانځه او په طاق ئے۔ اوچا ویلی دی مراد له شفع مخلوق دے لکه راغلی دی په دے قول کښ۔ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ او مراد له وتره خالق دے لکه راغلی دی په دے قول کښ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ۔ وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ ۴ او سوکند دے په دے شپه باندے په هغه وخت کښ چه تیره شی اوچا ویلی دی مراد له لیل څخه لیلة القدر دے هَلْ فِيْ ذٰلِكَ ایا شته په دے سوکند ونو کښ قَسَمٌ سوکند لِّذِيْ حِجْرٍ ۵ خداوند د عقل لره د پاره دے چه اعتبار پرے وکړی اوجواب د قسم محذوف دے چه لَيُعَذَّبَنَّ دے پس ذکر کړ که خدائی عذاب د امتونو پخوانو چه دروغ ئے ویلے پیغمبرانو خپلو لره۔ نو وے ویلے۔ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ ایا نه ګورے اے محمده چه څه کړی ووخدائی ستا بِعَادٍ ۶ په قوم د عاد باندے اِرَمَ په ارم باندے چه حُوئی د عاد اول وو او دۀ ته ئے عاد حُوئی د ارم ویلو او اِرم ئے نامه د نیکه وه ځکه چه عاد حُوئی د عوص وو او عوص حُوی د ارم وو او دے حُوئی د سام وو او دے حُوئی د نوح وو او اوچا ویلی دی ارم نوم د وطن دے۔ نو مراد ترے اهل د ارم شو ذَاتِ الْعِمَادِ ۷ هسے قوم چه خاوندان د قامتونو لویو وو د اسے چه وُ قامت ډیر ډیر خلور ګز سوه ګز وه الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ هغه قبیله چه نه وُ پیدا شوی مِثْلُهَا په مثل د دوئی په اوږ د والی کښ فِي الْبِلَادِ ۸ په بنارونو کښ وَثَمُوْدَ او نه ګورے چه څه کړی ووخدائی تعالیٰ ستاله ثمود یانو سره الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ هغه ثمودیان چه غوس کړی ئے وو غرونه د پاره د استوربے بِالْوَادِ ۹ په کلیو د واد کښ وَفِرْعَوْنَ او څه کړی ووخدائی تعالیٰ ستا فرعون سره چه ذِي الْاَوْتَادِ ۱۰ خاوند د لښکر د وبرد وو او چا ویلی دی اوتاد جمع د وَتَد د ه په معنیٰ د میخ سره نو عذابول به ئے خلق په دغه میخونو سره الَّذِيْنَ هغه کسان له دغه درے وارونه چه طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ۱۱ سرکشی ئے کوله په بنارونو کښ فَاَكْثَرُوْا پس ډیر کړ ئے دوئی فِيْهَا الْفَسَادَ ۱۲ په دغه بنارونو

ع یعنی له هره څیزه پیدا کړی دی مونږه جفت ۱۲ عه وو یا په خدائی یو دے ۱۲ سه یعنی خامخا به عذاب کړے شی منکران په ورځ د قیامت ۱۲

کښ فساد په کفر او قتل او ظلم سره فَصَبَّ عَلَيْهِمْ پس توئ کهٔ په دوئ باندے رَبُّكَ خدائ ستا سَوْطَ عَذَابٍ ﴿۱۳﴾ یو قسم له عذاب ټخه هر کله چه په نزد د عربو کښ زار د تازیانے سخت تر عذاب وو پس خدائ تعالیٰ په قانون د دوئ سره مسخے کهٔ عذاب خپل په سَوْط سره إِنَّ رَبَّكَ په تحقیق سره رب ستا چه دے لَبِالْمِرْصَادِ ﴿۱۴﴾ خداوند د گزرگاه دے یعنی خدائ عالم دے په هغه څیز باندے چه صادریږی له خلقونه نوجزا به ورکړی دوئ لره فَأَمَّا الْإِنسَانُ پس هر چه دے سړے چه اُبئ بن خلف دے إِذَا مَا ابْتَلَاهُ په هغه وخت کښ وازمائی دے رَبُّهُ رب ئے په دولتمندئ سره فَأَكْرَمَهُ پس عزت ورکهٔ دهٔ لره په دولت او مرتبے سره وَنَعَّمَهُ ۥ او نعمت پرے فراخ کړی فیقول پس وائی دے رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿۱۵﴾ رب ځما مالره عزت او دولت راکړو وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ اوپه هغه وخت کښ چه وازمائی دے په درویشئ او سختئ سره فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ ۥ پس تنګه کړی پرے روزی ئے فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿۱۶﴾ پس وائی خدائ ځما خوار کړمه زهٔ حاصل دادے چه واجبیږی په انسان باندے چه خدائ ئے په مرصاد دے دا سے چه کوشش د دنیا کوی د اخرت وته او اُمید د نهٔ کوی دنیا وته اودے ئے په عکس کوی یعنے په هغه وخت کښ چه وازمائی خدائ دهٔ لره په نعمت سره د پاره د دے چه شکر پرے وکړی نو وائی ربی اکرمنِ رب ځما لوئ کهٔ مالره په سبب د ورکولو د مال سره نو پس وینی اکرام په د یروالی د مال سره په دنیا کښ او په هغه وخت کښ چه وازمائی دهٔ لره په درویشئ سره فقدر علیه رزقهٔ. پس تنګه کړی پرے روزی د هغهٔ د پاره د دے چه پرے صبر وکړی نو وائی. ربی اهانن. رب ځما سپک کړمه زهٔ اوخوارے کړمه یعنی وینی خوارولے په لږ والی د مال سره. پس رد کهٔ خدائ په انسان باندے گمان ئے په دے قول سره چه کَلَّا نهٔ دے اکرام او اهانت په د یروالی د مال او لږ والی کښ. بلکه اکرام د خدائ په توفیق د عبادت کښ دے او اهانت ئے په معصیت کښ دے بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿۱۷﴾ بلکه فعل ستاسے د یرید دے له قوله حُکه چه خدائ تعالیٰ اکرام کړے دے په تاسے باندے په

غنا سره اوتاسے اکرام نهٔ کوی یتیم لره وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ اونهٔ تیزوئی تاسے اهل خپل لره عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ (۱۸) په ورکولو د طعام سره مسکینانو لره وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اوخورئ تاسے مال د میراث اَكْلًا لَّمًّا (۱۹) په خوراك سخت او ډیر سره فائده: لمجمع کولو ته وائی په مینځ د حلالو او د حرامو کښی او وئ دوئ چه میراث به ئے نه ورکولو بنحو او هلکانو نوته او خوږے به ئے حصے دهنوئ وَتُحِبُّوْنَ الْمَالَ اودوست لرئ تاسے مال لره حُبًّا جَمًّا (۲۰) په دوستئ ډیرے سره له وجه د حرصه پس نهٔ ئے نفقه کوئ په لاره د خدائ کښ كَلَّآ اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ حقه ده په هغه وخت کښ چه ماته کړے شی زمکه دَكًّا دَكًّا (۲۱) په ماتید وسره پس له ماتید ونه فائده: مکړه به شی پرے ماتولے د پاره د دے چه کړد شی وَجَآءَ رَبُّكَ اورابه شی علاے د قدرت ورب ستا یعنی بنکاره به شی وَالْمَلَكُ اورابه شی ملائکے په میدان د محشر باندے صَفًّا صَفًّا (۲۲) صفونه صفونه موافق له مرتبو سره ئے وَجِایْٓءَ یَوْمَىِٕذٍۭ بِجَهَنَّمَ اورابه وسے شی په دغه ورځ کښ دوزخ لره او په حدیث کښ دی چه یؤتیٰ یومئذٍ بجهنم لها سبعون الف زمام مع کل زمام سبعون الف ملك یجرونها. او جهنم به له ډیره قهره جوش وهی او میدان د محشر لره به ئے راوړی او په کینه طرف د عرش به ئے کیږ دی او په دغه حال کښ به هیڅ ملائکه مقرب او پیغمبر پاتے نشی. مکړ له هیبته به سکوړ پریوځی او داسے به وائی ربِّ نفسی ربِّ نفسی او پیغمبر حضوږه به وائی یارب امتی امتی. نو جهنم به وائی اے محمد صلے الله علیه وسلم تاله په ما باندے او مالره په تا باندے څهٔ کار دے خدائ تعالیٰ په تا باندے حرام کړے یم یَوْمَىِٕذٍ په دغه ورځ کښ به یَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ یادکړی سړے کنا هوند خپل اوچا و یلی دی خبره به شی په قیامت کښ په اعمالو خپلو اویا به ونیسی وَاَنّٰى اوله کومه به وی لَهُ الذِّكْرٰى (۲۳) دهٔ لره فائده له یادولو او یاله پند نیولو څخه څهٔ چه څائ د پند نیولو د نیا ده نه آخرت. نو پس هر کله چه سره پوه شی چه نیول فائده نهٔ کوی پس

عه رابه وسے جهنم په دغه ورځ چه وی به دهٔ لره اویا زره واکے سره دهره واکے به او یا زره ملائکے وی چه راکاږی به ئے ۱۲ منه رحمه ربه - کتبه: محمد صادق زهیر "چیرهارے د اکوال عفی عنه

له افسوس به يَقُوْلُ وائی دے يٰلَيْتَنِيْ اے کاشکے ما قَدَّمْتُ مخکښ لیږلے وے عمل دخیر لِحَيَاتِيْ (۲۴) د ژوند چه ژوند دآخرت دے فَيَوْمَئِذٍ پس په دغه ورځ به لَّا يُعَذِّبُ نهٔ عذابوی هیڅوک عَذَابَهٗٓ احَدٌ (۲۵) په مثل د عذاب د خدائ هیڅوک لا سره نه یعنی عذاب د خلقو نهٔ وی لکه عذابول د خدائ وَّلَا يُوْثِقُ اونهٔ بندوی په زنځیرونو سره هیڅوک لا به وَثَاقَهٗٓ په مثل د بندولو د خدائ احَدٌ (۲۶) هیڅوک یعنی هیڅوک به نهٔ توانیږی په دغه ورځ په عذابولو اوبندولو د چا سره حُکم چه حکم په دغه ورځ د خدائ لره دے او وائی به خدائ په نزد د مړ او یا په نزد د پورته کیدلو له قبرونو نه او یا په نزد د داخلیدلو جنت ته د یاره د اکرام د مؤمن يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ (۲۷) اے نفسه آرام نیوُنکیه په ذکر خُدا سره او شکر کونکیه په نعمت باندے اوصبر کونکیه په سختئ باندے ارْجِعِيْٓ بیرته وګرزه له دنیا نخه اِلٰى رَبِّكِ وعدے د رب خپل ته او یا ثواب ته ے رَاضِيَةً په هسے حال کښ چه راضی ئے ته یه هغه خیز چه درکړیدے تا نه خدائ مَّرْضِيَّةً (۲۸) او خدائ راضی دے له تا نه. او هر کله چه ورځ د قیامت شی وبه ویلے شی فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ (۲۹) داخل شه په ټولی دنیکو بندګانو خُما کښ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ (۳۰) او داخل شه په جنت خُما کښ سره د مقربانو. په حدیث کښ دی. مَنْ قرء سورة الفجر فی اللیالی العشرة غُفر له و من قرء ها فی سائر الایّام کانت له نورًا یوم القیٰمة.

البلد مکیة ۹۰ ۲۰ اٰیاتها

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَآ اُقْسِمُ خامخا سوګند خورم بِهٰذَا الْبَلَدِ (۱) په دے ښار باندے چه مکه ده وَاَنْتَ حِلٌّۢ م اوحال دادے چه ته پیدا شوے ئے بِهٰذَا الْبَلَدِ (۲) په دے ښار کښ چه د ځائ دامن دخلقو دے وَوَالِدٍ او سوګند دے په پلار چه آدم علیه الصلوٰة والسلام او یا ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام دے وَّمَا وَلَدَ (۳) او سوګند دے په هغه چا چه پیدا شوی

عه هغه چا چه ولوست سورة فجر په شپږ لسګښ چه لس شپے دذی الحجے یا د محرم دی بخښنه به وکړے شی دهٔ لره او هغه چا چه ولوست په ټولو ورځُو کښ وی به دغه سورت دهٔ لره نور به ورځ د قیامت باندے ۱۲

دی چه ذریة د آدم علیه السلام دے او یا محمد علیه السلام دے اوچا ویلی دی والد محمد علیه الصلوٰة والسلام دے اوما ولد ئے امت دے نو خدائ تعالیٰ سوګند وکړ په رسول کریم علیه السلام او په امت د دغه باندے اوجواب ه قسم داد ے چه لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْ كَبَدٍ ۝۴ په تحقیق سره پیدا کړی دی مونږه سړی په رنځ او په سختئ کښ چه مصائب د دنیا او شدائد د آخرت ورته رسیږی روایت دے چه ابوالاسدین دیر قوی وو دا اسے چه څرمن به ئے دخپلو لاندے کړه او لسو نهلوانانو به راځکله نو نهتے نهوتے به شوه اوله خپے نه به ئے نهٔ راوتله اودعوی به ئے کوله چه هیچا لره په ماباندے لاس نهٔ رسی اوهمیشه به ئے پیغمبر علیه السلام ته حیلے جوړ ولے نوخدائ تعالیٰ وفرمایل اَیَحْسَبُ ایا ګمان کوی ابوالاسدین دا اسے چه اَنْ لَّنْ یَّقْدِرَ قادر به نهٔ شی عَلَیْهِ اَحَدٌ ۝۵ په دغه باندے هیڅوک چه انتقام د پیغمبر ترے واخلی یَقُوْلُ اَهْلَكْتُ وائی به په وخت د انتقام کښ. هلاک کړے م وو په عداوت د پیغمبر علیه السلام کښ مَالًا لُّبَدًا ۝۶ مال د پیر څکه چه خلقو ته م رشوت ورکولو د پاره د ضرر رسولو پیغمبر علیه السلام ته اَیَحْسَبُ ایا ګمان کوی دے دا اسے چه اَنْ لَّمْ یَرَهٗۤ اَحَدٌ ۝۷ نهٔ وینی دغه لره هیڅوک په وخت د نفقو ورکولو کښ په زیا او فخر سره یعنی خدائ ئے وینی اوجزا به ورکړی پس یاد کړل خدائ تعالیٰ نعمتونه خپل په دغه باندے نوے ویلے اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَیْنَیْنِ ۝۸ ایا نهٔ م دی ورکړے دغه ته دوه سترګے چه پرے نظر کوی بلکه ورکړی م دی وَلِسَانًا اوژبه چه پرے خبرے کوی وَّشَفَتَیْنِ ۝۹ اودوه شونډے چه خولهٔ ئے پټوی او په خبرو اوخوراك او پوکی باندے ورسره مدد کوی وَهَدَیْنٰهُ النَّجْدَیْنِ ۝۱۰ اوخودلی م دی دغه ته دوه لارے یوه د خیر چه پرے جنت وتړئ اودوئمه د شر چه پرے دوزخ وتړئ، په انزال د کتابونو او په ارسال د رسولانو سره اوچا ویلی دی چه نجدین تیونوته وائی نو معنی ئے دا شوه چه ښودلے م دغه دغه ته لاره د دووتیونو چه پس له پیدا کیدو ترے شود غه څښی فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ۝۱۱ پس تیر نهٔ شهٔ له حقه څخه اوسختی ئے ونهٔ کړه

په مخالفت د نفس او د هوا کښ حاصل دا دے چه ولے مال خپل ئے په دشمنئ د پیغمبر علیه السلام کښ په ریا او فخر سره ورکهٔ او تیر نشهٔ له عقبی نه وَمَآ اَدْرٰىكَ اوچهٔ څیز خبر کهٔ تالره چه مَا الْعَقَبَةُ ﴿۱۲﴾ څهٔ دی عقبه فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿۱۳﴾ عقبه خلاصول ذکر کول د مړئ دی له مولی څخه یعنی منت کول دی مکاتب سره اَوْ اِطْعٰمٌ یا عقبه طعام ورکول دی فِیْ یَوْمٍ ذِیْ مَسْغَبَةٍ ﴿۱۴﴾ په هغه ورځ کښ چه خاونده د لوږے وی یعنی په وخت د قحط کښ ورکوی یَّتِیْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿۱۵﴾ یتیم لره چه خاوند د قرابت وی اَوْ مِسْكِیْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿۱۶﴾ او یا مسکین لره چه صاحب د خاورو وی یعنی چه ارخ ئے له فقره په خاورو اچے وی ثُمَّ كَانَ پس وی دغه ازاد کونکے د رقبے او ورکونکے د طعام مِنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا له مؤمنانو نه څکه چه قبلیدل د تولو خیر اتو نو په ایمان سره دی وَ تَوَاصَوْا او وصیت ئے کړے وی بِالصَّبْرِ په صبر سره په طاعت او یا په سختیو باندے او یا صبر ئے کړے وی کناه نه وَ تَوَاصَوْا او وصیت ئے کړے وی بِالْمَرْحَمَةِ ﴿۱۷﴾ په بخښنه او په مهربانئ سره په بندګانو د خدائ باندے اُولٰٓئِكَ دغه کسان مومنان صابران مهربانان اَصْحٰبُ الْمَیْمَنَةِ ﴿۱۸﴾ خاوندان دښی لاس دی یعنی له ښی طرف د عرش به جنت وته ځی۔ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِاٰیٰتِنَا اوهغه کسان چه کافر شوی دی په ایتو نو د قرآن حکمونو نه هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ﴿۱۹﴾ دوئ خاوندان د کښے طرف د عرش دی یعنی له دغه طرف د عرش به دوزخ وته ځی عَلَیْهِمْ نَارٌ وی به په دوئ باندے په دوزخ کښ اوس۔ مُّؤْصَدَةٌ ﴿۲۰﴾ پټ او د اکنایت دے له نهایت د ډیرے سختی سره او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة البلد اعطاه الله الامان من غضبه یوم القیمة۔

سُوْرَةُ الشَّمْسِ مَكِّيَّةٌ ۹۱ — ۲۶ — ۱۵ — ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

وَالشَّمْسِ او سوکند دے په نمر باندے وَضُحٰهَا ﴿۱﴾ او سوکند دے په رڼا ئی چه

عه هغه چا چه ولوست سورة البلد و به کړی خدائ تعالی دهٔ له امان له غضبه خپله په ورځ د قیامت ۱۲

ورسیبری څابنت وته وَالْقَمَرِ اوسوګند دے په سپوږمئ باندے اِذَا تَلٰهَا ۲ په هغه وخت کښ چه تابع شی ارتفاع ئے له غروب له نوره سره په لیلة البدر کښ وَالنَّهَارِ اوسوګند دے په ورځ باندے اِذَا جَلّٰهَا ۳ په هغه وخت کښ چه روښانه کړی زمکے لره اوچا ویلی دی په ورځ باندے په هغه وخت کښ چه روښانه کړی نمر لره وَالَّيْلِ اوسوګند دے په شپه باندے اِذَا يَغْشٰهَا ۴ په هغه وخت کښ چه پټه کړی رڼا ئی د نمر لره ۔ وَالسَّمَآءِ اوسوګند دے په اسمان باندے وَمَا بَنٰهَا ۵ اوسوګند دے په هغه ذات چه جوړ کړے ئے دے اسمان وَالْاَرْضِ اوسوګند دے په زمکه باندے وَمَا طَحٰهَا ۶ اوپه هغه ذات باندے چه عورولے ده زمکه وَنَفْسٍ اوسوګند دے په نفس د آدم باندے ۔ وَمَا سَوّٰهَا ۷ اوپه هغه ذات باندے چه برابر کړی ئے دی اندامونه دهغهٔ فَاَلْهَمَهَا پس الهام ئے وکه هغه نفس وته یعنی بنودلی ئے دی هغهٔ وته فُجُوْرَهَا دروغ اوناپاکی او بے باکی دهغهٔ وَتَقْوٰهَا ۸ اوپرهیزګاری دهغهٔ اوجواب دقسم دادے قَدْ اَفْلَحَ په تحقیق سره خلاص شهٔ مَنْ زَكّٰهَا ۹ هغه څوک چه پاک ئے کهٔ نفس خپل له خیری د نجاست وَقَدْ خَابَ اوپه تحقیق سره بے حصے پاتے شهٔ مَنْ دَسّٰهَا ۱۰ هغه څوک چه ډوب ئے کهٔ نفس خپل په فسق اوفجور اومعصیت اوضلالت کښ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ تکذیب وکه قبیلے د ثمودیانو بِطَغْوٰهَا ۱۱ په سبب دسرکشئ خپلے سره دصالح علیه السلام اِذِ انْۢبَعَثَ په هغه وخت کښ چه پورته شهٔ اَشْقٰهَا ۱۲ بدبخت تر دثمودیانو چه قدار بن سالف وو د هلاکولو دناقے فَقَالَ لَهُمْ پس وویلے دوئ ته رَسُوْلُ اللّٰهِ رسول دخدائ یعنی صالح پیغمبر نَاقَةَ اللّٰهِ لاس پورته کړئ له ناقے دخدائ وَسُقْيٰهَا ۱۳ اولاس پورته کړئ دحصے داوبو نه ئے څکه چه عذاب نازل نشی په تاسے باندے فَكَذَّبُوْهُ پس تکذیب ئے وکهٔ صالح علیه السلام لره په نزول دعذاب کښ فَعَقَرُوْهَا ۱۴ پس ګودے کړه دوئ اوسنه فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ پس هلاك ولیږلو په دوئ باندے رَبُّهُمْ رب دوئ په یوځله بِذَنْۢبِهِمْ په سبب دګناه دوئ سره چه تکذیب درسول اوعقر دناقے وو فَسَوّٰهَا ۱۴

(وجتوالے ۱۳)

(هیڅے پرېکول دهغو دا وینے ۱۲)

پس برابرے کہ هغه هلاکت په ټولو چه صغار او کبارے ټول هلاک کړۀ وَلَا يَخَافُ او نۀ ویریږی خدائ عُقْبٰهَا ⑮ له عاقبت دهلاك د دوئ تخم ځکه چه هیڅوالړه په دۀ باندے قدرت نشته او په حدیث کښ دی. چه من قرء سورة الشمس فکانما تصدق بکل شیء طلعت علیه الشمس والقمر ❊❊❊

سُوْرَةُ اللَّيْلِ مَكِّيَّةٌ ٩ ٢١ اياتها ١ رکوعها

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ① سوګند دے په شپه باندے په هغه وخت کښ چه پټ کا ندے عالم په تیرے خپلے کښ وَالنَّهَارِ اوسوګند دے په ورځ باندے اِذَا تَجَلّٰى ② په هغه وخت کښ چه روښا نه شی اوتیاره دشپے لرے کړی وَمَا خَلَقَ اوسوګند دے په هغه ذات باندے چه پیدا کړی ئے دی الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ③ نراو ښځه له یو اوبو نه اوجواب دسوګند دا دے چه اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ④ په تحقیق سره عملونه ستاسے خامخا مخالف دی پس بیان دعملونو مختلفو کوی فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى پس هغه چاچه ورکړۀ حق د مال خپل په لارۀ دخدائ کښ وَاتَّقٰى ⑤ اوځان ئے وساته له شرکه اوکبائرو نه وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ⑥ اوتصدیق ئے وکړۀ د ملت حسنیٰ چه اسلام دے اویا د مثوبة حسنیٰ چه جنت دے اویا دکلمے حسنیٰ چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه دے فَسَنُيَسِّرُهٗ پس زه دے چه اسان والے به ورکړم هغه لارۀ لِلْيُسْرٰى ⑦ طریقے نیکے وته چه هغه سبب د اسانئ او دراحت دۀ وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ اوهغه چاچه بخل ئے وکړو په مال خپل کښ. وَاسْتَغْنٰى ⑧ اومستغنی ئے کړۀ ځان خپل له ثواب دخدائ اوچا ویلی دی مستغنی شۀ په لذاتو د دنیا سره له نعمتونو د اخرت وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ⑨ اوتکذیب ئے وکړۀ د کلمے نیکے چه اسلام دے فَسَنُيَسِّرُهٗ پس اسان والے به ورکړم هغه لارۀ لِلْعُسْرٰى ⑩ طریقے بدو وته چه هغه سبب د سختئ او دخفګان دے اوچا ویلی دی طریقه اوله د

عمّ هغه چاچه ولوست سورة الشمس پس گویا که تصدیق وکړو دۀ په هر هغه څیز سره چه وخوت پے نبر او سپږدئ یعنی گویا کۀ ټولو ورځ تصدق یعنی خیرات ئے وکړۀ ۱۲

جنت دہ اوطریقہ دویمہ ددوزخ دہ وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ او دفع نۀ کا دۀ څہ عذاب مَالُهٗ مال ددۀ چہ پہ هغہ سرہ ئے بخل کولو اِذَا تَرَدّٰى (۱۱) پہ هغہ وخت کښ چہ ومری او پریوځی پہ قبر کښ او یا پہ دوزخ کښ اِنَّ عَلَيْنَا پہ تحقیق سرہ پہ مونږہ ئے لَلْهُدٰى (۱۲) بیان حق وتہ پہ دلیلونو سرہ پہ مقتضی دحکمت حُمونږہ وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى (۱۳) او پہ تحقیق سرہ مالرکا اخرت او دنیا دہ نو پس هرچا چہ طلب وکړۀ د اخرت او د دُنیا له بل چا نہ نو پہ تحقیق سرہ خطا ئے کړہ لارہ فَاَنْذَرْتُكُمْ پس ویروم تاسے اے اهل مکہ وُ نَارًا تَلَظّٰى (۱۴) له هغہ اورہ چہ لمبے وهی لَا يَصْلٰىهَآ نۀ یہ داخلیږی دغہ اوړکښ همیشہ اِلَّا الْاَشْقَى (۱۵) الَّذِيْ مګر هغہ بد بخت چہ كَذَّبَ تکذیب د پیغمبرئ اوکۀ وَتَوَلّٰى (۱۶) او مخ ئے وګرځولو له ایمانہ چہ امیہ او یا ابوجهل دے وَسَيُجَنَّبُهَا او زہ دے چہ لرے بہ کړے شی د دغہ اورہ الْاَتْقَى (۱۷) الَّذِيْ هغہ پرهیزګار چہ يُؤْتِيْ مَالَهٗ ورکوی مال خپل فقیرانو وتہ يَتَزَكّٰى (۱۸) د پارہ د دے چہ غواړی پہ دغہ مال سرہ پاکی او نیکی او نۀ غواړی ریا او شهرت چہ ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ دے روایت دے چہ کافرانو وویلے چہ بلال رضی اللہ عنہ حق لرلو پہ ذمہ د ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ باندے حُکمہ ئے بلال و پیرودۀ او آزادے کړو حق تعالیٰ ردکړہ خبرہ د دوئ او وے ویلے وَمَا لِاَحَدٍ اونۀ وو هیچا الرہ عِنْدَهٗ پہ نزد د ابی بکر صدیق رضی اللہ عنہ مِنْ نِّعْمَةٍ له نعمته اومنته چہ تُجْزٰى (۱۹) جزا ورکړے شی له هغہ څخہ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰى (۲۰) مګر دغہ کار ئے کړے دے د پارہ د طلب د رضا د خدائ خپل هسے خدائ چہ لوئ دے وَلَسَوْفَ يَرْضٰى (۲۱) او زہ دے چہ خوشحال بہ شی او وبہ رسیږی ثواب موعود و تہ۔ او پہ حدیث کښ دی چہ من قرء سورۃ الیل اعطاہ اللہ تعالیٰ حتی ترضی وعافاہ من العسر ویسّر لہ الیسریٰ۔

عہ هغہ چا چہ ولوست سورۃ والیل ورپہ کړی خدائ تعالیٰ دۀ لرہ اجر ترهغہ پورے چہ خوشحاله شی او خلاص بہ ورکړی خدائ تعالیٰ دۀ لرہ له سختئ نہ او اسانہ بہ کړی دۀ تہ طریقہ د جنت ۱۲

سورۃ الضحیٰ مکیۃ ۹۳ ۱۱ آیاتہا ۱۱ رکوعہا ۱

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

روایت دے چه یوه ورځ حضرت جبریل علیه السلام په رسول کریم صلے الله علیه وسلم باندے رانغے او وحی ئے رانه وړه پس کافرانو ژبه دطعن وسپرده چه خدائ تعالیٰ محمد صلے الله علیه وسلم عبث پریخودهٔ او دشمن خپل ئے ونیو وخدائ تعالیٰ رد کړه دغه خبره او ویے ویلے. وَالضُّحٰی ① سوګند دے په څابنت باندے چه نمر په دغوخت کښ ښهٔ روښانه وی. فائده. خاص ئے کهٔ وخت د څابنت په قسم سره له دے جهته چه په دغه وخت کښ خدائ تعالیٰ خپرے کړے وے موسیٰ علیه السلام سره اویل ساحرانو سجده کړے وه خدائ لره په دغه ساعت کښ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰی ② او سوګند دے په شپه باندے په هغه وخت کښ چه په آرام شی اهل ئے. فائده. روښے ئے کړه شپه په سورهٔ ذکر شوی کښ په اعتبار داصل سره او روښے ئے کړه ورځ په دے سورت کښ پر اعتبار د شرافت سره. اوجواب دقسم دادے. چه مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ نه ئے پریښے ترب ستا عبث. وَمَا قَلٰی ③ اونه ئے تهٔ دشمن نیولے وَلَلْاٰخِرَةُ او په تحقیق سره سرائے د اخرت چه دے خَيْرٌ لَّكَ بهتر دے تا لره مِنَ الْاُوْلٰی ④ له سرائے د دنیا څخه ځکه چه سرائے د اخرت هیښه دے خالص له مکروها تو نه او سرائے د دنیا فانی دے مخلوط د مضارو سره. فائده. هرکله چه بیان وکهٔ خدائ چه هیښه وصل کوی پیغمبر علیه السلام سره په وحی او کرامت سره. په دنیا کښ وعده ئے وکړه د هغه څخه لره د هغه څیز چه هغه لوئ او بزرګ دے. له دغه څخه په اخره کښ چه مرتبه د شفاعت ده په حق دامت گنهګار کښ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ او ډیر زر به درکړی تا ته رَبُّكَ رب ستا خو څه عالیانے فَتَرْضٰی ⑤ پس ته به راضی شے **روایت دے** چه هرکله دا آیت نازل شهٔ وویلے رسول کریم صلے الله علیه وسلم په دغه وخت کښ راضی به نشم هیڅکله چه وی یو له امت څمانه په او رکښ روایت دے چه رسول کریم صلے الله علیه وسلم وویل ماسوال وکهٔ چه اے خدایه سلیمان

علیه السلام لره دِ ملک لوئ ورکړے وو پس خدائ تعالیٰ وویلے اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا ایا نهٔ ئے وے موندلے تهٔ هلک بے پلاره بلکه موندلے ئے وے فَاٰوٰی (۶) پس ځائ ورکهٔ تالره په څنګ دعم (تره) سنا کښی چه ابوطالب وو وَوَجَدَكَ اوموندلے وے تهٔ خدائ ستا ضَآلًّا چه نهٔ پوهیدلے په علامو دنبوت او احکامو د شریعت فَهَدٰی (۷) پس پوهه ئے کړے تهٔ په شریعت او قرآن سره اوچا ویلی دی موندلے وے تهٔ خدائ چه ورکه کړے دِ وه لاره پس لاره ئے وښوده تاته. فائده اونهٔ ده جائز چه معنیٰ د ضال گمراه شی له حق ځکه چه پیغمبر علیه السلام پاك وو له اول نه تر نزول دوحی پورے وَوَجَدَكَ عَآئِلًا او موندلے ئے وے خوار فَاَغْنٰی (۸) پس دولتمند ئے کړے تهٔ په مال دبی بی خدیجے سره اویا په غنیمت سره له کافرانو نخه فَاَمَّا الْیَتِیْمَ پس یتیم وته فَلَا تَقْهَرْ (۹) پس قهر مهٔ کوه تهٔ اویا غلبه مهٔ کوه په مال دیتیم باندے وَاَمَّا السَّآئِلَ اوهر چه سائل دے فَلَا تَنْهَرْ (۱۰) پس مهٔ ئے محرومه کوه پس ورکړه ورلره لږ اویا ئے ردکړه په نیکئ سره اوچا ویلی دی مراد له سائل طالب العلم دے وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ او په نعمت درب خپل باندے چه پرے خبری ده او یا وحی ده فَحَدِّثْ (۱۱) پس خبرے کوه یعنی احکام دخدائ خلقو ته بیانوه ځکه چه رَسُوْل خلقو ته شکر د نعمت دے او په حدیث کښی دی چه مَنْ قرء سورة الضحیٰ جعله الله فیمن یرضی لمحمد ان یشفع له وعشر حسنات یکتبها الله تعالیٰ له بعدد کل یتیم وسائل ؕ

سُوْرَةُ الانشراح مکیة ۹۴ ۱۲ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — اٰیاتها ۸ رکوعها ۱

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ (۱) ایا نهٔ مو سپرودے دپاره ستا سینه ستا بلکه سپرودے مو ده چه ایخی مو دی پکښی علمونه او حکمتونه پس لږے مو کهٔ ترے تنګوالے دجهل وَوَضَعْنَا عَنْكَ او پورته مو کهٔ له تانه وِزْرَكَ (۲) بار درونه ستا الَّذِیْٓ اَنْقَضَ هغه بار چه

عه هغه چا چه ولوست سورة الضحیٰ وبه کړ خوئ خدائ تعالیٰ ده په ولے دهغے کسانو چه راضی کوی محمد ﷺ لره دا سے شفاعت به وکړی ده لره اوس نیکئ خدائ تعالیٰ په شمار دهر یتیم او فقیر سره ۱۲

درنه کړے ئے وہ ظَهْرَكَ (۳) شاستا چه هغه دوام دکافرانو وو په کفر باندے وَرَفَعْنَا لَكَ او بلند مے کړ ٔ دپاره دقدرستا ذِكْرَكَ (۴) یادول ستا په پیغمبرئ سره اوچاویلی دی پیوسته مے کړ ٔ نوم ستا له نامے خپلے سره په اذان او اقامت او کلمے د شهادت اوخطبه او تشهد کښ او په څوځایونو کښ له قرآن لکه اطیعوا الله واطیعوا الرسول ومن یطع الله ورسوله احق ان یرضوه۔ او وے کړ ٔ حکم د اطاعت خپل په طاعت د ٔ خپل حکم چه ویلی ئے دی۔ من یطع الرسول فقد اطاع الله او درود ئے ویلے دے په د ٔ باندے په ملائکو کښ لکه چه ویلی ئے دی۔ ان الله وملئکته یصلون علی النبی۔ او امر ئے کړے دے خلقو ته په درود ویلو سره حکم چه ویلی ئے دی ان الله وملئکته یصلون علی النبی ط یا یها الذین اٰمنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما۔ فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ پس په تحقیق سره له سختی سره چه په تا باندے د له کافرانو څخه یُسْرًا (۵) اسانی د ٔ په غلبه ستا سره په هغوئ باندے اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًا (۶) ط په تحقیق سره له سختئ سره اسانی د ٔ۔ فائدہ۔ تکرار د تاکید دے اوچاویلی دی عُسر تنګوالی د سینے ته وائی او یُسر فراخئ ته وائی۔ اوچاویلی دی عُسر گمراه کیدلو د قوم ته وائی او یُسر توفیق دهدایت ته وائی فَاِذَا فَرَغْتَ پس په هغه وخت کښ چه فارغ شے ته له تبلیغ د رسالت فَانْصَبْ (۷) پس رنځ راکاږه په عبادت د خدائ کښ د پاره د شکر په نعمتونو سابقوو باندے او د پاره د وعدے څمونږه په نعمتونو راتلونکو باندے اوچاویلی دی چه فارغ شے له مانځه څخه پس کوشش کوه په دُعا کښ اوچاویلی دی چه فارغ شے له غزا نه پس رنځ راکاږه په عبادت کښ وَاِلٰى رَبِّكَ اوډب خپل ته فَارْغَبْ (۸) عاجزی کوه په سوال سره اوسوال مه کوه د بل چا څخه حکم چه خدائ قادر دے په قضا دحاجاتو کښ۔ او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الم نشرح فکانما جاء فی وانا مغتم ففرج عنی ۱۲

عہ هغه چا چه ولوست سورة الم نشرح پس گویا که راغے ماته اوحال دا چه زهٔ غمژن وم۔ پس غم ئے لرے کړ ٔ له ما نه ۱۲

سُوْرَةُ التِّيْنِ مَكِّيَّة ۹۵ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعُهَا ۱

وَالتِّيْنِ اوسوګند دے په اینځر باندے وَالزَّيْتُوْنِ (۱) اوسوګند دے په خونه باندے سوګند ے وکړهٔ په دغه دواړو باندے ځکه چه دوئ عجیبه دی په مینځ دونو میوه دار وکښ روایت دے چه راوړے شهٔ رسول کریم صلے الله علیه وسلم وئه یو تالے له اینځرو پس ترے وے خوړل او وے ویلے اصحابو ته وخورئ ترے تاسے ځکه چه دے پریکوی بواسیر اونفع رسوی نفوس وته او ویلی ئے ووچه نیک مسواك دخونهٔ ۱۲ خوشبویه کوی خولهٔ او دغه مسواك ځما دے او مسواك دپخوانو پیغمبرانو هم دے وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ (۲) اوسوګند دے په طور سینا باندے چه هغه ځائ دمناجات دموسیٰ علیه السلام دے خدائ خپل سره وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ (۳) اوسوګند دے په دے بنار باندے چه امان ورکونکے دے هغه چا لره چه ور ته داخل شی چه هغه مکه ده اوچا ویلی دی سوګند ئے وکهٔ په تین او زیتون باندے ځکه چه ځایونه دنزول دوحی وو په حضرت عیسیٰ[۴] باندے اوطورسنین ځائ دنزول دوحی وو په حضرت موسیٰ[۴] باندے اوهذا البلد الامین ځائ دنزول دوحی وو په حضرت محمد صلے الله علیه وسلم باندے اوجواب دقسم دا دے چه لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ په تحقیق سره پیدا کړے دے مونږ سړے فِيْ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ (۴) په بنهٔ قامت سره یعنی خاص زمونږ کهٔ سړے په مینځ دحیوانانو توکښ په انتصاب دقامت او په حسن دصورت او په برابرئ داندامونو سره ثُمَّ رَدَدْنٰهُ پس رد به کړم دغه انسان چه شکرنهٔ کوی په دغه نعمتونو باندے اَسْفَلَ سَافِلِيْنَ (۵) اسفل سافلین وته چه هغه کوزه طبقه ددوزخ ده اوچا ویلی دی پس رد به کړم دغه انسان پس له بنهٔ قامت او حسن اسفل السافلین عمر وته چه هغه زوړوالے دے نو شا به ئے تیته شی پس له سموالی څخه او ویخته به ئے سپین شی پس له توره الی څخه اوغوږونه به ئے کانړه شی پس له اوریدلو نه

---

۱۲ یعنی په بنه قامت او حسن دصورت او برابر والی دا ندامونو باندے ۱۲

او مغیر به ئے شی تول څیزونه اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مګر هغه چا چه ایمان ئے راوړیدے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه نیک ئے کړی وی فَلَهُمْ پس دے دوئ لره اَجْرٌ اجر غَیْرُ مَمْنُوْنٍ ۝۶ چه نهٔ دے کمیدونکے یعنی ولیکن هغه کسان چه نیکو کاران دی له زهد او کار وتخه پس دے دوئ لره ثواب نهٔ کمیدونکے په عبادت د دوئ سره او په صبر د دوئ سره په زور والی کښ. حاصل دا دے لکه چه په ځوانئ او جوړوالی کښ اجر د عبادت ورکوی په وخت د پیرئ او د ضعف کښ هم ثواب کامل نهٔ کمیدونکے ورکوی. آګر کهٔ عمل په مثل د ځوانئ نه شی کولے فَمَا یُکَذِّبُکَ پس څوك نسبت د کذب کوی تا ته اے پیغمبره بَعْدُ بِالدِّیْنِ ۝۷ پس له دے دلیل واضحه نه. نو ما په معنیٰ د مَنْ دے اوچا ویلی دی پس څهٔ څیز تکذیب د بعث باندے لری تا لره اے انسانه پس له ظهوره د دلائلو واضحو څخه په د رځ د جزا باندے حاصل دا دے چه پیدا اوخت د انسان له نطفے څخه او بنهٔ قامت ئے او بدلښتوی والے ئے ترهغه پورے چه کامل شی او برابر شی او پس تنکیس ئے ترهغه پورے چه ورسیږی ازدل عمر وته. دلیل واضح دے په قدرت د خالق باندے او بل په دے چه هغه څوك چه قادر دے په پیدا کولو د انسان باندے عاجز نهٔ دے له اعادے نهٔ ئے جزا وته اَلَیْسَ اللّٰهُ ایا نهٔ دے خدائ تعالیٰ بِاَحْکَمِ الْحٰکِمِیْنَ ۝۸ ع بنهٔ حکم کونکے له حاکمانو څخه بلکه دے او په حدیث کښ دی هغه څوك چه ولولی الیس الله باحکم الحاکمین ط بائد ده دی چه وانَا دِ وانا علی ذلك من الشهدین او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة التین اعطاه الله تعالیٰ العافیة والیقین مادام حیًّا فاذا مات اعطاه الله من الاجر بعدد من قرء هذه السورة ؕ ؕ

سُوْرَةُ العلق مکیة اٰیاتها ۱۹ رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ لوله قرآن شریف په نامه د رب خپل سره یعنی وایه بسم الله الرحمن

عه هغه چا چه ولوست سورة التین ورکړی خدائ تعالیٰ دهٔ لره سلا منیا او یقین ترهغه پورے چه ژوندے وی او چه مړ شی ورکړی خدائ دهٔ لره اجر په شمار د هغه چا چه اولی د اسورة ۱۲

الرحیم. په وخت د شروع کښ په قران باندے اَلَّذِیْ خَلَقَ ۚ (۱) هغه رب چه پیدا کړی ئے دی پټول څیزونه **تنبیه** حذف ئے کړو مفعول د خلق د پاره د دے چه دلالت وکړی په تعمیم د خلقت باندے پس خاص ئے کړو په خلقت سره انسان له جهت د شرافته حُکه چه نزول د قران دهٔ ته شوے دے. نو وے ویلے خَلَقَ الْاِنْسَانَ پیدا کړی ئے دی سړی مِنْ عَلَقٍ ۚ (۲) له وینو بستو. فائده:. وے ویلے علق په لفظ د جمع سره او وے نهٔ ویلے علقه په لفظ د مفرد سره او سره د دے چه انسان لفظ مفرد دے له دے جهته چه انسان په معنیٰ د جمع دے اِقْرَاْ لوله. **تنبیه** تکرار د پاره د مبالغے دے اوچاو یلی دی اقرأ اول مطلق دے او دوئم مقید دے معنیٰ د اچه لوله قران د پاره د رسولو خلقوته او یا په مانځه کښی وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۙ (۳) اوږب ستا چه دے لوئی کریم دے له ټولو کریما نو څخه حُکه چه دے نعمت ورکوی بلا عوضه او حکم کوی بے له ویرے څخه بلکه خدائی کریم دے په حقیقت کښی اَلَّذِیْ عَلَّمَ هغه ذات چه وے خودهٔ لیکل دخط بِالْقَلَمِ ۙ (۴) په قلم سره د پاره دے چه قید کړے شی په خط سره علمونه او پوهه کړے شی پرے لرے خلق او که نهٔ وے خط نهٔ به وو برابر کار نه دین او دد نیا عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۬ (۵) پوهه کړے ئے دے سړے په هغه څیز باندے چه پرے نهٔ پوهیدهٔ او نقل ئے که له جهله نو ردعلم ته كَلَّاۤ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰۤى ۙ (۶) حقه ده چه جنس سړے یا ابوجهل خاصتا په سرکښئ کښی تیریږی له حد څخه داسے چه اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ۘ (۷) ویني ځان خپل بے حاجته او دولتمند اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى ۘ (۸) په تحقیق سره چه طرف د رب ستا دته اے انسانه رجوع ستاده نو جزا به درکړی په طغیان ستا باندے **روایت دے** چه ابوجهل و ویلے که محمدﷺ په سجده ولیدهٔ څیه به ئے په کړدن کیږدم. یوه ورځ پیغمبرﷺ مونځ کولو. نو ابوجهل خبر شهٔ په جلتی سره و رته روان شهٔ رسیدلے نهٔ وو چه بیرته وګرځیده کافران وو ویلے چه څهٔ وشوتا لره. وے ویل چه په مینځ ځما او د محمدﷺ کښ م خندق ولیدهٔ د ډک له اوره پس طاقت ځما ونشهٔ نو د اخبر حضرتﷺ و ته ورسیدهٔ پس وے ویلے که په نزد ځما

راغلے وے۔ ملائکو بہ پارہ پارہ کړے و و۔ دا ایت راغے اَرَاَیْتَ ایا ویلے تہٗ اَلَّذِیْ یَنْهٰی ﴿۹﴾ هغه څوك چه منع کوی چه هغه ابوجهل دے عَبْدًا بنده کامل لره چه محمدؐ دے له مانځه څخه اِذَا صَلّٰی ﴿۱۰﴾ په هغه وخت کښی چه هغه مونځ کوی اَرَاَیْتَ ایا ویلے تہٗ اِنْ کَانَ کہ څرګ وی ابوجهل عَلَی الْهُدٰۤی ﴿۱۱﴾ په لاره دهدایت باندے اَوْ اَمَرَ او یا ئے امر کولے خلقو تہ بِالتَّقْوٰی ﴿۱۲﴾ په پرهیزګارئ سره اَرَاَیْتَ ایا ویلے تہٗ **تنبیه** تکرار د پاره دتاکید دے اِنْ کَذَّبَ کہ تکذیب کوی ابوجهل تالره اے پیغمبره او یا قول دحق لره وَتَوَلّٰی ﴿۱۳﴾ او مخ کړګوی له ایمانه اَلَمْ یَعْلَمْ ایا نه پوهیږی ابوجهل بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی ﴿۱۴﴾ په دے خبره چه په تحقیق سره خدای وینی قصد دده او پوهه دے په حال دده باندے له هدایت ئے او له ضلالت ئے۔ نوجزا به ورکړی موافق دحال سره ئے۔ فائده :۔ په دیکښی اشارت دے وعید وته اوبل دا قول چه اَلَّذِیْ ینهی دے شرط دجملے شرطیے مفعولین رایت دی او جواب دشرط اول محذوف دے چه الم یعلم بان الله یرٰی دے او حذف ئے کړ دئ جهته چه ذکر کړے ئے دے پرجواب دشرط ثانی کښی **روایت دے** چه دوباره پیغمبر علیه السلام مونځ کولو۔ ابوجهل وویل اے محمدؐ مانهٔ وے منع کړے تہٗ له مانځه څخه پس پیغمبرؐ ورته تهدید وکړ۔ ابوجهل وویل ماویرے اوحال دا دے چه لښکر څما پیردے دا ایت نازل شهٔ کَلَّا لَئِنْ لَّمْ یَنْتَهِ حقه ده کهٔ چرے ابوجهل ونهٔ کړی له ضرره د محمدؐ څخه لَنَسْفَعًۢا خامخا به ونیسم دے بِالنَّاصِیَةِ ﴿۱۵﴾ له څونډی څخه اوراښکاږم دهٔ لره اوږ د دوزخ ته۔ فائده :۔ اکتفا ئے وکړه په لام عهدی سره له اضافت حُکه چه مراد په ناصیه سره ناصیه دناهی ذکر کړے شوے ده نَاصِیَةٍ کَاذِبَةٍ له زونډی دروغژنه خَاطِئَةٍ ﴿۱۶﴾ هغه زونډے خطاکاره۔ تنبیه :۔ دوصف د ناصیة په کذب او په خطاکار سره په طریقه دمجازدی اومراد ترے صاحب د ناصیة دے فَلْیَدْعُ نَادِیَهٗ ﴿۱۷﴾ پس وویا یه اے محمد ابوجهل ته وُ وِ بولی لښکرخپل سَنَدْعُ الزَّبَانِیَةَ ﴿۱۸﴾ زبردے چه وبه بلم زه زبانیه

عمّہ چه ناصیة دے په اضافت سره دپاره دده چه راجع شی ضمیر ناهی وته ۱۲

د دوزخ د پاڑه دراخکلو د ابوجهل دوزخ ته او په حدیث کښی دی چه لودعا نادیهٔ لاخذنه الزبانیة عیانًا۔ کَلَّا ط نهٔ ده داسے لکه چه ابوجهل وائی لَا تُطِعْهُ فرمانبرداری مهٔ کوه اے پیغمبره د ابوجهل په پریخودو ماتخه کښی او ثابت اوسه په مخالفت د هغه کښی وَاسْجُدْ او همیشه سجده کوه خدائ خپل لره یعنی مونځ کوه وَاقْتَرِبْ ع (۱۹) او نزدے شه خدای خپل ته په سجده سره حُکه چه په حدیث کښی دی۔ اَقْرَبُ ما یکون العبد الی ربه اذا سجد۔ او په حدیث کښی دی۔ چه من قرء سورة العلق اعطی من الاجر کانما قرء المفصل کلّه ۔

سُوْرَةُ الْقَدْرِ ۹۷ مکیة ۲۵ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰیاتها ۵ رکوعها ۱

روایت دے چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم اصحابو ته وویلے چه یوسړی به له بنی اسرائیلو څخه وسله خپله واغوستله اوزر میاشتے به ئے په لاره د خدائ کښی جهاد کولو اصحاب متعجب شول او پیغمبر ئے وویل چه مونږه په دے لږ عمر کښی څنګه دا رنګے دولت ته ورسود ا آیت نازل شه چه اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ په تحقیق سره مونږ نازل کړیدے قرآن شریف فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ ع (۱) په لعه شپه د قدر کښی۔ فائده :۔ په دے کښی اشارت دے دے نه چه تعظیم وکړه قرآن لره حُکه چه اسناد د انزال ئے وکهٔ خان خپل وته اوبل تعظیم ئے وکړهٔ قرآن لره حُکه چه ذکر ئے کړهٔ ضمیر له جهته د شرافته اوبل تعظیم ئے وکړو هغه وخت لره چه پکښی نازل شوے دے **روایت دے** چه نازل شوے دے قرآن ټول په لیلة القدر کښی له لوح محفوظه آسمان د دنیا وته۔ پس جبریل ؑ په درویشتو کالو کښی آیت آیت او سورة سورة دنیا وته راوړے دے۔ فائده :۔ مستحب ئے کړه دغه شپه په لیلة القدر سره له دے جهته چه په کښی مقدر کولے شی امور او حکمونه دکال راتلونکی اویاله دے جهته چه شرافت لری په ټولو شپو باندے اودغه اوه ویشته ده له د رمضان دا رنګے

عه که چرے بیلے دی ابوجهل لښکر خپل خانخا به ښولی وو دی ذیابیٔ به ظاهره او بنکاره ۱۲ عمه نزدے رب خپل وته هغه دے چه وی بنده په هغه وخت کښی چه سجده کوی ۱۲ سه هغه چا چه ولوست سورة علق و ربه کړے شی دهٔ لره اجر گویا که ټولے دے دهٔ قرآن ټول ۱۲ لعه یعنی ورکړے شوه دوئ لره یوه شپه چه هغه بهتره ده له مودے د دغه غازی څخه ۱۲

روایت کړے شوے دے له ابوحنیفه رح څخه او په دے باندے قائل دی جمهور علماء او بنائیږی چه سبب په دوغه شپه کښ دادے چه ژوندئ کوی پیرے شپے هغه څوک چه اراده لری دموندلوئے لکه اخفاء دساعت په دے قول کښ چه لِحِفْظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى دپاره ددے چه ساعتونه کوی په ټولو مونځونو باندے اولکه اخفاء دساعت دقبلیدو دډعا په وړاندے دجمعه کښ دپاره ددے چه دعا کوی ټوله ورځ اولکه اخفاء داسم اعظم دپاره ددے چه محافظت کوی په ټولو اسماؤ باندے اوپه حدیث کښ دشپې چاچه بیاموندله دغه شپه واِلٰهِی اِنَّکَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّیْ وَمَا اَدْرٰیكَ او څهٔ څیز پوهکړے تهٔ .چه مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿۲﴾ څهٔ ده شپه دقدر یعنی څهٔ دے عزت اوشرافت ئے پس بیان ئے کهٔ شرافت دغه شپے لرله په دے قول سره لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ ﴿۳﴾ شپه دقدر چه ده بهتره ده مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ له زر ومیاشتو څخه چه نهٔ وی په هغوئ کښ دغه شپه .حاصل دادے چه غازیانو دبنی اسراءیلو به لاره دخدائ کښ جهاد کولو اومؤمنانو به تعجب کولو پس ورکړے شوه دوئ ته یوه شپه چه هرڅوک ئے بیاموميٰ او په طاعت سره پکښ مشغول شی ترصبا پورے .برابره شی ثواب دبنی اسراءیلو سره بلکه پیر ثواب به بیاموميٰ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ نازلیږی ملائکے ﷺ اسمان دډنیا ته اوبازمکے ته وَالرُّوْحُ او نازلیږی جبریل ؑ سره ددوئ **روایت دے** چه نهٔ وینی دهٔ لره ملائکے مکر په دغه شپه کښ اوچاویلی دی نازلیږی رحمت فیها په دغه شپه کښ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ په اذن او امر دربخپل سره .د مابنام نه ترصبا پورے مِنْ كُلِّ اَمْرٍ ﴿۴﴾ دپاره هر کار چه نیک وی اوکهٔ بد ترڅلکاله پورے سَلٰمٌ هِیَ نه مقدر کوی خدائ تعالیٰ په دغه شپه کښ مکر سلامتیا اوخیر او مقدر کوی په نورو شپو کښ بلا او سلامتیا اوچاویلی دی سلام کوی ملائکے په مؤمنانو باندے چه بیداروی په دغه شپه کښ .حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿۵﴾ وی به سلامتیا او یا کوی به سلام ترخلوید صبا پورے

عه سانته کوئ په مونځونو باندے او سانته کوئ په مانځه میانه باندے ۱۲ منه اے خدایه په تحقیق سره عفو کولے ئے دوست لرے عفو پس عفو کړے له ما نه گناهونه حُمًا ۱۲

او په حدیث کښ دی - چه من قرء سورة القدر اعطی من الاجر کمن صام رمضان واحیی لیلة القدر ؛ ؛ ؛

سُوْرَةُ الْبَيِّنَةِ مَدَنِيَّةٌ ۹۸ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعُهَا ۱

روایت دے چه یهود یانو او مشرکانو څو مره دظهوره د پیغمبر ؑ اتفاق کړے ووچه هر کله پیغمبر اخر زمان پیدا شی ایمان به پرے راوړو او په دین باندے به ئے شو نو هر کله چه پیدا شۀ دوئی له قوله خپله وګرځیدل نو بعضو ایمان راوړ او بعضو رانۀ وړو خدائ تعالی له حاله دوئی نه خبر وکړو او وے ویلے لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا نۀ ووهغه کسان ؑ چه کافر شوی په محمد ﷺ باندے مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل کتابو څخه چه یهودیان او نصارٰی دی وَالْمُشْرِكِيْنَ اوبت پرستان دعرب مُنْفَكِّيْنَ جدائی لټونکی بلکه متفق وو په دے باندے چه پیغمبر اخر زمان حق دے - حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ (۱) متفق ووترهغه پورے چه راغے دوئی لره حجت روښانه چه رسول دے اویا قرآن دے ځکه چه هر یوله دواړو څخه بیان کونکے دے حق لره اویا معجزه درسول دے رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ رسول له طرفه دخدائ چه محمد ﷺ دے نو رسول بدل دے له بیّنة څخه او یا په تقدیر د مضاف سره دے یعنی مثل کتاب رسول اومعجزاته - يَتْلُوْا هسے رسول چه لولی په دوئی باندے صُحُفًا مُّطَهَّرَةً (۲) صحیفے پاکے له باطل او کذب څخه - چه قران دے نو یتلوا صحفا مطهرة صفت درسول شۀ اوچا ویلی دی چه رسول مبتدا ده اویتلوا صحفا مطهرة ئے خبر دے فِيْهَا چه دے په دغه صحیفو کښ كُتُبٌ قَيِّمَةٌ (۳) لیکلے شوی دی برابر ناطق په حق اوعدل سره وَمَا تَفَرَّقَ اونۀ وو متفرق کړے شوی یعنی اختلاف، نۀ وو کړے په حق د محمد صلے الله علیه وسلم کښ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ هغه کسانو چه ورکړے شوے ووهغوئی لره کتاب اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ (۴) مګر پس له هغے نه چه راغے دوئی لره پیغمبر پس بعضے له اهل کتابو

عه هغه چا چه ولوست سورة قدر وی به کړے شی له اجره په مثل د هغه چا چه روژے د رمضان ئے نیولے وی او ټولنډئ کړے ئے شپه د قدر ۱۲

څخه هغه کسان ووچه منکر شول له نبوت د پیغمبر علیه السلام له جهته د سرکشئ او کینې نه او بعضے له دوئ نه هغه کسان ووچه ایمان ئے راوړو۔ فائده:۔ مفرد ئے ذکر کړل اهل کتاب پس له ذکر کولو د دوئ او د مشرکانو څخه څُکه چه دوئ ووپوهه په نبوت د محمدؐ باندے څُکه چه نبوت د دغه موجود وؤ په کتابونو د دوئ کښ. نو پس په هغه وخت کښ چه وصف ئے وکه دوئ لره په تفرق سره له دغه نه. نو شول هغه کسان چه نه لري کتاب داخل په تفرق کښ حاصل دا دے چه په وخت د تفرق د اهل کتابو او د مشرکانو صریحًا مذکور وو او دلے تفرق د اهل کتابو صریحًا دے او د مشرکانو دلالةً دے. نو پس تفرق خاص اهل کتابو نه دے کړے بلکه تولو کړے دے وَمَآ اُمِرُوْٓا او نه دی مامورؐ کړے شوی دوی په تورات او انجیل کښ اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مګر دا چه وبه دے خبرے چه عبادت کوی خدائ لره مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ په دغه حال کښ چه پاکونکی وی دوئ خدائ لره دین خپل له شک له نفاق ۔ حُنَفَآءَ په هغه حال کښ چه مؤمنان ئے په تولو رسولانو باندے او کړ ځید ونکی له ادیان باطلو څخه وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او بل مامور دے چه ادا کوی صلوٰة مفروضه په وخت خپل کښ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ او ادا کوی زکوٰة واجبه په خپل ځای کښ وَذٰلِكَ او هغه څیز چه مامور شوی دی په هغوئ باندے دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۝۵ دین محکم دے اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا په تحقیق سره کافران مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل کتابو څخه وَالْمُشْرِكِيْنَ او له مشرکانو څخه به فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ په اور د جهنم کښ وی په وبرځ د قیامت کښ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا همیشه به وی په هغه اور کښ اُولٰٓئِكَ دغه تولے چه هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ۝۶ دوئ بدتر مخلوق دی اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په تحقیق سره هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دوئ د پرېږد د مخلوق دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لا او کړی دی کارونه نیک په دنیا کښ اُولٰٓئِكَ دا تولے چه دے هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۝۷ دوئ بهترین د مخلوق دی جَزَآؤُهُمْ بدل د عملونو د دوئ عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد د رب د دوئ جَنّٰتُ عَدْنٍ باغونه د اقامت به وی تَجْرِيْ چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے د هغه باغونو وبے د او بو جاریو خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ همیشه به وی دوئ

په جنت کښ اَبَدًا ط همیشه. فائده:- ابدًا تاکید دخلودے رَضِيَ اللّٰهُ راضی به شی خدائ عَنْهُمْ له دوئ نه په قبلولو د عملونو سره ئے وَرَضُوْا عَنْهُ ط او راضی به شی دوئ له خدائ په ثواب د اعمالو سره ذٰلِكَ داچه ذکر شول له جنت او رضا څخه لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ﴿۸﴾ ع دپاره دهغه چا دی چه ویریږی له عذاب د رب خپل څکه چه خشیت ملائک الامردے. فائده:- دغه قول چه خیر البریة دے دلالت کوی په بهتر والی د مؤمنانو د بشر و په ملائکو باندے څکه چه بریه مخلوق ته ویلے شی او دوئ ئے بهتر کړی دی په مخلوق باندے او په حدیث کښ دی چه مَنْ قرء سورة لم یکن کان یوم القیٰمه مع لخیر البریة مساءً و مقیلاً ؕ

سُوْرَةُ الزلزال ۹۹ مدنية ۱۳ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۸ رُكُوْعُهَا ۱

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ په هغه وخت کښ چه وخوزولے شی زمکه زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾ لا په خوزید و سختو سره ئے. چه مقرر دی په نزد د نفخهٔ اولیٰ او یا د دوئمے سره وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اوبهر به کړی زمکه اَثْقَالَهَا ﴿۲﴾ لا بارونه د رانه خپل چه هغه مړی او کنوز (خزانے) دی وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَالَهَا ﴿۳﴾ ج او وبه وائ سړے چه څهٔ وشوده زمکے لره چه مدفون خپل ظاهر وی او چاویلی دی مراد له انسان کافر دے څکه چه دهٔ ایمان نهٔ راوړو په بعث باندے اوهر چه سړے مومن دے پس وبه وائ. هٰذَا ما وعد الرحمٰن وصدق المرسلون يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښ به تُحَدِّثُ خبرے کوی زمکه خلقوته په ژبه د حال سره اَخْبَارَهَا ﴿۴﴾ خبرونه خپل یعنی خدائ تعالیٰ به ګویا کړی زمکے لره او خبر به کړی خلق په هغه څیز چه کړے وی دوئ په زمکه له نیکئ او بدئ څخه. او په حدیث کښ دی چه تَشْهَدُ علیٰ کل واحدٍ بما عمل علی ظهرها بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ﴿۵﴾ لا اوخبرے به کوی په سبب د دے سره چه رب ستا به حکم وکهٔ زمکے وته چه خبرے کوه. نو وبه وائ چه فلانی په ما باندے زنا

عه هغه چا چه ولوست سورة لم یکن وی به دے په ورځ د قیامت کښ سره د بهتر مخلوق په ما بنام او غرمه کښ ۱۲ منه ۳ عه د اهغه ورځ ده چه وعده کړه وه خدائ او ریښتینی دی رسولان ۱۲ سه شاهدی به وائ زمکه په هر یو باندے په هغه څیز باندے چه کړے ئے وی په شا د زمکه ۱۲

کړے وه يَوْمَئِذٍ په دغه وخ کښ يَصْدُرُ النَّاسُ روان به شی سړی له قبرونو څخه موقف د حساب ته اَشْتَاتًا لږ پراګنده یعنی سپین مخی په امن سره او بعض تور مخی په ویرې سره اوچاویلی دی روان به شی سړی له ځایُ د حساب پراګنده بعضے په بنی طرف د عرش وجنت وته او بعضے په کیڼ طرف ځے دوزخ وته لِيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ (۶) د پاره ددے خبرے چه وخوړلے شی دوئ ته جزا د عملونو ئے **روایت دے** چه دوه سړی وو یو به سائل وه لږ خیز نهٔ ورکولو اوویل به ئے چه نیکی ډیره پکار ده چه پرے ثواب بیاموندے شی او دویم سړه به ګناه لږه خواړه کړله او ویل به ئے چه په لږه سره نیول نشته بلکه مؤاخذه په کبائرو سره ده خدائ تعالیٰ دا آیت نازل کړو فَمَنْ يَعْمَلْ پس هرچاچه عمل وکړو مِثْقَالَ ذَرَّةٍ په اندازه د ذرے سره خَيْرًا يَرَهٗ (۷) نیکی بیا به ئے مومی جزا وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ اوهر چاچه وکړه په اندازه د ذرے سره شَرًّا يَرَهٗ (۸) بدی بیا به ئے مومی جزا ئے - اوچاویلی دی آیت اول په حق د مؤمنانو کښ دے - اوآیت دوئم په حق د کافرانو کښ دے - اوپه حدیث کښ دی چه من قرء سورة اذا زلزلت اربع مرات کان کمن قرء القران کله

سُوْرَةُ الحدیث مکیة ۱۰۰ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۵ | اٰیاتها ۱۱ رکوعها ۱

روایت دے چه پیغمبر علیه السلام منذر خوئ د عمر انصاری یو تولی د اصحابو سره قبیلے د کنانه وُته ولیږلو او ورته ویلے په فلانئ ورځے په وخت د صبا کښ پی کنانه وته ورسی او په فلانئ ورځے بیرته راځئ پس دوئ دا ویرکے کاروکهٔ لیکن په بیرته راتلو کښ په سبب د ډیروالی د اوبو سره تاخیر وشئهٔ له وخت مقرر څخه پس منافقانو یو تر بله ووې تولو دا په هلاکه شوه او هیڅوک ترے پاتے نشئهٔ چه خبرئ راوړی د اخبره مؤمنانو ته ورسیده غمناک شول خدائ تعالیٰ دا پاره د خوشحالئ د مؤمنانو له حال د هغه دا پاره

عه هغه چا چه ولوست سورة اذا زلزلت څلور ځله وی به په شان د هغه چا چه لوستے وی قرآن تول ۱۲

سورت نازل کړو ۔ وَالْعٰدِيٰتِ سوګند دے په اسونو زغلید ونکو باندے چه په دوکښ
پرشیږی ضَبْحًا ۝۱ په پرشید لو سره فَالْمُوْرِيٰتِ پس سوګند دے په هغه اسونو باندے
چه وکاږی اور په سُمونو سره له کانړو څخه قَدْحًا ۝۲ په اور وُخکو سره فَالْمُغِيْرٰتِ پس
سوګند دے په هغه اسونو باندے چه لوټی کافران صُبْحًا ۝۳ په وخت د صبا کښ ۔
فَاَثَرْنَ بِهٖ پس پورته کوی په سُمونو خپلو سره په دغه وخت کښ نَقْعًا ۝۴ ګرد په کندو
دهغه قبیلو کښ فَوَسَطْنَ بِهٖ پس په مینځ کښ راولی په دغه اسونو سره په دغه وخت
کښ ۔ جَمْعًا ۝۵ ټولے د دشمنانو د دین ۔ اوجواب د قسم دا دے اِنَّ الْاِنْسَانَ بیشکه سړے
سړے چه دے لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۝۶ رب خپل لره ناشکره دے اوچا ویلی دی کنود بخیل
ته وائی وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره انسان چه دے عَلٰى ذٰلِكَ په ناشکرئ خپلے لَشَهِيْدٌ ۝۷ خامخا
شاهد دے څکه چه اثر د ناشکرئ به پرے بنکاره کیږی اوچا ویلی دی په تحقیق سره خدائ
تعالیٰ په ناشکری شاهد اوعالم دے ۔ په طریقه د وعید سره وَاِنَّهٗ او په تحقیق سره سړے
لِحُبِّ الْخَيْرِ د پاره د مینے د مال لَشَدِيْدٌ ۝۸ خامخا بخیل دے اویادے د پاره د مینے د
مال قوی دے اود مینے د عبادت د خدائ ضعیف دے ۔ شیخ الاسلام قدس سره ویلی
دی کهٔ مال خپل دولت لره صدقه ئے کړه چه ثواب ئے په اخرت کښ بیا موږے اووارثانو
لره ئے مهٔ ږده ۔ چه افسوس په دے ونهٔ کړے په زړهٔ باندے اَفَلَا يَعْلَمُ ایا نهٔ پوهیږی
انسان اِذَا بُعْثِرَ په هغه وخت کښ چه پورته کړے شی مَا فِي الْقُبُوْرِ ۝۹ هغه څوك چه په
قبرونو کښ دی له مړیو څخه وَحُصِّلَ اوحاضر کړے شی مَا فِي الصُّدُوْرِ ۝۱۰ هغه چه په
سینو کښ دی له عقائدو نه ۔ اوچا ویلی دی چه جدا کړے شی هغه چه په سینو کښ
دی له خیر اوشر څخه ۔ فائده ۔ خاص ئے کړه سینه څکه چه اصل دعقائدو ده اونور
اندامونه ئے تابع دی اِنَّ رَبَّهُمْ په تحقیق سره رب د دوئ چه دے بِهِمْ په اقوالو او
افعالو د دوئ باندے يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ د پورته کیدلو کښ لَخَبِيْرٌ ۝۱۱ هر ائینه عالم
دے پس جزا به ورکړی دوئ لره په اعمالو ئے له خیر او شر څخه ۔ فائده ۔ خاص ئے کړه دغه

ورځ او حال دا دے چه پوهه دے په اقوالو او افعالو دوئ باندے په ټولو ورځو کښ څکه چه جزا به واقع کیږی په دغه ورځ - او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الهدایت اعطی من الاجر عشر حسنات بعدد من بات بالمزدلفة وشهد جمعًا.

سورة القارعة مکیة ۱۰۱ | ۳ | رکوعها ۱۱ | آیاتها

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْقَارِعَةُ ۝۱ ورځ د قیامت چه ټکونکے دزړونوده په غم او ویرے سره مَا الْقَارِعَةُ ۝۲ څهٔ ده قارعه وَمَآ اَدْرٰىكَ اوځهٔ څیز پوهه کړے ئے تهٔ مَا الْقَارِعَةُ ۝۳ چه څهٔ دے ټکوونکے يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ ټکوی به په هغه ورځ چه وی به سړی له شدتهٔ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۝۴ په مثل د پتنګانو سره پراګنده - فائده :- مشابه ئے کړل سړی له فراش سره په کثرت او انتشار او ضعف او خوارۍ کښ او په تلورا تلو کښ داعی وته له هر ه طرفه لکه پتنګان او روته او مسټے ئے کهٔ پتنګ په فراش سره له جهته دانتشارئے وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ او وبه ګرځی غرونه له هیبته د دغه ورځے كَالْعِهْنِ په مثل د پشم رنګینه سره څکه چه دوئ رنګینه دی الْمَنْفُوْشِ ۝۵ چه وهلے شوی وی په لیندهٔ دنداف سره څکه چه اجزائے متفرق شی حاصل دادے چه غرونه به په تفرق د اجزاؤ کښ مشابه له پشمه رنګینه سره فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ پس هغه څوك چه په دغه ورځ کښ درنه شی مَوَازِيْنُهٗ ۝۶ تله د عمل ئے یعنی چه راجح شی مقادیر د حسناتو د هغهٔ نو فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ پس وی به دے په ژوند رَّاضِيَةٍ ۝۷ خاوند د خوشحالئ کښ چه جنت دے وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ اوهر څوك چه سپکه وی مَوَازِيْنُهٗ ۝۸ تله د عمل ئے یعنی چه نهٔ وی دهٔ لږه نیکی او یا راجح شی بدی په نیکئ باندے فَاُمُّهٗ پس حائی د دهٔ هَاوِيَةٌ ۝۹ اور دے - فائده :- مسټے ئے کهٔ حائی د استوږو نے په اُمّ سره له دے جهته چه مورهم حائی د استوږو نے دولدده وَمَآ اَدْرٰىكَ اوځهٔ څیز پوهه کړے تهٔ اے محمد چه مَا هِيَهْ ۝۱۰ څهٔ دی هاویه نَارٌ حَامِيَةٌ ۝۱۱ اور دے نهایت ګرم او په حدیث کښ دی

عه هغه چا چه ولوست سورة عادیات د ویده کړے شی له اجره لس نیکئ په شمار د هغه چا چه شپه ئے کړے دی په مزدلفه کښ او په شمار د هغه چا چه حاضر شوے وی جمیع ته ۱۲

چه من قرء سورة القارعة ثقل الله له میزانه یوم القیمه ۴۴

سُورَةُ التَّكَاثُرِ مَكِّيَّةٌ ۱۰۲ — اٰيَاتُهَا ۸ — رُكُوعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه بنی عبد المنافو او بنی سهمو فخر کولو یو تربله په ډیرو والی دمال اودقوم سره پس سړی دعبد المنافو ډیرشول نو بنی سهمو ووایله قوم څومره ډیر روسره وژلے شوے دے. موږ نه مړه اوژوندی ټول شمارو. پس هم کله چه داسے شمارئے وکړو قوم دسهمو زیات شهٔ خدائ تعالیٰ دا ایت نازل کړو اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿۱﴾ مشغول کړئ تاسے فخر په ډیرو والی دمال اودقوم سره دعبادته دخدائ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴿۲﴾ ترهغه پورے چه مړه شوئ اوراغلئ په قبرونو کښ. اوچاویلی دی ترهسے حده پورے چه راغلئ قبرونوته اومړی موو شمارل اوچاویلی دی مشغول کړئ تاسے فخر په مال اواولاد سره ترمړکه اوقبرونه پورے ضائع کونکی عمر خپل لره په طلب ددنیا کښ مشغول ئے کړئ له هغه څیزه چه مقصود ترتاسے لره چه هغه سعی اوکوشش دے آخرت کَلَّا نهٔ ده دارنګے بلکه بانډه دی عاقل لره چه نهٔ دِ وی ټول قصد ددهٔ اوسعی ئے دنیا وته ځکه چه اخرد دغه قصد اوسعی وبال اوافسوس دے سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ زر دے چه وبه وینئ تاسے اخرد فخر کولو په وخت دمړئ کښ. فائده - په دے کښ اشارت دے دے وته چه دوئ وویریږی او خبر شی ل غفلته خپله ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴﴾ پس حقه ده چه زر به وپیژنئ تاسے خطا دفکر خپل په وخت دپورته کید لوکښ كَلَّا نهٔ دی بانډهٔ دارنګے چه په مړو اوپه ژوندو باندے فخر کوئ تاسے لَوْ تَعْلَمُوْنَ کهٔ چرے پوهیدے تاسے په هغه څیزچه ورباندے لرئ له مرګه اوله معامله له قبره اودحشر تخه عِلْمَ الْيَقِيْنِ ﴿۵﴾ په علم یقینی سره اوجواب دلَوْ محذوف دے چه لشغلکم ذلك عن غیره دے معنیٰ داچه خامخا به مشغول کړی تاسے یادول له بله څیزه تخه اوحذف کړے شهٔ جواب دلَوْ له جهته دتعظیم لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ﴿۶﴾

عه هغه چا چه ولوست سورة قارعه درنه به کړی ده لره تله ددهٔ په ورځ دقیامت باندے ۱۲

سوکند دے چه خامخا به و وینې تاسے دوزخ ـ دغه جواب د قسم محذوفه دے او مؤکد ئے کړه په دے قسم سره وعده خپله او واضح ئے کړو په دے سره د اقول چه سوف تعلمون دے ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا پس هرالبته بنائی چه وبه وینئ عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۷ په سترګو دیقین سره ـ اے بیشکه په هغه وخت کښې چه راشی په هغهٔ کښې ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ پس خامخا سوال به وکړے شی له تاسے نه يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ کښې په وخت د محاسبه کښې عَنِ النَّعِيْمِ ۸ له هغه نعمتونو څخه چه په هغو باندے مشغول شوی وئی تاسے له عبادته او له طاعته څخه خطاب خاص دے په هغه چا پورے چه دنیا هغه له دین جار پستلے دے او چا ویلی دی چه مخاطب کفار دی لیکن اصح دادے چه خطاب عام دے له دے وجه چه هر سړے به له شکره د نعمته د پوښتنے دے شی او بعضو تخصیص د نعمت کړے دے په او بو یخو او میوو خوږو پینو سره یا په سایه یخه او په لذت د خوب او په اعتدال د خلقت سره یا په اعتدال د اسلام سره یا په تخفیف د شرائعو سره یا په قرآن سره ـ او مشهوره خبره دا ده چه مراد صحت او فراغت دے ـ په حدیث کښې دی راغلی دوه نعمته دی چه د هر خلق په هغو کښې غولیدلی دی او قدر د هغو نهٔ پیژنی چه هغه یو صحت دے او بل فراغت دے الهی د نفس لرشد ته د خواب له غفلت او له اسراف د نعمته او له عذاب له قیامته پناه راکړے ۴

سورة العصر مكية ۱۰۳ ۱۳ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — ۱ ۳

روایت دے چه ابوالاسدین صدیق رض ته وویل چه زیان د وکړو لے صدیقه! چه دین دا باؤ خپلو د پریخود ـ چه هغه عبادت د بتانو دے ـ ابوبکر رض ورته جواب ورکړو چه زیانکاره نهٔ دے هغه څوک چه کوی دین د خدائ او کوی عمل د خیر بلکه زیانکاره هغه څوک دی چه بت پرست وی او مطابعت د شیطان کوی حق تعالیٰ په موافقت د صدیق رض سره دا ایت نازل کړو وَالْعَصْرِ ۱ سوکند دے په مانځه د عصر باندے لرحقته فضیلت ئے په دلیل د دے قول سره والصلوٰة الوسطی صلوٰة العصر په مصحف د حفص کښې او چا

ویلی دی سوکند دے په زمانه دپیغمبرئ ستا باندے اے محمد ﷺ! اوجواب دقسم دادے چه اِنَّ الْاِنْسَانَ په تحقیق سره چه ابوالاسدین یا ابوجهل ادمیان لَفِیْ خُسْرٍ ۝۲ خامخا په زیان کښ دی له جهته د صرف کولو د عمره خپله په مطالبو خپلو کښ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مګر زیان کاره نۀ دی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکړی ئے وی کارونه نیک وَتَوَاصَوْا او وصیت ئے کړے وی بِالْحَقِّ ۙ په حق سره چه توحید او اطاعت اومتابعت دکتابونو او د پیغمبرانو دے وَتَوَاصَوْا او وصیت ئے کړے وی بِالصَّبْرِ ۝۳ ع په صبر سره له گناهونو څخه اوچا ویلی دی په صبر سره په طاعاتو باندے اوچا ویلی دی په صبر سره په افاتو بلیاتو او په امراضو باندے۔ او په حدیث کښ دی چه مَنْ قرء سورة العصر غفر الله له وکان ممن یواصی بالحق ویواصی بالصبر۔

سُوْرَةُ الهمزة ۱۰۴ مکیة ۳۲ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | اٰیَاتُهَا ۹ | رُکُوْعُهَا ۱

روایت دے چه هرکله اخنس به عیب د رسول الله صلے الله علیه وسلم کولو په مجلس کښ۔ او ولید به غیبت د رسول الله صلی الله علیه وسلم کولو۔ نو خدائ تعالیٰ په حق د دوئ کښ دا سورة نازل کړو وَیْلٌ افسوس او هلاکت دے لِّکُلِّ هُمَزَةٍ هر عیب کونکی لره روستو د خلقو نه لُّمَزَةٍ ۝۱ اوهر عیب کونکی لره مخامخ۔ فائده:۔ سبب د نزول دے سورة خاص دے۔ او وعید ئے عام دے الَّذِیْ جَمَعَ هغه چا لره چه جمع کړے ئے دے مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ۝۲ مال او شمارلے ئے دے دپاره د حوادثو د زمانے او حق ترے نه وباسی یَحْسَبُ گمان کوی دے دا سے چه اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ۝۳ په تحقیق سره دا مال د ده به دے همیشه لری په دنیا کښ۔ فائده:۔ په دے کښ اشارت دے د وتے چه همیشه لرونکی ژوند ابدی حقیقی لره سعی او کوشش دے اخرت وته كَلَّا نۀ ده دا سے لکه چه دے گمان کوی بلکه دے به مړشی او مال به ئے له عذابه خلاص نۀ کا۔ لَیُنْۢبَذَنَّ خامخا به وغورځولے

سه یعنی موقع د مناز دیگر دے ۱۲ عه هغه چا چه ولوست سورة عصر و به نخبی خدائ د ده لره او وی به له هغه چانه چه وصیت ئے کړے وی په حق سره او وصیت ئے کړے وی په صبر سره ۱۲

شی دغه جمع کونکی فِي الْحُطَمَةِ ﴿۴﴾ په حطمه کښ یعنی په هغه اور کښ چه سیزی هر څیز لره چه پکښ واچولے شی وَمَا أَدْرٰىكَ اوتهٔ څیز پوهه کړے تهٔ اے پیغمبره ۳ چه مَا الْحُطَمَةُ ﴿۵﴾ څهٔ څیز دے حطمه. نَارُ اللّٰهِ دغه اور د خدائ دے الْمُوقَدَةُ ﴿۶﴾ چه بَلْ کړے دے یعنی چه بل کړے دے خدائ هغه اور لره په قهر سره الَّتِي تَطَّلِعُ هغه اور چه خیژی اوغلبه کوی عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴿۷﴾ په زړونو باندے او تخصیص د زړونو له دے جهته دے چه زړے بنهٔ نرم دے په بدن کښ او سخت وی عذاب ئے اویا له دے جهته دے چه دے خائ د عقائدو باطلو او فاسدو دے إِنَّهَا عَلَيْهِمْ په تحقیق سره دا اور د دوزخ به په کافرانو مُؤْصَدَةٌ ﴿۸﴾ بند کړے شوے وی فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ ﴿۹﴾ په ستنو دراز و سره. یعنی بند به کړے شی په دوئ باندے دروازے د دوزخ اوهغه به کړے شی دغه دروازے په ستنو اوږد و سره. فائدهٔ :- په دے کښ اشارت دے دے ته چه کافران به همیشه دوزخ کښ وی په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الهمزة اعطاه الله عشر حسنات بعدد من استهزء بمحمد صلى الله عليه وسلم واصحابه ۱۲

سُوْرَةُ الْفِيْلِ — مَكِّيَّةٌ — ۱۰۵ — ۱۹ — ۵ — ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَمْ تَرَ ایا تا نهٔ وولیدلی اے پیغمبره چه كَيْفَ فَعَلَ خُدْنکه کارکړے وو رَبُّكَ رب ستا بِأَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿۱﴾ خاوند انو د فیل سره. تنبیه :- په دے کښ خطاب دے پیغمبر علیه السلام ته اودهٔ اګرکهٔ دغه واقعه نهٔ وه لیدے لیکن لیدلی ئے وو اثارئے او سمع کړی ئے وو په تواتر سره اخبارئے. نو پس ګویا کهٔ دهٔ دغه واقعه لیدے وه **روایت دے** چه ابرهه ځوی د صباح بادشاه و و د یمن رومیے له نجاشی نخه پس دا ده په صنعاء یمن کښ کنیسه سازه کړه او حکم ئے وکړو چه هیڅوك د خانه کعبے ته نهٔ ځی او دے ځما خلنے ته د راځی د پاره د حج کولو پس خارج شهٔ یو سړے له کنانه نخه. او کیناست په دغه کنیسه کښ یوه شپه او وے سوه پس په قهر

له محمد ۳ او اصحابو سره ۱۲ سه نامه دیرے قبیلے دے په عرب کښ چه مشهوره ده په قریشو کښ ۱۲

کهٔ ابرهه لږه دغه سړی نوسوکند ئے وکهٔ دا سے چه لیهد من الکعبه - پس خارج کړل ابرهه حبشیان چه لښکرئے وو سره دیو فیل چه نامه ئے محمود وه اوډیر قوتناك اولوی وو. او دولس فیلان نور هم ووهر کله چه عرب و کښ داخل شول - خلقو د عرب و ابرهه سره جنګ وکهٔ نو غلبه ئے وکړه په عرب و باندے اوچه مکے ته ورسیدهٔ مال دمکیانو ئے لوټ کهٔ اودوه ویشت اونبان د عبد المطلب ئے وینول پس عبد المطلب دا ابرهه محکمین راغے نو ابرهه ئے ډیر عزت اوکهٔ له دے جهته چه نامه د عبد المطلب مشهوره وه. ابرهه وویل تاسوال دکعبے ونهٔ کهٔ چه م بخښلے دے اوزهٔ بیرته تلے وے سره ددے چه فخر د عرب و په کعبے سره دے - عبد المطلب وویل زهٔ خاوند داوښا نو یم اوددے خانے خاوند شته دے خُما ورسره څهٔ کار دے ابرهه اوښان ورکړل اوعبد المطلب مکے ته راغلو اوخلقو ته ئے وویل تختئ - نو دوئ و تختیدل اوعبد المطلب سره دیو سړی پاتے شهٔ - نږدې کله چه لښکر حرم دکعبے ته ورسیدهٔ او محمود ئے ودرانده کړے وُ دپاره دورانولو دکعبے. عبد المطلب وویل - اے محمود ډ دا حرم دکعبے دے خدائ ته سجده وکړه - اوبیرته وګرځه - فی الحال ئے سجده وکړه او بیرته وګرځیدهٔ اوډیرئے په سر سر باندے وډهلو لیکن په حرم دکعبے کښ راغے اوعبد المطلب دعا کوله او ویلے ئے. شعر :-

يَا رَبِّ لَا اَرْجُوْ لَهُمْ سِوَاكَ ـ فَامْنَعْ مِنْهُمْ حِمَاكَ

اِنَّ عَدُوَّ الْبَيْتِ مَنْ عَادَاكَ ـ اَمِنْهُمْ اَنْ يَخْرِبُوْ فِدَاكَ

اولاس ئے په حلقه دکعبے اینځے وو ناګهانه له غیب لښکر د مارغانو راغے اوهر یو سره درے کانړی وو - یوئے په خوله کښ اودوه ئے په پنجو کښ نیولی وو - له دانے د نسکولو ئ وو اوله چنړے نه ورکوتی وو - پس وو به کانړے چه پرے به وتو په سر د لښکری باندے وبه وتهٔ له دُبرے ئے . او وه به لیکلے په هر کانړی باندے نامه دهغه سړی چه پرے به پریوتو. پس تمام لښکر هلاك شهٔ مګر هغه فیل چه خدائ ته ئے سجده کړے وه اویو سړے وتختیدهٔ او په

ع اے ربه امید نه لرم له هیچا نه مګر له تا نه پس د حلقه له دے لښکره خانه کعبه چه خانه ستاده په تحقیق سره د دښمن دکعبے د دښمن ستاده په امن کړه دوئ چه خرابوی کعبه ۱۲

ځ دنجا شی کښ وړاندے پس قصه ورته وکړه هرکله چه خبره تمامه کړه واقع شهٔ پرے کانړے او هلاکْ شهٔ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ "یا نهٔ وګرځولے خدائ مکر دوئ په تعصِل دکعبے او خرا بولو کښ ئے فِيْ تَضْلِيْلٍ ۲ په بطلان کښ په هلاکت سره بلکه ګرځولے وو حاصل دا دے چه دوئ اول سازه کړه کنیسه دپاره د دے چه وګرځوی ځ دحاجیانو دے وته. پس ضائع او باطل ئے کړهٔ مکر دوئ په سولو د کنیسے سره - او دوئم ځله ارادہ دهدم دکعبے وکړهٔ پس ضائع او باطل ئے کړه مکر دد وئ په لیږلو د مرغانو سره نکه چه وائی وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ اوے لیږل په دوئ باندے طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۳ مرغان ټولی ټولی چه تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ ویشتهٔ ئے هغه لښکر په کانړو مِّنْ سِجِّيْلٍ ۴ دختو یعنی په هغه کانړو چه جوړشوی وو له ختو به فَجَعَلَهُمْ پس وے ګرځوهٔ هغه لښکر په کانړو سره كَعَصْفٍ پشان د پانړو د کښت او د وښو سره مَّاْكُوْلٍ ۵ چه خوړلے شوے وی یعنی هلاکْ کړل خدائ تعالیٰ ټول - او په حدیث کښ دی - چه مَنْ قرء سورة الفيل عافاه الله ایام حیٰوته من الخسف والمسخ ؕ



روایت دے چه قریشو له دوه سفره وو د پاره د سود اکړئ په ژمی به یمن وته تلل او په اوړی به شام ته تلل او په لاره به هیڅوا نهٔ لوټل بلکه عزت به ئے د دوئ د برکو لو پس رب العلمین دپاره د اثبات د نعمت په قریشو د اسورت نازل کهٔ او وے فرمایل چه تعجب وکړئ تاسے اے سامعانو لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۱ دپاره د یوځائ کیدل د قریشو یو له بل سره اِلٰفِهِمْ یوځای کیدل د دوئ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ په سفر د ژمی کښ وَالصَّيْفِ ۲ او په سفر د اوړی کښ یعنی عبادت دقریشو بتانو لره محل د تعجب دے ځکه چه خلقو کښ ماعزت ورکړے دے. او دوئ له عبادته ځمانه په عبادت د بتانو مشغولیږی. فائده

عه هغه چا چه د لوست سورة فیل وبساتی خدای تعالیٰ دهٔ لره په زمانه د ژوندکښ له وبید وڅخه په زمکه کښ اوله مسخ کولو څخه په مثل د شادو او میلو او دخنزیر سره ۱۲

قریش لقب د نضر بن کنانه دے او مسمّی ئے کړل په قریشو سره چه تصغیر د قرش دے او دغه نامه دا ځکه لویے ده په دریاب کښ. چه نهٔ شی نیولے مګر په او سره پس دغه خوری نو رتخیزونه او خوړے نهٔ شی له دے جهته چه دوئ هم سخت او لوئ دی په مثل دهغه دابے او تصغیرئے د پاره د تعظیم دے فَلْيَعْبُدُوْا پس عبادت دِ کوی دوئ رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝۳ خدائ د دے خانے لوی لره چه عزت د دوئ په دے سره دے حاصل دادے چه نعمتونه د خدائ په دوئ باندے نهٔ حسابیږی. نو پس دوئ که عبادت نهٔ کوی خدائ لره د پاره د تولو نعمتونو. فليعبدوه لهذه الواحدة التی هی نعمة ظاهرة. الَّذِیْٓ اَطْعَمَهُمْ هغه خدائ چه طعام ئے ورکړے دے دوئ لره په سفر وکښ او مار ئے کړل مِّنْ جُوْعٍ ۫ له لوږے نه چه نهٔ وُ کښت په مکه کښ. او چا ویلی دی. مار ئے کړل له لوږے د قحط چه خوړلے به ئے مردارے او هډوکی سوی وَّاٰمَنَهُمْ او په امن ئے کړه دوئ مِّنْ خَوْفٍ ۝۴ ع له ویرے لوی نه. چه ویره د خدا او ندانو د فیل څخه وه او چا ویلی دی له ویرے د لوټ او چا ویلی دی له ویرے د جذام او په حدیث کښ دی چه من قرءَ سورهٔ لا یلاف قریش اعطاه الله تعالیٰ عشر حسنات بعدد من طاف الکعبة واعتکف بها ؕ

سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ ۱۰۷ مَكِّيَّة ۱۷ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۷ رُكُوْعُهَا ۱

روایت دے چه ابوجهل به تکذیب د قیامت کولو او هر کله چه یتیم لره به وصیٔ په وخت د طلب د مال کښ به ئے هیڅ نهٔ ورکول. بلکه وبه ئے وهلو. خدائ تعالیٰ داسورت نازل کړو اَرَءَيْتَ ایا وینے تهٔ الَّذِیْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝۱ هغه څوك چه تکذیب کوی په ورځ د جزا باندے چه قیامت دے او یا په اسلام باندے فَذٰلِكَ الَّذِیْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝۲

عه پس عبادت دِ کوی خدائ لره د پاره د دے یو نعمت چه نعمت ظاهر دے ۱۲ هغه چا چه و لوست سورة لا یلاف قریش و ربه کړی خدائ تعالیٰ د ۵ لره لس نیکئ په شمار د هغه چا چه طواف ئے کړے دی کعبے لره او اعتکاف ئے کړے دی په کعبه کښ ۱۲ منه رحمه ربه ۱۲

پس دے هغه خوك دے چه شړلو تیم لره په شړلو قیحوسره او نهٔ ورکوی مال ئے اوچا ویلی دی. ابو سفیان حلال کړے وو اوس نو په خلقوئے وویشهٔ او چه یتیم ترے طلب د حصے وکهٔ دے په قهر شهٔ او په هسمائے وواهه. نو خدائ تعالیٰ بیان دهغه ناپاك کوی داسے چه وهی یتیم. وَلَا يَحُضُّ او مینه نهٔ کوی پخپله او نهٔ تیزوی اهل خپل اونهٔ نور خلق عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۳﴾ په ورکولو د طعام مسکین لره ځکه چه اعتقاد نهٔ لری په جزا باندے **روایت دے** چه دغه ړومبنی ایتونه په حق دکافرانو کښ دی. او دا روستی په حق د منافقانو کښ راغلی دی فَوَيْلٌ پس افسوس دے او یا کنده ده په دوزخ کښ لِّلْمُصَلِّيْنَ ﴿۴﴾ دپاره د مونځ کونکیو. الَّذِيْنَ هُمْ هغه کسانو چه دوئ عَنْ صَلَاتِهِمْ له مونځونو خپلونه سَاهُوْنَ ﴿۵﴾ غافل دی الَّذِيْنَ هُمْ هغه کسان دی چه دوئ. يُرَآءُوْنَ ﴿۶﴾ ریا کوی یعنی بنائی خلقوته عملونه خپل دپاره د صفت کولو په دوئ باندے اونهٔ ئے ادا کوی په پټه کښ ځکه چه دوئ واجب نهٔ گڼری او چا ویلی دی افسوس دے دپاره د منافقانو هغه کسانو چه داخلوی خانونه خپل په تولی د مونځ کونکیو کښ. او حال دا دے چه دوئ غافله وی د مونځونو نه خپلو څخه. او بل نه اراده کوی دوئ په دغه مونځ سره ثواب او نهٔ اراده کوی ادا د فرضو بلکه ظاهر وی خلقوته خانونه خپل په ادا د فرضو سره. فائده: نهٔ کیږی سړے ریا کار په ظاهر ولو د فرضو سره نو پس بعضے حق د فرضو ظاهر ول دی ځکه چه په حدیث کښ دی وَلَا سُمعة فی فرائض الله او اخفا په تطوع او نفلو کښ بهتر ده او که ظاهر ول ئے له جهته د اقتداء نه په فرضو پسے وی هم ریا پکښ نهٔ راځی وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴿۷﴾ او منع کوی مال د زکوٰة او **روایت دے** له ابن مسعود رض نه چه ماعون هغه څیز ته وائی چه عموماً خلقو کښ لکه د یلګ اولوړ. او تبر او غلیل او بوته. او **روایت دے** له بی بی عائشے رض څخه چه ماعون اوبهٔ او اور او مالګه ده. او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة ارءیت عُفر له ان کان للزکوة مؤدیًا ؕ

سورۃ الکوثر ۱۰۸ مکیۃ ۱۵ | بسم اللہ الرحمٰن الرحیم | آیاتہا ۳ | رکوعہا ۱

روایت دے چه عاص بن وائل سره د پیغمبر علیه السلام نږدے دروازے د بنی سهمو څخه ملاقات اوکړ او یو ساعت ئے یو تربله خبرے وکړے نو پیغمبر علیه السلام بهر ته لاړ او عاص مسجد ته راغے یو چوله له صنادید (یعنے مشرکان) قریشو چه مسجد کښ ناست وو نقص ئے عاص وکړ چه چا سره دے خبرے کولے - وے ویلے دغه ابتر سړے کا - او عادت دے عرب داوو - هر چا لره چه به فرزند نه وو - هغه ته به ئے ابتر ویلو یعنی له دے څخه به هیڅوک ورسره پاتے نه شی او په دغو وړکو کښ د پیغمبر علیه السلام څوئی طاهر نام چه له بی بی خدیجے څخه پیدا شوے وو وفات شوے وو هرکله چه پیغمبر علیه السلام ته داخبره ورسیده نو زړه ئے مبارک ئے اندوهناك شئ - خدائ تعالیٰ د پاره د خوشحالئ د زړه د پیغمبر د اسورت نازل کړ. إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ① په تحقیق سره درکړے مے دے تا لره کوثر - او دغه وزن فوعل دے په معنیٰ د کثرت سره یعنی درکړے مے دے تا لره خیر کثیر چه علم او نبوت او قرآن او شفاعت دے او چا ویلی دی خیر کثیر اولاد او اتباع او علماء د امت ئے دی او روایت شوید ے له پیغمبر علیه السلام چه کوثر والۍ ده په جنت کښ او وعده کړے ده خدائ ما لره د هغے وله چه پکښ خیر کثیر دے او پیره ښه شیرینه ده له عَسَل نه - او سپینه ده له شوده نه او یخه ده له واوره نه او نرمه ده له کُهو نه - او غاړے ئے له زبرجد ونه دی او لو بنی ئے له سپینو زرو نه دی نه ترے کیږی هغه څوك چه ترے اوبه وڅښی او چا ویلی دی نامه د حوض ده په جنت کښ فَصَلِّ لِرَبِّكَ پس مونځ کوه د پاره د رب خپل یعنی همیشه گذاره مونځ خالص خدائ لره د پاره د شکر په نعمتونو د خدائ باندے حکه چه مونځ جامع دے قسمونو د شکر لره چه شکر په ژ به او په اندامونو او په زړه باندے دے او چا ویلی دی عبادت کوه خدائ تعالیٰ خپل لره هغه خدائ چه لوئ کړے ئے ته په اعطاء

عه هغه چا چه ولوست سورۃ انا اعطیناك به وکړے شی د ۵ لره که زکواة لره ادا کونکے وی ۱۲

خپلے سرہ ۔ وَانْحَرْ (۲) او قربانی وکړہ د پارہ دخدائ خپل اوښ چه بهتر په مالونو د عربو کښ دے او تصدق ئے کړہ په محاجو باندے او قربانی وکړہ په نامه دخدائ په خلاف دبت پرستو سرہ چه هغوئ په نامه د بتانو کوی اِنَّ شَانِئَكَ په تحقیق سرہ دښمن ستا چه عاص دے هُوَ الْاَبْتَرُ (۳) هغه بے اولاده دے چه پاتے به نهٔ شی له هغه څخه نسل اودُم بریده دے له هر ډ خیرہ اونهٔ ئے تهٔ دم بریده ځکه هر څوك چه پیدا کیږی تر قیامته له مؤمنانو څخه ذُرّیت ستادے اوذکر ستا به کولے شی په ژبه د هر عالم اوذاکر سرہ تر قیامته پورے اوشته تالره په آخرت کښ هغه چه نهٔ داخلیږی لاندے دوصفه نو پس په مثل ستا ابتر نهٔ وی بلکه ابتر دښمن ستادے ۔ چه ابتر دے په دنیا او په آخرت کښ ۔ او په حدیث کښ دی چه مَنْ قرء سورة الکوثر سقاه الله من کل نهر له فی الجنة ویکتب له عشر حسنات بعد د کل قربان قرّبه العباد فی یوم النحر۔

سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ مَكِّيَّةٌ ۱۸ — ۱۰۹ — ۱ — ۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه یو ټولی د قریشونه وویلے اے محمده! متابعت وکړہ د دین څمونږہ اومتابعت به وکړو مونږہ د دین ستا۔ عبادت کوہ د خدایانو څمونږہ یوکال اوعبادت به کوو مونږہ د خدائ ستا یوکال ۔ پس پیغمبر علیه السلام وویلے مَعَاذَ اللّٰه ان اشرك به غیرہ او دا سورت نازل شهٔ ۔ قُلْ ووایه ته اے پیغمبره یٰۤاَیُّهَا الْكٰفِرُوْنَ (۱) اے کافرانو ۔ او دوئ ته ئے کافران وویل له دے جهته چه پوهه ووخدائ تعالی په ازل کښ چه دوئ ایمان نهٔ راوړی لَاۤ اَعْبُدُ عبادت نه کوم زه پس له دے څخه مَا تَعْبُدُوْنَ (۲) د هغه څیز چه تاسے ئے عبادت کوئ په دے حال کښ وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ او نهٔ یئ تاسے عٰبِدُوْنَ عبادت کونکی په زمانه را تلونکے کښ مَاۤ اَعْبُدُ (۳) د هغه ذات چه عبادت ئے کوم

عه هغه چا چه ولوست ولوست سورة کوثر خو ثواب به کړی خدائ تعالی د لږ له هیڅ ولے نه په جنت کښ او به یو یکی د لږ لس نیکئ په شمار د هغے قربانی سره چه قربانی کړے وی په ورځ د لوئ اختر باندے ۱۲ عه پناه عوایم له خدائ چه شریک و نسیم له د سرہ خوځ ۱۲

زهٔ پېه دے حال کښ۔ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ اونهٔ یم زهٔ عبادت کونکے په دے حال کښ مَّا عَبَدْتُّمْ ④ د هغه څیز چه عبادت کوئ تاسے وَلَآ اَنْتُمْ اونهٔ یئ تاسے عٰبِدُوْنَ عبادت کونکی په زمانه را تلونکے کښ مَآ اَعْبُدُ ⑤ هغه ذات لره چه عبادت ئے کوم زهٔ لَكُمْ دِيْنُكُمْ تاسے لره شرك ستاسے دے وَلِيَ دِيْنِ ⑥ او مالره توحید زما دے او په حدیث کښ دی چه من قرء سورة الكٰفِرُوْن فكانما قرء ربع القرآن و تباعدت عنه مردة الشياطين وبرئ من الشرك

سُوْرَةُ النَّصْرِ ۱۱۰ مدنية ۱۱۴ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعُهَا ۱

اِذَا جَآءَ په هغه وخت کښ چه راشی نَصْرُ اللّٰهِ مدت کول د خدائ یعنی غلبه ورکول تا لره په دشمنانو باندے وَالْفَتْحُ ① او چه راشی فتح د مکے او فتح د سائر بلادو مؤمنانو لره وَرَاَيْتَ النَّاسَ او وینے تهٔ خلق يَدْخُلُوْنَ په دغه حال کښ چه داخلیږی فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ په دین د خدائ کښ چه اسلام دے اَفْوَاجًا ② ټولی ټولی ۔ او جواب د اِذَا دادے چه فَسَبِّحْ پس پاکی کوه خدائ لره له هغه نسبت چه کوی ئے کافران دهٔ لره هسے پاکی چه متصل وی بِحَمْدِ رَبِّكَ له ثنا د رب ستا سره او چا ویلی دی پس تعجب وکړه د پاڑه د اسمان والی چه نهٔ تبریدلو په زړهٔ د هیچا کښ ثنا ویونکی خدائ لره په دغه اسمانئ باندے او چا ویلی دی مونځ کوه په امر د خدائ سره وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ او بخښنه وغواړه له خدائ د پاره د مانیدلو د نفس او د پاره د کوتاهئ د عمل او چا ویلی دی استغفار وغواړه د پاره د هغه کناهونو د امت خپل اِنَّهٗ كَانَ په تحقیق سره چه دے خدائ تَوَّابًا ③ قبلونکے د توبے مستغفرانو لره ۔ په تفسیر بیضاوی کښ راوړے دی چه اکثر و مفسرانو ویلی دی چه دا سورة نازل شوے دے په ایام د حج کښ په مینی او پیچ د وداع **روایت دے** چه ابوبکر صدیق رض هر کله د غه سورة واوریدلو۔ وے ژړل او وے ویلے چه کمال دلیل د زوال دے او ژوندے

عه هغه چا چه د لوست سورة کافرون پس کو یا که وے لوسته څلور مه حصه د قرآن اولزے به شی له دهٔ نه نافرمانه او سرکش شیطانان او خلاص شی له شرك ۱۲

پاتے شۂ حضرت پس له دے سورت دوه کاله ۔ او په حدیث کښ چه من قرء سورة اذا جاء اعطی من الاجر کمن شهد مع محمد یوم فتح مکة

سُورَةُ اللهب مکیة ۱۱۱ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتها ۵ رکوعها ۱

روایت دے چه هرکله وَاَنْذِرْ عشیرتک الاقربین نازل شۂ پیغمبرؐ په صفا باندے وخوت او وے ویل اے خلقو صنادید دتریشو وروختل اوجمع شول ۔ پیغمبر علیه السلام وفرمایل کۂ خبروکړم تاسے ته داسے چه له لمن دے غره کښ یو توله چپاؤ کوی په تاسے باندے دیارہ دلوټ نو تاسے به یقین وکړئ په ویلوصا باندے یانه؟ دوئی وویلے هوځکه چه تاهیڅ دروغ نۂ دی ویلی رسول کریم صلے الله علیه وسلم وویلے ۔ اِنِّیْ نَذِیْرٌ لکم بین یدی عذاب شدید ط نو ابولهب وویلے هلاك دِ وی تالره ۔ دے دیارہ دِ مونږ بللی وُو۔ او بوکانړے ئے پیغمبر علیه السلام پسے پورته کۂ نو په هغه ساعت کښ خدائ دا ایت نازل کۂ تَبَّتْ هلاك دِ وی یَدَآ اَبِیْ لَهَبٍ دواړه ولاسونه دابی لهب لره چه وُلی پیغمبر خُما وَّتَبَّ ① او هلاك دِ شی په هلاکیدو سره۔ فائدہ:۔ دا اخبار دے پس له اخبار ئے دا اول اخبار دے له دواړه ولاسوئے اودوئم اخبار دے له نفس ئے **روایت دے** چه هرکله ابی لهب واوریدل وے ویل ۔ کۂ چرے قول دمحمدؐ رشتیا وی ۔ نو اولاد به فدیه کړم اوځان به خلاص کړم دیارہ دژد دقول ئے دا ایت نازل شۂ مَآ اَغْنٰی عَنْهُ لرے به نکړی له ابی لهب دغه هلاکت مَالُهٗ مال ددۂ ۔ وَمَا كَسَبَ ② او هغه څوك چه کسب کړے ئے دے چه هغه یۂ څُما من ددۂ دی سَيَصْلٰی نَارًا زرے چه داخل به شی په اوکښ چه ذَاتَ لَهَبٍ ③ خاوند دژبے دے چه اوردوزخ دے وَّامْرَاَتُهٗ ط اونۂ ئے چه اُم جمیله لوردحرب دہ داخله به شی سره دابی لهب حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ④ په هغه حال کښ چه

عہ هغه چا چه ولوست سورة اذا جاء ورسره کړے شی له اجره په مثل دهغه چا چه شهید شۂ سره دمحمدؐ په درځ دفتح د یکے باندے ۱۲ عہ ودیرده قبیله خپله چه نږدے ده ۱۲ سه په تحقیق سره زۂ ویردم تاسے لره چه په مخکښ حُما دے عذاب لوئی چه قیامت دے ۱۲

راوړونکے دلرګو وی. یعنی لرګی دجهنم ځکه چه دے به بارول اغزی په شاخیلے پس څنډول هل بهٔ دشپے په لاره دپیغمبرؐ کښ. نو پس وی به په ورځ دقیامت په شادے بار له لرګو دجهنم لکه زقوم او ضریع شو او فِیْ جِیْدِهَا په ګردن ددے کښ به حَبْلٌ زنګیږ وی. مِنْ مَّسَدٍ ⑤ له اوردو دوزخ څخه. اوچا ویلی دی چه یوه ورځے بنځے د ابی لهب ګیډے د لرګو په سرکړے وو او رسئ په ګردن کښ پرته وه. نوچه ستړے شوه نو ګیډے ئے په یو ګټ کیښودهٔ دپاره ددے خوړلو. پس یوه ملائکه راغله او ګیډے ئے وخویاوو او رسئ ئے په ګردن کښ ونخته او مرئ ئے خفه شوه او مړه شوه پس خدائ تعالیٰ وفرمایل فی جیدها حبلٌ په ګردن ددے کښ به رسئ وی. من مسدٍ. له پټ دخرماؤ څخه چه لرګی ئے ترلی وو او په حدیث کښ دی چه من قرء سورت تبت رجوتُ ان لا یجمع الله بینه وبین ابی لهب فی دار واحدةٍ ؕ

سُوْرَةُ الْاِخْلَاص ۱۱۲ مکیة ۲۳ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ — اٰیاتها ۴ رکوعها ۱

روایت دے له ابن عباسؓ چه وویلے قریشو اے محمدؐ صفت وکړه مونږه وته درب ستا هغه رب چه په عبادت سره ئے دعوت کوے. او په معالم کښ ئے راوړیدی چه وویلے یو یهودی له یهودیانو نه اے ابوالقاسمؐ! وصف بیان کړه دخدائ خپل دپاره ددے چه ایمان راوړو ځکه چه په تورات کښ ئے مونږه وصف لیدلے دے اووایه چه خدائ دِ څهٔ دے او څهٔ خوری اوڅهٔ څښی او څهٔ اغوندی او له چا څخه میراث وړی اوله دهٔ څخه څوک میراث وړی. داسورت نازل شهٔ قُلْ ووایه اے محمدؐ هغه څوک چه له شان ئے سوال تاسے کوی له ما نه هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ① ج هغه چه دے خدائ یو دے اَللّٰهُ الصَّمَدُ ② ج هغه خدائ بے احتیاجه دے له چا نه څهٔ نه څهٔ خوری او نه څهٔ څښی. یعنی خدائ هغه ذات دے چه محتاج کیږی دهٔ وته ټول مخلوق اودے غنی دے

عه هغه چا چه ولوست سورة تبت امید لرم زهٔ چه جمع به نه کړی خدائ په میخ ٔ دده او په میخ ٔ د ابی لهب په یو کور کښی ۱۲

له ټولو څخه - فائده :- مکړی ئے که لفظ د الله ده د یاره هغه څوک چه متصف نه وی په وحدانیت اوصمدیت سره نه وی مستحق الوهیت لره لَمْ یَلِدْ ۙ لهذه څخه څوک پیدا شوی نه دی چه تړ میراث یوسی ، ځکه چه جنس نه لری اونه هیڅوا ته محتاج کیږی - چه وریسره مدد وکړی - په دے کښی رد دے یهودیانو لره ځکه چه دوئ وائی عزیر ابن الله - وَلَمْ یُوْلَدْ ۙ (۳) اونه دے له چانه پیدا شوے دے چه دے له هغهٔ څخه میراث یوسی - ځکه چه هر یو مولود محدث اوجسم دے - اوحال دا دے چه خدائ قدیم دے اوچا ویلی دی ځکه چه نه وړاندے کیږی دهٔ وته عدم اوکهٔ فرض کړو چه دے مولود دے نو شی به پرومخے له پیدا کولو معدوم - وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ اونشته دهٔ لره اونهٔ به وی كُفُوًا اَحَدٌ ۚ (۴) سیال هیڅوك یعنی دوئ سوال کړے وو دا سے چه وصف د خدائ وکړه مونږ له لره پس وحی ئے وکړه دهٔ ته په هغه سره چه مشتمل وو په صفاتو د خدائ باندے پس دا قول چه هُوَ الله دے اشارت دے وته چه خدائ پیدا کوونکے د څیز و نو او توانا دے اوعالم دے - او ژوندے دے او سمیع دے او بصیر دے - او احدٌ وصف دے په وحدانیت او نفی د شریک سره - اوصمدٌ وصف دے په دے سره چه دے محتاج الیه دے - اولم یلد وصف دے په نفی د شبهے اود مجانست سره اولم یولد نفی د حدوث ده او وصف ئے دے په قدیم او اولیت سره ولم یکن له کفوًا احدٌ - نفی دے دے ده - چه مماثل شی دهٔ سره څهٔ څیز او په حدیث کښی دی چه من قرء سورة الاخلاص فقد قرء ثلث القرآن وعنه صلی الله علیه وسلم انه سمع رجلًا یقرء ها فقال وجبت قیل یارسول الله ماوجبت قال وجبت له الجنة -

---

عه چه وی دهٔ لره د جنس د دهٔ نه بنځه چه پس له دهٔ څخه څوک پیدا شی ۱۲ عمه هغه چا چه و لوست سورة الاخلاص پس په تحقیق سره وے لوستله دریمه حصه د قرآن ۱۲ او روایت دے له پیغمبرﷺ چه په تحقیق سره ده واورید ل له یوسری څخه چه لوستلوئ سورة اخلاص پس وے ویل واجب شهٔ - وے ویلے - اے رسوله د خدائ څهٔ واجب شو - دے فرمایل واجب شو دهٔ لره جنت ۱۲

سُوْرَةُ الفلق ۱۱۳ مدنیه ۱ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ اٰيَاتُهَا ۵ رُكُوْعُهَا ۱

روایت دے چه یو یهودی هلک په خدمت د پیغمبر علیه السلام کښ مشغول وو لونړ و دلبید په کوشش تام سره له هغه هلک ویخته د سرد پیغمبر علیه السلام کړ واخستل او په هغه ویخته ئ سحر وکړ اوپه کوهی د زریوان کښ ئے لاندے دکانړی ئے کیخودل - پس پیغمبر علیه السلام څلویښت ورځے اویا شپږ میاشتے اویو کال مریض شه په دغه سحر سره - پس پوهه کړ خدائ دهٔ لره په دغه سحر اوپه ځائ ئے - نو حاضر ئے کړل په محکمه دغه ویښتهٔ حق سبحانهٗ وتعالیٰ معوذتین نازل کړل یو لس ایاته - او پس چه وبه ئے لوستلو ایت د دغه سورتونو نه - پرابه نسته شوه بوه غوټه ترهغه پورے - چه پرانسته شوے ټوله - او دے پوټه شهٔ له مرضه - قُلْ ووایه اے پیغمبره - چه اَعُوْذُ پناه غواړم زهٔ بِرَبِّ الْفَلَقِ ① پروب د صبا باندے چه پیدا کیږی پس له شپے نه - فائده :- خاص ئے کهٔ فلق په صبا باندے له له دے جهته چه په صبا کښ تغیر د حال دے اوبل له دے جهته چه په دے کښ اشارت دے دے وته هغه څوک چه توانادے په لرے کولو د تیرے د شپے سره هغه توانادے چه لرے کړی له عائذه هغه څیز چه دے ترے ویریږی اوچاویلی دی فلق خلقوته وائی اوچاویلی دی فلق کنده ده په دوزخ کښ اوچاویلی دی فلق چاود لود زمکے ته وائی په کیاه سره اوچاویلی دی وریځے ته وائی نو معنیٰ ئے داشوه چه په خداوند د دے څیزونو پناه غواړم مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ② له بدئ د هغه څیزه چه پیدا شوی دی له حیواناتو مکلفو اوله غیر مکلفو اوله جماداتو څخه وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اوله بدئ د شپے تاریکے نه اِذَا وَقَبَ ③ په هغه وخت کښ چه داخله شی تیارهٔ ئے په هر څیز کښ حُکه چه مضار په دے کښ ډیروی اوچاویلی دی له شره د سپوږمئ نه په هغه وخت کښ چه تورهٔ شی روایت دے له بی بی عائشے رضی الله عنها څخه چه وینولو پیغمبر علیه السلام لاس خُما اواشاره ئے وکړه سپوږمئ ته پس دے ویلے پناه غواړم په خدائ د سره اے عائشے له بدئ د دے څخه وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ اوله

بدئ دم پوکو نکیو بنځو څخه چه الفاظ دسحر وائی او پوکی فِی الْعُقَدِ ﴿۴﴾ په غوتو باندے
فائده :- ذکر ئے کړے په بنځے سحر کونکے په الف اولام سره او غاسق او حاسد بغیر له الف او
لام حُکه چه هر ه بنځه پوکونکے دسحر بده وی اونه وی بدهر غاسق اوحاسد بلکه بعض بد
وی او بعض بنهٔ وی وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اوله بدئ د کیدے کونکی نه اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾ په هغه وخت
کښ چه ظاهره کړی په مقتضے د کیدے خپلے سره حُکه چه نهٔ رسیږی ضرر له حاسد روسے
له ظهوره بلکه حاسد ضرر رسونکے وی نفس خپل لره له جهته دغم. فائده :- خاص
ئے ذکر کړه استعاذه له شر د حاسد له دے جهته چه کینه اظهار ده په ضرر رسولو د
انسان کښ بلکه په ضرر رسولو د حیوانا تو کښ. ختم ئے کهٔ دغه سورت په حسد سره
له دے جهته چه حسد بد تر دے له همه شره څخه اوکینه اول گناه ده چه عاصی کړے
دے پرے خدائ ابلیس په اسمان کښ. او قابیل په زمکه کښ. او په حدیث کښ دی
چه لَقَدْ اُنْزِلَتْ علیّ سورتان ما انزل مثلهما وانک لن تقرء سورتین احب ولا
ارضی عند الله منهما یعنی المعوذتین ؛؛

سُوْرَةُ النَّاس ۱۱۴ مدنية ۲۱ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَاتُهَا ۶ رُكُوْعُهَا ۱

قُلْ اَعُوْذُ ﴿۱﴾ ووایه اے محمد ﷺ پناه غواړم زهٔ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾ په رب د سړو باندے
مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾ چه بادشاه د دوئ دے او مدبر د امورو ئے دے اِلٰهِ النَّاسِ ﴿۳﴾ معبود
د خلقو دے. فائده :- داعطف بیان دے رب الناس لره حُکه چه رب کله نهٔ وی بادشاه
او بادشاه کله نه وی خدائ مکرر ئے کهٔ الناس حُکه چه په اظهار کښ زیاتوالے دبیان
دے اضافت درب ئے خاص الناس وته وکهٔ. او حال دا دے چه رب د ټول مخلوق دے حُکه
چه دوئ شرافت لری په مبنیٔ د مخلوق کښ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ﴿۴﴾ له بدئ د وسواس کونکی

عه په تحقیق سره نازل شوی دی په ما باندے دوه سورتونه چه نهٔ دی نازل شوی په مثل د دغه دواړو دو
په تحقیق سره و به نهٔ لولے ته اے مخاطبه دوه سورتونه چه نهٔ غوره او نه بنهٔ راضی کونکی په نزد د خدائ له دغه
دواړو نه چه معوذتین دی ۱۲

الْخَنَّاسِ ④ د خناس هغه خناس چه عادت ئے دادے چه تحتی په هغه وخت کښ چه یاد کړی سړے رب خپل خُکه چه روایت دے له سعید بن جبیر رض په هغه وخت کښ چه یاد کړی سړے رب خپل. تحتی شیطان او په هغه وخت کښ چه چپ شی بیرته راشی او وسوسه کوی دهٔ ته الَّذِیْ یُوَسْوِسُ هغه څوك چه وسوسه کوی فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ⑤ په سینو دسړو کښ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ⑥ له پیریانو او سړو نه یعنی له شیطانانو د جن او انس څخه. او په لباب کښ ذکر شوی دی چه په دے سورة کښ پنځه ځایه ناس ذکر شوے دے. او معنیٰ ئے مکرره نهٔ ده بلکه جدا جدا ده خُکه چه مراد په ناس اول سره هلکان دی او معنیٰ د ربوبیت پرے دلالت کوی او په دوئم سره خاوانان دی او معنیٰ د ملک په قهر او سیاست سره دلالت پرے کوی. او په دریم سره زاړه دی. او نوم د الله چه مبنی دے په عبادت باندے. دوئ سره مناسب او موافق دے. او په څلورم سره صالحان دی چه مسلط دے حرص په اغواد دوئ باندے. او په پنځم سره مفسران دی او عطف ئے په معوذ منه باندے پرے دلالت کوی. فائده:- او دغه من بیان د الذی یوسوس دے له دے جهته چه شیطان په دوه قسمه دے یو جنی دے او دویم انسی دے. لکه چه ویلی دی خدائ تعالیٰ شیاطین الانس والجن. او روایت شوید ے له ابی ذر چه پیغمبر علیه السلام ویلی وو. یوسړی وته. هل تعوذتَ باللّٰه من الشیطن الانس. معنیٰ دا ایا تا پناه غوښتلے ده په مدد د خدائ سره له شیطان د انسُ. او په حدیث کښ دی. چه من قرء المعوذتین فکانما قرء الکتب انزلها الله تعالیٰ اللهم احشرنا فی زمرة العلمین بك العلمین لك الراجئین لثوابك الخائفین من عقابك المکرّمین بلقائك امین یا رب العلمین وصلی الله علی النبی الکریم

اللهم ارحمنی	تمت بالخیر	فی الدارین

عه یعنی شیطانان د انسو او جنو ۱۲ عه هغه چا چه ولوستل معوذتین پس گویا کهٔ وے لوستل تول کتابونه چه نازل کړی دی خدای تعالیٰ ۱۲- کتبه: محمد صادق- ذهیر- چیرهاری د آکوال عفی عنه ۱۲

حدیث شریف دے چه جناب رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائل ترکتُ فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتب الله وسنة رسوله (رواه المؤطا) یعنے پرے مِ خول په تا سے کښی دوه خیزونه هیڅرے به گمراه نهٔ شئ تا سے څو پورے څو پورے چه مضبوط مونیولی وی دواړه چه کتاب دخدائی اوسنت د رسول ﷺ دی. مراد له مضبوط نیولونه پورې پورې عمل کول دی و ربانده ے. نو اوس کهٔ چرے مسلمانان د اغواړی چه مونږه له گمراهئ نه بچ شوے نو موافق د ارشاد د حضرت سره دِ قرآن او حدیث باندے عمل خپل برابر کړی او دا به هله برابر کړی او دا به هله وشی چه له معانیو نه ئے څان خبر کړی. او دَ دے خبرداریٔ دپاره علماؤ ﷺ کوشش نه وکړل او په هرې ژبه کښی ئے معانی د قرآن او احادیثو بیان کړل چه هر څوک تر ے نه فائده واخلی او دهیڅ اعذر پاتے نهٔ شی چه هغه دواړه په عربی کښی اومونږ پرے نه پوهیږو. عبید

الف نامه منظومه مصنف که بعد ختم قرآن به طور مناجات خوانده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَكَ الْحَمْدُ يَا رَبِّيْ وَحِرْزِيْ وَمَأْمَلِيْ	اِلَيْكَ عَقِيْبَ الْمَوْتِ فِي الْقَبْرِ مَوْئِلِيْ
فَاَنْتَ مُجِيْبٌ يَا قَرِيْبٌ بِسُرْعَةٍ	وَقُلْتَ وَقَوْلُكَ صَادِقٌ غَيْرُ مُهْزَلِ
لِجُمْلَتِنَا ادْعُوْنِيْ فَهَا اسْتَجِبْ لَكُمْ	فَنَدْعُوْكَ يَا مَوْلٰى اسْتَجِبْ بِالتَّعَجُّلِ
سَاَلْنَاكَ يَا مَوْلٰنَا بِتَعْدَادِ اَحْرُفٍ	بِلَوْحٍ وَّقُرْاٰنٍ وَّبَاقِي الْمُنَزَّلِ
فَيَا لَاٰلِفِ اللّٰهُمَّ اسْئَلُ الْغُنَّةَ	وَاِكْرَامَ اِعْزَازٍ وَّاِحْسَانَ اَكْمَلِ
وَبِالْبَاءِ بِرًّا بَارِعًا وَّبَصِيْرَةً	وَبَهْجَةَ بُسْتَانٍ وَّبُرْهَةَ بُلْبُلِ
وَبِالتَّاءِ تَوْفِيْقًا وَّتَقْوٰى وَّتَوْبَةً	وَتَادِيْبَ تَفْرِيْبٍ وَّتَاجَ تَذَلُّلِ
وَبِالثَّاءِ ثَبْتًا ثَابِتًا ثُمَّ ثُرْوَةً	وَثَقْبَةَ ثُوْبَانٍ وَّثَغْرَةَ ثَيْثَلِ
وَبِالْجِيْمِ جُهْدًا اَجِيْدًا وَّجَلَادَةً	وَجِرْيَانَ جَيْحُوْنٍ وَّجَوْلَانَ جَنْدَلِ
وَبِالْحَاءِ حُبًّا حَازِمًا وَّحَلَاوَةً	وَحَمْلَةَ حَيْزُوْمٍ وَّحَيْطَلَةَ حَوْمَلِ

وَبِالْخَاءِ خَيْرَاتًا وَخَبْطًا وَخُلَّةً — وَخَصْبًا وَخَضْرَآءَ لَخَضْرَاءِ خَرْدَلٍ
وَبِالدَّالِ دَمْعًا دَآئِمًا وَدِيَانَةً — وَدِيْدَانَ دَرَّاكٍ وَدَوْرَانَ دُلْدُلٍ
وَبِالذَّالِ ذِكْرًا ذَائِعًا وَذَرِيْعَةً — ذَلَاقَةَ ذُكْرَانٍ وَذُرْوَةَ ذَآئِلٍ
وَبِالرَّآءِ رِضْوَانًا وَرُشْدًا وَرَافَةً — وَرَوْحًا وَرَيْحَانًا وَرُوْنَقَ رَامِلٍ
وَبِالزَّآءِ زُهْدًا زَاكِيًا وَزَهَادَةً — وَزَهْرَةَ زَخَّارٍ وَزَجَّةَ زَاوِلٍ
وَبِالسِّيْنِ سَمْتًا سَالِمًا وَسَمَاحَةً — وَسَبْطًا سَعِيْدًا سَاعِيًا سَعْيَ سَلْسَلٍ
وَبِالشِّيْنِ شَوْقًا شَاهِقًا وَشَجَاعَةً — وَشِدَّةَ شَاهِيْنٍ وَشِدَّةَ شُلْشُلٍ
وَبِالصَّادِ صِدْقًا صَافِيًا وَصِيَانَةً — صَدَاقَةَ صِدِّيْقٍ وَصَفْوَةَ صَيْقَلٍ
وَبِالضَّادِ ضَرْسًا ضَاحِكًا وَضَرَاحَةً — وَضَجَّةَ ضَرْغَامٍ وَضَرْبَةَ ضَاهِلٍ
وَبِالطَّاءِ طَبْعًا طَيِّبًا وَطَرَاوَةً — وَطَلْعَةَ طَيْفُوْرٍ وَطَيْرَانَ طَلْسَلٍ
وَبِالظَّاءِ ظَلِيًّا وَظَنًّا وَظَلَّةً — ظَرَافَةَ ظَرَّافٍ وَظِلِّ ظَلِيْلٍ
وَبِالْعَيْنِ عِرْفَانًا وَعَدْنًا وَعِبْرَةً — وَعِفَّةَ عُثْمَانٍ وَعِلْمَ عَلِيٍّ عَلٍ
وَبِالْغَيْنِ غُفْرَانًا وَغُلْبًا وَغُرْفَةً — وَغَوْغَضَةَ غَوَّاصٍ وَغَيْضَةَ غَيْدَلٍ
وَبِالْفَاءِ فِرْدَوْسًا وَفَوْضًا وَفَرْجَةً — فُتُوَّةَ فَارُوْقٍ وَفَطْنَةَ فُلْفُلٍ
وَالْقَافِ قَلْبًا قَانِتًا وَقَنَاعَةً — قِرَاءَةَ قُرْآنٍ وَقَصْدَ قُرْعُمَلٍ
وَبِالْكَافِ كِفْلًا كَامِلًا وَكَرَامَةً — وَكَرَّةَ كَرَّارٍ وَكَسْحَةَ كَلْكَلٍ
وَبِاللَّامِ لُبًّا لَاتِبًا وَلَطَافَةً — وَلُطْفًا وَلَمْعَانًا لِلَيْلِ مَحْفَلٍ
وَبِالْمِيْمِ مَعْرُوْفًا وَمَنًّا وَمَنْحَةً — وَمَجْدًا وَمُرْتَادًا وَمَفْرَحَ مَحْفَلٍ
وَبِالنُّوْنِ نَسْلًا نَاسِكًا وَنَضَارَةً — وَنَزْهَةَ نُعْمَانٍ وَنَخْلَةَ نَوْفَلٍ
وَبِالْوَاوِ وَهْبًا وَاصِبًا وَوَلَابَةً — وَوُصْلَةَ وَهَّابٍ وَوُسْعَةَ وَابِلٍ
وَبِالْهَاءِ هُوْدًا هَادِيًا وَهِدَايَةً — وَهَمْزَةَ هَيْجَاءَ وَهَزَّةَ هَمَرْجَلٍ
وَبِالْيَاءِ يَنْبُوْعًا وَيُسْرًا وَيَقْظَةً — وَيُمْنًا وَيَعْبُوْبًا وَيَافُوْخَ يَعْمَلٍ